فتح الهداية

شرح

هداية

داول ټول پاره په آسانه معیاري پښتو
دهدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت کتبخانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهداية

پښتو شرح


هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو

د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج

پر فقهي او ضروري معلوماتو مشتمله يوه جامع مقدمه



تعيين د قول راجح

د متن بشپړ اعراب

دهري جملې تر څنګ ژباړه

صرفي تحقيق

د عنواناتو اضافه

دوهم ټوک

د لغاتو حل

صورت د مسئلې

اب الإستسقاء - مسائل منثورة

ژباړه او ترتيب:

مولوی حبيب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربية

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم	: فتح الهدایه پښتو شرح هدایه
❁ ژباړه او ترتیب	: مولوي حبیب الرحمن مدني
❁ تصحیح کوونکی	:مولوي جمالدین
❁ خپرندوی	: صداقت کتب خانه/ کندهار
❁ کمپوز/ ډیزاین	: صداقت د کتاب چاپولو اداره
❁ د چاپ کال	: ۱۳۹۵ ل./ ۱۴۳۷ هـ.ق. / ۲۰۱٦ م.
❁ چاپ شمېر	: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځای:

صداقت کتب خانه

کندهار - افغانستان

تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۵٤۰۷

ایمیل: sadaqat.books@gmail.com

فهرس

فَصْلٌ فِي حَمْلِ الْجِنَازَةِ

فَصْلٌ فِي الدَّفْنِ

بَابُ الشَّهِيْدِ

بَابُ الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ

بَابٌ فِي الْمَعَادِنِ وَالرِّكَازِ ۱۵۲

بَابُ زَكَاةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ ۱۶۰

بَابُ مَنْ يَجُوْزُ دَفْعُ الصَّدَقَاتِ إِلَيْهِ وَمَنْ لَا يَجُوْزُ

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

فَصْلٌ فِيْ مِقْدَارِ الْوَاجِبِ وَوَقْتِه ۲۱۶

كِتَابُ الصَّوْمِ ۲۲۵

فَصْلٌ فِيْ رُؤْيَةِ الْهِلَالِ ۲۳۷

بَابُ مَا يُوْجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ

فَصْلٌ فِي الْمَوَاقِيْتِ ۳۵۱

بَابُ الْإِحْرَامِ ۳۵۸

فصل

بَابُ الْقِـرَانِ

فَصْلٌ فِيْ جِنَايَةِ الطَّوافِ

فَصْلٌ فِي الصَّيْدِ فِي الْإِحْرَامِ

بَابُ مُجَاوَزَةِ الْوَقْتِ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ

بَابٌ فِي إِضَافَةِ الْإِحْرَامِ

بَابُ الْإِحْصَارِ

بَابُ الإِسْتِسْقَاءِ

(دا) باب د استسقاء (د احکامو په بيان کي) دی

تشريح: مخکي تر دې مصنف د صلاة الکسوف مسئلې بيان کړې، او اوس له دې ځايه د استسقاء مسئلې بيانوي، د دوارو په مينځ کي د مناسبت وجه دا ده چي په دوارو کي د خلکو زيات شمېر را جمع کيږي، خو څرنګه چي د کسوف لمونځ يعني د لمر د ترنځي لمونځ په جماعت سره اداء کيږي، او د ټولو په نېز د لمر او د سپوږمۍ د ترنځي لپاره لمونځ سته، نو ځکه يې د کسوف مسئلې تر باب الإستسقاء مخکي بيان کړې، ځکه چي د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز په استسقاء کي لمونځ نسته، همدا وجه ده چي صاحب د هدايې په عنوان کي د صلاة لفظ ذکر نه کړی، بلکي فقط باب الاستسقاء يې ذکر کړی.

استسقاء د استفعال له باب څخه مصدر دی، معنیٰ يې ده: د اوبو طلب کول، د باران خواست کول، او په اصطلاح کي دې ته ويل کيږي چي د وچکالۍ او باران ته د سخت ضرورت په وجه خلک په يوه ميدان کي را جمع سي، او د لوی څښتن ﷻ څخه د باران خواست وکړي.

د استسقاء د لمانځه لپاره د جماعت حکم

قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: لَيْسَ فِي الإِسْتِسْقَاءِ صَلَاةٌ مَسْنُونَةٌ فِي جَمَاعَةٍ امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په استسقاء کي په جماعت سره سنت لمونځ نسته فَإِنْ صَلَّى النَّاسُ وُحْدَانًا جَازَ او که خلک يوازي لمونځ وکړي نو جائز دي وَإِنَّمَا الإِسْتِسْقَاءُ الدُّعَاءُ وَالإِسْتِغْفَارُ او استسقاء فقط دعاء او استغفار ته ويل کيږي لِقَوْلِهِ تَعَالَى ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي فَقُلْتُ: اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا، الْآيَةَ (نوح، ١٠) [د آيت ژباړه] نو ما وويل: "له خپل پروردګار څخه مغفرت وغواړئ بې شکه هغه زيات بخښونکی دی" وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] اِسْتَسْقَى او نبي ﷺ (هم) استسقاء کړې ده وَلَمْ تُرْوَ عَنْهُ الصَّلَاةُ (خو) له هغه څخه لمونځ روايت سوی نه دی.

اللغات: ﴿وُحْدَانًا﴾ جمع ده پر وزن د فُعْلان، واحد يې وَاحِدٌ دی: يوازي، تنها. ﴿اِسْتِسْقَاء﴾ د استفعال مصدر دی: د اوبو غوښتنه کول، ﴿وَلَمْ تُرْوَ﴾ د ضرب له باب څخه د جحد مجهول واحده مؤنثه غائبه صيغه ده.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د استسقاء لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د جماعت لمونځ سنت نه دی، بلکي استسقاء صرف دعاء او استغفار ته ويل کيږي، هو! که خلک يوازي لمونځ وکړي، نو څه حرج نسته، لېکن په استسقاء کي اصل دا دی چي هغه فقط دعاء او استغفار ته ويل کيږي، او پر دې خبره دليل دا دی چي الله تعالیٰ په دې آيت

---

[1] تخريج: اخرجه البيهقي في کتاب صلوة الاستسقاء، باب الاستسقاء بغير صلاة، حديث رقم: ٦٢٣٣.

استغفروا ربكم... الخ سره دا ښکاره کړې ده چې د استسقاء لپاره د لمانځه ضرورت نشته، بلکې صرف په دعاء او استغفار سره هم کار کیږي، همدا وجه ده چې له نبي ﷺ څخه د استسقاء لپاره فقط دعاء او استغفار را نقل سوی دی، لکه څرنګه چې علامه ابن الهمام په فتح القدیر کې دا حدیث بیان کړی دی: أن رجلاً دخل المسجد ورسول الله ﷺ قائماً يخطب فقال يا رسول الله! هلكت الأموال وانقطعت السبل فادع الله يغثنا. فقال: اللهم أغثنا اللهم أغثنا (یعني نبي ﷺ په خپل مسجد کې [د جمعې] خطبه ویله، چې یو سړی راغلی او ویې ویل: ای د الله رسوله! (زموږ) مالونه برباد سول، [تولې] لارې بندې سوې، تاسو الله ﷻ ته دعاء وکړئ چې پر موږ باران وکړي، نو نبي ﷺ د اللهم أغثنا په الفاظو سره دعاء وکړه)، صاحب د بنایې د ابن عباس په حواله سره هم دغسې حدیث رانقل کړی دی، او په هغه کې هم د لمانځه ذکر نسته، نو معلومه سوه چې په استسقاء کې به صرف استغفار او دعاء وي، او لمونځ به سنت نه وي. ابنیه ج۳، ص۱۷۵.

د استسقاء د لمانځه په باره کې د صاحبینو رایه

وَقَالَا: يُصَلِّي الْإِمَامُ رَكْعَتَيْنِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې امام به (په استسقاء کې) دوه رکعته لمونځ کوي لِمَا رُوِيَ ځکه روایت سوی دی أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] صَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ كَصَلَاةِ الْعِيدِ چې نبي ﷺ په استسقاء کې دا اختر د لمانځه په ډول دوه رکعته لمونځ وکړی رَوَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ دا حدیث ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روایت کړی دی قُلْنَا: فَعَلَهُ مَرَّةً وَتَرَكَهُ أُخْرَى موږ وایو: چې نبي ﷺ یو وار لمونځ کړی دي او بل وار یې پرې ایښی دي فَلَمْ يَكُنْ سُنَّةً نو ځکه به سنت نه وي وَقَدْ ذُكِرَ فِي الْأَصْلِ قَوْلُ مُحَمَّدٍ وَحْدَهُ او په مبسوط کې د امام محمد رَحِمَهُ الله قول یوازې بیان سوی دی.

تشریح: په استسقاء کې د صاحبینو مذهب دا دی چې امام به خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکوي، همدا قول د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله دی، د دې حضراتو دلیل د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قول دی: خرج رسول الله ﷺ مبتذلا متواضعا متضرعا حتى اتى المصلى فلم يخطب خطبتكم هذه ولكن لم يزل في الدعاء والتضرع والتكبير وصلى ركعتين كما يصلي في العيد. [رواه اصحاب السنن]. (یعني رسول الله ﷺ په ډېره عاجزي سره را ووتی عیدګاه ته ولاړی، لیکن نبي ﷺ خطبه ونه ویله، او مسلسل په دعاء او ژړا مشغوله وو او بیا یې دوه رکعته لمونځ وکړی، لکه څرنګه چې په اختر کې لمونځ کیږي)، بل روایت د عبد الله بن زید بن عاصم دی: أن رسول الله ﷺ خرج بالناس يستسقي بهم فصلى بهم ركعتين وحول رداءه ورفع يديه فدعا واستسقى واستقبل القبلة. متفق عليه. (یعني رسول الله ﷺ خلک د استسقاء لپاره روان کړل، بیا یې هغوی ته دوه رکعته لمونځ ورکړی او خپل پټو (څادر) یې واړوی، او دواړه لاسونه یې پورته کړل، دعاء یې وکړه، او استسقاء یې وکړه، او مخ پر قبله سو)، له دې دواړو روایتونو څخه د استسقاء لپاره لمونځ ثابتیږي.

جواب: زموږ له طرفه جواب دا دی چې نبي ﷺ په استسقاء کې یو وخت لمونځ کړی دی او بل وخت یې پرې ایښی دی، لهذا له دې څخه د استسقاء د لمانځه جواز ثابتیږي، لیکن سنتوالي یې نه ثابتیږي، او ښکاره ده چې له جواز څخه موږ هم انکار نه کوو، بلکې خبره د استسقاء د لمانځه په سنتوالي او نه سنتوالي کې ده، او سنت هغه دي چې پر هغه نبي ﷺ همېشتوب کړی وي.

---

[1] تخریج: أخرجه ابوداود في كتاب صلوة الاستسقاء، باب جماع ابواب صلوة الاستسقاء، حديث رقم: ۱۱۶۵.

وقد ذكر الخ صاحب د هدايې فرمايي چې په استسقاء كي د لمانځه د سنتوالی قول فقط د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دی، ځکه په مبسوط كي فقط د امام محمد رَحِمَهُ الله قول ذكر سوی دی، لهذا امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی، لېکن په قول د صاحب د بنايې صحيح دا ده چې امام محمد او امام ابو يوسف دواړه سره يو ځای دي.

د استسقاء په لمانځه كي د جهري قرائت حكم او د خطبې حكم

وَيَجْهَرُ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ او د استسقاء د لمانځه په دواړو ركعتونو كي به په لوړ آواز سره قرائت كوي اِعْتِبَارًا بِصَلَاةِ الْعِيدِ د اختر پر لمانځه باندي په قياسولو سره ثُمَّ يَخْطُبُ بيا به خطبه وايي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● خَطَبَ ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ خطبه ويله ثُمَّ هِيَ كَخُطْبَةِ الْعِيدِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ بيا د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا خطبه د اختر د خطبې په ډول ده (يعني دوې خطبې دي) وَعِنْدَ● أَبِي يُوسُفَ خُطْبَةٌ وَاحِدَةٌ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز يوه خطبه ده وَلَا خُطْبَةَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خطبه نسته لِأَنَّهَا تَبَعٌ لِلْجَمَاعَةِ ځکه چې خطبه د جماعت تابع وي وَلَا جَمَاعَةَ عِنْدَهُ او د امام صاحب په نېز (په استسقاء كي) جماعت سته نه.

تشريح: صاحبين رَحِمَهُمَا الله وايي چې د اختر د لمانځه په ډول به د استسقاء د لمانځه په دواړو ركعتونو كي قرائت بالجهر كيږي، بيا به خطبه ويل كيږي، ځکه چې له نبي ﷺ خطبه ثابته ده، خو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به د اختر په ډول دوې خطبې ويل كيږي، او د دواړو په مينځ كي به په ناستي سره فصل كيږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز به يوه خطبه ويل كيږي، لېکن د امام صاحب په نېز خطبه نسته، ځکه چې خطبه هغه وخت ويل كيږي چې لمونځ په جماعت وسي، يعني خطبه د لمانځه تابع ده، او د امام صاحب په نېز د استسقاء لپاره لمونځ نسته، نو ځکه به خطبه هم نه وي.

د استسقاء تر لمانځه وروسته د سنت عملونو بيان

وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ بِالدُّعَاءِ او امام به په دعاء كي د قبلې و طرف ته مخ كوي لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● اِسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ د قبلې و طرف ته مخ كړی او خپل پټو (څادر) يې واړوی وَيَقْلِبُ رِدَاءَهُ او امام به (هم) خپل پټو اړوي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چې (اوس) موږ روايت كړی قَالَ: وَهٰذَا قَوْلُ مُحَمَّدٍ فرمايي: چې دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی أَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ فَلَا يَقْلِبُ رِدَاءَهُ لېکن د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز به امام خپل پټو نه اړوي لِأَنَّهُ دُعَاءٌ ځکه چې دا دعاء ده فَيُعْتَبَرُ بِسَائِرِ الْأَدْعِيَةِ لهذا دا به پر نورو دعاګانو قياسيږي وَمَا رَوَاهُ كَانَ تَفَاؤُلًا او د امام محمد رَحِمَهُ الله په روايت سوي حديث كي (د پټو اړول) د نېكمرغی لپاره وو

● تخريج: أخرجه ابوداؤد فی كتاب إقامة الصلوة، باب ما جاء فی صلوة الاستسقاء، حديث رقم: ۱۲۶۸.

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن الهمام: وعند أبي يوسف خطبة واحدة ولا صريح فی المرويات يوافق قول محمد رَحِمَهُ الله أنها خطبتان، فتح القدير ج:۲، ص:۶۰ . [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۵۵]

● تخريج: أخرجه مسلم فی كتاب صلوة الإستسقاء، حديث رقم: ۸۹۴ / ۲۰۷۱.

وَلَايَقْلِبُ الْقَوْمُ أَرْدِيَتَهُمْ او خلک به خپل پټوان نه اړوي لِأَنَّهُ لَمْ يُنْقَلْ أَنَّهُ أَمَرَهُمْ بِذٰلِكَ ځکه دا نه دي را نقل سوي چي نبي ﷺ دي صحابه وو ته د دې حکم کړی وي وَلَايَحْضُرُ أَهْلُ الذِّمَّةِ الإِسْتِسْقَاءَ او ذمیان به استسقاء ته نه راځي (یعنی ذمیان به استسقاء ته نه راوستل کیږي) لِأَنَّهُ لِاسْتِنْزَالِ الرَّحْمَةِ ځکه چي استسقاء د رحمت د را نازلولو د غوښتني لپاره کیږي وَإِنَّمَا تَنْزِلُ عَلَيْهِمُ اللَّعْنَةُ او پر کافرانو خو لعنت نازلیږي (نو ځکه به ذمیان استسقاء ته نه راوستل کیږي).

اللغات: ﴿يَسْتَقْبِلُ﴾ د استفعال د باب مضارع ده: مخ پر قبله کېدل، ﴿حَوَّلَ﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: اړول، ګرځول، ﴿يُقَلِّبُ﴾ ګرځول، ﴿رِدَاءٌ﴾ پټو، څادر، ﴿تَفَاؤُلٌ﴾ د تفاعل مصدر دی: نېکمرغي، نېک فالي، فال کتنه، طالع کتنه ﴿أَرْدِيَةٌ﴾ جمع د رِدَاءٌ ده: پټو، څادر، ﴿أَهْلُ الذِّمَّةِ﴾ ذمیان، په اسلامي هیواد کي هغه استوګن کفار چي اسلامي حکومت ته ټیکس ورکوي، ﴿إِسْتِنْزَالٌ﴾ د استفعال مصدر دی: د را نازلولو طلب کول.

تشريح: مسئله: دا ده چي کله د استسقاء په لمانځه کي امام دعاء کوي، نو مخ پر قبله دي سي، او دعاء دي وکړي، او د دعاء پر وخت دي خپل پټو واړوي، ځکه چي له نبي ﷺ څخه هم داسي ثابت دي، صاحب د عنايې لیکلي دي چي د پټو په اړولو کي څه تفصیل سته، او هغه دا چي که پټو څلور کونجه وو، نو د هغه لاندي حصه دي پورته کړی سي، او پورتنی حصه دي یې لاندي کړی سي، او که پټو مدوّر یعني ګول وو، نو چپه حصه دي یې راسته طرف ته او راسته حصه دي یې چپه طرف ته وګرځول سي.

قال هذا الخ فرمایي چي د پټو اړول د امام محمد په نېز دي، او دا د ائمه ثلاثه وو مسلک هم دی. (بنايه)، لېکن د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د پټو اړول نسته، ځکه چي دا د دعاء ځای دی، نو پر نورو دعاګانو به قیاسیږي، او په نورو دعاګانو کي د پټو اړول نسته، نو د استسقاء په دعاء کي به هم د پټو اړول نه وي.

و ما رواه كان الخ او امام محمد رَحِمَهُ الله چي د پټو اړولو په باره کي کوم روایت ذکر کړی دی، هغه پر تفاؤل او نېک فالی باندي مبني دی، ځکه چي نبي ﷺ ته د وحي په ذریعه سره پر آسمان باندي د وریځي د راتللو علم وسو، نو ځکه نبي ﷺ د خلکو د حالت پر بدلېدلو باندي د نېک فالی په توګه پټو واړوی، (د حالت بدلېدلو مطلب دا چي د خلکو حالت به له وچکالی څخه په آبادی بدل سي).

ولا يقلب القوم الخ فرمایي چي امام خو دي پټو واړوي، لېکن مقتدیان دي دا کار نه کوي، ځکه خلکو ته نبي ﷺ دا حکم نه وو کړی چي تاسو هم پټوان واړوئ.

ولا يحضر أهل الذمة الخ فرمایي چي ذمیان دي د استسقاء په لمانځه او دعاء کي ګډون نه کوي، ځکه چي استسقاء د رحمت او د باران د رانازلېدلو دعاء ده، او کفار او ذمیان د رحمت مستحق نه دي، بلکي د لعنت مستحق دي، او هر وخت پر دوی لعنت وریږي، په خپله قرآن کریم د دوی دعاء بېکاره او كالعدم ګرځولې ده: وما دعاء الكافرين إلا في ضلال، نو ځکه به کفار استسقاء ته نه راځي، او نه به راوستل کیږي.



بَابُ صَلَاةِ الْخَوْفِ

(دا) باب د ويرې د لمانځه (په بيان کې) دی

تشريح: د باب الاستسقاء او د باب صلاة الخوف په مينځ کې مناسبت دا دی چې دواړه د عارض په وجه سره مشروع سوي دي، لېکن څرنګه چې د استسقاء مشروعيت غير اختياري دی، يعني د استسقاء دعاء د آسماني آفت يعني د باران د انقطاع په وجه مشروع سوې ده، نو ځکه استسقاء تر صلاة الخوف مخکې بيان سوه، او صلاة الخوف اختياري دی، ځکه چې صلاة الخوف د جهاد او د ظلم د لېرې کولو لپاره مشروع سوی دی. (بنايه ج۳، ص۱۸۷، فتح القدير ج۲)

د صلاۃ الخوف تفصيلي طريقه

إِذَا اشْتَدَّ الْخَوْفُ جَعَلَ الْإِمَامُ النَّاسَ طَائِفَتَيْنِ کله چې ېره سخته سي نو امام دې خلګ دوې ډلې کړي طَائِفَةً إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ وَطَائِفَةً خَلْفَهُ (له هغو دوو ډلو څخه دې) يوه ډله د دښمن و طرف ته کړي او بله ډله دې خپل شاته ودروي فَيُصَلِّي بِهَذِهِ الطَّائِفَةِ رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ نو دې اولې ډلې ته دې يو رکعت او دوې سجدې لمونځ ورکړي فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ او کله چې له دويمې سجدې څخه امام سر راپورته کړي مَضَتْ هَذِهِ الطَّائِفَةُ إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ نو دا اوله ډله دې د دښمن و طرف ته ولاړه سي وَجَاءَتْ تِلْكَ الطَّائِفَةُ او هغه دويمه ډله دې راسي فَيُصَلِّي بِهِمُ الْإِمَامُ رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ بيا دې امام دې دويمې ډلې ته (هم) يو رکعت او دوې سجدې لمونځ ورکړي وَتَشَهَّدَ وَسَلَّمَ او امام دې تشهد ووايي او سلام دې وګرځوي وَلَمْ يُسَلِّمُوا وَذَهَبُوا إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ خو دا دويمه ډله دې سلام نه ګرځوي بلکې د دښمن و مخ ته دې ولاړه سي وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُولَى او اوله ډله دې راسي فَصَلُّوا رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ وُحْدَانًا بِغَيْرِ قِرَاءَةٍ نو هغه دې يو رکعت او دوې سجدې يوازې وکړي بې له قرائته لِأَنَّهُمْ لَاحِقُونَ ځکه چې اوله ډله لاحقين دي (او پر لاحق قرائت نشته، نو ځکه به هغوی قرائت نه کوي) وَتَشَهَّدُوا وَسَلَّمُوا وَمَضَوْا إِلَى وَجْهِ الْعَدُوِّ او دا اوله ډله دې تشهد ووايي، سلام دې وګرځوي او د دښمن مخ ته دې ولاړه سي وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى وَصَلَّوْا رَكْعَةً وَسَجْدَتَيْنِ بِقِرَاءَةٍ او دويمه ډله دې راسي او يو رکعت او دوې سجدې دې وکړي د قرائت سره لِأَنَّهُمْ مَسْبُوقُونَ ځکه چې دويمه ډله مسبوقين دي (او پر مسبوق قرائت کول ضروري دي) وَتَشَهَّدُوا وَسَلَّمُوا او (بيا دې) دويمه ډله تشهد ووايي او سلام دې وګرځوي وَالْأَصْلُ فِيهِ رِوَايَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ او په دې باره کې دا بن مسعود ﷺ (دا) روايت اصل دی أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● صَلَّى صَلَاةَ الْخَوْفِ عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي قُلْنَا چې نبي ﷺ پر هغه طريقه صلاة الخوف وکړی کوم چې موږ ذکر کړه وَأَبُو يُوسُفَ وَإِنْ

● تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب صلاة السفر، باب من قال يصلي بكل طائفة ركعةً ثم يسلم، حديث رقم: ۱۲۴۴.

أَنكَرَ شَرْعِيَّتَهَا فِي زَمَانِنَا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله که څه هم زموږ په زمانه کي د صلاة الخوف د مشروعيت انکار کړی دی فَهُوَ مَحْجُوجٌ عَلَيْهِ بِمَا رَوَيْنَا خو زموږ بيان سوی روايت د هغه په خلاف حجت دی.

اللغات: ﴿اِشْتَدَّ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: سختېدل، ﴿عَدُوّ﴾ دښمن، ﴿طَائِفَة﴾ ډله، جماعت، ﴿وِجَاه﴾ جمع د واحد ده: يوازي.

تشريح: د قدوري له دې جملې اذا اشتد الخوف څخه په ښکاره دا معلومېږي چي د صلاة الخوف د جائز کېدلو لپاره د خوف اشتداد شرط دی، او د مطلق خوف په وخت کي صلاة الخوف جائز نه دی، لېکن صحيح خبره دا ده چي که د دښمن بېره وه، يا په لمانځه کي د مشغوله کېدلو په وجه د دښمن د حملې انديښنه وه، نو هم صلاة الخوف جائز دی، تر دې چي په تحفه او مبسوط کي مطلق د دښمن نژدېکت د صلاة الخوف د جواز علت ګرځول سوی دی، دا خبره هم د يادوني وړ ده چي په ابوداؤد شريف کي د صلاة الخوف څلور طريقې ذکر سوي دي، لېکن د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز دغه په متن کي ذکر سوې طريقه غوره ده، اوس د هغه طريقې تشريح ته ګورئ.

صورت د مسئلې: دا دی چي کله مسلمانان د جنګ په ميدان کي د کافرانو سره د جنګ لپاره ملا ترلي ولاړ وي، او په دغه حالت کي د لمانځه وخت راسي، نو د لمانځه د اداء کولو طريقه دا ده چي امام دي خلک دوې ډلې (حصې) کړي، د مثال په توګه يوه د "جعفر" ډله او بله د "زيد" ډله، نو اول دي د "زيد" ډله پر محاذ (سنګر) باندي د دښمن د مقابلې لپاره ودرېږي، او د "جعفر" ډلي ته دي امام يو رکعت لمونځ ورکړي، تر هغه وروسته دي د جعفر ډله له دويم رکعت کولو څخه بغير د دښمن د مقابلې لپاره ودرېږي، او د زيد ډله دي راسي په امام پسې دي يو رکعت وکړي، خو څرنګه چي دا رکعت د امام لپاره دويم رکعت سو، نو څکه دي امام تشهد ووايي او سلام دي وګرځوي، او د زيد د ډلي هم يو رکعت پوره سو، نو د زيد ډله دي بيرته د دښمن مخ ته ولاړه سي، او د جعفر ډله دي راسي، او خپل دويم رکعت دي پوره کړي او سلام دي وګرځوي، او په دا دويم رکعت کي دي قرائت نه کوي، څکه دوی په دويم رکعت کي لاحقين دي، څکه چي اول رکعت يې د امام سره نيولی وو، نو دويم رکعت دي بغير له قرائت څخه وکړي، څکه چي پر لاحق قرائت نسته، تر سلام ګرځولو وروسته دي د جعفر ډله د دښمن مخ ته ولاړه سي، او د زيد ډله دي راسي خپل دويم رکعت دي پوره کړي، او سلام دي وګرځوي، او د زيد ډله په خپل دويم رکعت کي مسبوقين دي، څکه چي دوی د امام سره دويم رکعت نيولی وو، اول رکعت څني تېر سوی وو، او څوک چي مسبوق وي، هغه به د قرائت سره خپل پاته لمونځ پوره کوي، نو څکه به د زيد ډله د قرائت سره خپل دويم رکعت پوره کړي.

والاصل فيه الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د صلاة الخوف کومه طريقه بيان سوه، دا طريقه په اصل کي د ابن مسعود ﷺ له حديث څخه را اخيستل سوې ده، چي هغه په ابوداؤد شريف کي ذکر سوی دی. (وګورئ ابو داؤد ص:١٨٦، حديث شمېره: ١٢٤٢، باب من قال يصلي بکل طائفة رکعة ثم يسلم).

وأبو يوسف وإن أنكر الخ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د نبي ﷺ له زمانې څخه وروسته صلاة الخوف نسته، بلکي اوس به دوه امامان جوړېږي او خلک به دوې ډلي کېږي، او هر امام به خپلي خپلي ډلي ته جلا جلا پوره لمونځ ورکوي، او دا خو د نبي ﷺ خصوصيت وو چي هر سړي به خپل آخري لمونځ په نبي ﷺ پسې کول غوښتل، نو څکه به نبي ﷺ هري ډلي ته يو يو رکعت ورکوی، لنډه دا چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د نبي ﷺ تر زمانې وروسته د صلاة الخوف له

مشروعيت څخه انکار کوي، لېکن دا صحيح نه ده، ځکه د سنن البيهقي په يو اثر کي راغلي دي چي ابو موسیٰ اشعري ﷺ په خپله زمانه کي صلاة الخوف وکړی، همدارنګه له سعد بن ابی وقاص، ابو عبيده بن الجراح څخه هم صلاة الخوف ثابت دی.

فهو محجوج الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د عبد الله ابن مسعود روايت د امام ابو يوسف په خلاف حجت دی، ځکه چي د ابن مسعود په روايت کي په تفصيل سره د نبي ﷺ د صلاة الخوف ذکر سوی دی، لېکن دلته يو څوک دا اعتراض کولای سي، چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله خو د رسول الله په زمانه کي د صلاة الخوف له مشروعيت څخه انکار نه دي کړی، بلکي د نبي ﷺ تر زمانې وروسته يې د صلاة الخوف د مشروعيت انکار کړی دی، نو د رسول الله ﷺ صلاة الخوف د ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خلاف حجت څرنګه کېدای سي؟ د دې جواب دا دی چي که څه هم د ابن مسعود روايت من حيث العبارة د امام ابو يوسف په خلاف حجت نه دی، لېکن من حيث الدلالت حجت دی، په دې توګه چي د صلاة الخوف سبب بېره او خوف دی، او خوف چي څرنګه د نبي ﷺ په ژوند کي وو، همدارنګه د نبي ﷺ تر زمانې وروسته هم سته، نو څرنګه چي د نبي ﷺ په زمانه کي د خوف په وجه صلاة الخوف مشروع وو، همدارنګه به د دې سبب په وجه د نبي ﷺ تر زمانې وروسته هم مشروع وي، دويم جواب يې دا دی چي د نبي ﷺ تر زمانې وروسته له صحابه وو څخه صلاة الخوف ثابت دی (لکه څرنګه چي مخکي دا خبره ذکر سوه)، نو ځکه به د صلاة الخوف له مشروعيت څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله انکار بنه نه معلومېږي.

که امام مقيم وو نو د صلاة الخوف حکم؟

فَإِنْ كَانَ الْإِمَامُ مُقِيمًا بيا که امام مقيم وو صَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى رَكْعَتَيْنِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَتَيْنِ نو اولي ډلي ته دي دوه رکعته لمونځ ورکړي او دويمي ډلي ته دي (هم) دوه رکعته لمونځ ورکړي لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ● صَلَّى الظُّهْرَ بِالطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ چي نبي ﷺ دوو ډلو ته د ماپښين لمونځ دوه دوه رکعته ورکړی وَيُصَلِّي بِالطَّائِفَةِ الْأُولَى مِنَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ او مقيم امام دي د ماښام په لمانځه کي اولي ډلي ته دوه رکعته لمونځ ورکړي وَبِالثَّانِيَةِ رَكْعَةً وَاحِدَةً او دويمي ډلي ته دي يو رکعت لمونځ ورکړي لِأَنَّ تَنْصِيفَ الرَّكْعَةِ الْوَاحِدَةِ غَيْرُ مُمْكِنٍ ځکه چي د يوه رکعت نيمی کول نامکنه دي فَجَعْلُهَا فِي الْأُولَى أَوْلَى نو د اولي ډلي لپاره دا (دويم) رکعت خاصول دېر غوره دي بِحُكْمِ السَّبْقِ د مخکي والي په وجه.

اللغات: ﴿تنصيف﴾ د تفعيل مصدر دی: نيمی کول. ﴿سبق﴾ د فتح مصدر دی: مخکي کېدل، اول کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که امام مقيم وو، نو دواړو ډلو ته دي دوه، دوه رکعته لمونځ ورکړي، ځکه چي نبي ﷺ د اقامت په حالت کي د ماپښين لمونځ هم داسي ورکړی وو، او د ماښام لمونځ دي داسي پوره کړي چي اولي ډلي ته دي دوه رکعته ورکړي، او دويمي ډلي ته دي يو رکعت ورکړي، ځکه په صلاة الخوف کي حکم دا دی چي امام به هري ډلي ته نيم (نصف) لمونځ ورکوي، او د ماښام د لمانځه نصف يو نيم رکعت دی، او دا خبره تسليم سوې ده چي يو رکعت نسي

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب صلوة المسافر، باب صلوة الخوف، حديث رقم: ٣١٢، ٣١١.

نيمى كېدلاى، نو څكه موږ ووېل چي اولي ډلي ته دي د مخكي والي په وجه دوه ركعت ور كړي، او دويمي ډلي ته دي يو ركعت وركړي، حضرت امام نووي رَحِمَهُ الله وايي چي د دې برعكس به كوي، يعني اولي ډلي ته به يو ركعت وركوي، او دويمي ډلي ته به دوه ركعته وركوي، امام نووي رَحِمَهُ الله دا وجه ذكر كړې ده چي په اولو دوو ركعتو كي قرائت فرض دى، نو مناسب دا ده چي هره ډله له قرائت څخه حصه ترلاسه كړي، او هره ډله په فرض قرائت كي شريكه سي.

د لمانځه په حالت كي د جنګ حكم

وَلَا يُقَاتِلُونَ فِي حَالِ الصَّلَاةِ او دا خلک به د لمانځه په حالت كي جنګ نه كوي فَإِنْ فَعَلُوْا بَطَلَتْ صَلَاتُهُمْ اوكه هغوى جنګ وكړي نو لمونځ يې باطل سو لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1] شُغِلَ عَنْ أَرْبَعِ صَلَوَاتٍ يَوْمَ الْخَنْدَقِ څكه نبي كريم ﷺ د خندق په ورځ له څلورو لمونځونو څخه مشغوله كړى سو وَلَوْ جَازَ الْأَدَاءُ مَعَ الْقِتَالِ لَمَا تَرَكَهَا (نو) كه د جنګ سره سره د لمانځه اداء كول جائز واى نو نبي ﷺ به دا لمونځونه (بالكل) پرې ايښي نه واى.

اللغات: ﴿يقاتلون﴾ د مفاعلې د باب مضارع صيغه ده: جنګ كول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي زموږ په نېز به د لمانځه په حالت كي يوه ډله هم جنګ نه كوي، او كه يې جنګ وكړى، نو لمونځ يې باطلېږي، او له سره به لمونځ كوي، لېكن د مالكيانو او شوافعو په نېز د لمانځه په حالت كي جنګ كول جائز دي، د دوى دليل دا آيت دى: وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ [النساء: ١٠٢]، په دې سره دليل په دې توګه نيسي چي په دې آيت كي په لمانځه كي دننه د وسلې اخيستلو امر سوى دى، او ښكاره ده چي د لمانځه په حالت كي وسله د جنګ لپاره وي، نو ثابته سوه چي د لمانځه په حالت كي جنګ كول جائز دي، زموږ دليل دا دى چي د غزوهٔ احزاب پر موقع له نبي ﷺ څخه څلور لمونځونه قضاء سول، چي د هغو قضاء نبي ﷺ وروسته راوړه، نو كه د لمانځه په حالت كي جنګ جائز واى، نو نبي ﷺ به دا لمونځونه په دې وخت كي نه پرېښوولاى، لهذا معلومه سوه چي د لمانځه په حالت كي جنګ كول جائز نه دي. د مالكيانو او نورو د دليل جواب دا دى چي د لمانځه په حالت كي د وسلې اخيستلو حكم څكه سوى دى چي كفار دا نه وګڼي چي مسلمانان جنګ ته تيار نه دي، او حمله به پر وكړي، يا دا كه د جنګ ضرورت پېښ سي، نو جنګ به وكړي، او لمونځ به وروسته را وګرځوي.

د سختي بيري په صورت كي د لمانځه طريقه

فَإِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ بيا كه بېره سخته سي صَلُّوْا رُكْبَانًا فُرَادَى نو د سپرلي په حالت كي دي يوازي يوازي لمونځونه وكړي يُوْمِئُوْنَ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ إِلَى أَيِّ جِهَةٍ شَاءُوْا ركوع او سجده به په اشاره سره كوي كوم طرف ته چي يې خوښه وي إِذَا لَمْ يَقْدِرُوْا عَلَى التَّوَجُّهِ إِلَى الْقِبْلَةِ په دې شرط چي د قبلې و طرف ته پر مخ ګرځولو قدرت نه لري لِقَوْلِهِ تَعَالَى څكه الله تعالىٰ فرمايلي دي فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا [البقرة: ٢٣٩] كه تاسو ته (د دښمن يا نورو) بېره وه نو پياده لمونځ وكړئ يا پر سپرلي باندي وَسَقَطَ التَّوَجُّهُ لِلضَّرُوْرَةِ او مخ پر قبله كېدل د ضرورت په وجه ساقط سو وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُمْ

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلوة، باب ما جاء في الرجل تفوت الصلوة، حديث رقم: ١٧٩.

يُصَلُّوْنَ بِجَمَاعَةٍ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا خلک به په جماعت سره لمونځ کوي وَلَيْسَ بِصَحِيْحٍ ليکن دا خبره صحيح نه ده لِإِنْعِدَامِ الْاِتِّحَادِ فِي الْمَكَانِ ځکه چې په مکان کې اتحاد ممکن نه دی.

اللغات، ﴿رُكْبَان﴾ جمع د رَاكِبٌ ده: سپور، ﴿فُرَادٰى﴾ يوازې، ځانته، ﴿يُوْمِئُوْنَ﴾ د افعال د باب مضارع ده: اشاره کول، ﴿رِجَالًا﴾ جمع د رَاجِلٌ ده: په پښو تګ کونکی، پياده تلونکی.

تشريح: **مسئله**: دا ده که له دښمن څخه ډېره ډېره زياته سوه، نو په دې صورت کې د مسلمانانو لپاره پر سپرلي باندې په اشاره سره جلا جلا لمونځونه کول جائز دي، او د قبلې په باره کې حکم دا دی چې که د قبلې و طرف ته مخ ګرځول ممکن نه وو، نو کوم طرف ته چې وغواړي هغه طرف ته دې مخ کړي، دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا، او دلته له هغو څخه د قبلې پر طرف مخ ګرځول د ضرورت په وجه ساقطيږي، له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې د سپرتيا په حالت کې په جماعت سره لمونځ کول غوره دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دا خبره کوي، ليکن دا صحيح نه ده، ځکه چې د اقتداء د صحت لپاره د مکان اتحاد شرط دي، او هغه دلته نسته (او نه راتلای سي)، هو! که يو سړی د امام پر سپرلي باندې د امام سره سپور وي، نو هغه په امام پسې لمونځ کولای سي.



بَابُ الْجَنَائِزِ

(دا) باب د جنازو (د احکامو په بيان کې) دی

تشريح: مخکې تر دې صاحب د کتاب د عوارضو مثلاً د سفر، خوف او کسوف بابونه بيان کړل، او اوس له دې ځايه تر ټولو آخري عارض يعني د مرګ احکام او مسائل بيانوي، او څرنګه چې د مرګ پړاو تر ټولو آخري وي، نو پکار دا وه چې باب الجنائز تر باب الصلاة فی الکعبه هم وروسته ذکر سوی وای، ليکن صاحب د عنايې وايي چې صاحب د کتاب د تبرک په توګه په باب الصلاة فی الکعبه سره کتاب الصلاة ختموي.

جنائز جمع د جنازة ده، جنازه د جيم په فتحه سره مړي ته ويل کيږي، او د جيم په کسره سره تابوت او هغه تختې ته ويل کيږي چې پر هغې مړی پرې ايښتل کيږي.

د قريبُ الموت (مرګ ته د نژدې سړي) احکام

وَإِذَا احْتُضِرَ الرَّجُلُ او کله چې يو سړی مرګ ته نژدې سي وُجِّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ نو هغه دې پر راسته اړخ د قبلې و طرف ته مخامخ کړی سي اِعْتِبَارًا بِحَالِ الْوَضْعِ فِي الْقَبْرِ په قبر کې د ايښولو پر حالت په قياسولو سره لِأَنَّهُ أَشْرَفَ عَلَيْهِ ځکه چې دا سړی قبر ته نژدې سو(يعني دا سړی دې ته نژدې سو چې په قبر کې ښخ کړی سي، نو ځکه به د قبر په شان پرې ايسټل کيږي) وَالْمُخْتَارُ فِي بِلَادِنَا الِاسْتِلْقَاءُ او زموږ په ښارونو کې ستوني ستخ پرېوتل (يعني پرې باسل) غوره دي لِأَنَّهُ أَيْسَرُ لِخُرُوجِ الرُّوحِ ځکه د روح د وتلو لپاره دا ډېره آسانه صورت دی وَالْأَوَّلُ هُوَ السُّنَّةُ ليکن اول صورت سنت دی(يعني مخ پر قبله برابرول) وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَيْنِ او هغه ته دې د شهادتينو تلقين ورکړی سي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ شَهَادَةَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ "تاسي خپلو مړو ته د لا إله إلا الله د شهادت تلقين ورکړئ" وَالْمُرَادُ الَّذِي قَرُبَ مِنَ الْمَوْتِ او په حديث کې له مړو څخه مراد هغه څوک دي چې مرګ ته نژدې سوی وي فَإِذَا مَاتَ بيا چې کله انسان مړ سي شُدَّ لَحْيَاهُ نو د هغه دواړي زامې دې وتړل سي وَغُمِّضَ عَيْنَاهُ او سترګي دې پټې کړی سي بِذٰلِكَ جَرَى التَّوَارُثُ توارث هم پر دې را روان دی(يعني د نبي ﷺ له زمانې څخه په وراثت دا طريقه را روانه ده) ثُمَّ فِيهِ تَحْسِينُهُ بيا په دې صورت کې د مړي ښکلي کول(او ښه جوړول هم) دي فَيُسْتَحْسَنُ نو ځکه به دا سي کول غوره وي.

اللغات: ﴿احتضر﴾ د افتعال ماضي مجهوله صيغه ده، له حضر څخه مشتق ده، معنیٰ يې ده: د مرګ وخت حاضرېدل، يعني کله چې انسان مرګ ته نژدې سي، مجهوله او معروفه دواړه ويل کېدای سي، ﴿شق﴾ بغل، اړخ، طرف، ﴿استلقاء﴾ د استفعال مصدر دی: ستوني ستخ پرېوتل، دشا پر تخته پرېوتل، ﴿لحيان﴾ دلام په فتحه سره: دواړي زامې (ژامې)، ﴿شد﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده: تړل، ﴿غمض﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: پټول، بندول.

تشريح: امام قدوري د مرګ د نژدې کېدلو لپاره د احتضر لفظ استعمال کړی دی، يعني مرکېدونکي سړي ته يې محتضر ويلي دي، دا ځکه چې هغه ته مرګ حاضرېږي، يا د مرګ ملائکي ورته حاضرېږي، د مرګ نښې او علامې دا دي چې (۱) د انسان دواړي پښې سستي سي، (۲) ولاړېدای نه سي، (۳) پزه يې کږه سي، (۴) د خصيتينو (خوټو) پوست يې اوږد سي (او وېرسيږي)؛ لنډه دا چې کله انسان مرګ ته نژدې سي، نو د خلکو نمه واري دا ده چې دا قريبُ الموت سړی دې پر راسته اړخ مخ پر قبله پرې باسي، ځکه چې په قبر کې د مړي د ايښوولو همدغه طريقه سنت ده، نو پر دې باندي په قياسولو سره به قريبُ الموت هم پر هغه طريقه پرې ايسټل کيږي، ځکه چې دا سړی قبر ته نژدې دی، صاحب د هدايې وايي چې زموږ په ښارونو، علاقو او ما وراء النهر کې ستوني ستخ پرې باسل رواج دي، او همدغه مختاره دي، ځکه چې په دې کيفيت کې روح ډېر په آسانې سره وځي؛ او د قريبُ الموت تر سر لاندي دې بالښت يا يو بل جګ شی هم

● تخريج: أخرج البيهقي في كتاب الجنائز، باب ما يستحب من تلقين الميت، حديث رقم: ۶۵۹۸.

کښېږدي، چې مخ يې د قبلې پر طرف سي، او د آسمان و طرف ته نه سي، لېکن د دې کيفيت په باره کي هيڅ نص نه دي ذکر سوی، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله وويل چې اول کيفيت سنت دی، يعني پر اړخ پرېږ باسل.

ولقن الشهادتين الخ دويم عمل دا دی چې قريبُ الموت انسان ته دي د شهادتينو تلقين ورکړل سي، يعني د هغه سره دي يو څوک نژدې کښېني په کرار آواز سره أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمد رسول الله ووايي (دې ته تلقين وايي)، او هغه ته دي د دې کلمې حکم نه کوي، ځکه چې دا ډېري سختۍ وخت وي، داسي نه چې نعوذ بالله انکار وکړي، نو خاتمه به يې پر کفر سي، دليل د نبي ﷺ دا قول دی: لقنوا موتاکم شهادة أن لا إله إلا الله. او دلته له موتاکم څخه مراد هغه خلک دي چې مرګ ته نژدې وي، بالکل مړه خلک ځني مراد نه دي، ځکه چې تلقين هغو ته هيڅ فايده نه کوي.

فإذا مات الخ دريم عمل دا دی چې د مړي زامې دي په کپړه يا بل شي سره وتړل سي، او دواړي سترګي دي يې پټي کړل سي، همدا طريقه د نبي ﷺ له زماني څخه په توارث را روانه ده، او په دې طريقه کي يعني د سترګو په پټولو او د زامې په تړلو کي د مړي ښايست او ښکلا هم سته، نو په دې حواله سره هم دا طريقه د مړي په حق کي غوره ده.



فَصْلٌ فِي الْغُسْلِ

(دا) فصل مړي ته د غسل ورکولو (د احکامو په بيان کي) دی

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې په بېلابېلو فصلونو کي د مړي بېلابېل احکام بيانوي، خو څرنګه چې تر مرګ وروسته اول پړاو د غسل دی، نو ځکه غسل تر نورو فصلونو مخکي ذکر کوي.

مړي ته د غسل ورکولو تفصيلي طريقه

فَإِذَا أَرَادُوا غُسْلَهُ نو کله چې خلک د مړي د غسل اراده وکړي وَضَعُوهُ عَلَى سَرِيرٍ نو هغه دي پر يوه تخته (يا کټ) باندي کښېږدي لِيَنْصَبَّ الْمَاءُ عَنْهُ چې اوبه لاندي ځني وبهيږي وَجَعَلُوا عَلَى عَوْرَتِهِ خِرْقَةً او پر عورت دي يې کوچنۍ کپړه واچوي إِقَامَةً لِوَاجِبِ السَّتْرِ د واجب ستر د اداء کولو لپاره وَيَكْتَفِي بِسَتْرِ الْعَوْرَةِ الْغَلِيظَةِ او د عورت غليظه (شرم ځای) پر ستر (پټولو) دي اکتفاء وکړي هُوَ الصَّحِيحُ تَيْسِيرًا د آسانۍ لپاره همدا صحيح دي وَنَزَعُوا ثِيَابَهُ او له مړي څخه دي کالي وکاږي لِيُمْكِنَهُمُ التَّنْظِيفُ چې د دوی لپاره د مړي صفا کول ممکن سي وَوَضَّئُوهُ مِنْ غَيْرِ مَضْمَضَةٍ وَلَا اسْتِنْشَاقٍ او بغير له خولې او پزي پرېولو څخه دي اودس ور وکړي لِأَنَّ الْوُضُوءَ سُنَّةُ الِاغْتِسَالِ ځکه چې اودس کول د غسل سنت دي غَيْرَ أَنَّ إِخْرَاجَ الْمَاءِ مِنْهُ مُتَعَذِّرٌ لېکن د مړي له خولې او پزي څخه اوبه را ايستل مشکل

دي فَيَتَرَكَانِ نو ځکه به خوله او پزه پرېښوول کيږي ثُمَّ يُفِيضُونَ الْمَاءَ عَلَيْهِ بيا به پر مړي اوبه وبيوي اِعْتِبَارًا بِحَالِ الْحَيَاةِ دژوند پر حالت باندې په قياسولو سره وَيُجَمَّرُ سَرِيرُهُ وِتْرًا او دمړي تخته (يا کټ) به په خوشبوداره شي سره په طاق شمېر لوګی کړل سي (يعني دهغه د تختې يا کټ سره دي خوشبويي په طاق شمېر سره ودودل سي) لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْظِيمِ الْمَيِّتِ ځکه په دې کي دمړي تعظيم دی وَإِنَّمَا يُوتَرُ او په طاق شمېر سره به ځکه کيږي لِقَوْلِهِ• عَلَيْهِ السَّلَامُ چي نبي ﷺ فرمايلي دي إِنَّ اللَّهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ الله طاق دی او طاق شمېر خوښوي وَيُغْلَى الْمَاءُ بِالسِّدْرِ أَوْ بِالْحُرُضِ او (دغسل ورکولو) اوبو ته به دبيرو په پانو کي يا د زمې په بوټي کي جوش ورکړل سي مُبَالَغَةً فِي التَّنْظِيفِ چي په پاکوالي کي مبالغه راسي فَإِنْ لَمْ يَكُنْ ليکن که له دې (شيانو) څخه يو شی نه وو فَالْمَاءُ الْقَرَاحُ نو په خالصو اوبو (سره دي غسل ورکول سي) لِحُصُولِ أَصْلِ الْمَقْصُودِ داصل مقصود د حاصلېدلو په وجه (يعني په دې سره هم اصل مقصود يعني غسل حاصليږي) وَيُغَسَّلُ رَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ او دمړي سر او ږيره به په خطمي ګل (خيروګل) سره پرېوول سي لِيَكُونَ أَنْظَفَ لَهُ چي مړی په ښه توګه سره پاک سي ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ بيا به پر خپل چپه بغل پرې ايستل سي فَيُغَسَّلُ بِالْمَاءِ وَالسِّدْرِ نو په اوبو او دبيري په پانو سره به پرېوولل سي حَتَّى يُرَى تر دې چي وليدل سي أَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ إِلَى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ چي اوبه دمړي هغه حصې ته ورسېدلې چي تخته ور سره لګېدلې ده (يعني تر راسته اړخ پوري) ثُمَّ يُضْجَعُ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ بيا به پر راسته بغل پرې ايستل سي فَيُغَسَّلُ او پرېوولل به سي حَتَّى يُرَى أَنَّ الْمَاءَ قَدْ وَصَلَ إِلَى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ تر دې چي وليدل سي چي دمړي هغه حصې ته اوبه ورسېدلې چي تخته ور سره لګېدلې ده (يعني تر چپه اړخ پوري) لِأَنَّ السُّنَّةَ هُوَ الْبِدَايَةُ بِالْمَيَامِنِ ځکه چي سنت له راسته طرف څخه شروع کول دي ثُمَّ يُجْلِسُهُ بيا به غسل ورکونکی مړی کښېنوي وَيُسْنِدُهُ إِلَيْهِ او پر خپل ځان به دهغه تکيه ولګوي (يعني غاسل به مړی کښېنوي او پر خپل ځان به يې را ايله کړي) وَيَمْسَحُ بَطْنَهُ مَسْحًا رَقِيقًا او په نرمي (او کراره) سره به دهغه نس ور ومږي تَحَرُّزًا عَنْ تَلْوِيثِ الْكَفَنِ له ګنده والي څخه د کفن د خوندي کېدلو لپاره (يعني چي کفن ککړ نه سي) فَإِنْ خَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ غَسَلَهُ نو که دهغه له نس څخه يو شی را ووتی نو هغه دي پرېولي وَلَا يُعِيدُ غُسْلَهُ وَلَا وُضُوءَهُ او نه به دهغه غسل راګرځوي، او نه دهغه اودس لِأَنَّ الْغُسْلَ عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ ځکه چي غسل موږ په نص (حديث) سره پېژندلی دی وَقَدْ حَصَلَ مَرَّةً او په يو وار سره غسل حاصل سو ثُمَّ يُنَشِّفُهُ بِثَوْبٍ بيا به مړی په يوه کپړه (جامه) سره وچ کړي كَيْ لَا تَبْتَلَّ أَكْفَانُهُ د دې لپاره چي دهغه کفن لوند نه سي وَيَجْعَلُهُ أَيِ الْمَيِّتَ فِي أَكْفَانِهِ او بيا به هغه يعني مړی په کفن کي وپېچي (يعني کفن به ور واغوندي).

• تخريج: اخرجه البخاري في كتاب الدعوات، باب لله مائة اسم غير واحد، حديث رقم: ٦٤١٠.

اللغات: ﴿سرير﴾ کټ، چارپايي، مجازاً د غسل ورکولو تخته، ﴿لِيَنْصَبَّ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: بهېدل، لام جاره دی وروسته يې أن ناصبه مقدر دی، ﴿عَوْرَة﴾ عورت، د پټولو ځای، ﴿خِرْقَة﴾ کپړه، ټوټه، ټوکر، ﴿عَوْرَة الغَلِيظَة﴾ شرمګاه (شرم ځای)، يعني د مخ او شا حصه، ﴿لِيُنْشَلُوا﴾ د افعال د باب مضارع ده: بيول (بهول)، اچول، ﴿لِيُجَمِّرَ﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده، د افعال له باب څخه هم راځي: بنه بوی لرونکی شی دودول (لوګی کول)، ﴿وِتْرًا﴾ طاق، ﴿يُغْلَى﴾ د ضرب مضارع مجهوله ده: ايشول، جوش ورکول، ﴿حُرُض﴾ زمی، يو بول بوټي دی چې د صابون کار کوي، ﴿سِدْر﴾ د بيري پاڼې، ﴿خِطْمِي﴾ خيروګل، ټوټه ګول، يو بول بوټی دی چې سور او سپين ګل لري او د صابون کار کوي، ﴿لِيُنَشِّفَ﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: په ټوکر يا داسې بل شي سره وچول.

تشريح: په دې اورېده عبارت کې مړي ته د غسل ورکولو طريقه بيان سوې ده، فرمايي چې کله خلک مړي ته د غسل ورکولو اراده وکړي، نو هغه به پر يوه تخته پرې باسي، او پر تخته به يې ځکه پرې باسي چې اوبه لاندې څخې ولاړې سي، ځکه که مړی پر مځکه پرې ايستل سي، نو مړی به په خاورو او ختو ککړ سي، صاحب د کتاب خو نه د تختې ايښوولو کيفيت ذکر کړی دی، او نه يې پر تختې د مړي ايښوولو کيفيت ذکر کړی دی، صاحب د عنايې وايي چې بعضو حضراتو ويلي دي چې تخته دې د قبلې پر طرف په اوږدوالي سره کښېښول سي، يعني تخته دې په اوږدول شرقاً او غرباً کښېښول سي، لکه څرنګه چې انسان د مرض په حالت کې شرقاً او غرباً پرېوځي او په اشاره سره لمونځ کوي، يعني پښې د قبلې و طرف ته کوي، او سر د مغرب و طرف ته کوي، او بعضو ويلي دي چې تخته دې عرضاً يعني په پلنوالي سره کښېښول سي، لکه څرنګه چې مړی په قبر کې ايښوول کيږي، علامه شمس الائمه سرخسي ويلي چې څرنګه ممکنه وي، هغه رنګه دې کښېښول سوي، ځکه چې پر تخته باندې د مړي د ايښوولو په باره کې هيڅ کيفيت روايت سوی نه دی، لېکن عرف دا دی چې مړی دې ستوني ستغ پرې ايستل سي.

وجعلوا على الخ تر پرې ايستلو وروسته دې د مړي پر عورت کپړه واچول سي، ځکه چې عورت پټول فرض دي، او بل دا چې څرنګه انسان په ژوند کې محترم وي، همداسې به تر مرګ وروسته هم محترم وي، نو د هغه د محترم کېدلو تقاضا دا ده چې عورت يې پټ کړی سي. صاحب د هدايې وايي چې د آسانۍ لپاره د عورتِ غليظه يعني د قُبُل او دُبُر پټول کافي دی، له نامه څخه تر زنګنو پوري پټول ضروري نه دي، همدا ظاهرة الرواية دی، د نوادر روايت دا دی چې له نامه څخه تر زنګونو پوري يې پټول ضروري دي.

ونزعوا الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې له مړي څخه به ټوله کالي وکښل سي، چې خلک په آسانۍ سره مړی پاک او صفا کړي، وجه دا ده چې له غسل څخه مقصود د مړي پاکول دي، خو کله چې په کالو کې مړي ته غسل ورکول سي، نو دا مقصود نه حاصلېږي، ځکه چې د غسل په مستعملو اوبو سره کالي ناپاکه کيږي، چې په هغه سره بيا د مړي بدن چټلېږي، نو غسل به د پاکوالي فايده نه ورکړي، نو کله چې په کالو کې غسل ورکول د طهارت فايده نه ورکوي، نو ځکه به له مړي څخه کالي کښل واجب وي. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې مړي ته په داسې قميص کې غسل ورکول مستحب دي چې د هغه لستوڼي دومره پراخه وي چې غسل ورکونکی په هغو لاس ننه کولای سي، دليل يې دا دی چې نبي ﷺ ته په کالو کې غسل ورکول سو، لکه څرنګه چې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی: أن رسول الله ﷺ غسلوه وعليه قميصه يصبون الماء عليه ويدلكونه من فوق القميص. رواه ابو داؤد. (حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې صحابه وو نبي ﷺ ته په داسې حال کې غسل ورکړی چې د نبي ﷺ پر بدن قميص وو. او صحابه وو پر قميص

سرېږه د نبي ﷺ بدن مبارک مړی)، له دې څخه معلومه سوه چي مړي ته په قمیص کي غسل ورکول افضله او مستحب دي، لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چي دا طریقه د نبي ﷺ سره خاص وه، او د نبي ﷺ د فضیلت او احترام په وجه وه، ځکه چي نبي ﷺ د ژوند او مرګ په دواړو حالتونو کي له نورو عامو وګړو څخه جلا او ممتاز دی، نو د نبي ﷺ غسل به تر نبي ﷺ پوري خاص وي، او هغه به د هر مړي لپاره سنت یا مستحب نه ګڼل کیږي، کنې په نبي او غیرِ نبي کي به څه فرق پاته سي؟

تر غسل مخکي مړي ته د اودس ورکولو بیان: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمایي چي بغیر له خولې او پزي پرېللو څخه دي مړي ته اودس ورکړی سي، اودس خو دي ځکه ورکړی سي چي اودس د غسل سنت دی، خوله او پزه دي ځکه پرېنښوول سي چي د مړي له خولې او پزي څخه اوبه را ایستل مشکل دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي د ژوند په حالت باندي په قیاسولو سره به د مړي خوله او پزه هم پرېولل کیږي، د بعضي علماؤ رایه دا ده چي غسل ورکونکی دي پر خپله ګوته یو نری غوندي ټوکر یا پمبه ورپېچي، او ګوته دي د مړي په خوله دننه کړي، او شا و خوا دي یې پاکښي وګرځوي چي خوله یې هم پاکه سي.

ثم یفیضون الخ فرمایي چي تر اودس وروسته دي د مړي پر ټوله بدن اوبه وبیول سي، د ژوند پر حالت باندي په قیاسولو سره، یعني څرنګه چي به هغه په خپل ژوند کي په کوم ترتیب سره غسل کوی، یعني پر ټوله بدن به یې اوبه بیولې، او درې واره به یې بیولې، نو تر مرګ وروسته به هم په هغه ترتیب سره غسل ورکول کیږي.

ویجمّر سریره الخ فرمایي چي د مړي تختې ته دي د عود لرګی یا بل بنه وږم لرونکی بنی ودودل سي، او دا کار دي په طاق شمېر یعني ١ / ٣ / ٧ وارو سره وسي، ځکه په دې کي د مړي تعظیم دی، او طاق شمېر ځکه دي، چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: إن الله وتر ویحب الوتر (الله طاق دی طاق خوښوي).

ویغلی الماء الخ فرمایي چي په کومو اوبو سره مړي ته غسل رکول کیږي، په هغه اوبو کي دي د بیري پاڼي یا د زمی بوټي واچول سي او جوش دي ورکړل سي (یعني دا شیان دي پاکښې را وښول سي)، ځکه په دې توګه مړی ښه پاکیږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله وایي چي د مړي د غسل لپاره یخي اوبه استعمالول افضله دي، ځکه د ګرمو اوبو په استعمال سره د بدن اندامونه سستیږي، او د نجاست وتلو خطره ځني پیدا کیږي، لېکن موږ جواب ورکوو چي غسل د مړي د پاکولو لپاره مشروع سوی دی، او په ګرمو اوبو کي پاکي زیاته وي، نو ځکه به په ګرمو اوبو سره غسل ورکول افضله وي، او پاته سو د نجاست وتلو خطره نو هغه نوره فایده لري ځکه کله چي د غسل په دوران کي نجاست ووځي، نو تر غسل وروسته به د هغه د وتلو خطره او په هغه سره د کفن د ککړ کېدلو خطره نه وي، او که د بیري پاڼي یا د زمی بوټي نه ول، نو بیا دي په خالصو اوبو سره مړي ته غسل ورکول سي، د اوبو دا پورتنی ترتیب له شمسُ الائمه سرخسي څخه را نقل سوی دی، لېکن شیخُ الاسلام او صاحب د محیط وایي چي اول دي په خالصو اوبو سره غسل ورکول سي، بیا دي هغه اوبه استعمال کړي چي د بیري پاڼو ته جوش پکښې ورکول سوی وي، او دریم وار دي هغه اوبه استعمال کړي چي کافور په ګډ سوی وي، لکه څرنګه چي له ابن مسعود رَحِمَهُ الله څخه هم دا را نقل سوي دي.

ویغسل رأسه الخ فرمایي چي د مړي سر او ږیره دي په خطمي ګول سره پرېولل سي، ځکه خطمي ګل هم هغه کار کوي، کوم چي یې صابون کوي.

ثم يضجعه الخ تر دې تولو کارونو وروسته دې مړی پر چپه اړخ پرې ایستل سي، او اوبه دې د هغه پر راسته اړخ واچول سي، او دومره دې واچول سي چې هغه اوبه چپه اړخ او د چپه اړخ سره لګېدلي تختې ته ورسېږي، او بیا دې پر راسته اړخ پرې ایستل سي، دغومره او دغه رنګه اوبه دې پر واچول سي، اول به ځکه پر چپه اړخ پرې ایستل کیږي چې په راسته طرف شروع کول سنت دي.

ثم يجلسه الخ بیا دې غسل ورکونکی مړی کښېنوي، او خپل ځان ته دې یې تکیه کړي، او نس دې په نرمي سره ومږي (او په کراره دې یې ورکښېکاږي)، ځکه که د مړي په نس کي یو شی وو، هغه به راووځي چې وروسته کفن ککړ نه کړي، په دې باره کي اصل دا روایت دی: أن علياً رضي الله عنه لما غسل رسول الله ﷺ مسح بطنه بيده رقيقا، طلب منه ما يطلب من الميت فلم ير شيئًا فقال طبت حيًا وميتًا، (يعني حضرت علي ﷺ چې کله نبي ﷺ ته غسل ورکوی، نو په خپل لاس سره یې د نبي ﷺ مبارک نس په کراره ومږی، او مقصود یې هغه شی وو کوم چې له بل مړي څخه طلب کیږي، لیکن هیڅ شی نه راووتی، بیا حضرت علي ﷺ وفرمایل: چې ستا ژوند او مرګ دواړه پاک دي)

د نس تر مږلو وروسته که د مړي له نس څخه یو شی راووتی، نو هغه دې پرېولي، او د غسل راګرځولو ضرورت نسته، او نه د اودس راګرځولو ضرورت سته، ځکه غسل خو موږ له حدیث څخه معلوم کړی دی، یعني چې نبي ﷺ فرمایلي دي د مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقونه دي، له هغو څخه یو مړي ته غسل ورکول دي، لنډه دا چې د مړي غسل واجب دی، او غسل په یو ځل ورکولو سره حاصلیږي، نو د دویم وار لپاره د غسل ورکولو ضرورت نسته، تر غسل وروسته دې د مړي بدن په یوه پاک توکر سره وچ او صفا کړی سي چې کفن لوند نه سي، او تر هغه وروسته دې کفن ورکړي.

تر غسل وروسته سنت عملونه

وَيُجْعَلُ الْحَنُوطُ عَلَى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ او حنوط عطر دې د مړي پر سر او ږیره ومږل سي وَالْكَافُورُ عَلَى مَسَاجِدِهِ او د سجدې پر اندامونو دې یې کافور ومږل سي لِأَنَّ التَّطَيُّبَ سُنَّةٌ ځکه عطر مږل (لګول) سنت دي وَالْمَسَاجِدُ أَوْلَى بِزِيَادَةِ الْكَرَامَةِ او د سجدې اندامونه د زیات عزت ډېر مستحق دي وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُ الْمَيِّتِ وَلَا لِحْيَتُهُ او د مړي وېښته او ږیره دې نه ږمنځول کیږي وَلَا يُقَصُّ ظُفُرُهُ وَلَا شَعْرُهُ او نه دې د مړي نوکان او وېښتيان پرېکیږي لِقَوْلِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه حضرت عائشې رضي الله عنها فرمایلي دي عَلَامَ تَنْصُونَ مَيِّتَكُمْ تاسو ولي د خپل مړي تندی بنکلی جوړوئ (یعني ولي یې سر وږ ږمنځوئ) وَلِأَنَّ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ لِلزِّيْنَةِ او په دې وجه (هم) چې دا شیان د ښکلا لپاره دي وَقَدِ اسْتَغْنَى الْمَيِّتُ عَنْهَا حال دا چې (اوس) مړی له دې شیانو څخه بې پروا سوی دی وَفِي الْحَيِّ كَانَ تَنْظِيفًا (لیکن) په ژوندي سړي کي دا شی د پاکولو لپاره وو (یعني په ژوند کي دا کار د پاکوالي لپاره کېدی) لِاجْتِمَاعِ الْوَسَخِ ځکه چې (تر نوکانو او وېښتانو لاندې) خیري جمع وي وَصَارَ كَالْخِتَانِ لهذا دا د ختنه کولو (سنتولو) په ډول سو.

اللغات: ﴿حنوط﴾ یو ډول عطر دی چې له بېلابېلو عطرونو څخه جوړیږي، ﴿كافور﴾ یو ډول سپینه ماده ده چې د کافور له وني څخه تر لاسه کیږي، ﴿يسرح﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: ږمنځول، ﴿يقص﴾ د نصر د باب

مضارع مجهوله ده: پرېکول(کاټول). ﴿تُقلَمُ﴾ ظَفَرٌ او ظُفُرٌ: نوک، جمع يې أَظْفَارٌ راځي. ﴿تُسَرَّحُ﴾ د نصر د باب مضارع ده: تندی کښول(مطلب تندی ښائسته کول. يا سر ږمنځول). ﴿وَسَخ﴾ خيره.

تشريح: فرمايي چي کله مړي ته غسل او کفن ورکړل سي، نو بيا دي د هغه پر سره اوږيره حنوط ولګول سي، حنوط له څو ډوله عطرونو څخه جوړيو ډول عطر دي، چي هغه ته تاسو د دې زمانې په اعتبار سره عطرِ مجموعه(يا ګلچين عطر) هم ويلای سی، او د مړي د سجدې پر اندامونو يعني پر تندي، پزه، پښو، لاسو، او زنګنو دي کافور ومږل سي، ځکه چي حنوط او کافور خوشبوداره او ښه بوی لري، او د سجدې اندامونه د خوشبوداره کولو زيات حقداره دي، او په دې باره کي د حضرت ام عطيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث هم دليل دی، چي نبي ﷺ د خپلي لور غسل ورکونکو ښځو ته وفرمايل: اغسلنها ثلثاً أو خمسا واجعلن فی الآخر كافوراً، او له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی: كان عنده مسك فأوصى أن يحنط به (بنايه ج۳، ص۲۲۰)، له دې دواړو روايتونو څخه معلوميږي چي پر مړي به کافور او حنوط لګول کيږي، او له پخوا څخه همدغه معمول را روان دی.

ولايسرح الخ فرمايي چي د مړي ورېښتيان او ږيره ږمنځول، يا يې ورېښتيان او نوکان پرېکول دا ټوله شيان منع دي، او له سنت څخه خلاف دي، او په دې باره کي دليل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا فرمان دی: علام تنصون ميتكم علام په اصل کي علی ما دی، علی حرفِ جر دی، پر ما استفهاميه داخل سو، او د تخفيف په وجه الف ځني ساقط سو علام سو، لکه عم يتساءلون چي په اصل کي عن ما يتساءلون وو، او د تنصون معنیٰ ده: تندی کښول، او د سر په ږمنځولو کي هم تندی کښيږي، مطلب دا چي له تنصون څخه مراد ږمنځول دي، او بعضي شارحينو يې معنیٰ په ښائسته کولو سره کړې ده، ځکه کله چي د سر ورېښتيان ږمنځ کړل سي نو تندی هم ښکلی ښکاره کيږي.

ولأن الخ د ورېښتيانو د نه ږمنځولو او د نوکانو د نه پرېکولو عقلي دليل دا دی چي د دې شيانو تعلق د ښکلا سره دی، او ښکاره ده چي مړی له ښکلا او تزيين څخه بې پروا دی، لېکن دژوندو خلکو په حق کي د دې شيانو ضرورت سته، ځکه چي تر ورېښتيانو او نوکانو لاندي خيري جمع کيږي، نو د خيرو ليري کولو لپاره نوکان او ورېښتيان پرېکول دژوندو خلکو په حق کي د ښکلا سبب دی، او دا مسئله د ختنه کولو (سنتولو) په ډول ده، يعني څرنګه چي ختنه کول دژوندو خلکو سره خاص دي، او دژوندو په حق کي سنت دي، نه د مړو په حق کي، همدا ډول به نوکان او ورېښتيان پرېکول هم د مړو په حق کي سنت او مشروع نه دي.



فَصْلٌ فِي التَّكْفِيْنِ

(دا) فصل د کفن ورکولو (په بيان کي) دی

تشريح: په مخکني فصل کي موږ وويل چي تر دې وروسته صاحب د هدايې د مړي بېلابېل حالات په بېلابېلو فصلونو کي بيانوي، نو دا فصل هم له هغه سلسلې څخه دويمه کړۍ ده، او څرنگه چي تر غسل وروسته د کفن پړاو مخته راځي، نو ځکه تر فصل في الغسل وروسته فصل في التكفين بيانوي.

د سړي لپاره سنت کفن

اَلسُّنَّةُ أَنْ يُكَفَّنَ الرَّجُلُ فِيْ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ سنت دا دي چي سړي ته په دريو کپړو (جامو) کي کفن ورکړل سي **إِزَارٍ وَقَمِيْصٍ وَلِفَافَةٍ** په (۱) لنگ (۲) کميس (۳) او پټو (څادر) کي **لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**[1] **كُفِّنَ فِيْ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيْضٍ سَحُوْلِيَّةٍ** ځکه روايت سوی دي چي نبي ﷺ ته د سحوليې سيمې په دريو سپينو کپړو کي کفن ورکول سو **وَلِأَنَّهُ أَكْثَرُ مَا يَلْبَسُهُ عَادَةً فِيْ حَيَاتِهِ** او په دې وجه (هم) چي درې کپړې زياتره وخت انسان په خپل ژوند کي د عادت په توگه اغوندي **فَكَذَا بَعْدَ مَمَاتِهِ** نو همداسي به تر مرگ وروسته (هم درې کپړې ور اغوستل کيږي).

اللغات: ﴿إِزَار﴾ لنگ، ﴿لِفَافَة﴾ هغه شی چي مړی پکښې وپېچل سي، مراد ځني هغه پټو دی چي ټوله بدن پکښې پټ سي، ﴿سَحُوْلِيَّة﴾ د يمن د يو کلي (محلې او سيمې) نوم دی.

تشريح: کفن پر درې قسمه دی: (۱) کفنِ مسنون (۲) کفنِ کفايه (۳) کفنِ ضرورت، په دې عبارت کي کفنِ مسنون يعني سنت کفن بيانيږي، کفنِ سنت د خلکو په حق کي درې جامې دي: ① ازار، هغه لنگ ځني مراد دی چي له سر څخه تر پښو پوري وي، ② قميص له غاړي څخه تر پښو پوري وي، بغير له لستوڼو څخه، ③ لفافه، هغه پټو (څادر) چي له سر څخه تر پښو پوري وي، چي ټوله بدن پټ کړي.

دليل: د دې دريو جامو پر سنتوالي دليل دا دی چي نبي ﷺ ته د سحوليه کلي په دريو سپينو کپړو کي کفن ورکول سو، او جابر بن سمره ﷺ فرمايلي دي: كفن رسول الله ﷺ في ثلثة أثواب قميص و إزار ولفافة. لنده دا چي له دې څخه دا ثابته سوه چي د نبي ﷺ کفن درې کپړې وې، **دويم دليل:** دا دی چي انسان په عامه توگه په ژوند کي درې کپړې اغوندي (يعني کميس، لنگ [يعني پرتوگ] او پټو)، نو ځکه به تر مرگ وروسته هم درې کپړې ور اغوستل کيږي.

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجنائز، باب الكفن بلا عمامة، حديث رقم: ۱۲۷۳.

د سړي د کفن کمه اندازه

فَإِنِ اقْتَصَرُوا عَلَى ثَوْبَيْنِ جَازَ لیکن که خلکو پر دوو کپړو (جامو) اکتفاء وکړه نو (هم) جائز دي وَالثَّوْبَانِ إِزَارٌ وَلِفَافَةٌ او دوې جامې لنګ او لفافه دي وَهٰذَا كَفَنُ الْكِفَايَةِ او دا کفنِ کفایه دی لِقَوْلِ أَبِي بَكْرٍ د حضرت ابو بکر ؓ د قول په وجه سره اِغْسِلُوا ثَوْبَيَّ هٰذَيْنِ وَكَفِّنُونِي فِيهِمَا "زما دا دوې جامې پرېولئ او ما ته په دې کې کفن راکړئ" (يعني ما په دې کې پټ کړئ) وَلِأَنَّهُ أَدْنَى لِبَاسِ الْأَحْيَاءِ او په دې جه (هم) چې دا دوې جامې د ژوندي خلکو د جامو کمه حصه ده وَالْإِزَارُ مِنَ الْقَرْنِ إِلَى الْقَدَمِ او ازار (لنګ) به له سر څخه تر پښو پورې وي وَاللِّفَافَةُ كَذٰلِكَ او لفافه به همدارنګه وي وَالْقَمِيصُ مِنْ أَصْلِ الْعُنُقِ او کمیس به له غاړې څخه (تر پښو پورې) وي.

اللغات: ﴿اِقْتَصَرُوا﴾ د افتعال د باب ماضي ده: اکتفاء کول. ﴿كِفَايَة﴾ هغه مقدار چې فقط کافي سي. ﴿قَرْن﴾ سر، ښکر.

تشريح: په دې عبارت کې د نارینه د کفنِ کفایه بیان دی، د نارینه په حق کې کفنِ کفایه دوې کپړې دي: یو ازار او بل لفافه. د کفنِ کفایه په باره کې د صدیق اکبر ؓ له قول څخه دلیل نیول کیږي، پوره قول په مصنف ابن عبد الرزاق کې داسې ذکر سوی دی: عن عائشة قالت قال ابو بكر لثوبيه الذين كان يمرض فيهما اغسلوهما وكفنوني فيهما فقالت عائشة ألا نشتري لك جديداً فقال لا الحي أحوج إلى الجديد من الميت. (حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل: چې زما پتمن پلار ابوبکر ؓ د هغو دوو جامو په باره کې وفرمایل چې په هغو کې دی ناروغه سوی وو: چې دا دواړې پرېولئ، او زما لپاره یې کفن کړئ، حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل: پلاره محترمه! آیا موږ ستا لپاره نوي جامې نه رانیسو، ویې فرمایل: نه! ژوندي سړی د نوو جامو زیات مستحق دی په نسبت د مړي ته، فتح القدير)، دویم دلیل د ابن عباس حدیث دی، قصه داسې ده چې یو سړی د احرام په حالت کې له اوښې څخه را ولوېدی، مړ سو، نو نبي ﷺ وفرمایل: وكفنوه في ثوبين، (يعني هغه ته په دوو جامو کې کفن ورکړئ).

عقلي دليل: دا دی چې د ژوندو خلکو د کمې اندازې کالي دوې کپړې وي، نو تر مرګ وروسته به هم پر دوو کپړو اکتفاء کول جائز وي، صاحب د هدايې د دريو سره کپړو تفصيل داسې بيان کړی دی چې ازار به له سر څخه تر پښو پورې وي، او لفافه به هم دغومره وي، او قميص به له غاړې څخه تر پښو پورې وي، لیکن په دې کې به نه جېب وي، نه غاړه او نه لستوڼي.

د کفن ورکولو طریقه

وَإِذَا أَرَادُوا لَفَّ الْكَفَنِ او کله چې خلک (پر مړي) د کفن د را پېچلو اراده وکړي اِبْتَدَءُوا بِجَانِبِهِ الْأَيْسَرِ نو د مړي له چپه طرفه دي یې شروع کړي فَلَفُّوهُ عَلَيْهِ او د چپه طرف والا کفن دي پر مړي ورپېچي ثُمَّ بِالْأَيْمَنِ بیا دي یې له راسته طرفه شروع کړي كَمَا فِي حَالِ الْحَيَاةِ لکه د ژوند په حالت کې چې کیږي وَبَسْطُهُ أَنْ تُبْسَطَ اللِّفَافَةُ أَوَّلًا او د کفن غوړولو طریقه دا ده چې اول دي لفافه وغوړول سي ثُمَّ يُبْسَطَ عَلَيْهَا الْإِزَارُ بیا دي پر لفافه ازار وغوړول سي ثُمَّ يُقَمَّصَ الْمَيِّتُ بیا دي مړي ته کمیس ور واغوستل سي وَيُوضَعَ عَلَى الْإِزَارِ او پر ازار به کېښول سي ثُمَّ يُعْطَفَ الْإِزَارُ مِنْ قِبَلِ

الْيَسَارِ ثُمَّ مِنْ قِبَلِ الْيَمِينِ او بيا دي ازار له چپه طرف څخه او بيا دي له راسته طرف څخه را ونغښتل سي ثُمَّ اللِّفَافَةُ كَذٰلِكَ بيا دي لفافه هم داسي را ونغښتل سي وَإِنْ خَافُوا أَنْ يَنْتَشِرَ الْكَفَنُ عَنْهُ او كه خلكو ته دا ډېره وه چي كفن به له مړي څخه خلاص سي عَقَدُوهُ بِخِرْقَةٍ نو د ټوكر په يوه ټوټه (يا رېښكى) سره دي يې وتړي صِيَانَةً عَنِ الْكَشْفِ له خلاصېدلو څخه د ساتني لپاره (يعني كه د كفن د خلاصېدلو انديښنه وه نو په يوه رېښكى سره دي يې وتړي چي خلاص نه سي).

اللغات: ﴿لَفّ﴾ د نصر د باب مصدر دى: ونغښتل، ﴿بَسْط﴾ د نصر د باب مصدر دى: اوږدول، ﴿يُقَمَّصُ﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: قميص (كميس) ور اغوستل، ﴿يُعْطَفُ﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده، دا باب ډيري معناوي لري، كله چي د ثوب سره راسي، نو معنىٰ يې راځي: تاوول، ونغښتل، اغوستل، ﴿يَنْتَشِرَ﴾ د افتعال مضارع ده: خورېدل، (مراد ځني خلاصېدل دي)، ﴿صِيَانَة﴾ ساتنه، ژغورنه.

تشريح: مړي ته د كفن وركولو طريقه دا ده چي كفن وركونكى دي اول څادر يعني لفافه وغوړوي، بيا دي پر هغه لنګ وغوړوي، بيا دي پر هغه قميص وغوړوي، وروسته دي مړى پر پرې باسي، اول دي قميص ور واغوستل سي، بيا دي د لنګ چپه طرف اول پر را ونغښتي، او بيا دي يې راسته طرف پر را ونغښتي، د دې لپاره چي چپه طرف لاندي سي، او راسته طرف لوړ سي، او لفافه دي همدارنګه پر را ونغښتل سي، صاحب د هدايې د سري په كفن كي د لنګوټې (عمامې) ذكر نه وكړى، ځكه چي بعضي حضراتو په كفن كي لنګوټه مكروه ګرځولې ده، ځكه كه لنګوټه هم په كفن كي شامله كړى سي، نو د كفن كپړې به په جفت شمېر سره سي، حال دا چي سنت طاق شمېر يعني درې كپړې دي، لېكن بعضي حضراتو لنګوټه مستحب ګرځولې ده، او په دليل كي يې وېلي دي چي ابن عمر به مړي ته لنګوټه ور اغوستل، او د لنګوټې شمله به يې د مړي پر مخ اچول، لېكن دا قول د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د قول يعني كُفِّنَ رسول الله ﷺ في ثلاثة أثواب بيض خلاف دى.

فايده: د كفن لپاره سپينه پمبيزه كپړه استعمالول افضله دي، ځكه په حديث كي هم دې ته اشاره سوې ده.

د ښځي سنت كفن

وَتُكَفَّنُ الْمَرْأَةُ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ او ښځي ته به په پنځو كپړو (جامو) كي كفن وركول كيږي دِرْعٍ وَإِزَارٍ وَخِمَارٍ وَلِفَافَةٍ په (۱) قميص (۲) لنګ (۳) پوړنى (۴) څادر (پټو) كي وَخِرْقَةٍ تُرْبَطُ فَوْقَ ثَدْيَيْهَا (۵) او يوه ټوټه (رېښكى) چي هغه به د دې پر تيانو ترل كيږي لِحَدِيثِ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د ام عطيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حديث په وجه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● أَعْطَى اللَّوَاتِيْ غَسَلْنَ ابْنَتَهُ خَمْسَةَ أَثْوَابٍ چي نبي ﷺ د خپلي لور غسل وركونكو ښځو ته پنځه جامې وركړې وَلِأَنَّهَا تَخْرُجُ فِيهَا حَالَةَ الْحَيَاةِ او په دې وجه (هم) چي ښځه په خپل ژوند كي په دې پنځو جامو كي راوځي فَكَذَا بَعْدَ الْمَمَاتِ نو همداسي به تر مرګ وروسته (هم) وي ثُمَّ هٰذَا بَيَانُ كَفَنِ السُّنَّةِ بيا دا د سنت كفن بيان

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجنائز، باب في كفن المرأة، حديث رقم: ٣١٥٧.

دی وَإِنِ اقْتَصَرُوا عَلَى ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ جَازَ او که دې خلکو پر دريو جامو اکتفاء وکړه نو هم جائز دي وَهِيَ ثَوْبَانِ وَخِمَارٌ او هغه دوې جامې دي (يعني ازار او پټو) او بل پوړنی دی وَهُوَ كَفَنُ الْكِفَايَةِ او دا کفایه کفن دی وَيُكْرَهُ أَقَلُّ مِنْ ذٰلِكَ او له دې څخه کمې جامې مکروه دي (يعني له دې څخه په کمو جامو کې ښځې ته کفن ورکول مکروه دي) وَفِي الرَّجُلِ يُكْرَهُ الِاقْتِصَارُ عَلَى ثَوْبٍ وَاحِدٍ او په سړي کې پر يوه جامه اکتفاء کول مکروه دي إِلَّا فِي حَالَةِ الضَّرُورَةِ لیکن د ضرورت په حالت کې (جائز دی) لِأَنَّ مُصْعَبَ بْنَ عُمَيْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ● حِينَ اُسْتُشْهِدَ ځکه مصعب بن عمير رضي الله عنه چې کله شهيد کړی سو كُفِّنَ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ نو په يوه جامه کې کفن ورکول سو وَهٰذَا كَفَنُ الضَّرُورَةِ او دا د ضرورت (مجبوری) کفن دی.

اللغات: ﴿درع﴾ کنټل سوی کميس (دلته مراد ځنې مطلق کميس دی)، ﴿خمار﴾ پوړنی، ﴿لفافتين﴾ تثنيه ده، واحد يې لفافه دی، مراد ځنې تې دي.

تشریح: په دې عبارت کې د ښځې سنت کفن بيانوي، فرمايي چې د ښځې سنت کفن پنځه کپړې دي: ① قميص، ② ازار (لنګ)، ③ پوړنی، ④ لفافه (پټو)، ⑤ د کپړې يوه ټوټه يا رېښکی چې د ښځې تيان په وتړل سي، دليل دام عطيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی، او هغه دا چې کله د نبي ﷺ لور حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفات سوه، نو کومو ښځو چې هغې ته غسل ورکوی، نبي ﷺ هغو ته د کفن لپاره همدغه پنځه کپړې ورکړې.

عقلي دليل: دا دی چې په ژوند کې په عامه توګه ښځه په دغه پنځو کالو کې اوسيږي، نو ځکه به تر مرګ وروسته هم دغه پنځه کپړې ور اغوستل کيږي.

د ښځې د کفن کمه اندازه: وإن اقتصروا على ثلاثة الخ له دې ځايه د ښځې کفنِ کفايه بيانيږي، نو د ښځې کفنِ کفايه درې کپړې دي: (۱) ازار (۲) لفافه (۳) پوړنی. له دريو څخه په کمو کپړو کې ښځې ته کفن ورکول مکروه دي، لیکن که د ضرورت په وجه وو، نو جائز دي، او د نر لپاره يوه کپړه کفنِ ضرورت دی. دليل د خباب بن ارت حديث دی:

قال هاجرنا مع النبي ﷺ نريد وجه الله تعالى فوقع اجرنا على الله فمنا من مضى ولم يأخذ من أجره شيئا منهم مصعب بن عمير قتل يوم أحد وترك نمرة فكنا إذا غطينا بها رأسه بدت رجلاه، و إذا غطينا بها رجليه بدأ رأسه فأمرنا رسول الله ﷺ أن نغطي رأسه وأن نجعل على رجليه شيئا من الاذخر (خباب بن ارت وايي چې موږ صرف د الله د رضا لپاره د نبي ﷺ سره هجرت وکړی، زموږ اجر پر الله تعالىٰ دی، زموږ څخه چې کوم خلک مخکې تېر سول او په دنيا کې يې هيڅ اجر هم نه واخيستی، له هغو څخه يو مصعب بن عمير رضي الله عنه دی، چې د اُحد په ورځ شهيد سو، هغه يو ليکه داره (کرښې لرونکی) پټو پرېښوی، په دې سره چې به موږ کله د هغه سر پټوی، نو پښې به يې ښکاره کېدلې، او کله چې به مو پښې په پټولې نو سر به يې ښکاره کېدی، نو موږ ته رسول الله ﷺ حکم راکړی چې د مصعب سر پټ کړو او پر پښو يې د اذخر وابنه واچوو).

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجنائز، باب اذا لم يوجد إلا ثوب واحد، حديث رقم:١٢٧٥.

ښځې ته د کفن ورکولو طریقه

وَتُلْبَسُ الْمَرْأَةُ الدِّرْعَ أَوَّلًا او ښځې ته به اول کمیس ور واغوستل سي ثُمَّ يُجْعَلُ شَعْرُهَا ضَفِيرَتَيْنِ بیا به د هغې له ورېښتیانو څخه دوې کوڅۍ (چوټیان) جوړې کړل سي عَلٰى صَدْرِهَا فَوْقَ الدِّرْعِ د هغې پر سینې تر کمیس لوړ (یعني دا کوڅۍ به د هغې پر سینه پر کمیس لوړې کېښول سي) ثُمَّ الْخِمَارُ فَوْقَ ذٰلِكَ بیا به پر کمیس پوړنی ور واغوستل سي ثُمَّ الْإِزَارُ تَحْتَ اللِّفَافَةِ بیا به تر څادر لاندې لنګ ور واغوستل سي.

اللغات: ﴿ضَفِيرَتَيْنِ﴾ دوې کوڅۍ، دوه چوټیان، مراد څنې د ورېښتیانو دوې حصې دي.

تشریح: د ښځې د کفن طریقه دا ده چې ښځې ته به اول کمیس ور واغوندي، بیا به یې ورېښتیان دوې حصې کړي، یوه حصه به یې پر کمیس لوړه راسته طرف ته کېښېږدي، او بل چپه طرف ته، بیا به پر کمیس پوړنی وپېچي چې تر کمیس او ورېښتیانو لوړ پوړنی راسي، لکه څرنګه چې په ژوند کې هم ښځه پر کمیس او ورېښتیانو لوړ پوړنی پر سر کوي، بیا به لنګ پر وپېچي چې هغه به له سر څخه تر پښو پورې وي، او بیا به د تیانو د ترلو لپاره یو ټوکر پر وپېچي، او دا ټوکر به تر ورنو پورې وي، او پر دې ټولو به پټو را وپېچي چې ټوله پټ کړی سي؛ او د ټولو کپړو چپه طرف به اول راپېچي، او راسته طرف به وروسته راپېچي چې راسته طرف لوړ راسي.

پر کفن باندې د عطر لګولو حکم

قَالَ: وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ قَبْلَ أَنْ يُدْرَجَ فِيهَا الْمَيِّتُ وِتْرًا فرمايي: چې په کفن کې دې د مړي تر پېچلو مخکې و کفن ته په طاق شمېر سره څه خوشبويي ودودول سي (مطلب دا چې هسې په يو بول دې کفن خوشبوداره کړل سي) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● أَمَرَ بِإِجْمَارِ أَكْفَانِ ابْنَتِهِ وِتْرًا ځکه نبي ﷺ د خپلې لور و کفن ته د خوشبويي دودولو حکم کړی وو وَالْإِجْمَارُ هُوَ التَّطْيِيبُ او له اجمار څخه مراد خوشبوداره کول (او عطر لګول) دي فَإِذَا فَرَغُوا مِنْهُ بیا چې کله خلک له کفن څخه فارغه سي صَلُّوا عَلَيْهِ نو پر مړي دې د جنازې لمونځ وکړي لِأَنَّهَا فَرِيضَةٌ ځکه چې د جنازې لمونځ فرض دی.

اللغات: ﴿يُدْرَجُ﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: داخلول (پېچل)، ﴿أَكْفَان﴾ جمع د كَفَنٌ ده: کفن، ﴿تطييب﴾ د تفعّل مصدر دی: عطر لګول.

تشریح: په دې عبارت کې کفن ته د يو خوشبوداره شي د دودولو حکم ذکر سوی دی، مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې له دودولو څخه مراد خوشبوداره کول دي، يعني کفن دې هسې په يو بول خوشبوداره کړی سي چې ښه بوی څنې پورته سي، هغه که ديو شي په دودولو سره وي او که په عطرو سره وي، يا په يو بل شي سره وي، او دا کار په طاق شمېر سره کول سنت دي، لکه حديث چې هم پر دې خبره ګواه دی، تر کفن وروسته دې پر مړي د جنازې لمونځ وسي، ځکه چې د جنازې لمونځ فرض کفايي دی.

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الجنائز، باب الحنوط للميت، حديث رقم: ۶۷۰۶.

فَصْلٌ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ

(دا) فصل پر مړي د لمونځ كولو (په بيان كي) دى

تشريح: څرنګه چي تر كفن وروسته د جنازې د لمانځه پړاو راځي، نو ځكه صاحب د كتاب تر تكفين وروسته د جنازې د لمانځه فصل بيانوي.

د جنازې د لمانځه زيات حقداره څوک دى؟

وَأَوْلَى النَّاسِ بِالصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ السُّلْطَانُ او پر مړي د جنازې د لمانځه تر ټولو زيات حقداره باچا دى إِنْ حَضَرَ خو په دې شرط چي هغه حاضر وي لِأَنَّ فِي التَّقَدُّمِ عَلَيْهِ ازْدِرَاءً بِهِ ځكه چي له هغه څخه په مخكي كېدلو كي د هغه سپكاوى دى فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ فَالْقَاضِي لېكن كه باچا حاضر نه وو نو قاضي زيات حقداره دى لِأَنَّهُ صَاحِبُ وِلَايَةٍ ځكه چي هغه ولايت لرونكى دى فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ او كه قاضي (هم) نه وو فَيُسْتَحَبُّ تَقْدِيمُ إِمَامِ الْحَيِّ نو د كلي امام مخته كول مستحب دي لِأَنَّهُ رَضِيَهُ فِي حَالِ حَيَاتِهِ ځكه چي مړى په خپل ژوند كي د هغه په امامت راضي وو قَالَ: ثُمَّ الْوَلِيُّ بيا د مړي ولي زيات حقداره دى وَالْأَوْلِيَاءُ عَلَى التَّرْتِيبِ الْمَذْكُورِ فِي النِّكَاحِ او بيا نور وليان د هغه ترتيب مطابق حقداره دي كوم چي په نكاح كي ذكر سوي دي.

اللغات: ﴿اِزْدِرَاءٌ﴾ د افتعال مصدر دى: سپكاوى، ملنډي وهل، تحقير، ﴿حَيّ﴾ كلى، كوڅه.

تشريح: مسئله: دا ده چي د جنازې د لمانځه تر ټولو زيات حقداره باچا دى، يعني كه يو مسلم او عالم باچا د يو مړي په جنازه كي حاضر وو، او باچا د لمانځه په احكامو او مسئلو خبر وو، نو باچا تر ټولو زيات حقداره دى، ځكه د باچا په وجود كي كه يو بل سړى مخته كړى سي، نو په دې كي د باچا بې عزتي او سپكاوى دى، حال دا چي پر موږ د باچا تعظيم او عزت واجب ګرځول سوى دي، نو ځكه به تر ټولو زيات د امامت مستحق باچا وي.

هو! كه باچا نه وو، نو بيا به د هغه له طرف څخه ټاكل سوى شرعي قاضي د جنازې د لمانځه زيات حقداره وي، ځكه هغه د ولايت خاوند دى، او د هغه ولايت عام او پوره دى، لېكن كه قاضي هم نه وو، نو بيا به د كلي او محلې امام د جنازې لمونځ وركوي، ځكه چي مړي به په خپل ژوند كي د هغه په اقتداء كي په رضا او رغبت سره لمونځونه كول، نو تر مرګ وروسته به هم د هغه په امامت راضي وي.

قال ثم الولي الخ فرمايي كه په دې وخت كي د كلي امام هم نه وو، نو بيا به د مړي ولي د جنازې لمونځ وركوي، او د جنازې په لمانځه كي به هم د وليانو هغه ترتيب وي، كوم چي په نكاح كي ذكر سوى دى، خو دلته به د ښځي پلار د ښځي تر زوى مخكي وي، لېكن په نكاح كي د ښځي زوى د ښځي تر پلار مخكي دى، په بنايه كي ذكر سوي دى: قال الأوزاعي والحسن البصري الأب أحق، ثم الزوج، ثم الإبن، ثم الأخ. (بنايه ج،٣، ص:٢٢٥)

که له ولي څخه بغیر بل چا د جنازې لمونځ ورکړي نو څه حکم دی؟

فَإِنْ صَلَّى غَيْرُ الْوَلِيِّ أَوِ السُّلْطَانِ بیا که له ولي او باچا څخه بغیر بل چا د جنازې لمونځ ورکړی أَعَادَ الْوَلِيُّ نو ولي دې لمونځ (دویم ځل) را وګرځوي يَعْنِي إِنْ شَاءَ يعني که یې خوښه وي (نو را دې یې ګرځوي) لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ مخکې بیان کړی أَنَّ الْحَقَّ لِلْأَوْلِيَاءِ چې حق د مړي ولیانو لره دی وَإِنْ صَلَّى الْوَلِيُّ او که ولي د جنازې لمونځ ورکړی لَمْ يَجُزْ لِأَحَدٍ أَنْ يُصَلِّيَ بَعْدَهُ نو تر هغه وروسته د هیچا لپاره د جنازې لمونځ کول جائز نه دي لِأَنَّ الْفَرْضَ يَتَأَدَّى بِالْأَوَّلِ ځکه چې فرض په اول وار اداء کیږي (ځکه چې دا فرض کفایي دی) وَالتَّنَفُّلُ بِهَا غَيْرُ مَشْرُوعٍ او د جنازې په لمانځه کې نفل مشروع نه دي وَلِهَذَا رَأَيْنَا النَّاسَ همدا وجه ده چې موږ خلک وینو تَرَكُوا عَنْ آخِرِهِمُ الصَّلَاةَ عَلَى قَبْرِ النَّبِيِّ (ص) چې هغوی (له اوله څخه) تر آخره پورې د نبي ﷺ پر قبر لمونځ پرې ایښی دی وَهُوَ الْيَوْمَ كَمَا وُضِعَ حال دا چې نن ورځ (هم) نبي ﷺ هغسې صحیح سلامت پروت دی لکه څرنګه چې (په اوله ورځ په قبر کې) ایښودل سوی وو.

تشریح: تر دې مخکې دا خبره ذکر سوه چې تر ټولو زیات د جنازې د لمانځه حقدار باچا دی. بیا په آخر کې د ولي درجه ده، اوس که له باچا او ولي څخه ماسوا بل سړي د جنازې لمونځ ورکړی، نو ولي او باچا ته د لمونځ راګرځولو حق سته، ځکه چې دوی ته له شروع څخه د مخکې کېدلو حق حاصل دی، نو په راګرځولو کې به په طریقه اولیٰ دوی ته دا حق حاصل وي، لېکن څرنګه چې د باچا حق تر ټولو مخکې دی، نو که باچا د جنازې لمونځ ورکړی، یا قاضي یا ولي ورکړی، نو تر دوی وروسته د هېڅ سړي لپاره د جنازې د لمانځه اجازه نسته، ځکه چې د جنازې لمونځ فرض کفایي دی، او په یوه وار کولو سره دا فرض اداء کیږي، او په دې کې نفل هم مشروع نه دي، نو ځکه به تر ولي او نورو وروسته د جنازې د لمانځه اجازه نه وي.

ولهذا الخ او په جنازه کې د نفلو د نه مشروع کېدلو په وجه موږ وینو چې له اول څخه تر اوسه پورې د نبي ﷺ پر قبر مبارک چا لمونځ نه دی کړی، حال دا چې نبي ﷺ نن هم په خپل مقدس قبر کې هغسې تر وتازه پروت دی، څرنګه چې پټ سوی وو، ځکه چې هغه سردار د انبیاؤ او رسولانو دی، او د انبیاؤ جسم خاورې نه خوري، نو کله چې د نبي کریم ﷺ پر قبر دویم وار د جنازې د لمانځه اجازه نسته، نو د نورو پر قبرو به دا څرنګه جائز وي، نور خو د نبي ﷺ د پښو د خاورو سره هم برابر نه دي.

د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې د ولي د جنازې تر لمانځه وروسته نورو خلکو ته هم د لمانځه حق سته، په دې باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې یوه ښځه په مدینه منوره کې مړه سوه، او خلکو پټه کړه، لېکن نبي ﷺ ته یې خبر نه ورکړی، سهار چې کله نبي ﷺ په دې خبر سو، نو ورېې فرمایل: چې تاسو زه ولې خبر نه کړم، خلکو د تیارې او خزندلو عذر وړاندې (یعني چې د شپې تیاره وه، همدارنګه د خزندلو خطره هم وه)، نو نبي ﷺ د هغې پر قبر دوباره لمونځ وکړی، له دې څخه معلومیږي چې د ولي تر لمانځه وروسته نورو خلکو ته هم د جنازې د لمانځه حق سته، لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چې نبي ﷺ هم د دې میت ولي وو، بلکې نبي ﷺ خو رئیس الاولیاء وو، لکه څرنګه چې د قرآن کریم دا اعلان دی: النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ [الاحزاب،۶]، لهذا نبي ﷺ د نږدې ولایت په وجه د هغې د جنازې لمونځ دویم وار وکړی، او نږدې ولي ته د دویم وار کولو حق سته.

که مړی د جنازې له لمانځه څخه بغير ښخ کړی سو نو څه حکم دی؟

وَإِنْ دُفِنَ الْمَيِّتُ او که مړی ښخ (ښخ) کړی سو وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ او پر هغه لمونځ نه وسو صُلِّيَ عَلَى قَبْرِهِ نو د هغه پر قبر دي د جنازې لمونځ وسي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● صَلَّى عَلَى قَبْرِ امْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ ځکه نبي ﷺ د يوې انصاري ښځي پر قبر لمونځ وکړی وَيُصَلَّى عَلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يَتَفَسَّخَ او پر مړي به د هغه تر پرسېدل (يعني خرابېدلو) مخکي لمونځ کيږي وَالْمُعْتَبَرُ فِي مَعْرِفَةِ ذٰلِكَ أَكْبَرُ الرَّأْيِ او د دې د پېژندګلوی په باره کي غالب ګومان معتبر دی هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِاخْتِلَافِ الْحَالِ وَالزَّمَانِ وَالْمَكَانِ ځکه چي د مړي حالت د وخت او ځای په اعتبار سره مختلف کيږي.

اللغات: ﴿يَتَفَسَّخَ﴾ پرسېدل، شوړېدل، مراد ځني د مړي د بدن خرابېدل او شوړېدل دي، ﴿أَكْبَرُ الرَّأْيِ﴾ غالب ګومان.

تشريح: مسئله: دا ده که مړی بغير د جنازې له لمانځه څخه ښخ سو، نو د هغه پر قبر دي د جنازې لمونځ وسي، دليل دا دي چي يوه انصاري ښځه په داسي حال کي پټه سوه چي نبي ﷺ پر هغې د جنازې لمونځ نه وو کړی، خو کله چي نبي ﷺ په دې خبر سو، نو د هغې پر قبر يې لمونځ وکړی.

صاحب د قدوري وايي چي پر قبر د لمونځ کولو اجازه هغه وخت سته چي کله مړی خراب سوی نه وي، يعني که د مړي بدن وپرسيږي، او وشوړيږي، او د بدن اجزاء يې بېل بېل سي، نو بيا د لمانځه اجازه نسته، صاحب د هدايې وايي چي د پرسېدلو او شوړېدلو د پېژندګلوی لپاره غالب ګومان معتبر دی، يعني تر څو چي غالب ګومان دا وي چي د مړي لاش لا تر اوسه نه دي شوړېدلی، نو پر هغه لمونځ کېدلای سي، او کله چي يې د شوړېدلو غالب ګومان وي، نو بيا لمونځ جائز نه دی، همدا صحيح قول دی، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي تر پټولو وروسته تر دريو ورځو پوري پر قبر لمونځ کول جائز دي، تر هغه وروسته جائز نه دي، د صحيح قول دليل دا دی چي د لاش خرابېدل د مړي د حالت په اختلاف سره مختلف کيږي، حتیٰ پنډ او تازه لاش تر وچ او ډنګر لاش ژر خرابيږي او شوړيږي، همدارنګه د مړي حالت د موسم او ځای په اختلاف سره هم بدليږي، تر دې چي د ګرمۍ په موسم کي د ژمي په نسبت ژر لاش خرابيږي، او په لنده او مالګينه ځمکه کي هم د وچي ځمکي په نسبت ژر خرابيږي، لنډه دا چي کله غالب ګومان معتبر دی، نو که غالب ګومان دا وو چي تر دريو ورځو مخکي لاش خراب سوی دی، نو پر هغه به لمونځ نه کيږي، او که غالب ګومان دا وو چي تر دريو ورځو وروسته هم نه دي خراب سوی، نو پر هغه به تر دريو ورځو وروسته هم لمونځ کول جائز وي، پاته سوه دا خبره چي نبي ﷺ اته کاله وروسته د أُحُد پر شهيدانو لمونځ وکړی، د دې څه وجه ده؟ د هغه جواب دا دی چي نبي ﷺ د أُحُد د شهيدانو لپاره دعاء وکړه، چي له هغه څخه تعبير په صلّٰی سره سوی دی.

د جنازې د لمانځه سنت طريقه

وَالصَّلَاةُ او د لمانځه طريقه دا ده أَنْ يُكَبِّرَ تَكْبِيرَةً [١] چي لمونځ ګزاره دي يو تکبير ووايي يَحْمَدُ اللهَ عَقِيبَهَا تر هغه وروسته دي د الله حمد ووايي (يعني ثناء دي ووايي) ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً [٢] بيا دي بل تکبير ووايي يُصَلِّي فِيهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب السنن الكبرىٰ، باب الصلاة على القبر بعد ما يدفن الميت، حديث رقم: ٧٠١٨.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په هغه کي دي پر نبي ﷺ درود شريف ووايي ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكْبِيْرَةً [۳] بيا دي بل تکبير ووايي يَدْعُوْفِيْهَا لِنَفْسِهِ وَلِلْمَيِّتِ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ او په هغه کي دي د خپل ځان، او د مړي، او د (ټولو) مسلمانانو لپاره دعاء وکړي ثُمَّ يُكَبِّرُ الرَّابِعَةَ [۴] بيا دي څلورم تکبير ووايي وَيُسَلِّمُ او سلام دي وګرځوي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَبَّرَ أَرْبَعًا فِيْ آخِرِ صَلَاةٍ صَلَّاهَا ځکه نبي ﷺ چي کوم آخري لمونځ کړی وو په هغه کي يې څلور تکبيرونه ويلي وو فَنَسَخَتْ مَا قَبْلَهَا لهذا (په دې سره) مخکني تکبيرونه منسوخ سول وَلَوْ كَبَّرَ الْإِمَامُ خَمْسًا لَمْ يُتَابِعْهُ الْمُؤْتَمُّ او که امام پنځه تکبيرونه وويل نو مقتدی دي (تر څلورو په زياتو کي) د امام تابعداري نه کوي خِلَافًا لِزُفَرَ د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّهُ مَنْسُوْخٌ لِمَا رَوَيْنَا ځکه چي پنځه تکبيرونه منسوخ دي د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَيَنْتَظِرُ تَسْلِيْمَةَ الْإِمَامِ فِيْ رِوَايَةٍ او په يوه روايت کي (راغلي) دي چي د امام د سلام انتظار دي کوي وَهُوَ الْمُخْتَارُ مختاره روايت همدغه دی وَالْإِتْيَانُ بِالدَّعَوَاتِ اسْتِغْفَارٌ لِلْمَيِّتِ او دعاګاني کول (په حقيقت کي) د مړي لپاره استغفار کول دي وَالْبِدَايَةُ بِالثَّنَاءِ ثُمَّ بِالصَّلَاةِ سُنَّةُ الدُّعَاءِ او په ثناء سره شروع کول بيا درود شريف ويل د دعاء سنت دي وَلَا يَسْتَغْفِرُ لِلصَّبِيِّ او د کوچني لپاره به استغفار نه غواړي وَلٰكِنْ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا لېکن داسي به وايي: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا (اې الله دا کوچنی زموږ لپاره په آخرت کي مخکني سفارشي (سپاربنتي) جوړ کړې وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا او دی زموږ لپاره ثواب او د نېکۍ ذخيره جوړه کړې وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا او دی زموږ لپاره داسي سپاربنتي جوړ کړې چي سپاربنت يې قبول کړی سي.

اللغات: ﴿عقيب﴾ وروسته، ﴿فرط﴾ هغه سامان چي انسان يې تر سفر مخکي واستوي (مراد ځني په آخرت کي سپاربنتي دی)، ﴿ذخر﴾ ذخيره، ﴿مشفع﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: داسي سپاربنتي چي د هغه سپاربنت قبلېږي.

تشريح: په دې عبارت کي د جنازې د لمانځه طريقه بيانېږي، فرمايي چي د جنازې لمونځ څلورو تکبيرونو ته ويل کېږي، تفصيل يې دا دی: ① چي تر نيت وروسته دي تکبير د افتتاح ووايي، او دواړه لاسونه دي تر غوږو پوري پورته کړي، تر دې وروسته دي د الله ﷻ ثناء ووايي يعني الحمد لله او د الحمد لله په ډول نوري کلمې ووايي، بعضو ويلي دي چي: سبحانك اللهم وبحمدك ...الخ دي ووايي، لکه څرنګه چي په نورو لمونځونو کي هم د ثناء لپاره دغه ويل کېږي. زموږ په نيز تر اول تکبير وروسته سورت فاتحه ويل مشروع نه دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي سورت فاتحه دي ووايي.

د امام شافعي دليل: قياس دی، د جنازې لمونځ پر نورو لمونځونو قياسوي، يعني څرنګه چي په نورو لمونځونو کي د قرآن قرائت ضروري دی، همداسي به د جنازې په لمانځه کي هم د قرآن قرائت ضروري وي.

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الجنائز، باب التسليم في الجنائز واحد والتكبير اربع، حديث رقم:۱۷۹۹.

زموږ دليل: دا دی چي له حضرت نافع رحمه الله څخه روايت دی: أن ابن عمر رضي الله عنهما كان لا يقرأ في الصلوة على الجنازة. (نافع رحمه الله فرمايي: چي عبد الله بن عمر به د جنازې په لمانځه کي قرائت نه کوی). عقلي دليل: دا دی چي د جنازې لمونځ صرف ديوه رکن (يعني د ولاړي) نوم دی، او په يوازي رکن کي د قرآن قرائت مشروع نه وي، لکه څرنګه چي په سجده تلاوت کي ديوازي رکن کېدلو په وجه قرائت مشروع نه دی.

② بيا دي د دويم تکبير تر ويلو وروسته پر نبي ﷺ درود ووايي، دليل: څکه د الله تعالیٰ تر ثناء وروسته دويمه درجه د نبي ﷺ د درود ده، لکه څرنګه چي په تشهد کي هم دغه ترتيب دی، او هم پر دې ترتيب خطبې وضع سوي دي. ③ بيا دي دريم تکبير ووايي او تر هغه وروسته دي د خپل ځان لپاره، او د مړي لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره دعاء وکړي، او که دا دعاء يې ياده وي، نو دا دعاء دي ووايي: اللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا وكبيرنا وذكرنا وأنثانا اللهم من أحييته منا فأحيه على الاسلام ومن توفيته منا فتوفه على الايمان الخ. او که دا دعاء يې ياده نه وي، نو کومه دعاء چي يې په ياد وي هغه دي ووايي، دليل: د الله ﷻ تر حمد او ثناء او د نبي ﷺ تر درود وروسته دعاء څکه مقرره سوې ده، چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: إذا أراد أحدكم أن يدعو فليحمد الله وليصل على النبي ثم يدعو (يعني کله چي په تاسو کي څوک دعاء کول وغواړي، نو د الله ﷻ حمد دي ووايي، او پر نبي کريم ﷺ دي درود ووايي، وروسته دي دعاء وکړي). ④ بيا دي څلورم تکبير ووايي، او د هغه تر ويلو وروسته دي سلام وګرځوي، دليل: تر څلورم تکبير وروسته به څکه سلام ګرځوي، چي نبي کريم ﷺ خپل دآخري جنازې په لمانځه کي څلور تکبيرونه ويلي وو، تر دې مخکي عمل يې که څه هم له دې څخه مخالف وو، خو هغه په دې آخري عمل سره منسوخ سو، صاحب د عنايې ليکلي دي چي تر څلورم تکبير وروسته او تر سلام مخکي د ظاهر روايت مطابق هيڅ دعاء نسته، او بعضو مشائخو ويلي دي چي تر سلام مخکي دي دا دعاء وايي: رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا بِرَحْمَتِكَ عَذَابَ الْقَبْرِ وَ عَذَابَ النَّارِ، او بعضو ويلي دي چي دا دي وايي: رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ.

ولو كبّر الإمام خمسا الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي که امام پنځم تکبير ووايي، نو مقتدی به په دې پنځم تکبير کي د امام تابعداري نه کوي څکه تر څلورو زيات تکبيرونه د تېر روايت په وجه منسوخ سوي دي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: که امام پنځم تکبير ووايي، نو مقتدی به د هغه تابعداري کوي، د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دا مسئله اختلافي ده، څکه دا هم را نقل سوي دي چي حضرت علي رضي الله عنه د جنازې په لمانځه پنځم تکبير ووايي نو مقتديانو د حضرت علي رضي الله عنه تابعداري وکړه، زموږ له طرفه جواب دا دی چي صحابه وو په دې باره کي مشوره وکړه او د نبي کريم ﷺ دآخري لمانځه وطرف ته يې رجوع وکړه، نو د حضرت علي رضي الله عنه پنځم تکبير ويل هم منسوخ سو، او د منسوخ تابعداري کول صحيح نه دي. پاته سوه دا خبره چي مقتدی به په پنځم تکبير کي د امام تابعداري نه کوي نو څه به کوي؟، په دې کي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دوه روايتونه دي: يو دا چي مقتدی دي دستي سلام وګرځوي، چي په پنځم تکبير کي د امام مخالفت ثابت سي، او دويم روايت دا دی چي مقتدی دي د امام د سلام انتظار وکړي، چي په سلام کي يې تابعداري وسي، صاحب د هدايې فرمايي چي مختار او خوښ روايت هم دغه دی، وقال في الواقعات وعليه الفتوىٰ. (بنايه)

والاتيان بالدعوات الخ فرمايي چي د جنازې په لمانځه کي د مړي لپاره استغفار کول، او تر دعاء مخکي د الله حمد او ثناء بيانول سنت دي، لکه څرنګه چي حديث هم مخکي ذکر سو يعني: إذا أراد أحدكم أن يدعو...الخ، او په بل حديث

کي ذکر سوي دي: إذا صلی أحکم فلیبدأ بتحمید الله والثناء علیه ثم یصلی علی النبي ﷺ ثم یدعو بعده بما شاء. (یعني تر دعاء مخکي حمد و ثناء او درود ويل سنت دي)، او څرنګه چي د جنازې په لمانځه کي دعاء د مړي لپاره استغفار یعني د بخښني طلب کول دي، نو په دې وجه صاحب د هدایې فرمایي چي د کوچني لپاره به استغفار نه ويل کیږي، ځکه له کوچني څخه قلم پورته سوی دی، او هغه د ګناه نه کولو په وجه له استغفار څخه بې نیازه دی، نو د کوچني لپاره به دا دعاء: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا...الخ ويل د ېر غوره وي.

د مسبوق لپاره د جنازې د لمانځه طریقه

وَلَوْ كَبَّرَ الْإِمَامُ تَكْبِيرَةً أَوْ تَكْبِيرَتَيْنِ او که امام یو یا دوه تکبیره ويلي وي لَا يُكَبِّرُ الْآتِي حَتَّى يُكَبِّرَ أُخْرَى بَعْدَ حُضُورِهِ نو راتلونکی سړی به تکبیر نه وایي تر دې چي د هغه تر حاضرېدلو (شریک کېدلو) وروسته امام بل تکبیر ووایي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ دا حکم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ*: يُكَبِّرُ حِينَ يَحْضُرُ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: کله چي دا سړی په لمانځه کي شریک سي په هغه ګړي دي تکبیر وایي لِأَنَّ الْأُولَى لِلِافْتِتَاحِ ځکه چي دا اول تکبیر د لمانځه د شروع کولو لپاره دی وَالْمَسْبُوقُ يَأْتِي بِهِ او مسبوق اول تکبیر وایي وَلَهُمَا أَنَّ كُلَّ تَكْبِيرَةٍ قَائِمَةٌ مَقَامَ رَكْعَةٍ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي هر تکبیر د یوه رکعت پر ځای ولاړ دی وَالْمَسْبُوقُ لَا يَبْتَدِئُ بِمَا فَاتَهُ او مسبوق هغه رکعت نه شروع کوي چي له هغه څخه تېر سوی وي إِذْ هُوَ مَنْسُوخٌ ځکه چي داسي کول منسوخ سوي دي وَلَوْ كَانَ حَاضِرًا فَلَمْ يُكَبِّرْ مَعَ الْإِمَامِ او که یو سړی په لمانځه کي شریک وي لېکن هغه د امام سره تکبیر ويلی نه وي لَا يَنْتَظِرُ الثَّانِيَةَ بِالِاتِّفَاقِ نو دا سړی به بالاتفاق د دویم تکبیر انتظار نه کوي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمُدْرِكِ ځکه چي دا سړی د مدرک په درجه کي دی.

اللغات: ﴿الحضور﴾ حاضري، موجود والی، راتلل، ﴿المسبوق﴾ هغه سړی چي د لمانځه یو څه حصه ځني تېره سوې وي، ﴿المدرك﴾ هغه سړی چي ټوله لمونځ یې نیولی وي.

تشریح: په عبارت کي د بیان سوې مسئلې حاصل دا دی چي که یو سړی له شروع څخه د جنازې په لمانځه کي شریک نه وو، بلکي په یو داسي وخت کي شریک سو چي کله امام یو یا دوه تکبیرونه ويلي وو، نو اوس د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دې سړي لپاره حکم دا دی چي په لمانځه کي تر شریک کېدلو وروسته دي د قضاء سوو تکبیرونو قضاء نه راوړي، بلکي د امام د تکبیر انتظار دي وکړي، او چي کله امام تکبیر ووایي، نو دا سړی دي هم تکبیر ووایي، او کله چي امام سلام وګرځوي، نو د خپل قضاء سوو تکبیرونو قضاء دي راوړي، د دې په خلاف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي څه وخت دا سړی چي په لمانځه کي شریک سي نو سملستي دي قضاء سوي تکبیرونه راوګرځوي، او تر هغه وروسته دي د امام تابعداري وکړي.

---

* القول الراجح: قول أبي یوسف رَحِمَهُ الله. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۵۷]

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي دا سړی د مسبوق په ډول دی، او مسبوق چي کله هم په لمانځه کي شریک سي، نو تکبیرِ تحریمه وایي، نو دا سړی به هم په لمانځه کي د شریک کېدلو او داخلېدلو لپاره تکبیرِ افتتاح او نور تکبیرونه وایي.

د طرفینو دلیل: دا دی چي دا خبره صحیح ده چي دا سړی مسبوق دی، او په دې وجه د ده لپاره د تکبیرِ تحریمه په ډول قضاء سوي تکبیرونه(هم) ویل پکار دي، خو خبره دا ده چي د جنازې د لمانځه د مسبوق او د نورو مطلق لمونځونو د مسبوق په مینځ کي فرق سته، ځکه د مطلق لمونځونو تکبیرونه د رکعتونو په درجه کي نه دي، لېکن د جنازې د لمانځه هر تکبیر د یوه رکعت پر ځای ولاړ دی، او دومره خو تاسو ته هم معلومه ده چي مسبوق د امام تر سلام وروسته تېر سوي لمونځ(قضاء سوی لمونځ) راګرځوي، نو ځکه به دا سړی هم په پورتنۍ مسئلې کي د امام تر سلام وروسته قضاء سوي تکبیرونه راګرځوي، او هغه به د مطلق لمانځه پر مسبوق قیاسول صحیح نه وي، ځکه چي د مسبوق لپاره تر سلام مخکي د تېر سوي لمانځه د قضاء راوړلو حکم منسوخ سوی دی، یعني د اسلام په شروع کي خو همدا حکم وو، چي مسبوق به د امام تر سلام مخکي د خپل تېر سوي لمانځه قضاء راوړل، لېکن بیا دا حکم منسوخ سو، او له منسوخ سوي حکم څخه علت او دلیل جوړول صحیح نه دي.

<u>ولوكان حاضرا الخ</u> فرمایي که یو سړی د امام سره د جنازې په لمانځه کي شریک وو، لېکن د امام سره یې تکبیر نه ووایی، مثلاً اول تکبیر ځني تېر سو، نو هغه به اوس د امام د دویم تکبیر انتظار نه کوي، او د حنفي ائمه وو په اتفاق سره به د تېر سوي تکبیر قضاء راوړي، ځکه چي هغه د دې تکبیر په باره کي ملرک دی، او د مدرکوالي په وجه پر هغه د دې تکبیر اداء کول ضروري دي.

<u>راجح قول:</u> په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دی، یعني که له یو سړي څخه د جنازې په لمانځه کي یو یا دوه تکبیرونه تېر سول، نو په لمانځه کي دي د شریک کېدلو په وخت کي هغه تکبیرونه را وګرځوي،

وقال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رَحِمَهُ الله وظاهر الكافي ترجيح قول ابي يوسف رَحِمَهُ الله. قال في الدرر: وعليه الفتوى (مجمع الانهر ج:١، ص:١٨٢). [القول الراجح، ج:١، ص:١٥٧]

د جنازې په لمانځه کي به امام چیري درېږي؟

<u>وَيَقُوْمُ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَى الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ بِحِذَاءِ الصَّدْرِ</u> او کوم څوک چي پر سړي او ښځي د جنازې لمونځ کوي هغه به (د سړي یا ښځي) د سینې پر برابر درېږي <u>لِأَنَّهُ مَوْضِعُ الْقَلْبِ</u>● ځکه چي سینه د زړه ځای دی <u>وَفِيْهِ نُوْرُ الْإِيْمَانِ</u> او په زړه کي د ایمان نور وي <u>فَيَكُوْنُ الْقِيَامُ عِنْدَهُ إِشَارَةً إِلَى الشَّفَاعَةِ لِإِيْمَانِهِ</u> نو د سینې پر برابر درېدل به د دې خبري و طرف ته اشاره وي چي د هغه شفاعت به د خپل د ایمان په وجه سره وسي <u>وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَنَّهُ يَقُوْمُ مِنَ الرَّجُلِ بِحِذَاءِ رَأْسِهِ</u> او له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي امام به د سړي د سر پر برابر درېږي <u>وَمِنَ الْمَرْأَةِ بِحِذَاءِ وَسَطِهَا</u> او د ښځي د مینځ پر برابر به درېږي <u>لِأَنَّ أَنَسًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَعَلَ كَذٰلِكَ</u> ځکه حضرت انس ﷺ همداسي کړي وه <u>وَقَالَ: هُوَ السُّنَّةُ</u> او فرمایلي یې وو: چي دا سنت دي <u>قُلْنَا تَأْوِيْلُهُ أَنَّ جِنَازَتَهَا لَمْ تَكُنْ مَنْعُوْشَةً</u> موږ جواب ورکوو چي د هغې

● القول الراجح: هو ظاهر الرواية، أي يقوم بحذاء الصدر، كذا في البحر الرائق ج:٢، ص:١٨٦. [القول الراجح ج:١، ص:١٥٨]

بنځي جنازه نعش دلره نه وه(يعني د هغې بنځې لاش په کټ يا تابوت کې نه وو ايښول سوی) فَحَالَ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُمْ نو حضرت انس ﷺ د خلکو او بنځي په مينځ کي پرده(حائل) جوړ سو.

اللغات: ﴿حِذَاء﴾ پر برابر، ﴿صَدْر﴾ سينه، ﴿وَسَط﴾ مينځ، ﴿مَنْعُوشَة﴾ د مړي هغه لاش(لاش) چي د جنازې په کټ(چپرکټ) يا تابوت کي ايښوول سوی وي.

تشريح: مسئله: دا ده چي جنازه که د سړي وي او که د بنځي، د امام لپاره حکم دا دی چي هغه د دې سړي او بنځي د سينې پر برابر ودرېږي او لمونځ دي ورکړي، ځکه چي سينه د زړه ځای دی، او په زړه کي د ايمان نور وي، نو کله چي امام د زړه پر برابر ودرېږي، او لمونځ ورکړي، نو دا به د دې و طرف ته اشاره وي چي د ايمان په وجه سره به الله تعالیٰ د دې مړي بخښنه وکړي، نو ځکه به د امام لپاره د سينې پر مخامخ او برابر درېدل غوره وي، او پر دې باندي د اُمت عمل هم دی.

وعن أبي حنيفة الخ لېکن په دې لړ کي امام اعظم رَحِمَهُ الله د سړي او بنځي په لمانځه کي فرق کړی دی، فرمايي چي که جنازه د سړي وه، نو امام دي د هغه د سر پر برابر ودرېږي، او که د بنځي جنازه وه، نو د جنازې د مينځ پر برابر ودرېږي، ځکه چي حضرت انس ﷺ د انصارو د يوې بنځي د جنازې د مينځ پر برابر درېدلی وو، او کله چي خلکو له هغه شخخه په دې بابله کي پوښتنه وکړه، نو حضرت انس ﷺ وفرمايل: چي دا د رسول الله ﷺ سنت دی، له دې شخخه معلومه سوه چي د بنځي په جنازه کي به امام د جنازې د مينځ پر برابر درېږي، نه د سينې پر برابر.

قلنا الخ صاحب د هدايې جواب ورکوي فرمايي چي د حضرت انس ﷺ دا عمل د يو عارض په وجه سره وو او هغه عارض دا وو چي د دې بنځي لاش(جسم) منعّش يعني په تابوت کي نه وو، بلکي هسي پر تخته يا کټ ښکاره پروت وو، نو ځکه حضرت انس ﷺ د بنځي او خلکو تر مينځ د پردې او ستر لپاره د جنازې د مينځ پر برابر درېدلی وو، والله أعلم وعلمه أتم.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول ظاهر روايت دی، يعني امام به د جنازې په لمانځه کي د سړي او بنځي دواړو د سينې پر برابر درېږي، وقال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: ويقوم الامام ندباً بحذاء الصدر مطلقاً للرجل والمرأة، لأنه محل الإيمان والشفاعة لإجله (الدر المختار ج۱، ص۶۲۶). [القول الراجح، ج۱، ص۱۵۸]

پر سپرلي د جنازې د لمانځه حکم

فَإِنْ صَلُّوا عَلَى جِنَازَةٍ رُكْبَانًا بيا که خلک د سپرتيا په حالت کي پر يوې جنازې لمونځ وکړي أَجْزَأَهُمْ فِي الْقِيَاسِ نو د قياس مطابق د هغو لمونځ جائز دی لِأَنَّهَا دُعَاءٌ ځکه چي د جنازې لمونځ دعاء ده وَفِي الِاسْتِحْسَانِ: لَا تُجْزِئُهُمْ لېکن د استحسان مطابق د هغو لمونځ جائز نه دی لِأَنَّهَا صَلَاةٌ مِنْ وَجْهٍ ځکه چي دا په يوه اعتبار سره لمونځ دی لِوُجُودِ التَّحْرِيمَةِ د تحريمې د شتون په وجه (يعني ځکه چي د جنازې په لمانځه کي تکبير تحريمه سته نو په دې اعتبار سره لمونځ دی) فَلَا يَجُوزُ تَرْكُهُ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ احْتِيَاطًا نو احتياطاً به بې له عذره قيامه(ولاړه) پرېښوول جائز نه وي.

اللغات: ﴿رُكْبان﴾ جمع ده، واحد يې رَاكِبٌ دی: سپور، دلته حال واقع سوی دی، يعني د سپرتيا په حالت کي،
﴿لاتُجزئ﴾ دافعال له باب څخه د نفي صيغه ده: کافي کېدل، جائز کېدل، اداء کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که خلکو مثلاً پر آسانو يا داسي نورو باندي د سپرتيا په وخت کي د يو سړي د جنازې لمونځ وکړی، نو د قياس تقاضا دا ده چي دا لمونځ صحيح دی، او د دې خلکو له غاړي څخه د لمانځه فريضه ساقطه سوه، ځکه د جنازې لمونځ په حقيقت کي دعاء ده، نو څرنګه چي نوري دعاګاني پر سپرلي جائز دي، همدا ډول به د جنازې لمونځ هم پر سپرلي جائز وي، لېکن د استحسان تقاضا دا ده چي بې له عذره پر سپرلي د جنازې لمونځ جائز نه دی، ځکه چي د جنازې په لمانځه کي تکبيرِ تحريمه(تکبيرِ افتتاح) هم سته، نو په دې حواله سره د جنازې لمونځ په يوه اعتبار د لمانځه سره مشابه سو، نو څرنګه چي نور فرضي لمونځ بې له عذره پر سپرلي جائز نه دي، همدارنګه به د جنازې لمونځ هم بې له عذره پر سپرلي جائز نه وي.

د جنازې په لمانځه کي د ولي د اجازې حکم

وَلَا بَأسَ بِالْإِذْنِ فِي صَلَاةِ الْجِنَازَةِ او د جنازې په لمانځه کي اجازه ورکول هيڅ پروا نه لري لِأَنَّ التَّقَدُّمَ حَقُّ الْوَلِيِّ ځکه چي مخته کېدل د ولي حق دی فَيَمْلِكُ إِبْطَالَهُ بِتَقْدِيمِ غَيْرِهِ نو د بل چا په مخکي کولو سره ولي د خپل حق د باطلولو ملکيت لري(يعني داسي کولای سي) وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: لَا بَأْسَ بِالْآذَانِ: أَيِ الْإِعْلَامِ او په بعضو نسخو کي لا بأس بالأذان راغلي دي يعني (د جنازې د لمانځه لپاره) اعلان کول هيڅ پروا نه لري وَهُوَ أَنْ يُعْلِمَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا او اعلان کول دا دي چي بعضي خلک نورو خلکو ته (د جنازې د لمانځه) خبر ورکړي لِيَقْضُوا حَقَّهُ د دې لپاره چي هغوی د مړي حق اداء کړي.

اللغات: ﴿إذن﴾ د ضرب د باب مصدر دی: نورو ته اجازه ورکول، ﴿إعلام﴾ د افعال د باب مصدر دی: خبر ورکول،
﴿ليقضوا﴾ د نصر د باب مضارع ده: پوره کول، په اصل کي يَقْضُوْنَ وو، د لام جاره په وجه نون اعرابي ځني ساقط سو، ځکه که لام جاره پر فعل داخل سي، نو وروسته به أن ناصبه به حتماً مقدر وي، په آخر کي لِيَقْضُوا سو.

تشريح: په متن کي د عبارت په هکله دوې نسخې ذکر سوي دي: ① يوه نسخه خو لا بأس بالإذن في صلوة الجنازة ده،
② دويمه نسخه لا بأس بالأذان ده. [۱] د اولي نسخې پر بنياد د عبارت دوه مطلبه کيږي: يو دا که ولي بل چا ته د جنازې د لمانځه اجازه ورکړي، نو هيڅ پروا نه لري (يعني صحيح دي)، ځکه امامت د ولي حق دی، نو که ولي بل چا ته په حق ورکولو سره خپل حق ختموي، نو ختمولای يې سي، دويم مطلب دا دی چي که ولي د جنازې د لمانځه تر فراغت وروسته خلکو ته د تللو اجازه ورکړي، نو هيڅ حرج نسته(يعني بيا خلک خپلو کورو ته تللی سي)، ځکه د مړي تر ښخولو مخکي د ولي له اجازې څخه بغير د خلکو لپاره خپلو کورو ته تلل صحيح نه دي.
[۲] د دويمي نسخې پر بنياد د عبارت حاصل دا دی چي د جنازې د لمانځه لپاره د اطلاع ورکولو او د خلکو په خبرولو کي هيڅ حرج نسته، قال: إذا مات أحدكم فآذنوني بالصلوة. (رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چي په تاسو کي څوک مړ سي نو ماته د لمانځه خبر راکوئ)، بعضي متأخرينو د هغه سړي د جنازې د لمانځه لپاره په بازارو کي اعلان کول غوره ګڼلي دي چي خلک د هغه د جنازې د لمانځه شوق لري لکه بزرګان او علماء.

په مسجد کې د جنازې د لمانځه حکم

وَلَا يُصَلِّىْ عَلٰى مَيِّتٍ فِىْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ او پر يوه مړي به (هم) په جماعت والا مسجد کې د جنازې لمونځ نه کوي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ صَلّٰى عَلٰى جِنَازَةٍ فِى الْمَسْجِدِ چا چې په مسجد کې د جنازې لمونځ وکړی فَلَا أَجْرَلَهٗ نو هغه لره ثواب نسته وَلِأَنَّهٗ بُنِىَ لِأَدَاءِ الْمَكْتُوْبَاتِ او په دې وجه (هم) چې مسجد د فرضي لمونځونو داداء کولو لپاره جوړ سوی دی وَلِأَنَّهٗ يُحْتَمَلُ تَلْوِيْثُ الْمَسْجِدِ او په دې وجه (هم) چې په دې کې د مسجد د ککړ کېدلو (چټلتيا) احتمال سته وَفِيْمَا إِذَا كَانَ الْمَيِّتُ خَارِجَ الْمَسْجِدِ اِخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ رَحِمَهُمُ اللهُ او په هغه صورت کې چې کله مړی له مسجد څخه دباندې وي مشائخو اختلاف کړی دی.

اللغات: ﴿مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ﴾ هغه مسجد چې په هغه کې په جماعت سره لمونځونه اداء کېږي. ﴿مَكْتُوْبَاتٍ﴾ فرضي لمونځونه.

تشريح: صاحب د عنايې د دې عبارت په حل کې فرمايي چې که فقط جنازه په مسجد کې وه، او څه خلک له مسجد څخه دباندې ول، او نور خلک په مسجد کې ول، نو بالاتفاق د جنازې لمونځ مکروه دی، او که فقط جنازه له مسجد څخه دباندې وه، او امام او نور ټوله خلک په مسجد کې ول، نو مشائخو اختلاف کړی دی، بعضي مشائخ د کراهت خبره کوي، او بعضي د نه کراهت، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په هيڅ حال کې لمونځ مکروه نه دی، يعني که فقط جنازه په مسجد کې وه، نو بيا هم لمونځ مکروه نه دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې کله سعد بن ابی وقاص مړ سو، نو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حکم وکړی چې د هغه جنازه دې مسجد ته داخله کړی سي، تر دې چې د نبي ﷺ ټولو بيبيانو پر هغه د جنازې لمونځ وکړی، بيا حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حاضرينو خلکو ته وويل: آيا خلکو ته زموږ پر دې عمل اعتراض دی؟، (يعني آيا خلک زموږ پر دې فعل عيب لګوي؟) هغوی وويل: هو!، نو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وويل: چې له خلکو څخه څومره ژر هېره سوه چې رسول الله ﷺ د سهيل بن البيضاء د جنازې لمونځ په مسجد کې کړی وو. له دې واقعې څخه معلومېږي چې په مسجد کې دننه هم د جنازې لمونځ بې له کراهته جائز دی، کنې رسول الله ﷺ او حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به ولې په مسجد کې د جنازې لمونځ کولای.

زموږ دليل: د ابو هريره رضي الله عنه حديث دی: أن رسول الله ﷺ قال من صلّى على جنازة في المسجد فلا أجرله. (يعني نبي ﷺ وفرمايل: څوک چې په مسجد کې د جنازې لمونځ وکړي، د هغه لپاره هيڅ ثواب نسته)، دويم دليل دا دی چې مسجد د فرضي لمونځونو لپاره جوړ سوی دی، نو له پنځو فرضي لمونځونو څخه ماسوا دې نور لمونځونه په مسجد کې نه اداء کېږي، دريم دليل دا دی چې که جنازه په مسجد کې وه، نو په دې صورت کې د خلکو د ډېرښ په وجه د مسجد د ککړ کېدلو او د مسجد د احترام د پايماله کېدلو احتمال سته، نو په دې وجه به هم بې له عذره په مسجد کې مړی ايښوول مکروه وي.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجنائز، باب الصلوٰة على الجنازة في المسجد، حديث رقم: ۳۱۹۱.

د امام شافعي د دليل جواب: دا دی چي د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په زمانه کي بعضي صحابه وو د هغې پر دې عمل عيب ولګوی، نو له دې څخه معلوميږي چي په هغه وخت کي په مسجد کي د جنازې د لمانځه کراهت مشهوره وو، او پاته سو د حضرت سهيل د جنازې لمونځ چي هغه نبي ﷺ په مسجد کي وکړی، نو د هغه وجه دا وه چي په هغه وخت کي نبي ﷺ معتکف وو، د نبي ﷺ له مسجد څخه وتل نامکنه وو، نو نبي ﷺ د جنازې راوړلو حکم وکړی، نو جنازه له مسجد څخه دباندي کښېښول سوه، او نبي ﷺ په مسجد کي لمونځ وکړی، او زموږ په نېز که جنازه له مسجد څخه دباندي وه او خلک په مسجد کي دننه وه، نو په دې صورت کي هيڅ کراهت نسته.لهذا اول عذر خو دا وو چي نبي ﷺ په اعتکاف کي وو، دويم دا چي جنازه له مسجد څخه دباندي وه، نو ځکه به دا حديث په دليل کي وړاندي کول مناسب نه وي.

د نوي زېږېدونکي کوچني بيلابيل حالتونه او د هغه د جنازې د لمانځه حکم

وَمَنِ اسْتَهَلَّ بَعْدَ الْوِلَادَةِ او کوم کوچنی چي تر زېږېدني وروسته په آواز سره وژاړي (يعني دژړا آواز يې تر خوله راووځي) سُمِّيَ وَغُسِّلَ نو پر هغه دي نوم کښېښول سي او غسل دي ورکول سي وَصُلِّيَ عَلَيْهِ او د جنازې لمونځ دي پر وکړی سي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا اسْتَهَلَّ الْمَوْلُودُ صُلِّيَ عَلَيْهِ "کله چي زېږېدونکی کوچنی په آواز سره وژاړي نو پر هغه دي د جنازې لمونځ وکړی سي وَإِنْ لَمْ يَسْتَهِلَّ لَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ او که په آواز سره نه وژاړي نو پر هغه به د جنازې لمونځ نه کيږي وَلِأَنَّ الِاسْتِهْلَالَ دَلَالَةُ الْحَيَاةِ او په دې وجه (هم) چي ژړل د ژوند نښه ده فَتَتَحَقَّقُ فِي حَقِّهِ سُنَّةُ الْمَوْتَى نو ځکه به د کوچني په حق کي د مړو طريقه ثابتيږي وَمَنْ لَمْ يَسْتَهِلَّ أُدْرِجَ فِي خِرْقَةٍ او کوم کوچني چي په آواز سره نه وژاړي هغه دي په يوه کپړه کي وپېچل سي كَرَامَةً لِبَنِي آدَمَ د انسان د عزت په وجه وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ او پر هغه به د جنازې لمونځ نه کيږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَيُغَسَّلُ فِي غَيْرِ الظَّاهِرِ مِنَ الرِّوَايَةِ او د غير ظاهر الروية مطابق به غسل ورکول کيږي لِأَنَّهُ نَفْسٌ مِنْ وَجْهٍ ځکه چي په يوه اعتبار سره هغه (هم) يو نفس (او يو انسان) دی وَهُوَ الْمُخْتَارُ او غوره روايت همدغه دی.

اللغات: ﴿اِسْتَهَلَّ﴾ د استفعال د باب ماضي ده: آواز را ايستل، چغه وهل. ﴿سُمِّيَ﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: نوم ايښوول. ﴿أُدْرِجَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: داخلول، اچول (پېچل). ﴿نَفْس﴾ ساکښ (ذی روح).

تشريح: له استهلال الصبی څخه مراد د زېږېدلو په وخت کي د کوچني آواز کول دي، لېکن دلته مراد ځني دا دي چي له کوچني څخه يو داسي شی صادر سي چي هغه د کوچني په ژوند باندي دلالت وکړي، د مثال په توګه کوچنی يو اندام وښوروي، يا يې دژړا آواز واورېدل سي او داسي نور.

حاصل دا که يو کوچني پيدا سو او د ژوند يو دليل يې ښکاره سو مثلاً آواز يې وکړی، بيا مړ سو، نو د دې کوچني نوم به هم ايښوول کيږي، او غسل به هم ورکول کيږي، او د جنازې لمونځ به هم پر کيږي، دليل د نبي ﷺ دا قول دی: إذا استهل المولود صلی عليه وإن لم يستهل لم يصل عليه. او عقلي دليل دا دی چي استهلال يعني د کوچني آواز را يستل د ژوندي

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الجنائز، باب ترک الصلوة على الطفل حتى يستهل، حديث رقم:۱۰۳۲.

والي نښه ده، نو ځکه به د هغه په حق کي د مړو طريقه ثابتيږي، او کوم کوچنی چي د پيدايښت په وخت کي د ژړا آواز نه وکړي، او د ژوند يوه بله نښه يې هم پيدا نه سي، نو هغه دي په يوه کپړه کي ورپېچل سي، او په يو غار کي دي پټ کړی سي، دا عمل فقط دانسانيت د عزت او اکرام په وجه دی، او لمونځ به نه پر کيږي، دليل مخکښي روايت دی، لېکن د غير ظاهر الروايه مطابق به غسل ورکول کيږي، دليل دا دی چي دا خو هم په يوه اعتبار سره د بدن يو جزء دی او په يوه اعتبار سره نفس (انسان) دی، نو د دارو اعتبار به کيږي، يعني په دې اعتبار سره چي د بدن يو جزء دی، لمونځ به نه پر کيږي، او په دې اعتبار سره چي نفس دی، غسل به ورکول کيږي، همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه رانقل سوي دي، او همدغه غوره روايت دی.

که له دارُ الکفر (دارُ الحرب) څخه په قيد راوستل سوی کوچنی مړ سي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا سُبِيَ صَبِيٌّ مَعَ أَحَدِ أَبَوَيْهِ او کله چي يو کوچنی د خپل پلار يا مور سره قيدي سي (يعني بندي سي) وَمَاتَ او بيا مړ سي لَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ نو پر هغه دي د جنازې لمونځ نه کيږي لِأَنَّهُ تَبَعٌ لَهُمَا ځکه چي هغه د خپل مور او پلار تابع دی إِلَّا أَنْ يُقِرَّ بِالْإِسْلَامِ لېکن دا چي کوچنی (پخپله) د اسلام اقرار وکړي وَهُوَ يَعْقِلُ په داسي حال کي چي پوهيږي (هم) لِأَنَّهُ صَحَّ إِسْلَامُهُ اسْتِحْسَانًا ځکه چي استحساناً د هغه اسلام صحيح دی أَوْ يُسْلِمَ أَحَدُ أَبَوَيْهِ يا دا چي د کوچني له مور او پلار څخه يو اسلام راوړي لِأَنَّهُ يَتْبَعُ خَيْرَ الْأَبَوَيْنِ دِينًا ځکه چي کوچنی په مور او پلار کي د هغه چا تابع کيږي چي هغه (د دين په اعتبار سره) غوره وي وَإِنْ لَمْ يُسْبَ مَعَهُ أَحَدُ أَبَوَيْهِ او که د هغه سره مور يا پلار قيدي نه سي صُلِّيَ عَلَيْهِ نو پر هغه دي د جنازې لمونځ وکړی سي لِأَنَّهُ ظَهَرَتْ تَبَعِيَّةُ الدَّارِ ځکه چي د دارُ الاسلام تابع کېدل (د هغه په حق کي) ښکاره سوه فَحُكِمَ بِالْإِسْلَامِ نو ځکه به د هغه د اسلام حکم کيږي كَمَا فِي اللَّقِيطِ لکه څرنګه چي په لقيط کي (دا حکم دی).

اللغات: ﴿سُبِيَ﴾ ماضي مجهوله ده: بندي کېدل، ﴿يُقِرُّ﴾ د افعال د باب مضارع ده: اقرار کول، ﴿اللَّقِيط﴾ غورځول سوی ماشوم، لا وارثه ماشوم.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو کوچنی د مور يا پلار سره بندي سو او له دارُ الکفر څخه دارُ الاسلام ته راوستل سو، او بيا کوچنی مړ سو، نو پر هغه به د جنازې لمونځ نه کيږي، ځکه چي د کوچني مور او پلار کافران دي، نو دی به هم د هغو تابع وي، نبي ﷺ فرمايلي دي: الولد يتبع خير الأبوين ديناً، له دې حديث څخه معلوميږي چي کوچنی به په دين کي د خپل مور او پلار تابع وي، او څرنګه چي دلته مور او پلار کافران دي، نو ځکه به کوچنی هم کافر وي، لو پر کافر د جنازې لمونځ نه کيږي، نو ځکه به د هغه پر بچي هم د جنازې لمونځ نه کيږي، هو! که دا کوچنی عاقل وو، يعني پوهېدی، او د اسلام اقرار يې وکړی يا له مور او پلار څخه يې يو مسلمان سو، نو د دې کوچني د جنازې لمونځ به کيږي، د اسلام د اقرار کولو په صورت کي خو ځکه چي استحساناً د هغه اسلام صحيح دی، او له مور او پلار څخه د يوه د اسلام راوړلو په صورت کي ځکه چي کوچنی به د دين په اعتبار سره د خيرُ الأبوين تابع وي، لو د دين په اعتبار سره خير الأبوين هغه دی کوم چي مسلمان سو، نو کوچنی به هم د هغه تابع وي، او مسلمان به وي، او څرنګه چي پر مسلمان د جنازې لمونځ کيږي، نو ځکه به د دې کوچني پر جنازه هم لمونځ کيږي.

وإن لم يسب الخ او که کوچنی بندي سو، خو په مور او پلار کي يو هم د هغه سره بندي نه سو، او بيا دا کوچنی مړ سو، نو پر هغه به د جنازې لمونځ کيږي، ځکه چي ديوازي والي په وجه دا کوچنی د دارُ الاسلام تابع سو، نو ځکه به د هغه د اسلام حکم کيږي، لکه په لقيط کي چي هم دا حکم دی، يعني که يو سړی په يو صحرا يا داسي بل ځای کي روان وو، او يو کوچنی يې پروت وليدی، او هيڅ وارث يې معلوم نه سو، نو که يې دا کوچنی په دارُ الاسلام کي وليدی، نو هغه به د دارُ الاسلام تابع وي او د مسلمان حکم به پر لګيږي.

که يو کافر مړ سي او مسلمان قريب لري نو څه حکم دی؟

وَإِذَا مَاتَ الْكَافِرُ او کله چي يو کافر مړ سي وَلَهُ وَلِيٌّ مُسْلِمٌ او دا کافر يو مسلمان ولي (وارث هم) لري فَإِنَّهُ يُغَسِّلُهُ نو هغه مسلمان ولي به دې کافر ته غسل ورکوي وَيُكَفِّنُهُ او کفن به ورکوي وَيَدْفِنُهُ او ښخوي به يې بِذَلِكَ أُمِرَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ● فِي حَقِّ أَبِيهِ أَبِي طَالِبٍ (ځکه) حضرت علي ﷺ ته د خپل پلار ابو طالب په باره کي (هم) د دغه خبري حکم سوی وو لَكِنْ يُغَسَّلُ غَسْلَ الثَّوْبِ النَّجِسِ لېکن کافر ته به د ناپاکه جامې د پرېوللو په څېر غسل ورکول کيږي وَيُلَفُّ فِي خِرْقَةٍ او د کپړې په يوه ټوټه کي به پېچل کيږي وَتُحْفَرُ حُفَيْرَةٌ او يوه کنده به کښل کيږي مِنْ غَيْرِ مُرَاعَاةِ سُنَّةِ التَّكْفِينِ وَاللَّحْدِ د سنت کفن او د سنت لحد له خيال ساتلو څخه بغير وَلَا يُوضَعُ فِيهَا بَلْ يُلْقَى او په کنده کي به ايښوول کيږي نه بلکي ور غورځول کيږي به.

اللغات: ﴿يُحْفَرُ﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: کنده کارل، غار جوړول. ﴿حُفَيْرَةٌ﴾ د تصغير صيغه ده: کوچنی کنده. ﴿يُوضَعُ﴾ د فتح د باب مضارع مجهوله ده: ايښوول. ﴿يُلْقَى﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: غورځول، اچول.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو کافر په دارُ الاسلام کي مړ سو، او د هغه يو قريب مسلمان وو، نو مسلمان قريب ته پکار ده چي په ډېر نفرت او ناراضي سره د ناپاکه کالو د پرېوللو په ډول دې کافر مړي ته غسل ورکړي، او د سنت طريقې له رعايت کولو څخه بغير دي يې په يوه کپړه کي وپېچي، يعني نه دي د هغه لپاره د سنت غسل بندوبست کوي، او نه دي د سنت کفن انتظام کوي، بلکي هسي دي يې په يوه کپړه کي وپېچي او يو کنده دي وکاږي، د لحد (ډوری) مراعات دي نه پکښي کوي، او په کندي کي دي يې وغورځوي، او په هيڅ يو پړاو کي دي هم د هغه سره د سنت طريقې خيال نه ساتي، د کافر مړي سره د داسي سلوک د اختيارولو په باره کي دليل د نبي ﷺ هغه حکم دی کوم چي يې حضرت علي ﷺ ته د هغه د پلار ابو طالب د مړيني په وخت کي کړی وو، لکه څرنګه چي حضرت علي ﷺ فرمايي: لما أخبرت رسول الله ﷺ بموت أبي طالب بكى ثم قال لي إذهب فاغسله وكفنه و وَارِهِ. (بنايه)



● تخريج: أخرجه ابوداؤدفي كتاب الجنائز، باب الرجل يموت له قرابة مشرك، حديث رقم:۳۲۱۴.

فَصْلٌ فِيْ حَمْلِ الْجِنَازَةِ

(دا) فصل د جنازې د پورته کولو (په بيان کې) دی

تشريح: ښکاره خبره ده چې د جنازې له لمانځه څخه تر فراغت وروسته د جنازې د پورته کولو او په قبر کې د ايښودلو مسئله مخته راځي، نو ځکه اوس صاحب د کتاب په ترتيب سره د جنازې پورته کولو او په قبر کې د مړي ښخولو فصلونه بيانوي.

د جنازې د پورته کولو بيان..... او د جنازې د پورته کولو سنت طريقه

وَإِذَا حَمَلُوا الْمَيِّتَ عَلَى سَرِيْرِهِ او کله چې خلک مړی پر خپل کټ (يا تخته) باندې راپورته کړي أَخَذُوْا بِقَوَائِمِهِ الْأَرْبَعِ نو کټ دې له څلورو پښو څخه ونيسي بِذٰلِكَ وَرَدَتِ السُّنَّةُ هم په دې باره کې حديث راغلی دی وَفِيْهِ تَكْثِيْرُ الْجَمَاعَةِ او د څلور خلکو په پورته کولو کې [۱] د جماعت ډېرښت دی وَزِيَادَةُ الْإِكْرَامِ [۲] او د عزت زياتوب دی وَالصِّيَانَةِ [۳] او له لوېدلو څخه خونديتوب سته وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: اَلسُّنَّةُ أَنْ يَحْمِلَهَا رَجُلَانِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: سنت دا ده چې جنازه به دوه خلک پورته کوي يَضَعُهَا السَّابِقُ عَلٰى أَصْلِ عُنُقِهِ چې په دې دواړو کې به مخکې سړی جنازه د خپلې غاړې پر آخري حصه کېږدي وَالثَّانِيْ عَلٰى صَدْرِهِ او دويم سړي به يې پر خپله سينه کېږدي لِأَنَّ جِنَازَةَ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ هٰكَذَا حُمِلَتْ ځکه چې د سعد بن معاذ رضي الله عنه جنازه همدارنګه پورته سوې وه قُلْنَا: كَانَ ذٰلِكَ لِازْدِحَامِ الْمَلَائِكَةِ موږ جواب ورکوو: چې هغه د فرښتو د ګڼې ګوڼې (رش) په وجه سره وه وَيَمْشُوْنَ بِهِ مُسْرِعِيْنَ او د جنازې پورته کوونکي به جنازه تېزه وړي دُوْنَ الْخَبَبِ لېکن ځغلي به نه لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ حِيْنَ سُئِلَ عَنْهُ ځکه کله چې له نبي ﷺ څخه په دې باره کې پوښتنه وسوه قَالَ [●]: مَا دُوْنَ الْخَبَبِ (نو) نبي ﷺ وفرمايل: مادون الخبب، (يعني په ځغستا سره به جنازه نه وړل کېږي).

اللغات: ﴿قوائمه﴾ جمع د قَائِمَةٌ ده: د کټ او چارپايي پښو ته ويل کېږي، ﴿سابق﴾ مخکنی سړی، د مخ والا، ﴿ازدحام﴾ د افتعال مصدر دی: ګڼه ګوڼه، رش، ﴿مسرعين﴾ د افعال د باب جمع اسم فاعل دی: تېز تلونکي، ﴿خبب﴾ ځغستا، منډه.

اللغات: په دې فصل کې د جنازې د پورته کولو طريقه بيانيږي، فرمايي چې خلک دې مړی پر تخته يا کټ باندې راپورته کړي، او د کټ څلور سره پښې دې ونيسي، يعني څلور خلک دې وي، او هر سړی دې د کټ يوه پښه ونيسي،

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجنائز، باب الإسراع في الجنازة، حديث رقم:۳۱۸۴.

سنت طريقه همدغه ده. له عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی: من السنة أن تحمل الجنازة من جوانبها الأربعة. (يعني سنت دا ده چي جنازه له څلورو طرفونو څخه را پورته سي)، په حديث کي راځي: من حمل الجنازة من جوانبها الأربعة غفر له مغفرة موجبة. (يعني څوک چي جنازه له څلورو طرفونو څخه پورته کړي، نو د هغه بخښنه به کيږي). دويمه خبره دا ده چي په دې کي د جماعت ډېرښت هم دی. يعني که خدای مه کړه د جنازې سره بل هيڅ سړی هم ولاړ نه سي، نو دا څلور خلک خو به ضروري وي، او ښکاره ده چي څلور خلک پوره يو جماعت دی. او د څلورو خلکو په پورته کولو کي د مړي عزت هم دی، په دې توکه چي پوره جماعت هغه پر خپلو اوږو را اخيستی دی. او کوم څوک چي پر اوږو راخيستل کيږي، د هغه په احترام کي هيڅ شک نسته. همدا ډول د څلورو خلکو په پورته کولو کي مړی له لوېدلو څخه هم خوندي وي.

وقال الشافعي الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: سنت دا ده چي جنازه دوه خلک پورته کړي چي په هغو کي به اول سړی د جنازې پښې د خپلي غاړي پر آخري طرف (يعني د غاړي پر بيخ) کښېږدي، او دويم سړی به يې پر خپل سينه کښېږدي، دليل دا دی چي د سعد بن معاذ جنازه همدارنګه پورته سوې وه. زموږ له طرفه جواب دا دی چي دا طريقه د ملائکو د ډېرښت په وجه وه. لکه څرنګه چي روايت دی چي د سعد بن معاذ په جنازه کي اويا زره (٧٠٠٠٠) ملائکي له آسمان څخه رانازلي سوي وې، لنډه دا چي د سعد ﷺ جنازه په دې وجه دوو خلکو پورته کړې وه چي لاره تنګه وه. همدا وجه وه چي نبي ﷺ د ګوتو پر سرو روان وو.

ويمشون الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي جنازه کله راپورته کړي نو په تېزي سره دي ځي، خو ځغلي دي نه، ځکه کله چي له نبي ﷺ څخه د جنازې د تګ په باره کي پوښتنه وسوه، نو يې فرمايل: ما دون الخبب. د خبب معنیٰ ده: ځغستل. يعني نبي ﷺ خو د تېز تګ حکم کړی دی، لېکن د ځغستلو حکم يې نه دی کړی، او د تېز تګ حکم ځکه سوی دی چي جنازه که د نېک مړي وه، نو هغه به د الله ﷻ حضور ته ژر ورسول سي، او که د بد سړي وه، نو دغه بلا او آفت به ژر له اوږو څخه لېري سي، او له ځغلستي څخه ځکه منع سوې ده چي په دې کي د مړي بې عزتي او سپکاوی دی.

په قبر کي د مړي تر ايښوولو مخکي د ناستي حکم

وَإِذَا بَلَغُوا إِلَى قَبْرِهِ او کله چي خلک د مړي قبر ته ورسيږي يُكْرَهُ أَنْ يَجْلِسُوا قَبْلَ أَنْ يُوضَعَ عَنْ أَعْنَاقِ الرِّجَالِ نو د خلکو له غاړي څخه د جنازې تر ايښوولو مخکي د هغو لپاره کښېنستل مکروه دي لِأَنَّهُ قَدْ تَقَعُ الْحَاجَةُ إِلَى التَّعَاوُنِ ځکه چي کله نا کله مرستي (او مدد) ته ضرورت پيښيږي وَالْقِيَامُ أَمْكَنُ مِنْهُ او د ولاړي په حالت کي (انسان ته) پر مدد زيات قدرت وي وَكَيْفِيَّةُ الْحَمْلِ او د جنازې پورته کولو طريقه دا ده أَنْ تَضَعَ مُقَدَّمَ الْجِنَازَةِ عَلَى يَمِينِكَ [١] چي ته د جنازې مخکنی طرف (سر) پر خپله راسته اوږه کښېږدې ثُمَّ مُؤَخَّرَهَا عَلَى يَمِينِكَ [٢] بيا د هغې شاتنی طرف پر خپله راسته اوږه کښېږدې ثُمَّ مُقَدَّمَهَا عَلَى يَسَارِكَ [٣] بيا د جنازې مخکنی طرف پر خپله چپه اوږه کښېږدې ثُمَّ مُؤَخَّرَهَا عَلَى يَسَارِكَ [٤] بيا يې شاتنی طرف پر خپله چپه اوږه کښېږدې إِيثَارًا لِلتَّيَامُنِ راسته طرف ته د ترجيح ورکولو لپاره وَهَذَا فِي حَالَةِ التَّنَاوُبِ او دا طريقه به د نوبت په صورت کي وي (يعني چي کله خلک په وار او نوبت سره جنازه پورته کوي، نو ته به دا طريقه اختياروې).

اللغات: ﴿أَعْنَاق﴾ جمع د عُنق ده: غاړه. ﴿تَيَامُن﴾ د تفاعل مصدر دی: راسته طرف اختیارول. ﴿تَنَاوُب﴾ دا هم د تفاعل مصدر دی: نوبت کول(یعني جنازه په نوبت سره پورته کول).

تشریح: فرمايي که د جنازې تر لمانځه وروسته يو څو خلک تر جنازې مخکې قبر ته ورسېدل نو هغو ته پکار دي چې ولاړ دې اووسي، او په ولاړه دې د جنازې انتظار کوي، د جنازې ته تر راتګ مخکې د هغو لپاره کښېنستل مکروه دي، ځکه چې کله نا کله د جنازې په ايښوولو کې ناڅاپه د مرستې او تعاون ضرورت پېښيږي، او ښکاره ده چې کله خلک مخکې لا څمتو ولاړ وي، نو په مرسته او تعاون کې به آساني وي، نو په دې وجه دا حکم کيږي چې مخکې رسېدونکي خلک دې د جنازې تر راتګ او ايښوولو مخکې نه کښېني.

وكيفية الحمل الخ فرمايي که جنازه خلکو په وار او نوبت سره پورته کوله، او په نوبت سره يې اوږه ورکوله، نو بيا يې د پورته کولو طريقه دا ده چې د جنازې د مخکنۍ حصې يعني د سر د حصې چې کومه پښه راسته اړخ ته وي اول دې هغه ونيول سي او پر راسته اوږه دې کښېښول سي، بيا دې د شاتنۍ حصې راسته پښه پر راسته اوږه کښېښول سي، بيا دې د جنازې د مخکنۍ حصې چې کومه پښه چپه اړخ ته وي هغه دې پر چپه اوږه کښېښول سي، او بيا دې د شاتنۍ حصې چپه پښه پر چپه اوږه کښېښول سي، او دا حکم د هغو خلکو لپاره دی چې هغوی د جنازې څلور سره پښې پورته کول غواړي، او خپل نوبت يې تاکلی وي، (یعني دا غواړي چې د جنازې څلور سره طرفو ته اوږه ورکړي، چې په دې کې ثواب ډېر دی او نورو خلکو ته نوبت هم ورکوي). نو د هغو لپاره دا پورتنی حکم دی چې په راسته طرف سره شروع وسي، او که د جنازې پورته کونکي فقط څلور خلک ول، نو په يوه حالت او کيفيت کې به جنازه قبر ته رسوي، خو که بيا هم حالت بدلول غواړي، نو جنازه دې پر ځمکه کښېږدي، صورت او کيفيت دې بدل کړي، ځکه چې د تګ په حالت کې صورت او کيفيت بدلول ناممکن دي.

فَصْلٌ فِي الدَّفْنِ

(دا) فصل د مړي د ښخولو(په بيان کې) دی

تشریح: څرنګه چې د جنازې تر پورته کولو او ايښوولو وروسته د مړي ښخولو نوبت راځي، نو ځکه اوس صاحب د هدايې د "تدفين" مسئلې بيانوي.

د قبر د کنلو سنت طريقه

وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ او قبر دې وکښل سي وَيُلْحَدُ او لحد (دوری) دې جوړه کړی سي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي وَاللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا "لحد زموږ لپاره دی او شق د نورو لپاره دی" وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِمَّا يَلِي

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجنائز، باب في اللحد، حديث رقم: ۳۲۰۸.

الْقِبْلَةَ او مړی به د قبلې له طرف څخه (قبر ته) ور داخل کړی سي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّ عِنْدَهُ يُسَلُّ سَلًّا ځکه چي د هغه په نېز به مړی د پښو له طرفه را کشول کېږي (مطلب دا چي په قبر کي چي پښې کوم طرف ته وي، له هغه طرفه به مړی په قبر کي را شوه کېږي) لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سُلَّ سَلًّا چي نبي ﷺ د پښو له طرفه په قبر کي داخل کړی سو وَلَنَا أَنَّ جَانِبَ الْقِبْلَةِ مُعَظَّمٌ او زموږ دليل دا دی چي د قبلې طرف د احترام وړ دی يُسْتَحَبُّ الْإِدْخَالُ مِنْهُ نو له هغه طرف څخه مړی داخلول مستحب دي وَاضْطَرَبَتِ الرِّوَايَاتُ فِي إِدْخَالِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او په قبر کي د نبي ﷺ د داخلولو په باره کي روايتونه مختلف دي (نو ځکه به د قبلې د طرف والا حديث راجح وي).

اللغات: ﴿يُحفر﴾ مضارع مجهوله ده، کنده، يا ډوري، کېنل. ﴿يُلحد﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: ډوري جوړول، لحد جوړول (بغلي جوړول). ﴿شق﴾ مينځوی قبر. ﴿يُسَل﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: کشول.

تشريح: د قبر دوه قسمه دي: يو قسم لحد دی، هغه دا چي قبر سيده وکېنل سي، بيا په قبر کي راسته طرف ته دومره بغلی (ډوری) جوړه سي چي مړی پکښي اېښول کېدای سي، او دويم قسم شق دی، شق دا دی چي قبر سيده وکېنل سي، نېږ پراخه او ژور کړی سي او په مينځ کي يې يوه نری غوندي نالی جوړه کړی سي چي مړی پکښي اېښول کېدای سي.

د عبارت حاصل دا دی چي زموږ په نېز قبر کېنل او لحد جوړول سنت دي، په دې شرط چي مځکه نرمه او پسته نه وي، خو ک: مځکه داسي نرمه وه چي د لحد جوړول ممکن نه وو، نو شق جائز دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز شق سنت دی، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د مدينې د خلکو توارث دی، يعني د مدينې په خلکو کي له شروع څخه دا طريقه د توارث په توګه را روانه ده چي هغوی د مسلمان مړي لپاره شق جوړوي، زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی: اللحد لنا والشق لغيرنا، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب دا دی چي د بقيع (يعني د مدينې منورې د هديرې) مځکه نرمه او رېګنه ده، او په هغې کي لحد جوړول ممکن نه دي، نو ځکه د مدينې خلک شق اختياروي.

ويدخل الميت الخ زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مينځ کي دويم اختلاف دا دی چي زموږ په نېز سنت طريقه دا ده چي مړی به قبر ته له هغه طرف څخه ور شوه کېږي کوم چي د قبلې طرف وي، يعني د قبلې له طرفه به جنازه په قبر کي اېښوول کېږي، بيا به په لحد کي اېښوول کېږي، لېکن امام شافعي فرمايي چي سنت دا ده چي مړی به په قبر کي د پښو له طرفه راشوه کېږي، د دې طريقه دا ده چي جنازه دي د قبر پر هغه طرف کښېښول سي چيري چي د مړي پښې راځي، بيا دي يو سړی قبر ته ور شوه سي، او جنازه دي د سر له طرفه را کش کړي په قبر کي دي يې کښېږدي، بعضو وېلي دي چي طريقه يې دا ده چي جنازه دي د قبر د سر وطرف ته کښېښول سي، بيا دي اول د مړي دواړه پښې قبر ته داخلي کړی سي، وروسته دي توله مړی راکش کړی سي په قبر کي دي کښېښول سي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د نبي ﷺ جنازه همدارنګه را کش کړل سوه، او په قبر کي کښېښول سوه، زموږ دليل دا دی چي د قبلې طرف معظم او محترم دی، نو ځکه به له هغه طرف څخه داخلول مستحب وي، او پاته سوه په قبر کي د نبي ﷺ د اېښوولو مسئله، نو په هغه

کي روايات مختلف دي، په بعضو کي يو څه راغلي دي، او په بعضو کي بل څه راغلي دي، نو ځکه به دا روايتونه د استدلال ور نه وي.

په قبر کي د مړي د ايښوولو صحيح طريقه، او د ايښوونکي لپاره دعاء

فَإِذَا وُضِعَ فِي لَحْدِهِ بيا چي کله مړی په قبر کي کښېښول سي يَقُولُ وَاضِعُهُ: بِسْمِ اللهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ نو ايښوونکی به ووايي: بِسْمِ اللهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ (يعني د الله په نامه او د رسول الله پر طريقه شروع کوم) كَذَا قَالَهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] حِينَ وَضَعَ أَبَا دُجَانَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْقَبْرِ همدغه دعاء نبي ﷺ ويلې وه کله چي يې ابودجانه په قبر کي کښېښوی وَيُوَجَّهُ إِلَى الْقِبْلَةِ او ايښوونکی به د مړي مخ د قبلې وطرف ته کړي بِذَلِكَ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[2] همد دې حکم رسول الله ﷺ کړی دی وَتُحَلُّ الْعُقْدَةُ او د کفن غوټې به خلاصي کړي لِوُقُوعِ الْأَمْنِ مِنَ الِانْتِشَارِ ځکه چي اوس د کفن له خلاصېدلو څخه اطمينان حاصل سو (يعني دا انديښنه ليري سوه چي کفن به خلاص سي او به خوريږي) وَيُسَوَّى اللَّبِنُ عَلَى اللَّحْدِ او پر ړوري به کچه خښتي برابري کړی سي (يعني پر ړوري به کچه خښتي برابري او په ترتيب سره کښېښول سي) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ جُعِلَ[3] عَلَى قَبْرِهِ اللَّبِنُ ځکه چي د نبي ﷺ پر قبر (هم) کچه خښتي لګول سوي وې وَيُسَجَّى قَبْرُ الْمَرْأَةِ بِثَوْبٍ او د ښځي قبر به په يوه کپړه (او پرده) سره پټ کړی سي حَتَّى يُجْعَلَ اللَّبِنُ عَلَى اللَّحْدِ تر دې چي کچه خښتي پر ړوري ولګول سي وَلَا يُسَجَّى قَبْرُ الرَّجُلِ او د سړي قبر به په کپړه سره نه پټيږي لِأَنَّ مَبْنَى حَالِهِنَّ عَلَى السَّتْرِ ځکه چي د ښځو حالت په پرده باندي مبني دی وَمَبْنَى حَالِ الرِّجَالِ عَلَى الِانْكِشَافِ او د خلکو حالت په ښکاره والی (او کشف) باندي مبنی دی.

اللغات: ﴿يَحُلُّ﴾ د نصر د باب مضارع معلومه ده: غوټه خلاصول، يو شی حلول. ﴿عُقْدَة﴾ غوټه. ﴿اِنْتِشَار﴾ خورېدل (خلاصېدل). ﴿يُسَوّٰى﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: برابرول. ﴿يُسَجّٰى﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: پرده کول، په پرده پټول.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د مړي ايښوونکی سړی دي په لحد کي د مړي د ايښوولو په وخت کي دا دعاء ووايي: بسم الله وعلى ملة رسول الله، او په يوه روايت کي د بسم الله وعلى سنة رسول الله الفاظ راغلي دي، دليل دا دي چي په قبر کي د ابو دجانه رضی الله عنه د ايښوولو په وخت کي نبي ﷺ د بسم الله وعلى ملة رسول الله الفاظ ويلي وو، په مبسوط او بدائع کي هم دغسي ذکر سوي دي، صاحب د کتاب هم د هغو تقليد کړی دی، لېکن قصه دا ډول نه ده، ځکه چي د ابو دجانه انصاري وفات د نبي ﷺ تر وفات وروسته د ابو بکر صديق رضی الله عنه په خلافت کي په جنګ يمامه کي وسو، صحيح دا ده چي رسول

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الجنائز، باب ماجاء في إدخال الميت القبر، حديث رقم: ١٥٥٠.

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الوصايا، باب ماجاء في التشديد في أكل مال اليتيم، حديث رقم: ٢٨٧٥.

[3] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الجنائز، باب في اللحد نصب اللبن على الميت، حديث رقم: ٩٠.

الله ﷺ د ذوالنجادين (عبدالله) د ايښوولو په وخت کي دا دعاء ويلې وه، له دې شخصه ماسوا د دې دعاء ثبوت د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حديث سره هم کيږي، حديث دا دی: عن ابن عمر كان النبي ﷺ... (يعني کله چي به نبي ﷺ يو مړی قبر ته داخلوی نو بسم الله وعلى ملة رسول الله به يې ويل).

ويوجّه الخ په قبر کي د ايښوونکي لپاره دويم هدايت دا دی چي مړی دي په لحد کي د قبلې وطرف ته کړي، يعني پر راسته اړخ دې پرې بلسي او مخ دې يې د قبلې وطرف ته کړي، دليل دا دی چي رسول الله ﷺ خلکو ته د دې حکم کړی دی، لکه په عنايه کي چي هم په دې باره کي حديث راغلی دی.

و يحل العقدة الخ د ايښوونکي لپاره دريم هدايت دا دی چي په قبر کي دې د مړي تر ايښوولو وروسته د مړي د کفن غوټي خلاصي کړي، ځکه چي اوس د کفن د خلاصېدلو وهم نشته.

ويسوّى الخ څلورم هدايت دا دی چي په لحد کي دې د مړي تر ايښوولو وروسته کچه خښتي پر لحد ولګول سي، يا داسي بل شی لکه بانس او داسي نور دي پر لحد کېښوول سي چي په بشپړه توګه لحد بند سي، ځکه د نبي ﷺ په قبر کي همدغه عمل سوی وو، لکه د جابر رضي الله عنه څخه چي روايت دی: كان قبر النبي ﷺ اللحد ونصبنا عليه اللبن نصباً ورفع قبره من الارض شبراً. (يعني نبي ﷺ په لحد کي کېښوول سو، او موږ پر لحد کچه خښته ولګولې، او د نبي ﷺ قبر مبارک د يوې لوېشتي په اندازه له مځکي څخه پورته سو).

ويسجّى الخ فرمايي: که جنازه د ښځي وه، نو په قبر کي د هغې د ايښوولو په وخت کي په يوه کپړه يا پټو سره پرده کول پکار دي، لېکن که جنازه د سړي وه، نو بيا د دې هيڅ ضرورت نشته، ځکه چي د ښځو د حالت مدار پر ستر او پرده مبني دی، نو ځکه به په قبر کي هم د ښځو لپاره پرده څرګېږي، لېکن کله چي پر لحد خښتي او نور کېښوول سي نو بيا د پردې په ليري کولو کي څه حرج نشته، همدارنګه د سړي په جنازه کي هم د پردې ځړولو څه ضرورت نشته، ځکه چي د خلکو د حالت مدار پر ظهور او انکشاف وي، نه پر ستر، او په دنيا کي هم د هغو لپاره د پردې کولو خاص ضرورت نه وي.

په قبر کي د پخو خښتو او د لرګيو د لګولو حکم

وَيُكْرَهُ الْآجُرُّ وَالْخَشَبُ او (په قبر کي) پخه خښته او لرګي لګول مکروه دي لِأَنَّهُمَا لِإِحْكَامِ الْبِنَاءِ ځکه چي دا دواړه د بناء د ټينګولو لپاره دي وَالْقَبْرُ مَوْضِعُ الْبِلَى او قبر د زړېدلو (او خرابېدلو) ځای دی ثُمَّ بِالْآجُرِّ يَكُونُ أَثَرُ النَّارِ بيا په پخو خښتو کي د اور اثر (هم) سته فَيُكْرَهُ تَفَاؤُلًا نو د بدمرغی په توګه به مکروه وي وَلَا بَأْسَ بِالْقَصَبِ او د بانس په ايښوولو کي هيڅ حرج نشته وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: وَيُسْتَحَبُّ اللَّبِنُ وَالْقَصَبُ او په جامع صغير کي دي: چي کچه خښتي او بانسان ايښوول مستحب دي لِأَنَّهُ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ جُعِلَ عَلَى قَبْرِهِ طُنٌّ مِنْ قَصَبٍ ځکه چي د نبي ﷺ پر قبر يو بنډل (دسته) بانسان استعمال کړی سول ثُمَّ يُهَالُ التُّرَابُ بيا به پر قبر خاوري واچول سي وَيُسَنَّمُ الْقَبْرُ او قبر

● تخريج: أخرجه امام اعظم في كتاب الآثار، ص:٣٢، والبخاري في معناه في كتاب الجنائز، باب ماجاء في قبر النبي ﷺ، حديث رقم: ١٣٩٠.

به د اوښ د بوک په ډول جوړ سي وَلَا يُسَطَّحُ او هوار به نه جوړيږي أَيْ لَا يُرَبَّعُ يعني څلور کونجه به نه جوړيږي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنْ تَرْبِيعِ الْقُبُورِ ځکه چي نبي ﷺ د قبرونو له څلور کونجه جوړولو څخه منع کړې ده وَمَنْ شَاهَدَ قَبْرَهُ (ص) او چا چي د نبي ﷺ قبر (مبارک) ليدلی دی أَخْبَرَ أَنَّهُ مُسَنَّمٌ هغه دا خبر ورکړی دی چي د نبي ﷺ قبر د بوک غوندي وو.

اللغات: ﴿الآجر﴾ پخه خښته، ﴿الخشب﴾ لرګی، ﴿البلى﴾ زړېدل، پخوانی کېدل، خرابېدل، ورستېدل، ﴿التفاؤل﴾ فال اخيستل، ﴿القصب﴾ بانس، (مراد ځني د بانس نري لرګي دي)، ﴿اللبن﴾ کچه خښته، ﴿الحلل﴾ بنډل، بسته، پلنډه (مراد ځني ډېر بانسان دي)، ﴿يُهال﴾ مجهوله صيغه ده: غورځول، اچول، ﴿يُسنّم﴾ دا هم مجهوله صيغه ده: د اوښ د بوک په ډول جوړول، ﴿التربيع﴾ مصدر دی: څلور کونجه جوړول.

تشريح: فرمايي چي په قبر کي پخې خښتي او لرګي لګول مکروه دي، دليل دا دی چي دا دواړه شيان د قبر د ودانۍ او عمارت د ټينګولو لپاره دي، لېکن قبر د خرابېدلو او بربادېدلو ځای دی (يعني انسان پکښې خرابيږي، آخر يې نښه هم ورکيږي)، نو ځکه په دې کي پخه خښته، لرګيان او داسي نور لګول د قبر له موضوع څخه خلاف او اسراف دي، د پخو خښتو بله د کراهت وجه دا هم ده چي په پخو خښتو کي د اُور اثر وي، نو ځکه به د بدمرغۍ په توګه هم مکروه وي ځکه چي له پخو خښتو څخه دا ثابتيږي چي ګواکي د هغه د آخرت کور د اُور په مرسته تيار سو، خو د بانس په لرګيو کي هيڅ حرج نسته.

وفي الجامع الصغير الخ فرمايي: په جامع صغير کي ذکر سوي دي چي کچه خښتي او بانسونه لګول مستحب دي، او د قدوري عبارت پر استحباب دلالت نه کوي، لېکن د جامع صغير عبارت د دې دواړو شيانو پر استحباب دلالت کوي، دليل دا دی چي د رسول الله ﷺ په قبر مبارک کي هم بانسان استعمال سول.

ثم يهال التراب الخ بيا دي پر قبر خاوري واچول سي او قبر دي د اوښ د بوک په ډول جوړ سي، يعني له ځمکي څخه دي يوه لوېشت يا لږ زيات جګ جوړ سي، قبر دي مسطح يعني څلور کونجه نه جوړيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: سنت دا دي چي قبر څلور کونجه جوړ سي، نه د بوک په څېر، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي کله د رسول الله ﷺ زوی ابراهيم وفات سو، نو نبي ﷺ د هغه قبر څلور کونجه جوړ کړی، زموږ دليل دا دی چي نبي ﷺ له څلور کونجه قبر جوړولو څخه منع کړې ده، ابراهيم نخعي وايي: يو سړي د نبي ﷺ او د شيخينو يعني د حضرت ابو بکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قبرونه ليدلي ول، نو هغه ما ته وويل چي د هغوی قبرونه مسنم يعني د اوښ د بوک په څېر وه، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب دا دی چي د ابراهيم قبر خو اول څلور کونجه جوړ سو، لېکن وروسته بيا د بوک په ډول جوړ سو، په مبسوط او محيط کي همدغه ذکر دي. والله أعلم بالصواب



بَابُ الشَّهِيْدِ

(دا) باب د شهيد (د احکامو په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چي د شهيد احکام د نورو مړو له احکامو څخه جلا او بيل دي، نو ځکه د شهيد احکام په يوه جلا باب کي بيانوي، يا په دې وجه دا جلا بيانوي چي شهيد پر نورو مړو د پر فضيلت لري، تر دې چي له دې څخه منع سوې ده چي شهيد ته مړ وويل سي، لکه څرنګه چي د الله تعالیٰ فرمان دی: وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ [البقرة:۱۵۴]، تر باب الجنائز وروسته د شهيد ذکر د ذکر الخاص بعد العام له قبيلې څخه دی، لکه په قرآن کريم چي تر ملائکو وروسته د جبرئيل او ميکائيل ذکر هم له دې قبيلې څخه دی، د مثال په توګه د الله تعالیٰ فرمان دی: مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ [البقرة:۹۸].

شهيد ته د شهيد ويلو وجه: صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي شهيد ته په څو وجهو شهيد ويل کيږي: ① په دې وجه چي فرښتې د تعظيم او عزت په خاطر د هغه د مرګ شهادت (ګواهي) ورکوي، او فرښتې د هغه په جنازه کي شرکت کوي، نو دلته به شهيد په معنیٰ سره د مشهود وي، لکه فعيل چي په معنیٰ سره د مفعول راځي، ② دويمه وجه دا ده چي شهيد ته تر مرګ وروسته د جنت زيری او شهادت ورکول کيږي، نو دلته به هم په معنیٰ سره د مشهود دی، ③ دريمه وجه دا ده چي د شهيد معنیٰ ده: حاضر، او شهيد هم د الله ﷻ په نيز حاضر او ژوندی وي، لکه څرنګه چي مخکي آيت ذکر سو (بنايه ج۳، ۳۰۷، ۹۳۰)، دلته به په معنیٰ د شاهد سره وي، د فقهاوو په اصطلاح کي شهيد هغه څوک دی چي مشرکينو او کافرانو قتل کړی وی او د جنګ په ډګر کي پروت وي، او د هغه پر بدن د قتل او زخم اثر وي، يا هغه څوک دی چي مسلمانانو په ظلم قتل کړی وي، او د قتل په وجه يې ديت واجب سوی نه وي.

د شهادت قسمونه: د شهادت دوه قسمه دي: يو هغه چي د آخرت په احکامو کي شهيد وي، که څه هم په دنياوي احکامو کي هغه ته غسل او نور ورکول کيږي، دويم دا چي په دنيا او آخرت دواړو کي شهيد وي، تر دې چي هغه ته غسل هم نه ورکول کيږي.

د شهيد تعريف، قسمونه او احکام

الشَّهِيْدُ مَنْ قَتَلَهُ الْمُشْرِكُوْنَ (کامل) شهيد هغه څوک دی [۱] چي مشرکانو قتل کړی وي أَوْ وُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ وَبِهِ أَثَرٌ [۲] يا د جنګ په ميدان کي پيدا سوی وي او پر هغه د زخم اثر وي أَوْ قَتَلَهُ الْمُسْلِمُوْنَ ظُلْمًا [۳] يا مسلمانانو په ظلم قتل کړی وي وَلَمْ يَجِبْ بِقَتْلِهِ دِيَةٌ او د هغه د قتل په وجه ديت لازم سوی نه وي فَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ نو هغه ته به کفن ورکول کيږي او د جنازې لمونځ به پر کيږي وَلَا يُغَسَّلُ او غسل به نه ورکول کيږي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى شُهَدَاءِ أُحُدٍ ځکه چي دا سړی د اُحد د شهيدانو په معنیٰ سره دی (يعني د اُحد د شهيدانو په درجه کي دی) وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فِيْهِمْ او د اُحُد د شهيدانو په باره کي نبي ﷺ فرمايلي وو زَمِّلُوْهُمْ بِكُلُوْمِهِمْ وَدِمَائِهِمْ "دوی د خپلو زخمونو او وينو سره (په

● تخريج: أخرجه البيهقي في سنن الكبرىٰ في كتاب الجنائز، باب المسلمون يقتلهم المشركون في المعترک، حديث رقم: ۶۸۰۰، والبخاري في كتاب الجنائز، باب الصلاة على الشهيد، حديث قم: ۱۳۴۳.

کپړو) کي پټ کړئ وَلَا تُغَسِّلُوْهُمْ او غسل مه ورکوئ" فَكُلُّ مَنْ قُتِلَ بِالْحَدِيْدَةِ ظُلْمًا نو هر هغه څوک چي په تېره اوسپني سره په ظلم قتل کړی سي وَهُوَ طَاهِرٌ بَالِغٌ او هغه پاک او بالغ وي وَلَمْ يَجِبْ بِهِ عِوَضٌ مَالِيٌّ او د هغه د قتل په بدله کي هيڅ مالي عوض واجب نه سوی نه وي فَهُوَ فِيْ مَعْنَاهُمْ نو هغه د اُحُد شهيدانو په درجه کي دی فَيَلْحَقُ بِهِمْ نو ځکه به د هغوی سره ملحق کيږي وَالْمُرَادُ بِالْأَثَرِ الْجِرَاحَةُ او (په متن کي) له اثر څخه مراد زخم دی لِأَنَّهَا دَلَالَةُ الْقَتْلِ ځکه چي زخم د قتلېدلو نښه ده وَكَذَا خُرُوْجُ الدَّمِ مِنْ مَوْضِعٍ غَيْرِ مُعْتَادٍ همدارنګه له داسي ځای څخه د وينو راوتل چي په عامه توګه له هغه ځای څخهويني نه راوځي كَالْعَيْنِ وَنَحْوِهَا لکه د سترګي او داسي بل ځای څخه ويني راوتل (هم د قتلېدلو نښه ده) وَالشَّافِعِيُّ يُخَالِفُنَا فِي الصَّلَاةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د لمانځه په باره کي زموږ څخه مخالف دی وَيَقُوْلُ: اَلسَّيْفُ مَحَّاءٌ لِلذُّنُوْبِ او فرمايي: چي توره د ګناهونو لپاره محوه کونکې (ورانونکې) ده فَأَغْنَى عَنِ الشَّفَاعَةِ نو توره به (هغه) له شفاعت څخه مستغني کوي وَنَحْنُ نَقُوْلُ: اَلصَّلَاةُ عَلَى الْمَيِّتِ لِإِظْهَارِ كَرَامَتِهِ او موږ وايو: چي پر مړي د جنازې لمونځ کول د هغه د کرامت (عزت) د ښکاره کولو لپاره دی وَالشَّهِيْدُ أَوْلَى بِهَا او شهيد د کرامت زيات حقدار دی وَالطَّاهِرُ عَنِ الذُّنُوْبِ لَا يَسْتَغْنِيْ عَنِ الدُّعَاءِ كَالنَّبِيِّ وَالصَّبِيِّ او له ګناهونو څخه پاک انسان هم له دعاء څخه مستغني نه وي لکه نبي او کوچنی.

اللغات: ﴿زَمِّلُوا﴾ د تفعيل د باب د امر صيغه ده: په پټو يا کپړه کي ېېچل (يا پټول)، نغاړل. ﴿كُلُوم﴾ جمع ده، واحد يې كَلْمٌ دی: زخم. ﴿دِمَاء﴾ جمع ده، واحد يې دَمٌ دی: وينه. ﴿مَحَّاء﴾ د نصر د باب اسم مبالغه ده: په ښه توګه محوه (مسحه) کونکی، په ښه توګه پاکونکی.

تشريح: صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله وايي چي د شهيد څو قسمونه دي: (١) اول دا چي يو مسلمان مشرکينو قتل کړی وي هغه که په وسله سره وي او که پر لرګي او نورو سره. (٢) دويم دا چي يو مسلمان د جنګ په ميدان کي په داسي حال کي پيدا سي چي د هغه پر بدن د زخم او قتل اثر وي. (٣) دريم دا چي يو مسلمان نورو مسلمانانو په ظلم قتل کړی وي، او د دې قتل په وجه د هغه ديت واجب سوی نه وي، په دې درې سره وو صورتونو کي حکم دا دی چي بالاتفاق به غسل نه ورکول کيږي، او کفن به ورکول کيږي، ځکه چي داسي مسلمان د اُحد د شهيدانو په معنیٰ کي دی، خو په لمانځه کي يې اختلاف دی، ځکه چي زموږ په نېز د شهيدانو د جنازې لمونځ کيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نه کيږي، شهيد ته به کفن ځکه ورکول کيږي، چي کفن د بني آدم په مړو کي سنت دی، خو که د شهيد پر بدن جامې وي، هغه به نه څني ليري کيږي، ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي وو: زملوهم بکلومهم ودمائهم او په يوه روايت کي بثيابهم راغلي دي، (يعني دوی ونغاړئ د خپلو زخمونو، وينو او جامو سره)، د شهيد پر بدن که خولی (ټوپی)، موزه او وسله وي هغه به څني ليري کيږي، او شهيد ته به غسل ځکه نه ورکول کيږي چي شهيد د اُحُد د شهيدانو په درجه کي دی، او د اُحُد د شهيدانو په باره کي نبي ﷺ فرمايلي وو: ولا تغسلوهم (دوی ته غسل مه ورکوئ)، په بل حديث کي راځي: "که چا

ته د الله ﷻ په لاره کي يو زخم ولګيږي، نو دا سړی به د قيامت په ورځ د الله ﷻ په حضور کي په داسي حال کي وراندي کيږي چي د زخم رنګ خو به يې د وينو په ډول وي لېکن بوی به يې د مشکو په ډول وي".

فكل منه الخ صاحب د هدايې وايي چي کوم سړی په تېره او سپني سره ظلماً قتل کړی سي، او هغه پاک او بالغ وي، او د هغه پر قتل څه مالي ديت يا قصاص نه وي واجب سوی، نو هغه د اُحُد د شهيدانو په معنیٰ کي دی، لهذا د هغو په حکم کي به وي.

والشافعي يخالفنا الخ د شهيد د جنازې په لمانځه کي زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، زموږ په نېز د شهيد د جنازې لمونځ هم فرضِ کفايي دی، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر شهيد به د جنازې لمونځ نه کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د جنازې لمونځ په حقيقت کي د مړي لپاره سفارش او دعاء غوښتنه، او په کومه توره چي شهيد قتل سوی وي، هغه د شهيد ګناهونه محوه کوي، نو کله چي توري د شهيد ګناهونه محوه کړل، نو د هغه لپاره د سفارش او دعاء هيڅ ضرورت پاته نه سو، نو ځکه به پر شهيد د جنازې لمونځ نه کيږي.

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چي د مړي لپاره د جنازې لمونځ فقط د دعاء لپاره نه وي، بلکي په دې کي له دعاء څخه ماسوا د مړي عزت او تعظيم هم څرګنديږي، او شهيد د تعظيم او عزت زيات حقداره دی، نو ځکه به د نورو مړو په ډول د شهيد د جنازې لمونځ هم کيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا وينا چي کوم سړی له ګناهونو څخه پاک سي، هغه له دعاء څخه مستغني کيږي، دا صحيح نه ده، ځکه چي تر نبي به زيات پاک څوک وي؟، او نابالغه کوچنی هم له ګناهونو څخه پاک وي، خو برسېره پر دې پر دوارو د جنازې لمونځ کول فرض دي، نو کله چي پر نبي او کوچني د جنازې لمونځ فرض دی، نو پر شهيد به هم د جنازې لمونځ فرض وي.

د حربيانو باغيانو او ډاکوګانو په لاس د قتل سوي مسلمان حکم

> وَمَنْ قَتَلَهُ أَهْلُ الْحَرْبِ او کوم سړی چي حربيانو قتل کړی وي أَوْ أَهْلُ الْبَغْيِ أَوْ قُطَّاعُ الطَّرِيْقِ يا باغيانو يا ډاکوګانو (قتل کړی وي) فَبِأَيِّ شَيْءٍ قَتَلُوْهُ نو هغه که دوی په هر شي سره قتل کړی وي لَمْ يُغَسَّلْ غسل به نه ورکول کيږي لِأَنَّ شُهَدَاءَ أُحُدٍ مَا كَانَ كُلُّهُمْ قَتِيْلَ السَّيْفِ وَالسِّلَاحِ ځکه چي د اُحُد له شهيدانو څخه هر يو په توره او وسله سره نه وو قتل سوی.

اللغات: ﴿أَهْلُ الْبَغْيِ﴾ باغيان، بغاوت کونکي، ﴿قُطَّاعُ الطَّرِيْقِ﴾ د لاري شکونکي، ډاکوګان، ډاکه ماران، ﴿قَتِيْلٌ﴾ قتل کړی سوی، مقتول، ﴿سِلَاحٌ﴾ وسله.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي کوم مسلمان د حربيانو، يا باغيانو، يا ډاکوګانو په لاس قتل سي، نو هغه به د شهيد په حکم کي وي، هغه که يې په هره ذريعه قتل کړی وي، او کله چي د شهيد په حکم کي سو، نو ښکاره ده چي بغير له غسل څخه به په قبر کي ښخيږي، ځکه بې له غسله ښخېدل د اُحُد د شهيدانو په حق کي ثابت دي، او د اُحُد له شهيدانو څخه هم هر يو په توره يا وسله سره نه وو قتل سوی، بلکي له هغو څخه بعضي صحابه په ډبرو شهيدان کړی سول، او بعضي صحابه په لکړو او لرګيانو شهيدان کړی سول، او نبي ﷺ مطلق د ټولو د بې له غسله ښخولو حکم وکړی، نو ځکه به دا حکم هر شهيد ته عام وي، او کوم سړی چي هم په ظلم او ناحقه سره قتل سي، هغه به بې له غسله ښخيږي.

جُنُب شهيد ته د غسل ورکولو حکم

وَإِذَا اُسْتُشْهِدَ الْجُنُبُ او که جنب سړی شهيد کړی سو غُسِّلَ* عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز به هغه ته غسل ورکول کيږي وَقَالَا: لَا يُغَسَّلُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي غسل به نه ورکول کيږي لِأَنَّ مَا وَجَبَ بِالْجَنَابَةِ سَقَطَ بِالْمَوْتِ ځکه کوم شی چي په جنابت سره واجب سوی وو (يعني غسل) هغه په مرګ سره ساقط سو وَالثَّانِي لَمْ يَجِبْ لِلشَّهَادَةِ او دويم (يعني غسل) د شهادت په وجه سره نه واجبيږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ الشَّهَادَةَ عُرِفَتْ مَانِعَةً غَيْرَ رَافِعَةٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي شهادت خو منع کونکی شی دی (ليکن) پورته کونکی شی نه دی فَلَا تَرْفَعُ الْجَنَابَةَ نو ځکه به جنابت نه پورته کوي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ حَنْظَلَةَ لَمَّا اُسْتُشْهِدَ جُنُبًا او دا خبره صحيح ده (يعني په صحيح حديث کي ذکر سوې ده) چي کله حضرت حنظله ﷺ شهيد سو غَسَّلَتْهُ الْمَلَائِكَةُ نو هغه ته ملائکو غسل ورکړی وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ او هم پر دې اختلاف حائضه او نفاسه ښځي دي إِذَا طَهُرَتَا کله چي هغوی پاکي سي وَكَذَا قَبْلَ الِانْقِطَاعِ فِي الصَّحِيحِ مِنَ الرِّوَايَةِ او همدا (اختلاف دی) د وينو تر دريدلو مخکي په صحيح روايت کي وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ الصَّبِيُّ او هم پر دې اختلاف کوچنی (هم) دی لَهُمَا أَنَّ الصَّبِيَّ أَحَقُّ بِهٰذِهِ الْكَرَامَةِ د صاحبينو دليل دا دی چي کوچنی د دې کرامت زيات حقداره دی وَلَهُ أَنَّ السَّيْفَ كَفَى عَنِ الْغُسْلِ فِي حَقِّ شُهَدَاءِ أُحُدٍ او د امام صاحب دليل دا دی چي توره د اُحد د شهيدانو په حق کي له غسل څخه کافي سوه بِوَصْفِ كَوْنِهِ طَهْرَةً په دې صفت سره چي توره د ګناهونو پاکونکې ده وَلَا ذَنْبَ عَلَى الصَّبِيِّ او پر کوچني هيڅ ګناه نسته فَلَمْ يَكُنْ فِي مَعْنَاهُمْ نو ځکه به کوچنی د اُحُد شهيدانو په معنیٰ کي نه وي.

اللغات: ﴿اُسْتُشْهِدَ﴾ د استفعال د باب ماضي مجهوله صيغه ده: شهيد کېدل، ﴿نُفَسَاءُ﴾ هغه ښځه چي د کوچني تر زېږولو وروسته يېويني راځي، ﴿ذَنْب﴾ ګناه.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو جنب سړی د جنابت په حالت کي د جنګ ميدان ته ولاړ او هغه ته د شهادت مرګ ورنصيب سو، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به هغه ته غسل ورکول کيږي، همدا د امام احمد رَحِمَهُ الله قول دی، او د صاحبينو په نيز به غسل نه ورکول کيږي، او دا مسلک د امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دی.

د صاحبينو دليل: دا دی چي کوم غسل د جنابت په وجه سره واجب سوی وو، هغه د مرګ په وجه ساقط سو، ځکه چي د مرګ په وجه هغه د جنابت د غسل له مکلف کېدلو څخه ووتی، او دويم غسل يعني د مړي غسل د شهادت په وجه واجب نه سو، ځکه شهادت د غسل له وجوب څخه مانع دی، ځکه چي د اُحُد د شهيدانو په باره کي نبي ﷺ فرمايلي وو: زملوهم بكلومهم ولا تغسلوهم په حديث کي د دې هيڅ تفصيل نسته چي شهيد به جنب وي او که غير جنب.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:٢، ص: ١٠٧. [القول الراجح، ج:١، ص:١٥٨]

د امام صاحب دليل: دا دی چي شهادت خو د مړي د غسل له وجوب څخه مانع دی، لېکن که مخکي غسل واجب سوی وو نو د هغه رافع يعني پوره کونکی نه دی، لکه څرنګه چي د شهيد پر کپړو نجاست ولګيږي، نو د هغه پرېولل ضروري دي، لېکن د هغه د بدن وريني پرېولل ضروري نه دي، نو کله چي شهادت رافع نه دی، نو ځکه به شهادت جنابت نه ليري کوي، او کله چي يې جنابت ليري نه کړي، نو جنب شهيد ته به غسل ورکول واجب وي، د دې تائيد په دې قصې سره هم کيږي چي حضرت حنظله ﷺ چي کله شهيد سو، نو فرشتو هغه ته غسل ورکړی، نبي ﷺ د هغه له کورنۍ څخه پوښتنه وکړه چي حنظله په کوم حال کي وو، نو ښځي يې وويل چي زما سره يې جماع وکړه، کله چي يې د جنګ اعلان واورېدی نو بې له غسله په جنګ کي شريک سو او شهيد سو، نبي ﷺ وفرمايل: چي همدا سبب دی (چي فرشتو غسل ورکړی)، نو له دې څخه هم معلومه سوه چي جنب شهيد ته به غسل ورکول کيږي، لېکن دا غسل به د جنابت غسل وي، د مرګ غسل به نه وي.

وعلى هذا الخلاف الخ فرمايي چي همدغه اختلاف په حائضې او نفاسې کي دی، يعني که د ښځي د حيض يا نفاس ويني ودرېدلې او تر اوسه يې غسل کړی نه وو چي په دغه حالت کي شهيده سوه، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به غسل ورکول کيږي، ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خو شهادت د غسل له وجوب څخه مانع دی، لېکن رافع د غسل نه دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به غسل نه ورکول کيږي، ځکه چي اول غسل خو د مرګ په وجه ساقط سو، او دويم غسل د شهادت په وجه واجب نه سو.

وكذا قبل الانقطاع الخ فرمايي او د يوه روايت مطابق که ښځه د وينو تر درېدلو مخکي شهيده سوه، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به غسل نه ورکول کيږي، ځکه د وينو تر درېدلو مخکي پر هغې بالکل غسل واجب نه سو، او د دويم روايت مطابق به غسل ورکول کيږي، همدا صحيح روايت دی، ځکه چي د مرګ په وجه د وينو درېدل (انقطاع) حاصل سو، او بهېدونکي ويني د انقطاع په وخت کي غسل واجبوي.

وعلى الخلاف الصبي الخ فرمايي: که کوچنی شهيد سو، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به غسل ورکول کيږي، او د صاحبينو په نېز به غسل نه ورکول کيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي له شهيد څخه د غسل ساقطېدل په دې وجه دي چي د هغه د مظلوميت اثر پاته سي، مطلب دا چي شهيد ته د هغه د کرامت او عزت په وجه غسل نه ورکول کيږي، او د کوچني مظلوميت زيات دی، نو ځکه به کوچنی هم د دې کرامت زيات حقداره وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د اُحُد د شهيدانو په حق کي توري د غسل پر ځای کفايت وکړی، ځکه چي توره ګناهونه محوه کوي، يعني د اُحُد شهيدانو ته په دې وجه غسل نه ورکول سو چي په توره (او داسي نورو) سره د هغو ګناهونه پاک کړی سول، او څرنګه چي پر کوچني هيڅ ګناه نسته، نو کوچنی به د اُحُد د شهيدانو په معنیٰ او درجه کي نه وي، او کله چي د اُحُد د شهيدانو په معنیٰ کي نه سو، نو د اُحُد د شهيدانو په بول به له کوچني څخه غسل نه ساقطيږي، بلکي کوچني ته به غسل ورکول کيږي.

راجح قول: په پورتني قول کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة عبد الله داماد آفندی رَحِمَهُ الله: وكذا قبل الانقطاع في الأصح (مجمع الأنهر ج ١، ص ١٨٩). [القول الراجح، ج ١، ص ١٥٨]

د شهید د وینو، کالو او نورو شیانو حکم

وَلَا يُغَسَّلُ عَنِ الشَّهِيدِ دَمُهُ او د شهید له بدن څخه به نه خپلې وینې پرېولل کیږي وَلَا يُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ او نه به له هغه څخه خپل کالي (جامې) کښل کیږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَيُنْزَعُ عَنْهُ (لېکن) له هغه څخه به کښل کیږي اَلْفَرْوُ وَالْحَشْوُ پوستین او زیاتي جامې وَالسِّلَاحُ وَالْخُفُّ وسله او موزې لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ جِنْسِ الْكَفَنِ ځکه چې دا شیان د کفن له جنس څخه نه دي وَيَزِيدُونَ وَيَنْقُصُونَ مَا شَاءُوْا إِتْمَامًا لِلْكَفَنِ او د کفن د پوره کولو لپاره چې خلک څومره وغواړي کمي او زیاتوب کولای سي (د مثال په توګه د کفن کپړې له درو څخه کمي وي نو تر درویې زیاتولای سي، یا مثلاً له درو څخه زیاتي وي نو کمولای یې سي)

اللغات: ﴿فرو﴾ پوستین، د کوټ په څیر له وړین پوست څخه جوړې سوي جامې، ﴿حشو﴾ له ضرورت څخه زیاتي جامې، او بعضو ویلي دي: له پمبه وو څخه ډکې جامې.

تشریح: مسئله: دا ده که د شهید پر بدن له څرمن څخه جوړې جامې، پوستین، یا نورې زیاتي جامې وي، یا له پمبه وو څخه ډک یو شی وو، یا وسله، موزه او داسې نور زیات شیان ول، نو هغه دې څني لیرې کړی سي، دا د احنافو مذهب دی، امام شافعي رَحِمَهُ الله وایي چې د شهید له بدن څخه به هیڅ شی نه لیرې کیږي.

د امام شافعي دلیل: د نبي ﷺ دا قول دی: زملوهم...الخ. (یعني شهیدان په خپلو جامو کي ونغاړئ او پټ یې کړئ)، په دې حدیث کي هیڅ تفصیل نسته چې په کومه جامه کي دي پټ کړی سي، او کومه جامه دې څني لیرې کړی سي، نو د حدیث د اطلاق تقاضا دا ده چې هیڅ جامه او کپړه به هم د شهید له بدن څخه نه لیرې کیږي.

زموږ دلیل: د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حدیث دی: قال امر رسول الله ﷺ بقتلی أحد أن ينزع عنهم الحديد والجلود و أن يدفنوا بدمائهم وثيابهم (یعني رسول الله ﷺ د أحد د شهیدانو په باره کي حکم وکړی چې له هغوی څخه دي اوسپنه او پوستینونه جلا کړی سي، او د خپلو وینو او جامو سره دي پټ کړی سي)، په ښکاره دا دواړه حدیثونه سره متعارض دي، نو ځکه موږ دواړه پرېښودو د قیاس و طرف ته رجوع کوو، او قیاس دا دی چې پوستین او نور دي څني لیرې کړی سي، ځکه چې دا شیان د کفن له جنس څخه نه دي.

ویزیدون الخ د شهید پر بدن که له سنت شمېر څخه کمي جامې وي، نو د خلکو لپاره دا اجازه سته چې هغه زیاتي کړي او د سنت شمېر سره یې برابرې کړي او که له سنت شمېر څخه زیاتي وي، نو دا اجازه ورته سته چې کمي یې کړي.

د ارتثاث تعریف او د یو څو نورو صورتونو بیان

وَمَنْ أُرْتُثَّ غُسِّلَ او څوک چې فایده واخلي نو هغه ته به غسل ورکول کیږي (یعني چې له دنیاوي ژوند څخه فایده واخلي د مثال په توګه تر زخمي کېدلو وروسته په دنیا کي لږ څه ژوندی پاته سي نو غسل به ورکول کیږي) وَهُوَ مَنْ صَارَ خَلَقًا فِي حُكْمِ الشَّهَادَةِ او فایده اخیستونکی هغه سړی دی چې د شهادت په حکم کي زوړ سي لِيَنَالَ مَرَافِقَ الْحَيَاةِ د ژوند د ګټو (منافعو) د حاصلولو په وجه لِأَنَّ بِذٰلِكَ يَخِفُّ أَثَرُ الظُّلْمِ ځکه چې په دې سره د ظلم اثر سپکیږي فَلَمْ يَكُنْ فِي مَعْنٰى شُهَدَاءِ أُحُدٍ

لهذا هغه به د اُحُد د شهيدانو په درجه کي نه وي وَالْاِرْتِثَاثُ: اَنْ يَّاْكُلَ اَوْ يَشْرَبَ اَوْ يَنَامَ او فايده اخيستل دا دي: چي زخمي سړی خوراک او څښاک وکړي يا بيده سي اَوْ يُدَاوٰى اَوْ يُنْقَلَ مِنَ الْمَعْرَكَةِ يا د هغه علاج وسي يا د جنګ له ډګر څخه (بل ځای ته) نقل کړی سي لِاَنَّهٗ نَالَ بَعْضَ مَرَافِقِ الْحَيَاةِ ځکه چي هغه د ژوند بعضي آسانتياوي حاصلي کړي وَشُهَدَاءُ اُحُدٍ مَاتُوْا عِطَاشًا او د اُحُد شهيدان خو تږي مړه سول وَالْكَاْسُ تُدَارُ عَلَيْهِمْ حال دا چي پر هغوی د اوبو پياله ګرځېدله فَلَمْ يَقْبَلُوْا خَوْفًا مِنْ نُقْصَانِ الشَّهَادَةِ لېکن په شهادت کي د نقصان د بيري په وجه هغوی اوبه نه قبلولې اِلَّا اِذَا حُمِلَ مِنْ مَصْرَعِهٖ لېکن که هغه سړی د زخمي کېدلو له ځای څخه (په دې وجه) را پورته کړی سي (او راوستل سي) كَيْ لَا تَطَاَهُ الْخُيُوْلُ چي اسان يې تر پښو لاندي نه کړي (نو غسل به نه ورکول کيږي) لِاَنَّهٗ مَا نَالَ شَيْئًا مِنَ الرَّاحَةِ ځکه چي هغه هيڅ راحت (هم) حاصل نه کړی وَلَوْ آوَاهُ فُسْطَاطٌ اَوْ خَيْمَةٌ او که هغه ته يوې غټې خېمې يا کوچنۍ خېمې پناه ورکړه (يعني ځای يې ورکړی) كَانَ مُرْتَثًّا لِمَا بَيَّنَّا نو هغه به مرتث (يعني له دنيوي ژوند څخه ګټه اخيستونکی) وي د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَوْ بَقِيَ حَيًّا حَتّٰى مَضٰى وَقْتُ صَلَاةٍ او که هغه سړی ژوندی پاته سو تر دې چي د يوه لمانځه وخت تېر سو وَهُوَ يَعْقِلُ فَهُوَ مُرْتَثٌّ او هغه پوهېدی (يعني په هوښ کي وو) نو (هم) هغه مرتث دی لِاَنَّ تِلْكَ الصَّلَاةَ صَارَتْ دَيْنًا فِيْ ذِمَّتِهٖ ځکه چي دا لمونځ د هغه پر ذمه قرض پاته سو وَهُوَ مِنْ اَحْكَامِ الْاَحْيَاءِ او دا د ژوندلو له احکامو څخه دي قَالَ: وَهٰذَا مَرْوِيٌّ عَنْ اَبِيْ يُوْسُفَ صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا حکم له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوی دی وَلَوْ اَوْصٰى بِشَيْءٍ مِنْ اُمُوْرِ الْاٰخِرَةِ او که دې سړي د آخرت له امورو څخه يې د يو شي وصيت وکړی كَانَ اِرْتِثَاثًا عِنْدَ اَبِيْ يُوْسُفَ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دا (هم) ارتثاث دی لِاَنَّهٗ اِرْتِفَاقٌ ځکه چي دا هم راحت حاصلول دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ● لَا يَكُوْنُ لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز ارتثاث نه دی لِاَنَّهٗ مِنْ اَحْكَامِ الْاَمْوَاتِ ځکه چي دا د مړو له احکامو څخه دي.

اللغات: ﴿اُرْتُثَّ﴾ د افتعال د باب ماضي مجهوله ده، اصطلاحي معنیٰ يې ده: دنياوي ګټه حاصلول، له دنياوي آسانتياوو څخه فايده اخيستل، ﴿لَحْلَق﴾ په فتحه د لام سره دی: زوړ، پخوانی، ﴿نَيْل﴾ د فتح د باب مصدر دی: حاصلول، تر لاسه کول، ﴿مَرَافِق﴾ ګټي، آسانتياوي، ﴿عِطَاش﴾ جمع ده، واحد يې: عَطْشَان دی: تږی، ﴿مَصْرَع﴾ د تښتېدلو ځای (له دې څخه مراد د جنګ په ډګر کي د انسان د زخمي کېدلو ځای دی)، ﴿وَطْاء﴾ تر پښو لاندي کول، پايماله کول، ﴿خُيُوْل﴾ جمع د خَيْل ده: آس، ﴿اِيْوَاء﴾ ځای ورکول، پناه ورکول، ﴿فُسْطَاط﴾ غټه خېمه، مرکزي خېمه. ﴿كَاْس﴾ ګلاس، پياله (د اوبو د څښلو لوښی).

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله كذا فى فتح القدير ج:۲، ص:۱۰۹. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۵۹]

تشريح: ارتثاث د افتعال د باب مصدر دی، اصلي او لغوي معنیٰ يې ده: زړېدل (پخواني کېدل)، دلته د ارتثاث مطلب دا دی چي هغه سړی کوم چي د جنګ په ميدان کي زخمي سي، لېکن فوراً مړ نه سي، بلکي د زخم تر لګېدلو وروسته هغه تر يو څو ورځو يا يو څو ساعتونو (ګېنټو) پوري ژوندی پاته سي، او لږ څه ژوند وکړي، تر هغه وروسته مړ سي، نو اوس د هغه حکم دا دی چي غسل به ورکول کېږي، ځکه چي د زخم تر لګېدلو وروسته په هغه کي لږ څه ژوند پاته وو، نو په دې وجه د هغه د ظلم اثر سپک سو، او د هغه په مظلوميت کي سپکوالی راغلی، نو ځکه به د اُحُد د شهيدانو په معنیٰ کي نه وي، ځکه چي هغوی ټوله د جنګ په ميدان کي شهيدان سول (او له دنياوي شيانو څخه يې هيڅ راحت حاصل نه کړی)، نو کله چي دا سړی د اُحُد د شهيدانو په معنیٰ کي نه سو، نو ښکاره ده چي تر مرګ وروسته به هغه ته غسل هم ورکول کېږي، ځکه چي غسل نه ورکول د اُحُد د شهيدانو او د ومن في معناهم سره خاص دي.

والارتثاث الخ صاحب د قلوري وايي چي ارتثاث دا دی چي زخمي مجاهد تر مړه کېدلو مخکي څه وخوري يا وڅيښي، يا بيده سي، يا يې علاج او درملنه وسي، يا د جنګ له ډګر څخه د راحت لپاره رانقل کړی سي، نو دې ټولو ته ارتثاث ويل کېږي، ځکه چي په دې صورتونو کي هغه له ژوند څخه يو څه منافعي حاصلي کړې (او د ژوند څه فائدې يې وکارولې)، لېکن دا چي د اُحُد د شهيدانو حال دا وو چي هغوی ته اوبه وړاندي سوې، لېکن د شهادت په مرتبه کي د نقصان راتللو د بيري په وجه هغوی اوبه قبولي نه کړې، او همدغسي د تندي په حالت کي مړه سول.

إلا إذا حمل الخ فرمايي که يو مجاهد تر زخمي کېدلو وروسته په دې انديښنه له مقتل او د جنګ له ډګر څخه نقل کړی سو چي اسونه يې تر پښو لاندي نه کړي، او بل ځای يې خوراک او څښاک هم نه وکړی، نو دا به ارتثاث نه وي، ځکه چي دې سړي هيڅ ډول راحت حاصل نه کړی، نو ځکه به هغه شهيد وي ويدفن بلا غسل.

ولو آواه الخ فرمايي که تر زخم لګېدلو وروسته مجاهد ته په يوه خېمه کي پناه ورکړل سوه، يا له عامو خېمو څخه په يوه خېمه کي پناه ورکړل سوه، نو په دې صورت کي به هغه مرتث وي، ځکه چي په دې صورت کي هم هغه د ژوند څه آرام حاصل کړی.

وبقي حياً الخ که مجاهد تر زخم لګېدلو وروسته ژوندی پاته سو او پر هغه د يوه لمانځه وخت تېر سو، او په دې دوران کي په هوښ کي هم وو، نو هغه به هم مرتث وي، ځکه چي د يوه لمانځه وخت د هوښ او حواسو په وخت کي تېرول د دې خبري دليل دی چي هغه لمونځ د ده پر ذمه قرض سو، او يو شی پر غاړه او ذمه قرض کېدل له دنياوي احکامو څخه دي، نو ځکه به هغه مرتث وي، لېکن که په دې دوران کي هغه بې هوښه وو او بيا مړ سو، نو هغه به مرتث نه شمارل کېږي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله وايي چي دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت دی.

ولو أوصى الخ فرمايي که زخمي سړي له اُخروي مسئلو او معاملو څخه د يوې مسئلې يا معاملې په باره کي وصيت وکړی، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دا سړی هم مرتث دی، ځکه د ثواب حاصلول هم راحت دي، يعني دې سړي اُخروي راحت حاصل کړی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دا سړی مرتث نه دی، ځکه چي دا د دنياوي معاملو وصيت نه دی، بلکي د اُخروي معاملو وصيت دی، نو ځکه به دې سړي ته غسل نه ورکول کېږي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وإن أوصى بأمور الآخرة لا يصير مرتثا عند محمد رَحِمَهُ الله وهو الأصح (الدر المختار ج۱، ص۶۲۲). [القول الراجح، ج۱، ص۱۵۹]

په ښار کي د پيدا سوي لاش حکم

وَمَنْ وُجِدَ قَتِيْلاً فِي الْمِصْرِ او څوک چي په ښار کي قتل کړی سوی پيدا سي غُسِّلَ نو هغه ته به غسل ورکول کيږي لِأَنَّ الْوَاجِبَ فِيْهِ الْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ ځکه چي په هغه کي قسامت او ديت واجب دی فَخَفَّ أَثَرُ الظُّلْمِ نو د ظلم اثر سپک سو (يعني ديت او قسامت د ظلم اثر سپکوي) إِلَّا إِذَا عُلِمَ أَنَّهُ قُتِلَ بِحَدِيْدَةٍ ظُلْمًا لېکن که دا معلومه سي چي دا سړی په اوسپني سره په ظلم قتل سوی دی (نو غسل به نه ورکول کيږي) لِأَنَّ الْوَاجِبَ فِيْهِ الْقِصَاصُ ځکه چي په دې کي قصاص واجب دی وَهُوَ عُقُوْبَةٌ او قصاص سزا ده وَالْقَاتِلُ لَا يَتَخَلَّصُ عَنْهَا ظَاهِرًا او په ښکاره قاتل له سزا څخه نه سي خلاصېدلای إِمَّا فِي الدُّنْيَا وَإِمَّا فِي الْعُقْبٰى يا په دنيا کي (به هغه ته سزا ورکول کيږي) يا په آخرت کي وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ: مَا لَا يَلْبَثُ بِمَنْزِلَةِ السَّيْفِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز چي کوم شی ځنډ نه کوي هغه د توري په درجه کي دی (يعني په کوم شي سره چي انسان سمدستي مري هغه د توري په ډول دی) وَيُعْرَفُ فِي الْجِنَايَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او (دا) مسئله به انشاء الله په باب الجنايات کي (تاته) معلومه سي.

اللغات: ﴿حديدة﴾ تېره اوسپنه لکه خنجر، تېره چاړه او داسي نور، ﴿عقوبة﴾ سزا، عذاب، ﴿عقبٰی﴾ آخرت، تر مرګ وروسته جهان، ﴿ما لا يلبث﴾ هغه شی چي ځنډ نه کوي، يعني وخت نه اخلي (بلکي فوراً انسان مړ کوي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی په ښار کي قتل سوی پيدا سو، او د قاتل معلومات يې نه وو، او دا هم معلومه نه وه چي دا څرنګه مړ سوی دی، نو هغه شهيد نه دی، بلکي هغه ته به د عامو مړو په ډول غسل ورکول کيږي، او د کفن او پټولو بندوبست به يې کيږي، ځکه چي په دې صورت کي د مقتول پر وليانو قسامت واجب دی، د قسامت مطلب دا دی چي په کومه محله او علاقه کي چي د مړي لاش پيدا سوی وي، د مقتول وليان به د هغې علاقې د خلکو په خلاف د قتل کولو قسم وخوري، او د هغوی د قسم په نتيجه کي به پر دغه علاقې والا ديت واجب سي، او څرنګه چي په ديت کي د ظلم تخفيف راځي، نو ځکه به دا سړی د اُحُد د شهيدانو په درجه کي نه وي، او غسل به ورکول کيږي.

إلا إذا علم الخ فرمايي که دا معلومه سوه چي دا سړی په تېره اوسپنه قتل سوی دی، او په ناحقه قتل سوی دی، يعني په قصاص يا رجم کي قتل سوی نه دی، نو اوس به هغه ته د شهيد درجه حاصله وي، ځکه د ظلماً او ناحقه قتل په وجه به د هغه پر قاتل يا د قاتل پر وليانو قصاص واجب وي، او قصاص يو ډول سزا ده، چي په هغه سره په مظلوميت کي تخفيف نه راځي، ځکه په مظلوميت کي په ديت او عوض سره تخفيف راځي، او دلته پر قاتل ديت نسته، بلکي قصاص پر واجب دی، ځکه چي قاتل ته به يو ځای سزا ورکول کيږي، يا به په دنيا کي نيول کيږي، نو هم به قصاص پر واجب وي، يا به په آخرت کي نيول کيږي، نو هم به دغه سزا ورکول کيږي، لنډه دا چي کله په پورتنۍ مسئله کي پر قاتل قصاص واجب دی، او قصاص سزاء ده، نو په دې سره به د مقتول په مظلوميت کي هيڅ تخفيف نه راځي، او هغه مقتول ته به شهيد ويل کيږي، نو بيا به غسله به پټيږي، لأنه في زمرة شهداء أحد.

وعند أبي يوسف الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: کوم شی چې د قتل په باره کې ځنډ نه کوي بلکې بې له ځنډه انسان وژني هغه هم د توري په حکم دی، يعني که په ښار کې يو څوک قتل سوی پيدا سو، او د هغه قاتل هم معلوم وو، او دا هم معلومه وه چې له تېره اوسپني څخه علاوه په يو بل شي مثلاً په درنه ډبره وژل سوی دی، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به پر قاتل قصاص واجب وي، او څرنګه چې دا سړی په ظلم قتل سوی دی، نو ځکه به د شهيد کېدلو په وجه غسل هم نه ورکول کيږي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز له تېره اوسپني څخه علاوه په يو بل شي سره د قتل کېدلو په صورت کې قصاص نه واجبيږي، لنډه دا چې د قصاص د وجوب لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په تېره اوسپني سره قتل کېدل شرط دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز شرط نه دي، ددې مسئلې د پوره تفصيل لپاره كتاب الجنايات وګورئ.

په حد او قصاص کې د قتل سوي انسان د غسل او جنازې حکم

وَمَنْ قُتِلَ فِيْ حَدٍّ أَوْ قِصَاصٍ او څوک چې په يو حد يا يو قصاص کې قتل کړی سو غُسِّلَ وَصُلِّيَ عَلَيْهِ نو هغه ته دې غسل ورکول سي او پر هغه دې د جنازې لمونځ وکړی سي لِأَنَّهُ بَاذِلٌ نَفْسَهُ ځکه چې هغه د خپل ځان خرڅونکی دی (يعني خپل ځان يې قربان کړی) لِإِيْفَاءِ حَقٍّ مُسْتَحَقٍّ عَلَيْهِ د هغه حق د پوره کولو لپاره کوم حق چې د يو مستحق پر هغه باندې وو (يا مطلب دا چې د هغه حق د پوره کولو لپاره کوم چې پر هغه ثابت وو) وَشُهَدَاءُ أُحُدٍ بَذَلُوْا أَنْفُسَهُمْ لِابْتِغَاءِ مَرْضَاةِ اللهِ تَعَالٰى او د اُحُد شهيدانو د الله د رضا د حاصلولو لپاره خپل ځانونه قرباني کړل فَلَا يَلْحَقُ بِهِمْ نو ځکه به دا سړی د هغو سره نه ملحق کيږي (يعني د هغو په درجه کې به نه وي) وَمَنْ قُتِلَ مِنَ الْبُغَاةِ أَوْ قُطَّاعِ الطَّرِيْقِ او که له باغيانو (ياغيانو) يا ډاکوګانو څخه يو څوک قتل کړی سو لَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ نو پر هغه به د جنازې لمونځ نه کيږي لِأَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَمْ يُصَلِّ عَلَى الْبُغَاةِ ځکه حضرت علي ﷺ پر باغيانو د جنازې لمونځ نه وکړی.

اللغات: ﴿باذل﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی: خرڅونکی (قربانونکی)، ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب اسم مصدر دی: اداء کول، ﴿بغاة﴾ جمع ده، واحد يې بَاغِي: د اسلامي حکومت په خلاف بغاوت کونکی.

تشريح: که يو سړی په حد يا قصا کې قتل کړی سو، نو هغه ته به غسل هم ورکول کيږي، او د جنازې لمونځ به هم پر کيږي، ځکه چې هغه د واجب حق د اداء کولو لپاره ځان قرباني کړی، او د اُحُد شهيدانو فقط د الله د رضا د حاصلولو لپاره ځان قرباني کړی وو، نو ځکه به په حد يا قصاص کې قتل کېدونکي خلک د اُحُد د شهيدانو په درجه کې نه وي، همدارنګه روايت دی چې حضرت ماعز رَحِمَهُ الله سنګسار کړی سو، نو د هغه اکا د نبي ﷺ په خدمت کې حاضر سو او داسې يې ووېل: قتل ماعز كما يقتل الكلاب فما ذا تأمرني أن اصنع به. (اې د الله رسوله! ماعز د سپيانو په ډول قتل کړی سو، ته وفرمايه! زه اوس په هغه څه وکړم)، رسول الله ﷺ وفرمايل: لا تقل هذا، فقد تاب توبة لو قسمت توبته على أهل الأرض لوسعتهم اذهب وغسله وصل عليه. (داسې مه وايه! هغه داسې توبه وکړه چې که پر ټوله مځکې والا تقسيم کړی سي، نو د ټولو لپاره به کافي سي، ولاړ سه، هغه ته غسل ورکړه او لمونځ پر وکړه. كفايه).

ومن قتل من البغاة الخ او كه يو باغي يا ډاكو قتل كړى سو، نو زموږ په نيز به د هغه د جنازې لمونځ نه كيږي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله وايي چي د هغه د جنازې لمونځ به كيږي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دى چي باغي او ډاكو مؤمن دى، او د واجب حق په وجه قتل كړى سوى دى، نو دا د هغه سړي په ډول سو چي په رجم يا قصاص كي قتل كړى سوى وي، او مخكي تېر سوه چي پر رجم او قصاص والا به د جنازې لمونځ كيږي، نو ځكه به پر باغي او ډاكو هم د جنازې لمونځ كيږي. زموږ دليل دا دى چي حضرت علي ﷺ خوارجو ته نه غسل وركړى، او نه يې پر هغو د جنازې لمونځ وكړى، حال دا چي خوارج باغيان دي، حضرت علي ﷺ ته وويل سوه؟ آيا خوارج كافران دي؟ نو حضرت علي ﷺ وفرمايل: لا ولكنهم اخواننا بغوا علينا، (نه! ليكن هغوى زموږ ورونه دي، خو زموږ څخه يې بغاوت كړى دى). له دې څخه معلوميږي چي باغيانو او ډاكوګانو ته غسل نه وركول او پر هغو لمونځ نه كول د هغو د سزا لپاره دي او نورو خلګو ته د تنبيه وركولو لپاره دي، لكه څرنګه چي د ډاكوګانو په باره كي دا خبره هم سته چي تر دريو ورځو پوري به په دار (پهانسي) راځړيږي، ښكاره خبره چي درې ورځي پر ښوول د هغه لپاره سزا ده، او د نورو لپاره تنبيه ده. والله أعلم

بَابُ الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ

(دا) باب په كعبه كي دننه د لمونځ كولو (په بيان كي) دى

تشريح: مخكي موږ وويل چي صاحب د كتاب د بركت او تيمّن لپاره دا باب كتاب الصلٰوة په آخر كي بيانوي، چي د كتاب الصلٰوة اختتام پر يو بركتمن شي وسي، او تر باب الجنائز وروسته د دې باب د بيانولو وجه دا ده چي څرنګه په قبر كي تر داخليدلو وروسته قبر د مړي ضامن وي، همدارنګه په بيتُ الله كي د داخليدونكي سړي لپاره بيتُ الله ضامنه وي، د الله تعالىٰ فرمان دى: وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا.

د كعبې وجه د تسميې: صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله ليكلي دي چي كعبې ته ځكه كعبه ويل كيږي چي هغه څلور كونجه ده، او عرب د څلور كونجه شي لپاره د مكعب لفظ استعمالوي.

په كعبه كي دننه د لمانځه بيان

الصَّلَاةُ فِي الْكَعْبَةِ جَائِزَةٌ په كعبه كي دننه لمونځ جائز دى فَرْضُهَا وَنَفْلُهَا فرضي او نفلي لمونځونه (دواړه) خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فِيهِمَا د امام شافعي رَحِمَهُ الله په دواړو كي اختلاف دى وَلِمَالِكٍ فِي الْفَرْضِ او د امام مالك رَحِمَهُ الله په فرضي لمانځه كي اختلاف دى لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] صَلَّى فِي جَوْفِ الْكَعْبَةِ يَوْمَ الْفَتْحِ ځكه نبي ﷺ د مكې د فتحې په ورځ د كعبې په نس (مينځ) كي لمونځ وكړى وَلِأَنَّهَا صَلَاةٌ اسْتَجْمَعَتْ شَرَائِطَهَا لِوُجُودِ اسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ او په دې وجه

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلاة، باب الصلاة بين السواري في غير جماعة، حديث رقم: ٥٠.

(هم) چي هغه داسې لمونځ دی چي په هغه کي د قبلې پر طرف د مخ کولو په وجه د لمانځه ټوله شرطونه جمع دي لِأَنَّ اسْتِيعَابَهَا لَيْسَ بِشَرْطٍ ځکه چي د ټولي قبلې و طرف ته مخ کول (او ټوله قبله کښېباسل) شرط نه دي.

اللغات: ﴿جَوْف﴾ خالي ځای، نس، دننی حصه. ﴿اِسْتَجْمَعَتْ﴾ د استفعال د باب ماضي معلومه ده: پوره کېدل، جمع کېدل. ﴿اِسْتِيعَاب﴾ د استفعال د باب مصدر دی: يو شی په پوره توګه نيول (کښېباسل).

تشريح: زموږ په نېز په کعبه کي دننه فرضي او نفلي لمونځونه دواړه جائز دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دواړه ناجائز دي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز خو نفلي لمونځ جائز دی، لېکن فرضي لمونځ جائز نه دی، صاحب د نهايې ليکلي دي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله ته د دې خبري نسبت کول چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرضي او نفلي لمونځ دواړه ناجائز دي، د کاتب سهوه ده، ځکه شوافعو په خپلو کتابونو کي ليکلي چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي، ناجائز نه دي، په اصل کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز هغه وخت په کعبه کي دننه لمونځ جائز نه دی، چي لمونځ کونکی دننه د دروازې پر طرف مخ کړي او مخ ته ستره نه وي، همدارنګه د کعبې د دروازې يا د دېوال يوه حصه د لمونځ کونکي مخ ته نه وي، نو په دې صورت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د لمونځ کونکي نه فرضي لمونځ صحيح دی، او نه نفلي لمونځ، او که د کعبې دروازه بنده وه، يا د هغه مخ ته د دروازې يا دېوال څه حصه مخ ته راتله يا يې مخ ته ستره وه نو جائز دی.

د امام مالک دليل: دا دی چي کوم سړی په کعبه کي لمونځ کوي، هغه د قبلې يوې حصې ته مخ (استقبال) کوي، او بلې حصې ته يې شا (استدبار) کوي، نو د لمانځه په حالت کي د استقبال تقاضا خو دا ده چي لمونځ دې صحيح وي، او د استدبار تقاضا دا ده چي لمونځ دې فاسد وي، نو د فساد اړخ ته احتياطاً ترجيح ورکول سوه، د قياس تقاضا په نفلي لمونځ کي هم دغه وه، چي نفل دي هم په کعبه کي دننه ناجائز وي، لېکن څرنګه چي د نفلو په باره کي اثر راغلی دی، نو ځکه به په نفلو کي قياس پرېښوول کېږي، همدارنګه د نفلو مدار پر نرمي او اسانتيا دی، لکه څرنګه چي پر ولاړي د قدرت سره هم په ناستې نفل کول جائز دي، او څرنګه چي فرض د نفلو په معنیٰ کي نه دي، نو ځکه به فرض د نفلو سره لاحقول جائز نه وي.

زموږ دليل: دا دی چي د مکې د فتح کېدلو په ورځ نبي ﷺ په کعبه کي دننه دوه رکعته نفلي لمونځ اداء کړی، د روايت الفاظ دا دي: عن ابن عمر أن النبي ﷺ دخل الكعبة هو واسامة وبلال وعثمان بن طلحه واغلقها عليه ثم مكث فيها قال ابن عمر فسألت بلال حين خرج ما صنع رسول الله ﷺ قال جعل عمودين عن يساره وعموداً عن يمينه وثلاثة اعمدة وراءه ثم صلى وكان البيت يومئذ على ستة أعمدة وكان هذا يوم الفتح. (ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي چي رسول الله ﷺ، او اسامه، بلال او عثمان بن طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُم کعبې ته ورننه سول، او دروازه يې په ځان پسي بنده کړل، بيا يې يو څه وخت هلته تېر کړی، ابن عمر وايي چي کله بلال له کعبې څخه راووتی نو ما پوښتنه څني وکړه چي رسول الله ﷺ څه وکړه؟ بلال ورېل چي د کعبې دوې ستنې [پيلران] نبي ﷺ خپل چپه طرف ته کړله، يوه يې راسته طرف ته کړله او درې يې شا ته کړې بيا يې لمونځ وکړی، په هغه زمانه کي په کعبه کي شپږ ستني وې، او دا د مکې د فتحي ورځ وه)، نو که په کعبه کي دننه لمونځ ناجائز وای، نو نبي ﷺ به هيڅکله په کعبه کي دننه لمونځ کړی نه وای، او که ته ووايې چي هغه خو نفلي لمونځ وو، نو موږ جواب ورکوو چي د جواز کوم شرطونه چي د نفلي لمانځه دي هغه د فرضي لمانځه هم دي، نو ځکه به فرض هم د نفلو په معنیٰ وي، او کله چي فرض د نفلو په معنیٰ سو، نو د نفلو په شان به فرض هم په کعبه کي

دننه جائز وي، دويم دليل دا دی چي کوم لمونځ په کعبه کي دننه وسي، په هغه کي د لمانځه ټوله شرطونه سته، تر دې چي په هغه کي قبلې ته مخ کول (يعني استقبال قبله) هم سته، ځکه چي د ټولي قبلې استيعاب شرط نه دي (يعني ټولو دېوالو ته مخ کول شرط نه دي، او امکان هم نه لري، لکه دېاندي چي هم دا شرط نه دي).

په کعبه کي په جماعت سره د لمانځه بيان

فَإِنْ صَلَّى الْإِمَامُ بِجَمَاعَةٍ فِيهَا بيا که امام په کعبه کي دننه په جماعت سره لمونځ وکړي فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ ظَهْرَهُ إِلَى ظَهْرِ الْإِمَامِ او يوه مقتدي خپله شا(ملا) د امام د شا وطرف ته کړه جَازَ نو (لمونځ يې) جائز دی لِأَنَّهُ مُتَوَجِّهٌ إِلَى الْقِبْلَةِ ځکه چي هغه د قبلې وطرف ته متوجه دي وَلَا يَعْتَقِدُ إِمَامَهُ عَلَى الْخَطَأِ او هغه خپل امام پر غلطۍ هم نه ګڼي بِخِلَافِ مَسْأَلَةِ التَّحَرِّي په خلاف د تحري له مسئلې څخه وَمَنْ جَعَلَ مِنْهُمْ ظَهْرَهُ إِلَى وَجْهِ الْإِمَامِ او که له مقتديانو څخه چا خپله شا د امام د مخ وطرف ته کړه لَمْ تَجُزْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ جائز نه دی لِتَقَدُّمِهِ عَلَى إِمَامِهِ له خپله امام څخه د مخکي کېدلو په وجه (يعني په دې وجه چي له خپل امام څخه مخکي سو).

اللغات: ﴿ظهر﴾ شا، ملا. ﴿تحري﴾ د تفعّل مصدر دی: غور او فکر کول، اجتهاد کول. له يو يقيني دليل څخه بغير کوښښ کول او يو شی اختيارول.

تشريح: په کعبه کي دننه په جماعت سره د لمونځ کولو څلور صورتونه دي: (۱) يو صورت دا دی چي د مقتدي مخ د امام د ملا وطرف ته وي، (۲) د مقتدي مخ د امام د مخ و طرف ته وي، (۳) د مقتدي شا د امام د شا وطرف ته وي، (۴) د مقتدي شا د امام د مخ وطرف ته وي.

اول او دريم صورت خو بې له کراهته جائز دي، او دويم صورت مع الکراهت جائز دی، او څلورم صورت بالکل جائز نه دی، د اول صورت جائز کېدل خو ښکاره دي، او دويم صورت ځکه جائز دی چي په دې صورت کي د امام متابعت سته او تر امام مخته کېدل نسته، او کراهت ځکه سته چي د مقتدي مخ کله د امام د مخ و طرف ته وي، نو دا د هغه سړي سره مشابهت راځي چي عکس يې مخ ته ايښی وي او لمونځ کوي، نو په دې صورت کي د مقتدي او امام په مېنځ کي ستره ايښودل مناسب دي، چي دا مشابهت ختم سي، د دريم صورت د جائز کېدلو وجه صاحب د هدايې دا بيان کړې ده چي مقتدی د قبلې پر طرف هم دی، او خپل امام پر غلطۍ هم نه بولي، او تر خپل امام مخکي هم نه دی، د دې په خلاف د تحري مسئله ده، يعني کله چي په تاريکه شپه کي په جماعت سره لمونځ وسي، او مقتدی د امام د شا ر طرف ته شا کړي، او مقتدی د امام په حالت خبر هم وي، نو د مقتدي لمونځ جائز نه دی، ځکه په دې صورت کي د مقتدي دا عقيده ده چي د هغه امام غلط دی، د څلورم صورت د نه جائز کېدلو وجه ښکاره ده، چي په دې صورت کي به مقتدی له خپل امام څخه مخکي وي او دا بالکل جائز نه دي.

فايده: کوم مقتديان چي د امام راسته يا چپه طرف ته وي، د هغو لمونځ هم جائز دی.

که په مسجدِ حرام کي يو سړی تر امام مخکي سو نو څه حکم دی؟

وَإِذَا صَلَّى الْإِمَامُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ او کله چي امام په مسجدِ حرام کي لمونځ ورکړي فَتَحَلَّقَ النَّاسُ حَوْلَ الْكَعْبَةِ او خلک د کعبې پر شا و خوا حلقه جوړه کړي وَصَلَّوْا بِصَلَاةِ الْإِمَامِ او په امام پسي لمونځ وکړي فَمَنْ كَانَ مِنْهُمْ أَقْرَبَ إِلَى

الْكَعْبَةِ مِنَ الْإِمَامِ نو څوک چې له هغو څخه کعبې ته تر امام زيات نژدې وي جَازَتْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ جائز دی إِذَا لَمْ يَكُنْ فِي جَانِبِ الْإِمَامِ خو چې کله د امام په طرف کې نه وي لِأَنَّ التَّقَدُّمَ وَالتَّأَخُّرَ إِنَّمَا يَظْهَرُ عِنْدَ اِتِّحَادِ الْجَانِبِ ځکه چې مخکې کېدل او شاته کېدل به د طرف د متحد کېدلو په وخت کې ښکاره کېږي.

اللغات: ﴿تحلّق﴾ د تفعل د باب ماضي ده: دائره جوړول، حلقه جوړول، (شا و خوا راګرځېدل). ﴿جانب﴾ دلته له دې څخه مراد د کعبې يو طرف دی.

تشریح: **مسئله:** دا ده که امام په مسجد حرام کې لمونځ ورکوي، او مقتديانو د کعبې شا و خوا حلقه جوړه کړه، يعني پر کعبې يې شا وخوا صفونه جوړ کړل، او د امام په اقتداء کې يې لمونځ شروع کړی، نو په کوم طرف کې چې امام نه وو، که په هغه طرف کې مقتدی کعبې ته د امام په نسبت زيات نژدې سو، نو د هغه لمونځ جائز دی، لېکن په کوم طرف کې چې امام وو، او مقتدی په هغه طرف کې د امام په نسبت کعبې ته زيات نژدې سو، نو د دې مقتدي لمونځ صحيح نه دی، ځکه چې مخکيوالی او شاته والی د طرف د اتحاد (يو والي) په وخت کې ښکاره کيږي، نو د امام په طرف کې چې کوم مقتدی د کعبې د دېوال سره د امام په نسبت زيات نژدې وي، نو هغه به تر خپل امام مخکې وي، او کوم مقتدی چې تر خپل امام مخکې وي، د هغه لمونځ نه جائز کيږي، او په کوم طرف کې چې امام نه وي، په هغه طرف کې مخکيوالی او شاته والی (تقدم او تأخر) نه ثابتيږي، نو ځکه به د هغه طرف د خلکو لمونځونه صحيح وي.

د کعبې پر بام(چت) د لمونځ کولو حکم

وَمَنْ صَلَّى عَلَى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ او څوک چې د کعبې پر شا (يعني پر بام) لمونځ وکړي جَازَتْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ جائز دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ الْكَعْبَةَ هِيَ الْعَرْصَةُ وَالْهَوَاءُ إِلَى عَنَانِ السَّمَاءِ عِنْدَنَا ځکه چې کعبه زموږ په نېز د ميدان او تر آسمانه پورې د خالي فضاء نوم دی دُونَ الْبِنَاءِ د عمارت (ودانۍ) نوم نه دی لِأَنَّهُ يُنْقَلُ ځکه چې هغه نقل کېدای سي أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ صَلَّى عَلَى جَبَلِ أَبِي قُبَيْسٍ آيا ته نه ګورې چې که يو سړی پر جبلِ ابو قبيس لمونځ وکړي جَازَ نو لمونځ يې جائز دی وَلَا بِنَاءَ بَيْنَ يَدَيْهِ حال دا چې د هغه مخ ته د (کعبې) هيڅ عمارت نسته إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ لِمَا فِيهِ مِنْ تَرْكِ التَّعْظِيمِ لېکن د کعبې پر بام لمونځ کول مکروه دي ځکه چې په دې کې د (کعبې د) تعظيم پرېښوول دي وَقَدْ وَرَدَ النَّهْيُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1] او له رسول الله ﷺ څخه د کعبې تعظيم د پرېښوولو په باره کې منع راغلې ده.

اللغات: ﴿ظهر﴾ شا، بام، چت، ﴿عرصة﴾ د کور غولی، خالي ځای، نا تعمير سوی ځای، جمع يې عِراص راځي، او په بعضي شروحو کې فُرْصَة راغلی دی، او د دې معنیٰ هم د عَرصة معنیٰ ته نژدې ده، ﴿عنان﴾ د آسمان کناره، د سترګو تر ديده آسمان، ﴿بناء﴾ عمارت، ودانۍ، تعمير سوی ځای.

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ماجاء في كراهية ما يصلى إليه وفيه حديث رقم: ٣٤٦، وابن ماجه في كتاب المساجد، باب المواضع التي تكره فيها الصلاة، حديث رقم:٧٤٥.

تشريح: زموږ په نيز د کعبې پر بام لمونځ کول جائز دي، که څه هم د لمونځ کونکي و مخ ته سُتره نه وي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د کعبې پر بام لمونځ کول جائز نه دي، هو! که د لمونځ کونکي ومخ ته ستره وي، نو جائز دی، زموږ او د هغه په مينځ کي د اختلاف اصلي بنسټ دا دی چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په لمانځه کي د کعبې د عمارت(بناء) و طرف ته مخ کول ضروري دي.

لأن الكعبة الخ او زموږ دليل دا دی چي کعبه صرف عمارت او څلور کونجه چاردېوالی ته نه ويل کيږي، بلکي د کعبې له ځايه څخه واخله تر آسمانه پوري ټوله فضاء په کعبه او قبله کي شامله ده، نو د کعبې پر بام د لمونځ کونکي مخ هم د قبلې وطرف ته راځي، که څه هم دا مخ کول يې هوائي او فضائي دي، او د کعبې عمارت ته ځکه کعبه نه ويل کيږي، چي عمارت له يوه ځای څخه بل ځای ته نقل کېدای سي، او نړېدای سي، او دا شيان د قبلې او د کعبې له شان څخه مخالف دي، نو ځکه به صرف د عمارت نوم کعبه نه وي، بلکي د کعبې له ودانۍ څخه واخله تر آسمانه پوري به د ټولې فضاء نوم کعبه وي، همدا وجه ده که څوک د ابو قبيس پر غره يا پر يوه بل غره يا پر يو بل جګ ځای ودريږي او لمونځ وکړي، نو هم لمونځ يې جائز دی، حال دا چي د هغه مخ ته د کعبې عمارت نسته، هو! خو د کعبې پر بام لمونځ کول مکروه دي، د مکروه والي وجه يې دا ده چي د کعبې پر بام په ختلو سره د کعبې تعظيم او عزت ختميږي، نو په دې وجه به مکروه وي.

همدارنګه د کعبې پر بام نبي ﷺ له لمونځ کولو څخه منع کړې ده: عن أبي هريرة أنه قال نهى النبي ﷺ عن الصلوة فى سبع مواطن المجزرة والمزبلة والمقبرة والحمام و قوارع الطريق ومعاطن الإبل و فوق ظهر بيت الله تعالى. (نبي کريم ﷺ پر اوو(٧) ځايونو له لمونځ کولو څخه منع کړې ده: ① د څارويانو د حلالو په ځای کي، ② په ډېران(انبار) کي يعني د چټلو شيانو د اچولو په ځای کي، ③ په هديره کي، ④ په حمام کي، يعني د ورېښتيانو د سمولو او د غسل کولو په ځای کي، ⑤ د لاري په مينځ کي، ⑥ د اوښ د تړلو په ځای کي، ⑦ د کعبې پر بام)، له دې حديث څخه ثابته سوه چي د کعبې پر بام له لمونځ کولو څخه منع سوې ده. والله أعلم بالصواب



كِتَابُ الزَّكَاةِ

(دا) کتاب د زکاة (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: صاحب د کتاب تر دې مخکې کتاب الصلاة د خپلو ټولو متعلقاتو سره بیان کړی، او اوس له دې ځایه له ارکان خمسه وو څخه د یو أهم رکن یعني د زکاة مسئلې او تفصیلات بیانوي، ځرنګه چې په قرآن او حدیث کې هم د لمانځه تر احکامو او مسئلو وروسته د زکاة مسئلې او احکام بیان سوي دي، چې تقریباً په اتیا(۸۰) آیتونو کې تر لمانځه وروسته د زکاة ذکر سوی دی، نو ځکه تر کتاب الصلاة وروسته کتاب الزکاة بیانوي.

د زکاة لغوي او اصطلاحي معنیٰ: زکاة د خپل اصل او لغوي معنیٰ په اعتبار سره د څو معناګانو لپاره استعمالیږي:

① کله نا کله د پاکوالي په معنیٰ سره استعمالیږي: لکه: قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى (بې شکه کامیاب دی هغه څوک چې پاکي حاصله کړي). ②کله د زیاتېدلو، نما او ودې په معنیٰ سره استعمالیږي، مثلاً کښت چې کله وده وکړي نو عرب وایي: زَكَا الزَّرْعُ (یعني کښت وده وکړه). ③ او کله دا لفظ د صدقې او خیرات کولو په معنیٰ استعمالیږي لکه: تَزَكَّى الرَّجُلُ، أي تَصَدَّقَ الرَّجُلُ (یعني سړي صدقه وکړه).

اصطلاحي معنیٰ: هی تملیك جزء معین من النصاب الشرعی للفقیر أومن یقوم مقامه. (یعني د شرعي نصاب یوه معلومه حصه فقیر یا د فقیر قائم مقام ته د ملکیت په توګه ورکول).

د زکاة سبب د داسې نصاب مالک کېدل دي چې پر هغه یو کال تېر سوی وي، او هغه مال د انسان له قرض (پور) او نورو اړتیاوو څخه فارغ وي. د زکاة د اداء کولو د وجوب دلیل د الله ﷻ دا قول دی: وَآتُوا الزَّكٰوةَ. (الشامي ج۳، ص۱۷۰-۱۳۷)

د زکاة د وجوب شرطونه او د زکاة د اداء کولو وخت

الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْعَاقِلِ الْبَالِغِ الْمُسْلِمِ زکاة پر آزاد، عاقل، بالغ مسلمان واجب دی إِذَا مَلَكَ نِصَابًا مِلْكًا تَامًّا په دې شرط چې د نصاب پوره مالک وي وَحَالَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ او پر هغه نصاب یو کال تېر سوی وي أَمَّا الْوُجُوبُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى هر چې د زکاة وجوب دی نو هغه د الله تعالیٰ (د دې قول) په وجه دی وَآتُوا الزَّكَاةَ [البقرة: ٤٣] او زکاة ورکړئ وَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● او د نبي ﷺ (د دې) قول په وجه دی أَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ تاسو د خپلو مالونو زکاة اداء کړئ وَعَلَيْهِ إِجْمَاعُ الْأُمَّةِ او د زکاة پر وجوب د امت اجماع (هم) ده وَالْمُرَادُ بِالْوَاجِبِ الْفَرْضُ او (په متن کې) له واجب څخه مراد فرض دي لِأَنَّهُ لَا شُبْهَةَ فِيهِ ځکه چې په دې کې هېڅ شبهه نسته وَاشْتِرَاطُ الْحُرِّيَّةِ لِأَنَّ كَمَالَ الْمِلْكِ بِهَا او د

● تخریج: أخرجه الترمذي في كتاب الجمعة، باب ماذكر في فضل الصلاة، حديث رقم:٦١٦.

آزادي شرط کېدل په دې وجه دي چې پوره ملکيت په آزادۍ سره وي وَالْعَقْلِ وَالْبُلُوْغِ لِمَا نَذْكُرُهُ او د عقل او بلوغ شرط کېدل د هغه دليل په وجه دي چې هغه به موږ بيان کړو وَالْإِسْلَامِ لِأَنَّ الزَّكَاةَ عِبَادَةٌ او مسلمان کېدل ځکه شرط دي چې زکاة يو عبادت دی وَلَا تَتَحَقَّقُ مِنَ الْكَافِرِ او له کافر څخه عبادت نه ثابتيږي وَلَا بُدَّ مِنْ مِلْكِ مِقْدَارِ النِّصَابِ او د نصاب په اندازه ملکيت (په دې وجه) ضروري دی لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● قَدَّرَ السَّبَبَ بِهِ ځکه نبي ﷺ د زکاة سبب په نصاب سره اندازه کړی دی وَلَا بُدَّ مِنَ الْحَوْلِ او د کال تېرېدل (په دې وجه) ضروري دي لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ مُدَّةٍ يَتَحَقَّقُ فِيْهَا النَّمَاءُ ځکه چې دومره موده ضروري ده چې په هغه کې نما(يعني د مال وده او زياتوب) ثابت سي وَقَدَّرَهَا الشَّرْعُ بِالْحَوْلِ او دا موده شريعت په يوه کال تېرېدلو سره اندازه کړې ده لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا زَكَاةَ فِي مَالٍ چې په هيڅ مال کي زکاة واجب نه دی حَتَّى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ تر دې چې پر هغه کال تېر سي وَلِأَنَّهُ الْمُمَكِّنُ بِهِ مِنَ الْاِسْتِنْمَاءِ او ځکه چې دا (کال تېرېدل) قدرت ورکونکي دي (د مال) پر زياتېدلو (مطلب دا چې په کال کي د مال زياتېدل ممکن دي) لِاشْتِمَالِهِ عَلَى الْفُصُوْلِ الْمُخْتَلِفَةِ ځکه چې کال پر بېلابېلو فصلونو(موسمونو) باندې مشتمل وي وَالْغَالِبُ تَفَاوُتُ الْأَسْعَارِ فِيْهَا او غالب دا ده چې په دې فصلونو کي نرخونه مختلف کېږي فَأُدِيْرَ الْحُكْمُ عَلَيْهِ نو ځکه د کال پر تېرېدلو حکم دائر سو (يعني نو ځکه د کال پر تېرېدلو د نصاب د زياتېدلو حکم وسو) ثُمَّ قِيْلَ: هِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْفَوْرِ بيا ويل سوي دي: چې زکاة فوراً(سمدستي) اداء کول واجب دي لِأَنَّهُ مُقْتَضَى مُطْلَقِ الْأَمْرِ ځکه چې د مطلق امر تقاضا همدغه ده وَقِيْلَ: عَلَى التَّرَاخِيْ او ويل سوي دي: چې په تأخير سره اداء کول واجب دی لِأَنَّ جَمِيْعَ الْعُمُرِ وَقْتُ الْأَدَاءِ ځکه ټوله عمر د اداء کولو وخت دی وَلِهٰذَا لَا تُضْمَنُ بِهَلَاكِ النِّصَابِ بَعْدَ التَّفْرِيْطِ همدا وجه ده چې تر بې غورۍ(کوتاهۍ) کولو وروسته د نصاب په هلاکېدلو سره (انسان د هيڅ شي) نه ضامن کېږي.

اللغات: ﴿حول﴾ کال. ﴿الممكّن﴾ قدرت ورکونکی، د قدرت تر لاسه کېدلو ذريعه. ﴿فصول﴾ جمع د فَصْل ده: د کال مختلفه حصې، موسمونه. ﴿أسعار﴾ جمع د سِعْر ده: نرخ، ريټ، بازاري قيمت. ﴿تراخي﴾ ځنډېدل. ﴿تفريط﴾ بې غوري او بې پروايي کول(کوتاهي کول).

تشريح: د زکاة په باره کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله د متن هر لفظ ډېر جامع دی، او د پوره تحقيق او تفصيل تقاضا کوي، تر ټولو مخکي خو تاسو دا خبره په ذهن کي ونيسئ چې زکاة د اسلام له بنيادي فرائضو څخه يوه مهمه فريضه ده، چې اساسي رکنيت ورته حاصل دی، او د دې فريضې د اداء کولو لپاره چې شريعت کوم اوصاف او شرائط لازم کړي دي، د

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب زكاة الورق، حديث رقم: ۱۳۳۷ — ۱۴۵۹.

● تخريج: أخرجه امام مالك في كتاب الزكوٰة، باب الزكوٰة في العين من الذهب والورق ص:۲۷۲، و دار قطني، حديث رقم:۱۸۷۲.

امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن کي د هغو ټولو يادونه سوې ده، چي هغه په اجمالي توګه دا دي: (١) زکاة ورکونکی به آزاد وي (٢) عقلمن به وي (٣) بالغ به وي (٤) مسلمان به وي (٥) د دومره اندازه مال به مالک وي چي هغه نصاب ته رسيږي (٦) پوره ملکيت به وي (٧) پر دې ملکيت به پوره يو کال تېر سوی وي، دا ټوله اووه شرطونه دي، په کوم سړي کي چي دا شرطونه پيدا سي، پر هغه زکاة ورکول لازم او ضروري دي، ځکه قرآن کريم په ښکاره الفاظو سره د "وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ" حکم کړی دی، او په سختي سره يې د زکاة اداء کولو هدايت کړی دی، همدارنګه زموږ ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ هم په پوره عظمت او ارزښت سره د زکاة حکم بيان کړی دی، او په خپل مقدس فرمان "وَ ادوا زكٰوةَ أموالكم" سره يې د زکاة تأکيد کړی دی.

د زکاة د فرض کېدلو دريم دليل اجماع ده، يعني د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر نه پوري تمام اُمت مسلمه د زکاة پر حقانيت او فرضيت متفق او متحد دی، او د اُمت زياتره افراد په پوره ايمانداري او بشپړ اخلاص سره د زکاة فريضه پوره کوي.

والمراد بالواجب الخ فرمايي: په متن کي چي کوم د الزكوٰة واجبة جمله بيان سوه، په هغه کي له واجبة څخه مراد فرض دي، ځکه د زکاة حکم په قرآن، په متواتره حديثونو، او په اجماع ټولو سره ثابت دی، او د زکاة په فرضيت کي هيڅ شک و شبهه نشته، پاته سوه دا خبره چي په متن کي د فرض پر ځای واجب ولي ذکر سو؟، نو يو جواب خو يې دا دی چي د زکاة بعضي مقادير او کيفيات په حديثونو سره ثابت دي، نو ځکه د واجب لفظ استعمال سو (ځکه په حديث سره چي کوم شی ثابت سي هغه واجب وي)، دويم جواب دا دی چي مجازاً د فرض پر ځای د واجب لفظ استعمال سوی دی، ځکه چي له فرض او واجب څخه هر يو د بل پر ځای مجازاً استعمالېدای سي.

په دې باره کي صاحب د بنايې دا خبره ليکلې ده چي په متن کي له واجبة څخه مراد لازمة او ثابتة دي، او په شريعت کي هم بيخي په ډېرو ځايونو کي وجوب د لزوم او ثبوت لپاره استعمال سوی دی. (بنايه ج:٣، ص:٣٢١)

و اشتراط الحرية له دې ځايه صاحب د هدايې د زکاة د شرائطو وجهي (او فوائد قيود) ذکر کوي، نو تر ټولو مخکي د آزادۍ (حرّيت) د شرط اوضاحت کوي، فرمايي چي د دې شرط په وجه پر غلام او مکاتب زکاة واجب نه دی، ځکه چي د زکاة د واجبېدلو (وجوب) لپاره پوره ملکيت ضروري دی، او غلام بالکل د هيڅ شي ملکيت نه لري، همدارنګه مکاتب او مدبر ناقص ملکيت لري، پوره ملکيت نه لري، او د زکاة د واجبېدلو لپاره پوره (کامل) ملکيت ضروري دی، او ملکيت صرف په آزادۍ کي کامل وي، نو ځکه به صرف پر آزاد انسان زکاة واجب وي.

و العقل والبلوغ فرمايي چي د زکاة د واجبېدلو لپاره عقل او بلوغ هم ضروري دي، له دې څخه معلومه سوه چي نه پر لېوني سړي زکاة واجب دی، او نه پر کوچني، د دې شرطونو دليل به وروسته بيان سي.

والا سلام په متن کي دا قيد هم ستّه چي سړی به مسلمان وي، نو بيا زکاة واجبيږي، ځکه چي زکاة مالي عبادت دی، او عبادت له کافر څخه نه سي متحقق کېدلای، بلکي له مسلمان څخه متحقق کېدلای سي.

ولا بد من ملك الخ د زکاة د وجوب لپاره د نصاب په اندازه مالک کېدل ضروري دي، که له دې څخه د کم مال مالک وي، نو زکاة نه واجبيږي، د مثال په توګه که يو څوک د دوو سوو (٢٠٠) درهمونو مالک وو، نو زکاة به پر فرض وي، او که له دې څخه د کم مال مالک وو، نو زکاة به پر فرض نه وي، ځکه نبي ﷺ د دومره اندازې نصاب پر ملکيت زکاة فرض کړی دی، لکه څرنګه چي په صحيح بخاري کي د ابو سعيد خدري رضي الله عنه حديث دی: أن رسول الله ﷺ قال ليس فيما

دون خمسة اوسق من التمر صدقة. وليس فيما دون خمسة من الإبل صدقة الخ. (يعني نبي ﷺ وفرمايل چي له پنځو وسقو څخه په کمو خرماوو کي زکاة واجب نه دي، او له پنځو څخه په کمو اوښانو کي هم زکاة واجب نه دي)، وګورئ! په حديثِ پاک کي په څرګنده توګه د خمسة اندازه بيان سوې ده، چي له هغه څخه دا خبره ثابتيږي چي د زکاة د وجوب لپاره د يو مخصوص او معلوم مقدار مالک کېدل ضروري دي.

ولا بد من الحول الخ د زکاة د وجوب اووم او آخري شرط دا دی چي د نصاب پر دې مال کال تېرېدل هم ضروري دی، يعني که د نصاب پر مال پوره يو کال تېر سي، نو بيا به په هغه کي زکاة فرض وي، کنې نه به وي، ځکه چي د زکاة د لغوي معنیٰ په سلسله کي دا ذکر سوه چي زکاة د نما او وده کولو په معنیٰ هم استعماليږي، او د ودي او نما د پېژندګلوۍ لپاره يوه داسي موده ضروري ده چي په هغه کي نما ثابته سي، نو ځکه نبي ﷺ د لا زکوٰة فی مال حتی يحول عليه الحول په ذريعه د زکاة د وجوب لپاره د نصاب پر مال حولانِ حول شرط ګرځولی دی، همد دې حديث په اقتداء کي فقهاؤ د کال تېرېدل شرط کړي دي.

په دې باره کي عقلي دليل دا دی چي د يوه کال په موده کي په آساني سره د ودي او زياتوب اندازه معلومېدای سي، ځکه په يوه کال کي څلور موسمونه سته يعني د پسرلي، ګرمۍ، منې (خزان) او ژمي څلور فصلونه سته، او په دې موسمونو او فصلونو کي د تجارت د نفع او نقصان جلا جلا معيار وي، او د شيانو په نرخونو کي د موسم مطابق ډېره تبديلي ښکاره کيږي، او تاجرانو ته په ښه توګه د نما او د غيرِ نما فرق معلوميږي، نو په دې حواله سره هم د نصاب پر مال د حولانِ حول شرط مُفيد معلوميږي.

ثم قيل الخ له دې ځايه دا بيانوي چي که په يو سړي کي د زکاة د وجوب ټوله شرطونه پيدا سي، او د هغه د نصاب پر مال کال تېر سي، نو فوراً (سملستي) زکاة اداء کول ضروري دي، او که په دې کي د تأخير او ځنډولو څه ګنجايش سته، نو فرمايي چي په دې باره کي دوه قولونه دي: (۱) امام کرخي رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله کال تېر سي نو فوراً زکاة اداء کول ضروري دي، او که بې له څه عذره يې زکاة وځنډوی، نو ګنهګاره کيږي، د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک هم دا دی، د دوی دليل دا دی چي په قرآن او حديث کي يعني په آتو الزکوٰة او په أدوا زکوٰة أموالکم کي د زکاة حکم د مطلق أمر په صيغه سره سو دی، او مطلق أمر دا تقاضا کوي چي مأمور به دي في الفور اداء سي، نو ځکه به د شرطونو تر پوره کېدلو وروسته سملستي او فوراً زکاة اداء کوي. (۲) امام محمد بن شجاع بلخي رَحِمَهُ الله او ابو بکر جصاص رازي رَحِمَهُ الله وايي چي فوراً زکاة اداء کول ضروري نه دي، بلکي په هغه کي د تأخير او ځنډولو ګنجايش سته، او د تأخير په صورت کي انسان نه ګنهګاره کيږي، ځکه چي د زکاة تر وجوب وروسته ټوله ژوند د اداء کولو وخت دی، نو ځکه به اداء د اول وخت سره خاصول صحيح نه وي، همداوجه ده چي که پر يو سړي زکاة واجب سو، او هغه فوراً اداء نه کړی، بلکي بې پروايي او بې غوري يې کول دومره يې وځنډوی چي د نصاب په اندازه ملکيت يې ختم سو، نو اوس پر دې سړي د زکاة د مال ضمان واجب نه دی، نو که فوراً زکاة واجبېدلای، نو په ځنډولو او بې پروايي کولو سره به ضمان لازمېدلای، نو د ضمان نه لازمېدل د دې خبري ښکاره دليل دی چي فوراً د زکاة اداء کول واجب نه دي، بلکي په هغه کي د ځنډولو ګنجائش سته (خو په خپل وخت کي يې اداء کول زيات غوره دي).

د کوچني او لېوني د زکاة حکم

وَلَيْسَ عَلَى الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُوْنِ زَكَاةٌ او پر کوچني او لېوني زکاة واجب نه دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّهُ يَقُوْلُ: هِيَ غَرَامَةٌ مَالِيَّةٌ هغه فرمايي: چې زکاة مالي حق دی(يعني زکاة په مال کې لازمي حق دی) فَتُعْتَبَرُ بِسَائِرِ الْمُؤَنِ نو دا به پر نورو مالي حقونو قياسيږي كَنَفَقَةِ الزَّوْجَاتِ لکه د ښځو نفقه وَصَارَ كَالْعُشْرِ وَالْخَرَاجِ (لهذا) زکاة د عشر او خراج په شان سو وَلَنَا أَنَّهَا عِبَادَةٌ فَلَا تَتَأَدّٰى إِلَّا بِالْإِخْتِيَارِ او زموږ دليل دا دی چې زکاة عبادت دی نو بې له اختياره به نه اداء کيږي تَحْقِيْقًا لِمَعْنَى الْإِبْتِلَاءِ دابتلاء د معنیٰ د ثابتولو لپاره وَلَا اِخْتِيَارَ لَهُمَا لِعَدَمِ الْعَقْلِ او د عقل د نشتوالي په وجه دواړو ته اختيار نسته (نو ځکه به پر دواړو زکاة واجب نه وي) بِخِلَافِ الْخَرَاجِ په خلاف د خراج لِأَنَّهُ مُؤْنَةُ الْأَرْضِ ځکه چې خراج د مځکې مؤونت(مالي حق) دی وَكَذَا الْغَالِبُ فِي الْعُشْرِ مَعْنَى الْمُؤْنَةِ همدارنګه په عشر کې (هم) د مؤونت(مالي حق) معنیٰ غالبه ده وَمَعْنَى الْعِبَادَةِ تَابِعٌ او د عبادت معنیٰ تابع ده وَلَوْ أَفَاقَ فِيْ بَعْضِ السَّنَةِ او که لېونی د کال په يوه حصه کې جوړ(روغ) سو(يعني په هوښ کې راغلی، او عقل يې پر ځای سو) فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ إِفَاقَتِهِ فِيْ بَعْضِ الشَّهْرِ مِنَ الصَّوْمِ نو دا د روژې د مياشتې په يوه حصه کې د هغه د جوړېدلو په شان دي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ الله أَنَّهُ يُعْتَبَرُ أَكْثَرُ الْحَوْلِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د اکثره کال اعتبار به کيږي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْأَصْلِيِّ وَالْعَارِضِيِّ او د اصلي (جنون) او عارضي (جنون) په مينځ کې هيڅ فرق نسته وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ* أَنَّهُ إِذَا بَلَغَ مَجْنُوْنًا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې کله يو لېونی بالغ سي يُعْتَبَرُ الْحَوْلُ مِنْ وَقْتِ الْإِفَاقَةِ نو د جوړېدلو له وخت څخه به د کال(حولان حول) اعتبار کيږي بِمَنْزِلَةِ الصَّبِيِّ إِذَا بَلَغَ په منزله د کوچني چې کله هغه بالغ سي(يعني لکه څرنګه چې کوچنی له کوم وخت څخه بالغ سي نو له هغه وخته به د حولان حول اعتبار کيږي).

اللغات: ﴿غَرَامَة﴾ جرمانه، تاوان، داسي حق چې د هغه اداء کول ضروري وي. ﴿الْمُؤَن﴾ جمع د مُؤْنَةٌ ده: تکليف. علامه عبدالحي لکنوي رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې د يو شي د پاته کېدلو او بقاء چې کوم خرچ(خرڅ) وي هغه ته مؤونت ويل کيږي. لکه د ښځي نفقه(خرڅ) چې په دې کې د نکاح او ژوند بقاء ده. او په لنډه توګه د مؤونت معنیٰ ده: مالي حق. نو د مُؤَن معنیٰ سوه: مالي حقونه. ﴿الْعُشْر﴾ د مځکي له فصل او پيدا وار څخه چې کومه لسمه حصه اخيستل کيږي هغه ته عشر ويل کيږي. ﴿خراج﴾ د کافر له مځکي څخه چې په کال کې کوم ټيکس او ماليه اخيستل کيږي، هغه ته خراج ويل کيږي. ﴿أَفَاقَ﴾ په هوښ کې راتلل، جوړېدل، ناروغي ختمېدل.

تشريح: په مخکني متن کې ذکر سوه چې د زکاة د فرض کېدلو لپاره عقل او بلوغ ضروري دي. نو په دې عبارت کې پر هغه يوه مسئله تفريع کوي، چې کوچنی بالغ نه دی، نو ځکه پر هغه زکاة فرض نه دی. همدارنګه لېونی عاقل نه دی يعني عقل نه لري، نو پر هغه هم زکاة فرض نه دی، ځکه په حديث کې راځي: عن علي عن النبي ﷺ قال رفع القلم عن ثلثة عن

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الحانية ج:١، ص:١٢٣. [القول الراجح ج:١، ص:١٦١]

النائم حتى يستيقظ وعن الصبي حتى يحتلم و عن المجنون حتى يعقل (ابو داؤد ج ٢، حديث رقم ٤٤٠٣)، (يعني نبي ﷺ وفرمايل: چي په شريعت کي له دريو انسانانو څخه خطاب پورته سوی دی [١] له بيده سړي څخه تر دې چي راويښ سي، [٢] له کوچني څخه تر دې چي بالغ سي، [٣] له لېوني څخه تر دې چي عاقل سي).

خلافًا للشافعي الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي کوچنی او لېونی که د نصاب مالکان ول، نو زکاة پر فرض دی، دليل دا ذکر کوي چي زکاة مالي حق دی، نو څرنگه چي نور مالي حقونه له کوچني څخه اخيستل کيږي، او فرض دي، همدارنگه به دا حق هم فرض وي، يعني که کوچني ښځه درلودله، نو د هغې نفقه پر کوچني لازمه ده، يا که کوچني ځمکه درلودله نو د هغه د ځمکي په پيداوار کي عشر يا ټيکس (خراج) لازم دی، نو همداسي به زکاة هم لازم وي، همدارنگه په آيت کي راځي: خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا [التوبة:١٠٣]، په دې آيت کي له ټولو څخه د زکاة اخيستلو حکم سوی دی، او د غټ او کوچني هيڅ فرق نه دي سوی، نو ځکه به له کوچني څخه هم زکاة اخيستل کيږي، همدارنگه په حديث کي راغلي دي: أن النبي ﷺ خطب الناس فقال ألا مَنْ وَلِيَ يتيمًا له مال فليتجر فيه ولا يتركه حتى تأكله الصدقة، (نبي ﷺ وفرمايل: خبردار! کوم سړی چي د يتيم متولي سو [يعني مشرېږ سو]، او د هغه يتيم سره مال هم وو، نو دې متولي ته پکار دي چي په هغه سره تجارت وکړي، او هسي دي يې نه پرېږدي چي صدقه د هغه مال ورختم کړي)، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي له صدقې څخه مراد زکاة دی، نو مطلب يې دا سو که متولي د يتيم په مال سره تجارت نه کوی، نو د هر کال زکاة په وجه به په څو کلونو کي د يتيم ټوله سرمايه ختمه سي، نو له دې څخه معلومه سوه چي د يتيم په مال کي زکاة سته، او يتيم هغه ته ويل کيږي کوم چي نابالغه وي، نو له حديث څخه ثابته سوه چي د کوچني په مال کي زکاة سته.

ولنا الخ زموږ نقلي دليل مخکي تېر سو يعني رفع القلم الخ، اوس له دې ځايه زموږ عقلي دليل بيانيږي، چي زکاة د لمانځه په ډول عبادت دی، او عبادت په اختيار سره اداء کيږي، ځکه چي په انسان د عبادت اداء کولو مقصد دا دی چي انسان په امتحان کي او ابتلاء کي وي، چي هغه يې په خپل اختيار سره کوي او که نه!، او په کوچني او لېوني کي خو گردسره عقل نسته، نو دوی لره به اختيار څرنگه وي، او د دوی د امتحان او ابتلاء مطلب به څه وي، لهذا کله چي دوی لره اختيار نسته، نو زکاة به هم پر فرض نه وي.

بخلاف الخراج الخ دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله جواب دی، هغه فرمايلي وو چي څرنگه خراج او عشر پر کوچني او لېوني واجب دي، همدارنگه به زکاة هم واجب وي، د هغه جواب ورکوي چي خراج عبادت نه دی، بلکي هغه د ځمکي حق دی، لهذا په هغه کي د اختيار او ابتلاء ضرورت نسته، همدارنگه په عشر کي د ځمکي د حق (مؤونت) معنیٰ غالبه ده، او د عبادت معنیٰ د دې غالبي معنیٰ تابع ده، لهذا په دې کي هم د اختيار ضرورت نسته، نو دا پر کوچني او لېوني دواړو لازمېدای سي، او زکاة خالص عبادت دی چي د هغه لپاره د اختيار ضرورت سته، نو ځکه به هغه پر کوچني او لېوني نه سي فرضېدلای.

ولو أفاق الخ فرمايي: که يو لېونی د نصاب مالک وو، او د کال په يوه حصه کي جوړ او روغ سو، او په هوښ کي راغلی، نو اوس به پر هغه زکاة فرض وي، او هغه به ټوله کال جوړ او په هوښ کي گڼل کيږي، د دې مثال داسي دی چي که يو سړی د روژې په ټوله مياشت کي په لېونتوب مبتلا وو، نو د يوې ورځي روژه هم پر هغه نه لازميږي، ليکن که د ټولي

میاشت په یوه جزء کي جوړ سو، نو بیا د ټولي میاشتي روژې پر هغه لازمیږي، او د هغو قضاء به راوړي، ځکه د روژې د میاشتي یو جزء هم د ټولي میاشتي د روژې سبب جوړیږي، همدارنګه د نصاب تر مالک کېدلو وروسته که یو لېونی جوړ سو، نو پر هغه به د ټوله کال زکاة واجب وي، ځکه د کال په یوه حصه کي جوړېدل د ټوله کال د زکاة د فرضېدلو سبب دی، او په دې حکم کي د جنونِ اصلي او جنونِ عارضي په مینځ کي هیڅ فرق نسته.

ښکاره دي وي چي جنون پر دوه قسمه دی: (١) جنونِ اصلي، (٢) جنون عارضي، جنونِ اصلي دا دی چي یو سړی د لېونتوب په حالت کي بالغ سوی وي (یعني د بالغوالي په وخت کي هم لېونی وي)، او جنونِ عارضي دا دی چي د بالغوالي په وخت کي لېونی نه وي، بلکي تر بلوغ وروسته لېونی سوی وي، نو فرمایي که د کال په یوه حصه کي لېونی جوړ سو هغه که مجنونِ اصلي وو او که عارضي، پر دواړو زکاة واجب دی.

وعن أبي یوسف الخ په دې لړ کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله روایت دا دی چي د کال د اکثره حصې اعتبار به کیږي، یعني که لېونی له نیم کال څخه زیات جوړ وو او په هوښ کي وو، نو د ټوله کال زکاة به پر واجب وي، او که له نیم کال څخه کم په هوښ کي وو، نو هیڅ زکاة به پر واجب نه وي، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په دې روایت کي د زکاة د وجوب لپاره د کال اکثره حصه د زکاة سبب ګرځول سوې ده، ځکه چي قاعده دا ده: للأكثر حكم الكل، او په دې روایت کي هم د جنون اصلي او عارضي په مینځ کي هیڅ فرق نسته.

وعن أبي حنيفة الخ فرمایي د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز په یوه روایت کي د جنون اصلي او عارضي په مینځ کي فرق سته هغه دا که یو سړی مجنونِ اصلي وي، یعني د بلوغت په وخت کي هم لېونی وي، نو کله چي د هغه لېونتوب ختم سي، له هغه وخته به د هغه پر مال د حولانِ حول اعتبار کیږي (یعني د جوړېدلو له وخته به د هغه پر مال کال شروع کیږي او چي کله یو کال تېر سي نو زکاة به واجبیږي)، د بلوغت له وخته به د حولانِ حول اعتبار نه کیږي، ځکه د لېونتوب په وجه به هغه د بلوغت په وخت کي هم غیر مکلف وي، او دا داسي ده لکه کوچنی چي د نصاب مالک وي، نو تر څو چي تر بلوغت وروسته د هغه پر مال کال تېر نه سي، تر هغه وخته به د هغه پر مال زکاة فرض نه وي، ځکه چي تر بلوغت مخکي هغه مکلف نه وي، همدارنګه په دې مسئله کي که څه هم مجنون بالغ وي، لېکن د جنون په وجه به هغه مکلف نه وي، نو ځکه به تر جوړېدلو وروسته د هغه پر مال د حولانِ حول اعتبار کیږي.

او که دا سړی مجنونِ عارضي وي، یعني د بلوغت په وخت کي جوړ وي، نو د بلوغت له وخته به مکلف ګڼل کیږي، اوس که په مینځ کي لېونی سو، نو د کال په مینځ کي چي کله هم جوړ سي، او په هوښ کي راسي، نو په دې لړ جوړېدلو سره به د ټوله کال زکاة واجبیږي، او د کال د تېرېدلو انتظار به پې نه کیږي، ځکه چي هغه د بلوغت له وخته مکلف وو، صرف د لېونتوب په وجه یوه څه موده غیر مکلف پاته سو.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی. [القول الراجح ج:١، ص:١٦١]

په مکاتب باندي د زکاة د نه واجبېدلو بیان

وَلَيْسَ عَلَى الْمُكَاتَبِ زَكَاةٌ او پر مکاتب زکاة واجب نه دی لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمَالِكٍ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چي هغه په هر اعتبار سره مالک نه دی لِوُجُودِ الْمُنَافِي ځکه (د هغه په حق کي د ملکیت) منافي سته وَهُوَ الرِّقُّ او هغه غلامتوب دی وَلِهَذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ أَنْ يُعْتِقَ عَبْدَهُ نو هم په دې وجه مکاتب د خپل غلام د آزادولو أهل نه دی.

اللغات: ﴿مكاتب﴾ هغه غلام چي خپل مالک ته د يو څه مال ورکولو په عوض کي ځان آزادولای سي، ﴿رِقّ﴾ غلامي (غلامتوب).

تشريح: تر دې مخکي تاسو ووېل چي د زکاة د وجوب لپاره د نصاب داسي ملکيت ضروري او شرط دی چي هغه ملکيت تام او پوره وي، پر هغه شرط دا مسئله تفريع کوي، حاصل دا دی چي مکاتب يعني هغه غلام چي د مخصوص مال ورکولو په وعده د خپل مالک سره د بدل کتابت معامله وکړي او ملکِ يد او ملکِ تصرف حاصل کړي، نو د هغه په مال کي هم زکاة واجب نه دی، که څه هم هغه د نصاب مالک وي، ځکه د زکاة د وجوب لپاره پوره ملکيت (ملک تام) ضروري دی، او دا سړی په پوره توګه د يو شي مالک نه دی، ځکه چي اوس هم په هغه کي غلامتوب (رقيّت) پاته دی، ځکه قاعده دا ده چي که پر مکاتب غلام يو درهم هم پاته وي، نو غلام دی، او پر غلام زکاة واجب نه دی، نو ځکه به پر مکاتب هم زکاة واجب نه وي، په مکاتب کي د ملک تام د نشتوالي څرګنده علت دا دی چي که مکاتب بل غلام د خپل ځان لپاره رانيولی وي، نو مکاتب دا غلام د خپل مالک له اجازې څخه بغير نه سي آزادولای، او نه يې خرڅولای سي، لهذا که د هغه ملکيت پوره وای، نو هغه ته به د دې اجازه وای، نو په دې حواله سره هم معلومه سوه چي د مکاتب ملکيت ناقص دی، حال دا چي د زکاة د وجوب لپاره پوره ملکيت ضروري دی، نو د مکاتب په مال کي به زکاة واجب نه وي.

پر قرضداره (پور وړي) د زکاة د نه واجبدلو بيان

> وَمَنْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ او پر چا چي دومره پور (قرض) وي چي د هغه ټوله مال يې نيولی وي (د مثال په توګه پنځه سوه درهمه لري او پنځه سوه پور هم پر باندي وي) فَلَا زَكَاةَ عَلَيْهِ نو پر هغه زکاة واجب نه دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَجِبُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر هغه زکاة واجب دی لِتَحَقُّقِ السَّبَبِ ځکه سبب متحقق دی وَهُوَ مِلْكُ نِصَابٍ تَامٍّ او هغه د وده کونکي نصاب مالک کېدل دي وَلَنَا أَنَّهُ مَشْغُولٌ بِحَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ او زموږ دليل دا دی چي دا مال د هغه په اصلي حاجت کي مشغول دی فَاعْتُبِرَ مَعْدُومًا نو ځکه به دا مال معدم شمارل کيږي كَالْمَاءِ الْمُسْتَحَقِّ بِالْعَطَشِ لکه هغه اوبه چي د تندي ختمولو لپاره وي وَثِيَابِ الْبِذْلَةِ وَالْمَهْنَةِ او لکه د ورځني استعمال او د کار کالي.

اللغات: ﴿يحيط﴾ د افعال د باب مضارع ده: احاطه کول، نيول، ﴿نامي﴾ زياتېدونکی، وده کونکی، ﴿حاجته الأصلية﴾ له کوم شي څخه بغير چي ژوند تېرول ستونزمن وي هغه ته حاجتِ اصليه ويل کيږي ﴿عطش﴾ تنده، تږی کېدل، ﴿بذلة﴾ د عام استعمال شی، د ورځني استعمال شی، ﴿مهنة﴾ په کار او کسب کي استعمالېدونکی شی.

تشريح: مسئله: دا ده که پر يو سړي دومره قرضه وه چي د هغه پر ټوله مال يې احاطه کړي وه، د مثال په توګه د هغه سره پنځه سوه درهمه وه، او پنځه سوه قرضه هم باندي وه، لهذا اوس که هغه قرضه اداء کړي، نو هيڅ نه پاتېږي، ګواکي د هغه سره د نصاب مال ګردسره نسته، نو ځکه به پر هغه زکاة واجب نه وي، (تفصيلي دليل به وروسته ذکر سي)

وقال الشافعي الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر هغه زکاة واجب دی، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د زکاة د واجبېدلو سبب د زياتېدونکي مال مالک کېدل دي، او هغه دلته سته، ځکه د قرضې او پور تعلق د ذمې سره دی نه د مال سره، همدا وجه ده چي د قرضداره تصرف په خپل مال کي نافذېدای سي، لنډه دا چي د زکاة د وجوب سبب سته، نو ځکه به زکاة پر واجب وي.

ولنا الخ زمونږ دليل دا دى چي د قرضداره مال د هغه په اصلي حاجت کي مشغول دى، او اصلي حاجت د قرضي اداء کول دي، ځکه چي قرضه په دنيا او آخرت دواړو کي مُهلکه (او د عذاب سبب) ده، په دنيا کي خو ځکه مهلکه ده چي قرض غوښتونکو د قرضداره ژوند سخت کړی وي، تر دې چي بندي کولای يې هم سي، او په آخرت کي ځکه مهلکه ده چي قرضه به د قرضداره او جنت په مينځ کي پرده وي، لنده دا چي قرضه د ډېر زيات اصلي حاجت دی، او د قرضداره ټوله مال په دې حاجت کي مشغول دی، نو د قرضداره دا مال به معدوم شمارل کيږي، او داسي به ګڼل کيږي چي د هغه سره ګردسره مال سته نه، لهذا نو زکاة به څرنګه پر واجبيږي.

كالماء المستحق الخ له دې ځايه زمونږ د دليل لپاره دوه مثالونه ذکر کوي: (۱) اول مثال دا دی چي مثلاً د يو سړي سره لږ اوبه وي، خو دا سړی په داسي صحراء کي وي چي هلته تر ليري پوري اوبه نه ليدل کيږي، نو اوس که دا سړی په دې اوبو سره اودس وکړي، نو له تندي څخه به مړ سي، نو ګواکي دا اوبه د چيښلو لپاره مستحق سوې، لهذا اوس به داسي ګڼل کيږي چي ګواکي د ده سره بالکل اوبه سته نه، يعني دا سړی به معدومُ الماء ګرځول کيږي، نو ځکه به هغه تيمم کوي او لمونځ به کوي. (۲) دويم مثال دا دی چي که د يو سړي سره د ورځني استعمال او د کار او کسب جامې وي، او د نصاب په اندازه وي، خو څرنګه چي دا شيان د هغه د اصلي حاجت لپاره دي، نو ځکه به په دې کي زکاة واجب نه وي.

که د قرضداره مال د هغه تر قرض زيات وو نو څه حکم دی؟

وَإِنْ كَانَ مَالُهُ أَكْثَرَ مِنْ دَيْنِهِ او که د قرضداره (پور وړي) مال د هغه له قرض څخه زيات وو زَكَّى الْفَاضِلَ نو د زيات مال زکاة به اداء کوي إِذَا بَلَغَ نِصَابًا په دې شرط چي کله نصاب ته ورسيږي بِالْفَرَاغَةِ عَنِ الْحَاجَةِ الْأَصْلِيَّةِ او (په دې شرط) چي له اصلي حاجت څخه (هم) فارغ وي وَالْمُرَادُ بِهِ دَيْنٌ لَهُ مُطَالِبٌ مِنْ جِهَةِ الْعِبَادِ او له دَين څخه مراد هغه پور دی چي د بندګانو له طرفه د هغه يو مطالبه کونکی وي حَتَّى لَا يَمْنَعَ دَيْنُ النَّذْرِ وَالْكَفَّارَةِ تر دې چي د نذر او کفارې پور زکاة نه منع کوي وَدَيْنُ الزَّكَاةِ مَانِعٌ حَالَ بَقَاءِ النِّصَابِ او د زکاة پور د نصاب د پاته کېدلو په حالت کي د زکاة منع کونکی دی لِأَنَّهُ يَنْتَقِصُ بِهِ النِّصَابُ ځکه چي په هغه سره نصاب کميږي وَكَذَا بَعْدَ الِاسْتِهْلَاكِ او همدارنګه د نصاب تر هلاکولو وروسته (هم پور د زکاة منع کونکی دی) خِلَافًا لِزُفَرَ فِيهِمَا* د امام زفر رَحِمَهُ الله په دې دواړو صورتونو کي اختلاف دی وَلِأَبِي يُوسُفَ فِي الثَّانِي او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دويم صورت کي اختلاف دی عَلَى مَا رُوِيَ عَنْهُ د هغه روايت مطابق کوم چي له هغه څخه روايت سوی دی لِأَنَّ لَهُ مُطَالِبًا ځکه چي د زکاة د پور مطالبه کونکی سته وَهُوَ الْإِمَامُ فِي السَّوَائِمِ او هغه (مطالبه کونکی) په څرېدونکو څارويانو کي د مسلمانانو امام دی وَنَائِبُهُ فِي أَمْوَالِ التِّجَارَةِ او د تجارت په مالونو کي د هغه نائب دی فَإِنَّ الْمُلَّاكَ نُوَّابُهُ ځکه چي د مال مالکان (هم) د امام نائبان دي.

* القول الراجح: هو القول السابق يعني دين الزكاة مانع حال بقاء النصاب...الخ. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۶۲]

اللغات: ﴿زَكّٰى﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: زكاة وركول، پاكول. ﴿السَّوَائِم﴾ جمع د سَائِمَةٌ ده: هغه څاروبان چې په صحراء او چراګاه کي د وښو د خوړلو لپاره کتل کيږي (پوول کيږي)، يعني څرېدونکي څاروبان. ﴿مُلَّاك﴾ جمع د مَالِك ده: څښتن، خاوند، مالک. ﴿نُوَّاب﴾ جمع د نَائِب ده: ځاى ناستى، قائم مقام.

تشريح: **مسئله**: دا ده که د قرضداره (پوروړي) مال د هغه له قرضې څخه زيات وو، نو په دې زيات مال کي زکاة واجب دى، خو په دې شرط چي د نصاب په اندازه وي، او د هغه له اصلي حاجت څخه فارغ هم وي.

والمراد به الخ صاحب د هدايې فرمايي چي له دَين څخه مراد داسي قرض دى چي د هغه يو غوښتونکى (مطالبه کونکى) د بندګانو له طرفه وي، نو دغسي قرض زکاة منع کوي (يعني د زکاة وجوب منع کوي)، او که د بندګانو له طرفه مطالبه نه وي، نو داسي قرض زکاة نه منع کوي، لکه د نذر پور (دينِ نذر) او د کفارې پور (دينِ کفاره)، د دينِ نذر صورت دا دى چي مثلاً يو سړي نذر ومنى چي که زما فلانکى کار وسو، نو پنځه درهمه به خيراتوم، او هغه کار وسي، نو اوس د دې پنځو درهمو هيڅ مطالبه کونکى انسان نسته، بلکي شريعت دى، او د دينِ کفاره صورت دا دى چي مثلاً پر يو چا د قسم خوړلو کفاره وي، نو د کفارې مطالبه کونکى هم شريعت دى، بنده نه دى، نو داسي قرض چي د هغه مطالبه کونکى شريعت وي، بنده نه وي، زکاة نه منع کوي.

ودين الزكاة الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د زکاة د نصاب د بقاء (پاته کېدلو) په صورت کي د زکاة دين (پور) د زکاة وجوب منع کوي، ځکه د زکاة د پور په اداء کولو سره د زکاة نصاب کميږي، د دې صورت دا دى چي مثلاً يو سړى د دوو سوو درهمو مالک دى، او پر دې درهمو يو کال تېر سو، لېکن هغه يې زکاة اداء نه کړي، تر دې چي دويم کال هم تېر سو، نو د اول کال زکاة پر هغه پور (دين) سو، لهذا اوس د دويم کال زکاة نه سي واجبېدلاى، ځکه چي د اول کال د زکاة وجوب په دويم کال کي د زکاة وجوب منع کوي، ځکه د اول کال د زکاة يعني د پنځو درهمو په ورکولو سره نصاب کميږي، يعني يو سل وپنځه نوي (۱۹۵) درهمه پاتيږي، او دا ښکاره ده چي له نصاب څخه په کم مال کي زکاة نه واجبيږي (نو اوس به هغه د تېر کال زکاة ورکوي، او د دغه کال زکاة به نه ورکوي ځکه چي په دې کال کي هغه ګردسره د نصاب مالک نه پاتيږي)، او همدا حکم د ټوله مال تر تلف کولو (هلاکولو) وروسته هم دى، يعني مثلاً يو سړى د دوو سوو درهمو مالک دى، او پر درهمو کال تېر سو، بيا د زکاة تر اداء کولو مخکي هغه ټوله درهمونه په خپله هلاک کړل*، بيا يې دوه سوه درهمه وګټل، او پر هغو کال تېر سو، نو اوس پر هغه د اوسنى دوو سوو درهمو زکاة واجب نه دى، ځکه چي د اول نصاب زکاة د هغه پر ذمه پور (دين) سو، او د زکاة دين زکاة له وجوب څخه منع کوي، دا تفصيل د طرفينو په نيز دى، امام زفر رَحِمَهُ الله په دواړو صورتونو کي د طرفينو مخالف دى، يعني په هغه نصاب کي هم چي په هغه کي زکاة واجب سي، خو اداء يې نه کړي، تر دې چي يو کال تېر سي، او په هغه نصاب کي هم چي په هغه کي زکاة واجب سي لېکن وروسته هغه ټوله نصاب هلاک کړي، او بيا د نصاب مالک سي، او پر دغه نصاب کال تېر سي، حاصل دا چي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز په دواړو

---

* دلته دريم صورت مصنف نه دي ذکر کړى هغه دا چي که درهمونه په خپله هلاک سول، نو د هغو زکاة معاف دى، اوس که هغه سړي نور دوه سوه درهمه حاصل کړل، او کال پر تېر سو، نو د دغه دوو سوو درهمو زکاة به ورکوي، د تېر کال زکاة به نه ورکوي، ځکه د تېر کال زکاة معاف سو، او هغه د ده پر ذمه قرض پاته نه سو.

صورتونو کي د زکاة پور (دينِ زکوٰة) د زکاة وجوب نه منع کوي (يعني د امام زفر په نيز به دا سړی په دواړو صورتونو کي د تېر کال زکاة نه ورکوي کوم چي پر هغه قرض پاته دی، بلکي د دغه کال زکاة به ورکوي).

د امام زفرؒ دليل: دا دی چي د زکاة پور داسي قرض دی چي د هغه مطالبه کونکی د بندګانو له طرفه هيڅوک نسته، بلکي مطالبه کونکی يې شريعت دی، نو دا هم د دينِ نذر او دينِ کفاره په څېر سو، او د کوم دين مطالبه کونکی چي څوک د بندګانو له طرفه نه وي، هغه دين زکاة له وجوب څخه نه منع کوي، نو ځکه به د زکاة دين او د استهلاک دين دواړه زکاة له وجوب څخه نه منع کوي.

ولأبي يوسف رَحِمَهُ اللهُ في الثاني الخ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دويم صورت کي (د نصاب د هلاکولو په صورت کي) زموږ مخالف دی، يعني د هغه په نيز د اول کال د زکاة دين په دويم کال کي د زکاة له وجوب څخه مانع دی، لېکن که تر کال تېرېدلو وروسته انسان په خپله ټوله نصاب هلاک کړي، او بيا د دوو سوو درهمو مالک سي، او کال هم پر تېر سي، نو د هلاک سوي مالک د زکاة دين به په دويم کال کي زکاة له وجوب څخه نه منع کوي، د هغه په نيز وجه د فرق دا ده چي د مستهلک نصاب د زکاة مطالبه کونکی د بندګانو له طرفه هيڅوک نسته، د دې په خلاف که نصاب موجود وي، او تر کال تېرېدلو وروسته يې هم زکاة اداء نه کړي، نو عُشر ټولونکی (عاشر) او د زکاة اخيستونکی د هغه د زکاة مطالبه کوی، نو څرنګه چي په دې صورت کي د بندګانو له طرفه مطالبه کونکی سته، نو ځکه به دلته د زکاة دين د را روان کال د زکاة له وجوب څخه مانع وي، او څرنګه چي د مستهلک دين هيڅ مطالبه کونکی د بندګانو له طرفه نسته، نو ځکه به هغه مانع نه وي.

د طرفينو دليل: دا دی چي د زکاة د دين مطالبه کونکی بنده سته، او هغه بنده د څړېدونکو څارويانو په زکاة کي امامُ المسلمين دی، او د تجارت په نورو مالونو کي د هغه نائب دی، لېکن که دا ووېل سي چي د امام هيڅ نائب هم د زکاة غوښتلو لپاره نه راځي، نه د څرېدونکو څارويانو د زکاة غوښتلو لپاره، او نه د تجارت د مالونو د زکاة غوښتلو لپاره.

جواب: دا دی چي امامُ المسلمين په خپله مالکانو ته اجازت ورکړی دی، نو د مال مالکان په خپله د امام نائبان دي، په دې توګه چي د مال مالک له مال څخه په زکاة را ايستلو کي خو مالک د زکاة دی، لېکن د زکاة په اداء کولو کي د امام نائب دی، او د دې اصل د الله تعالیٰ دا قول دی: خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً. له دې آيت څخه د امام لپاره له هر مال څخه د زکاة اخيستلو حق ثابتيږي، همدا وجه ده چي نبي ﷺ او تر نبي ﷺ وروسته حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه به د څارويانو، او مالونو زکاة اخيستی، او مستحقينو ته به يې ورکوی، لېکن کله چي د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت دور شروع سو، نو هغه وليدل چي په مسلمانانو کي زکاة مشهوره سوې دی، او دا خطره هم وه چي باچاهان به د خلګو د زکاة پر مالونو په خپله لاس را تېر کړي، نو ځکه يې د مال مالکان د مال نائبان جوړ کړل چي هغوی دي د خپلو مالونو زکاة په خپله اداء کوي، نو ثابته سوه چي د مال مالکان په زکاة اداء کولو کي د امامُ المسلمين نائبان دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول اول قول دی يعني د زکاة د نصاب د بقاء په صورت کي د زکاة دين (پور) د زکاة وجوب منع کوي، همدارنګه مستهلک دين د زکاة وجوب منع کوي. [القول الراجح: ج: ١، ص: ١٦٢]

د هغو مالونو بيان چي زکاة پکښي نسته

وَلَيْسَ او نسته فِيْ دُوْرِ السُّكْنٰى وَثِيَابِ الْبَدَنِ داستوګني په کورونو کي او د بدن په کالو (جامو) کي وَأَثَاثِ الْمَنَازِلِ وَدَوَابِّ الرُّكُوْبِ او د کور په سامان کي او د سپرلي په څارويو کي وَعَبِيْدِ الْخِدْمَةِ وَسِلَاحِ الْاِسْتِعْمَالِ او د خدمت په غلامانو کي او د استعمال په وسله کي زَكٰوةٌ زکاة (يعني په دې ټولو شيانو کي زکاة نسته) لِأَنَّهَا مَشْغُوْلَةٌ بِالْحَاجَةِ الْأَصْلِيَّةِ

ځکه چي دا شيان په اصلي ضرورت(حاجتِ اصليه) کي مشغوله دي وَلَيْسَتْ بِنَامِيَةٍ اَيْضًا او دا شيان وده کونکی(زياتېدونکي) هم نه دي وَعَلٰى هٰذَا كُتُبُ الْعِلْمِ لِاَهْلِهَا وَآلَاتُ الْمُحْتَرِفِيْنَ او هم پر دې (حکم) د عالمانو کتابونه دي او د کسب کونکو(پيشه گرو)آلې دي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات، ﴿دُوْر﴾ جمع د دارٌ ده: کور، ﴿سُكْنٰى﴾ استوګنه، اوسېدل، ﴿اَثَاث﴾ دنيوي سامان، ﴿دَوَابّ﴾ جمع د دابّةٌ ده، حيوان، څاروی، پر ځمکه تلونکی ساکښ شی، ﴿عَبِيْد﴾ جمع د عبْدٌ ده: غلام، نوکر، خدمتکار، ﴿مُحْتَرِفِيْن﴾ جمع د مُحْتَرِفٌ ده: کسبگر، د يو کسب او کار خاوند، پيشه گر.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د استوګنې په کورونو کي، او په هغو کالو کي چي اغوستل کيږي، او په هغو کورني سامانونو کي کوم چي په متن کي ذکر سول، او په هغو سامانونو کي چي په ورځني ژوند کي په کار راځي زکاة واجب نه دی، ځکه چي دا ټوله د انسان په حاجتِ اصليه کي مشغول دي، نه له ضرورت څخه زيات دي، او نه په زياتېدونکي(نامي) مال کي داخل دي، نو ځکه به په هغو کي زکاة واجب نه وي، ځکه چي د زکاة د واجبېدلو لپاره د مال (نامي کېدل) او له ضرورتِ اصليه څخه (فارغېدل) ضروري دي، او دا دواړه شيان دلته نسته، همدا وجه ده که د يو چا سره تر ضرورت زيات کالي وي، يا موټر، او کور تر ضرورت زيات ور سره وي، يا دا شيان يې په تجارت او کرايه کي مشغوله وي، نو تر کال تېرېدلو وروسته به په دې شيانو کي زکاة واجب وي.

وعلى هذا كتب العلم الخ فرمايي که د يو چا سره علمي کتابونه وي او د تجارت لپاره نه وي، بلکي د دې سړي د خپلې مطالعې او د فايدې لپاره وي نو په هغو کي هم زکاة واجب نه دی، ځکه چي هغه په حاجتِ اصليه کي مشغول دي، همدارنګه د کسبگرو آلې دي، د مثال په توګه د نجار سامان، د اشپز ديګونه، د عطرفروش اونګونه او د کاريګرو ماشينونه، نو په دې شيانو کي هم زکاة واجب نه دی، ځکه دا شيان هم په اصلي حاجتونو کي مشغوله دي، او نامي نه دي، ځکه چي په دې شيانو باندي په کار کولو سره پيسې ګټل کيږي، په خپله دا شيان پيسې نه ګټي.

په مالِ ضمار کي د زکاة بيان

وَمَنْ لَهُ عَلٰى آخَرَ دَيْنٌ او که د يو چا پر بل سړي پور باندي وي فَجَحَدَهُ سِنِيْنَ (لېکن) پوروړی(قرضداره) څو کاله د پور انکار کوي ثُمَّ قَامَتْ بِهِ بَيِّنَةٌ بيا ګواهان پر هغه ودريږي لَمْ يُزَكِّهِ لِمَا مَضٰى نو پور ورکونکی به د تېرو کلونو زکاة نه ورکوي مَعْنَاهُ: صَارَتْ لَهُ بَيِّنَةٌ (او) د ګواهانو د درېدلو معنیٰ دا ده: چي د هغه لپاره ګواهان پيدا سي بِاَنْ اَقَرَّ عِنْدَ النَّاسِ په دې توګه چي قرضداره د خلګو مخته د پور اقرار وکړي وَهِيَ مَسْاَلَةُ مَالِ الضِّمَارِ [١] او دا د مالِ ضمار مسئله ده وَفِيْهِ خِلَافُ زُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ او په دې کي د امام زفر رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَمِنْ جُمْلَتِهِ او د مالِ ضمار له ټولګي څخه اَلْمَالُ الْمَفْقُوْدُ [٢] ورک سوی مال دی وَالْآبِقُ [٣] او تښتېدلی غلام دی وَالضَّالُّ [٤] او بې لاري سوی او ورک سوی غلام(او حيوان) دی وَالْمَغْصُوْبُ [٥] او هغه مال دی چي يو چا غصب کړی وي اِذَا لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ په دې شرط چي پر غاصب ګواه نه وي وَالْمَالُ السَّاقِطُ فِي الْبَحْرِ [٦] او هغه مال دی چي په سمندر کي

لوېدلی وي وَالْمَدْفُوْنُ فِي الْمَفَازَةِ إِذَا نَسِيَ مَكَانَهُ [٧] او هغه مال دی چي په بیابان(او ځنګله) کي پټ سوی وي په دې شرط چي ځای يې هېر وي وَالَّذِيْ أَخَذَهُ السُّلْطَانُ مُصَادَرَةً [٨] او هغه مال دی چي باچا له مالک شخصه جلا کړی وی وَوُجُوْبُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ بِسَبَبِ الْآبِقِ وَالضَّالِّ او د تښتېدلي او ورک سوي غلام له طرفه د سرسایې واجبېدل وَالْمَغْصُوْبِ عَلَى هَذَا الْخِلَافِ (همدارنګه) د غصب سوي غلام له طرفه(د سرسایې واجبېدل) هم پر دې اختلاف دي لَهُمَا: أَنَّ السَّبَبَ قَدْ تَحَقَّقَ د امام زفر او امام شافعي دلیل دا دی: چي د زکاة سبب (ملکیت) متحقق سوی دی وَفَوَاتُ الْيَدِ غَيْرُ مُخِلٍّ بِالْوُجُوْبِ او د قبضې فوتېدل په واجبېدلو کي خلل اچونکي نه دي كَمَالِ ابْنِ السَّبِيْلِ لکه د مسافر مال وَلَنَا قَوْلُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زموږ دلیل د حضرت علي رضي الله عنه (دا) قول دی لَا زَكَاةَ فِي الْمَالِ الضِّمَارِ چي زکاة نسته په مالِ ضمار کي وَلِأَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْمَالُ النَّامِيْ او په دې وجه (هم) چي د زکاة سبب وده کونکی(زیاتېدونکی) مال دی وَلَا نَمَاءَ إِلَّا بِالْقُدْرَةِ عَلَى التَّصَرُّفِ او پر تصرف(او قبضې) له قدرت لرلو څخه بغیر وده(زیاتېدل) نسته وَلَا قُدْرَةَ عَلَيْهِ او پر تصرف (هغه ته) قدرت نسته وَابْنُ السَّبِيْلِ يَقْدِرُ بِنَائِبِهِ او مسافر د خپل نائب په ذریعه سره پر خپل مال د تصرف قدرت لري وَالْمَدْفُوْنُ فِي الْبَيْتِ نِصَابٌ او په کور کي پټ کړی سوی مال (د زکاة) نصاب دی لِتَيَسُّرِ الْوُصُوْلِ إِلَيْهِ ځکه پټ کړی سوي مال ته لاس رسی آسانه دی وَفِي الْمَدْفُوْنِ فِي الْأَرْضِ أَوِ الْكَرْمِ اخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ او په ځمکه یا باغ کي په پټ کړی سوی مال کي د مشائخو اختلاف دی وَلَوْ كَانَ الدَّيْنُ عَلَى مُقِرٍّ او که پور پر داسي سړي وي چي هغه اقرار کونکی وي مَلِيْئٍ أَوْ مُعْسِرٍ هغه که مالداره وي او که تنګلاسی(مسکین) وي تَجِبُ الزَّكَاةُ نو زکاة واجب دی لِإِمْكَانِ الْوُصُوْلِ إِلَيْهِ ابْتِدَاءً ځکه چي په شروع کي مال ته لاس رسی(یعني مال تر لاسه کول) ممکن دي أَوْ بِوَاسِطَةِ التَّحْصِيْلِ یا د حاصلولو په ذریعه (د مال تر لاسول کول ممکن دي) وَكَذَا لَوْ كَانَ عَلَى جَاحِدٍ همدارنګه که پور پر داسي سړي وي چي هغه انکار کونکی وي وَعَلَيْهِ بَيِّنَةٌ أَوْ عَلِمَ بِهِ الْقَاضِيْ او د هغه په خلاف ګواهان وي یا قاضي په خبر وي (نو هم زکاة واجب دی) لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَلَوْ كَانَ عَلَى مُقِرٍّ مُفْلِسٍ او که پر داسي سړي پور وي چي هغه اقرار کونکی وي (لېکن) مفلسه وي فَهُوَ نِصَابٌ عِنْدَ* أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هغه د نصاب مال دی لِأَنَّ تَفْلِيْسَ الْقَاضِيْ لَا يَصِحُّ عِنْدَهُ ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د قاضي مفلس ګرځول صحیح نه دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا تَجِبُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز زکاة واجب نه دی لِتَحَقُّقِ الْإِفْلَاسِ عِنْدَهُ بِالتَّفْلِيْسِ ځکه چي د هغه په نېز د قاضي په مفلس ګرځولو سره مفلسي ثابتېږي وَأَبُوْيُوْسُفَ مَعَ

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:٢، ص:١٠. [القول الراجح ج:١، ص:١٦٣]

مُجَحِّدٍ فِي تَحَقُّقِ الْإِفْلَاسِ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د مفلسی په ثابتېدلو کي د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی وَمَعَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهِ فِي حُكْمِ الزَّكَاةِ او د زکاة په حکم کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی رِعَايَةً لِجَانِبِ الْفُقَرَاءِ د غریبانو د اړخ د رعایت کولو په وجه.

اللغات: ﴿جحد﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول، ﴿مطی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: تېرېدل، ﴿مال ضمار﴾ داسي ورک سوی مال چي د پیدا کېدلو او تر لاسه کولو امید یې نه وي، ﴿مفازة﴾ بیابان، دښت، ځنګل، ﴿آبق﴾ تښتېدونکی، ﴿کرم﴾ انګور، ګڼ باغ ته هم ویل کیږي جمع یې کُرُوْمٌ راځي، ﴿ملئ﴾ مالدار، شتمن ﴿تفلیس﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: یو څوک ډېوالي (دېوالي) ګڼل، یو څوک غریب ګرځول.

تشریح: مخکي د هغو خلګو بیان وو چي پر هغو زکاة واجبیږي، یا نه واجبیږي، اوس له دې ځایه هغه مالونه بیانیږي چي په هغو کي زکاة نه واجبیږي، د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي دا مسئله د ضمار د مسئلې سره تعلق لري، نو تر ټولو مخکي تاسو د ضمار په حقیقت پوه سئ، ضِمَار د فعال پر وزن دی چي هغه د فاعل یا مفعول په معنیٰ سره راځي، دا له إِضْمَار څخه مشتق دی، لغوي معنیٰ یې ده: پټول، غائبول، د شریعت په اصطلاح کي د ضمار تعریف دا دی: المال الضمار المال الغائب الذی لم یرتج (یعني مال ضمار هغه غائب او ورک مال ته ویل کیږي چي د هغه د پیدا کېدلو امید نه وي).

بعضي حضراتو د اضمار تعریف داسي کړی دی: مایکون علیه قائما ولکن لا یکون منتفعا به (یعني ضمار هغه مال دی چي موجود خو وي، لېکن د ګټي او فایدې وړ نه وي)، دې تعریف ته په کتني سره به ضمار له ضامر څخه مشتق وي، خو دې دواړو تعریفونو کي اول تعریف زیات مناسب معلومیږي. (بنایه ج۳، ص۶۰)

د مال ضمار صورتونه: مصنف رَحِمَهُ الله د مال ضمار اته (۸) صورتونه او قسمونه ذکر کړي دي، اول صورت دا دی چي: [۱] د یو سړي پر بل سړي پور باندي وي، پوروړی (قرضداره) تر څو کلونو پوري له دې پور څخه انکار کوي، او پور غوښتونکي په دې وخت کي له ګواهانو څخه محروم وي، تر څو کلونو وروسته ګواهان پیدا سي، په دې توګه چي پوروړی د خلګو مخته د پور اقرار وکړي، نو دا خلک د پوروړي اقراري ګواهان سي، یعني دا خلک پر دې ګواهان سوه چي پوروړي زموږ مخته د پور اقرار وکړی، نو د ګواهانو تر پیدا کېدلو مخکي دا پور مال ضمار وو، او د ګواهانو تر پیدا کېدلو وروسته دا پور مال ضمار نه سو پاته، ځکه چي تر څو پوري ګواهانو نه ول، تر هغه وخته د دې پور د حاصلولو هیڅ امید نه وو، لېکن کله چي ګواهانو پیدا سول، نو د عدالت او قاضي په ذریعه د دې قرضې تر لاسه کول ممکن سو، او امید یې پیدا سو، [۲] دویم قسم ورک سوی مال دی، [۳] تښتېدلی غلام، [۴] هغه حیوان او غلام چي بې لاري سي او ورک سي، [۵] هغه مال چي غصب کړی سي لېکن د مالک سره د غاصب په خلاف ګواه نه وي، [۶] هغه مال چي په سمندر کي لوېدلوی وي، [۷] هغه مال چي په یو بیابان او دښت کي پټ کړی سوی او ځای یې هیر سوی وي، [۸] هغه مال چي باچا له مالک څخه جلا کړی وي، اوس سوال دا دی چي مال ضمار کوم چي تر څو کلونو پوري له مالک څخه غائب او ورک وي، او په دې موده کي د هغه د پیدا کېدلو امید هم نه وي، بیا یو څو کال وروسته دا مال پیدا سي، نو په دې تېرو کلونو کي په هغه کي زکاة واجب دی که نه؟ په دې باره کي د احنافو مذهب دا دی چي په تېرو کلونو کي زکاة واجب نه دی، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي زکاة پکښې واجب دی.

ووجوب صدقة الفطر الخ همدا اختلاف د هغه غلام د سرسايې (صدقهٔ فطر) په واجبېدلو کې دی چې هغه تېښتېدلی وي، يا ورک سوی وي، يا غصب کړی سوی وي، نو زموږ په نېز پر مالک د هغه له طرفه سرسايه اجب نه ده، او د امام زفر او امام شافعي په نېز واجب ده.

د امام زفر او امام شافعي دليل: دا دی چې په مالِ ضمار کې د زکاة د واجبېدلو سبب سته چې هغه د نامي (وده کونکي) نصاب مالک کېدل دي، لهذا کله چې د زکاة د واجبېدلو سبب سته، نو په مالِ ضمار کې به هم زکاة واجب وي، خو که دا وويل سي چې پر مالِ ضمار د مالک قبضه نسته، (يعني د هغه په لاس کې مالِ ضمار نسته)، نو جواب دا دی چې د قبضې نشتوالی د زکاة د واجبېدلو لپاره مُخل نه دی، لکه د مسافر مال چې د سفر په حال کې د هغه په قبضه کې نه وي، حال دا چې په اتفاق سره پر مسافر سرسايه واجب ده، او زکاة هم پر واجب دی.

زموږ دليل: د حضرت علي ﷺ دا قول دی: لا زكوة في مال الضمار، همدا مضمون له حسن بصري رَحِمَهُ الله څخه داسي رانقل سوی دی: إذا حضرت الوقت الذي يؤدي فيه الرجل زكوته أدیٰ عن كل مال وعن كل دين إلا ما كان ضمار لايرجوه (يعني کله چې هغه وخت راسي چې په هغه کې سړی خپل زکاة اداء کوي، نو د هر مال او هر پور زکاة دي اداء کړي، خو دا چې کوم مال ضمار وي، او اميد يې نه وي)، له دې دواړو قولونو څخه ثابته سوه چې په مالِ ضمار کې زکاة واجب نه دی، **دويم دليل:** دا دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام زفر رَحِمَهُ الله دا وينا چې د زکاة د واجبېدلو سبب پيدا سو موږ دا نه منو، ځکه چې د زکاة د واجبېدلو سبب مطلق د مال مالک کېدل نه دي، بلکې د مالِ نامي (وده کونکي) مال مالک کېدل د زکاة د واجبېدلو سبب دي، او په مالِ ضمار کې دا سبب نسته، ځکه چې نما (او وده) هغه وخت راځي چې کله د تصرف قدرت وي، او پر مالِ ضمار د تصرفِ قدرت نسته، نو کله چې د تصرف قدرت نسته، نو په دې کې به نما هم نه راځي، او کله چې نما نه پکښې راځي، نو مالِ ضمار به مالِ نامي هم نه وي، او کله چې مالِ نامي نه سو، نو زکاة به هم پکښې واجب نه وي.

جواب: له وابن السبيل يقدر بنائبه څخه د امام زفر او امام شافعي د دليل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې مالِ ضمار د مسافر پر مال قياسول قياسِ فاسد دی، ځکه چې مالک نه په خپله پر مالِ ضمار د تصرف قدرت لري، او نه د يو بل نائب په ذريعه سره پر مالِ ضمار د تصرف قدرت لري، او مسافر که څه هم په خپله پر هغه مال د تصرف قدرت نه لري کوم چې د هغه په وطن کې دی، لېکن د نائب په ذريعه سره پر هغه مال د تصرف قدرت لري، نو که مسافر له خپل مال څخه يو شی خرڅ کړي نو جائز دي، ځکه چې مسافر د خپل نائب په ذريعه د مبيع (خرڅ کړی سوي شي) پر ورکولو قدرت لري، نو معلومه سوه چې د مسافر مال، مالِ نامي دی، او مالِ ضمار نامي نه دی، نو امام زفر او امام شافعي دي غور وکړي، چې د دې غټ فرق باوجود به قياس څرنګه صحيح وي.

والمدفون في البيت الخ صاحب د هدايې وايي چې کوم مال په خونه (او کور) کې پټ سوی وي نو هغه د زکاة نصاب دی، يعني په هغه کې زکاة واجب دی، ځکه چې خونه او کور د ټولو اجزاؤ سره د انسان په قبضه کې دي، نو تر دې ماله پوري رسېدل آسانه دي، او کله چې تر دې پوري رسېدل آسانه دي، او د هغه حاصلول ممکن دي، نو دا مال به په مالِ ضمار کې داخل نه وي، او کله چې په مالِ ضمار کې داخل نه سو، نو زکاة به پکښې واجب وي.

وفي المدفون في الأرض الخ او که مال په مځکه يا باغ کې پټ سوی وي، او ځای يې له انسان څخه هېر وي، نو په دې کې د مشائخو اختلاف دی، بعضو ويلي دي چې په دې مال کې زکاة واجب دی، ځکه د ټوله باغ يا ټولي معلومي مځکي په

کيندلو سره د هغه را ايستل ممکن دي، لهذا پر هغه د تصرف قدرت هم سته، او کله چې د تصرف قدرت سته، نو دا مال ضمار نه سو، او بعضې مشائخو ويلي دي چې په دې مال کې زکاة واجب نه دی، ځکه ټوله باغ يا معلومه ځکه کيندل که څه هم ناممکنه نه دي، لېکن ستونزمن او مشکل خامخا دي، او په شريعت کې تکليف او حرج ليرې سوی دی، نو ځکه به په دې مال کې زکاة واجب نه وي.

ولوكان الدين الخ صاحب د هدايې وايي چې که پور پر يو داسې سړي وي چې هغه د دې پور اقرار کوي، بيا برابره ده که دا پوروړی مالداره وي او که مسکين، نو د دې پور زکاة واجب دی، ځکه چې د دې پور ترلاسه کول ممکن دي، پوروړی (قرضداره) که موړ وي نو له شروع څخه ځني ترلاسه کېدلای سي، او که غريب او تنګلاسی وي نو د تحصيل په ذريعه ځني تر لاسه کېدلای سي، يعني د هغه له ګټي څخه دي يې د قاضي په حکم يا د هغه په رضا سره حاصل کړي، نو پر داسې قرضه که څه هم حقيقةً قدرت نسته، لېکن حکماً قدرت سته، او کله چې مالک ته قدرت سته، که څه هم حکماً وي، نو هغه ته مال ضمار نه ويل کيږي.

وكذا لوكان على جاحد الخ او که پور پر يو انکار کونکي سړي وي، لېکن د پور غوښتونکي سره د هغه په خلاف ګواهان وي، يا قاضي په دې پور خبر وي، نو هم زکاة واجب دی، ځکه چې د ګواهانو په ګواهي سره قاضي د مالک په حق کې فيصله کولای سي، يا قاضي په خپل علم او خبره سره د هغه په حق کې حکم کولای سي.

ولوكان على مقر مفلس الخ او که پوروړی د پور اقرار کوي، لېکن قاضي د هغه د مفلس او غريب کېدلو حکم او اعلان وکړي (چې دا سړی هيڅ نه لري)، نو دا د پور مال هم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د زکاة نصاب دی، يعني په دې کې هم زکاة واجب دی، ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا صحيح نه دي چې قاضي دا سړی مفلس وګرځوی، او د هغه د مفلس کېدلو حکم وکړي، نو کله چې د قاضي مفلس ګرځول صحيح نه دي، نو مفلس ګرځول او نه مفلس ګرځول به دواړه برابر وي، او د نه مفلس ګرځولو په صورت کې بالاتفاق زکاة واجب دی، ځکه چې پور ځني اخيستل ممکن دي، نو همدارنګه به تر مفلس کولو وروسته هم زکاة واجب وي، امام امحمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې که دا سړی قاضي مفلس وګرځوي يعني د هغه د مفلس کېدلو حکم وکړي، نو بيا زکاة واجب نه دی، ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د قاضي په مفلس ګرځولو سره مفلس کېدل ثابتيږي، او کله چې د قاضي مفلس ګرځول د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز صحيح دي، نو دا پور د پوروړي په حق کې د هلاک سوي مال په درجه کې سو، او د هغه پور په درجه کې سو چې له هغه څخه انکار وسي، او په هلاک سوي او انکار کړی سوي مال کې زکاة نه واجبيږي، نو ځکه به په دې مال کې هم زکاة نه واجبيږي.

وأبو يوسف الخ پاته سو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله نو هغه په دې خبره کې د امام محمد رَحِمَهُ الله سره دی چې د قاضي په مفلس ګرځولو سره مفلسوالی ثابتيږي، نو د صاحبينو په نيز به د پوروړي تر مالداره کېدلو پوري مالک د پور مطالبه نه کوي، او د زکاة په واجبېدلو کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی، لهذا کله چې دا پور مالک ته په لاس ورسي، نو د شيخينو په نيز به د تېرو کلونو زکاة پر هغه واجب وي، ځکه چې په دې کې د فقيرانو او مسکينانو زيات رعايت لو خواخوږي ده.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، يعني که پوروړی د پور اقرار کوي، لېکن قاضي د هغه د مفلس او غريب کېدلو حکم وکړي، نو په دې مال کې هم زکاة واجب دی، کما قال الامام قاضيخان رَحِمَهُ

الله و ان كان على مفلس فلـه القاضي. وهو مقر يكون نصاباً في قول أبي حنيفة (الخانيه ج۱، ص۲۲۰)، ولكن قال الاستاذ المفتي غلام قادر النعماني: قول الامام مبنى على الاحتياط وقول محمد رَحِمَهُ الله أرفق للناس فينبغي أن يكون الراجح قول محمد رَحِمَهُ الله في هذا الزمان. [القول الراجح ج۱، ص:۱۶۳]

كه مينځه د تجارت په نيت رانيول سي، وروسته د خدمت نيت پکښي و سي نو څه حكم دى؟

وَمَنِ اشْتَرٰى جَارِيَةً لِلتِّجَارَةِ او چا چي د تجارت لپاره مينځه رانيوله وَنَوَاهَا لِلْخِدْمَةِ بَطَلَتْ عَنْهَا الزَّكَاةُ او د خدمت لپاره يې د هغې نيت وكړى نو له هغې څخه زكاة ساقط سو لِاِتِّصَالِ النِّيَّةِ بِالْعَمَلِ وَهُوَ تَرْكُ التِّجَارَةِ ځكه د عمل سره نيت متصل (جوخت) سو او هغه تجارت پرېښوول دي وَإِنْ نَوَاهَا لِلتِّجَارَةِ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمْ تَكُنْ لِلتِّجَارَةِ او كه د خدمت تر نيت وروسته يې په دې مينځه كي د تجارت نيت وكړى نو هغه به د تجارت لپاره نه وي حَتّٰى يَبِيْعَهَا تر دې چي هغه سرى دا خرڅه كړي فَيَكُوْنَ فِيْ ثَمَنِهَا زَكَاةٌ نو بيا به د دې په قيمت كي زكاة وي لِأَنَّ النِّيَّةَ لَمْ تَتَّصِلْ بِالْعَمَلِ ځكه چي نيت د عمل سره متصل نه سو إِذْ هُوَ لَمْ يَتَّجِرْ ځكه چي هغه (په رښتيا سره) تجارت نه وكړى فَلَمْ تُعْتَبَرْ نو ځكه به د هغه نيت معتبر نه وي وَلِهٰذَا يَصِيْرُ الْمُسَافِرُ مُقِيْمًا بِمُجَرَّدِ النِّيَّةِ همدا وجه ده چي مسافر صرف په نيت سره مقيم كرځي وَلَا يَصِيْرُ الْمُقِيْمُ مُسَافِرًا بِالنِّيَّةِ إِلَّا بِالسَّفَرِ لېكن مقيم بې له سفره (صرف) په نيت سره نه سي مسافر كېداى.

اللغات: ﴿جَارِيَةٌ﴾ مينځه، ﴿المُجَرَّد﴾ خالي، فقط، محض، ﴿لَمْ يَتَّجِرْ﴾ (د تجارت يې نه وو كړى) د افتعال له باب څخه د جحد معلوم صيغه ده: تجارت كول.

تشريح: د عبارت تر حل مخكي دا قاعده په ياده لرئ چي هر هغه شي چي تعلق يې د اندامونو د عمل (اعمالِ جوارح) او د اندامونو د حركت سره وي، په هغه كي فقط په نيت سره تغيّر او تبديلي نه راځي، او هغه شى چي تعلق يې د پرېښوولو (ترک) سره وي په هغه كي فقط په نيت سره تبديلي راځي.

صورت د مسئلې: دا دى كه يو سړي د تجارت په نيت سره يوه مينځه رانيوله، بيا يې دا اراده وكړه چي له هغې څخه به خدمت اخلم، او له تجارت څخه يې د هغې د ايستلو نيت وكړى، نو له دې مينځي څخه زكاة باطل او ساقط سو، يعني د دې مينځي په قيمت كي زكاة واجب نه دى، دليل دا دى چي كوم شى له اعمالِ جوارح څخه وي هغه فقط په نيت سره نه ثابتيږي، بلكي د نيت سره د عمل اتصال ضروري دى، او كوم شى چي د ترک له قبيلې څخه وي، په هغه كي فقط نيت كافي دى، نو څرنګه چي دغه سړي د تجارت په نيت سره مينځه رانيوله، او بيا يې له هغې څخه د خدمت اخيستلو نيت وكړى، يعني په هغې كي يې د تجارت د پرېښوولو (ترک) نيت وكړى، نو فقط په نيت سره دا مينځه له تجارت څخه ووتله، او كله چي له تجارت څخه ووتله، نو له هغې څخه زكاة هم باطل او ساقط سو. صاحب د هدايې وايي چي نيت د عمل سره متصل سو، او هغه عمل د تجارت پرېښوول دي.

وَإِنْ نَوَاهَا الخ او كه د تجارت په نيت سره يې مينځه رانيوله، بيا يې له هغې څخه د خدمت اخيستلو نيت وكړى، بيا يې تر هغه وروسته د تجارت نيت وكړى، نو هغه مينځه د تجارت لپاره نه ګرځي، تر دې چي هغه مينځه خرڅه نه كړي، نو كه يې خرڅه كړه، بيا د هغې په قيمت كي زكاة واجب دى، ځكه تر څو چي دى مينځه خرڅه نه كړي، تر هغه وخته

نيت د تجارت د عمل سره نه متصل کيږي، او کوم نيت چي د عمل سره متصل نه وي، هغه معتبر نه ګڼل کيږي، نو ځکه به فقط په نيت سره هغه مينځه د تجارت لپاره نه ګرځي.

ولهذا الخ د دې حاصل دا دی چي په ترک (پرېښوولو) کي فقط نيت کافي دی، او په عمل کولو کي عمل ضروري دي، د دې دليل بيانوي چي اقامت د سفر پرېښوولو ته ويل کيږي، همدا وجه ده که يو مسافر د مقيم کېدلو نيت وکړي، نو هغه فقط په نيت سره مقيم کيږي، ځکه چي په پرېښوولو کي فقط نيت کافي دی، لېکن که يو مقيم د مسافر کېدلو نيت وکړی، نو تر څو چي هغه په عملي توګه سفر شروع نه کړي، تر هغه وخته مسافر نه ورته ويل کيږي، ځکه چي سفر د اندامونو د عمل (عملِ جوارح) نوم دی، چي هغه فقط په نيت سره نه ثابتيږي.

يو مال کله د تجارت مال جوړيږي؟

وَإِنِ اشْتَرَىٰ شَيْئًا وَنَوَاهُ لِلتِّجَارَةِ او که يو سړی يو شی رانيسي او په هغه کي د تجارت نيت وکړي كَانَ لِلتِّجَارَةِ نو هغه به د تجارت لپاره وي لِاتِّصَالِ النِّيَّةِ بِالْعَمَلِ ځکه چي نيت د عمل سره متصل سو بِخِلَافِ مَا إِذَا وَرِثَ وَنَوَى التِّجَارَةَ په خلاف د هغه صورت چي کله دا سړی د يو شي وارث سي او د تجارت نيت يې وکړي لِأَنَّهُ لَا عَمَلَ مِنْهُ ځکه (په هغه صورت کي) د ده له طرفه هيڅ عمل نسته وَلَوْ مَلَكَهُ او که د يو شي مالک سو بِالْهِبَةِ أَوْ بِالْوَصِيَّةِ [۱] په هبه سره [۲] يا په وصيت سره أَوِ النِّكَاحِ أَوِ الْخُلْعِ [۳] يا په نکاح سره [۴] يا په خلع سره أَوِ الصُّلْحِ عَنِ الْقَوَدِ [۵] يا د قصاص په بدله کي په صلح سره وَنَوَاهُ لِلتِّجَارَةِ او د هغه د تجارت نيت يې وکړی كَانَ لِلتِّجَارَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به هغه د تجارت لپاره وي لِاقْتِرَانِهَا بِالْعَمَلِ ځکه چي نيت (د تجارت) د عمل سره متصل سو وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ● لَا يَصِيرُ لِلتِّجَارَةِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به (په دې ټولو صورتونو کي) د تجارت لپاره نه ګرځي لِأَنَّهَا لَمْ تُقَارِنْ عَمَلَ التِّجَارَةِ ځکه چي نيت د تجارت د عمل سره متصل نه سو وَقِيلَ: اَلِاخْتِلَافُ عَلَىٰ عَكْسِهِ او ويل سوي دي: چي اختلاف د دې پرعکس دی.

﴿قَوَد﴾ قصاص (د قتل بدله چي د قتل په ذريعه واخيستل سي، هغه ته قصاص ويل کيږي)، ﴿اِقْتِرَان﴾ نژدې کېدل، متصل کېدل (جوختېدل)، يو ځای کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي درې مسئلې بيان سوي دي: (۱) يو سړي يو شی رانيوی، او د رانيولو په وخت کي يې د هغه تجارت نيت وکړی، نو اوس هغه شی د تجارت لپاره متعين سو، او د زکاة د شرائطو د پوره کېدلو په وخت کي به هغه کي زکاة هم واجبيږي، ځکه چي تجارت يو عمل ته ويل کيږي، او په دې صورت کي د دغه سړي نيت د عمل يعني د رانيولو سره متصل سو، او ښکاره ده چي رانيول هم د تجارت لپاره دي، نو ګواکي نيت د تجارت سره متصل سو، او کله چي نيت د يو شي د تجارت سره متصل سي، نو هغه شی به د تجارت لپاره شمارل کيږي، نو ځکه به زکاة پکښې واجب وي.

●القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص:۱۵. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۶۴]

(۲) بخلاف ما إذا ورث الخ د دې حاصل دا دی چې که يو سړي په وراثت کې يو شی تر لاسه کړی، او په هغه کې يې د تجارت نيت وکړی، نو د هغه سړي د دې نيت اعتبار به نه کيږي، ځکه چې د تجارت تعلق د عملِ جوارح (د اندامونو د عمل) سره دی، او په پورتني صورت کې د دې سړي له طرفه هيڅ عمل نشته، بلکې د وراثت مال خو بغير له څه کوشش او عمل څخه هغه ته حاصل سو، نو نيت له عمل څخه خالي سو، او د تجارت په باب کې داسې نيت تأثير نه کوي، نو ځکه به دغه د وراثت مال د تجارت مال نه وي، نو زکاة به هم پکښې واجب نه وي.

(۳) دريمه مسئله دا ده چې که يو سړی د هبې (تحفې) په ذريعه سره د يو شي مالک سو، يعني بل چا و ده ته يو شی په هبه ورکړی، او ده يې مالک سو، يا بل چا د ده لپاره د يو شي وصيت کړی وو، او هغه ده ته حاصل سو، يا يوه سړي بل سړي ته خپله مېنځه په نکاح ورکړه او د هغې پر مهر يې قبضه وکړه، يا پر يو سړي د خپلې ښځې مهرپاته وو، او د ښځې تر مرګ وروسته هغه ته په دې کې څه حصه حاصله سوه، يا يو چا ته د ښځې سره د خلع کولو په وخت کې مال حاصل سو، يا د مقتول وليانو ته د قصاص په عوض کې مال حاصل سو. او په دې ټولو صورتونو کې چې چا ته څه حاصل سو هغه د تجارت نيت وکړی، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د هغه نيت کول صحيح دي، او دا ټوله مالونه به د تجارت لپاره متعين کيږي، او زکاة به هم پکښې واجبيږي، ځکه چې په دې صورتونو کې د سړي نيت د عمل يعني د هبې د قبلولو او د وصيت او د نکاح او د خلعې او د ديت د قبلولو سره متصل دی (يعني عمل دا دی چې دې سړي دا شيان قبول کړل)، او کله چې نيت د عمل سره متصل سو، نو هغه به تأثير کوي، نو په دې صورتونو کې به هم نيت مؤثر وي، او له دې مالونو څخه به هر يو د تجارت لپاره متعين کيږي، او په دې کې به زکاة واجب وي.

د دې په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورتونو کې د دغه سړي د نيت هيڅ اعتبار نشته، او دا مالونه به د تجارت لپاره نه وي، ځکه دلته نيت د تجارت د عمل سره متصل نه دی، ځکه چې قبلول که څه هم يو عمل دی، لېکن د تجارت سره هيڅ تعلق نه لري، نو ذکر سوي عقود يعني هبه، وصيت، خلع او داسې نور د تجارت له عقودو څخه نه سو، همدا وجه ده که مالک خپل غلام ته د تجارت اجازه ورکړي، نو هغه ته په دې عقودو کې د تجارت اجازه نه حاصليږي، له دې څخه هم معلوميږي چې دلته نيت د عمل سره نه متصل کيږي، نو ځکه به دا مالونه د تجارت لپاره نه وي، لهذا په دې کې به زکاة هم واجب نه وي.

وقيل الاختلاف الخ فرمايي: مخکې چې کوم اختلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله او امام محمد رَحِمَهُ الله په مېنځ کې ذکر سو، دا له حضرت امام طحاوي څخه رانقل سوی دی، لېکن علامه اسبيجابي له قاضي شهيد څخه په شرح الاسبيجابي کې دا اختلاف داسې رانقل کړی دی چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په پورتني صورتونو کې د نيت باوجود تجارت نه مني او زکاة نه واجبوي، او امام محمد رَحِمَهُ الله په دې صورتونو کې تجارت مني او زکاة واجبوي.

راجح قول: په پورتني مسئله کې راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، يعني په پورتني صورتونو کې به د نيت اعتبار نه کيږي او مذکوره مالونه به د تجات لپاره نه وي، قال الاستاذ المفتي غلام قادر النعماني: والحاصل أن نية التجارة إنما تعتبر إذا كانت مقارنة مع العمل وإلا فلا يكفي مجرد نية التجارة. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۶۲]

د زكاة په اداء كولو كې د نيت بيان

وَلَا يَجُوزُ أَدَاءُ الزَّكَاةِ او زكاة اداء كول جائز نه دي إِلَّا بِنِيَّةٍ مُقَارِنَةٍ لِلْأَدَاءِ مگر په داسې نيت سره چې هغه به متصل وي د اداء سره أَوْ مُقَارِنَةٍ لِعَزْلِ مِقْدَارِ الْوَاجِبِ يا به متصل وي د واجب مقدار د جلا كولو سره لِأَنَّ الزَّكَاةَ عِبَادَةٌ ځكه چې زكاة يو عبادت دى فَكَانَ مِنْ شَرْطِهَا النِّيَّةُ نو نيت به د هغه لپاره شرط وي وَالْأَصْلُ فِيهَا الِاقْتِرَانُ او په نيت كې يو ځاى والى اصل دى (يعني دا چې نيت به د عبادت سره يو ځاى وي) إِلَّا أَنَّ الدَّفْعَ يَتَفَرَّقُ ليكن (څرنګه چې) وركول بېلا بېل دي فَاكْتُفِيَ بِوُجُودِهَا حَالَةَ الْعَزْلِ تَيْسِيرًا نو ځكه د آسانۍ لپاره د جلا كولو په حالت كې د نيت پر وجود اكتفا وسوه كَتَقْدِيمِ النِّيَّةِ فِي الصَّوْمِ لكه په روژه كې نيت مخكې كول (يعني لكه په روژه كې چې كله نيت مخكې وسي نو هم كافي دى).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چې له نيت څخه بغير زكاة اداء كول جائز نه دي، او كه يو سړي له نيت څخه بغير د زكاة تموله مال فقيرانو او مسكينانو ته وركړي، نو د هغه زكاة نه اداء كيږي، ځكه چې زكاة يو عبادت دى، نو څرنګه چې په نورو عبادتونو مثلاً په لمانځه او نورو كې نيت شرط او ضروري دى، همدارنګه په زكاة كې هم نيت ضروري دى، او بې له نيته زكاة نه ثابتيږي.

اوس پاته سوه دا مسئله چې نيت كله كول پكار دي، په دې لړ كې اصل همدغه دى چې نيت به د اداء سره متصل وي، خو څرنګه چې د زكاة تموله مال يوه سړي ته نه وركول كيږي، بلكې بېلابېلو خلكو ته وركول كيږي، نو هر وار د زكاة وركولو په وخت كې نيت كول ستونزمن او سخت دي، لهذا شريعت د سختي او حرج ليري كولو لپاره دا آسانتيا جوړه كړې ده چې كله انسان د خپل مال حساب وكتاب وكړي، او د زكاة مال له نور مال څخه جلا كړي، نو په هغه وخت كې دې د زكاة نيت وكړي، او كله چې يې مصارفو او مسكينانو ته وركوي نو نيت ضروري نه دى (يعني هر وار نيت ضروري نه دى)، ځكه د عزل په وخت كې (يعني له نور مال څخه د زكاة د مال د راجلا كولو په وخت كې) چې كوم نيت وسي، هغه د ټولو وارونو لپاره كافي دى، او د هر وار لپاره د نوي نيت ضرورت نسته.

كتقديم النية الخ او دا مسئله په روژه كې د نيت د مخكې كولو سره مشابه ده، يعني څرنګه چې د روژې په نيت كې اصل دا دى چې هغه به د روژې د شروع يعني د سهار د اول سره متصل وي، خو د تكليف ليري كېدلو په وجه له دې څخه مخكې هم نيت كول معتبر دي، همدارنګه به د مال جلا كولو په وخت كې هم نيت معتبر وي چې خلک د تكليف سره مخامخ نه سي.

بې له نيته د ټوله مال صدقه كولو حكم

وَمَنْ تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَالِهِ او څوک چې خپل ټوله مال صدقه كړي لَا يَنْوِي الزَّكَاةَ (او) د زكاة نيت نه وكړي سَقَطَ فَرْضُهَا عَنْهُ اسْتِحْسَانًا نو استحساناً له هغه څخه د زكاة فرضيت ساقط سو لِأَنَّ الْوَاجِبَ جُزْءٌ مِنْهُ ځكه چې واجب د ټوله مال څه حصه (په زكاة كې) وركول دي فَكَانَ مُتَعَيِّنًا فِيهِ نو په ټوله مال كې به هغه حصه متعينه وي فَلَا حَاجَةَ إِلَى التَّعْيِينِ نو ځكه به (اوس) د هغه د متعينولو ضرورت نه وي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي د زکاة نیت نه وکړی او خپل ټوله مال یې پر غریبانو او مسکینانو صدقه (خیرات) کړی، نو استحساناً د دې سړي له غاړي څخه د زکاة فریضه ساقطیږي، لیکن قیاساً د هغه له غاړي څخه د زکاة فریضه نه ساقطیږي، همدا د امام زفر او د دریو امامانو قول دی.

د قیاس دلیل: دا دی چې صدقه پر دوه قسمه ده: یوه نفلي صدقه ده او بله فرضي صدقه ده یعني زکاة، نو په دواړو کې به د نیت په ذریعه سره فرق راځي، حال دا چې په پورتني صورت کې دې سړي نیت کړی نه دی، نو ځکه به د هغه ټوله صدقه نفلي صدقه وي، او د هغه پر ذمه به د زکاة فریضه همسې پاته وي.

د استحسان دلیل: دا دی چې پر دې سړي د ټوله مال زکاة فرض نه دی، بلکې د مال د یوه جزء یعني د څلوېښتمي حصې زکاة پر فرض دی، او کله چې هغه ټوله مال د الله په لار کې صدقه کړی، نو ښکاره ده چې په دې صدقه کې د زکاة نصاب او د زکاة مقدار هم ولاړی، او دا سړی بریٔ الذمه سو، پاته سوه د نیت نه کولو مسئله، نو هغه دلته هیڅ تاوان نه کوي، ځکه د نیت اصل کار خو په عادت او عبادت کې تمیز او فرق پیدا کول دي، او په پورتني صورت کې چې کله هغه د الله لپاره ټوله مال صدقه کړی، نو د هغه نیت له عادت څخه په عبادت بدل سو، او د عبادت لپاره متعین سو، اوس بیا د بل نیت متعینولو او د زکاة لپاره د نور مال ورکولو ضرورت نسته، ځکه څرنګه چې صدقه عبادت ده، همدارنګه زکاة هم یو عبادت دی، او د فرضو نیت کول د تعیین لپاره ضروري دي، او دلته نیت متعین دی، ځکه چې د زکاة نصاب په ټوله مال کې شامل او داخل دی، نو جلا د هغه د متعینولو ضرورت نسته.

او دا مسئله داسې ده لکه یو څوک چې د روژې په میاشت (رمضان) کې مطلق د روژې نیت وکړي، نو دا نفلي روژه نه ګرځي، بلکې د رمضان روژه به وي، ځکه په دې میاشت کې صرف د رمضان روژه فرض ده، لهذا جلا د فرضي روژې نیت کول به ضروري نه وي. (بنایه ج:۳، ص:۳۷۰)

د څه مال صدقه کولو حکم

وَلَوْ أَدّٰى بَعْضَ النِّصَابِ او که څوک د نصاب څه حصه اداء کړي سَقَطَ زَكَاةُ الْمُؤَدّٰى عِنْدَ مُحَمَّدٍ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د ورکړل سوي حصې زکاة ساقطیږي لِأَنَّ الْوَاجِبَ شَائِعٌ فِي الْكُلِّ ځکه چې واجب مقدار په ټوله مال کې خور دی وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ● لَا تَسْقُطُ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نيز د دې حصې زکاة نه ساقطیږي لِأَنَّ الْبَعْضَ غَيْرُ مُتَعَيِّنٍ ځکه چې بعضې حصه متعینه نه ده لِكَوْنِ الْبَاقِي مَحَلًّا لِلْوَاجِبِ ځکه کوم مال چې پاته دی هغه (هم) د واجب (زکاة) محل دی بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اولي مسئلې، والله أعلم بالصواب.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي د نصاب د مال بعضې حصه صدقه کړه، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د مؤدیٰ یعني د نصاب چې کومه حصه فقیرانو ته ورکړل سوه، د هغې زکاة ساقط سو، او کوم مال چې باقي پاته سو، د هغه زکاة واجب دی، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نيز د مؤدیٰ زکاة هم نه ساقطیږي، بلکې کوم مال چې باقي پاته سو، په هغه کې به د ټوله نصاب زکاة واجب وي.

●القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في الخانية ج:١، ص:١٢٧. [القول الراجح ج:١، ص:١٦٥]

د امام محمد دليل: دا دى چي د زكاة څومره اندازه واجب ده، هغه اندازه په ټوله نصاب كي خوره او شايع ده، نو كه دې سري ټوله مال صدقه كړى واى، نو ټوله زكاة به ساقط واى، لهذا كله چي ده بعضي مال صدقه كړى، نو د هغه بعضي زكاة به ساقط وي، حاصل دا چي امام محمد رَحِمَهُ الله بعض پر كُل قياسوي، د مثال په توګه پر يوه سري په دوو سوو درهمو كي پنځه درهمه د زكاة واجب ول، او هغه تر كال تېرېدلو وروسته څلوېښت درهمه صدقه كړل، نو اوس په دې څلوېښتو درهمو كي يو درهم زكاة هم ووتى، اوس به پر هغه په پاته يو سل و شپېته (۱۶۰) درهمو كي څلور درهمه واجب وي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دى چي د زكاة لپاره د نصاب هغه بعضي حصه متعينه نه ده كومه چي وركړل سوه (او هغه يې نيت هم كړى نه دي)، او څومره اندازه مال چي پاته دى، هغه د واجب زكاة محل دى، يعني د زكاة ټوله مقدار له هغه څخه اداء كېداى سي، په خلاف د اولي مسئلې يعني چي كله ټوله مال صدقه كړي، نو ټوله زكاة ساقطيږي، ځكه چي د زكاة واجب مقدار خامخا په هغه كي داخل دى. والله أعلم

راجح قول: په پورتني مسئله كي راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دى، يعني د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مؤدى زكاة هم نه ساقطيږي. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۶۵]

بَابُ صَدَقَةِ السَّوَائِمِ

(دا) باب د څرېدونكو څارويانو د زكاة (په بيان كي) دى

تشريح: له دې ځايه صاحب د كتاب د أموالو د زكاة تفصيلي بيان شروع كوي، او له ټولو څخه مخكي په سوائم شروع كوي، ځكه تر ټولو مخكي د څارويانو څرلو (پوولو) طريقه په عربو كي رواج وه، او زياتره عربو څاروي درلودله، او څاروي د هغو غټه پانګه وه، او بيا هغو په څارويانو كي اوښان ډېر درلودله، نو ځكه صاحب د كتاب په څارويانو كي تر ټولو مخكي د اوښ د زكاة فصل في الإبل عنوان شروع كوي؛ د اوښانو د مخكي كولو يوه وجه دا هم ده چي نبي ﷺ د حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه په نامه يو خط ليكلى وو، او په هغه خط كي تر ټولو مخكي د اوښانو د زكاة بيان وو، همدارنګه ابو بكر رضي الله عنه هم په دغه ترتيب سره يو خط د حضرت انس رضي الله عنه په نامه ليكلى وو، نو ممكنه ده چي د مصنف په نظر كي د دې خطونو اقتداء او اتباع هم وي.

صاحب د كتاب په عنوان كي د زكوٰة لفظ ذكر نه كړى، بلكي د صدقة لفظ يې ذكر كړى، ځكه چي په دې كي د قرآن كريم اقتداء ده، ځكه په قرآن كي هم د زكاة د مصارفو د بيان په وخت كي په إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَاءِ سره زكاة يې ـ سوى دى.

ښكاره دي وي چي السوائم جمع د سائمة ده، معنى يې ده: څرېدونكي څارويان يعني د ونو خوړونكي څارويان، هغه كه نر وي او كه ماده، دلته له سوائم څخه مراد هغه څارويان دي چي هغو د كال زياتره حصه پر بيابان وابنه خوړلي وي، او په كور كي يې كم خوړلي وي.

په سائمه کي د زکاة د واجبېدلو شرط دا دی چي په هغو سره به د شيدو حاصلولو او نسل زياتولو ګټه مقصود وي، همدا وجه ده چي په هغو سوائمو کي زکاة نشته چي د سپرلي يا د غوښو لپاره پالل کيږي، همدارنګه کوم سوائم چي د تجارت لپاره وي، په هغه کي به د تجارت والا نصاب واجب وي، يعني په تجارتي سوائمو کي به د سوائمو نصاب معتبر نه وي، بلکي د مال نصاب به معتبر وي. (بنايه ج:۳، ص:۳۷۲)

بيا سائمه پر څو قسمه ده، او د عمر د مختلفوالي په وجه د سائمه نوم او احکام هم بېلابېل دي، او هغه څو قسمه دا دي:
① بنتِ مخاض، ② بنت لبون، ③ حقة، ④ جذعه.

(۱) بنتِ مخاض د اوښ هغه ښځينه (ماده) بچي ته ويل کيږي چي يو کال يې پوره سوی وي او په دويم کال کي داخله سي، او نر ته يې ابن مخاض ويل کيږي، وجه د تسميې دا ده چي مخاض د لنګوالي درد ته ويل کيږي، او څرنګه چي اوښه هم د خپل بچي د ولادت په وخت کي په درد مبتلا کيږي، نو ځکه د اوښې بچيانو ته ابن مخاض او بنت مخاض ويل کيږي. (۲) بنت لبون هغه بچي ته ويل کيږي چي دوه کاله يې پوره سوي او په دريم کال کي داخل سي، وجه د تسميې دا ده چي کله د هغه دوه کاله پوره سي، نو مور يې بل بچی وزيږوي، او د شيدو والا سي، نو د دې بل بچي سره هغه هم د خپلي مور شيدې چيښې، نو په دې وجه هغه ته بنت لبون يا ابن لبون وايي. (۳) حقه هغه بچي ته ويل کيږي چي په څلورم کال کي داخل سي، او څرنګه چي په څلورم کال کي دا بچی د بار، او سپرتيا حقداره سي، نو ځکه هغه ته حقه وايي. (۴) جذعه هغه بچي ته ويل کيږي چي څلور کال يې پوره سوي وي او په پنځم کال کي داخل سي، او دې ته جذعه ځکه ويل کيږي چي د جذع معنیٰ ده: يو شی له بېخه کښل، او څرنګه چي په پنځم کال کي د دې بچي د شيدو غاښونه وځي، او نور غاښونه يې راځي، نو په دې وجه جذعه ور ته ويل کيږي. (بنايه ج:۳، ص:۳۷۴)

فَصْلٌ فِي الْإِبِلِ

(دا) فصل د اوښانو (د زکاة په بيان کي) دی

د اوښانو د نصاب او زکاة مقدار

قَالَ: لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسٍ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ فرمايي: چي له پنځو څخه په کمو اوښانو کي زکاة واجب نه دی فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا سَائِمَةً او کله چي اوښان پنځه سي او هغه څرېدونکي (هم) وي وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ او يو کال پر تېر سي فَفِيهَا شَاةٌ إِلَى تِسْعٍ نو په هغو کي تر نهو اوښانو پوري يوه بزه (وزه) واجب ده فَإِذَا كَانَتْ عَشْرًا فَفِيهَا شَاتَانِ إِلَى أَرْبَعَ عَشْرَةَ بيا چي کله لس اوښان سي نو په هغو کي تر څوارلسو اوښانو پوري دوې بزې واجب دي فَإِذَا كَانَتْ خَمْسَ عَشْرَةَ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى تِسْعَ عَشْرَةَ بيا چي کله پنځلس اوښان سي نو په هغو کي تر نولسو (۱۹) اوښانو پوري درې بزې واجب دي فَإِذَا كَانَتْ عِشْرِينَ فَفِيهَا أَرْبَعُ شِيَاهٍ إِلَى أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ بيا چي کله شل سي نو تر څلورويشتو پوري څلور بزې

پکښې واجب دي فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتُ مَخَاضٍ بيا چې کله پنځويشت سې نو په هغو کې يوه بنت مخاض واجب ده وَهِيَ الَّتِيْ طَعَنَتْ فِي الثَّانِيَةِ او بنتِ مخاض (د اوښ) هغه ماده بچی دی چې په دويم کال کې داخل سوی وی إِلٰى خَمْسٍ وَّثَلَاثِيْنَ تر پنځه دېرشو(۳۵) اوښانو پوري(يوه بنتِ مخاض واجب ده) فَإِذَا كَانَتْ سِتًّا وَّثَلَاثِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتُ لَبُوْنٍ بيا چې کله شپږ دېرش(۳۶) اوښان سې نو په هغو کې يوه بنتِ لبون واجب ده وَهِيَ الَّتِيْ طَعَنَتْ فِي الثَّالِثَةِ او بنتِ لبون د اوښ هغه ماده بچی دی چې په دريم کال کې داخل سوی وي إِلٰى خَمْسٍ وَّأَرْبَعِيْنَ تر پنځه څلوېښتو(۴۵) اوښانو پوري(يوه بنت لبون واجب ده) فَإِذَا كَانَتْ سِتًّا وَّأَرْبَعِيْنَ فَفِيْهَا حِقَّةٌ بيا چې کله شپږ څلوېښت(۴۶) اوښان سې نو په هغو کې يوه حقه واجب ده وَهِيَ الَّتِي طَعَنَتْ فِي الرَّابِعَةِ او حقه هغه ماده بچی دی چې په څلورم کال کې داخل سوی وي إِلٰى سِتِّيْنَ تر شپېتو پوري (يوه حقه واجب ده) فَإِذَا كَانَتْ إِحْدٰى وَسِتِّيْنَ فَفِيْهَا جَذَعَةٌ بيا چې کله يو شپېته(۶۱) اوښان سې نو په هغو کې يوه جذعه واجب ده وَهِيَ الَّتِي طَعَنَتْ فِي الْخَامِسَةِ او جذعه هغه ماده بچی دی چې په پنځم کال کې داخل سوی وی إِلٰى خَمْسٍ وَسَبْعِيْنَ تر پنځه اويا پوري(يوه جذعه ده) فَإِذَا كَانَتْ سِتًّا وَسَبْعِيْنَ فَفِيْهَا بِنْتَا لَبُوْنٍ إِلٰى تِسْعِيْنَ بيا چې کله شپږ اويا(۷۶) اوښان سې نو په هغو کې تر نوي(۹۰) اوښانو پوري دوې بنتِ لبون واجب دي فَإِذَا كَانَتْ إِحْدٰى وَتِسْعِيْنَ فَفِيْهَا حِقَّتَانِ إِلٰى مِائَةٍ وَعِشْرِيْنَ بيا چې کله يو نوي(۹۱) اوښان سې نو په هغو کې تر يو سلو شلو (۱۲۰) اوښانو پوري دوې حقې واجب دي بِهٰذَا اشْتَهَرَتْ كُتُبُ الصَّدَقَاتِ[1] مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همد دغه حساب مطابق د نبي ﷺ خطونه مشهور دي(يعني د نبي ﷺ له طرفه چې د زکاة کوم خطونه صادر سوي دي، په هغو کې همدغه حساب مشهور دی).

اللغات: ﴿ذَوْد﴾ اوښ، په بعضې شروحو کې د ذال فتحه سره ليکل سوی دی، ﴿سَائِمَة﴾ د کال زيات تره حصه له کور څخه د باندې څرېدونکی (د يعني د وښو خوړونکی) څاروی، ﴿بِنْتُ مَخَاض﴾ د اوښ او نورو د يوه کال بچی، ﴿بِنْتُ لَبُوْن﴾ د اوښ او نورو د دوو کالو بچی، ﴿حِقَّة﴾ د څارويانو د دريو کالو بچی، ﴿جَذَعَة﴾ د څارويانو د څلورو کالو بچی، ﴿شِيَاه﴾ جمع د شَاةٌ ده: بزه(وزه)، پسه د دواړو لپاره استعماليږي.

تشريح: په دې عبارت کې د اوښانو د زکاة د نصاب اندازه او د زکاة اندازه په تفصيلي توګه سره بيان سوې ده، چې هغه په خپله له ترجمې څخه څرګنده ده، په لنډه توګه تاسو دا خبره په ياده لرئ چې څرنګه د درهم نصاب دوه سوه(۲۰۰) درهمه دي، او د سرو زرو نصاب اووه نيمي تولې دي، همدارنګه د اوښانو نصاب پنځه اوښان دي، نو تر پنځو اوښانو په کمو کې زکاة واجب نه دی، ليکن کله چې د اوښانو شمېر پنځه سي، نو بيا په هغو کې يوه بزه واجب ده، او تر دې وروسته په هغه حساب سره واجبيږي، کوم چې مونږ په کتاب کې په ترتيب سره بيان کړی.

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب زكاة الإبل، حديث رقم: ۱۴۵۳ – ۱۴۵۴.

د ښاروپانو د زکاة د نصاب مسئله او په دې نصاب کې د زکاة د وجوب مسئله أمرِ توقیفي دی، یعني خلاف القیاس له نص څخه ثابت دی، چې په هغه کې عقل لره هیڅ ګنجایش نشته، نو ځکه صاحب دعنایې پر دې موقع یوه مهمه خبره لیکلې ده چې د اوښانو په نصاب کې چې کومې بزې(وزې) واجب سوي دي، د هغه وجه دا ده چې زکاة د مال په څلوېښتمه حصه کې واجبیږي، او د اوښانو نصاب د پنځو شمېره ده، نو اوس خو له دې پنځو اوښانو څخه نه یو پوره اوښ ورکول کېدای سي، او نه یو اوښ حلالېدای سي چې له هغه څخه اتمه حصه ورکول سي، ځکه په دې طریقه کې عیب هم دی، او دا طریقه له شریعت څخه خلاف هم ده، او څرنګه چې په عربو کې به د یوې بزې قیمت پنځه درهمه وو، او د اوښ کم عمره بچی به یعني بنتِ مخاض به هم عموماً په څلوېښت درهمه وو، لهذا د پنځو اوښانو قیمت(مالیت) دوه سوه (۲۰۰) درهمه سو، نو په دې دوو سوو درهمو کې د پنځو درهمو بزه په زکاة کې واجب ده، همدارنګه چې تر پنځو وروسته کله دا شمېره زیاته سي، نو تر نهو (۹) اوښانو پورې یوه بزه واجب ده، بیا له لسو څخه واخله تر څوارلسو(۱۴) پورې دوې بزې واجب دي. (عنایه، ج۲،ص)

له ۱۵ څخه واخله تر ۱۹ اوښانو پورې درې بزې واجب دي، له ۲۰ څخه واخله تر ۲۴ اوښانو پورې څلور بزې واجب دي، له ۲۵ څخه واخله تر ۳۵ اوښانو پورې یوه بنتِ مخاض واجب ده، له ۳۶ څخه واخله تر ۴۵ اوښانو پورې یوه بنت لبون واجب ده، له ۴۶ څخه واخله تر ۶۰ اوښانو پورې یوه حقه واجب ده، له ۶۱ څخه واخله تر ۷۵ اوښانو پورې یوه جذعه واجب ده، له ۷۶ څخه واخله تر ۹۰ اوښانو پورې دوې بنت لبون واجب دي، له ۹۱ څخه واخلئه تر ۱۲۰ اوښانو پورې دوې حقې واجب دي.

بهذا اشتهرت الخ صاحب د هدایې فرمایي چې د اوښانو د زکاة په باره کې پورتنی ذکر سوی تفصیل د نبي کریم ﷺ له هغو خطونو څخه را اخیستل سوی دی، کوم چې نبي ﷺ د زکاة په باره کې استولي ول، او له هغو څخه یو خط د حضرت ابو بکر رضی الله عنه دی، چې هغه حضرت ابو بکر رضی الله عنه حضرت انس رضی الله عنه ته ور استولی وو، او د صحیح البخاري په اول جلد کې پر ۱۹۵ صفحه د حضرت ثمامه رضی الله عنه په حواله سره ذکر سوی دی، د نور تفصیل لپاره هغه ته رجوع وکړئ!.

په یو سل وشلو(۱۲۰) اوښانو کې د زکاة مقدار

ثُمَّ إِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ بیا چې کله اوښان تر یو سل و شلو (۱۲۰) زیات سي تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيضَةُ نو فریضه به له شروع څخه راګرځي (یعني فریضه به له نوي سره شروع کیږي) فَيَكُونُ فِي الْخَمْسِ شَاةٌ مَعَ الْحِقَّتَيْنِ نو په پنځو اوښانو کې به یوه بزه(وزه) د دوو حقو سره واجب وي وَفِي الْعَشْرِ شَاتَانِ او په لسو اوښانو کې به دوې بزې(وزې) واجب وي وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثُ شِيَاهٍ او په پنځلسو اوښانو کې به درې بزې واجب وي وَفِي الْعِشْرِينَ أَرْبَعُ شِيَاهٍ او په شلو اوښانو کې به څلور بزې واجب وي وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ بِنْتُ مَخَاضٍ إِلَى مِائَةٍ وَخَمْسِينَ او په پنځویشت اوښانو کې به یوه بنتِ مخاض واجب وي تر یو نیم سل(۱۵۰) اوښانو پورې فَيَكُونُ فِيهَا ثَلَاثُ حِقَاقٍ نو په یونیم سل(۱۵۰) اوښانو کې به درې حقې واجب وي ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيضَةُ بیا به فریضه له شروع څخه راګرځي فَيَكُونُ فِي الْخَمْسِ شَاةٌ وَفِي الْعَشْرِ شَاتَانِ وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثُ شِيَاهٍ نو په پنځو اوښانو کې به یوه بزه، په لسو اوښانو کې به دوې بزې، او په پنځلسو اوښانو کې به درې بزې واجب وي وَفِي الْعِشْرِينَ أَرْبَعُ شِيَاهٍ وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ بِنْتُ مَخَاضٍ وَفِي سِتٍّ وَثَلَاثِينَ بِنْتُ لَبُونٍ

او په شلو(۲۰) اوښانو کې به څلور بزې واجب وې، په پنځويشت(۲۵) اوښانو کي به يوه بنت مخاض، او په شپږ دېرش(۳۶) اوښانو کي به يوه بنت لبون واجب وي **فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَةً وَسِتًّا وَتِسْعِينَ فَفِيهَا أَرْبَعُ حِقَاقٍ إِلَى مِائَتَيْنِ** نو کله چي يو سل و شپږنوي(۱۹۶) اوښان سي نو په هغو کي به تر دوو سوو(۲۰۰) اوښانو پوري دوې حقې واجب وي **ثُمَّ تُسْتَأْنَفُ الْفَرِيضَةُ أَبَدًا** بيا به همېشه فريضه له شروع څخه راګرځي **كَمَا تُسْتَأْنَفُ فِي الْخَمْسِينَ الَّتِي بَعْدَ الْمِائَةِ وَالْخَمْسِينَ** لکه په هغه پنځوسو کي چي راګرځي کوم چي تر يو نيم سلو(۱۵۰) وروسته وي **وَهٰذَا عِنْدَنَا** او دا تفصيل زموږ په نېز دی **وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ وَاحِدَةً فَفِيهَا ثَلَاثُ بَنَاتِ لَبُونٍ** امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي کله پر يو سل و شلو(۱۲۰) اوښانو يو اوښ زيات سي نو په هغو کي به درې بنتِ لبون واجب وي **فَإِذَا صَارَتْ مِائَةً وَثَلَاثِينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ وَبِنْتَا لَبُونٍ** بيا چي کله يوسل و دېرش(۱۳۰) سي نو په هغو کي به يوه حقه او دوې بنت لبون واجب وي **ثُمَّ يُدَارُ الْحِسَابُ عَلَى الْأَرْبَعِينَاتِ وَالْخَمْسِينَاتِ** بيا به د څلوېښتو او پنځوسو پر سر حساب راګرځول کېږي **فَتَجِبُ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ** نو په هرو څلوېښتو کي به يوه بنتِ لبون واجب وي **وَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ** او په هرو پنځوسو کي به يوه حقه واجب وي **لِمَا رُوِيَ** څکه روايت سوی دی **أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**● **كَتَبَ إِذَا زَادَتِ الْإِبِلُ عَلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ فَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ وَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ** چي نبي ﷺ په خط کي ليکلي وه چي کله اوښان تر يوسل و شلو(۱۲۰) زيات سي نو په هرو پنځوسو کي به يوه حقه او په هرو څلوېښتو کي به يوه بنت لبون واجب وي **مِنْ غَيْرِ شَرْطِ عَوْدِ مَا دُونَهَا** له دې څخه په کم کي د حساب د راګرځولو له شرط څخه بغير **وَلَنَا أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَتَبَ**● **فِي آخِرِ ذٰلِكَ فِي كِتَابِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ** او زموږ دليل دا دی چي نبي ﷺ د حضرت عمرو ابن حزم د خط په آخر کي (دا) ليکلي دي **فَمَا كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ فَفِي كُلِّ خَمْسٍ ذَوْدٍ شَاةٌ** نو کوم چي له دې څخه کم سي نو په هرو پنځو اوښانو کي به يوه بزه واجب وي **فَنَعْمَلُ بِالزِّيَادَةِ** نو موږ پر دې زياتوب عمل کوو **وَالْبُخْتُ وَالْعِرَابُ سَوَاءٌ فِي وُجُوبِ الزَّكَاةِ** او بختي او عربي(دواړه ډوله اوښان) د زکاة په وجوب کي برابر دي **لِأَنَّ مُطْلَقَ الْإِسْمِ يَتَنَاوَلُهُمَا** څکه چي مطلق (د إبل) نوم دواړو ته شامل دی، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿تستأنف﴾ د استفعال د باب ماضي مجهوله صيغه ده: له نوي سره شروع کول، له شروع څخه راګرځول، ﴿عود﴾ د نصر د باب مصدر دی: راګرځول، دويم وار کول، ﴿بخت﴾ د اوښانو يو نسل دی چي بوکونه يې جګ وي، ﴿عراب﴾ د عربي نسل اوښان.

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الزكاة، باب كيف فرض الصدقة، حديث رقم: ۷۲۵۵.

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الزكاة، باب ذكر رواية عاصم بن ضمرة، حديث رقم: ۷۲۶۷.

تشريح: تر اوسه پورې د يو سل و شلو (۱۲۰) اوښانو د زكاة بيان وو، اوس له دې ځايه دا بيانيږي چې كله اوښان تر ۱۲۰ زيات سي، نو له شروع څخه به فريضه راګرځول كيږي، له شروع څخه د راګرځولو مطلب دا دى چې تر څو له ۱۲۰ اوښانو څخه پنځه اوښان زيات نه سي، تر هغه وخته به په هغو كي صرف دوې حقې واجب وي، هو! كله چې پنځه اوښان زيات سي، او د اوښانو مجموعي شمېر ۱۲۵ سي، نو په دې شمېر كي بيا دوې حقې او يوه بزه واجب دي، تر ۱۲۹ پورې.

بيا له ۱۳۰ څخه واخله تر ۱۳۴ پورې دوې حقې او دوې بزې واجب دي، له ۱۳۵ څخه واخله تر ۱۳۹ پورې درې بزې او دوې حقې واجب دي، په ۱۴۰ كي دوې حقې او څلور بزې واجب دي تر ۱۴۴ پورې، په ۱۴۵ كي دوې حقې او يوه بنت مخاض واجب ده تر ۱۴۹ پورې، په ۱۵۰ كي درې حقې واجب دي، تر دې وروسته به بيا فريضه له شروع څخه راګرځول كيږي، نو كله چې پر ۱۵۰ اوښانو پنځه اوښان زيات سي، يعني شمېر يې ۱۵۵ اوښانو ته ورسيږي، نو بيا به په دې كي ۳ حقې او يوه بزه واجب وي، تر ۱۵۹ پورې.

له ۱۶۰ څخه واخله تر ۱۶۴ پورې درې حقې او دوې بزې واجب دي، له ۱۶۵ څخه واخله تر ۱۶۹ پورې درې حقې او درې بزې واجب دي، له ۱۷۰ څخه واخله تر ۱۷۴ پورې درې حقې او څلور بزې واجب دي، په۱۷۵ كي درې حقې او يوه بنت مخاض واجب ده تر ۱۸۵ پورې، په ۱۸۶ كي ۳ حقې او يوه بنت لبون واجب ده، تر ۱۹۵ پورې، په ۱۹۶ كي څلور حقې واجب دي، او تر دوو سوو (۲۰۰) پورې به همدا څلور حقې واجب وي.

بيا به په هرو پنځوسو كي له شروع څخه فريضه راګرځول كيږي، لكه په ۱۵۰ كي چې را وګرځول سوه. يعني په ۲۰۵ كي څلور حقې او يوه بزه واجب ده، په ۲۲۵ كي څلور حقې او يوه بنت مخاض واجب ده، تر ۲۳۵ پورې، په ۲۳۶ كي څلور حقې او يوه بنت لبون واجب ده تر ۲۴۵ پورې، بيا به په ۲۴۶ كي تر ۲۵۰ پورې ټولې پنځه حقې واجب وي. لنډه دا چې همداسي به د هرو پنځوسو حساب كيږي.

وهذا عندنا صاحب د هدايې فرمايي چې تر ۱۲۰ وروسته او تر ۱۵۰ وروسته د استيناف طريقه يعني له شروع څخه د فريضې راګرځولو طريقه زموږ د احنافو علماؤ په نېز ده، كنې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز تر ۱۲۰ وروسته د زكاة د حساب طريقه دا ده چې له ۱۲۱ څخه تر ۱۲۹ پورې به درې بنت لبون واجب وي، ځكه چې د مال د څلوېښتمې حصې زكاة ايستل كيږي، او په څلوېښتو اوښانو كي يوه بنت لبون واجب ده، نو د څلوېښتو پر درې چنده شمېره يعني پر ۱۲۰ به د زياتوب په صورت كي تر ۱۲۹ پورې درې بنت لبون واجب وي، بيا به په ۱۳۰ كي يوه حقه او دوې بنت لبون واجب وي، بيا به په هرو څلوېښتو او پنځوسو كي حساب راګرځول كيږي، نو په هر څلوېښت كي به يوه بنت لبون او په هر پنځوس كي به يوه حقه واجب وي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د څلوېښتو او پنځوسو په مېنځ كي شمېره معاف ده.

د امام شافعي دليل: دا دى چې نبي ﷺ په خط كي ليكلي دي چې كله اوښان تر ۱۲۰ زيات سي، نو په هرو پنځوسو كي يوه حقه او په هرو څلوېښتو كي يوه بنت لبون ده، او په حديث كي له څلوېښتو څخه د كم په صورت كي د فريضې راګرځولو او په هرو پنځوسو كي د يوې بزې او په هرو پنځويشتو كي د يوه بنت مخاض او د نورو شرط نه دى لګول سوى، چې هغه د دې خبره څرګنده دليل دى چې له څلوېښتو څخه كم ټوله معاف دي، (يعني د دې خبرې بيّن دليل دى چې تر ۱۲۰ وروسته له څلوېښتو څخه د كم زياتوب (اضافې) په صورت كي زكاة نه واجبيږي).

زموږ دليل: دا دى چې نبي ﷺ د اوښانو د زكاة په باره كي حضرت عمرو بن حزم رضي الله عنه ته چې كوم خط استولى وو. په هغه كي يې دا وضاحت كړى وو چې تر ۱۲۰ وروسته كه اوښان تر ۲۵ كم وي، نو په هغه كي بنت مخاض نه واجبيږي.

خو تر ۱۲۰ وروسته به په هرو پنځو کي یوه بزه واجبیږي، له دې خط څخه دا خبره په ډاګه ښکاره کیږي چي تر ۱۲۰ وروسته له څلوېښتو څخه د کم زیاتوب په صورت کي زکاة واجب دی (یعني له څلوېښتو څخه کم معاف نه دی)، ځکه چي په دې کي د غریبانو او فقیرانو فایده هم زیاته ده، او پر زیاتوب (اضافه) عمل هم کیږي، چي هغه یقیناً د خیر او برکت سبب دی.

والبخت والعراب الخ فرمایي چي د زکاة په وجوب کي بختي او عربي هر ډول اوښان برابر دي، او هر ډول اوښان چي د زکاة نصاب ته ورسیږي، نو په هغو کي زکاة واجب دی، ځکه په حدیث کي مطلق د اِبِل نوم ذکر سوی، او دا دواړه قسمونه په دې نامه کي داخل او شامل دي.

فایده: بُخت بضم الباء د بختي جمع ده، او دا د بُختِ نصر و طرف ته منسوب دي، له دې څخه مراد هغه اوښان دي چي د عربي او عجمي اوښانو له ګډي نطفې څخه پیدا سوي وي، عِراب بکسر العین د فرس عربي جمع ده، یعني خالص د عربي نسل والا اوښ. (بنایه)

فَصْلٌ فِي الْبَقَرِ

(دا) فصل د غواوو (د زکاة په بیان کي) دی

تشریح: تر ټولو مخکي په دې خبره پوهېدل پکار دي چي بَقَر اسم جنس دی، د مذکر او مؤنث دواړو لپاره استعمالیږي، یعني غواوو ته هم بقر ویل کیږي، او غوایانو ته هم بقر ویل کیږي، او واحد یې بَقَرَةٌ دی، دا هم د دواړو لپاره استعمالیږي، او د دې په آخر کي تاء د تانیث نه ده، بلکي د وحدت تاء (تائي وحدت) ده. (بنایه ج:۲، ص:۳۸۲، فتح القدیر ج:۲)، او د بَقَر لفظ له بَقْرٌ څخه مشتق دی، د بَقْرٌ معنیٰ ده: څیرل، څرنګه چي غوایان او د غوایانو انواع هم مځکه څیري، نو ځکه پر هغو ټولو د بقر اطلاق کیږي.

او د بقر زکاة د غنم له زکاة څخه په دې وجه مخکي بیانیږي، چي بقر د جسم او قیمت دواړو په اعتبار د اِبِل سره نژدې دی، نو ځکه د اِبِل تر احکامو وروسته د بقر احکام ذکر کیږي.

د غواوو (او غوایانو) د نصاب او زکاة مقدار

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثِيْنَ مِنَ الْبَقَرِ السَّائِمَةِ صَدَقَةٌ له دېرشو (۳۰) څخه په کمو څرېدونکو (دباندي وښو خوړونکو) غواوو کي زکاة واجب نه دی فَإِذَا كَانَتْ ثَلَاثِيْنَ سَائِمَةً بیا چي کله دېرش څرېدونکي غواوي سي وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ او پر هغو یو کال تېر سي فَفِيْهَا تَبِيْعٌ أَوْ تَبِيْعَةٌ نو په هغو کي یو سخوندر یا یوه سخوندره واجب ده وَهِيَ الَّتِي طَعَنَتْ فِي الثَّانِيَةِ او له سخوندر او سخوندري څخه مراد (د غوا یا ګامیښي) هغه بچی دی چي په دویم کال داخل سوی وي

وَفِي أَرْبَعِينَ مُسِنٌّ أَوْ مُسِنَّةٌ او په څلوېښتو غواوو کي يو مُسن يا مُسنة ده وَهِيَ الَّتِي طَعَنَتْ فِي الثَّالِثَةِ او مسن يا مسنه هغه بچی دی چي په دريم کال کي داخل سوی وي بِهٰذَا أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● مُعَاذًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم په دې سره نبي ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته حکم کړی وو.

اللغات: ﴿تبيع﴾ دغوا (يا ګاميښي) د يوه کال سخوندر (يعني هغه چي يو کال يې پوره سوی وي او په دويم کي وي) ﴿مسن﴾ دغوا (يا ګاميښي) د دوو کالو سخوندر (يعني چي دوه کاله يې پوره سوي وي او په دريم کي وي).

تشريح: صورت د مسئلې: خو بالکل ښکاره دی چي د بقر يعني د غوا او غويي، او د بقر د انواعو يعني د ګاميښي د زکاة د نصاب مقدار دېرش (۳۰) دی، نو که دا څاروي دېرشو ته ورسيږي، او سائمه هم وي، او يو کال هم پر تېر سي، نو بيا په هرو دېرشو کي يوه تبيعه واجب ده. تبيع مذکر او تبيعه مؤنث ده، دا د بقر او نورو هغه بچي ته ويل کيږي، چي يو کال يې پوره سوی وي او په دويم کال کي داخل سوی وي، دې ته د تبيع ويلو وجه دا ده چي په دويم کال کي هم دا بچی د خپلې مور تابع وي، او په خپلې مور پسې وي.

بيا چي کله د بقر شمېره تر څلوېښتو ورسيږي، نو بيا په هغو کي يو مُسن يا مُسنه واجب ده. مسن مذکر او مسنة مؤنث دی، او دا هغه بچي ته ويل کيږي چي دوه کاله يې پوره سوي وي او په دريم کال کي وي، دې ته د مسن ويلو وجه دا ده چي دا له سن څخه مشتق دی، معنی يې ده: عمر زياتېدل (او غاښ ته هم سن ويل کيږي)، څرنګه چي د تبيع او تبيعه په پرتله کي د مسن او مسنه عمر هم زيات وي، نو ځکه هغوی په دې نامه سره نومول سوي دي، يا وجه دا ده چي په دې عمر کي د هغوی غاښونه راوځي او ټينګيږي، والله أعلم.

صاحب د هدايې فرمايي چي د بقر د زکاة دا ذکر سوی نصاب د نبي ﷺ له هغه حکم او فرمان څخه را اخيستل سوی دی، کوم چي يې حضرت معاذ ابن جبل رضي الله عنه ته په هغه وخت کي وکړی، څه وخت چي يې هغه د يمن حاکم جوړوی، او يمن ته يې استوی.

په څلوېښتو (۴۰) غواوو کي د زکاة مقدار

فَإِذَا زَادَتْ عَلَى أَرْبَعِينَ بيا چي کله غواوي تر څلوېښتو زياتي سي وَجَبَ فِي الزِّيَادَةِ بِقَدْرِ ذٰلِكَ إِلَى سِتِّينَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په زياتو کي تر شپېتو پوري په هغه اندازه سره زکاة واجب دی فَفِي الْوَاحِدَةِ الزَّائِدَةِ رُبْعُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ نو په يوه زياته (غوا) کي د مسنې څلوېښتمه حصه واجب ده وَفِي الْاِثْنَتَيْنِ نِصْفُ عُشْرِ مُسِنَّةٍ او په دوو زياتو (غواوو) کي د مسنې شلمه حصه واجب ده وَفِي الثَّلَاثَةِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِ عُشْرِ مُسِنَّةٍ او په دري زياتو (غواوو) کي د مسنې دري څلوېښتمي حصې واجب دي وَهٰذِهِ رِوَايَةُ الْأَصْلِ او دا د مبسوط روايت دی لِأَنَّ الْعَفْوَ ثَبَتَ نَصًّا بِخِلَافِ الْقِيَاسِ ځکه عفوه کېدل له نص څخه د قياس خلاف ثابت دي وَلَا نَصَّ هُنَا او دلته هيڅ نص نسته وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْهُ أَنَّهُ لَا يَجِبُ فِي الزِّيَادَةِ شَيْءٌ او حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت کړی دی چي په

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الزكاة، باب في زكاة السائمة، حديث رقم: ۵۷۲.

زياتوب کي هيڅ نه واجبيږي حَتّٰى تَبْلُغَ خَمْسِيْنَ تر دې چي هغه زياتوب تر پنځوسو پوري ورسيږي ثُمَّ فِيْهَا مُسِنَّةٌ وَرُبْعُ مُسِنَّةٍ أَوْ ثُلُثُ تَبِيْعٍ نو بيا په هغو کي يوه پوره مسنه او ديوې مسنې څلورمه حصه واجب ده يا(يوه پوره مسنه او) د تبيع دريمه حصه واجب ده لِأَنَّ مَبْنٰى هٰذَا النِّصَابِ عَلٰى أَنْ يَكُوْنَ بَيْنَ كُلِّ عَقْدَيْنِ وَقْصٌ ځکه چي د دې نصاب بنياد پر دې خبره دى چي د هرو دوو عقدونو (يعني د هرو دوو لسمو حصو) مينځ به عفوه (معاف) وي وَفِيْ كُلِّ عَقْدٍ وَاجِبٌ او په هر عقد (لسمه حصه) کي به زکاة واجب وي وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ●: لَا شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتّٰى تَبْلُغَ سِتِّيْنَ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په زياتوب کي هيڅ شی واجب نه دی تر دې چي زياتوب تر شپېتو(٦٠) پوري ورسيږي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● لِمُعَاذٍ ځکه نبي ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته (داسي) وفرمايل لَا تَأْخُذْ مِنْ أَوْقَاصِ الْبَقَرِ شَيْئًا "(چي) د غوا له اوقاصو څخه هيڅ شی مه اخله!" وَفَسَّرُوْهُ بِمَا بَيْنَ أَرْبَعِيْنَ إِلٰى سِتِّيْنَ او علماؤ د اوقاص تفسير له څلوېښتو څخه د شپېتو تر مينځه پوري کړی دی (يعني نبي ﷺ وفرمايل: چي له څلوېښتو څخه تر شپېتو پوري هيڅ شی مه اخله) قُلْنَا: قَدْ قِيْلَ إِنَّ الْمُرَادَ مِنْهَا الصِّغَارُ موږ وايو: چي دا (هم) ويل سوي چي (دلته) له اوقاص څخه مراد کوچني بچيان دي ثُمَّ فِي السِّتِّيْنَ تَبِيْعَانِ أَوْ تَبِيْعَتَانِ بيا په شپېتو غواوو کي دوه تبيع دي يا دوې تبيعې دي وَفِيْ سَبْعِيْنَ مُسِنَّةٌ وَتَبِيْعٌ او په اويا(٧٠) غواوو کي يوه مسنه ده او يو تبيع دی وَفِيْ ثَمَانِيْنَ مُسِنَّتَانِ او په اتيا(٨٠) غواوو کي دوې مسنې دي وَفِيْ تِسْعِيْنَ ثَلَاثَةُ أَتْبِعَةٍ او په نوي(٩٠) غواوو کي درې تبيع دي وَفِي الْمِائَةِ تَبِيْعَانِ وَمُسِنَّةٌ او په سلو کي دوه تبيع او يوه مسنه ده وَعَلٰى هٰذَا او هم پر دغه قياس (حساب کول پکار دي) فَيَتَغَيَّرُ الْفَرْضُ فِيْ كُلِّ عَشْرٍ مِنْ تَبِيْعٍ إِلٰى مُسِنَّةٍ وَمِنْ مُسِنَّةٍ إِلٰى تَبِيْعٍ نو (د زکاة) فرض به په هرو لسو کي له تبيع څخه د مسنه و طرف ته او له مسنه څخه د تبيع و طرف ته بدليږي لِقَوْلِهِ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي فِيْ كُلِّ ثَلَاثِيْنَ مِنَ الْبَقَرِ تَبِيْعٌ أَوْ تَبِيْعَةٌ (چي) په هرو ديرشو(٣٠) غواوو کي يو تبيع يا يوه تبيعه ده وَفِيْ كُلِّ أَرْبَعِيْنَ مُسِنٌّ أَوْ مُسِنَّةٌ او په هرو څلوېښتو(٤٠) غواوو کي يو مسن يا يوه مسنه ده وَالْجَوَامِيْسُ وَالْبَقَرُ سَوَاءٌ او (په دې مسئله کي) ګامېښي او غواوي برابري دي لِأَنَّ اِسْمَ الْبَقَرِ يَتَنَاوَلُهُمَا ځکه د بقر نوم دواړو ته شامل دی إِذْ هُوَ نَوْعٌ مِنْهُ ځکه چي ګامېښه هم د غوا يو قسم دی إِلَّا أَنَّ أَوْهَامَ النَّاسِ لَا تَسْبِقُ إِلَيْهِ فِيْ دِيَارِنَا لِقِلَّتِهِ ليکن زموږ په علاقو کي د ګامېښو د کمښت په وجه د خلکو ذهنونه (له بقر) څخه د ګامېښي و طرف

● القول الراجح: هو هذا قول الصاحبين، كذا في رد المحتار ج:٢، ص:٢٠، و في جوامع الفقه: هو المختار وذكر الاسبيجابي أن الفتوى على قولهما وهو لا شيء في الزيادة حتى تبلغ ستين، مجمع الأنهر ج:١، ص:١٩٩. [القول الراجح، ج:١، ص:١٦٦]

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ في كتاب الزكاة، باب كيف فرض صدقة البقر، حديث رقم: ٧٢٩٣.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الزكاة، باب ماجاء في زكاة البقر، حديث رقم: ٦٢٢.

ته مخکېتوب نه کوي (يعني زموږ د مرغينان او ماوراء النهر په علاقو کې د خلکو خيال له بقر څخه د ګامېښې و طرف ته نه ځي، ځکه چې دلته ګامېښې ډېرې کمې دي) فَلِذٰلِكَ لَا يَحْنَثُ بِهِ فِي يَمِينِهِ لَا يَأْكُلُ لَحْمَ بَقَرٍ همدا وجه ده چې قسم کونکی به په خپل (دې) قسم کې چې "د بقر غوښې به نه خورم" (د ګامېښې د غوښو په خوړلو سره) نه حانثېږي.

اللغات: ﴿عُلُو﴾ زيات، اضافي، معاف ﴿وَعُشُر﴾ لسمه حصه (شلمه، ډېرشمه او داسې نور)، ﴿وَقص﴾ زائد مقدار، هغه چې معاف وي، صاحب د اثمار الهدايه وايي چې د دوو عمرونو يا دوو عددونو په مينځ کې چې کوم عدد وي هغه ته وقص ويل کېږي، ﴿جَوَامِيس﴾ جمع د جامُوس ده: ګامېښه، ﴿أَوْهَام﴾ جمع د وَهْم ده: سوچ، خيال، ذهن.

تشريح: په تېره مسئله کې ذکر سوه چې په ډېرشو غواوو کې به يوه تبيعه واجب وي، او په څلوېښتو غواوو کې به يوه مسنه واجب وي، لېکن که غواوې تر څلوېښتو زياتې سوې، نو په دې کې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه درې روايتونه دي: (۱) اول روايت د مبسوط روايت دی، هغه دا دی چې که تر څلوېښتو يو بقر زيات سو، نو په ۴۱ کې به يوه مسنه او د يوې مسنې څلوېښتمه حصه واجب وي، او د دوو په زياتوب (يعني ۴۲) کې به يوه مسنه او د يوې مسنې شلمه حصه واجب وي، او د دريو په زياتوب (يعني په ۴۳) کې به يوه مسنه او د دويمې مسنې درې څلوېښتمې حصې واجب وي.

دليل: د دې روايت دليل دا دی چې د ډېرشو او څلوېښتو په مينځ کې د يوشي نه واجبېدل او زکاة معاف کېدل خلافُ القياس له نص څخه ثابت دي، او دلته له څلوېښتو څخه د زيات په معاف کېدلو کې هيڅ نص نسته، نو ځکه به له څلوېښتو څخه په زيات کې معاف کېدل يعني زکاة نه واجبېدل په رايه او قياس سره نه ثابتېږي، ځکه چې مال د زکاة د وجوب سبب دی، او په خپله اندازه سره نصاب تاکل جائز نه دي، نو کله چې غواوې تر څلوېښتو زياتې سي، نو په هغه زياتوب او اضافه کې به فقط په خپله رايه عفوه (معافوالی) ثابتول يعني زکاة نه واجبول جائز نه وي.

(۲) دويم روايت حسن بن زياد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت کړی دی، د دغه روايت حاصل دا دی چې له څلوېښتو څخه په زيات کې هيڅ شی واجب نه دی، لېکن که زياتوب (اضافه) تر پنځوسو ورسېدی، يعني پر څلوېښتو غواوو لس غواوې نورې زياتې سوې، او پنځوس سوې، نو په دې کې به يوه مسنه او د يوې مسنې څلورمه حصه واجب وي، يا به يوه مسنه او ديوې تبيعې دريمه حصه واجب وي، خلاصه دا چې د څلوېښتو او پنځوسو مينځ عفوه دی، لېکن په پنځوسو کې زکاة واجب دی، **دليل**: د دې روايت دليل دا دی چې د بقر د نصاب بنياد پر دې خبره دی چې د هرو دوو[۲] لسو مينځ به عفوه (وقص) وي، او په هر لسو کې به وجوب وي، په دې اعتبار سره تر نصاب وروسته په ډېرشو کې يوه تبيعه واجب ده، او تر هغه وروسته د ډېرشو او څلوېښتو مينځ وقص يعني معاف دی، نو له ۳۱ څخه تر ۳۹ پوري هيڅ شی واجب نه دی، او بيا په لسمه حصه يعني په څلوېښتو کې مسنه واجب ده، نو وګورئ چې شرنګه له ۳۱ څخه تر ۳۹ پوري معاف دی، او په ۳۰ او ۴۰ کې وجوب دی، خاص همدارنګه به له ۴۱ څخه تر ۴۹ پوري معاف وي، او پنځوس کوم چې لسمه حصه ده، په هغه کې به يوه مسنه او د بلې مسنې څلورمه حصه واجب وي.

دريم روايت دا دی چې له څلوېښتو څخه تر شپېتو پوري هيڅ زکاة واجب نه دی، (يعني په ۴۰ کې خو يوه مسنه ده، لېکن بيا له ۴۱ څخه تر ۵۹ پوري عفوه دی، او هيڅ شی واجب نه دی، بيا چې کله دا شمېره ۶۰ ته ورسېږي، نو په دې کې دوې تبيعې واجب دي)، همدا قول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله، امام مالک، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله هم دی.

دليل: د دې روايت دليل دا دی چې نبي ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته فرمايلي وو: لا تأخذ من أوقاص البقر شيئا. او د لغت علماؤ د وقص تفسير د څلوېښتو او شپېتو په مينځ سره کړی دی (يعني له څلوېښتو څخه واخله تر شپېتو پوري چې

کوم د مينځ شمېره ده، هغه ته وقص ويل کيږي)، يعني "د څلوېښتو او شپېتو په مينځ کي د بقر زکاة مه اخله"، ځکه چي دا عفوه دي، زموږ له طرفه د دې دليل جواب دا ورکول سوی دی چي ځيني حضراتو له اوقاص څخه د بقر کوچني بچيان يعني ګلګيان مراد کړي دي، يعني د بقر کوم بچيان چي د يوه کال نه وي، د هغو زکاة مه اخله، تر دې تأويل وروسته دا روايت د صاحبينو دليل نه سي جوړېدلای. نو له دې روايت څخه به د ما بين الأربعين والستين د عفوي حکم نه ثابتيږي. حاصل دا چي دلته هيڅ داختلاف او نزاع خبره نسته، صفا او سيده خبره دا ده چي په أوقاص کي زکاة واجب نه دی، نه د صاحبينو او ائمه ثلاثه وو په نېز او نه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز (د دې روايت مطابق)، هغه که له أوقاص څخه ما بين الأربعين والستين مراد وي، او که ګلګيان او کوچني بچيان مراد وي.

ثم في الستين الخ ماتن فرمايي چي په شپېتو غواوو کي دوې تبيعې دي، او په اويا غواوو کي يوه مسنه او يوه تبيعه ده، يعني د څلوېښتو لپاره يوه مسنه ده او د دېرشو لپاره يوه تبيعه ده، او په اتيا غواوو کي دوې مسنې دي، په نوي (۹۰) کي درې تبيعې دي، او په سلو کي دوې تبيعې او يوه مسنه ده، او هم پر دغه حساب به قياس کيږي، نو پر هرو لسو به فرض يعني د زکاة وجوب له تبيعه څخه د مسنه و طرف ته او له مسنه څخه د تبيعه و طرف ته بدليږي، د مثال په توګه په سلو کي دوې تبيعې او يوه مسنه ده، نو په يو سل و لسو (۱۱۰) کي به دوې مسنې او دوې تبيعې وي، او په يو سل و شلو (۱۲۰) کي به درې مسنې وي، او په يو سل و دېرشو (۱۳۰) کي به درې تبيعې او يوه مسنه وي، على هذا القياس.... دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: في کل ثلثين من البقر تبيع أو تبيعة وفي کل أربعين مسن أو مسنة.

والجواميس الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي په زکاة کي د ګاميښې او غوا حکم برابر دی، نو په دېرشو (۳۰) ګاميښو کي د يوه کال بچی واجب دی، او په څلوېښتو ګاميښو کي دوه کلېزه بچی واجب دی، دليل دا دی چي د بقر لفظ غوا او ګاميښې دواړو ته شامل د، غويي او د ګاميښې نر هم د بقر په جنس کي داخل دي. صاحب د هدايې فرمايي چي لفظ د بقر دواړو ته په دې وجه شامل دی چي ګاميښه هم يو ډول غوا ده، خو څرنګه چي زموږ د مرغينان او په شاوخوا علاقو کي ګاميښې بېخي لږ دي، نو ځکه د بقر په ويلو سره د خلکو خيال د ګاميښې و طرف ته نه ځي، همدا وجه ده که يو څوک قسم وکړي چي زه به د بقر غوښې نه خورم، نو د ګاميښې د غوښو په خوړلو سره نه حانثيږي. والله أعلم بالصواب



فَصْلٌ فِي الْغَنَمِ

(دا) فصل د وزو (او د پسونو) د زکاة (په بیان کي) دی

تشريح: صاحب د هدایې تر دې فصل وروسته فصل في الخيل یعني د آس د زکاة احکام بیانوي، د بزو (وزو) او پسونو د زکاة د مخکي کولو وجه دا ده چي بزې او پسونه په شمېر کي تر نورو څارویانو زیات وي، مالدار او غریب یې تول لري، نو د دوی د احکامو او مسائلو ضرورت د آسونو د احکامو په مقابله کي زیات دی، نو په دې وجه د غنم احکام مخکي بیانوي، یا دا چي د وزو او پسونو د زکاة مسئله متفق علیه ده، او د آسونو د زکاة مسئله مختلف فيه ده، او متفق علیه شی تر مختلف فيه شي مخکي وي، نو ځکه د متفق علیه شي مسائل مخکي بیانوي. (عنايه ج۲)

لفظ د غنم اسم جنس دی، مذکر او مؤنث دواړو ته شامل دی، همدارنګه وزې او پسونه تول په دې لفظ کي داخل دي، (موږ د آسانی لپاره په راروانه کي د دې ترجمه په وزې (بزې) سره کوو، همدارنګه شاة هم دواړو ته ویل کیږي). او دې ته د غنم ویلو وجه دا ده چي بزه او پسه خو نه د جهاد آلې دي، او نه د دفاع آلې دي، بلکي د هر چا لپاره غنیمت دي. (بنایه ض۳، ص:۳۸۹)

د وزو (بزو) د نصاب او زکاة مقدار

لَيْسَ فِي أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعِينَ مِنَ الْغَنَمِ السَّائِمَةِ صَدَقَةٌ له څلوېښتو څرېدونکو وزو څخه په کمو وزو کي زکاة واجب نه دی فَإِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ لیکن کله چي څلوېښت څرېدونکي وزې (بزې) سي او یو کال پر تېر سي فَفِيهَا شَاةٌ إِلَى مِائَةٍ وَعِشْرِينَ نو تر یو سل و شلو (۱۲۰) پوري په هغو کي یوه بزه واجب ده فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا شَاتَانِ إِلَى مِائَتَيْنِ بیا چي کله یوه بزه زیاته سي نو په هغو کي تر دوو سوو (۲۰۰) پوري دوې بزې واجب دي فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ بیا چي کله یو بزه زیاته سي نو په هغو کي درې بزې واجب دي فَإِذَا بَلَغَتْ أَرْبَعَمِائَةٍ فَفِيهَا أَرْبَعُ شِيَاهٍ بیا چي کله څلور سوه بزې سي نو په هغو کي څلور بزې واجب دي ثُمَّ فِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ بیا په هر و سلو کي یوه بزه واجب ده هٰكَذَا وَرَدَ الْبَيَانُ فِي كِتَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ [1] وَفِي كِتَابِ أَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه همداسي بیان د نبي ﷺ په خط کي او د ابو بکر رضي الله عنه په خط کي راغلی دی وَعَلَيْهِ انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ او هم پر دې بیان اجماع سوې ده.

اللغات: ﴿غنم﴾ بزه (وزه)، او پسه ته وهم ویل کیږي (یعني د دواړو لپاره استعمالیږي)، ﴿سائمة﴾ تول کال یا د کال زیاتره حصه دباندي څرېدونکی (وابنه خورونکی) څاروی، ﴿حول﴾ کال، ﴿شياه﴾ جمع د شاةٌ ده: بزه (وزه).

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب زكاة الغنم، حديث رقم: ۱۴۵۴.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې په وزو کې د زکاة د نصاب شمېر څلوېښت دی، نو که د یو سړي سره څلوېښت دانې سائمه بزې جمع سوې، او پر هغویو کال تېر سو، نو پر دې سړي یوه د زکاة بزه واجب ده، نور تفصیل یې دا دی:

له ۴۰ څخه تر ۱۲۰ پورې یوه بزه واجب ده، له ۱۲۱ څخه تر ۲۰۰ پورې دوې بزې واجب دي، له ۲۰۱ څخه تر ۳۹۹ پورې درې بزې واجب دي، په ۴۰۰ سوه کې ۴ بزې واجب دي.

تر دې وروسته به په هر و سلو کې یوه بزه واجبیږي، مثلاً په ۵۰۰ کې به ۵، او په ۶۰۰ کې به ۶ بزې واجب وي.

دلیل: د دې حساب دلیل دا دی چې نبي ﷺ او د نبي ﷺ نائب ابوبکر رضی الله عنه چې د وزو د زکاة په باره کې کوم خطونه لیکلي دي، په هغو کې د دغه اندازې مطابق احکام او مسائل بیان سوي دي، او بیا پر دې حساب د ټوله امت اجماع سوې ده، او همدا د ټولو فقهاؤ او څلورو اماماتو مذهب دی.

د بزې او پسه حکم برابر دی او په دې باره کې نور تفصیل

وَالضَّأْنُ وَالْمَعْزُ سَوَاءٌ پسه او وزګړی (د نصاب په مسئله کې) برابر دي (یعني د بزو، وزګړو، میږو او پسونو نصاب یو ډول دی) لِأَنَّ لَفْظَ الْغَنَمِ شَامِلَةٌ لِلْكُلِّ ځکه چې د غنم لفظ ټولو ته شامل دی وَالنَّصُّ وَرَدَ بِهِ او حدیث د غنم په باره کې راغلی دی وَيُؤْخَذُ الثَّنِيُّ فِي زَكَاتِهَا او د غنم په زکاة کې به ثني اخیستل کیږي وَلَا يُؤْخَذُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ او له پسو څخه به جذع نه اخیستل کیږي إِلَّا فِي رِوَايَةِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ مګر له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه د حضرت حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله په روایت کې وَالثَّنِيُّ مِنْهَا مَا تَمَّتْ لَهُ سَنَةٌ او له غنم څخه ثنی هغه بچی دی چې یو کال یې پوره سوی وي وَالْجَذَعُ مَا أَتَى عَلَيْهِ أَكْثَرُهَا او جذع هغه بچی چې پر هغه د یوه کال زیاتره حصه تېره سوې وي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَهُوَ قَوْلُهُمَا[1] او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی او دا د صاحبینو قول (هم) دی أَنَّهُ يُؤْخَذُ الْجَذَعُ چې جذع به اخیستل کیږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[2] ځکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي إِنَّمَا حَقُّنَا الْجَذَعُ وَالثَّنِيُّ زموږ حق جذع او ثني دی وَلِأَنَّهُ يُتَأَدَّى بِهِ الْأُضْحِيَةُ او په دې وجه چې په جذع سره قرباني اداء کیږي فَكَذَا الزَّكَاةُ نو زکاة به هم په اداء کیږي وَجْهُ الظَّاهِرِ حَدِيثُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَوْقُوفًا[3] وَمَرْفُوعًا د ظاهر روایت دلیل د حضرت علي رضی الله عنه حدیث دی چې هغه موقوفاً هم روایت سوی دی او مرفوعاً هم (هغه دا دی) لَا يُؤْخَذُ فِي الزَّكَاةِ إِلَّا الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا "چې په زکاة کې به صرف ثني یا له هغه څخه زیات اخیستل کیږي" وَلِأَنَّ الْوَاجِبَ هُوَ الْوَسَطُ او په دې وجه (هم) چې واجب د مینځوی درجې (څاروی) دی وَهٰذَا مِنَ الصِّغَارِ او جذعه له کوچنیو (څارویو څخه) ده وَلِهٰذَا لَا يَجُوزُ فِيهَا الْجَذَعُ مِنَ

---

[1] القول الراجح: هٰذا القول الثاني يعني ما رواه الصاحبان، كذا في فتح القدير ج:٢، ص:١٣٦، و قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وعنه جواز الجذع من الضأن وهو قولهما والدليل يرجحه، الدر المختار ج:٢، ص:٢١. [القول الراجح، ج:١، ص:١٦٧]

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الضحايا، باب ما يجوز في الضحايا من السن، حديث رقم:٢٧٩٩ بمعناه.

[3] تخريج: أخرجه النسائي في كتاب الضحايا، باب المسنة والجذعة، حديث رقم:٤٣٨٣.

الْمَعْزِ همدا وجه ده چې د وزګرې (يعني د بزې) جذع په قرباني کې جائز نه ده وَجَوَازُ التَّضْحِيَةِ بِهِ عُرِفَ نَصًّا او په جذعې سره د قربانۍ جائز کېدل(يعني د پسه د جذعې د قربانۍ جواز) په حديث سره معلوم سوی دی وَالْمُرَادُ بِمَا رُوِيَ الْجَذَعَةُ مِنَ الْإِبِلِ او (د صاحبينو) په بيان سوې روايت کې له جذعې څخه د اوښ جذع مراد ده(يعني د اوښ په جذع کې زموږ حق دی).

اللغات: ﴿ضَأْن﴾ پسه(ګډ)، ﴿مَعْز﴾ وزګرې، سېرلی، ﴿ثَنِيّ﴾ د بزې يا پسه د يوه کال بچی، ﴿جذع﴾ د څارويانو هغه بچې چې تر يوه کال کم وي يعني د اتو او نهو مياشتو وي.

تشريح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سئ چې د ضَأْن معنیٰ ده: پسه، او د معز معنیٰ ده: سېرلی، او ثنی د ضأن او معز هغه بچې ته ويل چې يو کال يې پوره سوی وي، او دويم يې شروع سوی وي، همدغه ثنی به په زکاة کې اخيستل کيږي، د دې په مقابله کې جذع ده، جذع هغه بچې ته ويل کيږي، چې تر يوه کال کم وي، او د بعضو قول دا دی چې د نهو يا اتو مياشو وي، د ظاهر روايت مطابق به دا په زکاة کې نه اخيستل کيږي، او په دې کې اختلاف هم دی.

صورت د مسئلې: دا دی چې د نصاب د بشپړتيا په حواله سره ضأن او معز دواړه برابر دي، يعني که ضأن او معز دواړه سره ګډ وي، لېکن له دوی څخه يو هم د نصاب په اندازه يعني څلوېښت داني نه وي، لېکن د دواړو مجموعه د نصاب شمېر ته رسيږي، نو بيا به دواړه سره يو ځای کيږي، او زکاة به يې ايستل کيږي، ځکه چې لفظ د غنم ضأن او معز دواړو ته شامل دی.

او د نبي کريم ﷺ په دې فرمان: في كل أربعين من الغنم شاة کې چې کوم د الغنم لفظ راغلی دی، هغه د ضأن او معز دواړو قسمونو ته شامل دی، او په عبارت کې له نص څخه همداغه حديث مراد دی.

ويؤخذ الثني الخ فرمايي چې د غنم په زکاة کې به ثنی اخيستل کيږي، هغه که د ضأن ثنی وي او که د معز، او د ظاهر روايت مطابق به د ضأن جذعه نه اخيستل کيږي، لېکن له حسن بن زياد رَحِمَهُ الله څخه چې د امام صاحب کوم روايت را نقل سوی دی، په هغه کې دا صراحت سوی دی چې په زکاة کې به د ضأن جذعه هم اخيستل کيږي، او همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی. **دليل:** د دې حضراتو دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: إنما حقنا الجذعة والثني، (يعني زموږ هغه حق کوم چې موږ د غريبانو او فقيرانو لپاره د زکاة په توګه له شتمنو خلکو څخه اخلو هغه جذعه او ثني دواړه دي)، له دې څخه معلومه سوه چې جذعه هم په زکاة کې ورکول کېدای او اخيستل کېدای سي.

عقلي دليل: دا دی چې څرنګه زکاة عبادت دی، همدارنګه قرباني هم يو عبادت دی، او د جذعې قرباني صحيح ده، نو ځکه به هغه په زکاة کې ورکول هم صحيح وي، صاحب د هدايې د ولأنه الخ څخه همدغه خبره بيان کړې ده.

وجه الظاهر الخ د ظاهر روايت دليل د حضرت علي كرم الله وجهه هغه روايت دی، کوم چې موقوفاً او مرفوعاً دواړه ډول را نقل سوی دی، چې مضمون يې داسې دی: لا يؤخذ في الزكوٰة إلا الثني فصاعدا، (يعني په زکاة کې به يا ثني اخيستل کيږي، يا به له هغه څخه د زيات عمر والا څاروی اخيستل کيږي).

عقلي دليل: دا دی چې په زکاة کې د اوسط(مينځوی) درجې څاروی ورکول واجب دي، او جذعه د کوچني والي په جهه د اوسط له حد او ل ړليک څخه وتلې ده، نو په دې حواله سره به هم دا په زکاة کې ورکول صحيح نه وي، همدا وجه ده چې د معز جذعه هم په زکاة کې ورکول جائز نه دي.

وجواز الأضحية الخ له دې ځايه د صاحبينو د قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې ستاسو قياس يعني زکاة پر قرباني قياسول صحيح نه دي، ځکه چې د جذعې د قرباني جواز په نص يعني په حديث سره ثابت دی، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله دا حديث رانقل کړی دی: نعمت الأضحية الجذع من الضأن، (يعني د ضأن د جذعې قرباني ښه قرباني ده)، نو جذع به له قرباني ځخه د زکاة و طرف ته نه متعدي کيږي، او زکاة د قرباني په معنیٰ سره هم نه دی، چې زکاة دې پر قرباني قياس کړی سي، پاته سو د صاحبينو ذکر سوی حديث: إنما حقنا الجذعة والثني، نو د هغه جواب دا دی چې په دې حديث کي له جذعې ځخه داوبښ جذع مراد ده، نه د ضأن، لهذا دا به په دليل کي ذکر کول صحيح نه وي.

په زکاة کي نر او ماده دواړه قسمه څاروياں اخيستل صحيح دي

وَيُؤْخَذُ فِي زَكَاةِ الْغَنَمِ الذُّكُورُ وَالْإِنَاثُ او د غنم (بزو) په زکاة کي نر او ماده دواړه اخيستل کېدلای سي لِأَنَّ اِسْمَ الشَّاةِ يَنْتَظِمُهُمَا ځکه چې د شاة نوم دواړو ته شامل دی وَقَدْ قَالَ الطَّيْكَلا [1] فِي أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ او نبي ﷺ فرمايلي دي چې په څلوېښتو بزو کي يوه بزه واجب ده، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿ذُکُور﴾ جمع ده، واحد يې ذکر دی: مذکر، نر، ﴿إِنَاث﴾ جمع ده، واحد يې أُنثی دی: مؤنث، ماده (ښځه).

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره چې د غنم دواړه قسمونه يعني د ضأن او معز نر او ماده دواړه په زکاة کي اخيستل او ورکول جائز دي، دليل دا دی چې د نبي ﷺ په دې قول: في أربعين شاة شاة، کي د شاة لفظ راغلی دی، او د شاة لفظ نر او ماده دواړو ته شامل دی، نو ځکه به په زکاة کي که نر وي او که ماده دواړه ورکول صحيح وي.



فَصْلٌ فِي الْخَيْلِ

(دا) فصل د آسانو (د زکاة په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چې آسونه قيمتًا ګران دي، او د هر چا سره نه وي، بلکي د يو کس نا کس سره وي، بيا چې د يو چا سره وي، نو د تجارت لپاره نه وي، بلکي د جهاد او نورو لپاره وي، لهذا په هغو کي د زکاة مسئلې ډيري لږ پيښيږي، نو په دې وجه د هغو احکام او مسائل هم تر ټولو وروسته بيانيږي.

خيل اسم جنس دی، په دې کي هر يو ل مذکر او مؤنث آسونه داخل دي، واحد يې فرس دی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الزكاة، باب صدقة الغنم، حديث رقم: ١٨٠٧.

د آسونو د نصاب او زکاة مقدار

إِذَا كَانَتِ الْخَيْلُ سَائِمَةً (او) کله چي آسونه څرېدونکي وي(يعني د کال زياتره حصه د بياباني وښو خوړونکي وي) ذُكُورًا وَإِنَاثًا او نر او ماده (دواړه) وي فَصَاحِبُهَا بِالْخِيَارِ نو د هغو مالک(څښتن) ته اختيار دی إِنْ شَاءَ أَعْطَى عَنْ كُلِّ فَرَسٍ دِينَارًا [١] که يې خوښه وي نو د هر آس له طرفه دې يو دينار په زکاة کي ورکړي وَإِنْ شَاءَ قَوَّمَهَا [٢] او که يې خوښه وي نو د هغو نرخ دې ولګوي(يعني قيمت دې يې معلوم کړي) وَأَعْطَى عَنْ كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةَ دَرَاهِمَ او له هرو دوو سوو درهمو څخه دې پنځه درهمه ورکړي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او دا قول د امام زفر رَحِمَهُ الله (هم) دی وَقَالَا●: لَا زَكَاةَ فِي الْخَيْلِ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په آسونو کي زکاة واجب نه دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي عَبْدِهِ وَلَا فِي فَرَسِهِ صَدَقَةٌ څکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي پر مسلمان په خپل غلام او په خپل آس کي زکاة واجب نه دی وَلَهُ قَوْلُهُ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د امام صاحب دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی فِي كُلِّ فَرَسٍ سَائِمَةٍ دِينَارٌ أَوْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ (چي) په هر څرېدونکي آس کي يو دينار يا لس درهمه (زکاة) واجب دی وَتَأْوِيلُ مَا رَوَيَاهُ فَرَسُ الْغَازِي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د روايت سوي حديث تأويل دا دی چي(په هغه کي له فرس) څخه د غازي آس مراد دی(يعني د هغه تأويل دا دی چي د جهاد په آس کي زکاة واجب نه دی) وَهُوَ الْمَنْقُولُ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ او همدغه تأويل له حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه را نقل سوی دی وَالتَّخْيِيرُ بَيْنَ الدِّينَارِ وَالتَّقْوِيمِ مَأْثُورٌ عَنْ عُمَرَ او د نرخ لګولو او د دينار اداء کولو په مينځ کي اختيار ورکول له حضرت عمر فاروق ﷺ څخه رانقل سوي دي.

اللغات: ﴿الخيل﴾ آس، ﴿خيار﴾ اختيار، ﴿قوّم﴾ قيمت او نرخ لګول، قيمت معلومول، ﴿مأثور﴾ منقول(رانقل سوی)، روايت سوی.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د صحيح قول مطابق دآسونو د زکاة د نصاب هيڅ اندازه متعينه نه ده، بلکي که د يو سړي سره صرف يو آس وي او هغه سائمه وي، يعني له کور څخه دباندي پر بيابان وابښه خوري، نو پر دې سړي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز زکاة واجب دی، بعضي خلکو دړې داني د نصاب اندازه ټاکلې ده، او بعضي وايي چي کله نر او ما ده آسونه ټوله څلور سي، نو زکاة واجب دی، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُ الله په نيز په آسونو کي مطلق زکاة واجب نه دی، هغه که سائمه وي، او که نه وي، تجارت لپاره وي او که د نسل زياتوني لپاره وي، د دوی په نيز آس له زکاة څخه مبرّا دی.

● القول الراجح: قول الصاحبين، كذا في الخانية ص:١١٩. [القول الراجح ج:١، ص: ١٦٨]

● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبخاري في كتاب الزكاة، باب ليس على المسلم في فرسه صدقة، حديث نمبر: ١٤٦٣ - ١٤٦٤.

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرٰى في كتاب الزكاة، باب من رأى في الخيل صدقة، حديث رقم: ٧٤١٩.

په عبارت کي چي کومه مسئله ذکر سوې ده د هغې حاصل دا دی چي که ديو سړي سره يو څو آسونه وي، او نر و ماده ګډ وه وي، او پر هغو کال هم تېر سوی وي، نو د امام اعظم رَحِمَهُ الله او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز پر مالک د هغو زکاة ورکول واجب دي، خو هغه ته دا اختيار سته چي که وغواړي نو له هر آس څخه دي يو دينار د زکاة په توګه ورکړي، او که زړه يې وغواړي، نو دآسونو قيمت دي معلوم کړي، او له دوو سوو درهمو څخه دي پنځه درهمه په زکاة کي ورکړي.

د دې په خلاف صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي آسونه که څومره هم وي او څرنګه هم وي، په هغو کي يوه رتی زکاة هم واجب نه دی.

د صاحبينو دليل: په کُتُبِ سته وو کي د حضرت ابو هريره ﷺ دا روايت دی: ليس على المسلم في عبده ولا في فرسه صدقة له دې حديث څخه معلومه سوه چي په آس کي مطلقاً زکاة واجب نه دی، هغه که جهادي وي، که تجارتي.

د امام صاحب دليل: هغه حديث دی، کوم چي په دار قطنی او بيهقی کي له حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه رانقل سوی دی: في كل فرس سائمة دينار أو عشرة دراهم (چي په هر څرېدونکي آس کي يو دينار يا لس درهمه د زکاة لپاره واجب دي)، دويم روايت په بخاري شريف کي د حضرت ابو هريره ﷺ روايت دی: أن رسول الله ﷺ ذكر الخيل فقال: رجل ربطها تغنياً و تعففًا ثم لم ينس حق الله في رقابها ولا في ظهورها فهي لذالك ستر، (يعني نبي ﷺ د آسونو يادونه وکړه، او داسي يې وفرمايل: څوک چي د مالداری د اظهار او له سوال څخه د ځان ساتني لپاره يو آس وتړي، او د هغه په غاړه او شا کي د الله حق هېر نه کړي[يعني د هغه زکاة اداء کړي]، نو هغه آس به د ده په حق کي ستر او ډال [اسپر] وي)، له دې دوو حديثونو څخه دا خبره څرګنديږي چي په آسونو کي زکاة واجب دی.

وتأويل ما الخ صاحب د هدايې د صاحبينو د ذکر سوي روايت جواب ورکوي، فرمايي چي د صاحبينو په روايت کي له فرس څخه فرسِ غازي يعني جهادي آس مراد دی، او همدا له حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه رانقل سوي دي، لکه څرنګه چي صاحب د کفايې ليکلي دي: "چي يو وار د مروان باچا په زمانه کي دآسونو د زکاة مسئله مخته راغله، مروان له صحابه وو سره مشوره وکړه، نو حضرت ابو هريره ﷺ دا حديث ذکر کړی: ليس على الرجل في عبده ولا في فرسه صدقة، مروان له حضرت زيد بن ثابت څخه پوښتنه وکړه، نو هغه وفرمايل: صدق رسول الله ﷺ إنما هنا فرس الغازي، (يعني نبي ﷺ رشتيا فرمايلي دي، لېکن دلته له فرس څخه جهادي آس مراد دی)"، او په جهادي آس کي خو موږ هم د زکاة د علم وجوب خبره کوو. (كفايه بحواله حاشيه هدايه ص:١٩١)

لنډه دا چي دا خبره فيصله سوې ده چي په آس کي زکاة واجب دی، خو په دې شرط چي د جهاد لپاره نه وي، او د هغه مالک ته به دا اختيار وي چي که غواړي نو د هر آس په بدله کي دي يو دينار په زکاة کي ورکړي، او که غواړي نو د ټولو قيمت دي معلوم کړي، او له ۲۰۰ درهمو څخه دي ۵ درهمه ورکړي.

والتخيير الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د دينار او د قيمت معلومولو اختيار له حضرت عمر ﷺ څخه رانقل سوی دی، لکه څرنګه چي صاحب د کفايې ليکلي دي چي کوم خط حضرت عمر ﷺ د حضرت ابو عبيده ﷺ په نامه د آسونو د زکاة په باره کي استولی وو، په هغه کي داسي ليکل سوي وو: خيّر أربابها أن أدّوا من كل فرس دينارا وإلا فقوّمها وخذ من كل مائتي دراهم خمسة دراهم (يعني ته د زکاة والا وو ته دا اختيار ورکړه چي هغوی دي د هر آس په بدله

کي يو دينار په زکاة کي ورکړي، يا د هغو قيمت معلوم کړه او له دوو سوو درهمو څخه پنځه درهمه د زکاة په توګه واخله)، له دې مقدس فرمان څخه د دينار او قيمت معلومولو په مينځ کي اختيار ثابت سو.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دی، قالوا والفتوٰی علی قولهما واجمعوا علی أن الامام لا یأخذ منه صدقة الخیل جبراً (خانیه ص،۱۱۹)، وقال فی الهندیة: لا شئ فی الخیل و هذا عندهما وهو المختار للفتوی إلا أن تکون للتجارة (هندیة ج،۱، ص،۱۷۸). [القول الاجمع ج،۱، ص،۱۶۸]

که آسونه فقط نر یا ماده وي نو څه حکم دی؟

وَلَیْسَ فِیْ ذُکُوْرِهَا مُنْفَرِدَةً زَکَاةٌ او یوازي په نرو آسونو کي زکاة واجب نه دی لِأَنَّهَا لَا تَتَنَاسَلُ ځکه چي هغه یوازي نسل نه زیږوي وَکَذَا فِي الْإِنَاثِ الْمُنْفَرِدَاتِ همدارنګه یوازي په ماده آسونو کي (هم) زکاة واجب نه دی فِيْ رِوَایَةٍ په یوه روایت کي وَعَنْهُ الْوُجُوْبُ فِیْهَا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت (په ماده آسونو کي) د وجوب دی (یعني زکاة پکښې واجب دی) لِأَنَّهَا تَتَنَاسَلُ بِالْفَحْلِ الْمُسْتَعَارِ ځکه چي ماده آسونه د غوښتل سوي نر آس په ذریعه نسل زیږولای سي بِخِلَافِ الذُّکُوْرِ په خلاف د نرو آسونو وَعَنْهُ أَنَّهَا تَجِبُ فِي الذُّکُوْرِ الْمُنْفَرِدَةِ ایضاً او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یوه روایت دا دی چي یوازي په نرو آسونو کي هم زکاة واجب دی.

اللغات: ﴿تتناسل﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: نسل پیدا کول (زیږول)، نسل زیاتول، ﴿فحل﴾ د هر حیوان نر ته فحل ویل کیږي، ﴿مستعار﴾ د استفعال د باب اسم مفعول دی: په خواست غوښتل سوی.

تشریح: په دې عبارت کي صرف د نر یا صرف د ماده آسونو د زکاة مسئلې بیانیږي، حاصل یې دا دی که د یو چا سره صرف نر آسونه یا صرف ماده آسونه وي، نو په هغو کي د زکاة د وجوب په باره کي له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي: (۱) اول روایت دا دی چي یوازي په نر یا ماده آسونو کي زکاة واجب نه دی، ځکه د زکاة د وجوب سبب د مال (نامي کیدل او زیاتیدل) دي، او په آسونو کي نما او زیاتیدنه په تناسل او زیږیدني سره ثابتیږي، لیکن صرف په نرو آسونو یا صرف په ماده آسونو کي توالد او تناسل امکان نه لري، نو ځکه به نه په یوازي نرو آسونو کي زکاة واجب وي، او نه په یوازي ماده آسونو کي.

(۲) دویم روایت دا دی چي په یوازي نر یا ماده آسونو کي زکاة واجب دی، که څه هم د هغوی سره یو ماده آس یا نر آس نه وي، صرف په ماده آسونو کي د زکاة د وجوب دلیل دا دی چي له نرو آسونو څخه بغیر هم له نورو خلکو څخه نر آسونه غوښتل او د ماده آسونو سره جوړفتي (جماع) په کول ممکن دي، نو ځرنګه چي په ماده آسونو کي د مال د نامي کیدلو سبب پیدا سو، نو ځکه به په هغو کي زکاة واجب وي. او صرف په نرو آسونو کي د زکاة د وجوب دلیل دا دی چي دا حدیث فی کل فرس الخ مطلق دی، او په دې کي د نر یا ماده هیڅ قید یا تفصیل نسته. نو ځکه به د دې حدیث د اطلاق په وجه په نر او ماده دواړو قسمونو کي زکاة واجب وي، هغه که مخلوط وي، او که غیر مخلوط، او صاحب د ایضاح وایي چي ځرنګه په اوبښ او بقر کي د سائمه والي په وجه د هغو په نر او ماده دواړو کي زکاة واجب دی، همدارنګه به په آسونو کي هم د یوازي نر یا یوازي ماده والي په صورت کي زکاة واجب وي. (بنایه ج،۳، ص،۲۰۰)

په غاطرو او خرو کې د زکاة حکم

وَلَاشَيْءَ فِي الْبِغَالِ وَالْحَمِيْرِ او په غاطرو او خرو کي زکاة نشته لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَمْ يَنْزِلْ عَلَيَّ فِيْهِمَا شَيْءٌ پر ما دې دواړو (د زکاة) په باره کي هيڅ شی نه دي را نازل سوی وَالْمَقَادِيْرُ تَثْبُتُ سَمَاعًا او مقدارونه (يعني د زکاة مقدارونه) په اورېدلو سره ثابتيږي إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ لِلتِّجَارَةِ خو دا چي خرونه او غاطري د تجارت لپاره وي لِأَنَّ الزَّكَاةَ حِيْنَئِذٍ تَتَعَلَّقُ بِالْمَالِيَّةِ ځکه چي په دې وخت کي زکاة د ماليت سره متعلق کيږي كَسَائِرِ أَمْوَالِ التِّجَارَةِ لکه نور (تول) د تجارت مالونه، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿بِغَال﴾ جمع د بَغْلٌ ده: غاطره (خچره)، ﴿حَمِيْر﴾ جمع د حِمَارٌ ده: خر.

تشريح: په خرو او غاطرو کي زکاة نشته، دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: لم ينزل علي فيهما شيء، (يعني د خرو او د غاطرو د زکاة په باره کي پر ما هيڅ حکم را نازل سوی نه دي)، او د زکاة مقادير (مقدارونه) سماعي دي، قياسي او عقلي نه دي. يعني د زکاة مسائل او اندازې له شريعت څخه پر اورېدلو موقوف دي، او په دې باره کي له نبي ﷺ څخه هيڅ هم اورېدل سوي نه دي، نو ځکه به په دوی کي زکاة واجب نه وي، هو! که خرونه او غاطري د تجارت لپاره وي، نو په هغو کي به زکاة واجب وي، ځکه چي په دې وخت کي به هغه مال وي، او څرنګه چي په نورو مالونو کي زکاة د ماليت او قيمت سره تعلق لري، همدارنګه به د هغو زکاة هم د قيمت سره متعلق وي، او د هغوی د قيمت په هرو دوو سوو درهمو کي به پنځه درهمه د زکاة واجب وي.



فَصْلٌ فِيْ مَا لَا صَدَقَةَ فِيْهِ

دا فصل د هغو څارويو په بيان کي دی چي زکاة پکښي واجب نه وي

تشريح: تر دې مخکي د غټو حيواناتو د زکاة بيان وو، اوس د کوچنيو حيواناتو او د هغوی د بچيانو زکاة بيانيږي، په دې فصل کي درې الفاظ د پاملرني وړ دي: ① فُصْلَانٌ دا د فَصِيْلٌ جمع ده، له دې څخه د اوښې هغه بچی مراد دی چي يو کال يې پوره سوی نه وي، ② عَجَاجِيْلُ دا د عُجُوْلٌ جمع ده، له دې څخه مراد د غوا يا ګاميښې هغه بچی دي چي تبيع نه وي، ③ حملان دا د حَمَلٌ جمع ده، له دې څخه د بزې هغه بچی مراد دی چي يو کال يې پوره سوی نه وي.

● تخريج: أخرجه النسائي في كتاب الخيل، باب الخيل معقود في نواصيها، حديث رقم: ٣٥٩٣، والبيهقي في كتاب الزكاة، باب من رأى في الخيل صدقة، حديث رقم: ٧٢١٨.

د اوښ، غواء او بزې (وزې) په بچو کې د زکاة حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

وَلَيْسَ فِي الْفُصْلَانِ وَالْعَجَاجِيلِ وَالْحُمْلَانِ صَدَقَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او نسته د اوښې، غوا او بزې په بچو کې زکاة د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نیز إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَهَا كِبَارٌ خو چې د هغو سره لوي څاروي (هم) وي وَهٰذَا آخِرُ أَقْوَالِهِ او دغه امام صاحب رَحِمَهُ الله تر ټولو آخري قول دی وَهُوَ قَوْلُ● مُحَمَّدٍ او د امام محمد قول (هم) دی وَكَانَ يَقُولُ أَوَّلًا يَجِبُ فِيهَا مَا يَجِبُ فِي الْمَسَانِّ امام صاحب رَحِمَهُ الله به مخکې دا خبره کوله چې په کوچنيو بچو کې (هم) هغه زکاة واجب دی کوم چې په مسنه (يعني غټو څارويو) کې واجب دی وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ وَمَالِكٍ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله او د امام مالک رَحِمَهُ الله قول دی ثُمَّ رَجَعَ بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله (له دې قول څخه) رجوع وکړه وَقَالَ: فِيهَا وَاحِدَةٌ مِنْهَا او ويې فرمايل: چې په دې (بچو) کې هم له هغو څخه يو بچى واجب دی (يعني چې څومره بچيان چې وي له هغو څخه به يو بچى په زکاة کې ورکوي) وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ وَالشَّافِعِيِّ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی وَجْهُ قَوْلِهِ الْأَوَّلِ أَنَّ الْإِسْمَ الْمَذْكُورَ فِي الْخِطَابِ يَنْتَظِمُ الصِّغَارَ وَالْكِبَارَ (د امام صاحب) د اول قول دليل دا دی چې په خطاب کې ذکر سوی نوم کوچنيو او غټو ټولو ته شامل دی وَوَجْهُ الثَّانِي تَحْقِيقُ النَّظَرِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ د دويم قول دليل د دواړو طرفونو (يعني د فقير او د مالدار) پوره لحاظ کول دي كَمَا يَجِبُ فِي الْمَهَازِيلِ وَاحِدٌ مِنْهَا لکه څرنګه چې په ډنګرو (او کمزورو) څارويو کې يو واجبيږي وَوَجْهُ الْأَخِيرِ أَنَّ الْمَقَادِيرَ لَا يَدْخُلُهَا الْقِيَاسُ او د آخري قول دليل دا دی چې (د نصاب) په مقاديرو کې قياس له هيڅ دخل نسته فَإِذَا امْتَنَعَ إِيجَابُ مَا وَرَدَ بِهِ الشَّرْعُ امْتَنَعَ أَصْلًا نو کله چې ممتنع (او ناممکن) سو واجبېدل د هغه شي چې د هغه په باره کې شريعت راغلی دی نو د هغه زکاة بالکل ممتنع سو★ وَإِذَا كَانَ فِيهَا وَاحِدٌ مِنَ الْمَسَانِّ خو کله چې په دې بچو کې يو مسنه وي (يعني غټ څاروی وي) جَعَلَ الْكُلَّ تَبَعًا لَهُ فِي انْعِقَادِهَا نِصَابًا نو ټوله بچيان به د نصاب په پوره کولو کې د دې مسنه تابع ګرځول کيږي دُونَ تَأْدِيَةِ الزَّكَاةِ نه د زکاة په اداء کولو کې (يعني له بچو څخه به زکاة نه ورکول کيږي) ثُمَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَا يَجِبُ فِيمَا دُونَ الْأَرْبَعِينَ مِنَ الْحُمْلَانِ بيا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز [۱] د بزې له څلوېښتو بچو څخه په کمو کې زکاة واجب نه دی وَفِيمَا دُونَ الثَّلَاثِينَ مِنَ الْعَجَاجِيلِ [۲]

● القول الراجح: قول الطرفين أي لا تجب الزكوة في الفصلان و العجاجيل والحملان، وقال العلامة الحصكفي الصحيح قولهما رد المحتار ج:۲، ص:۲۲. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۶۹]

★ فإذا امتنع ...الخ په دې عبارت کې دا جمله څه ستونزمنه ده، صاحب د اثمار الهدايه د دې ډېره آسانه ترجمه داسې کړې ده: "نو شريعت چې د کوم عمر زکاة واجب کړې دی هغه سته نه، نو ځکه به بالکل زکاة نه واجبيږي". هغه فرمايي چې د ايجاب ما ورد به الشرع مطلب دا دی چې شريعت په زکاة کې د کوم عمر حيوان واجب کړی دی، د هغه عمر حيوان ته ايجاب ما ورد به الشرع وايي، مثلاً په پنځويشتو اوښانو کې داوښ د يوه کال بچى لازم دی، او په دېرشو غواوو کې د غوا د يوه کال بچى لازم دی او داسې نور... نو دا يو کال عمر ايجاب ما ورد به الشرع سو، نو اوس که د مالک سره ټوله بچيان تر يو کال کم وي، نو د هغه سره بالکل د شريعت د عمر حيوان سته نه، نو ځکه به په هغو کې بالکل زکاة نه واجبيږي، د امتنع اصلاً مطلب همدغه دی.

او د غوا له دېرشو بچو څخه په کمو کې زکاة واجب نه دی وَيَجِبُ فِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الْفُصْلَانِ وَاحِدٌ [۳] او د اوښ په پنځویشتو بچو کې یو بچی واجب دی ثُمَّ لَا يَجِبُ شَيْءٌ بیا هیڅ شی هم (په زیاتو بچو کې) واجب نه دی حَتّٰى تَبْلُغَ مَبْلَغًا لَوْ كَانَتْ مَسَانَّ يُثَنَّى الْوَاجِبُ تر دې چې بچیان هغه شمېر (تعداد) ته ورسیږي چې که مسنه (یعني غټ) شاروبان وای نو (په هغو کې به) دوه شاروبان واجبدلای ثُمَّ لَا يَجِبُ شَيْءٌ بیا هیڅ شی هم واجب نه دی حَتّٰى تَبْلُغَ مَبْلَغًا لَوْ كَانَتْ مَسَانَّ يُثَلَّثُ الْوَاجِبُ تر دې چې هغه شمېر ته ورسیږي چې که مسنه وای نو درې شاروبان به واجبدلای وَلَا يَجِبُ فِيمَا دُونَ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ فِي رِوَايَةٍ او (د امام ابو یوسف) په یوه روایت کې له پنځویشتو څخه په کمو (بچو) کې هڅ شی نه واجبیږي وَعَنْهُ أَنَّهُ يَجِبُ فِي الْخَمْسِ خُمُسُ فَصِيلٍ او له امام ابو یوسف څخه (دویم) روایت دا دی چې د اوښ په پنځو بچو کې د فصیل (یعني د اوښ د یوه بچي) پنځمه حصه واجبیږي وَفِي الْعَشْرِ خُمُسَا فَصِيلٍ او په لسو بچو کې د فصیل دوې پنځمې حصې (واجبیږي) عَلٰى هٰذَا الْاِعْتِبَارِ هم په دې اعتبار سره (به حساب کیږي) وَعَنْهُ أَنَّهُ يَنْظُرُ إِلٰى قِيمَةِ خُمُسِ فَصِيلٍ فِي الْخَمْسِ او له امام ابو یوسف څخه (دریم) روایت دا دی چې (د اوښ) په پنځو بچو کې به د اوښ د یوه بچي پنځمې حصې ته کتل کیږي وَإِلٰى قِيمَةِ شَاةٍ وَسَطٍ او د مینځوی درجې بزې و قیمت ته به (کتل کیږي) فَيَجِبُ أَقَلُّهُمَا نو له دې دواړو څخه چې د کوم یوه قیمت کم وي هغه به واجبیږي وَفِي الْعَشْرِ إِلٰى قِيمَةِ شَاتَيْنِ او (د اوښ) په لسو بچو کې به د دوو بزو قیمت ته (کتل کیږي) وَإِلٰى قِيمَةِ خُمُسَيْ فَصِيلٍ او د اوښ د یوه بچي د دوو پنځمو حصو قیمت ته به (کتل کیږي، او کوم چې کم وي هغه به واجبیږي) عَلٰى هٰذَا الْاِعْتِبَارِ هم په دې اعتبار سره (به نور حساب کیږي).

اللغات: ﴿الفصلان﴾ د فَصِيلٌ جمع ده. د اوښ هغه بچی چې یو کال یې پوره نه وي. ﴿عجاجيل﴾ د عِجُولٌ جمع ده. د غوا یا گامیښې هغه بچی چې یو کال یې پوره نه وي. ﴿حملان﴾ د حمل جمع ده. د بزې (یا میږې) هغه بچی چې یو کال یې پوره نه وي. ﴿مهازيل﴾ د مَهْزُولٌ او مَهْزِيلٌ جمع ده: ډنگر، کمزوری.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د اوښ، غوا، بزې (او پسه) په هغو بچو کې چې تر یوه کال کم وي، زکاة واجب دی، که نه؟ په دې باره کې تو له امامان سره جلا دي، او په خپله له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کې درې قولونه رانقل سوي دي: (۱) اول قول دا دی چې په دې بچو کې هغه زکاة واجب دی کوم چې په مسنه شاروبانو کې واجب دی، یعني د اوښ په بچو کې به د اوښ زکاة واجب وي، او د غوا په بچو کې به د غوا زکاة واجب وي علی هذا القیاس.... د امام زفر رَحِمَهُ الله او د امام مالک رَحِمَهُ الله قول هم دغه دی. (۲) دویم قول دا دی چې له بچو څخه به یو واجب وي، مثلاً د بزې (او پسه) په څلوېښتو بچو کې به د بزې (او پسه) یو بچی واجب وي، همدا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله

قول دی. (۳) دریم قول دا دی چې که د اوښ، غوا او بزې بچې یوازې وي، او د هغو سره یو بل غټ څاروی نه وي، نو په هغو کې بالکل زکاة نه واجبیږي، دا د امام اعظم رَحِمَهُ الله تر ټولو آخري قول دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله قول هم دغه دی.

دلیلونه: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د لول قول دلیل دا دی چې د اوښ، غوا او د بزې د زکاة د وجوب په باره کې چې کوم نصوص راغلي دي، هغه مطلق دي، او په هغو کې د کوچنې یا غټ هیڅ قید نشته، نو ځکه به په هر ډول اوښ، غوا او نورو کې زکاة واجب وي هغه که کوچنې وي، او که غټ وي، ځکه چې دا قاعده مشهوره ده: المطلق يجري على إطلاقه.

(۲) د دویم قول دلیل یې دا دی چې له بچو څخه د یوه بچې په واجبولو کې د مال د خاوند په حق کې هم نرمي او رعایت سته، او د فقیرانو او مسکینانو په حق کې هم شفقت، خواخوږي او رعایت سته، په دې توګه چې که موږ له دغو بچو څخه زکاة واجب نه کړو (بلکې دا واجب کړو چې په څلوېښتو بچو کې به یو بچې نه ورکوي بلکې غټ څاروی به ورکوي یعنې د غټو څارویو د زکاة مطالبه وکړو) نو په دې صورت کې به د مال خاوند تاواني وي، اول تاوان خو به یې دا وي چې د څارویو لټون به کوي، او دویم تاوان به یې دا وي چې دېر ځله یو غټ څاروی د څلوېښتو بچو د قیمت سره برابر وي، نو که یو داسې مالک چې د هغه سره صرف څلوېښت بچې وي دغه ډول غټ څاروی په زکاة کې ورکړي، نو هغه بېچاره به په خپله د زکاة مستحق سي، نو ځکه موږ ووېل چې له بچو څخه به یو بچې په زکاة کې ورکوي، او په دې صورت کې د فقیرانو رعایت دا ډول دی چې که د بچو زکاة معاف کړی سي، نو بېچاره فقیران به محروم پاته سي، نو په دې وجه په دې صورت کې د دواړو طرفونو د خیال ساتلو په وجه یو بچې واجب سوی دی، لکه د یو چا سره چې صرف کمزوري او ډنګر څارویان وي، نو د هغه لپاره حکم دا دی چې هغه به هم له هغو ډنګرو او کمزورو څارویانو څخه زکاة اداء کوي، چې نه د فقیرانو نقصان سي او نه د مالک نقصان.

(۳) د دریم قول دلیل دا دی چې د زکاة د نصاب مقدارونه (مقادیر) پر سماع (اورېدلو) موقوف دي، او په دې کې عقل او قیاس لره هیڅ دخل نشته، لکه څرنګه چې شریعت موږ ته دا را ښوولي دي چې په ۲۵ اوښانو کې یوه بنت مخاض واجب ده، یا په دېرشو غواوو (یا غویانو) کې یوه تبیعه واجب ده، یا په څلوېښتو بزو (یا پسونو) کې یوه بزه واجب ده، نو موږ به هم د شریعت پر طریقې عمل کوو، اوس که د یو چا سره د شریعت د بیان سوی نصاب او مقدار مطابق نور نصاب او څارویان نه وي، (بلکې صرف بچې وي)، نو بیا به د هغه لپاره صرف دوې لارې وي: (۱) یا خو به یو بچی له هغو بچو څخه په زکاة کې ورکوي، (۲) یا به له هغو څخه ماسوا د یو بل بنه څاروي لټون کوي او په زکاة کې به یې ورکوي، او دا دواړې لارې خطرناکه دي، ځکه چې په اوله لاره کې د شریعت له نصوصو څخه ممانعت راځي، او په دویمه کې په خپله د مالک نقصان دی، نو ځکه به په دې صورت کې بالکل زکاة نه واجبیږي، نه د کوچنې او نه د غټ.

ضروري یادونه: له ګرانو علماؤ او طالبانو څخه دا هیله ده چې د همدغه ترتیب مطابق دې په مسئله پوه سي کوم ترتیب چې ما بیان کړی، کنې په هدایه کې خو د امام محمد رَحِمَهُ الله قول تر ټولو مخکې ذکر دی، او د هغه دلیل تر ټولو وروسته ذکر دی، همدارنګه له و وجه الأخير څخه د دریم قول دلیل مراد نه دی، بلکې د امام صاحب رَحِمَهُ الله د آخري قول دلیل مراد دی، کوم چې امام محمد رَحِمَهُ الله اختیار کړی دی.

<u>وإذا كان فيها الخ</u> او که د دې بچو سره یو غټ بچې (او څاروی) وي (یعنې د یوه کال څاروی وي)، نو بیا به د نصاب په تکمیل کې دا ټوله بچې د دغه غټ تابع کېږي، مثلاً د یو چا سره د بزې ۳۹ بچې وي، او صرف یوه مسنه ور سره وي (یعنې د بزې هغه بچې چې یو کال یې پوره سوي او په دویم کې وي)، نو د دې مسنه په وجه به دا ټوله بچې غټ

شمارل کیږي(او د هغه به تابع کیږي)، او په دې سره به د زکاة نصاب منعقد او بشپړ ګڼل کیږي، لیکن د زکاة په اداء کولو کې به کوچني د غټې نه تابع کیږي، یعني په زکاة کې به صرف دغه مسنه(د یوه کال څاروی) ورکول کیږي، له بچو څخه به یو بچی هم نه ورکول کیږي.

ثم عند أبي یوسف الخ د دې حاصل دا دی چې د امام ابو یوسف او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز د اوښ، غوا او نورو په بچو کې زکاة واجب دی، لیکن دا وجوب قیاسي او عقلي نه دی، بلکي د دوی پلار او مور ته به کتل کیږي، مطلب دا چې څرنګه له ۴۰ څخه په کمو بزو کې یوه بزه (هم) واجب نه ده، همدارنګه به له څلوېښتو څخه د بزو(وزو) په کمو بچو کې هم هیڅ شی واجب نه وي، همداسي د غوا او د اوښ نصاب دی، نو څرنګه چې له دېرشو څخه په کمو غواوو کې هیڅ شی واجب نه دی، همدارنګه به له دېرشو څخه په کمو کلګیانو کې هیڅ شی واجب نه وي، او لکه څرنګه چې له ۲۵ څخه په کمو اوښانو کې زکاة واجب نه دی، همداسي به د اوښ په بچو کې هم له ۲۵ څخه په کمو کې زکاة واجب نه وي، لیکن که د اوښ بچیان ۲۵ سول، او کال هم پر تېر سو، نو بیا به په هغو کې یو د اوښ بچی واجب وي، صاحب د هدایې له ویجب فی خمس و عشرین من الفصلان څخه همدغه مسئله بیان کړې ده.

ثم لا یجب شيئ الخ د دې حاصل دا دی چې په ۲۵ اوښانو کې خو یوه بنت مخاض واجب ده، نو پر هغه به په قیاسولو سره د امام ابو یوسف په نېز د اوښ په ۲۵ بچو کې یو بچی واجب وي، لیکن تر ۲۵ وروسته خو په ۳۶ اوښانو کې یوه بنت لبون واجب ده، او په ۴۶ اوښانو کې یوه حقه واجب ده نو د اوښ بچیان چې کله ۳۶ یا ۴۶ سي نو په هغو کې به څه شي واجب وي؟ د هغه په جواب کې صاحب د هدایې فرمایي چې له پنځوېشتو څخه په زیاتو بچو کې هیڅ شی نه واجبیږي تر دې چې بچیان هغه شمېر ته ورسیږي چې که دا غټ اوښان وای نو په هغو کې به د یوه عمره دوه اوښان واجبېدای(نو په دې وخت کې به یې په بچو کې هم دو بچیان واجبیږي، مطلب دا چې کله تر پنځوېشتو وروسته په څومره اوښانو کې یو اوښ یا د جلا عمرو دوه اوښان واجبیږي نو په هغومره بچو کې به هیڅ شی نه واجبیږي، او په څومره اوښانو کې چې د یوه عمر دوه اوښان واجبیږي نو په هغومره بچو کې به دوه بچي واجبیږي، او په څومره اوښانو کې چې د یوه عمره درې اوښان واجبیږي نو په هغومره بچو کې به درې بچي واجبیږي، علی هذا القیاس) مثلاً په ۳۶ اوښانو کې یوه بنت لبون، او په ۴۶ کې یوه حقه واجبیږي، نو څرنګه چې په دې کې یو اوښ واجبیږي. نو ځکه به په ۳۶ یا ۴۶ بچو کې هیڅ شی نه واجبیږي، لیکن په شپږ اویا(۷۶) اوښانو کې دوې بنت لبون واجب دي. نو په شپږ اویا بچو کې به دوه بچي واجبیږي، بیا به له شپږ اویا څخه په زیاتو کې هیڅ شی نه واجبیږي، تر دې چې د بچو شمېر هغه اندازې ته ورسیږي چې که دا غټ اوښان وای نو په هغو کې به درې د یوه عمر څاروي واجبېدای مثلاً په ۱۴۵ اوښانو کې درې حقې واجبیږي، نو په ۱۴۵ بچو کې به درې بچي واجبیږي، همداسي به د غوا او بزې حساب کیږي، او ترڅو چې په اصل یعني په اوښانو، غوا، او بزو کې اضافه کیږي، تر هغو پورې به په فرع یعني د هغو په بچو کې هم اضافه کیږي.

صاحب د هدایې همدغه مسئله د لو کانت مسان یثنی الواجب...(او) یثلث الواجب څخه بیان کړې ده، او له مسان څخه غټ اوښان مراد دي.

ولا یجب فیما دون خمس وعشرین الخ له دې ځایه دا رانیسي چې که د اوښ بچي تر ۲۵ کم وي، نو آیا په هغو کې به زکاة واجب وي، که نه؟ په دې باره کې له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه را نقل سوي دي: (۱) لول روایت دا دی چې که د اوښ بچي تر ۲۵ کم ول، نو په هغو کې زکاة نه واجبیږي، (۲) دویم روایت دا دی چې که صرف پنځه د اوښ

بچیان ول، نو په هغو کې هم زکاة واجبیږي، دا روایت له امام ابو یوسف څخه محمد بن شجاع را نقل کړی دی، او د اول روایت راوي حسن بن مالک دی. (بنایه)

بیا چې په کوم روایت کې په پنځو بچو کې زکاة واجب ګرځول سوی دی، د هغو د وجوب په طریقه کې هم دوه روایتونه دي: (۱) اول روایت دا دی چې د اوښ په پنځو بچو کې د یوه بچي پنځمه حصه واجب ده، او په لسو بچو کې د یوه بچي دوې پنځمي حصې واجب دي، او په پنځلسو کې د یوه بچي درې پنځمي حصې واجب دي، علی هذا القیاس.

(۲) دویم روایت دا دی چې که د اوښ بچي پنځه سول، نو د یوه بچي د پنځمي حصې د قیمت او د یوې مینځوی درجې بزې د قیمت په مینځ کې به موازنه کیږي، او د کوم شي قیمت چې کم وي هغه به په زکاة کې ورکول کیږي، او که لس بچي وي، نو د یوه بچي د دوو پنځمو حصو د قیمت او د دوو مینځوی درجو بزو د قیمت په مینځ کې به موازنه کیږي، او چې کوم کم وي، هغه به په زکاة کې واجبیږي، علی هذا القیاس یعني په پنځلسو او شلو کې به هم داسې موازنه کیږي.

که په زکاة کې واجب سوی څاروی د مالک سره نه وي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ مُسِنٌّ فرمایي: چې پر چا مُسِن څاروی واجب سي فَلَمْ يُوجَدْ لیکن هغه (د ده سره) پیدا نه سي (یعني د ده سره نه وي) أَخَذَ الْمُصَدِّقُ أَعْلَى مِنْهَا وَرَدَّ الْفَضْلَ نو زکاة اخیستونکي دي تر مُسِن د لوړې درجې (یعني دلوړ قیمت) څاروی واخلي او زیاتوب دي واپس کړي (یعني تر مُسِن چې څومره زیات سي د هغه قیمت دي ورکړي) أَوْ أَخَذَ دُونَهَا وَأَخَذَ الْفَضْلَ یا دي تر مُسِن د کمې درجې والا څاروی واخلي او زیاتوب دي (هم) واخلي وَهَذَا يَبْتَنِي عَلَى أَنَّ أَخْذَ الْقِيمَةِ فِي بَابِ الزَّكَاةِ جَائِزٌ عِنْدَنَا او دا مسئله پر دې خبره مبني ده چې زموږ په نېز د زکاة په باب کې قیمت اخیستل جائز دی عَلَى مَا نَذْكُرُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى لکه څرنګه چې به موږ (وروسته) د دې ذکر وکړو انشاء الله تعالیٰ إِلَّا أَنَّ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ لَهُ خو په اول صورت کې زکاة اخیستونکي لره (دا) اختیار سته أَنْ لَا يَأْخُذَ وَيُطَالِبَ بِعَيْنِ الْوَاجِبِ أَوْ بِقِيمَتِهِ چې هغه (د لوړې درجې څاروی) نه واخلي (بلکي) د عینِ واجب مطالبه وکړي یا د عینِ واجب د قیمت مطالبه وکړي لِأَنَّهُ شِرَاءٌ ځکه چې دا رانیول دي وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي يُجْبَرُ او په دویم صورت کې به زکاة اخیستونکی (د کوچنې څاروي پر اخیستلو) مجبوره کیږي لِأَنَّهُ لَا بَيْعَ فِيهِ ځکه چې په دې کې بیع سته بَلْ هُوَ إِعْطَاءٌ بِالْقِيمَةِ بلکي دا د قیمت (په ذریعه زکاة) ورکول دي.

اللغات: ﴿المسن﴾ د څارویانو دوه کلیزه بچی، ﴿یبتنی﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مبني کېدل، موقوف کېدل.

تشریح: دا خبره خو تاسو ته معلومه سوه چې په زکاة کې به د مینځوی درجې مال اخیستل کیږي، هغه که څاروی وي یا که یو بل شی وي، یعني نه به ډېر ښه مال اخیستل کیږي، چې مالک تاواني سي، او نه به ډېر کمزوري او خراب مال اخیستل کیږي چې د هیڅ کار نه وي او فقیر تاواني سي، دا خبره تاسو په ذهن کې لرئ.

همدارنګه دا خبره هم په ذهن کې لرئ چې زموږ په نېز د زکاة په باب کې قیمت اخیستل او قیمت ورکول جائز دي، د دې پوره تفصیل به وروسته راسي، په عبارت کې چې کومه مسئله بیان سوې ده، د هغې حاصل دا دی چې که د یو سړي سره مثلاً ۳۶ اوښان وي، نو د شریعت له رویه په هغو کې یوه بنت لبون واجب ده، یا مثلاً د یو چا سره ۴۶ اوښان وي، نو په

هغو کي شرعاً حقه واجب ده، خو که د ۳۶ په صورت کي د هغه سره يوه بنت لبون هم نه وي، همدارنګه د ۴۶ په صورت کي د هغه سره يوه حقه هم نه وي، نو اوس به د زکاة اخيستلو څه طريقه وي، فرمايي چي که بنت لبون نه وه، او تر بنت لبون غټ څاروی يعني حقه وه، نو عامل او د زکاة اخيستونکي (مصدّق) ته پکار ده چي له مالک څخه حقه واخلي او د بنت لبون د قيمت او د حقې د قيمت په مينځ کي چي کوم فرق دی، هغه دي مالک ته بيرته ورکړي، مثلاً د حقې قيمت ۲۰۰۰ روپۍ وو، او د بنت لبون قيمت ۱۰۰۰ روپۍ وو، نو مصدّق ته پکار ده چي مالک ته دي ۱۰۰۰ روپۍ واپس کړي، همدارنګه که پر چا حقه واجب سوه، او حقه نه وه، نو بنت لبون يا بنت مخاض دي څني واخيستل سي، او دې او د حقې په مينځ کي چي کوم فرق وي، هغه دي مصدّق له مالک څخه واخلي، دا حکم او تفصيل زموږ په نېز دی، خو په دې کي امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، چي هغه به مخته راسي.

إلا أن في الوجه الأول د دې حاصل دا دی چي په اول صورت کي يعني چي کله بنت لبون (يعني د کمي درجې څاروی) په زکاة کي واجب سي، لېکن هغه د مالک سره نه وي، نو مصدّق ته اختيار سته، که غواړي نو اعلیٰ څاروی يعني حقه دي واخلي او زياتوب دي واپس کړي، او که غواړي نو اعلیٰ دي نه اخلي، بلکي له مالک څخه دي د بنت لبون د قيمت مطالبه وکړي، او په دې صورت کي به مصدق د اعلیٰ يعني د حقه پر اخيستلو نه مجبوره کيږي، ځکه چي اعلیٰ اخيستل او زياتوب واپس کول يو ډول رانيول (پېرودل) او شراء ده، او په رانيولو کي جبر نه چليږي، نو ځکه به په دې صورت کي پر مصدق جبر نه کيږي.

لېکن په دويم صورت کي يعني چي کله اعلیٰ څاروی واجب سي، او هغه نه وي، او مالک د ادنیٰ درجې څاروی او نور قيمت ورکول غواړي، نو په دې صورت کي مصدق پر اخيستلو مجبوره کېدای سي، ځکه چي دلته بيع او شراء نسته، بلکي داسي به ويل کيږي چي مالک د قيمت په ذريعه سره زکاة اداء کوي، او څرنګه چي زموږ په نېز د قيمت په ذريعه سره زکاة اداء کول جائز دي، نو ځکه به مصدق پر زکاة اخيستلو مجبوره کيږي.

په زکاة کي د قيمت د اداء کولو حکم

وَيَجُوْزُ دَفْعُ الْقِيَمِ فِي الزَّكَاةِ عِنْدَنَا او په زکاة کي زموږ په نېز قيمتونه ورکول جائز دي وَكَذَا فِي الْكَفَّارَاتِ وَصَدَقَةِ الْفِطْرِ وَالْعُشْرِ وَالنَّذْرِ همدارنګه په کفارو، سرسايه، عُشر او نذر کي هم (قيمت ورکول جائز دي) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوْزُ اِتِّبَاعًا لِلْمَنْصُوْصِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي (قيمت ورکول) جائز نه دي د منصوص د تابعداری کولو په وجه كَمَا فِي الْهَدَايَا وَالضَّحَايَا لکه د هديو او قربانۍ په څارويو کي (چي قيمت ورکول جائز نه دي) وَلَنَا أَنَّ الْأَمْرَ بِالْأَدَاءِ إِلَى الْفَقِيْرِ إِيْصَالًا لِلرِّزْقِ الْمَوْعُوْدِ إِلَيْهِ زموږ دليل دا دی چي فقير ته د زکاة ورکولو چي کوم حکم دی هغه د الله له طرفه وعده سوې روزي د هغه وطرف ته رسول دي (يعني د هغه حکم مطلب فقير ته د رزقِ موعود رسول دي) فَيَكُوْنُ إِبْطَالًا لِقَيْدِ الشَّاةِ لهذا دا به د بزې (ورکولو) د قيد باطلول وي وَصَارَ كَالْجِزْيَةِ نو زکاة د جزيې په ډول سو بِخِلَافِ الْهَدَايَا لِأَنَّ الْقُرْبَةَ فِيْهَا إِرَاقَةُ الدَّمِ په خلاف د هديو له څارويو څخه ځکه چي په هغو کي وينه بيول عبادت دی وَهُوَ لَا يُعْقَلُ او وينه بيول غير معقول دی (يعني د هغه قيمت ورکول په پوهه کي نه راځي) وَوَجْهُ الْقُرْبَةِ فِي الْمُتَنَازَعِ فِيْهِ سَدُّ خُلَّةِ الْمُحْتَاجِ او

په متنازع فيه مسئله کي(يعني په زکاة کي) د عبادت وجه د محتاجه سړي ضرورت ليري کول دي وَهُوَ مَعْقُولٌ او هغه معقول دی(يعني په هغه کي قيمت ورکول په پوهه کي راځي).

اللغات: ﴿القيم﴾ جمع د قِيمَةٌ ده: قيمت، ماليت. ﴿منصوص﴾ د کوم شي په باره کي چي حديث(يا آيت) راغلی وي. ﴿هدايا﴾ جمع د هَدِیٌ ده: د حج په موسم کي په حرم کي حلالېدونکي(ذبح کېدونکي) قربانيني. ﴿ضحايا﴾ جمع د أُضحِيَةٌ ده: په لوی اختر کي حلالېدونکي قربانياني. ﴿إزالة﴾ د افعال د باب مصدر دی: ليری، اچول. ﴿علة الحاجة﴾ ضرورت پوره کول، حاجت ليري کول.

تشريح: مخکي د حيواناتو د زکاة تفصيل ذکر سو، چي په بعضي صورتونو کي بزه واجبېدل، او په بعضو کي بنت مخاض او په بعضو کي تبيعه...؛ اوس سوال دا دی چي که په زکاة کي کوم څاروی واجب سي، او مالک د هغه قيمت په زکاة کي ورکول وغواړي نو آيا دا به جائز وي؟. د دې خبري د جواب ورکولو لپاره امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي زموږ په نېز په زکاة کي قيمت ورکول جائز دي، همدارنګه په کفاراتو کي قيمت ورکول جائز دي، مثلاً د يمين په کفاره کي که يو سړی لس مسکيناتو ته د خوراک ورکولو پر ځای د هغومره خوراک قيمت ورکړي، نو جائز دي، او همدارنګه که په سرسايه کي د غنمو يا اوربشو او نورو پر ځای د هغو قيمت ورکړي نو جائز دي، او همدارنګه په عُشر او نذر کي قيمت ورکول جائز دي، يعني چي د يو ځا د ځمکي په پيداوار کي لسمه حصه واجب سي، نو د هغې لسمي حصې قيمت ورکول جائز دي، همدارنګه که څوک يوه بزه يا يو بل شی په نذر کي ومني بيا د هغه بزې يا شي قيمت ورکړي نو جائز دي، ښکاره دې وي چي قيمت به د هغه ورځي معتبر وي په کومه ورځ چي زکاة ورکوي، او د هغه ښار قيمت به معتبر وي چيري چي مال وي، او که مال په بيابان او دښت کي وي، نو هغه قيمت به ورکوي چي و هغه بيابان ته په نژدې آبادۍ کي د داسي څارويانو څومره قيمت وي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په زکاة او نورو کي چي کوم شی او څاروی واجب سي، د هغه قيمت ورکول جائز نه دي، بلکي هغه شی او هغه څاروی به ورکوي کوم چي په حديث کي ذکر سو.

د امام شافعي دليل: دا دی چي په دې کي د منصوص يعني د کوم شي په باره کي چي حديث راغلی وي، د هغه اتباع ضروري ده، يعني په حديث کي خو بنت مخاض، بزه، تبيعه او داسي نور ذکر سوي دي، نو د حديث تابعداري واجب ده، او قيمت ورکول جائز نه دي، لکه په هدی او قرباني کي چي بالاتفاق قيمت ورکول جائز نه دي، نو همدارنګه به په زکاة کي هم قيمت ورکول جائز نه وي.

زموږ دليل: دا دی چي الله تعالیٰ څومره مخلوقات هم پيدا کړي دي، د هغو ټولو رزق يې پر خپله ذمه اخيستی دی، لکه څرنګه چي الله تعالیٰ فرمايي: وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا [هود:۶]. يعني په ځمکه کي هر چا ته روزي رسول د الله ﷻ پر ذمه دي، اوس د رزق رسولو شکلونه بېلابېل دي، نو په بندګانو کي چا ته الله ﷻ د کښت و کروندې، چا ته د تجارت او چاته د مزدورۍ او نورو په توګه رزق رسوي، او څه بندګان داسي وي چي هغه ډېر بېچاره، مجبوره او بې وسه وي، او د کښت، تجارت، مزدورۍ وس نه لري، خو څرنګه چي هغو ته هم روزي ورکول د الله پر ذمه دي، نو ځکه الله ﷻ د هغوی لپاره د رزق بندوبست د مالدارو(او شتمنو) بندګانو په مالونو کي وکړی، چي هغه به د زکاة، خيرات او نورو په شکل کي ورکوي، نو د زکاة ورکولو اصل مقصد غريبانو ته رزق رسول دي، او د فقيرانو او مسکينانو حاجت ليري کول دي، او ښکاره ده چي د هر مسکين حاجت جلا او مختلف وي، نو ځکه د څارويو په زکاة کي که يو سړی يو

فقير ته څاروی ورکړي، او هغه د فقير په کار رانه سي، نو که څه هم د ورکونکي غاړه خلاصه سوه، او اخيستونکي هم فايده حاصله کړه، ليکن دومره فايده يې حاصله نه کړه، څومره چي پکار وه، نو ځکه موږ ايو چي قيمت ورکول جائز دي، چي هر فقير په بشپړه توګه خپل ضرورت پوره کړی سي، لهذا د رزق رسولو او د قيمت ورکولو د جائز کېدلو په صورت کي به د بزې قيد باطل وي، او دا ثابته سوه چي د هر انسان ضرورتونه په بزه او نورو کي منحصر نه دي، او نه د هغو رزق د اوبنې او بزې او نورو سره خاص دی، بلکي له رزق څخه مراد ضرورت دی، او ضرورت هر شي ته عام دی، هغه که د مأکولاتو له قبيلې څخه وي، او که له ملبوساتو څخه وي، يا نور ضروريات وي.

فصار كالجزية الخ فرمايي چي په زكاة كي د قيمت د اداء كولو مسئله د جزيې په ډول سوه، يعني څرنګه چي په جزيه كي قيمت وركول جائز دي، همدارنګه په زكاة كي هم قيمت وركول صحيح دي.

بخلاف الهدايا الخ له دې ځايه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب وركوي، حاصل يې دا دی چي د زكاة مسئله پر هدي او قرباني قياسول صحيح نه دي، ځكه چي په قرباني او هدي كي د عبادت معيار وينه بيول دي، او وينه بيول په فهم كي نه راتلونكی (يعني غير معقول) شی دی، ځكه چي په دې كي د څاروي ضايع كېدل دي، او په زكاة كي د عبادت معيار د فقير او محتاجه سړي حاجت ليري كول دي، او دا په فهم كي راتلونكی (يعني معقول) شي دی، نو ځكه به په دې كي قيمت وركول هم جائز وي، لهذا يو غير معقول شی به پر معقول شي قياسول څرنګه صحيح وي؟

د كارو بار او په كور كي د خوړدونكو څارويانو د زكاة حكم

وَلَيْسَ فِي الْعَوَامِلِ وَالْحَوَامِلِ وَالْعَلُوفَةِ صَدَقَةٌ او په كار كونكو، بار وړونكو او د كور د وښو په خوړونكو څارويانو كي زكاة نسته خِلَافًا لِمَالِكٍ د امام مالک اختلاف دی لَهُ ظَوَاهِرُ النُّصُوصِ د هغه دليل ظاهري نصوص دي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: لَيْسَ فِي الْحَوَامِلِ وَالْعَوَامِلِ وَلَا فِي الْبَقَرِ الْمُثِيرَةِ صَدَقَةٌ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: چي په بار وړونكو او كار كونكو څارويانو كي او په يوې كونكي غويانو كي زكاة نسته وَلِأَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْمَالُ النَّامِي او په دې وجه (هم) چي د زكاة د واجبېدلو سبب زياتېدونكی (وده كونكی) مال دی وَدَلِيلُهُ الْإِسَامَةُ أَوِ الْإِعْدَادُ لِلتِّجَارَةِ او د زياتېدلو دليل سائمه جوړول (يعني پوول) يا د تجارت لپاره تيارول دي وَلَمْ يُوجَدْ او له هغو څخه يو شی (هم دلته) نسته وَلِأَنَّ فِي الْعَلُوفَةِ تَتَرَاكَمُ الْمُؤْنَةُ او ځكه چي په علوفه څاروي كي پرلپسې د خرڅې بار زياتيږي فَيَنْعَدِمُ النَّمَاءُ مَعْنًى نو په معنوي اعتبار سره به نما (وده) نه وي ثُمَّ السَّائِمَةُ هِيَ الَّتِي تَكْتَفِي بِالرَّعْيِ فِي أَكْثَرِ الْحَوْلِ بيا سائمه هغه څاروی دی چي د كال په زياتره حصه كي (له كور څخه په دباندي) څرېدلو باندي اكتفاء كوي حَتَّى لَوْ عَلَفَهَا نِصْفَ الْحَوْلِ أَوْ أَكْثَرَ كَانَتْ عَلُوفَةً تر دې كه مالک دغه څاروي ته نيم كال يا د كال زياتره حصه په كور كي وابنه وركړي نو دا څاروی به علوفه وي لِأَنَّ الْقَلِيلَ تَابِعٌ لِلْأَكْثَرِ ځكه چي لږ (وخت) د اكثر تابع دی.

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الزكاة، باب كيف فرض صدقة البقر، حديث رقم: ۷۲۹۴.

اللغات: ﴿عَوَامِل﴾ جمع د عامل ده: په کښت او داسې نورو کي کارکونکي څاروېان. ﴿حَوَامِل﴾ جمع د حامل ده: بار وړونکي څاروېان. ﴿الْمُثِيرَة﴾ د افعال او تفعيل دواړو څخه راځي، اسم فاعل دی: يوې کونکي څاروی. مځکه اړونکي څاروی. ﴿ثَائِر﴾ اسم فاعل دی، زياتېدونکي، وده کونکي. ﴿عَلُوفَة﴾ هغه څاروی چي نيم کال يا د کال زياتره حصه په کور کي خوراک ورکول کيږي. ﴿تَتَزَايَد﴾ د تفاعل د باب مضارع صيغه ده: پرلپسې زياتېدل. يو پر بل سربېره زياتېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سئ چي عوامل د عاملة جمع ده، معنی يې ده هغه څاروی چي د کار لپاره تاکل سوی وي، حوامل د حامل جمع ده. له دې څخه مراد هغه څاروی دی چي د بار د وړلو لپاره متعين سوی وي. علوفه هغه څاروي ته ويل کيږي، چي هغه ته مالک په کور کي نيم کال يا د کال زياتره حصه خوراک ورکړي، اوس د عبارت حاصل دا دی چي د حواملو، عواملو، او علوفه حکم دا دی چي زموږ په نېز په دې څاروېانو کي زکاة واجب نه دی، او همدا قول د امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دی، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز په دې څاروېانو کي هم زکاة واجب دی.

د امام مالک دليل: د زکاة د نصوصو او حديثونو اطلاق دی. يعني الله تعالی په دې آيت: خذ من أموالهم صدقة کي د مطلق مالونو د اخيستلو حکم کړی دی، او په دې آيت کي څاروېان. او له څاروېانو څخه ماسوا نور هر ډول مالونه شامل دي، بيا په څاروېانو کي هم عوامل، حوامل، غيرِ عوامل او غيرِ سائمه ټوله داخل دي. همدارنګه په دې حديث: في خمس ذود من الإبل کي تر اِبِل يعني تر اوښ لاندي هر ډول اوښان داخل دي. نو کله چي په نصوصو کي د سائمه او غيرِ سائمه، همدارنګه د عواملو او غيرِ عواملو هيڅ قيد نسته، نو بيا موږ ته هم د دې نصوصو د مقيّد کولو هيڅ حق نسته او نه د دې حق سته چي غيرِ سائمه او غيرِ عوامل له زکاة څخه مستثنیٰ کړو.

زموږ دليل: دا دی چي ورورو! موږ له خپل طرفه عوامل او نور له نصوصو څخه نه دي مستثنیٰ کړي. بلکي دا استثنا په خپله د شريعت لارښوود حضرت محمد ﷺ کړې ده. او په ښکاره لفظو کي يې دا اعلان کړی دی چي: ليس في الحوامل والعوامل والبقرة المثيرة صدقة. (يعني په حواملو، عواملو او يوې کونکو غوېانو کي زکاة واجب نه دی). نو کله چي په خپله د شريعت لارښوود دا څاروېان له زکاة څخه مستثنیٰ کړي دي. سره د دې چي د هغوی ﷺ په زړه کي د اُمت د فقيرانو او مسکينانو لپاره تر اندازې زياته خواخوږي او درد وو. نو بيا موږ ته د دراحسولو څه ضرورت سته؟

ولأن السبب له دې ځايه زموږ عقلي دليل بيانيږي، حاصل يې دا دی چي د زکاة د وجوب سبب د مال نامي کېدل او زياتېدل دي، او د مال د زياتېدلو دوې طريقې دي: (۱) يا خو به دا څاروېان په دښتونو او ځنګلونو کي څرل (پوول) کيږي، (۲) يا به د تجارت لپاره تيارېږي، او په حواملو، علوفه او نورو کي دا يوه خبره هم نسته. نو به په هغو کي د زکاة د وجوب سبب (نامي کېدل) هم نه وي. او کله چي سبب نسته. نو په هغو کي به زکاة هم واجب نه وي.

دويمه خبره دا هم ده چي په کور کي د څاروېو په ساتلو او خوراک ورکولو کي د خرڅ بوج او بار د انسان پر ذمه وي. چي په هغه کي د ګټې او نما پر ځای نقصان دی. نو په دې حواله سره به هم په غيرِ سائمه څاروېانو کي (د نما د فوتېدلو په وجه) زکاة واجب نه وي.

ثم السائمة الخ له دې ځايه صاحب د کتاب د سائمه تعريف کوي. فرمايي چي سائمه هغه څاروي ته ويل کيږي چي د کال زياتره حصه په دښتونو او ځنګلونو کي په خوراک کولو اکتفاء کوي. نو که نيم کال يا د کال زياتره حصه په کور

کي وټرل سي او خوراک ورکول سي، نو هغه ته علوفه ویل کیږي، د زیاتره کال په صورت کي به علوفه څکه وي چي قلیل د کثیر تابع دي، نو کله چي د کال اکثره حصه څاروی په کور کي وټرل سي او خوراک ورکول سي، نو د کال هغه لږ(قلیل) موده به چي په هغه کي په دباندیني خوراک اکتفاء سوې ده د دې کثیري مودې تابع وي، نو ګواکي ټوله کال دې څاروي ته په کور کي خوراک ورکول سوی دی، او د نیم کال په صورت کي به علوفه څکه وي چي په دې صورت کي د زکاة د واجبېدلو د سبب په ثبوت کي شک سو، په دې توګه چي که هغه نیم کال ته وکتل سي چي په هغې کي پر څرلو او په دباندیني خوراک اکتفاء سوې ده، نو زکاة واجبېدل پکار دي، او که هغه نیم کال ته وکتل سي چي په کور کي ټرل سوی او خوراک ورکول سوی دی نو زکاة نه واجبېدل پکار دي، نو د دې شک په وجه به عدمِ وجوب ته ترجیح ورکول کیږي، او دا به ویل کیږي چي د نیم کال د ټرلو په صورت کي به هم دا څاروی علوفه وي، او په هغه کي به زکاة واجب نه وي.

زکاة اخیستونکی به څه ډول مال په زکاة کي اخلي؟

> وَلَا يَأْخُذُ الْمُصَدِّقُ خِيَارَ الْمَالِ وَلَا رُذَالَتَهُ او زکاة اخیستونکي به نه غوره مال اخلي او نه بېکاره مال وَيَأْخُذُ الْوَسَطَ (بلکي) د مینځوی درجې مال به اخلي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: لَا تَأْخُذُوا مِنْ حَزَرَاتِ أَمْوَالِ النَّاسِ أَيْ كَرَائِمِهَا څکه نبي ﷺ فرمایلي دي: "تاسو د خلکو له قیمتي مالونو یعني له غوره مالونو څخه (زکاة) مه اخلئ وَخُذُوا مِنْ حَوَاشِيْ أَمْوَالِهِمْ أَيْ أَوْسَاطِهَا بلکي د هغوی له اطرافي مالونو یعني د مینځوی درجې له مالونو څخه (زکاة) اخلئ" وَلِأَنَّ فِيهِ نَظَرًا مِنَ الْجَانِبَيْنِ او په دې وجه (هم) چي په دې کي د دواړو طرفونو لحاظ دی.

اللغات: ﴿المصدق﴾ زکاة وصولونکی، زکاة اخیستونکی، زکاة راټولونکی، ﴿رذالة﴾ بعضو شارحینو په کسره او فتحه د راء سره هم لیکلی دی: د کمي او سپکي درجې، بېکاره، ﴿حزرات﴾ جمع د حزرة ده: قیمتي او ګران مال، د لوړي درجې مال چي انسان یې خوندي کوي او په آخر کي یې خرڅوي، ﴿حواشي﴾ جمع د حاشیة ده: د اطرافو مال، مراد ځني هغه مال دی چي اول خرڅیږي، مناسب او د مینځوی درجې مال.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي زکاة اخیستونکي ته د دې خبري خیال ساتل پکار دي چي هغه دې په زکاة کي د مینځوی درجې مال اخلي، یعني نه دي ډېر ښه مال اخلي، او نه دي ډېر بېکاره او خراب مال اخلي، څکه په دې لړ کي نبي ﷺ د زکاة اخیستونکو لپاره علی الاعلان دا هدایت کړی دی، چي هغوی دي د خلکو له ښه مال اخیستلو څخه ځان وژغوري، او د هري مینځوی درجې مال دي په زکاة کي اخلي، همدارنګه کله چي نبي ﷺ حضرت معاذ بن جبل ؓ د یمن ګورنر جوړ کړی او یمن ته یې واستوی، نو د زکاة په باره کي یې هغه ته په سختي سره دا حکم وکړی: إياك وكرائم أموالهم (یعني تاسو د خلکو له ښه مال اخیستلو څخه پرېز کوئ)، له دې حکم څخه هم د مینځوی درجې مال اخیستل په فهم کي راځي.

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الزكاة، باب لا يؤخذ كرائم أموال الناس، حديث رقم: ۷۳۱۰.

ولأن فيه النظر الخ له دې ځايه عقلي دليل بيانوي چي په مينځوې درجې مال کي د فقير او مالک دواړو لحاظ سته، د فقير لحاظ خو په دې وجه دی چي که بېکاره مال وي، نو هغه به ده ته په هيڅ کار ورنه سي، لېکن د مينځوې درجې مال په کار ورځي، د مالک رعايت ځکه دی چي د ښه مال اخيستلو په وجه به مالک ته هيڅ تکليف او تاوان نه وي، او هغه به په خپله رضا او خوښه سره د مينځوې درجې مال په زکاة کي ورکوي.

که د کال په مينځ کي د نصاب مال زيات سي (يعني ګټه وکړي) نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَمَنْ كَانَ لَهُ نِصَابٌ فرمايي: چي د کوم سړي سره چي د نصاب مال وي فَاسْتَفَادَ فِي أَثْنَاءِ الْحَوْلِ مِنْ جِنْسِهِ بيا د کال په مينځ کي د همدې نصاب له جنسه څخه فايده حاصله کړي ضَمَّهُ إِلَيْهِ نو دا سړی به مستفاد مال د نصاب د مال سره يو ځای کوي وَزَكَّاهُ بِهِ او د هغه (ټوله مال) زکاة به ورکوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَضُمُّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نه به يې يو ځای کوي لِأَنَّهُ أَصْلٌ فِي حَقِّ الْمِلْكِ فَكَذَا فِي وَظِيفَتِهِ ځکه چي مستفاد مال په مملوک کېدلو کي اصل دی نو په خپل حکم کي به هم اصل وي بِخِلَافِ الْأَوْلَادِ وَالْأَرْبَاحِ په خلاف د اولاد او منافعو (ګټو) لِأَنَّهَا تَابِعَةٌ فِي الْمِلْكِ ځکه چي په مملوک کېدلو کي اولاد (د اصل) تابع وي حَتَّى مُلِكَتْ بِمِلْكِ الْأَصْلِ تر دې چي د اصل په مملوک کېدلو سره توابع هم مملوک کيږي وَلَنَا أَنَّ الْمُجَانَسَةَ هِيَ الْعِلَّةُ فِي الْأَوْلَادِ وَالْأَرْبَاحِ او زموږ دليل دا دی چي علت په اولاد او منافعو کي له يوه جنسه کېدل دي لِأَنَّ عِنْدَهَا يَتَعَسَّرُ التَّمْيِيزُ ځکه چي د مجانست په وخت کي فرق کول ستونزمن کيږي فَيَعْسُرُ اعْتِبَارُ الْحَوْلِ لِكُلِّ مُسْتَفَادٍ نو ځکه به د هر مستفاد مال لپاره د کال اعتبار کول ستونزمن وي وَمَا شُرِطَ الْحَوْلُ إِلَّا لِلتَّيْسِيرِ او حال دا چي کال (يعني حولان حول) د آسانۍ لپاره شرط سوی دی.

اللغات: ﴿زَكَّى﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: زکاة ورکول، پاکول. ﴿أَرْبَاح﴾ جمع د رِبْحٌ ده: تجارتي فايدې. ګټې، منافع. ﴿المجانسة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: له يوه جنسه کېدل، په جنس کي يو د بل سره شامليدل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی د نصاب څښتن وي، او د هغه سره د يو شي مثلاً د مېږو نصاب وي. بيا د کال په مينځ کي هغه ته نور مال په لاس ورسي، نو د دې به دوه صورتونه وي: (۱) دا په لاس ورغلی مال به يعني مال مستفاد به د نصاب له جنس څخه وي، (۲) يا به د نصاب له جنس څخه نه وي، که دويم صورت وي، يعني مال مستفاد د مال نصاب له جنس څخه نه وي، مثلاً له مېږو څخه ماسوا غواوي يا نور مال د هغه په ملکيت کي راسي، نو په دې صورت کي به د دې مال لپاره د جلا نصاب او حولان حول (کال تېرېدلو) ضرورت وي او د مېږو سره به دا نه يو ځای کيږي، او که اول صورت وي، يعني مال مستفاد د مال نصاب له جنس څخه وي، نو بيا په دې کي د زکاة د وجوب په حواله سره تفصيل دی، هغه دا که مال مستفاد له مال نصاب څخه حاصل سوی وو، مثلاً مېږې لنګې سوې، او بچې يې راوړل، يا له مېږو څخه يو شو مېږې خرڅي سوې، او نورې مېږې راوستل سوې، يا د هغو شيدې خرڅې سوې، ګټه يې تر لاسه کړه، نو په دې ټولو صورتونو کي به بالاتفاق دا مال مستفاد د مال نصاب سره يو ځای کيږي، او د ټوله مال زکاة به واجب وي، که څه هم پر مال مستفاد کال نه وي تېر سوی. (بنايه ج:۲، ص:۲۱۲)

لېکن که د مالِ مستفاد په حاصلولو کي د اصل مال يعني د مالِ نصاب هيڅ دخل نه وو، په دې توګه چي مالک ته په هبه يا ميراث او وصيت کي ميرېي په لاس ورغلې، نو په دې کي به هم زموږ په نېز دا مالِ مستفاد د نصاب د مال سره يوځاى کيږي، او د ټوله مال زکاة به واجب وي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کي پر مالِ مستفاد جلا حولانِ حول(کال تېرېدل) شرط دي، او دا به د اصل سره نه يوځاى کيږي، او زکاة به نه پکښې واجبيږي. په عبارت کي دَ مسئلي همدغه صورت بيان سوى دى.

د امام شافعي دليل: دا دى چي کوم شى په ملکيت (مملوک کېدلو) کي اصل وي، هغه به په حکم کي هم اصل وي، او د بل شي تابع به نه وي، او څرنګه چي په پورتني صورت کي مالِ مستفاد په مملوک کېدلو کي اصل دى، او د دې په وجود او حصول کي د مالِ نصاب هيڅ دخل نسته (بلکي هغه خو د ميراث، هبه يا د وصيت په ذريعه حاصل سوى دى)، نو ځکه به دا مال په خپل حکم کي هم اصل وي، او د مالِ نصاب د حکم به تابع نه وي، لهذا نه خو به دا د مالِ نصاب يعني اصل سره يوځاى کيږي، او نه به په دې کي زکاة واجبيږي، بلکي په دې کي به د زکاة د وجوب لپاره جلا کال تېرېدل شرط وي، او کله چي پر دې يو کال تېر سي، نو بيا به زکاة پکښې واجب وي.

بخلاف الأولاد الخ د دې په خلاف که اول صورت وي، يعني د مالِ مستفاد په حصول او وجود کي د مالِ نصاب څه دخل وي، په دې توګه چي مالِ مستفاد د ميرېو بچي وي، يا د ميرېو له ذات څخه ترلاسه سوي منافع وي، نو په دې صورت کي به مالِ مستفاد د اصل سره يوځاى کيږي، له کال تېرېدلو څخه به بغير هم په هغه کي زکاة واجبيږي، ځکه چي په دې صورت کي مالِ مستفاد په مملوک کېدلو کي د اصل تابع دى، او کله چي په مملوک کېدلو کي د اصل تابع دى، نو د زکاة په مستحق کېدلو کي به هم د هغه تابع وي، ځکه چي د اصل او د تابع حکم يو وي، او څرنګه چي په اصل کي زکاة واجب دى، نو په تابع يعني په مالِ مستفاد کي به هم زکاة واجب وي، که څه هم کال پر تېر سوى نه وي.

زموږ دليل: دا دى چي په اولاد(بچو) او منافعو کي خو امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دا خبره کوي چي مالِ مستفاد به د مالِ نصاب سره يوځاى کيږي، او په ټولو کي به زکاة واجبيږي، او څرنګه چي په اولاد او منافعو کي د اَصل يعني د مالِ نصاب سره د مالِ مستفاد د يوځاى کولو علت جنسيت يعني د دواړو له يوه جنسه کېدل دي، او دا جنسيت په غيرِ اولاد او غيرِ منافعو مثلاً د هبه، وراثت او وصيت په مالونو کي هم سته. نو ځکه به هلته هم مالِ مستفاد د مالِ نصاب سره يوځاى کيږي، کنې په مالِ مستفاد او اصل کي به فرق کول ګران او ستونزمن سي، په دې توګه چي کَه يو سړى د بزو(وزو) د نصاب مالک وي، بيا يې بزې لنګي سي، بچي رواړي، تر هغه وروسته يو څه بزې په هبه کي ورته حاصلې سيِ، نو اوس به د هغه لپاره په مالِ مستفاد او مالِ نصاب کي فرق کول ګران وي، او بيا د هغه لپاره د مستفاد من الأولاد ولأرباح او د مستفاد من الهبة وغيرها په مينځ کي فرق کول هم ګران وي، او څرنګه چي د ... او نفعه په بېلابېلو وختونو کي حاصليږي، نو ځکه به د هغوى کال هم په بېلابېلو وختونو کي پوره کيږي. او د هر مالِ مستفاد لپاره به د کال حساب کول نور ګران سي، حال دا چي د کال تېرېدلو شرط د آسانتيا په خاطر لګول سوى دى. نو ... همدغه ده چي که مالِ مستفاد د مالِ نصاب له جنس څخه وي نو هغه به د اصل سره يوځاى کيږي ... به زکاة واجبيږي، کَه څه هم مالِ مستفاد د اصل له اولاد او د هغه له منافعو څخه نه وي.

په عفوه کې د زکاة حکم او د فقهاؤ قولونه

قَالَ: وَالزَّكَاةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ فِي النِّصَابِ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چې زكاة د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په نصاب کې واجب دی دُونَ الْعَفْوِ نه په عفوه کې وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ فِيهِمَا او امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې په دواړو کې زكاة وجب دی حَتَّى لَوْ هَلَكَ الْعَفْوُ وَبَقِيَ النِّصَابُ تر دې که عفوه هلاکه سي او نصاب پاته سي بَقِيَ كُلُّ الْوَاجِبِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به ټوله واجب پاته وي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ وَزُفَرَ يَسْقُطُ بِقَدْرِهِ (ليکن) د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نيز به د هلاک سوي مال په اندازه واجب ساقطيږي لِمُحَمَّدٍ وَزُفَرَ أَنَّ الزَّكَاةَ وَجَبَتْ شُكْرًا لِنِعْمَةِ الْمَالِ د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې زكاة د مالي نعمت د شكر كښلو (شكراني) لپاره واجب سوی دی وَالْكُلُّ نِعْمَةٌ او ټوله مال نعمت دی (نو ځکه به په ټوله مال کې زكاة واجب وي) وَلَهُمَا قَوْلُهُ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی فِي خَمْسٍ مِنَ الْإِبِلِ السَّائِمَةِ شَاةٌ (چې) په پنځو څرېدونکو اوښانو کې يوه بزه واجب ده وَلَيْسَ فِي الزِّيَادَةِ شَيْءٌ او په زياتوب کې هيڅ شی واجب نه دی حَتَّى تَبْلُغَ عَشْرًا تر دې چې لسو ته ورسيږي وَهَكَذَا قَالَ فِي كُلِّ نِصَابٍ او همدارنګه يې د هر نصاب په باره کې فرمايلي دي نَفَى الْوُجُوبَ عَنِ الْعَفْوِ نو (ګواکې) نبي ﷺ له عفوې څخه د وجوب نفي کړي دي وَلِأَنَّ الْعَفْوَ تَبَعٌ لِلنِّصَابِ او په دې وجه (هم) چې عفوه د نصاب تابع وي فَيُصْرَفُ الْهَلَاكُ أَوَّلًا إِلَى التَّبَعِ نو ځکه به هلاکېدل اول د تابع و طرف ته ګرځي كَالرِّبْحِ فِي مَالِ الْمُضَارَبَةِ لکه په مال مضاربت کې چې ګټه ده وَلِهَذَا قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: يُصْرَفُ الْهَلَاكُ بَعْدَ الْعَفْوِ إِلَى النِّصَابِ الْأَخِيرِ هم په دې وجه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې تر عفوې وروسته به هلاک سوی مال د آخري نصاب و طرف ته ګرځي ثُمَّ إِلَى الَّذِي يَلِيهِ بيا به د هغه نصاب و طرف ته (ګرځي) چې د آخري نصاب سره متصل (او نژدې) وي إِلَى أَنْ يَنْتَهِيَ تر دې چې ټوله نصاب ختم سي لِأَنَّ الْأَصْلَ هُوَ النِّصَابُ الْأَوَّلُ ځکه اصل خو اول نصاب دی وَمَا زَادَ عَلَيْهِ تَابِعٌ او کوم چې پر هغه زيات سوی وي هغه تابع دی وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يُصْرَفُ إِلَى الْعَفْوِ أَوَّلًا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به (هلاک سوی مال) اول د عفوې و طرف ته ګرځي ثُمَّ إِلَى النِّصَابِ شَائِعًا بيا به د (ټوله) مال و طرف ته پر طريقه د شيوع ګرځي.

اللغات: ﴿عفو﴾ زيات، اضافه، ﴿يلي﴾ د حَسِبَ د باب مضارع ده: نژدې کېدل، متصل کېدل. ﴿شائع﴾ غوړېدلی، عام.

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في الهنديه ج:۱، ص:۱۸۰، و كما قال العلامة وهبة الزحيلي: الزكاة في النصاب دون العفو (الاوقاص). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۷۰]

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الزكاة، باب زكاة الإبل والغنم، حديث رقم: ۱۹۶۴.

تشريح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سئ چې په هر مال کې د نصاب هم يو مقدار ستـه، او د عفوې هم يو مقدار ستـه، مثلاً په پنځو اوښانو کې يوه بزه واجب ده، او تر نهو اوښانو پورې همدغه يوه بزه ده، کله چې لس اوښان سي، نو بيا په هغو کې دوې بزې واجب دي، نو پنځه اوښان او لس اوښان خو نصاب سو، لېکن په مينځ کې له شپږو څخه تر نهو پورې عفوه ده، همدارنګه په پنځويشت اوښانو کې يوه بنت مخاض او په شپږ دېرش اوښانو کې يوه بنت لبون ده، او د دوی مينځ عفوه دی.

اوس په دې باره کې اختلاف دی چې د زکاة تعلق د عفوې سره ستـه، که نه، نو امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د زکاة تعلق به د نصاب سره وي، نه د عفوې سره، همدا قول د امام مالک، امام احمد او امام شافعي رَحِمَهُمُ الله هم دی، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې زکاة په نصاب او عفوه دواړو کې ستـه، او دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله نوی(جديد) قول هم دی، مثلاً که د يو چا سره نهه(۹) اوښان وي، نو په هغو کې يوه بزه واجب ده، لېکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا يوه بزه د پنځو اوښانو له طرفه زکاة دی، او پاته څلور اوښان عفوه دي، د هغو سره د زکاة بالکل هيڅ تعلق نستـه، او د امام محمد رَحِمَهُ الله او امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز دا بزه د نهو اوښانو زکاة دی.

ثمره د اختلاف: په دې مثال کې ښکاره کيږي چې که د يو سړي په ملکيت کې نهه اوښان وي، او پر هغو يو کال تېر سي، بيا له هغو څخه څلور اوښان هلاک سي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به په پاته پنځو کې پر هغه يوه بزه واجب وي، او د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نېز به د بزې قيمت نهه حصې کيږي، او پنځه حصې به پر هغه واجب وي، او څلور حصې به ځني ساقطيږي، يا مثلاً که د يو سړي په ملکيت کې اتيا(۸۰) بزې وي، نو تر کال تېرېدلو وروسته خو په هغو کې يوه بزه واجبيږي(ځکه له ۴۰ څخه تر ۱۲۰ بزو پورې يوه بزه واجبيږي)، لېکن تر کال تېرېدلو وروسته څلوېښت بزې هلاکې سې، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پاته څلوېښت بزې پوره نصاب دی، په هغو کې چې کومه يوه بزه واجب وه، هغه به هغسې واجب پاته وي، او څرنګه چې د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نېز د زکاة تعلق د نصاب او عفوې دواړو سره دی، نو ګواکې د هغوی په نېز يوه بزه په اتيا(۸۰) بزو کې واجب سوه، او تر کال تېرېدلو وروسته نيمې بزې هلاکې سوې، نو د بزو د مقدار مطابق به واجب سوې بزه هم نيمې ساقطيږي، يعني په دې څلوېښتو بزو کې به د بزې نيمې قيمت واجبيږي، او نيمې به ساقطيږي.

د امام محمد او امام زفر دليل: دا دی چې زکاة د مالي نعمت د شکر اداء کولو لپاره واجب سوی دی، او مال ټوله هغه که عفوه وي او که نصاب، نعمت دی، نو ځکه به د زکاة تعلق د ټوله مال سره وي، او د زکاة کوم مقدار چې پر موږ واجب سوی دی هغه هم د ټوله مال شکرانه ده.

د شيخينو دليل: دا دی چې نبي ﷺ په دې حديث: في خمس من الإبل السائمة شاة وليس في الزيادة شئ حتى تبلغ عشرا کې د دې خبرې وضاحت کړی دی چې د زکاة تعلق به صرف د نصاب سره وي، د عفوې سره به نه وي، کنې د ليس في الزيادة شئ به هيڅ معنیٰ او مطلب نه راوځي، او دا د رسول الله ﷺ د کلام سره لايق نه دي، او څرنګه چې نبي ﷺ په حتى تبلغ عشرا سره په عفوه کې يعني له ۶ څخه تر ۹ پورې زکاة معاف ګرځولی دی، او له عفوې څخه يې د زکاة نفي کړې دی، نو ځکه موږ وايو چې د زکاة تعلق به صرف د نصاب سره وي، د عفوې سره به نه وي.

عقلي دليل: دا دی چې څرنګه عفوه د نصاب تر وجود وروسته ثابتيږي، نو ځکه به عفو د نصاب تابع وي، او چيرې چې مال پر اصل او تابع مشتمل وي، او بيا له هغه څخه څه مال هلاک سي، نو هلاک سوی مال به د تابع و طرف ته ګرځول

کیږي، نه د اصل و طرف ته، یعني دا به وریل کیږي چې هلاک هغه مال سو چې تابع دی، نه هغه مال چې اصل دی، لکه په مال مضاربت کې چې نفع ده، یعني که یو سړي یو چا ته په مضاربت کې د تجارت مال ورکړی، او په هغه کې گټه وسوه، او مضارب مسلسل تجارت کوی چې نابېره څه مال هلاک سو، نو دا نقصان به بالاتفاق پر اوله گټه اچول کیږي، نه پر اصل مال(رأس المال)، یعني دا به وریل کیږي چې گټه هلاکه سوه، نه رأس المال، هم په دې وجه امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چې څومره اندازه مال هلاک سي، هغه به تر عفوي وروسته د نصاب أخیر و طرف ته گرځول کیږي، یعني هلاک سوی مال که د عفوي په مقدار سره پوره نه سو، نو هغه به پر آخر د نصاب اچول کیږي، که په دې سره هم پوره نه سو، نو کوم نصاب چې د هغه سره متصل وي پر هغه به اچول کیږي، ځکه چې اصل خو اول نصاب دی، او کوم چې پر هغه زیات دی، هغه ټوله تابع دی. (مثلاً د یو چا سره ۱۹ اوښان وي، او له هغو څخه ۹ اوښان هلاک سي، نو اول به څلور اوښان د عفوي و طرف ته گرځول کیږي، او دا به وریل کیږي چې څلور اوښان له عفوي څخه هلاک سول، تر دې وروسته به پنځه اوښان له هغه نصاب څخه هلاک شمارل کیږي کوم چې له لسو څخه تر پنځلسو پوري اوښان دي، ځکه چې همدغه آخري نصاب دی، او که تر دې وروسته نور اوښان هلاک سول، نو له پنځو څخه چې تر لسو پوري کوم اوښان دي، له هغو څخه به هلاک سوي اوښان شمارل کیږي، ځکه چې آخري نصاب د اول نصاب تابع وي، او اول نصاب اصل وي، نو ځکه به تابع اول هلاک شمارل کیږي، وروسته به اصل هلاک شمارل کیږي).

وعند أبي یوسف رَحِمَهُ الله په دې لړ کې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله رایه دا ده چې هلاک سوی مال به اول خو د عفوي و طرف ته گرځول کیږي، لېکن کله چې هلاک سوی مال د عفوي له مقدار څخه زیات سي، نو په دې صورت کې به علی سبیل الشیوع (یعني په مشترکه توگه) د ټوله نصاب و طرف ته گرځول کیږي، او د نصاب د اول او آخر به هیڅ تخصیص نه کیږي، صاحب د عنایې رَحِمَهُ الله وایي چې د دې تفصیل داسې دی چې که د یو سړي سره څلوېښت اوښان وي، او پر هغو کال تېر سي، بیا له هغو څخه شل اوښان هلاک سي، نو د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز پر مالک څلور بزې واجبیږي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه د یوه بنت لبون له شپږ دېرشو (۳۶) اجزاؤ څخه شل (۲۰) اجزاء واجبیږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د نیمی بنت لبون قیمت واجبیږي، د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول وجه دا ده چې د زکاة تعلق به د نصاب او عفوي دواړو سره وي، نو کله چې نیمی مال یعني له څلوېښتو اوښانو څخه شل اوښان هلاک سول، نو نیمی زکاة به ساقطیږي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قول وجه دا ده چې تر ۳۶ وروسته څلور خو عفوه دي، یعني له شلو هلاک سوو اوښانو څخه به څلور اوښان له عفوي څخه شمارل کیږي، یعني دا به وریل کیږي چې څلور اوښان د عفوي هلاک سول، چې د هغو سره د زکاة هیڅ تعلق نسته، نو ځکه به د هغو څلورو د هلاکېدلو په وجه به د زکاة هیڅ حصه نه ساقطیږي، او باقي شپاړس(۱۶) به پر ټوله نصاب اچول کیږي او له ټوله نصاب څخه به شمارل کیږي، یعني دا به وریل کیږي چې په ۳۶ اوښانو کې یوه بنت لبون واجب سوه، لېکن کله چې ۱۶ اوښان هلاک سول، نو د بنت لبون له ۳۶ حصو څخه ۱۶ حصې ساقطې سوې، او ۲۰ حصې پاته سوې، مثلاً د بنت لبون قیمت ۳۶ سوه روپۍ دی، نو ۱۶۰۰ سوه روپۍ به ساقطیږي، او ۲۰۰۰ روپۍ به پاتیږي، او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز به له شلو هلاک سوو اوښانو څخه څلور له عفوي څخه شمارل کیږي، یعني دا به وریل کیږي چې د عفوي څلور اوښان له ۳۷ څخه تر ۴۰ پوري هلاک سول، بیا به هلاک سوي اوښان د نصاب أخیر و طرف ته گرځول کیږي یعني دا به وریل کیږي چې تر ۲۵ وروسته یوولس(۱۱) اوښان هلاک سول، خو څرنگه چې هلاک سوي اوښان اوس پوره نه سوه، نو د نصاب أخیر سره چې متصل کوم نصاب دی، د

هغه وطرف ته به ګرځول کیږي، یعني دا به ویل کیږي چې تر شلو وروسته تر ۲۵ پوري هلاک سول، اوس هلاک سوي اوښان پوره سول، او شل اوښان پاته سول، نو په هغو کي به څلور بزې واجبیږي، ځکه چې په شلو اوښانو کي څلور بزې واجب دي. فقط والله أعلم و علمه أتم

که خوارجو په زوره زکاة او خراج واخیستی نو څه حکم دی؟

وَإِذَا أَخَذَ الْخَوَارِجُ الْخَرَاجَ او که خوارجو خراج واخیستی وَصَدَقَةَ السَّوَائِمِ او د څرېدونکو څارویانو زکاة یې واخیستی لَا يُثَنَّى عَلَيْهِمْ نو له خلکو څخه به دویم وار (دا شیان) نه اخیستل کیږي لِأَنَّ الْإِمَامَ لَمْ يَحْمِهِمْ ځکه چې امام د خلکو حفاظت نه وکړی وَالْجِبَايَةُ بِالْحِمَايَةِ او محصول (ټیکس) د حفاظت په وجه سره واجبیږي وَأَفْتَوْا بِأَنْ يُعِيدُوهَا دُونَ الْخَرَاجِ او خلکو ته به دا فتوىٰ ورکول کیږي چې هغوی دي زکاة دوباره (فقیرانو ته) ورکړي، نه خراج فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى (دا دوباره زکاة ورکول به) د دوی او د الله په مینځ کي وي لِأَنَّهُمْ مَصَارِفُ الْخَرَاجِ ځکه چې خوارج (هم) د خراج مصرف دي لِكَوْنِهِمْ مُقَاتِلَةً ځکه چې هغوی له جنګېدونکي فوج څخه دي وَالزَّكَاةُ مَصْرِفُهَا الْفُقَرَاءُ او د زکاة مصرف فقیران دي وَهُمْ لَا يَصْرِفُونَهَا إِلَيْهِمْ او خوارج دا پر فقیرانو نه مصرفوي (نو ځکه به دوباره زکاة ورکوي) وَقِيلَ: إِذَا نَوَى بِالدَّفْعِ التَّصَدُّقَ عَلَيْهِمْ سَقَطَ عَنْهُ او ویل سوي دي: چې کله مالک د مال ورکولو په وخت کي پر دې خوارجو د زکاة نیت وکړي نو له هغه څخه زکاة ساقطیږي وَكَذَا الدَّفْعُ إِلَى كُلِّ جَائِرٍ همدارنګه هر ظالم ته د زکاة ورکولو په وخت کي (که د زکاة نیت وکړي نو زکاة ځني ساقطیږي) لِأَنَّهُمْ بِمَا عَلَيْهِمْ مِنَ التَّبِعَاتِ فُقَرَاءُ ځکه چې دا (ظالمان) خلک (هم) د هغو ظلمونو (او حقونو) په وجه کوم چې پر هغوی پراته دي فقیران دي وَالْأَوَّلُ أَحْوَطُ او په اول قول کي زیات احتیاط دی.

اللغات: ﴿يُثَنَّى﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: دویم وار کول، دوباره کول، دوغبرګه کول. ﴿لَمْ يَحْمِهِمْ﴾ د ضرب د باب د جحد معلوم صیغه ده: حفاظت او ساتنه کول، حمایت کول. ﴿جِبَايَة﴾ محصول، ټیکس. ﴿مُقَاتِلَة﴾ د مسلمانانو له طرفه د کفارو سره جنګېدونکې ډله، فوج. ﴿جَائِر﴾ ظالم، غصب کونکی واکمن. ﴿تَبِعَات﴾ جمع د تبعة ده: ذمه واریانې، حقوق، مراد ځني هغه ظلمونه، ازارونه او حقونه دي چې په انسان پسې وي او انسان به د هغو حساب ورکوي.

تشریح: خوارج د خارجي جمع ده، له دې څخه د مسلمانانو هغه ډله مراد ده. چې د عادل امام په خلاف د بغاوت او سرکښۍ بیرغ پورته کړي، او د عادل امام قتل او مال مباح وګڼي، او د هغو دا عقیده وي چې که یو څوک ګناه وکړي برابره ده که کوچنۍ ګناه وي، که غټه، هغه کافر دی، او د هغه قتلول حلال دي، خو دا چې هغه توبه وکړي، او له ګناه څخه لیري سي. (بنایه ج:۳، ص: ۲۲۰)

په عبارت کي چې کومه مسئله بیان سوې ده، د هغې حاصل دا دی چې که خوارج د مسلمانانو په یوه علاقه کي تسلط، او هلته هغوی له مسلمانانو څخه د زکاة څاروي، او له کفارو څخه یې د خراج او ټیکس مالونه واخیستل، تر هغه

وروسته امام عادل هلته ور ورسېږدي، نو اوس عادل امام ته نه له مسلمانانو څخه دويم وار د زکاة اخيستلو حق سته، او نه له کفارو څخه د خراج اخيستلو حق سته، ځکه کفار چې کوم خراج ورکوي، هغه يې په دې وجه ورکوي چې په دار الاسلام کي دي هغوی په سکون او آرام سره ژوند تېر کړي، او هيڅوک دي د هغوی پر ځان او مال تجاوز نه کوي، خو څرنګه چې په پورتني صورت کي خوارجو پر هغوی حمله وکړه او په زور او جبر يې له هغو څخه مال واخيستی، نو دا ګواکي د امامِ عادل له طرفه د هغوی په حق کي بې پروايي او بې غوري وسوه، او د هغوی په ساتنه او په امن و امان کي خلل واقع سو، نو ځکه به هغوی اوس امام ته خراج نه ورکوي، ځکه چې خراج د ساتني او حفاظت په وجه سره ورکول کيږي.

همدارنګه به زکاة هم دوباره نه ورکول کيږي، او په دې حواله سره به امام ته د جبر کولو هيڅ حق هم نه وي، لېکن مسلمانانو ته به دا ويل کيږي چې ورونو! احتياطاً فيما بينكم وبين الله دويم وار زکاة ورکړئ، ځکه چې خوارج د زکاة مصرف نه دي، د زکاة مصرف خو فقيران او غريبان دي، ځکه خوارج ټوله د زکاة مال په خپله اخلي، او له هغه څخه يوه رتی هم پر غريبانو نه مصرفوي، ځکه چې دا بدبخته خوارج خو د مسلمانانو قتل هم مباح ګڼي، نو کله چې د هغوی په نېز د مسلمانانو وينه مباحه ده، نو هغو ته به د زکاة مال څرنګه ورکړي!.

پاته سوه د خراج مسئله، نو دوباره د هغه د اداء کولو ضرورت نسته، ځکه چې خوارج خو هم په هر حال مسلمانان دي، او که د کافرانو او مسلمانانو په مينځ کي جنګ ومښلي، نو خوارج هم د مسلمانانو له طرفه د کفارو سره جنګيږي، نو ځکه به د هغوی شمېر له مُقاتله يعني له جنګېدونکي ډلي او فوج څخه وي، او د مُقاتله وو لپاره خراج مباح دی، نو ځکه په د هغوی لپاره هم خراج مباح وي، او دويم وار به خراج نه اداء کيږي.

وقيل الخ په دې لړ کي د فقيه ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله قول دا دی چې که مسلمانانو و خوارجو ته يا يو هسي و بل ظالم او جابر ته د مال ورکولو په وخت کي د زکاة نيت وکړی، نو د هغو له ذمې څخه زکاة ساقطيږي، ځکه چې د ظالمانو سره چې کوم ظاهري مال او اسباب وي، هغه ټوله د نورو وي، لو دا ظالمانو پر دې مالونو په ظلم سره قبضه کړې وي، په حقيقت کي د هغو هيڅ شی هم نه وي، همدارنګه په دوی پسي د خلکو ډېر حقونه پسې وي چې د هغه حساب به دوی ورکوي، او که دا مالونه له دوی څخه بيرته په زوره واخيستل سي، نو هغوی به فقيران پاته سي، نو کله چې په معنوي توګه او په اصل کي هغوی فقيران دي، نو بيا که هغوی ته د مال ورکولو په وخت کي مالک د زکاة نيت وکړي، نو د هغه زکاة به اداء کيږي.

والأول أحوط صاحب د هدايې فرمايي چې پر ظالمانو خو زکاة اداء کيږي، لېکن اول يعني په دويم وار زکاة ورکولو کي زيات احتياط دی، او په عبادتونو کي د احتياط اړخ ته نظر کول پکار دي، ځکه د فقهي مشهوره ضابطه دا ده: أن الإحتياط جائز في حقوق الله تعالى.

د بني تغلب په مالونو کي د زکاة او د ټيکس واجبدلو بيان

وَلَيْسَ عَلَى الصَّبِيِّ مِنْ بَنِيْ تَغْلِبَ فِيْ سَائِمَتِهِ شَيْءٌ او د بني تغلب پر نابالغه کوچني د هغه په سائمه څاروي کي هيڅ شه نسته وَعَلَى الْمَرْأَةِ مِنْهُمْ مَا عَلَى الرَّجُلِ او د بني تغلب پر ښځه هغه شی واجب دی کوم چې د بني تغلب پر سړي واجب دی لِأَنَّ الصُّلْحَ قَدْ جَرَى ځکه چې صلح (د هغو سره پر دې خبره) وسوه عَلَىٰ ضِعْفِ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ

چي له بني تغلب څخه به تر مسلمانانو دوچنده اخيستل کيږي وَيُؤْخَذُ مِنْ نِسَاءِ الْمُسْلِمِينَ دُوْنَ صِبْيَانِهِمْ او د مسلمانانو له ښځو څخه (خو) زكاة اخيستل کيږي (لېكن) له كوچنيانو څخه يې نه اخيستل کيږي.

اللغات: ﴿ضِعف﴾ دوچنده، ﴿صبيان﴾ جمع د صبي ده: كوچني.

تشريح: د عبارت تر حل مخكي په دې خبره پوه سئ چي بنو تغلب د عربو عيسايانو يو قوم وو چي د "روم" سره نژدې آباد وو، حضرت عمر ﷜ خپل د خلافت په زمانه كي پر هغو د جزيې مقررولو اراده وكړه، نو هغوى له جزيې وركولو څخه انكار وكړى، او دا يې ووېل چي كه تاسو زور كوى، نو موږ به ستاسو له رومي دښمنانو سره يو ځاى سو، هو! كه تاسو زموږ څخه زكاة اخيستل غواړئ نو موږ د دې لپاره تيار يو، كه څه هم زموږ څخه د مسلمانانو دوچنده واخلئ، نو حضرت عمر ﷜ د صحابه وو سره مشوره وكړه، او د بنو تغلب سره يې پر دې خبره صلح وكړه چي مسلمانان خو دوه نيم فيصده زكاة وركوى، دوى به پنځه فيصده زكاة وركوي، نو بنو تغلب په دې راضي سول، او حضرت عمر ﷜ دوى ته وفرمايل: هذه جزية فسموها ما شئتم (چي دا خو موږ جزيه بولو، تاسو چي هر څه غواړئ هغه نوم وركړئ). (بنايه ج۳، ص: ۴۲۳)

په دې عبارت كي د دغه بنو تغلب بيان كيږي چي د بنو تغلب له نارينه وو او ښځو څخه به د دوى په مالونو كي ۵ فيصده (يعني دوچنده) زكاة اخيستل كيږي، لېكن د دوى له نابالغه كوچنيانو څخه به هيڅ نه اخيستل كيږي، ځكه چي د مسلمانانو له ښځو څخه زكاة اخيستل كيږي، ليكن له كوچنيانو څخه يې نه اخيستل كيږي، همدارنګه حضرت عمر ﷜ چي كوم تړون وكړى، په هغه كي صرف د دوچنده صراحت سته، او له كوچنيانو څخه د مال اخيستلو هيڅ صراحت نسته، اوحسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا بيان كړى دى چي څرنګه له بنو تغلب څخه اخيستل سوى مال د جزيې بدل دى، او پر ښځو جزيه واجب نه ده، نو ځكه به د هغوى له ښځو څخه هم هيڅ نه اخيستل كيږي، د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله او نورو هم دا مسلک دى (بنايه). خو ظاهرُ الرواية اول صورت دى.

د زكاة تر واجبېدلو وروسته د مال د هلاكېدلو بيان

وَإِنْ هَلَكَ الْمَالُ بَعْدَ وُجُوْبِ الزَّكَاةِ سَقَطَتِ الزَّكَاةُ او كه د زكاة تر واجبېدلو وروسته مال هلاک سي نو (زموږ په نيز) زكاة ساقطيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَضْمَنُ إِذَا هَلَكَ بَعْدَ التَّمَكُّنِ مِنَ الْأَدَاءِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي مالک به ضامن وي كه د زكاة پر اداء كولو باندي تر قدرت لرلو وروسته مال هلاک سوى وي لِأَنَّهُ الْوَاجِبُ فِي الذِّمَّةِ ځكه چي زكاة (د مالک) پر ذمه واجب وي فَصَارَ كَصَدَقَةِ الْفِطْرِ نو دا د سرسايې په ډول سو وَلِأَنَّهُ مَنَعَهُ بَعْدَ الطَّلَبِ او په دې وجه (هم) چي مالک تر غوښتني وروسته زكاة منع كړى فَصَارَ كَالْإِسْتِهْلَاكِ نو هلاكېدل د هلاكولو په ډول سوه وَلَنَا أَنَّ الْوَاجِبَ جُزْءٌ مِنَ النِّصَابِ او زموږ دليل دا دى چي واجب مقدار د نصاب يو جزء دى تَحْقِيْقًا لِلتَّيْسِيْرِ د آسانى ثابتولو لپاره فَيَسْقُطُ بِهَلَاكِ مَحَلِّهِ نو د محل په هلاكېدلو سره به دا جزء هم ساقطيږي كَدَفْعِ الْعَبْدِ الْجَانِيْ بِالْجِنَايَةِ يَسْقُطُ بِهَلَاكِهِ لكه د جرم په وجه سره چي د مجرم غلام وركول ساقطيږي د هغه مجرم غلام په هلاكېدلو سره وَالْمُسْتَحِقُّ فَقِيْرٌ يُعَيِّنُهُ الْمَالِكُ او مستحق هغه فقير دى كوم چي يې مالک معلوم كړي وَلَمْ يَتَحَقَّقْ مِنْهُ الطَّلَبُ او د داسي فقير له

طرفه غوښتنه ثابته سوې نه ده وَبَعْدَ طَلَبِ السَّاعِيْ قِيْلَ يَضْمَنُ او د زکاة اخيستونکي تر غوښتولو وروسته يو قول دا دی چي مالک ضامن کيږي وَقِيْلَ لَا يَضْمَنُ لِانْعِدَامِ التَّفْوِيْتِ او يو قول دا دی چي نه ضامن کيږي ځکه چي هلاکول نسته وَفِي الْإِسْتِهْلَاكِ وُجِدَ التَّعَدِّيْ او په مال هلاکولو کي تجاوز پيدا سو(يعني په هغه کي تجاوز سته) وَفِي هَلَاكِ الْبَعْضِ يَسْقُطُ بِقَدْرِهٖ او د بعضي مال د هلاکېدلو په صورت کي به د هغه په اندازه (واجب) ساقطيږي اِعْتِبَارًا لَهٗ بِالْكُلِّ پر کُل باندي د بعض په قياسولو سره.

اللغات: ﴿تمکُّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: قدرت لرل، وس پيدا کول. ﴿جاني﴾ مجرم، ګناهکار. ﴿جنايَة﴾ جرم، ګناه. ﴿تعدّي﴾ د تفعل د باب مصدر دی: سرکشي، زياتي، ظلم، تجاوز.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نيز د زکاة تر واجبېدلو وروسته که مال بغير له څه تعدیٰ او تجاوز څخه هلاک سو، نو د هغه زکاة هم ساقطيږي، همدا قول د امام احمد رَحِمَهُ الله دی، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي که د زکاة پر ورکړي(او اداء کولو) تر قدرت لرلو وروسته مال هلاک سو، نو زکاة نه ساقطيږي، بلکي د زکاة په اندازه به پر هغه ضمان واجب وي، او د زکاة پر اداء کولو قدرت دا دی چي د مال خاوند تر حولانِ حول وروسته د زکاة د حقداره په پيدا کولو کي کامیابه سي، هغه که تر طلب او لټون وروسته کامیابه سي، او که بغير له طلبه څخه.(يعني چي کله کال پوره سي او هغه ته مستحق فقير معلوم وي، نو دا ګواکي د زکاة پر اداء کولو قدرت لرل سو).

د امام شافعي دليل: دا دی چي زکاة د بنده پر ذمه واجب دی، او د کوم سړي پر ذمه چي يو شی واجب وي، نو هغه شی له اداء څخه د عاجزی په وجه د هغه سړي له ذمې څخه نه ساقطيږي، لکه سرسايه، حج او د بندګانو پورونه، يعني که پر يو چا سرسايه واجب سي، يا حج پر واجب سي، يا ديو چا پور پر باندي وي، بيا د هغه ټوله مال هلاک سي، نو د هغه له ذمې څخه سرسايه، حج او پور نه ساقطيږي، همدارنګه که د زکاة تر واجبېدلو وروسته ټوله مال هلاک سي، نو د هغه له ذمې څخه به زکاة نه ساقطيږي، دويم دليل دا دی چي زکاة د الله تعالیٰ حق دی، او پر اداء باندي د قدرت تر لرلو وروسته الله ﷻ د خطاب په ذريعه سره د دې طلب هم کړی دی(د الله تعالیٰ له خطاب څخه تقديري خطاب مراد دی). لېکن کله چي هغه اداء نه کړی، نو دغه د مال هلاکېدل به داسي وي لکه د حقداره سړي تر غوښتني وروسته د هغه منع کول، او حقداره تر غوښتني وروسته منع کول ضمان واجبوي، لکه څرنګه چي په تعدیٰ سره د مال هلاکول ضمان واجبوي.

زموږ دليل: دا دی چي زکاة پر ذمه واجب نه دی، بلکي خاص په مال کي واجب دی، يعني زکاة د نصاب يو جزء دی، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي: فی کل أربعين شاةٍ شاة، په دې حديث کي د "فی" کلمه ذکر سوې ده، او د "فی" کلمه پر جزئيت دلالت کوي، (يعني په څلوېښتو(۴۰) بزو کي يوه بزه ده). د دې حديث مطلب بالکل دا نه دی چي د څلوېښتو بزو زکاة دا دی چي له دغه څلوېښتو بزو څخه ماسوا يوه بزه ورکړه، بلکي مطلب يې دا دی چي له همدغه څلوېښتو بزو څخه يوه بزه کوم چي د دې څلوېښتو بزو جزء ده، ورکړه، او د زکاة لپاره د نصاب يو جزء مقررول د آسانتیا لپاره دی، ځکه چي د نصاب يو جزء را ايستل د انسان په قدرت کي سته. لنډه دا چي دا خبره ثابته سوه چي زکاة د نصاب د مال يو جزء دی، او دا جزء په خپله په مال کي سته، نو دا جزء به د خپل محل په هلاکېدلو سره ساقطيږي، ځکه کله چي ټوله مال هلاک سي، نو د دغه سړي لپاره د دې جزء پر ورکولو قدرت نه پاتيږي، او کله چي يې پر ورکولو قدرت نه پاتيږي، نو پر واجب به هم نه وي، بلکي ساقط به وي، او دا مسئله داسي ده لکه يو غلام چي را ولاړ سي او بل

څوک په خطاء قتل کړي، نو حکم دا دی چې مالک به داقاتل غلام دمقتول ولي ته ورکوي، لیکن که ترسپارلو مخکې داقاتل غلام مړ سي، نو بیا دا ورکول ساقطیږي، یعني پر مالک به هیڅ شی واجب نه وي، نو ثابته سوه چې زکاة پر ذمه نه واجبیږي، بلکې په عینِ مال کې واجبیږي، او سرمایه او نور پر ذمه واجبیږي، نو ځکه به زکاة پر سرمایې او نورو قیاسول صحیح نه وي.

والمستحق فقیریعینه المالك په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دویم دلیل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دئ چې د زکاة حقدار هر فقیر نه دی، بلکې هغه فقیر دی چې مالک یې معلوم کړي، او په پورتني صورت کې مالک تر اوسه پوري هیڅوک معلوم کړی نه دی، نو د هیڅ فقیر له طرفه غوښتنه هم ثابته نه سوه، او کله چې غوښتنه ثابته نه سوه، نو تر غوښتني وروسته منع کول هم نه راغله، او کله چې منع کول نه راغله، نو ځکه به مالک د منع عن الطلب په وجه متعدي هم نه بلل کیږي، فلایجب علیه الضمان.

وبعد طلب الساعی الخ پاته سوه دا خبره چې که ساعي یعني د زکاة اخیستونکی زکاة وغوښتي، او مالک نه ورکړي، تر دې چې تر هغه وروسته مال هلاک سو، نو شیخ ابو الحسن کرخي وایي چې دا سړی به د زکاة ضامن وي، تر دې چې کله هغه ته مال په لاس ورسي، نو دا تاوان به اداء کوي، او د ماوراء النهر مشائخو ویلي دي چې ضامن به نه وي، د شیخ ابو الحسن کرخي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې څرنګه ساعي د زکاة اخیستولو لپاره متعین سوی دی، او د ساعي تر غوښتني وروسته هغه منع کړې ده، نو د هغه منع کول به تفویت یعني د مال فوتول او هلاکول وي، او څرنګه چې د تفویت او هلاکولو په صورت کې د زکاة ضمان لازمیږي، نو ځکه به په دې صورت کې هم پر هغه د زکاة تاوان واجب وي، د ماوراء النهر د مشائخو دلیل دا دی چې زکاة نه ورکول او منع کول د مال فوتول او هلاکول نه دي، ځکه ممکنه ده چې په منع کولو سره به د هغه اراده بل چا ته د زکاة ورکولو وي، نو کله چې د زکاة نه ورکول تفویت نه سو، نو هغه به ضامن هم نه وي.

وفی الاستهلاك...الخ په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قیاس جواب ورکوي، امام شافعي فرمایلي وو چې څرنګه د استهلاک په صورت کې (یعني په خپله د مال د هلاکولو په صورت کې) زکاة واجبیږي، همدارنګه به د مال د هلاکېدلو په صورت کې هم زکاة واجبیږي، نو د هغه جواب ورکوي چې د استهلاک په صورت کې د مالک له طرفه تعدیٰ سته، نو ځکه به زجراً پر هغه ضمان واجبیږي، او د مال د هلاکېدلو په صورت کې د مالک له طرفه هیڅ تعدیٰ نسته، نو ځکه به پر هغه ضمان نه لازمیږي.

وفی هلاك البعض الخ فرمایي چې که لږ مال هلاک سو، او لږ مال پاته سو، نو د هلاک سوي مال زکاة ساقطیږي، او په پاته مال کې به زکاة واجب وي، ځکه چې دلته بعض پر کُل قیاسیږي، نو کله چې د کُل د هلاکېدلو په صورت کې ټوله زکاة ساقطیږي، نو د بعضي مال د هلاکېدلو په صورت کې به د هغه په اندازه بعضي زکاة ساقطیږي.

تر کال پوره کېدلو مخکې د زکاة د اداء کولو حکم

وَإِنْ قَدَّمَ الزَّكَاةَ عَلَى الْحَوْلِ او که یو سړي تر کال پوره کېدلو مخکې زکاة اداء کړی وَهُوَ مَالِكٌ لِلنِّصَابِ جَازَ او هغه د نصاب مالک وو نو دا مخکې اداء کول جائز دي لِأَنَّهُ أَدَّى بَعْدَ سَبَبِ الْوُجُوبِ ځکه چې هغه د زکاة د وجوب تر سبب وروسته زکاة اداء کړی فَيَجُوزُ نو ځکه به (د هغه اداء کول) جائز وي كَمَا إِذَا كَفَّرَ بَعْدَ الْجَرْحِ لکه یو سړي چې تر زخمي کولو وروسته کفاره ورکړي وَفِيهِ خِلَافُ مَالِكٍ او په دې کې د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَيَجُوزُ التَّعْجِيلُ

لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَةٍ لِوُجُودِ السَّبَبِ او د يوه كال تر زكاة زيات زكاة وركول (هم) جائز دي د سبب د وجود په وجه وَيَجُوزُ لِنُصُبٍ إِذَا كَانَ فِي مِلْكِهِ نِصَابٌ وَاحِدٌ او كه د انسان په ملكيت كي يو نصاب وو نو د هغه لپاره د څو نصابونو زكاة مخكي وركول جائز دي خِلَافًا لِزُفَرَ د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دى لِأَنَّ النِّصَابَ الْأَوَّلَ هُوَ الْأَصْلُ فِي السَّبَبِيَّةِ ځكه چي اول نصاب په سببيت كي اصل دى وَالزَّائِدُ عَلَيْهِ تَابِعٌ لَهُ او كوم چي پر اول نصاب زيات دي نو هغه د اول نصاب تابع دى. والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿عَجَّل﴾ گړ څېدل، مجازاً د كال پوره كېدل. ﴿كَفَّر﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: كفاره وركول. ﴿نُصُب﴾ جمع د نِصَابٌ ده: ټاكلې اندازه، معلوم مقدار (نصاب).

تشريح: مسئله: دا ده چي زموږ په نېز د نصاب مالک ته تر حولانِ حول (كال تېرېدلو) مخكي زكاة وركول جائز دي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله قول دى، او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي.

د امام مالک دليل: دا دى چي حولانِ حول شرط دى، لكه څرنګه چي نصاب شرط دى، او پر شرط مشروط مخكي كول جائز نه دي، نو ځكه به تر حولانِ حول مخكي زكاة مخكي وركول جائز نه وي.

زموږ دليل: دا دى چي دغه سړي زكاة هغه وخت اداء كړى چي كله د زكاة د وجوب سبب پيدا سو، او د وجوب تر سبب وروسته اداء كول جائز دي، لكه يو سړى چي يو مسلمان په خطاء سره ووېلي، او هغه داسي زخمي كړي چي د ژوند اُميد يې پاته نه سي، او دا سړي د دغه زخمي مسلمان تر مړه كېدلو مخكي غلام آزاد كړي، نو جائز دي، ځكه چي د قتل سبب پيدا سو، همدارنګه كه يو څوک په اول وخت كي لمونځ اداء كړي، نو جائز دي، ځكه چي د لمانځه سبب يعني وخت پيدا سو.

جواب: د امام مالک د دليل جواب دا دى چي حولانِ حول د اداء د وجوب شرط دى، نه د اداء د جواز، يعني تر حولانِ حول وروسته زكاة اداء كول واجبيږي، او تر هغه مخكي نه واجبيږي. دا يې مطلب نه دى چي تر حولان حول وروسته زكاة اداء كول جائز كيږي، او تر هغه مخكي نه جائز كيږي.

ويجوز التعجيل الخ صاحب د هدايې فرمايي چي كه سبب يعني د نصاب مال موجود وو، نو د زياتو كلونو زكاة هم مخكي (پېشګي) وركول جائز دي، د دې مثال دا دى چي د نبي ﷺ په زمانه كي نبي ﷺ له حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه د دوو كالو زكاة مخكي واخيستى، ځكه كله چي سبب يعني نصاب موجود وي، نو ښكاره ده چي د مسبب په وجود او د مسبب په ثبوت كي به هيڅ ستونزه نه وي.

ويجوز لنُصُب الخ نُصُب جمع د نصاب ده، مسئله دا ده كه د يوه سړي په ملكيت كي يو نصاب وي، او هغه د څو نصابونو زكاة مخكي وركړي، نو دا صحيح ده، صاحب د بنايې د دې مثال داسي بيان كړى چي مثلاً د يو سړي په ملكيت كي پنځه اوښان وي. او دا سړى د يوې بزې پر ځاى څلور بزې مخكي په زكاة كي وركړي، بيا د كال تر ختمېدلو وروسته د هغه په ملكيت كي شل (۲۰) اوښان راسي، نو د هغه مخكي اداء سوى زكاة د دې ټولو له طرفه كفايت كوي، لېكن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د څو نصابونو زكاة مخكي اداء كول صحيح نه دي، ځكه د زكاة اداء كولو په باره كي هر نصاب په خپله اصل دى، او يو نصاب د بل نصاب تابع نه دى، نو د اداء كولو په وخت كي چي كوم نصاب موجود وي، د هغه زكاة به اداء كيږي، او د غيرِ موجود او غيرِ مملوک نصاب زكاة به نه اداء كيږي، كنې سبب يعني د زكاة اداء كول به تر مسبّب يعني د نصاب تر وجوب مخكي راسي، او دا بالكل صحيح نه دي.

زموږ دليل: دا دى چي د امام زفر رَحِمَهُ الله دا خبره چي هر نصاب اصل دى او تابع نه دى، صحيح نه ده، بلكي په سببيت يعني د زكاة په وجوب كي اول نصاب اصل دى، او پاته نصابونه د هغه تابع دي، او څرنګه چي په پورتنۍ مسئله كي اصل نصاب موجود دى، نو د هغه توابع يعني نور نصابونه به حكماً مملوک او موجود ګڼل كيږي، او د هغو له طرفه به زكاة وركول هم صحيح ګڼل كيږي، نو كله چي داسي ده، نو د تقديم السبب على السبب خرابي نه راځي.

بَابُ زَكَاةِ الْمَالِ

(دا) باب د مالونو د زكاة (په بيان كي) دى

تشريح: څرنګه چي به د عربو په نيز سائمه څاروبان (يعني څربدونكي څاروبان) قيمتي او د لوړي درجې شمارل كېدله، نو ځكه صاحب د كتاب د هغو بيان مخكي ذكر كړى، اوس تر هغو وروسته د نورو مالونو ذكر كوي، ښكاره دي وي چي دلته له مال څخه مراد له سوائمو (څربدونكو څاروبانو) څخه ماسوا نور هر ډول مالونه دي، هغه كه نغد مالونه وي (لكه روپۍ او زر)، او كه د تجارت مالونه وي.

مال هر هغه شي ته يل كيږي چي انسان د هغه مالک جوړ سي، او فقهاؤ د مال تعريف داسي كړى دى: "چي په كوم شي كي بدل جاري وي، او د هغه و طرف ته د انسان طبيعت ليواله او راغب وي، او د ضرورت تر وخته پوري د هغه جمع كول ممكن وي هغه شي ته "مال" ويل كيږي".

فَصْلٌ فِي الْفِضَّةِ

(دا) فصل د سپينو زرو (د زكاة په بيان كي) دى

تشريح: صاحب د كتاب د سپينو زرو احكام د سرو زرو تر احكامو مخكي بيانوي، د دې يوه وجه دا ده چي د رسول الله ﷺ په فرمان كي اول د سپينو زرو ذكر سوى دى او وروسته د سرو زرو، او بله وجه يې دا ده چي د سرو زرو په مقابله كي سپين زر ډېر دي، او آسانه تر لاسه كيږي، او د امير و غريب ټولو سره څه نا څه سته، نو ځكه د سپينو زرو بيان د سرو زرو تر بيان مخكي بيانوي.

د سپينو زرو د زكاة نصاب او د زكاة اندازه

لَيْسَ فِيمَا دُوْنَ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ صَدَقَةٌ تر دوو سوو په كمو درهمو كي زكاة نسته لِقَوْلِهِ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځكه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي لَيْسَ فِيمَا دُوْنَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ تر پنځو اوقيو په كمو كي زكاة نسته وَالْأُوقِيَّةُ أَرْبَعُوْنَ دِرْهَمًا او يوه اقيه څلوېښت درهمه وي فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَيْنِ وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ نو كله چي درهمونه دوه سوه وي او پر هغو كال (هم) تېر سي نو په هغو كي به پنځه درهمه واجب وي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● كَتَبَ

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب ليس فيما دون خمس، حديث رقم: ۱۲۵۹

● تخريج: أخرجه دارقطني في كتاب الزكاة، باب وجوب زكاة الذهب والورق، حديث رقم: ۱۸۸۵.

إِلَى مُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څکه نبي ﷺ حضرت معاذ ﷺ ته (دا) ليکلي وو أَنْ خُذْ مِنْ كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةَ دَرَاهِمَ "چي ته له هرو دوو سوو درهمونو څخه پنځه درهمه اخله وَمِنْ كُلِّ عِشْرِينَ مِثْقَالًا مِنْ ذَهَبٍ نِصْفَ مِثْقَالٍ او د سرو زرو له هرو شلو مثقالونو څخه نیم مثقال اخله".

اللغات: ﴿أَوَاقٍ﴾ جمع د أوقية ده: د سپينو زرو يو وزن دی چي تقريباً لس نيمي تولې کيږي. يعني يوه اوقيه لس نيمي تولې کيږي، او د ګرام په حساب سره ۴۷. ۱۲۲ ګرامه کيږي. ﴿مِثْقَال﴾ د سرو زرو يو وزن دی چي تقريباً ۳۷۵. ۴ ګرامه کيږي.

تشريح: په دې عبارت کي دا بيان سوي دي چي د سپينو زرو نصاب دوه سوه (۲۰۰) درهمه دی، او د سرو زرو نصاب شل (۲۰) مثقاله دی، نو نه له ۲۰۰ څخه په کمو درهمو کي زکاة واجب دی، او نه له ۲۰ مثقالو څخه په کمو سرو زرو کي زکاة واجب دی، دليل هغه حديث دی کوم چي په کتاب کي ذکر سو، يعني: ليس فيما دون خمس أواق صدقة. او يوه اوقيه ۴۰ درهمه وي، نو په دې اعتبار سره ۵ اوقيې د ۲۰۰ درهمو سره برابري دي، او همدا د سپينو زرو نصاب دی، نو کله چي د سپينو زرو نصاب پوره سي، يعني د يو سړي سره ۲۰۰ درهمه وي، او پر هغو کال هم تېر سي، نو په هغو کي دوه نيم فيصده يعني پنځه درهمه د زکاة واجبيږي، څکه نبي ﷺ چي د معاذ بن جبل ﷺ په نامه کوم خط ليکلی وو، په هغه کي يې دا حکم کړی وو چي له ۲۰۰ درهمو څخه پنځه درهمه اخله، او له ۲۰ مثقالو څخه نيم مثقال اخله، په دې حديث کي د زکاة نصاب هم بيان سوی دی، او په نصاب کي د زکاة واجب مقدار هم بيان سوی دی.

له دوو سوو درهمو څخه په زيات مال کي د زکاة حکم

قَالَ: وَلَا شَيْءَ فِي الزِّيَادَةِ حَتَّى تَبْلُغَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا فرمايي: چي (بيا) له دوو سوو درهمو څخه په زياتو کي هيڅ شی نسته تر دې چي زياتوب څلوېښتو درهمو ته ورسيږي فَيَكُونُ فِيهَا دِرْهَمٌ نو په څلوېښتو کي به يو درهم وي ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ بيا به په هرو څلوېښتو کي يو درهم وي وَهَذَا عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ او دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: مَا زَادَ عَلَى الْمِائَتَيْنِ فَزَكَاتُهُ بِحِسَابِهِ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: پر دوو سوو درهمو چي کوم څه زيات سي نو د هغه زکاة به د هغه په حساب سره کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● فِي حَدِيثِ عَلِيٍّ ﷺ د حضرت علي ﷺ په حديث کي د نبي ﷺ (د دې) قول په وجه وَمَا زَادَ عَلَى الْمِائَتَيْنِ فَبِحِسَابِهِ "او څه چي پر دوو سوو درهمو زيات سي نو د هغه زکاة به د هغه په حساب سره وي" وَلِأَنَّ الزَّكَاةَ وَجَبَتْ شُكْرًا لِنِعْمَةِ الْمَالِ او په دې وجه (هم) چي زکاة د مالي نعمت د شکر اداء کولو په توګه واجب سوی دی وَاشْتِرَاطُ النِّصَابِ فِي الِابْتِدَاءِ لِتَحَقُّقِ الْغِنَاءِ او په شروع کي د نصاب شرط لګول د مالداری د ثابتېدلو لپاره دی وَبَعْدَ

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:٢، ص: ١٦٠، و قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: و في كل خمس (بحسابه)، ففي كل أربعين درهماً درهم، الدر المختار:٢، ص: ٣٤. [القول الراجح ج:١، ص:١٧١]

●تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الزكاة، باب وجوب ربع العشر في نصابها،حديث رقم: ٧٥٢١.

النِّصَابِ فِي السَّوَائِمِ تَحَرُّزًا عَنِ التَّشْقِيصِ او په څرېدونکو څارويانو کي تر نصاب وروسته (دا شرط) له ټوکړه کېدلو (يعني له حصه حصه کېدلو) څخه د ځان ساتلو لپاره دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ فِي حَدِيثِ مُعَاذٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د حضرت معاذ ﷺ په حديث کي د نبي ﷺ (دا) قول دی لَا تَأْخُذْ مِنَ الْكُسُورِ شَيْئًا چي له کسورو څخه هيڅ مه اخله وَقَوْلُهُ فِي حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ او د عمر بن حزم په حديث کي د نبي ﷺ (دا) قول دی وَلَيْسَ ❷ فِيمَا دُونَ الْأَرْبَعِينَ صَدَقَةٌ (چي) تر څلوېښتو په کمو درهمو کي هيڅ زکاة نشته وَلِأَنَّ الْحَرَجَ مَدْفُوعٌ او په دې وجه هم چي (شرعا) تکليف ليري کړی سوی دی وَفِي إِيجَابِ الْكُسُورِ ذَلِكَ (لېکن) د کسورو په واجبولو کي تکليف سته لِتَعَذُّرِ الْوُقُوفِ ځکه چي (د کسر پر حساب) واقفېدل (خبرېدل) مشکل دي وَالْمُعْتَبَرُ فِي الدَّرَاهِمِ وَزْنُ سَبْعَةٍ او په دراهمو کي به وزن سبعه معتبر وي وَهُوَ أَنْ تَكُونَ الْعَشَرَةُ مِنْهَا وَزْنَ سَبْعَةِ مَثَاقِيلَ او وزن سبعه دا دی چي د لسو درهمو وزن اووه مثقاله وي بِذَلِكَ جَرَى التَّقْدِيرُ فِي دِيوَانِ عُمَرَ (رض) همد دغه اندازې مطابق د حضرت عمر ﷺ په دفتر (رېجسټر) کي تقدير جاري وو وَاسْتَقَرَّ الْأَمْرُ عَلَيْهِ او هم پر دغه تقدير مسئله محکمه پاته سوه.

اللغات: ﴿سَوَائِم﴾ جمع د سَائِمَةٌ ده: له کور څخه بهر وابنه خوړونکی (يعني څرېدونکی) څاروی. ﴿تحرز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: پرېز کول، خوندي کېدل. ﴿تشقيص﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: برخي برخي کول، ټوټه ټوټه کول.

تشريح: تر دې مخکي تاسو ته معلومه سوه چي د سپينو زرو نصاب ۲۰۰ درهمه دی، او په ۲۰۰ درهمو کي ۵ درهمه د زکاة واجب دي، اوس له دې ځايه دا رابنيي چي که پر ۲۰۰ درهمو يو څو درهمه زيات سي، نو په هغو کي به څرنګه زکاة واجب وي، په دې لړ کي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي که تر ۲۰۰ وروسته راتلونکی زياتوب تر څلوېښتو پوري ورسيږي، نو په هغه کي به زکاة واجب وي. او که تر څلوېښت کم وي، نو په هغه کي به زکاة واجب نه وي، بلکي هغه به عفوه وي، صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که تر ۲۰۰ وروسته يو درهم هم زيات سي، نو په هغه کي به څلوېښتمه حصه واجب وي، همدا د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله مسلک دی.

د صاحبينو دليل: د نبي ﷺ هغه فرمان دی کوم چي د حضرت علي ﷺ په حديث کي ذکر سوی دی يعني: وما زاد على المائتين فبحسابه. (يعني پر دوو سوو درهمو چي څومره زيات سي، د هغو زکاة به په هغه حساب يعني د ۲۰۰ درهمو په حساب سره ورکول کيږي)، څرنګه چي په دې حديث کي په مطلق زياتوب کي زکاة واجب ګرځول سوی دی، نو تر ۲۰۰ وروسته چي څومره زياتوب هم راسي، په هغه کي به زکاة واجب وي، او د زکاة د وجوب لپاره به د څلوېښتو قيد لګول صحيح نه وي.

---

❶ تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الزكاة، باب ليس في الكسر شئ، حديث رقم: ۱۸۸۶.

❷ تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الزكاة، باب وجوب العشر في نصاب، حديث رقم: ۷۵۲۰.

ولأن الزكاة الخ عقلي دليل دا دی چي زکاة د مالي نعمت د شکر د اداء کولو لپاره واجب سوی دی، او څرنګه چي ځلوېښت درهمه مال دی، همدارنګه هر درهم پر خپل ځای مال دی، نو ځکه به تر ۲۰۰ وروسته په هر هر درهم کي زکاة واجب وي.

واشتراط النصاب له دې ځایه د صاحبینو پر عقلي دلیل دیو اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي کله زکاة د مالي نعمت شکرانه ده، او مال په هر حال کي مال دی، هغه که لږ وي، که زیات، نو تاسو په شروع کي د نصاب، او د ۲۰۰ درهمو او د کال تېرېدلو شرط ولي لګوئ، بغیر له یو شرط څخه په هغه کي زکاة ولي نه واجبوئ، آخر له ۲۰۰ درهمو څخه کم خو هم مال دی.

جواب: فرمايېږه شروع کي چي کوم د نصاب شرط لګېدلی دی، هغه په دې وجه دی چي په دې شرط سره غناء او مالداري ثابته سي، ځکه چي زکاة صرف پر مالدارانو واجب دی، نه پر فقیرانو، اوس که موږ په شروع کي هم دا شرط نه ولګوو، نو هر یو به د زکاة ورکونکی سي، اخیستونکی به یې یو هم پیدا نه سي، نو په ابتداء کي دا شرط ځکه ولګول سو، چي په امیر او غریب کي فرق راسي، او په زکاة اخیستونکي او ورکونکي کي فرق راسي، او څرنګه چي تر نصاب وروسته دا فرق راځي، نو ځکه به تر نصاب وروسته بل شرط نه لګیږي، بلکي تر نصاب وروسته به پر هر حاصلېدونکي مال زکاة واجب وي، په دې شرط چي هغه مال د مال نصاب له جنس څخه وي.

وبعد النصاب في السوائم الخ لېکن پر پورتني جواب بل اعتراض کېږي چي په سائمه څارویانو کي تر نصاب وروسته ولي په هر څاروي کي د صاحبینو په نېز زکاة نه واجبېږي؟، حال دا چي د دوی په نېز که تر نصاب وروسته لږ مال هم زیات سي، په هغه کي به زکاة واجبېږي، لکه په نغدو (یعني په زرو او پیسو) کي چي د دوی په نېز همدغه حکم دی، یعني که تر دوو سوو درهمو یو درهم زیات سي، نو په هغه کي به ځلوېښتمه حصه واجب وي، لېکن صاحبین په سوائمو کي ولي تر نصاب وروسته بل شرط لګوي؟

جواب: د دې جواب ورکوي فرمايي چي سوائم پر غیر سوائمو قیاسول او اعتراض کول صحیح نه دي، ځکه په سوائمو کي تر نصاب وروسته د بل نصاب او د بلي ځانګړې شمېرې شرط لګول زموږ مجبوري ده (یعني موږ ورته مجبوره یو)، او مجبوري دا ده چي که موږ په سوائمو کي هم تر نصاب وروسته په هر څاروي کي زکاة واجب کړو، نو د زکاة څاروی به ټوکړه ټوکړه کوو، نو له دې څخه د ځان ساتني لپاره موږ په هر څاروي کي زکاة نه واجبوو، مثلاً په پنځو اوښانو کي یوه بزه ده، اوس که پر دې شلور اوښان نور زیات سي، او نهه اوښان سي، نو که په دې شلورو کي هم موږ زکاة واجب کړو، نو یوه بزه به پنځه حصې (ټوکړې) کوو، او د هر اوښ زکاة به د بزې یوه حصه وي، نو د شلورو اوښانو به شلور حصې وي، نو له دې تشقیص څخه د ځان ساتني لپاره موږ په سوائمو کي تر نصاب وروسته په هر څاروي کي زکاة نه واجبوو، بلکي بل نصاب او بله ځانګړې شمېره شرطوو، یعني چي کله پر پنځو اوښانو نور پنځه اوښان زیات سي یعني لس اوښان سي، نو په هغو کي به دوې بزې واجب وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي نبي ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه ته دا حکم کړی وو: لا تأخذ من الكُسُور شيئا، کُسُور جمع د کَسر ده، معنی یې ده: حصه، جزء، ټوکړه (ټوټه)، د حدیث معنیٰ دا ده چي له ټوکړو څخه هیڅ مه اخله، یعني داسي مه کوه چي یو درهم ټوکړه ټوکړه او حصه حصه کړې او د هغه یوه حصه واخلې، او څرنګه چي په ځلوېښتو درهمو کي یو پوره درهم واجب دی، نو یو درهم پوره اخله، او داسي مه کوه چي هغه حصه حصه کړې، او وایې اخلې. (نو له دې

حديث څخه معلومه سوه چي له څلوېښتو څخه به په کمو درهمو کي زکاة نه واجبيږي، کنې يو درهم به حصه حصه کيږي او له هغه څخه به زکاة ورکول کيږي، او دا د حديث خلاف دي).

همدارنګه د حضرت عمرو بن حزم په روايت کي راغلي دي: ليس فيما دون الأربعين صدقة. (يعني له څلوېښتو څخه په کمو کي زکاة واجب نه دی). له دې څخه هم معلوميږي چي پر څلوېښتو به زکاة واجب وي.

ولأن الحرج الخ له دې ځايه د امام صاحب رَحِمَهُ الله عقلي دليل بيانوي، تفصيل يې دا دی چي که له ۴۰ څخه په کمو درهمو کي زکاة واجب سي، نو په دې صورت کي به د درهمونو حصه حصه کول او ټوټه کول لازم سي، همدارنګه به په حساب او شمېر کي هم ډېر تکليفونه راسي، مثلاً که د يو سړي سره ۲۰۷ درهمه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه صرف ۵ درهمه واجب دي، او د صاحبينو په نېز پر هغه ۵ درهمه او په اوو(۷) درهمو کي د هر درهم يوه څلوېښتمه حصه پر واجب ده(چي ټوله اووه[۷] څلوېښتمي حصې کيږي په لنډه توګه چي دا ټوله د يوه درهم اووه حصې کيږي)، نو کله چي هغه يو کال زکاة وباسي، او بيا که را روان کال هم د هغه سره دغه درهمونه پاته وي چي هغه به تقريباً ديوه درهم ۳۳ حصې او ۲۰۱ درهمه کيږي، نو په پنځو سوو درهمو کي به پنځه درهمه واجب وي، او په درهم کي به د درهم څلوېښتمه حصه واجب وي، او په ۳۳ حصو کي به د ۳۳ حصو څلوېښتمه حصه واجب وي، اوس تاسو فور وکړئ چي په ۳۳ حصو کي حساب کول او څلوېښتمه حصه را ايستل څومره مشکل دي، بيا چي دا حصه را وېستل سي، نو مخته به تر دې لا سخت حساب راسي، مطلب دا چي په دې حساب کي ستونزي او تکليفونه پرلپسې دي، نو ځکه غوره همدغه ده چي که پر ۲۰۰ له ۴۰ څخه کم درهمونه زيات سي، نو په هغو کي به زکاة بالکل نه واجبيږي.

والمعتبر في الدراهم الخ فرمايي چي د درهمونو په نصاب کي وزن سبعه معتبر دی، وزن سبعه دا دی چي د لسو درهمو وزن د اوو(۷) مثقالو سره برابر وي، او د ګرام په اعتبار سره وزن سبعه ۳،۰۶۱ ګرامه کيږي، يعني تقريباً درې ګرامه کيږي، تر دې مخکي په اسلام کي د وزن عشره او ستة او خمسة په نامه سره نور اوزان جاري وو، لېکن حضرت عمر رضي الله عنه خپل د خلافت په زمانه کي ټوله وزنونه ختم کړل، او د وزن سبعه حکم يې کړی، او هم په دې وزن سره يې د عشر، خراج او د زکاة اداء کولو حکم جاري کړی، چي هغه خلکو په سر او سترګو قبول کړی، او په خپل عمل سره يې پر هغه د اجماع ټاپه ولګوله. دلته دا خبره د پاملرني وړ ده چي له زکاة څخه ماسوا به د سرسايې، مهر، سرقه او د نورو په نصاب کي هم دغه وزن معتبر وي.

د کوټه سپينو زرو حکم او په دې باره کي تفصيل

وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الْوَرِقِ الْفِضَّةَ او که د سپينو زرو په سکه کي سپين زر غالب وي فَهُوَ فِي حُكْمِ الْفِضَّةِ نو هغه سکه د سپينو زرو په حکم کي ده وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهَا الْغِشُّ او که پر هغې کوټ(يعني د بل شي ګډون) غالب وي فَهُوَ فِي حُكْمِ الْعُرُوْضِ نو هغه د سامان په حکم کي ده يُعْتَبَرُ أَنْ تَبْلُغَ قِيمَتُهُ نِصَابًا (او) د دې اعتبار به کيږي چي د هغې قيمت نصاب ته ورسيږي لِأَنَّ الدَّرَاهِمَ لَا تَخْلُوْ عَنْ قَلِيْلِ غِشٍّ ځکه درهمونه د لږ کوټ(او ګډون) څخه خالي نه وي لِأَنَّهَا لَا تَنْطَبِعُ إِلَّا بِهِ ځکه چي درهمونه له کوټ څخه ماسوا (په قالب کي) جوړيږي نه وَتَخْلُوْ عَنِ الْكَثِيْرِ (خو) درهمونه له

زيات کوټ شخه خالي وي فَجَعَلْنَا الْغَلَبَةَ فَاصِلَةً نو ځکه موږ غلبه (دلږ او ډېر په مينځ کي) فرق کونکې وګرځوله وَهُوَ أَنْ يَزِيدَ عَلَى النِّصْفِ او غلبه دا ده چي (کوټ) له نيم شخه زيات وي اِعْتِبَارًا لِلْحَقِيقَةِ د حقيقت په اعتبار کولو سره وَسَنَذْكُرُهُ فِي الصَّرْفِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او د دې ذکر به موږ په کتابُ الصرف کي انشاء الله وکړو إِلَّا أَنَّ فِي غَالِبِ الْغِشِّ لَا بُدَّ مِنْ نِيَّةِ التِّجَارَةِ خو د کوټ د غالبه کېدلو په وخت کي د تجارت نيت کول ضروري دي كَمَا فِي سَائِرِ الْعُرُوضِ لکه په (نورو) ټولو سامانو کي إِلَّا إِذَا كَانَ تَخَلَّصَ مِنْهَا فِضَّةٌ تَبْلُغُ نِصَابًا لیکن دا چي له سکو شخه دومره سپين زر راووځي چي هغه تر نصابه رسيږي لِأَنَّهُ لَا يُعْتَبَرُ فِي عَيْنِ الْفِضَّةِ الْقِيمَةُ وَلَا نِيَّةُ التِّجَارَةِ ځکه چي د سپينو زرو په عين (ذات) کي نه قيمت معتبر دی او نه د تجارت نيت، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿ورق﴾ سپين زر، مجازاً: د سپينو زرو هغه سکّه (او پيسه) چي په غالَب (قالب) کي جوړه سوې (او چاپ سوې) وي، ﴿غش﴾ (د عين په فتحه سره دی) دوکه، مجازاً: ګډون، کوټ (کوټه والی، نا چلتوب) ﴿تخلص﴾ د انفعال د باب مضارع ده: په غالَب کي جوړول، چاپول.

تشریح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي د ورق لفظ څو ډوله ويل سوی دی: ① وَرِق ② وِرْق ③ وَرْق ④ وِرِق ⑤ وَرَق، او د ټولو معنیٰ ده: د سپينو زرو هغه سکّه چي په غالَب او سانچه کي جوړه سوې وي، له غش شخه مراد هغه زائد او پالتو شيان دي چي په سپينو او سرو زرو ګډيږي او بيا سکّه ځني جوړيږي. (اوس عبارت ته ګورئ)

د عبارت حاصل دا دی چي که د سپينو زرو په سکّو کي سپين زر غالب وي، نو هغه سکې به د سپينو زرو په حکم کي وي، او په هغو کي به د سپينو زرو زکاة واجب وي، چي د هغه نصاب دوه سوه (۲۰۰) درهمه دی، او که پالتو شيان يعني کوټ غالب وي، نو هغه سکه به د سامان په حکم کي وي، او په هغه کي به د سامان زکاة واجب وي، يعني دې ته به کتل کيږي چي د دغه سکو قيمت نصاب ته رسيږي، که نه؟ که رسېدی، نو په دې کي به زکاة واجب وي، کنې واجب به نه وي، صاحب د کتاب په يعتبر أن تبلغ الخ سره همدغه خبره بيان کړې ده.

لأن الدراهم الخ امام قدوري چي په سکو کي د کوټ يا د سپينو زرو د غالبېدلو کومه خبره وکړه، صاحب د هدايې د هغه دليل بيانوي فرمايي چي د سپينو زرو په سکو کي خامخا لږ کوټ وي، ځکه چي له کوټ شخه بغير سکې جوړېدای نه سي، (ځکه کله چي په سپينو زرو نور زائد شيان ګډ سي، نو بيا سکه او پيسه ځني جوړېدای سي، له خالصو سپينو زرو شخه نه سي جوړېدای)، نو کله چي په سکو کي له کوټ شخه چاره نشته، نو اوس به له کوټ شخه د سپينو زرو د جلا کولو طريقه همدغه وي چي په هغو کي به ډېرښت او غلبه معيار جوړيږي او دا فيصله به کيږي چي که سپين زر غالب وو، نو هغه سکه به د سپينو زرو شمارل کيږي، او په هغه کي به زکاة واجب وي، او که کوټ غالب وو، نو بيا به هغه له عروضو او سامان شخه شمارل کيږي، او د هغه په قيمت کي به زکاة واجب وي، په دې شرط چي د نصاب په اندازه وي.

اعتبارا للحقيقة صاحب د هدايې د قليل او كثير په مينځ كي د غلبې د فاصل ګرځولو علت بيانوي فرمايي چي فقط د غلبې په ذريعه سره د قليل او كثير په مينځ كي فرق راتلى سي، ځكه چي د كثير مقابل قليل دى، او د قليل مقابل كثير دى، او ښكاره ده چي دا تقابل بې له غلبې نه حاصليږي.

إلا أن ل غالب الغش الخ له دې ځايه دا رابنيي چي كه په سكو كي كوټ غالب وو، نو په دې صورت كي به هغه د سلمان په حكم كي وي، او په سلمان كي زكاة هغه وخت واجبيږي، چي كله هغه تجارتي وي، لهذا د كوټ د غالبېدلو په صورت كي د تجارت نيت كول ضروري دي، لېكن كه مغلوبه سپين زر دومره زيات وو چي له كوټ څخه تر جلا كولو وروسته تر نصاب پوري رسېدل، نو بيا په هغو كي د تجارت ضروري نه دى، بلكي بغير له نيت څخه زكاة واجبيږي، ځكه چي سپين زر د زكاة مال دى، نو ځكه به نه په سپينو زرو كي د قيمت اعتبار كيږي، او نه به د تجارت نيت ضروري وي. فقط والله أعلم وعلمه أتم

فَصْلٌ فِي الذَّهَبِ

(دا) فصل د سرو زرو (د زكاة په بيان كي) دى

د سرو زرو د زكاة نصاب او اندازه

لَيْسَ فِيمَا دُونَ عِشْرِينَ مِثْقَالًا مِنَ الذَّهَبِ صَدَقَةٌ له شلو مثقالو څخه په كمو سرو زرو كي زكاة نسته فَإِذَا كَانَتْ عِشْرِينَ مِثْقَالًا نو كله چي شل مثقاله سي فَفِيهَا نِصْفُ مِثْقَالٍ نو په هغو كي نيم مثقال (د زكاة) دى لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چي موږ روايت كړى وَالْمِثْقَالُ مَا يَكُونُ كُلُّ سَبْعَةٍ مِنْهَا وَزْنَ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ او مثقال دا دى چي د اوو (۷) دينارو وزن د لسو درهمو سره برابر وي وَهُوَ الْمَعْرُوفُ او همدا (په خلكو كي) مشهور دى.

اللغات: ﴿مثقال﴾ د سرو زرو يو وزن دى چي ۴.۳۷۵ ګرامه كيږي.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله د سرو زرو نصاب بيانوي فرمايي چي د سرو زرو نصاب ۲۰ مثقاله دى، نو تر شلو مثقالو په كمو سرو زرو كي زكاة واجب نه دى، هو! كله چي د يو چا سره ۲۰ مثقاله سره زر جمع سي، او پر هغو كال هم تېر سي، نو په هغو كي نيم مثقال واجب دى، دليل هغه روايت دى چي د هدايې پر صفحه: ۱۹۴ په فصل في الفضة كي د حضرت معاذ رضي الله عنه په حواله سره تېر سو، يعني: وفي كل عشرين مثقالا من ذهب نصف مثقال.

والمثقال ما يكون الخ فرمايي چي دلته له مثقال څخه هغه مثقال مراد دى چي د اوو (۷) دينارو وزن د لسو درهمو سره برابر وي، همدا په خلكو كي مشهور او متعارف دى، درهم په وزن كي كوچنى وي، او دينار په وزن كي غټ وي، يو دينار يو مثقال كيږي، د عبارت مطلب همدغه دى چي د اوو دينارو وزن به دومره وي څومره چي د لسو درهمو دى، د لسو درهمو

وزن اووه مثقاله کيږي، نو د اوو دينارو وزن به هم اووه مثقاله وي، يعني د يوه دينار وزن به يو مثقال وي، د ګرام په اعتبار سره يو دينار ۴،۳۷۵ ګرامه کيږي. د دې تفصيل به مخته راسي.

له شلو مثقالو څخه په زياتو کي د زکاة بيان

ثُمَّ فِي كُلِّ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ قِيرَاطَانِ بيا په هرو څلورو مثقالونو کي دوه قيراطه واجب دي لِأَنَّ الْوَاجِبَ رُبْعُ الْعُشْرِ ځکه چي واجب خو څلوېښتمه حصه ده وَذٰلِكَ فِيمَا قُلْنَا او دا په هغه صورت کي ثابتيږي کوم چي موږ بيان کړی إِذْ كُلُّ مِثْقَالٍ عِشْرُونَ قِيرَاطًا ځکه چي هر مثقال شل قيراطه وي.

اللغات: ﴿قِيرَاط﴾ د سرو زرو يو وزن دی چي ۰.۲۱۰ ګرامه کيږي.

تشريح: مسئله: دا ده چي کله د سرو زرو پر نصاب څلور مثقاله سره زر زيات سي، او د نصاب مجموعي شمېر ۲۴ مثقالو ته ورسيږي، نو اوس به په هغو کي له نيم مثقال څخه ماسوا نور دوه قيراطه واجب وي، ځکه په زکاة کي خو څلوېښتمه حصه واجبيږي، او څلوېښتمه حصه هغه وخت کېدای سي چي کله په څلورو مثقالو کي دوه قيراطه واجب سي، ځکه چي د څلورو مثقالو څلوېښتمه حصه دوه قيراطه کيږي، ځکه يو مثقال شل قيراطه وي، نو څلور مثقاله به اتيا(۸۰) قيراطه وي، او د اتياوو څلوېښتمه حصه دوه کيږي، نو ځکه به په څلورو مثقالو کي دوه قيراطه واجب وي.

فايده: صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي يو قيراط پنځه اوربشي کيږي، او يو مثقال شل قيراطه کيږي، نو په دې اعتبار سره به هر مثقال د اوربشو د سلو دانو په برابر وي، ځکه ۵ چي په ۲۰ کي ضرب کړی سي، نو حاصل د ضرب ۱۰۰ راوځي. (عنايه ج:۲)

له څلورو مثقالو څخه په کمو کي د زکاة بيان

وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ أَرْبَعَةِ مَثَاقِيلَ صَدَقَةٌ عِنْدَ* أَبِي حَنِيفَةَ او تر څلورو په کمو مثقالونو کي زکاة واجب نه دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَعِنْدَهُمَا تَجِبُ بِحِسَابِ ذٰلِكَ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په هغه حساب سره زکاة واجب دی وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْكُسُورِ او دا د کُسُور مسئله ده وَكُلُّ دِينَارٍ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ فِي الشَّرْعِ او په شريعت کي هر دينار لس درهمه وي فَيَكُونُ أَرْبَعَةُ مَثَاقِيلَ فِي هٰذَا كَأَرْبَعِينَ دِرْهَمًا نو په سرو زرو کي به څلور مثقاله د څلوېښتو درهمو په ډول وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز که د سرو زرو پر نصاب يعني پر ۲۰ مثقالو تر څلورو ۴ مثقالو کم مثقالونه زيات سول، نو په دې زياتوب کي به هيڅ شی واجب نه وي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د دغه زياتوب په حساب سره په دې کي زکاة واجب وي، نو که يو مثقال زيات سو، نو په هغه کي به نيم قيراط واجب وي، ځکه چي يو مثقال شل قيراطه وي، او د شلو څلوېښتمه حصه نصف دی، نو همدغه نصف به واجب وي، څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د کُسُورو د مسئلې په ډول په دې کي هم د حساب و کتاب په حواله سره ستونزه او تکليف راځي، نو ځکه به تر څلورو په کمو مثقالونو کي زکاة واجب نه وي.

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الهندية ج:۱، ص: ۱۷۹. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۷۱]

وكل دينار الخ فرمايي چي په شريعت كي د قيمت په اعتبار سره يو دينار لس درهمه دی، او مثقال او درهم يو بول دي، نو هر مثقال به هم لس درهمه وي، او ۴ مثقاله به د څلوېښتو درهمو برابر وي، او څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له څلوېښتو څخه د کمو درهمونو د زياتوب په صورت کي زکاة واجب نه دی، همدارنګه به له څلورو مثقالونو څخه د کمو زياتېدلو په صورت کي هم زکاة واجب نه وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دی، وقال العلامة عبد الله داماد آفندی رَحِمَهُ الله: ولا شئ فيما دون ذالك عند الامام وهو الصحيح كما في التحفة (مجمع الانهر ج۱، ص: ۲۰۵). [القول الراجح ج۱، ص: ۱۷۲]

د سرو او سپينو زرو په سکو، لوښو، او د ښځلا (او سينګار) په شيانو کي د زکاة حکم

قَالَ: وَفِي تِبْرِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَحُلِيِّهِمَا وَأَوَانِيهِمَا الزَّكَاةُ فرمايي: چي د سرو او سپينو زرو په ټوکرو (ټوټو) کي او د هغو په زېوراتو (يعني د ښکلا په شيانو) کي او د هغو په لوښو کي (زموږ په نېز) زکاة (واجب) دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَجِبُ فِي حُلِيِّ النِّسَاءِ وَخَاتَمِ الْفِضَّةِ لِلرِّجَالِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ښځو په زېوراتو او د نارينه وو د سپينو زرو په ګوتمۍ کي زکاة واجب نه دی لِأَنَّهُ مُبْتَذَلٌ فِي مُبَاحٍ ځکه چي دا په مباح شي کي (يعني د ورځني استعمال په شي کي) مصرفيږي فَشَابَهَ ثِيَابَ الْبِذْلَةِ نو دا د ورځني استعمال د کالو سره مشابه سول وَلَنَا أَنَّ السَّبَبَ مَالٌ نَامٍ او زموږ دليل دا دی چي (د زکاة د وجوب) سبب زياتېدونکی (وده کونکی) مال دی وَدَلِيلُ النَّمَاءِ مَوْجُودٌ او (په دې شيانو کي) د زياتېدلو دليل سته وَهُوَ الْإِعْدَادُ لِلتِّجَارَةِ خِلْقَةً او هغه په پيدايشي (او فطري) توګه سره د تجارت لپاره تيارېدل دي وَالدَّلِيلُ هُوَ الْمُعْتَبَرُ او دليل معتبر دی بِخِلَافِ الثِّيَابِ په خلاف د کالو (چي هغه په پيدايشي توګه د تجارت لپاره نه تيارېږي).

اللغات: ﴿تبر﴾ هغه سره او سپين زر چي په غالب کي نه وي جوړ سوي، د سرو او سپينو زرو ټوکره (ټوټه). ﴿حلي﴾ زېورات، پسول، يعني د سرو او سپينو زرو د ښکلا شيان لکه غاړه کی، غوږوالي (ګانه) او داسي نور، په غالب کي جوړ سوي سره او سپين زر، جواهر ﴿أواني﴾ جمع د آنيةٌ ده: لوښی، ﴿ثياب البذلة﴾ د ورځني استعمال کالي (جامې). ﴿نماء﴾ وده کول، زياتېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي د تبر معنیٰ ده: د سرو او سپينو زرو هغه ټوکرې چي په غالب او سلنچه کي نه وي جوړي سوي (يعني هغه ټوټې چي تر اوسه کارول سوي نه وي)، او د حلي معنیٰ ده: د سرو او د سپينو زرو هغه زېورات چي ښځي يې د ښکلا لپاره اغوندي، او کاروي يې. (بنايه ج۳، ص: ۴۴)

صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز په هر بول تبر او هر بول حُلي کي زکاة واجب دی، همدارنګه د سرو او سپينو زرو په لوښو کي هم زکاة واجب دی، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د ښځو په زېوراتو او د خلکو د سپينو زرو په ګوتميانو کي زکاة واجب نه دی، د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله هم دغه قول دی. (بنايه)

د امام شافعي او نورو دليل: دا دی چې د ښځو لپاره زېورات او د خلکو لپاره د سپينو زرو کوتمياني مباح او جائز دي، او کوم شی چې مباح او د استعمال لپاره جائز وي، په هغه کې زکاة نه واجبيږي، نو په دې شيانو کې به هم زکاة واجب نه وي، او لکه څرنګه چې د ورځني استعمال کالي (جامې) او د کور او کسب کالي مباحُ الاستعمال دي، او په هغو کې زکاة واجب نه دی، همدارنګه به په زېوراتو او کوتميانو کې هم زکاة واجب نه وي.

زموږ دليل: صاحب د هدايې زموږ عقلي دليل ذکر کړی دی، ليکن نقلي دليل يې ذکر کړی نه دی، خو تاسو اول په دليل عقلي ځان پوه کړئ، بيا به انشاء الله نقلي دليل ذکر کړو، د عقلي دليل حاصل دا دی چې د زکاة د واجبېدلو سبب مال نامي کېدل دي، او په سرو او سپينو زرو کې او د دوی په زېوراتو کې نماء سته، ځکه چې په پيدايشي او فطري توګه دا شيان د تجارت لپاره آماده کيږي، او څرنګه چې د سرو او سپينو په زېوراتو کې تجارت کيږي، همدارنګه د دوی په ټوکرو او ټوټو کې (چې له هغو څخه تر اوسه يو شی جوړ سوی نه وي) هم تجارت کيږي، او تجارت د نماء غوره ذريعه ده، نو کله چې په دوی کې د زکاة د واجبېدلو سبب يعني نماء سته، نو بيا به په دوی کې زکاة هم واجبيږي.

بخلاف الثياب الخ فرمايي: امام شافعي رَحِمَهُ الله چې پر ثياب (کالو) باندې د زېوراتو کوم قياس کړی دی، هغه صحيح نه دی، ځکه د استعمال کالي خو نه په پيدايشي او فطري توګه سره د تجارت لپاره تياريږي، او نه انسان د استعمالونکو کالو د رانيولو په وخت کې د تجارت نيت کوي، د دې په خلاف د سرو او سپينو زرو زېورات په شروع او وروسته دواړو کې د تجارت لپاره تياريږي (هغه که د تجارت نيت پکښې وسي، او که پکښې ونه سي)، نو پر غيرِ تجارتي مال د تجارتي مال قياسول صحيح نه دي.

زموږ له طرفه د نقلي دليل لپاره صاحب د بنايې دا حديث ذکر کړی دی: عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده أن امرأة أتت النبي ﷺ و معها ابنة لها وفي يد إبنتها مسكتان غليظتان من ذهب، فقال أتعطين زكاة هذا، قالت لا قال أيسرك أن يسورك الله بهما سوارين من النار فخلعتهما وألقتهما إلى النبي ﷺ، وقالت هما لله و لرسوله [بنايه ج ٣، ص: ٧٣٣، فتح القدير ج ٢٠].

(يعني يوه ښځه نبي ﷺ ته راغله او د هغې سره خپله لور هم وه، او د لور سره يې دوې پنډې کړې (يعني بنګړي) ول، نبي ﷺ وفرمايل: آيا ته د دې زکاة ورکوې، هغې ورېل چې نه!، نبي ﷺ وفرمايل: آيا تا ته دا ښه معلوميږي چې الله د قيامت په ورځ د دې په بدله کې تا ته دأور دوه بنګړيان در واغوندي، نو هغې کړې (د لور له لاس) څخه وکښلې او د نبي کريم ﷺ مخته يې وغورځولې، او ويې ويل چې دا دواړه د الله او د هغه د رسول لپاره دي)، له دې روايت څخه په ډاګه ښکاره کيږي چې د ښځو په زېوراتو کې هم زکاة واجب دی.



فَصْلٌ فِي الْعُرُوْضِ

(دا) فصل د دنياوي سامان (د زکاة په بيان کي) دی

تشريح: ښکاره دې وي چې عُرُوض د عُرَض جمع هم راځي، او د عَرَض جمع هم راځي، د عُرَض معنیٰ ده: قيمتي او د لوړې درجې سامان. او د عَرَض معنیٰ ده: دنياوي سامان. (بنايه ج: ۳، ص: ۴۲۷)

له سرو اسپينو زرو څخه ماسوا په نور سامان کي د زکاة حکم

الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ د تجارت په سامان کي زکاة واجب دی كَائِنَةً مَا كَانَتْ هغه که هر ډول سامان وي إِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنَ الْوَرِقِ أَوِ الذَّهَبِ په دې شرط چې د هغه قيمت د سپينو زرو يا سرو زرو نصاب ته ورسيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] فِيهَا ځکه د تجارتي سامان په باره کي نبي ﷺ فرمايلي دي يُقَوِّمُهَا فَيُؤَدِّي مِنْ كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةَ دَرَاهِمَ "چې د سامان مالک به د سامان قيمت لګوي بيا به له هرو دوو سوو درهمو څخه پنځه درهمه اداء کوي" وَلِأَنَّهَا مُعَدَّةٌ لِلِاسْتِنْمَاءِ بِإِعْدَادِ الْعَبْدِ او په دې وجه (هم) چې دا سامان د انسان په تيارولو سره د نما (زياتېدلو) لپاره تيار سوی دی فَأَشْبَهَ الْمُعَدَّ بِإِعْدَادِ الشَّرْعِ نو دا د هغه شي سره مشابه سو کوم چې د شريعت په تيارولو سره تيار سوی وي وَيُشْتَرَطُ نِيَّةُ التِّجَارَةِ لِيَثْبُتَ الْإِعْدَادُ او د تجارت نيت شرط دی چې (د نما لپاره) تيارول ثابت سي.

اللغات: ﴿المعدة﴾ د افعال د باب اسم مفعول دی: تيار سوی، ﴿إستنماء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: وده کول، زياتېدل، وده غوښتل.

تشريح: مسئله: دا ده چې د تجارت سامان که هر ډول هم وي په هغه کي زکاة واجب دی، په دې شرط چې د هغه قيمت د سپينو يا سرو زرو نصاب ته ورسيږي، دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: د تجارتي سامان قيمت ولګوئ (يعني د قيمت اندازه يې معلومه کړئ)، او په هرو دوو سوو درهمو کي پنځه درهمه د زکاة اداء کړئ. او له سمره بن جندب ﷛ څخه روايت دی: أن رسول الله ﷺ كان يأمرنا أن نخرج الصدقة من الذي يعد للبيع. (يعني نبي کريم ﷺ به موږ ته حکم کوی چې موږ د هغو شيانو زکاة وباسو چې هغه د خرڅلاو لپاره تيار ږدي)، دويم دليل دا دی چې په سامان کي په تجارتي نيت کولو سره هغه سامان هم مالِ نامي (يعني وده کونکی مال) جوړيږي. او څرنګه چې په مالِ نامي کي زکاة واجب دی، نو په تجارتي سامان کي به هم زکاة واجب وي. لکه څرنګه چې په سپينو او سرو زرو کي (هم) زکاة واجب دی، ځکه چې دا د شريعت له طرفه مالِ نامي دی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الزكاة، باب العروض إذا كانت للتجارة، حديث رقم: ۱۵۶۲.

ويشترط نية التجارة الخ صاحب د هدايې فرمايي چې په سامان کې د زکاة د واجبېدلو لپاره د رانيولو په وخت کې د تجارت نيت کول شرط او ضروري دي، ځکه فقط د تجارت په نيت سره سامان تجارتي کيږي، او په هغه کې نماء ثابتيږي، نو که د رانيولو په وخت کې په هغه کې د تجارت نيت وسي، نو بيا به په هغه کې زکاة واجب وي، کنې واجب به نه وي، او که د رانيولو تر وخت وروسته د تجارت نيت وسي، نو هغه به بالکل معتبر نه وي، ځکه ضروري دا ده چې نيت به د رانيولو سره متصل (او جوخت) وي. (بنايه)

سامان به په کوم قيمت سره اندازه کيږي؟

ثُمَّ قَالَ بيا امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي يُقَوِّمُهَا بِمَا هُوَ أَنْفَعُ لِلْمَسَاكِيْنِ (چې) د مال څښتن به د سامان قيمت په داسې شي سره لګوي چې هغه د مسکينانو لپاره زيات ګټمن وي اِحْتِيَاطًا لِحَقِّ الْفُقَرَاءِ د احتياط په توګه د فقيرانو د حق په وجه (يعني دا حکم د فقيرانو د حق په وجه پر احتياط مبني دی) قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : وَهٰذَا رِوَايَةٌ عَنْ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی وَفِي الْأَصْلِ خَيَّرَهُ او په مبسوط کې يې د سامان څښتن ته اختيار ورکړی دی لِأَنَّ الثَّمَنَيْنِ فِيْ تَقْدِيْرِ قِيَمِ الْأَشْيَاءِ بِهِمَا سَوَاءٌ ځکه چې د شيانو د قيمت په اندازه کولو کې دواړه ثمنونه برابر دي وَتَفْسِيْرُ الْأَنْفَعِ أَنْ يُقَوِّمَهَا بِمَا يَبْلُغُ نِصَابًا او د أنفع تفسير دا دی چې د قيمت اندازه دې په داسې ثمن (او نغدو) سره ولګوي چې هغه د زکاة تر نصابه پوري رسيږي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُ يُقَوِّمُهَا بِمَا اشْتَرٰى او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې په کوم ثمن سره يې سامان رانيولی وي په هغه سره دې قيمت ولګوي إِنْ كَانَ الثَّمَنُ مِنَ النُّقُوْدِ په دې شرط که ثمن له نقودو (نغدو) څخه وي لِأَنَّهُ أَبْلَغُ فِيْ مَعْرِفَةِ الْمَالِيَّةِ ځکه چې دا د ماليت (قيمت) په پېژندلو کې زيات آسانه دي وَإِنِ اشْتَرَاهَا بِغَيْرِ النُّقُوْدِ او که سامان يې له نقودو څخه بغير (په بل شي سره) رانيولی وي قَوَّمَهَا بِالنَّقْدِ الْغَالِبِ نو کوم نقد چې (په ښار کې) زيات چليږي په هغه سره دې د هغه قيمت ولګوي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يُقَوِّمُهَا بِالنَّقْدِ الْغَالِبِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله روايت دی چې په هر حال کې به په زيات چلېدونکي نقد سره قيمت لګوي كَمَا فِي الْمَغْصُوْبِ وَالْمُسْتَهْلَكِ لکه په غصب سوي او هلاک سوي مال کې چې لګيږي.

تشريح: په تېره مسئله کې وويل سو چې په تجارتي سامان کې د زکاة د واجبېدلو لپاره دا ضروري ده چې د هغه قيمت به د سپينو زرو نصاب ته رسيږي، يا به د سرو زرو نصاب ته رسيږي، لېکن اوس سوال دا دی چې د قيمت اندازه به په سپينو زرو يعني په درهمونو سره لګوي، او که په سرو زرو يعني په دينارونو سره لګوي، نو په دې باره کې له حنفي فقهاؤ څخه څلور قولونه را نقل سوي دي: (۱) اول قول کوم چې له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه هم په أمالي کې يو

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:۲، ص: ۱۶۷، و قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: يقومها بما هو أنفع للمساكين أحد الاقوال في التقويم إلى أن قال ووجهه ما ذكره بقوله احتياطاً لحق الفقراء فانه لا بدّ من مراعاته عناية ج:۲، ص: ۱۶۷. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۷۲]

روايت دی، دا دی چې د سامان د قيمت اندازه دې په دوو نغدو (يعني په سرو او سپينو زرو) کې په هغه سره وکړې چې په هغه کې د فقيرانو او مسکينانو لپاره ګټه وي، د مثال په توګه د يو چا سره د تجارت يو سامان دی چې د هغه قيمت دوه سوه درهمه کيږي، ليکن شل مثقاله نه کيږي، نو دا سامان دې په درهمو سره اندازه کړي، او که سپين زر په نرخ کې ګران وي، او سره زر ارزانه وي، او هغه سامان خو د شلو مثقالو و قيمت ته رسيږي، ليکن د دوو سوو درهمو و قيمت ته نه رسيږي، نو د سامان د قيمت اندازه دې په مثقالونو سره وکړي، نه په درهمونو سره، دا روايت د فقيرانو او مسکينانو د حق په وجه پر احتياط مبني دی، يعني احتياطاً به د فقيرانو د رعايت په خاطر داسې کيږي. (۲) دويم قول کوم چې په مبسوط کې ذکر دی، دا دی چې مالک ته اختيار دی، که غواړي نو په درهمونو سره دې يې اندازه کړي، او که غواړي نو په دينارونو سره دې يې اندازه کړي، د دې قول دليل دا دی چې په سامان کې ځکه قيمت اندازه کول کيږي چې د ماليت او قيمت مقدار معلوم کړی سي، او په دې مقصد کې درهم او دينار دواړه برابر دي، نو ځکه به يو ته پر بل ترجيح نه وي.

(۳) دريم قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، او دا قول د امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دی، دوی فرمايي: د سامان مالک چې سامان له نغدو (يعني له سپينو او سرو زرو) څخه د کومو نغدو په بدله کې رانيولی وي، په هغه سره دې قيمت اندازه کړي، يعني که يې د درهم په عوض کې رانيولی وي، نو په درهمو سره دې د هغه قيمت اندازه کړي، او که د دنانيرو په عوض کې يې رانيولی وي، نو په دنانيرو سره دې يې اندازه کړي، او که د بل شي په عوض کې رانيولی وي، نو له درهمو او دنانيرو څخه چې د کوم رواج او چلاو زيات وي، په هغه سره دې يې اندازه کړي، د دې قول دليل دا دی چې د کومو نغدو په عوض سامان رانيول سوی وي، په هغه سره د قيمت پېژندنه آسانه کيږي، ځکه چې يو وار په دې نغدو نغره د دې سامان قيمت معلوم سوی وي، نو په دويم وار اندازه کولو کې يې هيڅ تکليف نه وي. (۴) څلورم قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، هغه فرمايي چې په هر حال کې به په هغه نغدو سره د قيمت اندازه کوي چې د هغو چلاو زيات وي، د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د الله تعالی په حق کې د قيمت اندازه کول به د بنده په حق کې د قيمت پر اندازه کولو قياسيږي، او د بندګانو په حق کې په نقد غالب يعني په هغو نغدو قيمت اندازه کيږي چې په ښار کې يې چلاو زيات وي، د مثال په توګه که يو چا يو شی غصب کړی، او هغه شی له ذواتُ القيم (يعني د قيمت لرونکو شيانو) څخه وو، ليکن هغه له غاصب څخه ضايع سو، نو پر غاصب به د هغه قيمت واجب وي، او د دې شي د قيمت اندازه به په هغو نغدو سره کيږي چې د هغه چلاو زيات وي، همدارنګه که يو چا يو سامان هلاک کړی او هغه له ذواتُ القيم څخه وو، نو پر هلاکونکي به د قيمت ضمان واجب وي، او د قيمت اندازه به په هغو نغدو سره کوي چې د هغه چلاو زيات وي، نو څرنګه چې په حقوقُ العباد کې د قيمتونو اندازه په نقد غالب سره کيږي، همدارنګه به په حقوقُ الله يعني په زکاة لو نورو کې هم د قيمتونو اندازه په نقد غالب سره کيږي.

که د کال په اطرافو کې نصاب پوره وي نو د کال په مينځ کې به د تاوان اعتبار نه کيږي

وَإِذَا كَانَ النِّصَابُ كَامِلًا فِي طَرَفَيِ الْحَوْلِ او که د کال په دواړو طرفونو کې نصاب پوره وي **فَنُقْصَانُهُ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ لَا يُسْقِطُ الزَّكَاةَ** نو د کال په مينځ کې د هغه (نصاب) نقصان زکاة نه ساقطوي **لِأَنَّهُ يَشُقُّ اعْتِبَارُ الْكَمَالِ فِي أَثْنَائِهِ** ځکه چې د کال په مينځ کې (د نصاب) د پوره والي اعتبار کول ستونزمن دي **أَمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ فِي ابْتِدَائِهِ** هو! د کال په شروع کې (د نصاب) پوره والی ضروري دی **لِلِانْعِقَادِ وَتَحَقُّقِ الْغِنَاءِ** د زکاة د منعقد کېدلو لپاره او د مالدارۍ د ثبوت لپاره **وَفِي**

إِنْتِهَائِهِ لِلْوُجُوبِ او د کال په آخر کي د زکاة د واجبېدلو لپاره (د نصاب پوره والی ضروري دی) وَلَا كَذٰلِكَ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ لېکن د کال په مينځ کي داسي نه ده (يعني د نصاب پوره والی ضروري نه دی) لِأَنَّهُ حَالَةُ الْبَقَاءِ ځکه د کال مينځ د بقاء حالت دی بِخِلَافِ مَا لَوْ هَلَكَ الْكُلُّ حَيْثُ يَبْطُلُ حُكْمُ الْحَوْلِ په خلاف د هغه صورت چي کله ټوله مال هلاک سي ځکه چي په هغه وخت کي به د کال حکم باطليږي وَلَا تَجِبُ الزَّكَاةُ او زکاة به نه واجبيږي لِإِنْعِدَامِ النِّصَابِ فِي الْجُمْلَةِ ځکه چي په بشپړه توګه نصاب معلوم سو وَلَا كَذٰلِكَ فِي الْمَسْأَلَةِ الْأُولٰى او په اوله مسئله کي داسي نه ده لِأَنَّ بَعْضَ النِّصَابِ بَاقٍ ځکه چي بعضي نصاب (لا) پاته دی فَبَقِيَ الْإِنْعِقَادُ نو منعقد کېدل به (يعني د زکاة وجوب به) هم پاته وي.

اللغات: ﴿طرف﴾ اړخ، طرف (د لته له طرفين څخه مراد د کال اول او آخري سر دی)، ﴿يَشُقُّ﴾ سختېدل، بوجېدل، ستونزمن کېدل، ﴿أثناء﴾ مينځ، دوران.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د کال په شروع او آخر کي د نصاب څښتن وي، او د کال په مينځ کي د هغه نصاب يو څه نقصان وکړي او تر نصاب کم سي، نو پر هغه به زکاة واجب وي، او د کال په مينځ کي به د نصاب په کمېدلو سره د زکاة پر وجوب هيڅ اغېزه نه پرېوځي، ځکه له اوله څخه تر آخره پوري نصاب پوره پاته کېدل مشکل دي، ځکه چي مال کله زياتيږي، او کله کميږي، هو! خو د کال په شروع کي د نصاب پوره کېدل ضروري دي، چي د زکاة د واجبېدلو سبب منعقد سي، او د مال د څښتن مالداري ثابته سي، همدارنګه د کال په آخر کي هم د ټوله نصاب پاته کېدل ضروري دي، چي د زکاة وجوب ثابت سي، او څرنګه چي د کال په مينځ کي نه د سبب د منعقد کېدلو ضرورت سته، او نه د زکاة د واجبېدلو، نو ځکه به د کال په مينځ کي د ټوله نصاب پاته کېدل ضروري نه وي، او که فقط بعضي نصاب پاته وي، نو هغه به د زکاة د وجوب لپاره کافي وي.

بخلاف ما لو هلك الخ د دې حاصل دا دی چي د نصاب نقصان خو زکاة نه ساقطوي، خو که د کال په مينځ کي ټوله نصاب هلاک سي، نو په دې صورت کي بيا زکاة ساقطيږي، ځکه چي د زکاة د وجوب لپاره حولانِ حول شرط دی، او د کال په مينځ کي د نصاب هلاکېدلو په وجه دا شرط فوتيږي، نو ځکه به مشروط يعني زکاة هم ساقطيږي، ځکه قاعده دا ده: إذا فات الشرط فات المشروط. او په اوله مسئله کي دا صورت نسته، يعني چي کله نصاب نقصان وکړي او بعضي نصاب کم سي په هغه کي دا صورت نسته، يعني څرنګه چي په هغه کي د نصاب څه حصه پاتيږي، نو ځکه به هلته حولانِ حول معتبر وي، او د زکاة د وجوب سبب به هم ثابت پاته وي، ځکه چي کله يو وار (د کال په شروع کي) پر نصاب د وجوب سبب ثابت سي، نو تر کومه وخته چي د نصاب يو جزء هم پاته وي، تر هغه وخته به د نصاب د وجوب سبب پاته وي. (كفايه)

د سامان او د سرو او سپينو زرو د قيمتونو د يو ځای کولو بيان

قَالَ: وَتُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ إِلَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فرمايي: (د تجارتي) سامان قيمت به د سرو او سپينو زرو سره يو ځای کيږي حَتّٰى يَتِمَّ النِّصَابُ تر دې چي نصاب پوره سي لِأَنَّ الْوُجُوبَ فِي الْكُلِّ بِاعْتِبَارِ التِّجَارَةِ ځکه چي په ټولو کي د زکاة وجوب د تجارت په اعتبار سره دی وَإِنِ افْتَرَقَتْ جِهَةُ الْإِعْدَادِ که څه هم (د نما او د زياتېدلو لپاره يې) د تيارولو جهت جلا جلا دی.

اللغات: ﴿تُضَمُّ﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: ديو شي سره بل شى يو ځاى كول (ضمول)، ﴿اَلْمُتَوَلَّث﴾ د افتعال د باب ماضي معلومه ده: جلا كېدل.

تشريح: مسئله: دا ده كه ديو چا په ملكيت كي تجارتي سامان د نصاب په اندازه نه وي، ليکن د هغه سره يو څه سره او سپين زر وي، نو د نصاب پوره كولو لپاره به د تجارتي سامان قيمت د سرو او سپينو زرو سره يو ځاى كيږي، د مثال په توګه ديو چا سره پنځوس درهمه سپين زر هم وي، او ديونيم سلو (۱۵۰) درهمو تجارتي سامان هم ور سره وي، نو پر هغه به د دوو سوو درهمو زكاة واجب وي، يا د مثال په توګه د يو چا سره اته (۸) مثقاله سره زر هم وي، او د دوولسو مثقالو په قيمت تجارتي سامان هم ور سره وي، نو پر هغه به د شلو مثقالو زكاة واجب وي، دا حكم بالاجماع دى. دليل: دا دى چي په هر شي كي د زكاة د واجبېدلو سبب د نامي نصاب مالک كېدل دي، او نماء د تجارت په سامان كي هم سته، او په سپينو او سرو زرو كي هم سته، كه څه هم د نماء جهت يې مختلف دى، ځكه په سامان كي نماء د تجارت په وجه راځي، او تجارت بندګانو شروع كړى دى، او په سپينو او سرو زرو كي نماء د الله له طرفه پيدا كيږي، ځكه چي الله تعالىٰ دوى د تجارت لپاره پيدا كړي دي، نو كه څه هم په سامان او سرو او سپينو زرو كي د نماء سبب مختلف دى، خو په نماء كي يو د بل سره برابر دي، نو ځكه به د تجارتي سامان قيمت د سرو او سپينو زرو سره يو ځاى كيږي، او زكاة به واجبيږي.

د سرو زرو سره د سپينو زرو د يو ځاى كولو بيان

وَيُضَمُّ الذَّهَبُ إِلَى الْفِضَّةِ او سره زر به د سپينو زرو سره يو ځاى كيږي لِلْمُجَانَسَةِ مِنْ حَيْثُ الثَّمَنِيَّةُ ځكه چي په ثمن كېدلو كي دواړه له يوه جنس څخه دي وَمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ صَارَ سَبَبًا او د ثمن كېدلو په وجه هغه (د زكاة) سبب سو ثُمَّ يُضَمُّ بِالْقِيمَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بيا به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د قيمت په ذريعه سره يو ځاى كيږي وَعِنْدَهُمَا بِالْأَجْزَاءِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به د اجزاؤ په ذريعه سره وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْهُ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه (هم) يو روايت دى حَتَّى أَنَّ مَنْ كَانَ لَهُ مِائَةُ دِرْهَمٍ وَخَمْسَةُ مَثَاقِيلَ ذَهَبٍ تر دې كه ديو چا سره سل درهمه وي او پنځه مثقاله سره زر وي تَبْلُغُ قِيمَتُهَا مِائَةَ دِرْهَمٍ چي د هغو پنځو مثقالو سرو زرو قيمت سلو درهمو ته رسيږي فَعَلَيْهِ الزَّكَاةُ عِنْدَهُ● نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه زكاة واجب دى خِلَافًا لَهُمَا د صاحبينو اختلاف دى هُمَا يَقُولَانِ: الْمُعْتَبَرُ فِيهِمَا الْقَدْرُ دُونَ الْقِيمَةِ صاحبين فرمايي: چي په سرو او سپينو زرو كي وزن معتبر دى، نه قيمت حَتَّى لَا تَجِبَ الزَّكَاةُ فِي مَصْنُوعٍ وَزْنُهُ أَقَلُّ مِنْ مِائَتَيْنِ تر دې چي په داسي جوړ سوي لوښي كي به زكاة واجب نه وي چي د هغه وزن له دوو سوو درهمو څخه كم وي وَقِيمَتُهُ فَوْقَهَا او قيمت يې له دوو سوو درهمو څخه زيات وي هُوَ يَقُولُ: إِنَّ الضَّمَّ لِلْمُجَانَسَةِ امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چي يو ځاى كول د يوه جنس كېدلو په وجه دي وَهِيَ تَتَحَقَّقُ بِاعْتِبَارِ الْقِيمَةِ دُونَ الصُّورَةِ او هغه د قيمت په اعتبار سره ثابتيږي نه د صورت په اعتبار سره فَيُضَمُّ بِهَا نو د قيمت سره به يو ځاى كيږي.

● القول الراجح: هو هٰذا قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في البحر الرائق ج:۲، ص: ۲۳۰، قال الاستاذ المفتي غلام قادر النعماني: أفتى الفقهاء على قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله والفتوىٰ على قوله، لأن الأصل في العبادات الفتوىٰ على قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لكن قولهما أوفق للقياس. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۷۲]

اللغات: ﴿المجانسة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو شی د بل شي سره هم جنسه کېدل، يعني له يوه جنسه کېدل، ﴿القيمة﴾ ماليت، قيمت. ﴿المصنوع﴾ د فتح د باب اسم مفعول دی: هغه شی چي کار پکښې سوي وي، جوړ کړی سوی شي (مثلاً يو لوښی او داسي نور).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ديو چا سره نه د سرو زرو پوره نصاب وي، او نه د سپينو زرو پوره نصاب وي، لېکن دواړه دومره ور سره وي چي که يو ځای کړی سي، يو نصاب پوره کيږي، نو په دې صورت کي به د احنافو او امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز يو د بل سره يو ځای کيږي، او زکاة به پکښې واجبيږي، په دې شرط چي تر يو ځای کولو وروسته د نصاب مقدار ته ورسيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي سره او سپين زر به يو د بل سره نه يو ځای کيږي، نو کله چي نه يو ځای کيږي، نو د نصاب د نه پوره کېدلو په وجه به زکاة هم نه واجبيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي سره زر او سپين زر دواړه مختلف جنسونه دي، حقيقتاً هم او حکماً هم، لکه څرنګه چي اوښ او بزه دواړه مختلف جنسونه دي، حقيقةً مختلف والی خو ښکاره دي چي د دواړو نومونه او حقيقت يو له بل څخه جلا جلا دي، او حکماً مختلف والی په دې وجه دی چي سره او سپين زر يو د بل په عوض کي په تفاضل سره او په کمي او زياتوب سره خرڅول جائز دي، حال دا چي د جنس د اتحاد په صورت کي تفاضل حرام دی، نو کله چي په سرو او سپينو زرو کي مجانست نسته، نو څکه به يو د بل سره نه يو ځای کيږي. (بنايه ج: ۳، ص: ۴۵۴)

زموږ دليل: دا دی چي په سرو او سپينو زرو کي که څه هم د ذات په اعتبار سره اتحاد نسته، لېکن د ثمنيت (قيمت) د وصف په اعتبار سره اتحاد سته، او همدا د ثمنيت وصف د زکاة د وجوب سبب دی، نو کله چي د زکاة د وجوب په سبب يعني د ثمنيت په وصف کي اتحاد سته، نو ګواکي دواړه د ثمنيت په اعتبار سره هَمْ جنسه دي، او کله چي دواړه هم جنسه دي، نو څکه به د زکاة د واجبولو لپاره يو د بل سره يو ځای کول واجب وي، زموږ تائيد د عبد الله بن الاشج په روايت سره هم کيږي، روايت دا دی: مضت السنة من أصحاب رسول الله ﷺ في ضم الذهب إلى الفضة والفضة إلى الذهب في إخراج الزكاة. (يعني د زکاة د را ايستلو په لړ کي به د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم دا طريقه وه چي هغوی به سره زر د سپينو زرو سره او سپين زر به يې د سرو زرو سره يو ځای کول).

ثم يضم بالقيمة الخ اوس پاته سوه دا خبره چي دا يو ځای کول به د قيمت په اعتبار سره وي، او که د اجزاؤ په اعتبار سره، نو په دې باره کي اختلاف دی، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز به د قيمت په اعتبار سره يو ځای کيږي، همدا يو روايت د امام احمد رَحِمَهُ الله دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د اجزاؤ په اعتبار سره يو ځای کيږي، همدا يو روايت د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، او دا قول د امام مالک رَحِمَهُ الله هم دی، او يو روايت د امام احمد رَحِمَهُ الله هم دی.

ثمره د اختلاف: حتى أن الخ له دې ځايه ثمره د اختلاف بيانوي، د اختلاف ثمره په دې مثال کي ښکاره کيږي چي مثلاً د يوه سړي سره سل (۱۰۰) درهمه سپين زر دي، او پنځه مثقاله سره زر دي، او د پنځو مثقالو سرو زرو قيمت سلو درهمو ته رسيږي، نو په دې صورت کي به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز زکاة واجب وي، څکه چي د قيمت په اعتبار سره نصاب پوره کيږي، او څرنګه چي د اجزاؤ په اعتبار سره نصاب نه پوره کيږي، نو څکه به د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز زکاة هم نه واجبيږي، او که ديو چا سره لس مثقاله سره زر وي، او سل درهمه سپين زر وي، يا د يوه دريمه حصه ورسره وي، او د بل دوې دريمې حصې ور سره وي، نو په دې صورتونو کي به بالاتفاق يو ځای کيږي، او زکاة به واجبيږي.

هما يقولان الخ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې په سرو او سپينو زرو کې وزن معتبر دی، نه قيمت، تر دې که د يو چا سره د سپينو زرو يو لوښی يا زيور وي، او د هغه وزن تر دوو سوو درهمو کم وي، ليکن قيمت يې تر دوو سوو درهمو زيات وي، نو په دې صورت کې به بالاتفاق زکاة نه واجبيږي، له دې څخه معلومه سوه چې اعتبار به د وزن کيږي، نه د قيمت، نو که دوزن په اعتبار سره نصاب پوره کيدی، نو زکاة به واجبيږي، کنې نه به واجبيږي.

هو يقول الخ امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله فرمايي چې يو ځای کول په دې وجه دي چې دواړه له يو جنسه دي، او له يوه جنسه کيدل د قيمت په اعتبار سره متحقق کيږي، نه د صورت په اعتبار سره، نو ځکه به يو ځای کول(هم) د قيمت په اعتبار سره وي، نه د صورت په اعتبار سره، او څرنګه چې د اجزاؤ اعتبار د صورت اعتبار دی، نو د صورت په اعتبار سره به نه يوځای کول د اجزاؤ په اعتبار سره نه يو ځای کول وي، نو ثابته سوه چې د يوځای کولو لپاره به د اجزاؤ اعتبار نه کيږي، بلکې د قيمت اعتبار به کيږي. والله أعلم علمه أتم

بَابٌ فِيْمَنْ يَمُرُّ عَلَى الْعَاشِرِ

(دا) باب د هغه چا په بيان کې دی چې د عاشر سره (يعني د عاشر مخته) تيريږي

تشريح: صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې تر زکاةُ الاموال وروسته د دې باب د بيانولو وجه دا ده چې په مبسوط او جامع صغير کې هم دا باب تر زکاةُ الاموال وروسته ذکر سوی دی، نو ځکه صاحب د هدايې د هغو په اقتداء کې دا باب دلته بيانوي.

عاشر له عشر(ضَرَبَ) څخه د اسم فاعل صيغه ده، معنیٰ يې ده: د لسمي حصې اخيستونکی، او اصطلاحي تعريف يې هغه دی کوم چې په کتاب کې ذکر سوی دی، يعني: من نصبه الإمام على الطريق ليأخذ الصدقات من التجار (يعني کوم شوک چې امام له تاجرانو څخه د زکاة اخيستلو لپاره پر لارې ودروي هغه ته عاشر ويل کيږي)، ليکن پر دې تعريف دا اعتراض کيدای سي چې عاشر خو له کافرانو او ذميانو څخه هم ټيکس (محصول) اخلي، حال دا چې ټيکس صدقه او زکاة نه دی، نو جواب دا دی چې عاشر خو په اصل کې ځکه درول کيږي چې زکاة او صدقات واخلي، ځکه چې په دې کې د عبادت پر اداء کولو د مسلمانانو سره مرسته کول دي، او له زکاة او صدقات څخه ماسوا ټول ه تابع دي، نو ځکه به صراحتاً د هغو د ذکر کولو هيڅ ضرورت نه وي.

د عاشر تعريف..... که تاجر د زکاة له وجوب څخه انکار وکړي نو څه حکم دی؟

إِذَا مَرَّ عَلَى الْعَاشِرِ بِمَالٍ کله چې (يو تاجر) د (خپل) مال سره د عاشر (عُشر اخيستونکي) سره تېر سي فَقَالَ: أَصَبْتُهُ مُنْذُ أَشْهُرٍ او (تاجر) ووايي: چې له يو څو مياشتو څخه ما دا مال حاصل کړی دی أَوْعَلَيَّ دَيْنٌ وَحَلَفَ صُدِّقَ يا پر ما پوري باندې دی او قسم وکړي نو د هغه تصديق به کيږي(يعني خبره به يې منل کيږي) وَالْعَاشِرُ مَنْ نَصَبَهُ الْإِمَامُ عَلَى

الطَّرِيْق او عاشر هغه سړی دی چې امام پر لارې درولی وي لِيَأْخُذَ الصَّدَقَاتِ مِنَ التُّجَّارِ چې له تاجرانو څخه زکاة واخلي فَمَنْ أَنْكَرَ مِنْهُمْ تَمَامَ الْحَوْلِ أَوِ الْفَرَاغَ مِنَ الدَّيْنِ نو که يو تاجر له کال پوره کېدلو يا له پور څخه د فارغېدلو انکار وکړي كَانَ مُنْكِرًا لِلْوُجُوْبِ نو هغه به د زکاة د وجوب منکر وي وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُنْكِرِ مَعَ الْيَمِيْنِ او قول د منکر به معتبر وي د قسم سره.

اللغات: ﴿عاشر﴾ هغه څوک دی چې په لاره کې د باچا له طرفه ولاړ وي، او له خلکو څخه زکاة اخلي ﴿عُشر﴾ لسمه برخه، ټيکس (ټکس)، ﴿أعبئة﴾ ما پيدا کړی، ما حاصل کړی، ما ته حاصل سو. ﴿دَين﴾ پور، ﴿حول﴾ کال.

تشريح: د باب په تشريح کې د عاشر تعريف او تفصيل تېر سو.

مسئله: دا ده که يو تاجر د عاشر مخته تېر سو او مال ور سره وو، او تاجر ووېل: "يوڅو مياشتې کېږي چې زه د دې مال مالک سوی يم، [يعني تر اوسه زما پر دې مال کال نه دی تېر سوی]، او له دې څخه علاوه زما سره بل داسې مال هم نسته چې پر هغه کال تېر سوی وي"، يا دې تاجر ووېل: "چې پر ما پور باندې دی". او پر دې خبرو يې قسم وخوړی، نو د هغه تصديق به کېږي، او عاشر به له هغه څخه زکاة نه اخلي، ځکه تاجر چې کله د کال تېرېدلو (حولان حول) انکار وکړي يا يې له دې څخه انکار وکړی چې له زه پور څخه فارغ نه يم (يعني زما په دې مال کې پور سته)، نو هغه پر ځان باندې د زکاة له واجبېدلو څخه منکر سو، او د منکر د قول اعتبار به هغه وخت کېږي چې مع اليمين (يعني د قسم سره) وي، نو ځکه به د دې تاجر قول مع اليمين معتبر وي، او زکاة به نه ځنې اخيستل کېږي.

فوائد: په دې باب کې چې چيرې د عُشر لفظ ذکر سوی وي، له هغه څخه هر ځای خاص لسمه حصه مراد نه ده، بلکې د عشر لفظ د لسمې حصې څخه ماسوا د شلمې حصې او د زکاة يعنې د څلوېښتمې حصې لپاره هم استعمالېږي. د دې تعيين به په قرائنو سره کېږي، نو که د عاشر مخته تېرېدونکی مسلمان وو، او د تجارت مال ور سره وو، نو له هغه څخه به څلوېښتمه حصه اخيستل کېږي، او که ذمي وو، نو شلمه حصه به ځنې اخيستل کېږي، او که حربي وو نو لسمه حصه به ځنې اخيستل کېږي، او پر دې ټولو به د عشر اطلاق کېږي.

که تاجر ووېل چې ما بل عاشر ته عُشر ورکړی نو څه حکم دی؟

وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَدَّيْتُهَا إِلَى عَاشِرٍ آخَرَ او همدارنګه چې کله هغه (تاجر) ووايي: ما عُشر بل عاشر ته ورکړی (نو د هغه خبره به منل کېږي) وَمُرَادُهُ إِذَا كَانَ فِي تِلْكَ السَّنَةِ عَاشِرٌ آخَرُ د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد دا دی چې کله په دغه کال کې بل عاشر (هم) وي لِأَنَّهُ ادَّعَى وَضْعَ الْأَمَانَةِ مَوْضِعَهَا ځکه چې هغه پر خپل ځای د امانت د ايښولو دعوه کړې ده بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ عَاشِرٌ آخَرُ فِي تِلْكَ السَّنَةِ په خلاف د هغه صورت چې کله په دغه کال کې بل عاشر نه وي لِأَنَّهُ ظَهَرَ كِذْبُهُ بِيَقِيْنٍ ځکه چې په يقيني توګه سره د هغه درواغ ښکاره سوه.

اللغات: ﴿أديتها﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: اداء کول، ورکول، ﴿ادعى﴾ د افتعال د باب ماضي ده: دعوه کول، ﴿سَنَة﴾ کال.

تشريح: **مسئله:** دا ده که تاجر عاشر ته ووېل چې ما بل عاشر ته عُشر ورکړی دی، او په دې کال کې دويم عاشر هم وو، نو د هغه خبره به منل کېږي، ځکه چې هغه دا دعوه وکړه چې ما امانت پر خپل ځای مصرف کړی، لو امانت ساتونکی چې کله پر خپل ځای د امانت مصرفولو مُدعي وي، نو د قسم سره به د هغه خبره منل کېږي، هو! که په دې کال کې بل

دويم عاشر نه وو، نو د هغه قول به معتبر نه وي، ځکه چي په دې صورت کي په يقيني توګه معلومه سوه چي هغه په خپله دعوه کي درواغجن دی.

که تاجر وويل ما زکاة اداء کړی دی نو څه حکم دی؟

وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَدَّيْتُهَا أَنَا همدارنګه چي کله (د مال څښتن) ووايي: ما زکاة په خپله اداء کړی يَعْنِيْ إِلَى الْفُقَرَاءِ فِي الْمِصْرِ يعني د ښار پر فقيرانو (او غريبانو) ته (مي ورکړی) لِأَنَّ الْأَدَاءَ كَانَ مُفَوَّضًا إِلَيْهِ فِيْهِ ځکه چي اداء کول په ښار کي د مال څښتن ته سپارل سوي وي وَوِلَايَةُ الْأَخْذِ بِالْمُرُوْرِ او عاشر لره داخيستلو حق (د هغه مخته) د تېرېدلو په وجه دی لِدُخُوْلِهِ تَحْتَ الْحِمَايَةِ ځکه چي د مال څښتن (د عاشر) په حفاظت کي داخل سو وَكَذَا الْجَوَابُ فِي صَدَقَةِ السَّوَائِمِ فِي ثَلَاثَةِ فُصُوْلٍ او همدا حکم په درې سره وو صورتونو کي د سوائمو د زکاة په باره کي دی وَفِي الْفَصْلِ الرَّابِعِ وَهُوَ مَا إِذَا قَالَ: أَدَّيْتُ بِنَفْسِيْ إِلَى الْفُقَرَاءِ فِي الْمِصْرِ او په څلورم صورت کي او هغه دا دی چي د مال څښتن ووايي: ما په خپله په ښار کي فقيرانو ته زکاة ورکړی دی لَا يُصَدَّقُ (نو په دې څلوم صورت کي به) د هغه تصديق نه کيږي وَإِنْ حَلَفَ که څه هم قسم وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُصَدَّقُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تصديق به يې کيږي لِأَنَّهُ أَوْصَلَ الْحَقَّ إِلَى الْمُسْتَحِقِّ ځکه چي هغه تر حقداره پوري حق رسولی دی وَلَنَا أَنَّ حَقَّ الْأَخْذِ لِلسُّلْطَانِ او زموږ دليل دا دی چي د اخيستلو حق باچا لره دی فَلَا يَمْلِكُ إِبْطَالَهُ نو د مال څښتن به د هغه د باطلولو مالک نه وي بِخِلَافِ الْأَمْوَالِ الْبَاطِنَةِ په خلاف د باطني مالونو (يعني په خلاف د دراهمو او دنانيرو) ثُمَّ قِيْلَ: الزَّكَاةُ هُوَ الْأَوَّلُ وَالثَّانِيْ سِيَاسَةٌ بيا ويل سوي دي: چي زکاة اول دی او دويم زکاة د سياست په توګه دی وَقِيْلَ: هُوَ الثَّانِيْ وَالْأَوَّلُ يَنْقَلِبُ نَفْلًا او ويل سوي دي: چي زکاة دويم دی او اول به په نفلو بدليږي وَهُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح ده ثُمَّ فِيْمَا يُصَدَّقُ فِي السَّوَائِمِ وَأَمْوَالِ التِّجَارَةِ بيا چي په کومو صورتونو کي په سوائمو او په تجارتي مالونو کي د هغه د خبري تصديق کيږي لَمْ يَشْتَرِطْ إِخْرَاجَ الْبَرَاءَةِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ په هغه صورتونو کي امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي د برائت نامې (يعني د اداء کولو د رسيد) د را ايستلو شرط نه دي لګولی وَشَرَطَهُ فِي الْأَصْلِ او په مبسوط کي يې د هغه شرط لګولی دی وَهُوَ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او همدغه له امام صاحب رَحِمَهُ الله د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله روايت دی لِأَنَّهُ ادَّعٰى ځکه چي د مال څښتن (د زکاة اداء کولو) دعوىٰ کړې ده وَلِصِدْقِ دَعْوَاهُ عَلَامَةٌ او (برائت نامه) د دعوې د رښتياوالي لپاره يوه نښه ده فَيَجِبُ إِبْرَازُهَا نو ځکه به د هغې ښکاره کول واجب وي وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ الْخَطَّ يُشْبِهُ الْخَطَّ او د اول مسلک وجه دا ده چي يو خط د بل خط سره مشابه وي فَلَا يُعْتَبَرُ عَلَامَةً نو (د خط) نښه کېدل به معتبر نه وي.

اللغات: ﴿مصر﴾ ښار، ﴿المفوّض﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دی: سپارل سوی، ﴿المرور﴾ د نصر د باب مصدر دی: تېرېدل، ﴿حماية﴾ ساتنه، حفاظت، ﴿سوائم﴾ جمع د سائمةٌ ده: هغه څاروبان چي له کور څخه دباندي په بيابان او ځنګل کي وابنه خوري،

يعني ځرپلونکي څارويان. ﴿أَوْصَلَ﴾ د افعال د باب ماضي ده: رسول. ﴿الْبَرَاءَةُ﴾ د اداء كولو رسيد، عاشر د زكاة تر اخيستلو وروسته تاجر او د مال مالک ته يو رسيد او چيټۍ وركوي د دې لپاره چې بل عاشر له تاجر او مالک څخه دويم وار زكاة وانه خلي، دغه رسيد او چيټۍ ته (البراءة) يعني برائت نامه ويل كيږي.

تشريح: په دې عبارت كې ډيرې مسئلې بيان سوي دي، چي هغه به په ترتيب ستاسو مخته ذكر سي: (۱) اوله مسئله دا ده چي كه د مال خاوند يعني تاجرعاشر ته دا وويل چي ما په خپله فقيرانو ته په ښار كي زكاة وركړی، او پر دې خبره يې قسم هم وخوړی، نو د قسم سره به د هغه خبره منل كيږي، ځكه چي په ښار كي د مال خاوندان په خپله د زكاة وركولو مالكان دي، او په ښار كي شريعت هغو ته دا اختيار وركړی دی چي په خپله دې زكاة خپلو مصارفو ته وركړي، نو كه يو تاجر قسم وخوري او دا ډول خبره وكړي، نو د هغه خبره به منل كيږي، او د عاشر له ذمې څخه به د الله ﷻ حق ساقطيږي. صاحب د فتح القدير رَحِمَهُ الله ليكلي دي چي په دې ځای كي د في المصر قيد ځكه لګېدلی دی چي كه يو سړی له ښار څخه ووتی او د سفر په حالت كي يې زكاة اداء كړی، نو د عاشر د اخيستلو حق به نه ساقطيږي، ځكه چي په اموال باطنه وو يعني په دراهمو او دنانيرو كي مالكانو ته په ښار كي دننه د زكاة د اداء كولو ولايت سته، لېكن له ښار څخه دباندې هغو ته دا ولايت حاصل نسته، بلكي كله چي له ښار څخه ووځي، نو د هغو ولايت به د امامُ المسلمين يا د هغه د عاشر و طرف ته نقل كيږي، ځكه كله چي يو سړی له ښار څخه دباندي وځي، نو هغه د امامُ المسلمين په حمايت او حفاظت كي داخليږي.

وكذا الجواب الخ صاحب د هدايې فرمايي چي څرنګه د اموال باطنه وو په څلورو سره وو صورتونو كي د تاجر (او مالک) خبره د قسم سره منل كيږي، همدارنګه به د اموال ظاهره وو (سوائمو) په دريو صورتونو كي هم د هغه خبره منل كيږي، لېكن په يوه صورت كي به د هغه خبره نه كيږي، د اموال ظاهره وو چي په كومو دريو صورتونو كي به د مالک خبره منل كيږي هغه دا دي: (۱) كه د مال خاوند (مالک) دا وويل چي يو څو مياشتي كيږي چي زه د دې مال مالک سوی يم او پر دې مال كال تېر سوی نه دی (۲) پر ما دومره پور باندي دی چي ټوله مال يې نيولی دی (يعني دومره پور دی چي زما ټوله مال په پور كي ځي) (۳) ما بل عاشر ته زكاة وركړی دی، او په دې كال كي بل عاشر موجود هم وي. (۴) او په څلورم صورت كي به زموږ په نېز د هغه خبره نه منل كيږي، لېكن د شوافعو په نېز به په دې صورت كي هم د قسم سره د هغه خبره منل كيږي، څلورم صورت دا دی چي د مال خاوند قسم وخوري او عاشر ته ووايي چي ما په ښار كي فقيرانو ته د دې سوائمو زكاة وركړی دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چي زكاة د فقيرانو او غريبانو حق دی، او دا خبره منل سوې ده چي كله حقدار ته خپل حق ورسيږي، نو پر چا چي حق وي، هغه بري كيږي، او غاړه يې خلاصيږي، نو په پورتنۍ مسئله كي چي كله مالک په خپله فقيرانو ته د هغوی حق وركړی دی، نو شرعاً به هغه بري وي، او عاشر ته به له هغه څخه د دويم زكاة اخيستلو حق نه وي.

زموږ دليل: دا دی چي په ټولو مسئلو د يوه حكم جامه اغوستل صحيح نه دي، دا مسئله د سوائمو د زكاة ده، او د سوائمو د زكاة اخيستلو حق صرف او صرف امام يا د هغه ټاكل سوي عاشر لره سته، لكه څرنګه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾، او په حديث كي ذكر سوي دي: خذ من الإبل الإبل، نو كله چي د سوائمو اخيستلو حق صرف امام لره سته، نو ښكاره ده چي د مالک وركړل سوی زكاة به شرعاً معتبر نه وي، او امام ته به دوباره د زكاة اخيستلو حق وي، ځكه

چې د مالک د ورکړل سوي زکاة د معتبر منلو مطلب دا دی: د امام د اخیستلو حق باطلول، او مالک ته د امام د حق باطللو هيڅ اجازه نشته

بخلاف الأموال الباطنة الخ د دې په خلاف د اموال باطنه وو مسئله ده، نو څرنګه چې په هغو کې شريعت مالکان د امام او عاشر نائبان جوړ کړي دي، نو ځکه به په اموالِ باطنه وو کې د مالک ورکول سوی زکاة معتبر وي، او له هغه شخصه به دوباره زکاة نه اخیستل کیږي، همدا وجه ده چې موږ د اموالِ باطنه وو په ټولو صورتونو کې د مالک ورکول سوی زکاة معتبر منو.

ثم قيل الخ د دې حاصل دا دی چې کله د اموالِ ظاهره وو په څلورم صورت کې د مالک د اداء کړل سوي زکاة اعتبار نشته، او امام یا عاشر به له هغه شخصه دوباره زکاة اخلي، نو اوس خبره دا ده چې په دې دواړو کې به د مالک کوم یو زکاة اصل وي، يعني کوم زکاة ته به یې زکاة ویل کیږي، اول ورکول سوي زکاة ته، که دویم ورکول سوي زکاة ته کوم چې امام واخیستی، نو فرمايي چې په دې لړ کي دوه قولونه دي: (۱) اول قول دا دی چې کوم زکاة مالک په خپله اداء کړی دی، يعني اول زکاة به زکاة شمارل کیږي، او دويم (کوم چې امام واخیستی) هغه به د سیاستِ مدنیه په توګه وي، يعني د دې لپاره چې په دې سره نورو مالکانو ته عبرت حاصل سي چې بیا داسي ګام پورته نه کړي، د دې قول دلیل دا دی چې اول زکاة به ځکه اصل وي چې په اول زکاة کي هغه د زکاة نیت کړی دی، دویم زکاة خو یې امام ته د مجبوری په وجه ورکړی دی، (۲) دویم قول دا دی چې کوم زکاة امام دوباره اخلي، هغه به زکاة وي، ځکه زکاة د الله حق دی، نو کله چې د الله له طرفه ټاکل سوی سړی دا واخلي نو هلته به هغه اداء کیږي، او اول زکاة به یې نفل ګرځي، اودا مسئله داسي ده لکه یو سړی چې د جمعې په ورځ په کور کي د ماپښین فرضي لمونځ وکړي، بیا د جمعې د لمانځه لپاره راووځي، نو د هغه اداء سوی فرضي لمونځ په نفلي لمانځه بدلیږي، همدارنګه به په پورتنی مسئله کي هم د مالک اداء سوی به په نفلو بدلیږي، صاحب د هدايې فرمايي چې همدغه دویم قول صحیح او معتبر دی.

ثم فيما يصدق الخ له دې ځایه دا راښيي چې که مالک عاشر ته ووایل: "چې ما بل عاشر ته زکاة ورکړی دی"، نو آیا د هغه د تصدیق لپاره به فقط قسم کافي وي، او که د هغه لپاره به د بل عاشر تصدیقي سند (برائت نامه) ښکاره کول هم ضروري وي، په دې لړ کي امام محمد رَحِمَهُ الله په خپل تصنیف یعني په جامع صغیر کي له قسم څخه علاوه د تصدیقي سند شرط نه دي لګولی، لیکن په مبسوط کي یې دا شرط لګولی دی چې پر مالک دویم عاشر ته تصدیقي سند ور ښکاره کول هم ضروري دي، له دې څخه بغیر به د هغه خبره نه منل کیږي، هغه که هر څومره قسمونه وخوري، ځکه د عاشر عادت دا وي چې کله هم له یو چا څخه زکاة او نور اخلي، نو هغه ته تصدیقي رسید خامخا ورکوي، نو ځکه به د مالک لپاره د خپلي دعوې په تصدیق کي د عاشر تصدیقي رسید بل عاشر ته ورښکاره کول ضروري وي، او بغیر له رسید څخه به د مالک قول معتبر نه وي.

وجه الأول الخ امام محمدم رَحِمَهُ الله چې په جامع صغیر کي د تصدیقي سند شرط نه دي لګولی، د هغه دلیل دا دی چې ډېر ځله یو خط د بل خط سره مشابه وي، او په هغه کي په آساني سره درغلي او چالبازي کېدای سي، نو ځکه رسید او خط علامه او نښه ګرځول بې فايدې دي، او کوم شی چې بې فايدې وي، د هغه شرط لګول به هم بې فايدې او مهمل وي.

فایده: د عبارت له آخري ټوکړي ثم فيما يصدق الخ څخه دا وهم پیدا کیږي چې د اموالِ تجارت او د سوائمو په ټولو صورتونو کي په مبسوط کي د تصدیقي رسید ور ښکاره کول ضروري ګرځول سوي دي، حال دا چې داسي نه ده، بلکي

له ليما يصدق څخه هغه دريم صورت مراد دی، چې د هغه تفصيل بيان سو، او دلته عام ذکر سوی دی او مجازاً خاص څني مراد سوی دی، يعني دا عبارت د ذکر العام وإرادة الخاص له قبيلې څخه دی.

په پورتني صورتونو کې د ذمي حکم

قَالَ: وَمَا صُدِّقَ فِيهِ الْمُسْلِمُ صُدِّقَ فِيهِ الذِّمِّيُّ فرمايي: په کومو صورتونو کې چې د مسلمان تصديق کيږي په هغو کې به د ذمي تصديق (هم) کيږي لِأَنَّ مَا يُؤْخَذُ مِنْهُ ضِعْفُ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِ ځکه له ذمي څخه چې کوم مال اخيستل کيږي دا به د هغه مال دوچنده وي کوم چې له مسلمان څخه اخيستل کيږي فَتُرَاعَى تِلْكَ الشَّرَائِطُ تَحْقِيقًا لِلتَّضْعِيفِ نو د دوچندی د ثابتولو لپاره به د هغو شرطونو خيال ساتل کيږي.

اللغات: ﴿ضعف﴾ دوچنده. ﴿تراعى﴾ د مفاعلې د باب مضارع مجهوله ده: رعايت کول، لحاظ کول، خيال ساتل.

تشريح: **مسئله:** دا ده: چې په تېر عبارت کې چې د اموالِ تجارت او د سوائمو په کومو صورتونو کې د مسلمان تاجر خبره د قسم سره منل کيږي، په هغو صورتونو کې به د ذمي خبره هم د قسم سره منل کيږي، او له هغه څخه به دوباره زکاة نه اخيستل کيږي، د دې وجه دا ده چې له ذمي څخه د مسلمان د زکاة په څير دوچنده اخيستل کيږي، نو د زکاة د هغو ټولو شرطونو خيال به د ذمي په مال کې هم ساتل کيږي، کوم چې د مسلمانانو په مال کې د هغو خيال ساتل کيږي، يعني نصاب، حولانِ حول او داسې نور، اوچيري چې د قسم سره د مسلمان خبره منل کيږي، هلته به د ذمي خبره هم منل کيږي، د کفر په وجه به د هغه خبره او قسم نه رد يږي.

د عاشر مخته د حربي تاجر د دعوې حکم

وَلَا يُصَدَّقُ الْحَرْبِيُّ إِلَّا فِي الْجَوَارِيْ او د حربي تاجر تصديق به نه کيږي مګر په مينځو کې يَقُوْلُ: هُنَّ أُمَّهَاتُ أَوْلَادِيْ چې (کله) هغه (داسې) ووايي: "دا زما د بچو مندې دي" أَوْ غِلْمَانٍ مَعَهُ يا په داسې هلکانو کې به (صرف د هغه تصديق کيږي) چې هغه د ده سره وي يَقُوْلُ: هُمْ أَوْلَادِيْ او هغه (داسې) ووايي: "دا زما بچيان دي" لِأَنَّ الْأَخْذَ مِنْهُ بِطَرِيْقِ الْحِمَايَةِ ځکه چې له حربي څخه (عُشر) اخيستل د حمايت او حفاظت په توګه دی وَمَا فِيْ يَدِهِ مِنَ الْمَالِ يَحْتَاجُ إِلَى الْحِمَايَةِ او د هغه سره چې کوم مال دی هغه د حفاظت محتاجه دی غَيْرَ أَنَّ إِقْرَارَهُ بِنَسَبِ مَنْ فِيْ يَدِهِ مِنْهُ صَحِيْحٌ خو کوم بچيان چې د هغه په لاس کې دي د هغو د نسب اقرار کول د هغه له طرف صحيح دی فَكَذَا بِأُمُوْمِيَّةِ الْوَلَدِ نو همدارنګه به (د مينځو) د اُمِ ولد کېدلو اقرار کول (هم د هغه له طرفه صحيح) وي لِأَنَّهَا تَبْتَنِيْ عَلَيْهِ ځکه اُمِ ولد کېدل (خو) پر ولد کېدلو مبني دي (يعني بچی له مور څخه پيدا کيږي نو د مينځې په باره کې به دا اقرار کول چې دا زما اُمِ ولد ده هم صحيح وي) فَانْعَدَمَتْ صِفَةُ الْمَالِيَّةِ فِيْهِنَّ نو په دوی کې (يعني په مينځو او بچو کې) د مال کېدلو صفت ختم سو وَالْأَخْذُ لَا يَجِبُ إِلَّا مِنَ الْمَالِ او د عُشر اخيستل نه واجبيږي، مګر له مال څخه.

اللغات: ﴿جَوَارِي﴾ جمع د جارِيَةٌ ده: مينځي،(اينجوني)، ﴿غِلْمَان﴾ جمع د غُلَامٌ ده: غلامان، هلکان، ﴿اَلتَّوِيَةُ﴾ مور کېدل، ﴿اِنْعَكَسَتْ﴾ د انفعال د باب ماضي ده: نيستي کېدل، ختمېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که حربي تاجر له اسلامي امير څخه أمان واخلي او د تجارت په اراده سره زموږ ملک يعني دارُ الاسلام ته راسي، او مال ور سره وي د عاشر سره تېر سي، او له تېرو ذکرو سوو خبرو څخه يوه خبره وکړي، مثلاً ووايي: چي زما پر دې مال تر اوسه کال نه دي تېر سوی، يا ووايي چي پر ما پور باندي دی، يا ووايي چي ما بل عاشر ته عشر ورکړی دی، يا ووايي چي ما په خپله د عشر مقدار فقيرانو ته ورکړی دی، نو په دې يوه صورت کي به هم د هغه تصديق نه کيږي، بلکي عاشر به له هغه څخه عشر اخلي، هو! که د هغه سره مينځي وي او هغه ووايي چي دا مينځي زما د اولاد مندي دي، يعني زما اُم ولد دي، يا يو څه هلکان ور سره وي، او هغه ووايي چي دا زما اولاد دی، نو په دې دواړو صورتونو کي به د هغه د قول تصديق کيږي، او په دې مينځو او هلکانو کي به عشر نه اخيستل کيږي.

دليل: د حربي تاجر له مال څخه د عشر اخيستلو دليل دا دی چي له حربي څخه عشر په دې وجه اخيستل کيږي چي د دارُ الاسلام امير او باچا د هغه د مال ساتنه او حفاظت کوي، او کوم مال چي د هغه په قبضه کي دی، هغه ساتني او حفاظت ته محتاج هم دی، نو کله چي اهلِ اسلام د هغه د مال ساتنه کوي، نو د ساتني او حفاظت حق يعني عشر به هم خامخا له هغه څخه اخيستل کيږي، او په پورتني څلور سره وو صورتونو کي به د هغه تصديق په دې وجه نه کيږي چي د هغه په تصديق کولو کي هيڅ فايده نسته، ځکه کله چي هغه ووايي چي زما پر مال تر اوسه کال نه دي تېر سوی، نو ويل کيږي به چي د حربي په مال کي د عشر واجبېدلو لپاره حولانِ حول شرط نه دی، ځکه پر حربي په دې عشر واجبيږي چي د هغه او د هغه د مال حفاظت اهلِ اسلام کوي، او حربي ته په امان سره حمايت او حفاظت حاصل سوی دی، نو ځکه به تر امان ورکولو وروسته پر هغه عشر واجبيږي، هغه که کال تېر سوی وي، او که نه وي، او که هغه ووايي چي پر ما پور باندي دی، نو د هغه تصديق به هم نه کيږي، ځکه کوم پور چي پر هغه په دارُ الحرب کي واجب سوی وي، د هغه غوښتنه خو په دارُ الاسلام کي له هغه څخه نه کيږي، که حربي ووايي چي ما بل عاشر ته عشر ورکړی دی، نو د هغه دا خبره به هم په دې وجه نه منل کيږي چي هغه رښتيا وايي، که درواغ (ځکه هغه کافر دی)، او که هغه ووايي چي ما په خپله فقيرانو ته عشر ورکړی دی، نو د دې خبري تصديق به يې هم نه کيږي، ځکه چي هغه ګردسره د عشر او زکاة ورکولو عقيده نه لري، نو عُشر به يې څرنګه ورکړی وي!.

غير أن إقراره الخ صاحب د هدايې فرمايي: خو کوم کسان چي د حربي په قبضه کي دي، د هغو د نسب اقرار کول به د هغه له طرفه صحيح وي، يعني که هغه دا وايي چي دا زما زامن يا لوڼي دي، يا دا زما د زامنو مندي دي، نو موږ به د هغه دا اقرار منو، ځکه چي د هغه حربي کېدل د استيلاد او نسب منافي نه دي، ځکه څرنګه چي استيلاد او نسب په دار الاسلام کي سته، همدارنګه په دار الحرب کي هم سته، نو کله چي د مينځو په باره کي د اُم ولد کېدلو اقرار او د هلکانو په بلره کي د اولاد کېدلو اقرار صحيح دی، نو په هغو کي به عشر او نور هم نه واجبيږي، ځکه چي په اُم ولد او زامنو کي د مال کېدلو (ماليت) صفت نسته، او عشر به له مال څخه اخيستل کيږي نه له غيرِ مال څخه، نو ځکه به په هغه کي عشر نه واجبيږي.

له مسلمان، ذمي او حربي شخصه به څومره عُشر اخيستل کيږي؟

قَالَ: وَيُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِ رُبْعُ الْعُشْرِ فرمايي چې له مسلمان شخصه به څلوېښتمه حصه اخيستل کيږي وَمِنَ الذِّمِّيِّ نِصْفُ الْعُشْرِ او له ذمي شخصه به شلمه حصه اخيستل کيږي وَمِنَ الْحَرْبِيِّ الْعُشْرُ او له حربي شخصه به لسمه حصه اخيستل کيږي هَكَذَا أَمَرَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سُعَاتَهُ حضرت عمر ﷺ خپل عشر (او زکاة) اخيستونکو ته همداسې حکم کړی وو وَإِنْ مَرَّ حَرْبِيٌّ بِخَمْسِينَ دِرْهَمًا او که يو حربي د پنځوسو (۵۰) درهمو سره (د عاشر مخته) تېر سي لَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُ شَيْءٌ نو له هغه شخصه به هيڅ شی نه اخيستل کيږي إِلَّا أَنْ يَكُونُوا يَأْخُذُونَ مِنَّا مِنْ مِثْلِهَا خو دا چې له دومره لږ مال شخصه يې حربيان هم زموږ شخصه (مال) اخلي لِأَنَّ الْأَخْذَ مِنْهُمْ بِطَرِيقِ الْمُجَازَاةِ ځکه چې له هغو شخصه عشر اخيستل د بدلې په توګه دي بِخِلَافِ الْمُسْلِمِ وَالذِّمِّيِّ په خلاف د مسلمان او ذمي لِأَنَّ الْمَأْخُوذَ زَكَاةٌ أَوْ ضِعْفُهَا ځکه چې (له مسلمان او ذمي شخصه) اخيستل سوی مال زکاة دی يا د زکاة دوچنده مال دی فَلَا بُدَّ مِنَ النِّصَابِ نو ځکه به نصاب ضروري وي وَهَذَا فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ او دا حکم په جامع صغير کي ذکر سوی دی وَفِي كِتَابِ الزَّكَاةِ: لَا تَأْخُذُ مِنَ الْقَلِيلِ او (د مبسوط) په کتاب الزکاة کي ذکر سوي دي: چې له لږ مال شخصه څه مه اخله! وَإِنْ كَانُوا يَأْخُذُونَ مِنَّا مِنْهُ که څه هم حربيان زموږ له لږ مال شخصه (مال) اخلي لِأَنَّ الْقَلِيلَ لَمْ يَزَلْ عَفْوًا ځکه چې لږ همېشه معاف وي وَلِأَنَّهُ لَا يَحْتَاجُ إِلَى الْحِمَايَةِ او په دې وجه چې لږ مال حفاظت ته احتياج (هم) نه لري.

اللغات: ﴿سُعَاة﴾ جمع د سَاعِي ده: د ټيکس، عشر او زکاة اخيستونکی، ﴿الْمُجَازَاة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: بدله اخيستل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې له مسلمان تاجر شخصه به د هغه د مال څلوېښتمه حصه اخيستل کيږي، له ذميانو شخصه به د هغوی په مالونو کي شلمه حصه اخيستل کيږي، او له حربيانو شخصه به د هغوی په مالونو کي لسمه حصه اخيستل کيږي، دليل دا دی چې د زکاة د تعيين په باره کي د حضرت عمر ﷺ مبارک فرمانونه او خطونه د اصل او بنياد حيثيت لري، او د حضرت عمر ﷺ په باره کي دا رانقل سوي دي چې هغه خپلو عاشرينو او د زکاة اخيستونکو ته دا حکم کړی وو: خذوا من المسلم ربع العشر ومن الذمي نصف العشر ومن الحربي العشر او څرنګه چې د حضرت عمر ﷺ دا حکم د صحابه وو ﷺ په وجود کي جاري سوی وو، او يوه صحابي هم له دې شخصه انکار نه وو کړی، نو ګواکي پر دې اجماع منعقد سوه، او د عشر او زکاة په لړ کي درا روانو خلکو لپاره يو اُصول جوړ سو.

عقلي دليل: د دې حکم عقلي دليل چې له ذميانو شخصه به دوچنده او له حربيانو شخصه به څلور چنده اخيستل کيږي، دا دی چې عشر او زکاة او نور د مال د حفاظت ټيکس (محصول) دی، او په دارُالاسلام کي د مال حفاظت ته تر ټولو زيات ضرورت حربيان لري، بيا ذميان او بيا مسلمانان، نو ځکه په حفاظت کي د ضرورت د زياتوب او کمي مطابق پر دوی ټيکس واچول سو.

وإن مرّ حربي الخ د دې حاصل دا دی چې که يو حربي د ۵۰ درهمو سره د يو عاشر مخته تېر سو، نو عاشر به له هغه شخصه عشر نه اخلي، خو که حربيانو هم د مسلمانانو له کم او معمولي مال شخصه ټيکس اخيستی، نو بيا به عاشر په ۵۰ درهمو

کي هم له هغو څخه عشر اخلي، ځکه چي د حربيانو سره زموږ معامله د مجازات او بدلې اخيستلو په توګه ده، نو هغوی چي زموږ سره څرنګه معامله کوي، هغسي معامله به موږ هم د هغو سره کوو.

بخلاف الذمي الخ فرمايي چي که د حربي پر ځای يو مسلمان يا ذمي د ٥٠ درهمو سره يا تر نصاب د کم مال سره د عاشر مخته تېر سي، نو له هغو څخه به بالکل هيڅ شی نه اخيستل کيږي، ځکه له مسلمان چي کومه څلوېښتمه حصه اخيستل کيږي، هغه زکاة دی، او له ذمي څخه چي کومه شلمه حصه اخيستل کيږي، هغه د زکاة دوچنده حصه ده، او د زکاة لپاره د نصاب او نورو بشپړتيا ضروري ده، نو که د مسلمان او ذمي مال تر نصاب کم وو، نو له هغه څخه به هيڅکله يو شی نه اخيستل کيږي.

وهذا في الجامع الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د حربي د لږ مال څخه د بدلې اخيستلو په توګه اخيستل د جامع صغير مسئله ده، او د مبسوط په کتاب الزکاة کي دا حکم ذکر سوی دی چي د حربي د لږ مال څخه به هم هيڅ نه اخيستل کيږي، که څه هم هغوی زموږ د لږ مال څخه ټيکس او نور اخلي، ځکه چي لږ مال همېشه معاف وي، نو د حربيانو له طرفه زموږ د لږ مال څخه څه اخيستل تعدي او ظلم دی، ولا مجازاة في الظلم او په ظلم کي بدله اخيستل نسته.

د لږ مال څخه د عشر نه اخيستلو دويم دليل دا دی چي عشر خو د مال د حفاظت ټيکس دی، لېکن لږ مال د حفاظت محتاجه نه وي، نو ځکه به په هغه کي عشر هم واجب نه وي.

د حربي تاجرانو سره بايد څرنګه معامله وسي؟

قال: وَإِنْ مَرَّ حَرْبِيٌّ بِمِائَتَيْ دِرْهَمٍ فرمايي: که يو حربي تاجر د دوو سوو (٢٠٠) درهمو سره (د عاشر مخته) تېر سي وَلَا يُعْلَمُ كَمْ يَأْخُذُونَ مِنَّا او دا معلومه نه وه چي حربيان زموږ څخه څومره اخلي يَأْخُذُ مِنْهُ الْعُشْرَ نو عاشر به له هغه څخه عشر اخلي لِقَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ځکه حضرت عمر ﷺ فرمايلي دي فَإِنْ أَعْيَاكُمْ فَالْعُشْرُ "يا که هغه تاسو عاجزه کړي نو عشر اخلئ" وَإِنْ عُلِمَ أَنَّهُمْ يَأْخُذُونَ مِنَّا رُبُعَ الْعُشْرِ أَوْ نِصْفَ الْعُشْرِ او که معلومه سوه چي حربيان زموږ څخه څلوېښتمه حصه يا شلمه حصه اخلي يَأْخُذُ بِقَدْرِهِ نو (زموږ) عاشر به هم د هغه په اندازه مال اخلي وَإِنْ كَانُوا يَأْخُذُونَ الْكُلَّ لَا يَأْخُذُ الْكُلَّ او که (معلومه سوه چي) هغوی ټوله مال زموږ څخه اخلي نو (زموږ) عاشر به ټوله مال نه اخلي لِأَنَّهُ غَدْرٌ ځکه چي دا وعده خلافي ده وَإِنْ كَانُوا لَا يَأْخُذُونَ أَصْلًا لَا يَأْخُذُ او که (معلومه سوه چي) حربيان زموږ څخه بالکل (هيڅ) نه اخلي نو (زموږ) عاشر به (هم هيڅ) نه اخلي لِيَتْرُكُوا الْأَخْذَ مِنْ تُجَّارِنَا د دې لپاره چي هغوی زموږ له تاجرانو څخه اخيستل پرېږدي وَلِأَنَّا أَحَقُّ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ او په دې وجه (هم) چي موږ د غوره اخلاقو زيات حقداره يو.

اللغات: ﴿أعياكم﴾ دا افعال د باب ماضي ده: ستړی کول، عاجزه کول. ﴿مكارم الأخلاق﴾ غوره اخلاق، ښه چلند او ښه رويه.

تشريح: مسئله: دا ده که يو حربي تاجر د دوو سوو درهمو يا تر دې د زياتو درهمو سره د يو عاشر مخته تېر سو، او مسلمان عاشر ته دا معلومه نه وه چي هغوی زموږ له تاجرانو څخه څومره اخلي، نو له هغه څخه به عشر اخيستل کيږي، دليل د حضرت عمر ﷺ قول دی: فإن أعياكم فالعشر (يعني که تاسو د دې خبري له پېژندني څخه عاجزه سی چي

حربيان ستاسو شخخه څومره اخلي نو بيا تاسو لـسمه حصه اخلئ)، او كه دا معلومه وه چې حربيان زموږ شخخه شلو ينتمه يا شلمه حصه اخلي، نو زموږ عاشر به هم له هغوی شخخه د هغه په اندازه مال اخلي، او كه معلومه سوه چې حربيان زموږ له تاجرانو شخخه ټوله مال اخلي، نو زموږ عاشر به له حربي تاجر شخخه ټوله مال نه اخلي، ځکه دا خو وعده خلافي او درغلي ده چې تر أمان ورکولو وروسته ټوله مال ځني واخيستل سي، حال دا چې درغلي او غدر كول حرام دي، كه څه هم حربي كفار داسي كوي، همدا وجه ده كه حربيان تر أمان وركولو وروسته زموږ تاجران قتل كړي، نو موږ به يې نه قتل كوو، او بعضي مشائخو ويلي دي چې په دې صورت كي به هم زموږ عاشر ټوله مال اخلي، او صرف دومره مال به پرېږدي چې په هغه سره دا حربي خپل وطن ته ورسيږي، ځکه موږ ته دا أمر سوی چې دوی خپل وطن ته ورسوو، د الله رب العزت فرمان

دی: ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ (بيا هغوی خپل پناهګاه ته ورسوئ)، او بعضو ويلي دي چې له حربي تاجر شخخه به ټوله مال اخيستل كيږي، دومره به هم نه ور پرېښوول كيږي چې هغه خپل وطن ته په ورسيږي، ځکه چې له حربيانو شخخه عشر او نور د بدلې (مجازات) په توګه اخيستل كيږي، نو څرنګه چلند او سلوک چې هغوی زموږ سره كوي چې زموږ له تاجرانو شخخه ټوله مال اخلي، هغسي به موږ د هغو سره كوو، د دې لپاره چې هغو ته تنبيه وركول سي، او كه حربيانو زموږ شخخه هيڅ نه اخيستل، نو زموږ عاشر به هم له هغو شخخه هيڅ نه اخلي، د دې لپاره چې هغوی زموږ له تاجرانو شخخه بالكل اخيستل پرېږدي.

دويم دليل دا دی چې كله هغوی زموږ شخخه هيڅ نه اخلي، نو دا هغو زموږ سره ښه اخلاق او غوره چلند وكړی، او موږ د غوره اخلاقو زياته لايق يو، ځکه غوره اخلاق د اسلام اهمه او بنسټيزه نكته ده، او همدا هغه شی دي چې ډېرين زړونه يې ويلي كړل، او په سپېڅلي اسلام سره يې مشرفه كړل.

له حربيانو شخخه د عُشر په اخيستلو كي د كال د تېرېدلو شرط او حكم

قَالَ: وَإِنْ مَرَّ الْحَرْبِيُّ عَلَى عَاشِرٍ فَعَشَّرَهُ فرمايي: چې كه يو حربي د عاشر سره تېر سي او عاشر عُشر ځني واخلي ثُمَّ مَرَّ مَرَّةً أُخْرَى بيا دويم واره (دوباره) تېر سي لَمْ يُعَشِّرْهُ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ نو بيا به عاشر عُشر نه ځني اخلي تر دې چې پر هغه يو كال تېر سي لِأَنَّ الْأَخْذَ فِي كُلِّ مَرَّةٍ اِسْتِئْصَالُ الْمَالِ ځکه چې هر وار عشر اخيستل مال له بيخه كښل دي (يعني بالكل ختمول دي) وَحَقُّ الْأَخْذِ لِحِفْظِهِ حال دا چې (د عشر) اخيستلو حق د مال د حفاظت په وجه دی وَلِأَنَّ حُكْمَ الْأَمَانِ الْأَوَّلِ بَاقٍ او په دې وجه (هم) چې د اول امان حق پاته دی وَبَعْدَ الْحَوْلِ يَتَجَدَّدُ الْأَمَانُ او تر كال تېرېدلو وروسته امان نوی كيږي لِأَنَّهُ لَا يُمَكَّنُ مِنَ الْمُقَامِ إِلَّا حَوْلًا ځکه چې حربي ته صرف تر يوه كاله پوري د وسېدلو قدرت وركول كيږي وَالْأَخْذُ بَعْدَهُ لَا يَسْتَأْصِلُ الْمَالَ او تر يوه كال وروسته (عشر) اخيستل مال له بيخه نه كاږي (يعني كه تر يوه كال وروسته بيا عشر لو ټيكس ځني واخلي نو په هغه سره مال نه ختميږي، ځکه په دومره وخت كي خو له مسلمان شخخه هم اخيستل كيږي).

اللغات: ﴿عَشَّرَ﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: عُشر، زكاة او نور اخيستل، ﴿اِسْتِئْصَال﴾ د استفعال د باب مصدر دی: ضايع كول، له بيخه كښل، نيست و نابود كول، بالكل ختمول، ﴿يَتَجَدَّدُ﴾ د تفعل د باب مضارع ده: نوی كېدل (جديد كېدل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو حربي تاجر د خپل مال سره د عاشر مخته تېر سو، او عاشر له هغه شخصه عشر واخيستی، بيا هغه حربي تر يوه کال پوره کېدلو مخکې دويم وار بيا د عاشر مخته تېر سو (يعني يو کال لا پوره سوی نه وو چې د عاشر مخته دويم وار تېر سو)، نو اوس به عاشر له هغه شخصه عشر نه اخلي، هو! که تر يوه کال پوره کېدلو وروسته تېر سو، نو له هغه شخصه به دوباره عشر اخلي، تر يوه کال پوره کېدلو مخکې دوباره د عشر نه اخيستلو وجه دا ده چې عشر د مال د حفاظت په وجه اخيستل کيږي، (يعني په دې وجه عشر اخيستل کيږي چې امامُ المسلمين او عاشر د حربيانو د مال حفاظت کوي)، ليکن د هر وار تېرېدلو په وخت کې د عشر اخيستلو په صورت کې د حفاظت پر ځای مال بالکل له بېخه خيږي، يعني بالکل ختميږي، او ضايع کيږي، او د مال ضايع کېدل د حفاظت او حمايت هم منافي دي، او هغه ته د ورکړل سوي امان سره هم خلاف دي، ځکه چې د مخکني امان حکم اوس هم پاته دی، او دا حکم به تر يوه کال پورې پاته وي، او تر کال پوره کېدلو وروسته چې کله امان نوی سي، نو د عشر اخيستل به نوي کيږي، او دويم وار به عشر ځني اخيستل کيږي، تر يوه کال وروسته د امان د تجدّد او نوي کېدلو وجه دا ده چې حربيانو لو نورو ته چې کوم امان ورکول کيږي، هغه صرف د يوه کال لپاره ورکول کيږي، لهذا کله چې يو کال پوره سي، نو هغو ته د شريعت له طرفه نوی امان ورکول کيږي، لهذا له هغو شخصه به دوباره عشر هم اخيستل کيږي، همدارنګه تر پوره کال وروسته د عشر په اخيستلو سره د حربي مال هم بالکليه نه ختميږي، نو په دې حواله سره هم تر يوه کال وروسته د عشر په اخيستلو کې هيڅ حرج او پروا نسته.

حربي که له دارُ الحراب څخه خو ځله راسي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ عَشَرَهُ او که له حربي شخصه عاشر عُشر واخلي **فَرَجَعَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ** بيا حربي دارالحرب ته واپس ولاړ سي **ثُمَّ خَرَجَ مِنْ يَوْمِهِ ذٰلِكَ** بيا په همدغه ورځ بيرته له دارُ الحرب څخه را ووځي (يعني بيرته دارُ الاسلام ته راسي) **عَشَرَهُ أَيْضاً** نو هم به عاشر له هغه شخصه عُشر اخلي **لِأَنَّهُ رَجَعَ بِأَمَانٍ جَدِيْدٍ** ځکه چې هغه (دويم وار) په نوي امان سره واپس راغلی **وَكَذَا الْأَخْذُ بَعْدَهُ لَا يُفْضِيْ إِلَى الْإِسْتِئْصَالِ** همدارنګه تر هغه وروسته (عشر) اخيستل د مال ختمېدلو ته رسول نه کوي (يعني تر هغه وروسته عشر ځني اخيستل د مال د بېخه کېدلو سبب نه جوړيږي).

اللغات: ﴿لا يفضي﴾ د افعال د باب مضارع منفي ده: رسول.

تشريح: مسئله: دا ده چې که حربي تاجر د مال سره د عاشر مخته تېر سو، او عاشر له هغه شخصه عشر واخيستی، بيا هغه په همدغه ورځ دارُ الحرب ته ولاړی هم، او بيرته راغلی هم، نو له هغه شخصه به دوباره عشر اخيستل کيږي. ځکه چې دارُ الحرب ته د تګ او بيرته راتګ په وجه هغه په نوي امان سره را واپس سوی دی. او اوس تلسو په مخکني مسئله کې ووېل چې د امان د تجدّد او د نوي کېدلو په وجه به بل عشر لازميږي، او بيا دار الحرب ته تر تګ او بيرته راتګ وروسته په عشر ورکولو سره د حربي مال بالکل ختميږي هم نه (يعني مال يې له بېخه نه خيږي). ځکه چې ممکنه ده چې په دارُ الحرب کې هغه له دې مال څخه ګټه ترلاسه کړې وي، نو ځکه به نفسِ سفر د ګټې د تر لاسه کولو (حصو) قائم مقام جوړيږي، او د هغه په مال کې به دويم عشر واجبيږي.

د ذمي د خنزير او د شرابو په اړه د فقهاؤ اختلاف او قولونه

وَإِنْ مَرَّ ذِمِّيٌّ بِخَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ او که يو ذمي د شرابو او خنزير سره (د عاشر مخته) تېر سي عَشَّرَ الْخَمْرَ● دُونَ الْخِنْزِيرِ نو عاشر دي د شرابو عشر (څني) واخلي، د خنزير عشر دي نه څني اخلي وَقَوْلُهُ عَشَّرَ الْخَمْرَ: أَيْ مِنْ قِيمَتِهَا او د ماتن د دې قول عَشَّرَ الْخَمْرَ معنىٰ ده: عَشَّرَ مِنْ قِيمَتِهَا (يعني د شرابو له قيمت څخه دي عشر [يعني لسمه حصه څني] واخلي) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يُعَشِّرُهُمَا لِأَنَّهُ لَا قِيمَةَ لَهُمَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د دواړو عشر به نه اخلي ځکه چي د دواړو هيڅ قيمت نسته وَقَالَ زُفَرُ: يُعَشِّرُهُمَا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د دواړو عشر به اخلي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي الْمَالِيَّةِ عِنْدَهُمْ ځکه چي دا دواړه د کفارو په نيز په ماليت (قيمت) کي برابر دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يُعَشِّرُهُمَا إِذَا مَرَّ بِهِمَا جُمْلَةً او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: که ذمي د شرابو او د خنزير دواړو سره (د عاشر مخته) تېر سي (يعني دواړه يو ځای ور سره وي) نو د دواړو عشر به (څني) اخلي كَأَنَّهُ جَعَلَ الْخِنْزِيرَ تَبَعًا لِلْخَمْرِ کوکي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله خنزير د شرابو تابع کړی دی فَإِنْ مَرَّ بِكُلِّ وَاحِدٍ عَلَى الْإِنْفِرَادِ بيا که د هر يوه سره جلا تېر سي عَشَّرَ الْخَمْرَ دُونَ الْخِنْزِيرِ نو د شرابو عشر به اخلي، نه د خنزير وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى الظَّاهِرِ أَنَّ الْقِيمَةَ فِي ذَوَاتِ الْقِيَمِ لَهَا حُكْمُ الْعَيْنِ او د ظاهر روايت مطابق د فرق وجه دا ده چي په ذواتُ القيم کي قيمت ته د عين (ذات) حکم حاصل دی وَالْخِنْزِيرُ مِنْهَا او خنزير له ذواتُ القيم څخه دی وَفِي ذَوَاتِ الْأَمْثَالِ لَيْسَ لَهَا هٰذَا الْحُكْمُ او په ذواتُ الامثال کي قيمت ته دا حکم حاصل نه دی وَالْخَمْرُ مِنْهَا او شراب له ذواتُ الامثال څخه دي وَلِأَنَّ حَقَّ الْأَخْذِ لِلْحِمَايَةِ او په دې وجه (هم چي د (عشر او ټيکس) اخيستلو حق د حفاظت په وجه دی وَالْمُسْلِمُ يَحْمِي خَمْرَ نَفْسِهِ لِلتَّخْلِيلِ او مسلمان د سرکه جوړولو لپاره د خپلو شرابو حفاظت کولای سي فَكَذَا يَحْمِيهَا عَلَىٰ غَيْرِهِ نو د بل د شرابو به (هم) حفاظت کولای سي وَلَا يَحْمِي خِنْزِيرَ نَفْسِهِ او د خپل خنزير حفاظت نه سي کولای بَلْ يَجِبُ تَسْيِيبُهُ بِالْإِسْلَامِ بلکي د اسلام په وجه (د مسلمان لپاره) د خنزير پرېښوول ضروري دي فَكَذَا لَا يَحْمِيهِ عَلَىٰ غَيْرِهِ همدارنګه به د بل د خنزير (هم) حفاظت نه سي کولای.

اللغات: ﴿خمر﴾ شراب، ﴿إسْتِوَاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: برابر والی، ﴿تبع﴾ تابع، محکوم، ﴿تخليل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سرکه جوړول، سرکه کول، ﴿تسييب﴾ دا هم د تفعيل د باب مصدر دی: حيوان ايله کول او آزاد پرېښوول، ﴿ذوات القيم﴾ شيان پر دوه قسمه دي: (۱) ذواتُ القيم: دا هغو شيانو ته ويل کيږي چي د هغه په مينځ کي تفاوت وي، او که له يو چا څخه هلاک سي، نو د هغو مثل به نه ورکوي، بلکي د هغو قيمت به ورکوي، لکه خنزير چي له يو چا څخه هلاک سي، نو د خنزير قيمت به ورکوي، (۲) ذواتُ الامثال: هغو شيانو ته ويل کيږي چي د هغو په مينځ کي تفاوت نه وي، او که له يو چا څخه هلاک سي، نو د

● القول الراجح: هو هٰذا قول الطرفين، يعني عشر الخمر دون الخنزير، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: لا يؤخذ من خنزيره مطلقا لأنه قيمي فأخذ قيمته كعينه بخلاف الشفعة، الدر المختار ج:۲، ص: ۴۶. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۷۵]

هغو قيمت به نه ورکوي، بلکې د هغو مثل به ورکوي، لکه شراب چي له يو چا څخه تلف سي، نو نور شراب به ورکوي، قيمت به نه ورکوي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو ذمي د تجارت په نيت سره شراب يا خنزير يا دواړه د ځان سره را واخلي او د عاشر سره تېر سي، نو په دې شيانو کي د عشر اخيستلو په باره کي څلور قولونه دي: (١) اول قول د طرفينو رَحِمَهُ الله دی، چي عاشر دي د شرابو قيمت معلوم کړي، که هغه د دوو سوو درهمو ول، نو له هغه څخه دي عشر يعني لسمه حصه واخلي، او خنزير دي پرېږدي. (٢) دويم قول د امام شافعي رَحِمَهُ الله دی، هغه دا دی چي دواړه دي پرېږدي، يعني نه دي د شرابو عشر اخلي او نه د خنزير. (٣) دريم قول د امام زفر رَحِمَهُ الله دی، هغه دا دی چي عاشر دي د دواړو عشر واخلي. (۴) څلورم قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، هغه دا دی چي که د ذمي سره شراب او خنزير دواړه يو ځای ول او د عاشر سره تېر سو، نو بيا خو دي عاشر د دواړو عشر واخلي، او که فقط شراب يا خنزير ور سره وو، او د عاشر سره تېر سو، نو په دې صورت کي به صرف د شرابو د قيمت عشر څني اخلي، او خنزير ته به لاس نه ور وړي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د شرابو او خنزير هيڅ قيمت نسته، همدا وجه ده که مسلمان د ذمي شراب يا خنزير هلاک کړي، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر مسلمان هيڅ ضمان نه راځي، نو کله چي دا دواړه د شوافعو په نېز مال نه دي، نو په دې کي به عشر هم نه واجبېږي، ځکه چي عشر په مال کي واجبېږي، نه په غير مال کي.

د امام زفر دليل: دا دی چي شراب او خنزير دواړه د کفارو په نېز مال دي، که څه هم زمونږ په نېز مال نه دي، نو په دې وجه که مسلمان د ذمي خنزير هلاک کړي، نو پر هغه به ضمان واجبېږي، لکه څرنګه چي د شرابو په هلاکولو سره ضمان لازمېږي، نو کله چي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز په ماليت کي دواړه برابر دي، که څه هم د کفارو په نېز مال دي، نه د مسلمانانو په نېز، نو په دې کي به عشر هم واجبېږي، ځکه چي د تجارت په هر مال کي عشر واجبېږي، په دې شرط چي د نصاب په اندازه وي.

د امام ابو يوسف دليل: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله خنزير د شرابو تابع کړی دی، ځکه د شرابو ماليت واضح دی، ځکه چي د شرابو اجزاء تر شرابو جوړېدلو مخکي او تر شرابو جوړېدلو وروسته په دواړو حالتونو کي مال وي، تر شرابو جوړېدلو مخکي خو ماليت ښکاره دي، او تر شرابو جوړېدلو وروسته په دې وجه مال دي چي له دې څخه سرکه جوړېدای سي (يعني که مالکه ور واچول سي، نو له دې څخه بيا سرکه جوړېدای سي، نو ځکه مال سو)، لېکن په خنزير کي هيڅ ډول د ماليت صفت نسته، نو ځکه به خنزير د يو ماليت لرونکي شي يعني د شرابو تابع ګرځول کيږي او يو ځای خو به د دواړو عشر اخيستل کيږي، لېکن جلا جلا به نه اخيستل کيږي، ځکه چي قاعده دا ده: إن الشئ قد يثبت تبعاً ولا يثبت أصلا، (يعني کله نا کله داسي کيږي چي يو شی خو تبعاً ثابتيږي، لېکن قصداً او اصلاً نه ثابتيږي)، همدارنګه به په پورتنی مسئله کي خنزير هم د شرابو تابع کيږي نو د تبعيت توګه به په خنزير کي د ماليت صفت راسي، او د شرابو سره به يو ځای د هغه عشر هم اخيستل کيږي، لېکن يوازي او جلا په خنزير کي ماليت نه سي راتلای، او نه به جلا د هغه عشر اخيستل کيږي.

د طرفينو دليل: او د فرق وجه دا ده چي په ذوات القيم کي د قيمت حکم داسي دی لکه د خاص د هغه شي حکم، او خنزير له ذوات القيم څخه دی، نو د خنزير قيمت اخيستل خاص د خنزير اخيستل دي، او د مسلمان لپاره د خنزير اخيستل او مالک کېدل جائز نه دي، نو ځکه وويل سوه چي د خنزير عشر به نه اخيستل کيږي، او په ذوات الامثال کي د

قيمت حکم خاص د هغه شي په حکم کي نه دى، او شراب له ذوات الامثال څخه دى، نو د شرابو له قيمت څخه عشر اخيستل خاص د شرابو اخيستل نه دي، او کله چي دا خبره ده نو د شرابو له قيمت څخه به عشر اخيستل هم جائز وي.

ولأن حق الأخذ الخ دويم دليل دا دى چي د عشر اخيستلو حق د حمايت او حفاظت په وجه دى، او مسلمان د خپل ذاتي شرابو حفاظت کولاى سي، د دې مثال داسي دى چي که د يو مسلمان لپاره کافر مکاتب غلام وي او دا غلام کتابت پريږدي، دوباره غلام جوړ سي، او د هغه سره شراب وي، نو اوس دا شراب د مسلمان مالک په ملکيت کي راځله او د مسلمان ذاتي شراب سول (ځکه چي د غلام هر شي د مالک په ذاتي ملکيت کي وي)، لهذا اوس مسلمان مالک ته د سرکې د جوړولو لپاره د دې شرابو د حفاظت اجازه سته يعني د سرکې د جوړولو لپاره د دې شرابو حفاظت کولاى سي، ځکه په شرابو کي چي مالکه واچول سي، نو بيا سرکه ځني جوړيږي، نو کله چي د خپلو شرابو حفاظت کولاى سي، نو د ذمي د شرابو حفاظت هم کولاى سي، نو ځکه به د هغه عشر هم اخيستلاى سي، ځکه چي عشر د حفاظت په وجه اخيستل کيږي، او که د مکاتب غلام سره خنزير وي، او هغه کتابت پريږدي، دوباره غلام سي، نو خنزير د مسلمان مالک په ملکيت کي راځلى، نو اوس مسلمان مالک ته د هغه د حفاظت اجازه نه سته يعني حفاظت يې نه سي کولاى، او نه يې په خپل ملکيت کي ساتلاى سي، او نه يې خرڅولاى سي، بلکي پر مسلمان د هغه شړل ضروري دي، نو کله چي د خپل خنزير حفاظت نه سي کولاى، نو د ذمي د خنزير حفاظت هم نه سي کولاى، نو ځکه به له ذمي څخه د خنزير عشر هم نه سي اخيستلاى، ځکه چي عشر د حفاظت په وجه اخيستل کيږي، نو دا د شرابو د عشر اخيستلو او د خنزير د عشر نه اخيستلو دويم فرق سو.

له بنو تغلب څخه د عشر د اخيستلو حکم

وَلَوْ مَرَّ صَبِيٌّ أَوِ امْرَأَةٌ مِنْ بَنِيْ تَغْلِبَ بِمَالٍ او که د بنو تغلب کوچنى يا ښځه د مال سره (د عاشر مخته) تېر سي فَلَيْسَ عَلَى الصَّبِيِّ شَيْءٌ نو پر کوچني هيڅ شى واجب نه دى وَعَلَى الْمَرْأَةِ مَا عَلَى الرَّجُلِ او پر ښځه هغه شى واجب دى کوم چي پر سړي واجب دى لِمَا ذَكَرْنَا فِي السَّوَائِمِ د هغه دليل په وجه کوم چي مونږ په بابُ السوائم کي ذکر کړى.

تشريح: مسئله: دا ده چي که د بنو تغلب د کوچني يا ښځي سره مال ور سره وو، او د عاشر مخته تېرسول، نو پر کوچني به عشر لو هيڅ شى واجب نه وي، او پر ښځه به دومره اندازه مال واجب وي څومره چي پر تغلبي سړي واجب دى، يعني دوچنده عشر به ځني اخيستل کيږي، د دې مسئلې تفصيل او دلائل په بابُ السوائم کي ذکر سول، لهذا بيا يې د ذکر کولو ضرورت نسته.

که د تېر بدونکي سړي سره په کور کي نور مال هم وي نو څه حکم دى؟

وَمَنْ مَرَّ عَلَى عَاشِرٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ او که يو سړى د سلو (١٠٠) درهمو سره د عاشر سره تېر سي وَأَخْبَرَهُ أَنَّ لَهُ فِي مَنْزِلِهِ مِائَةً أُخْرَى او عاشر ته خبر ورکړي چي زما سره په کور کي نور سله درهمه سته قَدْ حَالَ عَلَيْهِمَا چي پر هغو کال (هم) تېر سوى دى لَمْ يُزَكِّ الَّتِيْ مَرَّ بِهَا نو عاشر به د هغو سلو درهمو زکاة نه اخلي کوم چي يې د عاشر مخته تېر کړل (يعني کوم چي لوس ور سره دي) لِقِلَّتِهَا ځکه چي دا لږ دي وَمَا فِيْ بَيْتِهِ لَمْ يَدْخُلْ تَحْتَ حِمَايَتِهِ او کوم چي د هغه په کور کي دي هغه د عاشر په حفاظت کي داخل نه دي فَلَوْ مَرَّ بِمِائَتَيْ دِرْهَمٍ بِضَاعَةً لَمْ يُعَشِّرْهَا او که يو سړى د بضاعت د دوو سوو

درهمو سره (د عاشر مخته) تېر سي نو عاشر به د هغه عشر نه اخلي لِأَنَّهُ غَيْرُ مَأْذُونٍ بِأَدَاءِ زَكَاتِهِ ځکه چې (د بضاعت په درهمونو کې) تېرېدونکي سړي ته د زکاة د ورکولو اجازه نه ده سوې.

اللغات: ﴿أَدَاءُ﴾ د تفعيل له باب څخه د جحد صيغه ده: زکاة ورکول. ﴿بِضَاعَةٌ﴾ د بضاعة لغوي معنیٰ ده: د مال يو جزء او يو ټوکړه، سامان. او په اصطلاح کې بضاعت دا دی چې مالک يو سړي ته پيسې ورکړي او ورته ووايي: "په دې سره تجارت کوه، خو ګټه به ټوله زما وي، له ګټې څخه به تا ته هيڅ حصه نه درکوم، بلکې تا ته به د خپل کار مزدوري درکوم". نو دې تجارت ته بضاعت ويل کيږي، او دې پيسو ته د بضاعت پيسې ويل کيږي، په دې کې تجارت کونکي لره د زکاة ورکولو اجازه نسته. (البحر الرائق بحواله حاشيه هدايه ص: ۱۹۸، حاشيه: ۱۰)، ﴿غَيْرُ مَأْذُونٍ﴾ هغه څوک چې اجازه نه وي ورکول سوې.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱) اوله مسئله دا ده که د يو سړي سره سل (۱۰۰) درهمه وي او د عاشر سره تېر سو، او دې سړي عاشر ته وويل چې زما سره په کور کې سل (۱۰۰) نور درهمه سته، او پر دواړو کال هم تېر سوی دی، نو اوس په دې کې زکاة واجبيدل پکار دي او عاشر ته د هغه اخيستل پکار دي، ليکن دلته د عاشر لپاره حکم دا دی چې هغه دې له دې سړي څخه مطلقاً زکاة نه اخلي، نه دې يې له هغو سلو درهمو څخه اخلي کوم چې د هغه سره اوس سته، او نه دې يې له هغو څخه اخلي کوم چې د هغه سره په کور کې دي، ځکه د هغه سره چې اوس کوم درهم دي، هغه د نصاب په اندازه نه دي، او کوم چې په کور کې ور سره دي، هغه د عاشر په حمايت او حفاظت کې داخل نه دي، او دا معلومه خبره ده چې نه له نصاب څخه په کم مال کې زکاة واجبيږي، او نه په هغه مال کې زکاة واجبيږي کوم چې له حفاظت او حمايت څخه خارج وي، نو ځکه به د پورتنی مسئلې په دواړو صورتونو کې مطلقاً زکاة نه واجبيږي.
(۲) دويمه مسئله دا ده که د يو سړي سره د بضاعت والا دوه سوه درهمه وي او د عاشر سره تېر سو، نو له هغه څخه دې هم عاشر زکاة نه اخلي، ځکه چې د مالک له طرفه هغه ته د زکاة ورکولو اجازه نسته، بلکې هغه صرف او صرف د تجارت کولو حقدار دی، نو کله چې د مالک له طرفه و هغه ته د زکاة ورکولو اجازه نسته، نو عاشر به څرنګه له هغه څخه زکاة اخلي!.

که د تېرېدونکي سړي سره د مضاربت مال وي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَكَذَا الْمُضَارَبَةُ همدارنګه د مضاربت حکم دی يَعْنِيْ إِذَا مَرَّ الْمُضَارِبُ بِهِ عَلَى الْعَاشِرِ يعني کله چې مضارب د مضاربت مال د عاشر سره تېر کړي (نو له هغه څخه به عاشر زکاة نه اخلي) وَكَانَ أَبُوْحَنِيْفَةَ يَقُوْلُ أَوَّلًا: يُعَشِّرُهَا او امام صاحب رَحِمَهُ الله به مخکې ويل: چې عاشر به له هغه څخه عشر اخلي لِقُوَّةِ حَقِّ الْمُضَارِبِ ځکه چې د مضارب حق مضبوطه حق دی حَتّٰى لَا يَمْلِكَ رَبُّ الْمَالِ نَهْيَهُ عَنِ التَّصَرُّفِ فِيْهِ تر دې چې ربُ المال د مضاربت په مال کې له تصرف کولو څخه د مضارب د منع کولو ملکيت نه لري بَعْدَ مَا صَارَ عُرُوْضًا وروسته تر دې چې د مضاربت مال په تجارتي سامان سره بدل سي فَنَزَلَ مَنْزِلَةَ الْمَالِكِ نو مضارب به د مالک په درجه کې وي ثُمَّ رَجَعَ إِلٰى مَا ذَكَرْنَا فِي الْكِتَابِ بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله له خپل دغه قول څخه د هغه مسئلې و طرف ته رجوع وکړه کوم چې موږ په کتاب کې ذکر کړه وَهُوَ قَوْلُهُمَا او همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمَالِكٍ وَلَا نَائِبٍ عَنْهُ فِيْ أَدَاءِ الزَّكَاةِ ځکه چې مضارب خو نه مالک دی او نه

د زکاة په اداء کولو کې د مالک نائب دی إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي الْمَالِ رِبْحٌ يَبْلُغُ نَصِيبُهُ نِصَابًا خو دا چې په مال کې دومره ګټه(نفعه) وسي چې په هغه کې د مضارب حصه تر نصابه پوري ورسیږي فَيُؤْخَذُ مِنْهُ لِأَنَّهُ مَالِكٌ لَهُ نو (په دې صورت کې به) د مضارب له حصې څخه زکاة اخیستل کیږي ځکه چې هغه د خپلې حصې مالک دی.

اللغات: ﴿التصرف﴾ د تفعّل مصدر دی: تصرف کول، اړول را اړول، کارول. ﴿العروض﴾ جمع د عَرض ده: دنیاوي او تجارتي سامان. ﴿النائب﴾ خلیفه، قائم مقام.

تشریح: مضاربت دې ته ویل کیږي چې یو سړی بل سړي ته پیسې ورکړي، چې په دې سره تجارت وکړه، او کومه ګټه چې وسي، هغه به زما او ستا په مینځ کې نیمی وي(نو په دې پیسو سره تجارت کونکي سړي ته مُضارب ویل کیږي، او د پیسو خاوند ته ربُ المال ویل کیږي، او دې پیسو ته مالِ مضاربت ویل کیږي).

صورت د مسئلې: دا دی چې که د مضارب سره د نصاب په اندازه مال وو، او د عاشر سره تیر سو، نو عاشر به له هغه څخه زکاة نه اخلي، لیکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول دا دی چې عاشر به له هغه څخه زکاة اخلي، ځکه چې د مضارب حق قوي دی(تر مالِ بضاعت)، تر دې چې کله مضارب د مضاربت پیسو سره سامان رانیسي، نو مالک ته اختیار نسته چې هغه مضارب د دې سامان له خرڅولو او له تجارتي تصرف څخه منع کړي، نو ګواکې مضارب د مالک په درجه کې سو، نو لکه څرنګه چې له مالک څخه عشر اخیستل کیږي، همدارنګه به له مضارب څخه هم اخیستل کیږي.

لیکن وروسته امام صاحب رَحِمَهُ الله له خپل اول قول څخه د هغه قول و طرف ته رجوع وکړه کوم چې په کتاب کې ذکر سو، او همدغه د صاحبینو قول دی، او د دې قول دلیل دا دی چې مضارب خو نه د مال مالک دی، او نه په زکاة اداء کولو کې د مالک نائب دی، بلکې فقط په تجارت کولو کې نائب دی، نو کله چې مضارب نه مالک دی، او نه په زکاة اداء کولو کې د هغه نائب دی، نو له مضارب څخه به زکاة څرنګه اخیستل کیږي، هو! که په مال کې دومره اندازه ګټه وسي چې د مضارب حصه د نصاب په اندازه سي، نو بیا به له مضارب څخه زکاة اخیستل کیږي، ځکه چې مضارب د خپلې حصې مالک دی، او له مالک څخه به زکاة اخیستل کیږي.

که تیریدونکی سړی عبدِ مأذون وي نو د عاشر لپاره څه حکم دی؟

وَلَوْ مَرَّ عَبْدٌ مَأْذُونٌ لَهُ بِمِائَتَيْ دِرْهَمٍ او که داسې غلام دوه سوه درهمه(د عاشر مخته) تیر کړي چې هغه ته (د تجارت کولو) اجازه ورکول سوې وي وَلَيْسَ عَلَيْهِ دَيْنٌ عَشَّرَهُ او پر هغه پور (هم) باندې نه وي نو عاشر به له هغه څخه عشر اخلي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: لَا أَدْرِي أَنَّ أَبَا حَنِيفَةَ رَجَعَ عَنْ هَذَا أَمْ لَا امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: ما ته معلومه نه ده چې امام صاحب رَحِمَهُ الله له دې قول څخه رجوع کړې ده، که نه؟ وَقِيَاسُ قَوْلِهِ الثَّانِي فِي الْمُضَارَبَةِ او په مضاربت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دویم قول قیاس دا دی وَهُوَ قَوْلُهُمَا او دا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول (هم) دی أَنَّهُ لَا يُعَشِّرُهُ چې عاشر به له عبدِ مأذون څخه عشر نه اخلي لِأَنَّ الْمِلْكَ فِيمَا فِي يَدِهِ لِلْمَوْلَى ځکه چې د هغه په لاس کې چې څه دي هغه د مولیٰ په ملکیت کې دي وَلَهُ التَّصَرُّفُ او عبدِ مأذون ته (صرف) د تجارتي تصرف حق سته فَصَارَ كَالْمُضَارِبِ نو هغه د مضارب په شان سو وَقِيلَ فِي الْفَرْقِ بَيْنَهُمَا او د دې دواړو مسئلو په مینځ کې د فرق په باره کې ویل سوي دي أَنَّ الْعَبْدَ

يَتَصَرَّفُ لِنَفْسِهِ چې عبد مأذون د خپل ځان لپاره تصرف کوي حَتّٰى لَا يَرْجِعَ بِالْعُهْدَةِ عَلَى الْمَوْلٰى تر دې چې پر مولٰی به (د هغه په تصرف کولو سره) هيڅ ذمه واري نه راګرځي فَكَانَ هُوَ الْمُحْتَاجَ إِلَى الْحِمَايَةِ نو عبدِ مأذون به (د امام) حفاظت ته محتاجه وي وَالْمُضَارِبُ يَتَصَرَّفُ بِحُكْمِ النِّيَابَةِ او مضارب د نائب والي په وجه تصرف کوي حَتّٰى يَرْجِعَ بِالْعُهْدَةِ عَلٰى رَبِّ الْمَالِ تر دې چې ټوله ذمه واري به پر ربّ المال راګرځي فَكَانَ رَبُّ الْمَالِ هُوَ الْمُحْتَاجَ نو (حفاظت ته به) محتاج ربّ المال وي فَلَا يَكُوْنُ الرُّجُوْعُ فِي الْمُضَارِبِ رُجُوْعًا مِنْهُ فِي الْعَبْدِ نو د مضارب په مسئله کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله له خپل قول څخه رجوع کول به د عبدِ مأذون په مسئله کې د هغو رجوع کول نه وي وَإِنْ كَانَ مَوْلَاهُ مَعَهُ او که د عبد مأذون سره د هغه مولٰی هم وي يُؤْخَذُ مِنْهُ نو له مولٰی څخه به عشر اخيستل کيږي لِأَنَّ الْمِلْكَ لَهُ ځکه چې ملکيت خو د مولٰی دی إِلَّا إِذَا كَانَ عَلَى الْعَبْدِ دَيْنٌ يُحِيْطُ بِمَالِهِ خو په هغهٔ صورت کې چې کله پر غلام دومره پور وي چې د تجارت ټوله مال يې نيولی وي (نو په دې صورت کې به له مولٰی څخه هم عشر نه اخيستل کيږي) لِانْعِدَامِ الْمِلْكِ أَوْ لِلشُّغْلِ ځکه چې (په دې صورت کې) د مولٰی ملکيت پاتې نه سو يا (د بل په حق کې) مشغول سو.

اللغات: ﴿العهدة﴾ ذمه واري (ذمه داري).

تشريح: عبد مأذون له في التجارة هغه غلام دی چې هغه ته د خپل مالک له طرفه د تجارت کولو اجازه ورکول سوې وي، امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې که عبد مأذون له في التجارة دوه سوه درهمه د عاشر مخته تېر کړل، او پر هغه دې چا پور هم بلندي نه وي، نو عاشر به له هغه څخه عشر اخلي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وايي چې ماته معلومه نه ده چې زما استاذ امام صاحب رَحِمَهُ الله خپل له دې قول يعني د عشر له وجوب څخه د نه وجوب و طرف ته رجوع کړې ده، که نه؟ لکه څرنګه چې د مضارب په مسئله کې رجوع کول ثابت دي، هو! د مضاربت په مسئله کې چې څرنګه د امام صاحب دويم قول دا دی چې له مضارب څخه دې عشر نه اخيستل کيږي، همدارنګه به له عبد مأذون څخه هم عشر نه اخيستل کيږي، او د دې قول دليل قياس دی يعني چې څرنګه مضارب نه د مال مالک دی او نه د مالک له طرفه د زکاة په اداء کولو کې نائب دی، همدارنګه د عبد مأذون په قبضه کې چې کوم مال دی، هغه ټوله د مولٰی ملک دی، عبد مأذون نه د هغه مالک دی، او نه په زکاة اداء کولو کې د مولٰی له طرفه اجازه ورکول سوې ده، بلکې هغه ته فقط د تجارتي تصرف اختيار ورکول سوی دی.

وقيل في الفرق الخ ليکن کوم حضرات چې پر عبد مأذون د عشر د وجوب او پر مضارب د نه وجوب قائل دي، هغوی د دې دوو مسئلو په مينځ کې دا فرق کوي چې عبد مأذون د خپل ځان لپاره تصرف کوي، همدا وجه ده چې د عبد مأذون په تصرف کې پر مولٰی هيڅ ذمه واري نه راځي، نو که د تجارت په وخت کې پر عبد مأذون يو پور بلندي سو، نو عبد مأذون به هغه له خپلې ګټې او له خپلې غاړې څخه اداء کوي، مولٰی ته به د هغه په اداء کولو کې رجوع نه کوي، نو کله چې عبد مأذون د خپل ځان لپاره تصرف کوي، نو د حمايت او حفاظت محتاجه به هم هغه وي، او کوم څوک چې د حفاظت محتاجه وي، پر هغه عشر واجبيږي، نو ځکه به پر عبد مأذون عشر واجبيږي، او پاتې سو مضارب نو هغه خو د ربّ المال د نائب کېدلو په وجه تصرف کوي، همدا وجه ده چې د مضارب په تصرف کې پر ربّ المال ذمه واري راځي،

لهٰذا که مضارب یو سامان رانیسي، خو قیمت یې اداء نه کړي، تر دې چې هغه سامان هلاک سي، نو د دغه قیمت په اداء کولو کې به رب المال ته رجوع کوي، نو کله چې مضارب د خپل ځان لپاره تصرف نه کوي، بلکې د رب المال لپاره تصرف کوي، او د مضارب هغه نائب دی، نو د حفاظت محتاجه به هم رب المال وي، نه مضارب، اوکله چې مضارب د حفاظت محتاجه نه دی، نو عشر به هم پر هغه نه واجبیږي، د دې دوو په مسئلو په مینځ کې چې کله دومره فرق سته، نو د مضاربت په مسئله کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله له خپل اول قول څخه د رجوع کولو په وجه به دا نه لازمیږي چې امام صاحب رَحِمَهُ الله دې د عبد مأذون په مسئله کې هم له خپل (یعني د عشر له وجوب) څخه رجوع کړې وي.

وإن کان مولاه معه الخ فرمايي که د عبد مأذون سره د هغه مولیٰ هم وو، نو له مولیٰ څخه به عشر اخیستل کیږي، ځکه د عبد مأذون په قبضه کې چې کوم مال دی، دا ټوله د مولیٰ ملک دی، خو که پر غلام دومره پور باندې وي چې دا پور د غلام پر ټوله مال احاطه کړې وي، یعني مال او پور تقریباً برابر وي، نو په دې صورت کې به له غلام مأذون څخه هیڅ نه اخیستل کیږي، هغه که مولیٰ ورسره وي، او که ورسره نه وي، ځکه کوم مال چې د غلام سره دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له هغه مال څخه د قرض خوښتونکو د حق په وجه د مولیٰ ملک ختم سوی دی، او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې هغه مال په دَین سره مشغول دی، او د مال ختمیدل، یا مال په دَین سره مشغوله کیدل دواړه د زکاة د وجوب مانع دي، نو ځکه به پر غلام باندې د پور په صورت کې عشر او نور هیڅ نه واجبیږي

فوائد: په پورتنی مسئلو کې چې چیري د عشر لفظ ذکر سوی وي، له هغه څخه خاص لسمه حصه مراد نه ده، بلکې د عشر لفظ د لسمې حصې څخه ماسوا د شلمې حصې او د زکاة یعني د څلویښتمې حصې لپاره هم استعمالیږي، د دې تعیین به په قرائنو سره کیږي، نو که د عاشر مخته تېریدونکی مسلمان وو، او د تجارت مال ور سره وو، نو له هغه څخه به څلویښتمه حصه اخیستل کیږي، او که ذمي وو، نو شلمه حصه به ځني اخیستل کیږي، او که حربي وو نو لسمه حصه به ځني اخیستل کیږي، او پر دې ټولو به د عشر اطلاق کیږي.

د خارجیانو عاشر ته د عُشر ورکولو حکم

قال: وَمَنْ مَرَّ عَلَى عَاشِرِ الْخَوَارِجِ فِي أَرْضٍ قَدْ غَلَبُوا عَلَيْهَا فرمايي: که یو څوک د خارجیانو د عاشر سره تېر سي په داسي ځکه کې چې هلته د خلاځ غلبه وي لَغَشَّرَهُ بیا له هغه څخه خارجي عاشر عشر واخلي يُثَنَّى عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ نو له هغه څخه به دوباره زکاة اخیستل کیږي مَعْنَاهُ: إِذَا مَرَّ عَلَى عَاشِرِ أَهْلِ الْعَدْلِ د دې مطلب دا دی: چې کله هغه د عادل عاشر سره تېر سي لِأَنَّ التَّقْصِيرَ جَاءَ مِنْ قِبَلِهِ ځکه چې بې غوري (کوتاهي) د هغه له طرفه راغلې ده حَيْثُ إِنَّهُ مَرَّ عَلَيْهِ ځکه چې هغه د خارجي عاشر سره تېر سوی دی.

اللغات: ﴿الخوارج﴾ جمع د خارجي ده: د مسلمانانو هغې ډلې ته ویل کیږي چې د مسلمانانو د امیر په خلاف یې د بغاوت بیرغ پورته کړی وي، او د ګناه کبیره والا ته کافر وایي.

تشریح: مسئله: دا ده که یو مسلمان تاجر په یو داسي ځکه کې تېر سو چې هلته د خارجیانو تسلط او قبضه وه، او د خارجیانو عاشر له هغه څخه عشر واخیستی، تر هغه وروسته دوباره دا سړی د اهل عدل (یعني د عادل باچا) د عاشر سره تېر سو، نو دا عادل عاشر به دویم وار هم له هغه څخه زکاة اخلي، او مخکې چې هغه کوم عشر خارجي عاشر ته ورکړی دی، هغه به په زکاة کې نه شمارل کیږي، ځکه خارجي عاشر ته چې یې کوم عشر ورکړی دی، هغه د خارجي عاشر سره د تېریدلو په وجه دی، نو دا د دې سړي خپله غلطي ده چې د خارجي عاشر سره تېر سو، نو ځکه به هغه زکاة ده لپاره کافي نه وي، او د ده حفاظت خو عادل باچا په خپل ملک کې کوي، نو کله چې د عادل باچا د عاشر سره تېریږي، هغه به دوباره زکاة ځني اخلي. والله أعلم بالصواب

بَابٌ فِي الْمَعَادِنِ وَالرِّكَازِ

(دا) باب د کانونو او د پټ کړی سوو مالونو (د زکاة په بیان کې) دی

تشریح: دا باب د عُشر او عاشر تر باب ځکه وروسته ذکر سو، چې د عُشر په مقابله کې معدن، رکاز او نور قلیلُ الوجود دی (یعني لږ پیدا کیږي)، نو ځکه مخکې د عُشر احکام بیان سول، او وروسته د معدن او نورو احکام بیانیږي. (عنایه ج۲، ص)

ښکاره دې وي چې معادن جمع د معدن ده، مَعْدَن هغه مال ته ویل کیږي چې الله پاک د مځکې د پیدایښت په ورځ په مځکه کې پیدا کړی وي، رِكَاز هغه مال ته ویل کیږي چې هغه په مځکه کې ښخ کړی سوی او پټ کړی سوي وي، هغه که معدن وي ځکه چې معدن الله ﷻ په مځکه کې ښخ کړی دی، او که کنز وي کوم چې یې مخلوق په مځکه کې ښخوي (لنډه دا چې رکاز معدن او کنز دواړو ته ویل کیږي)، كَنْز هغه مال ته ویل کیږي چې هغه انسان په مځکه کې ښخ کړی وي، أَرْضِ خَرَاجِي هغه مځکې ته ویل چې خراج پکښې واجب وي، او أَرْضِ عُشْرِي هغه مځکې ته ویل کیږي چې عشر پکښې واجب وي. (بنایه ج۳، ص۴۷۴)

که په خراجي یا عُشري مځکه کې یو کان پیدا سو نو څه حکم دی؟

قَالَ: مَعْدِنُ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ فرمایي: د سرو زرو یا د سپینو زرو هغه کان أَوْ حَدِيدٍ أَوْ رَصَاصٍ أَوْ صُفْرٍ یا د اوسپنې یا د سرپو یا د ژړو (هغه کان) وُجِدَ فِي أَرْضِ خَرَاجٍ أَوْ عُشْرٍ چې د خراج یا د عُشر په مځکه کې پیدا سي فَفِيهِ الْخُمُسُ عِنْدَنَا نو په هغه کې زموږ په نېز پنځمه حصه واجب ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِيهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې پر پیدا کونکي په هغه کې هیڅ شی واجب نه دی لِأَنَّهُ مُبَاحٌ سَبَقَتْ يَدُهُ إِلَيْهِ كَالصَّيْدِ ځکه چې هغه یو مباح شی دی چې اول د دې سړي لاس ور رسېدلی دی (یعني اول هغه تر لاسه کړی دی) لکه ښکار إِلَّا إِذَا كَانَ الْمُسْتَخْرَجُ ذَهَبًا أَوْ فِضَّةً خو دا چې کله له کان څخه را ایستل سوی شی سره زر یا سپین زر وي فَيَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ نو په هغه کې به زکاة واجب وي وَلَا يُشْتَرَطُ الْحَوْلُ فِي قَوْلٍ او (د امام شافعي رَحِمَهُ الله) د یو قول مطابق پر هغه د کال تېرېدل (هم) شرط نه دي لِأَنَّهُ نَمَاءٌ كُلُّهُ ځکه چې هغه ټوله نماء ده وَالْحَوْلُ لِلتَّنْمِيَةِ او کال تېرېدل د نماء لپاره دي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ زموږ دلیل د نبي ﷺ (دا) قول دی: او په رکاز کې پنځمه حصه واجب ده وَهُوَ مِنَ الرِّكْزِ او رکاز له رکز څخه مشتق دی (او د رکز معنیٰ ده: ښخول او پټول) فَأُطْلِقَ عَلَى الْمَعْدِنِ نو پر معدن (هم) د هغه اطلاق وسو

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب في الركاز الخمس، حديث رقم: ۱۴۹۹.

وَلِأَنَّهَا كَانَتْ فِي أَيْدِي الْكَفَرَةِ وَحَوَتْهَا أَيْدِينَا غَلَبَةً او په دې وجه (هم) چې دا کانونه (مخکې) د کفارو په قبضه کې ول او زموږ لاسونو په غلبه سره هغه راجمع کړل (يعني يا موږ پر قابض سو) فَكَانَتْ غَنِيمَةً نو ځکه به دا کانونه غنيمت وي وَفِي الْغَنَائِمِ الْخُمُسُ او په غنيمتونو کې پنځمه حصه واجب وي (نو په دې کانو کې به هم پنځمه حصه واجب وي) بِخِلَافِ الصَّيْدِ په خلاف د ښکار لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِي يَدِ أَحَدٍ ځکه چې ښکار د هيچا په قبضه کې نه وو (نو ځکه به خمس پکښې واجب نه وي) إِلَّا أَنَّ لِلْغَانِمِينَ يَدًا حُكْمِيَّةً خو د غازيانو قبضه په حکمي توګه سره ده لِثُبُوتِهَا عَلَى الظَّاهِرِ ځکه چې د هغو قبضه په ظاهري توګه ثابته ده وَأَمَّا الْحَقِيقِيَّةُ فَلِلْوَاجِدِ البته حقيقي قبضه د پيدا کونکي ده فَاعْتَبَرْنَا الْحُكْمِيَّةَ فِي حَقِّ الْخُمُسِ نو موږ د خمس په حق کې د حکمي قبضې اعتبار وکړی وَالْحَقِيقِيَّةَ فِي حَقِّ الْأَرْبَعَةِ الْأَخْمَاسِ او د څلورو خمسونو په باره کې مو د حقيقي قبضې اعتبار وکړی حَتَّى كَانَتْ لِلْوَاجِدِ تر دې چې هغه به د پيدا کونکي وي.

اللغات: ﴿معدن﴾ کان، ﴿ذهب﴾ سره زر، ﴿فضة﴾ سپين زر، ﴿حديد﴾ اوسپنه، ﴿رصاص﴾ سرپ، ﴿نماء﴾ وده، زياتېدل. ﴿حوت﴾ د ضرب د باب واحده مؤنثه غائبه ماضي معلومه صيغه ده: جمع کول، مالک جوړېدل. ﴿ركاز﴾ په مځکه کې پټ سوی مال، ﴿خمس﴾ خُمس او خُمُس دواړه راځي: پنځمه حصه.

تشريح: مسئله: دا ده چې که په خراجي يا عشري مځکه کې د سپينو زرو، سرو زرو، اوسپني، سرپو يا د ژړو يا د داسي نورو شيانو يو کان پيدا سو، نو په هغه کې زموږ په نېز خُمس (يعني پنځمه حصه) واجب ده. امام شافعي رَحِمَهُ الله او امام احمد رَحِمَهُ الله فرمايي: که له کان څخه را ايستل سوی شی سره يا سپين زر ول، نو بيا په هغو کې زکاة واجب دی، لېکن که يو بل شی وو، نو په هغه کې زکاة نسته، ځکه چې معدن يو غير مملوک او مباح شی دی، او مباح شي ته چې اول د چا لاس ورسيږي، هغه يې مالک کيږي، او په هغه کې به ټيکس (عشر) او هيڅ شی نه واجبيږي، لکه څرنګه چې ښکار مباح او غير مملوک دی، او څوک چې ښکار ونيسي، نو هغه يې مالک کيږي، او عشر نه پکښې واجبيږي، همدارنګه به په معدن کې هم خمس او نور نه واجبيږي.

همدا ډول که را ايستل سوی شی سره يا سپين زر ول، نو په هغو کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز څلوېښتمه حصه يعني زکاة واجب دی، لېکن د هغو د وجوب لپاره حولانِ حول او نور شيان شرط نه دي، ځکه چې د حولانِ حول شرط په مال کې د نماء او زياتېدلو لپاره دی، او په دې مسئله کې له معدن څخه را ايستل سوی مال په بشپړه توګه نماء ده (يعني له کان څخه را ايستل سوي سره يا سپين زر په خپله زيات دي، او په خپله يې نماء کړې ده)، نو ځکه به په هغو کې د حولانِ حول شرط نه لګيږي.

زموږ دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: وفي الركاز الخمس، (يعني په رکاز کې خمس واجب دی)، او رکاز له رکز څخه مشتق دی، چې د هغه اطلاق پر معدن هم کيږي، نو د حديث په روی سره به په هر قسم رکاز کې خمس واجب وي، او څرنګه چې معدن هم د رکاز يو قسم دی، نو ځکه به په معدن کې هم خمس واجب وي. دويم دليل دا دی چې ټوله معدني او کاني مځکې مخکې د کفارو په قبضه کې وې، او مسلمانانو له هغوی څخه غلبةً لاندې کړې، لهذا دا ټوله کانونه اوس غنيمت سول، او په غنيمت کې خمس واجب دی، لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَىْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ [الانفال: ۴۱]. يعني د غنيمت په مالونو کې خمس واجب دی.

بخلاف الصيد الخ له دې ځايه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، چي معدن پر ښکار قياسول صحيح نه دي، ځکه چي معدن(کان) د کفارو په قبضه کي وو، او ښکار د هيچا په قبضه کي نه وي، نو معدن د مسلمانانو په غلبې سره د غنيمت مال جوړ سو، ليکن ښکار د يو مسلمان په قبضه سره د غنيمت مال نه جوړيږي، نو ځکه به په معدن کي خمس واجب وي، ليکن په ښکار کي به خمس واجب نه وي.

إلا أن للغانمين الخ له دې ځايه ديو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله کانونه د غنيمت مالونه دي، نو بيا په هغو کي پکار دا ده چي يو خمس دي د يتيمانو او مسکينانو سي، او پاته څلور خمسه دي غانمينو(مجاهدينو) ته ورکول سي، نه پيدا کونکي ته، (ځکه چي دا ځمکي مجاهدينو فتحه کړي دي)، ليکن تاسو په دې مسئله کي څلور خمسه د پيداکونکي لپاره تاکلي دي، نه د مجاهدينو لپاره، آخر د دې څه وجه ده؟ نوجواب ورکوي فرمايي چي د مجاهدينو لپاره به څلور خمسه هغه وخت وي، چي کله پر مال غنيمت د هغو قبضه حقيقتاً او حکماً دواړه بوله وي، او دلته خو حکماً د غنيمت پر مالونو د مجاهدينو قبضه سته، ليکن حقيقتاً نسته، بلکي په ظاهري توګه ده، او حقيقي قبضه خو د پيدا کونکي ده، لهذا موږ د حقيقي او حکمي قبضې دواړو اعتبار وکړی، نو د حکمي قبضې په اعتبار سره مو يو خمس د الله لپاره واجب کړی، چي هغه به فقيرانو او مسکيانو ته ورکول کيږي، او د حقيقي قبضې په اعتبار سره مو څلور خمسه د پيدا کونکو لپاره متعين کړل.

که په يو کور کي کان پيدا سو نو څه حکم دي؟

وَلَوْ وَجَدَ فِي دَارِهِ مَعْدِنًا فَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ او که يو سړي په خپل کور کي کان پيدا کړی نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په هغه کي هيڅ شی واجب نه دی وَقَالَا: فِيهِ الْخُمُسُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي په هغه کي خمس واجب دی لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا زموږ د روايت سوې حديث د مطلق کېدلو په وجه وَلَهُ أَنَّهُ مِنْ أَجْزَاءِ الْأَرْضِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي کان د ځمکي له اجزاؤ څخه دی مُرَكَّبٌ فِيهَا او په ځمکه کي شامل(اوجوړ) دی وَلَا مُؤْنَةَ فِي سَائِرِ الْأَجْزَاءِ او (د ځمکي) په ټولو اجزاؤ کي هيڅ مؤنت او خرچه نسته فَكَذَا فِي هَذَا الْجُزْءِ نو په دې جزء کي به(يې) هم هيڅ خرچه نه وي لِأَنَّ الْجُزْءَ لَا يُخَالِفُ الْجُمْلَةَ ځکه چي جزء له کُل څخه نه مخالف کيږي بِخِلَافِ الْكَنْزِ په خلاف د ښخي کړی سوي خزانې لِأَنَّهُ غَيْرُ مُرَكَّبٍ فِيهَا ځکه چي ښخه کړی سوې خزانه په ځمکه کي شامله نه وي.

اللغات: ﴿معدن﴾ کان، ﴿مؤنة﴾ محنت، بار، بوج، خرڅ(خرچه)، لګښت، ﴿کنز﴾ خزانه، (دلته څني مراد ښخه کړی سوې خزانه ده).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو چا په خپل کور کي کان پيدا کړی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دغه کورني کان کي خمس او نور نه واجبيږي، ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په کورني کان کي هم خمس واجبيږي،

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله أى لا شئ فيه، كذا فى البحر الرائق ج:٢، ص: ٢٣٥. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٧٦]

ځکه مخکې چې موږ کوم حدیث ذکر کړی، یعني: في الركاز الخمس. داحدیث مطلق دی، او په هغه کې د دننه، دباندې، همدارنګه د کور او د غیرِ کور هیڅ قید نشته، نو ځکه به په هر کان کې خمس واجب وي، هغه که په کور کې پیدا سوی وي، یا له کور څخه دباندې.

وله أنه الخ: د امام صاحب دلیل دا دئ چې د کور کان د کور د مځکې یو جزء دی، او د کائناتو د پیدایښت په وخت کې د کور دغه مځکه او کان مرکب سوي یعني جوړ سوي دي، او د مځکې د پیدایښت له وخت څخه دا کان په دغه مځکه کې شامل دی، او په کورني اجزاؤ کې خمس او نور نه واجبیږي، او نه په کورني اجزاؤ که یوه بله خرچه او ټیکس واجبیږي، نو ځکه به په کورني کان کې خمس هم واجب نه وي، ځکه چې د کور کان له کورني اجزاؤ څخه یو جزء دی، او کله چې په کُل کې هیڅ شی نه واجبیږي، نو په جزء کې به هم هیڅ شی نه واجبیږي، ځکه چې جزء له کُل څخه نه مخالف کیږي، د دې په خلاف د ښخې کړی سوي خزانې مسئله ده، ځکه چې هغه په خپله (د یو انسان په ذریعه سره) ښخه کړی سوې او پټه کړی سوې ده، نو هغه د پیدایښت له وخت څخه په مځکه کې شامله نه سوه، او نه په پیدایښې توګه د مځکې له اجزاؤ څخه سوه، نو ځکه به په هغه کې خمس واجب وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، کما قال العلامة ابن العلاء: وإن وجده في داره فليس له فيه شئ وهو لصاحب الدار (التاتارخانية ج: ٢، ص: ٣٢٠). [القول الراجح ج: ١، ص: ١٧٦]

که په خپله مځکه کې کان پیدا سو نو څه حکم دی؟

قال: وَإِنْ وَجَدَ فِي أَرْضِهِ فرمایي: او که یو څوک په خپله مځکه کې کان پیدا کړي فَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ فِيْهِ رِوَايَتَانِ نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په دې کې دوه روایته دي وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى إِحْدَاهُمَا وَهُوَ رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ او په دواړو روایتونو کې پر یوه روایت چې هغه د جامع صغیر روایت دی وجه د فرق دا ده أَنَّ الدَّارَ مُلِكَتْ خَالِيَةً عَنِ الْمُؤَنِ چې کور په داسې حال کې (د انسان) په ملکیت کې راغلی دی چې هغه له ټولو خرچو (خرڅو) څخه خالي وي دُوْنَ الْأَرْضِ (او) مځکه داسې نه ده وَلِهَذَا وَجَبَ الْعُشْرُ وَالْخَرَاجُ فِي الْأَرْضِ دُوْنَ الدَّارِ همدا وجه ده چې په مځکه کې عشر او خراج واجب دی (لیکن) په کور کې واجب نه دی فَكَذَا هَذِهِ الْمُؤْنَةُ نو همدارنګه به دا خرچه هم وي (یعني همدارنګه به کور هم له دې خرچې څخه خالي وي).

اللغات: ﴿مؤن﴾ جمع د مؤنة ده: محنت، خرچه (خرڅه).

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو سړي په خپله مځکه کې کان پیدا کړی، نو په هغه کې د خمس د واجبېدلو په باره کې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي: (١) اول روایت کوم چې د مبسوط دی، دا دی چې په دې کې خمس او هیڅ شی هم واجب نه دي، (٢) دویم روایت کوم چې د جامع صغیر دی، دا دی چې خمس پکښې واجب دی، او په دې دواړو روایتونو کې د فرق وجه دا ده چې کور د هر ډول خرچو، ټکس او بار څخه خالي وي، لیکن پر مځکه ډول ډول خرڅونه او لګښتونه کیږي، همدا وجه ده چې په مځکه کې عشر او خراج دواړه واجب دي، او په کور کې هیڅ شی هم واجب نه دي، نو کله چې په نفسِ کور کې عشر او نور واجب نه دي، نو له کور څخه په را ایستل سوي کان کې به هم عشر او نور واجب نه وي.

د ښخ کړی سوي مال او خزانې د پیدا کولو بېلابېل صورتونه او د هغو حکمونه

وَإِنْ وَجَدَ رِكَازًا أَيْ كَنْزًا او كه ركاز يعني ښخه سوي خزانه پيدا كړي وَجَبَ فِيهِ الْخُمُسُ عِنْدَهُمْ نو په دې كي دامام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله (ټولو) په نيز خُمس واجب دى لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چي موږ روايت كړى وَاسْمُ الرِّكَازِ يُطْلَقُ عَلَى الْكَنْزِ او د ركاز اطلاق پر ښخي سوي خزانې كيږي لِمَعْنَى الرَّكْزِ وَهُوَ الْإِثْبَاتُ د ركز د معنىٰ په وجه او د ركز معنىٰ د ثابتولو (او ښخولو) ده ثُمَّ إِنْ كَانَ عَلَى ضَرْبِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ كَالْمَكْتُوبِ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الشَّهَادَةِ بيا كه هغه خزانه د مسلمانانو پر طريقه ښخه سوې وي مثلاً پر هغې د شهادت كلمه ليكلې وي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ اللُّقَطَةِ نو هغه د لقطه په درجه كي ده وَقَدْ عُرِفَ حُكْمُهَا فِي مَوْضِعِهِ او د لقطې حكم به په خپل ځاى كي معلوم سي (يعني په كتاب اللقطة كي) وَإِنْ كَانَ عَلَى ضَرْبِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ كَالْمَنْقُوشِ عَلَيْهِ الصَّنَمُ او كه د جاهليت په طريقه ښخه سوې وي مثلاً پر هغې د بُت تصوير كښل سوى وي فَفِيهِ الْخُمُسُ عَلَى كُلِّ حَالٍ نو په هر حال به په هغې كي خمس واجب وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ بيان كړى ثُمَّ إِنْ وَجَدَهُ فِي أَرْضٍ مُبَاحَةٍ بيا كه يې دا په مباحه ځمكه كي پيدا كړې وي فَأَرْبَعَةُ أَخْمَاسِهِ لِلْوَاجِدِ نو څلور خمسه به يې د پيداكونكي لپاره وي لِأَنَّهُ تَمَّ الْإِحْرَازُ مِنْهُ ځكه چي د هغه له طرفه حفاظت پوره سو إِذْ لَا عِلْمَ بِهِ لِلْغَانِمِينَ ځكه چي غازيانو (مجاهدينو) ته د دې علم نه وو فَيَخْتَصُّ هُوَ بِهِ نو هم هغه پيدا كونكي به د هغې سره خاص وي وَإِنْ وَجَدَهُ فِي أَرْضٍ مَمْلُوكَةٍ او كه په مملوكه ځمكه كي يې خزانه پيدا كړې وي فَكَذَا الْحُكْمُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو هم دغه حكم دى د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز (يعني څلور خمسه به د پيدا كونكي وي) لِأَنَّ الْإِسْتِحْقَاقَ بِتَمَامِ الْحِيَازَةِ وَهِيَ مِنْهُ ځكه چي حقداره كېدل په پوره توګه په خپل حفاظت كي په راوستلو سره دي او هغه د پيداكونكي له طرفه دي (يعني پيداكونكي خزانه په پوره توګه په خپل حفاظت كي راوستې ده) وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ● هُوَ لِلْمُخْتَطِّ لَهُ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به دا (څلور حصې) د مختط له لپاره وي وَهُوَ الَّذِي مَلَّكَهُ الْإِمَامُ هَذِهِ الْبُقْعَةَ أَوَّلَ الْفَتْحِ او مختط له هغه سړى دى چي هغه د ځمكي د فتح كېدلو په شروع كي امام د ځمكي د دې ټوټې (ټوكړې) مالك جوړ كړى وي لِأَنَّهُ سَبَقَتْ يَدُهُ إِلَيْهِ ځكه چي اول د مختط له لاس دې ته رسېدلى دى وَهِيَ يَدُ الْخُصُوصِ فَيَمْلِكُ بِهَا مَا فِي الْبَاطِنِ او هغه خصوصي قبضه ده نو ځكه به مختط له د دې خصوصي قبضې په وجه د هغه شي مالك وي كوم چي په ځمكه كي دننه وي وَإِنْ كَانَتْ عَلَى الظَّاهِرِ كه څه هم د هغه قبضه پر ظاهر ده كَمَنِ اصْطَادَ سَمَكَةً فِي بَطْنِهَا دُرَّةٌ لكه يو سړى چي داسي ماهى ښكار كړي چي د هغه په نس كي ملغلره وي (نو ملغلره به د ښكار كونكي

● القول الراجح: قول الطرفين، كما قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله قوله باقية "للمختط له" أي الأخماس الأربعة للذي ملكه الإمام البقعة أول الفتح و إن كان ميتا فلورثته.....وهكذا في التاتر خانية، (البحر الرائق اج:٢، ص: ٢٣٥)ح [القول الراجح، ج:١ ص: ١٧٧]

وي، نه د راتيونکي) ثُمَّ بِالْبَيْعِ لَمْ تَخْرُجْ عَنْ مِلْكِهِ بيا د مځکي د خرڅلاو په وجه خزانه د هغه له ملک څخه نه وځي لِأَنَّهُ مُوْدَعٌ فِيْهَا ځکه چي دا خزانه (خو) په مځکه امانت ايښول سوي ده بِخِلَافِ الْمَعْدِنِ په خلاف د کان لِأَنَّهُ مِنْ أَجْزَائِهَا ځکه چي هغه د مځکي له اجزاؤ څخه دی فَيَنْتَقِلُ إِلَى الْمُشْتَرِيْ نو هغه به د راتيونکي و طرف ته منتقل کيږي وَإِنْ لَمْ يُعْرَفِ الْمُخْتَطُّ لَهُ او که مختط له معلوم نه وو يُصْرَفُ إِلَى أَقْصٰى مَالِكٍ يُعْرَفُ فِي الْإِسْلَامِ نو دا خزانه به د هغه آخري مالک و طرف ته ګرځي کوم چي په اسلام کي پېژندل کيږي عَلٰى مَا قَالُوْا لکه څرنګه چي (متأخرينو) فقهاؤ فرمايلي دي وَلَوِ اشْتَبَهَ الضَّرْبُ او که (د خزانې) طرز (او نقش) مشتبه سي يُجْعَلُ جَاهِلِيًّا فِيْ ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ نو په ظاهر د مذهب کي به هغه د جاهليت د زمانې (يعني کفري) خزانه ګرځول کيږي لِأَنَّهُ الْأَصْلُ ځکه چي هغه اصل دی وَقِيْلَ: يُجْعَلُ إِسْلَامِيًّا فِيْ زَمَانِنَا او ويل سوي دي: چي زموږ په زمانه کي به اسلامي خزانه ګرځول کيږي لِتَقَادُمِ الْعَهْدِ ځکه چي د اسلام زمانه (هم) ډېر تېره سوې ده.

اللغات: ﴿ضرب﴾ طرز، طريقه، ډول، نقش. ﴿لقطة﴾ غورځول سوی شی، غورځول سوی مال. ﴿صنم﴾ بت. ﴿غانم﴾ د غنيمت ټولونکی. ﴿إحراز﴾ خوندي کول، محفوظه کول، ژغورل. ﴿مختط له﴾ هغه څوک چي اول وار مځکه هغه ته ورکول سوې وي او د هغه په نامه سوې وي. ﴿بقعة﴾ د مځکي ټوکړه، حصه. ﴿دلّ﴾ ملفلره.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو چا په مځکه که ښخه کړی سوې (دفن کړی سوې) خزانه پيدا کړه، نو په دې کي د حنفي علماؤ په اتفاق خمس واجب دی، ځکه تر دې مخکي چي کوم حديث روايت کړی سو (يعني: فی الرکاز الخمس) هغه مطلق دی، او څرنګه چي لفظ د رکاز معدن او کنز (ښخي کړی سوي خزانې) دواړو ته شامل دی، نو ځکه به په هغه روايت سره دلته دليل نيول صحيح وي، په خپله صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د رکاز اطلاق پر کنز هم کيږي، ځکه رکاز له رکز څخه مشتق دی، چي د هغه معنیٰ ده: ثابتول، ښخول، او څرنګه چي معدن (کان) هم په مځکه کي د الله له طرفه ښخ کړی سوي او ثابت سوی وي، همدارنګه کنز هم د بندګانو له طرفه په مځکه کي ښخ کړی سوی وي.

ثم إن كان الخ فرمايي بيا که پر پيدا سوي خزانې د مسلمانانو يوه نښه وي، مثلاً پر هغې کلمه ليکل سوې وي او داسي نور، نو دا خزانه به د لقطه په حکم کي وي، او په لقطه کي خمس او نور واجب نه دي، بلکي د لقطې حکم دا دی چي تر څه مودې پوري به د هغې اعلان کيږي، که مالک يې پيدا سو، نو ډېر ښه، کنې يو فقير ته به ورکول کيږي، او که په خپله فقير وو، نو خپله به يې استعمالوي، يعني پر ځان به يې صدقه کوي، (دا هم جائز دي چي هر وخت فقير سي بيا يې پر ځان صدقه کړي، خو خمس پکښې واجب نه دی)

وإن كان الخ او که پر خزانې د جاهليت د زمانې او د کفارو يوه نښه وي، مثلاً پر هغې د بُت او نورو تصوير وي، نو په هر حال به په هغې کي خمس واجب وي، هغه که هر ځای پيدا سي، د لما بيّنا څخه صاحب د کتاب د هغه دليل و طرف ته اشاره کړې ده، کوم چي مخکي د باب په شروع کي تېر سو، "يعني مسلمانان پر دې مځکه بلندي غالب سوي دي، او دا د غنيمت مال دی، او د غنيمت په مال کي خمس واجبيږي".

ثم إن وجده الخ مسئله دا ده که يو سړي په مباحه (روا) او غيرِ مملوکه مځکه کي يو جاهلي او کفري خزانه پيدا کړه، نو له هغې څخه به يو خمس د فقيرانو او مسکينانو وي، او څلور خمسه به د پيدا کونکي وي، ځکه چي په غير مملوکه مځکه کي پيدا سوې خزانه حفاظت ته ضرورت لري، نو د کوم سړي له طرفه چي د هغې پوره حفاظت او احراز وسي، هغه به د دې حقداره وي، ځکه کله چي هغه خزانه پيدا کړه، نو په خپل حفاظت کي يې واخيستله، او غازيانو ته خو د دې علم هم نه وو چي په دې مځکه کي خزانه ده، لهذا پيداکونکي به يوازي د دې حقداره وي، ځکه چي حقيقي قبضه خو د پيدا کونکي ده.

وإن وجده الخ او که يو چا په مملوکه مځکه کي يو جاهلي او کفري خزانه پيدا کړه، هغه مځکه که د ده په ملکيت کي وي، يا د بل چا په ملکيت کي وي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به له هغې خزانې څخه يو خمس فقيرانو ته ورکول کيږي، او پاته حصه به د پيداکونکي سړي وي، ځکه چي دلته هم د هغه له طرفه احراز او حفاظت راغلى دى، نو کله چي احراز د هغه له طرفه متحقق دى، نو د دې حقداره به هم هغه وي.

طرفين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په دې صورت کي به پيدا کونکي ته هيڅ نه ورکول کيږي، بلکي د څلورو خمسونو حقداره به مختط له وي، مختط له هغه سړي ته ويل کيږي چي امامُ المسلمين د ښار د فتح کېدلو په وخت کي هغه د مځکي د دغه حصې (چي په هغه کي خزانه پيدا سوې ده) مالک جوړ کړى وي، او امام هغه ته دا حصه ور معلومه کړې وي (او څرنګه چي امام هغه ته د خط او کرښي په ذريعه خپله حصه ور معلوموي نو ځکه هغه ته مختط له ويل کيږي).

د طرفينو دليل دا دى چي دا مځکه تر فتحي وروسته تر ټولو مخکي د مختط له په قبضه کي راغلې ده، نو څرنګه چي مختط له د دې مځکي د ظاهري اجزاؤ هم مالک وي، همدارنګه به د دې د باطني اجزاؤ هم مالک وي، لکه يو سړى چي ماهى (کب) ښکار کړي، او په خپل ملکيت کي يې واخلي، او د ماهي له نس څخه ملغلره را ووځي، نو څرنګه چي دا ښکاري د ماهي د ظاهري حصې مالک دى، همدارنګه به يې د باطني حصې هم مالک وي، او يو بل څوک به د هغه سره په دې کي شريک نه وي، نو همدا راز به مختط له هم د دې خزانې مالک وي، او که هغه ژوندى نه وو، نو د هغه اولاده لو کورنى به د دې خزانې مالکان وي.

ثم بالبيع الخ د دې حاصل دا دى چي که مختط له دا مځکه خرڅه کړه، او بيا په دې مځکه کي يوه خزانه پيدا سوه، نو هم به مختط له د دې خزانې حقداره وي، او د خرڅېدلو په وجه به خزانه د هغه له ملکيت څخه خارجه نه ګڼل کيږي، ځکه چي خزانه په دې مځکه کي امانت او وديعت ايښوول سوې ده، او د دې سره د رانيونکي (مشتري) د حق هيڅ تعلق نسته، نو ځکه به د مځکي اول مالک يعني مختط له د دې خزانې مستحق وي.

بخلاف المعدن الخ فرمايي که د خزانې پر ځاى په مځکه کي کان يعني په پيدايښتي او خلقي توګه سره ايښوول سوي سره زر يا سپين زر يا داسي د نورو شيانو کان پيدا سي، نو په دې صورت کي به رانيونکى حقداره وي، لو دا کان به د مځکي په خرڅولو سره د رانيونکي و طرف ته نقل کيږي، ځکه چي کان د مځکي له اجزاؤ څخه يو جزء دى، نو کله چي رانيونکى د کُل مالک ګرځي، نو د جزء مالک خو به په درجه اولى ګرځي.

وإن لم يعرف الخ فرمايي که مختط له معلوم نه وو، نو په دې صورت کي به خزانه هغه سړي ته ورکول کيږي چي به اسلام کي تر ټولو مخکي د دې مځکي مالک سوى وي، ځکه چي د هغه حق او ملکيت د ټولو خلکو تر حقونو لو ملکيتونو مخکي دى، همدا د متأخرينو فقهاؤ رايه ده، او که د خزانې نقشه او ټاپه شکمنه سوه، يعني نه پر هغې د

مسلمانانو پوه نښه وه، او نه د کافرانو، نو په دې صورت کې به د ظاهر روايت مطابق دا خزانه جاهلي او کفري ګرځول کیږي، او په هر حال کې به په دې کې خمس واجب وي، ځکه چې تر اسلام مخکې پر دې ځمکه د کفارو غلبه او قبضه وه، نو غالب ګومان همدغه دی چې دا به د کافرانو خزانه وي، او يو قول دا دی چې دا به اسلامي خزانه ګرځول کیږي، ځکه چې اوس هم د اسلام د خپرېدلو ډېر وخت کیږي، او ډېره زمانه تېره سوې ده، نو د اسلام له ظاهري حالت څخه همدغه معلومیږي، چې دا خزانه به د کفارو نه وي، بلکې د يو مسلمان قوم خزانه به وي، لهذا دا به هم اسلامي خزانه ګڼل کیږي، او حکم به يې د لقطې وي.

په دارُالحرب کې د خزانې د پيدا کولو حکم

وَمَنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ بِأَمَانٍ او څوک چې دارُالحرب ته په أمان سره داخل سي فَوَجَدَ فِي دَارِ بَعْضِهِمْ رِكَازًا بيا د يو حربي په کور کې رکاز (يعني ښخه سوې خزانه يا کان) پيدا کړي رَدَّهُ عَلَيْهِمْ نو هغه به دا رکاز د کور حربي مالک ته ورکوي تَحَرُّزًا عَنِ الْغَدْرِ له وعده خلافۍ (او درغلۍ) څخه د ځان ساتنې لپاره لِأَنَّ مَا فِي الدَّارِ فِي يَدِ صَاحِبِهَا خُصُوصًا ځکه کوم څه چې په دې کور کې دي هغه د کور د مالک په خصوصي قبضه کې دي وَإِنْ وَجَدَهُ فِي الصَّحْرَاءِ فَهُوَ لَهُ او که يې رکاز د دارُالحراب په صحرا کې پيدا کړی نو (بيا) دا د هغه دی لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي يَدِ أَحَدٍ عَلَى الْخُصُوصِ ځکه چې هغه د يو چا په خصوصي قبضه کې نه دی فَلَا يُعَدُّ غَدْرًا نو ځکه به دا وعده خلافي (او درغلي) نه شمارل کیږي وَلَا شَيْءَ فِيهِ او په دې رکاز کې به هيڅ شی هم واجب نه وي لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمُتَلَصِّصِ غَيْرِ مُجَاهِرٍ ځکه چې دا سړی د هغه چا په درجه کې دی کوم چې په پټه غلا کوي نه په ډاګه (لکه ډاکو).

اللغات: ﴿تحرز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: پرېز کول، ځان ساتل، ﴿غدر﴾ خيانت، وعده خلافي، درغلي، ﴿صحراء﴾ صحرا، بيابان، ﴿متلصص﴾ د تفعّل د باب اسم فاعل دی: غل، په پټه توګه د مال غلا کونکی، ﴿مجاهر﴾ د مفاعلې د باب اسم فاعل دی: په ډاګه او ښکاره توګه يو کار کونکی، مراد ترې ډاکو دی.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو سړي له کفارو څخه امان واخيستی او دارُالحرب ته ورغلی، بيا يې په دار الحرب کې د يوه حربي په کور کې رکاز پيدا کړی، هغه که کان وو او که خزانه (ځکه چې رکاز دواړو ته ويل کیږي)، نو هغه به دا رکاز د کور مالک ته ورکوي، چې درغلي او وعده خلافي رانه سي، او نبي ﷺ فرمايلي دي: في العهود وفاء لا غدر، (يعني په وعده او ژمنه کې وفاء کول پکار دي، نه غدر او درغلي)، دليل دا دی چې کوم څه په کور کې وي، هغه توله په خصوصي توګه د کور د مالک په قبضه کې دي، يعني پر دې باندې د کور د مالک قبضه ده، که څه هم حکمي قبضه ده، نو ځکه به دا رکاز اخيستل درغلي او خيانت وي، او که رکاز يې د دار الحرب په يو داسې دښت کې پيدا کړی چې د هغه هيڅ مالک معلوم وو، نو دا رکاز به د پيدا کونکي وي، ځکه چې دا رکاز د يو چا په خصوصي قبضه کې نه دی، نو ځکه به د هغه اخيستل شرعاً درغلي او غدر نه شمارل کیږي، او په دې رکاز کې به خمس هم نه واجبیږي، ځکه چې خمس په هغه مال کې واجبیږي، چې هغه د غنيمت په معنیٰ سره وي، او غنيمت هغه مال ته ويل کیږي چې هغه د حربيانو په قبضه کې وي، بيا مسلمانان پر هغو حمله وکړي او په غلبه سره په ښکاره توګه هغه مال ترلاسه کړي، لېکن دا سړی داسې نه دی، بلکې دا سړی د غله په بول دی، نو کله چې دا د غنيمت په معنیٰ کې نه سو، نو په دې کې به خمس هم واجب نه وي.

په قيمتي ډبرو کي د خُمس حکم

وَلَيْسَ فِي الْفَيْرُوْزَجِ يُوْجَدُ فِي الْجِبَالِ خُمُسٌ او په هغه فيروزه کي چي په غرونو کي پيدا سي خمس نسته لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: لَا خُمُسَ ● فِي الْحَجَرِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: په ډبرو کي خمس نسته وَفِي الزِّئْبَقِ الْخُمُسُ فِي قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ آخِرًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په آخري قول کي په زيبق کي خمس واجب دی وَهُوَ قَوْلُ● مُحَمَّدٍ او همدا قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی خِلَافًا لِأَبِيْ يُوْسُفَ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله.

اللغات: ﴿فيروزج﴾ فيروزه(يو ډول قيمتي ډبره ده چي زرغون يا شين رنګ لري)، ﴿زيبق﴾ پاره، سيماب، ژيوه، آبک.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي په هغو ډبرو کي کوم چي په غرونو کي پيدا کيږي، لکه فيروزه، ياقوت، (سنګ مرمر) او په داسي نورو کي خُمس نسته، که څه هم دا ټوله قيمتي دي، خو د ډبرو قسمونه دي، او د ډبرو په باره کي نبي ﷺ فرمايلي دي: لا خمس في الحجر.

پاته سوه د زيبق يعني د پارې مسئله، نو په دې باره کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله آخري قول دا دی چي په دې کي هم خمس نسته، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله آخري قول او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اول قول دا دی چي په دې کي خمس واجب دی، او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی.

ښکاره دي وي چي دلته د في الجبال قيد احترازي دی، لهذا که دا ډبري له کفارو څخه غلبةً ترلاسه سوې، نو بيا به په دې کي خمس واجب وي. (بنايه ج:٣، ص:٢٨٥)

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی، يعني په پاره کي خمس سته، كما قال في الهندية ويجب الخمس في الزيبق. كذا في محيط السرخسي (الهندية ج:١، ص:٧٥). [القول الراجح ج:١، ص:١٧٨]

په ملغلرو او عنبر کي د خُمس حکم

وَلَا خُمُسَ فِي اللُّؤْلُؤِ وَالْعَنْبَرِ عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په ملغلرو او عنبرو کي خمس نسته وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ: فِيْهِمَا وَفِيْ كُلِّ حِلْيَةٍ تَخْرُجُ مِنَ الْبَحْرِ خُمُسٌ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دې دواړو کي او له سمندر څخه په هر راوتونکي زېور کي خمس سته لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَخَذَ الْخُمُسَ مِنَ الْعَنْبَرِ ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه له عنبرو څخه خمس واخيستی وَلَهُمَا أَنَّ قَعْرَ الْبَحْرِ لَمْ يَرِدْ عَلَيْهِ الْقَهْرُ او د طرفينو دليل دا دی چي د سمندر پر بېخ (د غازيانو) غلبه نه ده راغلې فَلَا يَكُوْنُ الْمَأْخُوْذُ مِنْهُ غَنِيْمَةً نو له سمندر څخه راخيستونکی مال به غنيمت نه

● تخريج: لم أجده، قال الزيلعي غريب أخرجه ابن عدى في الكامل ج:٥، ص:٢٢ قال رسول الله ﷺ لا زكاة في حجر.

● القول الراجح: قول الطرفين، كذا في البحر الرائق ج:٢، ص: ٢٣. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٧٨]

● القول الراجح: قول الطرفين، كذا في فتح القدير ج:٢، ص: ١٨٥، كما قال في الهداية: ولا شيء فيما يستخرج من البحر كالعنبر واللؤلؤ ج:١، ص:١٨٥. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٧٩]

وي وَإِنْ كَانَ ذَهَبًا أَوْ فِضَّةً كه څه هم هغه سره زر يا سپين زر وي وَالْمَرْوِيُّ عَنْ عُمَرَ فِيْهَا دَسَرَهُ الْبَحْرُ او له حضرت عمر ﷜ څخه (د خمس د اخيستلو په باره کې) را نقل سوى روايت د هغه عنبرو په باره کې دى کوم چې سمندر (په خپله) دباندې راغورځولې وي (يعني هغه عنبر چې سمندر راغورځولى وي او د سمندر پر غاړه پراته وي او غازيانو را اخيستى وي) وَبِهِ نَقُوْلُ او دا خبره موږ هم کوو (چې په دې کې خمس سته) مَتَاعٌ وُجِدَ رِكَازًا (او) کوم سامان چې د رکاز په توګه پيدا سي فَهُوَ لِلَّذِيْ وَجَدَهُ وَفِيْهِ الْخُمُسُ نو هغه به د پيدا کونکي وي او په هغه کې به خمس واجب وي مَعْنَاهُ: إِذَا وُجِدَ فِيْ أَرْضٍ لَا مَالِكَ لَهَا د دې مطلب دا دى: چې په داسې مځکه کې پيدا سي چې هغه مالک نه لري لِأَنَّهُ غَنِيْمَةٌ بِمَنْزِلَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ ځکه چې دا سامان (هم) د سرو او سپينو زرو په درجه کې غنيمت دى. والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿اللؤلؤ﴾ ملغلره، ﴿عنبر﴾ عنبر (يو ډول غوړه او خړه ماده ده، ښه بوى لري او د عنبر نومې ماهې له نس څخه را ايستله کيږي)، ﴿حلية﴾ زېور (ګاڼه، د ښکلا شی)، ﴿قعر﴾ بيخ، ژورتيا، ﴿قهر﴾ غلبه، ﴿دَسَرَ﴾ د نصر ماضي ده: له دننې څخه دباندې را ايستل، له خولې څخه دباندې را ايستل.

تشريح: د لؤلؤ معنیٰ ده: ملغلره، او د ملغلرې په باره کې دوه قوله دي: (۱) د پسرلي د باران څاڅکي چې کله د صدف (سيپي) په خوله کې ولوېږي، نو ملغلره ځنې جوړيږي، (۲) دويم قول دا دى چې صدف يو حيوان دى، چې په هغه کې الله تعالیٰ ملغلره پيدا کړې ده (بنايه، فتح القدير)، همدارنګه د عنبر اړوند هم څو قولونه دي، بعضې خلک وايي چې د سمندر څپې چې کله په مينځ کې سره ټکر سي، نو له هغه څخه عنبر جوړيږي، دويم قول دا دى چې عنبر په سمندر کې د يو وابنه نوم دى، او څه وخت چې دا وابنه ماهي. تېر کړي نو هغه وخت بيا دا وابنه غوړه عنبر شمارل کيږي. (بنايه ج:۳، ص: ۲۷۶)

صورت د مسئلې: دا دى چې د طرفينو په نيز په ملغلرو او عنبرو کې خمس واجب نه دى، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دواړو کې او په هر هغه زېور کې چې له سمندر څخه را ووځي خمس واجب دى.

د امام ابو يوسف دليل: دا دى چې حضرت عمر ﷜ له عنبرو څخه خمس اخيستى دى، لېکن په فتح القدير او بنايه کې پر دې موقع دا خبره ذکر سوې ده چې په عنبر کې د خمس اخيستلو نسبت د حضرت عمر ﷜ و طرف ته کول صحيح نه دي، بلکې صحيح دا ده چې حضرت عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ الله خمس اخيستى دى، او شايد دا د کاتب سهوه وي چې د (﷜) په اضافه سره يې دا اشتباه پيدا کړې ده، لنډه دا چې په دې شيانو کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز خمس واجب نه دى.

د طرفينو دليل: دا دى چې خمس په هغه مال کې واجبيږي چې هغه مخکې د کفارو په قبضه کې وي، بيا مسلمانان حمله پر وکړي، او په غلبه سره هغه تر لاسه کړي، او عنبر داسې نه دي، ځکه چې عنبر د هيچا په قبضه کې نه وي، نو ځکه ويل سوي دي چې هغه سره زر او سپين زر کوم چې په سمندر کې دننه وي، په هغه کې هم هيڅ شی نه واجبيږي.

جواب: صاحب د هدايې د امام ابو يوسف د دليل دا جواب ورکړى دى چې عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ الله (يا حضرت عمر ﷜) چې په کومو عنبرو کې خمس واجب کړى دى، له دې څخه هغه عنبر مراد دي چې د دارُ الحرب سمندر هغه خپلې غاړې ته راغورځولې وي، او غازيانو هغه راپورته کړي وي، نو په هغه کې خمس واجب دى، ځکه چې دا غنيمت دى، او په غنيمت کې خمس واجب وي، او موږ هم د دې قائل يو چې په دې کې خمس واجب دى.

صاحب د كفايې د خمس د نه واجبېدلو په دليل كې فرمايلي دي چې د لؤلؤ اصل اوبه دي، او په اوبو كې هيڅ شی واجب نه دی، نو ځکه به په ملغلره كې هم خمس او نور واجب نه وي، او د عنبرو اصل هم اوبه دي، يا وانبه دي، او په دې شيانو كې هيڅ شی واجب نه دی، نو ځکه به په عنبرو كې هم هيڅ شی واجب نه وي.

متاع وجد الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: كه په ركاز (خزانه) كې له سرو او سپينو زرو څخه ماسوا نور سامان لكه كورنی سامان مثلاً كالي يا وسله او داسي نور شيان ول، نو په هغو كې هم خمس واجب دی، خو په هغه وخت كې چې دا سامان له داسي مځكې څخه را ووځي چې د هغې هيڅ مالک نه وي، ځکه چې دا هم د سرو اسپينو زرو په شان د غنيمت مال دی، او د غنيمت په مال كې خمس واجبيږي، نو په دې سامان كې به هم خمس واجب وي. والله أعلم بالصواب

بَابُ زَكَاةِ الزُّرُوْعِ وَالثِّمَارِ

(دا) باب د كښتونو او د مېوو د زكاة (په بيان كې) دی

تشريح: تر دې مخكې صاحب د كتاب د مطلق مالي عبادتونو احكام بيان كړل، او اوس له دې ځايه مقيّد مالي عبادتونه بياتوي، او څرنګه چې مطلق تر مقيد مخكې وي، نو ځکه صاحب د كتاب په ترتيب كې هم مطلق مخكې كوي، او دا باب په دې توګه مقيد دی چې په دې كې د عبادت سره سره د مؤنت (يعني د عشر) معنیٰ هم سته (عنايه، بنايه)، دلته له زكاة څخه مجازاً عشر مراد دی، ځکه د مځكې په فصل او پيداوار كې عشر (لسمه حصه) واجب ده، لکه څرنګه چې په تېر باب كې هم له مصدق (زكاة اخيستونكي) څخه مجازاً عاشر (يعني د عشر اخيستونكی) مراد وو.

په راشنه كېدونكو شيانو كې د عشر او د صدقاتو حكم

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله فرمايلي دي فِيْ قَلِيْلِ مَا أَخْرَجَتْهُ الْأَرْضُ وَكَثِيْرِهِ الْعُشْرُ د مځكې په لږ را ايستل سوې غله (او فصل) كې او په زياته غله (او فصل) كې عشر واجب دی سَوَاءٌ سُقِيَ سَيْحًا أَوْ سَقَتْهُ السَّمَاءُ برابره ده كه دا مځكه په جاري (روانو) اوبو سره اوبه سوې وي يا آسمان اوبه كړې وي إِلَّا الْقَصَبَ وَالْحَطَبَ وَالْحَشِيْشَ لېكن د سونګ په لرګو (يعني د سوځلو په بوټو)، بانس او وښو كې (عشر واجب نه دی) وَقَالَا: لَا يَجِبُ الْعُشْرُ إِلَّا فِيْمَا لَهُ ثَمَرَةٌ بَاقِيَةٌ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې عشر واجب نه دی مګر په هغه (فصل) كې چې د هغه مېوه پاتېږي إِذَا بَلَغَ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ په دې شرط چې پنځو وسقو ته ورسيږي وَالْوَسَقُ سِتُّوْنَ صَاعًا بِصَاعِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او يو وسق د نبي ﷺ په صاع سره اته (۸) صاعه كيږي وَلَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ عِنْدَهُمَا عُشْرٌ او په سابه جاتو كې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز عشر واجب نه دی فَالْخِلَافُ فِيْ مَوْضِعَيْنِ نو (د امام احب او صاحبينو) اختلاف په دوو ځايو كې دی فِي اشْتِرَاطِ النِّصَابِ وَفِي اشْتِرَاطِ الْبَقَاءِ [۱] د نصاب په شرط لګولو كې [۲] او د بقاء په شرط لګولو كې

لَهُمَا فِي الْأَوَّلِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په نصاب کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی لَيْسَ [1] فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ (چي) له پنځو وسقو څخه په کم کي زکاة نشته وَلِأَنَّهُ صَدَقَةٌ فَيُشْتَرَطُ فِيهِ النِّصَابُ لِتَحَقُّقِ الْغِنَاءِ او په دې وجه (هم) چي عشر زکاة دی نو ځکه به په هغه کي نصاب شرط وي د مالداری د ثابتولو لپاره وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله [2] قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی مَا أَخْرَجَتِ [3] الْأَرْضُ فَفِيهِ الْعُشْرُ څه چي مځکه راوباسي په هغه کي عشر واجب دی مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ (د نبي ﷺ دا قول) بغير له څه تفصيل څخه (دی) وَتَأْوِيلُ مَا رَوَيَاهُ زَكَاةُ التِّجَارَةِ او د هغه حديث تأويل کوم چي صاحبينو رَحِمَهُمَا الله روايت کړی دی د تجارت زکاة دی (يعني که د تجارت غله پنځه وسقه سوه، نو زکاة واجبيږي) لِأَنَّهُمْ كَانُوا يَتَبَايَعُونَ بِالْأَوْسَاقِ ځکه چي خلکو به په وسقونو سره خرڅول او رانيول کوله وَقِيمَةُ الْوَسْقِ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا او د يوه وسق قيمت به څلوېښت درهمه وو وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْمَالِكِ فِيهِ او په عشر کي د مالک اعتبار نشته فَكَيْفَ بِصِفَتِهِ وَهُوَ الْغِنَاءُ نو د هغه د صفت يعني د مالداری اعتبار به څرنګه کيږي وَلِهَذَا لَا يُشْتَرَطُ الْحَوْلُ همدا وجه ده چي د کال تېرېدل شرط نه دي لِأَنَّهُ لِلِاسْتِنْمَاءِ وَهُوَ كُلُّهُ نَمَاءٌ ځکه چي د کال تېرېدل (خو) د نماء د طلب لپاره دي او غله (خو) ټوله نماء ده وَلَهُمَا فِي الثَّانِي قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل په دويم شرط (يعني د بقاء په شرط) کي د نبي ﷺ (دا) قول دی لَيْسَ فِي الْخَضْرَاوَاتِ [4] صَدَقَةٌ (چي) په سابه جاتو کي صدقه نشته وَالزَّكَاةُ غَيْرُ مَنْفِيَّةٍ او (په دې کي) د زکاة نفي نه دي سوې فَتَعَيَّنَ الْعُشْرُ نو عشر متعين سو وَلَهُ مَا رَوَيْنَا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دی کوم چي موږ روايت کړی وَمَرْوِيُّهُمَا مَحْمُولٌ عَلَى صَدَقَةٍ يَأْخُذُهَا الْعَاشِرُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله روايت سوی حديث پر هغه صدقه حمل کيږي کوم چي يې عاشر اخلي وَبِهِ أَخَذَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله فِيهِ او په دې کي (خو) امام صاحب رَحِمَهُ الله (هم) په هغه حديث سره دليل نيسي وَلِأَنَّ الْأَرْضَ قَدْ تُسْتَنْمَى بِمَا لَا يَبْقَى او په دې وجه چي له مځکي څخه کله نماء په داسي شي سره (هم) حاصليږي چي هغه باقي نه پاتيږي (چي هغه نو سبزيجات دي) وَالسَّبَبُ هِيَ الْأَرْضُ النَّامِيَةُ او د (عشر او نور د واجبېدلو) سبب همدا د مځکي نامي کېدل دي وَلِهَذَا يَجِبُ فِيهَا الْخَرَاجُ نو ځکه په دې کي خراج واجبيږي أَمَّا الْحَطَبُ وَالْقَصَبُ وَالْحَشِيشُ لَا تُسْتَنْبَتُ فِي الْجِنَانِ عَادَةً هرچي د سوځلو لرګي، بانس او وابنه دي نو دا

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، ليس فيما دون خمسة أوسق صدقة، حديث رقم: ۱۳۸۴.

[2] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۵۴، و كما قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله: العشر في كل ما يخرجه الارض.... الخانية ج:۱، ص: ۱۳۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۰]

[3] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب العشر فيما يسقي من ماء السماء، حديث رقم: ۱۳۸۳.

[4] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الزكوة، باب ماجاء في زكوة الخضروات، حديث رقم: ٦٣٨.

شیان عادةً په باغونو کي نه راشنه کول کیږي بَلْ تُنَقّٰى عَنْهَا بلکي باغونه له هغو څخه پاکیږي حَتّٰى لَوِ اتَّخَذَهَا مُقَصَّبَةً تر دې که مالک له باغ څخه د بانسانو کښت جوړ کړي أَوْ مُشَجَّرَةً یا (د داسي) درختو باغ ځني جوړ کړي (چي هغه د سوځولو لپاره وي) أَوْ مَنْبَتًا لِلْحَشِيْشِ یا د وښو راشنه کولو ځای ځني جوړ کړي يَجِبُ فِيهَا الْعُشْرُ نو په هغه کي به عشر واجب وي وَالْمُرَادُ بِالْمَذْكُوْرِ الْقَصَبُ الْفَارِسِيُّ او له ذکر سوي بانس څخه فارسي بانس مراد دی أَمَّا قَصَبُ السُّكَّرِ وَقَصَبُ الذَّرِيْرَةِ فَفِيْهِمَا الْعُشْرُ هر چي گنی او زنبق(سخاوړه) دي نو په هغو کي عشر واجب دی لِأَنَّهُ يُقْصَدُ بِهِمَا اِسْتِغْلَالُ الْأَرْضِ ځکه چي په هغو سره د ځمکي غله(او فصل) مقصود دي بِخِلَافِ السَّعَفِ وَالتِّبْنِ په خلاف د خرما د ښاخونو او د پروړو لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ الْحَبُّ وَالثَّمْرُ دُوْنَهُمَا ځکه چي (له هغو څخه) دانه او خرما مقصود دي نه ښاخونه او پروړ.

اللغات: ﴿سبخ﴾ د ځمکي پر مخ بهېدونکي اوبه، واله او داسي نور، ﴿قصب﴾ کوچنی بانسان، ﴿حطب﴾ د سونګ لرګي (دلته هغه درختي او بوټي ځني مراد دي چي خلک يې د سوځلو لپاره استعمالوي)﴿حشيش﴾ وابه، ﴿خضروات﴾ سابه جات(سبزیجات)، ﴿جنان﴾ باغونه، ﴿سعف﴾ د خرما د درختي خالي ډنډوري، ښاخونه، ﴿تبن﴾ پروړ، ﴿قصب الذريرة﴾ زنبق، سوسن، ګلِ زنبق (یو ډول خوشبویه بوټي دی چي په عطرو او داوړ کي استعمالیږي، او ربنې ته يې "سخاوړه" وايي، په انګریزي کي sweet flag ورته وايي، اُوردو شارحینو يې په معنی کي "چراڻته" لیکلي دي، حال دا چي "چراڻته" بل بوټي دی چي هغه ته په عربي کي "كف الذئب" وايي).

تشريح: د ځمکي په پیداوار او حاصلاتو(یعني هغه چي د کښت او کروندې په ذریعه له ځمکي څخه حاصلیږي په هغو) کي د عُشر د واجبېدلو په باره کي د امام صاحب او صاحبینو په مینځ کي اختلاف دی، امام اعظم رَحِمَهُ الله فرمایي چي مطلقاً د ځمکي په حاصلاتو کي عشر واجب دی، هغه که حاصلات کم وي او که زيات وي، او له څه تدبیر اختیارولو څخه بغیر تر یوه وخته پوري پاته کېدونکي وي او که نه وي، ځکه د نهرونو(والو)او نورو په روانو اوبو سره اوبه سوې وي او که د باران په اوبو سره اوبه سوې وي، په هر حال کي عشر واجب دی، ماسوا له بانس، د سوځولو د لرګیو(بوټو) او وابنو څخه چي په دې شیانو کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم عشر واجب نه دی، صاحبين رَحِمَهُمَا الله وايي چي د ځمکي په حاصلاتو کي په دوو شرطونو عشر واجب دی: یو دا چي هغه شی کوم چي له ځمکي څخه پیدا سوی وي هغه به بغیر له څه تدبیره تر یوه کاله پوري پاته کېدای سي، لکه غنم، اوربشي، وریجې او داسي، نور، او که تر یوه کال پوري نه سي پاته کېدای، نو په هغو کي به عشر واجب نه وي، لکه انګور، ختکی، هندوانه، سېب او داسي نور، دویم شرط دا دی چي دا حاصلات به د پنځو وسقو په اندازه وي، له دې څخه په کم عشر واجب نه دی، او یو وسق د نبي ﷺ په صاع سره شپېته (٦٠) صاعه کیږي، نو پنځه وسقه درې سوه(٣٠٠) صاعه کیږي، او یو صاع څلور منه کیږي، نو د من په حساب سره پنځه وسقه دوولس سوه (١٢٠٠) منه سوه.

د صاحبینو په نېز په سبزیجاتو(سابه جاتو) کي عشر واجب نه دی، ځکه چي تر یوه کال پوري د هغو پاته کېدل بغیر له یو تدبیره څخه ممکن نه دي، حاصل دا چي د امام صاحب او صاحبینو اختلاف په دوو ځایونو کي دی: (١)یو دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د عشر د واجبېدلو لپاره د نصاب مقدار شرط نه دی، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز شرط دی،

دويم دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ترېوه كال پوري پاته كېدل شرط نه دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز شرط دي.

د صاحبينو دليل: د عشر په واجبېدلو كي د نصاب د شرطولو لپاره د صاحبينو دليل د نبي ﷺ دا قول دى: ليس فيما دون خمسة اوسق صدقة، په حديث كي له صدقې ځخه مراد عشر دى، ځكه چي زكاة خو له پنځو وسقو ځخه په كم كي هم واجبيږي، په دې شرط چي د هغه قيمت دوو سوو درهمو ته رسيږي، نو د حديث ترجمه دا سوه: "چي تر پنځو په كمو وسقو كي عشر نسته"، نو معلومه سوه چي د عشرد واجبېدلو لپاره پنځه وسقه كېدل ضروري دي، دويم دليل دا دى چي عشر هم د زكاة په ډول دى، ځكه چي د عشر تعلق هم د ځمكي د نماء سره دى، لكه ځرنګه چي د زكاة د واجبېدلو لپاره هم نماء شرط ده، او د زكاة په ډول عشر هم پر كافر نه واجبيږي، او د عشر مصارف هم هغه دي كوم چي د زكاة او صدقاتو مصارف دي، نو ثابته سوه چي عشر د زكاة په ډول دى، او د زكاة د واجبېدلو لپاره د نصاب مقدار شرط دى، د دې لپاره چي مالداري متحققه سي، نو همدارنګه به د عشر د واجبېدلو لپاره هم د نصاب مقدار شرط وي چي مالداري او غناء ثابته سي.

د امام صاحب دليل: د دې آيت عموم دى: أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ [البقرة: ٢٦٧]، يعني امام صاحب فرمايي چي په دې آيت كي د ځمكي په مطلق حاصلاتو كي د إنفاق حكم سوى دى، د قليل او كثير هيڅ تفصيل پكښي نسته، او د صاحبينو د حديث: ليس فيما دون خمسة اوسق صدقة تأويل دا دى چي په دې كي له صدقې ځخه عشر نه بلكي د تجارتي مال (او د تجارتي غلې) زكاة مراد دى، يعني د تجارت په غله (حبوباتو) كي د زكاة د واجبېدلو لپاره پنځه وسقه ضروري دي، او د هغه وجه دا ده چي د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په زمانه كي به خلكو د وسق په حساب سره سودا (اخيستنه او خرڅونه) كوله، او د يوه وسق خرماوو قيمت به څلوېښت درهمه وو، نو د پنځو وسقو قيمت به دوه سوه (٢٠٠) درهمه وو، او دوه سوه درهمه د زكاة نصاب دى (نو د حديث مطلب دا سو چي كه يو څوک د غلې تجارت كوي، او د هغه سره تر پنځو وسقو كمه غله وي نو پر هغه زكاة نسته، دا يې مطلب نه دى چي د ځمكي په حاصلاتو كي عشر نسته).

ولا معتبر بالمالك...الخ له دې ځايه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د عقلي دليل جواب وركوي، حاصل يې دا دى چي په عشر كي د مالک هيڅ اعتبار نسته، همدا وجه ده چي د كوچني، مكاتب او لېوني او نورو په ځمكه كي همدارنګه په موقوفه كي هم عشر واجب دى، حال دا چي په دې ټولو كي د مالک كېدلو صفت نسته، نو كله چي په عشر كي د مالک هيڅ اعتبار نسته، نو د هغه د صفت يعني د مالدارى اعتبار به ځرنګه كيږي؟ همدا وجه ده چي په عشر كي د كال تېرېدل (حولانِ حول) هم شرط نه دي، ځكه چي د حولانِ حول شرط د نماء او زياتوب د معلومولو لپاره دى، او د غلې او حاصلاتو ټوله حصه په خپله نماء ده.

ولهما في الثاني الخ په دويم شرط كي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل د نبي ﷺ دا قول دى: ليس في الخضروات صدقة، دا روايت په دار قطني كي داسي ذكر سوى دى: أن رسول الله ﷺ نهى أن يؤخذ من الخضروات صدقة، په حديث كي له "صدقة" ځخه مراد عشر دى، ځكه سبزيجات چي كله د تجارت لپاره وي، نو په هغو كي بالاتفاق زكاة واجبيږي، نو معلومه سوه چي په حديث كي د زكاة نفي نه دي سوې، او كله چي د زكاة نفي نه دي سوې، نو عشر به متعين كيږي، او د حديث مطلب به دا وي چي نبي ﷺ په سبزيجاتو كي له عشر اخيستلو ځخه منع كړې ده، (يعني په سبزيجاتو كي

عشر واجب نه دی)، او په سبزیجاتو کي د عشر د نه واجبېدلو علت او سبب د هغوی نه پاته کېدل دي، نو ځکه موږ وویل چي کوم شیان تر یو کال بغیر له څه تدبیره څخه نه سي پاته کېدلای، نو په هغو کي به عشر واجب نه وي.

د امام صاحب دلیل: دا حدیث دی: ما أخرجت الأرض ففیه العشر او دا حدیث مطلق دی، په دې کي د پاته کېدلو او نه پاته کېدلو هیڅ قید نسته، نو ځکه به مطلقاً د ځمکي په حاصلاتو کي عشر واجب وي، هغه که تر یوه کال پوري پاته کېدای سي او که نه سي، او د لیس في الخضروات صدقة، مطلب به دا وي چي که د یو سړي سره سبزیجات وي او د عاشر سره تېر سي، او دا سړی له قیمت ورکولو څخه انکار وکړي، نو عاشر به خاص له سبزیجاتو څخه عشر نه اخلي، ځکه چي عاشر په عامه توګه له ښار څخه لیري وي، او هلته فقیران نه وي، نو که په داسي صورت له سبزیجاتو څخه عشر واخیستل سي، نو د هغو د خرابېدلو امکان سته (یعني مستحق خلک نسته چي تر عشر اخیستلو وروسته سبزیجات هغو ته ورکړي)، نو ځکه په حدیث کي وویل سوه چي عاشر به د سبزیجاتو عشر نه اخلي، بالکي مالک به یې په خپله فقیرانو ته ورکړي، او کله چي یې مالک فقیرانو او مستحقو خلکو ته ورکړي، نو هغوی به یې وخوري، او د هغو د خرابېدلو امکان به نه وي، امام صاحب رَحِمَهُ الله هم د حدیث پر دغه محمل عمل کوي، نو د حدیث دا مطلب نه دی چي په سبزیجاتو کي بالکل عشر واجب نه دی، لکه څرنګه چي صاحبین وایي.

ولأن الأرض د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مسلک عقلي دلیل دا دی چي د عشر د واجبېدلو سبب د ځمکي نامي کېدل دي (یعني نامي ځمکه ده)، او کله له ځمکي څخه په داسي شي سره هم نماء حاصلیږي (یعني له ځمکي څخه کله داسي شی هم پیدا کیږي) چي هغه تر یوه کال پوري پاته کېدونکی نه وي (مثلاً سبزیجات)، اوس که موږ د نه پاته کېدلو په وجه په هغو کي عشر واجب نه کړو، نو سبب به چي هغه نامي ځمکه ده بغیر له حکم څخه چي هغه عشر دی پاته سي، (په لنډه توګه دا چي سبب به بغیر له حکم څخه پاته سي)، او دا صحیح نه ده، همدا وجه ده که یو چا په خراجي ځمکه کي سبزیجات وکرل، نو په هغو کي به پوره خراج واجب وي (ځکه چي سبب یعني نامي ځمکه سته)، نو څرنګه چي په نه پاته کېدونکو شیانو کي خراج واجب دی، همدارنګه به عشر هم پکښې واجب وي.

أما الحطب الخ فرمایي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په بانس، وښو او د سوځلو په بوټو کي عشر واجب نه دی، ځکه چي عادتاً او په عامه توګه دا شیان په باغو کي نه کرل کیږي، بلکي زیاتره دا لیدل کیږي چي دا شیان په خپله په باغو کي راشنه کیږي، لېکن خلک یې بیرته کاږي او باغونه ځني صفا کوي، هو! که د کښت مالک له ځمکي څخه ـ بانسلو کښت جوړ کړي، یا یې د هغو درختو باغ ځني جوړ کړي چي په سوځلو کي کار ځني اخیستل کیږي یا یې د وښو کرلو ځای ځني جوړ کړي، نو اوس د دې شیانو حاصلول مقصود سو (او په خپله راشنه نه سو. بلکي وکرل سو) نو ځکه به عشر پکښې واجب وي.

والمراد الخ فرمایي چي په متن کي له قصب څخه مراد فارسي بانس دی، چي له هغه څخه قلمان او نور جوړیږي، لو ګنی او جواري ځني مراد نه دي، ځکه چي په دې دواړو سره د حاصلاتو او غلې حاصلول مقصود دي. نو په دې کي به عشر هم واجب وي، د دې په خلاف د خرما د درختي ښاخونه او پروړ دي چي په دې کي هم عشر واجب نه دی. ځکه چي د خرما له ښاخونو څخه کجوري او خرماوي مقصود دي، او له پروړو څخه دانه او غله مقصود دي. او په خرما او غله کي عشر واجب دی، نو د هغو په فضلاتو کي د عشر واجبولو څه ضرورت نسته.

د نيم عشر حکم

قَالَ: وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ أَوْ دَالِيَةٍ أَوْ سَانِيَةٍ فرمايي: او کومه ځمکه چې اوبه کړی سي په غټه سولاغه يا ارهټ يا اوښي سره فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ نو په هغه کي نصف عشر (يعني شلمه حصه) ده عَلَى الْقَوْلَيْنِ پر دواړو قولونو لِأَنَّ الْمُؤْنَةَ تَكْثُرُ فِيهِ ځکه چې په هغه کي خرچه(او تکليف) زيات دی وَتَقِلُّ فِيمَا يُسْقَى بِالسَّمَاءِ أَوْ سَيْحًا او کومه ځمکه چې د آسمان(يعني د باران) په اوبو سره يا د درياب (رُود) په اوبو سره اوبه کيږي په هغه کي تکليف کم دی وَإِنْ سُقِيَ سَيْحًا وَبِدَالِيَةٍ او که ځمکه د درياب په اوبو او په ارهټ (دواړو) سره اوبه سوې وي فَالْمُعْتَبَرُ أَكْثَرُ السَّنَةِ نو (په دې کي به) د اکثره کال اعتبار کيږي كَمَا هُوَ فِي السَّائِمَةِ لکه په سائمه څارويانو کي چې د اکثره کال اعتبار کيږي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي فِيمَا لَا يُوسَقُ كَالزَّعْفَرَانِ وَالْقُطْنِ يَجِبُ فِيهِ الْعُشْرُ چې په هغو شيانو کي کوم چې په وسق کي نه راځي (يعني چې په وسق سره نه تلل کيږي) لکه زعفران او پمبه په هغو کي عشر واجب دی إِذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهُ خَمْسَةَ أَوْسُقٍ مِنْ أَدْنَى مَا يُوسَقُ په دې شرط چې د هغو قيمت د ادنیٰ وسقي شي پنځو وسقو ته ورسيږي (يعني په دې شرط چې د هغو قيمت د هغه ادنیٰ شي قيمت ته ورسيږي چې په وسق سره تلل کيږي، له ادنیٰ شي څخه مراد د ادنیٰ درجې غله ده لکه جوار چې دا تر ټولو ادنیٰ درجه غله او ارزانه دي) كَالذُّرَةِ فِي زَمَانِنَا لکه زموږ په زمانه کي چې جواري دی لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ التَّقْدِيرُ الشَّرْعِيُّ فِيهِ ځکه چې په غير وسق شي کي د شرعي نصاب اندازه کول ممکن نه دي فَاعْتُبِرَتْ قِيمَتُهُ نو د هغه د قيمت اعتبار وسو كَمَا فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ لکه د تجارت په سامان کي چې دي وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: يَجِبُ الْعُشْرُ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې عشر واجب دی إِذَا بَلَغَ الْخَارِجُ خَمْسَةَ أَعْدَادٍ مِنْ أَعْلَى مَا يُقَدَّرُ بِهِ نَوْعُهُ چې کله پيداوار (حاصلات) د پنځو شمېر ته ورسيږي د هغه لوړي اندازې په پيمانه سره چې په هغې سره دا ډول شی اندازه کيږي (پيمانه کيږي) فَاعْتُبِرَ فِي الْقُطْنِ خَمْسَةُ أَحْمَالٍ نو په پمبه وو کي د پنځو أحمالو اعتبار وسو كُلُّ حِمْلٍ ثَلَاثُ مِائَةِ مَنٍّ (چې) هر حمل دري سوه مَنه دی وَفِي الزَّعْفَرَانِ خَمْسَةُ أَمْنَاءٍ او په زعفران کي د پنځو مَنو (اعتبار وسو) لِأَنَّ التَّقْدِيرَ بِالْوَسْقِ كَانَ بِاعْتِبَارِ ځکه چې په وسق سره د اندازه کولو اعتبار په دې وجه وو أَنَّهُ أَعْلَى مَا يُقَدَّرُ بِهِ چې دا په هغو ټولو شيانو کي اعلیٰ پيمانه (او اندازه) وه چې په هغو سره به (غله جات او نور شيان) پيمانه کېدله.

اللغات: ﴿غرب﴾ غټه سولاغه، ﴿دالية﴾ ارهټ (ارهټ)، دا د دلو څخه مشتق دی، له دې څخه هغه څرخه مراد ده چې په هغې کي کوچنۍ کوچنۍ سولاغې نصب کړی سي او د اوښي په ذريعه له څاه څخه اوبه په راکښل کيږي چې هغې ته ارهټ هم وايي، ﴿سانية﴾ هغه اوښه چې ځمکه اوبوي، ﴿قطن﴾ پمبه، ﴿ذرة﴾ جواري.

تشريح: په پورتني عبارت کي يو شو لفظونه د پاملرني وړ دي: (۱) غرب، د دې معنیٰ ده: غټه سولاغه، (۲) داليه، د دې معنیٰ ده: ارهټ يعني هغه ګول شی چي پر هغه وړې سولاغي تړل کيږي او بيا يې غويی يا يو بل حيوان ګرځوي، او د دې په ذريعه کښتونه او باغونه اوبوي، (۳) سانيه، د ساقية مترادف دی، او د دې معنیٰ ده: کښت اوبه کونکې اوښه.

صورت د مسلې: دا دی چي که کښت د غټي سولاغې يا ارهټ يا د اوښي په ذريعه سره اوبه کېدی، نو د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نېز په هغه کي نيم عشر واجب دی، خو د مخکيني اختلاف سره يعني په دې کي د صاحبينو رَحِمَهُمَااللہ په نېز نصاب او يوکال پاته کېدل شرط دي، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ اللہ په نېز دا شيان شرط نه دي، په دې کي د عشر د واجبېدلو دليل دا دی چي په دې صورتونو کي مشقت او تکليف زيات دی، په نسبت و دې ته چي د باران يا د درياب په اوبو سره اوبه سي، نو ځرنګه چي د باران يا د درياب په اوبو سره په اوبه کولو کي مشقت او تکليف کم دی، نو ځکه په هغو کي پوره عشر واجب کړی سو، او په ارهټ او نورو سره په اوبه کولو کي تکليف زيات دی، نو ځکه په دې صورتونو کي نيم عشر يعني شلمه حصه واجب کړی سوه.

وإن سقی الخ فرمايي چي که يو کښت د درياب په اوبو سره هم اوبه سوی وو، او په سولاغو سره هم اوبه سوی وو، نو د کال د اکثره حصې اعتبار به کيږي، يعني که اکثره کال د درياب په اوبو سره اوبه سوی وو، او يو څو ورځي په سولاغو سره اوبه سوی وو، نو عشر به واجب وي، او که د دې برعکس وو، نو نيم عشر به واجب وي، لکه په سائمه څارويانو کي چي د اکثره کال اعتبار کيږي، يعني که د کال زياتره حصه يې څارويانو ته د بيابان وابښه ورکړي وو، او يو څو ورځي يې په کور کي وابښه ورکړي وو، نو دا به سائمه څارويان وي، او زکاة به پکښې واجب وي، او که د دې برعکس ول، نو علوفه څارويان به وي، او زکاة به پکښې واجب نه وي.

وقال أبويوسف الخ د صاحبينو پر مذهب يو اعتراض کيږي هغه دا چي د صاحبينو په نېز د ځمکي په حاصلاتو کي د عشر د واجبېدلو لپاره د پنځو وسقو مقدار ضروري دي، له دې څخه په کم کي عشر واجب نه دی، لېکن په کومو شيانو کي چي د وسق په ذريعه سره وزن او تول نه معلومېږي، او د وسق په ذريعه سره د هغو اخيستنه او خرڅونه نه کيږي، لکه زعفران او پمبه نو آيا په هغو کي به عشر واجب نه وي؟، صاحب د هدايې فرمايي چي د داسي شيانو په باره کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللہ قول دا دی چي که د زعفران او د داسي نورو غيرِ وَسَقي شيانو (يعني په وسق سره د نه وزن کېدونکو شيانو) قيمت د ادنیٰ وَسَقي شي د پنځو وسقو و قيمت ته رسېدی، نو په هغو کي به عشر واجب وي، مثلاً که د دوو سوو ګرامو زعفرانو قيمت د پنځو وسقو جورو و قيمت ته رسېدی، نو په دوه سوه ګرامه زعفرانو کي به عشر واجب وبکه څه هم د زعفرانو اخيستنه او خرڅونه په وسق سره نه کيږي(د پنځو وسق جورو قيمت د درهم په حساب سره يونيم سل (۱٥۰) درهمه کيږي)، دليل دا دی چي په هغه شي کي چي وسقي نه وي د شرعي نصاب يعني د پنځو وسقو اندازه کول ممکن نه دي، نو ځکه د هغه د قيمت اعتبار وسو، لکه ځرنګه چي په تجارتي سامان کي د شرعي نصاب يعني د دوو سو درهمو اندازه کول ممکن نه دي، نو ځکه په هغه کي هم د هغه د قيمت اعتبار سوی دی، يعني که د تجارت سامان د دوو سوو درهمو و مقدار ته رسېدی، نو په هغه کي به زکاة واجب وي.

وقال محمد الخ د امام محمد رَحِمَهُ اللہ قول دا دی چي په غيرِ وسقي شيانو کي به د لوړي درجې پيمانه او اندازه معتبره وي، يعني په کومو پيمانو سره چي غيرِ وسقي شيان اندازه کيږي، په هغو کي چي کومه تر ټولو اعلیٰ او غټه پيمانه

وي، که وسقي شی په هغه غټه پیمانه سره پنځه پیمانې سي، نو په هغه کي به عشر واجب وي، کنې نه به وي، نو په پمبه وو کي تر ټولو اعلیٰ او غټه اندازه او پیمانه حِمل دی، حِمل دیوه اوښ بار ته وايي، نو که پمبه پنځه حِمله سوه، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به په هغو کي عشر واجب وي، یو حِمل تقریباً درې سوه مَنه کیږي، او د زعفرانو د اندازه کولو غټ پیمانه مَن دی، نو که زعفران د پنځو منو په اندازه وه، نو عشر به پکښې واجب وي، دلیل دا دی چي په هغو شیانو کي کوم چي تلل (تولول) کیږي، په هغو کي به تر ټولو غټه پیمانه د وسق په ځول سي، ځکه چي د وسق اعتبار به هم ځکه کېدی چي هغه به تر ټولو د لوړي درجي او غټه پیمانه او اندازه وه، حاصل دا سو که غیرِ وسقي شی په اعلیٰ او تر ټولو په غټي پیمانې سره د پنځو پیمانو ته ورسېدی، نو په هغه کي به عشر واجبیږي.

په عسلو او ګني کي د عشر حکم

وَفِي الْعَسَلِ الْعُشْرُ او په عسلو کي عشر واجب دی إِذَا أُخِذَ مِنْ أَرْضِ الْعُشْرِ په دې شرط چي کله هغه له عشري ځمکي ځخه را واخیستل سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجِبُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي (په عسلو کي) عشر واجب نه دی لِأَنَّهُ مُتَوَلِّدٌ مِنَ الْحَيَوَانِ ځکه چي عسل له حیوان ځخه پیدا کیږي فَأَشْبَهَ الْإِبْرَيْسَمَ نو هغه د وریښمو سره مشابه سو وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: فِي الْعَسَلِ الْعُشْرُ او زموږ دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: چي په عسلو کي عشر واجب دی وَلِأَنَّ النَّحْلَ يَتَنَاوَلُ مِنَ الْأَنْوَارِ وَالثِّمَارِ او په دې وجه (هم) چي مچمچی له غوټیو او مېوو ځخه خوراک کوي (یعني د غوټیو او مېوې رس ځښېي) وَفِيهِمَا الْعُشْرُ او په دې دواړو کي عشر واجب دی فَكَذَا فِيمَا يَتَوَلَّدُ مِنْهُمَا نو په هغه شي کي به هم عشر واجب وي کوم چي له دې دواړو ځخه پیدا کیږي بِخِلَافِ دُودِ الْقَزِّ په خلاف د وریښمو د چینجي لِأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ مِنَ الْأَوْرَاقِ ځکه چي هغه له پاڼو (بلګو) ځخه خوراک کوي وَلَا عُشْرَ فِيهَا او په پاڼو کي عشر واجب نه دی ثُمَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى● يَجِبُ فِيهِ الْعُشْرُ قَلَّ أَوْ كَثُرَ بیا د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز که عسل لږ وي که ډېر په هغو کي عشر واجب دی لِأَنَّهُ لَا يَعْتَبِرُ النِّصَابَ ځکه امام صاحب رَحِمَهُ الله د نصاب اعتبار نه کوي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يَعْتَبِرُ فِيهِ قِيمَةَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ځخه روایت (دا) دی چي هغه په عسلو کي (هم) د پنځو وسقو اعتبار کوي كَمَا هُوَ أَصْلُهُ لکه ځرنګه چي دغه د هغه اصل دی وَعَنْهُ أَنَّهُ لَا شَيْءَ فِيهِ حَتَّى يَبْلُغَ عَشْرَ قِرَبٍ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ځخه دویم روایت دا دی چي په عسلو کي عشر واجب نه دی تر دې چي هغه لسو ژباڼو ته ورسیږي لِحَدِيثِ بَنِي شَبَابَةَ د بنو شبابه د حدیث په وجه سره أَنَّهُمْ كَانُوا يُؤَدُّونَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَلِكَ چي هغوی به نبي ﷺ ته همدغسې عشر ورکوی وَعَنْهُ خَمْسَةُ أَمْنَاءٍ او له امام ابو

● تخريج: أخرجه البيهقي في سننه في كتاب الزكاة، باب ما ورد في العسل، حديث رقم: ۷۴۵۹، باب رقم: ۵۱، و أخرجه الترمذي في كتاب الزكاة، باب ماجاء في زكاة العسل، حديث رقم: ۶۲۹ في معناه.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۵۳، و ايضاً يثبت من تفصيل ابن الهمام ترجيح قول الامام. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۸۱]

يوسف رَحِمَهُ الله څخه دريم روايت دا دى چي په پنځو منو عسلو کي عشر واجب دى وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ خَمْسَةُ أَفْرَاقٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دى چي په پنځو افراقو کي عشر واجب دى كُلُّ فَرَقٍ سِتَّةٌ وَثَلَاثُونَ رِطْلًا (چي) هر فرق شپږ دېر (۳۶) رطله کيږي لِأَنَّهُ أَقْصَى مَا يُقَدَّرُ بِهِ ځکه چي د عسلو په اندازه کولو کي فَرَق تر ټولو غټه پيمانه ده وَكَذَا فِي قَصَبِ السُّكَّرِ او همدا اختلاف په ګني کي دى وَمَا يُوجَدُ فِي الْجِبَالِ مِنَ الْعَسَلِ وَالثِّمَارِ فَفِيهِ الْعُشْرُ او کوم عسل او ميوې چي په غرونو کي پيدا کيږي نو په هغو کي (هم) عشر واجب دى وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ لَا يَجِبُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په هغو کي عشر واجب نه دى لِانْعِدَامِ السَّبَبِ وَهُوَ الْأَرْضُ النَّامِيَةُ ځکه چي سبب نشته چي هغه نماء کونکې مځکه ده وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ الْمَقْصُودَ حَاصِلٌ وَهُوَ الْخَارِجُ او د ظاهر روايت دليل دا دى چي مقصود حاصل دى او هغه پيداوار (حاصلات) دي.

اللغات: ﴿عسل﴾ شات، عسل، ګبين، ﴿ابريسم﴾ قدرتي ورېښم چي له چنجيانو څخه پيدا کيږي، ﴿النحل﴾ د شاتو مچي، مچمچي، ﴿أنوار﴾ جمع د نورة ده: د ميوه دارو درختو غوټيو ته نورة ويل کيږي، ﴿دود القز﴾ د ورېښم چينجي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که له عشري مځکه څخه عسل حاصل سول، نو زموږ په نيز په هغو کي عشر واجب دى، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په عسلو کي عشر واجب نه دى، همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله قول دى.

د امام شافعي دليل: دا دى چي عسل له حيوان يعني له مچمچي څخه پيدا کيږي، نو دا د ورېښمو سره مشابه سول، ځکه چي ورېښم هم د حيوان يعني له چينجي څخه پيدا کيږي، او په ورېښمو کي بالاتفاق عشر نشته، نو په عسلو کي به هم عشر نه وي.

زموږ دليل: د نبي ﷺ دا حديث دى: عن أبي هريرة ﷺ أن رسول الله ﷺ كتب إلى أهل اليمن أن في العسل العشر (يعني نبي ﷺ د يمن خلکو ته وليکله چي په عسلو کي عشر واجب دى)، دوېم دليل دا دى چي مچمچي له غوټيو او ميوو څخه خوراک کوي (او له غوټيو څخه هم ميوې جوړيږي)، لکه څرنګه چي په آيت کي راغلي: ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ، او په غوټيو او ميوو کي عشر واجب دى، نو کوم شيان چي له غوټيو او ميوو څخه پيدا کيږي يعني عسل نو په هغو کي به هم عشر واجب وي، په خلاف د ورېښمو د چينجي، چي هغه د شاتوت پاڼي خوري، او په پاڼو کي عشر واجب نه دى، نو څه چي له هغو څخه پيدا کيږي يعني ورېښم نو په هغو کي به هم عشر واجب نه وي.

ثم عند أبي حنيفة الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په عسلو کي عشر واجب دى، برابره ده عسل که لږ وي، او که ډېر وي، ځکه چي امام صاحب رَحِمَهُ الله د عشر په واجبېدلو کي د نصاب اعتبار نه کوي، او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کي درې روايتونه دي: (۱) يو دا که عسل د پنځو وسقو د قيمت سره برابر سوه، نو په هغه کي به عشر واجب وي، همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اصل دى، (۲) دوېم دا که عسل د لسو ژباتو په اندازه وه، نو په هغه کي به عشر واجب وي، دليل د بني شبابه ورو حديث دى، په عنايه کي دا حديث داسي ذکر سوى دى: "چي د بنو جرهم د يوې قبيلې بنو شبابه ورو سره ډيري مچمچياني وې، (او دا قبيله په طائف کي وسېدله)، هغوى به په هرو لسو ژبو عسلو کي يوه ژى عسل نبي

ﷺ ته ورکوله"، او يو ژی پنځوس رطله كيږي، (۳) دريم روايت دا دی که عسل پنځه منه وه، نو په هغه کي به عشر واجب وي.

وعن محمد الخ له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي په عسلو کي پنځه افراقه نصاب دی، يعني په پنځه فرقه عسلو کي عشر واجبيږي، يو فرق شپږ دېرش (۳۶) رطله کيږي، ځکه په کومو پيمانو سره چي عسل اندازه کيږي، په هغو ټولو کي دلوړي درجې او اعلىٰ پيمانه فرق ده.

وكذا في قصب السكر الخ او په ګني کي هم د امام ابو يوسف او امام محمد رَحِمَهُمَا الله په مينځ کي همدغه اختلاف دی چي دامام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز که د ګني قيمت پنځو وسقو ته ورسيږي، نو عشر واجبيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز که ګني پنځه فرقه وي نو عشر واجبيږي.

ومايوجد في الجبال الخ او په غرونو کي چي کومي ميوې او عسل پيدا کيږي، په هغو کي هم عشر واجب دی، او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي په هغو کي عشر واجب نه دی، ځکه چي په هغو کي د عشر د واجبيدلو سبب نسته او هغه د ځمکي نامي کيدل دي، (زياته غوره دا وه چي داسي ويل سوي وای چي د عشر د واجبيدلو سبب مملوکه ځمکه ده، او غر د هيچا په ملکيت کي نه دی)، او د ظاهر روايت يعني د عشر د واجبيدلو دليل دا دی چي کوم شی مقصود دی يعني پيداوار او مال هغه دا دی حاصل دی، نو کله چي پيداوار او حاصلات سته، نو په هغو کي به عشر هم واجب وي.

د عشري ځمکي په فصل کي به د مزدورانو د خرچې ورکولو حکم

قَالَ: وَكُلُّ شَيْءٍ أَخْرَجَتْهُ الْأَرْضُ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: او هر هغه شی چي ځمکه يې راوباسي (يعني له ځمکي څخه پيدا سي) مِمَّا فِيهِ الْعُشْرُ (او) چي په هغه کي عشر واجب وي لَا يُحْتَسَبُ فِيهِ أَجْرُ الْعُمَّالِ وَنَفَقَةُ الْبَقَرِ نو په هغه کي به د مزدورانو مزدوري او د غويانو خرچه نه شمارل کيږي لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَكَمَ بِتَفَاوُتِ الْوَاجِبِ لِتَفَاوُتِ الْمُؤْنَةِ ځکه چي نبي ﷺ د تکليف (او مشقت) د مختلف کيدلو په وجه سره د واجب د مختلف کيدلو حکم کړی دی فَلَا مَعْنَىٰ لِرَفْعِهَا نو د خرڅې د شمارلو به هيڅ مطلب نه وي.

اللغات: ﴿لا يحتسب﴾ د افتعال د باب مصدر دی: شمارل، حساب کول. ﴿رفعها﴾ د رفع معنیٰ ده: پورته کول، دلته څني مراد د خرچې او مزدوري جلا کول او شمارل دي.

تشريح: مسئله: دا ده چي د کومو ځمکو له حاصلاتو او پيداوار څخه چي عشر اخيستل کيږي، په هغه حاصلاتو کي به د مزدورانو اُجرت او د غويانو او نورو د خوراک خرچه نه شمارل کيږي، بلکي په ټوله پيداوار کي به عشر واجبيږي، مثلاً د يو چا سره ۲۰۰ مَنَه غله پيدا سوه، (يعني کښت يې دوه سوه منه غله ورکړه)، لېکن له ۲۰۰ منو څخه ۲۰ منه په مزدوري او د غويانو په خوراک کي ولاړل، نو د ۱۸۰ منو عشر به نه ورکوي، بلکي د پوره ۲۰۰ منو عشر به ورکوي، يعني ۲۰ منه به له عشر څخه نه ايستل کيږي، بلکي د هغو عشر به هم ورکوي، ځکه نبي ﷺ د مشقتونو په مختلفه کيدلو سره د واجباتو د مختلفه کيدلو حکم کړی دی، (يعني نبي ﷺ دا حکم کړی دی چي کله مشقت زيات وي، هلته به واجب مثلاً عشر او داسي نور کم وي، او کله چي مشقت کم وي، هلته به واجب زيات وي، مثلاً که ځمکه د باران او رُود په اوبو

سره اوبه کېدله نو د هغې ځمکې په پيدا وار کې به پوره عشر واجب وي، ځکه چې په دې کې مشقت کم دی، او که په سولاغه، يا په ماشين سره اوبه کېدله نو په هغې کې به نيم عشر واجب وي ځکه چې په دې کې مشقت زيات دی، او داسي نور...)، نو اوس که مونږ د مزدورانو خرچه له پيداوار څخه وشمارو، او په هغه کې عشر واجب نه کړو، نو بنکاره ده چې مشقت به ختم سي (حال دا چې نبي ﷺ د مشقت په بدلېدلو سره د واجب د بدلېدلو حکم کړی دی، او دلته به مشقت نه وي، ځکه مشقت هغه وخت راځي چې په پوره پيداوار کې عشر واجب سي او د مزدورانو خرچه له هغه څخه نه وېستل سي، لېکن کله چې داسي نه وسي نو مشقت به ختم سي)، او کله چې مشقت ختم سي، نو واجب يعني عشر به هم نه بدليږي، (ځکه واجب به هغه وخت بدليږي، چې مشقت وي)، او دا د شريعت خلاف دي، نو ځکه به په عشر او پيداوار کې مزدوري او نور نه شمارل کيږي.

د بنو تغلب په عشري ځمکه کې د عشر حکم

قَالَ: تَغْلِبِيٌّ لَهُ أَرْضُ عُشْرٍ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې (كه) يو تغلبي سړی عشري ځمکه لري فَعَلَيْهِ الْعُشْرُ مُضَاعَفًا نو پر هغه دوچنده عشر واجب دی عُرِفَ ذٰلِكَ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ دا خبره د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په اجماع سره معلومه سوې ده وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ● أَنَّ فِيْمَا اشْتَرَاهُ التَّغْلِبِيُّ مِنَ الْمُسْلِمِ عُشْرًا وَاحِدًا او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه (دويم) روايت دا دی چې په هغه ځمکه کې چې تغلبي سړي له يو مسلمان څخه رانيولې وي يو عشر واجب دی لِأَنَّ الْوَظِيفَةَ عِنْدَهُ لَا تَتَغَيَّرُ بِتَغَيُّرِ الْمَالِكِ ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مالک په بدلېدلو سره حکم نه بدليږي.

تشريح: مسئله: دا ده که د بنو تغلب د قبيلې د يو سړي سره يوه عشري ځمکه وي، نو په هغه کې د عشر د واجبېدلو په باره کې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي: (۱) اول روايت دا دی چې د هغه له عشري ځمکې څخه به دوچنده عشر اخيستل کيږي، ځکه د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې پر دې خبره اجماع سوې وه چې له بنو تغلب څخه به د مسلمانانو دوچنده اخيستل کيږي، او څرنګه چې د مسلمانانو له عشري ځمکې څخه يو عشر اخيستل کيږي، نو له بنو تغلب څخه به خامخا دوه عشره اخيستل کيږي. (۲) دويم روايت دا دی چې که تغلبي سړي هغه ځمکه له يو مسلمان څخه رانيولې وه، نو بيا به په هغه کې يو عشر واجب وي، ځکه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مالک په بدلېدلو سره حکم نه بدليږي، نو کله چې ځمکه د مسلمان سره وه نو په هغې کې يو عشر واجب وو، نو اوس به د تغلبي سره هم په هغې کې يو عشر واجب وي.

که يو ذمي له تغلبي سړي څخه ځمکه رانيسي نو د عشر څه حکم دی؟

فَإِنِ اشْتَرَاهَا مِنْهُ ذِمِّيٌّ بيا که له تغلبي سړي څخه يو ذمي ځمکه رانيسي فَهِيَ عَلٰى حَالِهَا عِنْدَهُمْ نو د ټولو په نېز دا ځمکه پر خپل حال پاته ده (يعني دوچنده عشر به پکښې واجب وي) لِجَوَازِ التَّضْعِيفِ عَلَيْهِ فِي الْجُمْلَةِ ځکه چې پر ذمي په ټولو صورتونو کې دوچندي جائز ده كَمَا إِذَا مَرَّ عَلَى الْعَاشِرِ لکه کله چې ذمي د عاشر سره تېر سي (نو له هم به له هغه دوچنده عشر اخيستل کيږي)

● القول الراجح: قول الشيخين يعني العشر المضاعف، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: ويجب ضعفه في ارض عشرية لتغلبي مطلقًا و إن كان طفلا أو أسلم..... رد المحتار ج:۲، ص: ۵۶. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۲]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که له تغلبي سړي څخه يو ذمي سړي عشري مځکه رانيوله، نو پر هغه هم بالاتفاق دوچنده عشر واجب دی، د دې وجه دا ده چې پر ذمي په ټولو صورتونو کي دوچندي واجب ده، همدا وجه ده چې که د يو ذمي سره د تجارت مال وي او د عاشر مخته تېر سي، نو عاشر به له هغه څخه دوچنده عشر اخلي، نو ځکه به د هغه په عشري مځکه کي هم دوچنده عشر واجب وي.

که يو مسلمان له تغلبي سړي څخه مځکه رانيسي يا تغلبي مسلمان سي نو د عشر څه حکم دی؟

وَكَذَا إِذَا اشْتَرَاهَا مِنْهُ مُسْلِمٌ أَوْ أَسْلَمَ التَّغْلِبِيُّ او همدارنګه (به دوچنده عشر اخيستل کيږي) چي کله له تغلبي څخه يو مسلمان مځکه رانيسي يا تغلبي (په خپله) مسلمان سي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز سَوَاءٌ كَانَ التَّضْعِيفُ أَصْلِيًّا أَوْ حَادِثًا هغه که اصلي دوچندي وي او که حادثه (يعني نوې دوچندي) وي لِأَنَّ التَّضْعِيفَ صَارَ وَظِيفَةً لَهَا ځکه چي دوچندي د دې مځکي وظيفه سوه فَتَنْتَقِلُ إِلَى الْمُسْلِمِ بِمَا فِيهَا كَالْخَرَاجِ نو دا مځکه به د مسلمان و طرف ته د خپل ټوله بار (او مؤنت) سره نقل کيږي لکه خراج وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: يَعُودُ إِلَى عُشْرٍ وَاحِدٍ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دوچنده عشره به د يوه عشر و طرف ته راګرځي لِزَوَالِ الدَّاعِيْ إِلَى التَّضْعِيفِ ځکه د دوچندۍ و طرف ته چي کوم شی داعي وو (يعني کفر) هغه ختم سو قَالَ فِي الْكِتَابِ: وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ فِيمَا صَحَّ عَنْهُ په مبسوط کي (په کتاب الزكاة کي) فرمايي: چي په صحيح روايت کي همدغه قول د امام محمد رَحِمَهُ الله هم دی (چي پر مسلمان به يو عشر واجبيږي) قَالَ: اِخْتَلَفَتِ النُّسَخُ فِي بَيَانِ قَوْلِهِ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په بيانولو کي نسخې مختلفي دي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ مَعَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي بَقَاءِ التَّضْعِيفِ (خو) صحيح دا ده چي د دوچندۍ په پاته کېدلو کي هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی إِلَّا أَنَّ قَوْلَهُ لَا يَتَأَتَّى إِلَّا فِي الْأَصْلِيِّ لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله قول به نه حاصليږي مګر په اصلي دوچندۍ کي لِأَنَّ التَّضْعِيفَ الْحَادِثَ لَا يَتَحَقَّقُ عِنْدَهُ ځکه چي حادثه (يعني نوې) دوچندۍ د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز نه ثابتيږي لِعَدَمِ تَغَيُّرِ الْوَظِيفَةِ د وظيفې د نه بدلېدلو په وجه.

اللغات: ﴿تضعيف﴾ دووچندي، دوچندوالی، ﴿حادث﴾ نوی (جديد).

تشريح: **مسئله:** دا ده که دا مځکه له تغلبي څخه يو مسلمان رانيوله، يا تغلبي په خپله مسلمان سو، نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز په هغې کي هم دوچنده عشر واجب دی، برابره ده که دا دوچنده کېدل اصلي وي (په دې توګه چي تغلبي ته دا مځکه له خپل پلار څخه په ميراث کي په لاس ورغلې وي، او له هغه وخته څخه په دې کي دوچندي وي)، او که حادث وي (په دې توګه چي تغلبي دا مځکه له يوه مسلمان څخه رانيولې وي، نو پر تغلبي دوچنده عشر واجب سوی وي، حال دا چي مځکي په دې کي يو عشر وي، نو په دې مځکه کي تضعيف حادث يعني نوی سو)، دليل دا دی چي د

● القول الراجح: قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:٢،ص: ٥٦. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٨٢]

عشر دوچنده کېدل د دې مځکې وظیفه سوه، نو دا مځکه چې کله هم د یو مسلمان و طرف ته نقل کیږي، نو د خپلو ټولو وظیفو یعني د ټولو خرچو او بار سره نقل کیږي، لکه خراج چې هم نقل کیږي، یعني که مسلمان له یو ذمي شخص خراجي مځکه رانیوله، نو دا مځکه به د خراج سره د مسلمان و طرف ته نقل کیږي، تر دې چې څرنګه له ذمي شخصه خراج اخیستل کېدی، همداسې به له مسلمان شخصه هم اخیستل کیږي.

وقال ابویوسف الخ امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې د دې تغلبي په مځکه کې چې کوم دوچنده عشر وو، هغه به منسوخه کیږي او د یوه عشر و طرف ته به راګرځي، ځکه چې د عشر د دوچنده کېدلو سبب او باعث د تغلبي کفر وو، لېکن کله چې له تغلبي شخصه مسلمان دا مځکه رانیوله، یا تغلبي په خپله مسلمان سو، نو هغه سبب یعني کفر ختم سو، او کله چې د دوچندۍ سبب ختم سو، نو دوچنده اخیستل به هم ختمیږي، او یو عشر به اخیستل کیږي.

قال في الكتاب الخ فرمایي چې د مبسوط په کتاب الزكاة کې د امام محمد رَحِمَهُ الله صحیح قول همدغه ذکر سوی دی چې که د تغلبي عشري مځکه یو مسلمان رانیوله یا تغلبي په خپله مسلمان سو، نو په هغه کې به یو عشر واجبیږي، نه دوچنده عشر، لېکن صاحب د هدایې وایي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله د مذهب په باره کې د کتابو په نسخو کې ډېر اختلاف دی، لېکن صحیح دا ده چې د دوچندۍ د پاته کېدلو په باره کې هغه د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی، خو په دې شرط چې اصلي دوچندۍ وي، ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حادثه دوچندي بالکل نه ثابتیږي، ځکه چې د هغه په نېز په وظیفه(حکم) کې تغیر او تبدل نه راځي، لهذا د هغه په نېز چې یو وار د مځکې لپاره کومه وظیفه او حکم متعین سي، نو هغه به تر قیامته د دې مځکې وظیفه او حکم وي.

که مسلمان مځکه پر عیسایي ذمي خرڅه کړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْكَانَتِ الْأَرْضُ لِمُسْلِمٍ او که مځکه د یو مسلمان وي بَاعَهَا مِنْ نَصْرَانِيٍّ او پر نصراني یې خرڅه کړي يُرِيْدُ بِهِ ذِمِّيًّا غَيْرَتَغْلِبِيٍّ له نصراني شخصه مراد هغه نصراني دی چې ذمي وي تغلبي نه وي وَقَبَضَهَا او نصراني پر هغې قبضه وکړي فَعَلَيْهِ الْخَرَاجُ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر دې نصراني خراج واجب دی لِأَنَّهُ أَلْيَقُ بِحَالِ الْكَافِرِ ځکه چې خراج د کافر د حال سره زیات مناسب دی وَعِنْدَ أَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ الْعُشْرُ مُضَاعَفًا او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه دوچنده عشر واجب دی وَيُصْرَفُ مَصَارِفَ الْخَرَاجِ او هغه به د خراج په مصارفو کې مصرفیږي اِعْتِبَارًا بِالتَّغْلِبِيِّ پر تغلبي سرې باندې په قیاسولو سره وَهٰذَا أَهْوَنُ مِنَ التَّبْدِيْلِ او دا د حکم له بدلېدلو څخه زیات آسانه دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله هِيَ عُشْرِيَّةٌ عَلٰى حَالِهَا او د امام د محمد رَحِمَهُ الله په نېز دا مځکه پر خپل (مخکیني) حالت عشري(پاته) ده لِأَنَّهُ صَارَ مُؤْنَةً لَهَا ځکه چې عشر د دې مځکې بار(او خرچ) سو فَلَا يَتَبَدَّلُ كَالْخَرَاجِ نو د خراج په ډول به هغه نه بدلیږي ثُمَّ فِيْ رِوَايَةٍ: يُصْرَفُ مَصَارِفَ الصَّدَقَاتِ بیا د امام محمد رَحِمَهُ الله په یوه روایت کې دي: چې دا عشر به د زکاة په مصارفو کې مصرفیږي(یعني زکاة مصارفو ته به ورکول کیږي) وَفِيْ رِوَايَةٍ: يُصْرَفُ مَصَارِفَ الْخَرَاجِ او په یوه روایت کې دي: چې د خراج په مصارفو کې به مصرفیږي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو مسلمان خپله عشري مځکه پر يو غير تغلبي ذمي خرڅه کړي، او ذمي پر هغه قبضه وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه ذمي خراج واجب دی، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه دوچنده عشر واجب دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه يو عشر واجب دی.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د کافر د حال سره خراج زيات مناسب دی، ځکه چي په خراج کي د عقوبت او سزا معنیٰ ده، او کافر د سزا زيات لايق دی، نو ځکه به پر دې ذمي خراج واجب وي.

د امام ابو يوسف دليل: قياس دی يعني غير تغلبي ذمي پر تغلبي قياسوي، يعني څرنګه چي د بنوتغلب پر خلګو دوچنده عشر واجب دی، همدارنګه به پر غير تغلبي ذميانو هم دوچنده عشر واجب وي، لېکن د دې عشر مصرف به هغه وي کوم چي د خراج مصرف دي، (ځکه چي دا په حقيقت کي خراج دی). او فرمايي چي عشر دوچنده کول په نسبت د عشر و بدلولو ته آسانه دي، يعني عشر دوچنده کول فقط د عشر وصف بدلول دي، لېکن د عشر پر ځای خراج واجبول د عشر بدلول دي، او تغير في الوصف آسانه دی په نسبت د شي و بدلولو ته، نو ځکه به دوچنده عشر واجبيږي.

د امام محمد دليل: دا دی چي عشر د دې مځکي تاکلی بار (او مؤنث) دی، يعني په دې مځکه کي له مخکي څخه عشر تاکل سوی دی، نو اوس به هم هغه عشر پاته وي، ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د مالک په بدلېدلو سره د مځکي تاکلي او مقرره سوې وظيفه نه بدليږي، نو د مسلمان سره په دې مځکه کي عشر واجب وو، او کله چي د کافر په قبضه کي راغله، نو هم به عشر پر واجب وي، په دې کي به هيڅ بدلون نه راځي، لکه خراج يعني څرنګه چي د کافر په مځکه کي خراج واجب دی، نو اوس که د کافر مځکه د مسلمان په قبضه کي راسي، نو پر مسلمان به هم هغه خراج واجب وي، بيا دې د مصرف په باره کي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي: يو دا چي د دې مصرف به د زکاة مصارف وي، دويم دا چي د دې مصرف به د خراج مصارف وي.

که د ذمي رانيول سوې مځکه د بل مسلمان په ملکيت کي د شفعي په وجه يا په يوه بله وجه راسي نو څه حکم دی؟

فَإِنْ أَخَذَهَا مِنْهُ مُسْلِمٌ بِالشُّفْعَةِ بيا که دا مځکه يو مسلمان د شفعي په ذريعه له ذمي څخه واخلي أَوْ رُدَّتْ عَلَى الْبَائِعِ لِفَسَادِ الْبَيْعِ يا د بيعي د فاسدېدلو په وجه دا مځکه خرڅونکي ته واپس کړی سي فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ كَمَا كَانَتْ نو دا مځکه به عشري وي لکه څرنګه چي (مخکي) وه أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِتَحَوُّلِ الصَّفْقَةِ إِلَى الشَّفِيعِ هر چي اول دی (يعني چي مسلمان د شفعي په ذريعه له ذمي څخه مځکه واخلي) نو هغه د شفيع و طرف ته د صفقې د نقل کېدلو په وجه دی كَأَنَّهُ اشْتَرَاهَا مِنَ الْمُسْلِمِ ګواکي دا مځکه مسلمان له مسلمان څخه رانيولې وَأَمَّا الثَّانِي فَلِأَنَّهُ بِالرَّدِّ وَالْفَسْخِ بِحُكْمِ الْفَسَادِ جَعَلَ الْبَيْعَ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ او هر چي دويم دی (يعني چي د بيعي د فاسدېدلو په وجه مځکه د بائع و طرف ته واپس کړی سي) نو هغه ځکه چي د فساد په حکم سره د مځکي د واپس کولو او د بيعي د فسخ کولو په وجه بيع داسي سوه چي ګواکي سوې نه ده (يعني بيع کالعدم سوه) وَلِأَنَّ حَقَّ الْمُسْلِمِ لَمْ يَنْقَطِعْ بِهَذَا الشِّرَاءِ او په دې وجه (هم) چي د دغه رانيولو په وجه د مسلمان حق (له دغه مځکي څخه) ختم نه سو لِكَوْنِهِ مُسْتَحَقَّ الرَّدِّ ځکه چي دا بيع (خو) د واپس کولو مستحق وه.

تشریح: **مسئله:** دا ده كه له مسلمان څخه ذمي ځمكه رانيوله، بيا بل مسلمان د شفعي د حق دعوىٰ وكړه، او دا ځمكه يې له ذمي څخه واخيستله، يا د بيعي د فاسدېدلو په وجه هغه ځمكه بېرته بائع (خرڅونكي) ته ردّ كړل سوه، نو هغه ځمكى چې څرنګه د بائع مسلمان سره عشري وه، همدارنګه به تر شفعي او ردّ وروسته هم عشري وي، ځكه چې په اول صورت كي يعني چې كله د دې ځمكي شفيع پيدا سو، نو د بيع صفقه له مسلمان بائع څخه د مسلمان شفيع و طرف ته نقل سوه، او په مينځ كي د ذمي واسطه او بيع بالكل ختم سوه، او بيع داسي سوه چې ګواكي له مسلمان بائع څخه مسلمان شفيع ځمكه رانيوله، او ښكاره ده چې كله له يوه مسلمان څخه بل مسلمان ځمكه رانيسي، نو په هغه كي به عشر واجب وي، او په دويم صورت كي يعني چې كله د بيعي د فاسدېدلو په وجه هغه ځمكه مسلمان بائع ته واپس كړى سوه، نو دا بيع كالعدم سوه، او داسي سوه چې ګردسره د مسلمان او ذمي په مينځ كي بيع سوې نه ده، او ښكاره ده چې كله بيع سوې نه وي، نو څرنګه چې مخكي هغه ځمكه عشري وي، همدارنګه به وروسته هم عشري وي، په دې لړ كي دويم دليل دا دى چې كله بيع فاسده سوه او د ردّ كولو مستحق سوه، نو له مسلمان بائع څخه هم د ځمكي حق منقطع نه سو او كله چې له ځمكي څخه د مسلمان حق منقطع نه سو، نو بيا په دې كي د خراج او د دوچندي واجبول هيڅ معنىٰ نه لري.

كه د يو مسلمان سره يو مختط كور وي او هغه باغ څني جوړ كړي نو د عشر حكم

قال: **وَإِذَا كَانَتْ لِمُسْلِمٍ دَارُ خُطَّةٍ** امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې كه د يو مسلمان سره يو مختط كور وي **فَجَعَلَهَا بُسْتَانًا فَعَلَيْهِ الْعُشْرُ** او مسلمان له هغه څخه باغ جوړ كړي نو پر هغه عشر واجب دى **مَعْنَاهُ إِذَا سَقَاهُ بِمَاءِ الْعُشْرِ** مطلب يې دا دى چې كله يې دا باغ په عُشري اوبو سره اوبه كړى وي **وَأَمَّا إِذَا كَانَتْ تُسْقَىٰ بِمَاءِ الْخَرَاجِ** لېكن كه دا په خراجي اوبو سره اوبه سوى وي **فَفِيهَا الْخَرَاجُ** نو بيا خراج پكښې واجب دى **لِأَنَّ الْمُؤْنَةَ فِي مِثْلِ هٰذَا تَدُورُ مَعَ الْمَاءِ** ځكه چې په دا ډول ځمكه كي د خرڅې مدار پر اوبو باندي دى.

اللغات: ﴿دار خطة﴾ هغه كور ته ويل كيږي چې كله د كافرانو هيواد فتح سي نو د مسلمانانو باچا يو سړى د يو كور مالک جوړ كړي او هغه ته يې وركړي (چې دا ستا كور به ستا په تصرف كي وي)، ﴿بستان﴾ باغ، ﴿تدور﴾ د نصر د باب مضارع ده: ګرځېدل، مدار كېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخكي په دې خبره پوه سئ چې د عشري ځمكي د ښاه ګانو اوبو ته، او د باران او د لوى درياب اوبو ته عشري اوبه ويل كيږي، او د عجمو باچاهانو د كېندل سوو نهرونو او ويالو اوبو ته خراجي اوبه ويل كيږي، همدارنګه د خرامي ځمكي د ښاه او درياب اوبو ته هم خراجي اوبه ويل كيږي. (بنايه)

مسئله: دا ده كه د يو مسلمان سره مختط كور وي، يعني د دار الحرب د فتح كېدلو په وخت كي امامُ المسلمين يو كور د يو مسلمان په نامه كړى وي، او بيا دا مسلمان له دې كور څخه باغ جوړ كړي، نو اوس كه هغه مسلمان دا باغ په عشري اوبو سره اوبه كوى، نو په دې كي به عشر واجب وي، او كه په خراجي اوبه سره يې اوبه كوى، نو په دې كي به خراج واجب وي، ځكه چې په دا ډول ځمكه كي د خرڅې او ټيكس دارومدار پر اوبو دى، نو څرنګه چې اوبه وي هغسي به ټيكس هم وي.

د مجوسي په کور او باغ کې څه حکم دی؟

وَلَيْسَ عَلَى الْمَجُوسِيِّ فِيْ دَارِهٖ شَيْءٌ او پر مجوسي په خپل کور کي هیڅ واجب نه دی لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جَعَلَ الْمَسَاكِنَ عَفْوًا ځکه چي حضرت عمر رَحِمَهُ الله کورونه معاف کړي دي وَإِنْ جَعَلَهَا بُسْتَانًا فَعَلَيْهِ الْخَرَاجُ او که مجوسي له خپل کور څخه باغ جوړ کړی نو پر هغه خراج واجب دی وَإِنْ سَقَاهَا بِمَاءِ الْعُشْرِ که څه هم هغه یې په عشري اوبو سره اوبه کړی وي لِتَعَذُّرِ إِيْجَابِ الْعُشْرِ ځکه چي عشر واجبول ستونزمن دي إِذْ فِيْهِ مَعْنَى الْقُرْبَةِ ځکه چي په عشر کي د عبادت معنیٰ سته فَيَتَعَيَّنُ الْخَرَاجُ نو ځکه به خراج ټاکل کیږي وَهُوَعُقُوْبَةٌ او خراج یو سزا ده تَلِيْقُ بِحَالِهٖ چي هغه د کافر د حال سره لایق ده وَعَلٰى قِيَاسِ قَوْلِهِمَا يَجِبُ الْعُشْرُ فِي الْمَاءِ الْعُشْرِيِّ او د صاحبینو د قول د قیاس مطابق به په عشري اوبو کي عشر واجبیږي(یعني د صاحبینو پر قول باندي په قیاسولو سره به په عشري اوبو....) إِلَّا أَنَّ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ عُشْرًا وَاحِدًا لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز یو عشر واجبیږي وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ عُشْرَانِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دوه عشره واجبیږي وَقَدْ مَرَّ الْوَجْهُ او د دې دلیل تېر سو ثُمَّ الْمَاءُ الْعُشْرِيُّ: مَاءُ السَّمَاءِ وَالْآبَارِ وَالْعُيُوْنِ وَالْبِحَارِ الَّتِيْ لَا تَدْخُلُ تَحْتَ وِلَايَةِ أَحَدٍ بیا عشري اوبه دغه اوبه دي: د آسمان اوبه، د څاه ګانو اوبه، د چینو اوبه، او د سمندرونو (غټو دریابونو) اوبه چي هغه د هیچا په ولایت کي داخل نه وي وَالْمَاءُ الْخَرَاجِيُّ الْأَنْهَارُ الَّتِيْ شَقَّهَا الْأَعَاجِمُ او خراجي اوبه هغه نهرونه دي کوم چي عجمو کنبلي وي وَمَاءُ جَيْحُوْنَ وَسَيْحُوْنَ وَدَجْلَةَ وَالْفُرَاتِ عُشْرِيٌّ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز د جیحون، سیحون، دجله او فرات اوبه عشري دي لِأَنَّهُ لَا يَحْمِيْهَا أَحَدٌ كَالْبِحَارِ ځکه چي د سمندرونو په ډول د دې دریابونو(هم) څوک حفاظت نه کوي وَخَرَاجِيٌّ عِنْدَ* أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز خراجي دي لِأَنَّهُ يُتَّخَذُ عَلَيْهَا الْقَنَاطِيْرُ مِنَ السُّفُنِ ځکه چي پر دې دریابونو باندي د کښتیانو پُلونه جوړیږي وَهٰذَا يَدٌ عَلَيْهَا او دا پر دې دریابونو (یو ډول) قبضه ده.

اللغات: ﴿عقوبة﴾ سزا، ﴿تليق﴾ د ضرب د باب مضارع ده: لایق کېدل، ﴿آبار﴾ جمع د بئر ده: څاه، ﴿شقها﴾ د نصر د باب ماضي ده: کنبل، کیندل، ﴿جيحون، سيحون﴾ د آسیا دوه دریابونه(سیندونه) دي، ﴿دجلة، فرات﴾ د عراق دوه دریابونه دي، ﴿قناطير﴾ جمع د قنطرة ده: پُل (پر والې یا دریاب د پاسه د تېرېدلو لپاره جوړه سوې لاره)، ﴿سفن﴾ جمع د سفينة ده: کښتي.

تشریح: **مسئله:** دا ده چي پر مجوسي(اور لمانځونکي) باندي د هغه په کور کي هیڅ ټیکس او لګښت نسته، لکه څرنګه چي د مسلمانانو، هندوانو، یهودو، او نصارا وو په کور کي هم هیڅ ټیکس اولګښت نسته، دلیل دا دی چي امیر

---

* القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما قال في الهندية: و أما ماء سيحون و دجلة والفرات فخراجي عند الشيخين، كذا في الكافي، الهندية ج:۱، ص: ۱۸۷. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۳]

المؤمنين حضرت عمر بن الخطاب ﷺ د مجوسيانو ځايونه او كورونه معاف كړي دي، لكه څنګه چي صاحب د عنايې ليکلي دي چي عبد الرحمن بن عوف ﷺ وفرمايل: "ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي: سنوا بالمجوس سنة أهل الكتاب.... الحديث، (يعني د مجوسيانو سره د اهل كتابو په ډول سلوك او رويه وكړئ، لېكن د هغو د ښځو سره نكاح مه كوئ او مه د هغو ذبيحه خورئ)". حضرت عمر ﷺ چي كله دا واورېدل، نو پر دې يې عمل وكړ، او خپل عاملينو ته يې حكم وكړ چي د مجوسيانو ځمكي اندازه كړئ، او پر هره ځمكه د هغې په اندازه خراج مقرر كړئ، او د هغوی كورونه، او د كورو ونې پرېږدئ. (بنايه ج،۳، ص، ۵۱۴)، نو له هغه وخت څخه پر دې خبره اجماع منعقد سوې ده چي په كورو كي به هيڅ ډول خراج او نور نه واجبېږي.

وإن جعلها بستان الخ او كه مجوسي له خپل كور څخه باغ جوړ كړي، نو پر هغه به خراج واجب وي، كه څه هم هغه يې په عشري اوبو سره اوبه كړي وي، ځكه چي پر مجوسي عشر واجبول ستونزمن دي، ستونزمن ځكه دي چي په عشر كي د طاعت او عبادت معنیٰ ده، او د كافر له طرفه عبادت نه سي متحقق كېدلای، نو ځكه به خراج تاكل كېږي، او په خراج كي د سزا او عقوبت معنیٰ ده، چي هغه د كافر د حال سره زياته مناسبه ده، نو ځكه وويل سوه چي كه څه هم په عشري اوبو سره يې اوبه كړی وي، لېكن په هغه كي به واجب خراج وي، نه عشر.

اعتراض: دلته يو اعتراض كېږي (كوم چي صاحب د عنايې او نورو پر دې موقع ذكر كړی دی)، هغه دا چي آيا د عشر يا د خراج په واجبېدلو كي به د اوبو اعتبار كېږي كه د هغه سړي د حال اعتبار كېږي چي پر هغه عشر يا خراج واجب سوی وي، كه تاسو د اول اعتبار كوئ، نو پر دې مجوسي عشر واجبېدل پكار دي، ځكه چي ده خپل باغ په عشري لوبو سره اوبه كړی دی، او كه د دويم اعتبار كوئ، نو دا به د مصنف رَحِمَهُ الله د دې قول: لأن المؤنة في مثل هذا تدور مع الماء مناقض او مخالف وي، ځكه چي تاسو به اعتبار كوئ د هغه سړي د حال چي پر هغه عشر يا خراج واجب سوی وي، او مصنف وايي چي د مؤنت يعني د عشر او خراج مدار پر اوبو دی، يعني څرنګه چي اوبه وي، هغسې به مؤنت واجبېږي، لهذا د عشري اوبو په صورت كي به عشر او د خراجي اوبو په صورت كي به خراج واجبېږي.

جواب: دا دی چي اعتبار خو به د اوبو كېږي، لكه څرنګه چي مصنف ويلي دي، لېكن د حكم د واجبېدلو شرط دا دی چي هغه به پر خپل محل واقع وي، او كافر د عشر د واجبېدلو محل نه دی، ځكه چي عشر عبادت دی او كافر د عبادت محل نه دی، لنډه دا چي د عشري اوبو په وجه پر مجوسي عشر واجبېدل پكار وو، لېكن په هغه كي د واجبېدلو د شرط د نشتوالي په وجه عشر واجب نه كړی سو، بلكي خراج واجب كړی سو.

لېكن بيا اعتراض كېږي چي پر مسلمان ولي خراج واجبېږي؟ حال دا چي په خراج كي ذلالت دی، او مسلمان د ذلالت محل نه دی، جواب دا دی چي د ځمكي په خراج كي هيڅ ذلت نسته، ذلالت خو په هغه وخت كي دی، چي پر خلكو جزيه او خراج واجب كړی سي (يعني چي د هر سړي پر سر جزيه او خراج ځني واخيستل سي).

وعلى قياس قولهما الخ په دې مسئله كي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر قول د قياس تقاضا دا ده چي كه مجوسي دا باغ په عشري اوبو سره اوبه كړی وو، نو د هغو په نېز عشر واجبېږي، لېكن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز يو عشر واجبېږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز دوچنده عشر واجبېږي، د دواړو دليلونه په تېرو صفحو كي ذكر سول، هلته يې وګورئ.

ثم المالم العشرى الخ پاتــه ســوه دا خبـره چي عشـري اوبه او خراجي اوبه کومو اوبو ته ويل کيږي، نو صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د باران، څاه ګانو، چينو او د هغو سمندرونو (او سيندونو) اوبه چي هغه د يو باچا يا عام سړي په ولايت کي داخل نه وي، هغو ټولو ته عشري اوبه ويل کيږي، او د هغو نهرونو اوبه کوم چي عجمي باچاهانو کينلي وي، يعني د اسلام تر راتګ مخکي د جاهليت باچاهانو کينلي وي، لکه نهر يزدجرا و نهر مرورود، هغو ته خراجي اوبه ويل کيږي.

وماء جيحون جيحون په ترمذ کي د يو درياب نوم دی، او سيحون په تاشقند کي د يو درياب نوم دی (ترمذ او تاشقند دواړه اوس په ازبکستان کي دي)، او دجله په بغداد کي د يو درياب نوم دی، او فرات د کوفې د درياب نوم دی، د دې څلور سره وو دريابونو اوبه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز عشري دي، ځکه چي د دغتو دريابونو په ډول د دې دريابونو هم هيڅ محافظ او متولي نسته، او کومي اوبه چي د يو چا په ولايت کي نه وي، هغه ته عشري اوبه ويل کيږي، نو د دې دريابونو اوبه به هم عشري وي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د دې دريابونو اوبه خراجي دي، ځکه چي پر دې دريابونو د کښتيو لپاره پلونه جوړيږي، او دا کار پر دې دريابونو يو ډول قبضه ده، او پر کومو دريابونو چي د يو چا قبضه او لاس وي، د هغو اوبو ته خراجي ويل کيږي، نو ځکه به د دې دريابونو اوبه خراجي وي.

د بنو تغلب د ښځي او د بنو تغلب د کوچني حکم

وفي أرض الصبي والمرأة التغلبيين او د تغلبي کوچني او د تغلبي ښځي په ځمکه کي دومره (عشر) واجب دی ما في أرض الرجل التغلبي څومره چي د تغلبي سړي په ځمکه کي واجب دی يعني العشر المضاعف في العشرية يعني په عشري ځمکه کي (يې) دوچنده عشر واجب دی والخراج الواحد في الخراجية او په خراجي ځمکه کي (يې) خراج واجب دی لأن الصلح قد جرى على تضعيف الصدقة ځکه (د هغو سره) د صدقې پر دوچندۍ صلح سوې وه دون المؤنة المحضة نه پر محض خرچه باندي ثم على الصبي والمرأة إذا كانا من المسلمين العشر بيا که کوچنی او ښځه له مسلمانانو څخه وي نو پر هغوی عشر واجب دی فيضعف ذلك إذا كانا منهم خو کله چي دا دواړه له بنو تغلب څخه وي نو عشر به دوچنده کيږي.

تشريح: مسئله: دا ده چي د بنو تغلب د کوچني او ښځي په ځمکه کي هم دوچنده عشر واجب دی، او په خراجي ځمکه کي يې هم يو خراج واجب دی، دليل دا دی چي د امير المؤمنين عمر بن خطاب رضي الله عنه او د بنو تغلب په مينځ کي چي کومه صلح سوې وه، هغه پر داسي دوچندۍ (تضعيف) باندي سوې وه، چي په هغه کي به د عبادت معنیٰ وي، لکه زكاة، عشر او نور، او پر مؤنتِ محضه (يعني پر فقط خرچه او بار) باندي صلح سوې نه وه ځکه چي په دې کي بالکل د عبادت معنیٰ نسته، لکه خراج چي هم دغه ډول دی، نو که کوچنی او ښځه له مسلماني کورنۍ څخه وای نو پر هغو به يو عشر واجبېدلای، ليکن کله چي دا تغلبي دي، نو پر دوی به دوچنده عشر واجبيږي، لکه څرنګه چي د صلحي په ذريعه سره دا پرېکړه سوې وه.

د تېلو په چينو کي د عشر او نورو حکم

قَالَ: وَلَيْسَ فِي عَيْنِ الْقِيْرِ وَالنِّفْطِ فِي أَرْضِ الْعُشْرِ شَيْءٌ فرمايي: او واجب نه دي هيڅ شی د تارکول او د نفت په چينو کي په عشري مځکه کي لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَنْزَالِ الْأَرْضِ ځکه چي تارکول او نفت(يو هم) د مځکي له پيداوار(حاصلاتو) څخه نه دي وَإِنَّمَا هُوَ عَيْنٌ فَوَّارَةٌ كَعَيْنِ الْمَاءِ (بلکي) هغه خو په جوش سره راوتونکي چينې دي لکه د اوبو چينه وَعَلَيْهِ فِي أَرْضِ الْخَرَاجِ خَرَاجٌ او پر هغو په خراجي مځکه کي خراج واجب دی وَهٰذَا إِذَا كَانَ حَرِيْمُهُمَا صَالِحًا لِلزِّرَاعَةِ او دا حکم په هغه صورت کي دی چي د هغو شاوخوا مځکه د کښت و کرونديٰ ور تيا لري لِأَنَّ الْخَرَاجَ يَتَعَلَّقُ بِالتَّمَكُّنِ مِنَ الزِّرَاعَةِ ځکه چي خراج تعلق لري پر کښت باندي د قدرت لرلو سره (يعني خراج هغه وخت واجبيږي چي کله انسان ته پر کښت کرني قدرت وي).

اللغات: ﴿قير﴾ تارکول، تور تېل، قطران(يوه ګاټه سرېښناکه توره مايع ماده ده چي تونده بوی لري او زياتره د سړکونو په جوړولو کي کار ځني اخيستل کيږي)، ﴿نفط﴾ نفت، د خاورو تېل، پيټرول، ﴿أنزال﴾ جمع د نزلة ده: پيداوار(هغه چي له مځکي څخه پيدا کيږي او له مځکي څخه حاصليږي)، حاصلات، ﴿حريم﴾ د شا واخو مځکه، ﴿تمكّن﴾ د تفعّل مصدر دی: قدرت او طاقت لرل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د تارکول او نفت په چينو کي عشر واجب نه دی، که څه هم دا په عشري مځکه کي وي، ځکه چي د عشر د واجبېدلو تعلق د پيداوار(حاصلاتو) سره دی، او قير او نور د مځکي له پيداوار څخه نه دي، بلکي دا هم د اوبو د چينې په ډول په جوش سره راوځي. نو کله چي دا د مځکي له پيداوار څخه نه سول، نو بيا به په دې کي عشر هم واجب نه وي، او که دا چينې په خراجي مځکه کي وي، او د دې چينو د شا واخوا مځکي د کښت و کرونديٰ صلاحيت هم لري، نو بيا په دې کي خراج واجب دی، ځکه چي د خراج تعلق د پيداوار سره نه دی، بلکي خراج پر کښت باندي د قدرت درلودلو سره تعلق لري، لهذا که د تارکول او د نفت د چينو شا وخوا مځکي د کښت قابلي وي، نو په دې کي به خراج واجب وي(ځکه چي دا پر کښت کرلو قدرت لرل سو)، هغه که مالک کښت پکښې وکري او که نه، په دواړو صورتونو کي به خراج پکښې واجب وي.



بَابُ مَنْ يَجُوْزُ دَفْعُ الصَّدَقَاتِ إِلَيْهِ وَمَنْ لَا يَجُوْزُ

(دا) باب د هغو خلكو په بيان كي دې چي هغو ته زكاة وركول جائز دي او چي هغو ته زكاة وركول جائز نه دي

تشريح: صاحب د هدايې د زكاة او د زكاة له انواعو څخه تر فراغت وروسته په دې باب كي د زكاة (يعني د صدقاتو) مصارف بيانوي (يعني چي زكاة به پر چا مصرفيږي، او چا ته به زكاة وركول كيږي). په لنډه توګه تاسو دا په ياد لرئ چي په قرآن كريم كي د زكاة ټوله اته (۸) مصارف او اقسام بيان سوي دي، چي له هغو څخه اوس يو قسم ساقط دی، لهذا اوس د زكاة او صدقاتو ټوله اووه (۷) مصارف دي چي د هغو تفصيل به په دې باب كي ذكر سي.

د زكاة د مصارفو بيان

قَالَ (رض): **اَلْأَصْلُ فِيْهِ قَوْلُهُ تَعَالٰى: ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ...﴾ (التوبة: ٦٠) الْآيَةَ** مصنف د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په دې باره كي د الله تعالىٰ دا فرمان اصل دی: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ... الخ **فَهٰذِهٖ ثَمَانِيَةُ أَصْنَافٍ** نو دا اته (۸) قسمونه دي **وَقَدْ سَقَطَ مِنْهَا الْمُؤَلَّفَةُ قُلُوْبُهُمْ** او له هغو څخه مؤلفة القلوب ساقط سوي دي **لِأَنَّ اللهَ تَعَالٰى أَعَزَّ الْإِسْلَامَ وَأَغْنٰى عَنْهُمْ** ځكه چي الله تعالىٰ اسلام غالب كړی او له هغوی څخه يې بې پروا كړی **وَعَلٰى ذٰلِكَ انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ** او هم پر دې د صحابه وو اجماع منعقد سوه.

اللغات: ﴿أصناف﴾ جمع د صنف ده: اقسام، ﴿مؤلفة القلوب﴾ هغه خلک چي هغوی ته به ځكه زكاة وركول كېدی چي زړونه يې نرم سي.

تشريح: عبارت خو بالكل ښكاره چي د زكاة ټوله اته (۸) مصارف دي، او دا اته سره د قرآن كريم په دې آيت كي ذكر سوي دي: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ فَرِيْضَةً مِّنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ (التوبة: ٦٠) د دې آيت په رڼا كي د زكاة او صدقاتو اول (۱) مصرف فقيران دي، (۲) دويم مسكينان دي، (۳) دريم محصلين او اخيستونكي د زكاة دي، (۴) څلورم مؤلفة القلوب دي، (۵) پنځم رِقاب يعني د غلامانو بدل كتابت اداء كول او د هغو آزادول دي، (۶) شپږم غارمين يعني مقروضين (پور وړي) او نور دي، (۷) اووم مجاهدين دي، (۸) او اتم مسافرين دي، د اسلام په شروع كي ټوله دا اته مصارف وو، لېكن كله چي الله اسلام ته تقويه وركړه، او هر طرف ته اسلامي بيرغ رپاند سو، نو بيا د ابو بكر ﷺ د خلافت په زمانه كي د حضرت عمر ﷺ په مشوره له دې اتو څخه يو مصرف او يو صنف يعني مؤلفة القلوب ساقط كړی سو، له مؤلفة القلوب څخه هغه خلک مراد دي، چي هغوی ته به نبي ﷺ د اسلام راوړلو په هيله څه مال وركوی، يا له دې څخه هغه كمزوري عقيدې والا مسلمانان مراد دي، چي هغوی به په اسلام كي محكم او مضبوط نه پاته كېدله، نو هغوی ته به په اسلام كي د مضبوطېدلو لپاره څه مال وركول كېدی، په قول د صاحب د عنايې د دې خلكو په لړليک كي د عيينه بن حصين، اقراع بن حابس او عباس بن مرادس په ډول د قريشو مشران هم ول، نبي ﷺ به دوی ته مال وركوی، لېكن تر نبي ﷺ وروسته د ابو بكر ﷺ په زمانه كي له هغو څخه مال بند سو، نو ځكه د ابو بكر ﷺ د خلافت په زمانه كي يو وار اول دوه خلک يعني

عیینه بن حصین او اقرع بن حابس ابو بکر ﷺ ته د خپلې ځمکې د معافۍ لپاره راغله چې زموږ له ځمکو څخه دې عشر او خراج معاف کړی سي، ځکه چې موږ خو مؤلفة القلوب یو، نو د دوی په باره کې حضرت ابو بکر ﷺ خط ولیکی، او دوی دا خط د شهادت لپاره حضرت عمر ﷺ ته راوړی، حضرت عمر ﷺ هغه خط ټوټه ټوټه کړی، او ورته فرمایل: "چې په خلاصو غوږو سره واورئ، ستاسو سره چې کوم رعایت کېدی، هغه د اسلام په حواله سره وو، لېکن اوس له دې رعایت څخه د ناجائزې فایدې اخیستلو کوښښ مه کوئ، او که په شرافت سره په اسلام کې اوسئ، نو خوره ده، کنې زمانوره به فیصله کوي، ولاړسئ، ستاسو ځمکې به هیڅوک معافې نه کړي"، دوی بیرته حضرت ابو بکر ﷺ ته راغله، او ورته وېل: چې ته خلیفه یې او که عمر؟ ابو بکر ﷺ وفرمایل: "انشاء الله هغه خلیفه دی"، نو له هغه وخت څخه د مؤلفة القلوب مصرف ساقط سو، او د دې مصرف پر ساقطېدلو باندې ګواکې د صحابه وو سکوتي اجماع هم منعقده سوه (ځکه چې یوه صحابي هم له دې څخه انکار نه وکړی). (عنایه ج۲)

د "فقیر" او "مسکین" تعریف او د دوی په مینځ کې فرق

وَالْفَقِيْرُ مَنْ لَهُ أَدْنٰى شَيْءٍ او فقیر هغه څوک دی چې د هغه سره لږ څه شی وي وَالْمِسْكِيْنُ مَنْ لَاشَيْءَ لَهُ او مسکین هغه څوک چې د هغه سره هیڅ شی (هم) نه وي وَهٰذَا مَرْوِيٌّ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ● او دا تعریف له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه رانقل سوی دی وَقَدْ قِيْلَ: عَلَى الْعَكْسِ او وېل سوي دي: چې دا تعریف د دې برعکس دی وَلِكُلٍّ وَجْهٌ او د هر تعریف لپاره دلیل سته ثُمَّ هُمَا صِنْفَانِ أَوْ صِنْفٌ وَاحِدٌ بیا فقراء او مساکین دوه قسمه دي یا (صرف) یو قسم دی سَنَذْكُرُهُ فِيْ كِتَابِ الْوَصَايَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى (چې) هغه به موږ انشاء الله په کتابُ الوصایا کې ذکر کړو.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز مسکین هغه سړي ته وېل کیږي چې هغه بالکل خالي لاسی وي، یعني هیڅ شی هم نه لري، تر دې چې د شپې پر ډوډی او پر یوه جوړه کالو هم قدرت نه لري، او فقیر هغه سړی دی چې د هغه سره څه ناڅه شی وي، لېکن د نصاب څخه کم وي، یا د نصاب په اندازه وي، خو غیرِ نامي وي، او د هغه په ضرورت کې راګیر وي، په دې لړ کې د امام شافعي، امام طحاوي، امام مالک او اخفش رایه دا ده چې تعریف د دې برعکس دی، یعني مسکین هغه ته وېل کیږي چې د هغه سره څه ناڅه مال وي، او فقیر هغه دی چې هغه بالکل خالي لاسی وي.

د امام شافعي دلیل: د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د نورو حضراتو دلیل دا آیت دی: أَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِيْنَ، (یعني خضر ﷺ چې کومه کښتۍ عیبجنه کړه هغه د مسکینانو وه)، وګورئ په دې آیت کې د کښتۍ مالکانو ته مسکینان وېل سوي دي، له دې څخه معلومه سوه چې د مسکین سره به څه ناڅه وي، او د فقیر سره به هیڅ نه وي، یعني تر مسکین به زیات بدحاله وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې په قرآن کې د مسکین حالت داسې بیان سوی دی: أَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ، (یعني مسکین د لوږې او لڅوالي په وجه د خاورو سره موښتی اوسیږي)، او هیڅ شی هم نه لري چې ورېې خوري، مطلب دا چې مسکین له فقیر څخه زیات بدحاله او مفلس وي، ځکه چې د فقیر په باره کې د قرآن اعلان دا دی: لِلْفُقَرَاءِ الَّذِيْنَ أُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:۲، ص: ۲۰۲. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۸۲]

اللهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ...الخ، (يعني د سوال نه کولو په وجه جاهلان خلک فقيرانو ته مالداره وايي، او فقيران مالداره ګڼي)، او دا خبره هغه وخت ممکنه ده چې د فقيرانو ښکاره حال ښه وي، او ښکاره حال هغه وخت ښه کېږي، چې کله د هغوی سره څه نا څه مال وي، له دې څخه معلومه سوه چې د فقير حالت په د مسکين په پرتله کې یو څه ښه وي. (عنايه، بنايه)

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله چې کوم آيت په دليل کې ذکر کړی يعني: أَمَّا السَّفِينَةُ...الخ، د هغه جواب دا دی چې مساکين د دې کښتۍ مالکان نه ول، بلکې هغوی د دې کښتۍ خدمتګاران او مزدوران ول، او د کښتۍ په عيبي کولو سره د حضرت خضر عليه السلام مقصد دا وو، چې د دې بېچارګانو کسب او مزدوري ختمه نه سي؛ يا دا چې هغو عاريةً او په کرايه دا کښتۍ اخيستې وه، او په هغه سره به يې مزدوري او ګذاره کوله (نو ځکه د کښتۍ نسبت هغو ته وسو)، لکه څرنګه چې نن سبا هم غريبان خلک په کرايه سره موټران او داسې نور چلوي او په هغه سره د کور ګذاره کوي، لېکن د موټرانو نسبت هغو ته داسې کېږي چې ګواکې هغوی د دې مالکان دي (لېکن هغه په اصل کې د بل شتمن سړي وي).

ثم هو صنفان الخ فرمايي چې د زکاة په باره کې فقيران او مسکينان دواړه په يوه قسم کې راځي، يا په دوو قسمونو کې راځي، دا به مورږ په پوره تفصيل سره انشاء الله په کتابُ الوصا کې ذکر کړو، لهذا لږ څه انتظار وکړئ.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی چې مسکين هغه څوک دی چې هيڅ شی ور سره نه وي، او فقير هغه دی چې څه نا څه مال لري. [القول الراجح ج۱، ص۱۸۴]

د عامل تعريف او د هغه بيان

وَالْعَامِلُ يَدْفَعُ إِلَيْهِ الْإِمَامُ إِنْ عَمِلَ بِقَدْرِ عَمَلِهِ او عامل ته به امام د هغه د کار په اندازه مال ورکوي که يې کار کړی وي فَيُعْطِيهِ مَا يَسَعُهُ وَأَعْوَانَهُ نو دومره به ورکوي چې هغه د ده او د ده د مرستيالانو لپاره کافي سي غَيْرَ مُقَدَّرٍ بِالثُّمُنِ په داسې حال کې چې دا مال به دا تمې حصې سره خاص نه وي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ اِسْتِحْقَاقَهُ بِطَرِيقِ الْكِفَايَةِ ځکه چې د عامل مستحق کېدل د کفايت په توګه دي وَلِهَذَا يَأْخُذُ وَإِنْ كَانَ غَنِيًّا او هم په دې وجه به عامل (هغه) اخلي که څه هم شتمن وي إِلَّا أَنَّ فِيهِ شُبْهَةَ الصَّدَقَةِ خو په دې کې د صدقې شبهه (هم) سته فَلَا يَأْخُذُهَا الْعَامِلُ الْهَاشِمِيُّ نو ځکه به يې هاشمي (سيد) عامل نه اخلي تَنْزِيهًا لِقَرَابَةِ الرَّسُولِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَنْ شُبْهَةِ الْوَسَخِ د رسولُ الله ﷺ قرابت له خيري (او چټلي) څخه د پاک ساتلو لپاره وَالْغَنِيُّ لَا يُوَازِيهِ فِي اِسْتِحْقَاقِ الْكَرَامَةِ او شتمن سړی د کرامت په مستحق کېدلو کې د هاشمي سره نه سي برابرېدای فَلَمْ تُعْتَبَرِ الشُّبْهَةُ فِي حَقِّهِ نو ځکه د هغه په حق کې د شبهې اعتبار نه وسو.

اللغات: ﴿غير مقدر﴾ متعين او خاص به نه وي، ﴿ثمن﴾ اتمه حصه، ﴿تنزيه﴾ د تفعيل مصدر دی: پاک ساتل، ﴿وسخ﴾ خيري، چټلي، ﴿لايوازي﴾ د مفاعلې د باب مضارع منفي ده: برابرېدل، مقابل کېدل، ﴿كرامة﴾ عزت، شرافت.

تشريح: په دې عبارت کې د زکاة د دريم مصرف او صنف يعني د عامل تعريف او تفصيل بيانيږي، د آيت په دې ټوکړه: والعاملين عليها کې هم د دغه عامل بيان سوی دی. او عاملين د عامل جمع ده، لغوي معنیٰ يې ده: کار کونکي، مزدوران، ددلته له عاملين څخه هغه خلک مراد دي، چې هغوی د مسلمانانو امام د زکاة اخيستلو لپاره په بېلابېلو ځايونو کي ټاکلي او درولي وي، نو کله چي هغوی د اخيستلو کار پوره کړي، نو امامُ المسلمين به هغوی ته د خپل محنت او کار خرچه ورکوي، او دومره به ورکوي چي د هغو کافي سي، او د هغو سره چي کوم مرستيالان وي د هغو هم کافي سي، او څومره چي هغوی خپل وخت مصرف کړی وي، د هغه مطابق به يې ورکوي، داسي به نه کوي چي هغوی څومره زکاة راوړی وي د هغه اتمه حصه ورکړي، يعني اتمه حصه به نه ورکوي؛ لېکن تاسو دا خبره په ذهن کي په ياده لرئ چي که د هغوی خرچه د هغه زکاة او صدقاتو په اندازه سوه، کوم چي هغو د خلکو څخه راجمع کړي وي، نو په دې صورت کي به ټوله نه ورکول کيږي، بلکي د هغه زکاة او صدقاتو نيمی حصه به ورکول کيږي، همدا وجه ده چي زموږ په نېز چي عاملينو ته کوم څه ورکول کيږي، هغه به د کفايت په توګه ورکول کيږي(يعني څومره چي هغو خپل وخت مصرف کړی وي د هغه مطابق به په دومره اندازه ورکول کيږي چي د هغو کافي سي)، دأجرت او مزدورۍ په توګه به نه ورکول کيږي، لکه څرنګه چي امام شافعي وايي يعني د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز چي کوم څه عاملينو ته ورکول کيږي، هغه به دأجرت په توګه ورکول کيږي(يعني څومره زکاة چي يې راوړی وي د هغه اتمه حصه به ورکول کيږي)، لېکن زموږ په نېز به عاملينو ته د هغو د محنت او کار مطابق عوض ورکول کيږي، لېکن دا عوض به په اتمه، اوومه يا شپږمه حصه سره مقيّد اوخاص نه وي، بلکي د کفايت په توګه به د هغو د عمل په حساب سره دومره ورکول کيږي چي د هغوکافي سي، او څرنګه چي دا عوض د زکاة په توګه نه دی، نو ځکه شتمن او مالدار عامل ته هم د دې د اخيستلو اجازه سته، که دا عوض د زکاة په توګه وای، نو د شتمن لپاره به دا شرعاصحيح نه وای.

إلا أن فيه الخ له دې ځايه دا راښيي چي که څه هم عامل ته ورکړل سوی عوض او بدل د زکاة په توګه نه دی، بلکي د کفايت په توګه دی، نو په دې حواله سره د هريوه لپاره د دې اخيستل صحيح معلوميږي، هغه که سيد وي، که هاشمي وي، خو څرنګه چي په دې کي څه نا څه د صدقې او زکاة شبهه سته، ځکه چي عاملين خلک دا د زکاة په نيت سره د عوض په توګه اخلي، نو ځکه سيد او هاشمي عامل ته دا عوض اخيستل پکار نه دي، ځکه چي د هغه نسبت سردارِ کونين رسولُ الله ته کيږي، نو په دې وجه هغه ته له شبهاتو الا شيانو څخه احتياط کول پکار دي، او دا سپېڅلی نسبت له خيري او چټلی څخه ژغورل پکار دي.

والغنی لايوازيه الخ لېکن که يو څوک اعتراض وکړي چي کله په دې عوض کي د زکاة شبهه سته، نو بيا د مالدار لپاره هم د دې اخيستل صحيح نه دي، حال دا چي تاسو يې د مالدار لپاره اخيستل صحيح ګرځوی، آخر څه وجه ده؟ د دې جواب ورکوي فرمايي چي هاشمي ته چي کوم عزت او شرافت حاصل دی، هغه غيرِ هاشمي ته نه سي حاصليدای، که څه هم هغه د قارون غوندي خزانې ولري، نو د صدقې د شبهي په وجه به د هاشمي لپاره خو د دې عوض اخيستل صحيح نه وي، لېکن د غيرِ هاشمي لپاره به د دې ګنجايش وي، ځکه په دې عوض کي چي څرنګه د زکاة شبهه سته، همدارنګه دأجرت شبهه هم پکښې سته، نو د هاشمي په حق کي به د زکاة د شبهي اعتبار کيږي، او د غيرهاشمي په حق کي به دأجرت د شبهي اعتبار کيږي.

د "فى الرقاب" بيان

وَفِي الرِّقَابِ او د غاړو په آزادولو کي أَنْ يُعَانَ الْمُكَاتَبُونَ مِنْهَا فِي فَكِّ رِقَابِهِمْ او د غاړو آزادول دا دي چي د مکاتب غلامانو سره د معنوی د غاړو په خلاصولو کي مرسته وکړی سي وَهُوَ الْمَنْقُولُ او (د الرقاب) همدغه تفسير رانقل سوی دی.

تشريح: د زکاة له مصارفو څخه څلورم مصرف د غاړو خلاصول او آزادول دي، يعني مکاتب غلام ته به هم زکاة ورکول کيږي، چي هغه په دې زکاة سره خپل بدلِ کتابت اداء کړي، آزاد سي، او په بشپړه توګه په اسلام کي داخل سي، صاحب د هدايې فرمايي چي د الرقاب همدغه تفسير له رسول الله ﷺ څخه رانقل سوی دی.

د "غارم" بيان

وَالْغَارِمُ مَنْ لَزِمَهُ دَيْنٌ او غارم هغه څوک دی چي پر هغه پور (قرض) لازم وي وَلَا يَمْلِكُ نِصَابًا فَاضِلًا عَنْ دَيْنِهِ او د داسي نصاب مالک نه وي چي هغه له پور څخه زيات وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: مَنْ تَحَمَّلَ غَرَامَةً فِي إِصْلَاحِ ذَاتِ الْبَيْنِ وَإِطْفَاءِ النَّائِرَةِ بَيْنَ الْقَبِيلَتَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: غارم هغه سړی دی چي (د مسلمانانو) د خپل مينځوي اختلاف په إصلاح کي يې او د دوو قومونو په مينځ کي يې د دښمنۍ د اُور په مړه کولو کي مالي تاوان برداشت کړی وي (يعني مقروض سوی وي).

اللغات: ﴿غارم﴾ اسم فاعل دی: مقروض، پور وړی. ﴿ذات البين﴾ د خپل مينځ جنګ او اختلاف. ﴿إطفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: اُور مړه کول. ﴿نائرة﴾ اُور، جنګ، دښمني، سوځونکی.

تشريح: د امام قدوري رَحِمَهُ الله د بيان مطابق د زکاة د مصارفو پنځم قسم غارم دی، غارم هغه سړی دی چي پر هغه د خلکو قرض (پور) باندي وي، او د هغه سره چي څومره مال وي، قرض هغه ټوله مال نيولی وي، او له قرض څخه زيات د يو نصاب مالک نه وي (يا برابره ده که هغه د اهل وعيال په وجه دومره مقروض سوی وي، او که د دوو قومونو په مينځ کي د صلحي په وجه)، مثلاً د يو سړي سره زر (۱۰۰۰) درهمه وي، او نهه سوه (۹۰۰) درهمه پر باندي وي، نو هغه ته زکاة ورکول جائز دي، ځکه چي په ۱۰۰۰ کي څو نهه سوه درهمه معلوم سول ځکه چي د هغه سره د قرض غوښتونکو حق متعلق دی، يعني داسي به ګڼل کيږي چي دا نهه سوه درهمه ګرد سره د هغه په ملک سته نه، پاته سوه سل درهمه نو هغه د نصاب په اندازه نه دي، نو ځکه به د هغه لپاره د زکاة مال اخيستل جائز وي.

وقال الشافعي الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي غارم هغه سړی دی چي هغه د دوو قومونو او ډلو په مينځ کي د صلحي کولو او د دښمنۍ د اُور د مړه کولو لپاره مالي تاوان زغملی وي، نو دا سړی که څه هم مالدار وي، د هغه لپاره زکاة اخيستل جائز دي، او زموږ په نيز دا سړی زکاة نه سي اخيستلای، هو! که د صلحي په وجه له هغه څخه دومره خرچه لو مصرف وسو چي د نصاب مالک پاته نه سو، نو بيا يې اخيستلای سي، لېکن دا اخيستل به د غارم په وجه نه وي، بلکي د فقير په وجه به وي، يعني په دې وجه به وي چي هغه د نصاب مالک پاته نه سو.

د "في سبيل الله" بيان

وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ او د الله په لاره کي مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ عِنْدَ* أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ (له دې څخه) د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز هغه غازي (مراد) دی چي له مال څخه پاته وي (يعني په جهاد کي مال ور سره نه وي) لِأَنَّهُ الْمُتَفَاهَمُ عِنْدَ الْإِطْلَاقِ ځکه چي له مطلق في سبيل الله څخه همدغه فهمول کيږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ مُنْقَطِعُ الْحَاجِّ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز (بيا له دې څخه) هغه حاجي (مراد) دی چي له خپل مال څخه پاته وي (يعني په حج کي مال ور سره نه وي) لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّ رَجُلًا جَعَلَ بَعِيْرًا لَهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ چي يو سړي خپل اوښ في سبيل الله ګرځولی وو (يعني د الله په لار کي يې وقف کړی وو) فَأَمَرَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[●] أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهِ الْحَاجَّ نو نبي ﷺ هغه ته حکم وکړی چي پر هغه دې حاجيان سپاره کړي وَلَا يُصْرَفُ إِلَى أَغْنِيَاءِ الْغُزَاةِ او پر مالدارو غازيانو به زکاة نه مصرفيږي (يعني نه به ورکول کيږي) عِنْدَنَا زموږ په نيز لِأَنَّ الْمَصْرِفَ هُوَ الْفُقَرَاءُ ځکه چي د زکاة مصرف (خو) فقيران دي.

اللغات: ﴿غزاة﴾ جمع د غازي ده: مجاهدين، ﴿متفاهم﴾ په فهم کي راتلونکي، ﴿بعير﴾ اوښ، ﴿مصرف﴾ د ضرب د باب اسم ظرف دی: د خرڅولو او مصرفولو ځای.

تشريح: په دې عبارت کي د زکاة شپږم مصرف بيانيږي، د زکاة شپږم قسم في سبيل الله دی، او د في سبيل الله په مصداق کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز له دې څخه هغه غازي مراد دی چي د هغه سره خو په کور کي مال وي، لېکن د جهاد په سفر کي د هغه سره مال نه وي، نو داسي مجاهد د زکاة مصرف او مستحق دی، او هغه ته زکاة ورکول کېدای سي، ځکه في سبيل الله چي کله مطلق وويل سي، نو له هغه څخه همدغه مفهوم او مطلب په فهم کي راځي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز له في سبيل الله څخه هغه حاجي مراد دی چي د حج په سفر کي د هغه سره مال نه وي، که څه هم په کور کي ور سره وي، نو هغه ته زکاة ورکول کېدای سي، امام محمد رَحِمَهُ الله خپل د دې مطلب په تائيد کي د يوه داسي سړي قصه ذکر کړې ده چي هغه خپل اوښ في سبيل الله کړی وو (يعني د الله په لاره کي صدقه کړی وو)، او نبي ﷺ هغه ته دا حکم کړی وو چي پر دې حاجيان سپروه، څرنګه چي هغه د صدقې اوښ وو، او نبي ﷺ پر هغه د حاجيانو د سپرولو حکم کړی وو، نو له هغه څخه معلومه سوه چي له في سبيل الله څخه هغه حاجي مراد دی چي د حج په سفر کي مفلسه سوی وي او د حج خرڅه ور سره نه وي، نو هغه ته به هم زکاة ورکول کيږي.

صاحب د هدايې دلته د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول نه دی ذکر کړی، علامه کاکي رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي په دې مسئله کي امام صاحب رَحِمَهُ الله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی، او د هغه په نيز هم له في سبيل الله څخه غازي مراد دی. (بنايه ج۲، ص، ۵۳۲)

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في البحر الرائق ج:۲، ص: ۲۳۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۵]

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسك، باب العمرة، حديث رقم: ۱۹۸۸.

ولا يصرف الخ فرمايي چې زموږ په نيز به مالداره او شتمنو غازيانو ته زكاة نه وركول كيږي، ځكه چې د زكاة مصرف خو نقراء دي، نو في سبيل الله ته به هغه وخت زكاة وركول كيږي چې مالداره نه وي، كنې نه به وركول كيږي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله كې راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دى چې له في سبيل الله څخه مراد غازي دى، وقال العلامة داماد آفندي رَحِمَهُ الله: ومنقطع الغزاة عند أبي يوسف رَحِمَهُ الله، وهو الصحيح وهو المراد في سبيل الله (مجمع الأنهر ج:۱، ص:۲۲۱). [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۸۵]

د "ابن السبيل" بيان

وَابْنُ السَّبِيلِ مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي وَطَنِهِ او ابن السبيل هغه څوک دى چې په خپل وطن كې مال لري وَهُوَ فِي مَكَانٍ لَا شَيْءَ لَهُ فِيهِ او هغه (په خپله) په داسې ځاى كې وي چې هلته د ده سره هيڅ نه وي.

اللغات: ﴿ابن السبيل﴾ د لارې زوى (يعني مسافر).

تشريح: اووم قسم ابن السبيل دى، او له ابن السبيل څخه مراد هغه مسافر دى، چې په خپل وطن كې خو يې ډېر مال وي، ليكن د سفر په وخت كې د هغه سره هيڅ شى نه وي، نو ګواكې دا سړى په اوس وخت كې فقير سو، او د فقير لپاره زكاة اخيستل جائز دي، ليكن د هغه لپاره تر ضرورت زيات اخيستل حلال نه دي، علماؤ ليكلي دي چې غوره دا ده چې داسې سړى دې له يو چا څخه قرض (پور) واخلي، او چې كله كور ته ولاړ سي، نو اداء دې يې كړي.

څومره مصارفو ته زكاة وركول واجب دي؟

قَالَ: فَهَذِهِ جِهَاتُ الزَّكَاةِ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا د زكاة طرفونه (يعني قسمونه) دي فَلِلْمَالِكِ أَنْ يَدْفَعَ إِلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ نو مالک ته (دا) اختيار سته چې په دوى كې هر يوه ته (زكاة) وركړي وَلَهُ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى صِنْفٍ وَاحِدٍ او دا اختيار (هم) ورته سته چې (صرف) پر يوه قسم اكتفاء وكړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: لَا يَجُوزُ إِلَّا أَنْ يَصْرِفَ إِلَى ثَلَاثَةٍ مِنْ كُلِّ صِنْفٍ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې جائز نه دي مګر دا چې د هر قسم پر دريو افرادو (زكاة) مصرف كړي (يعني ورديې كړي) لِأَنَّ الْإِضَافَةَ بِحَرْفِ اللَّامِ لِلِاسْتِحْقَاقِ ځكه په (للفقراء كې) چې د "لام" په ذريعه سره كوم اضافت سوى دى هغه د استحقاق لپاره دى وَلَنَا أَنَّ الْإِضَافَةَ لِبَيَانِ أَنَّهُمْ مَصَارِفُ او زموږ دليل دا دى چې (دا) اضافت د دې خبرې د بيانولو لپاره دى چې دا (ذكر سوي) قسمونه د زكاة مصارف دي لَا لِإِثْبَاتِ الْاِسْتِحْقَاقِ نه د استحقاق د ثابتولو لپاره وَهَذَا لِمَا عُرِفَ أَنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ اللهِ تَعَالَى او څرنګه چې دا معلومه سوې ده چې زكاة د الله تعالىٰ حق دى وَبِعِلَّةِ الْفَقْرِ صَارُوا مَصَارِفَ او د فقر په وجه دا قسمونه مصارف ګرځېدلي دي فَلَا يُبَالَى بِاخْتِلَافِ جِهَاتِهِ نو د فقر د جهاتو د مختلف كېدلو فكر به نه كيږي وَالَّذِي ذَهَبْنَا إِلَيْهِ مَرْوِيٌّ عَنْ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او د كوم مذهب و طرف ته چې موږ تللي يو هغه د حضرت عمر او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه روايت سوى دى.

اللغات: ﴿جهات﴾ جمع د جهة ده: طرفونه، لوري (مراد ځني صنفونه او قسمونه دي).

تشريح: د خلکو چي کوم اووه(۷) قسمونه ذکر سول، دا ټوله زموږ په نېز د زکاة مصارف دي، نو که په دې قسمونو کي هر قسم ته مال ورکړي، نو هم جائز دی، او که ټوله زکاة د يوه قسم خلکو ته ورکړي، يا يې د يوه قسم يوه سړي ته ورکړي، نو هم جائز دی، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا اووه سره قسمه د زکاة مستحق دي، نو ځکه په دې اوو قسمونو کي د هر قسم دريو خلکو ته زکاة ورکول ضروري دي، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز که د هر قسم دريو افرادو ته زکاة ورکول سي چي د هغه مجموعي شمېر يوويشت(۲۱) کيږي، نو زکاة اداء کيږي، کنې نه اداء کيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي الله تعالیٰ د مصارفو د زکاة په بيان کي فرمايي: إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ، يعني لفظ د الصدقات د فقراء و طرف ته د لام په ذريعه سره مضاف سوی دی، او پاته شپږ قسمونه په واو سره پر للفقراء عطف سوي دي، او لام د استحقاق لپاره راځي، او واو پر جمعيت دلالت کوي، نو اوس مطلب دا سو چي دا اووه سره قسمونه د زکاة حقداره دي، او کله چي اووه سره صنفونه د زکاة حقداره دي، نو اوو سره وو ته به ورکول ضروري وي، او دا اووه سره قسمونه د جمعي په صيغې سره ذکر سوي دي، او د جمعي کم اطلاق پر دريو افرادو کيږي، نو ثابته سوه چي د هر قسم دريو افرادو ته به زکاة ورکول کيږي.

زموږ دليل: دا دی چي د للفقراء لام د اختصاص لپاره دی، نه د استحقاق لپاره، يعني د صدقاتو مصرف فقط دا اووه قسمونه دي، له دې ځخه علاوه نور خلک نه دي، او په دې کي چي کوم قسم ته هم صدقه ورکول سي، نو هغه به خپل په مصرف کي وي، دا يې مطلب نه دی چي دا اووه سره قسمونه د صدقاتو حقداره دي، او چي تر کوم وخته ټولو ته صدقه ور نه کړل سي، نو صدقه نه اداء کيږي، او د دې مطلب دليل دا دی چي زکاة د الله تعالیٰ حق دی، خو ځرنګه چي الله مستغني او بې نيازه دی، نو ځکه دا الله تعالیٰ دا حق د فقر په وجه د هغه د بندګانو و طرف ته نقل سوی دی، او ځرنګه چي بندګان د فقر په وجه د زکاة مصرف ګرځېدلي دي، نو ځکه به د فقر د جهت او طرف د مختلف کېدلو هيڅ پروا نه کيږي، لو د فقر په دې لوو سره جهاتو کي چي په کوم جهت کي هم زکاة صرف کړی سي، زکاة به اداء وي.

<u>والذي ذهبنا الخ</u> صاحب د هدايې فرمايي چي د زکاة د اداء کولو په باره کي چي زموږ کوم مذهب ذکر سو، دا مذهب د حضرت عمر او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هم دی، لکه ځرنګه چي په طبراني کي له حضرت ابن عباس ځخه د دې آيت په تفسير کي رانقل سوي دي: عن ابن عباس في قوله تعالى إنما الصدقات للفقراء والساكين الآية. قال في أي صنف وضعته اجزأك، (يعني ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د إنما الصدقات په تفسير کي فرمايلي دي تاسو چي کوم قسم ته هم زکاة ورکړئ نو زکاة اداء کيږي)، او له حضرت عمر رضي الله عنه ځخه هم دا ډول رانقل سوي دي: قال أيما صنف أعطيته من هذا أجزأ عنك.

ذمي ته د زکاة ورکولو بيان

وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يَدْفَعَ الزَّكَاةَ إِلَى ذِمِّيٍّ او يوه ذمي ته (هم) زكاة وركول جائز نه دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِمُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځکه نبي ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته فرمايلي وو خُذْهَا مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَرُدَّهَا فِي فُقَرَائِهِمْ چې زکاة د مسلمانانو له شتمنو خلکو څخه اخله او د مسلمانانو پر فقيرانو کې يې تقسيموه وَيَدْفَعُ مَا سِوَى ذٰلِكَ مِنَ الصَّدَقَةِ او له زكاة څخه ماسوا نور صدقات ذمي ته ورکولای سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَدْفَعُ او امام شافعي رحمه الله فرمايي: چې صدقه دي (هم) نه ورکوي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او همدا يو روايت له امام ابو يوسف رحمه الله څخه دی اِعْتِبَارًا بِالزَّكَاةِ پر زكاة باندې په قياسولو سره وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی تَصَدَّقُوْا عَلَى أَهْلِ الْأَدْيَانِ كُلِّهَا د هر ډول دين والا ته صدقه ورکوئ وَلَوْلَا حَدِيْثُ مُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ لَقُلْنَا بِالْجَوَازِ فِي الزَّكَاةِ او که د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث نه وای نو موږ به ويلي وای چې (ذمي او نورو کافرانو ته) زکاة ورکول (هم) جائز دي.

تشريح: مسئله: دا ده چې ذمي ته بالاتفاق زكاة وركول جائز نه دي، ځکه نبي ﷺ چې کله حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه د يمن و طرف ته استوی، نو د زکاة په باره کې يې دا جمله ورته وفرمايله: خذها من أغنيائهم و ردها في فقرائهم (يعني په مسلمانانو کې د مالداره (او نصاب لرونکو خلکو) څخه زکاة اخله او د مسلمانانو فقيرانو ته يې ورکوه)، په دې حديث کې د في فقرائهم څخه دا ثابتيږي چې غير مسلم (کافر) ته زکاة ورکول صحيح نه دي.

زموږ په نيز له زكاة څخه ماسوا نور صدقات مثلاً صدقة الفطر (سرسايه) او داسې نور ذمي ته ورکول جائز دي، لېکن د امام شافعي رحمه الله په نيز چې څرنګه ذمي ته زکاة ورکول جائز نه دي، همدارنګه نور صدقات هم ورکول جائز نه دي، همدا له امام ابو يوسف رحمه الله يو روايت دی، او د امام مالک رحمه الله مسلک هم دا دی.

زموږ دليل: د نبي ﷺ دا حديث دی: تصدقوا على أهل الأديان كلها، (چې د هر ډول دين والا ته صدقه ورکوئ)، په دې حديث کې د تصدقوا لفظ عام دی، او د خپل عموم په اعتبار سره د هر دين والا خلکو ته د زکاة او نورو صدقو ورکولو جواز ثابتوي، خو څرنګه چې د حضرت معاذ رضي الله عنه په حديث کې صرف مسلمان ته د زکاة ورکولو حکم راغلی دی نو ځکه به کافرانو ته زکاة نه ورکول کيږي، لېکن نور صدقات به ورکول کيږي، هم په دې وجه صاحب د هدايې فرمايي چې که د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه حديث نه وای، نو موږ به د هر ډول دين خلکو ته د زکاة ورکول جائز کړي وای، خو د دې حديث په خاطر موږ له اسلام څخه بغير نورو أديانو ته د زکاة ورکول ممنوع ګرځوو.

• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب أخذ الصدقة من الاغنياء، حديث رقم: ۱۴۹۶، و ابو داؤد في كتاب الزكاة، باب في الزكاة السائمة، حديث رقم: ۱۵۸۴، والترمذي في كتاب الزكاة، باب: ۰۶.

• تخريج: أخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه، حديث رقم: ۳۹، ج: ۰۳.

د زکاة په مال سره د مسجد د جوړولو او مړي ته د کفن ورکولو حکم

وَلَا يُبْنَى بِهَا مَسْجِدٌ او د زکاة په مال سره به مسجد نه جوړيږي وَلَا يُكَفَّنُ بِهَا مَيِّتٌ او نه به د زکاة په مال سره مړي ته کفن ورکول کيږي لِإِنْعِدَامِ التَّمْلِيكِ وَهُوَ الرُّكْنُ ځکه چي مالک جوړول نسته حال دا چي هغه رکن دی وَلَا يُقْضَى بِهَا دَيْنُ مَيِّتٍ او نه به د زکاة په مال سره د يو مړي قرض (پور) اداء کيږي لِأَنَّ قَضَاءَ دَيْنِ الْغَيْرِ لَا يَقْتَضِي التَّمْلِيكَ مِنْهُ ځکه چي د بل چا قرض اداء کول د هغه له طرفه د مالک جوړېدلو تقاضا نه کوي (يعني د دې تقاضا نه کوي چي هغه دې مالک جوړ سي، حال دا چي د هغه مالک جوړول ضروري دي) لَا سِيَّمَا مِنَ الْمَيِّتِ په ځانګړې توګه د مړي له طرفه.

اللغات: ﴿لا يبنى﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: جوړول، آبادول، ﴿لا يكفّن﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: کفن ورکول، ﴿لا سيّما﴾ خصوصاً، په ځانګړې توګه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د زکاة په پيسو سره نه مسجد جوړول جائز دي، او نه يو مړي ته کفن په ورکول جائز دي، او نه د زکاة په مال سره د يو مړي قرض اداء کول جائز دي، ځکه چي د زکاة په باب کي تمليک يعني بل سړی مالک جوړول رکن او شرط دي، او ښکاره ده چي په مړي کي د مالک جوړېدلو صلاحيت نسته، نو په اولو دواړو صورتونو کي د زکاة د اداء کولو يو مهم رکن يعني تمليک معدوم دی، نو ځکه به په دې شيانو کي د زکاة پيسې ورکول صحيح نه وي، همدارنګه د زکاة په مال سره د مړي قرض اداء کول هم صحيح نه دي، ځکه چي هغه مړ سوی دی نو د زکاة مالک به څرنګه جوړ سي، او د زکاة د اداء کولو لپاره بل سړی د زکاة د پيسو مالک جوړول ضروري دي.

د زکاة په مال سره د غلام او د مينځي د آزادولو حکم

وَلَا تُشْتَرَى بِهَا رَقَبَةٌ تُعْتَقُ او د زکاة په مال سره به يو غلام نه رانيول کيږي چي آزاد کړی سي خِلَافًا لِمَالِكٍ د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی حَيْثُ ذَهَبَ إِلَيْهِ فِي تَأْوِيلِ قَوْلِهِ تَعَالَى وَفِي الرِّقَابِ [البقرة: ۱۷۷] ځکه چي امام مالک رَحِمَهُ الله د الله تعالیٰ (د دې) قول وفي الرقاب په تأويل کي د همدې خبري و طرف ته تګ کړی دی (چي د زکاة په مال سره به غلام رانيول او آزادول جائز وي) وَلَنَا أَنَّ الْإِعْتَاقَ إِسْقَاطُ الْمِلْكِ وَلَيْسَ بِتَمْلِيكٍ او زموږ دليل دا دی چي آزادول د ملک ساقطول دي مالک جوړول نه دي.

اللغات: ﴿رقبة﴾ غاړه، مراد ځني غلام او مينځه ده.

تشريح: مسئله: دا ده چي د زکاة په مال سره د غلام يا د مينځي رانيول او آزادول هم صحيح نه دي، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز دا صحيح دي، ځکه امام مالک له وفي الرقاب څخه همدغه مراد اخيستی دی، يعني رقبه رانيول او آزادول، لېکن زموږ په نېز له وفي الرقاب څخه د بدل کتابت په اداء کولو کي د مکاتب غلامانو سره مرسته کول مراد دي، او ښکاره ده چي په رقبه رانيولو او آزادولو کي دا مفهوم نسته، په دې لړ کي زموږ دليل دا هم دی چي تمليک (يعني د زکاة مالک جوړول) د زکاة رکن دی، حال دا چي د رقبه په رانيولو او آزادولو کي د مولیٰ (مالک) د ملک ساقطول دي، چي هغه بالکل د تمليک برعکس او منافي دي، نو په دې حواله سره به هم د زکاة په مال سره رقبه رانيوله او آزادول صحيح نه وي.

مالداره (شتمن) خلكو ته د زكاة نه وركولو حكم

وَلَا تُدْفَعُ إِلَى غَنِيٍّ او مالدار سړي ته به هم زكاة نه وركول كيږي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ "زكاة د مالداره سړي لپاره حلال نه دی" وَهُوَ بِإِطْلَاقِهِ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي غَنِيِّ الْغُزَاةِ او دا حديث د خپل اطلاق په وجه په مالداره غازيانو كي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَكَذَا حَدِيثُ مُعَاذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدارنگه د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث هم (د امام شافعي په خلاف حجت دی) عَلَى مَا رَوَيْنَا لكه څرنگه چي هغه موږ (مخكي) بيان كړی.

تشريح: شتمن او مالداره سړي ته يعني كوم سړی چي د نصاب مالک وي هغه ته زكاة وركول جائز نه دي، دليل دا حديث دی: لا تحل الصدقة لغني، د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز مالداره غازيانو ته زكاة وركول جائز دي، لكه څرنگه چي د دې پوره تفصيل مخكي ذكر سو، ليكن دا حديث او د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث ..... وردها في فقرائهم د هغه په خلاف حجت دي.

نژدې قريبانو لكه پلار، نيكه، مور او داسې نورو ته د زكاة وركولو حكم

قَالَ: وَلَا يَدْفَعُ الْمُزَكِّي زَكَاتَهُ فرمايي: او زكاة وركونكی به د خپل مال زكاة نه وركوي إِلَى أَبِيهِ وَجَدِّهِ وَإِنْ عَلَا خپل پلار او نيكه ته كه څه هم د لوړې درجې وي وَلَا إِلَى وَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ وَإِنْ سَفَلَ او نه به يې خپل زوی ته وركوي او نه به يې د زوی، زوی ته وركوي كه څه هم د لاندې درجې وي لِأَنَّ مَنَافِعَ الْأَمْلَاكِ بَيْنَهُمْ مُتَّصِلَةٌ ځكه چي د دوی په مينځ كي د ملكيت گټې (منافع) متصل دي فَلَا يَتَحَقَّقُ التَّمْلِيكُ عَلَى الْكَمَالِ نو تمليک په پوره توگه نه ثابتيږي وَلَا إِلَى امْرَأَتِهِ او نه به يې خپلې ښځې ته وركوي لِلْاِشْتِرَاكِ فِي الْمَنَافِعِ عَادَةً ځكه چي په عامه توگه (د دواړو) منافع مشترک دي وَلَا تَدْفَعُ الْمَرْأَةُ إِلَى زَوْجِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او نه به ښځه خپل خاوند ته زكاة وركوي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه كوم چي موږ ذكر كړی وَقَالَا: تَدْفَعُ إِلَيْهِ او صاحبين وايي: چي ښځه خپل خاوند ته زكاة وركولای سي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَكِ أَجْرَانِ: أَجْرُ الصَّدَقَةِ وَأَجْرُ الصِّلَةِ ځكه چي نبي ﷺ فرمايلي دي چي ستا لپاره دوه ثوابه دي: يو د صدقې ثواب، دويم د صله رحمی (يعني د خپلوی او قرابت) ثواب قَالَهُ لِامْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا جمله نبي كريم ﷺ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ښځي ته وفرمايله وَقَدْ سَأَلَتْهُ

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الزكاة، باب من يعطى من الصدقة وحَدُّ الغِنَى، حديث رقم: ۱۶۳۲.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب أخذ الصدقة من الاغنياء، حديث: ۱۴۹۶.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:۲، ص: ۶۹، كما قال وهبة الزحيلي: هل يجوز دفع الزوجة إلى زوجها زكوتها؟ قال ابو حنيفة رَحِمَهُ الله والحنابلة على الراجح لايجوز لأن الزكاة تعود إليها بانفاقه عليها، الفقه الاسلامي ج:۲، ص: ۸۸۵. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۶]

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب الزكاة على الزوج، حديث رقم: ۱۴۶۶.

عَنِ التَّصَدُّقِ عَلَيْهِ په داسي حال کي چي (کله) هغې له نبي کريم ﷺ څخه و عبد الله بن مسعود ﷺ ته د صدقې ورکولو په باره کي پوښتنه وکړه قُلْنَا: هُوَ مَحْمُوْلٌ عَلَى النَّافِلَةِ موږ وايو: چي دا حديث پر نفلي صدقه باندي حمل سوی دی.

اللغات: ﴿مزکّی﴾ د تفعيل د باب اسم فاعل دی: زکاة ورکونکی، ﴿علا﴾ د نصر د باب ماضي ده: لوړېدل، پورته کېدل، ﴿سفل﴾ او دا صيغه له نصر، سمع، کرُم ټولو څخه راتلای سي: لاندي کېدل، کښته کېدل، ﴿صلة﴾ له خپلوانو سره ښه سلوک او روېه کول، صله رحمه، ﴿نافلة﴾ نفل، صدقه، عبادت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي انسان نه خپل اُصولو يعني پلار، نيکه، ورنيکه، مور، انا او داسي نورو ته زکاة ورکولای سي، او نه يې خپل فروعو يعني زوی، د زوی زوی، لور، د لور زوی او داسي نورو ته زکاة ورکولای سي، ځکه چي د دې خلکو منافع يو تر بله سره متصل او مشترک دي، او هر يو د بل له ملکيت څخه فايده اخيستلای سي، او څرنگه چي د زکاة يو مهم رکن تمليک دی، او د منافعو د اتصال په صورت کي په بشپړه توگه تمليک نه سي راتلای، نو ځکه د انسان لپاره خو نه خپلو اُصولو ته زکاة ورکول صحيح دي، او نه خپلو فروعو ته.

ولاإلى مرأته الخ فرمايي چي خاوند (مېړه) خپلي ښځي ته هم د زکاة مال نه سي ورکولای، ځکه چي د اُصولو او فروعو په ډول د ښځي او د خاوند منافع هم سره مشترک دي، بلکي په دې زمانه کي خو اشتراک نور هم زيات سوی دی، نو په دې صورت کي هم په بشپړه توگه تمليک نه سي راتلای، نو په دې وجه خاوند ښځي ته د زکاة مال نه سي ورکولای، او څرنگه چي دا ستونزه په هغه صورت کي هم راځي چي کله ښځه خاوند ته د زکاة مال ورکړي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ښځه هم خپل خاوند ته د زکاة مال نه سي ورکولای.

د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دی، هغه دا چي خاوند خو ښځي ته د زکاة مال نه سي ورکولای، لېکن ښځه خپل خاوند ته د زکاة مال ورکولای سي.

د صاحبينو دليل: هغه حديث دی کوم چي د حضرت ابن مسعود ﷺ له بي بي حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت سوی دی، صاحب د فتح القدير دا حديث په همدغه الفاظو سره بيان کړی دی کوم چي صاحب د هدايې ذکر کړی دی. له دې حديث څخه دا خبره ثابتېږي چي د ښځي لپاره خپل خاوند ته د زکاة مال ورکول صحيح او جائز دي.

قلنا هو محمول الخ صاحب د هدايې د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه جواب ورکوي فرمايي چي د صاحبينو ذکر سوی دليل پر نفلي صدقاتو حمل سوی دی، يعني که ښځه خپل خاوند ته نفلي صدقه ورکول وغواړي، نو ورکولای يې سي. د هغه اجازه ور ته سته، لېکن واجب صدقات نه سي ورکولای. او زموږ کلام هم په واجبو صدقاتو کي دی. او دليل پر دې چي له دې حديث څخه نفلي صدقات مراد دي، دا دی چي په دې حديث کي حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپلو بچو ته هم د صدقې ورکولو په باره کي پوښتنه وکړه، او اجازه هم ورکول سوه. حال دا چي ټولو ته په دليل سره معلومه سوه چي انسان خپل زوی او د زوی زوی ته د زکاة مال نه سي ورکولای. نو اجازه ورکول د دې خبري ښکاره ثبوت دی چي په حديث کي له صدقات څخه مراد نفلي صدقې دي.

مدبر، مكاتب او امّ ولد ته د زكاة وركولو حكم

قَالَ: وَلَا يَدْفَعُ إِلَى مُدَبَّرِهِ وَمُكَاتَبِهِ وَأُمِّ وَلَدِهِ فرمايي: او زكاة به نه وركوي خپل مدبر غلام ته او خپل مكاتب غلام ته او خپل امّ ولد ته لِفُقْدَانِ التَّمْلِيْكِ ځكه چي (په دې تولو كي) تمليک نه راځي إِذْ كَسْبُ الْمَمْلُوْكِ لِسَيِّدِهِ ځكه چي د مملوک ګټه د هغه د مالک ده وَلَهُ حَقٌّ فِيْ كَسْبِ مُكَاتَبِهِ او د مكاتب غلام په ګټه كي (هم) د مالک حق شته فَلَمْ يَتِمَّ التَّمْلِيْكُ نو تمليک پوره نه سو وَلَا إِلَى عَبْدٍ قَدْ أُعْتِقَ بَعْضُهُ او نه به زكاة وركوي (خپل) هغه غلام ته چي بعضي حصه يې آزاده سوې وي عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ● رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمُكَاتَبِ عِنْدَهُ ځكه چي دا غلام د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مكاتب په درجه كي دی وَقَالَا: يَدْفَعُ إِلَيْهِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي زكاة به وركوي لِأَنَّهُ حُرٌّ مَدْيُوْنٌ عِنْدَهُمَا ځكه چي د صاحبينو په نيز دا غلام آزاد (او د خپل مالک) مقروض (پوروړی) دی.

اللغات: ﴿مدبر﴾ هغه غلام چي د مالک تر مريني وروسته په خپله آزاديږي، ﴿فقدان﴾ د نصر مصدر دی: وركېدل، نيستي كېدل.

تشريح: په عبارت كي دوې مسئلې بيان سوي دي چي يوه متفق عليه ده، او بله مختلف فيه ده: (١) د متفق عليه مسئلې حاصل دا دی چي يو مالک نه خپل مدبر غلام د زكاة مال وركولای سي، او نه خپل مكاتب غلام ته، او نه خپل امّ ولد ته، ځكه چي د زكاة د اداء كولو لپاره تمليک شرط او ضروري دی، او په مدبر، امّ ولد او مكاتب درې سره وو كي تمليک نشته، ځكه چي مدبر او امّ ولد د خپل مولیٰ مملوک وي، او د هغو ټوله ګټه او نفع د هغو د مولیٰ وي، همدارنګه د مكاتب ګټه هم د خپل مولیٰ وي، نو كله چي د هغو هر شه د خپل مولیٰ دي، نو هغو ته زكاة وركول داسي دي لكه خپل ځان ته زكاة وركول چي دا په هيڅ ډول هم صحيح نه دي، نو ځكه به په دې ذكر سوو انسانانو كي يوه هم ته زكاة وركول صحيح نه وي.

(٢) دويمه مسئله مختلف فيه ده چي هغه د ولا إلى عبد... الخ څخه بيان سوې ده. صورت د مسئلې: دا دی كه يو غلام د دوو خلكو په مينځ كي مشترک وي، او په هغو كي يو شريک خپله حصه آزاده كړي، او دويم شريک غلام ته داسي ووايي" "چي ته ګټه وكړه زما د حصې قيمت را اداء كړه بيا به ته په بشپړه توګه آزاد سې"، نو تر څو چي غلام دويم شريک ته د خپلي حصې قيمت ور نه كړي، تر هغه وخته غلام د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مكاتب شمارل كيږي. او د مولیٰ لپاره خپل مكاتب غلام ته زكاة وركول صحيح نه دي، نو ځكه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د دويم شريک لپاره دې غلام ته د زكاة مال وركول صحيح نه دي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي دا غلام د دويم شريک په حق كي مكاتب نه دی، بلكي آزاد سوی مقروض دی، ځكه چي د صاحبينو قاعده دا ده چي كه د غلام څه حصه هم آزاده كړی سي، نو ټوله غلام آزاديږي، د دوی په نيز په آزادولو كي تشقص (حصه حصه كېدل) نشته، لېكن كومه حصه چي آزاده سوې ده نو د هغه قيمت به غلام دويم شريک ته وركوي،

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:٢، ص: ٧٠.، كما قال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخاري رَحِمَهُ الله ومعتق البعض كالمكاتب عند أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، خلاصة الفتاوىٰ ج:١، ص: ٢٤٢. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٨٧]

ځکه چي کله اول شريک اوله حصه آزاده کړه نو ټوله غلام آزاد سو، نو اوس هغه د دويم شريک غلام پاته نه سو، صرف د هغه مقروض سو، نو ځکه به د دويم شريک لپاره هغه ته زکاة ورکول جائز وي، لکه څرنګه چي دا هم جائز دي چي يو انسان خپل مقروض ته زکاة ورکړي او د هغه مالک يې جوړ کړي او بيا له هغه څخه خپل قرض واخلي.

د مالداره سړي غلام ته او د هغه کوچني زوی ته د زکاة ورکولو حکم

وَلَا يَدْفَعُ إِلَى مَمْلُوكِ غَنِيٍّ او د مالداره سړي و مملوک ته به(هم) زکاة نه ورکوي لِأَنَّ الْمِلْكَ وَاقِعٌ لِمَوْلَاهُ ځکه چي (د مملوک) ملکيت خو د خپل مولیٰ لپاره واقع کيږي وَلَا إِلَى وَلَدِ غَنِيٍّ إِذَا كَانَ صَغِيرًا او نه به د مالداره زوی ته زکاة ورکوي کله چي هغه کوچنی(نابالغه) وي لِأَنَّهُ يُعَدُّ غَنِيًّا بِيَسَارِ أَبِيهِ ځکه چي نابالغه کوچنی د خپل پلار د مالداری په وجه مالداره شمارل کيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ كَبِيرًا فَقِيرًا په خلاف د هغه صورت چي کله هغه غټ(يعني بالغ) او فقير(محتاجه) وي لِأَنَّهُ لَا يُعَدُّ غَنِيًّا بِيَسَارِ أَبِيهِ ځکه چي بالغ زوی د خپل پلار په مالداری سره مالداره نه شمارل کيږي وَإِنْ كَانَتْ نَفَقَتُهُ عَلَيْهِ که څه هم د هغه نفقه پر خپل پلار واجب ده وَبِخِلَافِ امْرَأَةِ الْغَنِيِّ او په خلاف د مالدار سړي د ښځي لِأَنَّهَا إِنْ كَانَتْ فَقِيرَةً لَا تُعَدُّ غَنِيَّةً بِيَسَارِ زَوْجِهَا ځکه ښځه که څه هم فقيره وي نو د خپل خاوند په مالداری سره مالداره نه شمارل کيږي وَبِقَدْرِ النَّفَقَةِ لَا تَصِيرُ مُوسِرَةً او (فقط) د نفقې په مقدار هغه نه مالداره کيږي.

اللغات: ﴿مملوك﴾ د يو چا په ملکيت کي چي څوک وي هغه ته مملوک ويل کيږي، ﴿يسار﴾ خوشحالي، پراخي(مراد ځني مالداري او مرتبه ده).

تشريح: **مسئله:** دا ده چي د يو مالداره سړي و مملوک ته زکاة ورکول جائز نه دي، مملوک که خالص غلام وي، او که مدبر غلام وي، او که امّ ولد وي، دليل دا دی چي د مملوک هر مال د مولیٰ ملک وي، نو که د مالداره و مملوک ته زکاة ورکول سي، نو هغه به د مالداره په ملک کي داخل سي، او مالدار ته زکاة ورکول جائز نه دي، نو ځکه به د هغه د مملوک لپاره هم جائز نه وي، هو! د مالک و مکاتب غلام ته زکاة ورکول جائز دي، او د جواز دليل يې قرآني نص يعني وفي الرقاب دی.

بخلاف ما إذا كان الخ دويمه مسئله دا ده چي د مالداره سړي و نابالغه زوی ته هم زکاة ورکول جائز نه دي، ځکه چي نابالغه اولاد د خپل پلار د مال په وجه سره مالداره شمارل کيږي، او که د هغه اولاد بالغ وي او فقير وي، نو هغه ته زکاة ورکول جائز دي، ځکه چي بالغ اولاد د خپل پلار په مال سره مالداره نه شمارل کيږي، که څه هم د اولاد نفقه پر خپل پلار واجب ده، لېکن څرنګه چي دا په خپله فقير دی، نو ځکه به هغه ته زکاة ورکول جائز وي.

بخلاف امرأة الخ دريمه مسئله دا ده چي که د مالداره سړي ښځه فقيره وي، نو هغه ته هم زکاة ورکول جائز دي، ځکه چي ښځه به خپل د خاوند په مال سره مالداره نه شمارل کيږي، او پاته سوه نفقه نو هغه ښځه نه سي مالداره کولای، ځکه چي هغه په خوراک کي مصرفيږي، نو ځکه هغې ته هم زکاة ورکول صحيح دي.

بنو هاشم ته د زکاة ورکولو حکم

وَلَا تُدْفَعُ إِلَى بَنِيْ هَاشِمٍ او بنو هاشم ته به زکاة نه ورکول کيږي لِقَوْلِهِ❶ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي يَا بَنِيْ هَاشِمٍ إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ عَلَيْكُمْ غُسَالَةَ النَّاسِ وَأَوْسَاخِهِمْ "اې بنو هاشم! الله تعالىٰ پر تاسو د خلکو کارول سوي چټلي اوبه او د هغوی خيري حرامي کړي دي وَعَوَّضَكُمْ مِنْهَا بِخُمُسِ الْخُمُسِ او د هغه په عوض کي يې تاسو ته د خمس، خمس در کړی دی" بِخِلَافِ التَّطَوُّعِ په خلاف د نفلي صدقې لِأَنَّ الْمَالَ هَاهُنَا كَالْمَاءِ ځکه چي دلته مال د اوبو په ډول دی يَتَدَنَّسُ بِإِسْقَاطِ الْفَرْضِ (چي هغه) د فرضو په ساقطولو سره خيرن (چټل) کيږي أَمَّا التَّطَوُّعُ بِمَنْزِلَةِ التَّبَرُّدِ بِالْمَاءِ هر چي نفلي صدقه ده نو هغه په اوبو سره د يخنی (يخوالي) حاصلولو په درجه کي ده.

اللغات: ﴿غسالة﴾ هغه اوبه چي په هغو کي يو شی پرېولل سي او چټلي سي. ﴿أوساخ﴾ جمع د وسخ ده: خيري. ﴿يتدنس﴾ د تفعّل مضارع ده: خيرنېدل. ﴿تبرد﴾ د تفعّل مصدر دی: يخني حاصلول. (ځان يخول).

تشريح: بنو هاشم ته هم زکاة ورکول جائز نه دي. دليل د نبي ﷺ حديث دی. علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله دا حديث په دې الفاظو سره ذکر کړی دی: يا بني هاشم إن الله كره لكم غسالة أيدي الناس و أوساخهم و عوضكم منها بخمس الخمس. (يعني اې د هاشم زامنو! الله جَلَّ جَلَالُهُ ستاسو لپاره د خلکو د لاسو کارول سوي اوبه او د هغوی خيري ناخوښه کړي دي، او د هغه په بدله کي يې تاسو ته د خُمس، خُمس درکړی دی). يعني د غنيمت له پنځو حصو څخه خو به څلور حصې په غازيانو کي تقسيميږي، او پاته يوه حصه به بيا پنځه حصه کيږي، چي له هغو څخه به يوه حصه د بنو هاشمو وي، او پاته څلور حصې به په نورو ضروورياتو کي مصرفيږي.

بخلاف التطوع الخ په خلاف د نفلي صدقې چي هغه بنوهاشم ته ورکول جائز دي، دليل دا دی چي مال دلته د اوبو په ډول دی، نو که اوبه د فرضو د ساقطولو لپاره يعني د بې اودسی او د جنابت د ليري کولو لپاره استعمال سي، نو اوبه ګندې او چټلي شمارل کيږي، همدارنګه په کوم مال سره چي زکاة اداء کيږي، په هغه سره د زکاة فريضه ساقطيږي، نو ځکه به د زکاة مال ګنده او له خيرو څخه ډک شمارل کيږي، او که يو سړی بې اودسه او محدث نه وي بلکي اوبه صرف د يخنی حاصلولو لپاره استعمال کړي، نو ښکاره ده چي په دې اودس سره د هغه هيڅ فرض ساقط نه سو، همدارنګه که مال د نفلي صدقې په توګه ورکول سي، نو څرنګه چي په دې سره هيڅ فريضه ساقطه نه سوه، نو ځکه به دا مال هم ګنده او چټل نه وي، او کله چي هغه مال ګنده نه دی، نو بنو هاشمو ته به د هغه ورکول جائز وي.

بنو هاشم څوک دي؟

قَالَ: وَهُمْ آلُ عَلِيٍّ وَآلُ عَبَّاسٍ وَآلُ جَعْفَرٍ وَآلُ عَقِيْلٍ وَآلُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فرمايي: او بنو هاشم (دا دي:) [۱] د حضرت علي رضي الله عنه اولاد [۲] د حضرت عباس رضي الله عنه اولاد [۳] د حضرت جعفر رضي الله عنه اولاد [۴] د حضرت عقيل رضي الله عنه اولاد [۵] د حضرت حارث بن عبد المطلب اولاد وَمَوَالِيهِمْ او د هغو آزاد سوي غلامان أَمَّا هَؤُلَاءِ فَلِأَنَّهُمْ يُنْسَبُونَ إِلَى بَنِيْ

---

❶ تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الزكاة، باب ترک استعمال آل النبي ﷺ على الصدقة، حديث رقم: ۱۶۷.

هَاشِمِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ هر چي دا خلک دي نو ځکه چي د دوی نسبت د هاشم بن عبد مناف و طرف ته کيږي وَنِسْبَةُ الْقَبِيْلَةِ إِلَيْهِ او د قبيلې نسبت (هم) د هاشم و طرف ته دی وَأَمَّا مَوَالِيْهِمْ فَلِمَا رُوِيَ او کوم چي د دوی آزاد سوي غلامان دي نو (هغه) د دې روايت په وجه أَنَّ مَوْلًى لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● سَأَلَهُ أَتَحِلُّ لِيَ الصَّدَقَةُ چي د نبي ﷺ يو آزاد سوي غلام له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي آيا زما لپاره زکاة حلال دی؟ فَقَالَ: لَا أَنْتَ مَوْلَانَا نو نبي ﷺ وفرمايل: چي نه! ته (خو) زموږ آزاد سوی غلام يې بِخِلَافِ مَا إِذَا أَعْتَقَ الْقُرَيْشِيُّ عَبْدًا نَصْرَانِيًّا په خلاف د هغه صورت چي کله يو قريشي سړی خپل نصراني غلام آزاد کړي حَيْثُ تُؤْخَذُ مِنْهُ الْجِزْيَةُ ځکه چي له هغه څخه به جزيه اخيستل کيږي وَيُعْتَبَرُ حَالُ الْمُعْتَقِ او د آزاد سوي غلام د حال اعتبار به کيږي لِأَنَّهُ الْقِيَاسُ ځکه چي همدغه قياس دی وَالْإِلْحَاقُ بِالْمَوْلَى بِالنَّصِّ او د مالک (آزادونکي) سره ملحق کول د نص په وجه سره دي وَقَدْ خَصَّ الصَّدَقَةَ او نص صدقه خاص کړې ده.

اللغات: ﴿مولى﴾ دا لفظ له اضدادو څخه دی: آزاد سوي غلام ته هم ويل کيږي، مالک او آزادونکي ته هم ويل کيږي.

تشريح: په دې عبارت کي امام قدوري رَحِمَهُ الله دا بيانوي چي بنو هاشم کوم خلک دي، فرمايي چي له بنو هاشم څخه مراد د حضرت عباس، حضرت جعفر، حضرت عقيل او حارث بن عبد المطلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُم اولاد او د هغوی موالي يعني آزاد سوي غلامان دي، دا حضرات او د دوی اولاد په دې وجه بنو هاشم دي چي دا ټوله د نبي ﷺ د لوړ نيکه هاشم بن مناف و طرف ته منسوب دي، او د بنوهاشم قبيله هم د هاشم بن عبد مناف و طرف ته منسوبه ده، نو په دې حواله سره هغوی ته هاشمي ويل کيږي، او د دوی آزاد سوي غلامانو ته د هاشمي ويلو وجه دا ده چي د نبي ﷺ غلام ابو رافع يو وار له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه: أتحلّ لي الصدقة، (يعني آيا زما لپاره صدقه حلاله ده)، نو نبي ﷺ هغه ته وفرمايل: لا أنت مولانا، (يعني ستا لپاره صدقه حلاله نه ده ځکه چي ته زموږ آزاد سوی غلام يې)، نو کله چي زموږ لپاره صدقه حلاله نه ده، نو بيا ستا لپاره به څرنګه حلاله وي، ځکه چي ته (خو) هم زموږ په ډول په بنوهاشمو کي داخل او شامل يې.

بخلاف ما إذا الخ له دې ځايه د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي د مخکي ذکر سوي تفصيل څخه ثابته سوه چي د يو قوم غلامان به هم له هغه قوم څخه شمارل کيږي، اوس که قريشي سړی يو نصراني غلام آزاد کړي، نو د مخکي ذکر سوي تفصيل مطابق به پر دې نصراني غلام جزيه نه واجبېدل پکار وي، ځکه چي دا د قريشي غلام وو، او پر هغه جزيه واجب نه ده، حال دا چي شريعت د قريشي پر نصراني غلام هم جزيه واجبه کړې ده، آخر د دې څه وجه ده؟

صاحب د هدايې د دې جواب ورکوي فرمايي چي اصل قانون او قاعده دا ده چي د صدقې او د جزيې د واجبېدلو او نه واجبېدلو په باره کي به د مُعتَق يعني د آزاد سوي غلام د حالت او کيفيت اعتبار کيږي، نو که غلام نصراني او کافر وو، نو پر هغه به جزيه واجب وي، ځکه چي پر کافر جزيه واجب ده، او همدا د قياس تقاضا ده، لېکن د زکاة د حرامولي په باره کي چي غلام د خپل مولىٰ (مالک) سره ملحق سوی دی، هغه خلاف القياس د دې نص أنت مولانا، يا مولى القوم من

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الزكاة، باب صدقة بني هاشم، حديث رقم: ١٦٥.

انفسهم په وجه سره ملحق سوی دی، او څرنګه چي په نص کي دا الحاق صرف د زکاة سره خاص دی، نو ځکه به حديث صرف د زکاة سره خاص وي، د جزيې او نورو و طرف ته به نه متجاوز کيږي، ځکه چي د فقهي قاعده دا ده: ما ثبت على خلاف القياس فغيره لايقاس عليه. (يعني کوم شی چي خلاف القياس ثابت سي، پر هغه به نور شيان نه قياسيږي).

که معلومه سوه چي دا سړی د زکاة حقداره نه دی نو څه حکم دی؟

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ: إِذَا دَفَعَ الزَّكَاةَ إِلٰى رَجُلٍ يَظُنُّهُ فَقِيْرًا طرفينو رَحِمَهُمَا الله فرمايلي دي: که يو چا داسي سړي ته زکاة ورکړی چي پر هغه يې د فقير ګومان وو ثُمَّ بَانَ أَنَّهُ غَنِيٌّ أَوْ هَاشِمِيٌّ أَوْ كَافِرٌ بيا ښکاره سوه چي هغه مالداره دی يا هاشمي دی يا کافر دی أَوْ دَفَعَ إِلٰى ظُلْمَةٍ فَبَانَ أَنَّهُ أَبُوْهُ أَوْ اِبْنُهُ يا يې په تياره کي (يو سړي ته) زکاة ورکړی بيا ښکاره سوه چي هغه د ده پلار دی يا د ده زوی دی فَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ [1] نو پر هغه د زکاة راګرځول (يعني دويم وار اداء کول) واجب نه دي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: عَلَيْهِ الْإِعَادَةُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر هغه د زکاة راګرځول واجب دي لِظُهُوْرِ خَطَائِهِ بِيَقِيْنٍ په يقين سره د هغه د غلطۍ د ښکاره کېدلو په وجه وَإِمْكَانِ الْوُقُوْفِ عَلٰى هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ او پر دې شيانو د واقفېدلو د امکان په وجه (يعني په دې شيانو خبرېدل ممکن دي) وَصَارَ كَالْأَوَانِيْ وَالثِّيَابِ او دا (معامله) د لوښو او جامو په شان سوه وَلَهُمَا حَدِيْثُ مَعْنِ بْنِ يَزِيْدَ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل د حضرت معن بن يزيد حديث دی فَإِنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ [2] فِيْهِ ځکه نبي ﷺ د دې (معاملې) په باره کي وفرمايل يَا يَزِيْدُ لَكَ مَا نَوَيْتَ اې يزيده! ستا لپاره هغه (ثواب) دی چي تا يې نيت وکړی وَيَا مَعْنُ لَكَ مَا أَخَذْتَ او اې معنه! ستا لپاره هغه (اشرفياني) دي چي تا واخيستې وَقَدْ دَفَعَ إِلَيْهِ وَكِيْلُ أَبِيْهِ صَدَقَتَهُ حال دا چي معن ته د خپل د پلار وکيل د پلار زکاة ورکړی وو وَلِأَنَّ الْوُقُوْفَ عَلٰى هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ بِالْاِجْتِهَادِ او په دې وجه (هم) چي پر دې شيانو واقفېدل د اجتهاد په توګه سره دي دُوْنَ الْقَطْعِ په يقيني توګه سره نه دي فَيَبْتَنِيْ الْأَمْرُ فِيْهَا عَلٰى مَا يَقَعُ عِنْدَهُ نو په دې شيانو کي به د حکم بنياد پر هغه اجتهاد وي کوم چي د انسان په نېز واقع سي كَمَا إِذَا اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ لکه په هغه صورت کي چي کله پر لمونځ ګزاره قبله شکمنه سي وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ غَيْرِ الْغَنِيِّ أَنَّهُ لَا يُجْزِئُهُ او له مالداره سړي شخصه په علاوه کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو روايت (دا) دی چي زکاة ورکول جائز نه دي وَالظَّاهِرُ هُوَ الْأَوَّلُ (لېکن) ظاهر روايت اول قول دی وَهٰذَا إِذَا تَحَرّٰى وَدَفَعَ او دا جائز کېدل هغه وخت دي چي کله هغه تحري کړې وي او زکاة يې ورکړی وي وَفِيْ أَكْبَرِ رَأْيِهِ أَنَّهُ مَصْرِفٌ او په غالب ګومان کي يې دا وي چي هغه (مؤدیٰ اليه) مصرف دی أَمَّا إِذَا شَكَّ

---

[1] القول الراجح: قول الطرفين، كذا في رد المحتار ج:۲، كما قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله والظاهر هو الأول يعني الإجزاء في الكل العناية ج:۲، ص: ۲۱۴. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۷]

[2] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب إذا تصدق على ابنه وهو لايشعر. حديث رقم: ۱۴۲۲.

وَلَمْ يَتَحَرَّ لېکن که هغه شک کړی وي او تحري يې (هم) کړې نه وي أَوْ تَحَرَّى فَدَفَعَ يا يې تحري کړې وي بيا يې زکاة ورکړی وي وَفِي أَكْبَرِ رَأْيِهِ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَصْرِفٍ خو غالب ګومان يې دا وي چې هغه مصرف نه دی لَا يُجْزِيهِ نو جائز نه دي إِلَّا إِذَا عَلِمَ أَنَّهُ فَقِيرٌ لېکن کله چې هغه ته معلومه سي چې هغه فقير دی هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿بان﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ښکاره کېدل، څرګندېدل، ﴿ظلمة﴾ تياره، تاريکي، تورتم، ﴿أواني﴾ جمع د آنية ده: لوښي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو چا پريو سړي د فقير ګومان وکړی او زکاة يې ورکړی، بيا وروسته ورته معلومه سوه چې دا سړی مالداره دی، يا هاشمي دی، يا کافر دی، يا يو چا يو سړي ته د شپې په تياره کي د زکاة مال ورکړی، لېکن وروسته معلومه سوه چې مؤدیٰ اليه يعني چاته چې يې زکاة ورکړی وو، هغه د ده پلار دی، يا د ده زوی دی، نو په دې ټولو صورتونو کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر مالک او زکاة ورکونکي د زکاة راګرځول واجب نه دي، بلکي د هغه زکاة اداء سو، او شرعاً پر هغه هيڅ نيوکه نسته. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې په يوه صورت کي هم زکاة اداء سوی نه دي، او پر هغه(مزکّي) دويم وار د زکاة ورکول واجب او لازم دي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې په دې ټولو صورتونو کي مزکّي ته په يقين سره دا خبره معلومه سوه چې هغه د زکاة په اداء کولو کي غلطي کړې ده، او کومو خلکو ته چې يې زکاة ورکړی دی، هغه د زکاة مصرف نه دي، او په غيرِ مصرف کي ورکړی سوی زکاة نه اداء کيږي، نو په دې صورتونو کي به هم د دې سړي زکاة اداء نه وي. او بل دا چې د دې سړي لپاره د مؤدیٰ اليه د حالت معلومول ممکن هم وو، خو څرنګه چې هغه دا هم نه وکړه، نو د هغه له طرفه دا بله پروايي وسوه، نو ځکه به د هغه اداء سوی زکاة شرعاً معتبر نه وي.

وصار كالأواني الخ او دا مسئله د لوښو او کالو(جامو) په شان سوه، يعني که پاک او ناپاک لوښي سره ګډ سول، او بيا يو سړي تر تحري وروسته د يو لوښي په اوبو سره اودس وکړی، لېکن وروسته معلومه سوه چې هغه لوښی ناپاکه وو، نو پر هغه د اودس راګرځول ضروري دي، همدارنګه که پاک او ناپاک کالي سره ګډ سول، او د پاکو او ناپاکو په مينځ کي فرق ستونزمن سو، بيا هغه تحري وکړه او يوه جوړه کالي يې راواخيستل په هغه کي يې لمونځ وکړی، او وروسته معلومه سوه چې دا کالي ناپاکه وه، نو پر دې سړي د لمانځه راګرځول واجب دي، حاصل دا چې څرنګه په دې دواړو صورتونو کي د غلطي تر ښکاره کېدلو وروسته د اودس او د لمانځه راګرځول ضروري دي، همدارنګه به په پورتنۍ مسئله کي هم د خطاء تر ښکاره کېدلو وروسته د زکاة راګرځول واجب او ضروري وي.

د طرفينو دليل: د حضرت معن بن يزيد ﷺ هغه روايت دی چې په هغه کي ذکر سوي دي چې معن ته د خپل پلار(يزيد) صدقه د خپل پلار وکيل ورکړه، کله چې دا مسئله د نبي ﷺ په خدمت کي ذکر سوه، نو نبي ﷺ دا جمله وفرمايله: (يا يزيد لك ما نويت)، يعني اې يزيده! په دې صدقه سره چې کوم نيت تا کړی وو، د هغه ثواب به انشاء الله تا ته حاصل سي، او بيا د هغه د زوی(معن) و طرف ته متوجه سو، او ورته فرمايل: يا معن لك ما أخذت. (اې معنه! کوم څه چې تا واخيستله هغه ستاسو). له دې روايت څخه دا خبره ښکاره سوه چې که زکاة غيرِ مصرف ته ورکول سو، او وروسته څرګنده سوه چې دا مصرف نه وو، نو دويم وار به زکاة نه ورکول کيږي، ځکه چې نبي ﷺ حضرت يزيد ته دويم وار د زکاة ورکولو حکم نه وکړی، بلکي هغه ته يې د ثواب رسېدلو يقين ورکړی، چې دا د دې خبري ښکاره دليل

دی چې د هغه زکاة اداء سو. او بيا نبي ﷺ له حضرت معن څخه د هغه مال د واپس کولو هيڅ مطالبه نه وکړه. چې له هغه څخه بيا دا اشاره ترلاسه کيږي چې د يزيد زکاة اداء سو. حال دا چې ورکونکي او اخيستونکي دواړه پلار او زوی ول.

د طرفينو دويم دليل: دا دی چې دا خو موږ هم منو چې د مؤدي لپاره د مؤدیٰ اليه پر حالت واقفېدل ممکن وو. لکه څرنګه چې امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وايي. لېکن دا واقفيت به پر غالب ګومان مبني وي، د حقيقت سره به د هغه هيڅ تعلق نه وي، ځکه چې مالداري او فقر دننه خبره ده. او د هيڅ سړي پر مالداري يا فقر په حقيقي توګه سره څوک نه سي خبرېدلای. نو ځکه به په دې کي پر غالب ګومان د حکم مدار وي. او انسان که يو څوک په خپل غالب ګومان سره يو څوک فقير وګڼي، او زکاة ورکړي، نو د هغه زکاة به اداء کيږي، ځکه چې د هغه په وس کي صرف تر غالب ګومانه پوري د مؤدیٰ اليه د حال معلومول وو. او هغه ده معلوم کړی، نو که وروسته د هغه غالب ګومان غلط هم سو، نو هم به د هغه زکاة شرعاً معتبر منل کيږي، لکه پر يو چا چې د قبلې طرف مشتبه سي، او هغه تحري وکړي او د غالب ګومان مطابق لمونځ وکړي، بيا هغه ته دا معلومه سي چې د هغه تحري غلطه وه، نو اوس د هغه په اداء سوي لمانځه کي هيڅ خلل نه راځي، او نه هغه ته دويم لمونځ کول پکار دي، همدارنګه به په پورتنۍ مسئله کي هم چې کله هغه تحري کړې وي او يو څوک يې د زکاة مصرف ګڼلی وي، زکاة يې ورکړی وي، او بيا ورته معلومه سي چې هغه د زکاة مصرف نه دی، نو پر هغه به دويم وار د زکاة ورکول لازم نه وي.

ومن أبي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ الخ په دې باره کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې که زکاة ورکونکي (مزکّي) يو سړی فقير وګڼی زکاة يې ورکړی، او بيا هغه سړی (يعني مؤدیٰ اليه) مالدار وختی، نو په دې صورت کي به پر مزکّي د زکاة راګرځول ضروري نه وي، او که مؤدیٰ اليه هاشمي، يا کافر، يا د مزکّي پلار، يا د هغه زوی وختی، نو په دې ټولو صورتونو کي به پر هغه د زکاة راګرځول ضروري وي، ځکه چې مالداره سړی هم په يو درجه کي د زکاة مصرف دی، همدا وجه ده که عامل يعني د زکاة اخيستونکی او راټولونکی موږ هم وي، نو هم هغه ته د زکاة له مال څخه خپل حقُ الزحمه اخيستل جائز دي، نو ځکه به د مؤدیٰ اليه د مالداره کېدلو په صورت کي زکاة اداء کيږي، لېکن د هغه د هاشمي، يا کافر يا نورو په صورت کي به زکاة نه اداء کيږي، ځکه چې هاشمي او نور خو قطعاً يعني په يوه درجه کي هم د زکاة مصرف نه دي، صاحب د هدايې فرمايي چې ظاهرُ الرواية اول قول دی چې په هغه کي طرفين سره يو ځای دي.

وهذا إلى الخ فرمايي چې غير مصرف ته زکاة ورکول هغه وخت صحيح او جائز دي چې کله زکاة ورکونکي تحري کړې وي او زکاة يې ورکړی وي، او د هغه غالب ګومان دا وي چې دا سړی د زکاة مصرف دی، او که زکاة ورکونکي ته شک وو چې آيا هغه د زکاة مصرف دی، که نه؟، لېکن د دې باوجود يې تحري کړې نه وي، بلکې بې له تحري يې هغه ته زکاة ورکړې وي، يا يې تحري کړې وي او زکاة يې ورکړې وي او غالب ګومان يې دا وي چې هغه د زکاة مصرف نه دی، نو په دې دواړو صورتونو کي هم زکاة نه اداء کيږي، هو! خو که وروسته ښکاره سوه چې مؤدیٰ اليه فقير دی، نو زکاة يې اداء کيږي، او همدا صحيح قول دی.

که معلومه سوه چي دا سړی د هغه خپل غلام دی نو څه حکم دی؟

وَلَوْ دَفَعَ إِلَى شَخْصٍ او که زکاة يې ورکړی يو سړي ته ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَبْدُهُ أَوْ مُكَاتَبُهُ بيا ورته معلومه سوه چي هغه د ده غلام دی يا د ده مكاتب دی لَا يُجْزِئُهُ نو دا ورکړه جائز نه ده لِانْعِدَامِ التَّمْلِيكِ د تمليک د نيستيوالي په وجه لِعَدَمِ أَهْلِيَّةِ الْمِلْكِ ځکه چي (په غلام کي) د ملک لياقت(ورتيا) نسته وَهُوَ الرُّكْنُ عَلَى مَا مَرَّ حال دا چي تمليک رکن(فرض) دی لکه څرنګه چي تېر سو.

اللغات: ﴿لا يجزئ﴾ نه کافي کيږي(مجازاً نه جائز کيږي).

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو چا يو سړي ته زكاة ورکړی، بيا معلومه سوه چي مؤدیٰ اليه يعني کوم سړي ته چي يې زكاة ورکړی دی هغه د ده غلام دی، يا د ده مكاتب غلام دی، نو د هغه دا زكاة نه اداء کيږيَ ځکه چي د زكاة د اداء کولو لپاره تمليک رکن دی، او په غلام او مکاتب کي د مالک جوړېدلو اهليت نسته، نو په دواړو کي تمليک معدوم سو، او کله چي تمليک معدوم سو، نو څرنګه به زكاة صحيح وي!، حال دا چي تمليک د زكاة رکن دی.

د نصاب خاوند ته د زكاة ورکولو حکم

وَلَا يَجُوزُ دَفْعُ الزَّكَاةِ إِلَى مَنْ يَمْلِكُ نِصَابًا او هغه سړي ته زكاة ورکول جائز نه دي چي هغه د نصاب مالک وي مِنْ أَيِّ مَالٍ كَانَ هغه که له هر مال څخه وي لِأَنَّ الْغِنَى الشَّرْعِيَّ مُقَدَّرٌ بِهِ ځکه چي شرعي مالداري د نصاب سره خاص ده وَالشَّرْطُ أَنْ يَكُونَ فَاضِلًا عَنِ الْحَاجَةِ الْأَصْلِيَّةِ او شرط دا دی چي دا نصاب به تر اصلي حاجت زيات وي وَإِنَّمَا النَّمَاءُ شَرْطُ الْوُجُوبِ او (د مال) نامي کېدل خو د زكاة د واجبېدلو شرط دی.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو سړی د نصاب مالک وي، د هغه سره د سرو يا سپينو زرو نصاب وي، يا د څارويو نصاب وي، يا د بل سلمان نصاب وي، او مال که نامي وي، که غيرِ نامي، په دې شرط چي له حاجت اصليه څخه زيات وي، نو هغه ته زكاة ورکول جائز نه دي، د حاجتِ اصليه مطلب دا دی چي پر هغه د يو چا قرض وي. يا هغه دا مال په خپل ضرورت کي استعمالوي، مثلاً د يو عالم سره دومره اندازه کتابونه وي چي د هغو قيمت د نصاب په اندازه وي. لېکن هغه دې کتابو ته ضرورت لري، او په درس (او تصنيف) کي کار ځني اخلي، نو د دې عالم لپاره زكاة اخيستل جائز دي. ځکه هغه که څه هم د نصاب مالک دی، لېکن دا نصاب تر حاجتِ اصليه زيات نه دی، نو ځکه به د هغه لپاره زكاة اخيستل صحيح وي.

وانما النماء الخ دا عبارت د يو سوال جواب دی هغه دا چي څه وجه ده چي د نصاب مالک ته د زكاة ورکولو په باره کي صرف له حاجت اصليه څخه د نصاب د زياتېدلو شرط ولګول سو، او د نصابِ نامي شرط نه ولګول سو، نو د هغه جواب دا دی چي د نصاب نامي کېدل د زكاة د واجبېدلو شرط دی، نه د زكاة اخيستلو، نو که يو څوک د داسي نصاب مالک وي چي هغه غيرِ نامي وي، نو پر هغه به زكاة ورکول واجب نه وي، خو څرنګه چي د شريعت په نظر کي مالداره دی، نو ځکه به د هغه لپاره زكاة اخيستل جائز نه وي.

له نصاب څخه د کم مال خاوند ته د زکاة ورکولو حکم

وَيَجُوزُ دَفْعُهَا إِلَى مَنْ يَمْلِكُ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ او هغه سړي ته زکاة ورکول جائز دي چې هغه تر نصاب د کم (مال) مالک وي وَإِنْ كَانَ صَحِيحًا مُكْتَسِبًا که څه هم جوړ روغ او ګټونکی وي لِأَنَّهُ فَقِيرٌ ځکه چې تر نصاب د کم (مال) خاوند فقير دی وَالْفُقَرَاءُ هُمُ الْمَصَارِفُ او هم فقيران د زکاة مصارف دي وَلِأَنَّ حَقِيْقَةَ الْحَاجَةِ لَا يُوْقَفُ عَلَيْهَا او په دې وجه (هم) چې (د يو چا) پر حقيقي حاجت (انسان) نه سي خبرېدلای فَأُدِيْرَ الْحُكْمُ عَلَى دَلِيْلِهَا نو ځکه د حکم مدار د حقيقي حاجت پر دليل کېښېنول سو وَهُوَ فَقْدُ النِّصَابِ او هغه د نصاب نيستي کېدل دي.

اللغات: ﴿مکتسب﴾ کسبګر، ګټونکی، ﴿أدير﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: مدار کېدل، مدار اېښوول. ﴿فقد﴾ د نصر مصدر دی: ورکېدل، نيستي کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې کوم سړی له نصاب څخه د کم مال خاوند وي، هغه ته زکاة ورکول جائز دي، که څه هم هغه جوړ روغ، د ګټې او کسب خاوند وي، ځکه چې له نصاب څخه د کم مال په وجه هغه سړی فقير دی، او فقيران د زکاة مصرف دي، نو هغه ته به زکاة ورکول په مصرف کې زکاة ورکول وي، او په مصرف کې زکاة ورکول صحيح او جائز دي.

په دې لړ کې دويم دليل دا دی چې حقيقي حاجت او حقيقي فقر يو پټ شی دی، په هغه باندې په يقيني توګه خبرېدل مشکل دي، (يعني په دې خبرېدل مشکل دي چې کوم انسان حقيقي ضرورت لري)، او قاعده دا ده چې که يو شی مخفي وي، نو د هغه دليل به د هغه قائم مقام کېږي، او حکم به د هغه پر دليل لګېږي، (او په دې مسئله کې دليل د نصاب نه مالک کېدل دي)، نو ځکه به دلته هم حکم د انسان د حاجت پر دليل يعني د نصاب پر فقدان لګېږي، او دا فيصله به کېږي چې څوک د نصاب مالک نه وي، د هغه لپاره زکاة اخيستل حلال دي، لکه څرنګه چې انزال غسل واجبوي، لېکن هغه يو پټ شی دی، (او په هغه ځای خبرول مشکل دي خصوصاً د ښځي لپاره) نو ځکه فقهاؤ د انزال دليل يعني التقاء ختانين (يعني د نارينه او ښځينه اندام سره جوختېدل) د انزال قائم مقام کړه او دا فيصله يې وکړه چې د التقاء ختانين په صورت کې به غسل واجبيږي، هغه که انزال وسي، که نه وسي، نو څرنګه چې د انزال په مسئله کې د هغه پر دليل يعني پر التقاء ختانين د حکم دار ومدار دی، همدارنګه به د فقر او محتاجې په مسئله کې د فقر او احتياج پر دليل يعني د نصاب پر فقدان د حکم دار و مدار وي.

د نصاب په اندازه د زکاة ورکولو حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ يُدْفَعَ إِلَى وَاحِدٍ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَصَاعِدًا او يو چا ته دوه سوه درهمه يا تر دې زيات ورکول مکروه دي وَإِنْ دَفَعَ جَازَ او که يې ورکړي نو جائز دي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجُوْزُ لِأَنَّ الْغِنَاءَ قَارَنَ الْأَدَاءَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې جائز نه دي ځکه چې مالداري د اداء سره متصله (جوخته) سوه فَحَصَلَ الْأَدَاءُ إِلَى الْغَنِيِّ نو د زکاة اداء مالدار ته حاصله سوه وَلَنَا أَنَّ الْغِنَاءَ حُكْمُ الْأَدَاءِ او زموږ دليل دا دی چې مالداري د زکاة د اداء کولو حکم دی فَيَتَعَقَّبُهُ نو مالداري به د زکاة تر اداء کولو وروسته وي لٰكِنَّهُ يُكْرَهُ لِقُرْبِ الْغِنٰى مِنْهُ لېکن داسې کول به مکروه وي ځکه چې مالداري د اداء سره نژدې ده كَمَنْ صَلَّى وَبِقُرْبِهِ نَجَاسَةٌ لکه يو څوک چې لمونځ کوي او هغه ته نژدې نجاست وي.

اللغات: ﴿فصاعدا﴾ زيات، ډېر، ﴿قارن﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: يو ځاى کېدل، جوختېدل، ﴿يتطب﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: وروسته کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چې يوه فقير يا يوه مسکين يا يو بل د زکاة مستحق ته د زکاة مال دوسوه درهمه يا تر دې زيات ورکول مکروه دي، لېکن که يې ورکړي، نو جائز دي، او د هغه زکاة اداء کېږي، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې يوه فقير ته ۲۰۰ يا تر هغه زيات درهمه د زکاة لپاره ورکول جائز نه دي.

د امام زفر دليل: دا دى چې کله فقير ته دوه سوه درهمه ورکړل سي، نو په هغه ګړي مالدار سو، ګواکي مالداري د زکاة د ورکولو سره متصله او مقارنه سوه، ځکه چې د زکاة ورکول د دغه فقير د مالداره کېدلو علت سو، او مالداره کېدل معلول سو، او علت د معلول سره مقارن سو، لهذا داسې سو لکه مالدار سړي ته چې زکاة ورکړي، نو په پورتني صورت کې به ځکه يوه فقير ته ۲۰۰ درهمه د زکاة لپاره ورکول جائز نه وي.

ولنا أن الخ زموږ دليل دا دى چې فقير ته زکاة ورکول جلا مسئله ده، او د هغه مالداره کېدل جلا مسئله ده، په دواړو کې هيڅ مقارنت نسته، بلکي اول اداء راځي، بيا غناء يعني مالداري راځي، (يعني چې کله زکاة ورکړي تر هغه وروسته فقير مالداره کېږي)، ځکه چې غناء د اداء حکم دى (او حکم وروسته وي)، نو ځکه به هغه تر اداء وروسته وي، او د زکاة د ورکولو او د اداء کولو په وخت کې به هغه فقير، فقير وي، او فقير ته زکاة ورکول جائز دي، نو ځکه به په پورتني صورت کې يوه فقير ته ۲۰۰ درهمه د زکاة لپاره ورکول هم جائز وي، خو څرنګه چې د زکاة ورکول د مالداري سره نږدې دي، او تر وورکړي وروسته سملستي فقير مالداره کېږي، نو ځکه به دا مکروه وي، لکه څرنګه چې لمونځ کول په خپل ذات کې جائز او مباح دي، لېکن که د لمونځ ګزاره سره شاوخوا نږدې نجاست او ګندګي وي، نو هلته به لمونځ کول مکروه وي، ځکه چې په هغه سره د خشوع و خضوع د متأثره کېدلو خطره سته، همدارنګه به په پورتنۍ مسئله کې خو زکاة ورکول جائز وي، لېکن د مالدارۍ د نږدېکت په وجه به مکروه وي.

خومره زکاة ورکول غوره دي؟

> قَالَ: وَأَنْ يُغْنِيَ بِهَا إِنْسَانًا أَحَبُّ إِلَيَّ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: او چې په زکاة سره انسان بې پروا کړى سي (دا) زما ډېر خوښ دي مَعْنَاهُ الْإِغْنَاءُ عَنِ السُّؤَالِ يعني (چې) هغه له سوال کولو (فقر کولو) څخه بې پروا کړى سي لِأَنَّ الْإِغْنَاءَ مُطْلَقًا مَكْرُوهٌ ځکه چې مطلق بې پروا کول (خو) مکروه دي.

اللغات: ﴿إغناء﴾ بې پروا کول، مستغني کول، احتياج ورختمول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره ده چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د زکاة مستحق سړي ته دومره زکاة ورکول چې د هغه په ذريعه سره يوه ورځ له سوال کولو او فقر غوښتلو څخه بې پروا سي، دا غوره خبره ده، فرمايي چې د متن مطلب همدغه دى چې د يوې ورځې لپاره بې پروا کول غوره خبره ده، دا مطلب يې نه دى چې فقير دې د همېشه لپاره بې پروا کړى سي، ځکه چې څه مخکي تاسو ووېل چې يوه فقير ته ۲۰۰ درهمه په زکاة ورکول مکروه دي، نو د دې په صحيح مطلب ځان پوه کړئ.

له يوه ښار څخه بل ښار ته د زکاة د وړلو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ نَقْلُ الزَّكَاةِ مِنْ بَلَدٍ إِلَى بَلَدٍ فرمايي: او مکروه دي د زکاة مال له يوه ښار څخه بل ښار ته وړل وَإِنَّمَا تُفَرَّقُ صَدَقَةُ كُلِّ فَرِيقٍ فِيهِمْ (بلکې) د هر فريق زکاة به په هغو کې تقسيمېږي لِمَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ مُعَاذٍ[•] رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت معاذ ﷺ د حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَفِيهِ رِعَايَةُ حَقِّ الْجِوَارِ او په دې کې د همسايتوب د حق رعايت(هم) دی إِلَّا أَنْ يَنْقُلَهَا الْإِنْسَانُ إِلَى قَرَابَتِهِ لېکن دا چې انسان خپل زکاة د خپلو قريبانو طرف ته نقل کړي أَوْ إِلَى قَوْمٍ هُمْ أَحْوَجُ مِنْ أَهْلِ بَلَدِهِ يا يې د داسې قوم و طرف ته نقل کړي چې هغه تر خپلو ښاريانو زيات محتاجه وي لِمَا فِيهِ مِنَ الصِّلَةِ أَوْ زِيَادَةِ دَفْعِ الْحَاجَةِ څکه چې په دې کې صله رحمي (خپلولي) ده يا په حاجت لېرې کولو کې زياتوب دی(يعني د ډېر زيات محتاج حاجت لېرې کول دي) وَلَوْ نَقَلَ إِلَى غَيْرِهِمْ أَجْزَأَهُ او که له دې خلکو څخه ماسوا يې (د بل چا) و طرف ته نقل کړی نو جائز دي وَإِنْ كَانَ مَكْرُوهًا که څه هم دا مکروه دي لِأَنَّ الْمَصْرِفَ مُطْلَقُ الْفُقَرَاءِ بِالنَّصِّ څکه چې د آيت په وجه سره مصرف مطلق فقيران دي.

اللغات: ﴿تفرق﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: تقسيمول، وېشل، ﴿أحوج﴾ زيات حاجتمند، زيات ضرورتمند.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د زکاة مال له يوه ښار څخه بل ښار ته وړل مکروه دي، بلکې له کوم قوم څخه چې زکاة وړي، په هغه قوم کې زکاة تقسيمول پکار دي، اول دليل خو د معاذ ﷺ حديث دی: تؤخذ من اغنيائهم و ترد إلى فقرائهم (يعني د کوم ځای له مالدارنو څخه چې زکاة واخيستل شي، د هغه ځای پر فقيرانو به تقسيمېږي)، دويم دليل دا دی چې د زکاة په نه وړلو کې د همسايتوب خيال ساتل دي، او په وړلو کې د هغه پرېښول راځي، هو! که په يو ښار کې د يو چا قريبان اوسيږي، يا د بل ښار خلک د دغه ښار له خلکو څخه زيات محتاجه وي، نو د زکاة وړل بې له کراهته جائز دي، دا صورت څکه مکروه نه دی، چې که په بل ښار کې د هغه قريبان وي، نو هغو ته د زکاة په ورکولو کې د زکاة له ثواب څخه علاوه صله رحمي هم ده، او که د بل ښار خلک زيات محتاجه وي، نو هغه څکه چې د زکاة مقصود د محتاج حاجت لېرې کول دي، او کوم سړی چې زيات محتاجه وي، هغه زيات مستحق دی، لېکن که له قريبانو او يا زياتو محتاجو خلکو څخه ماسوا يې د بل چا لپاره بل ښار ته زکاة يوړی نو هم جائز دي، که څه هم داسې کول مکروه دي، څکه چې په دې آيت إنما الصدقات للفقراء کې د زکاة مصرف فقط فقيران ښودل سوي دي، د همسايه فقيرانو يا د بل ځای د فقيرانو هيڅ تخصيص پکښې نشته. والله أعلم بالصواب



• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب أخذ الصدقة من الاغنياء، حديث رقم: ۱۹۶.

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

(دا) باب د صدقة الفطر (سرسايې) د احکامو په بيان کې دی

تشريح: صاحب د هدايې د زکاة تر احکامو وروسته د صدقة فطر (سرسايې) احکام بيانوي، او څرنګه چې دواړه مالي عبادتونه دي، نو ځکه ديوه احکام تر بل وروسته ذکر کوي، خو زکاة فرض دی، او صدقة فطر واجب ده، او ښکاره ده چې د فرضو درجه له واجبو څخه مخکې وي، نو ځکه يې مخکې د فرضو يعني د زکاة احکام او مسائل بيان کړل، او اوس د واجب يعني د صدقة فطر مسائل بيانوي.

ښکاره دې وي چې د صدقه معنیٰ ده: ورکړه (عطيه)، او له دې څخه دلته هغه ورکړه او عطيه مراد ده، چې هغه د الله ﷻ د تقرب (نژديکت حاصلولو) په خاطر ورکړل سي، د صدقه شرعي او اصطلاحي تعريف دا دی: هغه مال چې د صله رحمي او د عبادت په توګه د ترحم په خاطر ورکړل سي، او صدقه ته په دې وجه صدقه وايي چې په دې سره په ثواب حاصلولو کې د انسان خوښته او رغبت صادق (رښتونی) وي. (بنايه ج۳، ص۵۴۶، وهکذا فی العنايه)

د حديثو په کتابونو کې د صدقة الفطر لپاره دېر الفاظ ذکر سوي دي: (۱) صدقة الفطر. (۲) زکوة الفطر. (۳) زکوة رمضان، (۴) زکوة صوم، (۵) صدقة الصوم، (٦) صدقة رمضان، (۷) صدقة الرؤس، (۸) زکوة الأبدان.

د صدقة فطر (سرسايې) شرعي حيثيت او شرطونه

قَالَ: صَدَقَةُ الْفِطْرِ وَاجِبَةٌ عَلَى الْحُرِّ الْمُسْلِمِ فرمايي: چې سرسايه واجب ده پر آزاد مسلمان إِذَا كَانَ مَالِكًا لِمِقْدَارِ النِّصَابِ په دې شرط چې هغه د نصاب د مقدار مالک وي فَاضِلًا عَنْ مَسْكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَأَثَاثِهِ او (په دې شرط چې) دا نصاب به زيات وي د هغه له کور او د هغه له کالوجامو او د هغه له کورني سامان څخه وَفَرَسِهِ وَسِلَاحِهِ وَعَبِيدِهِ او د هغه له آس (سپرلي) او د هغه له اسحلې (وسلې) او د هغه له خدمتکاره غلامانو څخه أَمَّا وُجُوبُهَا فَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فِي خُطْبَتِهِ هر چې د صدقة فطر وجوب دی نو ځکه چې نبي ﷺ په خپله خطبه کې وفرمايل أَدُّوا عَنْ كُلِّ حُرٍّ وَعَبْدٍ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ "چې اداء کړئ له هر آزاد او غلام څخه د غنمو نيم صاع أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ يا د اوربشو نيم صاع" رَوَاهُ ثَعْلَبَةُ بْنُ صُعَيْرٍ الْعَدَوِيُّ دا حديث ثعلبه بن صعير علوي روايت کړی دی وَبِمِثْلِهِ يَثْبُتُ الْوُجُوبُ او په داسې حديث سره وجوب (د صدقة فطر) ثابتيږي لِعَدَمِ الْقَطْعِ د يقين د نشتوالي په وجه (يعني داسې

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب الزکاة، باب من روی نصف صاع من قمح، حديث رقم: ۱۶۱۹، ۱۶۲۰.

حديث ظني دي قطعي نه دي) وَشَرْطُ الْحُرِّيَّةِ لِيَتَحَقَّقَ التَّمْلِيْكُ او د آزاد والي شرط ځکه دی چي تمليک ثابت سي وَالْإِسْلَامُ لِيَقَعَ قُرْبَةً او د اسلام شرط ځکه دی چي صدقة فطر عبادت(او قربت) واقع سي وَالْيَسَارُ لِقَوْلِهِ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د مالداری شرط ځکه دی چي نبي ﷺ فرمايلي دي لَا صَدَقَةَ إِلَّا عَنْ ظَهْرِ غِنًى صدقه نسته مګر له مالدار څخه وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَوْلِهِ او دا حديث حجت دی د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف د هغه په دې قول کي تَجِبُ عَلَى مَنْ يَمْلِكُ زِيَادَةً عَلَى قُوتِ يَوْمِهِ لِنَفْسِهِ وَعِيَالِهِ چي صدقة فطر واجب ده پر هغه چا باندي چي د خپل ځان او د خپل عيال لپاره تر يوې ورځي زياته روزي لري وَقَدَّرَ الْيَسَارُ بِالنِّصَابِ لِتَقْدِيْرِ الْغِنَاءِ فِي الشَّرْعِ بِهِ او د مالداری اندازه په نصاب سره سوې ده ځکه چي په شريعت کي مالداره کيدل د هغه سره خاص دي فَاضِلًا عَمَّا ذُكِرَ مِنَ الْأَشْيَاءِ په داسي حال کي چي دا نصاب به له ذکر سوو شيانو څخه زيات وي لِأَنَّهَا مُسْتَحَقَّةٌ بِالْحَاجَةِ الْأَصْلِيَّةِ ځکه چي دا شيان په اصلي حاجت(حاجتِ اصليه) کي مستحق دي وَالْمُسْتَحَقُّ بِالْحَاجَةِ الْأَصْلِيَّةِ كَالْمَعْدُوْمِ او کوم شيان چي په حاجتِ اصليه کي مستحق(او شامل) وي هغه د معلوم په ډول دي(يعني په حاجتِ اصليه چي کوم شيان شامل وي هغه ګواکي ګرد سره سته نه) وَلَا يُشْتَرَطُ فِيْهِ النُّمُوُّ او په دې نصاب کي نماء(وده کول) شرط نه دي وَيَتَعَلَّقُ بِهٰذَا النِّصَابِ حِرْمَانُ الصَّدَقَةِ وَوُجُوْبُ الْأُضْحِيَّةِ وَالْفِطْرَةِ او د دې نصاب سره تعلق لري [۱] د صدقې حرامېدل [۲] د قربانۍ واجبېدل [۳] او صدقة فطر واجبېدل.

اللغات: ﴿حر﴾ آزاد. ﴿أثاث﴾ کورني سامان. ﴿سلاح﴾ اسلحه. ﴿عبيد﴾ جمع د عبد ده: غلامان. ﴿بر﴾ غنم. ﴿شعير﴾ اوربشي.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي زموږ په نيز صدقة فطر(سرسايه) واجب ده. پر هغه چا چي آزاد وي. مسلمان وي. او د داسي نصاب مالک وي چي هغه د ده له حاجات اصليه وو(اصلي ارتياوو) مثلاً د استوګني کور. د اغوستلو کالي. د سپرتيا آسونه(موټرونه). د اسلحې(وسلې) او د خدمتګارانو څخه فاضل او زيات وي. د ائمه ثلاثه وو په نيز صدقة فطر فرض ده. او د دې پر فرضيت د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په هغه حديث سره دليل نيسي چي هغه صاحب د بنايې او نورو په دې الفاظو سره بيان کړی دی: فَرَضَ رسول الله ﷺ صدقة الفطر صاعاً من شعير أو صاعاً من تمر على حر وعبد ذكرا أو أنثى الخ. (يعني نبي ﷺ پر مسلمان آزاد او غلام صدقة فطر فرض کړې ده. هغه که نر وي. که ښځه (بعيه ض:۳. ص. ۵۷۱)). ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ الله فرمايي چي په دې حديث کي په صراحت سره صدقة فطر د فرضو په صيغه سره ذکر سوې ده. دا د دې خبري دليل دی چي صدقة فطر فرض ده. خو زموږ له طرفه د هغه جواب دا دی چي له فَرَضَ څخه أَمَرَ او أَوْجَبَ مراد دي. او له دې الفاظو څخه وجوب(واجبېدل) ثابتيږي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الوصايا، باب تأويل قوله تعالى: مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا، حديث رقم: ۲۷۵۰، وفي كتاب الزكاة، حديث رقم: ۱۴۲۶.

أمّا وجوبها الخ د صدقة فطر پر واجبېدلو زموږ دليل د حضرت ثعلبه بن صُعير عذوي هغه حديث دی، کوم چې په کتاب کي ذکر سو، يعني: أدوا عن کل حر وعبد صغيراً أو کبيرا الخ. دا حديث خبر واحد دی، او تاسو ته معلومه ده چې خبر واحد دليلِ ظني وي، او په دليل ظني سره خو وجوب ثابتېدای سي، لېکن فرضيت نه سي ثابتېدلای، ځکه چې د فرضيت د ثبوت لپاره دليلِ قطعي ضروري دي، نو ځکه موږ صدقة فطر ته واجب وايو.

وشرط الحرية الخ فرمايي چې د صدقة فطر د واجبېدلو لپاره آزادي ځکه شرط ده چې د زکاة په څېر په صدقة فطر کي هم تمليک (يعني د بل چا مالک جوړول) رکن دی، او غلام خو د خپل ځان لا مالک نه وي، نو هغه به بل څوک څرنګه مالک جوړ کړي، نو ځکه شريعت پر غلام صدقة فطر واجب کړې نه ده، لېکن د غلام له طرفه يې د هغه پر مالک (مولیٰ) واجب کړې ده.

والإسلام الخ د صدقة فطر د وجوب لپاره اسلام ځکه شرط دی، چې دا يو عبادت دی، او کافر خو بالکل د عبادت اهل نه وي، او نه د هغه له طرفه عبادت متحقق کېدای سي.

واليسار الخ فرمايي چې د صدقة فطر د واجبېدلو لپاره مالداري (غناء) يعني د نصاب مالک کېدل هم شرط دي، او ښکاره دي وي چې د نصاب شرط صرف زموږ په نېز دی، لېکن د ائمه ثلاثه وو په نېز په صدقة فطر کي نصاب شرط نه دی، بلکي د دوی په نېز پر هغه سړي صدقة فطر واجب ده چې هغه د خپل ځان او د خپل عيال لپاره فقط تر يوې ورځې او شپې زياته روزي لري.

په صدقة فطر کي د نصاب پر شرطيت زموږ دليل دا حديث دی: لا صدقة إلا عن ظهر غني ، (يعني صدقه به صرف د مالدار سړي له طرفه ثابتېږي)، نو په دې باره کي دا حديث د ائمه ثلاثه وو په خلاف حجت دی.

وقدر اليسار الخ فرمايي چې مالداري په نصاب سره اندازه سوې ده، ځکه چې په شريعت کي هغه سړي ته مالدار ويل کېږي، چې د نصاب مالک وي، لېکن په دې باره کي دا هم ضروري ده، چې مذکوره نصاب به د مالک له حاجت اصليه څخه فارغ وي، ځکه په حاجت اصليه سره چې کوم نصاب مشغوله وي، هغه معدوم شمارل کېږي (يعني ګواکي هغه نصاب ګرد سره د مالک سره سته نه)، او کله چې نصاب نه وي، نو صدقه به څرنګه واجبېږي، نو ځکه موږ وايو چې له حاجتِ اصليه څخه د هغه فارغېدل هم ضروري دي.

ولا يشترط فيه النمو الخ فرمايي چې د زکاة په نصاب کي خو نماء شرط وه، لېکن د صدقة فطر په نصاب کي نماء شرط نه ده، ځکه چې د صدقة فطر د واجبېدلو لپاره قدرت مُمکّنه ضروري دی، يعني د نصاب پر ملکيت قدرت شرط دی، نو صرف د نصاب وجود د صدقة فطر د واجبېدلو لپاره کافي دی، د دې په خلاف د زکاة په نصاب کي قدرتِ مُيسّره شرط دی، او ميسره له يُسر څخه مشتق دی، او يُسر (مالداري) له نماء څخه متحق کېږي، نو ځکه به په زکاة کي نماء شرط وي، لېکن په صدقة فطر کي به شرط نه وي.

ويتعلق الخ د دې حاصل دا دی چې د صدقة فطر د نصاب سره درې شيان تعلق لري، يعني کوم سړی چې د غيرِ نامي نصاب مالک وي د هغه سره دا درې شيان تعلق لري: د هغه لپاره صدقه اخيستل حرام دي، او دويم د داسي نصاب پر مالک قرباني هم واجب ده، او دريم صدقة فطر هم پر واجب ده، ځکه چې دا درې سره شيان د قدرتِ ممکنه سره تعلق لري.

پاته سوه دا خبره چي د چالپاره سوال کول (فقر کول) حرام دي، نو د چا سره چي د يوې ورځي روزي وي، او بعضو ويلي دي چي پنځوس (۵۰) درهمه ورسره وي، د هغه لپاره سوال کول حرام دي.

له خپل طرفه د صدقهٔ فطر ورکولو حکم

قَالَ: يُخْرِجُ ذَلِكَ عَنْ نَفْسِهِ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چي (د نصاب مالک به) دا صدقهٔ فطر د خپل ځان له طرفه باسي لِحَدِيْثِ ابْنِ عُمَرَ● دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حديث په وجه قَالَ: فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ عَلَى الذَّكَرِ وَالْأُنْثٰى ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي: چي نبي ﷺ پر نرلو ښځه صدقهٔ فطر فرض کړې ده.

اللغات: ﴿ذکر﴾ نر، مذکر، ﴿أنثى﴾ ښځه، مؤنث.

تشريح: عبارت خو بالکل ښکاره دی، لېکن له عبارت څخه علاوه په دې خبره هم پوه سئ چي په دې حديث کي له صدقهٔ فطر څخه تعبير په زکوٰة الفطر سره سوی دی، لو د زکاة د وجوب لپاره نصاب شرط دی، نو ځکه به د صدقهٔ فطر د وجوب لپاره (هم) نصاب شرط وي.

د خپل نابالغ اولاد له طرفه د صدقهٔ فطر ورکولو حکم

وَيُخْرِجُ عَنْ أَوْلَادِهِ الصِّغَارِ او (د نصاب مالک يعني مالداره سړی به) د خپل نابالغه اولاد له طرفه (هم) صدقهٔ فطر باسي لِأَنَّ السَّبَبَ رَأْسٌ يَمُوْنُهُ ځکه چي (د صدقهٔ فطر د واجبېدلو) سبب داسي سر (يعني داسي انسان) دی چي هغه ته دا مالداره سړی نفقه (او توښه) ورکوي وَيَلِيْ عَلَيْهِ او د هغه متولي وي (يعني پر هغه مشري کوي) لِأَنَّهَا تُضَافُ إِلَيْهِ ځکه چي صدقهٔ فطر د سر (يعني د انسان) و طرف ته منسوبيږي يُقَالُ: زَكَاةُ الرَّأْسِ ويل کيږي: د سر زکاة وَهِيَ أَمَارَةُ السَّبَبِيَّةِ او دا (اضافت او نسبت) د سبب کېدلو نښه ده وَالْإِضَافَةُ إِلَى الْفِطْرِ بِاعْتِبَارِ أَنَّهُ وَقْتُهُ او د فطر و طرف ته اضافت په دې اعتبار سره دی چي فطر د صدقهٔ فطر وخت دی وَلِهٰذَا تَتَعَدَّدُ بِتَعَدُّدِ الرَّأْسِ همدا وجه ده چي د سر په متعدد کېدلو (يعني په ډېرېدلو) سره صدقهٔ فطر (هم) متعدده کيږي مَعَ اتِّحَادِ الْيَوْمِ سره د دې چي ورځ يوه ده وَالْأَصْلُ فِي الْوُجُوْبِ رَأْسُهُ وَهُوَ يَمُوْنُهُ او د صدقهٔ فطر په واجبېدلو کي اصل (سبب) د مالداره سړي (داسي) سر دي (چي) مالداره سړی هغه ته نفقه ورکوي وَيَلِيْ عَلَيْهِ او پر هغه مشري کوي فَيَلْتَحِقُ بِهِ مَا هُوَ فِيْ مَعْنَاهُ نو د هغه سره به هر داسي سر ملحق کيږي چي د هغه په معنیٰ کي وي كَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ لکه د مالداره سړي نابالغه اولاد لِأَنَّهُ يَمُوْنُهُمْ وَيَلِيْ عَلَيْهِمْ ځکه چي دی هغو ته (هم) نفقه ورکوي او پر هغو هم مشري کوي.

● التخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الزكاة، باب ما جاء في صدقة الفطر، حديث رقم: ۶۷۵، ۶۷۶.

اللغات: ﴿صغار﴾ جمع د صغير ده: کوچنيان، ﴿رأس﴾ يو انسان، ﴿يمونه﴾ د نصر مضارع ده: ديو چا نفقه او خرچه زغمل، يو چا ته نفقه او خرچه ورکول، ﴿أمارة﴾ نبه، ﴿يلي﴾ کله چې د يلي په صله کې على راسي، نو معنیٰ يې راځي: نګران کېدل، متولي کېدل، مشر کېدل، مشري کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کوم سړی د نصاب مالک وي هغه به د خپل ځان له طرفه هم صدقه فطر ادام کړي، او د خپل نابالغه اولاد او د خپلو غلامانو له طرفه به هم صدقهٔ فطر اداء کړي، دليل دا دی چې د صدقهٔ فطر د واجبېدلو سبب داسي رأس (سړی) او داسي ذات دی، چې پر هغه دا سړی مشري کوي (يعني متولي يې وي)، او د هغه د نفقې نمه واره وي، همدا وجه ده چې صدقهٔ فطر د رأس و طرف ته منسوبيږي، ويل کيږي چې زکوة الرأس، او اضافت د مضاف اليه د سبب کېدلو نبه ده، نو څرنګه چې په زکوة الرأس کې د رأس و طرف ته د صدقهٔ فطر نسبت سوی دی، نو ځکه به رأس او ذات د صدقهٔ فطر د وجوب سبب وي.

والإضافة إلى الفطر الخ دا عبارت د يو سوال جواب دی، سوال دا دی چې څرنګه صدقهٔ فطر د رأس و طرف ته منسوبيږي، تر دې زيات د فطر و طرف ته هم منسوبيږي، ويل کيږي: صدقهٔ فطر او صدقةُ الفطر، نو د واجبېدلو په سبب کې به د رأس په مقابله کې د فطر حق زيات وي، نو په دې وجه فطر (عيدُ الفطر) هم د صدقهٔ فطر د وجوب سبب ګرځول پکار دي، حال دا چې داسي نه ده. صاحب د هدايې په جواب کې فرمايي چې د فطر و طرف ته چې کوم اضافت دی هغه د فطر د سبب کېدلو په وجه سره نه دی، بلکي دا اضافت د فطر د وخت کېدلو په وجه سره دی، يعني د صدقهٔ فطر وخت عيدُ الفطر (د کوچني اختر ورځ) ده، لهذا رأس او ذات د صدقهٔ فطر سبب سو او فطر يعني عيدُ الفطر يې وخت سو، همدا وجه ده که ذات او رأسونه ډېر وي، نو متعدده صدقهٔ واجبيږي، که څه هم د فطر ورځ يوه ده، له دې ځخه هم معلومه سوه چې د صدقهٔ فطر د وجوب سبب رأس دی، او فطر يې صرف د اداء کولو وخت دی.

والأصل الخ فرمايي چې د صدقهٔ فطر په وجوب کې اصل خبره همدا ده چې هغه به د نصاب پر مالک او مالداره سړي واجب وي، او څرنګه چې مالداره پر خپل ذات او پر خپل رأس نفقه مصرفوي، همدارنګه خپل اولاد ته هم نفقه ورکوي، او اولاد ټوله د هغه په ولايت او نګراني (سرپرستي) کې اوسيږي، او ژوند تېروي، نو ځکه به دا ټوله هم د اصل او مالک يعني د مالداره سړي په معنیٰ کې وي، لهذا څرنګه چې پر مالک د خپل رأس صدقه ورکول واجب دي، همدارنګه به پر هغه د هر هغه رأس صدقه ورکول واجب وي کوم چې د هغه په سرپرستي کې اوسيږي.

د خپلو غلامانو له طرفه د صدقهٔ فطر ورکولو حکم

وَمَمَالِيكِهِ او د خپلو غلامانو له طرفه به (هم) صدقهٔ فطر باسي لِقِيَامِ الْمُؤْنَةِ وَالْوِلَايَةِ ځکه چې (په هغو کې هم) مؤنت او ولايت ثابت دی وَهَذَا إِذَا كَانُوا لِلْخِدْمَةِ او دا حکم هغه وخت دی چې کله غلامان د خدمت لپاره وي وَلَا مَالَ لِلصِّغَارِ او د نابالغه کوچنيانو سره مال نه وي فَإِنْ كَانَ لَهُمْ مَالٌ يُؤَدِّي مِنْ مَالِهِمْ عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كما قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: فإن كان لهم مال يؤدى عن مالهم عند أبي حنيفة وأبي يوسف رَحِمَهُمَاالله وهو الاستحسان، العنايه ج:۲، ص: ۲۲۱. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۸۸]

رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَىٰ لیکن که د هغو سره مال وي نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز به پلار د هغو له مال څخه صدقهٔ فطر اداء کوي خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله د امام محمد رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ الشَّرْعَ أَجْرَاهُ مَجْرَى الْمُؤْنَةِ ځکه چي شریعت صدقهٔ فطر د مؤنت قائم مقام کړې ده فَأَشْبَهَ النَّفَقَةَ نو هغه د نفقې سره مشابه سوه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي پر مالک د خپل خدمتګاره غلامانو مثلاً د مدبر او اُمّ ولد له طرفه هم صدقهٔ فطر ورکول واجب دي، ځکه چي د نابالغه اولاد په ډول پر دوی هم د هغه ولایت قائم دی، او دوی هم د هغه په نفقه او خرچه سره ژوند تېروي، او د هغه په سرپرستي کي اوسیږي، صاحب د هدایې فرمایي چي د غلامانو له طرفه هغه وخت پر مالک صدقهٔ فطر واجبیږي چي کله هغوی د خدمت لپاره وي، لیکن که غلامان د خدمت لپاره نه وي. بلکي د تجارت لپاره وي، نو بیا په هغو کي زکاة واجبیږي، صدقهٔ فطر نه واجبیږي.

ولا مال للصغار الخ د دې حاصل دادی چي د پلار لپاره د خپل نابالغه اولاد له طرفه د صدقهٔ فطر د ورکولو حکم هغه وخت دی چي کله د اولاد سره بالکل مال نه وي، لیکن که د هغو سره مال وو، نو د شیخینو په نیز به د هغو له مال څخه صدقهٔ فطر اداء کیږي، لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز د هغو له مال څخه صدقهٔ فطر اداء کول صحیح نه دي، بلکي په دې صورت کي به هم پر پلار د هغو صدقهٔ فطر واجب وي، او که پلار د نابالغه اولاد له مال څخه صدقهٔ فطر اداء کړه، نو هغه به د دې ضامن وي.

د امام محمد دلیل: دا دی چي صدقهٔ فطر یو عبادت دی، او نابالغه ولد (صغیر) د عبادت اهل نه دی، او کله چي پر صغیر بدني عبادت واجب او لازم نه دی، نو ښکاره ده چي مالي عبادت به څرنګه پر واجب وي.

د شیخینو دلیل: دا دی چي شریعت د صدقهٔ فطر د خرچې او مؤنت قائم مقام کړې ده (همدا وجه ده چي پر انسان د خپل اولاد او ممالیکو له طرفه صدقهٔ واجبیږي)، نو دا د نفقې سره مشابه سوه، او که د صغیر سره مال وو، نو د هغه نفقه به د هغه له مال څخه واجب وي، لهذا که د هغه سره مال وو، نو صدقهٔ فطر به هم د هغه په مال کي واجبیږي، او د هغه له مال څخه به ورکول کیږي.

د ښځي صدقهٔ فطر پر خاوند واجبه نه ده

وَلَا يُؤَدِّي عَنْ زَوْجَتِهِ او خاوند (میړه) به د خپلي ښځي له طرفه صدقهٔ فطر نه اداء کوي لِقُصُورِ الْوِلَايَةِ وَالْمُؤْنَةِ ځکه چي ولایت او مؤنت دواړه ناقص دي فَإِنَّهُ لَا يَلِيهَا فِي غَيْرِ حُقُوقِ النِّكَاحِ ځکه چي خاوند د نکاح له حقوقو څخه علاوه پر هغې نور ولایت نه لري (یعني صرف د نکاح په معاملاتو کي پر ښځي حق د ولایت لري، په نورو کي ښځه آزاده ده) وَلَا يُمَوِّنُهَا فِي غَيْرِ الرَّوَاتِبِ كَالْمُدَاوَاةِ او له ثابت سوو ځایونو څخه علاوه خاوند د ښځي خرچه هم نه زغمي لکه په درملنه کي.

اللغات: ﴿رواتب﴾ واجبات، ثابت سوي اُمور او ثابت سوي ځایونه.

تشریح: مسئله: دا ده چي پر مالداره خاوند د خپلي ښځي له طرفه صدقهٔ فطر ورکول واجب نه دي، ځکه په ښځه کي هم ولایت ناقص دی، او هم مؤنت ناقص دی، ولایت خو ځکه ناقص دی چي د نکاح له حقوقو څخه علاوه خاوند د ښځي د هیڅ شي هم متولي او ذمه واره نه دی (ځکه هغه په خپله آزاده، عاقله او بالغه ده)، او مؤنت ځکه ناقص دی چي له ثابت سوو شیانو مثلاً له سُکنیٰ، نفقه او کسوه څخه علاوه د یو بل شي لکه د علاج او درملني خرچه او داسي نور د

خاوند پر ذمه واجب نه دي، نو کله چي پر ښځي د خاوند ولايت او مؤنت دواړه ناقص دي، نو ښکاره ده چي پر هغه د ښځي صدقهٔ فطر هم واجب نه وي، ځکه چي د صدقهٔ فطر لپاره کامل مؤنت او کامل ولايت ضروري دی.

د بالغ اولاد صدقهٔ فطر پر پلار لازمه نه ده

وَلَا عَنْ أَوْلَادِهِ الْكِبَارِ او نه به د خپل بالغ اولاد له طرفه صدقهٔ فطر اداء کوي وَإِنْ كَانُوا فِي عِيَالِهِ که څه هم هغوی د ده په عيال (او کفالت) کي وي لِانْعِدَامِ الْوِلَايَةِ پر هغو د ولايت د نشتوالي په وجه وَلَوْ أَدَّى عَنْهُمْ أَوْ عَنْ زَوْجَتِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ او که هغه د خپل بالغ اولاد يا د خپلي ښځي له طرفه د هغو له حکم (او اجازې) څخه بغير صدقهٔ فطر اداء کړي أَجْزَأَهُ إِسْتِحْسَانًا نو استحساناً د هغو له طرفه اداء سوه لِثُبُوتِ الْإِذْنِ عَادَةً ځکه چي عادتاً اجازه ثابته ده.

اللغات: ﴿عيال﴾ بال بچ، عيال (هغه چي د انسان تر پالني او نفقې لاندي وي).

تشريح: **مسئله:** دا ده چي پر پلار د خپل نابالغه اولاد له طرفه صدقه ورکول واجب نه دي، که څه هم بالغه اولاد د هغه په عيال کي داخل وي، ځکه چي د پلار لپاره پر بالغ اولاد هيڅ ولايت نسته، لېکن که يې پلار د بالغ اولاد له طرفه اداء کړي يا يې خاوند د خپلي ښځي له طرفه اداء کړي، بغير د هغو له حکمه څخه، نو هم استحساناً صدقه اداء سوه، ځکه چي دلته اجازه عادةً اوپه عامه توګه ثابته ده، (يعني د اولاد او ښځي له طرفه په عامه توګه اجازه وي)، او قاعده دا ده چي: الثابت عادة کالثابت بالنص، (يعني کوم چي عادةً ثابت سوی وي، هغه داسي دی لکه په نص او صراحت سره چي ثابت سوی وي).

د مکاتب، مدبر او أمّ ولد صدقهٔ فطر پر مالک لازمه نه ده

وَلَا يُخْرِجُ عَنْ مُكَاتَبِهِ او مالک به نه باسي صدقهٔ فطر د خپل مکاتب غلام له طرفه لِعَدَمِ الْوِلَايَةِ ځکه ولايت نسته وَلَا الْمُكَاتَبُ عَنْ نَفْسِهِ او نه به يې مکاتب له خپل طرفه باسي لِفَقْرِهِ ځکه مکاتب فقير دی وَفِي الْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ وِلَايَةُ الْمَوْلَى ثَابِتَةٌ او په مدبر او اُم ولد کي د مالک ولايت (په بشپړه توګه) ثابت دی فَيُخْرِجُ عَنْهُمَا نو مالک به د هغو له طرفه صدقهٔ فطر باسي وَلَا يُخْرِجُ عَنْ مَمَالِيكِهِ لِلتِّجَارَةِ او د خپل تجارتي غلامانو له طرفه به يې نه باسي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّ عِنْدَهُ وُجُوبَهَا عَلَى الْعَبْدِ وَوُجُوبَ الزَّكَاةِ عَلَى الْمَوْلَى ځکه چي د هغه په نيز صدقهٔ فطر پر غلام واجبيږي او زکاة پر مولیٰ واجبيږي فَلَا تَنَافِيَ نو ځکه به صدقهٔ فطر د زکاة منافي نه وي وَعِنْدَنَا وُجُوبُهَا عَلَى الْمَوْلَى بِسَبَبِهِ كَالزَّكَاةِ او زموږ په نيز صدقهٔ فطر د خپل سبب په وجه سره پر مولیٰ واجبيږي لکه زکاة فَيُؤَدِّي إِلَى الثِّنَى نو دا به د تکرار سبب جوړ سي.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي مالک (مولیٰ) به د خپل مکاتب غلام له طرفه هم صدقهٔ فطر نه باسي، ځکه مکاتب دیَد او تصرف په اعتبار سره آزاد دی، او په هغه کي د مالک پوره ولايت نسته، حال دا چي د صدقهٔ فطر د وجوب سبب کامل ولايت دی. او پر مکاتب د خپل ځان له طرفه هم صدقهٔ فطر اداء کول واجب نه دي، ځکه مکاتب د بلد

كتابت واداء كولو ته محتاج دی، نو كوم مال چي د هغه سره وي، هغه به تول د مولیٰ په ملكيت كي وي، او كله چي هغه د مولیٰ ملكيت سو، نو مكاتب فقير پاته سو، او پر فقير صدقهٔ فطر واجب نه ده، نو ځكه به پر مكاتب له خپل طرفه صدقهٔ فطر اداء كول واجب نه وي، او پاته سوه مدبر او اُم ولد نو ځرنګه چي مولیٰ ته پر هغو رقبةً او يداً دواړه ډوله كامل ولايت حاصل دی، او د هغو مؤنت (خرڅ او نفقه) هم مولیٰ زغمي، نو ځكه به د هغوی له طرفه صدقهٔ فطر هم پر مولیٰ واجب وي.

ولا يخرج الخ فرمايي چي زموږ په نيز پر مولیٰ د خپل تجارتي غلامانو او مينځو له طرفه هم صدقهٔ فطر وركول واجب نه دي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د تجارتي غلامانو او مينځو له طرفه به صدقهٔ فطر وركوي، ځكه چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صدقهٔ فطر پر غلام واجبيږي، كه څه هم د هغه له طرفه يې مولیٰ اداء كوي، او زكاة يې پر مولیٰ واجبيږي، نو صدقه او زكاة دواړه حقونه دي، او په دوو بېلابېلو ځايونو كي ثابت دي، يعني صدقه پر غلام ثابته ده، او زكاة پر مولیٰ ثابت دی، لهذا په دواړو كي هيڅ منافات نسته، او كله چي منافات نسته، نو د دواړو جمع كول به جائز وي، خو ځرنګه چي زموږ په نيز د غلام صدقهٔ فطر پر مولیٰ واجبيږي، لكه زكاة چي هم پر مولیٰ واجبيږي، نو كه د تجارتي غلامانو صدقه پر مولیٰ واجب كړو، نو دا خطره به پېښه سي چي په دې غلامانو كي به په يوه كال كي دننه دوه واره مالي فريضه واجب كړی سي، يوه به د صدقهٔ فطر په توګه واجب وي، او بله به د زكاة په توګه، حال دا چي په يوه كال كي دوه وار مالي فريضه واجبول جائز نه دي، لكه ځرنګه چي د فاطمي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی: لا ثِنَى في الصدقة. ثنى د ثاء په كسره او د نون په الفِ مقصوره سره دی، (يعني په كال كي به دوه وراره صدقه نه اخيستل كيږي).

د مشترک غلام د صدقهٔ فطر حكم

وَالْعَبْدُ بَيْنَ شَرِيْكَيْنِ او كوم غلام چي د دوو شريكانو په مينځ كي (مشترک) وي لَا فِطْرَةَ عَلٰى وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو په هغو كي پر يوه هم صدقهٔ فطر واجب نه ده لِقُصُوْرِ الْوِلَايَةِ وَالْمُؤْنَةِ فِيْ حَقِّ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ځكه چي ولايت او مؤنت د هر يوه په حق كي ناقص (كم) دی وَكَذَا الْعَبِيْدُ بَيْنَ اثْنَيْنِ او همدارنګه په ډېرو غلامانو كي هم (صدقهٔ فطر واجب نه ده) چي د دوو خلكو په مينځ كي (مشترک) وي عِنْدَ• أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله (دا حكم) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا: عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَا يَخُصُّهُ مِنَ الرُّؤُوْسِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي پر هر يوه د هغو (حصو او) راسونو مطابق صدقهٔ فطر واجب ده چي هغه په دوی كي د هر يوه لپاره خاص وي دُوْنَ الْأَشْقَاصِ نه د ټوكړو (ټوټو) په حساب سره بِنَاءً عَلٰى أَنَّهُ لَا يَرَى قِسْمَةَ الرَّقِيْقِ دا اختلاف پر دې خبره مبني دی چي امام صاحب رَحِمَهُ الله د غلام تقسيم جائز نه ګڼي وَهُمَا يَرَيَانِهَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله يې جائز ګڼي وَقِيْلَ: هُوَ بِالْإِجْمَاعِ او ويل سوي دي چي دا

• القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله لأن الشرّاح نقل الإجماع على قوله، كما قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: وقيل هو بالاجماع أي عدم وجوب الفطرة في العبيد بين اثنين بإجماع علمائنا الثلاثة، العناية ج:۲، ص: ۲۲۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۹۰]

حکم بالاجماع دی لِأَنَّهُ لَا يَجْتَمِعُ النَّصِيبُ قَبْلَ الْقِسْمَةِ ځکه چي تر تقسيم مخکي حصې نه سي جمع کېدلای لَمْ تَتِمَّ الرَّقَبَةُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لهذا په دواړو شريکانو کي د يوه لپاره (هم) غلام پوره نه سو.

اللغات: ﴿اشقاص﴾ جمع د شقص ده، يوه حصه، يوه ټوکره، ﴿نصيب﴾ تاکل سوي برخه (حصه).

تشريح: مسئله: دا ده که يو غلام د دوو خلکو په مينځ کي مشترک وو، نو بالاتفاق پر يوه شريک هم د دې غلام صدقهٔ فطر واجب نه ده، ځکه چي د دواړو ولايت هم ناقص دی او مؤنت يې هم ناقص دی، او دا خبره تېره سوه چي د صدقهٔ فطر د واجبېدلو سبب کامل ولايت او کامل مؤنت دی، نو کله چي سبب پيدا نه سو، نو صدقه فطر به هم نه واجبيږي.

او که يو څو غلامان د دوو خلکو په مينځ کي مشترک ول، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د يوه غلام صدقهٔ هم پر يوه شريک واجب نه ده، او د صاحبينو په نېز به د هر شريک حصې سره يو ځلی کيږي او څومره رؤس چي پوره سي، د هغومره رؤسو صدقهٔ فطر به پر دوی واجب وي، او کوم رأس چي پوره نه سي، بلکي ټوکره پاته سي، نو د هغه صدقه به واجب نه وي، د مثال په توګه پنځه غلامان د دوو خلکو په مينځ کي مشترک دي، نو څرنګه چي د صاحبينو په نېز د هرشريک په حصه کي دوه پوره غلامان راځي، نو ځکه به پر هر شريک د دوو غلامانو له طرفه صدقهٔ فطر واجب وي، او څرنګه چي په يوه غلام کي تشقيص راځي، يعني دوې حصې (ټوکرې) کيږي، نو ځکه به د هغه له طرفه صدقه واجب نه وي.

بناء على الخ د اختلاف اصل بنياد دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د غلام تقسيمول جائز نه دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز دي (يعني صاحبين فرمايي چي که څه هم په حقيقي توګه غلامان تقسيمېدلای نه سي، يعني ټوکره ټوکره کېدلای نه سي، لېکن بيا هم په ذهني توګه چي کومي حصې د هر مالک په برخه کي راځي نو له هغو حصو څخه چي څومره غلامان جوړېږي د هغه مطابق به هر يو زکاة ورکوي، يعني د صاحبينو په نېز ذهني تقسيم جائز دی، او د امام صاحب په نېز جائز نه دی)، نو کله چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز تقسيم جائز نه دی، نو ځکه به له شريکينو څخه هر يو په هر غلام کي حصه لرونکي وي، او کله چي په هر غلام کي د هر يوه حصه سته، نو له دواړو څخه به يو هم د کامل غلام او د کامل رأس مالک نه وي، او کله چي يو هم د کامل غلام مالک نه سو، نو له شريکينو څخه به د يوه ولايت او مؤنت هم کامل نه وي، او کله چي پر يوه غلام هم ولايت او مؤنت کامل نه سو، نو پر يوه به هم صدقهٔ فطر واجب نه وي، او څرنګه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د غلام تقسيم جائز دی، نو ځکه به د هغوی په نېز هر يو شريک د کامل غلام مالک جوړېدای سي، لهذا د هر شريک حصې به سره يو ځای کيږي او څومره رأسونه چي پوره سي، پر هغو به صدقهٔ فطر واجب وي، او کوم چي يوه ټوکره (او يوه حصه) پاته سي، د هغه صدقهٔ فطر به واجب نه وي، لکه مخکي چي مثال تېر سو.

وقيل الخ په دې لړ کي د بعضو حضراتو رايه دا ده چي په دې صورت کي د صدقهٔ فطر د نه واجبېدلو قول متفق عليه دی، او په امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله کي د يوه په نېز هم د هيڅ يو غلام له طرفه صدقهٔ فطر ورکول واجب نه دي، ځکه چي تر حقيقي تقسيم مخکي د يوه شريک حصې هم نه سي يو ځای کېدلای، نو کله چي نه سي جمع کېدلای، نو د يوه شريک په ملکيت کي به هم پوره رقبه نه راځي، او کله چي د يوه په ملکيت کي هم پوره رقبه نه راځي، نو صدقهٔ فطر به هم واجب نه وي.

د کافر غلام له طرفه د صدقهٔ فطر ورکولو حکم

وَيُؤَدِّي الْمُسْلِمُ الْفِطْرَةَ عَنْ عَبْدِهِ الْكَافِرِ او مسلمان مالک به د خپل کافر غلام له طرفه صدقهٔ فطر اداء کوي لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا ځکه زمونږ روایت سوی حدیث مطلق دی وَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● فِي حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او په دې وجه (هم) چي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حدیث کي نبي ﷺ فرمایلي دي أَدُّوا عَنْ كُلِّ حُرٍّ وَعَبْدٍ "د هر آزاد او غلام له طرفه صدقهٔ فطر اداء کړئ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ أَوْ مَجُوسِيٍّ الْحَدِيثُ هغه غلام که یهودي وي که نصراني وي که مجوسي وي" وَلِأَنَّ السَّبَبَ قَدْ تَحَقَّقَ او په دې وجه (هم) چي سبب (خو) ثابت سو وَالْمَوْلَى مِنْ أَهْلِهِ او مولیٰ د صدقې اهل (هم) دی وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ الْوُجُوبَ عِنْدَهُ عَلَى الْعَبْدِ ځکه چي د هغه په نېز (د صدقهٔ فطر) وجوب پر غلام دی وَهُوَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهِ او کافر غلام د دې اهل نه دی وَلَوْ كَانَ عَلَى الْعَكْسِ فَلَا وُجُوبَ بِالْإِتِّفَاقِ او که مسئله د دې برعکس وه نو بالاتفاق وجوب نسته.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مسلمان د نصاب مالک وي، او د هغه یو کافر غلام وي، نو زمونږ په نېز پر هغه د کافر غلام صدقهٔ فطر هم واجب ده، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر مسلمان مالک د خپل کافر غلام صدقهٔ فطر واجب نه ده، همدا قول د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله دی.

زمونږ دلیل: دا دی چي د ثعلبه بن صعیر حدیث مطلق دی کوم چي د باب په اول کي ذکر سو یعني: ادوا عن کل حر وعبد، مسلمان او کافر غلام دواړو ته شامل دی، دویم دلیل د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حدیث دی چي هغه علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله د دار قطني په حواله سره داسي ذکر کړی دی: قال رسول الله ﷺ ادوا صدقة الفطر عن كل صغير وكبير ذكر وانثى يهودى او نصرانى حر او مملوك نصف صاع من بر او صاعاً من تمر او شعير، دریم دلیل دا دی چي د صدقهٔ فطر د واجبېدلو سبب پیدا سو، ځکه چي مسلمان مالک لره پر کافر غلام کامل ولایت حاصل دی، او د مالک د هغه مؤنت (خرچه) هم په بشپړه توګه زغمي، او مولیٰ د صدقې د وجوب اهل هم دی، که څه هم غلام یې د کفر په وجه اهل نه دی، نو کله چي د وجوب سبب هم پیدا سو، او په مولیٰ کي اهلیت هم سته، نو ځکه به پر مولیٰ د کافر غلام له طرفه صدقه واجب وي.

د امام شافعي دلیل: څرنګه چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز صدقهٔ فطر پر غلام واجبېږي، که څه هم مولیٰ یې اداء کوي، او کافر غلام د دې لائق نه دی چي پر هغه دي د صدقهٔ فطر په ډول عبادت واجب کړی سي. نو ځکه به د کافر غلام صدقهٔ فطر پر مالک واجب نه وي.

ولو كان على العكس الخ او که مسئله برعکس وه، یعني غلام مسلمان وو، او مولیٰ کافر وو، نو بالاتفاق صدقهٔ فطر نه واجبېږي، زمونږ په نېز خو ځکه چي مولیٰ د کفر په وجه سره نه د صدقهٔ فطر د وجوب اهل دی، او نه د صدقهٔ فطر د اداء

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الزكاة الفطر، حديث رقم: ۲۰۸۶ — ۲۰۸۷، و ابو داؤد في كتاب الزكاة، حديث رقم: ۱۶۱۹ — ۱۶۲۰.

کولو او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز که څه هم وجوب پر غلام کيږي، ليکن اداء کول يې مولی. او مولی د کفر په وجه د صلاحيت د اداء کولو أهل نه دی، نو ځکه به په دې صورت کې د ټولو بالاتفاق صدقه واجب نه وي.

د بيع بالخيار په ذريعه د خرڅ سوي غلام د صدقة فطر حکم

وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا او څوک چې غلام خرڅ کړي وَأَحَدُهُمَا بِالْخِيَارِ او په رانيونکي يا خرڅونکي کې يوه ته اختيار وي فَفِطْرَتُهُ عَلٰى مَنْ يَصِيرُ لَهُ نو د دې غلام صدقة فطر به پر هغه يوه واجب وي چې غلام د هغه سي مَعْنَاهُ إِذَا مَرَّ يَوْمُ الْفِطْرِ مطلب يې دا دی چې د عيد الفطر (کوچني اختر) ورځ تېره سي وَالْخِيَارُ بَاقٍ او اختيار پاته وي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ الله: عَلٰى مَنْ لَهُ الْخِيَارُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې صدقة فطر پر هغه چا واجب ده چې هغه ته اختيار وي لِأَنَّ الْوِلَايَةَ لَهُ ځکه چې ولايت هغه ته حاصل دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: عَلٰى مَنْ لَهُ الْمِلْكُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه چا واجب ده چې هغه ته ملکيت حاصل وي لِأَنَّهُ مِنْ وَظَائِفِهِ كَالنَّفَقَةِ ځکه چې صدقة فطر د غلام له وظيفو څخه ده وَلَنَا أَنَّ الْمِلْكَ مَوْقُوفٌ او زموږ دليل دا دی چې ملکيت موقوف دی لِأَنَّهُ لَوْ رُدَّ يَعُودُ إِلٰى مِلْكِ الْبَائِعِ ځکه که بيع رد کړی سي نو هغه غلام به د بائع (خرڅونکي) د ملکيت و طرف ته وګرځي وَلَوْ أُجِيزَ يَثْبُتُ الْمِلْكُ لِلْمُشْتَرِي مِنْ وَقْتِ الْعَقْدِ او که بيع جائز کړی سي نو د عقد له وخت څخه به د رانيونکي ملکيت ثابت سي فَيَتَوَقَّفُ مَا يَبْتَنِي عَلَيْهِ نو کوم شی چې پر ملکيت مبني وي هغه به هم موقوف (يعني صدقة فطر) بِخِلَافِ النَّفَقَةِ لِأَنَّهَا لِلْحَاجَةِ النَّاجِزَةِ په خلاف د نفقې ځکه چې نفقه د سملستي حاجت لپاره ده فَلَا تَقْبَلُ التَّوَقُّفَ نو ځکه به هغه توقف نه قبلوي وَزَكَاةُ التِّجَارَةِ عَلٰى هٰذَا الْخِلَافِ او د تجارتي غلام زکاة هم پر دغه اختلاف دی.

اللغات: ﴿ناجزة﴾ ژر، د هغه وخت، سملستي، تلوار.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که تر اختر يوه ورځ مخکې يو چا خپل غلام خرڅ کړی، او بائع (خرڅونکي) يا مشتري (رانيونکي) د خپل ځان لپاره د دريو ورځو خيار شرط واخيستی، نو زموږ په نيز چې تر دريو ورځو وروسته غلام د چا سي صدقة فطر پر هغه واجبيږي، يعني که بيع پوره سي، نو صدقة فطر به پر مشتري واجبيږي، او که بيع ماته سي، نو صدقة فطر به پر بائع واجبيږي، صاحب د هدايې فرمايي چې د دې مطلب دا دی چې د اختر ورځ تېره سي، ليکن خيار تر اوسه لا پاته وي، نو په دې صورت کې چې غلام د چا سي، صدقة فطر به پر هغه واجب وي، بنکاره دې وي چې دا غلام به د خدمت لپاره وي، او مشتري به هم د خدمت لپاره رانيولی وي، په تجارتي غلام کې پر هيچا هم صدقة فطر واجب نه ده.

وقال زفر الخ د امام زفر رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې د چا لپاره خيار وي، صدقة فطر پر هغه واجب ده، ځکه چې د صدقة فطر سبب کامل ولايت دی، او کامل ولايت خيار والا ته حاصل دی، ځکه که هغه بيع خوښه کړه، نو بيع به پوره کيږي، او که خوښه يې نه کړه، نو فسخ کيږي به، نو کله چې کامل ولايت خيار والا ته حاصل دی، نو صدقه به هم پر هغه واجب وي.

وقال الشافعي الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې ملکيت چې اوس د چا وي (چې هغه نو مشتري دی)، پر هغه صدقة فطر واجب ده، او زموږ په نيز به ملکيت موقوف وي، د خيار تر ختمېدلو وروسته چې د چا ملکيت راسي پر هغه به صدقة فطر واجب وي. د امام شافعي قاعده دا ده چې په بيع کې که هر څوک هم خيارِ شرط واخلي، نو ملکيت به مشتري لره ثابتيږي، او ملکيت چې د چا وي صدقه پر هغه واجب ده، ځکه چې صدقه د غلام له وظيفو او خرڅو څخه ده، لکه څرنګه چې نفقه د غلام له خرڅو څخه ده، او نفقه هم پر هغه چا واجبيږي، چې هغه لره ملکيت وي، لهذا صدقة فطر به هم پر هغه واجبيږي.

ولنا ان الملك الخ زموږ او د امام شافعي په مينځ کې پر دې خبره اتفاق دی چې د اختر په ورځ چې د چا ملکيت وي، پر هغه به صدقه فطر واجب وي، ليکن د امام شافعي په نيز به د خيارِ شرط باوجود د اختر په ورځ مشتري لره ملکيت ثابت وي، نو ځکه به پر مشتري صدقه فطر واجب وي، او زموږ په نيز به د خيارِ شرط په وجه ملک تر اوسه موقوف وي، لهذا تر خيار ختمېدلو پورې به صدقة فطر هم موقوفه وي، نو که بيع ردّ کړی سوه، او غلام بيرته د بائع سو، نو پر بائع به صدقه لازمه وي، ځکه چې له شروع څخه غلام د هغه په ملک کې وو، او د بيع د ماتېدلو په وجه د هغه ملک باقي پاته سو، او د اختر په ورځ کې هم د هغه ملک ثابت سو، نو ځکه به پر هغه صدقه لازمه وي، او که بيع جائز کړی سوه، نو د عقد له وخت څخه د مشتري ملکيت ثابت سو (چې په هغه کې د اختر ورځ هم راغله)، نو ځکه به پر مشتري صدقه واجب وي.

بخلاف النفقة الخ د امام شافعي د قياس جواب ورکوي، هغه فرمايلي وو چې د چا ملکيت وي، پر هغه چې څرنګه نفقه واجب ده، همداسې به صدقة فطر هم پر واجب وي، د هغه جواب ورکوي چې نفقه د سملستي (او د چټک) ضرورت لپاره ده، که په نفقه کې يوه ورځ تأخير وسي، نو غلام او نور به مړه سي، نو ځکه به په دې کې تأخير نه کيږي، او صدقة فطر وروسته هم اداء کېدای سي، نو هغه به اوس موقوفه پاتيږي، تر خيار وروسته چې چا لره ملکيت ثابت سي، پر هغه به صدقة فطر واجب وي، لهذا پر نفقه به د صدقة فطر قياسول صحيح نه وي.

وزكوٰة التجارة الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د تجارتي غلامانو په زکاة کې همدغه اختلاف دی، مثلاً د يو چا سره تجارتي غلامان دي، هغه په خيارِ شرط دا غلامان خرڅ کړل، او د خيار په موده کې کال پوره سو، نو زموږ په نيز زکاة پر هغه چا واجبيږي کوم څوک چې تر خيار پوره کېدلو وروسته د دې غلامانو مالک سي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه چا واجبيږي د چا لپاره چې خيار دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه چا واجبيږي چې د هغه لپاره اوس ملکيت وي، يعني پر مشتري واجبيږي. والله أعلم بالصواب



فَصْلٌ فِيْ مِقْدَارِ الْوَاجِبِ وَوَقْتِهِ

(دا) فصل (د صدقة فطر) د واجب مقدار او د هغه د وجوب د وخت په بيان کې دی

تشريح: صاحب د کتاب چې کله د صدقة فطر د وجوب او د هغه د شرائطو له بيان څخه فارغ سو، نو اوس له دې ځايه د صدقة فطر د مقدار او د هغه د وخت په باره کې بيان کوي، چې هغه به په ترتيب سره ستاسو په مخکې ذکر سي، انشاء الله تعالى.

د صدقة فطر د واجب مقدار بيان

الْفِطْرَةُ نِصْفُ صَاعٍ صدقة فطر (سرسايه) نيم صاع ده مِنْ بُرٍّ أَوْ دَقِيْقٍ له غنمو څخه يا له اوړو څخه أَوْ سَوِيْقٍ أَوْ زَبِيْبٍ يا له نينو څخه يا له کشمشو څخه أَوْ صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ يا (صدقة فطر) يو صاع ده له خرماوو (کجورو) څخه يا له اوربشو څخه وَقَالَا ●: الزَّبِيْبُ بِمَنْزِلَةِ الشَّعِيْرِ او صاحبين فرمايي: چې کشمش د اوربشو په درجه کې دي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى او همدا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی وَالْأَوَّلُ رِوَايَةُ الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ او اول روايت د جامع صغير دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: مِنْ جَمِيْعِ ذٰلِكَ صَاعٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې له دې ټولو څخه يو صاع دی لِحَدِيْثِ ● أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابو سعيد خدري ﷺ د حديث په وجه قَالَ: كُنَّا نُخْرِجُ ذٰلِكَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه فرمايي: چې موږ به د نبي ﷺ په زمانه کې همدومره (يعني يو صاع) ايستی وَلَنَا مَا رَوَيْنَا وَهُوَ مَذْهَبُ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ او زموږ دليل هغه حديث دی چې موږ روايت کړی او همدغه د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ديو جماعت مذهب دی وَفِيْهِمُ الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ (چې) په هغو کې خلفاء راشدين هم (شامل) دي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلَى الزِّيَادَةِ تَطَوُّعًا او کوم حديث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه د نفلو په توګه پر زياتوب حمل سوی دی وَلَهُمَا فِي الزَّبِيْبِ أَنَّهُ وَالتَّمْرَ يَتَقَارَبَانِ فِي الْمَقْصُوْدِ او په کشمشو کې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې کشمش او خرما (کجوري) دواړه په مقصود کې سره نژدې دي وَلَهُ أَنَّهُ وَالْبُرَّ يَتَقَارَبَانِ فِي الْمَعْنٰى او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې کشمش او غنم په معنیٰ کې سره نژدې دي لِأَنَّهُ يُؤْكَلُ كُلُّ

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وهو رواية عن أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، رواها الحسن عنه وصححها أبو اليسر لما ثبت الحديث، فتح القدير ج:٢، ص: ٢٢٥. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٩٠]

● أخرجه البخاري في كتاب الزكاة، باب صدقة الفطر صاع من طعام، حديث رقم: ١٥٠٦ – ١٥٠٨، و مسلم في كتاب الزكاة، حديث رقم: ١٧ – ١٨ – ٢١.

وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِجَمِيعِ أَجْزَائِهِ ځکه چي له دواړو څخه هريو د خپلو ټولو اجزاؤ سره خوړل کيږي وَيُلْقٰى مِنَ التَّمْرِ النَّوَاةُ وَمِنَ الشَّعِيْرِ النُّخَالَةُ او له خرما څخه تاکی (مندکه) او له اوربشو څخه بُوس غورځول کيږي وَبِهٰذَا ظَهَرَ التَّفَاوُتُ بَيْنَ الْبُرِّ وَالتَّمْرِ هم په دې سره د غنمو او خرماوو په مينځ کي فرق ښکاره سو وَمُرَادُهُ مِنَ الدَّقِيْقِ وَالسَّوِيْقِ مَا يُتَّخَذُ مِنَ الْبُرِّ او له اوړو او نينو څخه د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد هغه اوړه او نينې دي کوم چي له غنمو څخه جوړيږي أَمَّا دَقِيْقُ الشَّعِيْرِ فَكَالشَّعِيْرِ هر چي د اوربشو اوړه دي نو هغه د اوربشو په ډول دي وَالْأَوْلٰى أَنْ يُرَاعٰى فِيْهِمَا الْقَدْرُ وَالْقِيْمَةُ اِحْتِيَاطًا او غوره ده دا ده چي په اوړو او نينو کي د وزن او قيمت دواړو خيال وساتل سي د احتياط په وجه (يعني په احتياط باندي د عمل کولو لپاره) وَإِنْ نَصَّ عَلَى الدَّقِيْقِ فِيْ بَعْضِ الْأَخْبَارِ که څه هم په بعضي حديثونو کي نص د اوړو په باره کي راغلی دی وَلَمْ يُبَيِّنْ ذٰلِكَ فِي الْكِتَابِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په کتاب (يعني په جامع صغير) کي د احتياط خبره ذکر کړې نه ده (يعني دا يې ذکر کړي نه دي چي په اوړو او نينو کي دي د وزن او قيمت دواړو خيال وساتل سي احتياطاً) اِعْتِبَارًا لِلْغَالِبِ د غالب په اعتبار کولو سره وَالْخُبْزُ تُعْتَبَرُ فِيْهِ الْقِيْمَةُ هُوَ الصَّحِيْحُ او په ډوډۍ کي به د قيمت اعتبار کيږي، همدا صحيح ده ثُمَّ يُعْتَبَرُ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ وَزْنًا فِيْمَا يُرْوٰى عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ● بيا به د غنمو نيم صاع د امام صاحب رَحِمَهُ الله د روايت مطابق د وزن په اعتبار سره معتبر وي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله أَنَّهُ يُعْتَبَرُ كَيْلًا او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د پيمانې په اعتبار سره به معتبر وي وَالدَّقِيْقُ أَوْلٰى مِنَ الْبُرِّ او د غنمو اوړه له غنمو څخه غوره دي وَالدَّرَاهِمُ أَوْلٰى مِنَ الدَّقِيْقِ او له اوړو څخه درهم غوره دي فِيْمَا يُرْوٰى عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ● په هغه روايت کي کوم چي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی وَهُوَ اخْتِيَارُ الْفَقِيْهِ أَبِيْ جَعْفَرٍ او همدغه د فقيه ابو جعفر مختاره قول دی لِأَنَّهُ أَدْفَعُ لِلْحَاجَةِ وَأَعْجَلُ بِهِ ځکه چي درهم د حاجت لپاره زيات او ژر ليري کونکي دي وَعَنْ أَبِيْ بَكْرٍ الْأَعْمَشِ تَفْضِيْلُ الْحِنْطَةِ او له ابو بکر بن اعمش څخه د غنمو فضيلت روايت سوی دی لِأَنَّهُ أَبْعَدُ مِنَ الْخِلَافِ ځکه غنم له اختلاف څخه ليري دي إِذْ فِي الدَّقِيْقِ وَالْقِيْمَةِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ ځکه چي په اوړو او قيمت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی.

اللغاته: ﴿دقيق﴾ اوړه، ﴿سويق﴾ نينې (پر اُور کباب سوي غنم)، ﴿زبيب﴾ کشمش، وشکي (وچ کړی سوي انګور)، ﴿تمر﴾ خرما، کجوري، ﴿شعير﴾ اوربشي، ﴿نواة﴾ تاکی، د خرما مندکه، ﴿نخالة﴾ بُوس، (د غلې پوستکي، چوکر).

● القول الراجح: هو هذا قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وجهه أن العلماء لما اختلفوا في أن الصاع ثمانية أرطال أو خمسة وثلث كان إجماعاً منهم أنه يعتبر بالوزن إذ لا معنى لاختلافهم فيه، فتح القدير ج:٢، ص: ٢٢٩. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٩٢]

● القول الراجح: قول المروى عن أبي يوسف رَحِمَهُ الله والذى اختاره الفقيه ابو جعفر أى الدراهم أولى من الدقيق، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: ودفع القيمة أى الدراهم أفضل من دفع العين على المذهب المفتى به، الدر المختار ج:٢، ص: ٣٢٠. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٩٢]

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړی د غنمو یا اوړو یا د ټینو یا د کشمشو په ذریعه صدقة فطر ورکول وغواړي، نو هغه به د هر نفر او هر فرد له طرفه نیم صاع ورکوي، او که د کجورو او خرماوو په ذریعه صدقة فطر ورکول وغواړي، نو بیا به یو صاع ورکوي، لیکن د صاحبینو په نیز په کشمشو کې هم د کجورو په شان یو صاع واجب دی، او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه حسن بن زیاد او نورو همدغه روایت کړی دی، او اول روایت د جامع صغیر دی، لنډه دا چې زمونږ په نیز په غنمو، اوړو او نورو کې دیوه صاع او نیم صاع په حواله سره فرق شته، لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله او نورو دوو امامانو (امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله) دا شیان ټوله یو شان ګرځولي دي او دا حکم یې کړی دی چې په صدقة فطر کې یو صاع ورکول واجب دي، هغه که د غنمو یا ټینو وي، یا د اوړو یا کشمشو وي، یا د دلسي نورو شیانو وي.

د امام شافعي دلیل: د دې حضراتو دلیل د ابو سعید خدري ﷺ هغه حدیث دی چې هغه په ترمذي او نورو کې په دې الفاظو سره بیان سوی دی: كنا نخرج زكوٰة الفطر إذا كان فينا رسول الله ﷺ صاعاً من طعام أو صاعاً من شعير أو صاعاً من تمر...الخ. (یعني موږ به د نبي ﷺ په زمانه کې له طعام، اوړشو او کجورو او نورو څخه یو صاع صدقة فطر ایستله). په دې حدیث سره هغوی په دې توګه دلیل نیسي چې دلته له طعام څخه غنم مراد دي، نو په حدیث کې له غنمو څخه هم یو صاع صدقة فطر ایستل ثابت سو، لهذا معلومه سوه چې په صدقة فطر کې د غنمو او اوړشو دواړو مقدار برابر دی، او په دواړو کې دیوه صاع یا نیم صاع په حواله سره هیڅ فرق نشته.

زمونږ دلیل: صاحب د هدایې فرمایي چې زمونږ دلیل هغه حدیث دی کوم چې موږ بیان کړی، یعني: أدوا عن كل حر وعبد صغير أو كبير نصف صاع من بر أو صاعاً من تمر...الخ. په دې حدیث سره موږ دلیل په دې توګه نیسو چې په دې کې په صراحت سره دا حکم سوی دی چې له غنمو څخه به نیم صاع ایستل کیږي، همدارنګه امام طحاوي په شرح معاني الآثار کې د حضرت اسماء بنت ابي بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا حدیث رانقل کړی دی: كنا نؤدي زكوٰة الفطر على عهد رسول الله ﷺ المدين من قمح. (یعني موږ به د نبي ﷺ په زمانه کې دوه مُده غنمه په صدقة فطر کې ورکوله). او دوه مُده د نیم صاع سره برابر دي، ځکه چې ټوله صاع څلور مُده کیږي، له دې حدیث څخه هم په غنمو کې نیم صاع ثابت سو، او بیا زمونږ مسلک او مذهب د صحابه وو دیو غټ جماعت د مسلک سره هم برابر دی، حتیٰ چې خلفاءِ راشدین هم د دې مذهب او نظریې قائل وو.

جواب: صاحب د هدایې د امام شافعي او نورو دوو امامانو د حدیث جواب ورکوي فرمایي چې د ابو سعید خدري ﷺ په حدیث کې چې دیو صاع غنمو ذکر سوی دی، له هغه څخه د تطوع او نفلو په توګه دیوه صاع ورکول مراد دي، یعني ابو سعید خدري ﷺ او نورو به نیم صاع خو د وجوب په توګه ورکوی، او نیم صاع به یې د نفلو په توګه احتیاطاً له ځانه ورکوی، د دې بل جواب دا هم سوی دی چې په دې حدیث کې له صاعاً من طعام څخه غنم مراد نه دي، بلکې له دې څخه جواري او ږدن (ایږدن) مراد دي، نو ځکه به په دې سره په غنمو کې پر یوه صاع دلیل نیول صحیح نه وي، او په دویم حدیث کې د نصف صاع من بر الفاظ په صراحت سره ذکر سوي دي، چې هغه د دې خبرې ښکاره دلیل دی چې په غنمو کې به نیم صاع واجب وي.

ولهما أن الزبيب الخ صاحبین رَحِمَهُمَا الله په کشمشو کې هم د کجورو په شان یو صاع واجبوي، او دلیل دا ذکر کوي چې کشمش او کجورې دواړه په مقصود یعني په خوړلو او خوږوالي کې سره نژدې دي، نو کوم حکم چې د کجورو وي، هغه

حکم به د کشمشو هم وي، او څرنګه چي په کجورو کي يو صاع واجب دی، نو په کشمشو کي به هم يو صاع واجب وي، لېکن په دې لړ کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په شرعي مسائلو کي د تنګه او خوشحالي اعتبار نه کيږي، بلکي د شيانو د حقيقت او معنیٰ اعتبار کيږي، او د معنیٰ په اعتبار کشمش او غنم دواړه سره نژدې دي، ځکه څرنګه چي غنم د خپلو ټولو اجزاؤ سره خوړل کيږي، همدارنګه کشمش هم د خپلو ټولو اجزاؤ سره خوړل کيږي، او په دواړو کي هيڅ شی هم نه غورځول کيږي (نه منډکي او نه پوستکي)، نو کله چي په معنیٰ کي غنم او کشمش يو بل ته نژدې دي، نو په حکم کي به هم يو بل ته نژدې وي، او په غنمو کي نيم صاع واجب دی، نو په کشمشو کي به هم نيم صاع واجب وي.

د دې په مقابله کي د خرما او اوربشو د کشمشو سره هيڅ تعلق نسته، ځکه کشمش خو په بشپړه توګه خوړل کيږي، لېکن له خرما څخه تاکی غورځول کيږي، همدارنګه د اوربشو بوس هم غورځول کيږي، نو کله چي په کشمش او کجورو کي دومره فرق دی، نو آخر به څرنګه دا دهغو سره لاحقيږي.

والمراد الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په متن کي له اوړو او نينو څخه هغه اوړه او نينې مراد دي، چي له غنمو څخه جوړ سوي وي، نو په هغو کي به نيم صاع واجب وي، او د اوربشو او نورو په اوړو کي به پوره صاع واجب وي، ځکه چي په اوربشو کي يو صاع واجب دی، لېکن غوره دا ده چي په نينو او اوړو کي احتياطاً د مقدار او قيمت دواړو رعايت وسي، او په دې کي احتياط هم دی، (يعني غوره دا ده چي اوړه يا نينې دې داسي ورکوي چي مقدار يې هم نيم صاع سي او قيمت يې هم د نيم صاع غنمو سره برابر سي، ځکه په عامه توګه د نيم صاع اوړو قيمت له نيم صاع غنمو څخه زيات وي، نو د احتياط تقاضا دا ده چي دواړه برابر سي)، مثلاً که يوه سړي په صدقهٔ فطر کي نيم صاع د غنمو اوړه ورکړه، او د نيم صاع اوړو قيمت هم د نيم صاع غنمو د قيمت سره برابر وو، نو دې سړي پر احتياط عمل وکړی، ځکه چي د نيم صاع مقدار هم راغلی، او د نيم صاع غنمو قيمت هم راغلی، يعني پر دواړو عمل وسو، همدغه غوره ده، که څه هم په بعضي حديثونو کي صرف د اوړو صراحت سوي دی (يعني صرف د اوړو د مقدار يعني د نيم صاع ذکر سوی دی، د قيمت د رعايت صراحت نه دی سوی)، لکه څرنګه چي صاحب د عنايې د ابو هرير په حواله سره دا حديث ذکر کړی دی: أن النبي ﷺ قال أدوا قبل خروجکم زکاة فطرکم فإن على کل مسلم مدين من قمح أو دقيقه، وګورئ په دې کي په ښکاره توګه د دقيق صراحت سوی دی، لېکن صاحب د هدايې پر احتياط د عمل کولو لپاره د مقدار او قيمت دواړو رعايت کول غوره ګڼلی دی، امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي د غالب او اکثر حالاتو اعتبار کړی، ځکه چي په عامه توګه د نيم صاع غنمو قيمت د نيم صاع اوړو سره برابر وي، نو ځکه د احتياط خبره په متن کي ذکر سوې نه ده (ځکه چي د دې مسئلې متن هم له جامع صغير څخه را اخيستل سوی دی، لنډه دا چي صاحب د هدايې پر احتياط د عمل کولو اعتبار کړی دی، او امام محمد رَحِمَهُ الله د جامع صغير په متن کي د غالب حال اعتبار کړی دی).

والخبز الخ فرمايي چي د صحيح قول مطابق په ډوډۍ کي قيمت معتبر دی، يعني په دومره اندازه ډوډيانو ورکولو سره صدقهٔ فطر اداء کيږي، چي هغه د نيم صاع غنمو د قيمت سره برابري سي.

ثم يعتبر الخ د دې حاصل دا دی چي د نيم صاع يا يوه صاع اندازه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په وزن سره کيږي، او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي دا اندازه به په کيل او پيمانې سره کيږي، ځکه چي په حديثونو کي د صاع لفظ

راخلي دي، او د صاع تعلق د کيل او پيمانې سره دی، نو ځکه به د اجناسو په سلسله کې د پيمانې اعتبار کيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې په اجناسو کې به د وزن اعتبار کيږي، ځکه چې په صاع کې د خلکو ډېر اختلاف دی، او د دې هيڅ يو يقيني مقدار معلوم نه دی، نو د اجناسو په باره کې به د وزن اعتبار ځکه کيږي، چې اختلاف او انتشار رانه سي.

والدقيق أولى الخ فرمايي چې د غنمو اوړه ورکول له غنمو ورکولو څخه غوره دي، ځکه چې اوړه في الفور او سمدستي استعمالېدای سي، او نغدي ورکول له اوړو ورکولو څخه غوره دي، ځکه چې نغدي زيات ضروريات پوره کولای سي، او له خوراک څخه ماسوا د نورو اړتياوو مثلاً د جامو او درملنې (علاج) لپاره هم استعمالېدای سي، همدا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت دا دی او د فقيه ابو جعفر خوښ مسلک هم دی، او له ابو بکر اعمش څخه روايت دی چې غنم ورکول زيات افضله دي، ځکه چې د غنمو په جواز کې د هيڅ اختلاف نسته، او د اوړو او قيمت په جواز کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، نو د مختلف فيه شي په نسبت د متفق عليه شي اختيارول غوره دي.

د صاع مقدار (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَالصَّاعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ● ثَمَانِيَةُ أَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ فرمايي: چې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز صاع اته (۸) عراقي رطله کيږي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: خَمْسَةُ أَرْطَالٍ وَثُلُثُ رِطْلٍ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې صاع پنځه رطله او ديوه رطل دريمه حصه کيږي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ❶: صَاعُنَا أَصْغَرُ الصِّيعَانِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې زموږ صاع له ټولو صاعونو څخه کوچنی صاع دی وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ❷ كَانَ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ رِطْلَيْنِ او زموږ دليل دا روايت دی چې نبي ﷺ به په يوه مُد يعني دوو رطلونو سره اودس کوی وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ ثَمَانِيَةَ أَرْطَالٍ او په يوه صاع يعني په اتو (۸) رطلونو سره به يې غسل کوی وَهَكَذَا كَانَ صَاعُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او همداسې د حضرت عمر رضي الله عنه صاع وو وَهُوَ أَصْغَرُ مِنَ الْهَاشِمِيِّ او د نبي ﷺ صاع له هاشمي صاع څخه کوچنی وو وَكَانُوا يَسْتَعْمِلُونَ الْهَاشِمِيَّ او صحابه وو به هاشمي صاع استعمالوی.

اللغات: ﴿رطل﴾ په اوسني حساب سره: ۴۴۲٫۵۲ گرامه کيږي (يعني څلور سوه دوڅلويښت گرامه کيږي او لږ څه زيات)، د اوسني حساب په اعتبار سره به د صاع وزن لاندې په پوره تفصيل سره ذکر سي.

تشريح: د صاع د پيمايښت او د هغه د وزن په باره کې د علماؤ اختلاف دی، له احنافو څخه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله رايه دا ده چې يو صاع اته (۸) عراقي رطله کيږي، او هر رطل شل (۲۰) استاره کيږي، او هر استار د شپږ نيمو (۶/۵) درهمو سره برابر دی، په دې لړ کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې يو صاع پنځه رطله او د بل رطل دريمه حصه کيږي، همدا د ائمه ثلاثه وو قول هم دی، د دې قول دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: صاعنا أصغر الصيعان، (يعني زموږ صاع له

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قال في الهدية: والصاع ثمانية أرطال بالبغدادى والرطل البغدادى عشر أستاراً كذا في التبيين، الهندية ج:۱، ص: ۱۹۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۹۲]

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الزكاة الفطر، حديث رقم: ۲۱۰۵ في معناه.

● تخريج: أخرجه دارقطني في كتاب الفطر، حديث رقم: ۲۱۱۸ – ۲۱۱۹.

تولو صاعونو څخه کوچنی دی)، او ښکاره ده چې أصغر الصيعان هغه وخت کېدای سي چې کله صاع پنځه رطله او دريمه حصه د رطل وي (ځکه چې تر دې کوچنی صاع نه راځي).

ولنا ما روى الخ د طرفينو دليل دا دی چې نبي ﷺ به په يوه مُد يعني په دوه (۲) رطله اوبو سره اودس کوی، او په يوه صاع يعني په اته (۸) رطله اوبو سره به يې غسل کوی، او د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه صاع همدارنګه وو، يعني هغه هم اته (۸) رطله وو، له دې څخه معلومېږي چې د نبي ﷺ صاع پنځه رطله او دريمه حصه د رطل نه وو، بلکې اته (۸) رطله وو، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په روايت کې چې کوم د أصغر الصيعان الفاظ راغلي دي، هغه د هاشمي صاع په مقابله کې دي (يعني نبي ﷺ وفرمايل چې زموږ صاع تر هاشمي صاع کوچنی دی)، ځکه چې هاشمي صاع تقريباً له تولو صاعونو څخه غټ وو، او دو دېرش (۳۲) رطله وو، او صحابه وو به هغه صاع استعمالوی، لېکن نبي ﷺ عراقي صاع استعمالوی، او عراقي صاع اته رطله وو.

د صاع وزن د اوسني او پخواني مقدارونو په اعتبار سره

صاع	رطل	وسق	کيلو	ګرام	ليتر
يو صاع	۸ رطله کيږي	.....	۳,۵۳۸ (يعني ۳ کيلو او ۵۳۸ ګرامه کيږي)	۳۵۳۸	۵,۸۸
نيم صاع	۴	.....	۱,۷۶۹ (يعني يو کيلو او ۷۶۹ ګرامه کيږي)	۱۷۶۹	۲,۹۴
۶۰ صاعه	.....	يو وسق	۲۱۲,۲۸	.....	۳۵۲,۸۰

د صدقهٔ فطر د اداء کولو وخت

قَالَ: وَوُجُوبُ الْفِطْرَةِ يَتَعَلَّقُ بِطُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د صدقهٔ فطر واجبېدل تعلق لري د کوچني اختر د ورځې د سهار د سپېلو چاودلو سره وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله تَعَالٰى: بِغُرُوْبِ الشَّمْسِ فِي الْيَوْمِ الْأَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د روژې د مياشتې د آخري ورځې د لمر د لوېدلو سره تعلق لري حَتّٰى إِنَّ مَنْ أَسْلَمَ أَوْ وُلِدَ لَيْلَةَ الْفِطْرِ تَجِبُ فِطْرَتُهُ عِنْدَنَا تر دې که يو څوک د کوچني اختر په شپه اسلام راوړي يا يو کوچنی پيدا سي نو زموږ په نېز پر هغه صدقهٔ فطر واجبېږي وَعِنْدَهُ لَا تَجِبُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز نه واجبېږي وَعَلٰى عَكْسِهِ مَنْ مَاتَ فِيْهَا مِنْ مَمَالِيْكِهِ أَوْ وُلْدِهِ او د دې برعکس حکم دی د هغه سړي په باره کې چې د هغه له غلامانو څخه يا د هغه له اولاد څخه (يو څوک) د اختر په شپه کې مړ سي لَهُ أَنَّهُ يَخْتَصُّ بِالْفِطْرِ وَهٰذَا وَقْتُهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د صدقهٔ فطر وجوب د فطر (افطار) سره خاص دي او د افطار وخت همدغه د ماښام وخت دی وَلَنَا أَنَّ الْإِضَافَةَ لِلْإِخْتِصَاصِ او زموږ دليل دا دی چې اضافت د اختصاص لپاره دی وَاِخْتِصَاصُ الْفِطْرِ بِالْيَوْمِ دُوْنَ اللَّيْلِ او د افطار اختصاص د ورځې سره دی نه د شپې سره.

تشريح: زموږ په نيز د کوچني اختر له صبح صادق (سپيدې چاود) څخه د صدقهٔ فطر اداء کول واجبيږي، همدا قول د امام مالک رَحِمَهُ الله دی، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د روژې د مياشتې په آخري ورځ تر لمر لوېدلو وروسته واجبيږي، حاصل دا چې د شوافعو په نيز د صدقهٔ فطر د اداء د واجبېدلو وخت د اختر په شپه تر لمر لوېدلو وروسته شروع کيږي، او زموږ په نيز د اختر د ورځې له صبح صادق څخه شروع کيږي، د اختلاف ثمره په دې مثال کې ښکاره کيږي چې که يو کافر د اختر په شپه تر صبح صادق مخکې مسلمان سو، يا يو کوچنی پيدا سو، نو زموږ په نيز د هغه صدقهٔ فطر واجبيږي، ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نه واجبيږي، ځکه چې د اداء د واجبېدلو په وخت کې په دواړو کې اهليت نه وو (او هغه وخت مخکې تېر سو چې هغه د ماښام وخت دی)، همدارنګه که د اختر په شپه تر صبح صادق مخکې ديو چا غلام مړ سو، يا يې ځوی مړ سو نو زموږ په نيز د هغه صدقهٔ فطر نه واجبيږي، ځکه چې له وخت شروع کېدلو څخه مخکې مړ سو، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز واجبيږي، ځکه چې د هغه په نيز تر وخت شروع کېدلو وروسته مړ سوی دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د صدقهٔ فطر وجوب د فطر يعنې د افطار سره خاص دی، ځکه چې ابن عمر ﷺ فرمايلي دي: فرض رسول الله ﷺ زكوٰة الفطر او د افطار يعنې د روژه مات وخت تر لمر لوېدلو وروسته شروع کيږي، نو ځکه وويل سوه چې د صدقهٔ فطر د وجوب وخت به د روژې د مياشتې د آخري ورځې د لمر لوېدلو سره تعلق لري.

زموږ دليل: دا دی چې په صدقة الفطر کې د صدقې اضافت د فطر و طرف ته د اختصاص لپاره دی، يعنې صدقه د فطر سره خاص ده، او له فطر څخه مراد د صوم يعنې د روژې ضد دی، او د صوم د ورځې سر تعلق لري، نه د شپې سره، نو د فطر تعلق به هم د ورځې سره وي، نه د شپې سره، او ورځ له صبح صادق څخه شروع کيږي، نو ځکه موږ وويل چې د صدقهٔ فطر د وجوب وخت به د اختر د ورځې له صبح صادق څخه شروع کيږي.

د صدقهٔ فطر د اداء کولو مستحب وخت

وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُخْرِجَ النَّاسُ الْفِطْرَةَ يَوْمَ الْفِطْرِ قَبْلَ الْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلَّى او مستحب دا ده چې خلک د کوچني اختر په ورځ د عيدګاه وطرف ته له وتلو څخه مخکې صدقهٔ فطر وباسي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] كَانَ يُخْرِجُ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ لِلْمُصَلَّى ځکه نبي ﷺ به د عيدګاه و طرف ته له وتلو څخه مخکې صدقهٔ فطر ايستله وَلِأَنَّ الْأَمْرَ بِالْإِغْنَاءِ كَيْ لَا يَتَشَاغَلَ الْفَقِيرُ بِالْمَسْأَلَةِ عَنِ الصَّلَاةِ او په دې وجه (هم) چې (د فقير) د مستغني کولو (بې پروا کولو) حکم د دې لپاره دی چې د سوالګرۍ په وجه له لمانځه څخه مشغول نه سي وَذَٰلِكَ بِالتَّقْدِيمِ او دا مقصد د صدقهٔ فطر په مخکې ورکولو سره حاصليږي.

اللغات: ﴿لا يتشاغل﴾ د تفاعل د باب مضارع منفي ده: مشغوله کېدل، بوختېدل، ﴿مسئله﴾ مصدرِ ميمي دی: خيرات غوښتنه (سوالګري کول)، فقر کول (ګدايي کول)، ﴿تقديم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مخکې کول، (مخکې ورکول).

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ في كتاب الزكاة، باب وقت إخراج زكاة الفطر، حديث رقم: ۷۷۲۹ – ۷۷۲۸.

تشریح: مسئله: دا ده چي د اختر په ورځ عيدګاه ته تر تللو مخکي صدقة فطر اداء کول مستحب دي، ځکه چي همدغه له نبي ﷺ څخه رانقل سوي دي، او همدا د نبي ﷺ معمول وو. لکه څرنګه چي د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په يوه اوږده حديث کي دا جمله هم ذکر سوې ده: وكان يأمرنا أن نخرجها قبل الصلاة. (يعني نبي ﷺ به موږ ته دا حکم کوی چي موږ عيدګاه ته تر وتلو مخکي صدقة فطر اداء کړو).

ولأن الأمر الخ عقلي دليل دا دی چي د صدقة فطر مقصد د فقيرانو او مسکينانو حاجت ليري کول دي چي د سوالګری لو خيرات غوښتولو په وجه هغوی د اختر له لمانځه څخه مشغول پاته نه سي، او دا په هغه صورت کي ممکن دی چي کله د اختر تر لمانځه مخکي هغو ته صدقة فطر ورکول سي، چي هغوی هم خپل د ضرورت سامان په رانيسي او د اختر تياري مخکي لا وکړي، نو بيا به د لمانځه په وخت کي له لاس ګرځولو او خيرات غوښتولو څخه خوندي وي.

د اختر تر ورځي مخکي د صدقة فطر د اداء کولو حکم

فَإِنْ قَدَّمُوهَا عَلَى يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ او که خلک د کوچني اختر پر ورځي صدقة فطر مخکي کړي نو جائز دي(يعني تر اختر مخکي سرسايه اداء کړي نو هم جائز دي) لِأَنَّهُ أَدَّى بَعْدَ تَقَرُّرِ السَّبَبِ ځکه چي د سبب تر ثابتېدلو وروسته يې اداء کړه فَأَشْبَهَ التَّعْجِيلَ فِي الزَّكَاةِ نو دا په زکاة کي د تلوار کولو سره مشابه سوه وَلَا تَفْصِيلَ بَيْنَ مُدَّةٍ وَمُدَّةٍ هُوَ الصَّحِيحُ او د يوې مودې او بلي مودې په مينځ کي هيڅ تفصيل نسته همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿تقرر﴾ د تفعل د باب مصدر دی: ثابتېدل.

تشریح: مسئله: دا ده چي که خلکو له کوچني اختر څخه دوې، درې ورځي مخکي صدقة فطر اداء کړه، نو دا صحيح او جائز دي، دليل دا دی چي صدقة فطر د واجبېدلو تر سبب وروسته اداء کړی سوه، ځکه چي د صدقة فطر اصلي سبب مالداري او مؤنت او ولايت دی، او هغه دوې، درې ورځي مخکي هم سته، نو دا مخکي اداء کول داسي سوه لکه تر کال تېرېدلو چي مخکي زکاة اداء کړی سي، او تر کال تېرېدلو مخکي زکاة اداء کول شرعاً معتبر دي، نو ځکه به تر کوچني اختر مخکي هم صدقة فطر اداء کول شرعاً صحيح او معتبر وي.

ولا تفصيل الخ د دې حاصل دا دی چي د صدقة فطر د مخکي اداء کولو په صورت کي د يوې مودې هيڅ تفصيل هم نسته، بلکي څومره موده چي مخکي اداء کړی سي، صدقة فطر به معتبره وي، همدا صحيح قول دی، د هو الصحيح په ويلو سره صاحب د هدايې له هغو قولونو څخه احتراز کړی دی چي په هغو کي له رمضان څخه مخکي او په بعضو کي د رمضان په نصف کي اداء کول معتبر نه دي ګرځول سوي(عنايه ج۲)، خو صحيح دا ده چي مطلق مخکي اداء کولو معتبر دي، هغه که تر رمضان مخکي وي، او که د رمضان په نصف کي وي.

د اختر تر ورځې وروسته د صدقهٔ فطر د اداء کولو حکم

وَإِنْ أَخَّرُوهَا عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ لَمْ تَسْقُطْ او که خلکو صدقهٔ فطر د کوچني اختر تر ورځې وځنډوله نو صدقهٔ فطر (د هغوی له غاړې ځنې) نه ساقطیږي وَكَانَ عَلَيْهِمْ إِخْرَاجُهَا او پر هغو به د دې ایستل واجب وي لِأَنَّ وَجْهَ الْقُرْبَةِ فِيهَا مَعْقُولٌ ځکه چې په صدقهٔ فطر کې د عبادت وجه په فهم کې راځي فَلَا يَتَقَدَّرُ وَقْتُ الْأَدَاءِ فِيهَا بِخِلَافِ الْأُضْحِيَةِ نو په صدقهٔ فطر کې به د اداء کولو وخت نه متعین کیږي (یعني د دې اداء کول به دیو وخت سره نه خاص کیږي) په خلاف د قربانۍ.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خلکو د کوچني اختر په ورځ صدقهٔ فطر اداء نه کړه، او د اختر ورځ تیره سوه، نو هم د هغو پر ذمه صدقهٔ فطر پاته ده، او له هغو ځنې د صدقهٔ فطر وجوب نه دي ساقط سوی، بلکې تر ځنډولو وروسته هم پر هغو د صدقهٔ فطر اداء کول ضروري دي، دلیل دا دی چې په صدقهٔ فطر کې د قربت او عبادت وجه معقول ده یعني په فهم کې راځي، ځکه چې دا مالي صدقه ده، او هر وخت د فقیرانو د حاجت لیري کولو لپاره مشروع سوې ده، نو ځکه به په دې کې د اداء کولو هیڅ وخت نه متعین کیږي، او تر واجبیدلو وروسته به بغیر له اداء کولو ځنې نه ساقطیږي، لکه زکاة چې همدغسې دی.

د دې په خلاف د قربانۍ مسئله ده، نو په قربانۍ کې چې څرنګه د عبادت وجه معقول نه ده یعني په فهم کې نه راځي. ځکه چې په قربانۍ کې وینه بهیږي، او وینه بیول یو غیر معقول او په فهم کې نه راتلونکی شی دی، نو ځکه به دا عبادت د قربانۍ د ورځو سره خاص وي، او د قربانۍ د ورځو تر تیریدلو وروسته به قرباني جائز نه وي. والله أعلم بالصواب.



كِـــتَابُ الصَّوْمِ

(دا) کتاب د روژې (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: که څه هم امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع کبیر کتابُ الصوم تر کتابُ الصلاة وروسته بیان کړی دی، ځکه چې دواړه بدني عبادتونه دي، خو څرنګه چې په قرآن کریم کې ډېر ځایونه تر لمانځه وروسته زکاة بیان سوی دی، لکه په أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ، او داسې نورو ډېرو آیتونو کې، نو ځکه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله هم د قرآن کریم په اقتداء او اتباع سره په خپل عظیم الشان کې تر کتاب الصلوٰة وروسته کتاب الصوم بیانوي.

د صوم لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د صوم لغوي معنیٰ ده: إمساك، یعني مطلق منع کېدلو، بندېدلو او ځان نیولو ته صوم ویل کیږي، هغه که له خوراک، څښاک څخه وي، او که له خبرو څخه وي، او که له یو بل شي څخه منع کېدل وي، او د صوم اصطلاحي او شرعي معنیٰ ده: الإمساك عن المفطرات الثلاثة نهاراً مع النية. (یعني په ورځ کې د روژې په نیت له دریو مفطراتو (خوراک، څښاک او جماع) څخه منع کېدلو او ځان نیولو ته د شریعت په اصطلاح کې صوم ویل کیږي).

روژه کله فرض سوه؟ د رمضان روژه د هجرت په دویم[۲] کال د بدر تر جګړې مخکې فرض سوه، یو قول دا دی چې د هجرت په دویم کال د شعبان په میاشت کې فرض سوه، او تر دې مخکې د عاشوراء او د ایامِ بیض یعني د هرې قمري میاشتې د دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم روژې فرض وې.

د عاشوراء او نورو روژو د فرضیت په لړ کې نور زیات تفصیل د حدیثو په کتابونو کې ذکر سوی دی، د تفصیل مینه وال دې هغو ته رجوع وکړي، ځکه د دې شرحې مقصد خو د هدایې تشریح او توضیح ده.

د روژې قسمونه او په هغو کې د نیت د شرط والې بیان

قَالَ: اَلصَّوْمُ ضَرْبَانِ: وَاجِبٌ وَنَفْلٌ فرمایي: چې روژه پر دوه قسمه ده: واجب او نفل وَالْوَاجِبُ ضَرْبَانِ او (بیا) واجب پر دوه قسمه دی مِنْهُ مَا يَتَعَلَّقُ بِزَمَانٍ بِعَيْنِهِ كَصَوْمِ رَمَضَانَ وَالنَّذْرِ الْمُعَيَّنِ له هغو څخه یو واجب هغه دی چې د متعیني (ټاکلې) زمانې سره تعلق لري لکه د روژې د میاشتې او د نذر معین روژه فَيَجُوزُ صَوْمُهُ بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ نو دا روژه جائز ده په داسې نیت سره چې هغه به له شپې څخه وي وَإِنْ لَمْ يَنْوِ حَتَّى أَصْبَحَ او که یې نیت نه وکړی تر دې چې سهار سو أَجْزَأَهُ النِّيَّةُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الزَّوَالِ نو د هغه لپاره به د سهار او زوال په مینځ کې نیت کول کافي وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يُجْزِئُهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې نه کافي کیږي اِعْلَمْ أَنَّ صَوْمَ رَمَضَانَ فَرِيضَةٌ پوه سه! چې د روژې د میاشتې روژه فرض ده لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ [البقرة: ۱۸۳] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "پر تاسو روژې فرض سوې دي" وَعَلَىٰ فَرْضِيَّتِهِ انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ او د روژې پر فرضیت اجماع منعقد سوې ده وَلِهَٰذَا يُكَفَّرُ جَاحِدُهُ نو په دې وجه به د روژې منکر کافر کیږي وَالْمَنْذُورُ وَاجِبٌ او د نذر روژه واجب ده لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ [الحج:

ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي، "چي خپل نذرونه دي پوره کړي" وَسَبَبُ الْأَوَّلِ الشَّهْرُ د اول (يعني د رمضان د روژې) سبب مياشت ده وَلِهَذَا يُضَافُ إِلَيْهِ همدا وجه ده چي روژه د رمضان و طرف ته منسوبيږي وَيَتَكَرَّرُ بِتَكَرُّرِهِ او د رمضان د مياشتي په تکرار سره روژه (هم) مکرره کيږي (يعني د رمضان په بار بار راتللو سره روژه هم بار بار راځي) وَكُلُّ يَوْمٍ سَبَبٌ لِوُجُوبِ صَوْمِهِ او د رمضان هره ورځ د خپلي روژې د واجبيدلو سبب ده وَسَبَبُ الثَّانِي النَّذْرُ او د دويم (يعني د نذر معيّن د روژې) سبب نذر کول (نذر منل) دي وَالنِّيَّةُ مِنْ شَرْطِهِ او نيت د روژې شرط دی وَسَنُبَيِّنُهُ وَنُفَسِّرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او موږ به د شرطونو بيان او تفسير (په پوره وضاحت سره وروسته) وکړو انشاء الله تعالیٰ وَجْهُ قَوْلِهِ فِي الْخِلَافِيَّةِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او په اختلافي مسئله کي (يعني د نيت په باره کي چي کوم اختلاف وو په هغه کي) د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قول دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی لَا صِيَامَ لِمَنْ لَمْ يَنْوِ الصِّيَامَ مِنَ اللَّيْلِ● (چي) د هغه سړي روژه معتبره نه ده چي له شپې څخه يې د روژې نيت کړی نه وي وَلِأَنَّهُ لَمَّا فَسَدَ الْجُزْءُ الْأَوَّلُ لِفَقْدِ النِّيَّةِ او په دې وجه (هم) چي کله (د روژې) اول جزء د نيت د نيستي کېدلو په وجه سره فاسد سو فَسَدَ الثَّانِي ضَرُورَةَ أَنَّهُ لَا يَتَجَزَّأُ نو دويم جزء به هم فاسديږي ځکه چي روژه نه متجزي کيږي (يعني حصه حصه او ټوکړه ټوکړه نه کيږي) بِخِلَافِ النَّفْلِ لِأَنَّهُ مُتَجَزِّئٌ عِنْدَهُ په خلاف د نفلو ځکه چي هغه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز ټوکړه کيږي وَلَنَا قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● بَعْدَمَا شَهِدَ الْأَعْرَابِيُّ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی چي کله صحرايي د مياشتي ليدلو ګواهي ورکړه (نو نبي ﷺ وفرمايل) أَلَا مَنْ أَكَلَ فَلَا يَأْكُلَنَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ خبردار! چا چي څه خوړلي وي هغه دي پاته ورځ خوراک نه کوي وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلْيَصُمْ او چا چي (هيڅ) خوړلي نه وي نو هغه دي روژه ونيسي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى نَفْيِ الْفَضِيلَةِ وَالْكَمَالِ او کوم حديث چي امام شافعي روايت کړی دی هغه د فضيلت او کمال پر نفي حمل سوی دی أَوْ مَعْنَاهُ لَمْ يَنْوِ أَنَّهُ صَوْمٌ مِنَ اللَّيْلِ يا د هغه معنیٰ ده: چي هغه دا نيت نه وي کړی چي دا روژه به له شپې څخه دي (يعني يا د حديث دويمه معنیٰ دا ده چي هغه داسي نيت نه وکړي چي له شپې څخه روژه نيسم، بلکي داسي نيت وکړي چي مثلاً اوس له نهو بجو څخه روژه شروع کوم، نو د هغه روژه معتبره نه ده) وَلِأَنَّهُ يَوْمُ صَوْمٍ او په دې وجه (هم) چي دا د روژې ورځ ده فَيَتَوَقَّفُ الْإِمْسَاكُ فِي أَوَّلِهِ عَلَى النِّيَّةِ الْمُتَأَخِّرَةِ الْمُقْتَرِنَةِ بِأَكْثَرِهِ كَالنَّفْلِ نو د ورځي په اول کي چي کوم امساک دی هغه به موقوف وي پر هغه نيت کوم چي وروسته وي او د ورځي د اکثره حصې سره متصل وي لکه نفلي روژه وَهَذَا لِأَنَّ الصَّوْمَ رُكْنٌ وَاحِدٌ مُمْتَدٌّ او دا په دې وجه چي روژه (پوره) يو رکن دی (لېکن) اوږد دی وَالنِّيَّةُ لِتَعْيِينِهِ لِلهِ تَعَالَى او (د روژې) نيت د الله ﷻ لپاره د هغه

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصيام، باب النية في الصوم، حديث رقم: ۲۴۵۴.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصوم، باب إذا نوى النهار صوماً، حديث رقم: ۱۹۲۴.

ركن د متعينولو لپاره دى فَتَتَرَجَّحُ بِالْكَثْرَةِ جَنَبَةُ الْوُجُودِ نو په اكثره حصې سره به د وجود اړخ ته ترجيح ورکول كيږي بِخِلَافِ الصَّلَاةِ وَالْحَجِّ په خلاف د لمانځه او حج لِأَنَّهُمَا أَرْكَانٌ ځكه چې د هغو لپاره څو اركان دي (ما جمله په اصل كې داسې ده: لأن لهما اركانا) فَيُشْتَرَطُ قِرَانُهَا بِالْعَقْدِ عَلَى أَدَائِهِمَا نو د هغه عقد سره به د نيت متصل كېدل (جوختېدل) شرط وي كوم چې د لمانځه او د حج د اداء كولو لپاره سوى وي (په لنډه توګه دا چې په دواړو كې به له شروع څخه نيت كول شرط وي) وَبِخِلَافِ الْقَضَاءِ په خلاف د قضاء لِأَنَّهُ يَتَوَقَّفُ عَلَى صَوْمِ ذَلِكَ الْيَوْمِ ځكه چې هغه د دغه ورځې پر روژې موقوفه ده وَهُوَ النَّفْلُ او هغه نفلي روژه ده وَبِخِلَافِ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ او په خلاف تر زوال وروسته لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدْ اقْتِرَانُهَا بِالْأَكْثَرِ ځكه چې (په دې صورت كې) د ورځې د اكثره حصې سره د نيت متصل كېدل پيدا نه سوه فَتَرَجَّحَتْ جَنَبَةُ الْفَوَاتِ نو د فوات اړخ ته به ترجيح وركول كيږي ثُمَّ قَالَ فِي الْمُخْتَصَرِ: مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الزَّوَالِ بيا امام قدوري رَحِمَهُ الله په مختصر القدوري كې مابينه وبين الزوال (يعني د سهار او د زوال په مېنځ كې دې نيت وكړي) ويلي دي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ قَبْلَ نِصْفِ النَّهَارِ او په جامع صغير كې (امام محمد رَحِمَهُ الله) قبل نصف النهار (يعني تر نيمې ورځې دې مخكې نيت وكړي) ويلي دي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحيح ده لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ وُجُودِ النِّيَّةِ فِي أَكْثَرِ النَّهَارِ ځكه چې په اكثره ورځ كې د نيت وجود (شتون) ضروري دى وَنِصْفُهُ مِنْ وَقْتِ طُلُوعِ الْفَجْرِ إِلَى وَقْتِ الضَّحْوَةِ الْكُبْرَى او د (شرعي) ورځې نصف (نيمى) له سهار راختلو څخه تر غټې رڼا (يعني د څاښت تر وخته) پورې دى لَا وَقْتَ الزَّوَالِ نه د زوال تر وخته پورې فَتُشْتَرَطُ النِّيَّةُ قَبْلَهَا نو تر څاښت مخكې به نيت شرط وي لِيَتَحَقَّقَ فِي الْأَكْثَرِ چې د ورځې په اكثره حصه كې نيت ثابت سي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْمُسَافِرِ وَالْمُقِيمِ او (په دې لړ كې) د مسافر او مقيم په مېنځ كې فرق نسته خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ الله د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دى لِأَنَّهُ لَا تَفْصِيلَ فِيمَا ذَكَرْنَا مِنَ الدَّلِيلِ ځكه كوم دليل چې موږ ذكر كړى په هغه كې (د مقيم او مسافر) هيڅ تفصيل نسته.

اللغات: ﴿ضربان﴾ قسمونه، ﴿جاحد﴾ د فتح د باب اسم فاعل دى: انكار كونكى، ﴿امساك﴾ د افعال د باب مصدر دى: نيول، بندېدل (منع كېدل)، (دلته څني مراد له خوراك، څښاك او جماع څخه منع كېدل دي، چې هغه ته روژه وايي) ﴿ليوفوا﴾ امر غائب دى: پوره كول، پر وعده وفا كول، ﴿وقت الضحوة الكبرى﴾ هغه وخت چې ښه رڼا سي لو رڼا زياته سي، د څاښت آخري وخت.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله د روژې تقيسم بيانوي فرمايي چې روژه پر دوه قسمه ده: (۱) واجب، (۲) نفل، او دا دوه قسمونه په حقيقت كې د روژې درېو سره قسمونو ته شامل دي، ځكه چې روژه په اصل كې پر درې قسمه ده: (۱) فرض (۲) واجب (۳) نفل، ليكن څرنګه چې واجب په معنیٰ سره د ثابت دى، او فرض هم ثابت دي، نو ګواكي امام قدوري رَحِمَهُ الله فرض او واجب دواړه سره يو ځاى كړل او دواړو ته يې د واجب نوم وركړى، بيا واجب پر دوه قسمه دى: (۱) معيّن (۲) غير معيّن، يعني يو هغه قسم دى چې ديوې ټاكلي او متعيني زمانې سره متعلق وي، لكه د رمضان او

نذر معین روژې، مثلاً یو سړی دا نذر ومني چې د جمعې په ورځ به روژه نیسم، نو دلته هغه د جمعې ورځ د روژې نیولو لپاره متعینه کړه. نو دا نذر معین سو. (۲) دویم قسم هغه دی چې د یوې متعینې زمانې سره متعلق نه وي، لکه د رمضان د قضاء روژې چې د هغو لپاره هیڅ وخت متعین نه دی. بلکې له منع کړی سوو ورځو څخه علاوه هر وخت انسان د هغه قضاء راوړی سي. په دې عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ الله اول د واجبِ معین احکام ذکر کوي، فرمایي چې د رمضان او نذرِ معین روژې هم د نورو قسمونو د روژو په ډول په شپه کې په نیت کولو سره جائز کیږي، او که یو سړی د رمضان یا نذرِ معین په روژه کې د شپې نیت نه وکړي، تر دې چې سهار سي، نو بیا که یې د سهار او زوال په مینځ کې نیت وکړي نو هم روژه جائز کیږي، لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې که یې د رمضان د روژې یا د نذرِ معین د روژې نیت د شپې نه وکړی، بلکې تر صبح صادق وروسته یې وکړی، نو روژه نه جائز کیږي، خو د نفلي روژې نیت تر سهار وروسته هم جائز دی، همدا قول د امام احمد رَحِمَهُ الله دی، او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نیز په فرضي او نفلي ټولو روژو کې د شپې نیت کول شرط دی، او که تر سهار وروسته یې نیت وکړی، نو هغه د ده په نیز معتبر نه دی.

صاحب د هدایې په اختلافي مسئله کې د فریقینو د دلائلو تر بیان مخکې د تمهید او سریزې په توګه یو څو خبرې ذکر کړې دي: (۱) اول خبره دا ده چې د رمضان روژه فرض ده، دلیل دا آیت: کتب علیکم الصیام دی، او بل دلیل د امت اجماع ده، همدا وجه ده چې د رمضان د روژې د فرضیت منکر کافر شمارل کیږي، (۲) دویمه خبره دا ده چې د نذر روژه واجب ده، دلیل دا آیت دی: ولیوفوا نذورهم ځکه چې ولیوفوا د امر صیغه ده، او امر پر وجوب دلالت کوي، (۳) دریمه خبره دا ده چې د اول یعني د رمضان د روژو سبب د رمضان د میاشتې راتلل دي، همدا وجه ده چې صوم د رمضان و طرف ته منسوبیږي او صوم رمضان ویل کیږي، او نسبت او اضافت د مضاف الیه د سبب کېدلو نښه ده، نو کله چې هم د رمضان میاشت راسي، د روژې حکم به مکرر کیږي، ځکه چې د سبب تکرار د مسبّب تکرار لره مستلزم وي، (۴) څلورمه خبره دا ده چې د هرې ورځې د روژې د وجوب سبب هغه ورځ ده، یعني د رمضان د میاشتې هره ورځ د هرې روژې د واجبېدلو سبب ده، ځکه چې د رمضان روژې د عبادتِ متفرقه په درجه کې دي، ځکه چې د هرو دوو ورځو او هرو دوو روژو په مینځ کې یو داسې وخت راځي چې په هغه کې روژه نه نیول کیږي چې هغه نو د شپې وخت دی، نو په شپه کې نه دا داء روژه نیول کېدای سي، او نه د قضاء، نو په دې حواله سره د رمضان روژې د لمانځه په ډول سوې، او څرنګه چې د هر لمانځه سبب د هغه لمانځه وخت دی، همدارنګه به د هرې روژې سبب د هغه روژې ورځ وي.

وسبب الثاني الخ او د نذرِ معین د روژې سبب نذر دی، او نیت د روژې لپاره شرط دی، ځکه چې روژه یو عبادتي عمل دی، او د ټولو عملونو دارومدار پر نیت باندې وي. صاحب د هدایې فرمایي چې د صوم ټوله شرطونه به په را روانو پاڼو کې ان شاء الله ذکر کړو، وروسته فرمایي چې په مختلف فیه مسئله یعني د شپې او تر زوال مخکې چې د نیت په باره کې زموږ او د امام اشافعي رَحِمَهُ الله کوم اختلاف دی، په هغه مسئله کې:

د امام شافعي دلیل: دا حدیث دی: لا صیام لمن لم ینو الصیام من اللیل. (یعني څوک چې د روژې نیت د شپې نه وکړي، د هغه روژه معتبره نه ده)، له دې حدیث څخه شوافع په دې توګه دلیل نیسي چې په حدیث کې په شپه کې د روژې په نیت نه کولو سره د روژې نفي سوې ده، چې له هغه څخه دا خبره ثابتیږي چې د روژې د صحت لپاره د شپې نیت کول ضروري دي، او تر طلوعِ فجر (سهار راختلو) وروسته د نیت هیڅ اعتبار نسته، دویم دلیل د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا دی چې نیت د روژې شرط دی، نو که یو چا د شپې د روژې نیت نه وکړی، نو د روژې اول جزء یې د نیت د فقدان په وجه سره

فاسد سو، او کله چې د روژې اول جزء فاسد سو، نو دويم جزء خو به خامخا فاسديږي، ځکه چې وروستني ټوله اجزاء پر اول جزء مبني کيږي، او اول جزء فاسد دی، نو ښکاره ده چې وروستني اجزاء به هم فاسد وي (لأن بناء الفاسد على الفاسد فاسد)، ځکه روژه نه متجزي کيږي چې د روژې يوه ټوکړه او جزء دې صحيح وي، او دويم دې يې فاسد وي، د دې په خلاف که يو چا په نفلي روژه کې د شپې نيت نه وکړی، او بيا يې تر زوال مخکې د روژې نيت وکړی، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز هم د هغه روژه صحيح ده، ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په نفلي روژه کې تجزي او تقسيم راتلای سي، نو د روژې په کوم جزء کې چې نيت نه وسو هغه خو به فاسد وي، او په کوم جزء کې چې يې نيت وسو هغه به صحيح وي، او څرنګه چې دا معامله د نفلي روژې ده، او په نفلي روژه کې تجزي جائز ده، نو ځکه به په مېنځ کې د بناء الفاسد على الفاسد والا خرابي هم نه راځي.

زموږ دليل: دا دی چې کله يوه صحرايي د رمضان د مياشتې د ليدلو ګواهي په ورځ کې نبي ﷺ ته ورکړه، نو نبي ﷺ وفرمايل: "چا چې څه خوړلي وي، هغه دې پاته ورځ خوراک نه کوي، او چا چې څه خوړلي نه وي، هغه دې روژه ونيسي، يعني د روژې نيت دې وکړي"، په دې حديث سره موږ دليل په دې توګه نيسو چې نبي ﷺ هغه خلک چې په ورځ کې يې خوراک کړی وو، له نور خوراک کولو څخه منع کړه، او نه خوړونکو ته يې د روژې حکم وکړی، نو معلومه سوه چې له شپې څخه د روژې نيت کول ضروري نه دي، او که يو سړی د شپې نيت نه وکړي، نو د هغه لپاره به تر زوال مخکې هم نيت کول جائز وي.

جواب: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث يعني د لا صيام لمن لم ينو الصيام من الليل اول جواب خو دا دی چې په لا صيام کې لا د روژې د صحت د نفي لپاره نه دی، بلکې د کمال او د فضيلت د نفي لپاره دی، او د حديث معنیٰ دا ده: "څوک چې د شپې د روژې نيت نه وکړي، د هغه روژه کامله او بشپړه نه ده"، دا يې مطلب نه دی چې "د هغه روژه معتبره او صحيح نه ده"، او دويم جواب دا دی چې په لا صيام کې لا د صحت د نفي لپاره دی، خو د هغه سړي په حق کې چې هغه د ورځې دا نيت نه وکړي چې زما روژه له شپې څخه ده، بلکې دا نيت وکړي، چې له همدغه وخت څخه ده، او ښکاره ده چې په شريعت کې له شپې څخه روژه معتبره ده، نه له ورځې څخه، اوس که يو څوک د شپې نيت نه وکړي، او د ورځې د روژې نيت کول غواړي، نو هغه ته پکار ده چې داسې نيت وکړي چې: "زما روژه خو له شپې څخه ده، لېکن نيت يې اوس کوم"، او داسې دې هيڅکله نه وايي چې "له اوس څخه زما روژه ده، ځکه چې زه يې نيت اوس کوم".

ولأنه صوم الخ زموږ له طرفه عقلي دليل دا دی چې د رمضان او نذر معين ټوله ورځ د روژې ورځ ده، ځکه چې دا ورځ د روژې لپاره ټاکل سوې ده، نو د دې ورځې په اوله حصه کې (يعني د ورځې په شروع کې) به له دريو مفطراتو (اکل، شرب، جماع) څخه ځان نيول پر هغه نيت موقوف وي کوم نيت چې د ورځې تر اولې حصې وروسته سوی وي، او د ورځې د اکثره حصې سره متصل وي، نو که يو چا تر زوال مخکې د روژې نيت وکړی، نو څرنګه چې د روژې نيت د ورځې د اکثره حصې سره متصل سو، نو ځکه به د اولې ورځې هغه امساک (ځان نيول) کوم چې له نيت څخه خالي وو، هغه به پر دې نيت موقوفيږي، او هغه به هم د نيت والا شمارل کيږي، او دا به ويل کيږي چې ټوله امساک د نيت سره متصل سو، ځکه چې د للأكثر حكم الكل قاعده مشهوره ده.

وهذاالخ فرمايي چي د ورځې د شروع امساک پر را روان نيت باندې موقوفه کېدل په دې وجه دې چي صوم يو رکن دی، لېکن اوږد رکن دی، اوس په دې کې دا احتمال هم سته چي صوم به د عادت په توګه وي، لېکن دا معلومول چي دا امساک خالص د الله لپاره دی او د عبادت په توګه دی، نه د عادت په توګه، دا صرف په نيت سره کېدای سي، نو ځکه ووېل سوه چي د ورځې د اول او شروع امساک به پر هغه نيت موقوف وي کوم چي د ورځې د اولې حصې څخه وروسته وسي، اوس که دا نيت د ورځې په اکثره حصه کې وسو، نو څرنګه چي اکثر د کل قائم مقام وي، نو د کثرت په وجه سره به جانبِ وجود ته پر جانبِ عدم ترجيح ورکول کيږي او ټوله روژه به د نيت والا شمارل کيږي، يعني ويل کيږي به چي په ټوله ورځ کې د روژې نيت پيدا سو، او کله چي داسي ده، نو روژه به صحيح وي، لهذا ثابته سوه چي په شپه کې د روژې نيت کول ضروري نه دي.

بخلاف الصلاة والحج الخ فرمايي چي په روژه کې خو د للاکثر حکم الکل قاعده جاري کيږي، لېکن په لمانځه او حج کې به دا قاعده نه جاري کيږي، ځکه چي په حج او لمانځه کې ډېر ارکان دي، يعني په لمانځه کې شپږ أرکان دي، او په حج کې درې أرکان دي، نو که په هغو کې له اول وخت څخه نيت نه وسي، نو کوم رکن چي بې له نيته اداء کړی سوی وي، هغه به باطل وي، او د ارکانو په بُطلان سره نفسِ شی باطليږي، نو ځکه به له شروع څخه په لمانځه او روژه کې نيت کول ضروري وي، او د وروسته نيت به هيڅ اعتبار نه وي.

بخلاف القضاء الخ له دې ځايه د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله روژه واحد او ممتد (اوږد) رکن دی، او تر زوال مخکي نيت کول جائز دي، نو د رمضان په قضاء راوړلو کې هم تر زوال مخکي نيت جائز کېدل پکار وو، حال دا چي داسي نه ده، بلکي د رمضان په قضاء کې د شپې نيت کول شرط دي، د دې جواب ورکوي چي له رمضان او نذر معين څخه چي علاوه کومي ورځې دي هغه د نفلي روژې لپاره دي، يعني له دې ورځو څخه علاوه نور ټوله کال د نفلي روژو لپاره متعين دی، اوس که يو څوک له صبح صادق څخه مخکي د قضائي روژې نيت نه وکړي، بلکي تر زوال مخکي يې وکړي، نو دا خو به روژه وي، لېکن نفلي روژه به وي، (ځکه چي له رمضان او نذر معين څخه علاوه نوري ټولي ورځې د نفلي روژې سره خاص دي)، نو په دې صورت کې به د ورځې د شروع روژه نفلي سي او تر زوال مخکي روژه به واجب سي، لېکن د واجب بناء پر نفلو نه سي کېدلای، نو ځکه به له شپې څخه د قضائي روژې نيت کوي، او په رمضان او نذر معين کې له شپې څخه د نيت ضرورت ځکه نسته چي دا ورځې د دغه روژې لپاره متعيني دي، نو که مطلق روژه هم څوک په دې ورځو کې ونيسي، هغه به د رمضان روژه وي، نه نفلي روژه.

وبخلاف مابعد الزوال الخ له دې ځايه هم د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله روژه رکنِ واحد او ممتد (اوږد) رکن دی، نو څرنګه چي په دې کې تر زوال مخکي نيت معتبر دی، همدارنګه تر زوال وروسته هم نيت معتبر کېدل پکار وو، حال دا چي تاسو تر زوال مخکي نيت معتبر منئ، لېکن تر زوال وروسته د نيت اعتبار نه کوئ، آخر په مخکي او وروسته کې څه فرق دی؟ جواب ورکوي چي تر زوال مخکي د نيت د معتبر کېدلو وجه دا ده چي په دې سره د ورځې اکثره حصه د روژې په نيت سره کيږي، او د للاکثر حکم الکل په قاعده سره به ټوله روژه د نيت سره متصله شمارل کيږي، لېکن تر زوال وروسته د نيت کولو په صورت کې د روژې اکثره حصه بې له نيته کيږي، نو ځکه به تر زوال وروسته د عدم نيت اړخ ته ترجيح حاصله وي، او دا به ويل کيږي چي دا سړی خو ټوله ورځ وږی پاته سو، لېکن د نيت د نشتوالي په وجه روژتي نه سو، ځکه چي موږ مخکي ذکر کړه چي د روژې لپاره نيت شرط او ضروري دی، او بې

له نیته روژه معتبره نه ده، او څرنګه چې تر زوال وروسته د نیت کولو په صورت کې به ټوله روژه له نیت څخه خالي شامل کیږي، نو په دې وجه به تر زوال وروسته نیت معتبر نه وي.

ثم قال فی المختصر الخ له دې ځایه صاحب د هدایې د مختصر القدوري او جامع صغیر د عبارتونو په مینځ کې فرق بیانوي فرمایي چې په قدوري کې د ما بینه وبین الزوال عبارت دی، لیکن په جامع صغیر کې د قبل نصف النهار عبارت دی، او همدا د جامع صغیر عبارت صحیح دی، ځکه چې د شپې د نیت نه کولو په وجه د ورځې په اکثره حصه کې د نیت وجود ضروري دی، او د ورځې نصف له طلوع فجر څخه واخله تر ضحوه کبری (لوی ځابنت) پورې کیږي، نه تر زواله پورې، ځکه چې په روژه کې شرعي ورځ معتبره ده، او د شرعي ورځې نصف ضحوی کبری کیږي، نه زوال، او زوال تر ضحوی کبری یو ساعت (ګینټه) وروسته راځي، نو ځکه د شرعي ورځې په حواله سره په اکثره ورځ کې د نیت په معتبر کیدلو سره د قبل النصف النهار والا عبارت زیات صحیح معلومیږي.

ولا فرق بین المسافر الخ صاحب د هدایې فرمایي چې د رمضان او نذر معین په روژو کې تر نصف النهار مخکې نیت معتبر کیدل د مسافر او مقیم دواړو په حق کې برابر دي، ځکه کوم دلیل چې د للأکثر حکم الکل په حواله سره بیان سو، په هغه کې هیڅ تفصیل نسته، لیکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز د مسافر لپاره د شپې نیت کول شرط دي، او د هغه په نیز تر صبح صادق وروسته تر نصف النهار مخکې نیت معتبر نه دی.

یادونه: ورځ پر دوه قسمه ده: ① شرعي ② عُرفي، شرعي ورځ له صبح صادق (طلوع فجر) څخه تر لمر لوېدلو پورې ده، او عُرفي ورځ له لمر راختلو څخه وروسته تر لمر لوېدلو پورې ده.

د نفلو په نیت سره یا په مطلق نیت سره د فرضي روژې حکم

وَهٰذَا الضَّرْبُ مِنَ الصَّوْمِ يَتَأَدّٰى بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ او د روژې دا قسم اداء کیږي [۱] په مطلق نیت سره هم وَبِنِيَّةِ النَّفْلِ وَبِنِيَّةِ وَاجِبٍ آخَرَ او (اداء کیږي) [۲] د نفلو په نیت سره (هم) [۳] او د بل واجب په نیت سره (هم) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: فِي نِيَّةِ النَّفْلِ عَابِثٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې د نفلو په نیت کولو کې روژتي (صائم) عبث کار کونکی دی (یعني بالکل یې روژه نه صحیح کیږي) وَفِي مُطْلَقِهَا لَهُ قَوْلَانِ او په مطلق نیت کولو کې د امام شافعي دوه قوله دي لِأَنَّهُ بِنِيَّةِ النَّفْلِ مُعْرِضٌ عَنِ الْفَرْضِ ځکه چې د نفلو په نیت کولو سره هغه له فرضو څخه اعراض کونکی سو فَلَا يَكُونُ لَهُ الْفَرْضُ نو د هغه لپاره به فرض (هم) نه وي وَلَنَا أَنَّ الْفَرْضَ مُتَعَيَّنٌ فِيهِ او زموږ دلیل دا دی چې په دې وخت کې فرض متعین دي فَيُصَابُ بِأَصْلِ النِّيَّةِ نو ځکه به په اصل نیت سره فرض صحیح کیږي كَالْمُتَوَحِّدِ فِي الدَّارِ يُصَابُ بِاسْمِ جِنْسِهِ لکه په کور کې چې یوازې سړی په خپل اسم جنس سره پیدا کیږي وَإِذَا نَوَى النَّفْلَ أَوْ وَاجِبًا آخَرَ او کله چې روژه داره د نفلو یا د بل واجب نیت وکړی فَقَدْ نَوَى أَصْلَ الصَّوْمِ وَزِيَادَةَ جِهَةٍ نو هغه د اصل روژې نیت (هم) وکړی او د یوه زیات جهت (یعني د نفلو یا بل واجب) نیت یې (هم) وکړی وَقَدْ لَغَتِ الْجِهَةُ فَبَقِيَ الْأَصْلُ وَهُوَ كَافٍ حال دا چې زیات جهت

لغوه سو نو اصل روژه پاته سوه او هغه کافي ده وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْمُسَافِرِ وَالْمُقِيمِ وَالصَّحِيحِ وَالسَّقِيمِ عِنْدَ● أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د مسافر او مقيم، روغ او ناروغ په مينځ کي هيڅ فرق نسته لِأَنَّ الرُّخْصَةَ كَيْلَا تَلْزَمَ الْمَعْذُورَ مَشَقَّةٌ ځکه رخصت خو په دې وجه وو چي معذوره سړي ته تکليف ونه رسيږي فَإِذَا تَحَمَّلَهَا الْتَحَقَ بِغَيْرِ الْمَعْذُورِ لېکن کله چي هغه په خپله تکليف وزغمي (برداشت يې کړی) نو هغه د غيرِ معذور سره يوځای سو وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِذَا صَامَ الْمَرِيضُ وَالْمُسَافِرُ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ آخَرَ يَقَعُ عَنْهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز چي کله ناروغه او مسافر د بل واجب په نيت سره روژه ونيسي نو روژه (هم) د بل واجب له طرفه واقع کيږي لِأَنَّهُ شَغَلَ الْوَقْتَ بِالْأَهَمِّ ځکه چي هغه وخت په مهم شي سره مشغول کړی لِتَحَتُّمِهِ لِلْحَالِ ځکه چي بل واجب خو په اوسني حال کي حتمي (او لازمي) دی وَتَخَيُّرِهِ فِي صَوْمِ رَمَضَانَ إِلَى إِدْرَاكِ الْعِدَّةِ او د رمضان په روژه کي د عدت (موقع) تر نيولو پوري هغه ته اختيار دی وَعَنْهُ فِي نِيَّةِ التَّطَوُّعِ رِوَايَتَانِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د نفلي روژې په نيت کولو کي دوه روايتونه دي وَالْفَرْقُ عَلَى إِحْدَاهُمَا أَنَّهُ مَا صَرَفَ الْوَقْتَ إِلَى الْأَهَمِّ او له هغو څخه پر يوه روايت فرق دا دی چي مسافر وخت د مهم شي و طرف ته نه وګرځوی (يعني هغه په يو مهم شي کي د رمضان وخت صرف نه کړی).

اللغات: ﴿يتأذى﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: اداء کېدل. ﴿عابث﴾ اسم فاعل دی: عبث او بې فايدې کار کونکی. ﴿يصاب﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده، د إصابة ډېري معناوي راځي، په صله کي چي يې کوم حرف راسي د هغه سره يې معنیٰ بدليږي، يو څو معناګاني يې دا دي: صحيح کول، صحيح ګڼل، اخيستل، پيدا کول، تکليف ورکول او داسي نور. ﴿تحتم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: حتمي کېدل، يقيني کېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده زموږ په نيز چي څرنګه د روژې اول قسم يعني د رمضان او نذر معين روژه د رمضان او نذر په نيت سره اداء کيږي، همدارنګه د نفلو په نيت، مطلق نيت او د بل واجب (واجب آخر) په نيت سره هم اداء کيږي، لېکن د نذرِ معين روژه خو د نفلو په نيت او مطلق نيت سره اداء کيږي، لېکن د واجبِ آخر په نيت سره نه اداء کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د نفلو په نيت سره په رمضان کي روژه نه اداء کيږي، يعني نه د رمضان روژه اداء کيږي، او نه نفلي روژه، بلکي که يې د نفلو نيت وکړی، نو د دې ورځي امساک به يې صرف لوږه وي، ځکه چي د رمضان د روژې نيت يې کړی نه دی، او د نفلي روژې وخت نه دی، نو ځکه به دا يوه روژه هم نه شمارل کيږي، او که په رمضان کي يې د مطلق روژې نيت وکړی، نو په دې کي له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه دوه قوله دي: (۱) يو دا چي په مطلق نيت سره د رمضان روژه اداء کيږي، (۲) دويم دا چي د رمضان روژه نه اداء کيږي، همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله او امام احمد رَحِمَهُ الله قول دی.

لأنه بنية النفل الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل په نفلي نيت کي يعني چي د نفلو په نيت سره نه د رمضان روژه اداء کيږي او نه نفلي روژه، دا دی چي د رمضان په مياشت کي د نفلي روژې په نيت کولو سره ګواکي هغه له فرضي روژې څخه

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، كما قال العلامة داماد آفندي رَحِمَهُالله: عندهما يقع عن رمضان إلى قوله فالأصح أنه يقع عن رمضان على جميع الروايات كالمريض، مجمع الأنهر ج:۱، ص: ۲۳۳. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۹۵]

اعراض وکړي، ځکه چي د فرضو او نفلو په مېنځ کي تغاير دی، نو له فرضي روژې ځخه اعراض کول داسي دي، لکه د هغې نيت پرېښوول، او دا خبره ښکاره ده چي د نيت په پرېښوولو سره روژه نه اداء کيږي، نو ځکه به په دې صورت کي د رمضان روژه اداء نه وي، او څرنګه چي رمضان د نفلي روژې وخت نه دی، نو ځکه به نفلي روژه هم اداء نه وي.

د مطلق نيت په صورت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله د اول قول دليل دا دی چي کله د روژې په مياشت کي د مطلقي روژې نيت وسي، نو دا سړی به په دې نيت سره له فرضي روژې ځخه اعراض کونکی نه شمارل کيږي، (ځکه د مطلق نيت سره يې د بل شي نيت نه دي کړی)، او کله چي له فرضي روژې ځخه اعراض نه راغلی، نو د رمضان روژه به اداء کيږي، د دويم قول دليل يې دا دی چي د فرضي روژې نيت يې کړی نه دي، نو ځکه به د رمضان روژه نه اداء کيږي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي د روژې مياشته د فرض روژو لپاره تاکل سوې ده، لکه څرنګه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: إذا انسلخ شعبان فلا صوم إلا رمضان. (يعني کله چي د شعبان مياشته ختمه سي، نو له رمضان ځخه علاوه نوري روژې نسته)، نو کله چي د رمضان مياشت د فرض روژې لپاره متعينه او ټاکل سوې ده، نو فرض روژه به په اصل (او مطلق) نيت سره هم اداء کيږي، لکه په يو کور کي چي فقط يو سړی وي، او هغه په خپل اسمِ جنس سره را وبلل سي، نو همدغه سړی به ځني مراد وي، او په اسم جنس سره به د هغه رابلل صحيح هم وي، مثلاً که وويل سي: يا انسان، نو له يا انسان ځخه به همدغه سړی مراد وي، کوم چي په کور کي دی، لکه څرنګه چي د هغه په عَلَم يا نهد سره هم هغه مراديږي، همدارنګه د رمضان مياشت چي کله د فرض روژو لپاره متعينه ده، نو فقط د روژې په نيت سره به هم د هغه روژه اداء کيږي، ځکه چي دا مياشت د روژې محل ده؛ او که هغه د نفلو يا د بل واجب نيت وکړی، نو ګواکي د اصل روژې نيت يې هم وکړی، او د يو زيات شي يعني د نفلو يا د واجبو نيت يې هم وکړی، نو دا زيات جهت به لغوه کيږي (يعني د نفلو يا د واجبو نيت به ساقطيږي)، ځکه چي وقت يعني د رمضان مياشت دا نه قبلوي، او کله چي زائد جهت لغوه سي، نو د اصل روژې نيت به پاته وي، او مخکي ذکر سوه چي په اصل نيت سره د رمضان روژه اداء کيږي، نو ځکه به د نفلو يا د بل واجب په نيت سره هم د رمضان روژه اداء کيږي.

ولا فرق الخ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي په دغه حکم کي چي د رمضان روژه په مطلق نيت، د نفلو په نيت، او د بل واجب په نيت سره اداء کيږي، مسافر، مقيم، روغ او مريض ټوله برابر دي، ځکه چي مسافر او مريض ته د روژې ځنډولو رخصت ځکه ورکول سوی دی، چي دغه خلکو ته د سفر او د مرض د عذر په وجه تکليف ونه رسيږي، لېکن کله چي دا خلک په خپله دا تکليف برداشت کړي، نو دا خلک به د غيرِ معذور سره لاحقيږي، او د غيرِ معذور په باره کي مخکي ذکره سوه چي د هغه د رمضان روژه، په مطلق نيت، د نفلو په نيت او د بل واجب په نيت سره اداء کېدای سي، نو ځکه به د مسافر او مريض روژه هم په دې نيتونو سره اداء کيږي.

وعند أبي حنيفة الخ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي که مسافر يا مريض په رمضان کي د بل واجب (واجبِ آخر) په نيت سره روژه ونيسي، نو واجبِ آخر اداء کيږي، نه د رمضان روژه، دليل دا دی چي د واجبِ آخر يعني د قضاء يا دکفارې روژه خو في الحاله پر هغه لازمه سوه، نو که په دغه حال کي مړ سو، نو د دې واجب په باره کي به د الله ﷻ په نېز نيول کيږي، لېکن د رمضان په روژه کي د مرض او سفر په وجه سره د ځنډولو اختيار ورکول سوی دی، نو که دا سړی په دغه مرض يا سفر کي مړ سو، نو هغه به د دې روژه په باره کي نه نيول کيږي، نو معلومه سوه چي د مريض او مسافر په حق کي واجب آخر مهم او رمضان غيرِ مهم دی، او وخت په مهم شي سره مشغوله کول او مهم شی مخکي اداء کول اولیٰ دي،

په نسبت د غیرِ مهم شي و اداء کولو ته. نو ځکه امام صاحب وفرمایيل چې که په رمضان کې مسافر او مریض د واجب آخر نیت وکړي، نو هغه واجبِ آخر به اداء کیږي، نه د رمضان روژه.

وعنه فی نیة التطوع الخ او که مسافر په رمضان کې د نفلي روژې نیت وکړي، نو په دې باره کې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي، (۱) یو دا چې په دې صورت کې د رمضان روژه اداء کیږي، نه نفلي روژه، (۲) دویم دا چې نفلي روژه اداء کیږي، نه د رمضان روژه، د اول روایت دلیل یې دا دی چې مسافر په رمضان کې د نفلي روژې په نیت کولو سره وخت په یو مهم کار سره مشغوله نه کړی، بلکې په یو غیرِ مهم کار یعنې په نفلي روژه سره یې مشغول کړی، حال دا چې د رمضان روژه مهمه ده، نو ځکه به غیرِ مهم نه اداء کیږي، او مهم یعنې د رمضان روژه به اداء کیږي، او د دویم روایت دلیل یې دا دی چې د مسافر په حق کې د رمضان میاشت داسې ده لکه د مقیم په حق کې چې د شعبان میاشت ده، او د شعبان په میاشت چې کې له نفل یا واجبِ آخر څخه د هر یوه نیت وکړی سي، هغه اداء کیږي، نو همداسې به مسافر چې کله د رمضان په میاشت کې د نفل یا واجبِ آخر نیت وکړي، نو هغه به اداء کیږي.

په قضائي، نذرِ مطلق او نفلي روژو کې دنیت حکم

وَالضَّرْبُ الثَّانِي مَا ثَبَتَ فِي الذِّمَّةِ او (د روژې) دویم قسم هغه دی چې د انسان په ذمه کې ثابت (واجب) وي كَقَضَاءِ شَهْرِ رَمَضَانَ وَصَوْمِ الْكَفَّارَةِ لکه د رمضان د میاشتې روژه او د کفارې روژه فَلَا يَجُوزُ إِلَّا بِنِيَّةٍ مِنَ اللَّيْلِ نو دا قسم (روژه) نه جائز کیږي مګر د شپې له نیت څخه لِأَنَّهُ غَيْرُ مُتَعَيِّنٍ فَلَا بُدَّ مِنَ التَّعْيِينِ مِنَ الْإِبْتِدَاءِ ځکه چې دا روژه غیرِ متعینه ده نو له شروع څخه دا متعینول ضرور دي وَالنَّفْلُ كُلُّهُ يَجُوزُ بِنِيَّةٍ قَبْلَ الزَّوَالِ او هر ډول نفل تر زوال په مخکې نیت سره جائز دي خِلَافًا لِمَالِكٍ د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّهُ يَتَمَسَّكُ بِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا ځکه هغه دلیل نیسي د هغه حدیث په اطلاق سره کوم چې موږ روایت کړی وَلَنَا قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● بَعْدَمَا كَانَ يُصْبِحُ غَيْرَ صَائِمٍ او زموږ دلیل د نبي ﷺ دا قول دی چې کله هغه د سهار په وخت کې روژه دار نه وو (یعنې د سهار په وخت کې د نبي ﷺ روژه نه وه او ویې فرمایل) إِنِّي إِذًا لَصَائِمٌ (چې) زه اوس روژه دار یم (یعنې اوس روژه نیسم) وَلِأَنَّ الْمَشْرُوعَ خَارِجَ رَمَضَانَ هُوَ النَّفْلُ او ځکه چې مشروع له رمضان څخه دباندې نفل دي فَيَتَوَقَّفُ الْإِمْسَاكُ فِي أَوَّلِ الْيَوْمِ عَلَى صَيْرُورَتِهِ صَوْمًا بِالنِّيَّةِ نو د ورځې په اوله حصه کې به د امساک روژه کېدل پر نیت موقوف وي عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه مخکې چې موږ (دا) ذکر کړه وَلَوْ نَوَى بَعْدَ الزَّوَالِ لَا يَجُوزُ او که یو چا تر زوال وروسته (د روژې) نیت وکړی نو جائز نه دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې جائز دی وَيَصِيرُ صَائِمًا مِنْ حِينَ نَوَى او له هغه وخت څخه به روژه داره ګرځي له کوم وخت څخه چې یې نیت کړی وي إِذْ هُوَ مُتَجَزٍّ عِنْدَهُ ځکه چې نفلي روژه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز متجزي کیږي (یعنې حصه حصه لوټوکړه ټوکړه کیږي) لِكَوْنِهِ مَبْنِيًّا عَلَى النَّشَاطِ ځکه چې نفلي روژه پر نشاط (یعنې پر خوشالي او

● تخریج: أخرجه مسلم في كتاب الصيام، باب جواز صوم النافلة بنية من النهار قبل الزوال، حديث رقم: ۱۶۹ - ۱۷۰.

چستي) مبني ده وَلَعَلَّهُ يَنْشَطُ بَعْدَ الزَّوَالِ او شايد تر زوال وروسته نشاط راسي إِلَّا أَنَّ مِنْ شَرْطِهِ الْإِمْسَاكَ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ ليکن د هغه شرط د ورځي د شروع په حصه کي امساک دی وَعِنْدَنَا يَصِيرُ صَائِمًا مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ او زموږ په نېز به د ورځي له شروع څخه روژه داره کيږي لِأَنَّهُ عِبَادَةُ قَهْرِ النَّفْسِ ځکه چي روژه د نفس د مغلوبه کولو عبادت دی وَهِيَ إِنَّمَا تَتَحَقَّقُ بِإِمْسَاكٍ مُقَدَّرٍ او دا عبادت په مُقدر امساک سره متحقق کيږي (يعني په دومره امساک سره متحقق کيږي چي شريعت متعين کړی وي) فَيُعْتَبَرُ قِرَانُ النِّيَّةِ بِالْأَكْثَرِ نو د ورځي د اکثره حصې سره به د نيت د متصل کېدلو اعتبار کيږي (يعني د ورځي په اکثره حصه کي به نيت معتبر وي).

اللغات: ﴿يتمسك﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: نيول، ټينګول، دليل نيول (دليل جوړول). ﴿إمساك﴾ د افعال د باب مصدر دی: بندېدل، منع کېدل، نيول. ﴿صيرورة﴾ د ضرب د باب مصدر دی: کېدل، ګرځېدل. ﴿نشاط﴾ د طبيعت خوشالي، ښادماني، چستي، چالاکي، جذبه. ﴿قهر﴾ د فتح د باب مصدر دی: مغلوبه کول. ﴿قران﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو ځای کېدل، متصل کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د روژې د دويم قسم بيان سوی دی، فرمايي چي د روژې دويم قسم هغه دی چي د انسان پر ذمه ثابت او واجب وي او د انسان لپاره د هغه اداء کولو ضروري وي، ليکن د هغه د اداء کولو هيڅ وخت متعين نه وي، لکه د رمضان د قضاء روژې، د نذرِ مطلق روژې، د کفارهٔ يمين روژې، د کفارهٔ ظهار روژې، د کفارهٔ قتل روژې، د دې قسم حکم دا دی چي که په دې کي يې له شپې څخه نيت وکړی، نو روژه يې جائز ده، او که يې تر سهار راختلو (طلوع فجر) وروسته نيت وکړی، نو روژه يې نه صحيح کيږي، ځکه چي د دا قسم روژو لپاره هيڅ وخت متعين نه دی، بلکي په ټوله کال کي يې انسان هر وخت نيولای سي، ماسوا په رمضان او منع کړی سوو ورځو کي، نو ځکه به يې د ورځي له شروع څخه متعينول ضروري وي، او ورځ شروع کيږي له طلوع فجر څخه، نو تر طلوعِ فجر به مخکي يا د طلوع فجر په وخت کي به نيت کوي، نه تر هغه وروسته.

والنفل کله الخ د دې حاصل دا دی چي د هر ډول نفلي روژو لپاره تر نصف النهار مخکي (يعني د شرعي ورځي تر نصف يعني تر ځابنت) مخکي نيت کول ضروري دي، نو که تر نصف النهار تېرېدلو وروسته نيت وسو، نو روژه به معتبر نه وي، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي د نفلي روژې لپاره هم د شپې نيت کول ضروري دي، که تر طلوعِ فجر وروسته نيت وسو، نو په دې وخت کي به هم روژه معتبره نه وي.

د امام مالک دليل: دا دی چي دا حديث لا صيام لمن ينو الصيام من الليل مطلق دی، په دې کي د فرضي او نفلي روژې هيڅ تفصيل نسته، نو ځکه به د هري روژې لپاره د شپې نيت کول ضروري وي.

زموږ دليل: د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا حديث دی: أن رسول الله ﷺ کان يدخل على نسائه ويقول هل عندكن من غذاء فإن قلن لا، قال إني إذا لصائم (يعني نبي ﷺ به خپلو بيبيانو ته راغلی او وبه يې فرمايل چي ستاسو سره څه د خوراک شی سته، نو که هغو به وويل چي څه نسته، نو وبه يې فرمايل چي زه اوس روژه داره [روژتي] يم) يعني کله چي به نبي ﷺ ته تر طلوعِ فجر وروسته د خوراک يو شی پيدا نه سو، نو نبي ﷺ به د روژې نيت کوی، له دې څخه معلومه سوه چي د نفلي روژې نيت به تر طلوعِ فجر وروسته هم جائز وي.

او عقلي دليل دا دی چې له رمضان المبارک څخه ماسوا ټوله وخت د نفلي روژو لپاره مشروع دی، نو د ورځې په اوله حصه کې له خوراک، څښاک او جماع څخه د امساک روژه کېدل به پر نيت موقوف وي، نو که يې تر نصف النهار مخکې د روژې نيت وکړی، نو روژه به يې معتبره وي، او د للأكثر حكم الكل په قاعده سره به پر ټوله ورځ د روژې حکم لګېږي، او که يې نيت نه وکړی، يا تر نصف النهار وروسته يې نيت وکړی، نو په دې دواړو صورتونو کې به يې روژه صحيح نه وي.

ولونوی الخ او که يو سړي د نفلي روژې نيت تر زوال وروسته وکړی، نو زموږ په نيز روژه جائز نه ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز جائز ده. خو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به له هغه وخت څخه روژه داره شمارل کېږي چې د روژې نيت يې کړی وي، ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نفلي روژه متجزي او ټوټه کېدای سي، او بله وجه دا ده چې د نفلي روژې دار و مدار د طبيعت پر خوشالۍ او نشاط دی، نو ډېره ممکنه ده چې د هغه سړي په طبيعت کې تر زوال وروست نشاط پيدا سي، او زړه يې وغواړي چې اوس به يې نو روژه کړم، نو له هغه وخت څخه د روژې نيت وکړي، او روژه شروع کړي، نو د هغه روژه به له هغه وخت څخه معتبره منل کېږي (ځکه چې روژه متجزي کېدای سي)، لېکن د دې شرط دا دی چې امساک به د ورځې له شروع څخه سوی وي، مثلاً که يو څوک له طلوع فجر څخه تر زواله پوري هيڅ خوراک، څښاک نه وکړي، او بيا تر زوال وروسته مثلاً له دوو(۲) بجو څخه د روژې نيت وکړي، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به له ۲ بجو څخه تر لمر لوېدلو پوري د هغه نفلي روژه معتبره وي، او که تر طلوع فجر وروسته يې څه خوراک، څښاک وکړي، بيا يې تر هغه وروسته د نفلي روژې نيت وکړي، نو دا روژه به معتبر نه وي، او څرنګه چې زموږ په نيز روژه نه ټوټه کېږي، نو ځکه به د ورځې له شروع څخه (يعني تر نصف النهار مخکې) د روژې د نيت اعتبار کېږي، نه تر زوال وروسته، وجه دا ده چې روژه د نفس مغلوبه کولو يو عبادت دی، او نفس هغه وخت مغلوبه کېږي چې کله انسان دومره امساک وکړي يعني چې دومره له خوراک څښاک څخه ځان منع کړي څومره چې له مخکې څخه متعين سوي دي، او له مخکې څخه پوره ورځ امساک متعين سوی دی (يعني له طلوع فجر څخه تر غروبِ شمس پوري)، لېکن د ورځې په اکثره حصه کې امساک هم د دې حديث إنِّي إذًا لصائم په روی سره د پوره ورځې قائم مقام دی، نو ځکه به تر نصف النهار مخکې د نفلي روژې نيت معتبر وي، او تر هغه وروسته به يې اعتبار نه کېږي.



فَصْلٌ فِي رُؤْيَةِ الْهِلَالِ

(دا) فصل (د روژې) د مياشتې د ليدلو (په بيان كې) دى

د رمضان د مياشتې د لټون (طلب كولو) حكم

قَالَ: وَيَنْبَغِي لِلنَّاسِ أَنْ يَلْتَمِسُوا الْهِلَالَ فِي الْيَوْمِ التَّاسِعِ وَالْعِشْرِيْنَ مِنْ شَعْبَانَ فرمايي: او خلكو ته پكار ده چې د شعبان په نهه ويشتمه (۲۹) ورځ د مياشتې لټون وكړي فَإِنْ رَأَوْهُ صَامُوْا نو كه هغوى مياشته وليدله روژه دي ونيسي وَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِمْ أَكْمَلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا او كه پر هغوى مياشته پټه سوه (يعني په نظر نه ورغله) نو د شعبان دېرش (۳۰) ورځې دي پوره كړي ثُمَّ صَامُوْا بيا دي روژه ونيسي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: صُوْمُوْا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوْا لِرُؤْيَتِهِ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چې (د روژې) د مياشتې په ليدني سره روژه ونيسئ او (د اختر) د مياشتې په ليدني سره افطار وكړئ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمُ الْهِلَالُ فَأَكْمِلُوْا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا ليكن كه پر تاسو (د روژې) مياشته پټه سوه نو د شعبان دېرش روژې پوره كړئ" وَلِأَنَّ الْأَصْلَ بَقَاءُ الشَّهْرِ او په دې وجه هم چې اصل د مياشتې پاته كېدل دي فَلَا يُنْقَلُ عَنْهُ إِلَّا بِدَلِيْلٍ نو له مياشتې څخه به بې له دليله (بلې مياشتې ته) انتقال نه كيږي وَلَمْ يُوْجَدْ او دليل پيدا نه سو (يعني دليل سته نه).

اللغات: ﴿يلتمسوا﴾ د افتعال د باب مضارع ده: لټون كول، تلاش كول. ﴿غم﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله ده: پټېدل، په نظر نه راتلل، مشتبه كېدل، د يو چا مخته وريځ غوړېدل. ﴿علة﴾ شمېر، تعداد.

تشريح: علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله په فتح القدير كې ليكلي دي چې په ۲۹ شعبان د رمضان المبارك مياشتې ته كتل واجب على الكفايه دي، ځكه چې مياشت كله نا كله د ۲۹ ورځو وي، او كله د ۳۰ ورځو وي، نو كه په ۲۹ د شعبان مياشته وليدل سوه، نو روژه دي ونيول سي، او كه نه وليدل سوه، نو د شعبان دېرش (۳۰) ورځې دي پوره كړى سي، او را روانه ورځ دي روژه ونيول سي.

دليل: دا حديث دى: صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته فان غم عليكم الهلال فاكملوا عدة شعبان ثلاثين يوماً. عقلي دليل دا دى چې په ۲۹ د شعبان كه مياشته نه وليدل سي، نو مطلب يې دا دى چې اوس لا د شعبان يوه ورځ پاته ده، ځكه چې دا مياشته د ۳۰ ورځو ده، نو تر را رواني ورځې پوري انتظار كول پكار دي، ځكه چې د را رواني ورځې له شعبان څخه كېدل يقيني دي، او د رمضان له مياشتې څخه د هغې كېدل په شك كې دي، او تاسو ته معلومه ده چې اليقين لايزول

● تخريج: أخرجه البخارى فى كتاب الصوم، باب قول النبى ﷺ إذا رأيتم الهلال فصوموا، حديث رقم: ۱۹۰۹ – ۱۹۱۰.

بالشك، يعني په يقين سره ثابت سوى شى په شک سره نه ليرې كيږي. بلكې په يقيني او قطعي دليل سره به ليرې كيږي، او كله چې مياشت نه وليدل سي، نو پر دې خبره هم دليل پيدا نه سو چې را روانه ورځ به د رمضان له مياشتې څخه وي، نو ځكه به را روانه ورځ د شعبان له مياشتې څخه وي.

د شک د ورځې (يومُ الشک) د روژې حکم

وَلَا يَصُومُونَ يَوْمَ الشَّكِّ إِلَّا تَطَوُّعًا او خلک به د شک په ورځ روژه نه نيسي مگر صرف نفلي روژه لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ●: لَا يُصَامُ الْيَوْمُ الَّذِيْ يُشَكُّ فِيْهِ أَنَّهُ مِنْ رَمَضَانَ إِلَّا تَطَوُّعًا ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې د كومې ورځې په باره كې د رمضان كېدلو شک وي په هغه كې به روژه نه نيول كيږي مگر نفلي روژه وَهٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ عَلَى وُجُوْهٍ او دا مسئله پر څو صورتونو (مبني) ده أَحَدُهَا: أَنْ يَنْوِيَ صَوْمَ رَمَضَانَ وَهُوَ مَكْرُوْهٌ يو صورت يې دا دى: چې (په يومُ الشک كې صرف) د رمضان د روژې نيت وكړي او (داسې كول) مكروه دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه كوم چې موږ روايت كړى وَلِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِأَهْلِ الْكِتَابِ او په دې وجه (هم) چې په دې كې د اهلِ كتاب سره مشابهت دى لِأَنَّهُمْ زَادُوْا فِيْ مُدَّةِ صَوْمِهِمْ ځكه چې اهلِ كتابو د خپلې روژې په موده (او شمېر) كې زياتوب كړى وو ثُمَّ إِنْ ظَهَرَ أَنَّ الْيَوْمَ مِنْ رَمَضَانَ يُجْزِئُهُ بيا كه ښكاره سوه چې نن ورځ د رمضان ده نو دا روژه د هغه لپاره كافي ده لِأَنَّهُ شَهِدَ الشَّهْرَ وَصَامَهُ ځكه چې هغه د رمضان مياشته ونيوله او روژه يې كړه وَإِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ شَعْبَانَ كَانَ تَطَوُّعًا او كه ښكاره سوه چې دا ورځ د شعبان ده نو هغه به نفلي روژه وي وَإِنْ أَفْطَرَ لَمْ يَقْضِهِ او كه هغه دا روژه ماته كړي نو قضاء به يې نه رواړي لِأَنَّهُ فِيْ مَعْنَى الْمَظْنُوْنِ ځكه چې دا سړى د مظنون (گومان كونكي) په درجه كې دى.

اللغات: ﴿تطوع﴾ نفلي عبادت، هغه عبادت چې فرض نه وي، ﴿مظنون﴾ گمان كړى سوى، غير يقيني، صاحب د اثمار الهدايې د دې معنىٰ په "گومان كونكي" سره كړې ده.

تشريح: د عبارت تر حل مخكې په دې خبره پوه سئ چې كه په ۲۹ د شعبان مطلع صفا نه وو، او مياشت نه وليدل سوه، نو د شعبان ۳۰ ورځې ته يومُ الشک ويل كيږي، يعني د دې ورځې په باره كې دا احتمال هم سته چې دا دې د رمضان اوله ورځ وي، او دا احتمال هم سته چې دا دې د شعبان آخري او دېرشمه ورځ وي، لنډه دا چې د يوم الشک په باره كې حكم دا دى چې كه په دې ورځ يو څوک روژه نيول غواړي نو هغه دې صرف د نفلو په نيت سره روژه ونيسي، ځكه چې په دې حديث لا يصام اليوم الخ كې صرف د نفلي روژې اجازه سوې ده، صاحب د هدايې د دې مسئلې تول پنځه صورتونه ذكر كړي چې له هغو څخه په دې عبارت كې اول صورت بيانيږي، د اول صورت حاصل دا دى چې په دې ورځ كه يو سړى د رمضان په نيت سره روژه ونيسي، نو دا مكروه دي، ځكه په حديث كې صرف د نفلي روژې حكم سوى دى، او نور د هر ډول روژو څخه منع سوې ده. او بل په دې سره يعني په يوم الشک كې د رمضان په نيت په روژه نيولو سره د اهلِ كتابو (يهودو) سره مشابهت راځي، ځكه پر يهود چې څومره روژې فرض وې، دوى به تر هغه زياتې نيولې، او كله چې

● تخريج: قال الزيلعي هذا الحديث غريب جداً، ج:۱، ص: ۴۶۰.

پر زیاتې سوې نو تو له یې پرېښوولې، اوس ښکاره ده چې که د یوم الشک روژه له رمضان څخه نه سوه، نو د رمضان په نیت سره به د روژې نیولو په صورت کې یوه روژه زیاته سي، او د یهودو سره به مشابهت ثابت سي، نو په دې حواله سره هم په یوم الشک کې د رمضان په نیت سره روژه نیول مکروه دي، بیا هم که یو چا په دې ورځ د رمضان په نیت سره روژه ونیوله، او وروسته معلومه سوه چې واقعي دا د رمضان ورځ وه، نو دا روژه به له رمضان څخه شمارل کیږي، ځکه چې دې سړي ګواکې رمضان ونیوی او په هغه کې یې روژه کړه، نو د هغه دا روژه به د رمضان وي، او پر ده به یې قضاء واجب نه وي، او که دا معلومه سوه چې یومُ الشک د شعبان له میاشتې څخه وه، نو د هغه سړي دا روژه به نفلي وي، او د کراهت سره به جائز وي، او که هغه روژه ماته کړه، او دا د شعبان آخري ورځ وه، نو پر هغه به د روژې قضاء واجب نه وي، ځکه چې دا سړی د مظنون په درجه کې دی، ځکه هغه په دې ګومان سره روژه شروع کړې وه چې نن پر ما روژه نیول فرض دي، حال دا چې د شعبان د آخري ورځې کېدلو په وجه په دې ورځ کې پر هغه روژه نیول فرض نه سو، نو ځکه به د هغه د ماتولو په وجه د هغه قضاء هم پر ده واجب نه وي، ځکه چې پر مظنون قضاء نه واجبیږي.

په یومُ الشک کې د بلې واجب روژې د نیت حکم

وَالثَّانِي: أَنْ يَنْوِيَ عَنْ وَاجِبٍ آخَرَ او دویم صورت دا دی چې (روژه دار) د بل واجب نیت وکړي وَهُوَ مَكْرُوهٌ أَيْضًا او دا هم مکروه دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی إِلَّا أَنَّ هٰذَا دُوْنَ الْأَوَّلِ فِي الْكَرَاهَةِ لیکن دا صورت په کراهت کې له اول صورت څخه کم دی ثُمَّ إِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ رَمَضَانَ يُجْزِيْهِ بیا که ښکاره سوه چې دا ورځ د رمضان ده نو دا روژه د هغه لپاره کافي ده لِوُجُوْدِ أَصْلِ النِّيَّةِ ځکه چې اصل نیت سته وَإِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ شَعْبَانَ او که ښکاره سو چې دا ورځ د شعبان ده فَقَدْ قِيْلَ: يَكُوْنُ تَطَوُّعًا نو ویل سوي دي: چې دا روژه به نفل وي لِأَنَّهُ مَنْهِيٌّ عَنْهُ ځکه چې (په دې ورځ کې) له روژې څخه منع سوې ده فَلَا يَتَأَدّٰى بِهِ الْوَاجِبُ نو په دې سره به واجب نه اداء کیږي وَقِيْلَ: يُجْزِيْهِ عَنِ الَّذِيْ نَوَاهُ او ویل سوي دي: چې د کومې روژې نیت یې کړی وي له هغه څخه به کافي وي وَهُوَ الْأَصَحُّ همدا قول زیات صحیح دی لِأَنَّ الْمَنْهِيَّ عَنْهُ ځکه (په حدیث کې) چې له کومې روژې څخه منع سوې ده وَهُوَ التَّقَدُّمُ عَلٰى رَمَضَانَ بِصَوْمِ رَمَضَانَ هغه پر رمضان د رمضان روژه مخکې کول دي لَا يَقُوْمُ بِكُلِّ صَوْمٍ (چې) په هره روژه سره دا خبره نه ثابتیږي بِخِلَافِ يَوْمِ الْعِيْدِ په خلاف د اختر په ورځ (د روژې نیولو) لِأَنَّ الْمَنْهِيَّ عَنْهُ وَهُوَ تَرْكُ الْإِجَابَةِ ځکه (په دې ورځ) چې له کوم شي څخه منع سوې ده هغه د دعوت قبلول پرېښوول دي يَلْزَمُ كُلَّ صَوْمٍ چې دا د هرې روژې سره لازم دي وَالْكَرَاهَةُ هٰهُنَا بِصُوْرَةِ النَّهْيِ او کراهت دلته د نهي د صورت په وجه سره دی.

تشریح: له پنځو صورتونو څخه دویم صورت دا دی چې روژه دار (روژتی) په یومُ الشک کې د بل واجب (واجب آخر) نیت وکړي، مثلاً د تېر سوي رمضان د قضائي روژې نیت وکړي، یا د کفارهٔ یمین د روژې نیت وکړي، نو دا هم د کراهت سره جائز دي، دلیل هغه حدیث کوم چې موږ روایت کړی یعني: لا يصام اليوم الذي يشك فيه... الحديث، لیکن د اول صورت په مقابله کې په دې صورت کې کراهت کم دی، ځکه په دې صورت کې د اهلِ کتابو سره مشابهت نه راځي، اوس که د بل واجب په نیت روژه ونیول سوه، او وروسته معلومه سوه چې دا خو د رمضان ورځ وه، نو د رمضان

روژه اداء کیږي، ځکه چې د بل واجب په ضمن کې اصل نیت هم راځلی، او د رمضان میاشت هم ده، نو ځکه به دا روژه له رمضان ځخه وي.

او که معلومه سوه چې دا ورځ د شعبان وه، نو بعضو حضراتو ویلي دي چې دا روژه به د بل واجب د نیت بلوجود نفلي شمارل کیږي، ځکه چې په یوم الشک کې روژه منهي عنه ده(یعنې نهي ځني سوي دي)، نو ځکه به د دې ورځې روژه ناقصه وي، او هغه چې کومه روژه اداء کوي، هغه واجب ده او کامله ده، او په صوم ناقص سره د صوم کامل اداء کول صحیح نه دي، لکه د اختر په ورځ چې د بل واجب روژه ونیول سي، نو هم صوم واجب نه اداء کیږي(ځکه د اختر په ورځ هم روژه منهي عنه ده)، بعضي حضراتو ویلي دي چې د کوم واجب نیت چې یې کړی وي هغه اداء کیږي، او همدا صحیح قول دی، ځکه چې د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کې یعني په لا تتقدموا علی رمضان بصوم یوم ولا بصوم یومین (په رمضان باندې یوه روژه او دوې روژې مه مخکې کوئ) کې د رمضان روژه مراد ده، یعنې په رمضان باندې یوه یا دوې روژې د رمضان په گومان سره مه مخکې کوئ، حاصل دا چې تر رمضان مخکې مطلقاً له روژې نیولو ځخه منع نه ده سوې، بلکې له رمضان ځخه مخکې له هغه روژې ځخه منع سوې ده چې هغه د رمضان د روژې په نیت او گومان سره ونیول سي، او دې سړي چې کوم د واجب آخر(بل واجب) نیت کړی دی، ښکاره ده چې هغه د رمضان د روژې نیت نه دي کړی، نو ځکه به د واجب آخر روژه په دې ورځ کې منهي عنه نه وي، او کله چې منهي عنه نه ده، نو په دې ورځ کې به د واجب آخر په نیت سره واجب آخر اداء کیږي، او دا به هیڅ پروانه لري.

بخلاف یوم العید الخ پاته سو د اختر په ورځ د روژې ممانعت، نو د هغه وجه دا ده چې د اختر په ورځ د الله جل جلاله توله بندګان د الله جل جلاله میلمانه وي، نو په دې ورځ کې روژه نه نیول د الله جل جلاله دعوت نه قبلول دي، او د الله جل جلاله دعوت پرېښول منهي عنه دي، نو د اختر په ورځ له مطلق روژې نیولو ځخه منع سوې ده، ځکه چې د دعوت پرېښولو معنیٰ په هر ډول روژو کې پیدا کیږي.

والکراهة هنا بصورة الخ له دې ځایه د یو مقدار سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې کله په رمضان باندې د رمضان په گومان سره روژه مخکې کول منهي عنه دي، نو پکار دا وه چې له رمضان ځخه مخکې د بل واجب(واجب آخر) روژه بالکل جائز وای، حال دا چې تاسو وفرمایل چې د کراهت سره جائز ده، جواب دا چې که څه هم دلته له واجب آخر ځخه صراحتاً نهي نه دې سوې، لیکن په دې حدیث لایصام الیوم ... کې صورتاً نهي سته، نو ځکه به د واجب آخر روژه مکروه تنزیهي وي.

په یومُ الشک کې د نفلي روژې د نیت حکم

وَالثَّالِثُ: أَنْ يَّنْوِيَ التَّطَوُّعَ او دریم صورت دا دی چې (روژه دار) د نفلي روژې نیت وکړي وَهُوَ غَيْرُ مَكْرُوْهٍ او دا(صورت) مکروه نه دی لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَوْلِهِ يُكْرَهُ عَلَى سَبِيْلِ الْإِبْتِدَاءِ او دا حدیث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی د هغه په دې قول یکره علی سبیل الابتداء کې (یعنې چې د ابتداء په توګه روژه مکروه ده) وَالْمُرَادُ بِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● "لَا تَتَقَدَّمُوا

● تخریج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبخاري في كتاب الصوم، باب لا يتقدم رمضان بصوم يوم، حديث رقم: ۱۹۳۱.

رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ وَلَا بِصَوْمِ يَوْمَيْنِ" اَلْحَدِيثَ، نَفْيُ التَّقَدُّمِ بِصَوْمِ رَمَضَانَ او د نبي ﷺ له دي قول لا تتقدموا رمضان... الخ څخه مراد د رمضان په روژې سره د مخکې کولو نهي مراد دي (يعني تلسو پر رمضان د رمضان په کومان يوه روژه يا دوې روژې مه مخکې کوئ) لِأَنَّهُ يُؤَدِّيهِ قَبْلَ أَوَانِهِ ځکه چې لسـان به روژه اداء کړي تر وخت مخکې (يعني که څوک پر رمضان د رمضان روژه مخکې کړي نو هغه به تر خپل وخت مخکې د روژې اداء کونکی سي) ثُمَّ إِنْ وَافَقَ صَوْمًا كَانَ يَصُومُهُ فَالصَّوْمُ أَفْضَلُ بِالْإِجْمَاعِ بيا که دا روژه د يو داسې روژې سره موافقه سوه چې هغه به (مخکې) ده نيوله (يعني بيا که دا ورځ پر هغې ورځې برابره سوه چې ده به روژه پکښې نيوله. او په دې ورځ به د ده روژه عادت وه) نو دا روژه بالاجماع افضله ده وَكَذَا إِذَا صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ آخِرِ الشَّهْرِ فَصَاعِدًا او همدارنګه که هغه د مياشتې په آخر کې درې ورځې يا تر دې زيات روژه نيوله وَإِنْ أَفْرَدَهُ فَقَدْ قِيلَ: اَلْفِطْرُ أَفْضَلُ او که دا روژه يې جلا نيولې وه (يعني د هغه د عادت د ورځې سره برابره نه سوه) نو ويل سوي دي: چې ماتول يې افضله دي اِحْتِرَازًا عَنْ ظَاهِرِ النَّهْيِ د نهي له ظاهر څخه د ځان ساتلو لپاره وَقَدْ قِيلَ: اَلصَّوْمُ أَفْضَلُ او ويل سوي دي: چې روژه افضله ده اِقْتِدَاءً بِعَلِيٍّ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حضرت علي او حضرت عائشې رَضِيَ الله عَنْهُمَا د اقتداء کولو لپاره فَإِنَّهُمَا كَانَا يَصُومَانِهِ ځکه چې هغوی دواړو به په دې ورځ کې روژه نيوله وَالْمُخْتَارُ أَنْ يَصُومَ الْمُفْتِي بِنَفْسِهِ أَخْذًا بِالْاِحْتِيَاطِ خو غوره خبره دا ده چې پر احتياط دې د عمل کولو لپاره مفتي په خپله روژه ونيسي وَيُفْتِيَ الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ او عامو خلکو ته دې د زوال تر وخته پورې د انتظار کولو فتوىٰ ورکړي ثُمَّ بِالْإِفْطَارِ نَفْيًا لِلتُّهْمَةِ بيا دې د تهمت د نفي کولو لپاره د افطار فتوىٰ ورکړي.

اللغات: ﴿أوان﴾ وخت، موقع، شيبې. ﴿تلوم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی؛ انتظار کول.

تشريح: دريم صورت دا دی چې يو څوک په يومُ الشک کې د نفلي روژې نيت وکړي، نو زموږ په نيز د هغه لپاره د نفلي روژې نيت کول جائز دي، مکروه نه دي، ځکه په دې حديث لا يصام اليوم الذی يشك فيه إلا تطوعاً کې نفلي روژه مستثنیٰ سوې ده. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې علیٰ سبيل الابتداء په يومُ الشک کې نفلي روژه نيول مکروه دي، د علیٰ سبيل الابتداء مطلب دا دی چې په کومه ورځ چې يوم الشک واقع سي، تر دې مخکې د دې سړي په دغه ورځ د روژې نيولو عادت نه وي، او نه يې د مياشتې په آخري ورځو کې د روژې نيولو عات وي، مثلاً د هغه عادت د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د روژې نيولو وي، او يوم الشک د شنبې په ورځ واقع سي، او د دې سړي د مياشتې په آخري ورځو کې هم د روژې نيولو عادت نه وي، نو د شنبې په ورځ (کومه چې يوم الشک واقع سوې ده) نفلي روژه نيول د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز مکروه دي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی؛ لا تتقدموا رمضان بصوم يوم ولا بصوم يومين إلا أن يكون صوماً يصومه رجل، له دې حديث څخه معلوميږي چې په يوم الشک کې مطلق روژه نيول منع دي، خو دا چې کله روژه د معمول او عادت

مطابق واقع سي، مثلاً د پنجشنبې په ورځ د يو چا عادت د روژې نيولو وي، او يوم الشک هم د پنجشنبې په ورځ واقع سي، نو په دې صورت کې به د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نفلي روژه مکروه نه وي.

زموږ دليل: په دې حديث لا يصام اليوم الذي... کې د "الاتطوعا" کلمه ده، ځکه چې په دې سره مطلقاً په يوم الشک کې د نفلي روژې اجازه سوې ده، هغه که د عادت مطابق واقع سي، يا واقع نه سي، نو دا حديث د خپل اطلاق په وجه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی.

والمراد الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث جواب ورکوي فرمايي چې ستا په حديث کې له مطلق روژې نيولو څخه منع نه ده سوې، بلکي له هغه روژې څخه منع سوې ده کوم چې تر رمضان مخکې د رمضان په ګومان او نيت سره ونيول سي، ځکه که تر رمضان مخکې د رمضان روژه ونيول سي، نو هغه به تر خپل وخت مخکې اداء سي، او د رمضان روژه تر وخت مخکې نه اداء کېږي، نو ځکه به د امام شافعي رَحِمَهُ الله په يوم الشک کې على سبيل الابتداء نفلي روژه مکروه ګرځول صحيح نه وي.

ثم إن وافق الخ د دې حاصل دا دی چې که د يوه سړي مثلاً هره جمعه د روژې نيولو عادت وي، او يومُ الشک هم د جمعې ورځ سي، يا د يو چا د هري مياشتي په آخري دريو ورځو کي د روژې نيولو عادت وي، او يوم الشک خو هم د مياشتي په آخري ورځو کي راځي، نو په دې صورت کي د هغه لپاره بالاتفاق نفلي روژه نيول افضله دي، لېکن که يوم الشک د هغه د عادت د ورځي سره برابره نه سي، يا د هغه په هره مياشت کي د آخري ورځو د روژو نيولو عادت نه وي، بلکي هسې د شک په ورځ روژه ونيسي، نو په دې لړ کي د محمد بن مسلمه رايه دا ده چې د حديث لايصام اليوم الذي يشك فيه الخ له ظاهري نهي څخه د ځان ساتلو لپاره روژه نه نيول او روژه ماتول افضله دي، لېکن نصير بن يحيى فرمايي چې په دې ورځ کي روژه نيول افضله دي، ځکه په دې کي د حضرت عائشې او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اقتداء ده، ځکه چې هغوی به د شک په ورځ روژه نيوله، او داسي به يې فرمايل: الصوم يوما من شعبان أحب إلينا من أن نفطر يوما من رمضان. د حديث مفهوم دا دی چې که دا ورځ د شعبان وي، نو موږ د شعبان په روژه ډېر خوشاله يو، ځکه که موږ نن روژه نه ونيوله او دا ورځ د رمضان اوله ورځ سوه نو د رمضان اوله روژه به پاته سي، نو غوره همدا ده چې د شک په ورځ روژه ونيول سي.

والمختار الخ فرمايي چې په دې لړ کي مختاره او غوره قول په عوامو او خواصو کي فرق کول دي، مطلب دا چې خواصو يعني علماؤ، فقهاؤ او مفتيانو ته پکار ده چې د احتياط لپاره دې په يومُ الشک کي نفلي روژه ونيسي، ځکه کېدای سي چې دا د رمضان اوله ورځ وي، او که رښتيا هم دا ورځ د رمضان سوه، نو دا حضرات به د بلبخته جاهلانو له انوهو، چټياتو او ستونزو څخه په تکليف سي، نو ځکه د خواصو لپاره د شک په ورځ روژه نيول غوره دي، لېکن خواصو ته پکار ده چې عامو خلکو ته تر زواله پوري د انتظار کولو او د خوراک، څښاک نه کولو حکم وکړي، بيا که تر زوال مخکي مياشته ثابته سي (يعني د مياشتي خبر راسي)، نو دا خلک دې هم د روژې نيت وکړي، او که ثابته نه سي نو تر زوال او نصف النهار وروسته دې هغوی ته د روژې ماتولو حکم وکړي. خو که خواص د روژې نيولو حکم وکړي، نو خلک به هغوی متهم کړي، او پر هغو به د رافضي مُهر ولګوي، ځکه چې د روافضو په نيز د شک په ورځ روژه نيول واجب دي، نو ځکه خواصو ته پکار ده چې په يوم الشک کي تر زواله پوري تر انتظار وروسته عامو خلکو ته د روژې ماتولو فتویٰ ورکړي.

په يوم الشک کې په غير يقيني نيت سره د روژې حکم

وَالرَّابِعُ: أَنْ يُضَجِّعَ فِي أَصْلِ النِّيَّةِ او څلورم صورت دا دی چې په اصل نيت کې ترددوکړي بِأَنْ يَنْوِيَ أَنْ يَصُومَ غَدًا إِنْ كَانَ مِنْ رَمَضَانَ (يعني) داسې نيت وکړي چې سبا به روژه نيسم که ورځ د رمضان وه وَلَا يَصُومُهُ إِنْ كَانَ مِنْ شَعْبَانَ او نه به يې نيسم که د شعبان ورځ وه وَفِي هَذَا الْوَجْهِ لَا يَصِيرُ صَائِمًا او په دې صورت کې هغه روژتي نه ګرځي لِأَنَّهُ لَمْ يَقْطَعْ عَزِيمَتَهُ ځکه چې هغه خپل عزم يقيني جوړ نه کړی (يعني پوخ نيت يې نه وکړی) فَصَارَ كَمَا إِذَا نَوَى أَنَّهُ إِنْ وَجَدَ غَدَاءً يُفْطِرُ نو داسې سو لکه دا نيت چې وکړي چې که سبا مې د خوراک يو شی پيدا کړی نو روژه به نه نيسم وَإِنْ لَمْ يَجِدْ يَصُومُ او که مې پيدا نه کړی نو روژه به نيسم.

اللغات: ﴿يضجع﴾ د تفعيل د باب مضارع معلومه ده: ترڌد کول، شک کول. ﴿عزيمة﴾ عزم، پخه اراده.

تشريح: څلورم صورت دا دی چې انسان د شک په ورځ يقيني او حتمي نيت نه وکړي، بلکې په تردد او شک سره يې وکړي، داسې ووايي چې که سبا ورځ د رمضان وه، نو زه به روژه نيسم او که د شعبان وه نو روژه به نه نيسم، په دې صورت کې د دې سړي روژه نه صحيح کيږي، ځکه چې د روژې د صحيح کېدلو لپاره قطعي او يقيني نيت ضروري دی. او دې سړي په نيت کې تردد پيدا کړی، نو ځکه به د هغه نيت معتبر نه وي، د دې مثال داسې دی لکه يو څوک چې داسې ووايي: که سبا ما ته د خوراک شی په لاس راغلی نو افطار به کوم (يعني روژه به ماتوم) او که په لاس نه راغلی، نو روژه به نيسم، ښکاره ده چې په دې صورت کې به هم د هغه روژه معتبره نه وي، ځکه چې د هغه نيت يقيني نه دی او په اصل نيت کې يې تردد سته، نو په پورتني صورت کې به هم د ارادې او نيت د نه يقيني والي په وجه د هغه روژه معتبره نه وي.

د نيت په وصف کې د ترڌد حکم

وَالْخَامِسُ: أَنْ يُضَجِّعَ فِي وَصْفِ النِّيَّةِ او پنځم صورت دا دی چې د نيت په وصف کې ترڌد وکړي بِأَنْ يَنْوِيَ إِنْ كَانَ غَدًا مِنْ رَمَضَانَ يَصُومُ عَنْهُ (يعني) داسې نيت وکړي چې که سبا ورځ د رمضان وه نو روژه به نيسم وَإِنْ كَانَ مِنْ شَعْبَانَ فَعَنْ وَاجِبٍ آخَرَ او که ورځ د شعبان وه نو د بل واجب روژه به نيسم وَهَذَا مَكْرُوهٌ او دا (صورت) مکروه دی لِتَرَدُّدِهِ بَيْنَ أَمْرَيْنِ مَكْرُوهَيْنِ ځکه چې نيت د دوو مکروه شيانو په مينځ کې دائر دی ثُمَّ إِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ رَمَضَانَ أَجْزَأَهُ بيا که ښکاره سوه چې دا ورځ د رمضان ده نو د هغه لپاره روژه کافي سوه لِعَدَمِ التَّرَدُّدِ فِي أَصْلِ النِّيَّةِ ځکه چې په اصل نيت کې هيڅ تردد نسته وَإِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ شَعْبَانَ لَا يُجْزِئُهُ عَنْ وَاجِبٍ آخَرَ او که ښکاره سوه چې دا ورځ د شعبان ده نو له بل واجب څخه به د هغه لپاره نه کافي کيږي لِأَنَّ الْجِهَةَ لَمْ تَثْبُتْ لِلتَّرَدُّدِ فِيهَا ځکه چې په وصف کې د تردد په وجه سره (د بل واجب) طرف ثابت نه سو وَأَصْلُ النِّيَّةِ لَا يَكْفِيهِ او د بل واجب لپاره اصل نيت کافي (هم) نه دی لَكِنَّهُ يَكُونُ تَطَوُّعًا لېکن دا روژه به (اوس) نفلي وي غَيْرَ مَضْمُونٍ بِالْقَضَاءِ (او) په قضاء سره به مضمونه نه وي (يعني که ماته يې کړي نو قضاء به يې واجب نه وي) لِشُرُوعِهِ فِيهِ مُسْقِطًا ځکه چې هغه په دې خيال سره دا روژه شروع کړې وه چې دا (د بل

واجب) ساقطونکې ده وَإِنْ نَوَى عَنْ رَمَضَانَ إِنْ كَانَ هٰذَا مِنْهُ وَعَنِ التَّطَوُّعِ إِنْ كَانَ مِنْ شَعْبَانَ لو كه د رمضان نيت وكړي په دې شرط كه سبا د رمضان ورځ وه او د نفلو نيت وكړي په دې شرط كه د شعبان ورځ وه يُكْرَهُ نو دا (هم) مكروه دي لِأَنَّهُ نَاوٍ لِلْفَرْضِ مِنْ وَجْهٍ ځكه چې هغه په يوه اعتبار د فرضو نيت كونكى دى ثُمَّ إِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ رَمَضَانَ أَجْزَأَهُ عَنْهُ بيا كه ښكاره سوه چې دا ورځ د رمضان ده نو دا روژه به د هغه لپاره كافي وي لِمَا مَرَّ د هغه دليل په وجه چې مخكې تېر سو وَإِنْ ظَهَرَ أَنَّهُ مِنْ شَعْبَانَ جَازَ عَنْ نَفْلِهِ او كه ښكاره سوه چې د شعبان ورځ ده نو د هغه نفلي روژه به جائز وي لِأَنَّهُ يَتَأَدَّى بِأَصْلِ النِّيَّةِ ځكه چې نفلي روژه په اصل نيت سره اداء كېږي وَلَوْ أَفْسَدَهُ يَجِبُ أَنْ لَا يَقْضِيَهُ او كه هغه دا روژه فاسده كړه نو د هغې قضاء نه راوړل به واجب وي لِدُخُولِ الْإِسْقَاطِ فِي عَزِيمَتِهِ مِنْ وَجْهٍ ځكه چې د هغه په اراده كې په يوه اعتبار سره فرض ساقطول داخل سو.

تشريح: له پنځو صورتونو څخه آخري او پنځم صورت دا دی چې انسان د نيت په وصف كې ترددپيدا كړي او داسې ووايي چې كه سبا د رمضان ورځ وه نو د رمضان روژه به نيسم او كه د شعبان ورځ وه، نو د بل واجب (واجب آخر) يعنې د قضاء او كفارې روژه به نيسم، صاحب د هدايې فرمايي چې دا صورت مكروه دی، ځكه په دې صورت كې چې نيت د كومو دوو روژو په مېنځ كې دائر سوی دی، يعنې د رمضان روژه او واجب آخر روژه، دا دواړه روژې په يوم الشک كې منع دي، د دې حديث لا يصام اليوم الذى الخ په وجه سره، نو ځكه به دا صورت مكروه وي.

ثم إن ظهر الخ فرمايي بيا كه ښكاره سوه چې دا د رمضان ورځ وه، نو د رمضان روژه اداء سوه، ځكه چې په اصل نيت كې هيڅ تردد نه راغلی، او د رمضان روژه په اصل نيت سره اداء كېدای سي، او كه ښكاره سوه چې د شعبان ورځ وه، نو واجب آخر نه اداء كېږي، ځكه چې د نيت په وصف كې د تردد په وجه سره د وجوب جهت ثابت نه سو، لېكن اصل نيت پيدا سو، خو اصل نيت د واجب آخر د اداء كولو لپاره كافي نه دی، ځكه چې د اصل نيت په صورت كې د واجب آخر تعيين نه كېږي، حال دا چې تعيين ضروري دی، لېكن د هغه دا روژه به نفلي وي (ځكه چې اصل نيت سته، او د رمضان ورځ هم نه ده)، او كه هغه سړي دا روژه ماته كړه، نو پر هغه به د دې قضاء لازم نه وي، ځكه چې هغه په دې نيت او اراده سره دا روژه شروع كړې وه چې كه د رمضان ورځ سوه، نو زما له ذمې څخه به فرض ساقط سي، او كه د شعبان ورځ سوه، نو واجب آخر به ساقط سي، لېكن له دې دواړو څخه يوه روژه هم ساقطه نه سو (او دا سړی د مظنون په درجه كې سو)، لهذا پر هغه به قضاء هم لازم نه وي.

وإن نوى الخ او كه يو چا د يوم الشک په شپه دا نيت وكړی چې كه سبا ورځ د رمضان سوه، نو د رمضان روژه به نيسم، او كه د شعبان سوه نو نفلي روژه به نيسم، نو دا هم مكروه دي، ځكه په دې صورت كې هم يو ډول د فرضي روژې (يعنې د رمضان د روژې) نيت راغلی، حال دا چې په يوم الشک كې د فرضي روژې نيت كول مكروه دي، اوس كه وروسته ښكاره سوه چې هغه ورځ د رمضان سوه، نو د رمضان روژه اداء كېږي، ځكه چې په اصل نيت كې تردد نه راغلی، او كه ښكاره سوه چې هغه ورځ د شعبان سوه، نو نفلي روژه به جائز كېږي، ځكه چې نفلي روژه هم په اصل نيت سره اداء كېږي، او كه هغه دا روژه ماته كړه، نو د هغه قضاء به نه پر لازمېږي، ځكه چې قضاء هغه وخت واجبېږي، چې كله په نيت كې يقين او جزم وي، او دلته هغه يقيني نيت نه دي كړی، ځكه هغه چې څرنګه چې د نفلي روژې نيت كړی دی،

همدارنګه يې د رمضان کېدلو په صـورت کې له خپلې ځاري څخه د فرضـو ساقطولو نيت هم کړی دی، نو دا سړی د مظنون سړي په ډول سو، او پر مظنون د هيڅ شي قضاء واجب نه ده، نو پر دې سړي به هم قضاء واجب نه وي.

که يوازې يوه سړي د روژې مياشته وليدله نو د هغه لپاره حکم

وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ وَحْدَهُ او څوک چې يوازې د رمضان مياشته ووينې صَامَ وَإِنْ لَمْ يَقْبَلِ الْإِمَامُ شَهَادَتَهُ نو هغه دې روژه ونيسي که څه هم امام د هغه ګواهي قبوله نه کړي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صُومُوا[1] لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "روژه ونيسئ د مياشتې په ليدلو سره او افطار وکړئ (اختر جوړ کړئ) د مياشتې په ليدلو سره." وَكَذَا رَأَى فَاطِرًا او دې سړي په ښکاره توګه مياشته وليدله (نو ځکه هغه ته روژه نيول پکار دي) وَإِنْ أَفْطَرَ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُوْنَ الْكَفَّارَةِ او که روژه يې نه ونيوله نو پر هغه قضاء واجب ده نه کفاره وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه کفاره (هم) واجب ده إِنْ أَفْطَرَ بِالْوِقَاعِ که په جماع سره يې روژه ماته کړه لِأَنَّهُ أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ حَقِيقَةً لِتَيَقُّنِهِ بِهِ ځکه هغه حقيقتاً په رمضان کې روژه ماته کړه ځکه چې هغه ته د رمضان يقين دی وَحُكْمًا لِوُجُوْبِ الصَّوْمِ عَلَيْهِ او حکماً (يې هم په رمضان کې روژه ماته کړه) ځکه چې پر هغه روژه واجب ده وَلَنَا أَنَّ الْقَاضِيَ رَدَّ شَهَادَتَهُ بِدَلِيْلٍ شَرْعِيٍّ او زموږ دليل دا دی چې قاضي د هغه ګواهي په شرعي دليل سره رد کړې ده وَهُوَ تُهْمَةُ الْغَلَطِ او هغه (شرعي دليل) د غلطۍ تهمت (تومت) دی فَأَوْرَثَ شُبْهَةً نو تهمت (د هغه په ليدلو کې) شبهه پيدا کړه وَهٰذِهِ الْكَفَّارَةُ تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ او دا کفاره په شبهاتو سره ختميږي وَلَوْ أَفْطَرَ قَبْلَ أَنْ يَرُدَّ الْإِمَامُ شَهَادَتَهُ او که هغه روژه ماته کړه مخکې تر دې چې امام د هغه ګواهي رد کړي اِخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيْهِ نو په دې باره کې مشائخو اختلاف کړی دی وَلَوْ أَكْمَلَ هٰذَا الرَّجُلُ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا لَمْ يُفْطِرْ إِلَّا مَعَ الْإِمَامِ او که دې سړي دېرش (۳۰) روژې پوره کړې (يا هم مياشته نه وليدل سوه) نو روژه به نه ماتوي (يعني اختر به نه جوړوي) مګر د امام سره لِأَنَّ الْوُجُوْبَ عَلَيْهِ لِلْإِحْتِيَاطِ ځکه چې پر هغه د اولې روژې واجبېدل د احتياط په وجه دي وَالْإِحْتِيَاطُ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي تَأْخِيْرِ الْإِفْطَارِ او تر دې وروسته احتياط د افطار په ځنډولو کې دی وَلَوْ أَفْطَرَ لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ او که روژه يې ماته کړه (يعني اختر يې جوړ کړی) نو پر هغه کفاره نسته اِعْتِبَارًا لِلْحَقِيْقَةِ الَّتِيْ عِنْدَهُ د هغه حقيقت په اعتبار کولو سره کوم چې د هغه سره دی.

اللغات: ﴿وقاع﴾ جماع کول، ﴿تندرئ﴾ د انفعال باب دی، له درء څخه مشتق دی: ختمېدل، ساقطېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي يوازې د رمضان مياشته وليدله، لېکن بل چا نه وليدله، حال دا چې آسمان صفا وو، نو اوس پر دې سړي لازم دي چې په خپله يوازې روژه ونيـ ـي، که څه هم د هغه ګواهي رد کړی سي، ځکه چې په حديث کې د صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته خطاب هر چا ته عام دی، نو چا ته چې هم رؤيت او ليدنه حاصله سي، پر

---

[1] أخرجه البخاري في كتاب الصوم، باب قول النبي ﷺ إذا رأيتم الهلال فصوموا، حديث رقم: ۱۹۰۹ - ۱۹۱۰.

هغه روژه نیول لازم دي، او څرنګه چې دې سړي په څرګنده توګه میاشته ولیدله، نو ځکه به پر ده هم روژه نیول لازم وي، او که ده روژه ماته کړه، نو زموږ په نېز پر ده صرف قضاء واجب ده، کفاره واجب نه ده، هغه که یې په خوراک، چښاک سره ماته کړي، یا یې په جماع او نورو سره ماته کړي، لېکن امام شافعي رحمه الله فرمایي چې که هغه د جماع په ذریعه سره روژه ماته کړي، نو پر هغه قضاء هم واجب ده، او کفاره هم.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې دې سړي په حقیقي رمضان کې روژه ماته کړه، ځکه چې ده میاشته ولیدله. او ده ته دا یقین سو چې دا ورځ د رمضان ده، او حکماً یې هم په رمضان کې روژه ماته کړه، ځکه چې د ده لپاره د شریعت حکم همدغه دی، لېکن کله چې هغه روژه نه ونیوله، بلکې په جماع سره یې روژه ماته کړه، نو ځکه به کفاره پر واجب وي.

زموږ دلیل: دا دی چې کله قاضي د ده ګواهي رد کړه، نو دا سړی شرعاً د اعتبار وړ پاته نه سو، او قاضي د ده ګواهي هم د شرعي دلیل په وجه رد کړه، او هغه شرعي دلیل د غلطۍ تهمت دی، ځکه چې د آسمان د صفاوالي سره سره فقط ده میاشته ولیدله، او بل چا نه ولیدله، حال دا چې په زرهاؤ مسلمانو په میاشتې پسې ګوري، نو د ده په باره کې د خطاء تهمت پیدا سو (چې شاید هغه به غلط وي، او میاشت به یې لیدلې نه وي)، او دې تهمت د ده په لیدلو کې یو ډول شبهه پیدا کړه، او کفاره د شبهاتو په وجه سره ساقطیږي، نو ځکه به پر دې سړي کفاره نه واجبیږي.

ولو أفطر قبل الخ د دې حاصل دا دی چې که امام تر اوسه د هغه ګواهي رد کړې لا نه وه چې دې سړي روژه ماته کړه، نو اوس به پر هغه کفاره واجب وي، که نه؟ فرمایي چې په دې لړ کې د مشائخو اختلاف دی، د بعضي مشائخو رایه دا ده چې په دې صورت کې هم پر هغه کفاره واجب ده، ځکه چې د کفارې د ساقطېدلو چې کوم علت وو یعنې د ګواهي ردېدل هغه علت دلته نسته، نو ځکه به کفار واجب وي، لېکن صحیح قول دا دی چې په دې صورت کې هم کفاره واجب نه ده، ځکه چې د قاضي له ردولو څخه علاوه هم دلته شبهه سته، په دې توګه چې له ټوله قوم او خلکو څخه علاوه یوازې هغه میاشته لیدلې او روژه یې نیولې ده، نو فقط د دې سړي میاشته لیدل او روژه نیول هم د حیرت او اشتباه وړ دي، او څرنګه چې شبهات کفاره ختموي، نو ځکه به په دې صورت کې هم پر هغه کفاره واجب نه وي.

ولو أكمل الخ د دې حاصل دا دی که دې سړي دېرش (۳۰) روژې پوره کړې، او د امام او عامو مسلمانانو نهه ویشت (۲۹) روژې پوره سوې، او په ۲۹ رمضان میاشته نه ولیدله سوه، نو دا سړی دې په دې خیال سره افطار نه کوي (یعنې اختر دې نه جوړوي) چې زما دېرش روژې خو پوره سوې، بلکې د امام سره دې اختر جوړ کړي، او دا روژه دې د امام سره ونیسي، ځکه چې اول یعنې یوازې د هغه د میاشتې په لیدلو سره پر هغه احتیاطاً روژه واجب سوې وه، یعنې دا روژه د احتیاط په وجه پر هغه واجب سوې وه، په دې وجه نه چې دا نو یقیني او قطعي د رمضان روژه ده، او څرنګه چې مخکې د احتیاط وجه وه، نو دلته هم د افطار په ځنډولو کې احتیاط دی، ځکه ممکنه ده چې هغه کومه اوله روژه نیولې وه، هغه به د رمضان نه وي، بلکې د شعبان به وي، نو د هغه به هم ۲۹ روژې پوره سوې وي، او کله چې دا امکان سته نو د هغه لپاره د امام سره اختر جوړول پکار دي، لېکن که بیا هم هغه یوازې اختر جوړ کړي، نو کفاره نه پر واجبیږي، ځکه چې دې سړي ته په خپل حق کې د دغه ورځې د اختر کېدلو یقین دی، نو د اختر د شبهې په وجه به د هغه له ذمې څخه کفاره ساقطیږي.

که آسمان ګرزمن یا وریځمن وو نو د یوه سړي د ګواهي حکم

وَإِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ او کله چې په آسمان کې یو علت وي قَبِلَ الْإِمَامُ شَهَادَةَ الْوَاحِدِ الْعَدْلِ فِي رُؤْيَةِ الْهِلَالِ نو امامُ المسلمین به د میاشتې د لیدلو په باره کې د یوه عادل انسان ګواهي قبلوي رَجُلًا كَانَ أَوِ امْرَأَةً حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا هغه که نر وي، که ښځه، آزاد وي، که غلام لِأَنَّهُ أَمْرٌ دِينِيٌّ ځکه د میاشتې لیدل یوه دیني مسئله ده فَأَشْبَهَ رِوَايَةَ الْأَخْبَارِ نو دا مسئله د حدیثونو د روایت سره مشابه شوه وَلِهَذَا لَا يَخْتَصُّ بِلَفْظِ الشَّهَادَةِ همدا وجه ده چې د میاشتې لیدلو ګواهي د شهادت د لفظ سره خاص نه ده وَتُشْتَرَطُ الْعَدَالَةُ او عادل کېدل شرط دي لِأَنَّ قَوْلَ الْفَاسِقِ فِي الدِّيَانَاتِ غَيْرُ مَقْبُولٍ ځکه چې په دیني خبرو کې د فاسق قول نه منل کېږي وَتَأْوِيلُ قَوْلِ الطَّحَاوِيِّ عَدْلًا كَانَ أَوْ غَيْرَ عَدْلٍ او د امام طحاوي رَحِمَهُ الله د دې قول عدلاً کان أو غیر عدل تأویل دا دی أَنْ يَكُونَ مَسْتُورًا چې د هغه حال پټ وي وَالْعِلَّةُ غَيْمٌ أَوْ غُبَارٌ أَوْ نَحْوُهُ او علت وریځ یا ګرز یا دا ډول بل شی دی وَفِي إِطْلَاقِ جَوَابِ الْكِتَابِ يَدْخُلُ الْمَحْدُودُ فِي الْقَذْفِ بَعْدَ مَا تَابَ او د متن د جواب په مطلق کېدلو کې محدود في القذف (هم) تر توبې کېدلو وروسته داخلیږي وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ او همدا ظاهر روایت دی لِأَنَّهُ خَبَرٌ ځکه چې (د میاشتې ګواهي) د خبر په درجه کې ده وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله أَنَّهَا لَا تُقْبَلُ لِأَنَّهَا شَهَادَةٌ مِنْ وَجْهٍ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې د محدود فی القذف ګواهي به نه قبلیږي ځکه چې د میاشتې ګواهي من وجه شهادت ده (یعني بالکل د خبر په درجه کې هم نه ده، بلکې یو ډول شهادت هم ده) وَكَانَ الشَّافِعِيُّ فِي أَحَدِ قَوْلَيْهِ يَشْتَرِطُ الْمَثْنَى او امام شافعي رَحِمَهُ الله به له خپلو دوو قولونو څخه په یوه قول کې د دوو خلکو شرط لګوی وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا ذَكَرْنَا او د هغه په خلاف هغه دلیل حجت دی کوم چې موږ ذکر کړی وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● قَبِلَ شَهَادَةَ الْوَاحِدِ فِي رُؤْيَةِ هِلَالِ رَمَضَانَ او دا صحیح ده (یعني دا خبره په صحیح روایت کې ثابته ده) چې نبي ﷺ د رمضان د میاشتې د لیدلو په باره کې د یوه سړي ګواهي قبوله کړه ثُمَّ إِذَا قَبِلَ الْإِمَامُ شَهَادَةَ الْوَاحِدِ بیا که امام د یوه سړي ګواهي قبوله کړه وَصَامُوا ثَلَاثِينَ يَوْمًا او خلکو دېرش روژې ونیولې (لیکن بیا هم میاشت نه ولیدل سوه) لَا يُفْطِرُونَ نو هغوی به افطار نه کوي (یعني اختر به نه جوړوي) فِيمَا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله د هغه قول مطابق چې حسن بن زیاد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت کړی دی لِلِاحْتِيَاطِ د احتیاط لپاره (یعني دا روایت پر احتیاط مبني دی) وَلِأَنَّ الْفِطْرَ لَا يَثْبُتُ بِشَهَادَةِ الْوَاحِدِ او په دې وجه (هم) چې افطار (اختر) د یوه سړي په ګواهي سره نه ثابتیږي وَعَنْ●

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الصيام، حديث رقم: ۲۱۳۳ – ۲۱۳۲.

● القول الراجح قول محمد رَحِمَهُ الله، وكذا في التبيين و في غاية البيان لقول محمد رَحِمَهُ الله أصح كذا في النهر الفائق، الهندية ج:۱، ص: ۱۹۸. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۹۶]

مُحَمَّدٍ أَنَّهُمْ يُفْطِرُونَ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دي چې خلک به افطار کوي (يعنې اختر به جوړوي) وَيَثْبُتُ الْفِطْرُ بِنَاءً عَلَى ثُبُوتِ الرَّمَضَانِيَّةِ بِشَهَادَةِ الْوَاحِدِ او فطر (اختر) به ثابتيږي پر دې خبره په بناء کولو سره چې د رمضان ثبوت د يوه سړي په گواهي سره دی (يعنې رمضان د يوه سړي په گواهي سره ثابتيږي، نو اختر به هم د يوه سړي په گواهي سره ثابتيږي) وَإِنْ كَانَ لَا يَثْبُتُ بِهَا ابْتِدَاءً که څه هم په ابتداء کې د يوه سړي په گواهي سره اختر نه ثابتيږي كَاسْتِحْقَاقِ الْإِرْثِ بِنَاءً عَلَى النَّسَبِ الثَّابِتِ بِشَهَادَةِ الْقَابِلَةِ لکه د وراثت استحقاق چې پر هغه نسب مبني دی کوم چې د يوې دايي (رضاعي مور) په گواهي سره ثابت سي.

اللغات: ﴿علة﴾ سبب، لامل، مرض، له اصل څخه خلاف حالت. ﴿ديانات﴾ د دين معاملات. ﴿غيم﴾ وريځ. ﴿غبار﴾ گرد. ﴿محدود في القذف﴾ هغه څوک چې د تهمت حد پر لگول سوی وي. ﴿قابله﴾ دايي (دايه)، رضاعي مور، د شيدو مور.

تشريح: مسئله: دا ده که آسمان صفا نه وو، بلکې وريځمن يا گردمن وو، او يو عادل انسان راغلی، د رمضان د مياشتي ليدلو گواهي يې ورکړه، نو امامُ المسلمين ته پکار دي چې د هغه گواهي قبوله کړي، او خلکو ته دي په را روانه ورځ کې د روژې نيولو حکم وکړي، گواهي ورکونکی که نر وي، او که ښځه، آزاد وي، که غلام، حاصل دا چې کله په هغه کې د عدالت صفت وي، نو د هغه گواهي دي قبوله کړي، او زموږ په نيز له عدالت څخه ماسوا بل شرط نسته، ځکه چې دا يوه ديني مسئله ده، نو دا مسئله د أحاديثو د روايت سره مشابه سوه، او د أحاديثو روايت هم يو ديني أمر او مسئله ده، او څرنگه چې د احاديثو په روايت کې صرف عدالت شرط دی، او شمېر يا آزادي او داسې نور شيان شرط نه دي، همداسې به په دې کې هم صرف عدالت شرط وي، او نور شرطونه به نه لگيږي، همدا وجه ده چې د رمضان د مياشتي د گواهي ورکولو لپاره د أشهد (زه گواهي ورکوم) الفاظ ويل ضروري نه دي، بلکې رأيت الهلال (ما مياشته وليدله) ويل کافي دي، ځکه چې د مياشتي گواهي يوه ديني مسئله ده، او د أشهد الفاظ ويل په ديني معاملاتو کې ضروري دي، نه په ديني مسئلو کې.

او د مياشتي په گواهي کې به عدالت ځکه شرط وي چې په ديني معاملو او مسئلو کې به د فاسق او غيرِ عادل قول نه منل کيږي.

وتأويل قول الطحاوي الخ د دې حاصل دا دی چې د مياشتي د ليدلو (رؤيتِ هلال) په مسئله کې خو احناف د شاهد د عدالت شرط لگوي چې ليدونکي به عادل وي، لېکن امام طحاوي رَحِمَهُ الله يو ځای د عدلا کان أو غير عدل عبارت ذکر کړی دی، چې له هغه څخه دا وهم کيږي چې د هغه په نيز عدالت شرط نه دی، صاحب د هدايې د امام طحاوي د قول علت او توجيه بيانوي، فرمايي چې له أو غير عدل څخه د امام طحاوي رَحِمَهُ الله مراد فاسق نه دی، بلکې له دې څخه يې مراد هغه عادل دی چې د هغه عدالت په خلکو کې مشهور او معروف نه وي، يعنې په رؤيتِ هلال کې به د هغه سړي شهادت هم منل کيږي، چې د هغه عدالت په خلکو کې مشهور نه وي بلکې مستور او پټ وي، لکه څرنگه چې د مشهور عادل شهادت منل کيږي.

والعلة الخ فرمايي: په متن کې چې کوم د إذا کان بالسماء علة عبارت ذکر سو، په هغه کې له علت څخه مراد وريځ، گرد، دوړه، دود، بُخار (او ورېم) دی، نو که په دې شيانو کې د يوه شي په وجه آسمان خړ وو، او د مياشتي ليدل ستونزمن وو، نو د يوه عادل سړي گواهي به معتبره وي.

ولإطلاق جواب الخ فرمايي: په متن کي چي کوم د قبل الإمام شهادة الواحد العدل عبارت ذکر سو، دا عبارت مطلق دی، چي اطلاق يې و دې خبري ته اشاره کوي چي که محدود فی القذف سړي توبه وکړه، نو تر توبې وروسته به د هغه گواهي هم معتبره وي، ځکه چي د میاشتي گواهي د خبر په درجه کي ده، یعني د یوې دیني مسئلې خبر ورکوي، او د دیني مسئلې په گواهي کي صرف عدالت ضروري دی، او په محدود فی القذف کي هم تر توبې وروسته د عدالت صفت پیدا کیږي، نو ځکه به د محدود فی القذف خبر او گواهي هم په دې باره کي معتبره وي، همدا ظاهرُ الروایة دی؛ صاحب د بنایې لیکلي دي چي یو صحابي محدود فی القذف وو، چي د هغه نوم حضرت ابو بکره ﷺ وو، کله چي هغه توبه وکړه، نو صحابه وو د رؤیتِ هلال په باره کي د هغه گواهي قبوله کړه، له دې ځخه هم معلومیږي چي محدود فی القذف که توبه وکړي، نو د هغه گواهي به معتبره وي.

ومن أبي حنيفة الخ په دې لړ کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه د غیر ظاهر الروایة مطابق یو روایت دا دی چي تر توبې وروسته به هم د محدود فی القذف گواهي نه قبلیږي، ځکه د میاشتي گواهي که څه هم له دیني مسئلو ځخه ده، لېکن بلکل د خبر په درجه کي نه ده، بلکي دا هم یو قسم شهادت او گواهي ده، او په قرآن کي راغلي چي د محدود في القذف گواهي به هیڅکله نه قبلیږي (ولا تقبلوا لهم شهادة أبدا)، نو ځکه به د هغه گواهي په دې باره کي نه قبلیږي.

وکان الشافعي الخ فرمايي چي له امام شافعي رَحِمَهُ الله ځخه د گواه په باره کي دوه(۲) قوله را نقل سوي دي: اول دا چي رؤیتِ هلال به د یوه سړي په گواهي سره نه ثابتیږي، بلکي د هغه لپاره به د دوو خلکو گواهي ضروري وي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دې قول په خلاف زموږ بیان سوی دلیل حجت دی، یعني چي دا یوه دیني مسئله ده، او د دیني مسئلې په باره کي به د یوه سړي گواهي هم قبلیږي، او دا حدیث هم د هغه په خلاف حجت دی چي نبي ﷺ هم د رؤیتِ هلال په باره کي د یوه أعرابي گواهي قبوله کړه، نو له دې ځخه معلومیږي چي دوه خلک ضروري نه دي.

ثم إذا قبل الخ د دې حاصل دا دی چي کله امام د رمضان د میاشتي په باره کي د یوه سړي گواهي قبوله کړي، او خلکو ته د روژې نیولو حکم وکړي، او خلک دیرش(۳۰) روژې پوره کړي، لېکن د دیرشمي روژې په ماښام د اختر میاشته نه ولیدله سي، نو اوس به را روانه ورځ خلک څه کوي؟ روژه به نیسي، که نه؟ په دې لړ کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه د حسن بن زیاد په روایت کي دا رانقل سوي دي چي احتیاطاً دي خلک را روانه ورځ هم روژه ونیسي، او افطار دي نه کوي (یعني اختر دي نه جوړوي)، ځکه کیدای سي چي دا دي د رمضان ۳۰ ورځ وي، او که په ۳۱ ورځ دا اختر د جوړولو حکم وسي، نو دا خرابي هم لازمیږي چي اختر به د یوه سړي په گواهي سره ثابت سي، حال دا چي د اختر د ثبوت لپاره د دوو خلکو گواهي ضروري ده.

ومن محمد الخ او له امام صاحب ځخه د امام محمد په روایت کي دا را نقل سوي دي چي امام به په ۳۱ ورځ خلکو ته د اختر جوړولو حکم کوي، ځکه کله چي هغوی په شمار ۳۰ روژې پوره کړې، نو اوس به ۳۱ روژې په هغو نه نیول کیږي، ځکه چي روژې له ۳۰ ځخه زیاتي نه راځي.

پاته سو دا سوال چي په دې صورت کي خو د یوه سړي په گواهي سره اختر ثابت سو، نو جواب دا دی چي د اختر د ثبوت لپاره خو ابتداءً د دوو خلکو گواهي ضروري ده، لېکن که د یو بل شي په ضمن کي اختر ثابتېدی، نو د هغه لپاره به بیا د دوو خلکو گواهي ضروري نه وي، او څرنگه چي دلته اختر د رمضان په ضمن کي ثابتیږي (ځکه خلکو د یوه

سري په ګواهي سره ۳۰ روژې پوره کړي، نو را روانه ورځ به خامخا د کوچني اختر وي)، لهذا ثابته سوه چې د يوه سړي په ګواهي سره به هم اختر ثابتيږي، نو د سوال ضرورت پاتې نه سو.

او د دې مسئلې بل مثال داسي دی چي که يوې دايي ښځي په ابتداء کي د وراثت د ثابتېدلو لپاره او د وراثت د استحقاق لپاره د يوه سړي په باره کي ګواهي ورکړه، نو د هغې په ګواهي سره به د سړي لپاره د وراثت استحقاق نه ثابتيږي، بلکي د دوو انسانانو ګواهي به ضروري وي، ځکه چي د يو بل شي په ضمن کي د هغه سړي د وراثت استحقاق ثابت نه سو، او که دايي ښځي د يوه کوچني په باره کي دا ګواهي ورکړه چي دا د فلانکي سړي بچی دی، نو د دايي په ګواهي سره خو دې بچي نسبت د فلانکي سړي سره ثابتيږي، نو د نسب په ضمن کي به د وراثت استحقاق هم ثابتيږي (حال دا چي ابتداءً د وراثت د استحقاق لپاره دوې ګواهۍ ضروري وې ځکه چي دا مسئله له معاملاتو څخه ده)، نو معلومه سوه که د يو بل شي په ضمن کي يو شی ثابتېدی، نو د هغه لپاره به دوې ګواهۍ ضروري نه وي، بلکي يوه ګواهي به هم کار کوي.

که آسمان صفا وو نو د ګواهۍ د معتبر والي شرطونه

وَإِذَا لَمْ تَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ او که په آسمان کي هيڅ علت نه وو نو (د يوه سړي) ګواهي به نه قبليږي حَتّٰى يَرَاهُ جَمْعٌ كَثِيْرٌ يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ تر دې چي هغه يو داسي ډېر جماعت ووينې چي د هغو په خبر سره علم يقيني حاصليږي لِأَنَّ التَّفَرُّدَ بِالرُّؤْيَةِ فِي مِثْلِ هٰذِهِ الْحَالَةِ يُوْهِمُ الْغَلَطَ ځکه په داسي حالت کي يوازي میاشته ليدل د غلطۍ وهم پيدا کوي فَيَجِبُ التَّوَقُّفُ فِيْهِ نو په دې کي به توقف کول واجب وي حَتّٰى يَكُوْنَ جَمْعًا كَثِيْرًا تر دې چي ليدونکي کثير جماعت سي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ په خلاف د هغه صورت چي په آسمان کي يو علت وي لِأَنَّهُ قَدْ يَنْشَقُّ الْغَيْمُ عَنْ مَوْضِعِ الْقَمَرِ ځکه چي وريځ کله ناکله د میاشتي له ځای څخه ليري کيږي فَيَتَّفِقُ لِلْبَعْضِ النَّظَرُ نو بعضي خلکو ته اتفاقاً په نظر راځي ثُمَّ قِيْلَ فِي حَدِّ الْكَثِيْرِ أَهْلُ الْمَحَلَّةِ بيا د کثير په اندازه کي ويل سوي دي چي هغه د محلې (کلي) والا دي (يعني چي پوره کلی يې ووينې نو دا کثير جماعت سو) وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ خَمْسُوْنَ رَجُلًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي پنځوس خلک دي اِعْتِبَارًا بِالْقَسَامَةِ پر قسامت باندي په قياسولو سره وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَهْلِ الْمِصْرِ وَمَنْ وَرَدَ مِنْ خَارِجِ الْمِصْرِ او هيڅ فرق نسته په مېنځ د ښاريانو او د هغو خلکو کي چي د ښار له بهر څخه راغلي وي وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ أَنَّهُ تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْوَاحِدِ او امام طحاوي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي د يوه سړي ګواهي به قبليږي إِذَا جَاءَ مِنْ خَارِجِ الْمِصْرِ چي کله هغه د ښار له بهر څخه راغلی وي لِقِلَّةِ الْمَوَانِعِ ځکه چي له ښار څخه بهر خنډونه کم وي وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ فِيْ كِتَابِ الْإِسْتِحْسَانِ او همدې طرف ته په كتابُ الاستحسان کي اشاره ده وَكَذَا إِذَا كَانَ عَلٰى مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ فِي الْمِصْرِ او همدارنګه چي کله میاشت ليدونکی سړی په ښار کي پر يو لوړ ځای وي (نو د امام طحاوي رَحِمَهُ الله په نيز به د هغه ګواهي هم قبليږي).

اللغات: ﴿جمع﴾ جماعت، ډله، مجمع، ﴿تفرد﴾ يوازي کېدل، ﴿ينشق﴾ شيرېدل، لښېدل (دلته مراد څنې ليري کېدل دي).

تشریح: **مسئله:** دا ده که آسمان صفا وو، وریځ، ګرز او داسي نور نه وو، نو په دې صورت کي به د رؤیت هلال په باره کي د یوه، دوو خلکو ګواهي نه قبلیږي، بلکي د دومره ښې جماعت ګواهي به قبلیږي چې د هغو په خبر سره د میاشتي لیدلو یقین حاصل سي (یعني چي انسان ته دا یقین سي چې دومره ډېر خلک درواغ نه وایي، بلکي واقعي یې میاشت لیدلې ده)، ځکه چي د آسمان د صفاوالي په وخت کي فقط د یوه، دوو خلکو میاشته لیدل او د نورو نه لیدل د غلطي وهم پیدا کوي، یعني دا وهم پیدا کوي چې که میاشت رښتیا هم راختلې وای نو نورو خلکو به هم لیدلې وای (ځکه چي کله آسمان صفا وي، نو حتماً یې ډېر خلک ویني)، نو داسي معلومیږي چې دا یو، دوه خلک به د میاشتي په لیدلو کي غلط سوي وي، هو! که پر آسمان وریځ وه، نو د یوه، دوو ګواهي به هم قبلیږي، ځکه په دې صورت کي د ډېرو خلکو لګیدل ناممکنه دي، خو د یوه یا دوو خلکو لیدل امکان لري، ځکه کله نا کله داسي هم کیږي چې د میاشتي له ځای څخه وریځ لیري سي (یعني د میاشتي پر برابر آسمان لڅ سي)، او د یو څا نظر پر میاشت ولګیږي، او بیرته وریځ پر راسي.

ثم قیل الخ پاته سوه دا خبره چي د کثیر مقدار څومره دی؟ نو بعضي حضراتو فرمایلي دي چي له کثیر څخه مراد د محلې (او کلي) ټوله خلک دي، یعني که د ټوله محلې خلکو میاشته ولیدله، نو رؤیت به ثابتیږي، او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي له کثیر څخه مراد پنځوس خلک دي، امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دا مسئله پر قسامت قیاس کړې ده، یعني که په محله (کلي) کي یو مړی پیدا سو، او قاتل معلوم نه سو، نو د محلې پنځوسو خلکو ته به پر دې قسم ورکول کیږي چې مورږ د مړي په قاتل او قصه خبره نه یو، نو څرنګه چي دلته د پنځوسو خلکو په قسم سره د قاتل په باره کي لاعلمي ثابتیږي، همدارنګه به د میاشتي په باره کي هم د پنځوسو خلکو په لیدلو سره رؤیت ثابتیږي.

ولا فرق الخ فرمایي چي که آسمان صفا وو، نو د یوه، دوو خلکو ګواهي به نه قبلیږي، تر څو چي جماعت کثیره یعني ډېر خلک نه وي، اوس برابره ده که دا ډېر خلک له هغو خلکو څخه وي چي هغو د ښار په آبادۍ کي میاشته لیدلې وي، یا هغه وي چي له ښار څخه یې بهر میاشته لیدلې وي او راسي ګواهي ورکړي، په دې دواړو کي هیڅ فرق نسته. امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمایي چي که یوه سړي هم له ښار څخه بهر میاشت لیدلې وي نو د هغه ګواهي به قبلیږي، ځکه چي له ښار څخه بهر د لیدلو موانع او خنډونه کم دي، یعني په ښکار کي خو دودان، ګرز او داسي نور ډېر خنډونه سته، لیکن له ښار څخه بهر دود او نور خنډونه نه وي، نو ځکه به د هغه قول قبلیږي، په کتابُ الاستحسان کي هم و دې و طرف ته اشاره ترلاسه کیږي (چي له بهر څخه د راتلونکي سړي ګواهي به قبلیږي)، همدارنګه د امام طحاوي رَحِمَهُ الله په نیز که یو څوک په ښار کي دننه پر یو لوړ ځای ودریږي او میاشت ووني، نو په دې صورت کي به هم د هغه ګواهي قبلیږي.

که د اختر میاشته یوازي یوه سړي ولیدله نو څه حکم دی؟

> **وَمَنْ رَأَى هِلَالَ الْفِطْرِ وَحْدَهُ** او څوک چي د اختر میاشته یوازي ووني **لَمْ يُفْطِرْ احْتِيَاطًا** نو هغه دي احتیاطاً افطار نه کوي (یعني اختر دي نه جوړوي) **وَفِي الصَّوْمِ الِاحْتِيَاطُ فِي الْإِيجَابِ** او د روژې د میاشتي په صورت کي احتیاط په روژه واجبولو کي دی.

تشریح: **مسئله:** دا ده چي که یو سړي یوازي د اختر میاشته ولیدله، او بل چا نه ولیدله، نو د دې سړي لپاره حکم دا دی چي یوازي دي افطار نه کوي، او احتیاطاً دي د را رواني ورځي روژه هم ونیسي، د دې په خلاف که یو چا د رمضان میاشت یوازي ولیدله، نو د هغه په حق کي احتیاط دا دی چي یوازي دي روژه ونیسي، چي داسي نه یوه روژه ځني فوت سي.

كه آسمان صفا نه وو نو د اختر په مياشته كې د ګواهۍ د معتبر والي شرطونه

وَإِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ او كه په آسمان كي يو علت وو لَمْ تُقْبَلْ فِي هِلَالِ الْفِطْرِ إِلَّا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ نو د اختر په مياشت كي به نه قبليږي مګر د دوو خلګو يا د يوه سړي او دوو ښځو ګواهي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ نَفْعُ الْعَبْدِ ځكه چي د دې ګواهي سره د بنده نفع تعلق لري وَهُوَ الْفِطْرُ او د بنده نفع فطر (يعني روژه پرېښودل) دي فَأَشْبَهَ سَائِرَ حُقُوقِهِ نو دا د بندګانو د نورو حقونو سره مشابه سوه وَالْأَضْحَى كَالْفِطْرِ فِي هَذَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د مياشتي د ليدلو په باره كي د لوی اختر حكم (هم) د ظاهر روايت مطابق د كوچني اختر په ډول دی وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحيح ده خِلَافًا لِمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د هغه كوم چي له امام صاحب څخه روايت سوي دي أَنَّهُ كَهِلَالِ رَمَضَانَ چي د لوی اختر مياشت د رمضان د مياشتي په ډول ده لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِهِ نَفْعُ الْعِبَادِ ځكه چي د لوی اختر سره (هم) د بندګانو نفع تعلق لري وَهُوَ التَّوَسُّعُ بِلُحُومِ الْأَضَاحِيِّ او هغه د قرباني په غوښو كي پراخي ده (يعني په دې ورځي غوښي په پېغرو وي، نو په دې كي هم د بندګانو نفع ده).

تشريح: مسئله: دا ده كه آسمان صفا نه وو، او په ۲۹ د رمضان آسمان وريځمن يا ګرزمن وو، نو د كوچني د اختر د مياشتي د ثبوت لپاره شرعي او كامل شهادت ضروري دي، يعني لږ تر لږه د دوو خلګو يا يوه سړي او دوو ښځو ګواهي ضروري ده، او دا خلك يا ښځي به آزاد وي، او د شهادت په لفظ سره به ګواهي وركوي، مثلاً داسي به وايي: "موږ ګواهي وركوو چي موږ مياشته ليدلې ده"، نو بيا به د دوی ګواهي معتبره وي، كنې نه به وي، ځكه چي د دې ګواهي سره د بندګانو حق او نفعه متعلق ده، چي هغه اختر او روژه پرېښودل دي، يعني كه دوی ګواهي ور نه كړي، نو را روانه ورځ به هم خلك روژه ونيسي، لېكن د دوی په ګواهي سره را روانه ورځ اختر كېږي، او ښكاره ده چي په دې كي د بندګانو نفعه ده، نو دا مسئله د بندګانو د نورو حقونو په ډول سوه، او خالص ديني مسئله پاته نه سوه، او څرنګه چي د حقوق العباد د ثبوت لپاره شرعي ګواهي ضروري ده (چي هغه دوه خلك دي، يا يو سړی او دوې ښځي دي)، نو د اختر د مياشتي لپاره به هم شرعي ګواهي ضروري وي.

والأضحى الخ فرمايي چي د مياشتي د ثبوت په حواله د لوی اختر د مياشتي حكم هم د كوچني اختر د مياشتي په ډول دی، يعني څرنګه چي د كوچني اختر د مياشتي لپاره د دوو خلګو يا يوه سړي او دوو ښځو ګواهي ضروري ده، همدارنګه د لوی اختر د مياشتي لپاره هم د دومره افرادو ګواهي ضروري ده، په دې شرط چي پورتني شرطونه يعني آزادي او د شهادت لفظ په دوی كي موجود وي، دا حكم د ظاهر الرواية مطابق دی، او همدا صحيح قول دی، لېكن په نوادر كي له امام څخه يو روايت د دې په خلاف دی، يعني د نوادر په روايت كي د امام صاحب په نيز د لوی اختر مياشته د رمضان د مياشتي په ډول ده، يعني د لوی اختر مياشت به هم د رمضان د مياشتي په ډول د يوه سړي په ګواهي سره ثابتيږي، په دې شرط چي آسمان صفا نه وي.

د دې روايت دليل دا دی چي د لوی اختر مياشته د يو ديني أمر او مسئلې سره تعلق لري، چي هغه حج دی، او د ديني امورو د ثبوت لپاره د يوه عادل سړي ګواهي كافي ده، نو ځكه به د رمضان په ډول د لوی اختر د مياشتي په ثبوت كي هم د يوه عادل سړي ګواهي كافي وي، او د ظاهر الرواية دليل دا دی چي د لوی اختر د مياشتي سره د بندګانو نفعه متعلق ده، يعني د لوی اختر په ورځو كي بندګان د خپل خدای مېلمانه وي، او د قرباني غوښي پربوانه او په پېغرو وي، او ښكاره ده

چې د خوبنو په پراخي کي د بندګانو نفعه ده، نو دا هم د حقوقُ العباد سره مشابه سوه، او د حقوقُ العباد د ثابتولو لپاره د يوه سړي ګواهي کفايت نه کوي، نو د لوی اختر د میاشتي د ثبوت لپاره به هم د يوه سړي ګواهي کافي نه وي، بلکي د کوچني اختر په ډول به د لوی اختر د میاشتي لپاره هم کامله او شرعي ګواهي ضروري وي.

که آسمان صفا وو نو د ګواهی حکم

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ او که په آسمان کي علت نه وو لَمْ تُقْبَلْ إِلَّا شَهَادَةُ جَمَاعَةٍ نو نه به قبليږي مګر د يو داسي جماعت ګواهي يَقَعُ الْعِلْمُ بِخَبَرِهِمْ چي د هغو په خبر سره يقيني علم حاصل سي كَمَا ذَكَرْنَا لکه مونږ چي (مخکي دا) ذکر کړه.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی، يعني د يوه يا دوو خلګو د شهادت قبلولو مسئله په هغه صورت کي ده چي کله آسمان صفا نه وي، لېکن که آسمان صفاوي، نو بيا د اختر د میاشتي د ثبوت لپاره هم د جماعت کثيره ګواهي ضروري ده چي د هغو په خبر سره يقيني علم حاصل سي، يعني چي د انسان دا يقين سي چي دومره ډېر خلګ دروغ نه وايي، بلکي واقعي يې میاشت ليدلې ده، لکه څرنګه چي د رمضان د میاشتي په بیان کي د دې پوره تفصيل تېر سو.

د روژې د وخت ابتداء او انتهاء

وَوَقْتُ الصَّوْمِ مِنْ حِينِ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ او د روژې وخت د صبح صادق (سپېلو چاودلو) څخه تر لمر لوېدلو پوري دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ [البقرة: ۱۸۷] څکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "خورئ! او چښئ! تاسو تر هغه پوري چي ښکاره سي تاسو ته سپين تار (سپېنی) له تور تاره څخه" إِلَى أَنْ قَالَ: ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ [البقرة: ۱۸۷] تر دې چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: بيا تاسو روژه پوره کړئ تر شپې پوري وَالْخَيْطَانِ بَيَاضُ النَّهَارِ وَسَوَادُ اللَّيْلِ او دواړه تارونه د ورځي سپينوالی او د شپې توروالی دی.

اللغات: ﴿كلوا﴾ د نصر د باب د امر صيغه ده: خوراک کول. ﴿خيط﴾ تار، سپېنی. ﴿بياض﴾ سپينوالی. ﴿سواد﴾ توروالی.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د روژې اول او آخري وخت بیانوي، فرمايي چي د روژې وخت له سپېلو چاودلو (صبح صادق) څخه تر لمر لوېدلو پوري دی، دليل دا آيت دی: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ، او تر دې وروسته فرمايي: ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ، په دې آيت کي له خيط أبيض څخه مراد د سهار رڼا ده، او له خيط أسود څخه د شپې تياره ده، چي د هغه ښکاره مطلب همدغه دی چي له صبح صادق څخه تر لمر لوېدلو پوري د روژې وخت دی.

د روژې تعريف

وَالصَّوْمُ هُوَ الْإِمْسَاكُ عَنِ الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْجِمَاعِ نَهَارًا مَعَ النِّيَّةِ او روژه منع کېدل (ځان نيول) دي له خوراک څښاک او کوروالي څخه ټوله ورځ سره د نيته لِأَنَّ الصَّوْمَ فِي حَقِيقَةِ اللُّغَةِ: هُوَ الْإِمْسَاكُ څکه چي روژه د لغت په حقيقت کي منع کېدل (او ځان نيول) دي لِوُرُودِ الْاِسْتِعْمَالِ فِيهِ څکه چي صوم په همدغه معنیٰ کي استعمال سوی دی إِلَّا أَنَّهُ زِيدَ

عَلَيْهِ النِّيَّةُ لِيَ السَّلامِ خو دا چي په شريعت کي پر دې نيت زيات سوی دی لِتَتَمَيَّزَ بِهَا الْعِبَادَةُ مِنَ الْعَادَةِ چي د نيت په ذريعه عبادت له عادت څخه جلا سي وَاخْتَصَّ بِالنَّهَارِ لِمَا تَلَوْنَا او روژه د ورځي سره خاص ده د هغه آيت په وجه کوم چي موږ تلاوت کړی وَلِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ الْوِصَالُ كَانَ تَعْيِينُ النَّهَارِ أَوْلَى او په دې وجه (هم) چي کله وصل ستونزمن دی نو د ورځي متعين به وي لِيَكُونَ عَلَى خِلَافِ الْعَادَةِ چي امساک د عادت خلاف سي وَعَلَيْهِ مَبْنَى الْعِبَادَةِ او هم پر دې د عبادت بنياد دی وَالطَّهَارَةُ عَنِ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ شَرْطٌ لِتَحَقُّقِ الْأَدَاءِ فِي حَقِّ النِّسَاءِ او له حيض او نفاس څخه پاکېدل شرط دي د ښځو په حق کي د اداء د ثابتېدلو لپاره.

اللغات: ﴿إمساك﴾ د انفعال د باب مصدر دی: منع کېدل، بندېدل، ځان نيول. ﴿زِيدَ﴾ د ضرب د باب ماضي مجهوله ده: زياتېدل، اضافه کېدل.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د روژې تعريف بيانوي، فرمايي چي په شريعت کي د روژې په نيت له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان نيولو ته صوم (روژه) ويل کيږي، ځکه په لغت کي د صوم لفظ مطلقاً د امساک په معنیٰ سره دی، ځکه چي تر اسلام مخکي به دا لفظ د امساک په معنیٰ استعمالېدی، لېکن په شريعت کي پر دې معنیٰ نيت هم زيات سو، چي د نيت په ذريعه د عادتي او عبادتي امساک په مينځ کي توپير راسي (يعني که د امساک سره نيت هم وو نو امساک به روژه او عبادت وي، او که نيت ور سره نه وو، نو هسي د عادت په توګه به وي)، او شرعي روژه د ورځي سره خاص ده، ځکه په دې آيت (كلوا واشربوا الخ) کي چي کوم حدّ او وخت بيان سوی دی، په هغه کي د روژې ابتداء او انتهاء ورځ ښوول سوې ده، او عقلي دليل دا دی چي صوم وصال يعني په ورځ او شپه دواړو کي روژه نيول ناممکنه دي، ځکه چي يوه مياشت پرلپسې د ورځي او شپې په خوراک نه کولو سره د مرګ قوي امکان سته، نو ځکه به صرف شپه يا صرف ورځ د روژې لپاره متعينول ضروري وي، او په ورځ کي د انسان عادت دا دی چي ډېر خوراک، څښاک کوي، نو د عقل په تقاضا ورځ متعينول غوره دي، د دې لپاره چي د ورځي امساک يعني په ورځ کي له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان نيول د عادت خلاف سي، او د عبادت بنياد هم پر دې دی چي د عادت خلاف به وي، نو ځکه د شرعي روژې لپاره ورځ خاصول زيات غوره دي.

والطهارة الخ د دې حاصل دا دی چي د ښځو په حق کي د روژې د اداء کولو لپاره له حيض او نفاس څخه پاکېدل شرط او ضروري دي، ځکه چي حيض او نفاس د روژې منافي دي. او د منافي شي سره روژه نه سي اداء کېدلای، نو په دې خاطر له حيض او نفاس څخه پاکېدل شرط دي.



بَابُ مَا يُوجِبُ الْقَضَاءَ وَالْكَفَّارَةَ

(دا) باب د هغو شیانو (په بیان کې) دی چې قضاء او کفاره (دواړه) واجبوي

تشریح: صاحب د هدایې د صوم له اقسامو څخه تر فراغت وروسته اوس هغه شی بیانوي چې د صوم لپاره مُتمم او پوره کوونکی وي، یعني کفاره، او د روژې هغه صورتونه هم بیانوي چې د هغو د فساد په صورت کې صرف کفاره، یا قضاء او کفاره دواړه واجبیږي.

په هېره سره د خوراک، څښاک او کوروالي حکم

وَإِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا لَمْ يُفْطِرْ او که روژتي په هېره سره خوراک یا څښاک یا کوروالی وکړي نو روژه یې نه ماتیږي وَالْقِيَاسُ أَنْ يُفْطِرَ لیکن قیاس دا دی چې روژه یې ماتیږي وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ او همدا د امام مالک رحمه الله قول دی لِوُجُودِ مَا يُضَادُّ الصَّوْمَ ځکه چې د روژې ضد پیدا سو فَصَارَ كَالْكَلَامِ نَاسِيًا فِي الصَّلَاةِ نو دا په لمانځه کې په هېره د خبرو کولو په شان سوه وَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● لِلَّذِي أَكَلَ وَشَرِبَ نَاسِيًا د استحسان وجه دا ده چې نبي ﷺ هغه سړي ته فرمایلي وو چې هغه په هېره خوراک، څښاک کړی وو تِمَّ عَلَى صَوْمِكَ فَإِنَّمَا أَطْعَمَكَ اللهُ وَسَقَاكَ "ته خپله روژه پوره کړه! ځکه چې په تا الله ﷻ خوارک او څښاک وکړی" وَإِذَا ثَبَتَ هٰذَا فِي الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ او کله چې دا حکم په خوراک، څښاک کې ثابت سو ثَبَتَ فِي الْوِقَاعِ نو د جماعت په حق کې به (هم) ثابتیږي لِلْإِسْتِوَاءِ فِي الرُّكْنِيَّةِ ځکه چې په فرضیت کې (تموله) برابر دي (یعني لکه څرنګه چې له خوراک او څښاک څخه منع کېدل فرض دي، همدارنګه له جماع څخه هم...) بِخِلَافِ الصَّلَاةِ لِأَنَّ هَيْئَةَ الصَّلَاةِ مُذَكِّرَةٌ په خلاف د لمانځه ځکه چې د لمانځه حالت ور په یادونکی دی فَلَا يَغْلِبُ النِّسْيَانُ نو (په لمانځه کې) به هېره نه غالبیږي وَلَا مُذَكِّرَ فِي الصَّوْمِ او په روژه کې هیڅ ور په یادونکی شی نشته فَيَغْلِبُ نو (په دې کې) به هېره غالبیږي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْفَرْضِ وَالنَّفْلِ او د فرضي او نفلي روژې په مینځ کې هیڅ فرق نشته لِأَنَّ النَّصَّ لَمْ يُفَصِّلْ ځکه چې نص (حدیث) هیڅ فرق کړی نه دی.

اللغات: ﴿وِقاع﴾ جماع (کوروالی)، ﴿استواء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: برابرېدل، ﴿هیأة﴾ حالت، صورت، ﴿مذکرة﴾ د تفعیل د باب اسم فاعل دی: په یاد ور ویستل، ور په یادول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو روژتي په هېره خوراک یا څښاک وکړي، یا یې په هېره د خپلې ښځې سره جماع وکړه، نو استحساناً د هغه روژه نه ماتیږي، لیکن قیاساً د هغه روژه ماتیږي، د امام مالک قول هم دغه دی چې ماتیږي، او د

● تخریج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبخاري في كتاب الصوم، باب الصائم إذا أكل أو شرب ناسيا، حديث رقم: ١٩٣٣.

دې قول دلیل دا دی چې روژه امساک ته ویل کیږي، او خوراک، څښاک یا جماع کول د امساک ضد دي، او قاعده دا ده چې یو شی هم د خپل ضد سره یوځای نه سي، نو که خوراک او څښاک وسي، نو امساک ختمیږي، او کله چې امساک ختم سي، نو ښکاره ده چې روژه هم ماتیږي، او څرنګه چې یو سړی په هېره په لمانځه کې خبرې وکړي نو د هغه لمونځ باطلیږي، همدارنګه به په هېره په خوراک، څښاک سره هم روژه فاسدیږي.

د استحسان دلیل: دا دی چې یو صحابي د روژې په حالت کې په هېره څه خوراک وکړی، او بیا د نبي ﷺ په خدمت کې حاضر سو، ورته وویل: یا رسول الله ﷺ إني أكلت و شربت ناسيا و أنا صائم (اې د الله رسوله! زما روژه وه، لیکن په هېره مې څه خوراک، څښاک وکړی)، نو نبي ﷺ وفرمایل: الله أطعمك و سقاك، یا یې داسې وفرمایل: تم علی صومك فإنما أطعمك الله و سقاك، (ته خپل روژه پوره کړه! په تا خو الله خوراک اوڅښاک وکړی)، له دې حدیث څخه دا خبره څرګندیږي چې په هېره په خوراک، څښاک سره روژه نه ماتیږي، د دې حدیث د مطابق نور هم ډېر حدیثونه سته، او ټوله ملګره رابښيي چې نسیان معاف دی، او په هېره خوراک، څښاک د روژې پر صحت هیڅ اغېزه نه کوي.

وإذا ثبت هذا الخ د دې حاصل دا دی چې دا خو په حدیث سره ثابت سو چې په هېره په خوراک، څښاک سره روژه نه ماتیږي، او څرنګه چې د روژې بل فرض له جماع څخه هم منع کېدل او امساک کول دي، او د امساک په مجموعه کې جماع هم سته، نو ځکه به په هېره په جماع سره د روژې نه ماتېدلو حکم په دلالتُ النص سره ثابتیږي، ځکه چې د منع کېدلو په حکم کې جماع د خوراک، څښاک په ډول ده، او څرنګه چې په هېره په خوراک، څښاک سره روژه نه ماتیږي، نو ځکه به په هېره په جماع کولو سره هم روژه نه ماتیږي، او د جماع حکم به په دلالتُ النص سره ثابت وي.

بخلاف الصلاة الخ له دې ځایه صاحب د هدایې د امام مالک رَحِمَهُ الله د قیاس جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې روژه پر لمانځه قیاسول قیاس مع الفارق دی، په دې توګه چې د لمانځه حالت په یاد ورستونکی حالت دی، یعني د لمانځه په ټوله وخت کې د انسان دا په یاد وي چې زه په لمانځه کې یم، ځکه چې د لمانځه حالت د عادي او د غیرِ لمانځه له حالت څخه بالکل جلا او مختلف دی، نو د لمانځه په حالت کې هېره او نسیان نه سي غالبېدلای، د دې په خلاف د روژې حالت په یاد ورستونکی نه دی ځکه چې د روژتي او غیرِ روژتي دواړو حالت برابر دی، ځکه د روژې تعلق د باطن سره دی، نه د ظاهر سره، نو پر روژتي د هېرې غالبېدل ډېر ممکن او اکثر دي، اوس تاسو وګورئ چې د دومره فرق بلوجود به روژه پر لمانځه قیاسول څرنګه صحیح وي.

ولا فرق الخ فرمایي چې روژه که نفلي وي، او که فرضي، په دواړو صورتونو کې په هېره خوراک، څښاک او جماع کولو سره روژه نه فاسدوي، ځکه په حدیث کې د فرضي او نفلي روژې هیڅ تفصیل او فرق نه دی ذکر سوی، بلکې په دې باره کې حدیث مطلق دی والمطلق یجری علی إطلاقه.

په غلطۍ یا د بل چا په زور سره د روژې ماتولو حکم

وَلَوْكَانَ مُخْطِئًا أَوْ مُكْرَهًا او که روژتي خطاء کونکی وي او یا زور پر سوی وي (یعني مجبوره سوی وي) فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ نو پر هغه قضاء واجب ده خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّهُ يَعْتَبِرُهُ بِالنَّاسِيْ ځکه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله خطاء کونکی پر هېري والا قیاسوي وَلَنَا أَنَّهُ لَا يَغْلِبُ وُجُوْدُهُ او زموږ دلیل دا دی چې د خطاء

وجود غالب نه دی وَعُذْرُ النِّسْيَانِ غَالِبٌ او د هيري عذر غالب دی وَلِأَنَّ النِّسْيَانَ مِنْ قِبَلِ مَنْ لَهُ الْحَقُّ او په دې وجه (هم) چې هېره د هغه چا له طرفه ده چې هغه لره حق ثابت دی (يعني هېره د الله ﷻ له طرفه راځي) وَالْإِكْرَاهُ مِنْ قِبَلِ غَيْرِهِ او اکراه د بل چا له طرفه دی (يعني بنده را ولاړيږي او بل بنده مجبوره کوي) فَيَفْتَرِقَانِ نو نسيان او اکراه به دواړه سره جلا وي كَالْمُقَيَّدِ وَالْمَرِيضِ فِي قَضَاءِ الصَّلَاةِ لکه تړل سوی انسان او مريض انسان د لمانځه په حق کې.

اللغات: ﴿مقيد﴾ د تفعيل اسم مفعول دی، تړل سوی سړی (مثلاً په زولنو تړل سوی).

تشريح: د نسيان او خطاء په مينځ کي فرق دا دی چې د نسيان په صورت کي خو ناسي (هېرونکی) د فعل اراده کوي، لېکن روژه يې په ياد نه وي، يعني ناسي خو د خوراک، څښاک اراده کوي، لېکن خپله روژه ورته ياده نه وي، او خاطئ (خطاء والا) ته خو روژه ياده وي، لېکن د فعل لاراده يې نه وي، مثلاً روژتي په خوله اوبه غرغره کړي، او بې له ارادې اوبه ستوني ته ولاړې، نو دلته خو د هغه روژه په ياد وه، لېکن اوبه د هغه په اراده سره ستوني ته نه ولاړې، بلکې په خپله او بې له ارادې ستوني ته ولاړې.

صورت د مسئلې: دا دی که يو روژتي په غلطي او خطاء سره يو شی وخوړی يا يې وڅښي، يا يې جماع وکړه، يا يو چا په زوره خوراک، څښاک په وکړی، نو زموږ په نيز د هغه روژه ماتيږي، او پر هغه د دې روژې قضاء واجب ده، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې څرنګه د هيري په خوراک، څښاک سره روژه نه ماتيږي، او د هغه قضاء نه واجبيږي، همدارنګه په خطاء يا زور (اکراه) سره هم د خوراک، څښاک په صورت کي روژه نه ماتيږي، او کله چې روژه نه ماتيږي، نو د هغه قضاء به هم واجب نه وي.

زموږ دليل او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب دا دی چې په نسيان، خطاء او اکراه کي د مځکي او آسمان فرق دی، او يو پر بل قياسول صحيح نه دي، ځکه چې نسيان کثير الوقوع دی، لېکن خطاء او اکراه دواړه قليل الوقوع دي، دويمه خبره دا ده چې نسيان د صاحب حق يعني د الله طرفه راځي، لېکن خطاء او اکراه د بندګانو له طرفه ثابتيږي، نو په نسيان، خطاء او نورو کي ډېر فرق دی، لهذا د دوی احکام به هم جلا جلا وي، او د دواړو په باره کي به يو حکم کول صحيح نه وي، لکه يو سړی چې په زولنو کي بندي وي، او په ناسته لمونځ کوي، او بل سړی مريض وي او هغه هم په ناسته لمونځ کوي، نو د مريض لمونځ خو په ناستي سره صحيح کيږي، او د راګرځولو ضرورت يې نسته، لېکن په زولنو کي بندي سړی چې کله آزاد کړی سي، نو پر هغه به د لمانځه راګرځول واجب وي، ځکه چې بندول او قيدول د بندګانو فعل دی، او مريض کول (ناروغه کول) د الله فعل دی، او د بنده او د الله په فعل کي فرق دی، نو د دغو دافعالو په احکامو کي به هم فرق وي.

په روژه کي د احتلام حکم

وَإِنْ نَامَ فَاحْتَلَمَ لَمْ يُفْطِرْ او که روژتي بيده سو او احتلام ورته راغلی نو روژه يې نه ماتيږي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: ثَلَاثٌ لَا يُفْطِرْنَ الصِّيَامَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې درې شيان روژه نه ماتوي اَلْقَيْءُ وَالْحِجَامَةُ وَالْاِحْتِلَامُ قی، ښکر لګول او احتلام وَلِأَنَّهُ لَمْ تُوجَدْ صُورَةُ الْجِمَاعِ وَلَا مَعْنَاهُ او په دې وجه (هم) چې نه د جماع

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصوم، باب ما جاء في الصائم يذرعه القيئ، حديث رقم: ۷۱۹.

صورت پيدا سو او نه د جماع معنیٰ وَهُوَ الْإِنْزَالُ عَنْ شَهْوَةٍ بِالْمُبَاشَرَةِ او د جماع معنیٰ د کوروالي په ذريعه په شهوت سره انزالېدل دي.

اللغات: ﴿المباشرة﴾ جماع، کوروالی.

تشريح: مسئله: دا ده چې په احتلام سره روژه نه فاسديږي، لهذا که يو روژتي بيده سو، او شيطان خطا ايستی، نو د هغه روژه نه فاسديږي، ځکه په حديث کي ذکر سوي دي چې درې شيان روژه نه ماتوي: (١) بې اختياره قی وهل، (٢) ښکر لګول، (٣) احتلام کېدل. عقلي دليل دا دی چې روژه خو ماتيږي په جماع سره، او په احتلام کي نه صورتاً جماع سته، او نه معناً. صورتاً جماع خو ښکاره ده چې نسته، او د معناً جماع کيفيت دا دی چې دخول نه وسي، لېکن بيا هم د ښځي او نر د يو ځاي والي په وجه په شهوت سره انزال وسي، نو معناً جماع هم نسته، ځکه چې دلته خو نه نر او ښځه سره يو ځاى سوي دي، او نه په شهوت سره انزال سته. نو ځکه به جماع نه ثابتيږي، او کله چې جماع ثابته نه سوه، نو روژه به هم نه فاسديږي.

په روژه کي ښځي ته په کتلو سره يا په موټ وهلو (استنماء باليد) سره د انزال حکم

وَكَذَا إِذَا نَظَرَ إِلَى امْرَأَةٍ فَأَمْنَى او همدارنګه که روژتي يو ښځي ته وکتل او انزال سو (نو روژه يې نه ماتيږي) لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی فَصَارَ كَالْمُتَفَكِّرِ إِذَا أَمْنَى او دا داسي سو لکه (د ښځي په باره کي) سوچ کونکی سړی چې کله هغه انزال سي وَكَالْمُسْتَمْنِي بِالْكَفِّ عَلَى مَا قَالُوا او لکه په ورغوي سره د مني وو را ايستونکي سړی لکه څرنګه چې فقهاوو ويلي دي.

اللغات: ﴿أمنى﴾ د افعال د باب ماضي ده: مني وتل، انزالېدل. ﴿مستمنى﴾ د استفعال د باب اسم فاعل دی: مني را ايستل.

تشريح: مسئله: دا ده که روژتي يوه ښځه وليدله، او انزال سو. يا روژتي د يوې ښځي د ښکلا او ښايست په باره کي سوچ کوی، او انزال سو. يا يو چا په خپله په لاس مني راوستله. نو په دې ټولو صورتونو کي روژه نه فاسديږي، ځکه چې په يوه صورت کي هم نه صورتاً جماع سته او نه معناً. نو کله چې هيڅ ډول جماع نسته. نو روژه به هم نه فاسديږي، ځکه چې روژه فاسديږي په جماع سره.

ښځي ته په کتلو يا د هغې په باره کي په سوچ سره د انزال په صورت کي روژه نه ماتېدل خو د قياس مطابق دي، لېکن په موټ وهلو سره د روژې ماتېدل يا نه ماتېدل مختلف فيه دي، صاحب د هدايې چې کومه رايه ذکر کړې ده، هغه د بعضي مشائخو ده. لېکن د اکثره مشائخو رايه دا ده چې موټ وهل روژه فاسدوي، او همدا محقق او مختاره قول دی.

په روژه کي د تېلو، رانجو او ښکر لګولو حکم

وَلَوِ ادَّهَنَ لَمْ يُفْطِرْ او که روژتي تېل ولګوي نو روژه يې نه ماتيږي لِعَدَمِ الْمُنَافِي ځکه د روژې (يو) منافي (شی) نسته وَكَذَا إِذَا احْتَجَمَ او همدارنګه چې کله ښکر ولګوي (نو روژه يې نه ماتيږي) لِهَذَا وَلِمَا رَوَيْنَا د دې دليل په وجه او د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلَوِ اكْتَحَلَ لَمْ يُفْطِرْ او که سترګي رانجه کړي نو (هم) يې روژه نه

ماتیږي لِأَنَّهُ لَيْسَ بَيْنَ الْعَيْنِ وَالدِّمَاغِ مَنْفَذٌ ځکه چې د سترګې او دماغ په مینځ کې هیڅ لاره نشته وَالدَّمْعُ يَتَرَشَّحُ كَالْعَرَقِ او اوښکې د خوڼو په ډول راڅاڅي وَالدَّاخِلُ مِنَ الْمَسَامِّ لَا يُنَافِيْ او په مسام کې داخلېدونکی شی د روژې منافي نه دی كَمَا لَوِ اغْتَسَلَ بِالْمَاءِ الْبَارِدِ لکه یو څوک چې په یخو اوبو سره غسل وکړي.

اللغات: ﴿ادهن﴾ د افتعال د باب ماضي ده، په اصل کې ادتهن وو: تېل او غوړي لګول. ﴿احتجم﴾ مخکنۍ صیغه ده: ښکر لګول. ﴿اکتحل﴾ مخکنۍ صیغه ده: رانجه لګول. ﴿منفذ﴾ لاره. ﴿دمع﴾ اوښکې. ﴿یترشح﴾ د تفعل د باب مضارع ده: څڅېدل، بهېدل ﴿عرق﴾ خوله. ﴿مسام﴾ د وښتو په بېخ کې هغه نرۍ سوري چې خوله ځنې راوځي، جمع یې مسامات راځي.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې د روژتي لپاره تېل، ښکر، او رانجه لګول ټوله صحیح او جائز دي، او له دې شیانو څخه یو شی هم روژه نه فاسدوي، ځکه نه خو تېل لګول د روژې منافي دي، او نه ښکر او رانجه لګول د روژې منافي دي، او بیا د ښکر لګولو په باره کې خو په دې حدیث: ثلاث لایفطرن الصیام القیئ والحجامة والاحتلام، کې دا صراحت هم سوی دی چې هغه روژه نه ماتوي، همدارنګه په رانجه لګولو سره هم د روژې پر صحت هیڅ اغېزه نه پرېوځي، ځکه چې رانجه په سترګو کې لګېږي، او د سترګو او دماغ په مینځ کې هیڅ لاره نشته، چې په هغه سره رانجه سیده دماغ یا ستوني ته ولاړ سي، او قاعده دا ده چې کله یو شی دماغ یا ستوني یا نس ته ورسېږي، نو هغه روژه فاسدوي، او که دا سوال وسي چې کله د دماغ او سترګو په مینځ کې لاره نشته نو اوښکې له کومه راوځي، جواب دا دی چې اوښکې هم د خولې (عرق) په ډول له مساماتو او له کوچنیو سوریو څخه راوځي، لهذا په دې سره پر لاره دلیل نیول صحیح نه دي. او د مساماتو له لاري څخه چې یو شی داخل سي، نو په هغه سره د روژې په صحت کې هیڅ اثر نه راځي، لکه یو څوک چې په یخو اوبو سره ولمبېږي، نو د مساماتو په ذریعه هغه په بدن کې دننه یخوالي او تازګي احساسوي، او په ټوله بدن کې یې یو ډول سېرابي او چستي راسي، لېکن بیا هم په دې سره روژه نه ماتېږي، همدارنګه که د رانجو اثر هم د مساماتو په ذریعه تر ستوني پوري ورسېږي، نو په دې سره به روژه نه ماتېږي.

په روژه کې د مچې اخیستلو حکم

وَلَوْ قَبَّلَ امْرَأَةً لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ او که روژتي خپله ښځه مچ کړي نو روژه یې نه فاسدېږي يُرِيْدُ بِهِ إِذَا لَمْ يُنْزِلْ مراد دا دی چې کله انزال نه سي لِعَدَمِ الْمُنَافِيْ صُوْرَةً وَمَعْنًى ځکه چې منافي نه صورتاً سته او نه معناً بِخِلَافِ الرَّجْعَةِ وَالْمُصَاهَرَةِ په خلاف د رجعت او مصاهرت لِأَنَّ الْحُكْمَ هُنَاكَ أُدِيْرَ عَلَى السَّبَبِ ځکه چې هلته د حکم مدار پر سبب دی عَلٰى مَا يَأْتِيْ فِيْ مَوْضِعِهٖ إِنْ شَاءَ اللهُ چې پر خپل ځای به (د هغه تفصیل) راسي انشاء الله تعالیٰ.

اللغات: ﴿قبّل﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: مچول. ﴿مصاهرة﴾ هغه قرابت چې د زوم له طرفه وي، (حرمت مصاهرت).

﴿أدیر﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: مدار کېدل.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو روژتي سړي له خپلې ښځې څخه په شهوت مچه واخیستله، او انزال نه سو، نو د هغه روژه نه فاسدېږي، ځکه چې په مچولو کې نه صورتاً جماع سته، او نه معناً، او جماع روژه فاسدوي، نو کله چې د جماع هیڅ احتمال او شبهه نشته، نو ښکاره ده چې روژه به هم نه فاسدېږي، د دې په خلاف که یو سړي په خپله طلاقه سوې

ښځه (چي هغه په رجعي طلاق سره طلاقه سوي وه په عدت کي) په شهوت سره مچ کړه، نو رجعت ثابتيږي، همدا ډول که يوه پردۍ ښځه يې په شهوت سره مچ کړه، نو حرمتِ مصاهرت ثابتيږي، ځکه په رجعت او مصاهرت کي د حکم دارومدار د جماع پر سبب دی، نو څرنګه چي په جماع سره رجعت او مصاهرت ثابتيږي، همدارنګه به د جماع په سبب يعني په مچه اخيستلو سره هم ثابتيږي.

په روژه کي په مچه اخيستلو يا مسه کولو سره د انزال حکم

وَلَوْ أَنْزَلَ بِقُبْلَةٍ أَوْ لَمْسٍ او که روژتي انزال سو په مچه اخيستلو يا مسه کولو سره فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ نو پر هغه قضاء واجب ده نه کفاره لِوُجُودِ مَعْنَى الْجِمَاعِ ځکه چي د جماع معنیٰ پيدا سوه وَوُجُودُ الْمُنَافِي صُورَةً أَوْ مَعْنًى يَكْفِي لِإِيجَابِ الْقَضَاءِ احْتِيَاطًا او صورتاً يا معناً د منافي پيدا کېدل د قضاء واجبولو لپاره کافي دي أَمَّا الْكَفَّارَةُ فَتَفْتَقِرُ إِلَى كَمَالِ الْجِنَايَةِ هر چي کفاره ده نو هغه بشپړ جنايت (جرم) ته احتياج لري لِأَنَّهَا تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ كَالْحُدُودِ ځکه چي کفاره د شبهاتو په وجه سره ساقطيږي لکه حدود چي د شبهاتو په وجه ساقطيږي.

اللغات: ﴿قبلة﴾ مچه، ﴿تفتقر﴾ د افتعال د باب مضارع ده: محتاجه کېدل، موقوفه کېدل، ﴿تندرئ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ختمېدل، ساقطېدل، ليري کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که روژتي يوه ښځه مچ کړه، يا يې مسه کړه، او انزال سو، نو د هغه روژه فاسده سوه، خو پر هغه د روژې قضا واجب ده، او کفاره پر واجب نه ده، قضاء خو ځکه واجب ده چي جماع که څه هم صورتاً نسته، لېکن معناً جماع سته چي دواړه په شهوت سره يوځای سول، او انزال وسو، که څه هم دخول نه دی سوی، دې ته معناً جماع ويل کېږي، او احتياطاً د قضاء د واجبولو لپاره د روژې د منافي پيدا کېدل کافي دي، هغه که صورتاً پيدا سي، او که معناً پيدا سي، او کفارې ځکه واجب نه ده چي کفاره هغه وخت واجبيږي، چي کله جرم په بشپړه توګه ثابت سي، او دلته د صورتاً جماع د نشتوالي په وجه جرم سپک سو، بلکي يو ډول د جماع د نشتوالي شبهه پيدا سوه، او دا خبره تسليم سوې ده چي د شبهاتو په وجه کفارې ساقطيږي، لکه څرنګه چي د شبهاتو په وجه حدود ساقطيږي.

په روژه کي د مچي اخيستلو تفصيلي حکم

وَلَا بَأْسَ بِالْقُبْلَةِ إِذَا أَمِنَ عَلَى نَفْسِهِ او په مچه اخيستلو کي هيڅ پروا نسته چي کله پر خپل ځان د روژتي قابو وي أَيِ الْجِمَاعَ أَوِ الْإِنْزَالَ يعني له کوروالي يا انزال څخه (يې پر ځان قابو وي) وَيُكْرَهُ إِذَا لَمْ يَأْمَنْ او مکروه دي که پر خپل ځان د هغه قابو نه وي لِأَنَّ عَيْنَهُ لَيْسَ بِمُفْطِرٍ ځکه چي په خپله مچه اخيستل روژه نه ماتوي وَرُبَّمَا يَصِيرُ فِطْرًا بِعَاقِبَتِهِ (بلکي) کله نا کله د هغه په انجام (يعني په جماع) سره روژه ماتيږي فَإِنْ أَمِنَ يُعْتَبَرُ عَيْنُهُ وَأُبِيحَ لَهُ نو که روژتي په امن (او قابو کي) وي نو د خاص مچي اعتبار به کېږي او د هغه لپاره به مچه مباح وي وَإِنْ لَمْ يَأْمَنْ تُعْتَبَرُ عَاقِبَتُهُ وَكُرِهَ لَهُ او که په امن کي نه وي نو د هغه د انجام اعتبار به کيږي او د هغه لپاره به مچه مکروه وي وَالشَّافِعِيُّ أَطْلَقَ فِيهِ فِي الْحَالَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله په دواړو حالتونو کي مچه اخيستل جائز کړي دي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا ذَكَرْنَا او د امام

شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف هغه دليل حجت دی کوم چي مونږ ذکر کړی. وَالْمُبَاشَرَةُ الْفَاحِشَةُ مِثْلُ التَّقْبِيلِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او مباشرتِ فاحشه د مچي اخيستلو په شمير دی (يعني جائز دی) په ظاهر روايت کي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ كَرِهَ الْمُبَاشَرَةَ الْفَاحِشَةَ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي مباشرتِ فاحشه مکروه دی لِأَنَّهَا قَلَّمَا تَخْلُو عَنِ الْفِتْنَةِ ځکه چي مباشرت فاحشه ډېر لږ له فتنې څخه خالي وي.

اللغات: ﴿عاقبة﴾ انجام. ﴿المباشرة الفاحشة﴾ مباشرتِ فاحشه دې ته ويل کيږي چي نر د ښځي په فرج (شرمګاه) کي دخول نه وکړي بلکي صرف فرجونه سره ومږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د روژتي لپاره نه مطلقاً مچي اخيستل جائز دي، او نه مطلقاً مکروه، او ممنوع دي، بلکي اصل حکم دا دی چي که روژتي ته پر خپل نفس قابو (او کنټرول) وو، او د مچو د اخيستلو په صورت کي دا ډېره ورته نه وه چي له حد څخه به تېر سي، او جماع به وکړي، نو د هغه لپاره مچي اخيستل جائز دي. لېکن که په مچو اخيستلو سره د جماع يا انزال انديښنه وه، نو په دې صورت کي د هغه لپاره مچي اخيستل مکروه دي.

د دې تفصيل علت صاحب د هدايې دا بيانوي چي فی نفسه مچه اخيستل روژه نه ماتوي، لېکن کله نا کله په مچولو مچولو کي له انسان څخه جماع کيږي، يا انزاليږي، نو د آخري انجام په اعتبار سره مچه اخيستل مفسد د روژې جوړيږي، لهذا کوم انسان چي له جماع او انزال څخه په امن وي، د هغه په حق کي به خاص د مچي اعتباره کيږي او د مچولو اجازه به ورکول کيږي، ځکه چي فی نفسه مچه روژه نه ماتوي، او کوم سړي ته چي د جماع او انزال ېېره وي، د هغه په حق کي به د مچي د انجام اعتبار کيږي، او د هغه لپاره به د روژې په حالت کي مچه اخيستل مکروه وي. له دې څخه د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حديث مفهوم هم څرګنديږي چي هغه فرمايي: "نبي ﷺ به د روژې په حالت کي له ما څخه مچه اخيستل". نو د نبي ﷺ په حق کي به هم خاص د مچي اعتبار وو، ځکه چي په ټوله مخلوق کي له نبي ﷺ څخه زيات بل څوک صابر او پر نفس قابو لرونکی نه وو.

والشافعي الخ فرمايي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله مطلقاً د خاص مچي اعتبار کړی دی، او د امن او غير امن په دواړو حالتونو کي يې مچه اخيستل بې له کراهته جائز کړي دي، لېکن زموږ بيان سوی دليل د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت او دليل دی.

والمباشرة الخ فرمايي چي د ظاهر الرواية مطابق مباشرتِ فاحشه هم د مچولو په شمير دی، يعني جائز دی که يې پر ځان قابو وو، او مکروه دی که قابو نه وو، مباشرت فاحشه دا دی چي نر او ښځه د لڅوالي په حالت کي د خپلو شرمګاوو سرېرني حصې سره ومږي او دخول نه وکړي.

لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله مباشرتِ فاحشه مطلق مکروه کړی دی، ځکه مباشرت فاحشه په عامه توګه له انسان څخه ورخ وړي، او څه نا څه په انسان خلمخا کوي، نو ځکه دا صورت مطلقاً مکروه دی. او په دې زمانه کي احتياط هم په دې کي دی چي پر دې قول فتویٰ ورکول سي، ځکه د روژې مقصد د الله تعالیٰ عبادت دی، نه عيش او مستي.

د روژتي ستوني ته د مچ، ګرز او د داسې نورو د ننوتلو حکم

وَلَوْ دَخَلَ حَلْقَهُ ذُبَابٌ او كه د روژتي ستوني ته مچ ننوځي وَهُوَ ذَاكِرٌ لِصَوْمِهِ لَمْ يُفْطِرْ او د هغه خپله روژه په ياد (هم) وي نو روژه يې نه ماتيږي وَفِي الْقِيَاسِ يَفْسُدُ صَوْمُهُ او قياس دا دی چې روژه يې ماتيږي لِوُصُولِ الْمُفْطِرِ إِلَى جَوْفِهِ ځکه چې د روژې ماتونکی شی د هغه نس ته ورسيدی وَإِنْ كَانَ لَا يَتَغَذَّى بِهِ كَالتُّرَابِ وَالْحَصَاةِ كه څه هم په داسې شي سره غذاء نه حاصليږي لکه خاوره او شګې وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ لَا يُسْتَطَاعُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ د استحسان دليل دا دی چې له مچ څخه ځان خوندي کول ممکن نه دي فَأَشْبَهَ الْغُبَارَ وَالدُّخَانَ نو دا د ګرز او دود سره مشابه سو وَاخْتَلَفُوا فِي الْمَطَرِ وَالثَّلْجِ او مشائخو په باران (يعني د باران په څاڅکو) او واوره کې اختلاف کړی دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يَفْسُدُ او صحيح دا ده چې (په هغو سره) روژه ماتيږي لِإِمْكَانِ الِامْتِنَاعِ عَنْهُ ځکه چې له هغو څخه خوندي کېدل ممکن دي إِذَا آوَاهُ خَيْمَةٌ أَوْ سَقْفٌ چې کله روژتي ته خېمه يا بام (چت) پناه ورکړي.

اللغات: ﴿ذباب﴾ مچ، ﴿جوف﴾ خالي ځای، نس، ﴿تراب﴾ خاوري، ﴿حصاة﴾ شګې، کوچنی تيږي، ﴿دخان﴾ دود، ﴿ثلج﴾ واوره، (ژلی)، ﴿اوی﴾ پناه ورکول، ځای ورکول، ﴿سقف﴾ بام (چت).

تشريح: مسئله: دا ده که د روژتي په ستوني مچ ننه سو او معدې ته يې ورسيدی، نو استحساناً د هغه روژه نه ماتيږي، او قياساً يې روژه ماتيږي، د قياس دليل دا دی چې معدې ته د روژې ماتونکی شی ورسيدی، نو ځکه به روژه ماتيږي، که څه هم په دې شي سره غذاء نه حاصليږي، او نه د غذاء په توګه استعماليږي، لېکن بيا هم معدې ته به د هغه په رسېدلو سره روژه فاسديږي، لکه څرنګه چې په هغه صورت کې هم روژه فاسديږي چې کله شګه، يا کوچنی لوټه، يا خاورې تيرې سي، حال دا چې دا شيان هم د غذاء په توګه نه استعماليږي.

د استحسان دليل دا ی چې له مچ څخه خوندي کېدل ناممکن دي، ځکه ډېر ځله مچ په خپله بې له ارادې د انسان په خوله ننوځي، او معدې ته رسيږي، نو ګواکې مچ د ګرز او دود سره مشابه سو، او ګرز او دود که بې اختياره ستوني ته ننوځي نو بالاجماع په هغه سره روژه نه فاسديږي، لهذا د بې اختياره مچ ننوتلو په صورت کې به هم روژه نه فاسديږي.

واختلفوا الخ فرمايي که ديو روژتي په خوله کې د باران څاڅکي، ژلی يا د واورې ټوکره ولوېږي، او معدې ته ورسيږي، نو آيا په دې سره روژه ماتيږي، که نه؟ په دې باره کې د مشائخو څلور قولونه دي: (١) اول قول دا دی چې په خوله کې د دې شيانو په لوېدلو سره د روژې پر صحت هيڅ اغېزه نه پرېوځي، او روژه نه ماتيږي، (٢) دويم قول دا دی چې د باران څاڅکي خو روژه ماتوي، لېکن ژلی او د واورې ټوکره روژه نه ماتوي، (٣) دريم او تر ټولو صحيح قول دا دی چې دا شيان روژه ماتوي، دليل دا دی چې د باران له څاڅکو، ژلي او واورې څخه ځان ساتل ممکن دي، په دې توګه چې کله باران، ژلی يا واوره کېږي، نو يوې خېمې يا بام لرونکي ځای ته دې پناه يوسي، لهذا کله چې له دې شيانو څخه ځان ساتل ممکن دي، نو دا د ګرز او دود سره مشابه نه سول. صاحب د فتح القدير فرمايي چې که علت دا بيان سي نو ډېره به غوره وي چې: "د خولې په بندولو له باران، ژلي او واورې څخه ځان ساتل ممکن دي"، ځکه چې کله نا کله يو څوک مسافر وي، او هغه ته نژدې هيڅ خېمه، چترۍ (سايه وان) او بام لرونکی ځای نه وي، نو د هغه لپاره به له دې شيانو څخه

ځان خوندي كول ممكن نه وي. لهذا كه دا پورتني علت بيان سي، نو وېره به غوره وي، ځكه چې دا علت جامع دی، او هيڅ ستونزه پكښې نه راځي.

په روژه كې د غابنو د خوږښو او د ذرّو د تېرولو حكم

وَلَوْ أَكَلَ لَحْمًا بَيْنَ أَسْنَانِهِ او كه روژتي د خپلو غابنو په مينځ كې (بندي سوي) غوښې وخوري فَإِنْ كَانَ قَلِيلًا لَمْ يُفْطِرْ نو كه هغه لږ وي نو روژه نه ماتيږي وَإِنْ كَانَ كَثِيرًا يُفْطِرُ ● او كه ډېري وي نو روژه ماتيږي وَقَالَ زُفَرُ: يُفْطِرُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام زفر رَحِمَهُ الله وايي: په دواړو صورتونو كې روژه ماتيږي لِأَنَّ الْفَمَ لَهُ حُكْمُ الظَّاهِرِ ځكه چې خولې ته د بدن د ظاهر حكم حاصل دی حَتَّى لَا يَفْسُدَ صَوْمُهُ بِالْمَضْمَضَةِ تر دې چې په غرغره كولو سره د هغه روژه نه فاسديږي وَلَنَا أَنَّ الْقَلِيلَ تَابِعٌ لِأَسْنَانِهِ بِمَنْزِلَةِ رِيقِهِ او زموږ دليل دا دی چې لږ شی د هغه د غابنو تابع دی (او) د هغه د ناړو په درجه كې دی بِخِلَافِ الْكَثِيرِ لِأَنَّهُ لَا يَبْقَى فِيمَا بَيْنَ الْأَسْنَانِ په خلاف د ډېر شي ځكه چې هغه د غابنو په مينځ كې نه پاتيږي (بنديږي) وَالْفَاصِلُ مِقْدَارُ الْحِمَّصَةِ او (د ډېر او لږ په مينځ كې) فصل كونكی د نخود مقدار دی وَمَا دُونَهَا قَلِيلٌ او تر نخود كم شی لږ دی.

اللغات: ﴿أسنان﴾ جمع د سن ده: غابنونه. ﴿مضمضة﴾ خوله پرېولل، په خوله اوبه غرغره كول. ﴿ريق﴾ ناړي، لاړي. ﴿حِمّصة﴾ نخود، په كسره د ميم سره هم ويل كېدای سي.

تشريح: مسئله: دا ده كه د روژتي په غابنو كې د غوښو يوه ريښه يا د يوه بل شي ذره بنده سوه، او هغه دې شي ته په ژبه سره حركت وركړي، او تېر يې كړي، نو ريښه او ذره كه په لږ اندازه وه (يعني كوچنۍ وه)، نو روژه نه فاسديږي، او كه په ډېره اندازه وه، نو فاسديږي امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دواړو صورتونو كې روژه فاسديږي.

د امام زفر دليل: دا دی چې دننه خولې ته د ظاهري (دباندېني) بدن حكم حاصل دی، يعني كوم حكم چې د ښكاره او دباندې بدن دی، هغه حكم به د دننه خولې هم وي، او د دباندې بدن حكم دا دی چې كه لږ شی هم له دباندې ځخه خولې ته واچول سي، او تېر سي نو روژه فاسديږي، لهذا كه په خوله كې لږ شی وو او تېر سو، نو هم به روژه فاسديږي، د دې دليل چې دننه خولې ته د ظاهري بدن حكم حاصل دی، دا دی چې كه يو څوك د روژې په حالت كې اوبه غرغره كړي او بيرته يې تو كړي، نو د هغه روژه نه ماتيږي، نو كه خولې ته د ظاهري بدن حكم حاصل نه وای، نو روژه به يې خامخا ماتېدلای، لهذا كله چې معلومه سوه چې دننه خولې ته د ظاهري بدن حكم حاصل دی، نو د غوښو ريښه يا يوه ذره چې په خوله كې وي، د هغه تېرول به داسې وي لكه له خولې ځخه دباندې چې يو شی را وخېستل سي، او تېر سي، او له دباندې ځخه د لږ شي خوړل هم روژه فاسدوي، نو ځكه به د كوچنۍ ريښې يا ذرې په خوړلو سره هم روژه فاسديږي.

زموږ دليل: دا دی چې د غوښو ريښه يا د يو بل شي ذره كه په لږ اندازه وه (يعني كوچنۍ وه)، نو د هغه د غابنونو تابع ده، ځكه چې له هغه ځخه غابنونه ساتل ممكن نه دي، لهذا لږ شی د ناړو په درجه كې سو، او په ناړو تېرولو سره روژه نه

● القول الراجح: قول علمائنا الثلاثة في القليل والكثير أي في القليل لا يفطر و في الكثير يفطر، كذا في الهندية ج:۱، ص: ۲۰۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۹۷]

فاسديږي، لهذا په دې لږ اندازه ربنه يا فره سره به هم روژه نه فاسديږي، ليکن زياته اندازه يعني غټه ربنه او فره په دې توګه د غاښونو په مينځ کې نه پاتيږي، او له هغه شخصه ځان ساتل ممکن دي، نو ځکه به هغه د ظاهرو په حکم کې نه وي.

والفاصل الخ فرمايي چې د لږ او ډيري اندازې په مينځ کې فاصل او بېلونکې شی د نخود اندازه ده، نو کومه ربنه يا فره چې د نخود په اندازه وي يا تر هغه غټ وي، نو هغه به غټه ربنه يا فره وي، او روژه به ماتوي، او که تر نخود لږ وي، نو هغه به کمه اندازه يعني کوچنۍ ربنه يا فره وي، او روژه به نه ماتوي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې زموږ قول راجح دی يعني که په غاښو کې بند سوی شی په لږ اندازه وو، نو روژه نه ماتيږي، او که په زياته اندازه وو، نو روژه ماتيږي، پاته سوه دا خبره چې په زياته اندازه کې کفاره واجبيږي، که نه؟ نو په دې باره کې څلور قولونه دي، خو په دې ټولو کې راجح قول د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله دی، يعني کفاره نه واجبيږي، چې په را روان عبارت کې به هم ذکر سي، كما قال في الهندية: وإن أكل ما بين أسنانه لم يفسد إن كان قليلا وإن كان كثيرا يفسد...... وفي الكفارة أقاويل(أربعة) والأصح أنه لا تجب الكفارة (هندية ج۱، ص۲۰۲). القول الراجح، ج۱، ص۱۹۷

د پورتنۍ مسئلې څه نور وضاحت

وَإِنْ أَخْرَجَهُ وَأَخَذَهُ بِيَدِهِ او که روژتي دا شی له (له غاښو څخه) راوستی او په لاس کې يې ونيوی ثُمَّ أَكَلَهُ يَنْبَغِي أَنْ يَفْسُدَ صَوْمُهُ او بيا يې وخوړی نو مناسب دا ده چې د هغه روژه فاسده سي لِمَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ لکه څرنګه چې روايت سوی دی له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه أَنَّ الصَّائِمَ إِذَا ابْتَلَعَ سِمْسِمَةً بَيْنَ أَسْنَانِهِ لَا يَفْسُدُ صَوْمُهُ چې که روژتي د خپلو غاښو په مينځ کې (بند سوې) کونجته تېره کړي نو د هغه روژه نه فاسديږي وَلَوْ أَكَلَهَا ابْتِدَاءً يَفْسُدُ صَوْمُهُ او که هغه ابتداءً کونجته وخوري نو د هغه روژه فاسديږي وَلَوْ مَضَغَهَا لَا يَفْسُدُ او که ورې ژوږي(او تېره يې کړي) نو نه فاسديږي لِأَنَّهَا تَتَلَاشَى ځکه چې د ژوولو په وجه کونجته بالکل نيست و نابود کيږي وَفِي مِقْدَارِ الْحِمَّصَةِ عَلَيْهِ الْقَضَاءُ او د نخود په اندازه کې پر هغه قضاء واجب ده دُونَ الْكَفَّارَةِ نه کفاره عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ دا حکم د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نيز دی وَعِنْدَ زُفَرَ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ أَيْضًا او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه کفاره هم واجب ده لِأَنَّهُ طَعَامٌ مُتَغَيِّرٌ ځکه چې دا خراب سوي خواړه دي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّهُ يَعَافُهُ الطَّبْعُ او د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې دا طبيعت ناخوښه ګڼي (يعني طبيعت له دې څخه نفرت کوي).

اللغات: ﴿ابتلع﴾ د افتعال ماضي ده: تېرول، ﴿سمسمة﴾ کونجته، ﴿مضغ﴾ د فتح ماضي ده: ژوول، ﴿تتلاشى﴾ د تفاعل مضارع ده: لا شی کېدل، بالکل ختمېدل، ﴿يعاف﴾ له سَمِعَ او ضَرَبَ دواړو بابونو څخه راځي: ناخوښه او ناوړه ګڼل.

تشريح: مسئله: دا ده که روژتي په غاښو کې بند سوی شی په خپل لاس له خولې څخه دباندې راوستی، بيا يې وخوړی، نو مناسب دا ده چې په دې صورت کې روژه فاسده سي، که څه هم دا شی د نخود له دانې څخه کم وي، لکه څرنګه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله روايت هم داسې دی چې که روژتي په غاښو کې بنده سوې کونجته تېره کړه، نو روژه

يې نه فاسديږي، او که کونجته يې ابتداءً په خوله کې واچوله (يعني په غابنو کې کونجته نه وه، بلکې له د باندې څخه يې را واخيستله او په خوله کې يې واچوله)، نو روژه فاسديږي، او که کونجته يې په خوله کې واچوله او وې ژوله، بيا يې تېره کړه، نو په دې سره هم روژه نه فاسديږي، ځکه چې د ژوولو په وجه د کونجتې دانه بالکل ختميږي، او د غابنو، ژبې او ورو سره مبتلي، او تر معدې پورې نه رسيږي، حال دا چې تر معدې پورې د غذا رسېدل روژه فاسدوي، او هغه دلته نشته، نو ځکه به روژه نه فاسديږي.

ول مقدار الحمصة الخ او که يو روژتي د نخود په اندازه په غابنو کې بند سوی شی تېر کړی (يعني په لاس يې دباندې نه را ويستی)، نو روژه يې فاسديږي، لکه څرنګه چې مخکې هم د دې حکم تېر سو، او د روژې قضاء پر واجب ده، اوس دلته دا بيان کوي چې آيا کفاره پر واجبيږي، که نه؟ نو فرمايي چې د کفارې په واجبېدلو کې اختلاف دی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز کفاره نه واجبيږي، او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې کفاره واجبيږي. (مخکې په راجح قول کې هم په اجمالي توګه د دې بيان وسو)

دامام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د نخود په اندازه چې کوم شی په غابنو کې بند سوی وي، د هغه په غذائيت کې نقصان او خرابي پيداه سي، ځکه چې د هر ځله په هغه کې داسې ناوړه بوی پيدا کيږي چې طبيعت له هغه څخه نفرت کوي، نو د داسې شي خوړل خو جنايت سو، لېکن ناقص جنايت سو، او په ناقص جنايت سره کفاره نه واجبيږي، لهذا په دې صورت کې به هم کفاره نه واجبيږي.

په روژه کې د قي وهلو صورتونه او د هغو احکام

وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ لَمْ يُفْطِرْ او که روژتي ته په خپله قی راغلی نو روژه يې نه ماتيږي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: مَنْ قَاءَ فَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ ځکه نبي ﷺ کريم فرمايلي دي: "چا چې قی وکړی پر هغه قضاء واجب نه ده وَمَنِ اسْتَقَاءَ عَامِدًا فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ او که يو چا قصداً قی وکړی نو پر هغه قضاء واجب ده" وَيَسْتَوِي فِيهِ مِلْءُ الْفَمِ فَمَا دُونَهُ او په دې کې د که خوله او له دې څخه کم (دواړه) برابره دي فَلَوْ عَادَ بيا که قی په خپله دننه ولاړی وَكَانَ مِلْءَ الْفَمِ او په ډکه خوله وو فَسَدَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز روژه فاسديږي لِأَنَّهُ خَارِجٌ ځکه چې هغه خارج دی (يعني ګواکې له خولې څخه راوتلی دی) حَتَّى انْتَقَضَ بِهِ الطَّهَارَةُ همدا وجه ده چې په هغه سره اودس ماتيږي وَقَدْ دَخَلَ او (تر را وتلو وروسته بيرته) دننه ولاړی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا يَفْسُدُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز روژه نه فاسديږي لِأَنَّهُ لَمْ تُوجَدْ صُورَةُ الْفِطْرِ ځکه چې د افطار صورت پيدا نه سو وَهُوَ الِابْتِلَاعُ او افطار تېرول دي وَكَذَا مَعْنَاهُ او همدارنګه د افطار معنیٰ هم پيدا نه سوه لِأَنَّهُ لَا يُتَغَذَّى بِهِ عَادَةً ځکه چې په دې سره عادتاً غذاء نه حاصليږي وَإِنْ أَعَادَهُ فَسَدَ بِالْإِجْمَاعِ او که روژتي (قصداً) قی راو ګرځوی (يعني په خپله دننه ولاړی بلکې تېر يې کړی) نو بالاتفاق روژه

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصيام، باب الصائم يستقي عامداً، حديث رقم: ۲۳۹، والترمذي في كتاب الصوم، باب ما جاء فيمن استقاء عمداً حديث رقم: ۷۲۰.

فاسديږي لِوُجُودِ الإِدْخَالِ بَعْدَ الخُرُوجِ ځکه چې تر راوتلو وروسته داخلول پيدا سو، فَتَتَحَقَّقُ صُورَةُ الفِطْرِ نو د افطار صورت متحقق سو وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ مِلْءِ الفَمِ او که له ډکي خولې څخه کم قی وو فَعَادَ او دننه ولاړى لَمْ يَفْسُدْ صَوْمُهُ نو د هغه روژه نه فاسديږي لِأَنَّهُ غَيْرُ خَارِجٍ ځکه چې دا خارج نه دى وَلَا صُنْعَ لَهُ فِي الإِدْخَالِ او نه د دې په داخلولو کې د روژتي څه فعل سته وَإِنْ أَعَادَهُ او که روژتي هغه راوګرځوى (يعني تېر يې کړى) فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز هم دغه حکم دى لِعَدَمِ الخُرُوجِ ځکه چې خروج پيدا نه سو وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله يَفْسُدُ صَوْمُهُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د هغه روژه فاسديږي لِوُجُودِ الصُّنْعِ مِنْهُ فِي الإِدْخَالِ ځکه چې په داخلولو کې د روژتي فعل پيدا سو.

اللغات: ﴿ذرع﴾ قى غلبه کېدل، خوا ګرځې زياتېدل. ﴿استقاء﴾ قى کول، په تکلف قى کول. ﴿ملء الفم﴾ په ډکه خوله. ﴿صنع﴾ کوښښ، کار.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي ته په خپله قى راغلى، نو د هغه روژه نه ماتيږي، او که يو چا قصداً قى وکړى، نو د هغه روژه ماتيږي، او قضاء پر واجب ده، ځکه په حديث کې ذکر سوي دي: من قاء فلا قضاء عليه ومن استقاء عامدا فعليه القضاء، (يعني چا ته چې په خپله قى راسي پر هغه قضاء نسته، او څوک چې په قصد (او اراده سره) قى وکړي نو پر هغه قضاء سته).

وإن ذرعه القيء الخ فرمايي: که په خپله قى راغلى يعني غيرِ اختياري وو نو هغه روژه نه فاسدوي، هغه که په ډکه خوله وي، يا لږ وي، په هر صورت کې روژه نه فاسدوي، ځکه چې دا حديث من قاء فلا قضاء عليه مطلق دى، او په دې کې دلږ او ډېر هيڅ تفصيل ذکر سوى نه دي.

فلو عاد الخ د دې حاصل دا دى چې که يوه سړي ته په خپله په ډکه خولى قى راغلى او بيا په خپله دننه ولاړى، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز روژه فاسديږي، ځکه چې دا قى خارج (يعني ګواکي له خولې څخه راوتونکى) قى دى، تر دې چې په دې سره اودس ماتيږي، لهذا کله چې هغه تر خارجېدلو وروسته بېرته دننه ولاړى، نو داسي سو لکه د بهرني شخه چې يو شى دننه ولاړ سي، او له دباندې څخه که يو شى دننه ولاړ سي، نو په هغه سره روژه فاسديږي، همدغسې به دلته هم روژه فاسديږي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کې روژه نه فاسديږي، ځکه چې د روژې د فاسدېدلو لپاره صورتاً يا معناً افطار (روژه ماتول) ضروري دي، او دلته نه صورتاً افطار سته او نه معناً، صورتاً افطار خو ځکه نسته چې د افطار معنیٰ ده: يو شى په خوله کې اچول او تېرول، او په پورتنى مسئله کې خو قى په خپله دننه تللى دى، روژتي نه دي تېر کړى، او معناً افطار ځکه نسته چې د معنوي افطار مطلب دى: يو شى د غذاء په توګه خوړل، او قى د غذاء په توګه نه خوړل کيږي، لهذا کله چې نه صورتاً افطار سته او نه معناً، نو موږ به روژه ولې فاسدوو؟

وإن أعاد الخ فرمايي: که روژتي په خپله قى دننه کړى (يعني تېر يې کړى)، نو بالاتفاق د هغه روژه فاسديږي، ځکه په دې صورت کې تر خروج وروسته دخول راغلى، نو صورتاً افطار پيدا سو، او صورتي افطار د روژې فاسدولو لپاره کافي دى، نو ځکه به روژه ماتيږي.

وإن کان اقل د دې حاصل دا دی چې که قی تر دکې خولې کم وو، او تر را وتلو وروسته په خپله دننه ولاړې، نو هم بالاتفاق روژه نه فاسدیږي، ځکه چې د دکې خولې د نشتوالې په وجه هغه قی د خیر خارج په حکم دی. او د هغه په تېرولو کې د روژتي څه عمل هم نشته، نو ځکه به روژه نه فاسدیږي.

وإن أعاده الخ فرمایي: که تر دکې خولې کم قی راغلی او روژتي په خپل عمل او اختیار سره هغه واپس وګرځوی (یعني تیر یې کړي)، نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز په دې صورت کې روژه نه فاسدیږي، ځکه چې خروج ثابت نه سو. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز روژه فاسدیږي، ځکه چې د هغه په ګرځولو او تیرولو کې د روژتي عمل راغلی. نو ځکه به په دې صورت کې روژه فاسدیږي.

د قي وهلو ټوله صورتونه په یوه نقشه کې

د امام محمد په نیز یې ماتوي که نه؟	د امام ابو یوسف په نیز روژه ماتوي، که نه؟	په خپله تیر بدل (دننه تلل) یا قصداً تیرول	په خپله قی راتلل یا قصداً وهل	شمیره
روژه نه ماتوي	روژه نه ماتوي	دننه نس ته ولاړ نه سي	که په خپله قی راسي	۱
روژه نه ماتوي	که په ډکه خوله وي روژه ماتوي	په خپله دننه ولاړ سي	که په خپله قی راسي	۲
روژه ماتوي	روژه ماتوي	لرې وي او که ډېر	که قصداً قی ووهي	۳
روژه ماتوي	که په ډکه خوله وي روژه ماتوي	قصداً یې تیر کړي	که په خپله قی راسي	۴
روژه ماتوي	که تر ډکې خولې کم وي روژه نه ماتوي	قصداً یې تیر کړي	که په خپله قی راسي	۵

په روژه کې د قصداً قي وهلو حکم

وَإِنِ اسْتَقَاءَ عَمَدًا مِلْءَ فِيهِ بیا که روژتي قی وکړي (یعني قی یې ووهي) قصداً په ډکه خوله فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ نو پر هغه قضاء واجب ده لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَالْقِيَاسُ مَتْرُوكٌ بِهِ او د هغه (حدیث) په وجه قیاس پرېښوول سوی دی وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِعَدَمِ الصُّورَةِ او پر هغه کفاره واجب نه ده د افطار د صورت د نشتوالي په وجه (یعني ځکه چې صورتاً افطار نشته) وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ مِلْءِ الْفَمِ او که تر ډکې خولې کم وو فَكَذَلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله نو هم دغه حکم دی د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز (یعني روژه یې فاسدیږي او قضاء پر واجب ده) لِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ د حدیث د مطلق کېدلو په وجه وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ الله لَا يَفْسُدُ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز روژه نه فاسدیږي لِعَدَمِ الْخُرُوجِ حُكْمًا ځکه چې حکماً خروج (یعني د قي دباندي راوتل) نشته ثُمَّ إِنْ عَادَ لَمْ يَفْسُدْ عِنْدَهُ بیا که هغه لږ قی په خپله دننه ولاړې نو روژه نه فاسدیږي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز لِعَدَمِ سَبْقِ الْخُرُوجِ ځکه چې مخکې له خولې څخه دباندي راوتل نشته وَإِنْ أَعَادَهُ فَعَنْهُ: أَنَّهُ لَا يَفْسُدُ لِمَا ذَكَرْنَا او که روژتي (په خپله) راوګرځوی (یعني

تېرېږ کړي) نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو روايت دا دی: چې روژه نه فاسديږي وَعَنْهُ: أَنَّهُ يَفْسُدُ او دويم روايت يې دا دی، چې روژه فاسديږي فَأَلْحَقَهُ بِمِلْءِ الْفَمِ لِكَثْرَةِ الصُّنْعِ نو (په دويم روايت کې) امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دا لږ قی د ډکې خولې سره يو ځای کړی د فعل د کثير والي (ډېرښت) په وجه.

تشريح: صورت د مسئلې؛ دا دی که يو روژتي قصداً په ډکه خوله قی وکړی، نو د هغه روژه فاسديږي، او د روژې قضاء پر واجب ده، ځکه تر دې مخکې چې مونږ کوم حديث بيان کړی يعني: من استقاء فعليه القضاء، له هغه څخه همدغه مفهوم ښکاره کيږي، او دې حديث ته په کتنې سره قياس پرېښوول سوی دی، ځکه د قياس تقاضا خو دا ده چې په دې صورت کې به روژه نه فاسديږي، ځکه چې روژه د يو شي په داخلولو او تېرولو سره فاسديږي، نه په را ايستلو او خارجولو سره، همدا وجه ده چې د روژې په حالت کې په غايطه موادو او متيازو سره روژه نه فاسديږي، لهذا په قي کولو سره هم روژه نه فاسدېدل پکار دي، خو ښرنګه چې په حديث کې په قصداً قي کولو سره قضاء واجب سوې ده، او ښکاره ده چې قضاء په هغه صورت کې واجبيږي چې کله روژه فاسده سي، نو ځکه به د دغه حديث په وجه قياس پرېښوول کيږي، او قضاء به واجبيږي، خو په ډکه خوله قي کولو سره صرف قضاء واجبيږي، کفاره نه واجبيږي، ځکه چې په دې کې صورتاً افطار نسته، ځکه د صورتاً افطار لپاره د يو شي دننه داخلول او تېرول ضروري دي، او دلته د هيڅ شي دخول هم نسته، لهذا کله چې صورتاً افطار نه راغلی نو ښکاره ده چې جنايت (جرم) ناقص سو، او د ناقص جنايت په وجه کفاره نه واجبيږي.

وإن كان الخ فرمايي؛ که يو چا قصداً قی وکړی، ليکن دا قی په ډکه خوله نه وو، بلکې تر ډکې خولې کم وو، نو په دې کې د صاحبينو رايې جلا جلا دي، د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې په دې صورت کې هم روژه فاسديږي، او د هغه قضاء واجب ده، ځکه چې دا حديث من استقاء عامدا الخ مطلق دی، او په دې کې د لږ او ډېر هيڅ تفصيل نه دی ذکر سوی، لهذا ښرنګه چې قصداً په ډکه خوله قی قضاء واجبوي، همدا ډول به تر هغه کم قی هم قضاء واجبوي، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې که قی تر ډکې خولې کم وو، نو روژه نه فاسديږي، لهذا قضاء به هم نه واجبيږي، ځکه د لږ قي په صورت کې حکماً خروج (د قي دباندې راوتل) نسته، او کله چې خروج نسته، نو ښکاره ده چې روژه به هم نه فاسديږي، ځکه روژه فاسديږي د قي په راوتلو سره.

ثم إن عاد الخ د دې حاصل دا دی که يو چا قصداً لږ قی وکړی، او بيا هغه په خپله دننه سو (يعني هغه تېر نه کړی بلکې په خپله تېر سو)، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز روژه نه فاسديږي، ځکه چې د قي د لږوالي په وجه خروج ثابت نه سو، او ښرنګه چې په خپله دننه ولاړی، نو دخول هم ثابت نه سو، او کله چې دخول ثابت نه سو، نو ولې به روژه فاسديږي؟، ليکن که روژتي په خپله قی تېر کړی، نو په دې صورت کې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي؛ (۱) اول روايت دا دی چې په دې صورت کې هم د هغه روژه نه فاسديږي، ځکه د قي د لږ والي په وجه دخول ثابت نه سو، (۲) دويم روايت دا دی چې په دې صورت کې روژه فاسديږي، ځکه قصداً قی کول او بيا قصداً هغه تېرول داسې سو لکه ډېر قی، يعني د روژتي ډېر فعل هغه لږ قی د ډېر قي سره لاحق کړی، نو ځکه به روژه فاسديږي، ځکه چې ډېر قی روژه فاسدوي.

د شګې يا د اوسپنې د ټوکرې تېرولو حکم

قَالَ: وَمَنِ ابْتَلَعَ الْحَصَاةَ أَوِ الْحَدِيدَ أَفْطَرَ او كوم روژتي چې شګه يا اوسپنه تېره كړي نو د هغه روژه ماتيږي لِوُجُودِ صُورَةِ الْفِطْرِ ځکه چې صورتاً افطار پيدا سو وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِعَدَمِ الْمَعْنَى او پر هغه كفاره واجب نه ده ځکه چې معناً افطار پيدا نه سو.

اللغات: ﴿ابتلع﴾ د افتعال د باب ماضي ده: تېرول. ﴿حصاة﴾ شګه. ﴿حديد﴾ اوسپنه.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو روژتي شګه يا د اوسپنې ټوكره تېره كړي، نو د هغه روژه ماتيږي، او قضاء پر واجب ده، لېكن كفاره پر واجب نه ده، قضاء خو ځکه واجب ده چې د افطار صورت پيدا سو، ځکه چې يو شی له دباندې ځخه په خولې دننه سو، او نس ته ورسول سو، او كفاره ځکه واجب نه ده چې معناً افطار پيدا نه سو، ځکه د معناً افطار مطلب دا دی چې يو نفع رسونكې شي انسان نس ته داخل كړي، هغه كه د غذاء له قبيلې ځخه وي او كه د دواء، نو د معناً افطار د نشتوالي په وجه جنايت ناقص سو، نو ځکه به كفاره واجب نه وي.

په روژه كې قصداً د ښځې سره د جماع حكم

وَمَنْ جَامَعَ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ عَامِدًا او كوم روژتي چې جماع وكړي له دوو لارو ځخه په يوه لار كې په قصد سره فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ نو پر هغه قضاء واجب ده اِسْتِدْرَاكًا لِلْمَصْلَحَةِ الْفَائِتَةِ د فوت سوي مصلحت د تلافي (را ګرځولو) لپاره وَالْكَفَّارَةُ او كفار (هم) واجب ده لِتَكَامُلِ الْجِنَايَةِ د جرم د كامل والي (بشپړ والي) په وجه وَلَا يُشْتَرَطُ الْإِنْزَالُ فِي الْمَحَلَّيْنِ اِعْتِبَارًا بِالْاِغْتِسَالِ او په دواړو لارو كې انزال شرط نه دی پر غسل په قياسولو سره وَهٰذَا لِأَنَّ قَضَاءَ الشَّهْوَةِ يَتَحَقَّقُ دُوْنَهُ او دا په دې وجه چې له انزال ځخه بغير هم د شهوت پوره والی ثابتيږي وَإِنَّمَا ذٰلِكَ شِبَعٌ او انزال خو د موړ والي لپاره دی وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله: أَنَّهُ لَا تَجِبُ الْكَفَّارَةُ بِالْجِمَاعِ فِي الْمَوْضِعِ الْمَكْرُوْهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله ځخه روايت دی: چې په ناخوښه ځای كې به (يعني د غائطو په ځای كې به) په جماع كولو سره كفاره نه واجبيږي اِعْتِبَارًا بِالْحَدِّ عِنْدَهُ پر حد باندې په قياسولو سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَالْأَصَحُّ أَنَّهَا تَجِبُ خو صحيح دا ده چې كفاره واجبيږي لِأَنَّ الْجِنَايَةَ مُتَكَامِلَةٌ لِقَضَاءِ الشَّهْوَةِ ځکه چې جرم كامل سو د شهوت د پوره والي په وجه.

اللغات: ﴿استدراك﴾ د استفعال د باب مصدر دی: تلافي، فوت سوی شی راګرځول. ﴿تكامل﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: پوره كېدل، كامل كېدل. ﴿شبع﴾ د فتح د باب مصدر دی: مړېدل، خواهش پوره كېدل. ﴿جناية﴾ جرم.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو روژتي په قصد او اراده سره جماع وكړي نو پر هغه قضاء هم واجب ده، او كفاره هم، برابره ده جماع كه يې د مخ په خوا (قُبل) كې كړې وي، يا د شا په خوا (دُبر) كې، قضاء خو ځکه واجب ده، چې د جماع كولو په وجه د هغه روژه ماته سوه، او د روژې چې كوم مصلحت او مقصد وو، يعني د نفسِ امّاره مغلوبه كول هغه هم فوت سو، نو د مصلحت د تلافي لپاره پر هغه قضاء واجب ده، او كفاره ځکه واجب ده چې د جماع كولو په صورت

کې جنايت کامل دی، ځکه کله چې يوه شرمګاه په بله شرمګاه کې داخله سي، نو ښکاره ده چې صورتاً او معناً دواړه توله جماع ثابتيږي، نو ځکه به په دې صورت کې خامخا کفاره واجبيږي.

ولا يشترط الإنزال الخ فرمايي چې په پورتنی مسئله کې د کفارې د واجبيدلو لپاره انزال شرط نه دی. او له انزال څخه بغير هم کفاره واجبيږي، ځکه چې دخول راغلی. او څرنګه چې يوازې دخول د غسل د وجوب لپاره کافي دی، همداړنګه به د کفارې د وجوب لپاره هم کافي وي. او انزال به شرط نه وي. ځکه چې د جماع مقصد شهوت پوره کول دي. او دا له انزال څخه بغير هم حاصليږي. دا جلا خبره ده چې په انزال سره کما حقه شهوت حاصليږي. او د انسان شهوت په هر ډول سره پوره کيږي. لهذا کله چې بې له انزاله هم جماع ثابتيږي. نو کفاره به هم واجبيږي. صاحب د بنايې رَحِمَهُ الله پر دې موقع يو ډېر ښه مثال ذکر کړی دی، ليکلي يې دي چې که روژتي قصداً يوه ګوله وخوړه، نو د هغه روژه فاسديږي. او پر هغه به د روژې قضاء او کفاره دواړه واجب وي، حال دا چې په يوه ګوله سره د روژتي خېټه نه مړيږي، لېکن بيا هم په دې سره خوړل ثابتيږي، همداسې به په پورتنی مسئله کې هم په دخول سره جماع ثابتيږي. او هغه به د کفارې د وجوب لپاره کافي وي. (بنايه ج۳، ص۶۰۹)

ومن أبي حنيفة الخ له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که يو سړي په ناخوښه ځای کې جماع وکړې. يعني يو بدبخته سړي د شا (دُبُر) په لار کې خپل شهوت پوره کړي، نو پر هغه به کفاره نه واجبيږي، ځکه چې پر دې ډول حرکت کوونکي باندې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حدّ نه واجبيږي. نو پر هغه قياس کوي چې کفاره به هم نه واجبيږي. ځکه چې په دې ځای کې د شهوت پوره کولو څخه طبيعت نفرت کوي، نو د شهوت په پوره کولو کې شبهه پيدا سوه. او په شبهې سره کفاره ساقطيږي، نو دلته به هم کفاره ساقطيږي.
لېکن په دې لړ کې صحيح قول دا دی چې په دُبُر کې په جماع سره کفاره واجبيږي، ځکه چې په دې صورت کې هم شهوت پوره کيږي، او د شهوت په پوره والي سره جنايت کامل ګرځي، او کامل جنايت د کفارې د وجوب سبب دی.

په روژه کې د حيوان يا مړې ښځې سره د جماع کولو حکم

وَلَوْ جَامَعَ مَيْتَةً أَوْ بَهِيمَةً او که روژتي جماع وکړي د مړې ښځې سره يا د ځاروي سره فَلَا كَفَّارَةَ أَنْزَلَ أَوْ لَمْ يُنْزِلْ نو (پر هغه) کفاره واجب نه ده هغه که روژتي انزال سي، او که انزال نه سي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِأَنَّ الْجِنَايَةَ تَكَامُلُهَا بِقَضَاءِ الشَّهْوَةِ فِي مَحَلٍّ مُشْتَهًى ځکه چې د جرم کامل والی د شهوت په ځای کې په شهوت پوره کولو سره کيږي (يعني جرم او جنايت هغه وخت کامل او بشپړ ګرځي چې انسان په داسې ځای کې خپل شهوت پوره کړي چې هغه ځای د شهوت قابل وي) وَلَمْ يُوجَدْ او هغه (دلته) پيدا نه سو ثُمَّ عِنْدَنَا كَمَا تَجِبُ الْكَفَّارَةُ بِالْوِقَاعِ عَلَى الرَّجُلِ بيا چې څرنګه زموږ په نېز کفاره پر سړي په جماع کولو سره واجبيږي تَجِبُ عَلَى الْمَرْأَةِ (همداسې) به پر ښځې هم واجبيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله فِي قَوْلٍ: لَا تَجِبُ عَلَيْهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله په يوه قول کې فرمايي: چې پر ښځې به کفاره نه واجبيږي لِأَنَّهَا مُتَعَلِّقَةٌ بِالْجِمَاعِ ځکه چې کفاره د جماع سره تعلق لري وَهُوَ فِعْلُهُ او جماع کول د سړي کار دی وَإِنَّمَا هِيَ مَحَلُّ الْفِعْلِ او ښځه (خو فقط) د کار ځای دی وَلَنَا قَوْلُهُ: تَجِبُ. او په بل

قول کي فرمايي: چي (پر ښځي به هم) واجبيږي وَيَتَحَمَّلُ الرَّجُلُ عَنْهَا اعْتِبَارًا بِمَاءِ الْاِغْتِسَالِ (خو) د ښځي له طرفه به سړی کفاره زغمي (يعني د ښځي کفاره به سړی ورکوي) د غسل پر اوبو په قياسولو سره وَلَنَا قَوْلُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: مَنْ أَفْطَرَ فِيْ رَمَضَانَ فَعَلَيْهِ مَا عَلَى الْمُظَاهِرِ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: څوک چي په رمضان کي روژه ماته کړي نو هغه شی به پر واجب وي کوم چي پر مظاهر واجب دی وَكَلِمَةُ مَنْ تَنْتَظِمُ الذُّكُوْرَ وَالْإِنَاثَ او کلمه د "مَن" ښځو او نارينه وو دواړو ته شامليږي وَلِأَنَّ السَّبَبَ جِنَايَةُ الْإِفْسَادِ لَا نَفْسُ الْوِقَاعِ او په دې وجه (هم) چي د کفارې (د وجوب) سبب د روژې فاسدولو جرم دی نه په خپله جماع وَقَدْ شَارَكَتْهُ فِيْهَا او په دې جرم کي ښځي هم د سړي سره شرکت کړی دی (يعني ښځه هم ور سره شريکه ده) وَلَا يَتَحَمَّلُ او سړی به (د ښځي کفاره) نه زغمي لِأَنَّهَا عِبَادَةٌ أَوْ عُقُوْبَةٌ ځکه چي کفاره عبادت ده يا سزا ده وَلَا يَجْرِيْ فِيْهَا التَّحَمُّلُ او په يوه کي (هم) د بل بار پورته کول (زغمل) نه جاري کيږي.

اللغات: ﴿ميتة﴾ مړه ښځه، ﴿بهيمة﴾ څاروی، ﴿مشتهى﴾ شهوت والا، هغه چي په ليدلو سره يې شهوت راپورته کيږي، ﴿وقاع﴾ جماع، ﴿مظاهر﴾ ظِهار کوونکی، ﴿التحمل﴾ برداشتول، زغمل، ګالل، جغبول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو روژتي سړی د مړې ښځي سره يا د يو حيوان سره جماع وکړي، نو پر هغه کفاره واجب نه ده، برابره ده که روژتي انزال سوی وي، او که نه وي، هو! که انزال سو، نو پر هغه قضاء واجب ده، او بې له انزاله قضاء هم واجب نه ده، ليکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر هغه کفاره واجب ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د کفارې د وجوب سبب جماع ده، او جماع دلته سته، نو ځکه به کفاره واجب وي.

زموږ دليل: دا دی د چي د کفارې د وجوب سبب کامل جنايت دی، او په جماع کي جنايت هغه وخت کامليږي چي کله د شهوت په ځای کي شهوت پوره کړی سي، او په پورتني صورت کي مړی يا حيوان د شهوت ځای نه دي، ځکه چي د جماع دارومدار د طبيعت پر خوشالۍ او نشاط دی، حال دا چي د فطرتِ سليمه خاوند د مړې ښځي او حيوان سره جماع کول خو لا پرېږده په دې باره کي سوچ هم نه سي کولای، لهذا د هغو سره د جماع کولو په صورت کي جنايت کامل نه سو، او کله چي جنايت کامل نه سو، نو کفاره به هم واجب نه وي.

ثم عندنا الخ د دې حاصل دا دی چي څرنګه زموږ په نيز د جماع په وجه سره پر سړي کفاره واجبيږي، همدارنګه به پر ښځي هم واجبيږي، په دې شرط چي هغې په رضا او خوښه جماع کړې وي، په جبر او زورد هغې سره جماع سوې نه وي، له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کي دوه قوله دي: (۱) پر ښځي کفاره واجب نه ده، ځکه چي د کفارې تعلق د جماع سره دی، او جماع د نارينه فعل دی، نه د ښځي، ښځه خو فقط د فعل محل او ځای دی، نو ځکه به پر هغې کفاره واجب نه وي، (۲) دويم قول دا دی چي پر ښځي هم کفاره واجب ده، ليکن د هغې له طرفه به سړی کفاره اداء کوي، او د دې قول لپاره يو مثال ذکر کوي، هغه دا چي که يو خاوند او ښځه جماع وکړي، او د غسل اوبه په قيمت وي (يعني خرڅيږي)، نو د ښځي د غسل د اوبو قيمت به سړی اداء کوي، لهذا په دې صورت کي به هم د ښځي کفاره سړی اداء کوي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصوم، باب إذا جامع في رمضان و لم يكن له شيء، حديث رقم: ۱۹۳۶.

ولنا الخ په دې باره کې زموږ دلیل دا حدیث دی: من أفطر في رمضان فعليه ما على المظاهر (یعني څوک چې په رمضان کې روژه ماته کړي، نو هغه شی به پر واجب وي کوم چې پر مُظاهر واجبیږي). او په حدیث کې د من لفظ ښځې او نارینه دواړو ته شامل دی. نو څنګه به د روژې فاسدولو په صورت کې کفاره هم پر سړي واجب وي، او هم پر ښځې، دغه دلیل دا دی چې د کفارې د وجوب سبب د روژې فاسدولو جنایت او جرم دی. نه په خپله جماع. او په دې جرم کې سړی او ښځه دواړه یو شان شریک دي. نو څرنګه چې پر سړي کفاره واجب ده. همداسې به پر ښځې هم واجب وي.

ولایتحمل الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله په خپل دویم قول کې دا خبره کړې وه چې د ښځې کفاره به سړی اداء کوي. صاحب هدایې د هغې خبرې جواب ورکوي، فرمايي چې د ښځې کفاره به سړی نه اداء کوي، څکه چې کفاره خو یا عبادت ده یا عقوبت او سزا ده. او نائب کېدل (نیابت) نه په عبادت کې جاري کېدای سي، او نه په عقوبت کې، نو کوم عبادت یا عقوبت چې پر کوم انسان واجب وي، هغه به انسان په خپله اداء کوي، (هغه که نر وي، که ښځه)، او هیڅوک به د بل طرفه دا عبادت یا عقوبت نه زغمي.

په روژه کې د غذاء یا د دواء خوړلو حکم

وَلَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ مَا يَتَغَذَّى بِهِ أَوْ يُتَدَاوَى بِهِ او که روژتي یو داسې شی وخوړی یا یې وڅښی چې په هغه سره غذاء حاصلیږي یا په هغه سره علاج کیږي فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ نو پر هغه قضاء او کفاره دواړه واجب دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه کفاره واجب نه ده لِأَنَّهَا شُرِعَتْ فِي الْوِقَاعِ بِخِلَافِ الْقِيَاسِ څکه چې کفاره په جماع کې خلافُ القیاس مشروع سوې ده لِارْتِفَاعِ الذَّنْبِ بِالتَّوْبَةِ څکه (د جماع) ګناه خو په توبه سره لیرې سوه فَلَا يُقَاسُ عَلَيْهِ غَيْرُهُ لهذا پر دې به بل شی نه قیاسیږي وَلَنَا أَنَّ الْكَفَّارَةَ تَعَلَّقَتْ بِجِنَايَةِ الْإِفْطَارِ فِي رَمَضَانَ عَلَى وَجْهِ الْكَمَالِ زموږ دلیل دا دی چې کفاره په رمضان کې په کامله توګه د روژې ماتولو د جرم سره تعلق لري وَقَدْ تَحَقَّقَتْ او دا جرم ثابت سو (نو څکه به کفاره واجب وي) وَبِإِيجَابِ الْإِعْتَاقِ تَكْفِيرًا عُرِفَ او د کفارې په توګه (د غلام) د آزادولو په واجبولو سره دا معلومه سوه أَنَّ التَّوْبَةَ غَيْرُ مُكَفِّرَةٍ لِهَذِهِ الْجِنَايَةِ چې توبه د دې جرم لپاره پټونکې (معافونکې) نه ده (یعني کفاره نه ده).

اللغات: ﴿ما یتغذّی به﴾ د تفعّل د باب مضارع مجهوله ده: هغه چې د غذاء او خوراک په توګه استعمالیږي. ﴿یداوی به﴾ د مفاعلې د باب مضارع مجهوله ده: هغه چې د دواء او درمل په توګه استعمالیږي. ﴿ارتفاع﴾ د افتعال مصدر دی: پورته کېدل، لیرې کېدل. ﴿ذنب﴾ ګناه. ﴿مکفّرة﴾ د تفعیل د باب مؤنث اسم فاعل دی: کفاره ورکول، پټول.

تشریح: مسئله: دا ده که روژتي سړي یو داسې شی وخوړی چې په هغه سره غذاء حاصلیږي، یا هغه شی د دواء په توګه استعمالیږي، نو په دې سره د هغه روژه فاسدیږي. او پر هغه قضاء او کفاره دواړه واجبیږي. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر هغه صرف قضاء واجبیږي، کفاره نه واجبیږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې په جماع کې خلافُ القياس کفاره مشروع ده، ځکه چې د جماع کولو ګناه خو په توبه سره ليرې کيږي او معافيږي (يعني په اصل کې توبه د جماع لپاره کفاره ده). مګر بيا هم په جماع کې د توبې باوجود د کفارې وجوب له قياس مخته خلاف په حديث سره ثابت دي، ځکه نبي ﷺ پر يو صحرايي د توبې باوجود کفاره واجب کړې وه، نو کله چې د کفارې وجوب خلافُ القياس په حديث سره ثابت دی، نو پر هغه به خوراک، څښاک او نور نه قياسيږي، ځکه قاعده دا ده چې: ما ثبت على خلاف القياس فغيره لا يقاس عليه، او په خوراک، څښاک سره به صرف قضاء واجبيږي، نه کفاره.

زموږ دليل: دا دی چې د کفارې تعلق په کامله توګه د افطار د جنايت سره دی، يعني که يو سړی په کامل جنايت سره روژه ماته کړي، نو پر هغه به کفاره واجب وي، او کامل جنايت صرف د جماع سره خاص نه دی، بلکې څرنګه چې په جماع کې جنايت کامل دی، همدارنګه په خوراک، څښاک کې هم جنايت کامل دی، او جماع کفاره واجبوي، نو ځکه به خوراک، څښاک هم کفاره واجبوي.

وبإيجاب الإعتاق الخ په دې عبارت سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، هغه فرمايلي وو چې په توبه سره ګناه ليرې کيږي (يعني په اصل کې توبه د ګناه لپاره کفاره ده، او په توبې سره ګناه معافيږي)، خو بيا هم د کفارې ورکول خلافُ القياس دي، د هغه جواب ورکوي چې د شريعت له طرفه د جماع په کفاره کې غلام واجبول د دې خبرې دليل دی چې صرف په توبه سره د جماع ګناه نه معافيږي، لکه څرنګه چې په توبې سره د زنا او غلا حدّ هم نه معافيږي، بلکې د توبې باوجود حد پر لګيږي، نو له دې څخه معلومه سوه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره صحيح نه ده چې توبه د جماع د ګناه لپاره کفاره ده، او د کفارې ورکول خلافُ القياس دي.

د روژې د کفارې پوره تفصيل

ثُمَّ قَالَ: وَالْكَفَّارَةُ مِثْلُ كَفَّارَةِ الظِّهَارِ بيا فرمايي: چې د روژې کفاره د ظهار د کفارې په شير ده لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلِحَدِيْثِ الْأَعْرَابِي [1] او د صحرايي د حديث په وجه فَإِنَّهُ قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلَكْتُ وَأَهْلَكْتُ ځکه صحرايي وويل: اې د الله رسوله! زه هم هلاک سوم او بل مې هم هلاک کړی فَقَالَ: مَاذَا صَنَعْتَ نو نبي ﷺ وفرمايل: تا څه وکړه قَالَ: وَاقَعْتُ امْرَأَتِيْ فِيْ نَهَارِ رَمَضَانَ مُتَعَمِّدًا هغه ووېل: چې د روژې په ورځ مې د خپلې ښځې سره قصداً جماع وکړه فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَعْتِقْ رَقَبَةً نو نبي ﷺ وفرمايل: يوه غاړه (يعني غلام) آزاد کړه فَقَالَ: لَا أَمْلِكُ إِلَّا رَقَبَتِيْ هٰذِهِ هغه ووېل: زه فقط د دې خپلې غاړې مالک يم (يعني يو غلام هم په ملکيت کې نه لرم) فَقَالَ: صُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ نو نبي ﷺ وفرمايل: دوې مياشتې پرلپسې روژې ونيسه فَقَالَ: وَهَلْ جَاءَنِيْ مَا جَاءَنِيْ إِلَّا مِنَ الصَّوْمِ هغه ووېل: څه چې پر ما راغله هغه د روژې په وجه سره پر ما راغله فَقَالَ: أَطْعِمْ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا نو نبي ﷺ وفرمايل: شپېتو مسکينانو ته خوراک ورکړه فَقَالَ: لَا أَجِدُ هغه ووېل: هغه (هم) نه لرم فَأَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصوم، باب الجماع في رمضان، حديث رقم: ١٩٣٧، و ابو داؤد في كتاب الصيام، باب كفارة من أتى أهله في رمضان، حديث رقم: ٢٣٩٠.

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْتَى بِعَرَقٍ مِنْ تَمْرٍ نو نبي ﷺ حکم وکړی چي يو فَرَق کجوري دي راوړل سي وَيُرْوَى بِعَرَقٍ فِيْهِ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا او په يوه روايت کي (د فَرَق پر ځای) عَرَق رانقل سوی دی چي په هغه کي پنځلس صاعه کجوري وې وَقَالَ: فَرِّقْهَا عَلَى الْمَسَاكِيْنِ او نبي ﷺ وفرمايل: دا پر مسکينانو تقسيم کړه فَقَالَ: وَاللهِ مَا بَيْنَ لَابَتَي الْمَدِيْنَةِ أَحَدٌ أَحْوَجُ مِنِّي وَمِنْ عِيَالِيْ هغه ووېل، په الله دي مي قسم وي چي د مديني د دواړو ډاګونو (يا د دواړو طرفونو) په مينځ کي زما او زما تر بچو زيات محتاجه بل څوک نسته فَقَالَ: كُلْ أَنْتَ وَعِيَالُكَ نو نبي ﷺ وفرمايل: ته او ستا بچيان يې وخوری يُجْزِيْكَ وَلَا يُجْزِيْ أَحَدًا بَعْدَكَ دا خو ستا لپاره کافي (او جائز) دي لېکن تر تا وروسته به د بل هيچا لپاره کافي (او جائز) نه وي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ فِيْ قَوْلِهِ يُخَيَّرُ او دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی د هغه په دې قول کي چي کفاره ورکونکي ته اختيار دی لِأَنَّ مُقْتَضَاهُ التَّرْتِيْبُ ځکه چي د دې حديث مقتضا ترتيب دی (يعني د ترتيب تقاضا کوي) وَعَلَى مَالِكٍ فِيْ نَفْيِ التَّتَابُعِ او د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی د پرلپسې والي په نفي کولو (يعني د امام مالک په نېز پرلپسې دوې مياشتي روژې نيول ضروري نه دي، خو دا حديث د هغه په خلاف هم حجت دی) لِلنَّصِّ عَلَيْهِ ځکه چي د پرلپسې والي په باره کي (په دې حديث کي) صراحت سوی دی.

اللغات: ﴿أهلكتُ﴾ د افعال د باب ماضي واحده متکلمه صيغه ده: هلاکول. ﴿واقعتُ﴾ د مفاعلې د باب مخکنۍ صيغه ده: جماع کول. ﴿رقبة﴾ غاړه، مراد ځني غلام او وينځه ده. ﴿متتابع﴾ پرلپسې، بې له وقفې. ﴿فَرَق﴾ ټوکری. ﴿عَرَق﴾ خلته، تېلی. ﴿تمر﴾ کجوري، خرماوي.

تشريح: د عبارت مطلب بالکل آسانه دی. په عبارت کي صرف دا ښوول سوي ده چي د روژې کفاره د ظهار د کفارې په ډول ده. يعني څرنګه چي د ظهار په کفاره کي ترتيب واجب دی، او تر ټولو مخکي د غلام د آزادولو حکم سوی دی، بيا تر دوو مياشتو پوري د روژو د نيولو حکم سوی دی، او دريم شپېتو (۶۰) مسکينانو ته د خوراک ورکولو حکم سوی دی، همدارنګه به د روژې په کفاره کي هم دغه ترتيب واجب وي، او د دې ترتيب مطابق به د هغې اداء کول ضروري وي.

دليل: په دې باره کي خو اول دليل هغه حديث دی کوم چي مخکي ذکر سو، يعني: من أفطر في رمضان فعليه ما على المظاهر (يعني څوک چي په رمضان کي روژه ماته کړي، نو د ظهار کونکي په ډول کفاره پر واجب ده)، او پر مظاهر د مخکني ترتيب مطابق کفاره واجب ده، نو پر روژه ماتونکي به هم د هغه ترتيب مطابق کفاره واجب وي، د مظاهر په حق کي د کفارې دا ترتيب د قرآن کريم په دې دوو آيتونو سره ثابت سوی دی: وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا [المجادلة: ۳-۴]. **دويم دليل:** په دې باره کي دويم دليل صحرايي هغه حديث دی کوم چي په ترجمه کي په تفصيلي توګه بيان سو، په دې حديث سره موږ دليل په دې توګه نيسو چي نبي ﷺ صحرايي ته په څرګنده توګه تر ټولو مخکي د غلام آزادولو حکم کړی دی، تر هغه وروسته يې

د دوو میاشتو د روژو نیولو حکم کړی دی، بیا یې په دریم وار شپیتو مسکینانو ته د خوراک ورکولو حکم کړی دی، چې له هغه شخصه دا خبره ثابتیږي چې د کفارې په اداء کولو کې ترتیب واجب دی.

وهوحجة على الشافعي رَحِمَهُ اللهُ الخ دغې حاصل دا دی چې د امام شافعي په نیز په کفاره کې ترتیب واجب نه دی، بلکې هغه په دې شیانو کې اختیار ورکوي، یعني که یو سړی پر غلام آزادولو قدرت لري، نو هغه په روژو سره کفاره اداء کولای سي، همداسې که پر غلام آزادولو او د روژو پر نیولو د قدرت سره سره شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکړي، نو هم صحیح دي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نیز د کفارې په روژو کې تسلسل او تتابع (پرلپسې والي) واجب نه دی، بلکې که یو سړی په بېلابېلو ورځو کې روژه ونیسي، نو د هغه روژه به اداء کیږي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ دا حدیث دی: أن رجلا سأل رسول الله ﷺ فقال إني أفطرت في رمضان. فقال أعتق رقبة أو صم شهرين متتابعين أو أطعم ستين مسكينا، هغه له دې حدیث شخه په دې توګه دلیل نیسي چې په دې کې د "أو" په ذریعه د کفارې اقسام بیان سوي دي، او د "أو" کلمه د تخییر لپاره راځي، نو له دې شخه دا معلومیږي چې په کفاراتو کې ترتیب واجب نه دی، بلکې دا حکم د تخییر په توګه دی، او د امام مالک رَحِمَهُ الله دلیل قیاس دی، یعني امام مالک رَحِمَهُ الله د عدم تتابع په لړ کې د روژې کفاره پر قضائي روژو قیاس کړې ده، یعني شرنګه چې د رمضان په قضائي روژو کې هم تتابع واجب نه دی، همدارنګه به د روژې په کفاره کې هم تتابع واجب نه وي، او په جلا جلا توګه به د روژو نیولو اجازه وي، لیکن د دې دواړو حضراتو په خلاف د صحرايي حدیث حجت او دلیل دی، ځکه چې په هغه کې د ترتیب رعایت هم سوی دی او د تتابع وضاحت هم سوی دی.

پاته سو د حضرت سعد ﷺ حدیث، نو د هغه جواب دا دی چې هغه خبر واحد دی، او زموږ بیان سوی حدیث یعني د صحرايي حدیث، حدیث مشهور دی، او خبر واحد د حدیث مشهور سره مقابله نه سي کولای، دوهم جواب دا دی چې د سعد ﷺ حدیث د تخییر یا د ترتیب لپاره نه دی بیان سوی، بلکې په دې کې هغه شیان بیان سوي دي چې په هغو سره کفاره اداء کېدای سي، لهذا په دې سره د تخییر یا عدم ترتیب په باره کې دلیل نیول صحیح نه دي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله د قیاس جواب دا دی چې زموږ دلیل حدیث دی او ته په قیاس سره دلیل نیسې، نو قیاس د حدیث په مقابله کې شه ارزښت لري.

له فرج شخه علاوه په بل ځای کې د انزالېدلو حکم

وَمَنْ جَامَعَ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ فَأَنْزَلَ او څوک چې په غیرِ فرج کې جماع وکړي او (په هغه سره) انزال سي فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ نو پر هغه قضاء واجب ده لِوُجُودِ الْجِمَاعِ مَعْنًى ځکه چې معناً جماع پیدا سوه وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ او پر هغه کفاره واجب نه ده لِانْعِدَامِهِ صُورَةً ځکه چې صورتاً جماع نسته.

اللغات: ﴿الفرج﴾ د ښځې شرم ځای (دلته ځنې مراد قُبُل او دُبُر دي).

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو روژتی د خپلې ښځې له قُبُل او دُبُر شخه علاوه د بدن په یوه بله برخه کې مثلاً په ورنو یا نس کې خپل فرج استعمال کړي، او انزال سي، نو پر هغه قضاء واجب ده، او کفاره واجب نه ده، قضاء خو ځکه واجب ده

چې معناً جماع پیدا سوه، او کفاره ځکه واجب نه ده چې صورتاً جماع پیدا نه سوه، ځکه صورتاً جماع دا ده چې فرج په فرج کې داخل کړی سي، او هغه دلته نسته.

له رمضان څخه علاوه په نورو روزو کې د کفارې حکم

وَلَيْسَ فِي إِفْسَادِ صَوْمِ غَيْرِ رَمَضَانَ كَفَّارَةٌ او له رمضان څخه علاوه د بلي روژې په فاسدولو کې کفاره نسته لِأَنَّ الْإِفْطَارَ فِي رَمَضَانَ أَبْلَغُ فِي الْجِنَايَةِ ځکه چې په رمضان کې روژه ماتول ډېر غټ جنايت (جرم) دی فَلَا يُلْحَقُ بِهِ غَيْرُهُ نو د هغه سره به نوري روژې نه لاحقيږي.

تشریح: مسئله: دا ده که يو روژتي سړي له رمضان څخه علاوه يوه بله روژه فاسده کړي، نو پر هغه فقط قضاء واجب ده، کفاره واجب نه ده، ځکه چې کفاره د رمضان د روژې سره خاص ده، ځکه د رمضان روژه ماتول ډېر غټ جرم دی، او په هغه کې د روژې سره سره د مبارکي او سپېڅلي مياشتي بې حُرمتي هم سته، ليکن له رمضان څخه علاوه د روژې د ماتولو په صورت کې فقط د روژې بې حرمتي ده، لهذا د غيرِ رمضان روژې به د رمضان پر روژو نه قياسيږي، او د غيرِ رمضان د روژې په فاسدولو سره به کفاره نه واجبيږي.

په روزه کې د امالې کولو، يا په پزه او غوږ کې د دواء اچولو حکم

وَمَنِ احْتَقَنَ او څوک چې امالة وکړي أَوِ اسْتَعَطَ يا په پزه کې دواء واچوي أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ يا په غوږ کې دواء وڅځوي أَفْطَرَ نو روژه يې ماته سوه لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[●]: اَلْفِطْرُ مِمَّا دَخَلَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې افطار (يعني روژه ماتېدل) به په هغه شي سره وي کوم چې (په نس کې) داخل سي وَلِوُجُوْدِ مَعْنَى الْفِطْرِ او په دې وجه (هم) چې د افطار معنیٰ پيدا سوه وَهُوَ وُصُوْلُ مَا فِيْهِ صَلَاحُ الْبَدَنِ إِلَى الْجَوْفِ او هغه رسېدل دي ونس (گېډې) ته د هغه شي چې په هغه کې د بدن گټه وي وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِانْعِدَامِهِ صُوْرَةً او پر هغه کفاره واجب نه ده ځکه چې صورتاً افطار پيدا نه سو.

اللغات: ﴿احتقن﴾ د افتعال د باب ماضي ده: امالة کول، يعني د شا (دُبُر) د لاري دواء ننه رسول، ﴿استعط﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په پزه کې دواء اچول، ﴿وصول﴾ د ضرب د باب مصدر دی: رسېدل.

تشریح: مسئله: دا ده که يو روژتي امالة وکړه يعني د شا په لاره کې يې نس ته دواء ننه کړه، يا يې په پزه کې دواء واچوله، يا يې په غوږ کې دواء واچوله، نو په دې هر صورت کې روژه ماتيږي، دليل دا حديث دی الفطر مما دخل وليس مما خرج، (يعني روژه هغه وخت ماتيږي چې يو شی نس ته داخل سي، او د يو شي په راوتلو سره روژه نه ماتيږي).
دويم دليل دا دی چې په دې صورتونو کې د افطار معنیٰ پيدا سوه، ځکه چې د افطار معنیٰ ده: يو شی د بدن د گټي او فايدې لپاره معدې ته رسول.

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى في كتاب الصيام، باب الإفطار بالطعام وبغير الطعام، حديث رقم: ۸۲۵۳.

په غوږ کې د اوبو لنوتلو حکم

وَلَوْ اَقْطَرَ فِيْ أُذُنِهِ الْمَاءَ او که روژتي په خپلو غوږو کې اوبه وڅڅوي أَوْ دَخَلَهُمَا يا اوبه په خپله غوږو ته ننوځي لَا يُفْسِدُ صَوْمَهُ نو د هغه روژه نه فاسديږي لِانْعِدَامِ الْمَعْنٰى وَالصُّوْرَةِ ځکه چې نه معناً افطار سته او نه صورتاً افطار سته بِخِلَافِ مَا إِذَا دَخَلَهُ الدُّهْنُ په خلاف د هغه صورت چې کله تېل په غوږ کې داخل کړي.

اللغات: ﴿أقطر﴾ د افعال د باب ماضي ده: څڅول. ﴿دهن﴾ تېل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو روژتي په خپل غوږ کې اوبه واچوي، يا په خپله په غوږ ننوځي، په دې توګه چې په درياب يا حوض کې ولمبيږي، او اوبه په غوږو ننوځي، نو په دواړو صورتونو کې روژه نه فاسديږي، ځکه چې افطار نه معناً سته، او نه صورتاً. صورتاً افطار خو ځکه نشته چې د خولې د لارې يو شی داخل نه سو، او معناً افطار ځکه نشته چې د بدن د اصلاح لپاره يو شی بدن ته داخل نه سو. نو کله چې نه صورتاً افطار سته، او نه معناً، نو روژه به هم نه فاسديږي.

بخلاف الخ فرمايي که روژتي په غوږ کې تېل وڅڅوي نو روژه فاسديږي او پر هغه به قضاء واجب وي، ځکه په دې صورت کې معناً افطار پيدا سو، ځکه چې تېل د بدن د اصلاح لپاره په غوږ کې څڅول کيږي.

د سر يا د نس په ژور زخم کې د دواء اچولو حکم

وَلَوْ دَاوٰى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً بِدَوَاءٍ او که روژتي د نس پر زخم يا د سر پر زخم يوه دواء ولګوي فَوَصَلَ إِلٰى جَوْفِهِ أَوْ دِمَاغِهِ او دواء د هغه نس يا دماغ ته ورسيږي أَفْطَرَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو روژه يې ماتيږي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَالَّذِيْ يَصِلُ هُوَ الرَّطْبُ او کومه دواء چې رسيږي هغه لنده وي (له دې جملې څخه يې مطلب دا دی چې دا دواء کوم چې يې پر زخم لګولې ده، لنده به وي ځکه چې لنده دواء جوف ته رسيږي، او په وچه دواء کې هيڅ اختلاف نشته) وَقَالَا●: لَا يُفْطِرُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې روژه يې نه ماتيږي لِعَدَمِ التَّيَقُّنِ بِالْوُصُوْلِ ځکه چې د دواء رسېدلو يقين نشته لِانْضِمَامِ الْمَنْفَذِ مَرَّةً وَاتِّسَاعِهِ أُخْرٰى ځکه چې د زخم سوری کله بنديږي او کله خلاصيږي كَمَا فِي الْيَابِسِ مِنَ الدَّوَاءِ لکه په وچه دواء کې (چې هم روژه نه فاسديږي) وَلَهُ أَنَّ رُطُوْبَةَ الدَّوَاءِ تُلَاقِيْ رُطُوْبَةَ الْجِرَاحَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د دواء لوندوالی د زخم د لوندوالي سره يوځای کيږي فَيَزْدَادُ مَيْلًا إِلَى الْأَسْفَلِ نو لاندي طرف ته د دواء ميلان (نور) زيات سي فَيَصِلُ إِلَى الْجَوْفِ او نس ته ورسيږي بِخِلَافِ الْيَابِسِ په خلاف د وچې دواء لِأَنَّهُ يُنَشِّفُ رُطُوْبَةَ الْجِرَاحَةِ ځکه چې هغه د زخم لوندوالی وچوي فَيَنْسَدُّ فَمُهَا چې (په هغه سره) د زخم خوله بنديږي.

● القول الراجح: په دې مسئله کې نه د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول راجح دی، او نه د صاحبينو بلکې د اکثرو مشائخو قول راجح دی، هغوی فرمايي چې د دواء د رسېدلو اعتبار به کيږي، يعني که دواء نس يا دماغ ته ورسيږي که څه هم وچه دواء وي نو روژه ماتيږي، کنې نه ماتيږي، كما قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: و أكثر مشائخنا على أن العبرة للوصول حتى إذا علم أن الدواء اليابس وصل إلى جوفه فسد صومه و إن علم أن الرطب لم يصل إلى جوفه لم يفسد صومه، العناية ج:۲، ص: ۲۶۶. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۹۸]

اللغات: ﴿جائفة﴾ د نس هغه ژور زخم ته وبل کيږي چي نس ته رسيدلی وي، ﴿آمة﴾ د سر هغه ژور زخم ته ويل کيږي چي دماغ ته رسيدلی وي، ﴿رطب﴾ لوند، خيشت، ﴿انفسام﴾ د انفعال مصدر دی؛ زخم جوړيدل، وکيدل، ﴿منفذ﴾ لاره، سوری، ﴿اتساع﴾ د افتعال مصدر دی؛ پراخه کيدل، خلاصيدل، ﴿يابس﴾ وچ، ﴿رطوبة﴾ لوندوالی، خيشتوالی، ﴿ينشف﴾ د تفعيل مضارع ده، وچول.

تشريح: صورت د مسئلې؛ دا دی که يو روژتي په جائفه ياآمه زخم کي لنده دواء واچوله، او دواء سرايت وکړی، تر نس يا دماغ پوري ورسيدله، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه روژه فاسديږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَاالله په نيز نه فاسديږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د زخم هغه سوری کوم چي نس يا دماغ ته تللی وي، هر وخت خلاص نه وي، بلکي کله خلاص وي، او کله بند وي، او ډېره ممکنه ده چي کله دې سري دواء زخم ته وراچولې وي، په هغه وخت کي دې سوری بند وي، لهذا په دې صورت کي په دواء رسيدلو کي يقين پيدا نه سو، بلکي شک پيدا سو (چي دواء به رسيدلې که نه وي)، او د شک په وجه سره روژه نه فاسديږي، نو ځکه به په دې صورت کي هم روژه نه فاسديږي، لکه څرنګه چي پر زخم د وچي دواء د لګولو په صورت کي روژه نه فاسديږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د دې خبري يقيني علم او خبر مشکل او ناممکنه دی چي آيا دواء نس يا دماغ ته ورسيدله که نه؟ ځکه چي دا يو باطني شی دی، ليکن دا خبره ښکاره ده چي کله د دواء رطوبت د زخم د رطوبت سره يو ځای سي، نو لاندي طرف ته د دواء ميلان زياتيږي، او کله چي لاندي طرف ته د دواء ميلان زيات سي، نو هغه باليقين نس او دماغ ته رسيږي، او کله چي نس او دماغ ته ورسيږي، نو روژه به فاسديږي، د دې په خلاف وچه دواء چي کله پر زخم واچول سي، نو هغه د زخم رطوبت په خپل ځان کي جذب کړي، او د زخم خوله بنده کړي، او کله چي د زخم خوله بنده سي، نو تر نس او دماغ پوري د دواء د رسيدلو امکان بالکل پاته نه سي، لهذا لنده دواء به پر وچه دواء قياسول صحيح نه وي، او د وچي دواء په صورت کي به روژه نه فاسديږي.

د ذکر په سر کي د دواء اچولو حکم

وَلَوْأَقْطَرَفِيْ إِحْلِيْلِهِ او که روژتي د ذکر په سوري کي دواء وڅڅوي لَمْ يُفْطِرْ عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله نو د هغه روژه نه ماتيږي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ: يُفْطِرُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي روژه بي ماتيږي وَقَوْلُ مُحَمَّدٍ: مُضْطَرِبٌ فِيْهِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله قول په دې مسئله کي مختلف دی فَكَأَنَّهُ وَقَعَ عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَوْفِ مَنْفَذًا ګواکي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دا خبره ثابته ده چي د سوري او نس په مينځ کي يوه لاره سته وَلِهٰذَا يَخْرُجُ مِنْهُ الْبَوْلُ همدا وجه ده چي له نس څخه متيازي (بولي) راوځي وَوَقَعَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا ثابته ده أَنَّ الْمَثَانَةَ بَيْنَهُمَا حَائِلٌ چي د ذکر د سوري او نس په مينځ کي مثانه واقع ده وَالْبَوْلُ يَتَرَشَّحُ مِنْهُ او متيازي له مثانې څخه راڅڅيږي وَهٰذَا لَيْسَ مِنْ بَابِ الْفِقْهِ او دا (بحث) د فقهي نه باب څخه نه دی (بلکي دا د طبابت سره تعلق لري).

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله قوله وإن قطر في إحليله لا، أي لا يفطر أطلقه فشمل الماء والدهن، البحر الرائق ج:٢، ص: ٢٧٩. [القول الراجح، ج:١، ص: ١٩٩]

اللغات: ﴿إحليل﴾ د نارينه اندام(د ذكر) سورى، ﴿مثانة﴾ د متيازو پوكنۍ(خلته، تپلي)، ﴿يترشح﴾ د تفعّل د باب مضارع دے، څڅېدل، ﴿حائل﴾ پرده، بنديز، خند.

تشريح: صورت د مسئلې؛ دا دی كه روژتي خپل د ذكر په سوري كي دواء واچوله، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه روژه نه فاسديږي، ليكن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د هغه روژه فاسديږي، او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په دې لړ كي يو حتمي قول نه دي رانقل سوى، د امام طحاوي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي هغه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دى، او په مبسوط كي دي چي هغه د امام اعظم رَحِمَهُ الله سره دى، (كواكي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دا ثابته نه ده چي د سوري او نس په مينځ كي لاره سته، كه نه، ليكن ظاهر روايت دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی).

خو په هر حال د دې اختلاف بنياد پر دې خبره دی چي د ذكر د سوري او د نس په مينځ كي يوه داسي لاره سته، كه نسته، چي د هغې لاري په ذريعه يو بهېدونكى شی نس ته داخل سي، نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د سوري او نس په مينځ كي داسي لاره سته، د هغه دليل دا دی چي متيازي هم له هغې لاري څخه راوځي، او كه لاره نه واى، نو متيازي به څرنګه را وتلاى؟، نو ثابته سوه چي د نس او د ذكر د سوري په مينځ كي لاره سته، لهذا كومه دواء چي د ذكر په سوري كي واچول سي، هغه به تر نس پوري رسيږي، او نس ته د بدن د اصلاح لپاره د يو شي ور رسول روژه فاسدوي، نو ځكه به په دې سره هم روژه فاسديږي، لكه څرنګه چي په امالې كولو سره فاسديږي.

امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي د ذكر د سوري او د نس په مينځ كي مثانه حائل ده، پاته سوې متيازي نو هغه له مثانې څخه راڅڅيږي(اصلي مطلب يې دا دی چي متيازي له نس څخه مثانې ته راڅڅيږي، او له مثانې څخه بيا د ذكر په سوري كي راځي)، لهذا كله چي د امام صاحب د تحقيق مطابق د نس او سوري په مينځ كي مثانه حائل ده، نو د ذكر په سوري كي به اچول سوې دواء تر نس پوري نه رسيږي، او كله چي تر نس پوري نه رسيږي، نو روژه به هم نه فاسديږي.

وهذا ليس الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دا اختلاف او د احليل او نس په مينځ كي د لاري وجود يا د مثانې وقوع د فقهې سره تعلق نه لري، بلكي دا د طب(ډاكټرى) د فن، او د علم تشريح الأبدان سره تعلق لري.

فايده: صاحب د اثمار الهدايې وايي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب د طب مطابق دی، ځكه چي ډاكټرانو دا ښهرنه كړې ده چي د ذكر د سورى سيده نس ته نه ځي، بلكي تر مثانې پوري ځي، او د مثانې په خلته كي متيازي په څاڅكو څاڅكو له نس څخه(يعني له هغه كولمې څخه چي په نس كي د متيازو لپاره لوى څښتن ﷻ جوړه كړې ده) راڅڅيږي.

په روژه كي د بو شي د څكلو(خوند كتلو) حكم

> وَمَنْ ذَاقَ شَيْئًا بِفَمِهِ لَمْ يُفْطِرْ او كوم روژتي چي په خوله سره يو شی وڅكي نو روژه يې نه ماتيږي لِعَدَمِ الْفِطْرِ صُورَةً وَمَعْنًى ځكه چي صورتاً او معناً افطار نسته وَيُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ ليكن د هغه لپاره داسي كول مكروه دي لِمَا فِيْهِ مِنْ تَعْرِيْضِ الصَّوْمِ عَلَى الْفَسَادِ ځكه چي په دې كي پر فساد د روژې ور اړول دي.

اللغات: ﴿ذاق﴾ څكل، ديو شي خوند كتل، ﴿تعريض﴾ وړاندې كول، مخته راوړل، پېشول(ور اړول).

تشريح: مسئله: دا ده چي د روژتي لپاره د يو شي خوند کتل او ځکل مکروه دي، خو په دې ځکلو سره د هغه روژه نه فاسديږي، ځکه چي په ځکلو کي نه صورتاً افطار سته، او نه معناً افطار، حال دا چي د روژې د فساد لپاره صورتاً يا معناً افطار ضروري دی، خو د هغه دا عمل ځکه مکروه دی، چي په دې کي به له ضرورته روژه د فساد پر طرف کشول او د فساد مخته ايښوول راځي.

د خپل بچي لپاره د دودی ژوولو حکم

وَيُكْرَهُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَمْضَغَ لِصَبِيِّهَا الطَّعَامَ او مکروه دي دښځي لپاره چي د خپل بچي لپاره خواړه وژووي إِذَا كَانَ لَهَا مِنْهُ بُدٌّ خو چي کله ښځي ته له ژوولو څخه څه چاره وي (يعني بل څوک وي چي د کوچني لپاره خواړه وژووي) لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلَا بَأْسَ إِذَا لَمْ تَجِدْ مِنْهُ بُدًّا او کله چي د ښځي لپاره څه چاره نه وي نو (بيا) پروا نه لري صِيَانَةً لِلْوَلَدِ د زوی د ساتني لپاره أَلَا تَرَى أَنَّ لَهَا أَنْ تُفْطِرَ إِذَا خَافَتْ عَلَى وَلَدِهَا آيا ته نه ګورې چي ښځي ته هغه وخت روژه ماتول جائز دي کله چي د زوی پر ضايع کېدلو ويريږي.

اللغات: ﴿تمضغ﴾ د فتح مضارع ده: ژوول. ﴿صيانة﴾ د نصر مصدر دی: ساتنه، حفاظت.

تشريح: مسئله: دا ده که د يوې ښځي کوچنی زوی وي، او په خپله خوراک نه سي کولای، او د دې لپاره يو بل څوک وي، چي خواړه وژووي او کوچني ته يې ورکړي، نو په دې صورت کي د روژتي مور لپاره د کوچني خواړه ژوول مکروه دي، ځکه په دې کي هم روژه پر فساد پېشول لازميږي، او دا صحيح نه دي، هو! که يو بل ژوونکی نه وو، نو بيا په دې صورت کي د دې روژتي ښځي لپاره خواړه ژوول او کوچني ته ورکول صحيح دي، او په دې کي هيڅ حرج نسته، ځکه که هغه داسي نه وکړي، نو د بچي د مرګ يا د سخت مرض خطره ده، همدا وجه ده چي شريعت ښځي ته دا اختيار ورکړی دی چي که په روژه نيولو سره د هغې په شيدو کي کمي راتله، او بچی يې له لوږي څخه متأثر کېدی، نو بيا دي روژه نه نيسي، لهذا کله چي د بچي د حفاظت په خاطر شريعت روژه ماتول جائز کړي دي، نو ژوول خو به حتماً جائز وي.

د کندورو (ګوند) د ژوولو حکم

وَمَضْغُ الْعِلْكِ لَا يُفْطِرُ الصَّائِمَ او د ګوند (کوندورو) ژوول د روژتي روژه نه ماتوي لِأَنَّهُ لَا يَصِلُ إِلَى جَوْفِهِ ځکه چي ګوند د هغه ترنسه پوري نه رسيږي وَقِيلَ: إِذَا لَمْ يَكُنْ مُلْتَئِمًا يَفْسُدُ او ويل سوي دي: چي کله ګوند سره موښتي نه وي نو روژه فاسدوي (ځکه بيا د خلبو سره نه مښلي او په ژوولو سره ټوکړه ټوکړه کيږي او نس ته رسيږي) لِأَنَّهُ يَصِلُ إِلَيْهِ بَعْضُ أَجْزَائِهِ ځکه چي د هغه بعضي اجزاء نس ته رسيږي وَقِيلَ: إِذَا كَانَ أَسْوَدَ يَفْسُدُ او ويل سوي دي: چي کله ګوند تور وي نو روژه فاسدوي وَإِنْ كَانَ مُلْتَئِمًا که څه هم سره موښتي وي لِأَنَّهُ يَتَفَتَّتُ ځکه چي تور ګوند ذره ذره کيږي إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ خو د روژتي لپاره د ګوند ژوول مکروه دي لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْرِيضِ الصَّوْمِ لِلْفَسَادِ ځکه چي په دې کي روژه پر فساد پېشول دي وَلِأَنَّهُ يُتَّهَمُ بِالْإِفْطَارِ او په دې وجه (هم) چي روژتي به افطار سره متهم سي (يعني خلک به دا تهمت پر لګوي چي هغه روژه خوري) وَلَا يُكْرَهُ لِلْمَرْأَةِ إِذَا لَمْ تَكُنْ صَائِمَةً لِقِيَامِهِ مَقَامَ السِّوَاكِ فِي حَقِّهِنَّ او د ښځي لپاره ګوند ژوول

مکروه نه دي(خو) چي کله يې روژه نه وي ځکه د ښځو په حق کي ګوند ژوول د مسواک پر ځای ولاړ دي وَيُكْرَهُ لِلرِّجَالِ عَلٰى مَا قِيْلَ او د خلکو لپاره مکروه دي لکه څرنګه چي ويل سوي دي إِذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ عِلَّةٍ په دې شرط چي ژوول د يو مرض په وجه نه وي وَقِيْلَ: لَا يُسْتَحَبُّ لِمَا فِيْهِ مِنَ التَّشَبُّهِ بِالنِّسَاءِ او ويل سوي دي: چي د خلکو لپاره د ګوند ژوول ښه نه دي ځکه چي په دې کي د ښځو سره مشابهت راځي.

اللغات: ﴿مضغ﴾ د فتح د باب مصدر دی: ژوول، ﴿علك﴾ په کسره د عين سره يو ډول کنلوري(ګوند) دی چي ښځي يې د غاښونو د صفا کولو لپاره ژووي، او په فتح د عين سره يعني عَلك بيا مصدری د ضرب او نصر له باب څخه، او معنی يې ده: ژوول، غاښونه چيچل، ﴿متشبثا﴾ د افتعال د باب اسم فاعل دی: سره مونښتي، سره يو ځای سوي، ﴿يتفتت﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ميده ميده کېدل، ذره ذره کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که روژتي ګوند(کنلوري) وژووي، نو د هغه روژه نه فاسديږي، ځکه ګوند د خپل سرښوالي په وجه د غاښو سره مښلي او نس ته نه رسيږي، او کوم شی چي ته نه رسيږي، هغه روژه نه فاسدوي. او بعضي فقهاو فرمايلي دي چي که ګوند سرمښتی نه وي، بلکي باريک او نرم وي، نو د هغه په ژوولو سره روژه فاسديږي، ځکه په دې صورت کي د ګوند ځيني اجزاء نس ته رسيږي، او بعضي فقهاؤ فرمايلي ده که تور ګوند وي نو د هغه په ژوولو سره روژه فاسديږي، که څه هم سره مونښتي وي، ځکه چي د تور رنګ ګوند ميده ميده او ټوکړه ټوکړه کيږي، او د ټوکړه کېدلو په وجه د هغه بعضي اجزاء نس ته رسيږي.

إلا أنه يكره الخ صاحب د هدايې فرمايي چي که ګوند سره مونښتي وي، او تر نسه پوري د هغه د رسېدلو انديښنه کمه وي، نو هم د روژتي لپاره ګوند ژوول مکروه دي، ځکه چي په دې کي پر فساد د روژې پېښول راځي، ځکه دا امکان سته چي څه اجزاء دي له روژتي څخه تېر سي، بل دا چي خلک به پر ده د روژې خوړلو تهمت لګوي، يعني کله چي خلک دی وويني چي يو شی ژووي، نو د روژې په خوړلو سره به يې متهم کړي، او خلک هم داسي کول(يعني په روژه کي يو شی ژوول) بدګني، او کوم کار چي خلک بد ګني هغه مکروه وي، نو په دې ټولو وجه به هم دا کار مکروه وي.

ولا يكره للمرأة الخ فرمايي: که د ښځي روژه نه وه، نو هغې لره ګوند ژوول مکروه نه دي، ځکه د ښځي په حق کي ګوند ژوول د مسواک قائم مقام دي، او ګوند د مسواک قائم مقام ځکه دی چي ښځي ډېري کمزوري او نازکي دي نو غاښونه او وری يې هم نازکي وي، لهذا هغوی د مسواک په ډول سخت شی نه سي زغملای، نو په دې وجه ګوند د هغوی په حق کي د مسواک په ډول دی، لېکن د خلکو لپاره ګوند استعمالول مکروه دي، هو! که د يو مرض په وجه يې استعمال کړي نو بيا مکروه نه دي، او يو قول دا دی چي د خلکو لپاره ګوند استعمالول مباح دي، لېکن ښه کار او مستحب نه دي، ځکه په دې کي د ښځو سره مشابهت راځي، او خلک د ښځو له مشابهت څخه منع سوي دي.

د رانجو لګولو او د بريتو غوړولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِالْكُحْلِ وَدُهْنِ الشَّارِبِ او څه پروا نسته په رانجو لګولو کي او د بريتو په غوړولو کي(يعني پر بريتو د تېل په لګولو کي) لِأَنَّهُ نَوْعُ إِرْتِفَاقٍ ځکه چي دا يو ډول راحت دی وَهُوَ لَيْسَ مِنْ مَحْظُوْرَاتِ الصَّوْمِ او راحت د روژې له

ممنوعاتو څخه نه دي وَقَدْ نَدَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● إِلَى الْاِكْتِحَالِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَإِلَى الصَّوْمِ فِيْهِ او نبي ﷺ د عاشوراء په ورځ روژه نيول او رانجه لګول مستحب ګرځولو دي وَلَا بَأْسَ بِالْاِكْتِحَالِ لِلرِّجَالِ إِذَا قَصَدَ بِهِ التَّدَاوِيْ او د خلګو لپاره په رانجو لګولو کي څه حرج نشته په دې شرط چي مقصد يې علاج وي دُوْنَ الزِّيْنَةِ نه ښکلا وَيَسْتَحْسِنُ دَهْنَ الشَّارِبِ او پر بريتو تېل لګول غوره دي إِذَا لَمْ يَكُنْ مِنْ قَصْدِهِ الزِّيْنَةُ خو چي کله يې اراده ښکلا نه وي لِأَنَّهُ يَعْمَلُ عَمَلَ الْخِضَابِ ځکه چي دا د نکريزو کار کوي وَلَا يَفْعَلُ لِتَطْوِيْلِ اللِّحْيَةِ إِذَا كَانَتْ بِقَدْرِ الْمَسْنُوْنِ او د ږيري د اوږدولو لپاره دي تېل نه لګوي چي کله ږيره د سنت په اندازه وي وَهُوَ الْقُبْضَةُ او سنت اندازه يو موټ ده.

اللغات: ﴿كحل﴾ رانجه، ﴿دهن﴾ تېل، ﴿شارب﴾ بريتونه، ﴿ارتفاق﴾ د افتعال د باب مصدر دی: د ژوند راحت او سکون حاصلول، نفع اخيستل، ﴿محظور﴾ اسم مفعول دی: منع کړی سوی، ﴿ندب﴾ د نصر ماضي ده: مستحب ګرځول، ترغيب ورکول، ﴿اكتحال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: رانجه لګول، ﴿لحية﴾ ږيره ﴿قبضة﴾ يو موټ.

تشريح: مسئله: دا ده چي د روژتي لپاره رانجه لګول او بريتونه غوړول جائز دي، ځکه چي دا شيان د ژوند له آسانتياوو او راحتونو څخه دي، او د روژې په حالت کي آساني او راحت تر لاسه کول مکروه نه دي، بلکي رانجه لګول خو لا مستحب او غوره کار دی، ځکه نبي ﷺ د عاشوراء په ورځ روژه نيول او رانجه لګول مستحب ګرځولي دي. همدا رول د خلګو لپاره د علاج په توګه په رانجه لګولو کي څه حرج نشته، لېکن د ښکلا او زينت لپاره د خلګو په حق کي رانجه لګول مکروه دي، ځکه چي ښکلا او ځان ښائسته کونه د ښځو خاصه ده، نه د خلګو (خو په ځانګړو حالاتو کي مستحسن دي)، همدارنګه که ښکلا او ښائست مقصود نه وي، نو د بريتو په غوړولو کي هم څه حرج نشته، ځکه چي تېل د نکريزو کار کوي، او نکريزي لګول سنت او غوره دي.

ولايفعل الخ فرمايي: که د يو سړي ږيره په سنت اندازه يعني يو موټ وي، نو د ږيري د اوږدولو په غرض تېل لګول پکار نه دي، ځکه دا هم په ښکلا او زينت کي داخل دي.

په روژه کي د مسواک وهلو حکم

وَلَا بَأْسَ بِالسِّوَاكِ الرَّطْبِ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ لِلصَّائِمِ او د روژتي لپاره سهار او ماښام د لانده مسواک په وهلو کي څه پروا نشته لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ●: خَيْرُ خِلَالِ الصَّائِمِ السِّوَاكُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي د روژتي غوره خصلت مسواک دی مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ بغير له څه تفصيل څخه وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُكْرَهُ بِالْعَشِيِّ لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ماښام په وخت کي مکروه دی لِمَا فِيْهِ مِنْ إِزَالَةِ الْأَثَرِ الْمَحْمُوْدِ ځکه په دې سره خوښ (او غوره) اثر

● تخريج: أخرجه البيهقي في شعب الإيمان في كتاب الصيام، حديث رقم: ٣٧٩٧، والبخاري في كتاب الصوم، باب إذا نوى بالنهار صوماً، حديث رقم: ١٩٢٧.

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الصيام، باب ما جاء في السواک والكحل للصائم، حديث رقم: ١٦٧٧.

ليري كول دي وَهُوَ الْخُلُوْفُ او بـه اثر خلوف (يعني د روژتي د خولې بوی) دی فَشَابَهَ دَمَ الشَّهِيْدِ نو دا د شهيد د وینو سره مشابه سو قُلْنَا: هُوَ أَثَرُ الْعِبَادَةِ اللَّائِقُ بِهِ الْإِخْفَاءُ موږ وايو چي خلوف د عبادت اثر دی او د عبادت سره لائق پټول دي (يعني د عبادت پټول زيات غوره دي) بِخِلَافِ دَمِ الشَّهِيْدِ په خلاف د شهید د وینو لِأَنَّهُ أَثَرُ الظُّلْمِ ځکه چي هغه د ظلم اثر دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الرَّطْبِ الْأَخْضَرِ وَبَيْنَ الْمَبْلُوْلِ بِالْمَاءِ او څه فرق نسته د شنه (زرغونه) لانده مسواک او په اوبو سره د لانده سوي مسواک په مينځ كي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چي موږ روايت کړی.

اللغات: ﴿سواك﴾ مسواک وهل، ﴿غداة﴾ د سهار وخت، ﴿عشي﴾ ماښام، د شپې وخت، ﴿خلال﴾ جمع د خلة ده: خصلت، ﴿خلوف﴾ د خولې بوی، ﴿مبلول﴾ اسم مفعول دی: لوند سوی، ﴿أخضر﴾ شين، زرغون.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز د روژتي لپاره سهار، ماښام هر وخت د مسواک وهلو اجازه سته، او مسواک که په اوبو لوند وي، يا په خپله لوند وي، په هر صورت کي د هغه استعمالول روا دي، او هيڅ کراهت او قباحت پکښي نسته، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي له سهاره څخه تر زواله پوري د مسواک وهلو اجازه سته، لېکن تر زوال وروسته مسواک وهل مکروه دي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی کوم چي طبراني روايت کړی دی: لَخُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ، (يعني د روژتي د خولې بوی د الله ﷻ په نېز تر مشکو زيات ښه دی)، او ښکاره ده چي په مسواک وهلو سره دا بوی ليري کيږي، نو ځکه تر زوال وروسته د روژتي لپاره مسواک وهل مکروه دي، او دا بوی د شهيد د وينو سره مشابه دی، يعني څرنګه چي د شهيد ويني نه پرېولل کيږي، او د خپلو وينو سره په قبر کي پټيږي، همدارنګه به د روژتي لپاره هم خلوف ليري کول مناسب نه وي، بلکي هغه ته به په همدغه حالت کي روژه پوره کول پکار وي.

زموږ دليل: دا حديث دی: خير خلال الصائم السواك، (يعني د روژتي غوره خصلت مسواک وهل دي)، په دې حديث سره موږ په دې توګه دليل نيسو، چي په دې حديث کي مسواک وهل د روژتي لپاره ښه خصلت ګرځول سوی دی، او د سهار او ماښام هيڅ قيد او تفصيل پکښي بيان سوی نه دی، نو څرنګه چي د سهار په وخت کي مسواک وهل مباح دي، همدارنګه به د ماښام په وخت کي هم مسواک وهل مباح وي، زموږ دويم دليل دا دی چي نبي ﷺ په بعضي حديثونو کي د هر لمانځه لپاره مسواک وهل سنت کړي دي، او د مسواک والا لمونځ يې اويا (۷۰) چنده تر بل لمانځه افضل ګرځولی دی، او په دې حديثونو کي د رمضان او غير رمضان همدارنګه د ماښام او غيرِ ماښام هيڅ تفصيل نسته، نو له دې حديثونو څخه هم هر وخت د مسواک وهلو اباحت ثابتيږي.

قلنا هو الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله خلوف د شهيد پر وينو قياس کړی وو، د هغه جواب ورکوي، فرمايي چي خلوف د شهيد پر وينو قياسول صحيح نه دي، ځکه چي روژه عبادت دی، نو خلوف د عبادت اثر سو، او د عبادت لپاره اخفاء او پټول زيات مناسب دي، او اخفاء هغه وخت امکان لري چي کله خلوف ليري کړی سي، د دې په خلاف د شهيد ويني دي، نو د هغو څرګندول او پرېښوول مناسب دي، ځکه چي هغه د ظلم اثر دي، او د شهيد لپاره د قيامت په ورځ د خپل خصم په خلاف د وينو پاته کېدل زيات ضروري دي.

ولا فرق الخ د الرطب الأخضر څخه مراد هغه مسواک دی چي په خپله لوند وي، وچ نه وي، نو فرمايي چي مسواک ک په خپله لوند وي، يا په اوبو سره لوند سوی وي، په دواړو صورتونو کي د هغه استعمالول مباح دی، او هيڅ کراهت پکښي نسته، ځکه چي ذکر سوی حديث: خير خلال الصائم الخ مطلق دی، او په هغه کي د لانده يا وچ مسواک هيڅ تفصيل نسته.

په اصل کي دا عبارت د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د هغه قول په رد کي ذکر سوی دی چي په هغه کي يې ويلي دي، چي ک مسواک په اوبو کي ايښول سوی وي، او په اوبو سره لوند سوی وي، نو د هغه استعمالول مکروه دی، لېکن زموږ بيان سوي حديث د هغه په خلاف حجت دي، والله أعلم بالصواب

فَصْلٌ فِيْ أَعْذَارِ الْإِفْطَارِ

(دا) فصل د روژې ماتولو د عذرنو (په بيان کي) دی

د مريض لپاره د روژې حکم

وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا فِيْ رَمَضَانَ او څوک چي په رمضان کي مريض وي فَخَافَ إِنْ صَامَ إِزْدَادَ مَرَضُهُ او وېرېږي چي که روژه ونيسي نو مرض به يې زيات سي أَفْطَرَ وَقَضٰى نو روژه دي ماته کړي او قضاء دي يې راوړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: لَا يُفْطِرُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي روژه دي نه ماتوي هُوَ يَعْتَبِرُ خَوْفَ الْهَلَاكِ أَوْ فَوَاتَ الْعُضْوِ هغه د هلاکت د ېېري يا د يو اندام د ضايع کېدلو اعتبار کوي كَمَا يَعْتَبِرُ فِي التَّيَمُّمِ لکه په تيمم کي چي هم دغه اعتبار کوي وَنَحْنُ نَقُوْلُ: إِنَّ زِيَادَةَ الْمَرَضِ وَامْتِدَادَهُ قَدْ تُفْضِيْ إِلَى الْهَلَاكِ موږ جواب ورکوو: چي د مرض زياتېدل او د هغه اوږدېدل کله نا کله تر هلاکته رسول کوي (يعني کله نا کله د هلاکت سبب جوړېږي) فَيَجِبُ الْإِحْتِرَازُ عَنْهُ نو ځکه به له هغه څخه (هم) ځان ساتل واجب وي.

اللغات: ﴿إزداد﴾ د افتعال د باب ماضي ده: زياتېدل، ﴿فوات﴾ ضايع کېدل، فوتېدل، ﴿امتداد﴾ د افتعال د باب مصدر دی: اوږدېدل، غوړېدل، ﴿تفضی﴾ د افعال د باب مضارع ده: رسول، ﴿احتراز﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پرېږ کول، ځان ساتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی په رمضان کي مريض وو، او هغه ته دا ېېره سوه چي که روژه ونيسم، مرض به مي زيات سي، نو زموږ په نېز د هغه لپاره حکم دا دی چي روژه دي نه نيسي، او هر وخت چي جوړ سو، د هغه قضاء دي راوړي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په معمولي غوندي او سپک مرض کي روژه ماتول جائز نه دي، بلکي که د روژې نيولو په وجه د انسان د هلاکت او مرګ خطره وه، يا يې د يو اندام د تلف کېدلو خطره وه، نو بيا د هغه لپاره د روژې نه

نيولو اجازه سته، کنې نسته، لکه په تيمم کې چې هم امام شافعي رَحِمَهُ الله دغه قيد لګولی دی چې که د اوبو په استعمال د هلاکت يا د يو اندام د ضايع کېدلو يره وه، نو بيا تيمم جائز دی، کنې د زکام، توخ او يخ په بول د معمولي مرضونو په وجه نه تيمم جائز دی، او نه د روژې ماتول جائز دي.

په دې لړ کې زموږ دليل د قرآن کريم دا آيت دی: فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ (البقرة، ۱۸۴)، په دې آيت سره موږ په دې توګه دليل نيسو، چې په دې کې په مطلق توګه د هر مريض لپاره د روژې نه نيولو اجازه سوې ده، خو څرنګه چې په قياس او قرينې سره په سخت او زيات مرض کې د روژې نه نيولو اجازه سته، او د مرض د زياتېدلو يره هم په دې بول معمولي مرضونو کې سته، نو ځکه به د هر بول مرضونو په خاطر د روژې نه نيولو اجازه وي، په دې شرط چې د مرض د زيادت يره پکښې وي.

ونحن نقول الخ د دې حاصل دا دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چې روژه ماتول به د هلاکت يا د يو اندام د ضايع کېدلو سره خاص وي، صحيح نه ده، بلکې کله ناکله د مرض زياتېدل او اوږدېدل هم د هلاکت سبب جوړيږي، لهذا په دې صورتونو کې هم احتياط کول ضروري دي.

د مسافر لپاره د روژې حکم

وَإِنْ كَانَ مُسَافِرًا لَا يَسْتَضِرُّ بِالصَّوْمِ او که مسافر په روژې نيولو سره نه په تکليف کېدی فَصَوْمُهُ أَفْضَلُ نو د هغه لپاره روژه نيول افضله دي وَإِنْ أَفْطَرَ جَازَ او که روژه يې ماته کړه نو (هم) جائز دي لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يَعْرَى عَنِ الْمَشَقَّةِ ځکه چې سفر له تکليف څخه خالي نه وي فَجُعِلَ نَفْسُهُ عُذْرًا نو په خپله سفر عذر وګرځول سو بِخِلَافِ الْمَرَضِ فَإِنَّهُ قَدْ يُخَفَّفُ بِالصَّوْمِ په خلاف د مرض ځکه چې مرض کله ناکله په روژې سره سپکيږي فَشُرِطَ كَوْنُهُ مُفْضِيًا إِلَى الْحَرَجِ نو ځکه په مرض کې دا شرط ولګول سو چې تر حرج پوري به رسونکی وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: الْفِطْرُ أَفْضَلُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې روژه ماتول افضله دي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: په سفر کې روژه نيول نيکي نه ده وَلَنَا أَنَّ رَمَضَانَ أَفْضَلُ الْوَقْتَيْنِ او زموږ دليل دا دی چې رمضان له دوو وختونو څخه يو افضل وخت دی فَكَانَ الْأَدَاءُ فِيهِ أَوْلَىٰ نو په رمضان کې به اداء کول غوره وي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَىٰ حَالَةِ الْجُهْدِ او کوم حديث چې امام شافعي روايت کړی دی هغه د تکليف (او مشقت) پر حالت حمل سوی دی.

اللغات: ﴿لا يستضر﴾ د استفعال د باب مضارع منفي ده: په تکليف کېدل، تکليف محسوسول، ﴿لا يعرى﴾ مضارع منفي ده: خالي کېدل، ﴿يخفف﴾ د تفعيل د باب مضارع ده: سپکول، ﴿بر﴾ نيکي، ﴿جهد﴾ تکليف، مشقت، ستونزه.

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصوم، حديث رقم: ۱۹۴۶، ومسلم في كتاب الصيام، حديث رقم: ۹۲.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مسافر په روژې سره نه په تکليف کېدی، نو د هغه لپاره روژه نيول افضله دي، لېکن که بيا هم هغه روژه نه ونيوله، نو جائز دي. او هغه ته دا اختيار سته چې روژه نه ونيسي، ځکه په سفر کې عموماً ستونزې او تکليفونه وي، او ډېر کم له مشقت څخه خالي وي، نو ځکه شريعت نفسِ سفر عذر وګرځوی، په خلاف د مرض، ځکه چې مرض کله نا کله په روژې سره سپکيږي، تر دې چې ډېرو مرضونو ته روژه ګټه کوي، نو ځکه به په مرض کې مطلقاً د افطار رخصت نه ورکول کيږي، بلکې دا شرط به لګيږي چې که مرض مُفضی الی الحرج وو، نو په هغه کې به د روژې نه نيولو اجازه وي، لېکن که مُفضی الی الحرج نه وو، نو بيا به روژه نيول ضروري وي.

وقال الشافعي رَحِمَهُ اللهُ الخ فرمايي چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د مسافر لپاره مطلقاً روژه نه نيول افضله دي، برابره ده که په سفر کې هغه ته تکليف وي، که نه وي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا حديث دی: ليس من البر الصيام في السفر (يعني په سفر کې روژه نيول نېکي نه ده). په دې حديث سره امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې توګه دليل نيسي چې په دې حديث کې د تکليف او غير تکليف هيڅ قيد نشته، او مطلقاً د مسافر روژه له نېکی څخه ايستل سوې ده، نو ځکه به د مسافر لپاره مطلقاً روژه نه نيول افضله وي.

ولنا الخ زمونږ دليل دا دی چې د رمضان د روژو د اداء کولو لپاره دوه وختونه دي: (۱) اول وخت دا دی چې هغه د رمضان په مياشت کې اداء کړی سي، او دويم وخت دا دی چې هغه له رمضان څخه ماسوا په بل وخت کې را وګرځول سي، لکه څرنګه چې په قرآن کې راځي: فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ [البقرة: ۱۸۵]، د دې آيت له اول څخه په رمضان کې د اداء کولو معنیٰ فهمول کيږي، او د آيت له آخر څخه په غير رمضان کې د اداء کولو جواز ثابتيږي، او دا خبره تسليم سوې ده چې د رمضان روژې په رمضان کې اداء کول ډېر افضله دي، ځکه چې دا تر ټولو زيانه مقدسه او د برکت والا مياشته ده، او بله مياشته هم د فضيلت او برکت په حواله د رمضان سره نه سي برابرېدلی، نو ځکه موږ وايو که د روژې په نيولو کې مسافر ته په رمضان کې څه سختي او ستونزه نه وه، نو د هغه لپاره روژه نيول افضله دي.

وما رواه محمول الخ پاته سو د امام شافعي رَحِمَهُ الله حديث نو د هغه جواب دا دی چې هغه د تکليف او ستونزې پر حالت محمول دی، او د تکليف په صورت کې خو موږ هم دا وايو چې د مسافر لپاره د روژې نه نيول جائز او افضله دي.

که د مرض يا د سفر په وخت کې روژتي مړ سو نو څه حکم دی؟

> وَإِذَا مَاتَ الْمَرِيضُ أَوِ الْمُسَافِرُ او کله چې مريض يا مسافر مړ سي وَهُمَا عَلَى حَالِهِمَا او دواړه (د مرګ په وخت کې) پر خپل (مخکني) حال وي(يعني هغسې د مرض يا سفر په حالت کې وي) لَمْ يَلْزَمْهُمَا الْقَضَاءُ نو پر هغوی قضاء نه لازميږي لِأَنَّهُمَا لَمْ يُدْرِكَا عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ځکه چې مريض او مسافر له نورو ورځو څخه د قضاء راوړلو په اندازه ورځې نه دي نيولي.

اللغات: ﴿عدة﴾ تعداد، شمېر. ﴿أُخر﴾ جمع د آخر ده: نوري.

تشريح: مسئله: دا ده که مريض او مسافر د مرض او سفر په وجه روژې نه ونيسي، او د دې مرض يا سفر په حالت کې هغوی مړه سي، نو د هغو له ذمې څخه فريضه ساقطيږي، او پر هغو قضاء يا فديه نه لازميږي، ځکه له مرض او سفر څخه ماسوا هغو ته دومره وخت پيدا نه سو، چې په هغه کې دوی د قضائي روژو قضاء راوړي، نو کله چې دوی ته د قضاء

موقع پيدا نه سوه، نو ښکاره ده چې د دوی له طرفه د قضاء په باره کې هيڅ بې پروايي نه وسوه، نو ځکه به قضاء يا فديه پر لازم نه وي.

که د مرض يا د سفر تر ختميدلو وروسته روژتي مړ سو نو څه حکم دی؟

وَلَوْ صَحَّ الْمَرِيْضُ وَأَقَامَ الْمُسَافِرُ او که مريض جوړ سي او مسافر مقيم سي ثُمَّ مَاتَا بيا مړه سي لَزِمَهُمَا الْقَضَاءُ بِقَدْرِ الصِّحَّةِ وَالْإِقَامَةِ نو د صحت او اقامت په اندازه پر هغو قضاء لازميږي لِوُجُوْدِ الْإِدْرَاكِ بِهٰذَا الْمِقْدَارِ د هغومره اندازه د وخت نيولو په وجه وَفَائِدَتُهُ وُجُوْبُ الْوَصِيَّةِ بِالْإِطْعَامِ او د دې فايده به دا وي چې د خوراک په ذريعه د فديې ورکولو وصيت به (پر هغو) واجب وي وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ فِيْهِ خِلَافًا بَيْنَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ وَبَيْنَ مُحَمَّدٍ او امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ په دې باره کې د شيخينو او د امام محمد رَحِمَهُمُ اللهُ په مينځ کې اختلاف ذکر کړی دی وَلَيْسَ بِصَحِيْحٍ ليکن دا صحيح نه ده وَإِنَّمَا الْخِلَافُ● فِي النَّذْرِ بلکې اختلاف د نذر په مسئله کې دی وَالْفَرْقُ لَهُمَا أَنَّ النَّذْرَ سَبَبٌ او د شيخينو رَحِمَهُمَا اللهُ لپاره د فرق وجه دا ده چې نذر سبب دی فَيَظْهَرُ الْوُجُوْبُ فِيْ حَقِّ الْخَلَفِ نو د خليفه په حق کې به وجوب ښکاره کيږي وَفِيْ هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ السَّبَبُ إِدْرَاكُ الْعِدَّةِ او په دې مسئله کې [يعني د رمضان په مسئله کې] د ورځو نيول سبب دی فَيَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ مَا أَدْرَكَ نو څومره ورځې چې ونيسي هغومره به وجوب مقدّر وي (يعني هغومره ورځې به روژه نيول واجب وي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مريض يا مسافر په رمضان کې روژې نيولای نه سوې، او تر رمضان وروسته مريض جوړ سو، او مسافر مقيم سو، بيا دواړه مړه سول، نو پر دوی به د صحت او د اقامت د ورځو په اندازه د هغو روژو قضاء واجب وي، نو که هغوی تر مرض يا سفر وروسته د ټولو قضاء سوو روژو د ورځو په اندازه ژوندي پاته سول، نو پر هغو به د ټولو روژو قضاء واجب وي، او که تر هغه کم ژوندي پاته سول، يعني څومره روژې چې قضاء سوي وې، هغومره ژوندي پاته نه سو، مثلاً پنځلس(۱۵) روژې ځني قضاء سوي وې، او تر صحت او اقامت وروسته دوی ۸ ورځې ژوندي پاته سول، او بيا مړه سول، نو اوس به پر دوی صرف د ۸ روژو قضاء واجب وي، ځکه چې له أيام أخر څخه هغوی صرف ۸ ورځې ژوندي پاته سول، يعني صرف ۸ ورځې يې ونيولې، لهذا د قرآن کريم د دې آيت فعدة من أيام أخر په وجه به د أيام أخر د نيولو مطلق قضاء واجب وي.

اوس که په دې ۸ ورځو کې هغو د قضائي روژو قضاء رواړل، نو ډېر ښه، که قضاء يې نه راوړل، نو پر هغو به د مرګ په وخت کې دا وصيت واجب وي: "چې زما د مال له دريمې حصې څخه دې د دې قضائي روژو فديه اداء کړی سي". او دا فديه به انشاء الله د هغه له طرفه کفايي سي، او د هغو په سزا به انشاء الله نه نيول کيږي، د ظاهري مذهب مطابق دا مسئله د حنفي فقهاؤ په مينځ کې متفق عليه ده، ليکن امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ په دې کې اختلاف ذکر کړی دی، هغه شيخين رَحِمَهُمَا اللهُ يو ځای او متفق ذکر کړي دي او د هغو مسلک يې دا ښوولی دی چې که مريض او مسافر تر مرض او سفر

● القول الراجح: في هذه المسئلة قول أبي حنيفة وأبي يوسف رَحِمَهُمَا الله، كما قال في الهندية: لو قال المريض لله على أن أصوم شهرًا فمات قبل أن يصح لا يلزمه شيء، ولو صح يوما لزمه أن يصوم بجميع الشهر، الهندية ج:١، ص: ٢١٠. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٠٠]

وروسته هر څومره ژوندي پاته سول، او په دې وخت کې هغو د قضائي روژو قضاء نه راوړل، نو پر هغو به د ټولو قضاء سوو روژو لپاره وصيت کول ضروري وي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چې څومره ورځې ژوندي پاته سي، صرف د هغومره ورځو د فديې وصيت کول به ضروري وي، او د نورو ورځو لپاره به وصيت ضروري نه وي. لېکن صاحب د هدايې فرمايي چې دا اختلاف صحيح نه دی، بلکي په دې مسئله کې د ټولو يوه فيصله دا ده چې له أيام أخر يعني د صحت او اقامت له ورځو څخه چې يې څومره ورځې نيولي وي، د هغو په اندازه به وصيت واجب وي.

[خبر تيا: صاحب د اثمار الهدايې وايي چې ما په طحاوي شريف کې يو داسې عبارت پيدا نه کړی چې په هغه سره دې د شيخينو او د امام محمد په مېنځ کې اختلاف ثابت سي، والله أعلم. (اثمار الهدايه، ج۲، ص: ۱۰۲)]

وإنما الخلاف في النذر الخ فرمايي چې د شيخينو او د امام محمد رَحِمَهُ الله اختلاف د نذر په مسئله کې دی، يعني که يو سړي دا نذر ومنی "چې که جوړ سوم، نو ان شاء الله ۱۰ روژې به نيسم". او تر جوړېدلو وروسته هغه صرف دوې ورځې ژوندی پاته سو، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به پر هغه د ټولو لسو ورځو د فديې ورکولو وصيت ضروري وي. او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به صرف د صحت د بقاء په اندازه يعني د دوو ورځو د فديې ورکولو وصيت ضروري وي (يعني څومره ورځې چې جوړ پاته سوی وي، د هغومره ورځو د فديې وصيت به کوي)، امام محمد رَحِمَهُ الله د بنده ايجاب، د الله تعالیٰ پر ايجاب قياس کړی دی، يعني څرنګه چې د رمضان روژه د الله له طرفه پر بندګانو واجب ده، او په رمضان کې د قضاء حکم د صحت د ورځو په اندازه دی، همدارنګه به په نذر سوو روژو کې هم د قضاء حکم د صحت د ورځو او له أيامِ أخر څخه د نيول سوو ورځو په اندازه وي. (نذر د بنده ايجاب دی، ځکه په دې کې بنده پر ځان يو شی واجبوي، د الله له طرفه پر واجب نه وي).

والفرق الخ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله د مسلک مطابق د قضائي روژو او د نذر سوو روژ په مېنځ کې د فرق وجه دا ده چې د نذر په روژو کې د وجوب سبب نذر دی، او نذر هر وخت موجود وي، لهذا کله چې مرض ختم سي، نو د روژو اداء کول به واجب وي، او د نه اداء کولو په صورت کې به د اداء خليفه يعني فديه واجب وي، او تر مرګ وروسته به د ټولو نذر سوو روژو د فديې وصيت کوي ځکه چې تر مرګ وروسته هم نذر پاته وي، د دې په خلاف د رمضان د قضائي روژو سبب د أيامِ أخر نيول دي، نو څومره چې هغه سړي تر جوړېدلو وروسته ژوند پاته سوی وي، او څومره ورځې چې يې نيولي وي، د هغه په اندازه به روژې پر واجب وي، نو که هغه دا روژې اداء کړې، نو ډېر ښه، کنې د دې ورځو د فديې وصيت به پر واجب وي.

د رمضان د قضائي روژو د قضاء راوړلو حکم

وَقَضَاءُ رَمَضَانَ إِنْ شَاءَ فَرَّقَهُ او د رمضان (د روژو) قضاء که وغواړي نو جلا جلا دې يې راوړي (يعني که خوښه يې وي نو د رمضان قضائي روژې دې جلا جلا ونيسي) وَإِنْ شَاءَ تَابَعَهُ او که وغواړي نو پرلپسې دې يې ونيسي لِإِطْلَاقِ النَّصِّ ځکه چې نص مطلق دی لَكِنَّ الْمُسْتَحَبَّ الْمُتَابَعَةُ لېکن مستحب پرلپسې والی دی مُسَارَعَةً إِلَى إِسْقَاطِ الْوَاجِبِ د واجب په ساقطولو کې د تلوار (او چټکتيا) کولو لپاره.

اللغات: ﴿فرق﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: جلا جلا کول. ﴿تابع﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: يو کار پرلپسې کول. متواتر کول، بلاناغه کول. ﴿مسارعة﴾ د مفاعلې مصدر دی: تېزي کول، چابکي او تلوار کول.

تشريح: فرمايي له کوم سړي څخه چې د رمضان روژې قضاء سوي وي، او قضاء يې راوړل وغواړي، نو هغه ته اختيار دی، که غواړي نو په جلا جلا ورځو کي دي روژې ونيسي، او که غواړي نو پرلپسې دي يې ونيسي، نه پر هغه تفريق واجب دی، او نه تتابع، ځکه په کوم آيت سره چې د رمضان د قضائي روژو حکم سوی دی يعني: فعدة من أيام أخر دا آيت مطلق دی، او په دې کي د تفريق يا تتابع هيڅ تفصيل نسته. هو! دومره خبره ده چې له چا څخه د رمضان روژې قضاء سوي وي، نو د هغه لپاره مستحب او غوره دا ده چې پرلپسې او بلاناغه يې قضاء راوړي، د دې لپاره چې ژر تر ژره د واجب له اداء څخه فارغه سي، او يو بل داسې عذر مخته را نه سي، چي هغه په اداء کي خلل جوړ سي، او اداء نوره وځنډول سي.

که قضائي روژې بل رمضان ته وځنډول سي نو څه حکم دی؟

> وَإِنْ أَخَّرَهُ حَتَّى دَخَلَ رَمَضَانُ آخَرُ او که يو سړي قضاء وځنډوله تر دې چې بل رمضان راغلی صَامَ الثَّانِيَ نو هغه دي د دويم رمضان روژې ونيسي لِأَنَّهُ فِي وَقْتِهِ ځکه چي دا په خپل وخت کي دي (يعني دا يې خپل وخت دی) وَقَضَى الْأَوَّلَ بَعْدَهُ او تر دې وروسته دي د اول رمضان قضاء راوړي لِأَنَّهُ وَقْتُ الْقَضَاءِ ځکه دا د قضاء وخت دی (يعني وروسته د قضاء وخت دی) وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِ او پر هغه فديه نسته لِأَنَّ وُجُوبَ الْقَضَاءِ عَلَى التَّرَاخِي ځکه چي د قضاء وجوب په تراخي سره دی حَتَّى كَانَ لَهُ أَنْ يَتَطَوَّعَ همدا وجه ده چي د هغه لپاره جائز دي چي نفلي روژه ونيسي.

اللغات: ﴿أخر﴾ د تفعيل ماضي ده: ځنډول. ﴿فدية﴾ جرمانه (مالي سزا). ﴿تراخي﴾ د تفاعل مصدر دی: وروسته کول، ځنډول، التواء. ﴿يتطوع﴾ د تفعّل مضارع ده: نفلي عبادت کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر يو سړي د يوه رمضان روژې پاته سوې، او هغه يې دومره وځنډولې چي دويم رمضان راغلی، نو اوس د هغه لپاره حکم دا دی چي اول دي د دويم رمضان روژې اداء کړي، او بيا دي د تېر سوي رمضان د قضائي روژو قضاء راوړي، ځکه دويم رمضان په خپل وخت کي راغلی، او دا سړی په دې دويم رمضان کي پر روژو قدرت هم لري، نو ځکه به هغه د دې رمضان نغدي روژې نيسي، او د نورو روژو قضاء به وروسته راوړي، ځکه چي ټوله ژوند د قضاء وخت دی، او د دې ځنډولو په وجه به پر هغه فديه او نور هم واجب نه وي، ځکه چي د رمضان د روژو قضاء فی الفور او سمدستي نه واجبيږي، بلکي په هغو کي د تراخي او ځنډولو ګنجائش سته. همدا وجه ده چي تر قضاء راوړلو مخکي د دې سړي لپاره نفلي روژې نيول جائز دي، که قضاء علی الفور واجبېدی، نو د ده لپاره به تر قضاء راوړلو مخکي نفلي روژې نيول هيڅکله صحيح نه وای، لهذا تر قضاء مخکي د نفلي روژو جواز د دې خبري دليل دی چي قضاء سمدستي نه واجبيږي.

د حاملې او د مرضعې ښځې لپاره د روژې حکم

وَالْحَامِلُ وَالْمُرْضِعُ إِذَا خَافَتَا عَلَى أَنْفُسِهِمَا أَوْ وَلَدَيْهِمَا حامله ښځه او شيدې ورکونکې ښځه چې کله ويريږي پر خپلو زامنو يا پر خپلو بچو أَفْطَرَتَا وَقَضَتَا دَفْعًا لِلْحَرَجِ نو روژه دې ماته کړي او (وروسته دې) قضاء راوړي د تکليف ليرې کولو لپاره وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِمَا او پر هغو کفاره نشته لِأَنَّهُ إِفْطَارٌ بِعُذْرٍ ځکه چې دا روژه ماتول دي د عذر په وجه وَلَا فِدْيَةَ عَلَيْهِمَا او پر هغو فديه (هم) نشته خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِيمَا إِذَا خَافَتْ عَلَى الْوَلَدِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی په هغه صورت کې چې کله ښځه پر خپل بچي ويريږي هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِالشَّيْخِ الْفَانِي هغه دا مسئله پر ډېر بوډا قیاسوي وَلَنَا أَنَّ الْفِدْيَةَ بِخِلَافِ الْقِيَاسِ فِي الشَّيْخِ الْفَانِي او زموږ دليل دا دی چې فديه په ډېر بوډا کې خلاف القياس واجب ده وَالْفِطْرُ بِسَبَبِ الْوَلَدِ لَيْسَ فِي مَعْنَاهُ او د بچي په سبب روژه ماتول د ډېر بوډا په معنیٰ کې نه دي لِأَنَّهُ عَاجِزٌ بَعْدَ الْوُجُوبِ ځکه چې بوډا تر وجوب وروسته عاجز سوی وي وَالْوَلَدُ لَا وُجُوبَ عَلَيْهِ أَصْلًا او پر بچي خو دسره وجوب سته نه.

اللغات: ﴿حامل﴾ هغه ښځه چې بچی يې په نس وي، ﴿مرضع﴾ هغه ښځه چې بچي ته شيدې ورکوي، ﴿شيخ فاني﴾ هغه سپينږيری (بوډا) چې ډېر ضعيفه وي، عمر خوړلی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که حاملې يا مرضعې ښځې ته دا ويره وه چې که روژه ونيسم نو بچي ته به مې نقصان ورسيږي، يا ضايع به سي، نو د هغو لپاره دا اختيار سته چې د رمضان روژې دې نه نيسي، او وروسته دې د قضاء سره روژې قضاء راوړي، ځکه په حمل او رضاعت کې د روژې د نيولو په وجه هغو ته تکليف او حرج پېښيږي، او شريعت حرج ليرې کړی دی، لهذا د حرج ليرې کولو په خاطر به د هغو لپاره روژې خوړل جائز وي، او زموږ په نيز نه پر هغو کفاره واجب ده، او نه يې پول فديه واجب ده، ځکه د حاملې او مرضعې لپاره روژې نه نيول د عذر په وجه سره دي، او د عذر په وجه روژه نه نيول هيڅ جنايت او جرم نه دی، او کفاره د جنايت په وجه سره واجبيږي، دا يې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی، چې که حاملې يا مرضعې ښځې د بچي د ويرې په وجه روژه نه ونيوله، نو پر هغې د قضاء سره سره فديه هم واجب ده (ځکه چې د روژې په نه نيولو کې د ښځې لپاره ذاتي نفع هم ده او د بچي لپاره هم، نو د ذاتي نفعې په وجه به د روژې قضاء پر واجب وي، او د بچي د نفعې په وجه به فديه پر واجب وي)، امام شافعي رَحِمَهُ الله دا مسئله د شيخ فاني والا پر مسئله قياسوي، يعني څرنګه چې پر شيخ فاني دم فديه واجب ده، همدارنګه به پر حاملې او مرضعې هم فديه واجب وي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چې د شيخ فاني په حق کې فديه د قياس په خلاف له نص څخه ثابته ده، نو پر هغه به حامله او مرضعه نه قياسيږي، ځکه چې دا د فقه قاعده ده: ماثبت على خلاف القياس فغيره لا يقاس عليه. دويم او عقلي دليل دا دی چې د بچي په وجه د حاملې يا مرضعې روژه نه نيول د شيخ فاني په معنیٰ کې هم نه دي، ځکه شيخ فاني د روژو تر واجبېدلو وروسته د هغو له اداء څخه عاجزه کيږي، او حامله يا مرضعه د بچي په وجه روژې نه نيسي، حال دا چې پر بچي له سره روژې واجب نه دي، نو ځکه به يې پر بل قیاسول صحيح نه وي.

د ډېر بوډا (سپینږیري) سړي لپاره د روژې حکم

وَالشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى الصِّيَامِ او هغه ډېر بوډا سړی چې د روژو پر نیولو قدرت نه لري يُفْطِرُ وَيُطْعِمُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا هغه به روژه خوري او د هري ورځې په بدله کې به يوه مسکين ته خوراک ورکوي كَمَا يُطْعِمُ فِي الْكَفَّارَاتِ لکه څرنګه چې په کفاراتو کې خوراک ورکول کېږي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ (البقرة: ۱۸۴) او په دې باره کې اصل د الله تعالیٰ (دا) فرمان دی: وعلی الذین یطیقونه... الخ قِيلَ مَعْنَاهُ: لَا يُطِيقُونَهُ ویل سوي دي: چې د دې معنیٰ ده: "څوک چې د روژې طاقت نه لري" وَلَوْ قَدَرَ عَلَى الصَّوْمِ يَبْطُلُ حُكْمُ الْفِدَاءِ او که ډېر بوډا سړی پر روژې قدرت پیدا کړي نو د فدیې ورکولو حکم باطلیږي لِأَنَّ شَرْطَ الْخَلِيفَةِ اِسْتِمْرَارُ الْعَجْزِ څکه چې د خلیفه والي شرط د عاجزۍ همېشه پاته کېدل دي (او دلته عاجزي پاته نه سوه نو څکه به فدیه باطلیږي).

اللغات: ﴿يطعم﴾ د افعال مضارع ده: خوراک ورکول. ﴿لا يطيقون﴾ د افعال مضارع منفي ده: وس او طاقت لرل. ﴿فداء﴾ فدیه ورکول. ﴿استمرار﴾ د استفعال مصدر دی: همېشه کېدل، په وار وار کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې هغه ډېر ضعیفه او ناتوانه بوډا چې د روژو نیولو قدرت نه لري، د هغه لپاره حکم دا دی چې روژې دې نه نیسي، او د هري روژې په عوض کې دې يوه مسکين ته خوراک ورکوي، لکه څرنګه چې په کفاراتو کې خوراک ورکول کېږي، او په دې مسئله کې اصل او اساس د قرآن کريم دا آيت دی: وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين، او مفسرين فرمايي چې يطيقونه د لا يطيقونه په معنیٰ سره دی، چې ښکاره مفهوم يې دا دی: "کوم خلک چې د روژو تاب او طاقت نه لري، پر هغو به د هري روژې په بدله کې د فديې په توګه يوه مسکين ته خوراک ورکول ضروري وي"، همدا به د هغه د روژې فديه وي.

ولو قدر على الصوم الخ فرمايي: که شيخ فاني پر روژو قدرت پيدا کړي، نو پر هغه د روژو قضاء واجبيږي، او فديه څني ساقطيږي، څکه چې روژه اصل ده، او فديه د روژې بدل او خليفه دی، او د خليفه د وجوب لپاره له اصل څخه دائمي او همېشه عجز شرط دی، خو کله چې شيخ فاني پر روژو قدرت پيدا کړي، نو ښکاره ده چې د هغه په حق کې عجز ختم سو، او کله چې عجز ختم سو، نو د خليفه يعني د فديې حکم به هم باطليږي، او د روژو قضاء به راوړي.

که مړي د روژو د فديې وصيت وکړی نو د وصي لپاره څه حکم دی؟

وَمَنْ مَاتَ او څوک چې مړ سي (يعني مرګ ته نژدې سي) وَعَلَيْهِ قَضَاءُ رَمَضَانَ او پر هغه د رمضان قضائي روژې پاته وي فَأَوْصَى بِهِ او د هغو (د اداء کولو) وصيت (هم) وکړي أَطْعَمَ عَنْهُ وَلِيُّهُ نو د هغه له طرفه به خپل ولي خوراک ورکوي لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا د هري ورځې په بدله کې يوه مسکين ته نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ نيم صاع د غنمو يا يو صاع د کجورو يا د اوربشو لِأَنَّهُ عَجَزَ عَنِ الْأَدَاءِ فِي آخِرِ عُمْرِهِ څکه چې هغه له اداء څخه عاجزه سو په آخر د خپل عمر کې فَصَارَ كَالشَّيْخِ الْفَانِي نو د ډېر بوډا په شان سو ثُمَّ لَا بُدَّ مِنَ الْإِيصَاءِ عِنْدَنَا بيا وصيت کول ضروري دي

زموږ په نيز خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دى وَعَلٰى هٰذَا الزَّكٰوةُ او زکاة هم پر دغه اختلاف دى هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِدُيُوْنِ الْعِبَادِ امام شافعي رَحِمَهُ الله دا (فديه او زكاة) د بندګانو پر قرضو باندې قياسوي إِذْ كُلُّ ذٰلِكَ حَقٌّ مَالِيٌّ ځکه چې دا هر يو مالي حق دى يَجْرِيْ فِيْهِ النِّيَابَةُ او په مالي حق کې نائبوالى جاري کيږي وَلَنَا أَنَّهُ عِبَادَةٌ او زموږ دليل دا دى چې فديه ورکول يو عبادت دى وَلَا بُدَّ فِيْهِ مِنَ الْاِخْتِيَارِ نو په هغه کې اختيار ضروري دى وَذٰلِكَ فِي الْإِيْصَاءِ دُوْنَ الْوَرَاثَةِ او دا اختيار په وصيت کې سته (لېکن) په وراثت کې نسته لِأَنَّهَا جَبْرِيَّةٌ ځکه چې وراثت جبري شى دى ثُمَّ هُوَ تَبَرُّعٌ ابْتِدَاءً بيا دا وصيت په شروع کې تبرع دى حَتّٰى يُعْتَبَرَ مِنَ الثُّلُثِ همدا وجه ده چې د مال له دريمې ځخه به معتبر وي وَالصَّلٰوةُ كَالصَّوْمِ بِاسْتِحْسَانِ الْمَشَايِخِ او لمونځ د روژې په شان دى د مشائخو په استحسان سره وَكُلُّ صَلٰوةٍ تُعْتَبَرُ بِصَوْمِ يَوْمٍ او د هر لمانځه اعتبار به کيږي د يوې ورځې په روژې سره (يعني د فديې په حق کې هر لمونځ د يوې ورځې د روژې په شان دى) هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿أوصى﴾ د افعال ماضي ده: وصيت کول. ﴿البُرّ﴾ غنم. ﴿تمر﴾ خرما. ﴿ايصاء﴾ د افعال مصدر دى: وصيت کول. ﴿تبرع﴾ د تفعّل مصدر د: نفل، يو غير لازمي شى له خپله ځانه کول. ﴿ثلث﴾ دريمه حصه.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دى که يو داسې سړى مرګ ته نژدې سو چې پر هغه د رمضان قضائي روژې پاته وي، او هغه خپلو ميراث خوارو (ورثه وو) ته د فديې ورکولو وصيت وکړي، نو د مړي ولي به د هغه له طرفه د هري روژې په بدله کې يوه محتاج سړي ته د غنمو نيم صاع ورکوي. يا به د اوربشو يا کجورو يو صاع ورکوي.

(موږ دلته د آسانۍ لپاره اول د صاع وزن ذکر کوو، وروسته به دليل ذکر کړو)

صاع	رطل	وسق	کيلو	ګرام	ليټر
يو صاع	۸ رطله کيږي	.....	۳,۵۳۸ (يعني ۳ کيلو او ۵۳۸ ګرامه کيږي)	۳۵۳۸	۵,۸۸
نيم صاع	۴	.....	۱,۷۶۹ (يعني يو کيلو او ۷۶۹ ګرامه کيږي)	۱۷۶۹	۲,۹۴
۶۰ صاعه	.....	يو وسق	۲۱۲,۲۸	.....	۳۵۲,۸۰

دليل: دا حديث دى: عن ابن عمر عن النبي ﷺ قال من مات وعليه صيام شهر فليطعم عنه مكان كل يوم مسكينا. له دې حديث ځخه معلومه سوه چې د مړي له طرفه به د هري ورځې په بدله کې يوه مسکين ته خوراک ورکوي. بل دليل دا دى چې که يو سړي د رمضان د روژو قضاء راوړي سوه، لېکن د سستۍ په وجه يې نه راوړه، او مړ سو، نو اوس به هغه د شيخ فاني په شان وي، او د شيخ فاني حکم په تېره مسئله کې ذکر سو چې هغه به فديه ورکوي، نو دلته به هم د مړي ولي فديه ورکوي.

ثم لابد الخ که پر مړي قضائي روژې پاته وي، يا زکاة پاته وو، نو د هغه د اداء کولو وصيت کول پر مړي ضروري دي، او کله چې مړي وصيت وکړي، نو پر وارث به د هغو اداء کول هم واجب سي، او که وصيت يې نه وکړي، لېکن وارث په

خپله خوښه اداء کول غوښتل، نو اداء کولای یې سي، خو پر وارث اداء کول واجب نه دي. او تر وصیت کولو وروسته هم صرف د مړي د مال له دریمي حصې څخه اداء کول واجب دي. له ټوله مال څخه یې اداء کول واجب نه دي، او که دومره فدیه وه چي له دریمي حصې څخه نه اداء کېدله، نو له دریمي حصې څخه زیات مال مصرفول هم پر ولي واجب نه دي(دا مذهب زموږ دی). او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز پر ولي مطلقاً فدیه ورکول واجب دي، هغه که مړي وصیت کړی وي، که نه وي. او له ټوله مال څخه ورکول واجب دي. امام مالک رَحِمَهُ الله هم دا خبره کوي.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي فديه او زکاة د الله قرض دی. نو څرنګه چي د بندګانو قرض د مړي له وصیت څخه بغیر د هغه اداء کول پر ولي ضروري دي، او له ټوله مال څخه ضروري دي، همدارنګه به د الله قرض هم بغیر له وصیت څخه اداء کول ضروري وي، او له ټوله مال څخه به اداء کول ضروري وي. نو امام شافعي رَحِمَهُ الله مالي عبادتونه د بندګانو پر قرض قیاسوي.

زموږ دليل: دا دی چي د رمضان قضاء راوړل عبادت دی، نو د هغه فدیه ورکول هم عبادت دی. او عبادت هغه وخت اداء کیږي، کله چي یې یو څوک په خپل اختیار سره اداء کړي، نو اوس که یو څوک د فدیې ورکولو وصیت وکړي، نو د هغه په اختیار سره به فدیه اداء سي، او که وصیت نه وکړي، نو د هغه له طرفه به اختیار نه وي، لهذا فدیه به عبادت هم نه وي، نو په دې وجه موږ وویل که ولي وصیت وکړي نو پر ولي به فدیه اداء کول واجب وي. کنې نه به وي. او دا اداء کول به د مال له دریمي حصې څخه وي.

وذالك لان الإيصاء فرمايي چي اختیار د وصیت سره تعلق لري، د وراثت سره هیڅ تعلق نه لري، ځکه چي وراثت یو غیر اختیاري او جبري شی دی، په هغه کي د هیڅا اختیار نه چلیږي.(بلکي هر وخت چي سړی مړ سي، نو د هغه له وصیت څخه بغیر وارث ته نقل کیږي)، همدا وجه ده چي که یو څوک د مرګ په وخت کي خپلو وارثانو ته دا ووايي: "چي فلانکی به زما وارث(میراث خور) نه وي او هغه ته به په میراث کي حصه نه ورکول کیږي" نو د هغه تر مرګ وروسته به بیا هم دا سړی د هغه میراث خور وي، او د هغه خبره به صحیح نه وي، ځکه چي وراثت یو غیر اختیاري شی دی، او په دې کي د هیڅا اختیار نه چلیږي، نه د مړي، نه د بل چا، نو ځکه وصیت کول ضروري دي.

ثم هو تبرع الخ وصیت کول په شروع کي تبرع او احسان دی، همدا وجه ده چي د مال له دریمي حصې څخه به فدیه اداء کول واجب وي، او په آخرت او قیامت کي به دا فدیه د واجب پر ځښولو بدله او عوض سي.

والصلاة كالصوم الخ په عامو احاديثو کي راغلي دي چي که یو څوک د ډېري مجبورۍ په وجه د روژې قضاء نه راوړي، نو د هغه په بدله کي به فدیه ورکوي، لیکن دا خبره نسته چي که د لمانځه قضاء نه راوړي نو فدیه به ورکوي، لیکن مشائخو لمونځ پر روژې قیاس کړی دي فرمايي چي که له مړي څخه لمونځونه قضاء سوي وي، نو د هر لمانځه په بدله کي به یوه مسکین ته خوراک ورکوي، لکه څرنګه چي د یوې روژې په بدله کي هم یوه مسکین ته خوراک ورکول کیږي، صحیح خبره همدغه. ځینو حضراتو ویلي دي چي د ټولي ورځي د پنځو لمونځونو په بدله کي به یوه مسکین ته خوراک ورکوي، لیکن دا صحیح نه ده.

په روژه کې د نیابت حکم

وَلَا يَصُوْمُ عَنْهُ الْوَلِيُّ او د مړي له طرفه به ولي روژه نه نیسي وَلَا يُصَلِّيْ او نه به (د هغه له طرفه) لمونځ کوي لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: لَا يَصُوْمُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: چې نه به یو څوک د بل له طرفه روژه نیسي وَلَا يُصَلِّيْ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ او نه به یو څوک د بل له طرفه لمونځ کوي.

تشریح: مسئله: دا ده چې د مړي ولي خو د مړي له طرفه د روژې، لمانځه فدیه ورکولای سي، لیکن په خپله د مړي له طرفه نه روژه نیولای سي، او نه لمونځ کولای سي، دلیل هغه حدیث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو، په دې حدیث کې په ښکاره توګه د بل له طرفه د روژې او لمونځ کولو څخه منع سوې ده، او یا عقلاً هم دا خبره په ذهن کې راځي چې روژه او لمونځ د الله ﷻ د نژدېکت او د الله ﷻ د رحمت ذریعه ده، نو ښکاره ده چې د بل چا په کړني سره دا مقصود نه سي تر لاسه کېدای.

د نفلي روژې یا د نفلي لمانځه د ماتولو حکم

وَمَنْ دَخَلَ فِيْ صَلَاةِ التَّطَوُّعِ أَوْ فِيْ صَوْمِ التَّطَوُّعِ او څوک چې په نفلي لمانځه یا نفلي روژه کې داخل سي ثُمَّ أَفْسَدَهُ قَضَاهُ بیا یې فاسد کړي نو د هغه قضاء به راوړي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لَهُ أَنَّهُ تَبَرَّعَ بِالْمُؤَدّٰى د هغه دلیل دا دی چې هغه په مؤدّیٰ سره تبرع وکړه (یعني اداء کړی سوی لمونځ یا روژه یې تبرع ده) فَلَا يَلْزَمُهُ مَا لَمْ يَتَبَرَّعْ بِهٖ نو هغه شی به نه پر لازمیږي چې په هغه سره یې تبرع کړې نه وي وَلَنَا أَنَّ الْمُؤَدّٰى قُرْبَةٌ وَعَمَلٌ او زموږ دلیل دا دی چې مؤدّیٰ عبادت او عمل دی فَتَجِبُ صِيَانَتُهٗ بِالْمُضِيِّ عَنِ الْإِبْطَالِ نو په پوره کولو سره به د هغه ساتل له باطلولو څخه واجب وي (بعضي شارحینو یې معنیٰ داسې کړې ده، چې له ابطال څخه به د تېر سوي لمانځه یا روژې ساتل واجب وي) وَإِذَا وَجَبَ الْمُضِيُّ وَجَبَ الْقَضَاءُ بِتَرْكِهٖ او کله چې پوره کول واجب سو نو د هغه په پرېښولو سره به قضاء (هم) واجب وي ثُمَّ عِنْدَنَا لَا يُبَاحُ الْإِفْطَارُ فِيْهِ بِغَيْرِ عُذْرٍ بیا زموږ په نېز په نفلي روژه کې بې له عذره افطار کول (یعني ماتول) روا نه دي فِيْ إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ په یو د دوو روایتونو کې (یعني زموږ په نېز د یوه روایت مطابق په نفلي روژه...) لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَيُبَاحُ بِعُذْرٍ او د عذر په وجه روا دي وَالضِّيَافَةُ عُذْرٌ او مېلمستیا یو عذر دی لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: أَفْطِرْ وَاقْضِ يَوْمًا مَكَانَهٗ "ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: چې روژه ماته کړه او د هغه پر ځای یوه ورځ قضاء راوړه".

● تخریج: أخرجه الترمذي في كتاب الصوم، باب ما جاء في الكفارة، حديث رقم: ۷۱۸.

● تخریج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ في كتاب الصيام، باب من رأى عليه القضاء، حديث رقم: ۸۳۶۳.

اللغات: ﴿تطوع﴾ د تفعل ماضي دی: نفلي عبادت کول. ﴿نوافل﴾ نفيل اسم مفعول دی. هغه چې اداء سوی وي. ﴿لمبة﴾ نږکې. ﴿صيانة﴾ ساتنه، حفاظت. ﴿معنى﴾ مصدر دی، تېرېدل، جاري ساتل. پوره کول (د دې باب ډېري معناوي راځي. خو دلته يې معنی د پوره کولو او جاري ساتلو ده). ﴿ضيافت﴾ ميلمستيا، ميلمه کېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو سړي نفلي روژه يا نفلي لمونځ شروع کړي او تر پوره کولو مخکې يې لمونځ فاسد يې کړي. يا يې روژه ماته کړه. نو زموږ په نېز پر هغه د لمانځه يا د روژې قضاء راوړل واجب دي. امام شافعي رحمه الله فرمايي چې پر هغه قضاء نسته.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د روژې او لمانځه کومه حصه چې دغه سړي اداء کړې ده، هغه د ده له طرفه تبرع ده. او ده په خپل رضا او خوښه سره اداء کړې ده. لهذا کومه حصه چې پاتې ده، او ... کړې يې نه ده نو د هغه حصې قضاء به پر ده واجب نه وي. ځکه چې قرآن داسې اعلان کړی دی: ما على المحسنين من سبيل. (يعني په تبرع کوونکو باندې هيڅ زور او نيوکه نسته). او ښکاره ده چې په قضاء واجبولو کې يو ډول شرعي جبر او زور دی. چې هغه د دې آيت د عموم مخالف دي. صاحب د بنايې د شوافعو نه طرفه يو ښه مثال دا ذکر کړی دی چې که يو سړي د صدقې په نيت په خپل جېب کې دوه درهمه کېښول. لېکن وروسته يې صرف يو درهم صدقه کړی، او دوهم يې صدقه نه کړی، نو پر هغه به د دوهم درهم صدقه کول ضروري نه وي. ځکه چې دا تبرع ده. ... په ... مسئله کې هم د نفلي لمانځه يا نفلي روژې پاتې حصه نه پر هغه سړي واجب وي، او نه به د لمانځه او روژې قضاء واو په صورت کې پر هغه سړي قضاء واجب وي.

زموږ دليل: دا دی چې د نفلي لمانځه او روژې چې کومه حصه هغه اداء کړې ده. هغه يو عبادت او عمل دی، او عمل له باطلولو څخه ساتل ضروري دي. ځکه په قرآن کريم کې ذکر سوي دي: ولا تبطلوا أعمالكم (اې خلکو! خپلو عملونه مه باطلوئ). نو له ابطال څخه د ساتلو لپاره د عمل پوره کول واجب سو، او کله چې يې پوره کول واجب سو، نو ښکاره ده چې د هغه د پرېښوولو په وجه به د هغه قضاء هم واجب وي. نو په دې وجه موږ وايو چې که يو چا نفلي لمونځ يا روژه شروع کړه او بيا يې فاسد کړه، نو پر هغه به د دې قضاء واجب وي.

زموږ د مسلک تائيد په دې حديث سره هم کېږي چې وروسته به ذکر سي يعني: أفطر واقض يوماً مكانه. دا جمله نبي ﷺ د يو نفلي روژې والا صحابي ته فرمايلې وه، او نبي ﷺ په صراحت سره هغه ته د نفلي روژې د ماتولو او بيا يې د قضاء راوړلو حکم کړی وو، نو له دې څخه هم دا خبره ښکاره کېږي چې د نفلو پوره کول ضروري دي، او د باطلولو په صورت کې به د هغه قضاء واجب وي.

ثم عندنا الخ فرمايي چې په دوو روايتونو کې د يوه روايت مطابق زموږ په نېز بې له عذره نفلي روژه ماتول روا نه دي، ځکه چې د لا تبطلوا أعمالكم څخه هم دغه ثابتېږي. دوهم روايت دا دی چې بې له عذره هم نفلي روژه ماتول روا دي، او د عذر په صورت کې خو بالاتفاق نفلي لمونځ او روژه ماتول روا دي. او ضيافت هم په عذر کې داخل دی، ځکه د نبي ﷺ په باره کې دا رانقل سوي دي: أنه كان في ضيافة رجل من الأنصار فامتنع رجل عن الأكل وقال إني صائم فقال ﷺ إنما دعاك أخوك لتكرمه ... واقض يوما مكانه. (يعني نبي ﷺ د يو انصاري صحابي په ميلمستيا کې وو، چې يو سړی له خوراک کولو څخه منع سو، او ويې ويل زه روژتی يم، نو نبي ﷺ ورفرمايل ستا ورور تا ته ځکه دعوت درکړی چې ته د

هغه اکرام او عزت وکړي، نو روژه ماته کړه. او د هغه پر ځای بله ورځ قضاء رواړه). له دې حدیث څخه دوې خبرې معلومې سوې، (۱) اوله دا خبره دا معلومه سوه چې میلمستیا یو عذر دی. او د هغه په وجه نفلي روژه ماتول جائز دي.
(۲) دویمه خبره دا معلومه سوه چې که یو سړي د عذر په وجه نفلي روژه ماته کړه. نو وروسته به د هغه قضاء واجب وي.

د رمضان په ورځ کې د کوچني د بلوغت او د کافر د اسلام حکم

وَإِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ أَوْ أَسْلَمَ الْكَافِرُ فِي رَمَضَانَ او کله چې په رمضان کې کوچنی بالغ سي یا کافر مسلمان سي أَمْسَكَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا نو په پاته ورځ کې به هغوی (له خوراک، څښاک څخه) منع کیږي قَضَاءً لِحَقِّ الْوَقْتِ بِالتَّشَبُّهِ چې د روژتیانو سره د مشابهت په وجه د وخت حق اداء سي وَلَوْ أَفْطَرَا فِيهِ لَا قَضَاءَ عَلَيْهِمَا او که هغوی په پاته ورځ کې (هم) افطار وکړي نو پر هغو به قضاء واجب نه وي لِأَنَّ الصَّوْمَ غَيْرُ وَاجِبٍ فِيهِ ځکه چې روژه په دې ورځ کې واجب نه ده وَصَامَا بَعْدَهُ او تر دې ورځې وروسته به نوري روژې نیسي لِتَحَقُّقِ السَّبَبِ وَالْأَهْلِيَّةِ ځکه چې سبب او اهلیت (دواړه) ثابت دي وَلَمْ يَقْضِيَا يَوْمَهُمَا وَلَا مَا مَضَى او د دغه ورځې او د تېرو سوو ورځو قضاء به نه راوړي لِعَدَمِ الْخِطَابِ ځکه چې (هغوی ته) خطاب نه وو وَهٰذَا بِخِلَافِ الصَّلَاةِ او دا د لمانځه په خلاف دي لِأَنَّ السَّبَبَ فِيهَا الْجُزْءُ الْمُتَّصِلُ بِالْأَدَاءِ ځکه چې په لمانځه کې سبب هغه جزء دی کوم چې د اداء سره متصل (جوخت) وي فَوُجِدَتِ الْأَهْلِيَّةُ عِنْدَهُ نو په دغه وخت کې اهلیت پیدا سو وَفِي الصَّوْمِ الْجُزْءُ الْأَوَّلُ او په روژه کې سبب اول جزء دی وَالْأَهْلِيَّةُ مُنْعَدِمَةٌ عِنْدَهُ او په هغه وخت کې اهلیت نسته (نو ځکه به روژه واجب نه وي) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ إِذَا زَالَ الْكُفْرُ أَوِ الصِّبَا قَبْلَ الزَّوَالِ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې کله کفر یا کوچنیتوب تر زوال مخکې ختم سي فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ نو پر هغه به قضاء واجب وي لِأَنَّهُ أَدْرَكَ وَقْتَ النِّيَّةِ ځکه چې هغه د نیت وخت ونیوی وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ الصَّوْمَ لَا يَتَجَزَّأُ وُجُوبًا د ظاهر روایت دلیل دا دی چې روژه د وجوب په اعتبار سره نه ټوکړې کیږي (یعني حصې حصې نه کیږي) وَأَهْلِيَّةُ الْوُجُوبِ مُنْعَدِمَةٌ فِي أَوَّلِهِ او د ورځې په اول کې د وجوب اهلیت نسته (نو ځکه به روژه نه واجبیږي) إِلَّا أَنَّ لِلصَّبِيِّ أَنْ يَنْوِيَ التَّطَوُّعَ فِي هٰذِهِ الصُّورَةِ دُونَ الْكَافِرِ خو د کوچني لپاره په دې صورت کې د نفلي روژې نیت کول جائز دي. نه د کافر لپاره عَلَى مَا قَالُوا لکه څرنګه چې مشائخو ویلي دي لِأَنَّ الْكَافِرَ لَيْسَ مِنْ أَهْلِ التَّطَوُّعِ أَيْضًا ځکه چې کافر د نفلي عبادت أهل (لایق) هم نه دی وَالصَّبِيُّ أَهْلٌ لَهُ او کوچنی د هغه أهل دی.

اللغات: ﴿بلغ﴾ د نصر ماضي ده: بالغه کېدل، د بالغتوب عمر ته رسېدل، ﴿لتحقق﴾ د تفعّل مصدر دی: ثابتېدل، ﴿ينوي﴾ د ضرب مضارع ده: نیت کول، ﴿التطوع﴾ د تفعّل مصدر دی: نفل، نفلي عبادت.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د روژې د میاشتې په هسې یوه ورځ کې کوچنی بالغ سو، یا یو کافر په اسلام مشرف سو، نو د هغو لپاره حکم دا دی چې د روژه مات تر وخته دي-پاته ورځ له خوراک، څښاک څخه منع سي، او د علمو روژتیانو په څېر دي امساک وکړي، او د هغو مشابهت دي اختیار کړي، د دې لپاره چې د رمضان له مقدس، بابرکت او

پېښلي شپږ شخصه چي هغو شومره وخت نيولى وي، د هغه قدر وکړي. لېکن که بيا هم دې خلګو پاته ورځ امساک نه وکړي، او څه خوراک، څښاک يې وکړي، نو شرعاً هيڅ حرج نشته. ځکه چي پر دې خلګو د دې ورځي روژه واجب نه سوه. لهذا په دې ورځ پر هغو د روژې په باره کي نه څه نيوکره ستة، او نه پر هغو د دې ورځي قضاء لازم ده. لېکن د دا رواني ورځي څخه پر دوارو روژه نيول فرض او لازم دي. ځکه چي اوس په دوی کي د روژې نيولو ورتيا او قابليت هم پيدا سو، او د روژې د واجبېدلو سبب يعني د رمضان مياشته هم پيدا سوه. نو ځکه به د دوی لپاره روژه نيول فرض او واجب وي.

او پر دې خلګو نه د هغې ورځي قضاء واجب ده، او نه د تېرو سوو ورځو قضاء واجب ده. ځکه چي کوچنی تر بلوغت مخکي او کافر تر اسلام مخکي بالکل د شريعت د احکامو مکلف او مخاطب نه وي. نو ځکه به پر هغو روژې واجب نه وي، او کله چي واجب نه دي، نو قضاء به د څه شي واجبېږي؟

بخلاف الصلاة الخ د دې حاصل دا دی چي د لمانځه مسئله له روژې څخه جلا ده. ځکه چي د لمانځه د واجبېدلو سبب هغه وخت دی، کوم چي د اداء سره متصل وي، نو که د اداء سره متصل وخت تنګ هم وو، نو هم به لمونځ واجب وي (ځکه چي سبب پيدا سو)، که څه هم وروسته به د هغه قضاء لازم وي، نو که د تنګ جزء او بالکل د لمانځه په آخري وخت کي يو کوچنی بالغ سو، يا کافر مسلمان سو، نو پر هغو به د دې لمانځه قضاء لازم وي، ځکه چي په دې خلګو کي اهليت هم سته، او د لمانځه د وجوب سبب هم ثابت دی، د دې په خلاف د روژې مسئله ده، نو په روژه کي د واجبېدلو سبب د ورځي اوله او د شروع حصه ده، او د ورځي د شروع حصه د صبح صادق (سپېدې چاود) سره متصله ده، او د صبح صادق په وخت کي په دې خلګو کي قابليت او اهليت نه وو، نو ځکه به پر دوی د دغه ورځي روژه واجب نه وي، او کله چي روژه واجب نه سوه، نو قضاء به يې هم لازم نه وي.

وعن أبي يوسف رَحِمَهُ اللهُ الخ فرمايي په دې لړ کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي که تر زوال مخکي کوچنی بالغ سي، يا کافر مسلمان سي، نو پر هغو به د دې ورځي قضاء واجب وي، ځکه چي دوی ته د روژې د نيت وخت حاصل سو، ځکه زموږ په نېز تر زوال مخکي د روژې نيت کول صحيح دي، او کله چي دا نيت د مکلف او د شريعت د احکامو په حق کي صحيح دی، نو کوم يو چي نن مکلف او مخاطب سوی وي، د هغه له طرفه به هم نيت صحيح وي، لهذا که دوی پاته ورځ د روژې په نيت سره امساک وکړي، نو د هغو روژه به صحيح وي، او که امساک نه وکړي، نو پر هغو به د دې روژې قضاء واجب وي.

وجه الظاهر الخ د ظاهر روايت دليل دا دی چي روژه د وجوب په اعتبار نه متجزي کېږي (يعني حصه حصه او ټوکره ټوکره نه کېږي)، يعني په روژه کي داسي نه سي کېدلای چي د ورځي په اوله حصه کي دي واجب نه وي، او د ورځي په نصف (نيمی) کي دي واجب سي، بلکي د روژې وجوب به د ورځي د شروع په حصه کي کېږي، او دا خبره ښکاره ده چي د ورځي په شروع کي دا خلک مکلف نه ول، لهذا د دغه ورځي روژه پر دوی د سره واجب نه سوه، او کله چي روژه واجب نه سوه، نو ښکاره ده چي د هغې قضاء به هم واجب نه وي.

إلا أن للصبي الخ فرمايي: که کوچنی تر زوال مخکي بالغ سو، او په دې ورځ يې د نفلي روژې نيت وکړی، نو د هغه نيت به معتبر وي، او دا روژه به يې نفلي وي، ځکه چي کوچنی تر بلوغت مخکي هم د دې اهليت لري چي نفلي روژه

ونيسي، خو د کافر نيت به معتبر نه وي، ځکه کافر د کفر په حالت کي د نفلي روژې اهليت نه لري، نو ځکه به تر زوال مخکې د هغه نيت معتبر نه وي.

د رمضان په ورځ کي د سفر د ختمېدلو حکم

وَإِذَا نَوَى الْمُسَافِرُ الْإِفْطَارَ او کله چي مسافر د روژې ماتولو نيت وکړي ثُمَّ قَدِمَ الْمِصْرَ قَبْلَ الزَّوَالِ بيا تر زوال مخکې ښار ته راسي (يعني راورسيږي) فَنَوَى الصَّوْمَ أَجْزَأَهُ بيا د روژې نيت وکړي نو دا روژه د هغه لپاره کافي کيږي لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يُنَافِي أَهْلِيَّةَ الْوُجُوبِ ځکه سفر (خو) نه (د روژې) د واجبېدلو د اهليت منافي دی وَلَا صِحَّةَ الشُّرُوعِ او نه (د روژې) د شروع کولو د صحيح والي منافي دی وَإِنْ كَانَ فِي رَمَضَانَ فَعَلَيْهِ أَنْ يَصُومَ او که په رمضان کي وو نو پر هغه واجب دي چي روژه ونيسي لِزَوَالِ الْمُرَخِّصِ فِي وَقْتِ النِّيَّةِ ځکه چي (د روژې) د نيت په وخت کي رخصت زائل سو أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ كَانَ مُقِيمًا فِي أَوَّلِ الْيَوْمِ ثُمَّ سَافَرَ آيا ته نه وينې چي که هغه د ورځي د شروع په حصه کي مقيم وي بيا سفر وکړي لَا يُبَاحُ لَهُ الْفِطْرُ نو د هغه لپاره به روژه ماتول روا نه وي تَرْجِيحًا لِجَانِبِ الْإِقَامَةِ د مقيم کېدلو و اړخ ته د ترجيح ورکولو لپاره فَهٰذَا أَوْلَى نو دا صورت خو به زيات غوره وي (يعني په دې صورت کي خو به په طريقهٔ اولیٰ سره روژه ماتول روا نه وي) إِلَّا أَنَّهُ إِذَا أَفْطَرَ فِي الْمَسْأَلَتَيْنِ لېکن که هغه په دواړو صورتونو کي روژه ماته کړه لَا تَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ نو پر هغه به کفاره نه لازميږي لِقِيَامِ شُبْهَةِ الْمُبِيحِ ځکه چي د مُبيح (يعني د حلالونکي شي) شبهه سته.

اللغات: ﴿مرخص﴾ د رخصت سبب، ﴿لا يباح﴾ مباح او حلال نه دي، روا نه دي، ﴿المبيح﴾ حلالونکی، روا کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی له رمضان څخه علاوه په بل وخت کي مسافر وو، او د سفر په وجه يې د نفلي روژې نيت نه وکړی، لېکن تر زوال مخکې د هغه سفر ختم سو، او خپل کور ته را ورسېدی، او د نفلي روژې نيت يې وکړی، نو د هغه دا نيت به صحيح وي، او روژه به يې اداء کيږي، ځکه چي سفر نه د روژې د اهليت او قابليت منافي دی، او نه د روژې د شروع کولو منافي دی، نو ځکه به تر زوال مخکې د هغه له طرفه نيت هم صحيح او جائز وي، همدا وجه ده چي که په رمضان کي دا قصه پېښه سوه، او يو مسافر په رمضان کي تر زوال مخکې مقيم سو، نو پر هغه به دې ورځي روژه نيول واجب وي، ځکه چي تر زواله پوري د نيت وخت وي، او تر زوال مخکې د رخصت سبب (يعني سفر) ختم سو.

ألا ترى الخ دا عقلي دليل دی چي که يو سړی مثلاً تر نهو بجو پوري په کور کي وو، نو د هغه خو به خامخا روژه وي ځکه چي مقيم دی، اوس که تر نهو بجو وروسته مسافر سو، نو د سفر په وجه به روژه نه ماتوي، ځکه چي په شروع کي اقامت موجود وو، نو د اقامت اړخ ته به د ترجيح ورکولو لپاره روژه نيسي. يعني کله چي په شروع کي مقيم وو نو روژه به نيسي، لهذا پر هغه باندي په قياسولو سره چي کله تر زوال مخکې مقيم سي. نو هم به د اقامت اړخ ته ترجيح ورکول کيږي او روژه به نيسي.

په رمضان کې د بې هوښۍ حکم

وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فِي رَمَضَانَ او څوک چې په رمضان کې بيهوښه سي لَمْ يَقْضِ الْيَوْمَ الَّذِيْ حَدَثَ فِيْهِ الْإِغْمَاءُ نو د هغه ورځې قضاء به نه راوړي چې په هغه کې بې هوښي پېښه سوې وي لِوُجُوْدِ الصَّوْمِ فِيْهِ ځکه چې په هغه ورځ کې روژه سته (يعني د دې سړي روژه ده ځکه چې هغهٔ نيت کړی دی او د نيت سره يې امساک هم کړی دی) وَهُوَ الْإِمْسَاكُ الْمَقْرُوْنُ بِالنِّيَّةِ او هغه د نيت سره متصل (جوخت) امساک دی إِذِ الظَّاهِرُ وُجُوْدُهَا مِنْهُ ځکه چې ښکاره همدغه ده چې نيت له سړي څخه دی (يعني ښکاره همدغه ده چې نيت يې کړی دی) وَقَضَى مَا بَعْدَهُ لِانْعِدَامِ النِّيَّةِ او د نورو ورځو قضاء به راوړي ځکه چې نيت نسته.

اللغات: ﴿أغمي عليه﴾ د افعال ماضي مجهوله ده: بې هوښه کېدل. ﴿حدث﴾ د فتح ماضي ده: واقع کېدل، مخته راتلل، پېښېدل. ﴿اغماء﴾ د افعال مصدر دی: بيهوښي، بې حسي، بې سدي. ﴿إمساك﴾ د افعال مصدر دی: منع کېدل، بندېدل. ﴿مقرون﴾ د نصر اسم مفعول دی: يو ځای سوی، متصل.

تشريح، مسئله: دا ده که د رمضان په مياشت کې يو سړی بيهوښه سو، نو د هغه لپاره شرعي حکم دا دی چې د دې ورځې قضاء دې نه راوړي، او که په نورو ورځو کې هم بيهوښه پاته سو نو د هغو قضاء دې راوړي، د دې ورځې قضاء خو دې ځکه نه روا وړي چې په دې ورځ کې د دې سړي روژه ثابته سوه، ځکه چې د مسلمان ښکاره حال همدغه دی چې هغه به د روژې نيت کړی وي، ځکه هغه د رمضان په ټوله مياشت کې هره ورځ د روژې نيت کوي، نو د مسلمان ښکاره حال به د هغه په حق کې ثابت منل کېږي او د هغه د دې ورځې روژه به معتبره منل کېږي، نو ځکه به يې قضاء هم نه راوړي، او څرنګه چې تر دې ورځې وروسته دا سړی بالکل د نيت أهل پاته نه سو، ځکه چې بيهوښه دی، او بيهوښه نيت نه سي کولای، نو کله چې د هغه له طرفه نيت نسته، نو روژې به يې هم معتبري نه وي، او کله چې معتبري نه دي، نو قضاء به يې هم راوړي.

د رمضان په اوله شپه کې د بې هوښۍ تفصيلي حکم

وَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ أَوَّلَ لَيْلَةٍ مِنْهُ او که د رمضان په اوله شپه کې بيهوښه سي قَضَاهُ كُلَّهُ غَيْرَ يَوْمِ تِلْكَ اللَّيْلَةِ نو د ټوله رمضان قضاء به راوړي ماسوا د دغه شپې د ورځې لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَقَالَ مَالِكٌ: لَا يَقْضِي مَا بَعْدَهُ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: تر دې ورځې وروسته به د نورو ورځو قضاء نه راوړي لِأَنَّ صَوْمَ رَمَضَانَ عِنْدَهُ يَتَأَدَّى بِنِيَّةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چې د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز د رمضان روژې په يوه نيت سره اداء کېږي بِمَنْزِلَةِ الْإِعْتِكَافِ لکه اعتکاف (چې په يوه نيت سره اداء کېږي) وَعِنْدَنَا لَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ لِكُلِّ يَوْمٍ او زموږ په نېز د هري ورځې لپاره نيت کول ضروري دي لِأَنَّهَا عِبَادَاتٌ مُتَفَرِّقَةٌ ځکه چې روژې جلا جلا عبادتونه لِأَنَّهُ يَتَخَلَّلُ بَيْنَ كُلِّ يَوْمَيْنِ مَا لَيْسَ بِزَمَانٍ لِهٰذِهِ الْعِبَادَةِ ځکه د هرو دوو ورځو په مېنځ کې داسې زمانه [يعني شپه] راځي چې هغه د دې عبادت [يعني د روژې] زمانه نه وي بِخِلَافِ الْإِعْتِكَافِ په خلاف د اعتکاف [چې شپه، ورځ دواړه د اعتکاف زمانه ده].

اللغات: ﴿يتأدى﴾ د تفعّل مضارع ده؛ اداء كېدل. ﴿زمان﴾ وخت. ﴿يتخلل﴾ د تفعّل مضارع ده؛ په مينځ كې راتلل، خلل اچول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو سړى د رمضان په اوله شپه كې بېهوښه سو، او ټوله رمضان بېهوښه وو، نو زموږ په نېز به له اولې روژې څخه ماسوا پر هغه د ټوله رمضان د روژو قضاء واجب وي، ځکه چې هغه مسلمان دى، او د مسلمان ښکاره حال همدغه دى چې هغه به اوله شپه د روژې نيت کړى وي، نو ځکه به د اولې ورځې قضاء ساقطه وي، او د وروستنۍ روژو قضاء به واجب وي، د دې په خلاف د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دا دى چې پر دې سړي د يوې ورځې قضاء هم واجب نه ده، بلکې د ده په حق کې به د رمضان ټولې روژې معتبره وي (يعنې داسې به ګڼل كېږي چې دې سړي د ټوله رمضان روژې نيولې دي).

د امام مالک دليل: دا دى چې کله دا سړى په اوله شپه كې بېهوښه سو، او د ده له طرفه نيت په اوله شپه كې پيدا سو، نو دا يو نيت به د ټوله رمضان د روژو لپاره کافي وي، ځکه چې د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز په يوه نيت سره د ټولې مياشتې روژې اداء كېږي، نو د هرې روژې لپاره د جلا نيت ضرورت نسته. لکه څرنګه چې په يوه نيت سره ټوله عَشَرَه (يعنې پوره لس ورځې) اعتکاف صحيح دى، همدارنګه به په يوه نيت سره د ټولې مياشتې روژې نيول هم صحيح وي، او څرنګه چې په اوله شپه كې د دې سړي له طرفه نيت ثابت سوى دى، نو ګواكې ټوله مياشت د هغه له طرفه نيت ثابت دى، نو ځکه به پر هغه د يوې ورځې قضاء هم واجب نه وي.

زموږ دليل: دا دى چې د روژو تعلق د ورځې سره دى، او تر هرې ورځې وروسته يو داسې زمانه راځي چې په هغه كې نيت نه سي ثابتېدلاى، او نه په هغه کې روژه نيول كېداى سي (چې هغه شپه ده)، نو معلومه سوه چې د هرې ورځې روژه جلا جلا عبادت دى، نو د هرې روژې لپاره به جلا نيت ضروري وي، او په پورتنۍ مسئله كې صرف اوله ورځ د بېهوښه سړي له طرفه نيت ثابت دى، نو د هغه له طرفه به هغه روژه ثابته وي، او پر هغه به صرف د دې يوې روژې قضاء واجب نه وي، او څرنګه چې په پاتو ورځو كې هغه سړى بې هوښه دى، نو په هغو ورځو كې به د هغه له طرفه نيت هم ثابت نه وي، او کله چې نيت ثابت نه سو، نو ښکاره ده چې د هغو ورځو روژې به هم معتبرې نه وي، لهذا د هغو قضاء به پر واجب وي.

بخلاف الإعتكاف الخ د امام مالک د قياس جواب وركوي فرمايي چې د دې په خلاف د اعتکاف مسئله ده، ځکه چې په اعتکاف كې شپه او ورځ ټوله برابر دي، او ټوله څلورويشت (٢٤) ساعته اعتکاف عبادت دى، او په دې كې يو ګړى هم له عبادت څخه جلا نه دى، نو ځکه به د اعتکاف لپاره فقط يو نيت کافي وي، او هره ورځ به د اعتکاف لپاره جلا نيت ضروري نه وي.

ټوله رمضان د بې هوښۍ حكم

> وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ رَمَضَانَ كُلَّه او څوک چې ټوله رمضان بېهوښه سي قَضَاهُ نو د ټوله رمضان قضاء به راوړي لِأَنَّهُ نَوْعُ مَرَضٍ ځکه چې بېهوښي يو ډول مرض دى يُضْعِفُ الْقُوَى وَلَا يُزِيْلُ الْحِجَى چې هغه قوتونه کمزوري کوي خو عقل له منځه نه وړي (يعنې په بې هوښي كې عقل نه ختميږي، بالکې د خوب په ډول بې حسه كېږي) فَيَصِيْرُ عُذْرًا فِي التَّأْخِيْرِ لَا فِي الْإِسْقَاطِ نو بې هوښي به د روژې په ځنډولو كې عذر شمارل كېږي خو په ساقطولو كې به عذر نه شمارل كېږي (ځکه چې روژه هغه وخت ساقطيږي چې عقل بالکل ختم سي).

اللغات: ﴿قوى﴾ انساني او جسماني قوتونه، جسماني اندامونه. ﴿حجى﴾ عقل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د روژې ټوله مياشت بېهوښه وو، يعنې له اوله څخه تر آخره پورې د بېهوښۍ په حالت کې وو، نو پر هغه د ټوله رمضان قضاء واجب ده، ځکه چې په بېهوښۍ سره خو د انسان قواوې کمزورې کيږي، او د هغه طاقت او همت ستړېږي، همدارنګه د هغه عقل پټيږي خو زايليږي نه، او بالکل له منځه نه ځي، نو په دې وجه به له هغه څخه د روژې اداء په وخت کې توکه ختميږي، خو څرنګه چې په اغماء کې عقل نه زايليږي او بالکل له منځه نه ځي، نو ځکه به له بېهوښه سړي څخه روژې نه ساقطيږي، بلکې د هغه پر ذمه به پاتې وي، او تر صحت وروسته به د هغو قضاء واجب وي.

ټوله رمضان د لېونتوب حکم

وَمَنْ جُنَّ رَمَضَانَ كُلَّهُ لَمْ يَقْضِهِ او څوک چې ټوله رمضان لېونی سي نو د هغه قضاء به نه راوړي خِلَافًا لِمَالِكٍ د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِالْإِغْمَاءِ امام مالک رَحِمَهُ الله لېونتوب پر بېهوښۍ قياسوي وَلَنَا أَنَّ الْمُسْقِطَ هُوَ الْحَرَجُ او زموږ دليل دا دی چې ساقطونکی [شی خو] حرج دی وَالْإِغْمَاءُ لَا يَسْتَوْعِبُ الشَّهْرَ عَادَةً او بېهوښي په عامه توګه ټوله مياشت نه نيسي فَلَا حَرَجَ نو [په دې کې] به هيڅ حرج نه وي وَالْجُنُونُ يَسْتَوْعِبُهُ او لېونتوب ټوله مياشت نيسي فَيَتَحَقَّقُ الْحَرَجُ نو حرج به ثابتيږي [لهذا ديوې مياشتې په جنون کې به روژه نه واجبيږي].

اللغات: ﴿جن﴾ د نصر ماضي مجهوله ده: لېونی کېدل، ﴿يستوعب﴾ د استفعال مضارع ده: کېناسل، ټوله نيول، له هر طرف څخه راګرځېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی د روژې په ټوله مياشت کې لېونی وو، نو زموږ په نېز له هغه څخه د رمضان روژې ساقطيږي، او پر هغه بالکل د روژو قضاء واجب نه ده، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه قضاء واجب ده.

د امام مالک دليل: قياس دی، يعنې لېونتوب پر بېهوښۍ قياسوي، فرمايي: چې څرنګه يو سړی ټوله مياشت بېهوښه وي (يعنې د روژې په لوله شپه کې يې هم نيت کړی نه وي)، نو پر هغه د ټولې مياشتې قضاء واجب ده، همداسې که يو سړی ټوله مياشت لېونی وي، نو پر هغه به هم د ټولې مياشتې قضاء واجب وي.

زموږ دليل: او د امام د مالک رَحِمَهُ الله د قياس جواب دا دی چې په بېهوښۍ او لېونتوب کې فرق دی، ځکه چې لېونتوب په عامه توګه يوه مياشت يا تر هغه زيات پاتيږي، او بې هوښي په عامه توګه تر يوې مياشتې ډېره کمه وي، بلکې ډېر ځله تر يوې، دوو ورځو وروسته هم بې هوښي ختميږي، نو د بېهوښۍ په صورت کې د قضاء په واجبولو کې هيڅ حرج نشته، لهذا په دې صورت کې به قضاء واجب وي، او د لېونتوب په صورت کې د روژو د قضاء په واجبولو کې حرج او تکليف دی، او شريعت له بندګانو څخه حرج لېرې کړی دی، نو ځکه به يو پر بل قياسول صحيح نه وي، او د لېونتوب په صورت کې به قضاء واجب نه وي.

د رمضان په دوران کې د لېونتوب د ختمېدلو حکم

وَإِنْ أَفَاقَ الْمَجْنُونُ فِي بَعْضِهِ او که لېونی د رمضان په يوه حصه کې جوړ سي قَضَى مَا مَضَى● نو د تېرو ورځو قضاء به راوړي خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُمَا اللهُ د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی هُمَا يَقُولَانِ: لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ الْأَدَاءُ دوی فرمايي: چې پر هغه اداء واجب نه سوه لِانْعِدَامِ الْأَهْلِيَّةِ ځکه چې اهليت (پکښې) نسته وَالْقَضَاءُ مُرَتَّبٌ عَلَيْهِ او قضاء پر اداء مرتب کېږي وَصَارَ كَالْمُسْتَوْعِبِ نو دا سړی داسي سو لکه ټوله رمضان چې لېونی وو وَلَنَا أَنَّ السَّبَبَ قَدْ وُجِدَ او زموږ دليل دا دی چې سبب پيدا سو وَهُوَ الشَّهْرُ او هغه (د رمضان) مياشته ده وَالْأَهْلِيَّةُ بِالذِّمَّةِ او اهليت د ذمې (او غاړي) سره تعلق لري وَفِي الْوُجُوبِ فَائِدَةٌ او په وجوب کې فايده (هم) ده وَهُوَ صَيْرُورَتُهُ مَطْلُوبًا عَلَى وَجْهٍ او هغه د وجوب پر داسي طريقه مطلوب کېدل دي لَا يُحْرَجُ فِي أَدَائِهِ چې د هغه په اداء کولو کې حرج نه وي بِخِلَافِ الْمُسْتَوْعِبِ په خلاف په ټوله رمضان کې د لېوني سړي لِأَنَّهُ يُحْرَجُ فِي الْأَدَاءِ ځکه چې هغه ته په اداء کولو کې حرج دی فَلَا فَائِدَةَ نو (د هغه پر ذمې په وجوب کې) هيڅ فايده نسته وَتَمَامُهُ فِي الْخِلَافِيَّاتِ او د دې پوره بحث په کتاب الخلافيات کې دی ثُمَّ لَا فَرْقَ بَيْنَ الْأَصْلِيِّ وَالْعَارِضِيِّ بيا د اصلي او عارضي لېونتوب په مينځ کې څه فرق نسته قِيلَ: هَذَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ● ويل سوي دي: چې دا په ظاهر روايت کې وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې هغه د اصلي او عارضي لېونتوب په مينځ کې فرق کړی دی لِأَنَّهُ إِذَا بَلَغَ مَجْنُونًا ځکه کله چې يو څوک دلېونتوب په حالت کې بالغ سي اِلْتَحَقَ بِالصَّبِيِّ نو هغه د کوچني سره لاحق سي فَانْعَدَمَ الْخِطَابُ نو (له هغه څخه) خطاب ختم سي بِخِلَافِ مَا إِذَا بَلَغَ عَاقِلًا په خلاف د هغه صورت چې د عقل په حالت کې بالغ سي ثُمَّ جُنَّ او بيا لېونی سي وَهَذَا مُخْتَارُ بَعْضِ الْمُتَأَخِّرِينَ او دا د بعضي متأخرينو خوښ روايت دی.

اللغات: ﴿أفاق﴾ د افعال ماضي ده: جوړېدل، په هوښ کې راتلل ﴿مجنون﴾ لېونی، ﴿صيرورة﴾ د ضرب مصدر دی: کېدل، گرځېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د رمضان په يوه حصه کې د يو سړي لېونتوب ختم سو، نو زموږ په نيز به هغه د تېرو ورځو قضاء هم راوړي، يعني دلېونتوب په حالت کې چې څومره روژې ځني قضاء سوي وي، د هغو ټولو قضاء به پر واجب وي، لېکن امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې پر هغه به ديوې روژې قضاء هم واجب نه وي، ځکه چې د لېونتوب په حالت کې د روژې نيولو اهليت او قابليت په هغه کې نه وو، نو پر هغه به بالکل اداء واجب نه وي، او څرنگه

● القول الراجح: قول الجمهور يعني: قضى ما مضى، كما قال شمس الحلواني رَحِمَهُ الله: وهو الصحيح، الكفاية ج:۱، ص: ۲۰۱. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۰۱]

● القول الراجح: هو ظاهر الرواية (يعني لا فرق بين الأصلي والعارضي)، كما قال العلامة عابدين رَحِمَهُ الله: قوله لا يقضي مطلقاً أي سواء كان الجنون أصليا أو عارضا بعد البلوغ، رد المحتار ج:۲، ص: ۱۳۴. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۰۱]

چې قضاء پر اداء مرتب کېږي، ځکه کله چې اداء واجب نه سي، نو قضاء به د څه شي واجب سي. لهذا دا سړی به د مستوعب په ډول شمارل کېږي. يعني څرنګه چې يو سړی ټوله رمضان لېونی وي، نو د هغه له غاړي څخه به د ټولو روژو قضاء ساقطېږي، همدارنګه به د دې سړي له غاړي څخه هم د لېونتوب د روژو قضاء ساقطېږي، ځکه چې پر هغه هم په دې ورځو کي لېونتوب سپور وو.

زموږ دليل: دا دی چې د قرآن په دې آيت: فمن شهد منكم الشهر فليصمه سره پر هغه سړي روژه فرض ګرځول سوې ده. چې هغه د رمضان مياشت ونيسي، او څرنګه چې مجنون(لېوني) هم د رمضان مياشت نيولې ده. نو پر هغه هم د دې آيت په روی سره د رمضان روژې فرض سوې، او څرنګه چې د هغه جنون(لېونتوب) تر يوې مياشتي کم وو، نو پر هغه به را رواني روژې اداء کول او د پاتو روژو قضاء راوړل واجب وي، او په دې وجوب کي فايده هم ده، ځکه کله چې د هغه پر غاړه تر يوې مياشتي کمي روژې پاته وي، نو ښکاره ده چې د هغو په قضاء راوړلو او اداء کولو کي به هغه ته هيڅ تکليف او حرج نه وي، او د قضاء ساقطونکی شی حرج دی، لهذا کله چې په دې صورت کي حرج نسته، نو ښکاره ده چې پر هغه به د تېرو ورځو قضاء هم واجب وي، د دې په خلاف که يو سړی ټوله مياشت لېونی وي، نو پر هغه به قضاء واجب نه وي، ځکه چې په هغه صورت کي د قضاء په واجبولو کي هيڅ فايده نسته، په دې توګه چې د يوې مياشتي د روژو په قضاء راوړلو کي حرج دی، او حرج قضاء ساقطوي، نو ځکه به په دې صورت کي قضاء ساقطېږي، فلافائدة في وجوبه. وتمامه في الخلافيات.

والأهلية بالذمة الخ له دې ځايه ديو مقدر سوال جواب ورکوي. سوال دا دی چې فقط د رمضان د مياشتي وجود د روژې د وجوب لپاره کافي نه دی، بلکي د مياشتي سره سره د روژې د نيولو اهليت(قابليت) هم ضروري دی، او په پورتني مسئله کي دا سړی د رمضان په تېرو ورځو کي د لېونتوب په وجه د روژو نيولو أهل نه وو، لهذا پر هغه د تېرو ورځو اداء واجب نه سوه، او کله چې اداء واجب نه سوه، نو قضاء به هم نه واجبېږي، حال دا چې تاسو پر دې سړي د تېرو ورځو قضاء واجبوئ؟ جواب دا دی چې د اهليت تعلق د ذمه واری سره دی، او مجنون که څه هم بالفعل د روژې پر اداء کولو قدرت نه لري، خو په هغه کي دنه دومره اهليت سته چې پر هغه دې روژه واجب او لازم کړی سي، نو په دې وجه به پر مجنون هم روژې لازمي وي، خو څرنګه چې هغه يې اداء کولای نه سي، نو دا به کتل کېږي، چې د هغه جنون اوږد دی، که نه؟ نو که اوږد وو، نو د هغه له ذمې څخه به قضاء ساقطېږي، ځکه چې په دې صورت کي حرج دی، او که د هغه جنون لږ او کم وو، نو په دې صورت کي به پر هغه د لېونتوب د ورځو قضاء واجب وي، ځکه د روژو د قضاء راوړلو په صورت کي هيڅ حرج نسته.

ثم لا فرق الخ فرمايي چې پورته بيان سوي احکام هر ډول جنون ته شامل دي، هغه که اصلي او که عارضي، په دې دواړو کي هيڅ فرق نسته، ځيني خلک وايي چې دا حکم د ظاهر روايت مطابق دی، کنې امام محمد رَحِمَهُ الله خو په دې دواړو کي فرق کړی دی، هغه دا چې که د جنونِ اصلي په صورت کي هغه د رمضان په يوه حصه کي جوړ سو، نو پر هغه به د تېرو ورځو قضاء واجب نه وي، او که د جنونِ عارضي په صورت کي جوړ سو. نو پر هغه به د تېر ورځو قضاء واجب وي، ځکه که جنونِ اصلي وي، او يو سړی د جنونِ اصلي په حالت کي بالغ سي، نو هغه به د کوچني سره لاحقېږي، نو که يو نابالغه کوچنی د رمضان په يوه حصه کي بالغ سي، پر هغه به د تېرو ورځو قضاء واجب نه وي، نو ځکه به پر مجنونِ اصلي هم د تېرو ورځو قضاء واجب نه وي(ځکه هغه هم د نابالغه کوچني سره لاحق سو) او نابالغه کوچنی د

شریعت تر خطاب لاندي نه راځي، د دې په خلاف که یو څوک د عقل په حالت کي بالغ سو، او بیا لیونی سو(یعني مجنونِ عارضي وو) او د رمضان په یوه حصه کي جوړ سو، نو پر هغه به د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د تېرو ورځو قضاء واجب وي، ځکه چي هغه د بلوغت په وخت کي د شریعت تر خطاب لاندي وو، بعضي متأخرینو فقهاؤ د امام محمد نه روایت خوښ کړی دی.

په ټوله رمضان کي د نیت نه کولو حکم

وَمَنْ لَمْ يَنْوِ رَمَضَانَ كُلِّهِ لَا صَوْمًا وَلَا فِطْرًا او څوک چي په ټوله رمضان کي نه د روژې نیت وکړي او نه د روژې د نه نیولو(یعني نه دا نیت وکړي چي روژه نیسم او نه دا نیت وکړي چي روژه نه نیسم) فَعَلَيْهِ قَضَاؤُهُ نو پر هغه به د رمضان قضاء واجب وي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ الله: يَتَأَدَّى صَوْمُ رَمَضَانَ بِدُوْنِ النِّيَّةِ فِيْ حَقِّ الصَّحِيْحِ الْمُقِيْمِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د رمضان روژه د روغ(جوړ) مقیم په حق کي بې له نیته اداء کېږي لِأَنَّ الْإِمْسَاكَ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهِ ځکه چي امساک(یعني له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کېدل) پر هغه واجب دي فَعَلٰى أَيِّ وَجْهٍ يُؤَدِّيْهِ يَقَعُ عَنْهُ نو پر کومه طریقه چي یې اداء کوي د هغه له طرفه به واقع کېږي كَمَا إِذَا وَهَبَ كُلَّ النِّصَابِ لِلْفَقِيْرِ لکه یو څوک چي ټوله نصاب فقیر ته هبه کړي وَلَنَا أَنَّ الْمُسْتَحَقَّ الْإِمْسَاكُ بِجِهَةِ الْعِبَادَةِ او زموږ دلیل دا دی چي واجب هغه امساک دی چي په طریقه د عبادت وي وَلَا عِبَادَةَ إِلَّا بِالنِّيَّةِ او عبادت بې له نیته نه ثابتېږي وَفِيْ هِبَةِ النِّصَابِ وُجِدَتْ نِيَّةُ الْقُرْبَةِ عَلٰى مَا مَرَّ فِي الزَّكَاةِ او د نصاب هبه کولو په صورت کي د عبادت نیت سته لکه څرنګه چي په کتابُ الزکوٰة کي دا مسئله تېره سوه.

اللغات: ﴿لم ینو﴾ د ضرب ماضي جحد معلوم صیغه ده: نیت کول. ﴿جهة﴾ طرف، توګه، طریقه. ﴿قربة﴾ نېکي، عبادت.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو چا د رمضان په ټوله میاشت کي له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان نیولی وو، لېکن هغه نه د روژې نیت کړی وو، او نه یې د روژې نه نیولو، نو دا سړی که مسافر یا مریض وو، نو بالاتفاق قضاء پر واجب ده، او که روغ او مقیم وو، نو زموږ په نېز قضاء پر واجب ده. لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز قضاء پر واجب نه ده، د امام زفر رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي د رمضان روژه د روغ مقیم په حق کي له نیت څخه بغیر هم اداء کېږي.

د امام زفر دلیل: دا دی چي د رمضان په ورځو کي له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کېدل واجب دي، نو برابره ده که هغه هر ډول هم دا واجب اداء کوي، اداء کېږي به، هغه که یې نیت کړی وي که نه وي، لکه یو سړی چي د نصاب ټوله مال تر کال تېرېدلو وروسته یو فقیر ته هبه کړي، او د زکاة اداء کولو نیت نه وکړي، نو زکاة به یې اداء کېږي، همدارنګه که د رمضان په ورځو کي بې له نیته له خوراک، څښاک او جماع څخه منع سو، نو په دې سره به د هغه د رمضان روژه اداء کېږي.

زموږ دلیل: دا دی چي د رمضان په ورځو کي مطلقاً له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کېدل واجب نه دي، بلکي د عبادت په توګه منع کېدل واجب دي، او بې له نیته له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کېدل عبادت نه سي کېدلای، او دلته هغه نیت کړی نه دي، نو له دې څخه دا لازمه سوه چي هغه بالکل د روژې عبادت اداء کړی نه دي، او کله چي داسي ده، نو پر هغه به قضاء واجب وي، او پاته سو د ټوله نصاب هبه کول، نو په هغه کي د عبادت نیت سته، په دې توګه چي هغه د ثواب حاصلولو په نیت سره فقیر ته مال ورکړی دی، نو کله چي د عبادت نیت سته، نو زکاة به هم اداء کېږي، د دې پوره تفصیل په کتاب الزکوٰة کي تېر سو.

څوک چې په رمضان کې د روژې نیت نه وکړي او بیا څه وخوري نو د کفارې حکم

وَمَنْ أَصْبَحَ غَيْرَنَاوٍ لِلصَّوْمِ او څوک چې په داسې حال کې سهار کړي چې د روژې نیت کوونکی نه وي (یعنې د روژې نیت یې کړی نه وي) فَأَكَلَ نو خوراک وکړي لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله ● نو پر هغه کفاره واجب نه ده د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز وَقَالَ زُفَرُ: عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه کفاره واجب ده لِأَنَّهُ يَتَأَدَّى بِغَيْرِ النِّيَّةِ عِنْدَهُ ځکه چې د هغه په نیز روژه بې له نیته اداء کیږي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا الله: إِذَا أَكَلَ قَبْلَ الزَّوَالِ تَجِبُ الْكَفَّارَةُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې که هغه تر زوال مخکې خوراک کړی وي نو کفاره واجبیږي لِأَنَّهُ فَوَّتَ إِمْكَانَ التَّحْصِيلِ ځکه چې هغه د روژې نیولو امکان فوت کړی فَصَارَ كَغَاصِبِ الْغَاصِبِ نو داسې سو لکه د غاصب څخه غصب کوونکی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله: أَنَّ الْكَفَّارَةَ تَعَلَّقَتْ بِالْإِفْسَادِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې کفاره د روژې فاسدولو سره تعلق لري وَهٰذَا امْتِنَاعٌ او دا له روژې نیولو څخه منع کېدل دي إِذْ لَا صَوْمَ إِلَّا بِالنِّيَّةِ ځکه چې روژه بغیر له نیته نه ثابتیږي.

اللغات: ﴿غیر ناو﴾ نیت کوونکی نه وو، ﴿فوت﴾ د تفعیل ماضي ده: فوتول (فوت کول)، ﴿امتناع﴾ د افتعال مصدر دی: منع کېدل، بندېدل، پرېږ کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی د روژې په میاشته کې یوه ورځ مثلاً تر لسو (۱۰) بجو پورې هیڅ خوراک، څښاک نه وکړي، لیکن د روژې نیت هم نه وکړي، تر هغه وروسته قصداً خوراک وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز پر هغه صرف قضاء واجبیږي، د روژې ماتولو کفاره پر واجب نه ده، دلیل دا دی چې کفاره هغه وخت لازمیږي، چې انسان روژه ونیسي او بیا یې ماته کړي، او دې سړي خو بالکل د روژې نیت کړی نه دی، نو داسې سو لکه روژه چې یې بالکل نیولې نه وي، نو کفاره به هم نه لازمیږي، او قضاء په دې وجه واجب ده چې د رمضان روژه یې نه ونیوله، د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز پر هغه کفاره سته، د هغه دلیل دا دی چې د هغه په نیز د رمضان روژه بې له نیته هم روژه اداء کیږي، نو کله چې هغه تر لسو بجو پورې له خوراک، څښاک څخه ځان منع کړی وو، نو روژتي سو، او بیا یې قصداً روژه ماته کړه، نو ځکه به کفاره هم پر واجب وي.

و قال ابو یوسف الخ صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې که تر زوال مخکې یې خوراک وکړی، نو کفاره لازمیږي، د هغوی دلیل دا دی چې تر زوال مخکې د دې خبرې امکان وو چې هغه به د روژې نیت وکړي، او روژه به ونیسي، لیکن هغه ماته کړه، نو د روژې نیولو امکان یې فوت کړی، نو که څه هم روژه یې نیولې او ماته کړې نه ده، لیکن په خوراک سره یې د روژې نیولو امکان ختم کړی، نو د روژې د امکان په ختمولو سره به هم کفاره لازمیږي، د دې یو مثال داسې ذکر کوي چې مثلاً زید له خالد څخه توره غصب کړه، نو خالد به له زید څخه توره اخلي، او که توره ور سره نه وه، نو تاوان به یې ځنې اخلي، لیکن په دې دوران کې نصیر له زید څخه توره غصب کړه، او هغه یې ضایع کړه، نو خالد ته دا حق سته چې

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۱۱۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۰۲]

له زید څخه د تاوان اخیستلو پر ځای له نصیر څخه تاوان واخلي، ځکه چې نصیر توره ضایع کړه. او د هغې د ورکولو امکان یې ختم کړی. لهذا کله چې نصیر د ورکولو امکان ختم کړی. نو ځکه به له هغه څخه خالد تاوان اخلي، همدا رنګه په پورتنۍ مسئله کې هم هغه سړي په خوراک کولو سره د روژې نیولو امکان ختم کړی. نو ځکه به د روژې کفاره ورکوي. (له غاصب څخه د غصب کونکي صورت همدغه دی کوم چې موږ د زید او نصیر په مثال کې ذکر کړی).

ولأبي حنیفة الخ د کفارې د نه واجبېدلو لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې کفاره هغه وخت واجبیږي. چې کله یو څوک د روژې په نیت سره روژه ونیسي او بیا یې ماته کړي. دلته خو هغه بالکل نیت کړی نه دی. هو! دا ویل کېدای سي چې هغه روژه نه ده نیولې، او د روژې په نه نیولو سره صرف قضاء واجبیږي. کفاره نه واجبیږي، نو ځکه به پر هغه کفاره واجب نه وي.

په رمضان کې د حیض او د نفاس حکم

وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ أَوْ نَفِسَتْ او کله چې ښځه د حیض یا نفاس والا سي أَفْطَرَتْ وَقَضَتْ نو روژه به ماتوي او (وروسته به د هغې) قضاء راوړي بِخِلَافِ الصَّلَاةِ په خلاف د لمانځه لِأَنَّهَا تُحْرِجُ فِي قَضَائِهَا ځکه چې د لمانځه په قضاء کې هغه په تکلیف کیږي وَقَدْ مَرَّ فِي الصَّلَاةِ او دا بحث د لمانځه په بیان کې تېر سو.

اللغات: ﴿حاضت﴾ حیض راتلل، حیض والا کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یوې ښځې ته په رمضان کې حیض راسي، یا یوه ښځه په رمضان کې د نفاس والا سي، نو حکم دا دی چې روژې دې نه نیسي، او کله چې له حیض او نفاس څخه فارغه سي، نو تر رمضان وروسته دې د هغو قضاء راوړي، لیکن په دې حالت کې چې کوم لمونځونه فوت سوي دي د هغو قضاء دې نه راوړي، ځکه چې د لمونځو د ډېربښت په وجه د هغو په قضاء راوړلو کې حرج او تکلیف دی، حال دا چې روژې په یوه میاشت کې صرف ۷ یا ۸ فوتیږي، او په ټوله کال کې د هغو قضاء راوړل آسانه دي، نو څرنګه چې د روژو په قضاء کې څه حرج نسته، نو ځکه به د هغو قضاء واجب وي.

د روژې په دوران کې د سفر یا حیض د ختمېدلو حکم

وَإِذَا قَدِمَ الْمُسَافِرُ أَوْ طَهُرَتِ الْحَائِضُ فِي بَعْضِ النَّهَارِ او کله چې مسافر راسي یا حائضه ښځه پاکه سي د ورځې په یوه حصه کې أَمْسَكَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا نو هغوی به پاته ورځ امساک کوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: لَا يَجِبُ الْإِمْسَاكُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې امساک واجب نه دی وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ كُلُّ مَنْ صَارَ أَهْلًا لِلُّزُومِ او هم پر دې اختلاف هر هغه سړی دی چې (دورځې په مینځ کې) د روژې د لازمېدلو أهل (قابل) سي وَلَمْ يَكُنْ كَذَلِكَ فِي أَوَّلِ الْيَوْمِ حال دا چې د ورځې په شروع کې داسې نه وي هُوَ يَقُولُ: اَلتَّشَبُّهُ خَلَفٌ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې د روژتې مشابهت د روژې خلیفه دی فَلَا يَجِبُ إِلَّا عَلَى مَنْ يَتَحَقَّقُ الْأَصْلُ فِي حَقِّهِ نو خلیفه نه واجبیږي خو پر هغه سړي چې د هغه په حق کې اصل (یعني روژه) ثابته سي كَالْمُفْطِرِ مُتَعَمِّدًا أَوْ مُخْطِئًا لکه په قصد یا خطاء سره روژه ماتونکی وَلَنَا أَنَّهُ وَجَبَ

قَضَاءً لِحَقِّ الْوَقْتِ او زمونږ دليل دا دی چې امساک د وخت د حق د اداء کولو لپاره واجب سوی دی لَا خَلَفًا نه د خليفه والي لپاره لِأَنَّهُ وَقْتٌ مُعَظَّمٌ ځکه چې د رمضان ورځ د تعظيم لائق وخت دی بِخِلَافِ الْحَائِضِ وَالنُّفَسَاءِ په خلاف د حيض او نفاس والا ښځي وَالْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ او د مريض او مسافر حَيْثُ لَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ حَالَ قِيَامِ هٰذِهِ الْأَعْذَارِ ځکه چې د دې عذرونو په وجود کي پر هغو امساک نه واجبيږي لِتَحَقُّقِ الْمَانِعِ عَنِ التَّشَبُّهِ ځکه چې د روژتي له مشابهت څخه مانع سته حَسَبَ تَحَقُّقِهِ عَنِ الصَّوْمِ لکه څرنګه چې د روژې له ثبوت څخه مانع سته.

اللغات: ﴿تشبه﴾ د تفعّل مصدر دی: مشابهت اختيارول، ﴿متعمد﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: په قصد سره کار کونکی، ﴿مخطئ﴾ د افعال اسم فاعل دی: په خطاء او غلطی سره کار کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مسافر د رمضان په يوه ورځ کي خپل وطن ته واپس راغلی، يا ښځه له حيض څخه پاکه سوه، نو زمونږ په نېز پر دواړو د ورځي په پاته حصه کي له خوراک، څښاک او جماع څخه امساک واجب دی، که څه هم د ورځي په تېره حصه کي واجب نه وو، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر دوی پاته ورځ کي امساک واجب نه دی، همدا اختلاف د هر هغه سړي په باره کي دی چې هغه د ورځي په يوه حصه کي د روژې أهل سي، مثلاً کافر مسلمان سي، يا کوچنی بالغ سي، يا لېونی جوړ سي، نو زمونږ په نېز به پر دوی د ورځي په پاته حصه کي امساک واجب وي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به واجب نه وي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د روژتيانو سره مشابهت اختيارول د روژې خليفه دی، او قاعده دا ده چې خليفه پر هغه چا واجبيږي چې پر هغه اصل واجب وي، او پر چا چې اصل واجب نه وي، پر هغه خليفه هم نه واجبيږي، نو کله چې پر مسافر او حائضې ښځي اصل يعني روژه واجب نه ده، نو د هغه خليفه يعني امساک به څرنګه پر واجب وي، لېکن که يو چا په رمضان کي قصداً روژه ماته کړه، يا يې خطاءً روژه ماته کړه، په دې توګه چې د شک په ورځ کي يې يو شی وخوړی، بيا معلومه سوه چې نن خو رمضان دی، يا يې پېشلمی په دې ګومان وکړی چې تر اوسه شپه لا پاته ده، وروسته معلومه سوه چې شپه پاته نه وه، بلکي سهار وو، نو څرنګه چې پر دې قصداً يا خطاءً روژه ماتونکي باندي اصل يعني روژه واجب ده، نو تر روژې ماتولو وروسته به پر دوی د هغه خليفه يعني امساک هم واجب وي (لنډه دا چې د امام شافعي په نېز پر قصداً يا خطاءً روژه ماتونکي په پاته ورځ کي امساک واجب دی، بل پر هېچا واجب نه دی، دليل تېر سو).

زمونږ دليل: دا دی چې د روژتيانو مشابهت اختيارول د روژې خليفه نه دی، ځکه چې د روژتيانو سره مشابهت د ورځي په بعضي حصه کي پيدا سو، او روژه ټوله ورځ وي، او د يو شي بعض د کُل خليفه نه سي کېدلای، نو ثابته سوه چې د ورځي په بعضي حصه کي امساک د روژې د خليفه والي په وجه واجب نه دی، بلکي د وخت يعني د رمضان د حق د اداء کولو لپاره واجب دی، ځکه چې د رمضان ورځ يوه ډېره سپېځلې او د ډېر عظمت والا ورځ وي، همدا وجه ده چې په رمضان کي د قصداً روژې فاسدولو په وجه کفاره واجبيږي، او په غيرِ رمضان کي په فاسدولو سره کفاره نه واجبيږي، او د رمضان تعظيم هغه وخت کيږي چې انسان روژه ونيسي او په عباداتو کي مشغول پاته سي، اوس که يو سړی د روژې اهل نه وي، نو په امساک سره دې د هغې حق اداء کړي، او څرنګه چې دا امساک د روژې خليفه نه دی، نو ځکه به د هغې وجوب د اصل يعني د روژې پر وجوب مبني نه وي، او کله چې د امساک وجوب د روژې پر وجوب مبني نه دی، نو امساک به پر هغه چا هم واجبيږي چې پر هغه روژه واجب نه وي.

بخلاف الحائض الخ د دې په خلاف حیض او نفاس والا ښځه، مریض او مسافر دي، چي پر هغو د دې علتونو د وجود په حالت کي امساک واجب نه دی، ځکه دا عذرونه(حیض، نفاس، سفر، مرض) چي څرنگه له روژي نیولو څخه مانع دي، همدارنگه د روژتیانو له مشابهت اختیارلو څخه هم مانع دي، ځکه چي د حائضي او نفاسي په حق کي مشابهت اختیارول په دې وجه ممنوع دی چي پر دې دواړو روژه حرامه ده، او د حرام فعل سره تشبیه هم حرامه ده، او د مریض او مسافر په حق کي مشابهت اختیارول ځکه ممنوع دی، چي دې دواړو ته د روژې ماتولو رخصت د تکلیف او حرج لیري کولو لپاره دی، نو که پر دوی د روژتیانو مشابهت اختیارول لازم سه نو د موضوع ماتول او نقض به لازم سي، ځکه چي همدغه نقض د موضوع دی چي یو طرف دوی ته د روژې ماتولو رخصت ورکول سي، او بل طرف پر دوی مشابهت اختیارول لازم کړی سي.

که څوک په دې گومان پېشلمی وکړي چي وخت لا پاته دی، لیکن داسي نه وي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا تَسَحَّرَ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمایي: او که یو څوک پېشلمی وکړي وَهُوَ يَظُنُّ أَنَّ الْفَجْرَ لَمْ يَطْلُعْ او د هغه دا گومان وي چي سهار راختلی نه دي(یعني تر اوسه سپېدې چاودلي نه دي) فَإِذَا هُوَ قَدْ طَلَعَ خو بیا معلومه سي چي سهار راختلی دی أَوْ أَفْطَرَ وَهُوَ يَرَى أَنَّ الشَّمْسَ قَدْ غَرَبَتْ یا روژه ماته کړي او هغه دا فکر کوي چي لمر لوېدلی دی فَإِذَا هِيَ لَمْ تَغْرُبْ خو بیا معلومه سي چي لوېدلی نه دی أَمْسَكَ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ نو دا سړی به په خپله پاته ورځ کي امساک کوي قَضَاءً لِحَقِّ الْوَقْتِ بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ أَوْ نَفْيًا لِلتُّهْمَةِ په ممکنه اندازه د وخت د حق د پوره کولو لپاره یا د تهمت د لیري کولو لپاره وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ او پر هغه قضاء واجب ده لِأَنَّهُ حَقٌّ مَضْمُونٌ بِالْمِثْلِ ځکه چي دا حق مضمون بالمثل دی(یعني داسي حق دی چي د هغه په ضمان کي د هغه د مثل را گرځول واجب دي) كَمَا فِي الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ لکه په مریض او مسافر کي (چي دا حکم دی) وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ او پر هغه کفاره واجب نه ده لِأَنَّ الْجِنَايَةَ قَاصِرَةٌ لِعَدَمِ الْقَصْدِ ځکه چي د ارادې د نشتوالي په وجه جرم ناقص دی وَفِيهِ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ: مَا تَجَانَفْنَا لِإِثْمٍ قَضَاءُ يَوْمٍ عَلَيْنَا يَسِيرٌ او هم د دغه په باره کي حضرت عمر رضی الله عنه فرمایلي دي: چي موږ هیڅ گناه ته میلان کړی نه دي (او) پر موږ د یوې ورځي قضاء راوړل آسانه دي وَالْمُرَادُ بِالْفَجْرِ الْفَجْرُ الثَّانِي او له سهار څخه مراد دویم سهار(یعني صبح صادق[روڼ گهیځ]) دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ فِي الصَّلَاةِ او موږ دا (خبره) په کتاب الصلاة (باب مواقیت الصلاة) کي بیان کړې ده.

اللغات: ﴿تسحر﴾ پېشلمی کول، په پېشلمي کي خوراک کول. ﴿جنایة﴾ جرم، قصور. ﴿قاصرة﴾ ناقص، کم، نا بشپړ. ﴿ما تجانفنا﴾ د تفاعل له باب څخه ماضي منفي ده: میلان کول، مائلېدل.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړي په دې گومان سره پېشلمی وکړی چي تر اوسه صبح صادق (روڼ گهیځ) نه دی، لیکن وروسته معلومه سوه چي صبح صادق وو، یا یو چا په دې گومان روژه ماته کړه چي لمر لوېدلی دی، حال دا چي لمر لوېدلی نه وو، نو په دې دواړو صورتونو کي د هغه روژه فاسده سوه، لیکن څومره وخت چي پاته دی، پر هغه دغومره وخت امساک واجب دی، چي د وس او امکان په اندازه د رمضان د سپېڅلي او برکتمن وخت تعظیم او احترام وسي، او

په هغه شخصه تهمت هم لیرې سي، ځکه که څه هم هغه په اراده او قصد سره روژه ماته کړې نه ده، خو جاهل خلک به دا تهمت پر وايي چې قصداً يې روژه ماته کړې ده، او داسې نورې بولې بولې خبرې به کوي. نو له دې خرافاتو شخصه د ځان ساتلو لپاره پر هغه امساک واجب دی، او وروسته به د دې روژې قضاء راوړي، ځکه چې روژه يو داسې شرعي حق دی چې هغه مضمون بالمثل دی، يعني د اداء په فوتيدلو سره نه ساقطيږي، بلکې شرعاً د دې ضمان بالمثل واجب دی، يعني د دې په ضمان کې به د دې په مثل بله روژه نيسي، لکه يو څوک چې مريض سي، يا مسافر سي، نو ښکاره ده چې د هغه په حق کې اداء فوت سو، خو تر سفر او مرض ختميدلو وروسته به پر هغه قضاء بالمثل واجب وي، لېکن په دې صورت کې پر هغه کفاره واجب نه ده، ځکه چې د هغه جنايت کم او قاصر دی، ځکه د صبح صادق او تر لمر لوېدلو مخکې دې سرې قصداً خوراک نه دی کړی، بلکې دا سړی په اندازه لګولو کې غلط سوی دی، لهذا په دې دواړو صورتونو کې د روژې ماتولو په حواله د هغه له طرفه هيڅ تعدّیٰ نه راغله، نو ځکه به کفاره هم پر واجب نه وي.

والمراد بالفجر الخ فرمايي چې په متن کې له سهار راختلو شخصه مراد دويم سهار دی، چې د هغه نوم صبح صادق (رڼستونی سهار يا سپېدې چاود يا رڼ ګهيځ) دی.

د پېشلمي شرعي حيثيت

ثُمَّ السَّحُوْرُ مُسْتَحَبٌّ بيا پېشلمی کول مستحب دي لِقَوْلِهِ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: تَسَحَّرُوْا فَإِنَّ فِي السُّحُوْرِ بَرَكَةً ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي، پېشلمی کوئ ځکه چې په پېشلمي کې برکت دی وَالْمُسْتَحَبُّ تَأْخِيْرُهُ او پېشلمی ځنډول مستحب دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: ثَلَاثٌ مِنْ أَخْلَاقِ الْمُرْسَلِيْنَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې درې شيان د رسولانو له اخلاق شخصه دي تَعْجِيْلُ الْإِفْطَارِ وَتَأْخِيْرُ السُّحُوْرِ وَالسِّوَاكُ [۱] روژه مات په تلوار (او چابکي) سره کول [۲] او پېشلمی په ځنډ سره کول [۳] او مسواک وهل إِلَّا أَنَّهُ إِذَا شَكَّ فِي الْفَجْرِ خو کله چې هغه په سهار کېدلو کې شک وکړي (چې آيا سهار به وي که نه؟) وَمَعْنَاهُ تَسَاوِي الظَّنَّيْنِ او د شک معنیٰ دا ده چې دواړه ګومانونه برابر سي فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَدَعَ الْأَكْلَ نو (بيا) افضله دا ده چې خوراک پرېږدي تَحَرُّزًا عَنِ الْمُحَرَّمِ له حرام شي شخصه د ځان ساتلو لپاره وَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ ذٰلِكَ خو پر هغه خوراک پرېښوول واجب نه دي وَلَوْ أَكَلَ فَصَوْمُهُ تَامٌّ او که هغه خوراک وکړی نو روژه يې پوره ده لِأَنَّ الْأَصْلَ هُوَ اللَّيْلُ ځکه چې اصل خو شپه ده وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: إِذَا كَانَ فِيْ مَوْضِعٍ لَا يَسْتَبِيْنُ الْفَجْرَ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله شخصه روايت دی: چې که دا سړی په داسې ځای کې وي چې هلته سهار نه ښکاره کيږي أَوْ كَانَتِ اللَّيْلَةُ مُقْمِرَةً يا د سپوږمۍ شپه وي أَوْ مُتَغَيِّمَةً يا وريځنه شپه وي (يعني پر آسمان وريځ غوړېدلې وي) أَوْ كَانَ بِبَصَرِهِ عِلَّةٌ يا د ده په سترګو کې يو مرض وي وَهُوَ يَشُكُّ او ده ته (د سهار په راختلو کې) شک وي لَا يَأْكُلُ نو خوراک

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصوم، باب بركة السحور من غير إيجاب، حديث رقم: ۱۹۲۳، ومسلم في كتاب الصيام، حديث رقم: ۴۵، والترمذي في كتاب الصوم، باب: ۱۷، حديث رقم: ۷۰۸.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصوم، باب ما جاء في تأخير السحور، حديث رقم: ۷۰۲، فقط في تأخير السحور.

دي نه کوي وَلَوْ أَكَلَ فَقَدْ أَسَاءَ او که خوراک يې وکړی نو بد کار يې وکړی(يعني ښه کار يې نه وکړی) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: دَعْ مَا يُرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يُرِيبُكَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "پرېږده! هغه شی کوم چې تا په شک کې اچوي د هغه شي و طرف ته کوم چې تا په شک کې نه اچوي"(يعني شک پرېږده! پر يقين عمل کوه) وَإِنْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ أَكَلَ وَالْفَجْرُ طَالِعٌ او که د هغه غالب گومان دا وي چې هغه په داسي حال کې خوراک وکړی چې سهار راختلی وو فَعَلَيْهِ قَضَاؤُهُ عَمَلًا بِغَالِبِ الرَّأْيِ وَفِيهِ الِاحْتِيَاطُ نو پر هغه د دې روژې قضاء راوړل واجب دي په غالب گومان باندي د عمل کولو لپاره او هم په دې کې احتياط دی وَعَلَى ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ لَا قَضَاءَ عَلَيْهِ او د ظاهر روايت مطابق پر هغه قضاء واجب نه ده لِأَنَّ الْيَقِينَ لَا يُزَالُ إِلَّا بِمِثْلِهِ ځکه چې يقين نه زائلېږي خو په خپل مثل سره(يعني يقين صرف په يقين سره زائلېږي).

اللغات: ﴿تسحر﴾ د تفعل مصدر دی: پېشلمی کول، ﴿سحور﴾ پېشلمی، ﴿تعجيل﴾ د تفعيل مصدر دی: تلوار کول، ﴿تساوی﴾ د تفاعل مصدر دی: برابرېدل، ﴿مقمرة﴾ سپوږميزه شپه، د سپوږمۍ شپه، ﴿متغيمة﴾ وريځ والا، ﴿أساء﴾ د افعال ماضي ده: بد کار کول، ﴿يريب﴾ د افعال مضارع ده: په شک او شبهه کې اچول.

تشريح، **صورت د مسئلې**: دا دی چې د روژې په مياشته کې د شپې په آخره حصه کې پېشلمی کول مستحب دي، ځکه په دې کې برکت هم دی، او د روژې د نيولو قوت هم په دې کې زيات دی، په حديث کې راغلي دي: تسحروا فإن في السحور بركة، (يعني پېشلمئ کوئ، ځکه چې په دې کې برکت دی)، نو د دې حديث په وجه پېشلمی کول مستحب دي، ځکه چې په حديث کې د أمر په صيغه سره د پېشلمي حکم سوی دی، او دلته أمر پر وجوب نه سي حمل کېدای، کنې امت به په مشقت کې مبتلا سي، لهذا دلته به امر پر ندب او استحباب حمل کيږي، فرمايي چې څرنگه پېشلمی کول مستحب دي، همدارنگه په ځنډ سره کول مستحب دي، ځکه همدغه د نبيانو او رسولانو طريقه وه، چې هغوی به بالکل د شپې په آخري حصه کې پېشلمی کوی، نو د عامو خلکو په حق کې به هم دا طريقه غوره او مستحب وي.

إلا أنه الخ د دې حاصل دا دی که يو سړي پېشلمی کوی، خو د هغه دا يقين نه وو چې شپه ده، بلکې په دې شک کې وو چې شايد سهار به وي، يا شايد شپه به وي، او سهار به نه وي، نو د هغه لپاره غوره او افضله دا ده چې خوراک، څښاک بند کړي، چې له حرام فعل څخه وژغورل سي، ځکه چې د روژې په مياشت کې قصداً خوراک، څښاک کول حرام دي، لو ډېره ممکنه ده چې د هغه شک په يقين بدل سي، او هغه په حرام کار مبتلا سي، خو بيا هم پر هغه خوراک، څښاک پرېښوول واجب او ضروري نه دي، همدا وجه ده که د شک په وخت کې هغه يو څه شی وخوري، نو روژه يې نه ماتيږي، ځکه چې د سهار کېدلو تر يقين مخکې د شپې کېدل اصل دي، او داسي ده لکه بالکل چې يې په شپه کې پېشلمی کړی وي، نو ځکه به د هغه روژه پوره وي.

وعن أبي حنيفة الخ فرمايي چې له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه په نوادر کې يو روايت دا رانقل سوی دی چې که يو سړی په داسي ځای کې وي، چې هلته انسان په دې نه خبرېږي چې سهار سوی دي، که نه دي، يا شپه داسي روښانه او سپوږميزه

---

[*] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب صفة القيامة، حديث رقم: ٢٥١٨، والنسائي في كتاب الأشربة، باب الحث على ترك الشبهات.

وي چې د ستورو او سپوږمۍ په رڼا کې د سهار د سپېدو آثار نه ښکاره کېږي. یا شپه ورېځمنه وي. او د سهار وخت په صحیح توګه نه معلومېږي. یا دیو سړي نظر ډېر کمزوری وي. یا د سترګو په یو مرض مبتلا وي. او د سهار صحیح اندازه نه ورمعلومېږي. یعني د سهار په کېدلو او نه کېدلو کې ورته شک او شبهه وي. نو هغه ته پېشلمی نه کول پکار دي. بلکې څرنګه چې د هغه په زړه کې د سهار کېدلو خیال راسي. نو هغه ته پکار ده چې خوراک، څښاک دې پرېږدي. او پېشلمی دې نه کوي. خو که هغه په دې حال کې هم پېشلمی وکړي. نو بد کار یې وکړ. څکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: دع ما يريبك إلى ما لا يريبك. (یعني شکمن شی پرېږده! هغه شی اختیار کړه چې یقیني وي). او څرنګه چې په پورتني صورت کې شکمن دي. نو څکه به پر هغه د پېشلمي پرېښوول ضروري وي.

وإن كان الخ او که د دې سړي غالب ګومان دا وو چې تر سهار کېدلو وروسته یې پېشلمی کړی دی. نو پر هغه به د دې روژې قضاء راوړل واجب وي. څکه چې دا د فقهي قاعده ده: أكبر الرأي بمنزلة اليقين (یعني غالب ګومان د یقین په درجه کې دی). نو پر دې سړي به د غالب ګومان مطابق عمل کول واجب وي. او په دې کې احتیاط هم دی. لیکن په ظاهر روایت کې پر دې سړي قضاء واجب نه ده. څکه که څه هم د ده غالب ګومان د سهار کېدلو دی. خو بیا هم د ده په حق کې د شپې وجود اصلي او یقیني دی. او قاعده دا ده: اليقين لا يزال إلا بمثله. او څرنګه چې دلته د سهار کېدلو یقین نشته. نو څکه به د هغه پېشلمی هم په شپه کې وي. او د هغه روژه به پوره وي. او کله چې روژه پوره ده. نو قضاء به د څه شي راجب وي؟.

که تر پېشلمي وروسته معلومه سوه چې صبح صادق راختلی وو نو څه حکم دی؟

> وَلَوْ ظَهَرَ أَنَّ الْفَجْرَ طَالِعٌ او که (وروسته) دا ښکاره سوه چې سهار راختلی وو لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ نو پر هغه کفاره واجب نه ده لِأَنَّهُ بَنَى الْأَمْرَ عَلَى الْأَصْلِ څکه چې هغه خپله معامله پر اصل مبني کړه فَلَا يَتَحَقَّقُ الْعَمْدِيَّةُ نو عمداً روژه ماتول به نه ثابتېږي.

تشریح: مسئله: دا ده که تر پېشلمي کولو وروسته انسان ته معلومه سوه چې پېشلمی یې د سهار (صبح صادق) په وخت کې کړی دی، نو پر هغه قضاء واجب ده. لیکن کفاره واجب نه ده. څکه چې هغه په دې ګومان پېشلمی وکړی چې تر اوسه شپه لا پاته ده. نو کله چې یې په دې ګومان پېشلمی کړی دی، نو قصداً روژه ماتول ثابت نه سو، نو کفاره به هم نه واجبېږي.

په لمر لوېدلو کې د شک حکم

> وَلَوْ شَكَّ فِي غُرُوبِ الشَّمْسِ او که د لمر په لوېدو کې شکمن سو لَا يَحِلُّ لَهُ الْفِطْرُ نو د هغه لپاره روژه ماتول حلال نه دي لِأَنَّ الْأَصْلَ هُوَ النَّهَارُ څکه چې اصل خو ورځ ده وَلَوْ أَكَلَ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ او که خوراک یې وکړی نو پر هغه قضاء واجب ده عَمَلًا بِالْأَصْلِ په اصل باندې د عمل کولو لپاره وَإِنْ كَانَ أَكْبَرُ رَأْيِهِ أَنَّهُ أَكَلَ قَبْلَ الْغُرُوبِ او که د هغه غالب ګومان دا وو چې تر لمر لوېدلو مخکې یې خوراک کړی دی فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ رِوَايَةً وَاحِدَةً نو په یوه روایت کې پر هغه قضاء واجب ده لِأَنَّ النَّهَارَ هُوَ الْأَصْلُ څکه چې ورځ اصل ده وَلَوْ كَانَ شَاكًّا فِيهِ او که هغه په دې کې شکمن وو وَتَبَيَّنَ أَنَّهَا لَمْ تَغْرُبْ

لو ښکاره سوه چې لمر لوېدلی نه وو يَنْبَغِي أَنْ تَجِبَ الْكَفَّارَةُ نو مناسب دا ده چې کفاره واجب سي لِأَنَّ الْأَصْلَ هُوَ النَّهَارُ دا اصل يعني د ورځې و طرف ته په نظر کولو سره.

تشريح: مسئله: دا ده که يو روژتي په دې باره کې شکمن سو چې لمر به لوېدلی وي، که نه وي، نو د هغه لپاره روژه ماتول جائز نه دي، ځکه چې اصل خو ورځ ده، ځکه ورځ له مخکې څخه را روانه ده، نو د ورځې کېدل يقيني سو. او يقين صرف په يقين سره زائليږي، په شک سره يقين نه سي زائلېدی، لهذا کله چې د ورځې وجود يقيني دی، نو ځکه به روژه ماتول هم حلال نه وي، او که بيا هم هغه خوراک وکړی، نو پر هغه قضاء واجب ده، چې پر اصل عمل وسي، ځکه اصل خو همدغه دی چې ورځ پاته ده، او که د هغه غالب ګومان دا وو چې تر لمر لوېدلو مخکې يې خوراک کړی دی، نو د ټولو په اتفاق پر هغه قضاء واجب ده، ځکه د ورځې پاته کېدل خو اصل دي، لېکن د هغه سره غالب ګومان هم يو ځای سو، نو يقيناً به قضاء واجب وي.

ولو كان شاكًا الخ لو که په لمر لوېدلو کې د هغه شک وو، او روژه يې ماته کړه، او بيا په دليل ورته معلومه سوه چې لمر لوېدلی نه وو، نو مناسب دا ده چې پر هغه به د قضاء سره کفاره هم واجب وي، ځکه اصل همدغه دی چې ورځ پاته ده، او په دليل سره هم د ورځې پاته کېدل ثابت سو، نو ګواکې هغه قصداً په ورځ کې روژه ماته کړه، او په ورځ کې روژه ماتول قضاء او کفاره دواړه واجبوي، نو ځکه به د قضاء سره کفاره هم واجبول مناسب وي.

که څوک په هېره خوراک وکړي او بيا قصداً خوراک وکړي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ أَكَلَ فِي رَمَضَانَ نَاسِيًا او چا چې خوراک وکړی په رمضان کې په هېره سره وَظَنَّ أَنَّ ذٰلِكَ يُفْطِرُهُ او (بيا) يې دا ګومان وکړی چې په هېره خوراک روژه ماتوي فَأَكَلَ بَعْدَ ذٰلِكَ مُتَعَمِّدًا نو تر هغه وروسته يې قصداً خوراک وکړی عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُوْنَ الْكَفَّارَةِ نو پر هغه قضاء واجب ده، نه کفاره لِأَنَّ الْاِشْتِبَاهَ اِسْتَنَدَ إِلَى الْقِيَاسِ ځکه چې شبهه د قياس و طرف ته منسوبه ده فَتَتَحَقَّقُ الشُّبْهَةُ نو (په دې سره) شبهه ثابته سوه وَإِنْ بَلَغَهُ الْحَدِيْثُ وَعَلِمَهُ او که هغه ته (دا) حديث رسېدلی وو (چې په هېره روژه نه ماتېږي) او په پوه هم وو فَكَذٰلِكَ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو د ظاهر روايت مطابق هم دغه حکم دی (چې کفاره واجب نه ده) وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَنَّهَا تَجِبُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله (يو) روايت دا دی چې کفاره واجبېږي وَكَذَا عَنْهُمَا او همدارنګه له صاحبينو څخه روايت سوي دي لِأَنَّهُ لَا اِشْتِبَاهَ ځکه چې (په حديث تر پوهېدلو وروسته) هيڅ اشتباه نسته فَلَا شُبْهَةَ نو هيڅ شبهه به (هم) نه وي وَجْهُ الْأَوَّلِ د اول روايت وجه (يعني د کفارې نه واجبېدلو وجه) قِيَامُ الشُّبْهَةِ الْحُكْمِيَّةِ بِالنَّظَرِ إِلَى الْقِيَاسِ قياس ته په نظر کولو سره د حکمي شبهې موجودېدل دي فَلَا يَنْتَفِيْ بِالْعِلْمِ نو (په حديث) په پوهېدلو سره شبهه نه ليري کېږي كَوَطْءِ الْأَبِ جَارِيَةَ اِبْنِهِ لکه پلار چې د خپل زوی د مينځې سره وطي وکړي (نو د هغه په وجه به حد نه لازمېږي).

اللغات: ﴿وطى﴾ جماع کول، ﴿جارية﴾ مينځه.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی که یو روژتي د رمضان په یوه ورځ کې په هېره خوراک وکړي. بیا یې دا خیال سو چې په هېره خوراک کولو سره روژه ماتیږي، او قصداً یې نور خوراک هم وکړي، نو پر هغه فقط قضاء واجب ده، کفاره واجب نه ده. دلیل دا دی چې په هېره خوراک کولو سره د روژې ماتېدلو شک او شبهه د قیاس په وجه پیدا سوې ده. ځکه د قیاس تقاضا دا ده چې په هېره خوراک کولو سره دې روژه ماته سي. ځکه چې په دې صورت کې هم د روژې رکن یعني امساک ختم سو، نو کله چې دا اشتباه د قیاس و طرف ته منسوبه ده، نو په هېره خوراک کولو سره د روژې په ماتولو کې شبهه پیدا سوه، او د شبهې په وجه کفارات ساقطیږي.

وان بلغه الحدیث الخ او که دې سړي ته دا حدیث رسېدلی وو چې: من نسی وهو صائم فأکل أو شرب فلیتم صومه فإنما أطعمه الله وسقاه، او د دې حدیث په معنیٰ پوهېدی هم چې په نسیاناً خوراک سره روژه نه فاسدیږي، خو بیا هم هغه قصداً خوراک وکړي، نو د ظاهر روایت مطابق هم پر هغه کفاره نه واجبیږي. لیکن په نوادر کې له امام صاحب رحمه الله څخه روایت دی چې په دې صورت کې کفاره واجبیږي. او همدا حکم له صاحبینو رحمهما الله څخه روایت سوی دی. د امام صاحب رحمه الله د دې روایت دلیل دا دی چې کله هغه ته دا حدیث معلوم دی چې د هېرې په صورت کې روژه نه فاسدیږي، او دا هم معلومه خبره ده چې د حدیث په مقابله کې به قیاس پرېښوول (متروک) کیږي، او متروک شی هیڅ یول شبهه نه پیدا کوي، لهذا په دې صورت کې د عدم صوم شبهه ثابته نه سوه. او کله چې شبهه ثابته نه سوه، نو کفاره به هم نه ساقطیږي، او د ظاهر الروایة مطابق د کفارې د عدم وجوب دلیل دا دی چې قیاس ته په نظر کولو سره هم دلته حکماً شبهه سته، ځکه په هېره د خوراک په کولو سره هم امساک فوت سو او یو شی هم د خپل رکن تر فوتېدلو وروسته نه پاتیږي، او په دې مسئله کې عالم او جاهل دواړه برابر دي، یعني په دې عالم هم خبر دی چې د یو شي رکن چې کله فوت سي نو هغه شی نه پاتیږي، او جاهل هم په خبر دی، نو ځکه به په دې حدیث من نسی الخ تر پوهېدلو وروسته هم قیاس نه منتفي کیږي، لکه پلار چې د زوی د مینځې سره وطي وکړي، نو پر پلار به حد نه واجبیږي، هغه که پلار د دې په حُرمت خبر وي، او که نه وي، ځکه د دې حدیث أنت ومالك لأبيك په وجه سره د ملکیت شبهه سته، همدارنګه قیاس ته په نظر کولو سره په نسیاناً خوراک کې هم د روژې ماتېدلو شبهه سته، نو کله چې شبهه سته، نو کفاره به نه واجبیږي، ځکه چې کفاره د شبهې په وجه ساقطیږي.

که خوک ښکر ولګوي او په دې ګومان نور خوراک وکړي چې روژه ماته سوه نو څه حکم دی؟

> وَلَوِ احْتَجَمَ او که ښکر ولګوي وَظَنَّ أَنَّ ذٰلِكَ يُفَطِّرُهُ او دا ګومان وکړي چې ښکر لګول روژه ماتوي ثُمَّ أَكَلَ مُتَعَمِّدًا عَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ بیا په قصداً خوراک وکړي نو پر هغه قضاء او کفاره دواړه واجب دي لِأَنَّ الظَّنَّ مَا اسْتَنَدَ إِلٰى دَلِيْلٍ شَرْعِيٍّ ځکه چې د هغه ګومان د یو شرعي دلیل و طرف ته منسوب نه سو إِلَّا إِذَا أَفْتَاهُ فَقِيْهٌ بِالْفَسَادِ لیکن کله چې یو فقیه د روژې د فاسدېدلو فتویٰ ورکړي لِأَنَّ الْفَتْوٰى دَلِيْلٌ شَرْعِيٌّ فِيْ حَقِّهِ ځکه چې د هغه په حق کې فتویٰ شرعي دلیل دی وَلَوْ بَلَغَهُ الْحَدِيْثُ فَاعْتَمَدَهُ او که ده ته حدیث رسېدلی وو او ده پر هغه اعتماد وکړي (او خوراک یې وکړي) فَكَذٰلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى نو د امام محمد رحمه الله په نېز همدغه حکم دی (چې کفاره نه لازمیږي) لِأَنَّ قَوْلَ الرَّسُوْلِ عَلَيْهِ

الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَا يَنْزِلُ عَنْ قَوْلِ الْمُفْتِيْ ځکه چې د نبي ﷺ قول د يو مفتي له قول څخه کم نه دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ خِلَافُ ذٰلِكَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د دې په خلاف روايت سوی دی لِأَنَّ عَلَى الْعَامِّيِّ الْإِقْتِدَاءَ بِالْفُقَهَاءِ ځکه چې پر عام سړي د فقهاؤ اقتداء کول ضروري دي لِعَدَمِ الْإِهْتِدَاءِ فِيْ حَقِّهِ إِلَىٰ مَعْرِفَةِ الْأَحَادِيْثِ ځکه چې د هغه په حق کې د احاديثو معرفت تر لاسه کول معدوم دی (يعني د عام سړي لپاره په حديثو پوهېدل ناممکن دي) وَإِنْ عَرَفَ تَأْوِيْلَهُ او که هغه د حديث په تأويل پوهېدی تَجِبُ الْكَفَّارَةُ نو کفاره واجبېږي لِانْتِفَاءِ الشُّبْهَةِ ځکه چې شبهه ختمه سوه وَقَوْلُ الْأَوْزَاعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ لَا يُوْرِثُ الشُّبْهَةَ او د امام اوزعي رَحِمَهُ الله قول شبهه نه پيدا کوي لِمُخَالَفَتِهِ الْقِيَاسَ ځکه چې هغه د قياس مخالف دی.

اللغات: ﴿العامي﴾ عام سړی چې عالم نه وي، مراد ځني عام خلک يعني عوام دي، ﴿إهتداء﴾ د افتعال مصدر دی: لاره پيدا کول، هدايت تر لاسه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو روژتي ښکر ولګوی، او دا خيال يې وکړی چې ښکر لګول روژه ماتوي، نو ځکه يې قصداً يو شی وخوړی، او روژه يې ماته کړه، نو پر هغه قضاء هم واجب ده، او کفاره هم واجب ده، ځکه چې دلته د هغه دا ګومان چې ښکر لګول روژه ماتوي د يو شرعي دليل و طرف ته منسوب نه سو (لکه په تېره مسئله کې چې د قياس وطرف ته منسوب سو)، ځکه چې روژه خو نس ته د يو شي په ننوتلو سره ماتيږي، نه د يو شي په وتلو سره، او په ښکر لګولو کې خوويني له بدن څخه راوځي، نو ځکه به دا روژه نه ماتوي، لهذا د دې سړي دا خيال به قصداً وي چې ښکر لګول روژه ماتوي، او دا سړی به د هغه سړي په ډول وي چې په رمضان کې قصداً خوراک، څښاک کوي، او په رمضان کې په قصداً خوراک سره د روژې قضاء هم واجبيږي، او کفاره هم.

إلا إذا الخ فرمايي: که دې سړي ته يو معتمد او منلي مفتي دا فتویٰ ورکړې وه چې ښکر لګول روژه ماتوي، او تر هغه وروسته هغه خوراک کړی وي، نو پر هغه صرف قضاء واجب ده، نه کفاره، ځکه چې فتویٰ د هغه په حق کې شرعي دليل دی، نو د فتویٰ په وجه سره قصداً د هغه خوراک کول داسې دي لکه تر شرعي دليل وروسته روژه ماتول، او په دې سره کفاره نه واجبيږي.

ولو بلغه الحديث الخ فرمايي چې که ښکر لګونکي ته دا حديث رسېدلی وو أفطر الحاجم والمحجوم (يعني د ښکر لګونکي او پر چا چې ښکر لګېدلی دی د دواړو روژه ماته سوه)، او هغه د حديث پر صحيح والي اعتماد هم وکړی، او بيا يې تر ښکر لګولو وروسته قصداً خوراک وکړی، نو هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز پر دې سړي کفاره واجب نه ده، ځکه کله چې د يو مفتي قول د هغه په حق کې شرعي دليل دی، نو د نبي ﷺ قول به په درجه اولیٰ سره شرعي دليل وي، ځکه نبوي فرمان د يو مفتي له قول څخه بالکل کم نه دی.

وعن أبي يوسف الخ فرمايي چې په دې لړ کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې د دې سړي لپاره د احاديثو پېژندګلوي او په احاديثو پوهېدل ناممکن دي، ځکه چې عام سړی دی، لېکن د دې په خلاف د معتمد مفتي په خبره عام سړی په آسانه پوهيږي، نو ځکه به د هغه په حق کې د مفتي قول شرعي دليل وي، لېکن حديث به شرعي دليل نه

وي، او په ښکر لګولو سره د روژې د فاسدېدلو شبهه هم نسته، او کله چې د روژې د فساد شبهه نسته، نو کفاره به هم نه ساقطيږي، بلکې واجب به وي.

وإن عرف تأويل الخ فرمايي که ښکر لګونکي ته د دې حديث أفطر الحاجم والمحجوم تأويل معلوم وو، او هغه په ښه توګه په دې خبر وو چې په ښکر لګولو سره روژه نه ماتيږي، بيا يې تر ښکر لګولو وروسته قصداً خوراک وکړی، نو پر هغه کفاره واجب ده، ځکه چې د حديث په تأويل تر پوهېدلو وروسته دا شبهه ختميږي چې په ښکر لګولو سره روژه فاسديږي، او کله چې شبهه نسته، نو ښکاره ده چې کفاره به هم نه ساقطيږي.

وقول الأوزاعي الخ له دې ځايه ديو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې د علماؤ په اختلاف سره هم شبهه پيدا کيږي، او په پورتنی مسئله کې د علامه اوزاعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، ځکه چې د هغه په نېز په ښکر لګولو سره روژه فاسديږي، نو په دې اختلاف سره هم د روژې په فساد کې شبهه پيدا سوه، او په شبهې سره کفاره ساقطيږي، لهذا په دې صورت کې هم د امام اوزاعي رَحِمَهُ الله د اختلاف په وجه کفاره ساقطېدل پکار دي، حال دا چې داسې نه ده؟ جواب دا دی چې د امام اوازاعي اختلاف شبهه نه پيدا کوي، ځکه چې اختلاف هغه وخت شبهه پيدا کوي چې کله د قياس سره موافق وي، لېکن د امام اوازعي رَحِمَهُ الله اختلاف د قياس مخالف دی، ځکه چې د قياس تقاضا دا ده که يو شی نس ته داخل سي نو د هغه په وجه به روژه ماتيږي، او که يو شی دباندې راووځي په هغه سره به روژه نه ماتيږي، او څرنګه چې په ښکر لګولو کې له بدن څخه خرابه وينه راوځي، نو ځکه به د قياس مطابق په هغه سره روژه نه ماتيږي، لهذا د امام اوزاعي قول به د قياس د مخالفت په وجه شبهه نه پيدا کوي، او کله چې دا اختلاف شبهه نه پيدا کوي، نو ښکاره ده چې کفاره به هم نه واجبيږي.

فايده: زموږ په نېز ښکرلګول روژه نه فاسدوي، او د حنابله وو په نېز يې فاسدوي، د حنابله وو دليل خو همدغه حديث أفطر الحاجم والمحجوم دی، او زموږ دليل احتجم وهو صائم او داسې نور حديثونه دي، لهذا په رواياتو کې تعارض راغلی، نو په رواياتو کې به د تعارض په وجه د قياس و طرف ته رجوع کوو، او قياس دا دی چې په ښکر لګولو سره روژه نه فاسديږي. د أفطر الحاجم والمحجوم تأويل دا دی چې غيبت روژه ماتوي، ځکه دا جمله نبي ﷺ هغه وخت وفرمايله چې کله يوه سړي بل سړي ته ښکر لګوی، او په دې دوران کې يې غيبت هم کوی، نو نبي ﷺ په دې حديث کې غيبت د روژې ماتېدلو سبب وګرځوی، لېکن راوي دا پر ښکر لګولو حمل کړی چې ښکر لګول روژه ماتوي، لېکن داسې نه ده، بلکې له دې څخه غيبت مراد دی. يعني غيبت د روژې ثواب بالکل ختموي.

تر غيبت وروسته د خوراک کولو حکم

> وَلَوْأَكَلَ بَعْدَ مَا اغْتَابَ مُتَعَمِّدًا او که يو څوک تر غيبت کولو وروسته قصداً خوراک وکړي فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ نو پر هغه قضاء او کفاره (دواړه) واجب دي كَيْفَمَا كَانَ څرنګه چې هم وي لِأَنَّ الْفِطْرَ يُخَالِفُ الْقِيَاسَ ځکه چې روژه ماتول د قياس مخالف دي وَالْحَدِيثُ مُؤَوَّلٌ بِالْإِجْمَاعِ او په حديث کې بالاجماع تأويل سوی دی.

اللغات: ﴿اغتاب﴾ د افتعال د باب ماضي ده: غيبت کول، ﴿مؤوّل﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: هغه چې تأويل يې سوی وي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو چا د روژې په حالت کې غيبت وکړی، او خيال يې دا سو چې په غيبت سره روژه ماتيږي، او قصداً يې خوراک وکړی، نو پر هغه قضاء هم واجب ده، او کفاره هم، برابره ده که هغه ته دا حديث رسيدلی وي چې په غيبت سره روژه ماتيږي، يا رسيدلی نه وي، او د دې حديث په تأويل سره خبر وي، او که نه وي، او يو مفتي د فساد فتوی ورکړې وي، که نه وي، ځکه چې د غيبت په وجه د روژې ماتيدل د قياس مخالف دی، او د دې حديث الغيبة تفطر الصائم بالإجماع تأويل سوی دی، يعني د حديث مطلب دا دی چې د غيبت کولو په وجه د روژتي أجر او ثواب ختميږي، نو کله چې بالاتفاق دا حديث مؤول دی، نو په دې سره به د روژې په فساد او ماتيدلو کې شبهه نه پيدا کيږي، او کله چې شبهه نه پيدا کيږي، نو ښکاره ده چې کفاره به هم واجبيږي، ځکه چې کفاره د شبهې په وجه ساقطيږي.

صاحب د کفايې دا حديث په دې الفاظو سره ذکر کړی دی: ثلاث يفطرن الصائم وينقضن الوضوء ويهدمن العقل الغيبة والنميمة والنظر إلى محاسن المرأة (د رې شيان روژه او اودس ماتوي، او عقل بربادوي: ① غيبت، ② چغل خوري (چغلماري)، ③ د ښځې و ښکلاو ته کتل). مطلب دا دی چې په دې شيانو سره د روژې او د اودس ثواب ختميږي، او د عقل ښکڼه له منځه ځي.

د بيدې يا د لېونۍ روژتې ښځې سره د جماع حکم

وَإِذَا جُومِعَتِ النَّائِمَةُ أَوِ الْمَجْنُونَةُ که ديدې ښځې يا لېونۍ ښځې سره جماع وسي وَهِيَ صَائِمَةٌ حال دا چې هغه روژتې وي عَلَيْهَا الْقَضَاءُ دُوْنَ الْكَفَّارَةِ نو پر هغې قضاء واجب ده نه کفاره وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَىٰ: لَا قَضَاءَ عَلَيْهِمَا امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې پر دواړو قضاء (هم) واجب نه ده اِعْتِبَارًا بِالنَّاسِيْ پر هېرونکي په قياسولو سره وَالْعُذْرُ هُنَا أَبْلَغُ لِعَدَمِ الْقَصْدِ او عذر دلته (له هيري ځخه) زيات غټ دی ځکه چې اراده نسته وَلَنَا أَنَّ النِّسْيَانَ يَغْلِبُ وُجُوْدُهُ او زموږ دليل دا دی چې د هيري وجود غالب وي (يعني هېره هر وخت پېښيږي) وَهٰذَا نَادِرٌ او د دغه ښځو سره د جماع مسئله نادره ده (يعني کله کله پېښيږي) وَلَا تَجِبُ الْكَفَّارَةُ او کفاره به نه واجبيږي لِانْعِدَامِ الْجِنَايَةِ ځکه چې جنايت (جرم) نسته.

اللغات: ﴿جومعت﴾ د مفاعلې د باب ماضي مجهوله ده: جماع کول. ﴿نائمة﴾ بيده ښځه. ﴿نسيان﴾ د ضرب د باب مصدر دی: هېرېدل.

تشريح: د عبارت تر تشريح مخکې په دې خبره پوه سئ چې په متن کې د "مجنونة" پر لفظ دا اعتراض کيدلی سي چې پر مجنون او مجنونه خو روژه فرض نه ده، او که روژه ونيسي هم، نو د هغو روژه به معتبره نه وي، نو په دې وجه د بعضو حضراتو رايه دا ده چې دا لفظ مخکې "مجبورة" وو (يعني هغه ښځه چې په زور او جبر جماع سره وسي)، لېکن د کاتب په غلطی سره "مجنونة" وليکل سو، او په زياتره نسخو کې دا لفظ همدغسې خور سو، لېکن دا رايه قوي نه معلوميږي، د دې غوره او ښه توضيح دا ده چې دا لفظ په اصل کې هم "مجنونة" دی، خو له دې ځخه مراد هغه ښځه ده چې د ورځې په شروع کې عاقله او جوړه وي، او د روژې نيولو نيت وکړي، بيا مثلاً د ورځې په منځ کې لېونۍ سي، او په دې حالت کې د هغې سره جماع وسي، او تر دې وروسته د هغې لېونتوب ختم سي (بنايه ج۳، ص۲۲۹)، نو د داسې ښځې

او بيلې ښځې سره که يو څوک جماع وکړي، او دا دواړه روژتياني وي، نو پر دې ښځو زموږ په نيز قضاء واجبيږي، کفاره نه واجبيږي.

امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې پر دوی قضاء هم نه واجبيږي، د هغو دليل قياس دی، يعنې هغوی نائمه او مجنونه ښځې پر ناسي يعني پر هغه سړي قياسوي چې په هېره يې خوراک کړی وي. يعني څرنګه چې پر ناسي د روژې قضاء نه واجبيږي، همدا ډول که د نائمه او مجنونه ښځې سره جماع وسي، نو پر هغو به هم قضاء نه واجبيږي، ځکه چې د خوب او لېونتوب عذر د هيري تر عذر زيات او غټ دی، په دې توګه چې د ناسي په فعل کې د هغه د ارادې څه نا څه عمل داخل وي، لېکن د نائمه او مجنونه ښځې له طرفه خو اراده هم نه وي، نو ځکه به د دوی عذر د ناسي له عذر څخه زيات او غټ دی، او پر ناسي قضاء نه واجبيږي، نو پر دې ښځو به په درجه اولیٰ قضاء نه واجبيږي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چې نائمه او مجنونه پر ناسي قياسول صحيح نه دي، ځکه چې دوی په هر اعتبار سره د ناسي په معنیٰ سره نه دي، ځکه چې هېره هر وخت پېښيږي، او د نائمې يا مجنونې سره جماع کله نا کله او ډېر کم پېښيږي، اوس که موږ د هيري په صورت کې قضاء واجب کړو، نو خلک به په حرج او تکليف کې مبتلا سي، او شريعت حرج ليري کړی دی، لېکن که د نائمې او مجنونې سره جماع وسي، نو پر هغو به د قضاء په واجبولو کې هيڅ حرج نه وي، ځکه چې دا مسئله نادرُ الوجود ده، نو ځکه به قضاء پر واجب وي، او کفاره پر واجب نه سوه، ځکه چې د کفارې د وجوب لپاره دا ضروري دي چې جرم به کامل او قوي وي، او په پورتنۍ مسئله کې د نائمې او مجنونې له طرفه ګردسره جنايت او جرم نسته ځکه چې د دوی له طرفه فقط د جماع اراده هم سوې نه ده، نو ځکه فقط قضاء واجب سوه، او کفاره ساقطه سوه. والله أعلم بالصواب

فَصْلٌ فِيمَا يُوْجِبُهُ عَلَىٰ نَفْسِه

(دا) فصل د هغو روژو (په بيان کې) دی چې بنده يې پر خپل ځان واجبوي

تشريح: تر اوسه پوري د هغو روژو بيان وو چې الله تعالیٰ پر خپلو بندګانو واجب کړي وې، له دې ځايه د هغو روژو بيان دی چې بنده يې پر خپل ځان د نذر او نورو په ذريعه واجبوي، او څرنګه چې د الله تعالیٰ ايجاب اصل دی او د بنده ايجاب فرع دی، نو ځکه مخکې د اصل احکام بيان سول، اوس د فرعي احکام بيانيږي.

د نذر تعريف او قسمونه: نذر دې ته وېل کيږي چې بنده پر خپل ځان يو شی واجب او لازم کړي، د نذر دوه قسمونه دي: ① منجز، ② معلق، منجز هغه نذر دی چې پر يو شرط موقوف نه وي، مثلاً يو څوک داسې نذر وکړي "چې سبا به زه يوه روژه نيسم"، دې ته نذرِ معين هم وېل کيږي. نذرِ معلق او نذرِ غيرِ معين دا دی چې يو څوک داسې ووايي "که زما دا کار وسو، نو زه به يوه روژه نيسم"، بيا هر ډول نذر هم نه صحيح کيږي، بلکې د نذر د صحيح کېدلو لپاره يو څو شرطونه دي: (١) اول شرط دا دی چې نذر سوی شی به له هغه جنس څخه وي، چې د هغه جنس شی په شريعت کې واجب وي، مثلاً د لمانځه نذر، د روژې نذر او داسې نور، (٢) دويم شرط دا دی چې نذر به په خپل ذات کې مقصود وي.

د بل شي لپاره به واسطه او وسيله نه وي، خو که يو سړی د اودس يا سجدهٔ تلاوت نذر ومني، نو د هغه نذر معتبر نه دی، ځکه چې اودس او سجدهٔ تلاوت په خپل ذات کې مقصود نه دي، بلکې د بل شي لپاره ذريعې او وسيلې دي. (۳) دريم شرط دا دی چې نذر سوی شی به پر دې سړي واجب نه وي، نه في الحال او نه في المآل، مثلاً که يو څوک د نن ورځې د ماپښين د لمانځه نذر ومني، نو د هغه نذر هم شرعاً معتبر نه دی، ځکه چې د ماپښين لمونځ خو في الحاله پر ده واجب دی، او د في المآله مثال دلکه د رمضان روژې.

د لوی اختر د روژې د نذر منلو حکم

وَإِذَا قَالَ: لِلّٰهِ عَلَيَّ صَوْمُ يَوْمِ النَّحْرِ او که يو چا وويل: چې د الله ﷻ لپاره پر ما د لوی اختر د ورځې روژه ده أَفْطَرَ وَقَضَىٰ نو روژه دې نه نيسي او د هغې قضاء دې راوړي فَهٰذَا النَّذْرُ صَحِيحٌ عِنْدَنَا او دا نذر زمونږ په نېز صحيح دی خِلَافًا لِزُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُمَا اللهُ د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُمَا يَقُوْلَانِ: إِنَّهُ نَذْرٌ بِمَا هُوَ مَعْصِيَةٌ دوی فرمايي: چې دا نذر په هغه شي سره دی چې هغه ګناه ده (يعني دا نذر د معصيت دی) لِوُرُوْدِ النَّهْيِ عَنْ صَوْمِ هٰذِهِ الْأَيَّامِ ځکه چې د دې ورځو له روژو څخه نهي راغلي دي وَلَنَا أَنَّهُ نَذَرَ بِصَوْمٍ مَشْرُوْعٍ او زمونږ دليل دا دی چې دې سړي د مشروعې روژې نذر منلی دی وَالنَّهْيُ لِغَيْرِهِ او نهي د غير په وجه سره دي وَهُوَ تَرْكُ إِجَابَةِ دَعْوَةِ اللهِ تَعَالىٰ او هغه د الله ﷻ د دعوت قبوليت پرېښوول دي فَيَصِحُّ نَذْرُهُ نو د هغه نذر به صحيح وي لٰكِنَّهُ يُفْطِرُ لېکن روژه به نه نيسي اِحْتِرَازًا عَنِ الْمَعْصِيَةِ الْمُجَاوِرَةِ له هغه ګناه څخه د ځان ساتلو لپاره کوم چې د روژې سره متصل ده ثُمَّ يَقْضِيْ إِسْقَاطًا لِلْوَاجِبِ بيا به (د دغه روژې) قضاء راوړي د واجب د ساقطولو لپاره وَإِنْ صَامَ فِيْهِ او که هغه په دې ورځ روژه ونيسي يَخْرُجُ عَنِ الْعُهْدَةِ نو له ذمه وارۍ څخه وځي لِأَنَّهُ أَدَّاهُ كَمَا الْتَزَمَهُ ځکه چې هغه روژه داسې اداء کړه لکه څرنګه چې يې واجب کړې وه.

اللغات: ﴿يوم النحر﴾ د ذی الحجې لسمه ورځ، ﴿معصية﴾ ګناه، نافرماني، ﴿إجابة﴾ جواب ورکول، قبلول، ﴿المجاورة﴾ متصل، يو ځای کېدل، ﴿عهدة﴾ ذمه واري.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي دا نذر ومنی چې زه به د لوی اختر په ورځ روژه نيسم، نو زمونږ په نېز د هغه نذر صحيح دی، لېکن هغه به د دې ورځې روژه نه نيسي، بلکې په دې ورځ به روژه خوري او وروسته به يې قضاء راوړي، لېکن د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې د دې سړي نذر صحيح نه دی.

د امام زفر او امام شافعي دليل: دا دی چې د لوی او کوچني اختر په ورځو کې روژه نيول معصيت او ګناه ده، ځکه په حديث شريف کې د دې ورځو له روژو څخه منع سوې ده، لکه څرنګه چې په حديث کې راځي: ألا لا تصوموا في هذه الأيام فإنها أيام أكل وشرب وبعال، (يعني په دې ورځو کې روژه مه نيسئ دا خو د خوراک، څښاک او عيش و عشرت ورځې دي)، او د معصيت نذر منل صحيح نه دي، لکه څرنګه چې حديث دی: لا نذر في معصية، (يعني په معصيت کې به نذر نه وي)، نو ځکه به په دې ورځو کې د روژې نذر منل هم صحيح نه وي.

زموږ دليل : دا دی چې د لوی او د کوچني اختر په ورځو کي روژه د خپل ذات په اعتبار سره مشروع ده، او په دې ورځو کي چې کوم منع راغلې ده، هغه د يو بل شي يعني د الله ﷻ د دعوت له قبوليت څخه د اعراض کولو په وجه راغلې ده، ځکه چې ټوله بندګان په دې ورځو کي د الله تعالیٰ مېلمانه دي، او پر بندګانو او مېلمنو د الله تعالیٰ دعوت قبلول لازم دي، لېکن که يو سړی په دې ورځو کي روژه نيسي، نو ښکاره ده چې هغه د الله ﷻ د دعوت له قبلولو څخه اعراض کوي، او د معصيت مرتکب کيږي، لهذا په دې ورځو کي د روژې نيولو ممانعت د بل سبب په وجه راغلی. نو د هغه سړي نذر به صحيح وي، خو ځرنګه چې په دې ورځو کي روژه نيول معصيت دي (ځکه چې د الله ﷻ دعوت پرېښوول هم معصيت دی)، او د مسلمان لپاره له معصيت څخه ځان ژغورل ضروري دي، نو ځکه د هغه لپاره حکم دا دی چې په دې ورځ کي دې روژه نه نيسي، بلکې وروسته دې د هغې قضاء راوړي، چې د هغه له ذمې څخه واجب نذر ساقط سي.

وإن صام فيه الخ فرمايي چې په لوی او کوچني اختر کي خو روژه نيول منع دي، لېکن که بيا هم يو چا په دې ورځو کي د نذر روژه ونيوله، نو د هغه نذر پوره سو، او روژه يې صحيح سوه، ځکه چې هغه واجب هغسې اداء کړی ځرنګه چې يې د هغه اداء کول پر ځان لازم کړي وو، او په داسې اداء کولو سره انسان بری الذمه کيږي، نو به ځکه دا سړی بری الذمه وي.

د لوی اختر د روژې د نذر منلو مختلفه صورتونه او حکمونه

وَإِنْ نَوَى يَمِينًا او که روژتي د قسم نيت کړی وو فَعَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ نو پر هغه کفارهٔ يمين (د قسم کفاره) واجب ده يَعْنِي إِذَا أَفْطَرَ يعني کله چې روژه ماته کړي وَهٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ عَلَىٰ وُجُوْهٍ سِتَّةٍ او دا مسئله پر شپږو صورتونو ده إِنْ لَمْ يَنْوِ شَيْئًا [۱] که روژتي هيڅ نيت (هم) کړی نه وو أَوْ نَوَى النَّذْرَ لَا غَيْرَ [۲] يا يې د نذر نيت کړی وو نه د نورو أَوْ نَوَى النَّذْرَ وَنَوَىٰ أَنْ لَا يَكُوْنَ يَمِيْنًا [۳] يا يې د نذر نيت کړی وو او دا نيت يې (هم) وو چې دا به يمين نه وي يَكُوْنُ نَذْرًا نو (د هغه دا کلام به) نذر وي لِأَنَّهُ نَذْرٌ بِصِيْغَتِهِ ځکه چې دا کلام د خپلې صيغې په اعتبار سره نذر دی كَيْفَ وَقَدْ قَرَّرَهُ بِعَزِيْمَتِهِ او ځرنګه به نذر نه وي حال دا چې هغه په خپل نيت سره دا کلام ثابت کړی (او مضبوط کړی) دی وَإِنْ نَوَى الْيَمِيْنَ وَنَوَىٰ أَنْ لَا يَكُوْنَ نَذْرًا [۴] او که د قسم نيت يې کړی وو او دا نيت يې (هم) وو چې دا به نذر نه وي يَكُوْنُ يَمِيْنًا نو دا به يمين وي لِأَنَّ الْيَمِيْنَ مُحْتَمَلُ كَلَامِهِ ځکه چې د هغه په کلام کي د قسم احتمال سته وَقَدْ عَيَّنَهُ وَنَفَىٰ غَيْرَهُ او هغه قسم متعين (هم) کړی او د غير (يعني د نذر) نفي يې (هم) وکړې وَإِنْ نَوَاهُمَا يَكُوْنُ نَذْرًا وَيَمِيْنًا عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ [۵] او که د نذر او قسم دواړو نيت يې کړی وو نو نذر او قسم به دواړه وي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَكُوْنُ نَذْرًا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به نذر وي وَلَوْ نَوَى الْيَمِيْنَ فَكَذٰلِكَ عِنْدَهُمَا [۶] او که (فقط) د قسم نيت يې کړی وو نو د طرفينو رَحِمَهُ الله په نيز همدغه حکم دی (يعني قسم او نذر به دواړه وي) وَعِنْدَهُ يَكُوْنُ

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله: ومن نوىٰ بالنذر يميناً فأفطر فعليه القضاء والكفارة، خانية ج:۱، ص: ۱۰۶. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۰۲]

يَمِيْنًا او د امام ابو يوسف رحمة الله په نيز به قسم وي لِأَنَّ يُوْسُفَ أَنَّ النَّذْرَ فِيْهِ حَقِيْقَةٌ وَالْيَمِيْنَ مَجَازٌ د امام ابو يوسف رحمة الله دليل دا دى چي په دې کلام کي (خو) نذر حقيقت دى او يمين مجاز دى حَتّٰى لَا يَتَوَقَّفَ الْأَوَّلُ عَلَى النِّيَّةِ همدا وجه ده چي نذر پر نيت موقف نه دي وَيَتَوَقَّفُ الثَّانِيْ او يمين (پر نيت) موقوف دي فَلَا يَنْتَظِمُهُمَا نو دا کلام به دواړو ته نه شامليږي (يعني په دې کلام کي به دواړه نه راځي) ثُمَّ الْمَجَازُ يَتَعَيَّنُ بِنِيَّتِهِ بيا به مجاز په نيت سره متعين کيږي وَعِنْدَ نِيَّتِهِمَا تَتَرَجَّحُ الْحَقِيْقَةُ او د دواړو د نيت په وخت کي به حقيقت ته ترجيح ورکول کيږي وَلَهُمَا أَنَّهُ لَا تَنَافِيَ بَيْنَ الْجِهَتَيْنِ او د طرفينو دليل دا دى چي د دواړو جهتونو (يعني د نذر او قسم) په مينځ کي هيڅ منافات نشته لِأَنَّهُمَا يَقْتَضِيَانِ الْوُجُوْبَ ځکه چي دا دواړه جهتونه د وجوب تقاضا کوي إِلَّا أَنَّ النَّذْرَ يَقْتَضِيْهِ لِعَيْنِهِ خو نذر د وجوب تقاضا د خپل ذات لپاره کوي وَالْيَمِيْنَ لِغَيْرِهِ او يمين د غير لپاره (د وجوب تقاضا کوي) فَجَمَعْنَا بَيْنَهُمَا عَمَلًا بِالدَّلِيْلَيْنِ نو موږ په دواړو دليلونو باندي د عمل کولو لپاره دواړه جمع کړي دي كَمَا جَمَعْنَا بَيْنَ جِهَتَيِ التَّبَرُّعِ وَالْمُعَاوَضَةِ فِي الْهِبَةِ بِشَرْطِ الْعِوَضِ لکه د تبرع او معاوضي دواړه جهتونه چي مو جمع کړي دي په هبه کي په شرط د عوض.

اللغات: ﴿يمين﴾ قسم. ﴿عزيمة﴾ پخه اراده، نيت، قصد. ﴿لا يتوقف﴾ د تفعّل مضارع منفي ده: موقوف کېدل. ﴿لا ينتظمهما﴾ د افتعال مضارع منفي ده: شاملېدل. ﴿تبرع﴾ د تفعّل مصدر دى: نفل، هغه کار کول چي لازمي نه وي.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دى که يو سړي په لله علی صوم يوم النحر سره د يمين نيت وکړي، او په يومُ النحر (د لوى اختر په ورځ) کي يې روژه نه ونيوله، نو پر هغه د قضاء سره سره کفارهٔ يمين هم واجب ده. او د دې مسئلې توله شپږ صورتونه دي: (۱) اول صورت دا دى چي دا سړي په دې جمله لله علی صوم... الخ سره هيڅ نيت نه وکړي، (۲) په دې جمله سره صرف د نذر نيت وکړي، (۳) يا د يمين استثناء وکړي او د نذر نيت وکړي، (۴) د دريم صورت برعکس وکړي، يعني د يمين نيت وکړي، او د نذر استثناء وکړي (چي نذر به نه وي)، (۵) د نذر او يمين دواړو نيت وکړي، (۶) صرف د يمين نيت وکړي، دا توله شپږ صورتونه دي، له دې شپږو څخه به په اولو دريو صورتونو کي دا جمله د نذر لپاره وي، ځکه چي په دې کلام کي نذر حقيقت دى، او يمين مجاز دى، او د حقيقت لپاره د نيت ضرورت نشته، او مجاز نيت ته ضرورت لري، نو کله چي هغه بالکل نيت نه وکړي، يا صرف د نذر نيت وکړي، يا د نذر نيت وکړي سره د يمين نه کېدلو، نو ښکاره ده چي په دې دريو سره صورتونو کي به د هغه دا قول لله علی صوم.. الخ د نذر لپاره وي، او د يمين لپاره به نه وي، ځکه کله چي بې له نيته دا کلام د نذر لپاره حقيقت دى، نو د نذر د نيت سره به په درجهٔ اولیٰ د نذر لپاره وي.

او په څلورم صورت کي چي کله هغه د نذر نفي وکړي، او د يمين نيت وکړي، نو د هغه کلام به د يمين لپاره وي، ځکه چي په دې کلام (لله علی... الخ) کي (مجازاً) د يمين احتمال هم سته، ځکه چي په لله کي "ل" کله د "ب" په معنیٰ سره هم راځي، نو "لله علی" به د "بالله أی أقسم بالله" په معنیٰ سره وي، نو کله چي دا ثابته سوه، چي د دې سړي په دې کلام

کي د يمين احتمال هم سته، او هغه د نذر نفي وکړي، او د يمين نيت يې وکړي، نو د هغه نيت به صحيح وي، او دا کلام به د يمين لپاره وي.

په پنځم صورت کي د دې سري قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د نذر او يمين دواړو لپاره دی، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز صرف د نذر لپاره دی، او په شپږم صورت کي هم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا قول د نذر او يمين دواړو لپاره دی، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز صرف د يمين لپاره دی.

لأبي يوسف الخ په پنځم صورت کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په دې کلام کي نذر حقيقت دی، او يمين مجاز دی، همدا وجه ده چي د نذر کېدلو لپاره دا کلام پر نيت موقوف نه دی، لېکن د يمين کېدلو لپاره پر نيت موقوف دی، او په يوه لفظ کي حقيقت او مجاز دواړه جمع کول ناجائز دي، اوس که دې سري صرف د نذر نيت وکړی، نو نذر به متعين کيږي، او که يې صرف د يمين نيت وکړی، نو يمين به ثابتيږي، او که د دواړو نيت يې وکړی، نو په حقيقت او مجاز کي به حقيقت ته ترجيح ورکول کيږي، او حقيقت نذر دی، نو ځکه به په پنځم صورت کي د دې سري کلام د نذر لپاره وي.

ولهما أنه الخ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي په دې کي هيڅ خرابي نسته چي په لله علی صوم الخ کي حقيقت او مجاز دواړه مراد کړی سي، ځکه خرابي هغه وخت راځي، چي کله په يوه جهت سره دواړه مراد کړی سي، حال دا چي په پورتني صورت کي د حقيقت او مجازو دواړو جهتونه جلا جلا دي، او د هغه تفصيل دا دی چي د لله علی الخ جمله د وجوب لپاره استعمال سوې ده، او په وجوب کي د حقيقت يعني د نذر او د مجاز يعني د يمين دواړو احتمال سته، خو څرنګه چي دا کلام د نذر لپاره "بالذات" د وجوب تقاضا کوي، ځکه چي د دې آيت وليوفوا نذورهم په روی سره د نذر پوره کول واجب سوي دي، او د يمين لپاره "لغيره" (يعني د مجاز لپاره) د وجوب تقاضا کوي، يعني چي په قسم ماتولو سره د الله ﷻ د نامه بې حرمتي نه وسي، نو د دې کلام اصل موجب خو وجوب دی، لېکن وجوب د دوو جلا جهتونو يعني د نذر او يمين تقاضا کوي، او په دواړو عمل کول ممکن دی، نو مورد د وجوب په دواړو جهتونو د عمل کولو لپاره دا صورت د حقيقت او مجاز يعني د نذر او يمين دواړو لپاره متعين کړی، د دې لپاره يو مثال ذکر کوي چي مثلاً که چا په دې شرط يو شی بل چا ته هبه کړی چي دومره درهم به راکوې، بيا به يې په هبه کي در کوم (د هغه دا کلام صحيح دی)، نو اوس تاسو وګورئ چي دا کلام خو د الفاظو په اعتبار سره هبه، تبرع او احسان دی، لېکن د درهم د شرط په وجه دا کلام معاوضه او بيع هم وګرځېدی، او دواړه جمع سوه، نو څرنګه چي په دې مسئله کي د تبرع او معاوضې دواړه جهتونه جمع سوي دي، همدارنګه به په پورتني صورت کي هم دواړه جهتونه يعني نذر او يمين جمع کيږي.

د ټوله کال د روژې د نذر منلو حکم

وَلَوْقَالَ: لِلّٰهِ عَلَيَّ صَوْمُ هٰذِهِ السَّنَةِ او که (داسي) ووايي: [۱] چي د الله لپاره پر ما د دې کال روژې دي أَفْطَرَ يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ النَّحْرِ وَأَيَّامَ التَّشْرِيقِ وَقَضَاهَا نو (د أيام منهيه يعني) د کوچني او لوی اختر او د تشريق د ورځو روژې به نه نيسي او (وروسته) به يې قضاء راوړي لِأَنَّ النَّذْرَ بِالسَّنَةِ الْمُعَيَّنَةِ نَذْرٌ بِهٰذِهِ الْأَيَّامِ ځکه چي د متعين کال نذر منل د دې ورځو نذر (هم) دی وَكَذَا إِذَا لَمْ يُعَيِّنْ [۲] او همدارنګه چي کله (کال) متعين نه کړي لِكِنَّهُ شَرَطَ التَّتَابُعَ لېکن د

پرلپسې روژو شرط ولګوي (چې پرلپسې به یو کال روژې نیسم نو هم به دأیام منهیه روژې نه نیسي، وروسته به یې قضاء راوړي) لِأَنَّ الْمُتَابَعَةَ لَا تَعْرَى عَنْهَا ځکه چې تتابع له أیام منهیه څخه خالي نه دی (یعني د کال په پرلپسې والي کې أیام منهیه هم راځي) لٰكِنْ يُقْضِيهَا فِي هٰذَا الْفَصْلِ مَوْصُولَةً لیکن په دې صورت کې به دأیام منهیه قضاء متصلاً راوړي تَحْقِيقًا لِلتَّتَابُعِ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ دامکان په اندازه د تتابع ثابتولو لپاره وَيَتَأَتّٰى فِي هٰذَا خِلَافُ زُفَرَ وَالشَّافِعِيِّ او په دې صورت کې د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله اختلاف پیدا کیږي (یعني دوی فرمایي چې په أیام منهیه کې کردسره نذر صحیح نه دی، نو ځکه یې وروسته قضاء ضروري نه ده) لِلنَّهْيِ عَنِ الصَّوْمِ فِيهَا ځکه چې په أیام منهیه کې له روژو څخه منع سوې ده وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: أَلَا لَا تَصُومُوا فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ او هغه د نبي ﷺ (دا) قول دی: "خبردار! په دې ورځو کې روژه مه نیسئ فَإِنَّهَا أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَبِعَالٍ ځکه چې دا د خوراک، څښاک او جماع کولو ورځې دي" وَقَدْ بَيَّنَّا الْوَجْهَ فِيهِ او موږ په دې باره کې وجه بیان کړې ده وَالْعُذْرَ عَنْهُ او د دې لپاره مو عذر (هم) بیان کړی دی وَلَوْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ [۳] او که هغه د تتابع شرط نه ولګوه لَمْ يُجْزِهِ صَوْمُ هٰذِهِ الْأَيَّامِ نو د هغه لپاره د دې ورځو روژه جائز نه ده لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيمَا يَلْتَزِمُهُ الْكَمَالُ ځکه هغه چې پر ځان کوم څه لازموي په هغه کې کمال (کامل‌بلل) اصل دی وَالْمُؤَدّٰى نَاقِصٌ او (په دې ورځو کې) اداء کړی سوې روژه ناقصه ده لِمَكَانِ النَّهْيِ ځکه چې (په حدیث) کې منع سوې ده بِخِلَافِ مَا إِذَا عَيَّنَهَا په خلاف د هغه صورت چې کله هغه کال متعین کړي لِأَنَّهُ الْتَزَمَ بِوَصْفِ النُّقْصَانِ ځکه چې هغه د نقصان د وصف سره (کال پر ځان) لازم کړی دی فَيَكُونُ الْأَدَاءُ بِالْوَصْفِ الْمُلْتَزَمِ نو اداء به په هغه وصف سره ثابتیږي کوم چې هغه (پر ځان) لازم کړی دی.

اللغات: ﴿أیام التشریق﴾ تر لوی اختر مخکې او وروسته هغه ورځې چې تر لمونځونو وروسته په لوړ آواز سره تکبیرونه پکښې ویل کیږي، ﴿تتابع﴾ د تفاعل مصدر دی، پرلپسې کېدل، جوختېدل. ﴿لا تعری﴾ مضارع منفي ده: خالي کېدل. ﴿بعال﴾ جماع، کوروالی.

تشریح: په دې عبارت کې د دې جملې لله علی صوم هذه السنة درې صورتونه بیان سوي دي، چې په ترجمه کې هم موږ لنډه اشاره ورته وکړه.

صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي یو کال متعین کړی او داسې یې وویل چې پر ما دالله لپاره د دې کال روژې لازمي دي، نو پر هغه به پوره د یوه کال روژې لازمي وي، چې په هغه کې أیام منهیه یعني د لوی اختر او کوچني اختر او د أیام تشریق ورځې هم داخلې دي، لیکن پر دې سړي په دې ورځو کې (یعني په أیام منهیه کې) روژې نیول لازم نه دي، بلکې هغه ته پکار ده چې په أیامِ منهیه کې دي روژې نه نیسي، او وروسته دي د هغو قضاء راوړي، ځکه چې کله هغه د

● تخریج: أخرجه الطبراني في معجمه بلفظه ج:۳، ص: ۲۰۳؛ ومسلم في كتاب الصيام، قال رسول الله ﷺ أيامُ التشريق أيامُ أكل و شرب، حديث رقم: ۱۴۴.

يوه متعين كال د روژو نذر ومنى نو ښكاره ده چې په هغه كال كې د كوچني او لوى اختر او د أيام تشريق ورځې هم شاملې دي، خو څرنګه چې په دې ورځو كې له روژې نيولو څخه منع سوې ده، نو ځكه به نذر كونكى په دې ورځو كې روژه نه نيسي، او وروسته به يې قضاء راوړي (قضاء كه يې هر وخت راوړي صحيح ده، يعني كه تر كال پوره كېدلو وروسته يې سمدستي متصلاً قضاء راوړي، يا يې بل وخت راوړي، هر وخت يې قضاء صحيح ده).

وكذا إذا لم يعين الخ دا تفصيل خو په لول صورت كې دى يعني چې كله دې سړي ديوه متعين كال نذر منلى وي، دويم صورت دا دى چې هغه د كال تعيين ونه كړي، او داسې ووايي "چې پر ما د الله لپاره ديوه كال روژې لازمې دي"، نو د دې دوه صورتونه دي: (۱) هغه به د تتابع او پرلپسې والي شرط لګولى وي، او داسې به يې ويلي وي چې پر ما پرلپسې ديوه كال روژې لازمې دي، (۲) يا به يې د تتابع شرط لګولى نه وي، كه اول صورت وي، يعني د تتابع شرط يې لګولى وي، نو د دې حكم هم هغه دى كوم چې د كال متعينولو دى، يعني د پوره كال روژې لازمې دي، لېكن په كوچني اختر او داسې نورو كې به روژه نه نيسي، او وروسته به متصلاً پرلپسې د هغو قضاء راوړي، يعني كله چې يو كال پوره سي، نو سمدستي به د كوچني اختر، لوى اختر او د أيام تشريق د روژو قضاء راوړي، چې د تتابع د شرط فايده حاصله سي، او د امكان په اندازه د تتابع رعايت وسي.

(مخكې دوه صورتونه ذكر سول چې په هغو كې دا ووېل سوه چې په أيام منهيه كې به روژه نه نيسي، بلكې وروسته به يې قضاء راوړي، خو كه هغه په دې دوو صورتونو كې په أيام منهيه كې روژې ونيسي نو هم صحيح دي، ځكه كله چې كال متعين كړي، يا د تتابع شرط ولګوي، نو په هغه كې أيام منهيه هم راځي لېكن د حديث د منع په وجه ناقصې لازمېږي، لهذا غوره دا ده چې وروسته يې قضاء راوړي، لېكن په درېم صورت كې بالكل په دې ورځو كې روژه نيول صحيح نه دي چې هغه صاحب د هدايې د ولولم يشترط التتابع... څخه بيان كړى دى).

ويتأول هذا الخ او په دويم صورت كې د امام زفر او امام شافعي رحمهما الله اختلاف دى، هغوى فرمايي چې پر دې سړي د أيام تشريق او نورو قضاء واجب نه ده، ځكه په حديث كې د دې ورځو له روژو څخه منع سوې ده، حديث دا دى: ألا لا تصوموا في هذه الأيام ... الخ، نو د ټوله كال په نذر منلو كې به د دې ورځو نذر صحيح نه وي، او كله چې د دې ورځو نذر صحيح نه دى، نو د دې ورځو قضاء به هم واجب نه وي.

وقد بينا الوجه الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د فصل په شروع كې موږ د دې حديث جواب هم بيان كړى دى، او په دې باندې مو د عمل نه كولو عذر هم بيان كړى دى (هغه دا چې د لوى او د كوچني اختر او د أيام تشريق په ورځو كې روژه د خپل ذات په اعتبار سره مشروع او عبادت ده، او په دې ورځو كې چې كوم منع راغلې ده، هغه د يو بل شي يعني د الله ﷻ د دعوت له قبوليت څخه د اعراض كولو په وجه راغلې او دا هم معصيت دى........الخ).

ولو لم يشترط التتابع الخ (له دې ځايه درېم صورت بيانېږي) د دې حاصل دا دى چې كه نذر منونكي كال متعين نه كړي، او د تتابع شرط يې هم نه ولګوي، نو ټولې روژې كاملې لازم سوې، نو په دې پنځو ورځو كې به روژه نه نيسي، ځكه چې په حديث كې د دې ورځو له روژو څخه منع سوې ده، نو كه په دې ورځو كې روژې ونيول سي، نو د حديث د منع په وجه به ناقصې اداء سي، او دا صحيح نه ده چې كاملې روژې دې ناقصې اداء سي، او كه بيا هم هغه روژې ونيولې، نو نه اداء كېږي (بلكې حتماً به يې قضاء راوړي، او د رمضان په روژو سره هم دا نذر نه اداء كېږي، يعني په دې درېم

صورت کي به د رمضان پر ځای د دېرشو نورو ورځو قضاء هم راوړي، ځکه چي هغه په دې صورت کي کال متعين نه کړی او د تتابع شرط يې هم نه ولګوی. نو پوره ۱۲ مياشتي روژې واجب سوې. يعني أيام منهيه او رمضان به په دې کي داخل نه وي).

بخلاف ما الخ د دې په خلاف که هغه کال متعين کړي، نو بنکاره ده چي په دې متعين کال کي أيام خمسه هم شامل او داخل دي، او د دې ورځو وجوب ناقص دی، او کوم شی چي ناقص واجب وي، هغه په ناقصه توګه اداء کېدای سي. ځکه چي دا د فقهي قاعده ده ما وجب ناقصا جاز أن يتأدى ناقصا.

که په نذر کي د قسم نيت وکړي نو د کفارهٔ يمين حکم

قَالَ: وَعَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِينٍ إِنْ أَرَادَ بِهِ يَمِينًا فرمايي: چي پر نذر کونکي به کفارهٔ يمين واجب وي که هغه په نذر سره د يمين نيت وکړي وَقَدْ سَبَقَتْ وُجُوهُهُ او د دې صورتونه مخکي تېر سول.

اللغات: ﴿سبقت﴾ د نصر ماضي ده: مخکي کېدل، تېرېدل. ﴿وجوه﴾ جمع د وجه ده: شکل، صورت، مخ.

تشريح: **مسئله:** دا ده که نذر کونکی په خپل دې کلام لله علی صوم هذه السنة سره د يمين نيت وکړي، نو پر هغه د حانث کېدلو په وجه کفارهٔ يمين هم واجبيږي، (ځکه کله چي هغه د ټوله کال د روژو قسم وکړي، او په أيام منهيه کي روژې نه ونيسي، نو په خپل قسم کي حانث سو يعني قسم يې وخوړی، ځکه چي أيام منهيه هم په ټوله کال کي داخل دي، نو کله چي په خپل قسم کي حانث سو نو کفاره به هم واجبيږي.) او د دې مسئلې شپږ صورتونه مخکي تېر سول، هلته په ښه توګه ځان په پوه کړئ!.

که د لوی اختر په ورځ روژه شروع کړي بيا يې ماته کړي نو د هغه حکم

وَمَنْ أَصْبَحَ يَوْمَ النَّحْرِ صَائِمًا او څوک چي د لوی اختر په ورځ د روژې په حالت کي سهار کړي ثُمَّ أَفْطَرَ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ بيا روژه ماته کړي نو پر هغه يو شی واجب نه دی(نه قضاء او نه کفاره) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ فِي النَّوَادِرِ أَنَّ عَلَيْهِ الْقَضَاءَ او له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه د نوادر روايت دا دی چي پر هغه قضاء واجب ده لِأَنَّ الشُّرُوعَ مُلْزِمٌ كَالنَّذْرِ ځکه چي (روژه) شروع کول د نذر په ډول (د روژې) لازمونکی شی دی وَصَارَ كَالشُّرُوعِ فِي الصَّلَاةِ فِي الْوَقْتِ الْمَكْرُوهِ او داسي سو لکه په مکروه وخت کي لمونځ شروع کول وَالْفَرْقُ لِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د فرق وجه او ظاهر روايت دا دی أَنَّ بِنَفْسِ الشُّرُوعِ فِي الصَّوْمِ يُسَمَّى صَائِمًا چي محض د روژې په شروع کولو سره هغه ته روژتي ويل کيږي حَتَّى يَحْنَثَ بِهِ الْحَالِفُ عَلَى الصَّوْمِ تر دې چي په دې سره د روژې قسم خوړونکی حانثيږي (يعني څوک چي دا قسم وخوري چي روژه به نه نيسم، هغه محض د روژې په شروع کولو سره حانثيږي) فَيَصِيرُ مُرْتَكِبًا لِلنَّهْيِ لهذا په شروع کولو سره هغه د نهي مرتکب کيږي فَيَجِبُ إِبْطَالُهُ نو ځکه به د هغه باطلول واجب وي فَلَا تَجِبُ صِيَانَتُهُ او د هغه ساتنه به واجب نه وي وَوُجُوبُ الْقَضَاءِ يَنْبَنِي عَلَيْهِ او د قضاء وجوب هم پر ساتني مبني دی وَلَا يَصِيرُ مُرْتَكِبًا

بِلِقَاءِ بِنَفْسِ النَّذْرِ او محض په نذر سره د نهي نه مرتکب کيږي وَهُوَ الْمُوجِبُ او همدا نذر واجبونکی دی وَلَا بِنَفْسِ الشُّرُوعِ فِي الصَّلَاةِ او نه محض د لمانځه په شروع کولو سره (د نهي مرتکب کيږي) حَتَّى يُتِمَّ رَكْعَةً تر دې چې يو رکعت پوره کړي (نو بيا مرتکب کيږي) وَلِهٰذَا لَا يَحْنَثُ بِهِ الْحَالِفُ عَلَى الصَّلَاةِ او همدا وجه ده چې د لمانځه په شروع کولو سره د لمانځه قسم خوړونکی نه حانثيږي (يعني څوک چې دا قسم وخوري چې لمونځ به نه کوم هغه محض د لمانځه په شروع کولو سره نه حانثيږي تر دې چې يو رکعت پوره نه کړي) فَتَجِبُ صِيَانَةُ الْمُؤَدّٰى نو د مؤدّیٰ (اداء کړی سوي) ساتنه به واجب وي وَيَكُوْنُ مَضْمُوْنًا بِالْقَضَاءِ او (د هغه په وجه سره به) د قضاء راوړلو ضامن وي وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله: أَنَّهُ لَا يَجِبُ الْقَضَاءُ فِي فَصْلِ الصَّلَاةِ أَيْضًا او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د لمانځه په صورت کي هم قضاء نه واجبيږي وَالْأَظْهَرُ هُوَ الْأَوَّلُ (لېکن) اول قول زيات ښکاره دی. والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿ملزم﴾ د افعال اسم فاعل دی: لازمونکی. ﴿يحنث﴾ د فتح مضارع ده: قسم ماتول. ﴿صيانة﴾ ساتنه، ژغورل، خوندي کول، حفاظت. ﴿يبتنى﴾ د افتعال مضارع ده: مبني کېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو چا د أيام خمسه منهي عنها (يعني د پنځو منع سوو ورځو) په يوه ورځ کي روژه شروع کړه او بيا يې فاسده کړه، نو د امام صاحب او صاحبينو تولو په نېز پر دې سړي قضاء او کفاره واجب نه دي، او همدا ظاهر روايت دی، لېکن له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه د نوادر يو روايت دا دی چې پر دې سړي قضاء واجب ده، ځکه چې نفلي روژه تر شروع کولو وروسته لازميږي، لهذا که شروع کونکي دا روژه پوره کړه خو صحيح ده، لېکن که فاسده يې کړه، نو قضاء يې واجب ده، لکه يو څوک چې په دې ورځو کي د روژې نيولو نذر وکړي، نو په نورو ورځو کي به د دې قضاء راوړي (لکه مخکي چې ذکر سوه)، يا لکه يو څوک چې په مکروه وخت کي نفلي لمونځ شروع کړي، او بيرته يې فاسد کړي، نو پر هغه د لمانځه قضاء واجب ده، نو څرنګه چې په دې صورتونو کي د نذر کولو او تر شروع کولو وروسته د فاسدولو په صورت کي قضاء واجبيږي، همداسي به په پورتني صورت کي هم قضاء واجب وي.

ولأبي حنيفة الخ فرمايي چې د لوی اختر په ورځ روژه شروع کول، او په دې ورځ د روژې نذر منل، همدارنګه په اوقات مکروهه وو کي لمونځ شروع کول، د دې تولو په مينځ کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز فرق سته، يعني د روژې او د لمانځه او د نذر مسئلې جلا جلا دي، فرق دا دی چې فقط د روژې په شروع کولو سره انسان روژتي کيږي، همدا وجه ده که يو سړي د نفلي روژې نه نيولو قسم کړی وي، او د لوی اختر په ورځ روژه شروع کړي او بيا يې فاسده کړي نو د روژې په شروع کولو سره به هغه حانثيږي، او د قسم کفاره به ورکوي، لنډه دا چې د لوی اختر په ورځ په روژه شروع کولو سره انسان روژتي کيږي، خو څرنګه چې د لوی اختر په ورځ روژه نيول ممنوع دي، نو ځکه به د روژې په شروع کولو سره هغه د منهي عنه عمل لرتکاب کونکی وي، او له منهي عنه عمل څخه خپل ځان ساتل او منهي عنه عمل باطلول ضروري دي، او د هغه پوره کول يا ساتنه ضروري نه ده، او د کوم شي باطلول چې ضروري وي، د هغه قضاء نه واجبيږي، نو ځکه به د لوی اختر په ورځ د روژې په شروع کولو او فاسدولو سره قضاء نه واجبيږي، ځکه چې د قضاء وجوب پر ساتني مبني دی، يعني د ساتني او پوره کولو په خاطر قضاء واجبيږي، نو کله چې ساتنه او پوره کول ضروري نه دي، نو قضاء به هم نه واجبيږي.

د دې په خلاف د لوی اختر په ورځ د نذر مسئله ده، نو نفسِ نذر ممنوع نه دی، هو! د روژې نذر منل او د هغه پوره کول ممنوع دي، نو کله چې نفسِ نذر ممنوع نه دی، نو فقط د نذر په منلو سره به انسان د نهي نه مرتکب کیږي، او کله چې د نهي نه مرتکب کیږي، نو د نذر منل به صحیح وي، خو څرنګه چې د لوی اختر په ورځ د دې نذر پوره کول ممنوع دي، نو څکه دغه سړي ته پکار ده چې په بله ورځ دې د هغې قضاء راوړي.

همدارنګه د لمانځه مسئله ده چې هیڅ سړی هم په مکروه وخت کې د لمانځه په شروع کولو سره لمونځ ګزاره نه شمارل کیږي، بلکې تر څو چې یې د اول رکعت سجده کړې نه وي، تر هغه وخته د هغه لمانځه ته لمونځ هم نه ویل کیږي. همدا وجه ده که یو څوک قسم وکړي چې لمونځ به نه کوم، لیکن لمونځ شروع کړي او تر رکوع پورې یې وکړي، نو هغه به خپل قسم کې نه حانثیږي (څکه چې اول رکعت ته تر سجدې مخکې لمونځ هم نه ویل کیږي)، لهذا په لمانځه کې به فقط په شروع کولو سره یو سړی د منهي عنه فعل نه مرتکب کیږي، او د شروع کړی سوي شي ساتنه به واجب وي، او د کوم شي ساتنه چې واجب وي، د فاسدولو په صورت کې به د هغه قضاء هم واجبیږي، نو څکه به په مکروه وخت کې د لمانځه تر شروع کولو وروسته د هغه د فاسدولو په صورت کې د هغه قضاء واجبیږي.

وعن أبي حنيفة الخ فرمایي چې له امام صاحب رَحِمَهُ الله یو روایت دا دی چې که یو سړی په مکروه وختونو کې لمونځ شروع کړي او بیا یې فاسد کړي، نو پر هغه هم قضاء واجب نه ده، لیکن صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله وایي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول زیات صحیح او ښکاره دی. والله أعلم بالصواب

بَابُ الْإِعْتِكَافِ

(دا) باب د اعتکاف (په بیان کې) دی

تشریح: روژه پر اعتکاف څکه مخکې بیان سوه چې روژه د اعتکاف لپاره شرط ده (او اعتکاف مشروط دی)، او شرط پر مشروط مخکې وي، نو په دې وجه روژه هم مخکې بیان سوه.

اعتكاف له عکف څخه مشتق دی، او د افتعال د باب مصدر دی، د عکف معنیٰ ده: پاته کېدل، درنګ کول، او د اعتکاف شرعي معنیٰ ده: هو اللبث في المسجد مع النية، "یعني په مسجد کې [د روژې او عبادت] په نیت سره پاته کېدل".

د اعتکاف شرعي حیثیت

قَالَ: **اَلْإِعْتِكَافُ مُسْتَحَبٌّ** امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمایي: اعتکاف مستحب دی وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ (خو) صحیح دا ده چې اعتکاف سنتِ مؤکده دی لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] وَاظَبَ عَلَيْهِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ څکه چې نبي ﷺ د رمضان په آخري لسیزه کې پر اعتکاف همېشتوب کړی دی وَالْمُوَاظَبَةُ دَلِيلُ السُّنَّةِ او همېشتوب د سنت والي دلیل دی.

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الإعتكاف، باب الإعتكاف في العشر الأواخر، حديث رقم: ۲۰۲۹، و ابو داؤد في كتاب الصوم، حديث رقم: ۲۴۹۲.

اللغات: ﴿مؤكده﴾ تأكيد والا، ټينګ، ﴿واظب﴾ د مفاعلې ماضي ده: همېشتوب كول، پابندي كول. ﴿أواخر﴾ جمع د آخر ده: آخري.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې امام قدوري رَحِمَهُ الله اعتكاف مستحب ګرځولی دی، لېكن صحيح خبره دا ده چې اعتكاف مستحب نه دی، بلكې سنتِ مؤكده دی، ځكه نبي ﷺ به هر كال په مدينه منوره كې اعتكاف كوی، لكه څرنګه چې په بخاري او مسلم كې له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا څخه روايت دی: كان رسول الله ﷺ يعتكف في العشر الأخر من رمضان حتى توفاه الله. او په بعضې روايتونو كې د حين قدم المدينة الفاظ هم ذكر سوي دي، يعني نبي ﷺ چې كله مدينې منورې ته راغلی نو هر كال به يې اعتكاف كوی، او پر كوم عمل چې نبي ﷺ همېشتوب كړی وي، هغه د دې عمل د سنتوالي دليل دی، نو ځكه به اعتكاف سنتِ مؤكده وي.

د اعتكاف تعريف، ركنونه او شرطونه

وَهُوَ اللُّبْثُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ الصَّوْمِ وَنِيَّةِ الْإِعْتِكَافِ او اعتكاف پاتې كېدل (او وسېدل) دي په مسجد كې د روژې سره او د اعتكاف په نيت سره أَمَّا اللُّبْثُ فَرُكْنُهُ هر چې پاتې كېدل دي نو هغه د اعتكاف ركن دی لِأَنَّهُ يُنْبِئُ عَنْهُ ځكه چې اعتكاف د لُبث خبر وركوي فَكَانَ وُجُودُهُ بِهِ نو د اعتكاف وجود به هم په دې (لُبث) سره وي وَالصَّوْمُ مِنْ شَرْطِهِ عِنْدَنَا او روژه زموږ په نېز د اعتكاف لپاره شرط ده خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَالنِّيَّةُ شَرْطٌ فِي سَائِرِ الْعِبَادَاتِ او نيت په ټولو عبادتونو كې شرط دی هُوَ يَقُولُ: إِنَّ الصَّوْمَ عِبَادَةٌ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې روژه يو عبادت دی وَهُوَ أَصْلٌ بِنَفْسِهِ او روژه په خپله اصل ده فَلَا يَكُونُ شَرْطًا لِغَيْرِهِ نو د بل عبادت لپاره به شرط نه وي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: لَا إِعْتِكَافَ إِلَّا بِالصَّوْمِ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: چې اعتكاف (معتبر) نه دی مګر د روژې سره وَالْقِيَاسُ فِي مُقَابَلَةِ النَّصِّ الْمَنْقُولِ غَيْرُ مَقْبُولٍ او قياس به د نصِ منقول (يعني د حديث) په مقابله كې مقبول نه وي (يعني پرېښول كېږي به) ثُمَّ الصَّوْمُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْوَاجِبِ مِنْهُ رِوَايَةً وَاحِدَةً بيا روژه د واجب اعتكاف د صحيح كېدلو لپاره شرط ده د يوه روايت مطابق وَلِصِحَّةِ التَّطَوُّعِ فِيمَا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله تَعَالَى او د نفلي اعتكاف د صحيح كېدلو لپاره (شرط ده) د هغه روايت مطابق كوم چې حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام څخه روايت كړی دی لِظَاهِرِ مَا رَوَيْنَا د هغه حديث د ظاهر په وجه كوم چې موږ روايت كړی وَعَلَى هٰذِهِ الرِّوَايَةِ لَا يَكُونُ أَقَلَّ مِنْ يَوْمٍ نو د دې روايت پر بنياد به اعتكاف تر يوې ورځې كم نه وي وَفِي رِوَايَةِ الْأَصْلِ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله تَعَالَى● أَقَلُّهُ سَاعَةٌ او د مبسوط په روايت كې (راغلي) دي او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی چې د (نفلي)

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى في كتاب الصيام، باب المعتكف يصوم، حديث رقم: ۸۵۸۳.

● القول الراجح: رواية الأصل و قول محمد رَحِمَهُ الله يعني أقله ساعة، كذا في الدر المختار ج:۲، ص: ۱۳۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۰۵]

اعتکاف کمه اندازه يو ساعت (ګړی) دی (يعني يو ګړی هم اعتکاف کېدای سي) فَيَكُوْنُ مِنْ غَيْرِ صَوْمٍ نو دا اعتکاف به بې له روژې وي لِأَنَّ مَبْنَى النَّفْلِ عَلَى الْمُسَاهَلَةِ ځکه چي د نفلو بنياد پر آساني دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَقْعُدُ فِي صَلَاةِ النَّفْلِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ آيا ته نه ګوري چي لمونځ ګزاره پر ولاړي د قدرت سره هم په نفلي لمانځه کي کېښېنلای سي وَلَوْ شَرَعَ فِيهِ ثُمَّ قَطَعَهُ لَا يَلْزَمُهُ الْقَضَاءُ فِي رِوَايَةِ الْأَصْلِ او که نفلي اعتکاف يې شروع کړی بيا يې ختم کړی نو پر هغه به قضاء ضروري نه وي د مبسوط د روايت مطابق لِأَنَّهُ غَيْرُ مُقَدَّرٍ ځکه چي د نفلي اعتکاف هيڅ اندازه معلومه نه ده فَلَمْ يَكُنِ الْقَطْعُ إِبْطَالًا نو (د اعتکاف) ختمول به (د اعتکاف) باطلول نه وي وَفِي رِوَايَةِ الْحَسَنِ يَلْزَمُهُ او د حسن بن زياد په روايت کي پر دې سړي قضاء ضروري ده لِأَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِالْيَوْمِ كَالصَّوْمِ ځکه چي د اعتکاف اندازه يوه ورځ ده لکه روژه ثُمَّ الْإِعْتِكَافُ لَا يَصِحُّ إِلَّا فِي مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ بيا اعتکاف نه صحيح کېږي مګر د جماعت والا په مسجد کي (يعني په کوم مسجد کي چي لمونځونه په جماعت سره کېږي) لِقَوْلِ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ*: لَا إِعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ ځکه چي حذيفه ﷺ فرمايلي دي: "اعتکاف نه کېږي مګر د جماعت په مسجد کي" وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله: أَنَّهُ لَا يَصِحُّ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ يُصَلَّى فِيهِ الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله روايت دی: چي اعتکاف نه صحيح کېږي خو په داسي مسجد کي چي په هغه کي پنځه سره لمونځونه کېږي لِأَنَّهُ عِبَادَةُ انْتِظَارِ الصَّلَاةِ ځکه چي اعتکاف د لمانځه د انتظار عبادت دی فَيَخْتَصُّ بِمَكَانٍ تُؤَدَّى فِيهِ نو د داسي ځای سره به خاص وي چي په هغه کي لمونځ اداء کېږي أَمَّا الْمَرْأَةُ فَتَعْتَكِفُ فِي مَسْجِدِ بَيْتِهَا او هر چي ښځه ده نو هغه به د خپل کور په مسجد کي اعتکاف کوي لِأَنَّهُ هُوَ الْمَوْضِعُ لِصَلَاتِهَا ځکه چي د هغې د لمانځه ځای هغه دی فَيَتَحَقَّقُ انْتِظَارُهَا فِيهِ نو د هغې انتظار به په هغه ځای کي ثابتېږي وَلَوْ لَمْ يَكُنْ لَهَا فِي الْبَيْتِ مَسْجِدٌ او که د ښځي لپاره په کور کي مسجد نه وو تَجْعَلُ مَوْضِعًا فِيهِ فَتَعْتَكِفُ فِيهِ نو په کور کي به يو ځای ورټاکي او په هغه کي به اعتکاف کوي.

اللغات: ﴿لبث﴾ پاته کېدل، درنګ کول، درېدل، ﴿ينبئ﴾ د افعال مضارع ده: خبر ورکول، ﴿مساهلة﴾ د مفاعلې مصدر دی: آسانه کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي امام قدوري رَحِمَهُ الله اول د اعتکاف تعريف او حقيقت بيانوي، او بيا تر هغه وروسته صاحب د هدايې تفصيلي کلام ذکر کوي، فرمايي چي د روژې په حالت کي په مسجد کي په نيت سره پاته کېدلو ته اعتکاف ويل کېږي، ځکه پاته کېدل د اعتکاف رکن دی، ځکه چي اعتکاف د لبث او د پاته کېدلو خبر ورکوي، نو د اعتکاف وجود به په لبث سره ثابتېږي، لېکن د اعتکاف لپاره د روژې شرط کېدل صرف زموږ په نېز دي، کنې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د اعتکاف لپاره روژه شرط نه ده، او بې له روژې هم د هغه په نېز اعتکاف صحيح دی، خو د اعتکاف لپاره نيت

* تخريج: أخرجه الدار قطني في سننه ج:۲، ص: ۲۰۰، من أثر حذيفة ﷺ.

بالاتفاق شرط دی، ځکه څرنګه چې نور عبادتونه د عادت او عبادت په مینځ کې دائر دي، او فقط په نیت سره د عبادت اړخ ته ترجیح ورکول کیږي، همدا ډول اعتکاف هم د عبادت او عادت په مینځ کې دائر دی، او په نیت سره به د اعتکاف عبادتوالی معلومیږي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې روژه یو عبادت ده، او په خپل ذات کې اصل ده، یعني د بل شي په تابع کېدلو سره عبادت نه ده، نو کله چې روژه په عبادت کېدلو کې اصل ده، نو هغه به د بل شي یعني د اعتکاف لپاره نه شرط کیږي، ځکه چې په شرط کېدلو کې د تابع کېدلو مفهوم پروت دی، چې هغه د روژې د اصلیت منافي دی.

زموږ دلیل: هغه حدیث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو یعني لا إعتكاف إلا بالصوم. (یعني له روژې څخه بغیر اعتکاف صحیح نه دی)، نو کله چې په حدیث کې صراحتاً له هغه اعتکاف څخه نفي سوي دي چې په هغه کې روژه نه وي، نو ښکاره ده چې د اعتکاف لپاره به روژه شرط او ضروري وي، او د حدیث په مقابله کې به قیاس پرېښوول کیږي.

د اعتکاف په دوران کې د روژې د نیولو شرعي حیثیت: ثم الصوم... الخ فرمایي چې روژه د واجب اعتکاف لپاره شرط ده، او په دې کې صرف یو روایت دی چې هغه متفق علیه دی، او حسن بن زیاد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د نفلي اعتکاف لپاره هم د روژې د شرط کېدلو روایت بیان کړی دی، او د دې حدیث: لا إعتكاف إلا بالصوم په ظاهر او اطلاق سره یې دلیل نیولی دي، یعني په دې حدیث کې د واجب او غیرِ واجب اعتکاف هیڅ تفصیل نسته، او د مطلق اعتکاف لپاره روژه شرط سوې ده، نو ځکه به د هر ډول اعتکاف لپاره روژه شرط وي، هغه که واجب وي، که نفل، او د دې روایت مطابق به د اعتکاف کمه موده او اندازه یوه ورځ وي، ځکه چې د اعتکاف لپاره روژه شرط ده، او د روژې کمه اندازه یوه ورځ ده، نو د مشروط اندازه به هم یوه ورځ وي.

او د مبسوط د روایت مطابق د نفلي اعتکاف لپاره هیڅ معلومه موده او اندازه نسته، بلکې که یو سړی د یو ګړي لپاره هم د اعتکاف په نیت سره په مسجد کې پاته سي، د هغه اعتکاف صحیح کیږي دا امام محمد رَحِمَهُ الله قول هم دا دی، نو د دې قول مطابق د نفلي اعتکاف لپاره روژه شرط نه ده، ځکه چې روژه یو ګړی او ساعت نه نیول کیږي، د دې قول دلیل دا دی چې د نفل او تطوع دارومدار پر آسانۍ او سهولت دی، او په نفلو کې له هر طرفه د خلکو لپاره آسانتیا سته، همدا وجه ده که یو سړی پر دې قدرت لري چې په ولاړې لمونځ وکړي، نو د هغه لپاره نفلي لمونځ هم په ناسته کول صحیح دي، لهذا معلومه سوه چې د نفلو دارومدار پر آسانتیا دی، او په نفلي اعتکاف کې هغه وخت آسانتیا راځي چې کله په هغه کې نه روژه فرض وي، او نه د هغه لپاره څه وخت مقرر او متعین وي.

ولوشرع فيه الخ صاحب د هدایې د مبسوط او د حسن بن زیاد د روایتونو په مینځ کې د اختلاف ثمره څرګندوي، فرمایي که یو چا نفلي اعتکاف شروع کړی او بیا یې پرېښووی، او یوه ورځ یې پوره نه کړی، نو د مبسوط د روایت مطابق پر هغه دې ورځې د اعتکاف قضاء راوړل واجب نه دي، ځکه چې د مبسوط د روایت مطابق د اعتکاف لپاره د وخت هیڅ اندازه نسته، لهذا د مبسوط د روایت مطابق چې شروع کونکي څومره وخت هم اعتکاف وکړي، نو هغومره وخت یې تبرع او نېکي وکړه، او کله چې هم اعتکاف پرېږدي، نو قضاء نه پر واجبیږي، ځکه قضاء خو په هغه صورت کې واجبیږي، کله چې ابطال راسي (یعني د اعتکاف باطلول راسي، او دلته ابطال نسته ځکه چې تر یوه ګړي وروسته بیا پر هغه اعتکاف لازم نه دی، نو ابطال نه راغلی، لهذا قضاء به هم واجب نه وي)، لیکن د حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله د روایت مطابق په دې صورت کې پر دې سړي د اعتکاف قضاء واجب ده، ځکه چې د روژې په ډول د اعتکاف اندازه هم یوه ورځ ده، او

ځکه تر يوې ورځې مخکې هغه خپل اعتکاف ختم کړی دی، نو ځکه به پر هغه قضاء واجب وي، ځکه چې قاعده داده چې نفلي عبادت تر شروع کولو وروسته واجبيږي، او که تر پوره کولو مخکې هغه فاسد کړی سي، نو د هغه قضاء واجبيږي.

اعتکاف به په کوم مسجد کې کيږي! ثم الإعتكاف... الخ فرمايي چې د اعتکاف د صحيح کېدلو لپاره داسې مسجد ضروري دی چې په هغه کې به لږ تر لږه درې وخته په جماعت سره لمونځ کيږي، ځکه د حضرت حذيفه ﷺ قول دا دی چې لا إعتكاف إلا في مسجد جماعة. (يعني فقط د جماعت والا په مسجد کې اعتکاف صحيح دی)، په دې لړ کې حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام اعظم څخه دا را نقل کړي دي چې اعتکاف به صرف په هغه مسجد کې صحيح وي چې په هغه کې پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کيږي، ځکه چې اعتکاف د لمانځه د انتظار عبادت دی، يعني کله چې معتکف په مسجد کې مقيم وي، نو د هغه اقامت د لمانځه د انتظار لپاره وي، نو ځکه به اعتکاف په داسې ځای کې صحيح وي، چې هلته هر لمونځ په جماعت اداء کيږي، چې د معتکف په حق کې د لمانځه د انتظار عبادت ثابت سي.

ښځه به چيرې اعتکاف کوي! أما المرأة... الخ د ښځې لپاره افضله دا ده چې په هغه ځای کې اعتکاف وکړي چيرې چې دا په کور کې لمونځونه کوي، ځکه چې اعتکاف د لمانځه د انتظار عبادت دی، او ښځه په کور کې خپل د لمانځه په ځای کې د لمانځه انتظار کوي، نو ځکه به د هغې د لمانځه ځای د هغې په حق کې د اعتکاف ځای وي، او که هغې په کور کې د لمانځه لپاره يو ځانګړی ځای ټاکلی نه وو، نو بيا به د خونې (کمرې) په يوه حصه او کونج کې د اعتکاف لپاره ځای ټاکي او هلته به اعتکاف کوي؛ أصلاً په دې عبارت سره پر امام شافعي رَحِمَهُ الله رد کوي، ځکه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله د سړي په شان د ښځې لپاره هم په کور کې اعتکاف جائز نه ګڼي، او فرمايي چې نه د سړي لپاره په کور کې اعتکاف جائز دی، او نه د ښځې لپاره. لېکن دا صحيح نه ده. او شايد هغه به زموږ دليل په غوره سره مطالعه کړی نه وي.

د کومو شيانو لپاره معتکف له مسجد څخه وتلای سي؟

وَلَا يَخْرُجُ مِنَ الْمَسْجِدِ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ أَوِ الْجُمُعَةِ او اعتکاف کونکی به له مسجده څخه نه وځي مګر د انساني حاجت لپاره يا د جمعې د لمانځه لپاره أَمَّا الْحَاجَةُ فَلِحَدِيثِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هر چې د انساني حاجت لپاره وتل دي نو هغه د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حديث په وجه سره دي كَانَ [1] النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَا يَخْرُجُ مِنْ مُعْتَكَفِهِ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ (چې) نبي ﷺ به خپل د اعتکاف له ځايه څخه نه وتی مګر د انساني حاجت لپاره وَلِأَنَّهُ مَعْلُومٌ وُقُوعُهَا او په دې وجه چې د انساني حاجت واقع کېدل معلوم دي وَلَا بُدَّ مِنَ الْخُرُوجِ فِي تَقْضِيَتِهَا او د هغه د پوره کولو لپاره وتل ضروري دي فَيَصِيرُ الْخُرُوجُ لَهَا مُسْتَثْنًى نو د انساني حاجت لپاره وتل به (د نه وتلو له حکم څخه) مستثنیٰ وي وَلَا يَمْكُثُ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الطُّهُورِ او نه به ايساريږي له پاکۍ څخه تر فراغت وروسته لِأَنَّ مَا ثَبَتَ بِالضَّرُورَةِ يَتَقَدَّرُ بِقَدْرِهَا ځکه کوم شی چې د ضرورت په وجه ثابت سي هغه به د ضرورت په اندازه متعين کيږي وَأَمَّا الْجُمُعَةُ فَلِأَنَّهَا مِنْ أَهَمِّ حَوَائِجِهِ او هر چې جمعه ده نو هغه د معتکف له مهمو حاجتونو څخه ده وَهِيَ مَعْلُومٌ

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الإعتكاف، باب لا يدخل البيت إلا لحاجة، حديث رقم: ٢٠٢٩.

رُكْنُهَا او د جمعې واقع كېدل (هم) معلوم دی وَكَانَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: الْخُرُوْجُ إِلَيْهَا مُفْسِدٌ او امام شافعي رحمه الله فرمايي، چې د جمعې لپاره وتل اعتكاف فاسدوي لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ الْإِعْتِكَافُ فِي الْجَامِعِ څكه چې د هغه لپاره په جامع مسجد كې اعتكاف كول ممكن دي وَنَحْنُ نَقُوْلُ: اَلْإِعْتِكَافُ فِيْ كُلِّ مَسْجِدٍ مَشْرُوْعٌ او موږ وايو، چې اعتكاف په هر مسجد كې مشروع دی وَإِذَا صَحَّ الشُّرُوْعُ فَالضَّرُوْرَةُ مُطْلَقَةٌ فِي الْخُرُوْجِ او كله چې (په هر مسجد كې د اعتكاف) شروع صحيح سوه نو ضرورت (خو) د وتلو اجازه وركوي وَيَخْرُجُ حِيْنَ تَزُوْلُ الشَّمْسُ او معتكف به وځي (د جمعې د لمانځه لپاره) كوم وخت چې لمر تر سر واوړي (يعني تر زوال وروسته) لِأَنَّ الْخِطَابَ يَتَوَجَّهُ بَعْدَهُ څكه چې خطاب تر زوال وروسته متوجه كېږي وَإِنْ كَانَ مَنْزِلُهُ بَعِيْدًا عَنْهُ او كه د هغه د اعتكاف ځای له جامع مسجد څخه لېري وي يَخْرُجُ فِيْ وَقْتٍ يُمْكِنُهُ إِدْرَاكُهَا نو په داسي وخت كې به وځي چې د هغه لپاره د جمعې نيول ممكن وي وَيُصَلِّيْ قَبْلَهَا أَرْبَعًا او چې تر جمعې مخكې څلور ركعته (سنت) كولای سي وَفِيْ رِوَايَةٍ سِتًّا او په يوه روايت كې دي چې شپږ ركعته كولای سي اَلْأَرْبَعُ سُنَّةٌ وَالرَّكْعَتَانِ تَحِيَّةُ الْمَسْجِدِ (چې له هغو څخه) څلور ركعته سنت دي او دوه ركعت تحيّة المسجد دي وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا أَوْ سِتًّا او تر جمعې وروسته به څلور ركعته سنت وكړي يا شپږ ركعته سنت عَلٰى حَسْبِ الْإِخْتِلَافِ فِيْ سُنَّةِ الْجُمُعَةِ د جمعې په سنتونو كې د اختلاف مطابق وَسُنَّتُهَا تَوَابِعُ لَهَا او د جمعې ستونه د جمعې تابع دي فَأُلْحِقَتْ بِهَا نو څكه د جمعې سره لاحق كړی سول وَلَوْ أَقَامَ فِيْ مَسْجِدِ الْجَامِعِ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ او كه معتكف په جامع مسجد كې تر دې زيات قيام وكړی لَا يَفْسُدُ اعْتِكَافُهُ نو د هغه اعتكاف نه فاسديږي لِأَنَّهُ مَوْضِعُ اِعْتِكَافٍ څكه چې جامع مسجد (هم) د اعتكاف ځای دی إِلَّا أَنَّهُ لَا يُسْتَحَبُّ خو دا مستحب نه دي (يعني بـه كار نه دی) لِأَنَّهُ الْتَزَمَ أَدَاءَهُ فِيْ مَسْجِدٍ وَاحِدٍ څكه چې هغه په يوه مسجد كې د اعتكاف د اداء كولو التزام كړی دی فَلَا يُتِمُّهُ فِيْ مَسْجِدَيْنِ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ نو بې له ضرورته به هغه په دوو مسجدونو كې نه پوره كوي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د معتكف لپاره له مسجد څخه وتل جائز نه دي، ماسوا له دوو ضرورتونو څخه يو طبعي او انساني ضرورت دی، لكه د كوچني او غټ اودس ماتي ضرورت، دويم ديني ضرورت دی، لكه د جمعې او د جنابت د غسل ضرورت.

د طبعي او انساني ضرورت لپاره دليل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی، يعني: كان النبي ﷺ لايخرج من معتكفه إلا لحاجة الإنسان، له انساني حاجت څخه مراد غټ او كوچنی اودس مات دی، دويم دليل دا دی چې د غټ او كوچني اودس ماتي واقع كېدل له مخكي څخه معلوم دي (چې انسان ته خامخا دا ضرورت ور پيښيږي)، او دا هم معلومه ده چې د هغو د پوره كولو لپاره له مسجد څخه وتل ضروري دي، ځكه له هغو څخه بغير خلاصون نسته، نو د دې ضرورتونو لپاره وتل به له اعتكاف څخه مستثنىٰ وي، ځكه چې انسان د غيرِ اختياري اُمورو مكلف نه دی، خو دا ضروري ده چې اعتكاف كونكي به له انساني ضرورت او طهارت څخه تر فراغت وروسته سملستي د اعتكاف ځای ته

ځي، له طهارت څخه تر فراغت وروسته به په هغه ځای کي نه درېږي، ځکه چي د انساني ضرورتونو لپاره وتل د ضرورت په وجه ثابت دي، او کوم شی چي د ضرورت په وجه ثابت وي، هغه به د ضرورت په اندازه ثابتېږي، لهذا د ضرورت په اندازه به د وتلو اجازه وي، او له ضرورت څخه به د زیاتو وتلو اجازه نه وي.

وأما الجمعة الخ پاته سو د جمعې د لمانځه لپاره د وتلو جواز، نو دا زموږ مذهب دی، د امام شافعي او امام مالک رحمهما الله په نېز د جمعې لپاره وتل جائز نه دي، تر دې که د جمعې لپاره ووتی، نو اعتکاف یې فاسد سو.

دلیل: د امام شافعي او امام مالک دلیل دا دی چي خروج د اعتکاف ضد دی، او شی د خپل ضد په وجه فاسدېږي، نو په دې وجه به اعتکاف په خروج من المسجد سره فاسدېږي، خو په هغه صورتونو کي به نه فاسدېږي، چي په هغو کي خروج د سخت ضرورت په وجه وي، لکه کوچنی او غټ اودس مات، او د جمعې د لمانځه لپاره د خروج هیڅ ضرورت نسته، ځکه چي د معتکف لپاره په داسي مسجد کي اعتکاف کول ممکن دي چي هلته د جمعې لمونځ کیږي، او هر کله چي دا ممکن دي، نو ضرورت ثابت نه سو، لهذا د جمعې د لمانځه لپاره به وتل هم جائز نه وي.

زموږ دلیل: دا دی چي په دلیل سره دا خبره ثابته ده چي اعتکاف په هر مسجد کي مشروع دی، لکه څرنګه چي په آیت کي راځي: ولا تباشروهن و أنتم عاکفون فی المساجد، نو کله چي په هر مسجد کي اعتکاف مشروع دی، نو د جمعې د لمانځه لپاره وتل به د هغه له اعتکاف څخه داسي مستثنیٰ وي لکه څرنګه چي د انساني ضرورت لپاره وتل مستثنیٰ دي، او د انساني ضرورت لپاره وتل جائز دي، نو د جمعې د لمانځه لپاره به وتل هم جائز وي.

ویخرج حین الخ اوس پاته سوه دا خبره چي د جمعې د لمانځه لپاره به څه وخت وځي، نو په دې باره کي حکم دا دی چي د اعتکاف ځای که د جامع مسجد سره نژدې وو، نو تر زوال وروسته به وځي، ځکه چي د جمعې د اداء کولو خطاب تر زوال وروسته بنده ته متوجه کیږي، او هر کله چي دا خطاب متوجه سي، نو هلته به ضرورت ثابتیږي، او هر کله چي ضرورت ثابت سي، نو په هغه وخت کي به د جمعې د لمانځه لپاره وځي، خو که د اعتکاف ځای له جامع مسجد څخه لیري وو، نو معتکف به د زوال وخت ته نه ګوري، بلکي دومره مخکي به وځي چي په آساني سره مسجد ته ورسیږي او هلته ۴ رکعته سنت وکړای سي او د هغه سره د جمعې خطبه او لمونځ هم ونیسي، بعضي حضراتو ویلي دي چي شپږ رکعته وکړای سي، څلور رکعته سنت او دوه رکعته تحیۃ المسجد؛ او د اعتکاف کونکي لپاره دا اجازه سته چي د جمعې تر لمانځه وروسته څلور رکعته سنت په جامع مسجد کي وکړي، لکه څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی، یا شپږ رکعته سنت وکړي، لکه څرنګه چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول دی.

له دې تقریر څخه ښکاره سوه چي د معتکف لپاره په جامع مسجد کي د جمعې د خطبې او د جمعې د لمانځه او سنتونو په اندازه د قیام کولو اجازه سته، لیکن که تر دې یې زیات قیام وکړي، نو د هغه اعتکاف خو فاسد نه سو، لیکن دا کار خلافِ اولیٰ او غیر مستحب دي، اعتکاف خو ځکه فاسد نه سو، چي جامع مسجد هم د اعتکاف ځای دی، او خلاف اولیٰ ځکه دی چي هغه فقط په یوه مسجد کي د اعتکاف اداء کول پر خپل ځان لازم کړي دي، نو بې له ضرورته به اعتکاف په دوو مسجدونو کي نه پوره کوي، له دې عبارت څخه معلومیږي، چي که بالفرض هغه خپل اعتکاف په جامع مسجد کي پوره کړی، یا زیات وخت په جامع مسجد کي ایسار سو، نو اعتکاف خو یې صحیح سو، لیکن مکروه سو، او دا هم معلومه سوه چي د عذر په وجه له یوه مسجد څخه بل مسجد ته نقل کېدل جائز دي، د مثال په توګه د مسجد بام رالولیږي، یا په مسجد کي بله یوه غټه د مرګ خطره وي، نو د معتکف لپاره بل مسجد ته نقل کېدل جائز دي.

بې له عذره يو ګړۍ هم له مسجد څخه وتل اعتکاف فاسدوي

وَلَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ سَاعَةً بِغَيْرِ عُذْرٍ او که معتکف له مسجد څخه بې له عذره يو ګړی (هم) ووځي فَسَدَ اِعْتِكَافُهٗ عِنْدَ● أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه اعتکاف فاسد سو لِوُجُوْدِ الْمُنَافِيْ ځکه چي د اعتکاف منافي پيدا سو وَهُوَ الْقِيَاسُ او هغه قياس دی وَقَالَا: لَا يُفْسِدُ حَتّٰى يَكُوْنَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي نه فاسديږي تر دې چي له نيمي ورځي څخه زيات (بې له عذره ووځي) وَهُوَ الْإِسْتِحْسَانُ لِأَنَّ فِي الْقَلِيْلِ ضَرُوْرَةً او همدا استحسان دی ځکه چي په لږ (ګړي وتلو) کي ضرورت سته.

اللغات: ﴿ساعة﴾ يو ګړی، يوه لمحه (يوه ثانيه).

تشريح: مسئله: دا ده که معتکف له مسجد څخه بې له عذره د لږ ګړي لپاره هم ووتی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه اعتکاف فاسديږي، ځکه چي د اعتکاف حقيقت پاته کېدل او ايسارېدل دي، او وتل د هغه منافي دي، او قاعده دا ده چي الشئ لا يقوم مع ضده، "يعني هيڅ شی هم د خپل ضد سره نه پاتيږي"، لهذا د بې له عذره وتلو په صورت کي به اعتکاف فاسديږي، هغه که لږ ګړی وي، که ډېر، او د قياس تقاضا همدغه ده چي په محض وتلو سره دي اعتکاف فاسد سي، لکه څرنګه چي د روژې مسئله ده يعني څرنګه چي په زيات خوراک سره روژه فاسديږي، همدارنګه په لږ خوراک سره هم روژه فاسديږي، صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي که معتکف تر نيمی ورځي زيات بې له عذره له مسجد څخه ووتی، نو بيا د هغه اعتکاف فاسديږي، کنې نه فاسديږي، او همدا د استحسان تقاضا ده، ځکه چي د انسان ضرورتونه بې شمېره دي، او د هر ضرورت لپاره د لږ او ډېرو وتلو حاجت پيداکيږي، خو څرنګه چي تر نيمی ورځي زيات وتل کثير دي، او تر هغه کم قليل دي، نو ځکه به تر نيمی ورځي زيات وتل معاف نه وي، او په هغه سره به اعتکاف فاسديږي.

د کومو شيانو لپاره معتکف له مسجد څخه وتلای نه سي؟

قَالَ: وَأَمَّا الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالنَّوْمُ يَكُوْنُ فِيْ مُعْتَكَفِهٖ فرمايي: چي د معتکف خوراک، څښاک او خوب به د هغه د اعتکاف په ځای کي وي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَمْ يَكُنْ لَهٗ مَأْوٰى إِلَّا الْمَسْجِدَ ځکه چي د نبي ﷺ لپاره به له مسجد څخه ماسوا بله (هيڅ) ټکانه (آرام ځای) نه وو وَلِأَنَّهٗ يُمْكِنُ قَضَاءُ هٰذِهِ الْحَاجَةِ فِي الْمَسْجِدِ او په دې وجه (هم) چي دا حاجتونه په مسجد کي پوره کول ممکن دي فَلَا ضَرُوْرَةَ إِلَى الْخُرُوْجِ نو د وتلو ضرورت نسته.

اللغات: ﴿مأوى﴾ پناګاه، آرامګاه، ټکانه.

تشريح: مسئله: دا ده چي د معتکف استوګنه، خوراک، څښاک ټوله به په مسجد کي وي، ځکه د الله نبي چي به کله اعتکاف کوی، نو ټوله ضرورتونه به يې په مسجد کي پوره کول، او بيا په مسجد کي د دې ضرورتونو پوره کول ممکن هم دي، نو ځکه به د خوراک، څښاک لپاره وتل بې له ضرورته وي، او بې له ضرورته وتل جائز نه دي.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:٢ ص: ١٢٥. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٠٦]

په مسجد کي د رانيولو او د خرخولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَبِيْعَ وَيَبْتَاعَ فِي الْمَسْجِدِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُحْضِرَ السِّلْعَةَ او هيڅ پروانسته چي معتکف په مسجد کي خرخول يا رانيول وکړي بې له دې چي سامان حاضر کړي لِأَنَّهُ قَدْ يَحْتَاجُ إِلَى ذٰلِكَ بِأَنْ لَا يَجِدَ مَنْ يَقُوْمُ بِحَاجَتِهِ ځکه چي کله نا کله معتکف دې ته مجبوره کيږي په دې توګه چي هغه داسي شوک پيدا نه کړي چي د هغه حاجت ور پوره کړي إِلَّا أَنَّهُمْ قَالُوْا: يُكْرَهُ إِحْضَارُ السِّلْعَةِ لِلْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ خو مشائخو ويلي دي: چي د خرخولو او رانيولو لپاره سامان مسجد ته راوړل مکروه دي لِأَنَّ الْمَسْجِدَ مُحَرَّزٌ عَنْ حُقُوْقِ الْعِبَادِ ځکه چي مسجد د بندګانو له حقونو څخه خوندي(محفوظ) دی وَفِيْهِ شَغْلُهُ بِهَا او په سامان راوړلو کي مسجد په سامان سره مشغوله کول دي وَيُكْرَهُ لِغَيْرِ الْمُعْتَكِفِ الْبَيْعُ وَالشِّرَاءُ فِيْهِ او له معتکف څخه علاوه د بل چا لپاره په مسجد کي خرڅول او رانيول مکروه دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1]: جَنِّبُوْا مَسَاجِدَكُمْ صِبْيَانَكُمْ إِلَى أَنْ قَالَ: وَبَيْعَكُمْ وَشِرَاءَكُمْ ځکه نبي ﷺ وفرمايل: خپل مسجدونه له کوچنيانو څخه وساتئ تر دې چي ويې فرمايل: له خپلو خرڅولو او رانيولو څخه(هم).

اللغات: ﴿يبتاع﴾ د افتعال مضارع ده: رانيول. ﴿سلعة﴾ سامان. ﴿إحضار﴾ د افعال مصدر دی: حاضرول. ﴿محرز﴾ د افعال اسم مفعول دی: خوندي سوی، محفوظ سوی. ﴿جنبوا﴾ د تفعيل جمع أمر حاضر دی: ليري ساتل، خوندي کول.

تشريح: صورت د مسئلې او دليلونه ښکاره دي.

د اعتکاف په حالت کي د چپ پاتېدلو حکم

قَالَ: وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِخَيْرٍ فرمايي: چي روژتي به خبري نه کوي مګر(صرف) ښکي خبري وَيُكْرَهُ لَهُ الصَّمْتُ او د هغه لپاره چپ پاته کېدل مکروه دي لِأَنَّ صَوْمَ الصَّمْتِ لَيْسَ بِقُرْبَةٍ فِيْ شَرِيْعَتِنَا ځکه چي د چپ پاته کېدلو روژه(د خاموشي روژه) زموږ په شريعت کي عبادت نه ده لٰكِنَّهُ يَتَجَانَبُ مَا يَكُوْنُ مَأْثَمًا لېکن له داسي خبرو څخه به پرېز کوي چي هغه ګناه وي.

اللغات: ﴿صمت﴾ خاموشي، چپتيا. ﴿قربة﴾ عبادت، ښکي. ﴿يتجانب﴾ د تفاعل مضارع ده: ليري وسېدل، پرېز کول، ځان ساتل. ﴿مأثم﴾ مصدر ميمي دی: ګناه.

تشريح: مسئله: دا ده چي معتکف به د اعتکاف په دوران په ذکرونو، تسبيحاتو او عبادتونو کي مشغول اوسي، او فقط ښه او ښکي خبري به کوي، نه به د جاپان او دوبئ خبري کوي، او نه به ديو چاغيبت او چغلي کوي، لېکن داسي به هم نه کوي چي بالکل چپ او خاموشه وي، ځکه زموږ په شريعت کي د خاموشي روژه عبادت نه ده، بلکي دا د مجوسيانو طريقه ده، نو روژتي ته پکار ده چي له هغه څخه ځان وساتي، او د روژې په دوران کي به صرف غوره او ښکي خبري کوي، لېکن له هغو خبرو څخه به پرېز کوي چي هغه د ګناه لامل وي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب المساجد، باب ما يكره في المساجد، حديث رقم: ٧٥٠.

د اعتكاف په حالت كي د وطي (كوروالي) حكم

وَيَحْرُمُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ الْوَطْءُ او پر اعتكاف كونكي وطي كول حرام دي لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ [البقرة، ۱۸۷] ځكه الله تعالىٰ فرمايلي دي: "د ښځو سره مباشرت مه كوئ په داسي حال كي چي تاسو ياست په مسجدونو كي اعتكاف كونكي" وَكَذَا اللَّمْسُ وَالْقُبْلَةُ همدارنګه مسه كول او مچه اخيستل (حرام دي) لِأَنَّهُ مِنْ دَوَاعِيْهِ فَيَحْرُمُ عَلَيْهِ ځكه چي دا د وطي له دواعيو څخه دي نو ځكه به پر هغه حرام وي إِذْ هُوَ مَحْظُوْرُهُ ځكه چي وطي د اعتكاف له ممنوعاتو څخه دي كَمَا فِي الْإِحْرَامِ لكه څرنګه چي په احرام كي (ممنوع) دي بِخِلَافِ الصَّوْمِ لِأَنَّ الْكَفَّ رُكْنُهُ په خلاف د روژي ځكه چي له وطي څخه ځان نيول د روژي ركن دی لَا مَحْظُوْرُهُ نه د روژي ممنوع فَلَمْ يَتَعَدَّ إِلَى دَوَاعِيْهِ نو ځكه به وطي (په روژه كي) تر دواعيو پوري نه متعدي كيږي.

اللغات: ﴿عاكف﴾ اعتكاف كونكى، ﴿قبلة﴾ مچه، ﴿دواعي﴾ جمع د دَاعِيَةٌ ده: خواهش زياتونكى شى، رابلونكى شى (مراد ځني هغه شيان دي چي بنده وطي كولو ته اماده كوي)، ﴿محظور﴾ ممنوع.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د معتكف لپاره وطي كول حرام دي، دليل دا آيت دی: ولا تباشروهنّ و أنتم عاكفون فى المساجد، په دې آيت كي هغو صحابه وو ته خطاب دی چي هغوى به د اعتكاف په حالت كي له مسجد څخه خپلو كورونو ته را تلل، او له خپلو ښځو سره به تر كوروالي وروسته واپس مسجد ته تلل، په دې آيت كي هغوى له دې حركت څخه منع سوي دي، او په حالت د اعتكاف كي وطي حرام ګرځول سوي دي.

وكذا اللمس الخ فرمايي چي څرنګه د اعتكاف په حالت كي وطي كول حرام دي، همدارنګه ښځه په شهوت سره مسول او مچول هم حرام دي، ځكه چي دا شيان د جماع دواعي دي، نو څرنګه چي د احرام په حالت كي جماع او دواعي د جماع دواړه حرام دي، همدارنګه به د اعتكاف په حالت كي هم دواړه حرام وي.

بخلاف الصوم الخ فرمايي چي په روژه كي دواعي د جماع حرام نه دي، ځكه چي له جماع څخه ځان ساتل د روژي ركن دی، د روژي محظور او ممنوع دی، نو له جماع څخه به ځان ساتل خو فرض وي، لېكن د هغه دواعي به حرام نه وي، ځكه چي د جماع دواعي د روژي له ممنوعاتو څخه نه دي، او كله چي داسي ده، نو په روژه كي به جماع د دواعيو طرف ته نه متعدي كيږي، يعني داسي به نه كيږي چي څرنګه له جماع څخه منع كېدل ركن دي، نو داسي به له د جماع له دواعيو څخه هم منع كېدل ركن وي.

په جماع سره د اعتكاف د باطلوالي تفصيلي حكم

فَإِنْ جَامَعَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا نو كه معتكف جماع وكړي په شپه يا ورځ كي په قصد يا په هېره سره بَطَلَ إِعْتِكَافُهُ نو د هغه اعتكاف باطل سو لِأَنَّ اللَّيْلَ مَحَلُّ الْإِعْتِكَافِ ځكه چي شپه د اعتكاف محل دی بِخِلَافِ الصَّوْمِ په خلاف د روژي وَحَالَةُ الْعَاكِفِيْنَ مُذَكِّرَةٌ او د معتكفينو حالت په ياد وركوونكى دی فَلَا يُعْذَرُ بِالنِّسْيَانِ نو ځكه به په هېره سره معذوره نه ګڼل كيږي.

تشریح: صورت د مسئلې او دلیل بالکل ښکاره دی، خو شه غور او فکر ته اړتیا لري.

په ما دون الفرج کې د جماع حکم

وَلَوْ جَامَعَ فِيمَا دُوْنَ الْفَرْجِ فَأَنْزَلَ او که اعتکاف کونکي په ماسوا د فرج کې جماع وکړي او انزال سي أَوْ قَبَّلَ أَوْ لَمَسَ فَأَنْزَلَ یا (له ښځې څخه) مچه واخلي یا (ښځه) مسه کړي بَطَلَ اِعْتِكَافُهُ نو د هغه اعتکاف باطلیږي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْجِمَاعِ ځکه چې دا (شیان) د جماع په معنیٰ کې دي حَتَّى يَفْسُدَ بِهِ الصَّوْمُ تر دې چې په دې سره روژه فاسدیږي وَإِنْ لَمْ يُنْزِلْ لَا يَفْسُدُ او که انزال نه سي نو اعتکاف نه فاسدیږي وَإِنْ كَانَ مُحَرَّمًا که څه هم دا حرام دي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي مَعْنَى الْجِمَاعِ ځکه چې دا د جماع په معنیٰ کې نه دي (یعني که ښځه مچ کړي یا یې مسه کړي او انزال نه سي نو دا د جماع په معنیٰ کې نه دي) وَهُوَ الْمُفْسِدُ او جماع (د اعتکاف) فاسدونکې ده وَلِهٰذَا لَا يَفْسُدُ بِهِ الصَّوْمُ همدا وجه ده چې په دې سره روژه نه فاسدیږي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که معتکف له فرج څخه علاوه په ورون یا بل ځای کې جماع وکړه او انزال سو، یا یې ښځه مسه کړه یا یې مچ کړه او انزال سو، نو په دې ټولو صورتونو کې اعتکاف باطلیږي، ځکه په دې توګه شهوت پوره کول د جماع په معنیٰ کې دي، همدا وجه ده چې په دې سره روژه فاسدیږي، او جماع کول اعتکاف فاسدوي، نو کوم چې د هغه په معنیٰ کې دي، هغه به هم اعتکاف فاسدوي، او که په دې صورتونو کې انزال نه سو، نو اعتکاف نه فاسدیږي، که څه هم د اعتکاف په حالت کې داسې کول حرام دي، دلیل دا دی چې بې له انزاله دا فعل د جماع په معنیٰ کې نه دی، حال دا چې جماع اعتکاف فاسدوي، همدا وجه ده چې د روژې په حالت کې مچول او مسه کول جائز دي.

صرف د ورځو د اعتکاف د نذر منلو حکم

وَمَنْ أَوْجَبَ عَلَى نَفْسِهِ اِعْتِكَافَ أَيَّامٍ او که یو سړي پر خپل ځان دیو څو ورځو اعتکاف واجب کړي لَزِمَهُ اِعْتِكَافُهَا بِلَيَالِيهَا نو پر هغه د دې ورځو اعتکاف د شپو سره لازم دی لِأَنَّ ذِكْرَ الْأَيَّامِ عَلَى سَبِيْلِ الْجَمْعِ يَتَنَاوَلُ مَا بِإِزَائِهَا مِنَ اللَّيَالِيْ ځکه د جمع په توګه د ورځو یادول و هغو شپو ته (هم) شاملیږي کوم چې د دې ورځو په مقابل کې وي يُقَالُ: مَا رَأَيْتُكَ مُنْذُ أَيَّامٍ ویل کیږي: له څو ورځو څخه مې لیدلی نه یې وَالْمُرَادُ بِلَيَالِيهَا او مراد یې دا دی چې د هغو په شپو کې مې هم لیدلی نه یې وَكَانَتْ مُتَتَابِعَةً وَإِنْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعَ او دا ورځې به پرلپسې وي که څه هم هغه د تتابع (پرلپسې والي) شرط لګولی نه وي لِأَنَّ مَبْنَى الْاِعْتِكَافِ عَلَى التَّتَابُعِ ځکه د اعتکاف بنیاد پر تتابع دی لِأَنَّ الْأَوْقَاتَ كُلَّهَا قَابِلَةٌ ځکه چې ټول وختونه د اعتکاف قابل دي بِخِلَافِ الصَّوْمِ لِأَنَّ مَبْنَاهُ عَلَى التَّفَرُّقِ په خلاف د روژې ځکه چې د روژې مدار پر تفریق دی لِأَنَّ اللَّيَالِيَ غَيْرُ قَابِلَةٍ لِلصَّوْمِ ځکه چې شپې د روژې قابلې نه دي فَيَجِبُ عَلَى التَّفَرُّقِ نو په متفرقه توګه به روژې واجبیږي حَتَّى يَنُصَّ عَلَى التَّتَابُعِ تر دې چې هغه (په نذر کې) د تتابع صراحت وکړي (یعني تر څو چې په نذر کې د پرلپسې روژو صراحت نه وکړي، تر هغه وخت به روژې په متفرقه توګه واجبیږي) وَإِنْ نَوَى الْأَيَّامَ خَاصَّةً او که هغه په ځانګړې توګه د ورځو نیت وکړي صَحَّتْ نِيَّتُهُ نو د هغه نیت صحیح دی لِأَنَّهُ نَوَى الْحَقِيْقَةَ ځکه چې هغه د حقیقت نیت وکړی.

اللغات: ﴿ليال﴾ جمع د ليلة ده، شپه. ﴿بإزاء﴾ په مقابل کي، په برابر.

تشريح: اوله مسئله او دليل ښکاره دی.

وإن نوى الأيام الخ دغې حاصل دا دی چي مثلاً که يو چا دا نذر ومنی چي د يو څو ورځو اعتکاف به کوم، يعني صرف د ورځو نيت يې وکړی، او شپې يې له نيت څخه وايستلې، نو د هغه نيت صحيح دی. او پر هغه به صرف د ورځو اعتکاف واجب وي، د دې وجه دا ده چي د يوم حقيقي معنىٰ د ورځي ده، نو که يو څوک له يوم څخه د شپې نفي وکړي، صرف د ورځي نيت وکړي، نو هغه د لفظ د حقيقي معنىٰ اعتبار وکړی، نو دا صحيح ده، لهذا په دې صورت کي به صرف د ورځي اعتکاف لازم وي.

صرف د دوو (۲) ورځو د اعتکاف د نذر منلو حکم

وَمَنْ أَوْجَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ اِعْتِكَافَ يَوْمَيْنِ او کوم سړی چي پر ځان دوې ورځي اعتکاف واجب کړي يَلْزَمُهُ بِلَيْلَتَيْهِمَا نو پر هغه سړي به د هغو دوو (۲) ورځو د شپو اعتکاف (هم) لازم وي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: لَا تَدْخُلُ اللَّيْلَةُ الْأُوْلَىٰ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي اوله شپه به (په دې کي) نه داخليږي لِأَنَّ الْمُثَنَّىٰ غَيْرُ الْجَمْعِ ځکه چي تثنيه له جمعې څخه ماسوا ده وَفِي الْمُتَوَسِّطَةِ ضَرُوْرَةُ الْإِتِّصَالِ او په مينځوی شپه کي د اتصال ضرورت دی وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ فِي الْمُثَنَّىٰ مَعْنَى الْجَمْعِ د ظاهر روايت دليل دا دی چي په تثنيه کي د جمعې معنىٰ سته فَيُلْحَقُ بِهِ اِحْتِيَاطًا لِأَمْرِ الْعِبَادَةِ نو تثنيه به د جمعې سره احتياطاً يو ځای کيږي د عبادت د تعلق په وجه، والله أعلم.

اللغات: ﴿مثنیٰ﴾ تثنيه، د دوو (۲) معدود.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړي پر خپل ځان د دوو (۲) ورځو اعتکاف واجب او لازم کړی، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پر هغه د دوو ورځو او دوو شپو اعتکاف واجب دی، لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي اوله شپه به په اعتکاف کي نه داخليږي، لهذا پر هغه به د دوو ورځو او يوې شپې اعتکاف واجب وي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي تثنيه له جمع څخه علاوه ده، لهذا څرنگه چي د جمع يعني د درو ورځو په ذکر کي شپې داخليږي، هغسې به د دوو ورځو په ذکر کي شپې نه داخليږي، ځکه چي تثنيه له جمع څخه علاوه ده، او کله چي په دوو ورځو کي شپې نه داخليږي، نو د قاعدې مطابق به د يوې شپې اعتکاف هم پر هغه واجبېدل پکار نه وي، خو څرنگه چي په اعتکاف کي تتابع ضروري دی، او د تتابع لپاره اتصال ضروري دی، نو د ضرورت په وجه به مينځوی شپه په اعتکاف کي داخليږي، لېکن اوله شپه به نه داخليږي، ځکه چي اوله شپه د اتصال سره هيڅ تعلق نه لري، لهذا په اعتکاف کي به د هغې د داخلولو هيڅ ضرورت هم نه وي.

د طرفينو دليل: د ظاهر روايت او د طرفينو دليل دا دی چي په تثنيه کي د جمع معنىٰ سته، ځکه چي د ډېر ځايونه تثنيه د جمع په معنىٰ کي وي، او اعتکاف د عبادت سره تعلق لري يعني عبادت دی، او په عبادت کي به د احتياط اړخ ته کتل کيږي، نو دلته د احتياط تقاضا دا ده چي تثنيه د جمع په معنىٰ وگرځوو، ځکه چي د درو ورځو په اعتکاف کي د هغو شپې هم داخلې دي، نو کله چي په جمع کي شپې په ورځو کي داخلې دي، نو په تثنيه کي هم د شپو داخلول پکار دي.

كِتَابُ الْحَجِّ

(دا) کتاب د حج (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: صاحب د هدایې تر کتابُ الصوم وروسته کتابُ الحج بیانوي، وجه دا ده چې روژه خالص بدني عبادت دی، لیکن حج بدني او مالي دواړه قسمه عبادت دی، او له دواړو څخه مرکب دی، او ښکاره ده چې مفرد تر مرکب مخکې وي، نو ځکه صاحب د هدایې اول د مفرد یعنې د "صوم" احکام بیان کړل، وروسته د مرکب یعنې د "حج" احکام بیانوي، دویمه وجه دا ده چې روژه هر کال راځي، لیکن حج د هر سړي په حق کې هر کال نه راځي، نو د حج په نسبت د روژې مسائلو ته زیات ضرورت دی، نو په دې حواله سره هم د صوم احکام د حج تر احکامو مخکې بیان سول.

ښکاره دې وي چې د "حج" لفظ د حاء په کسره او فتحه دواړو سره استعمالیږي، په قرآن کریم کې د کسرې مثال دا آیت دی: وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا [آل عمران، ۹۷]، او د فتحې مثال دا آیت دی: اَلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ [البقرة: ۱۹۷]، وګورئ! په اول آیت کې دا لفظ په کسره د حاء حِجّ دی، او په دویم آیت کې په فتحه د حاء حَجّ دی.

د حج لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د حج لغوي معنیٰ ده: قصد کول، اراده کول، او د حج اصطلاحي معنیٰ ده: القصد إلى مكان مخصوص في أوان مخصوص مع فعل مخصوص على وجه التعظيم (یعنې د تعظیم په توګه په ځانګړو وختونو کې د ځانګړو فعلونو سره د ځانګړي ځای اراده کولو ته او د هغه پر طرف سفر کولو ته د شریعت په اصطلاح کې حج ویل کیږي).

فرضیت: د حج فرضیت په کتاب، سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی، په کتابُ الله کې خو د حج فرضیت په دې آیت سره ثابت دی: وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا [آل عمران، ۹۷]؛ او په سنت کې په ډیرو حدیثونو سره د حج فرضیت ثابت دی چې له هغو څخه دوه حدیثونه دا دي: (۱) بني الإسلام على الخمس....الحديث، په دې حدیث کې د اسلام له پنځونو بناګانو څخه یوه بناء حج هم شمارل سوی دی، (۲) من مات ولم يحج فليمت إن شاء يهودياً أو نصرانياً؛ او اجماع خو ښکاره چې د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر ننه پورې پر حج د ټولو مسلمانو اتفاق او اجماع را روانه ده.

د فرضیت وخت: د حج د فرضیت په باره کې ډېر قولونه دي، خو د جمهورو په نیز راجح قول دا دی چې د هجرت په شپږم (۶) کال حج فرض سوی دی.

د حج شرعي حيثيت او د حج شرطونه

الحَجُّ وَاجِبٌ حج واجب دی عَلَى الأَحْرَارِ البَالِغِينَ العُقَلَاءِ الأَصِحَّاءِ پر داسي خلکو چي هغوی آزاد، بالغان، عاقلان، روغ وي إِذَا قَدَرُوا عَلَى الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ په دې شرط چي کله هغوی پر داسي توښه او سپرلي قدرت پيدا کړي فَاضِلًا عَنِ المَسْكَنِ چي هغه زيات وي داستوګني له ځای څخه وَمَا لَا بُدَّ مِنْهُ او له ضروري شيانو څخه وَعَنْ نَفَقَةِ عِيَالِهِ إِلَى حِينِ عَوْدِهِ او د أهل وعيال له نفقې څخه د هغه تر واپس راتللو پوري وَكَانَ الطَّرِيقُ آمِنًا او لاره به (هم) په امن وي وَصَفَهُ بِالوُجُوبِ امام قدوري رَحِمَهُ الله حج په وجوب سره متصف کړی وَهُوَ فَرِيضَةٌ مُحْكَمَةٌ حال دا چي حج يوه مستحکمه فريضه ده ثَبَتَتْ فَرِضِيَّتُهَا بِالكِتَابِ چي د هغې فرضيت په کتابُ الله سره ثابت سوی دی وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ البَيْتِ...الآيَةُ [آل عمران:٩٧] او هغه د باري تعالیٰ (دا) قول دی: ولله على الناس حج البيت من استطاع إليه سبيلا.

اللغات: ﴿أحرار﴾ جمع د حُرّ ده: آزاد خلک، ﴿أصحاء﴾ جمع د صحيح ده: روغ رمټ او سلامت خلک، ﴿راحلة﴾ کجاوه، (سپرلی)، ﴿عيال﴾ بال بچ، اولاد، تر پالني لاندي أهل وعيال، ﴿طريق﴾ لاره.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چي حج پر هغه سړي واجبيږي چي هغه آزاد، بالغ، عاقل، روغ او سلامت وي، په دې شرط چي د لاري پر توښې او سپرلي قدرت لري، او دا توښه او سپرلي به د استوګني له ځای، له کورني ارتياوو، او د اهل و عيال له دومره نفقې څخه زياته وي چي هغه له حج څخه د ده تر راتګه پوري د اهل و عيال کافي سي، او لاره به په امن وي.

وصفه بالوجوب الخ صاحب د هدايې وايي: امام قدوري د حج لپاره د وجوب لفظ استعمال کړی دی، حال دا چي حج قطعي فرض دی، د هغه فرضيت په دې آيت: وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا [آل عمران: ٩٧] سره ثابت دی، نو څه وجه ده چي امام قدوري د وجوب لفظ استعمال کړی دی؟ د دې جواب دا دی چي د قدوري په عبارت کي له وجوب څخه اصطلاحي وجوب مراد نه دی، بلکي دلته وجوب په معنیٰ د ثبوت او لزوم سره دی، يعني حج ثابت او لازم دی پر آزاد، بالغ .....الخ باندي، ځکه چي لفظ د واجب د ثابت او لازم لپاره هم استعماليږي، نو په دې صورت کي به دا لفظ فرضو ته هم شامل وي، ځکه چي فرض هم ثابت او لازم دي.

حج په ژوند کي يو وار فرض دی

وَلَا يَجِبُ فِي العُمُرِ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً او حج نه واجبيږي په (ټوله) عمر کي مګر (فقط) يو وار لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] قِيلَ لَهُ: الحَجُّ فِي كُلِّ عَامٍ أَوْ مَرَّةً وَاحِدَةً ځکه نبي ﷺ ته وويل سول: حج په هر کال کي سته يا (صرف) يو وار سته فَقَالَ: لَا بَلْ مَرَّةً وَاحِدَةً نو نبي ﷺ وفرمايل: نه! بلکي يو وار سته فَمَا زَادَ فَهُوَ تَطَوُّعٌ نو کوم چي (تر يوه وار) زيات سي

[1] تخريج: اخرجه ابو داؤد في كتاب المناسک، باب فرض الحج، حديث رقم: ١٧٢١، وابن ماجه في كتاب المناسک، باب فرض الحج، حديث رقم: ٢٨٨٥.

هغه نفل دی وَلِأَنَّ سَبَبَهُ الْبَيْتُ او په دې وجه (هم) چې د حج سبب بيتُ الله (كعبه) ده وَأَنَّهُ لَايَتَعَدَّدُ او كعبه متعدد (مكرّره) نه ده (يعني بيتُ الله صرف يو ده) فَلَايَتَكَرَّرُ الْوُجُوْبُ نو وجوب به (هم) نه مكرّر كيږي.

اللغات: ﴿مرة﴾ يو وار، ﴿تطوع﴾ نفل، غيرِ واجب، ﴿لا يتعدد﴾ د تفعّل د باب مضارع منفي ده: له يوه وار څخه زياتېدل، څو ځله کېدل، ﴿يتكرر﴾ د تفعّل مضارع ده؛ مكرر كېدل، دوېم وار كېدل.

تشريح: حج په ټوله عمر کي يو وار فرض دی، تر هغه وروسته به حج نفلي وي، ځکه کله چې له نبي ﷺ څخه په دې باره کي پوښتنه وسوه، نو نبي ﷺ وفرمايل: چې نه! حج په ټوله عمر کي يو وار دی (يعني يو وار فرض دی)، پوره حديث داسي دی: عن ابن عباس أن الأقرع بن حابس سأل النبي ﷺ فقال يا رسول الله الحج في كل سنة أو مرة واحدة؟ قال بل مرة واحدة فمن زاد فهو تطوع.

ولأن سببه الخ په ټوله عمر کي يو وار د حج د فرضيت عقلي دليل دا دی چې د حج سبب بيتُ الله الحرام دی، او څرنګه چې بيتُ الله يو دی، نو ځکه به حج په ټوله عمر کي يو وار فرض وي، د دې په خلاف د لمانځه ظاهري سبب وخت دی، او هغه ورځ پنځه واره بدلېږي، نو ځکه به هره ورځ پنځه لمونځونه فرض وي، او د رمضان د روژو سبب مياشته ده، او هغه هر كال راځي، نو ځکه به هر كال د رمضان روژې فرض وي.

حج فوراً واجبېږي که يې د ځنډولو څه ګنجايش سته

ثُمَّ هُوَوَاجِبٌ عَلَى الْفَوْرِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ الله بيا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز حج فوراً (سملستي) واجب دی وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله ● مَايَدُلُّ عَلَيْهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه داسي روايت سوی دی چې هغه (هم) پر دغه دلالت كوي (چې حج فوراً واجب دی) وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُمَا اللهُ عَلَى التَّرَاخِيْ او د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز په تراخي (تأخير) سره واجب دی لِأَنَّهُ وَظِيْفَةُ الْعُمُرِ ځکه چې حج خو د (ټوله) عمر وظيفه ده فَكَانَ الْعُمُرُ فِيْهِ كَالْوَقْتِ لِلصَّلَاةِ نو (ټوله) عمر د حج په باره کي داسي دی لکه د لمانځه په باره کي چې وخت دی. وَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّهُ يَخْتَصُّ بِوَقْتٍ خَاصٍّ داول (قول) وجه دا ده چې حج د يو ځانګړي وخت سره خاص دی وَالْمَوْتُ فِي سَنَةٍ وَاحِدَةٍ غَيْرُنَادِرٍ او د يوه كال په دوران کي مرګ واقع كېدل نادر نه دي فَيَتَضَيَّقُ احْتِيَاطًا نو د احتياط لپاره به تنګي اختيارېږي (يعني سملستي به حج واجبېږي) وَلِهٰذَا كَانَ التَّعْجِيْلُ أَفْضَلَ هم په دې وجه حج ژر كول افضل دي بِخِلَافِ وَقْتِ الصَّلَاةِ لِأَنَّ الْمَوْتَ فِي مِثْلِهِ نَادِرٌ په خلاف د لمانځه د وخت چې په دومره وخت کي مرګ واقع كېدل نادر دي.

اللغات: ﴿على الفور﴾ فوراً، سملستي، بې له ځنډه، ﴿على التراخي﴾ په ځنډ او تأخير سره، ﴿وظيفه﴾ واجب كار، معمول، ﴿يتضيق﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: تنګېدل، (تنګي راوستل).

● القول الراجح: لقول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كذا في رد المحتار ج:٢، ص: ١٥٢. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٠٥]

تشريح: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې كله هم حج فرض سي، نو سمدستي د هغه اداء كول واجب دي، كه بې له عذره يې وځنډوي، نو ګنهګاره كيږي، خو كله چې يې هم اداء كړي، نو اداء كيږي، په دې كې قضاء نسته. او د امام صاحب له روايت څخه معلوميږي چې د هغه ميلان هم و دې طرف ته دى چې حج سمدستي اداء كول واجب دي. امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې حج على التراخي واجب دى، نو كه يو څوک په اول كال حج نه وكړي، بلكې ويې ځنډوي، نو د دوى په نيز هغه نه ګنهګاره كيږي.

وأنه وظيفة الخ د امام محمد او امام شافعي دليل دا دى چې حج د ټوله عمر كار دى، او ټوله عمره د حج وخت دى، همدا وجه ده چې هر كله حج وسي، نو قضاء كيږي نه، بلكې اداء به وي، د دې يو مثال ذكر كوي چې مثلاً له يوې(۱) بجې څخه تر دريو (۳) بجو پورې د ماپښين وخت دى، نو كه تر دريو بجو مخكې په هر وخت كې د ماپښين لمونځ وسي، نو اداء كيږي، لمونځ ګزاره نه ګنهګاره كيږي، كه څه هم په اول وخت كې يې كول افضله دي، همداسې حج هم دى يعني چې كله هم حج وكړي نو نه ګنهګاره كيږي.

وجه الأول الخ د امام ابو يوسف او امام صاحب دليل دا دى چې حج ذيو ځانګړي وخت سره خاص دى، يعني د ذى الحجې په نهمه او لسمه ورځ حج كيږي، تر دې وروسته په ټوله كال كې حج نه سي كېداى، لهذا كه يو څوک تر فرضيت وروسته په اول كال كې حج نه وكړي، نو را روان كال به يې كوي، او دا معلومه نه ده چې تر را روان كاله پورې به هغه ژوندي پاته وي، او كه مړ به وي(ځكه چې په يوه كال كې د مرګ واقع كېدل شاذ و نادر نه دي)، او كه له حج څخه بغير مړ سو، نو ګنهګاره به وي، نو په دې وجه حج على الفور واجب دى، همدا وجه ده چې على الفور حج كول د ټولو امامانو په نيز افضله او غوره كار دى.

بخلاف وقت الصلاة الخ د امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُ الله د مثال جواب وركوي فرمايي چې د دې په خلاف د لمانځه د وخت مسئله ده، ځكه د لمانځه وخت اوږد نه دى، او دومره كوچنى دى چې په هغه كې د مرګ راتلل شاذ ونادر دي، نو په دې وجه د لمانځه په آخري وخت كې هم بې له عذره لمونځ اداء كول جائز دي، او په هغه كې د ځنډولو ګنجايش سته، لهذا د حج په مثال كې به لمونځ ذكر كول صحيح نه وي.

د آزادۍ او د بلوغت د شرطيت(شرط كېدلو) بيان

وَإِنَّمَا شُرِطَ الْحُرِّيَّةُ وَالْبُلُوغُ آزادي او بلوغت په دې وجه شرط كړى سو لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1]: أَيُّمَا عَبْدٍ حَجَّ عَشْرَ حِجَجٍ ثُمَّ أُعْتِقَ فَعَلَيْهِ حَجَّةُ الْإِسْلَامِ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: "كه يو غلام لس حجه كړي وي بيا آزاد كړى سي نو پر هغه د اسلام حج (دويم وار) فرض دى وَأَيُّمَا صَبِيٍّ حَجَّ عَشْرَ حِجَجٍ ثُمَّ بَلَغَ فَعَلَيْهِ حَجَّةُ الْإِسْلَامِ او كه يو كوچنى لس حجه كړي وي بيا بالغ سي نو پر هغه د اسلام حج (دويم وار) فرض دى" وَلِأَنَّهُ عِبَادَةٌ او ځكه چې حج يو عبادت دى وَالْعِبَادَاتُ بِأَسْرِهَا مَوْضُوعَةٌ عَنِ الصِّبْيَانِ او ټوله عبادتونه له كوچنيانو څخه پورته سوي دي وَالْعَقْلُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ التَّكْلِيفِ او عقل شرط دى د تكليف(مكلف كېدلو) د صحيح كېدلو لپاره وَكَذَا صِحَّةُ الْجَوَارِحِ او همدا ډول د

---

[1] تخريج: أخرجه حاكم في المستدرك، كتاب المناسك، حديث رقم: ۱۸٦۹.

اندامونو صحيح كېدل (هم شرط دي) لِأَنَّ الْعَجْزَ دُونَهَا لَازِمٌ ځکه د اندامونو له صحت څخه بغير عاجزي ضروري ده
(يعني که ديو چا اندامونه روغ نه وي، نو هغه به د حج له اداء څخه خامخا عاجزه وي).

تشريح: له دې ځايه صاحب د هدايې د حج د شرطونو وجهې بيانوي فرمايي چې تر ټولو اول شرط آزادېدل دي، پر غلام حج فرض نه دی، او که يو غلام لس حجونه هم وکړي، نو بيا هم تر آزادېدلو وروسته پر هغه د اسلام حج کول فرض دي، (او مخکي حجونه به يې نفلي شمارل کيږي)، ځکه په حديث کي راغلي دي: أيما عبد حج عشر حجج ثم أعتق فعليه حجة الإسلام، همدا ډول د حج د فرضيت لپاره بالغ کېدل هم شرط دي، او د دې شرط وجه دا ده چي تر بلوغت مخکي د کوچنيانو حج معتبر نه دی، ځکه چي حديث دی: أيما صبي حج عشر حجج ثم بلغ فعليه حجة الإسلام، يعني تر بلوغت وروسته دويم وار پر نابالغه کوچني حج کول فرض دي، او بيا خو حج يو عبادت دی، او له کوچنيانو څخه ټوله عبادتونه ساقط سوي او معاف سوي دي، ځکه چي هغوی د شريعت د خطاب او د شريعت د عباداتو مکلف او أهل نه دي.

والعقل الخ فرمايي چي د حج د فرضيت لپاره عاقل کېدل هم شرط دي، ځکه چي له عقل څخه بغير يو څوک مکلف جوړول صحيح نه دي، همدارنګه د اندامونو صحيح او سالم کېدل هم شرط او ضروري دي، ځکه که د انسان اندامونه صحيح او سالم نه وي، نو هغه به د حج د ارکانو له اداء کولو څخه عاجزه وي، او پر عاجزه سړي هم حج فرض نه دی، لهذا د حج د فرضيت لپاره د اندامونو سلامتيا هم ضروري ده.

د ړانده سړي د حج بيان

وَالْأَعْمٰى إِذَا وَجَدَ مَنْ يَكْفِيهِ مُؤْنَةَ سَفَرِهِ او ړوند سړی چي کله يو داسي څوک پيدا کړي چي هغه د ړانده سړي د سفر د مشقت کفايت وکړي (يعني براشت يې کړي) وَوَجَدَ زَادًا وَرَاحِلَةً او توښه او سپرلي (هم) پيدا کړي لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَجُّ عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو (بيا هم) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه حج نه واجبيږي خِلَافًا لَهُمَا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی وَقَدْ مَرَّ فِي كِتَابِ الصَّلَاةِ او دا (بحث) په كتابُ الصلاة (بابُ الجمعة) کي تېر سو.

اللغات: ﴿أعمى﴾ ړوند، بې ديده، د سترګو له ديد څخه بې برخي، ﴿مؤنة﴾ بار، خرڅه، مشقت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی ړوند وي، او يو بل داسي څوک د هغه لپاره پيدا سي، چي د حج په سفر کي د هغه مرسته وکړي، او د هغه د ېولو او راوستلو تکليف برداشت کړي، او په خپله هغه ړوند دومره سرمايه لري چي د خپل ځان او د هغه سړي د توښې او سپرلي لپاره کفايت وکړي، نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر داسي ړانده سړي حج فرض دی، لېکن د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز فرض نه دی، په اصل کي دا اختلاف د دوی حضراتو پر خپلو أصولو مبني دی، د امام اعظم رَحِمَهُ الله اصل او قاعده دا ده چي د بل چا په قدرت او مرستې سره حاصل سوی استطاعت معتبر نه دی، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز داسي استطاعت معتبر دی، همدا وجه ده چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز که د ړانده

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله في اداء الحج بنفسه، كما قال العلامة ابن عابدين: فلا يجب على مقعد إلى أن قال: وأعمى وإن وجد قائداً... لا بأنفسهم ولا بالنيابة في ظاهر المذهب عن الإمام. رد المحتار ج:٢، ص: ١٥٢. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٠٨]

سري لېاره يو لاربنوونكی او مرستيال پيدا سو، نو پر هغه حج فرض دی، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بيا هم فرض نه دی، ځکه چي امام صاحب رَحِمَهُ الله د بل چا په لاربنووني او مرستي سره حاصل سوی استطاعت معتبر نه ګڼي، د قاعدې عبارت دا دی: الأصل عند أبي حنيفه رَحِمَهُ الله ان كل من لا يقدر بنفسه فوسع غيره لا يكون وسعا له. وعندهما يكون وسعاله.

د ګوډ(شل) سړي د حج بيان

وَأَمَّا الْمُقْعَدُ فَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يَجِبُ او هر چي شل سړی دی نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي پر هغه حج واجب دی لِأَنَّهُ مُسْتَطِيعٌ بِغَيْرِهِ ځکه چي هغه د بل چا په ذريعه قدرت لرونكی دی فَأَشْبَهَ الْمُسْتَطِيعَ بِالرَّاحِلَةِ نو د هغه سړي سره مشابه سو چي هغه پر سپرلي قدرت لري وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُ لَا يَجِبُ لِأَنَّهُ غَيْرُ قَادِرٍ عَلَى الْأَدَاءِ بِنَفْسِهِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي پر شل سړي حج واجب نه دی ځکه چي هغه په خپله پر اداء کولو قدرت نه لري بِخِلَافِ الْأَعْمَى لِأَنَّهُ لَوْ هُدِيَ يُؤَدِّي بِنَفْسِهِ په خلاف د ړانده سړي ځکه که د هغه لاربنوونه(او لاس نيونه) وسي نو هغه په خپله (هم) حج اداء کولای سي فَأَشْبَهَ الضَّالَّ عَنْهُ نو دا د هغه سړي سره مشابه سو چي د حج لاره ځني ورکه وي.

اللغات: ﴿مقعد﴾ شل، فلج، ګوډ، په پښو معيوب. ﴿هدی﴾ د ضرب ماضي مجهوله ده: لار ښوول، (لاس نيول)، ﴿ضال﴾ بې لاري، له لاري څخه ورک.

تشريح: د عبارت تر تشريح مخكي په دې خبره پوه سئ چي دلته د امام صاحب رَحِمَهُ الله كوم روايت بيان سوی دی، دا د امام صاحب اصل او مستند روايت نه دی، بلكي د حضرت حسن بن زياد رَحِمَهُ الله روايت دی. حاصل يې دا دی چي پر شل، فلج سوي او پر هغه چي له دواړو پښو څخه خلاص وي، حج واجب دی، ځکه چي دا د بل چا د استطاعت او مرستي په ذريعه مستطيع او قدرت لرونكی دی، يعني د بل چا په ذريعه د اركانو پر اداء كولو قدرت لري، نو دا سړی د هغه سړي په شان سو كوم چي پر سپرلي باندي د حج كولو قدرت لري(يعني د سپرلي په ذريعه د سپرتيا په حالت كي حج كولای سي)، او پر هغه سړي حج فرض دی چي د سپرلي په ذريعه پر حج قدرت لري، نو ځكه به پر مفلوج، او شل هم حج فرض وي، لېكن د امام صاحب رَحِمَهُ الله اصل روايت دا دی چي پر مفلوج او شل حج فرض نه دی، ځكه كله چي د هغه په نېز د ړانده سړي په حق كي د بل چا استطاعت معتبر نه دی، نو بيا شل او مفلوج د كوم باغ مولی ده.

د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي پر شل حج فرض نه دی، ځكه چي دا سړی په خپله د حج د اركانو پر اداء كولو قدرت نه لري، نو پر هغه حج فرض كول بې فائدې دي، د دې په خلاف د ړانده سړي مسئله ده، نو هغه له شل څخه بېل او عليحده دی، ځكه چي د ړانده لپاره كه يو لاربنوونكی او مرستيال پيدا سي، او هغه د اركانو په اداء كولو كي د هغه لاربنوونه او لاس نيونه وكړي، نو هغه په خپله اركان اداء كولای سي، نو ړوند سړی د ضالّ يعني د هغه سړي په شان سو چي د حج لاره ځني وركه سوې وي، او د ضالّ لپاره كه لاربنوونكی پيدا سي، نو پر هغه حج فرض دی، لهذا پر ړانده سړي به هم حج فرض وي، په دې شرط چي د هغه لپاره هم يو لاربنوونكی او مرستيال پيدا سي.

د توښې او سپرلۍ د شرطيت بيان

وَلَابُدَّ مِنَ الْقُدْرَةِ عَلَى الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ او پر توښه او سپرلۍ قدرت(لرل) ضروري دي وَهُوَ قَدْرُ مَا يَكْتَرِي بِهِ شِقَّ مَحْمِلٍ او هغه پر دومره اندازه مال قدرت لرل دي چې په هغه سره حاجي د کجاوې يوه حصه* په کرايه اخيستى سي أَوْ رَأْسَ زَامِلَةٍ يا يو بار وړونکي حيوان په کرايه اخيستى سي وَقَدْرِ النَّفَقَةِ ذَاهِبًا وَجَائِيًا او د تګ راتګ پر خرڅه (هم قدرت لرل ضروري دي) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ سُئِلَ عَنِ السَّبِيلِ إِلَيْهِ ځکه چې له نبي ﷺ څخه د (دې آيت) من استطاع إليه سبيلاً په باره کې پوښتنه وسوه فَقَالَ: اَلزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ نو نبي ﷺ وفرمايل: چې (له دې څخه مراد) توښه او سپرلى دى وَإِنْ أَمْكَنَهُ أَنْ يَكْتَرِيَ عُقْبَةً او که د هغه لپاره په واري (او نوبت) سره په کرايه د سپرلۍ اخيستل ممکن وو فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شى واجب نه دى (يعني پر هغه حج واجب نه دى) لِأَنَّهُمَا إِذَا كَانَا يَتَعَاقَبَانِ لَمْ تُوجَدِ الرَّاحِلَةُ فِي جَمِيعِ السَّفَرِ ځکه چې کله دواړه په واري (او نوبت) سره سپريږي نو په ټوله سفر کې به (ديوه لپاره پوره) سپرلي پيدا نه سي (يعني په ټوله سفر کې به سپرتيا رانه سي حال دا چې د حج شرط دا دى چې په ټوله سفر کې به پر سپرلي او سپرتيا د انسان قدرت وي).

اللغات: ﴿يكترى﴾ د افتعال مضارع ده: په کرايه اخيستل. ﴿شق محمل﴾ پر اوښ چې کومه کجاوه پرته وي دهغې دوې حصې وي او په هره حصه کې يو، يو سړى کښيني، يوې حصې ته شقّ محمل وايي (نو که يو چا دومره قدرت درلودى چې يوه حصه په کرايه واخلي نو هم حج پر واجب دى). ﴿زاملة﴾ بار وړونکى اوښ. ﴿عقبة﴾ نوبت، وار.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چې د شق محمل اصلي معنىٰ هغه ده کوم چې په لغاتو کې بيان سوه، خو اوس مراد ځنې د طيارې، موټر او داسي نورو يو (١) سيټ دى، او له رأس زامله څخه مراد بار وړونکي اوښ دى، زاملة هغه اوښ ته ويل کيږي چې پر هغه د حج په سفر يا په بل سفر کې سامان وړل کيږي.

صورت د مسئلې: دا دى که يو سړى دومره مالداره وي چې د اوښ يو سيټ يا پوره اوښ يا زامله اوښ* په کرايه اخيستلاى سي، همدارنګه د حج د سفر پر نفقه هم قدرت لري، نو پر هغه حج کول فرض دي، ځکه چې د حج د فرضيت لپاره د آزادي، عقل او بلوغت سره سره پر توښه او سپرلي هم قدرت شرط دى، ځکه له نبي ﷺ څخه چې کله يو چا د من استطاع إليه سبيلا په باره کې پوښتنه وکړه، نو نبي ﷺ وفرمايل چې له دې څخه توښه او سپرلى مراد دي.

وإن أمكنه الخ فرمايي که يو سړي په نوبتي سپرتيا سره د سپرلي په کرايه اخيستلو قدرت درلودى، په دې توګه چې تر يو ځايه پوري به هغه پر سپريږي، بيا به دى په پښو روانيږي، او له هغه ځايه څخه تر بل ځايه پوري بل سړى پر سپريږي، (او پر داسي مضبوطه سپرلي يې قدرت نه درلودى چې دواړه په يوه وخت کې پر سپاره وي)، نو پر داسي

---

❶ تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في ايجاب الحج بالزاد والراحلة، حديث رقم: ٨١٣، وابن ماجه في كتاب المناسك باب: ٦، حديث: ٢٨٩٦.

* پر زامله اوښ قدرت لرل دا دي چې حاجي سامان پر اوښ بار کړي، او په خپله په پښو ور سره روان سي، نو که سړى طاقتمن وي، د پښو د تګ وس لري، او مکه مبارکه هم نژدې وي، نو فقط پر زامله اوښ [رأس زامله] قدرت لرل هم حج واجبوي.

سړي حج فرض نه دی، ځکه کله چې دوه خلک د حج په سفر کې پر يوه سپرلي په نوبت سره سپرېږي. نو بنکاره ده چې په ټوله سفر کې به ديوه سړي په حق کې هم په بشپړه توګه سپرلی را نه سي، (بلکې تر يو ځايه پورې به ديوه په حق کې وي او تر بل ځايه پورې به دبل په حق کې وي)، حال دا چې په ټوله سفر کې پر بشپړه سپرلي قدرت ضروري دی، نو ځکه به په دې صورت کې حج فرض نه وي.

توښه او سپرلی به له ورځني اړتياوو څخه زيات وي

وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُوْنَ فَاضِلًا عَنِ الْمَسْكَنِ وَعَمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ او شرط دي چې دا مال به د هغه د استوګني له ځای او له ورځني اړتياوو څخه زيات وي كَالْخَادِمِ وَأَثَاثِ الْبَيْتِ وَثِيَابِهِ لکه خادم، د کور سامان او جامې (کالي) لِأَنَّ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ مَشْغُوْلَةٌ بِالْحَاجَةِ الْأَصْلِيَّةِ ځکه چې دا شيان په اصلي حاجت (حاجتِ اصليه) سره مشغول دي وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُوْنَ فَاضِلًا عَنْ نَفَقَةِ عِيَالِهِ إِلٰى حِيْنِ عَوْدِهِ او دا (هم) شرط دي چې دا مال به د هغه تر راتګه پورې د هغه د عيال له خرڅې څخه زيات وي لِأَنَّ النَّفَقَةَ حَقٌّ مُسْتَحَقٌّ لِلْمَرْأَةِ ځکه چې نفقه د ښځې لپاره واجب حق دی وَحَقُّ الْعَبْدِ مُقَدَّمٌ عَلٰى حَقِّ الشَّرْعِ بِأَمْرِهِ او د شريعت په حکم د بنده حق د شريعت پر حکم مخکې دی.

اللغات: ﴿أثاث﴾ سامان، ﴿عود﴾ د نصر مصدر دی: واپس راتلنه، راګرځېدنه.

تشريح: مسئله: دا ده چې د حج د فرضيت لپاره پر زاد (توښه) او راحله (سپرلي) قادره کېدل شرط دي (لکه څرنګه چې مخکې ذکر سو)، په دې عبارت کې دا بيانوي چې په کوم مال سره زاد او راحله حاصلوي، هغه مال به د انسان له ورځني او شخصي ضرورتونو څخه زيات وي، يعني د استوګني له کور، خادمان، او جامو څخه د زاد او راحلې زياتېدل شرط دي، همدارنګه دا هم شرط دي چې دا مال به د انسان تر واپس راتګه پورې د هغه د اهل و عيال له نفقې څخه زيات وي، ځکه چې پر خاوند د ښځې نفقه واجب ده، او شريعت پر خپل حق د بندګانو حق مخکې کړی دی، او څرنګه چې حج د شريعت حق دی، نو ځکه شريعت دا شرط لګوي چې د ښځې او عيال نفقه به مخکې اړدې، بيا به په زائد مال د شريعت د حق يعني د حج د زاد او راحلې بندوبست کوي.

د کومو خلکو لپاره توښه او سپرلي شرط دي؟

وَلَيْسَ مِنْ شَرْطِ الْوُجُوْبِ عَلٰى أَهْلِ مَكَّةَ وَمَنْ حَوْلَهُمُ الرَّاحِلَةُ او د حج د واجبېدلو لپاره د مکې پر خلکو او د هغو د اطرافو پر خلکو سپرلي شرط نه ده لِأَنَّهُ لَا تَلْحَقُهُمْ مَشَقَّةٌ زَائِدَةٌ فِي الْأَدَاءِ ځکه چې دې خلکو ته د حج په اداء کولو کې څه زيات تکليف نه لاحقيږي فَأَشْبَهَ السَّعْيَ إِلَى الْجُمُعَةِ نو دا د جمعې و لمانځه ته د تګ کولو سره مشابه سو (يعني د هغو لپاره حج ته تلل داسې سو لکه نور خلک چې د جمعې لمانځه ته ځي) وَلَا بُدَّ مِنْ أَمْنِ الطَّرِيْقِ او د لارې په امن کېدل (هم) ضروري دي لِأَنَّ الْإِسْتِطَاعَةَ لَا تَثْبُتُ دُوْنَهُ ځکه چې له هغه څخه بغير استطاعت نه ثابتيږي ثُمَّ قِيْلَ: هُوَ شَرْطُ الْوُجُوْبِ بيا ويل سوي دي: چې د لارې په امن کېدل د حج د وجوب شرط دی حَتّٰى لَا يَجِبَ عَلَيْهِ الْإِيْصَاءُ تر دې چې پر هغه وصيت کول واجب نه دي وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ او دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دي

وَقِيلَ: هُوَ شَرْطُ الْأَدَاءِ دُوْنَ الْوُجُوْبِ او ويل سوي دي: چي دا د حج د اداء شرط دي نه د وجوب لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فَسَّرَ الْإِسْتِطَاعَةَ بِالزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ لَا غَيْرُ ځکه چي نبي ﷺ د استطاعت تفسير (فقط) په توښه او سپرلي سره کړی دی نه په نورو سره.

اللغات: ﴿إيصاء﴾ د افعال مصدر دی: وصيت کول.

تشريح: مخکي تېر سو چي د حج د وجوب په شرطونو کي پر زاد او راحلې قدرت لرل هم دي، خو د مکې او د مکې پر شاوخوا او سېلونکو باندي د حج د فرضيت لپاره راحله شرط نه ده، لهذا که په دې خلکو کي يو څوک د راحلې قدرت نه لري، نو بيا هم پر هغه حج واجب دی، خو په دې شرط چي د پښو پر تګ قدرت لري، او دا شرط دلته هم ضروري دی چي د هغه تر واپس راتلو پوري به د اهل و عيال لپاره نفقه کافي وي.

پاته سو دا چي د مکې له اطرافو څخه مراد څه دي؟ نو په دې کي دوه قولونه دي: يو دا چي کوم خلک د مکې او ميقات په مينځ کي آباد دي، هغو ټولو ته د مکې د اطرافو خلک وايي، دويم دا چي له اطرافو څخه مراد هغه سيمه ده چي د هغې او د مکې په مينځ کي له دريو ورځو څخه کمه مسافه وي، نو د دې سيمي د خلکو لپاره سپرلي شرط نه ده.

دليل: دا دی چي دې خلکو ته بغير له سپرلي څخه حج کول هيڅ تکليف نه لري، لهذا حج ته د هغو تلل د جمعې د لمانځه د تګ سره مشابه سو، او د جمعې لمانځه ته د تللو لپاره سپرلي شرط نه ده، که څه هم تکليف وي، همدارنګه به د مکې او د مکې د اطرافو د خلکو لپاره هم د حج د فرضيت لپاره سپرلي شرط نه وي.

ولا بد من أمن الطريق الخ فرمايي چي د حج د وجوب لپاره د لاري په امن کېدل هم شرط دي، يعني په دغه لاره کي به غالب ګومان د امن او سلامتيا وي، ځکه که لاره په امن نه وي، نو قدرت نه ثابتيږي، بيا په دې کي اختلاف دی چي د لاري امنيت د حج د وجوب لپاره شرط دی، او که د حج د اداء لپاره، نو بعضي مشائخو فرمايلي دي چي د لاري امنيت د حج د وجوب لپاره شرط دی، په نوادر کي همدا روايت له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه رانقل سوی دی، او همدا د امام کرخي رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی، بعضي مشائخو فرمايلي دي چي د لاري امنيت د حج د اداء کولو لپاره شرط دی، او دا د امام احمد رَحِمَهُ الله قول دی.

د دويم قول دليل دا دی چي نبي ﷺ د دې آيت ولله على الناس حج البيت من استطاع إليه سبيلًا تفسير صرف په زاد او راحله سره کړی دی، که د لاري امنيت د حج د وجوب لپاره شرط وای، نو رسول الله ﷺ به د زاد او راحلې سره د لاري امنيت هم ذکر کړی وای، نو کله چي نبي ﷺ د زاد او راحلې سره د لاري امنيت ذکر کړی نه دی، نو دا د دې خبري دليل دی چي د لاري په امن کېدل د زاد او راحلې په څېر د حج لپاره شرط نه دی،، بلکي د حج د اداء کولو لپاره شرط دی.

د اختلاف ثمره: ثمره د اختلاف په دې صورت کي ښکاره کيږي چي که په يو سړي کي د حج ټوله شرطونه جمع وي، لېکن د لاري د نه امنيت په وجه هغه حج نه وکړی سي، تر دې چي مرګ ته نژدې سي، نو د اول قول د مشائخو په نېز پر هغه د حج وصيت واجب نه دی (يعني دا وصيت پر واجب نه دی چي زما تر مرګ وروسته دي زما پر ځای بل څوک حج وکړي)، ځکه چي پر هغه ګردسره حج واجب سوی نه دی، (هغه په دې وجه چي د اول قول د مشائخو په نېز د لاري امنيت د حج د وجوب شرط دی، او امنيت نسته، نو حج واجب نه سو، نو د حج وصيت به څرنګه واجب وي)، او د دويم

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب قول الله تعالى: وتزوّدوا فإن خير الزاد التقوىٰ، حديث رقم: ١٥٢٣.

قول د مشائخو په نیز پر هغه د حج وصیت واجب دی. (ځکه چي د هغو په نیز د لاري په امن کېدل د حج د اداء کولو لپاره شرط دي، نه د حج د وجوب لپاره) نو کله چي نفسِ حج پر هغه واجب سو. لېکن د لاري د نه امنیت په وجه هغه اداء نه کړی سو. نو ځکه به له خپلي غاړي څخه د حج د فریضې د ساقطولو لپاره پر هغه په خپل مال کي د حج د اداء کولو وصیت واجب او ضروري وي.

د ښځي لپاره د محرم یا خاوند د شرطیت بیان

قَالَ: وَيُعْتَبَرُ فِي الْمَرْأَةِ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د ښځي په حق کي به د دې خبري اعتبار کېږي أَنْ يَكُونَ لَهَا مَحْرَمٌ تَحُجُّ بِهِ أَوْ زَوْجٌ چي د ښځي لپاره به یو محرم وي چي د هغه سره به دا حج کوي یا د ښځي خاوند به وي وَلَا يَجُوزُ لَهَا أَنْ تَحُجَّ بِغَيْرِهِمَا إِذَا كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ مَكَّةَ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ او ښځي ته له دې دوارو څخه علاوه د بل چا سره حج کول جائز نه دي چي کله د ښځي او مکې تر مینځ د دریو ورځو مسافه وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ لَهَا الْحَجُّ إِذَا خَرَجَتْ فِي رُفْقَةٍ وَمَعَهَا نِسَاءٌ ثِقَاتٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د ښځي لپاره حج کول جائز دي چي کله هغه (د سفر) د ملګرو سره ووځي او د هغې سره باوري (د اعتماد وړ) ښځي وي لِحُصُولِ الْأَمْنِ بِالْمُرَافَقَةِ ځکه چي د ملګرتیا په وجه امن حاصل سو وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: لَا تَحُجَّنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ او زموږ دلیل د نبي ﷺ (دا) قول دی: چي ښځه به (بالکل) حج نه کوي خو (هلته) چي د هغې سره محرم وي وَلِأَنَّهَا بِدُونِ الْمَحْرَمِ يُخَافُ عَلَيْهَا الْفِتْنَةُ او په دې وجه (هم) چي بغیر له محرم څخه پر هغې د فتنې بېره ده وَتَزْدَادُ بِانْضِمَامِ غَيْرِهَا إِلَيْهَا او د هغې سره د بلي ښځي په یو ځای کېدلو کي د فتنې بېره (نوره) زیاتیږي وَلِهَذَا تَحْرُمُ الْخَلْوَةُ بِالْأَجْنَبِيَّةِ همدا وجه ده چي د پردی ښځي سره خلوت حرام دی وَإِنْ كَانَ مَعَهَا غَيْرُهَا که څه هم د هغې سره بله ښځه وي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ مَكَّةَ أَقَلُّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ په خلاف د هغه صورت چي کله د هغې او مکې ترمینځ له دریو ورځو څخه کمه مسافه وي لِأَنَّهُ يُبَاحُ لَهَا الْخُرُوجُ إِلَى مَا دُونَ السَّفَرِ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ ځکه چي د سفر له مسافې څخه په کمه مسافه کي د ښځي لپاره بې له محرمه وتل جائز دي.

اللغات: ﴿رفقة﴾ قافله، د سفر ملګري، ﴿ثقات﴾ جمع د ثقة ده: د اعتبار وړ، معتبر، باوري.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که د ښځي د ښار او د مکې مکرمې په مینځ کي د دریو ورځو یا تر دې زیاته مسافه وه، نو د ښځي لپاره د حج لپاره تلل په هغه وخت کي جائز دي، چي د هغه سره محرم وي، یا خاوند وي.

محرم هغه سړي ته ویل کېږي چي د هغې سره د ښځي نکاح د همېشه لپاره حرامه وي، هغه که د قرابت په وجه وي، او که د رضاعت په وجه وي، او که د مصاهرت (خسرګنۍ) په وجه وي، خو د محرم لپاره شرط دا دی چي هغه به عاقل، بالغ، آزاد وي، نور که غلام وي، که مسلمان وي، که کافر وي؛ خو که محرم فاسق، یا مجوسي یا کوچنی یا لېونی وي، نو

---

[1] تخریج: أخرجه دارقطني في كتاب الحج، حديث رقم: ٢٤١٧.

د هغه سره د ښځي تلل صحيح نه دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي که ښځه د نورو ښځو سره يو ځاى د حج په سفر روځي، او د هغې سره باوري او د اعتبار ور ښځي وي، نو د هغې لپاره حج ته تلل جائز دي، که څه هم د هغې سره محرم او خاوند نه وي، ځکه چي د نورو ښځو سره د ملګرتيا په وجه امن حاصل سو.

زموږ دليل: د نبي ﷺ دا قول دى؛ چي بغير له محرم څخه به هيڅکله ښځه د حج لپاره نه ځي، په مسلم او ابو داؤد کي راځي: لا يحل لإمرأة تؤمن بالله واليوم الآخر تسافر سفراً يكون ثلاثة أيام فصاعداً إلا ومعها أبوها أو إبنها أو زوجها أو أخوها أو محرم منها، له دې حديث څخه دا ثابتيږي چي بغير له محرم څخه د ښځي لپاره درې ورځي يا له دريو ورځو څخه زيات سفر کول جائز نه دي، نو معلومه سوه چي بې له محرمه د ښځي سفر جائز نه دی، که څه هم د حج سفر وي.

ولأنها بدون الخ بل دليل دا دی چي بې له محرمه پر ښځي باندي د فتنې بېره ده، او کله چي ښځي دېري سره ملګري سي (او سره ګډي سي، لکه امام شافعي چي فرمايي). او دا معلومه ده چي ښځي د عقل په اعتبار سره هم ناقصي دي، او د دين په اعتبار سره هم ناقصي دي، نو ځکه به فتنه نوره زياته سي، همدا وجه ده چي د سړي لپاره د پردی ښځي سره يوازي والی حرام دی، که څه هم د هغې سره بله ښځه وي، ځکه چي اول يوه فتنه وه، اوس دوې فتنې سوې، نو حاصل دا سو چي بې له محرمه به د ښځي لپاره د دريو ورځو په سفر تلل جائز نه وي.

بخلاف ما إذا كان الخ ليکن که د ښځي او مکې مکرمې په مينځ کي تر دريو ورځو کمه مسافه وي، نو بيا د ښځي لپاره بې له محرمه او بې له خاونده حج ته تلل جائز دي، ځکه چي شريعت ښځي ته هغه وخت بې له محرمه د سفر اجازه ورکړې ده چي د سفر اندازه د سفر له مسافې څخه کمه وي (يعني تر دريو ورځو د سفر مسافه کمه وي). او په دومره لږ موده کي د فتنې بېره هم نسته.

د محرم په شتون کي خاوند ښځه له حج څخه منع کولاى سي، که نه؟

وَإِذَا وَجَدَتْ مَحْرَمًا لَمْ يَكُنْ لِلزَّوْجِ مَنْعُهَا او کله چي ښځه يو محرم پيدا کړي نو خاوند ته د هغې د منع کولو اختيار نسته وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهُ أَنْ يَمْنَعَهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي خاوند ته د هغې د منع کولو اختيار سته لِأَنَّ فِي الْخُرُوجِ تَفْوِيتَ حَقِّهِ ځکه (د حج په سفر کي) د ښځي په وتلو کي د خاوند حق فوتول دي وَلَنَا أَنَّ حَقَّ الزَّوْجِ لَا يَظْهَرُ فِي حَقِّ الْفَرَائِضِ او زموږ دليل دا دی چي د خاوند حق د فرائضو په حق کي نه ښکاره کيږي وَالْحَجُّ مِنْهَا او حج (هم) له فرائضو څخه دی حَتَّى لَوْ كَانَ الْحَجُّ نَفْلًا لَهُ أَنْ يَمْنَعَهَا تر دې که نفلي حج وو نو خاوند ته د هغې د منع کولو اختيار سته وَلَوْ كَانَ الْمَحْرَمُ فَاسِقًا قَالُوا: لَا يَجِبُ عَلَيْهَا او که د ښځي محرم فاسق (ګنهکاره) وو نو فقهاؤ فرمايلي دي: چي پر ښځي حج واجب نه دی لِأَنَّ الْمَقْصُودَ لَا يَحْصُلُ بِهِ ځکه چي په فاسق محرم سره مقصود نه حاصليږي.

اللغات: ﴿تفويت﴾ د تفعيل مصدر دی: فوتول، ضايع کول. ﴿فاسق﴾ بدلاری او بدکاری سړی، ګنهکاره.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د حج د اراده لرونکي ښځي لپاره که يو محرم پيدا سي، نو خاوند ته دا اختيار نسته چي هغه له حج اداء کولو څخه منع کړي، د امام احمد رَحِمَهُ الله مسلک هم دا دی، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي خاوند ته دا اختيار سته.

د امام شافعي دليل: دا دی چې که ښځه د محرم سره په سفر ولاړه سي، نو د خاوند حق فوتيږي، او مخکې ذکر سو چې د بنده حق د شريعت پر حق مخکې وي، نو ځکه به خاوند د خپل حق په خاطر ښځه د حج له اداء کولو څخه منع کولای سي، لهذا دا داسي سو لکه يوه ښځه چې د حج نذر ومني(چې که زما دا کار وسو نو زه به حج کوم). نو د خاوند لپاره دا اختيار سته چې هغه له نذر پوره کولو څخه منع کړي.

زموږ دليل: دا دی، چې د خاوند حق د فرائضو په حق کي نه ښکاره کيږي، همدا وجه ده چې خاوند ته دا اختيار نسته چې هغه خپله ښځه له لمونځ کولو او د رمضان له روژو نيولو څخه منع کړي، نو څرنګه چې حج هم د دين له فرائضو څخه دی، نو له حج څخه د منع کولو اختيار هم خاوند ته حاصل نه دی. هو! که ښځې د نفلي حج اراده کړې وي، نو خاوند هغه منع کولای سي، ځکه چې نفلي حج له فرائضو څخه نه دی.

ولوكان المحرم فاسقا الخ او که د ښځې محرم فاسق وو، يعني د حلال او حرام پې هيڅ فرق نه کوی، او په بدکاري کي بې باکه وي، نو مشائخو ويلي دي چې د داسي فاسق محرم په وجود کي پر ښځې حج فرض نه دی، ځکه چې د محرم مقصد له فتنې څخه حفاظت دی، او کله چې محرم په خپله د فتنو مرکز وي، نو د ښځې به څه حفاظت وکړي؟

د مَحرم تفصيلي بيان

وَلَهَا أَنْ تَخْرُجَ مَعَ كُلِّ مَحْرَمٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَجُوسِيًّا او ښځې ته جائز دي چې (د حج په سفر کي) د هر محرم سره ووځي خو دا چې هغه مجوسي وي لِأَنَّهُ يَعْتَقِدُ إِبَاحَةَ مُنَاكَحَتِهَا ځکه چې مجوسي د هغې سره نکاح روا ګڼي وَلَا عِبْرَةَ بِالصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ او د کوچني او لېوني اعتبار نسته لِأَنَّهُ لَا تَتَأَتَّى مِنْهُمَا الصِّيَانَةُ ځکه چې له هغو څخه حفاظت حاصلېدای نه سي وَالصَّبِيَّةُ الَّتِي بَلَغَتْ حَدَّ الشَّهْوَةِ بِمَنْزِلَةِ الْبَالِغَةِ او هغه کوچنۍ نجلۍ چې د شهوت حد ته رسېدلې وي د بالغې ښځې په درجه کي ده حَتَّى لَا يُسَافَرَ بِهَا مِنْ غَيْرِ مَحْرَمٍ تر دې چې بې له محرمه به د هغې سره سفر نه کوي وَنَفَقَةُ الْمَحْرَمِ عَلَيْهَا او د محرم نفقه پر ښځې واجب ده لِأَنَّهَا تَتَوَسَّلُ بِهِ إِلَى أَدَاءِ الْحَجِّ ځکه چې ښځه د حج د اداء کولو ذريعه محرم جوړي وَاخْتَلَفُوا فِي أَنَّ الْمَحْرَمَ شَرْطُ الْوُجُوبِ أَوْ شَرْطُ الْأَدَاءِ او په دې باره کي مشائخو اختلاف کړی دی چې محرم (د حج) د وجوب شرط دی که د اداء عَلَى حَسَبِ اخْتِلَافِهِمْ فِي أَمْنِ الطَّرِيقِ او دا اختلاف د مشائخو د هغه اختلاف په شان دی کوم چې د لاري د امن په باره کي وو.

اللغات: ﴿إباحة﴾ د افعال مصدر دی: حلال ګڼل. ﴿لا عبرة﴾ اعتبار نسته. ﴿تتوسل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ذريعه جوړول، وسيله جوړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې ښځې ته د هر محرم سره د حج پر سفر تلل جائز دي، هغه که آزاد وي که غلام، مسلمان وي که کافر او ذمي، ځکه چې د دې ټولو خلکو سره د فتنې او فساد هيڅ بيره نسته او په دوی سره حفاظت ممکن دی، او له محرم څخه مقصود همدغه دي، هو! د مجوسي محرم سره تلل جائز نه دي، ځکه چې د مجوسيانو په نيز د محارمو سره نکاح کول، او د مور او لور سره بې له نکاحه جماع کول صحيح دي، نو د مجوسي محرم په وجود کي د فتنې او فساد قوي خطره سته، لهذا د محرم کوم مقصد چې دی، هغه به خپله د مجوسي له طرفه فوت سي، همدارنګه

کوچنۍ او لېونۍ که ديوې ښځې محرم وي، نو د هغو سره هم د حج پر سفر تلل جائز او صحيح نه دي، ځکه چې د محرم مقصد د ښځې ساتنه او حفاظت دی، او هغوی په خپله حفاظت ته ضرورت لري، نو د نورو به څه حفاظت وکړي؟

والصبية الخ فرمايي چې که يوه نجلۍ بالغه سوې نه وي، لېکن د شهوت حد ته رسېدلې وي، نو هغه د بالغې ښځې په حکم کې ده، او د هغې لپاره هم بغير له محرمه دباندې وتل او سفر کول جائز نه دي.

ونفقة المحرم الخ د دې حاصل دا دی چې کوم محرم د ښځې سره د حج په سفر ځي، د هغه ټوله خرچه به پر دې ښځې واجب وي، ځکه چې ښځې دا سړی د حج د اداء کولو ذريعه جوړه کړې ده، نو د هغه نفقه به هم ښځه زغمي، همدا وجه ده که يوه ښځه پر خپله نفقه قدرت لري، لېکن د محرم پر نفقې قدرت نه لري، او پر محرم هم حج فرض نه وي، نو پر هغې ښځې به حج فرض نه وي، ځکه چې د محرم پر نفقې د قدرت نه لرلو په صورت کې به دا ښځه په پوره زاد او راحله باندې قدرت لرونکې نه شمارل کېږي، حال دا چې د حج د وجوب لپاره په زاد او راحله باندې په بشپړه توګه قدرت شرط دی.

واختلفوا الخ فرمايي چې آيا د ښځې د حج په لړکې د محرم وجود د حج د وجوب شرط دی، که د حج د اداء کولو؟ نو په دې باره کې هغه اختلاف دی، کوم چې د لارې د امنيت په باره کې وو، يعني د امام اعظم رَحِمَهُ الله د روايت مطابق د محرم وجود د حج د وجوب شرط دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول مطابق د محرم وجود د حج د اداء کولو شرط دی، ثمره د اختلاف مخکې تېره سوه، هلته يې مطالعه کړئ.

تر احرام تړلو وروسته د بلوغت يا د آزادېدلو حکم

وَإِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ بَعْدَمَا أَحْرَمَ او که کوچنی تر احرام تړلو وروسته بالغ سي أَوْعُتِقَ الْعَبْدُ يا غلام آزاد سي فَمَضَيَا او دواړه (خپل) حج پوره کړي لَمْ يُجْزِهِمَا عَنْ حَجَّةِ الْإِسْلَامِ نو دا حج د هغو لپاره د اسلام له حج (يعني له فرضي حج) څخه کفايت نه کوي لِأَنَّ إِحْرَامَهُمَا انْعَقَدَ لِأَدَاءِ النَّفْلِ ځکه چې د هغو احرام د نفلي حج د اداء کولو لپاره تړل سوی دی فَلَا يَنْقَلِبُ لِأَدَاءِ الْفَرْضِ نو هغه به د فرضي حج د اداء کولو لپاره نه اوړي.

اللغات: ﴿مضيا﴾ د ضرب د باب تثنيه غائب ماضي ده، د صلې په فرق سره د دې باب ډېرې معناوې راځي: جاري کول، پوره کول، تېرېدل. ﴿لا ينقلب﴾ د انفعال د باب مضارع منفي ده: اوښتل، ګرځېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو کوچنی يا غلام احرام وتړي، د حج افعال شروع کړي، بيا کوچنی بالغ سي، يا غلام آزاد کړی سي، او هغوی په همدغه احرام کې حج پوره کړي، نو د هغو دا حج به نفل وي (لکه څرنګه چې يې شروع کړی وي)، او له فرضي حج څخه کفايت نه کوي، ځکه چې د احرام د تړلو په وخت کې دا دواړه د فرضي حج قابل (أهل) نه وو، بلکه د هغو احرام د نفلي حج لپاره تړل سوی وو، لهذا وروسته به هغه احرام په فرضي احرام سره نه بدلېږي، او پر هغو به فرضي حج پاته او لازم وي، په را روان وخت کې چې کله هم قدرت پيدا کړي نو فرضي حج به اداء کوي، او دا حج به د فرضي حج لپاره کافي نه وي.

كه تر وقوفِ عرفه مخكې كوچني دويم وار احرام وتړي نو څه حكم دى؟

وَلَوْ جَدَّدَ الصَّبِيُّ الْإِحْرَامَ قَبْلَ الْوُقُوْفِ او كه كوچنى تر وقوفِ عرفه مخكې د احرام تجديد وكړي (يعني دوباره يې وتړي) وَنَوَى حَجَّةَ الْإِسْلَامِ او د اسلامي حج (فرضي حج) نيت وكړي جَازَ نو جائز دي وَالْعَبْدُ لَوْ فَعَلَ ذٰلِكَ لَمْ يَجُزْ او كه غلام دا كار وكړي نو جائز نه دي لِأَنَّ إِحْرَامَ الصَّبِيِّ غَيْرُ لَازِمٍ لِعَدَمِ الْأَهْلِيَّةِ ځكه چې د كوچني احرام (پر كوچني) لازم نه دى د اهليت د نشتوالي په وجه أَمَّا إِحْرَامُ الْعَبْدِ لَازِمٌ او د غلام احرام خو (پر غلام) لازم دى فَلَا يُمْكِنُهُ الْخُرُوْجُ عَنْهُ بِالشُّرُوْعِ فِيْ غَيْرِهٖ نو د غير په شروع كولو سره د هغه لپاره له احرام څخه وتل ممكن نه دي، والله أعلم.

اللغات: ﴿جدد﴾ نوى كول، له سره كول، دوباره كول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه نابالغه كوچني احرام وتړى، بيا بالغ سو، او بيا هغه تر بلوغت وروسته له وقوفِ عرفه څخه مخكې اول احرام ختم كړى، دويم احرام يې د فرضي حج د اداء كولو لپاره وتړى، نو فرضي حج يې جائز دى، لېكن كه غلام احرام وتړى، او تر آزادېدلو وروسته يې له وقوفِ عرفه څخه مخكې اول احرام ختم كړى، او بل احرام يې د فرضي حج په نيت وتړى، نو دا جائز نه دي.

دفرق وجه دا ده چې د نابالغه كوچني احرام د هغه د عدمِ قابليت او د شريعت د احكامو د نه مكلف كېدلو په وجه غيرِ لازم وو (يعني پر هغه لازم نه وو)، همدا وجه ده كه هغه د احرام په حالت كې د يو ممنوع كار اتكاب وكړي، نو پر هغه هيڅ دم او نور څه نه واجبېږي، نو كله چې د هغه احرام غيرِ لازم دى، نو د هغه فسخ كول به هم جائز وي، او پاته سو غلام نو د هغه احرام (پر هغه) لازم دى، ځكه چې غلام د شرعي احكامو مكلف وي، همدا وجه ده كه غلام د احرام په حالت كې ښكار وكړي، نو پر هغه خو دم نه واجبېږي، ځكه چې مالك نه دى، خو روژې حتماً پر واجبېږي، لېكن پر كوچني هيڅ شى نه واجبېږي، له دې څخه معلومه سوه چې د غلام احرام لازم دى، او د كوچني احرام لازم نه دى. والله أعلم بالصواب



فَصْلٌ فِي الْمَوَاقِيْتِ

(دا) فصل د حج د ميقاتونو (په بيان كې) دى

تشريح: تر دې مخكې صاحب د هدايې د حج او د حج د واجبېدلو شرطونه بيان كړل، اوس له دې ځايه د حج اول منزل او پړاو يعني ميقاتونه بيانوي، ښكاره دي وي چې مواقيت جمع د ميقات ده، او د ميقات معنىٰ ده: ټاكلى وخت، خو دلته مجازاً له ميقات څخه هغه ټاكلى ځاى او مقام مراد دى چې له هغه ځايه حاجيان احرام تړي

د ميقات تعريف، شمېر او ځايونه

وَالْمَوَاقِيتُ الَّتِي لَا يَجُوزُ أَنْ يُجَاوِزَهَا الْإِنْسَانُ إِلَّا مُحْرِمًا خَمْسَةٌ او هغه ميقاتونه چي تر هغو د انسان لپاره بې له احرامه تېرېدل جائز نه دي پنځه دي لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ وَلِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتُ عِرْقٍ وَلِأَهْلِ الشَّامِ جُحْفَةُ د مديني د خلكو لپاره ذو الحليفه دی او د عراق د خلكو لپاره ذات عرق دی او د شام د خلكو لپاره جحفه دی وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ او د نجد د خلكو لپاره قرن دی او د يمن د خلكو لپاره يلملم دی هَكَذَا وَقَّتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● هٰذِهِ الْمَوَاقِيتَ لِهٰؤُلَاءِ همدارنګه رسول الله ﷺ دا ميقاتونه د دغه خلكو لپاره ټاكلي دي وَفَائِدَةُ التَّأْقِيتِ الْمَنْعُ عَنْ تَأْخِيرِ الْإِحْرَامِ عَنْهَا او د ميقات ټاكلو فايده له دې ميقاتونو څخه د احرام تأخير منع كول دي(يعني د ميقات ټاكلو فايده دا ده چي له دې ميقاتونو څخه احرام ځنډول منع دي) لِأَنَّهُ يَجُوزُ التَّقْدِيمُ عَلَيْهَا بِالْاِتِّفَاقِ ځكه چي تر دې ميقاتونو احرام مخكي كول بالاتفاق جائز دي.

اللغات: ﴿ميقات﴾ له كوم ځای څخه چي حاجيان احرام تړي هغه ته ميقات ويل كيږي، ﴿يجاوز﴾ د مفاعلې مضارع ده: تېرېدل، ﴿تأقيت﴾ د تفعيل مصدر دی: ميقات جوړول، (ميقات ټاكل).

تشريح: مكې مكرمې ته د راتلونكو خلكو لپاره نبي ﷺ پنځه ځايونه ټاكلي دي، او حاجيانو ته يې دا هدايت كړی چي دې ځايو ته به په رسېدلو سره حتماً احرام تړي، او بغير له احرام څخه به تر دې ځايو نه تېرېږي، ځكه چي بغير له احرام څخه تر ميقات تېرېدل جائز نه دي، (۱) له دې پنځو ځايو څخه د مديني د خلكو ميقات ذو الحليفه دی، د دې ميقات او مديني تر مينځ ۶ يا ۷ ميله فاصله ده، (۲) د عراقيانو ميقات ذات عرق دی، دا ځای له مكې څخه د مشرق او شمال په مينځ كي واقع دی، او په قول د علامه كرماني د دې ميقات او مكې تر مينځ تر مينځ ۴۲ ميله فاصله ده، (۳) د شام د خلكو ميقات جحفه دی، دا له مكې څخه د مغرب او شمال په مينځ كي د يو كلي نوم دی، په قول د صاحب د بنايې د دې ميقات او مكې تر مينځ ۸۲ ميله فاصله ده، خو د دې او مديني تر مينځ درې منزله دي، (۴) د نجد د خلكو ميقات قرن دی، عرب دې ته قرن المنازل وايي، دا يو جګ غر دی چي له عرفات څخه ښكاره كيږي، او د مشهوره تابعي حضرت اويس قرني نسبت هم دې غره ته كيږي، (۵) د يمن د خلكو لپاره ميقات يلملم دی، چي دا له مكې څخه د جنوب پر طرف د دېرشو (۳۰) ميلو پر فاصله يو مشهور غر دی، او دا د هندوستان د خلكو او نورو ميقات هم دی.

هكذا وقت الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د ميقاتونو دا تفصيل له نبي ﷺ څخه را نقل سوی دی، او د دې ميقاتونو فايده دا ده چي هيڅ سړی به هم له احرام څخه بغير تر دې ميقاتونو نه تيرېږي، يعني كه يو څوک مخكي احرام نه وتړي، نو هغه ته پكار ده چي دې ميقاتونو ته په رسېدلو سره حتماً احرام وتړي، او بې له احرامه دې تر دې نه تېرېږي، همدا وجه ده چي فقهاؤ دا فيصله كړې ده چي تر دې ميقاتونو مخكي احرام تړل بالاتفاق صحيح او جائز دي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب مهل أهل مكة للحج والعمرة، حديث رقم: ۱۵۲۴، ۱۵۲۶، ۱۵۲۹، ۱۵۳۰، ومسلم في كتاب الحج، حديث رقم: ۱۱، ۱۲، و ابو داؤد في كتاب المناسک، حديث رقم: ۱۷۳۸.

ټوله ميقاتونه په يوه نقشه کي

ذوالحليفه	دا د مدينو د خلکو ميقات دی	د شمال پر طرف له مکې مکرمې څخه ۴۱۰ کيلو متره ليري دی (يو کيلو متر ۱۰۰۰ متره کيږي)
ذات عرق	دا د عراق د خلکو ميقات دی	د مشرق پر طرف له مکې مکرمې څخه ۹۰ کيلو متره ليري دی
جحفه	دا د شام د خلکو ميقات دی	د شمال، مغرب پر طرف له مکې مکرمې څخه ۱۸۲ کيلومتره ليري دی
قرن	دا د نجد د خلکو ميقات دی	د مشرق پر طرف له مکې مکرمې څخه ۸۰ کيلومتره ليري دی
يلملم	دا د يمن د خلکو ميقات دی	د مشرق پر طرف له مکې مکرمې څخه ۱۳۰ کيلومتره ليري دی
تنعيم	دا د مکې د خلکو ميقات دی	د شمال، مغرب پر طرف له مکې مکرمې څخه ۷,۵ (يعني اووه نيم) کيلومتره ليري دی

د اطرافي سړي لپاره د احرام حکم

ثُمَّ الْآفَاقِيُّ إِذَا انْتَهَى إِلَيْهَا عَلَى قَصْدِ دُخُولِ مَكَّةَ بيا چي کله اطرافي سړی مکې ته د داخليدو په اراده سره ميقات ته ورسيږي عَلَيْهِ أَنْ يُحْرِمَ نو پر هغه احرام تړل واجب دي قَصَدَ الْحَجَّ أَوِ الْعُمْرَةَ أَوْ لَمْ يَقْصُدْ عِنْدَنَا (برابر ده) که يې د حج اراده کړې وي يا د عمرې دا حکم زموږ په نيز دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: لَا يُجَاوِزُ أَحَدٌ الْمِيقَاتَ إِلَّا مُحْرِمًا ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "هيڅوک به له ميقات څخه نه تيريږي مګر د احرام په حالت کي" وَلِأَنَّ وُجُوبَ الْإِحْرَامِ لِتَعْظِيمِ هٰذِهِ الْبُقْعَةِ الشَّرِيفَةِ او ځکه چي د احرام واجبدل د دې شريفي (او سپېڅلي) ټوټې د تعظيم لپاره دی فَيَسْتَوِي فِيهِ الْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ وَغَيْرُهُمَا نو په دې کي به حج کونکی او عمره کونکی او نور ټوله برابر وي.

اللغات: ﴿آفاقي﴾ کوم سړی چي له ميقات څخه دباندي په اطرافو کي اوسيږي هغه ته آفاقي ويل کيږي، اطرافي. ﴿بقعة﴾ د ځمکي ټوټه (ټوکره)، د ځمکي حصه.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي آفاقي هغه سړي ته ويل کيږي چي له ميقات څخه بهر اوسيږي، او کوم چي په ميقات کي دننه اوسيږي، هغه ته مکّي ويل کيږي، مخکي چي د ميقاتونو کوم تفصيل بيان سو، هغه د آفاقيانو لپاره وو، لېکن په ميقات کي د اوسېدونکو خلکو او د مکې د خلکو ميقات "حِل" دی. (له حرم څخه وتلې او حرم ته څيرمه سيمي ته حِل ويل کيږي، همدارنګه د ميقات سيمي ته حِل ويل کيږي، يعني دا دوې سيمي د هغو ميقات دی).

مسئله: دا ده که يو سړی اطرافي وو، او د مکې د تګ په اراده سره ميقات ته ورسېدی، نو زموږ په نيز پر هغه احرام تړل فرض دي، هغه که د حج يا عمرې په اراده سره ځي، يا د تجارت يا د بل غرض په اراده سره ځي، ځکه د نبي ﷺ فرمان

● تخريج: اخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ في كتاب الحج، باب من مر بالميقات يريد حجاً أو عمرة، حديث رقم: ۸۹۲۴.

دی: "چي هيڅ سړی به هم له احرام څخه بغير تر ميقات نه تيرېږي"، څرنګه چي دا حديث مطلق دی، او په دې کې د حج يا د عمرې يا د تجارت او د نورو هيڅ تفصيل نشته، نو کله چي د حج يا د عمرې په نيت سره مکې ته د تلونکي سړي لپاره له احرام څخه بغير تر ميقات تېرېدل جائز نه دي، همداسي به د تجارت او نورو په نيت سره د تلونکي سړي لپاره هم له احرام څخه بغير تر ميقات تجاوز کول جائز نه وي.

ولأنّ وجوب الخ په دې باره کي عقلي دليل دا دی چي تر ميقات مخکي د احرام واجبېدل د مکې مکرمې د تعظيم او احترام په خاطر دي، نو څرنګه چي د حج يا د عمرې په نيت سره د تلونکي سړي لپاره د مکې تعظيم کول واجب دي، همدارنګه د تجارت په غرض سره د تلونکي سړي لپاره هم د مکې تعظيم کول واجب دي، او په دې حکم کي ټول برابر دي، نو ځکه به احرام دواړه تړي.

د ميقات د اوسېدونکو لپاره د احرام حکم

وَمَنْ كَانَ دَاخِلَ الْمِيقَاتِ او څوک چي په ميقات کي دننه وي لَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ لِحَاجَتِهِ نو هغه ته د خپل ضرورت لپاره بې له احرامه مکې ته داخلېدل جائز دي لِأَنَّهُ يَكْثُرُ دُخُولُهُ مَكَّةَ ځکه چي په مکه کي د هغه داخلېدل ډېر واقع کيږي وَفِي إِيجَابِ الْإِحْرَامِ فِي كُلِّ مَرَّةٍ حَرَجٌ بَيِّنٌ او هر وار د احرام په واجبولو کي ښکاره حرج (تکليف) دی فَصَارَ كَأَهْلِ مَكَّةَ نو دا سړی د مکې د خلکو په ډول سو حَيْثُ يُبَاحُ لَهُمُ الْخُرُوجُ مِنْهَا ثُمَّ دُخُولُهَا بِغَيْرِ إِحْرَامٍ لِحَاجَتِهِمْ او د مکې خلکو ته د خپلو اړتياوو لپاره له مکې څخه وتل او بيا داخلېدل بې له احرامه روا دي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَصَدَ أَدَاءَ النُّسُكِ په خلاف د هغه صورت چي کله د حج (يا د عمرې) د اداء کولو قصد وکړي لِأَنَّهُ يَتَحَقَّقُ أَحْيَانًا ځکه چي دا قصد (خو) کله نا کله متحقق کيږي فَلَا حَرَجَ نو (په دې صورت کي د احرام په واجبولو کي) هيڅ حرج نشته.

اللغات: ﴿يباح﴾ حلال کېدل، روا کېدل، ﴿نسك﴾ حج (يا عمره)، ﴿أحيانا﴾ کله نا کله (کله کله).

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی په ميقات کي دننه وي، که څه هم د ميقات اوسېدونکي نه وي، لېکن بيا هم هغه ته د خپلو ضرورتونو لپاره بغير له احرامه مکې ته تلل را تلل جائز دي، ځکه چي ډېر ځله د انسان ضرورتونه بې شمېره وي، او له انسان څخه په يوه ورځ کي څو ځله تګ راتګ غواړي، اوس که موږ هر وار پر هغه احرام لازم او واجب وګرځوو، نو هغه سړی به په حرج کي مبتلا سي، او شريعت له بندګانو څخه حرج لېري کړی دی، نو ځکه به پر دې سړي احرام تړل ضروري نه وي، او څرنګه چي د مکې خلکو ته د خپلو ضرورتونو لپاره له مکې څخه وتل او په مکه کي داخلېدل بې له احرامه جائز دي، همدارنګه به د ميقات د اوسېدونکي لپاره هم جائزو، پاته سوه د مکې د تعظيم او احترام مسئله، نو په ميقات کي د دننه اوسېدلو په وجه پر دې سړي په ښکاره بدن سره د مکې تعظيم کول ضروري نه دی، بلکي په زړه کي مکه مبارکه محترمه ګڼل او په اعتقاد سره يې تعظيم کول د هغه په حق کي کافي دي.

بخلاف الخ د دې حاصل دا دی که يو سړی د حج يا د عمرې په اراده سره مکې ته داخلېدل غواړي، نو که څه هم هغه په ميقات کي دننه وي، لېکن بيا هم هغه ته احرام تړل او مکې ته داخلېدل ضروري دي، او له احرام تړلو څخه بغير د هغه لپاره مکې ته داخلېدل جائز نه دي، ځکه چي انسان همېشه او هر وخت د حج يا د عمرې په اراده مکې ته نه داخلېږي، بلکي کله ناکله داخلېږي، نو څرنګه چي په دې صورت کي د احرام په واجبولو کي څه حرج نشته، نو ځکه به د حج يا

عمرې په اراده سره پر داخلېدونکي سړي احرام تړل او مکې مکرمې ته داخلېدل واجب وي، هغه که د ميقات استوګن وي، که نه وي.

تر ميقات مخکې د احرام تړلو حکم

وَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ عَلَى هٰذِهِ الْمَوَاقِيْتِ جَازَ بيا که يو سړی پر دې ميقاتونو احرام مخکې کړي نو جائز دي لِقَوْلِهِ تَعَالىٰ: وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ [البقرة: ۱۹۶] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: د الله لپاره حج او عمره پوره کړئ وَإِتْمَامُهُمَا أَنْ يُحْرِمَ بِهِمَا مِنْ دُوَيْرَةِ أَهْلِهِ او د حج او عمرې پوره کول دا دي چې احرام د خپلې کورنۍ له جونګړي (يعني له خپل کور) څخه وتړي كَذَا قَالَهُ عَلِيٌّ وَابْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا همداسې حضرت علي او ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ويلي دي وَالْأَفْضَلُ التَّقْدِيْمُ عَلَيْهَا او پر دې ميقاتونو احرام مخکې کول افضل دي لِأَنَّ إِتْمَامَ الْحَجِّ مُفَسَّرٌ بِهِ ځکه چې د حج د پوره کولو تفسير (هم) په دغه سره سوی دی (چې له کوره د حج يا د عمرې احرام وتړي) وَالْمَشَقَّةُ فِيْهِ أَكْثَرُ وَالتَّعْظِيْمُ أَوْفَرُ او په دې کې زيات تکليف دی او بشپړ تعظيم دی وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِنَّمَا يَكُوْنُ أَفْضَلَ إِذَا كَانَ يَمْلِكُ نَفْسَهُ أَنْ لَا يَقَعَ فِيْ مَحْظُوْرٍ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې پر ميقات احرام مخکې کول هغه وخت افضله دي چې کله محرم ته پر خپل ځان دا قابو وي چې په يو ممنوع (او ناروا) کار کې به نه ولوېږي.

اللغات: ﴿دويرة﴾ د دار تصغير دی، کورګی، جونګړه، مراد ځنې کور او د استوګنې ځای دی، ﴿أوفر﴾ اسم تفضيل دی: زيات بشپړ (پوره)، ﴿محظور﴾ د ضرب اسم مفعول دی: منع کړی سوی شی يا کار، ناروا شی يا کار.

تشريح: فرمايي چې د اطرافي (آفاقي) خلکو لپاره خو شرعي حکم همدغه دی چې ميقات ته په رسېدلو سره احرام وتړي، او تر احرام تړلو وروسته تر ميقات تېر سي، او که يو سړی په خپل کور کې احرام وتړي، راووځي، نو دا ډېر افضله او غوره دي، ځکه د دې آيت و أتموا الحج والعمرة لله...الخ يو تفسير دا هم سوی دی چې له اتمام (يعني د حج او د عمرې له پوره کولو) څخه مراد دا دي چې حج يا عمره کونکی له خپل کور څخه احرام وتړي، او دا تفسير له حضرت علي رضي الله عنه او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه رانقل سوی دی، چې دا د دې خبرې ښکاره دليل دی چې له کور څخه د حج يا عمرې احرام تړل افضل او غوره دي.

وعن أبي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ الخ له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې تر ميقات احرام مخکې کول هغه وخت افضله دي چې کله محرم ته پر خپل ځان دا قابو (او کنټرول) وي چې تر ميقات مخکې به په يو ممنوع کار کې مبتلا نه سي، چې د هغه په وجه پر هغه دم او نور واجب سي، کنې دا مخکې والې به د هغه لپاره د سر درد جوړ سي.

د ميقات د اوسېدونکو لپاره د ميقات حکم

وَمَنْ كَانَ دَاخِلَ الْمِيْقَاتِ فَوَقْتُهُ الْحِلُّ او څوک چې په ميقات کې دننه وي نو د هغه ميقات حِل دی مَعْنَاهُ الْحِلُّ الَّذِيْ بَيْنَ الْمَوَاقِيْتِ وَبَيْنَ الْحَرَمِ د دې معنیٰ دا ده چې هغه حِل کوم چې د ميقاتونو او د حرم په مينځ کې دی لِأَنَّهُ يَجُوْزُ إِحْرَامُهُ مِنْ دُوَيْرَةِ أَهْلِهِ ځکه چې د هغه لپاره له خپل کور څخه احرام تړل جائز دي وَمَا وَرَاءَ الْمِيْقَاتِ إِلَى الْحَرَمِ

مَكَانٌ وَاحِدٌ او د ميقات له دننه څخه تر حرمه پوري يو ځاى دى (يعني له دننه ميقات څخه واخله تر حرمه پورې دې ټولې سيمې ته حِل ويل كيږي).

اللغات: ﴿وقت﴾ ميقات، ﴿حِل﴾ د حرم او ميقات په مينځ كي واقع سيمي ته او دننه ميقات ته حِل ويل كيږي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي كوم سړى د ميقات اوسېدونكي وي، د هغه ميقات يعني د احرام د تړلو ځاى حِل دى. **دليل** دا دى چي مخكي تېر سو چي د حج يا د عمرې كونكي لپاره له خپل وطن څخه احرام تړل جائز دي، او څرنګه چي د هغه وطن ميقات دى، نو ځكه به د هغه لپاره له ميقات يعني له حِل څخه احرام تړل جائز وي.

د مكې د خلكو لپاره د ميقات حكم

وَمَنْ كَانَ بِمَكَّةَ او څوک چي په مكه كي وي فَوَقْتُهُ فِي الْحَجِّ الْحَرَمُ نو د هغه ميقات په حج كي حرم دى وَفِي الْعُمْرَةِ الْحِلُّ او په عمره كي حِل دى لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] أَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُحْرِمُوا بِالْحَجِّ مِنْ جَوْفِ مَكَّةَ ځكه نبي ﷺ خپلو صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ته (دا) حكم كړى وو چي هغوى دي د حج احرام په مكه كي دننه وتړي وَأَمَرَ أَخَا عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنْ يُعْمِرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورور ته يې (دا) حكم كړى وو چي په عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دي له تنعيم څخه عمره وكړي وَهُوَ فِي الْحِلِّ او تنعيم په حِل كي دى وَلِأَنَّ أَدَاءَ الْحَجِّ فِي عَرَفَةَ او په دې وجه (هم) چي حج په عرفات كي اداء كيږي وَهِيَ فِي الْحِلِّ او عرفات په حِل كي دى فَيَكُونُ الْإِحْرَامُ مِنَ الْحَرَمِ لِيَتَحَقَّقَ نَوْعُ سَفَرٍ لهذا د حج احرام به له حرم څخه وي چي يو ډول سفر ثابت سي وَأَدَاءُ الْعُمْرَةِ فِي الْحَرَمِ او عمره په حرم كي اداء كيږي فَيَكُونُ الْإِحْرَامُ مِنَ الْحِلِّ لِهَذَا نو د عمرې احرام به په دې وجه له حل څخه وي إِلَّا أَنَّ التَّنْعِيمَ أَفْضَلُ خو (له تنعيم څخه احرام تړل) افضل دي لِوُرُودِ الْأَثَرِ بِهِ ځكه په دې باره كي حديث راغلى دى. والله أعلم

اللغات: ﴿جوف﴾ مينځ، (دننه)، ﴿أثر﴾ د صحابي قول ته ويل كيږي، خو دلته ځني مراد حديث دى.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دى چي كوم سړى په مكه كي اوسيږي، هغه كه د مكې استوګن وي، يا د يو څو وخت لپاره په مكه كي مقيم وي، نو د حج كولو په صورت كي د هغه ميقات حرم دى، يعني چيري چي د حرم په حدودو كي وغواړي، هلته دي احرام وتړي، او د عمرې كولو په صورت كي د هغه ميقات حِل دى، يعني كه د عمرې احرام تړل وغواړي، نو د حرم له حدودو څخه دي ووځي، او احرام دي وتړي.

دليل: دا دى چي د حجة الوداع پر موقع نبي ﷺ صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ته وفرمايل: "په تاسو كي چي كوم چا د ځان سره هدي نه وي راوستي، هغه دي عمره وكړي او ځان دي حلال كړي"، نو هغوى همداسي وكړل، بيا چي كله د ترويې ورځ سوه (يعني د ذي الحجې اتمه ورځ سوه)، نو نبي ﷺ صحابه وو ته حكم وكړى: "چي په مكه كي دننه احرام وتړئ"، هغوى ته يې له مكې څخه دباندي د وتلو حكم نه وكړى، نو له دې څخه معلومه سوه چي څوک په مكه كي وي، هغه ته په مكه

• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب: ٦٢، ٧٨، ومسلم في كتاب الحج، باب وجوه الاحرام، حديث رقم: ١٣٩، و ابو داؤد في كتاب المناسك، باب: ٢٣.

کې د حج احرام تړل جائز دي، او ښکاره دي وي چې حضرت عائشې رضي الله عنها هم د نورو صحابه وو رضي الله عنهم سره د عمرې احرام تړلی وو، خو هغې ته حیض راغلی. نو نبي ﷺ حکم وکړی چې د عمرې احرام ختم کړه (لیرې کړه). بیا چې کله د ترویې ورځ راغله. نو د حج د احرام حکم یې ورته وکړی، کله چې حج ختم سو، نو عائشې رضي الله عنها وویل: یارسول الله ﷺ! تنطلقون بحجة وعمرة و أنطلق بحج فأمر عبد الرحمن بن أبي بكر أن يخرج معها إلى التنعيم فاعتمرت بعد الحج. (یعني حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل: اې رسول الله ﷺ! تاسو او صحابه وو خو حج او عمره دواړه وکړه اوس روانیږی، او ما فقط حج وکړی روانیږم، نو نبي ﷺ د حضرت عائشې رَحِمَهُ الله دا غوښتنه پوره کړه. او د هغې ورور عبدالرحمن ﷺ ته یې حکم وکړی چې هغه دي په خپل خور له تنعیم ځخه عمره وکړي، یعني له تنعیم ځخه دي د عمرې احرام په وتړي)، او تنعیم د حرم له حدودو ځخه دباندي په حِل کې دی، له دې ځخه معلومه سوه چې عمره کونکي به د عمرې لپاره حِل ته ځي، او احرام به تړي، بیا به حرم ته راځي او د عمرې ارکان به اداء کوي.

ولأن أداء الحج الخ دویم دلیل دا دی چې د حج یا د عمرې د اداء کولو لپاره یو څه اندازه سفر متحقق کېدل پکار دي، اوس تاسو وویل چې حج د عرفات په میدان کې اداء کیږي، او عرفات حل دی، نو ځکه به د حج احرام په حرم کې تړل کیږي چې یو قسم سفر متحقق سي، یعني د احرام په حالت کې له حرم ځخه حل ته تلل متحقق سي، او ځرنګه چې عمره صرف په حرم کې اداء کیږي، نو ځکه به د عمرې احرام په حل کې تړل کیږي، چې یو قسم سفر متحقق سي، هسې خو د عمرې احرام په ټوله حل کې هر ځای تړل جائز دی، لیکن په تنعیم کې تړل افضله دي، چې په پوره توګه د نبي ﷺ د أثر پیروي وسي، ځکه نبي ﷺ حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته له تنعیم ځخه د عمرې د احرام تړلو حکم کړی وو. والله أعلم بالصواب



بَابُ الإِحْرَامِ

(دا) باب د احرام (په بيان کي) دی

تشريح: صاحب د هدايې چي کله د ميقات له بيان څخه فارغ سو، نو اوس هغه شی بيانوي کوم چي پر ميقات لاږ کيږي، يعني احرام، نو ځرنګه چي پر ميقات احرام تړل واجب دي، نو ځکه تر ميقات وروسته د سملستي د احرام احکام او مسئلې بيانوي.

ښکاره دي وي چي إحرام د افعال د باب مصدر دی، لغوي معنیٰ يې ده: په حُرمت کي داخلېدل. او اصطلاحي معنیٰ يې ده: د حج يا عمرې په نيت سره يو شو مباحات (رواشيان) پر ځان حرامول.

تر احرام مخکي د غسل حکم

وَإِذَا أَرَادَ الإِحْرَامَ اِغْتَسَلَ أَوْ تَوَضَّأَ او کله چي د احرام د تړلو اراده وکړي نو غسل دي وکړي يا دي اودس وکړي وَالْغُسْلُ أَفْضَلُ او غسل افضله دی لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● اِغْتَسَلَ لِإِحْرَامِهِ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ د خپل احرام لپاره غسل وکړی إِلَّا أَنَّهُ لِلتَّنْظِيفِ خو دا غسل د پاکی حاصلولو لپاره دی حَتَّى تُؤْمَرَ بِهِ الْحَائِضُ تر دې چي حائضې ښځي ته به(هم) د غسل حکم کيږي وَإِنْ لَمْ يَقَعْ فَرْضًا عَنْهَا که څه هم په دې غسل سره د هغې فرض غسل نه اداء کيږي فَيَقُومُ الْوُضُوءُ مَقَامَهُ لهذا اودس به هم د غسل قائم مقام وي كَمَا فِي الْجُمُعَةِ لکه ځرنګه چي په جمعه کي اودس د غسل قائم مقام دی لَكِنَّ الْغُسْلَ أَفْضَلُ خو غسل کول افضله دي لِأَنَّ مَعْنَى النَّظَافَةِ فِيهِ أَتَمُّ ځکه چي په غسل کي د پاکی معنیٰ پوره ده وَلِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ اِخْتَارَهُ او په دې وجه (هم) چي نبي ﷺ (په خپله) غسل اختيار کړی دی.

اللغات: ﴿تنظيف﴾ د تفعيل مصدر دی: پاکول، پاکي حاصلول. ﴿نظافة﴾ پاکي، ﴿أتم﴾ اسم تفضيل دی: زيات بشپړ، زيات پوره.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي کله يو سړی د حج يا د عمرې د احرام د تړلو اراده وکړي، نو هغه ته پکار ده چي غسل وکړي، که غسل نه سي کولای، نو اودس خو دي حتماً وکړي، خو افضل او غوره دا ده چي غسل وکړي، ځکه له نبي ﷺ څخه هم تر احرام تړلو مخکي غسل را نقل سوی دي، نو د نبي ﷺ د پيروي کولو لپاره هم حاجي ته غسل کول پکاري دي، دويمه خبره دا ده چي غسل واجب يا فرض نه دی، بلکي د دې تعلق د نظافت او پاکي حاصلولو سره دی، نو په دې وجه د اوداسه په نسبت غسل زيات غوره دی (ځکه چي په غسل کي د اوداسه په نسبت زياته پاکي سته)، او ځرنګه چي دا غسل د پاکي حاصلولو لپاره کيږي، نو که يوه حائضه ښځه د احرام د تړلو اراده وکړي، نو هغې ته د دې غسل تلقين ور

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في الإغتسال عند الاحرام، حديث رقم: ٨٣٠.

کول پکاري دي، او د هغې په حق کې هم دا د نظافت غسل ګڼل کېږي، که څه هم په دې سره د هغې فرض غسل نه اداء کیږي، ځکه چې فرض غسل د وینې تر بندېدلو وروسته لازمیږي، او دا غسل تر وینو بندېدلو مخکې دی. نو ځکه به هغه صرف د نظافت او پاکۍ لپاره دا غسل کوي.

د احرام جامې (کپړې)

قَالَ: وَلَبِسَ ثَوْبَيْنِ جَدِيدَيْنِ أَوْ غَسِيلَيْنِ: إِزَارًا وَرِدَاءً امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: او احرام تړونکي به دوې (داسې) جامې واغوندي چې دواړې به نوې وي یا دواړې به پرېولل سوې وي: یو لنګ او بل څادر (پټو) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● اِئْتَزَرَ وَارْتَدٰى عِنْدَ إِحْرَامِهِ ځکه چې نبي ﷺ د خپل احرام په وخت کې لنګ تړلی وو او څادر یې اغوستی وو وَلِأَنَّهُ مَمْنُوعٌ عَنْ لُبْسِ الْمَخِيطِ او په دې وجه (هم) چې محرم له ګنډل سوو جامو څخه منع سوی دی وَلَا بُدَّ مِنْ سَتْرِ الْعَوْرَةِ وَدَفْعِ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ او عورت (ستر) پټول او ګرمي او یخ لیري کول ضروري دي وَذٰلِكَ فِيمَا عَيَّنَّاهُ او دا خبره په هغه صورت کې حاصلیږي کوم چې موږ متعین کړی وَالْجَدِيدُ أَفْضَلُ او نوې جامې (اغوستل) افضله دي لِأَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَى الطَّهَارَةِ ځکه چې دا طهارت ته زیات نژدې دي.

اللغات: ﴿غسيلين﴾ تثنيه د غَسِيلٌ ده پر وزن د فَعِيلٌ: پرېولل سوی، ﴿إزار﴾ لنګ، ﴿رداء﴾ څادر (پټو)، ﴿التزر﴾ د افتعال ماضي ده: لنګ تړل، ﴿ارتدی﴾ د افتعال ماضي ده: څادر پر اوږه کول (د احرام څادر اغوستل)، ﴿مخيط﴾ ګنډل سوی، ﴿عورة﴾ د پټولو ځای، عورت.

تشریح: مسئله: دا ده چې محرم دې تر غسل وروسته د احرام دوې جامې لنګ او څادر واغوندي، هغه دواړې جامې که نوې وي او بالکل پرېولل سوې نه وي، او که زړې پرېولل سوې وي، لنګ یعنې إزار خو به له نامه څخه تر زنګونو پورې وي، او څادر به داسې وي چې پر شا او دواړو اوږو او سینه باندې راسي، دلیل دا دی چې نبي ﷺ هم په احرام کې همدغه دوې جامې استعمال کړې دي، او عقلي دلیل دا دی چې د محرم لپاره ګنډل سوې جامې اغوستل ممنوع دي، او دا خبره هم تسلیم سوې ده چې ګرمي او یخ لیري کول هم ضروري دي، نو دا دواړه خبرې په هغه صورت کې حاصلېدای سي، کوم چې موږ بیان کړی، یعنې چې لنګ او څادر دواړه استعمال کړي، ځکه چې په دې صورت کې له ګنډل سوو جامو څخه خلاص سو، او عورت هم پټ سو، او تر څه اندازې پورې له ګرمۍ او یخ څخه هم وژغول سو.

والجديد أفضل الخ فرمايي چې د احرام د جامو لپاره که څه هم پرېولل سوې جامې کافي دي، خو افضل نوې جامې اغوستل دي، ځکه نوې جامې پاکۍ ته زیاتې نژدې وي، ځکه چې تر اوسه پر هغه یو نجاست هم لګېدلی نه وي.

تر احرام مخکې د عطر لګولو حکم

قَالَ: وَمَسَّ طِيبًا امام قدوري فرمايي: چې محرم دې عطر ولګوي إِنْ كَانَ لَهُ که د هغه سره عطر وي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يُكْرَهُ إِذَا تَطَيَّبَ بِمَا يَبْقٰى عَيْنُهُ بَعْدَ الْإِحْرَامِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې داسې عطر لګول مکروه

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب ما يلبس المحرم من الثياب، حديث رقم: ١٥٤٥

دي چي د هغه عين (ذات) تر احرام وروسته هم پاته سي وَهُوَقَوْلُ مَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُمَا اللهُ همدا قول د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دی لِأَنَّهُ مُنْتَفِعٌ بِالطِّيبِ بَعْدَ الْإِحْرَامِ ځکه چي دا سړی به تر احرام وروسته هم له عطرو څخه نفع حاصلونکی وي وَوَجْهُ الْمَشْهُورِ حَدِيثُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او د مشهوره قول دليل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی قَالَتْ: كُنْتُ أُطَيِّبُ[1] رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِحْرَامِهِ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي: "ما به پر نبي ﷺ د احرام د تړلو په خاطر عطر لګول مخکي تردې چي نبي ﷺ احرام وتړي (يعني تر احرام تړلو مخکي)" وَلِأَنَّ الْمَمْنُوعَ عَنْهُ التَّطَيُّبُ بَعْدَ الْإِحْرَامِ او په دې وجه (هم) چي ممنوع خو تر احرام وروسته عطر لګول دي وَالْبَاقِي كَالتَّابِعِ لَهُ او (مخکي) پاته کېدونکي عطر د بدن د تابع په ډول دي لِاتِّصَالِهِ بِهِ ځکه چي هغه د بدن سره متصل (او موښتي) وي بِخِلَافِ الثَّوْبِ لِأَنَّهُ مُبَايِنٌ عَنْهُ په خلاف د جامو ځکه چي جامې له بدن څخه جلا وي.

اللغات: ﴿طيب﴾ خوشبويي، عطر، ﴿تطيب﴾ د تفعل د باب ماضي ده: عطر لګول، ﴿منتفع﴾ د انفعال اسم فاعل دی: فايده اخيستونکی، ﴿مباين﴾ د مفاعلې اسم فاعل دی: جلا، بېل.

تشريح: مسئله: دا ده چي زموږ په نېز تر احرام تړلو مخکي د حج يا د عمرې د اراده لرونکي سړي لپاره عطر لګول صحيح او جائز دي، که څه هم تر احرام تړلو وروسته د عطرو د ښه بوی او وږم اثر پاته سي، لېکن د امام محمد، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دا دی چي که تر احرام تړلو وروسته د محرم پر بدن د عطرو عين پاتېدی، نو داسي عطر لګول مکروه دي (لکه مشک او خنډ (ګاټه) عطر).

د ليل: د دې حضراتو دليل دا دی چي په دې صورت کي به دا سړی تر احرام وروسته هم له خوشبويي او عطرو څخه فايده اخيستونکی شمارل کېږي، او تر احرام وروسته له خوشبويي څخه فايده اخيستل حرام او ناجائز دي.

زموږ دليل: دا دی چي له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه د نبي ﷺ پر سپېځلي بدن عطر لګول ثابت دي، او په يوه بل روايت کي ذکر دي چي دا عطر به دومره زورور او اثر لرونکي وو: كأنى أنظر وبيص الطيب فى مفرق رسول الله ﷺ وهو محرم. (يعني حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به فرمايل چي ما به د نبي ﷺ د سر د ورېښتانو په لاره کي د احرام تر تړلو وروسته (هم) د عطرو ځلا ليدله)، له دې حديث څخه معلوميږي چي د نبي ﷺ پر سپېځلي بدن چي به کرم عطر لګېدل هغه به ګاټه او سخت ول، او د هغه اثر به تر ډېره وخته پوري پاته وو، او له دې حديث څخه دا خبره هم ښکاره کېږي چي تر احرام مخکي داسي ګاټه عطر لګول مکروه يا ممنوع نه دي چي اثر يې تر احرام وروسته هم پاته وي.

ولأن الممنوع عنه الخ عقلي دليل دا دی چي په اصل کي خو تر احرام وروسته عطر لګول ممنوع دي، لېکن کوم عطر چي تر احرام مخکي لګېدلي وي، او تر احرام وروسته د هغه اثر باقي وي، هغه به تابع وي، ځکه چي هغه د بدن سره مبنتي وي، او د تابع به هيڅ اعتبار نه کېږي.

---

[1] أخرجه البخاری فی کتاب الحج، باب الطيب عند الإحرام، حديث رقم: ۱۵۳۹.

بخلاف الطيب دي په خلاف که يو سړی تر احرام مخکې ګنډل سوي جامې (کالي) واغوندي، او بيا تر احرام مخکې هغه جامې نه وکاږي، بلکې د هغو سره احرام وتړي، نو دا ممنوع دي، او که وريې نه کاږي نو د دې جامو په وجه به پر محرم د جنايت جزاء واجبيږي، ځکه چې عطر خو د انسان د بدن سره متصل او موښتي وي، نو ځکه هغه د محرم د بدن تابع وي، لېکن جامې له بدن څخه جلا وي، نو جامې به نه تابع کيږي، او کله چې جامې نه تابع کيږي، نو د جامو حکم به هم جلا او مستقل وي، او تر احرام وروسته به ګنډل سوي جامې اغوستل حرامې وي.

تر احرام مخکې د دوو رکعتونو حکم

قَالَ: وَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فرمايي: احرام تړونکي دي (تر احرام تړلو مخکې) دوه رکعته لمونځ وکړي لِمَا رَوٰى جَابِرٌ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى ځکه حضرت جابر ﷺ روايت کړی دی أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ صَلّٰى بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ عِنْدَ إِحْرَامِهِ چې نبي ﷺ په ذو الحليفه کې د احرام د تړلو په وخت کې دوه رکعته لمونځ کړی وو.

تشريح: مسئله: دا ده چې کوم سړي د احرام د تړلو اراده لري، هغه ته پکار ده چې تر غسل يا اودس کولو وروسته او تر احرام تړلو مخکې دوه رکعته لمونځ وکړي، ځکه کله چې نبي ﷺ له مدينې منورې څخه خپل د حج سفر شروع کړی، او ذوالحليفه ته را ورسېدی (کوم چې د مدينې د خلکو ميقات دی)، نو تر احرام مخکې يې دوه رکعته لمونځ وکړی، لهذا اُمتيانو ته هم پکار ده چې د نبي ﷺ د عمل اقتداء وکړي، يعني چې کله د احرام د تړلو اراده ولري، نو تر هغه مخکې دي دوه رکعته لمونځ وکړي.

د احرام دعاء

قَالَ: وَقَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ فرمايي: چې احرام تړونکي دي ووايي: اې الله! زه د حج اراده لرم، هغه زما لپاره آسانه کړه او زما له طرفه هغه قبول کړه لِأَنَّ أَدَاءَهَا فِيْ أَزْمِنَةٍ مُتَفَرِّقَةٍ وَأَمَاكِنَ مُتَبَايِنَةٍ ځکه چې د حج اداء کول په مختلفه زمانو او مختلفه (او لېرې) ځايونو کې کيږي فَلَا يَعْرٰى عَنِ الْمَشَقَّةِ عَادَةً لهذا په عامه توګه به له تکليف څخه خالي نه وي فَيَسْأَلُ التَّيْسِيْرَ نو ځکه به احرام تړونکی د آسانه کېدلو غوښتنه کوي وَفِي الصَّلَاةِ لَمْ يَذْكُرْ مِثْلَ هٰذَا الدُّعَاءِ او په لمانځه کې داسې دعاء ذکر سوې نه ده لِأَنَّ مُدَّتَهَا يَسِيْرَةٌ ځکه چې د لمانځه د اداء کولو موده ډېره لږ ده وَأَدَاءُهَا عَادَةً مُتَيَسِّرٌ او د هغه اداء کول په عامه توګه آسانه دي.

اللغات: ﴿يسّر﴾ د تفعيل امر دی: آسانه کول. ﴿أزمنة﴾ جمع د زمان دی: وخت، زمانه. ﴿أماكن﴾ جمع د مکان ده: ځای. ﴿لايعرى﴾ د فتح مضارع نفي ده: خالي کېدل.

تشريح: په دې عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ اللّٰه محرم ته د حج د نيت طريقه ورښيي، فرمايي: محرم چې کله احرام وتړي، نو که يې صرف د حج احرام تړلی وي، نو داسې نيت دي وکړي چې: "اې الله! ما په دې احرام سره د حج اراده کړې ده، ته زما لپاره حج آسانه کړه، او زما له طرفه دا قبول کړه". د آسانۍ دعاء خو به ځکه کوي چې حج په يوه وخت

---

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسك، باب وقت الاحرام، حديث رقم: ۱۷۷۰.

کي نه اداء کیږي، بلکي په څو ورځو کي اداء کیږي، او په لیرې لیرې او بېلابېلو ځایو کي اداء کیږي، او بسکاره ده چې په دومره ډېر وخت او لیرې بېلابېلو ځایو کي صرف یو عبادت اداء کول څه معمولي کار نه دی، نو د لوی څښتن ﷻ څخه د آسانی او سهولت خواست کول پکار دي، او د قبولیت خواست هم کول پکار دي، ځکه چي د هر عبادت قبلیدل ضروري دي، نو ځکه به د عبادت په پیل د قبولیت دعاء هم کوي چي محنت ضایع نه سي.

ولی الصلاة الخ فرمایي چي په لمانځه کي او د لمانځه په نیت کي یوه داسي دعاء او خواست نسته لکه په حج کي چي ذکر سوه، وجه دا ده چي فرضي لمونځ په ډېر لږ وخت کي اداء کیږي چي ډېر وخت واخلي تر لسو دقیقو زیات وخت نه اخلي، دویم دا چي لمونځ په یوه وخت او په یوه ځای کي اداء کیږي، نو په عامه توګه د لمانځه اداء کول د خلکو لپاره ستونزمن او سخت نه وي، نو ځکه به د لمانځه په پیل کي د داسي دعاء هیڅ ضرورت نه وي.

د تلبیه د شروع کولو وخت

قَالَ: ثُمَّ يُلَبِّيْ عَقِيْبَ صَلَاتِهِ فرمایي: بیا به محرم (احرام تړونکي) تلبیه ووایي تر خپل لمانځه وروسته لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لَبّٰى فِيْ دُبُرِ صَلَاتِهِ ● ځکه روایت سوی دی چي نبي ﷺ تر خپل لمانځه وروسته تلبیه وویله وَإِنْ لَبّٰى بَعْدَمَا اسْتَوَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ او که هغه تلبیه ووایي وروسته تر دې چي پر هغه د ده سپرلي برابره سي (مطلب دا که هغه پر سپرلي سپوري سي بیا تلبیه ووایي) جَازَ نو (دا هم) جائز دي وَلٰكِنَّ الْأَوَّلَ أَفْضَلُ لِمَا رَوَيْنَا لېکن اول (یعني تر لمانځه وروسته تلبیه ویل) افضله دي د هغه حدیث په وجه کوم چي موږ روایت کړی.

اللغات: ﴿یلبی﴾ د تفعیل مضارع ده: تلبیه ویل. ﴿دبر﴾ وروسته. ﴿استوت﴾ د استفعال ماضي ده: سیده کېدل، برابرېدل.

تشریح: **مسئله:** دا ده چي د حج یا د عمرې د احرام د تړونکي لپاره پکار ده چي له دوو رکعتو څخه وروسته سمدستي تلبیه ووایي، ځکه چي نبي ﷺ تر لمانځه وروسته سمدستي تلبیه ویلې وه، لهذا داسي کول افضل دي، لېکن که یو سړی تر لمانځه وروسته او پر سپرلي تر سپرېدلو وروسته تلبیه ووایي نو هیڅ حرج نسته، لېکن د نبي ﷺ په اقتداء کي تر لمانځه وروسته فوراً ویل پکار دي.

د مفرد لپاره د تلبیې حکم

وَإِنْ كَانَ مُفْرِدًا بِالْحَجِّ يَنْوِيْ بِتَلْبِيَتِهِ الْحَجَّ او که دا سړی فقط د حج اراده کونکی وي نو په خپله تلبیه سره به (فقط) د حج نیت کوي لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ ځکه چي حج یو عبادت دی وَالْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ او د اعمالو (او عبادتونو) دار و مدار پر نیتونو دی.

اللغات: ﴿مفرد﴾ افراد کونکی، مفرد بالحج هغه چا ته ویل کیږي چي په یوه احرام سره یوازي حج کوي.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو سړی مفرد بالحج وي یعني د هغه اراده فقط د حج کولو وي، د عمرې کولو اراده یې نه وي، نو هغه دي په خپل تلبیه سره فقط د حج نیت وکړي، ځکه حج یو عبادت دی، او د عباداتو دار ومدار او صحت پر نیت موقوف وي.

● تخریج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء متى أحرم النبي ﷺ؟ حديث رقم: ۸۱۹.

د تلبيې الفاظ او په دې کې د کمې يا زياتوب حکم

وَالتَّلْبِيَةُ أَنْ يَقُوْلَ او تلبيه دا ده چې محرام (داسې) ووايي لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ (چې) زه حاضريم اې الله! حاضريم لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ حاضر يم ستا هيڅ شريک نسته حاضر يم إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ ټول حمدونه او نعمتونه ستا لپاره دي وَالْمُلْكَ او باچاهي (هم ستا لپاره ده) لَا شَرِيْكَ لَكَ ستا هيڅ شريک نسته وَقَوْلُهُ: إِنَّ الْحَمْدَ بِكَسْرِ الْأَلِفِ لَا بِفَتْحِهَا او (په متن کې) د ماتن (دا) قول: إِنَّ الْحَمْدَ د الف په کسره سره دی نه په فتحه سره لِيَكُوْنَ اِبْتِدَاءً لَا بِنَاءً چې په حمد ابتداء وسي، (پر مخکې) بناء نه سي (يعني چې دا جلا جمله سي، د مخکې جملې سره متصله نه سي) إِذِ الْفَتْحَةُ صِفَةُ الْأُوْلٰى ځکه چې فتحه د اولې کلمې صفت کيږي (يعني د فتحې په صورت کې به دا جمله د اولې جملې صفت جوړه سي) وَهُوَ إِجَابَةٌ لِدُعَاءِ الْخَلِيْلِ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ او دا کلام (يعني لبيك... تر آخره پورې) د حضرت ابراهيم ﷺ د دعاء د قبوليت جواب دی عَلٰى مَا هُوَ الْمَعْرُوْفُ فِي الْقِصَّةِ لکه په قصه کې چې دا خبره مشهوره ده وَلَا يَنْبَغِيْ أَنْ يُخِلَّ بِشَيْءٍ مِنْ هٰذِهِ الْكَلِمَاتِ او مناسب نه دي چې له دې کلماتو ځنې يو شی کم کړي لِأَنَّهُ هُوَ الْمَنْقُوْلُ بِاتِّفَاقِ الرُّوَاةِ ځکه چې دا کلام د راويانو په اتفاق سره رانقل سوی دی فَلَا يَنْقُصُ عَنْهُ نو له دې ځنې به (يو شی) نه کموي وَلَوْ زَادَ فِيْهَا جَازَ او که په دې کې اضافه وکړي (يعني څه کلمې زياتې کړي) نو جائز دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ رِوَايَةِ الرَّبِيْعِ رَحِمَهُ اللهُ عَنْهُ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله د ربيع د روايت مطابق هُوَ اعْتَبَرَهُ بِالْأَذَانِ وَالتَّشَهُّدِ امام شافعي رَحِمَهُ الله تلبيه پر اذان او تشهد قياس کړې ده مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ ذِكْرٌ مَنْظُوْمٌ په دې اعتبار سره چې تلبيه (هم) منظوم ذکر دی وَلَنَا أَنَّ أَجِلَّاءَ الصَّحَابَةِ كَابْنِ مَسْعُوْدٍ وَابْنِ عُمَرَ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ زَادُوْا عَلَى الْمَأْثُوْرِ او زموږ دليل دا دی چې غټو صحابه وو لکه ابن مسعود، ابن عمر او ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُم پر منقولې تلبيې اضافه کړې ده وَلِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ الثَّنَاءُ وَإِظْهَارُ الْعُبُوْدِيَّةِ او په دې وجه (هم) چې د تلبيې مقصد د الله تعالیٰ ثنا او د بندګۍ ښکارندونه ده فَلَا يُمْنَعُ مِنَ الزِّيَادَةِ عَلَيْهِ نو پر دې به له اضافې کولو څخه منع نه کيږي.

اللغات: ﴿لبيك﴾ زه ستا لپاره حاضر يم. ﴿حمد﴾ تعريف. ﴿ملك﴾ سلطنت، باچاهي، بادشاهي. ﴿لا ينقص﴾ د نصر د باب مضارع منفي ده: کمول. ﴿مأثور﴾ منقول (رانقل سوي دعاګانې). ﴿عبودية﴾ بنده کېدل، غلام کېدل.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې متن کې د تلبيې کلمات بيانوي، نو د تلبيې لپاره سنت کلمې دا دي: لبيك اللّٰهم لبيك، لبيك لا شريك لك لبيك، إن الحمد والنعمة لك والملك لا شريك لك. صاحب د هدايې دلته يو وضاحت کړی دی هغه دا چې تر الحمد مخکې د إن حرف د الف او د همزې په کسره سره دی، ځکه چې د کسرې په صورت کې به دا جمله د حمد لپاره مستقله سي، لېکن که د الف په فتحه سره أن وويل سي، نو دا جمله به د حمد لپاره مستقله نه سي، او پر مخکې به مبني سي، او ښکاره ده چې مستقل حمد له غيرِ مستقل حمد څخه افضل او غوره دی، پاته سوه دا

خبره چي تلبيه څه شي ده؟، په حج کي ولې داخله سوه. او د دې قصه څه ده؟ نو په دې لړ کي صاحب د هدايه رَحِمَهُ الله وايي چي دا ټوله جمله د حضرت ابراهيم عليه السلام د خوښتل سوي دعاء د قبوليت جواب دی. او د دې مشهوره قصه دا ده چي کله حضرت ابراهيم عليه السلام د کعبې شريفي له تعمير څخه فارغ سو. نو هغه ته د الله له طرفه دا حکم وسو چي خلکو ته د حج کولو دعوت ورکړه. نو ابراهيم پر جبل ابو قبيس وختی. او خلکو ته يې د کعبې د حج دعوت ورکړی. نو الله تعالیٰ په خپل قدرت سره دا آواز تر قيامته پوري د راتلونکو خلکو غوږو ته ورسوی. تر دې چي د پلرونو شاګلو او د مندو رحمونو ته هم دا آواز ورسېدی. نو چا چي په هغه وخت کي څو واره پر دې آواز لبيک ويلي وي. هغه به دې دنيا ته په راتګ سره هغومره حجونه کوي.

ولاينبغي الخ فرمايي چي د تلبيې له کلمو څخه يوه کلمه هم کمول صحيح او مناسب نه دي، ځکه چي دا کلمې له ټولو راويانو څخه يو ډول رانقل سوي دي. لهذا په دې کي به هيڅ ډول کمي مناسب نه وي. هو! که يو څوک پر دې کلمو اضافه وکړي، نو زموږ په نېز هيڅ حرج نسته. او د اضافې او زياتوب اجازه سته. ليکن له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه د ربيع بن سليمان د روايت مطابق رانقل سوي دي چي د هغه په نېز نه کمي کول جائز دي، او نه زياتوب. په دې باره کي د هغه دليل قياس دی. هغه د تلبيې کلمې د اذان او د تشهد پر کلمو قياس کړي دي. يعني څرنګه چي د اذان او د تشهد کلمې په اتفاق د راويانو رانقل سوي دي، او په هغو کي هيڅ ډول کمي، زياتوب صحيح نه ده. همدارنګه د تلبيې کلمې هم په اتفاق د رواياتو رانقل سوي دي. لهذا په هغو کي به هم کمي، زياتوب صحيح نه وي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي له غټو صحابه وو لکه د ابن مسعود، ابن عمر او ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُم څخه د تلبيې پر کلمو اضافه او زياتوب رانقل سوي دي. لکه څرنګه چي صاحب د بنايې ليکلي دي چي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په خپله تلبيه کي دا اضافه کړې وه: "لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ وَرُغْبَيْ إِلَيْكَ". او ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا اضافه کړې وه: "لَبَّيْكَ عَدَدَ التُّرَابِ". له دې څخه معلوميږي چي په دې کلمو کي اضافه کول صحيح او جائز دي، او په دې کي هيڅ حرج نسته. عقلي دليل دا دی چي د دې کلمو مقصد د الله جَلَّ جَلَالُهُ حمد او ثناء او د خپل بندګۍ اظهار کول دي. او ښکاره ده چي د نورو کلمو په اضافه کولو سره په دې مقصد کي نوره اضافه راځي، نو په دې حواله سره به هم د تلبيې په کلمو کې اضافه او زياتوب صحيح او جائز وي.

د احرام د شروع کولو وخت

قَالَ: وَإِذَا لَبَّى فَقَدْ أَحْرَمَ امام قدوري فرمايي: چي کله هغه تلبيه ووايي نو محرم سو يَعْنِي إِذَا نَوَى يعني که هغه نيت وکړي لِأَنَّ الْعِبَادَةَ لَا تُتَأَدَّى إِلَّا بِالنِّيَّةِ ځکه چي له نيت څخه بغير عبادت نه اداء کيږي إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْهَا خو امام قدوري نيت نه دي ذکر کړی لِتَقَدُّمِ الْإِشَارَةِ إِلَيْهَا فِي قَوْلِهِ اللَّهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ ځکه چي مخکي د هغه په دې قول اللهم إني اريد الحج کي نيت ته اشاره وسوه.

تشريح: فرمايي چي د سړي د محرم کېدلو لپاره تلبيه او نيت دواړه ضروري دي. لهذا نه يو سړی فقط په تلبيه سره محرم کيږي، او نه صرف په نيت سره. نو ځکه فرمايي: که په نيت سره يو څوک تلبيه ووايي نو هغه محرم ګرځي، ځکه چي حج يو عبادت دی، او يو عبادت هم بغير له نيت څخه نه اداء کيږي. پاته سو دا سوال چي کله د عبادت د اداء

کولو لپاره نیت مهم دی، نو بیا امام قدوري رَحِمَهُ الله د نیت یادونه ولې نه وکړه؟ جواب دا دی چې مخکې د امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې عبارت: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ... الخ کې نیت ته هم اشاره وسوه (ځکه چې د أُريد معنیٰ هم د نیت ده)، نو په دې وجه امام قدوري رَحِمَهُ الله جلا د نیت یادونه ضروري نه وګڼله.

د احرام د شروع کولو لپاره څه شی ضروري دی؟

وَلَا يَصِيرُ شَارِعًا فِي الْإِحْرَامِ بِمُجَرَّدِ النِّيَّةِ او محض په نیت سره یو څوک د احرام شروع کونکې نه ګرځي مَا لَمْ يَأْتِ بِالتَّلْبِيَةِ تر څو چې تلبیه نه ووایي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّهُ عَقْدٌ عَلَى الْأَدَاءِ ځکه چې احرام یو عقد دی پر اداء فَلَا بُدَّ مِنْ ذِكْرٍ نو ځکه ذکر ضروري دی كَمَا فِي تَحْرِيمَةِ الصَّلَاةِ لکه د لمانځه په تحریمه کې (چې ضروري دی) وَيَصِيرُ شَارِعًا بِذِكْرٍ يُقْصَدُ بِهِ التَّعْظِيمُ او ګرځي (د احرام) شروع کونکی په (هر) هغه ذکر چې په هغه سره مقصد تعظیم وي سِوَى التَّلْبِيَةِ ماسوا له تلبیې څخه فَارِسِيَّةً كَانَتْ أَوْ عَرَبِيَّةً (هغه که ذکر) فارسي وي، که عربي هٰذَا هُوَ الْمَشْهُورُ عَنْ أَصْحَابِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالَى زموږ له ملګرو څخه همدغه مشهور (روایت) دی وَالْفَرْقُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلَاةِ عَلَى أَصْلِهِمَا او د صاحبینو پر قاعده د لمانځه او د حج په مینځ کې فرق دا دی أَنَّ بَابَ الْحَجِّ أَوْسَعُ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ چې د حج باب د لمانځه له باب څخه زیات وسیع (پراخ) دی حَتّٰى يُقَامُ غَيْرُ الذِّكْرِ مَقَامَ الذِّكْرِ تر دې چې (په حج کې) غیرِ ذکر (هم) د ذکر (یعني د تلبیې) قائم مقام کیږي كَتَقْلِيدِ الْبُدْنِ لکه د بُدنې په غاړه کې طوق اچول (یعني که یو حاجي د حج څاروي ته محض طوق واچوي نو دا که څه هم غیرِ ذکر دی لیکن بیا هم دا د تلبیې قائم مقام دی، او په دې سره هغه محرم ګرځي) فَكَذَا غَيْرُ التَّلْبِيَةِ وَغَيْرُ الْعَرَبِيَّةِ نو همداسې به له تلبیه او عربي څخه ماسوا (بل ذکر د تلبیې او ذکر قائم مقام کیږي).

اللغات: ﴿شارع﴾ شروع کونکی، ﴿مجرد﴾ فقط، محض، یوازې، ﴿تقليد﴾ د څاروي غاړې ته طوق یا رسۍ وراچول، ﴿أوسع﴾ زیات پراخ، ﴿البُدن﴾ څاروی، بُدنه (د حج څاروی).

تشریح: مخکې موږ ووېل چې د حج د شروع کولو او د انسان د محرم کېدلو لپاره صرف تلبیه یا صرف نیت کافي نه دی، بلکې نیت او تلبیه دواړه ضروري دي، لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې که صرف نیت وسي، نو هم انسان محرم کیږي، هغه که تلبیه ووایي، که نه ووایي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دلته هم قیاس دی، او حج پر روژه قیاسوي فرمایي چې څرنګه د روژې د شروع کولو لپاره (او د صائم کېدلو لپاره) صرف نیت کافي دی، د بل شي ضرورت نسته. همدا بول به دلته هم نیت کافي وي، زموږ دلیل دا دی چې احرام د داسې عبادت د اداء کولو لپاره تړل کیږي چې په هغه کې بېلابېل ارکان د مثال په توګه طواف، سعي، رمي او داسې نور شامل دي، نو څرنګه چې لمونځ پر بېلابېلو ارکانو مشتمل دی، او د هغه د شروع کولو لپاره له نیت څخه علاوه یو بل ذکر یعني تکبیر تحریمه هم ضروري دی، همدارنګه به د حج د شروع کولو او د محرم کېدلو لپاره هم د نیت سره سره یو بل ذکر یعني تلبیه ضروري وي، لیکن د تلبیې رانقل سوي کلمې اداء کول یا په عربي کې تلبیه ویل ضروري نه دي، بلکې که یو سړی د تلبیې له کلماتو څخه علاوه یوه بله داسې

دعاء وکړي، چې په هغې کې د الله ﷻ حمد او ثناء او د خپل بندګۍ اظهار هم وي، نو داسې دعاء هم کافي ده، هغه که په عربي وي، یا په فارسي وي، همدا د حنفي فقهاؤ مشهور او معتمد قول دی.

و الفرق الخ دا عبارت د یو سوال جواب دی، هغه دا چې د امام صاحب په نیز په غیرِ عربي کې الله أکبر ویل یعني تحریمه تړل جائز وو (لکه په کتابُ الصلاة کې چې تېر سو)، نو پر هغه باندې په قیاسولو سره به په غیرِ عربي کې تلبیه ویل جائز وي، لېکن د صاحبینو مسلک دا وو چې په غیر عربي کې تحریمه جائز نه ده، نو دلته د هغو په نیز په غیرِ عربي کې تلبیه څرنګه جائز سوه (حال دا چې دوی هم دلته احرام پر لمانځه قیاسوي)، نو د هغه جواب ورکوي چې د حج باب د لمانځه په مقابله کې زیات پراخ دی، او په حج کې غیرِ ذکر هم د ذکر قائم مقام ګرځي، لهذا که یو سړی د احرام په نیت سره د څاروي غاړې ته طوق وړ واچوي، روان یې کړي، نو هغه په دې سره هم محرم کیږي، که څه هم هغه تلبیه ویلې نه وي، ځکه چې دلته ذکرِ قلبي (د زړه ذکر) پیدا سو، که څه هم ذکرِ لساني نسته، نو کله چې په حج کې غیرِ ذکر یعني طوق وړ اچول د ذکر یعني د تلبیې قائم مقام ګرځي، نو له منقولې تلبیې څخه علاوه به بل ذکر خو په درجه اولیٰ د تلبیې قائم مقام ګرځي، هغه که په عربي وي، که په فارسي وي، لېکن په لمانځه کې دومره پراخي نسته، نو ځکه به په لمانځه کې تکبیر او عربي ضروري وي.

د حج د ممنوعاتو بیان

قَالَ: وَيَتَّقِي مَا نَهَى اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فرمایي: چې محرم به له هغو شیانو څخه ځان ساتي چې له هغو څخه الله تعالیٰ نهي کړې دي مِنَ الرَّفَثِ وَالْفُسُوقِ وَالْجِدَالِ (یعني) له رفث، فسوق او جدال څخه وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ تَعَالَى: فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ [البقرة: ۱۹۷] او په دې باره کې اصل د الله تعالیٰ (دا) قول دی: چې په حج کې نه رفث سته، نه فسوق او نه جدال فَهَذَا نَهْيٌ بِصِيغَةِ النَّفْيِ نو دا د نفي په صیغه سره نهي دي وَالرَّفَثُ الْجِمَاعُ أَوِ الْكَلَامُ الْفَاحِشُ أَوْ ذِكْرُ الْجِمَاعِ بِحَضْرَةِ النِّسَاءِ او رفث یا جماع ده یا بدې خبرې (او سپکه وینا) ده یا د ښځو په حضور کې د جماع یادونه ده وَالْفُسُوقُ الْمَعَاصِي او له فسوق څخه مراد ګناوې (کول) دي وَهُوَ فِي حَالِ الْإِحْرَامِ أَشَدُّ حُرْمَةً او دا (ګناوې بیا) د احرام په حالت کې ډېر زیات حُرمت لري وَالْجِدَالُ أَنْ يُجَادِلَ رَفِيقَهُ او جدال دا دی چې محرم د خپل ملګري سره نښته (او مباحثه) وکړي وَقِيلَ: مُجَادَلَةُ الْمُشْرِكِينَ فِي تَقْدِيمِ وَقْتِ الْحَجِّ وَتَأْخِيرِهِ او یو قول دا دی: چې له جدال څخه مراد د حج د وخت په تقدیم او تأخیر کې د مشرکینو سره نښته او (مباحثه) کول دي وَلَا يَقْتُلُ صَيْدًا او محرم به ښکار نه قتلوي لِقَوْلِهِ تَعَالَى وَلَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ [المائدة: ۹۵] ځکه الله تعالی فرمایلي دي: "او تاسو د احرام په حالت کې ښکار مه وژنئ!".

اللغات: ﴿رفث﴾ جماع یا د جماع خبرې، ﴿فسوق﴾ بدکارې، ګناه، ﴿جدال﴾ جګړه، نښته، زیات بحث او تکرار کول، فساد جوړول، ﴿صید﴾ ښکار.

تشریح: فرمایي چې کله یو سړی احرام وتړي او د حج نیت وکړي، نو هغه ته پکار ده چې د هر ډول لغوه، چټلو (او پالتو) کارو څخه ځان وساتي، او له هغو ټولو شیانو څخه پرېز وکړي چې الله تعالیٰ په خپل دې قول کې له هغو څخه د

ځان ساتلو او د احتیاط کولو حکم کړی دی: فمن فرض فیهن الحج فلا رفث ولا فسوق ولا جدال فی الحج الخ. یعني محرم خو به نه رفث کوي، او نه به په فسوق او فجور کې مبتلا کیږي، او نه به د حج په دوران کې جنګ او نښته کوي. صاحب د هدایې فرمایي چې په فلا رفث الخ سره چې کوم حکم بیان سوی دی، هغه پر نهي او ممانعت محمول دی. نو ځکه به محرم له دې شیانو څخه په ډېر ټینګار ځان ژغوري.

والرفث الخ فرمایي چې له رفث څخه یا جماع مراد ده، لکه په دې آیت کې چې له رفث څخه جماع مراد ده: أحل لکم لیلة الصیام الرفث إلی نسائکم. یا له رفث څخه سپکه وینا، بدي او چټلي خبري مراد دي. یا له دې څخه د ښځو په شتون کې د جماع ذکر کول مراد دي، او له فسوق څخه معاصي او ګناوي مراد دي، او د ګناه کار خو په هر حال کې حرام او ناجائز دی. لیکن د احرام په حالت کې نور هم درووند جرم دی.

والجدال الخ فرمایي چې له جدال څخه مراد دا دي چې انسان خپل د حج د ملګري سره جنګ او نښته وکړي. یا له جدال څخه د حج د وخت په باره کې د مشرکینو سره جنګ او مباحثه کول مراد دي، صاحب د بنایې د علامه زمخشري رحمه الله په حواله سره لیکلي دي چې قریشو به په خپله زمانه کې د حج د ارکانو په باره کې د ټولو عربو مخالفت کوی، نورو عربو به په عرفات کې وقوف کوی، دوی به په مشعر حرام کې وقوف کوی، همدارنګه به مشرکینو په خپله زمانه کې دوه کاله په ذوالقعده کې حج کوی، او دوه کاله به یې په ذو الحجه کې حج کوی، لیکن الله تعالی حکم وکړی چې د دوی سره په دې باره کې بحث ومباحثه مه کوئ، تاسو خپله د ذو الحجې په میاشت کې حج کوئ. (بنایه ج:۴، ص:۵۲)

ولا یقتل صیدا الخ فرمایي چې د محرم لپاره د وچې (ځمکي) حیوان ښکارول هم ممنوع او حرام دي، ځکه په دې آیت ولا تقتلوا الصید وأنتم حرم کې د وچې او لندې دواړو د حیوان ښکار حرام سوی دي، لیکن په بل آیت وحرم علیکم صید البر ما دمتم حرما کې صرف د وچې ځمکې ښکار حرام سوی دی، چې په هغه سره د دریابي او سمندري حیوان د ښکار حلالوالی ثابتیږي.

د محرم لپاره د ښکار مسئله

وَلَا يُشِيرُ إِلَيْهِ وَلَا يَدُلُّ عَلَيْهِ او محرم به د ښکار و طرف ته نه اشاره کوي او نه به پر هغه دلالت کوي (یعني نه به د ښکار خبر بل چا ته ورکوي) لِحَدِيثِ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابو قتاده رضی الله عنه د حدیث په وجه أَنَّهُ أَصَابَ حِمَارَ وَحْشٍ چې هغه وحشي خر ښکار کړی وَهُوَ حَلَالٌ په داسي حال کې چې هغه حلال وو (یعني ابو قتاده محرم نه وو) وَأَصْحَابُهُ مُحْرِمُونَ (لیکن) ملګري یې محرم وو فَقَالَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[●] لِأَصْحَابِهِ نو نبي ﷺ د هغه ملګرو ته وویل هَلْ أَشَرْتُمْ هَلْ دَلَلْتُمْ هَلْ أَعَنْتُمْ آیا تاسو (د وحشي خره و طرف ته) اشاره کړې وه؟، آیا تاسو ورښوولی وو؟ آیا تاسو مرسته کړې وه؟ فَقَالُوا: لَا نو هغوی وویل: چې نه! فَقَالَ: إِذًا فَكُلُوا نو نبي ﷺ وفرمایل: چې بیا یې نو خورئ! وَلِأَنَّهُ إِزَالَةُ الْأَمْنِ عَنِ الصَّيْدِ او په دې وجه چې (په دې حرکتونو سره) له ښکار څخه امن لیري کول دي لِأَنَّهُ آمِنٌ بِتَوَحُّشِهِ وَبُعْدِهِ عَنِ الْأَعْيُنِ ځکه چې ښکار د خپل وحشي کېدلو او له سترګو څخه د لیري کېدلو په وجه په أمن وي.

[●] تخریج: أخرجه مسلم فی کتاب الحج، باب تحریم الصید للمأکول البرّی، حدیث رقم: ۶۰، ۶۱، ۶۲، والترمذي فی کتاب الحج، باب: ۲۰، حدیث رقم: ۸۴۷.

اللغات: ﴿يدل﴾ دلالت کول، د دې باب په صله کې چې على راسي نو معنىٰ يې دا کيږي، خبر ورکول، ور ښودل.
﴿حمار وحش﴾ وحشي خر، ځنګلي خر.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې څرنګه د محرم لپاره ښکار کول ممنوع دي، همدارنګه په بل ښکار کول، يا يو غير محرم ته د ښکار خبر ورکول، يا د ښکار و طرف ته اشاره کول، يا په ښکار کولو کې مرسته ور سره کول ټوله ممنوع او حرام دي. دليل دا دی چې يو وار حضرت ابو قتاده ﷺ محرم نه وو، خو ملګري يې محرم وو، نو هغه د سفر په دوران کې وحشي خر ښکار کړی، او ټولو په ګډه وخوړی، نبي کريم ﷺ ته چې کله د دې خبر ورسيدی، نو نبي ﷺ د ابو قتاده له ملګرو څخه پوښتنه وکړه، چې آيا تاسو د ښکار و طرف ته اشاره کړې وه؟، آيا تاسو ابو قتاده ته د دې خبر ورکړی وو؟، آيا تاسو دې په نيولو کې د هغه مرسته کړې وه؟ نو ټولو ورېل: لا يا رسول الله، (يعني اې د الله نبي! له دې شيانو څخه موږ يو شی هم کړی نه دی)، نبي ﷺ وفرمايل: نو بيا هيڅ حرج نشته، کوم څه چې مو وخوړل هغه حلال دي، او کوم څه چې پاتې سول هغه هم وخورئ، له دې څخه معلومه سوه چې د محرم لپاره د ښکار و طرف ته اشاره کول، يا د هغه خبر ورکول ټوله حرام او ممنوع دي، کنې نبي ﷺ به د دې شيانو په باره کې د ابو قتاده ﷺ له ملګرو څخه پوښتنه نه کولای.

د احرام په حالت کې کومې جامې اغوستل ممنوع دي؟

قَالَ: وَلَا يَلْبَسُ قَمِيْصًا وَلَا سَرَاوِيْلَ وَلَا عِمَامَةً وَلَا خُفَّيْنِ فرمايي: چې محرم به نه قميص اغوندي، نه پرتوګ، نه لنګوټه او نه موزې إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ نَعْلَيْنِ فَيَقْطَعُهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ خو که څپلۍ پيدا نه کړي نو موزې به تر بجلکو لاندې پرېکوي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] نَهٰى أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ محرم د دې شيانو له اغوستلو څخه منع کړی دی وَقَالَ فِيْ آخِرِهِ او د دغه روايت په آخر کې يې فرمايلي دي وَلَا خُفَّيْنِ إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ نَعْلَيْنِ فَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ او نه به موزې اغوندي خو دا چې څپلۍ پيدا نه کړي نو هغه به تر بجلکو لاندې پرېکړي وَالْكَعْبُ هُنَا الْمِفْصَلُ الَّذِيْ فِيْ وَسَطِ الْقَدَمِ عِنْدَ مَعْقَدِ الشِّرَاكِ او له بجلکي څخه مراد دلته هغه بند (جوړ) دی چې هغه د تسمې د تړلو د ځای سره د پښې په مينځ کې دی فِيْمَا رَوٰى هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ د هغه (روايت) مطابق کوم چې هشام له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه را نقل کړی دی.

اللغات: ﴿سراويل﴾ جمع د سروال ده: پرتوګ. سروالة: د پرتوګ يوه ټوکره، ﴿عمامة﴾ په کسره د عين سره: لنګوټه، ﴿خف﴾ موزه، ﴿كعب﴾ بجلکه، د پښو هډوکی، ﴿معقد﴾ د نصر د باب اسم ظرف دی: د تړلو ځای، ﴿مفصل﴾ بند، ﴿شراك﴾ تسمه.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د محرم لپاره ګنډل سوي جامې اغوستل ممنوع دي، نو په دې وجه امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې محرم به نه قميص اغوندي، نه پرتوګ، نه لنګوټه او نه موزې، ځکه چې دا شيان ګنډل سوي وي، او د هغه لپاره

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب ما يباح للمحرم بحج أو عمرة، حديث رقم: ١، والبخاري في كتاب الحج، باب ما لا يلبس المحرم من الثياب، حديث رقم: ١٥٤٢.

ګنډل سوي جامې اغوستل ممنوع دي، لېکن که هغه څپلې نه لرلې، نو بيا د هغه لپاره د ماسې موزو د پرې کولو اجازه سته چې تر بجلکو لاندې پرېکړل سوې وي (ځکه کله چې موزې تر بجلکو لاندې پرېکړل سې، نو موزې هم د څپلې په حکم سې، او د هغه لپاره څپلې په پښو کول جائز دي). د دې ټولو دليل هغه حديث دی کوم چې له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه را نقل سوی دی، هغه فرمايي: قال رجل يا رسول الله ما تأمرنا أن نلبس من الثياب في الإحرام قال لا تلبسوا القمص ولا السراويلات ولا العمائم والا البرانس ولا الخفاف إلا أن يكون أحد ليس له نعلان فليلبس الخفين وليقطع أسفل من الكعبين... الخ (يعني يوه سړي له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې موږ د احرام په حالت کي کوم شيان اغوندلو، نو نبي ﷺ وفرمايل چې قميصان، پرتوګان، لنګوټې، خولېانې او موزې مه اغوندئ. هو! که د يو چا سره څپلې نه وي، نو هغه دې موزې په پښو کړي او تر بجلکو لاندې دې يې پرېکړي). له دې څخه معلومېږي چې د محرم لپاره ګنډل سوي شيان او ګنډل سوي جامې اغوستل جائز نه دي.

والكعب هنا الخ دا جمله څه ستونزمنه ده، په پښه کي دوه ځايه کعب يعني را پورته سوي هډوکي وي: [۱] يو د پنډۍ هډوکي چي چيري ختم سي، هلته دوه (۲) را پورته سوي هډوکي وي چي هغه ته موږ په پښتو کي بجلکي وايو. او په کتابُ الطهارات کي له أرجلكم إلى الكعبين څخه هم دغه اصلي بجلکي مرادي. [۲] دويم د پښې په مېنځ کي يو هډوکی سته چي هغه د بجلکو په نسبت لږ را پورته سوی دی، دلته له کعب څخه همدغه هډوکی مراد دی، دې ته که څه هم په پښتو کي بجلکه نه وايي، لېکن په عربي کي د کعب دا دواړه تفسيره سوي دي، نو ځکه موږ د عربي په مناسبت په عبارت او تشريح کي د دې ترجمه په بجلکي سره وکړه. نو فرمايي چي محرم به تر دغه ځايه پوري موزې پرېکوي چي د څپلې په حکم سي، له امام محمد څخه حضرت هشام هم دغه را نقل کړي دي چي موزې به تر دغه هډوکي پوري پرېکېږي.

د احرام په حالت کي به د بدن کومي حصې نه پټېږي!

قَالَ: وَلَا يُغَطِّي وَجْهَهُ وَلَا رَأْسَهُ او محرم به نه خپل مخ پټوي او نه خپل سر وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: يَجُوزُ لِلرَّجُلِ تَغْطِيَةُ الْوَجْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د سړي لپاره مخ پټول جائز دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: إِحْرَامُ الرَّجُلِ فِي رَأْسِهِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: د سړي احرام د هغه په سر کي دی وَإِحْرَامُ الْمَرْأَةِ فِي وَجْهِهَا او د ښځي احرام د هغې په مخ کي دی وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: لَا تُخَمِّرُوا وَجْهَهُ وَلَا رَأْسَهُ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: "چي تاسو د هغه مخ مه پټوئ او نه د هغه سر فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّيًا ځکه چي هغه به د قيامت په ورځ تلبيه ويونکی را پورته سي" قَالَهُ فِي مُحْرِمٍ تُوُفِّيَ دا حديث نبي ﷺ (د حج په دوران کي) د مړه سوي محرم په باره کي فرمايلی وو وَلِأَنَّ الْمَرْأَةَ لَا تُغَطِّي وَجْهَهَا او په دې وجه (هم) چي ښځه خپل مخ نه پټوي مَعَ أَنَّ فِي الْكَشْفِ فِتْنَةً سره د دې چي په لڅولو کي (يې) فتنه ده فَالرَّجُلُ بِالطَّرِيقِ الْأَوْلَى نو سړی خو به په طريقه اولیٰ (خپل مخ نه پټوي) وَفَائِدَةُ مَا رُوِيَ الْفَرْقُ فِي تَغْطِيَةِ الرَّأْسِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت سوي حديث فايده په سر پټولو کي فرق کول دي.

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ في كتاب الحج، باب المرأة لا تنتقب في احرامها، حديث رقم: ۹۰۲۸.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب ما يفعل بالمحرم إذا مات، حديث رقم: ۹۳.

اللغات: ﴿لا يغطى﴾ د تفعيل د باب مضارع منفي ده، پټول. ﴿لا تخمروا﴾ د تفعيل د باب مضارع منفي ده، پرپوښل کپړه او جامه اچول (تر کپړې لاندې کول، پټول). ﴿کشف﴾ لڅول، پرده ليرې کول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې زموږ په نيز د محرم لپاره خپل مخ او سر پټول جائز نه دي. لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د محرم سړي لپاره خو سر پټول جائز نه دي لېکن مخ پټول جائز دي. همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله قول دی.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: إحرام الرجل في رأسه وإحرام المرأة في وجهها. (يعني د سړي احرام د هغه په سر کې دی. او د ښځې احرام د هغه په مخ کې دی). امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې سره په دې توګه دليل نيسي چې په حديث کې ووېل سوه چې د سړي احرام د هغه په سر کې دی او داسې نه ووېل سوه چې د هغه په مخ کې دی، نو ځکه به د هغه لپاره خو سر پټول جائز نه وي. لېکن مخ پټول به جائز وي.

زموږ دليل: د ابن عباس رضي الله عنه حديث دی: أن رجلا وقصته راحلته وهو محرم فمات فقال رسول الله ﷺ اغسلوه بماء وسدر وكفنوه في ثوبيه ولا تمسوه طيبا ولا تخمروا رأسه ولا وجهه فإنه يبعث يوم القيامة ملبيا. (يعني يو سړی د احرام په حالت کې سپرلي وغورځوی مغزی يې ورمات کړی، او مړ سو. نو نبي ﷺ وفرمايل چې هغه ته د په اوبو او د بېرو په پاڼو سره غسل ورکړئ او په خپلو جامو کې يې پټ کړئ او عطر مه پر لګوئ، او مه د هغه سر پټوئ، مه د هغه مخ، ځکه چې هغه به د قيامت په ورځ تلبيه ويونکی راپورته سي). له دې حديث څخه معلوميږي چې د محرم سړي لپاره خپل سر او مخ پټول جائز نه دي، دويم دليل دا دی چې ښځه لا د احرام په حالت کې لڅ مخ ګرځي، حال دا چې د هغې د مخ په لڅوالي کې فتنه ده، نو د سړي د مخ په لڅوالي کې خو هيڅ فتنه هم نسته، لهذا سړی به په درجه اولیٰ خپل مخ نه پټوي.

وفائدة الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث (يعني چې د سړي احرام د هغه په سر کې دی، او د ښځې احرام د هغې په مخ کې دی) مطلب دا دی چې په سر پټولو کې د سړي او ښځې په مينځ کې فرق وسي، يعني د ښځې لپاره خپل سر پټول جائز دي، ځکه چې د هغې د احرام اثر د هغه په مخ کې دی، نه په سر کې، او د سړي لپاره سر پټول جائز نه دي، ځکه چې د هغه د احرام اثر د هغه په سر کې دی.

د محرم لپاره د عطر لګولو او نورو حکم

قَالَ: وَلَا يَمَسُّ طِيبًا فرمايي: او محرم به عطر (هم) نه لګوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: اَلْحَاجُّ الشَّعِثُ التَّفِلُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې حاجي د خورو (منتشرو) ورېښتانو والا (بېر سری) او د عطرو پرېښوونکی وي وَكَذَا لَا يَدْهِنُ او تېل به (هم) نه لګوي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلَا يَحْلِقُ رَأْسَهُ وَلَا شَعْرَ بَدَنِهِ او د خپل سر او بدن ورېښتان به هم نه خريي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ [البقرة: ۱۹۶] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: او سرونه مه خروئ وَلَا يَقُصُّ مِنْ لِحْيَتِهِ او نه به خپله ږيره کوچنۍ کوي (غچې کوي) لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب المناسك، باب ما يوجب الحج، حديث رقم: ۲۸۹۶.

الحَلق ځکه دا (هم) د خريلو په معنیٰ کي دي وَلِأَنَّ فِيهِ إِزَالَةُ الشَّعثِ وَقَضَاءُ التَّفَثِ او ځکه چي په دې کي د ورېښتانو منتشروالی او د خيرو ليري کولو دي.

اللغات: ﴿شعث﴾ هغه شوک چي ورېښتيان يې خواره او منتشر وي، بېر سری. ﴿تفل﴾ هغه شوک چي عطر نه لګوي. ﴿لا يقص﴾ مضارع منفي ده: پرېکول، غڅي کول، کوچني کول (مراد ځني برېره غڅي کول دي). ﴿حلق﴾ خرول (خرېيل).

تشريح: فرمايي چي د محرم لپاره عطر لګول، د سر او بدن ورېښتيان خرېيل يا کوچني کول يا برېره کوچنی کول دا ټول ممنوع دي، ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: الحاج الشعث التفل، "شعث" په فتحه د شين او کسره د عين سره هغه سړي ته ويل کيږي چي ورېښتيان يې منتشر (خواره) او په ګرز ککړ وي، يعني حاجي هغه دی چي ورېښتيان يې خواره او هغسي ککړ پاته وي، او عطر يې نه وي لګولي، لهذا د دې حديث په وجه به تېل هم نه استعمالوي، او د ورېښتيانو د خريلو په باره کي دليل دا آيت دی: ولا تحلقوا رؤسكم او برېره به هم نه غڅي کوي ځکه چي غڅي کول هم د خريلو په معنیٰ کي دي، او په دې وجه چي د ورېښتيانو په خريلو او غڅي کولو سره هغه منتشر والي ليري کيږي کوم چي د حاجي لپاره (په حديث کي) مطلوب او مقصود دی، نو په دې وجه به هم ورېښتيان نه خروي او نه به يې غڅي کوي.

د احرام په حالت کي د رنګداره جامو حکم

قَالَ: وَلَا يَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوْغًا بِوَرْسٍ او محرم به نه اغوندي په ورس رنګول سوي جامې وَلَا زَعْفَرَانَ وَلَا عُصْفُرَ او نه (به اغوندي) په زعفران او ژړ رنګ رنګول سوي جامې لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1]: لَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا وَرْسٌ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي محرم به داسي جامې نه اغوندي چي هغه ورس يا زعفران مسه کړي وي إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ غَسِيْلًا لَا يَنْفُضُ مګر دا چي هغه داسي پرېولل سوي وي چي ښه بوی نه کوي (يعني چي تر پرېوللو وروسته يې خوشبويي پاته نه سي) لِأَنَّ الْمَنْعَ لِلطِّيْبِ لَا لِلَّوْنِ ځکه چي ممانعت د خوشبويي په وجه دی نه د رنګ په وجه وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا بَأْسَ بِلُبْسِ الْمُعَصْفَرِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په ژړ رنګ رنګول سوو جامو کي څه حرج نسته لِأَنَّهُ لَوْنٌ لَا طِيْبَ لَهُ ځکه هغه داسي رانګ دی چي خوشبويي نه لري وَلَنَا أَنَّ لَهُ رَائِحَةً طَيِّبَةً او زموږ دليل دا دی چي هغه ښه بوی لري.

اللغات: ﴿مصبوغ﴾ اسم مفعول دی: رنګول سوي. ﴿ورس﴾ زعفران ته ورته يو ډول ښه بوی لرونکی بوټی دی چي په يمن کي پيدا کيږي. ﴿عصفر﴾ ژړ رنګ، يو ډول ګل دی چي ژړ رنګ ځني راوځي. ﴿لا ينفض﴾ د نصر د باب مضارع منفي ده: د دې اصلي معنیٰ ده: د کپړې يا جامې رنګ خامېدل (کمزوري کېدل)، لېکن دلته يې معنیٰ په ښه بوی کولو سره سوې ده.

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب ما لا يلبس المحرم من الثياب، حديث رقم: ١٥٤٢.

تشریح: فرمايي چي د محرم لپاره په زعفران، ورس، او په ژړ رنګ یا عصفر سره رنګول سوي جامې اغوستل جائز نه دي، ځکه نبي ﷺ د محرم لپاره له داسي جامو څخه منع کړې ده چي په دې شیانو سره رنګول سوي وي، حدیث په کتاب کي ذکر سو. لېکن که په دې شیانو سره رنګول سوي جامې په ښه توګه پرېولل سي، تر دې چي په هغو کي خوشبويي پاته نه سي، نو بيا يې په اغوستلو کي څه حرج نسته، ځکه چي د رنګول سوو جامو د اغوستلو ممانعت د خوشبويي په وجه دی، نو که په پرېوللو سره د دې جامو خوشبويي ختمه سي، بیا د جامو په اغوستلو کي هڅ پروا نسته.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله رایه دا ده چي په داسي جامو کي هيڅ حرج نسته چي د عصفر ګل په رنګ سره رنګول سوي وي، ځکه د هغه خيال دا دی چي په عصفر ګل کي صرف رنګ وي، خوشبويي نه وي، لېکن زموږ په نېز تحقیق دا دی چي په عصفر ګل کي د رنګ سره سره خوشبويي هم وي، نو ځکه زموږ په نېز د عصفر ګل په ژړ رنګ سره رنګول سوي جامې اغوستل د محرم لپاره صحیح نه دي.

د احرام په حالت کي د غسل حکم

قَالَ: وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَغْتَسِلَ وَيَدْخُلَ الْحَمَّامَ فرمايي: او څه حرج نسته چي محرم غسل وکړي او حمام ته داخل سي لِأَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اِغْتَسَلَ وَهُوَ مُحْرِمٌ ځکه حضرت عمر ﷺ غسل وکړی په داسي حال کي چي هغه محرم وو.

اللغات: ﴿حمام﴾ غسلخانه (د لمبېدلو ځای).

تشریح: **مسئله:** دا ده چي د محرم لپاره غسل کول او حمام ته داخلېدل صحیح او جائز دي، که څه هم په دې سره د وربښتیانو منتشر والی او ګرز لیري کیږي، ځکه چي دا شیان د احرام منافي نه دي، او بل دا چي حضرت عمر ﷺ د احرام په حالت کي غسل کړی دی، دا د دې خبري ښکاره دلیل دی چي د محرم لپاره غسل جائز دی.

له کور یا کجاوې څخه د سايې حاصلولو حکم

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَسْتَظِلَّ بِالْبَيْتِ وَالْمَحْمَلِ او د محرم لپاره (په دې کي) څه باک نسته چي په کور یا کجاوې سره سایه حاصله کړي وَقَالَ مَالِكٌ: يُكْرَهُ أَنْ يَسْتَظِلَّ بِالْفُسْطَاطِ وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: په غټه خېمه او د هغې په څېر (په بل شي) سره سایه حاصلول مکروه دي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ تَغْطِيَةَ الرَّأْسِ ځکه چي دا د سر پټولو سره مشابه دي وَلَنَا أَنَّ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يُضْرَبُ لَهُ فُسْطَاطٌ فِي إِحْرَامِهِ او زموږ دليل دا دی چي د حضرت عثمان ﷺ لپاره به د هغه د احرام په حالت کي غټه خېمه درېدله وَلِأَنَّهُ لَا يَمَسُّ بَدَنَهُ فَأَشْبَهَ الْبَيْتَ او په دې وجه (هم) چي غټه خېمه د محرم بدن نه مسه کوي نو هغه د کور سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿يستظل﴾ د استفعال د باب مضارع ده: (د يو شي) سایه حاصلول، (د يو شي په سایه کي کېښتل).

﴿محمل﴾ کجاوه، هودج، ﴿فسطاط﴾ غټه خېمه.

تشریح: **مسئله:** دا ده چي زموږ په نېز د محرم لپاره د يوې خوني (کمرې) یا يو کور په بام سره یا د لوښي او نورو په کجاوې سره سایه حاصلول صحیح او جائز دي، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز په غټه خېمه او غټو شيانو سره سایه حاصلول مکروه دي، ځکه چي دا د سر پټولو سره مشابه دي، او د محرم لپاره سر پټول جائز نه دي، او کوم شی چي د هغه

سره مشابه وي، نو هغه که ناجائز نه سي، مکروه خو به خامخا. ځکه چي د ممنوع او ناروا شي مشابهت هم ناخوښه او مکروه ګڼل شي.

وَلَنَا الخ زموږ دليل دا دی چي د دريم خليفه سيدنا حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه لپاره به د احرام په حالت کي يوه غټه خېمه درېدله. او هغه به په دې سره سايه حاصلول. دا دې خبري دليل دی چي محرم ته له ګرمی څخه د ځان ساتلو لپاره سايه حاصلول صحيح او جائز دي. هغه که په بام سره سايه حاصله کړي. او که په غټي خېمې سره. ځکه که د غټي خېمې سايه حاصلول ممنوع واى، نو حضرت عثمان رضی الله عنه به هيڅکله په غټه خېمه کي کښېنستی نه واى.

وَلِانّه لا يمس الخ په دې لړ کي عقلي دليل دا دی چي جامې د انسان مخ او بدن مسه کوي. ليکن غټه خېمه له بدن څخه ليري او لوړه وي، نو دا د بام سره مشابه سوه. او په بام سره بالاتفاق سايه حاصلول صحيح دي. نو په داسي خېمې سره به هم سايه حاصلول صحيح وي.

د کعبې په پردو کي د سر پټولو حکم

وَلَوْ دَخَلَ تَحْتَ أَسْتَارِ الْكَعْبَةِ او که محرم د کعبې په پردو کي داخل سي (يعني په ننوځي) حَتّٰى غَطَّتْهُ تر دې چي پردې هغه پټ کړي اِنْ كَانَ لَا يُصِيبُ رَأْسَهُ وَلَا وَجْهَهُ نو که پردې د هغه د سر او د مخ سره نه لګېدلې فَلَا بَأْسَ بِهٖ لِأَنَّهُ اِسْتِظْلَالٌ نو په دې کي څه حرج نسته ځکه چي دا سايه حاصلول دي.

اللغات: ﴿أستار﴾ جمع د ستر ده: پرده، ﴿غطته﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: پټول.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو محرم د کعبې شريفي تر پردې لاندي سو، او په پرده کي پټ سو، نو د دې دوه صورتونه دي: (۱) که پر ده د هغه د مخ او د سر سره نه لګېدله نو په دې کي څه حرج نسته، ځکه چي دا سايه حاصلول سو، او په سايه حاصلولو کي څه حرج نسته، (۲) او که پرده د هغه د سر يا د مخ سره لګېدله نو مکروه دي، ځکه چي اوس دا د سر د پټولو سره مشابه سو، نو په داسي صورت کي محرم ته پکار ده چي له پردو څخه سملستي ليري سي.

د محرم لپاره د همياني (د پيسو د بټوې) تړلو حکم

وَلَا بَأْسَ بِاَنْ يَشُدَّ فِيْ وَسَطِهِ الْهِمْيَانَ او د محرم لپاره (په دې کي) څه باک نسته چي پر ملا هميانی وتړي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ الله: يُكْرَهُ اِذَا كَانَ فِيْهِ نَفَقَةُ غَيْرِهٖ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي که په دې کي د بل چا نفقه وي نو مکروه دي لِأَنَّهُ لَا ضَرُوْرَةَ ځکه چي د دې هيڅ ضرورت نسته وَلَنَا اَنَّهُ لَيْسَ فِيْ مَعْنَى لُبْسِ الْمَخِيْطِ او زموږ دليل دا دی چي هميانی تړل د ګنډل سوو جامو د اغوستلو په معنیٰ کي نه ده فَاسْتَوَتْ فِيْهِ الْحَالَتَانِ نو په هغې کي به دواړه حالتونه برابر وي.

اللغات: ﴿يشد﴾ د نصر مضارع ده: تړل، ﴿هميان﴾ هميانی، د پيسو بټوه، د پيسو خلته (تېلی).

تشريح: **مسئله:** دا ده چي د محرم لپاره هميانی، بټوه، يا خلته پر ملا تړل او په هغه کي د خپلي خرچې لپاره پيسې اېښول جائز دي، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي که محرم د خپلي نفقې او خرچې اېښولو لپاره هميانی او نور وتړي خو صحيح دي، ليکن که په دې کي د بل چا خرڅه اېږدي نو مکروه دي، ځکه چي هغه ته د بل چا د خرچې لپاره د هميانی تړلو هيڅ ضرورت نسته، او د محرم لپاره غيرِ ضروري کار کول مکروه دي.

ولنا الخ زمونږ دليل دا دی د محرم لپاره ګنډل سوي جامې اغوستل ممنوع دي، او هميانی او بټوه د ګنډل سوو جامو په معنی کي نه ده، لهذا کله چي د هغه په معنی کي نه ده، نو د هغه اغوستل به هم جائز وي، او په هغه کي به خپله نفقه او خرچه ايښوول هم صحيح وي او د نورو خرچه ايښوول به هم صحيح او جائز وي، ځکه چي دا يو ډول مرسته او تعاون دی، او قرآن په دې فرمان تعاونوا على البر والتقوى سره د داسي تعاون حکم کړی دی.

د محرم لپاره په خطمي ګل (خيرو ګل) او په صابون سره د سر پر يولو حکم

وَلَا يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَلَا لِحْيَتَهُ بِالْخِطْمِيِّ او محرم به خپل سر او ږيره په خطمي ګل سره نه پريولي لِأَنَّهُ نَوْعُ طِيبٍ ځکه چي دا يو ډول عطر (خوشبويي) ده وَلِأَنَّهُ يَقْتُلُ هَوَامَّ الرَّأْسِ او په دې وجه چي خطمي ګل د سر خزندې (يعني سپږې) وژني.

اللغات: ﴿خطمی﴾ خيرو ګل، توته کله، يو بوټی دی چي سور او سپين ګل لري او د صابون په توګه استعماليږي.

﴿هوام﴾ خزندې، سپږې.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي د محرم لپاره خو د لمبېدلو او غسل کولو اجازه سته، ليکن د هغه لپاره سَر يا ږيره په ګلِ خطمي، خوشبوداره صابون (يا شامپو) سره پرېولل جائز نه دي، ځکه چي ګلِ خطمي هم يو ډول خوشبويي ده، او د محرم لپاره خوشبويي استعمالول ممنوع دي، دويمه خبره دا ده چي ګلِ خطمي د سر سپږې مرداروي، حال دا چي د محرم لپاره يو ژوندی شی مړ کول او له منځه وړل حلال نه دي، نو په دې حواله سره هم د هغه لپاره ګلِ خطمي، صابون او نور استعمالول جائز نه دي.

محرم به تلبيه ډېره وايي

قَالَ: وَيُكْثِرُ مِنَ التَّلْبِيَةِ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ فرمايي: او محرم به تر لمونځونو وروسته تلبيه ډېره وايي وَكُلَّمَا عَلَا شَرَفًا أَوْ هَبَطَ وَادِيًا او هر کله چي لوړ ځای ته وخيږي يا لاندي ځای ته شوه سي أَوْ لَقِيَ رُكْبَانًا يا د سپرو خلکو سره يو ځای سي (نو تلبيه به وايي) وَبِالْأَسْحَارِ او د سهار په وخت (کي به هم تلبيه وايي) لِأَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا يُلَبُّونَ فِي هَذِهِ الْأَحْوَالِ ځکه چي د نبي ﷺ صحابه وو به په دې حالتونو کي تلبيه ويله وَالتَّلْبِيَةُ فِي الْإِحْرَامِ عَلَى مِثَالِ التَّكْبِيرِ فِي الصَّلَاةِ او په احرام کي تلبيه ويل په لمانځه کي د تکبير ويلو په ډول دي فَيُؤْتَى بِهَا عِنْدَ الْاِنْتِقَالِ مِنْ حَالٍ إِلَى حَالٍ نو (دلته به هم) له يوه حالت څخه بل حالت ته د نقل کېدلو په وخت کي تلبيه ويل کيږي.

اللغات: ﴿علا﴾ ختل، ﴿شرفًا﴾ لوړوالی، غونډۍ، لوړ ځای، ﴿هبط﴾ کښته کېدل، شوه کېدل، ﴿ركبان﴾ جمع د راکب ده: سپور، ﴿أسحار﴾ سحر ګاه، ګهيځ، سهار (يعني کله چي شپه آخري ته ورسيږي).

تشريح: **مسئله:** دا ده چي محرم دي تر لمونځونو وروسته تلبيه ډېره وايي، هغه که فرضي لمونځونه وي او که نفلي، قضائي وي او که وقتي، امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تر وقتي فرضي لمونځونو وروسته به تلبيه ويل کيږي، تر قضائي او نفلي لمونځونو وروسته به نه ويل کيږي.

وکیا الغم او کله چې لوړ ځای ته وخیږي، یا لاندې ځای ته کښته سي، یا له سپرو خلکو سره ملاقې سي. نو په دې حالتونو کې به هم تلبیه ویره وایي. او د سهار په وخت کې به هم تلبیه وپره وایي. دلیل دا دی چې صحابه وو به په دې حالتونو کې تلبیه ویره ویله. دویم دلیل دا دی چې په احرام کې د تلبیې مثال داسې دی لکه په لمانځه کې چې تکبیر دی، نو څرنګه چې په لمانځه کې له یو حال څخه د بل حال و طرف ته د منتقل کېدلو په وخت کې تکبیر ویل کیږي، همدارنګه به احرام کې هم تلبیه ویل کیږي.

محرم به په لوړ آواز سره تلبیه وایي

ویرفع صوته بالتلبیة او محرم به په تلبیې سره خپل آواز لوړوي(یعني محرم به تلبیه په زوره وایي) لِقَوْلِهِ عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: أَفْضَلُ الْحَجِّ الْعَجُّ وَالثَّجُّ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: "چې افضله حج آواز لوړول او وینه بیول دي" فَالْعَجُّ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالتَّلْبِيَةِ دعج معنیٰ ده: په تلبیه سره آواز لوړول وَالثَّجُّ إِسَالَةُ الدَّمِ او د ثج معنیٰ ده: وینه بیول.

اللغات: ﴿عج﴾ په لوړ آواز سره تلبیه ویل. ﴿ثج﴾ وینه بیول، قرباني کول.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې محرم به په لوړ آواز سره تلبیه وایي، ځکه چې په لوړ آواز سره تلبیه ویل د حج د غوره والي او د افضل والي ذریعه ده، لکه څرنګه چې په حدیث پاک کې راغلي: أفضل الحج العج والثج (یعني افضله حج هغه دی چې په هغه کې عج او ثج وي). صاحب د هدایې فرمایي چې له عج څخه مراد په لوړ آواز سره تلبیه ویل دي، او له ثج څخه مراد د هدي څاروی قربانول او وینه بیول دي، لهذا هر حاجي ته پکار ده چې د تلبیې په وخت کې د آواز د لوړوالي هم خاص خیال وساتي.

مکې ته د داخلېدو اولنی ادب

قَالَ: فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ ابْتَدَأَ بِالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فرمایي: او کله چې محرم مکې ته داخل سي نو له مسجدِ حرام څخه دې شروع وکړي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● لَمَّا دَخَلَ مَكَّةَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ ځکه روایت سوی دی چې کله نبي ﷺ مکې ته داخل سو نو مسجدِ حرام ته ولاړی وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ زِيَارَةُ الْبَيْتِ او ځکه چې مقصود د کعبې زیارت دی وَهُوَ فِيهِ او کعبه په مسجدِ حرام کې ده وَلَا يَضُرُّهُ لَيْلًا دَخَلَهَا أَوْ نَهَارًا او محرم ته (دا خبره) ضرر نه رسوي که د شپې مکې ته داخل سي او که د ورځې لِأَنَّهُ دُخُولُ بَلْدَةٍ ځکه چې دا په ښار کې داخلېدل دي فَلَا يَخْتَصُّ بِأَحَدِهِمَا نو خاص به نه وي په یوه پوري له شپې او ورځې څخه.

اللغات: ﴿لا یضر﴾ د نصر مضارع نفي صیغه ده: ضرر نه رسوي، مضر نه دي.

تشریح: محرم چې کله مکې مکرمې ته داخل سي، نو د هغه لپاره تر ټولو مخکې هدایت دا دی چې سیده دې مسجد حرام ته ولاړ سي، او د بیتُ الله (کعبې شریفې) دیدار دې وکړي، ځکه چې نبي ﷺ هم د حجة الوداع پر موقع مکې ته په داخلېدلو سره (اول) مسجدِ حرام ته ولاړی، او هلته یې اودس وکړی، د بیت الله طواف یې وکړی، نو امتیانو ته هم پکار

● تخریج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في فضل التلبية والنحر، حديث رقم: ۸۲۸.

دي چې د نبوي طريقې اقتداء وکړي، او په مسجد حرام سره شروع وکړي. دويمه خبره دا ده چې د سفر مقصد د بيت الله زيارت او د هغې ديدار دی، او ځرنګه چې بيت الله په مسجد حرام کې واقع ده، نو په دې وجه هم حاجې ته تر ټولو مخکې مسجدِ حرام ته مخ کول پکار دي؛ او له بابُ السلام څخه داخلېدل مستحب او غوره دي، ځکه چې نبي ﷺ له دې دروازې څخه مسجدِ حرام ته داخل سوی وو.

ولا يضره الخ د دې حاصل دا دی چې محرم هر وخت مکې مکرمې ته داخلېدی سي، هغه که شپه وي که ورځ وي، ځکه چې دا په ښار کې داخلېدل دي، او ښار ته داخلېدل د ورځې يا د شپې سره خاص نه دي، نو مکې ته به داخلېدل هم د شپې يا ورځې سره خاص نه وي، او هغه روايت کوم چې به ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د شپې په وخت کې له داخلېدلو څخه منع کوله، نو هغه به يې د سنت والي په وجه نه کوله، بلکې په دې وجه به يې منع کوله چې حاجيان له غلو او ډاکه مارانو څخه خوندي سي.

فايده: علماؤ ليکلي دي چې مسجدِ حرام ته د اول ځل راتللو په وخت کې هر سړي ته پکار ده چې خپل ځان، قريبانو او متعلقينو ته دعاء وکړي، ځکه پر کعبې چې د نظر لګېدلو په وخت کې کومه دعاء وغوښتل سي هغه عموماً قبلېږي.

د کعبې د ليدلو په وخت کې به څه وايي؟

وَإِذَا عَايَنَ الْبَيْتَ كَبَّرَ وَهَلَّلَ او محرم چې کله کعبه وويني نو تکبير او لا إله إلا الله دې ووايي وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا يَقُولُ: إِذَا لَقِيَ الْبَيْتَ بِاسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ او ابن عمر ﷺ چې به کله کعبه وليدله نو (دا) به يې ويل: بسم الله والله أكبر وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ الله لَمْ يُعَيِّنْ فِي الْأَصْلِ لِمَشَاهِدِ الْحَجِّ شَيْئًا مِنَ الدَّعَوَاتِ او امام محمد رَحِمَهُ الله د حج د خاصو (ځانګړو) ځايونو لپاره په مبسوط کې هيڅ يوه (ځانګړې) دعاء متعينه کړې نه ده لِأَنَّ التَّوْقِيتَ يُذْهِبُ بِالرِّقَّةِ ځکه چې د دعاء متعينول (يعني متعينه دعاء) د زړه نرمي ختموي وَإِنْ تَبَرَّكَ بِالْمَنْقُولِ مِنْهَا فَحَسَنٌ او که محرم په رانقل سوو دعاؤ سره تبرک حاصل کړي نو ډېره ښه ده.

اللغات: ﴿عاين﴾ د مفاعلې ماضي ده: ليدل، مخته راتلل. ﴿هلّل﴾ کلمهٔ طيبه ويل. ﴿مشاهد﴾ له شَهِدَ څخه مشتق دی: هغه خاص او مهم شی يا ځای کوم چې يې خلک ليدل غواړي (يعني ځانګړي ځايونه)، په حج کې ځنې مراد کعبه شريفه، حجرِ أسود، عرفات، مزدلفه، منیٰ او داسې نور دي.

تشريح: مسئله: فرمايي د محرم نظر چې کله پر بيتُ الله (کعبې شريفې) پرېوځي نو سملستي دې الله أكبر او لا إله إلا الله ووايي، او په خپل ظاهر او باطن سره دې د الله ﷻ د کور د عظمت او د هغه د سپېڅلتيا ځرګندونه وکړي، او د دې وخت سره مناسبه دعاء دې وکړي، ځکه چې د بيت الله د ليدلو په وخت کې دعاء قبلېږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله له سعيد بن جبير څخه او هغه له ابن جريج څخه دا دعاء رانقل کړې ده: أن النبي ﷺ كان إذا رأى البيت رفع يديه وقال: اللهم زد هذا البيت تشريفًا و تعظيمًا و تكريمًا ومهابة و زد من شرفه وكرمه ممن حجّه أو اعتمر تشريفًا و تعظيمًا و تكريمًا وبرًّا، او له عطاء څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ کعبه وليدله، نو و به يې فرمايل: أعوذ برب البيت من الكفر

والفقر وضيق الصدر وعذاب القبر، او پر تکبير او تهليل باندي دليل د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دی چي هغه به كله د بيت الله زيارت کوی نو بسم الله والله أكبر به يې وايي.

ومحمد لم يعين الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د حج د مشاهدو او خاصو ځايونو لپاره له امام محمد رحمه الله څخه يوه خاصه دعاء رانقل سوې نه ده (بلکې هلته دا اشاره ترلاسه کيږي چي هره دعاء كه يې خوښه وي، هغه دي ووايي). ځکه که يوه دعاء متعينه او خاصه کړی سي نو په دې سره د زړه نرمي ختميږي (ځکه چي زړه به په هغه کې مصروفه وي). حال دا چي د حج د مشاهدو د ليدلني په وخت کي د زړه نرمي مطلوب ده (يعني پکار دا ده چي د حج د خاصو ځايونو د ليدلني په وخت کې به زړه کې نرمي پيدا سي، لېکن که يو څوک په يوه ځانګړې دعاء کې مشغوله وي، نو نرمي خو پرېږده، د حج مشاهد به لا څنې هېر سي). لېکن که له رانقل سوو دعاګانو څخه (کوم چي اوس ذکر سوې) يوه دعاء تبرکاً وويل سي، نو دا د محرم لپاره غوره دي، او که د دې سره سره په زړه کي نرمي هم پيدا سي، نو نور هم غوره او افضله دي.

د حجرِ اسود د مچولو او استلام حکم

قَالَ: ثُمَّ ابْتَدَأَ بِالْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فرمايي: بيا دي له حجرِ اسود څخه شروع وکړي فَاسْتَقْبَلَهُ وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ نو حجر اسود ته دي مخامخ سي او تکبير او تهليل دي ووايي (يعني الله أكبر او لا إله إلا الله دي ووايي) لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● دَخَلَ الْمَسْجِدَ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ مسجدِ حرام ته داخل سو فَابْتَدَأَ بِالْحَجَرِ فَاسْتَقْبَلَهُ وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ نو له حجر اسود څخه يې شروع وکړه او حجر اسود ته مخامخ سو او تکبير او تهليل يې ووايي قَالَ: وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ امام قدوري رحمه الله فرمايي: او خپل دواړه لاسونه به پورته کړي لِقَوْلِهِ ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِي إِلَّا فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "لاسونه به نه پورته کيږي مګر په اوو (۷) ځايونو کي" وَذَكَرَ مِنْ جُمْلَتِهَا اسْتِلَامَ الْحَجَرِ چي د هغو له مجموعې څخه يې استلامِ حجر (هم) ذکر کړی وَاسْتَلَمَهُ إِنِ اسْتَطَاعَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُؤْذِيَ مُسْلِمًا او حجر اسود دي مچ کړي که ممکنه وه بغير له دې څخه چي يو مسلمان ته تکليف ورکړي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَبَّلَ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ وَوَضَعَ شَفَتَيْهِ عَلَيْهِ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ حجر اسود مچ کړه او خپل دواړه شونډان يې پر هغې کېښول وَقَالَ لِعُمَرَ ● رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: إِنَّكَ رَجُلٌ أَيِّدٌ تُؤْذِي الضَّعِيفَ او حضرت عمر ﷺ ته يې وفرمايل: چي ته زورور (طاقتور) سړی يې کمزورو خلکو ته به تکليف ورکړې فَلَا تُزَاحِمِ النَّاسَ عَلَى الْحَجَرِ نو پر حجر اسود د خلکو لپاره خنډ (او مانع) مه جوړيږه وَلَكِنْ إِنْ وَجَدْتَ فُرْجَةً فَاسْتَلِمْهُ لېکن که تا

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب إستلام الركن بالمحجن، حديث رقم: ۱۶۰۷.

● تخريج: قد مرّ تخريجه.

● أخرجه ابن ماجه في كتاب المناسك، باب إستلام الحجر، حديث رقم: ۲۹۲۵.

● أخرجه البيهقي في سنن الكبرٰى في كتاب الحج، باب الإستلام في الزحام، حديث رقم: ۹۲۶۱.

پراخي پيدا کړه نو مچ يې کړا وَإِلَّا فَاسْتَقْبِلْهُ وَهَلِّلْ وَكَبِّرْ کنې هغې ته مخامخ سه تهليل او تکبير ووايه وَإِلَّا الْإِسْتِلَامُ سُنَّةٌ وَالتَّحَرُّزُ عَنْ أَذَى الْمُسْلِمِ وَاجِبٌ او په دې وجه (هم) چې (د حجر اسود) مچول سنت دي او د مسلمان له تکليف څخه ځان ساتل واجب دي.

اللغات: ﴿استقبل﴾ مخامخ کېدل(استقبال کول)، ﴿مواطن﴾ ځايونه. ﴿استلام﴾ مچول، مچه اخيستل. ﴿كفتين﴾ دواړه شونډان. ﴿فرجة﴾ پراخي، ګنجايش. ﴿تحرز﴾ پرهيز کول، ځان ساتل.

تشريح: په دې عبارت کې د محرم لپاره هغه ارکان او افعال بيانيږي چې هغه د حج په شروع کې تر سره کيږي. د هغو ترتيب او تفصيل دا دی چې په بيت الله کې د داخلېدونکي سړي لپاره اول کار دا دی چې طواف دې وکړي. او د طواف شروع دې له حجر اسود څخه وکړي. او څرنګه چې د طواف اراده وکړي، نو د حجر اسود استلام يا استقبال. تکبير او تهليل دې وکړي. او دواړه لاسونه دې تر اوږو پورې پورته کړي. ځکه نبي ﷺ هم دا ډول خپل طواف شروع کړی وو. او هغه اووه ځايونه چې هلته نبي ﷺ د لاسونو پورته کولو حکم کړی دی. په هغو کې يو ځای د حجر اسود د استلام پر وخت لاسونه پورته کول دي، نو د استلامِ حجر په وخت کې به هم محرم لاسونه پورته کوي.

واستلمه الخ فرمايي اصل حکم خو دا دی چې که ګڼه ګوڼه نه وي. او يو چا ته له تکليف ورکولو څخه بغير د حجر اسود مچول ممکن وي، نو محرم ته پکار دي چې په خوله سره يې مچ کړي. لېکن که ګڼه ګوڼه وي، يا بل چا ته له تکليف ورکولو څخه بغير مچول ممکن نه وي، نو په دې صورت کې د استلام حکم دی. د استلام معنیٰ ده په لاس يا ورغوي سره د حجر اسود مسه کول. او د حجر اسود د مچولو په باره کې له نبي ﷺ څخه رانقل سوي دي چې نبي ﷺ حجر اسود مچ کړه. يعني په خپله خوله مبارکه يې مچ کړه. او خپل دواړه مبارک شونډان يې پر کېښول. همدارنګه دا روايت هم سوی دی چې يو وخت نبي ﷺ حضرت عمر ؓ ته داسي وفرمايل: "چې ته ډېر غښتلی او طاقتور سړی يې، نو د حجر اسود د مچولو په وخت کې د خلګو لپاره خند مه جوړېږه. کنې دوی ته به تکليف ورکړې. او د سنت د اداء کولو لپاره به واجب پرېږدې". ځکه چې استلام سنت دی. لېکن مسلمان ته تکليف نه ورکول واجب دي، نو د سنت د اداء کولو لپاره به واجب نه پرېښوول کيږي. او بيا يې حضرت عمر ؓ ته وفرمايل: "چې که د تکليف رسولو خطره نه وي، نو بيا يې په خوله سره مچوه. او که دا خطره وه نو بيا استقبال کوه. او تکبير و تهليل وايه".

په يو شي سره د حجر اسود د مسه کولو مسئله

قَالَ: وَإِنْ أَمْكَنَهُ أَنْ يَمَسَّ الْحَجَرَ بِشَيْءٍ فِي يَدِهِ فرمايي: او که ممکنه وي چې حجرِ اسود په داسي شي سره مسه کړي چې هغه د مُحرم په لاس کي وي كَالْعُرْجُونِ وَغَيْرِهِ لکه ښاخ (يا لرګی) او داسي نور ثُمَّ قَبَّلَ ذٰلِكَ بيا يې مچ کړي (يعني که ممکنه وي چې په ښاخ يا بل شي سره حجر اسود مسه کړي او بيا دا ښاخ يا بل شی مچ کړي) فَعَلَهُ نو داسي دي وکړي لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: طَافَ عَلَى رَاحِلَتِهِ وَاسْتَلَمَ الْأَرْكَانَ بِمِحْجَنِهِ ځکه روايت سوی دی: چې نبي ﷺ پر خپل سپرلي طواف وکړی او په خپله لکړه (امسا) يې د ارکانو استلام وکړی (يعني حجر اسود او رکن يماني يې په لکړي سره مسه

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب إستلام الركن بالمحجن، حديث رقم: ۱۶۰۷، ومسلم في كتاب الحج، حديث رقم: ۲۵۳.

کرل) وَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ او که محرم په دې شيانو کي پر هيڅ شي قدرت نه درلودی اسْتَقْبَلَهُ وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ نو حجرِ اسود ته دي مخامخ سي او تکبير او تهليل دي ووايي وَحَمِدَ اللهَ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د الله حمد دي بيان کړي او پر نبي ﷺ دي درود ووايي.

اللغات: ﴿عرجون﴾ ښاخ، نرۍ لرګی، په اصل کي د کجورو ښاخ ته ويل کيږي، يعني هغه ښاخ چي د کجورو ېنډوري په راځړيږي، دا ښاخ چي کله وچ سي نو لږ غوندي کوږ سي، ﴿محجن﴾ امسا (لکړه کوم چي يې ضعيفه خلک په لاس کي نيسي)، کوږ سری لرګی، ﴿أركان﴾ جمع د رکن ده: د بيتُ الله په څلور سره کونجانو کي څلور أرکان دي، چي له هغو څخه حجر اسود او رکنِ يماني مجول سنت دي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی د ګڼي ګوڼي (رش) په وجه حجر اسود مچ او مسه نه کړی سي، نو هغه ته پکار ده چي يو لرګی دي راواخلي، او په هغه سره دي حجر اسود مسه کړي، او بيا دي هغه لرګی مچ کړي، څکه د نبي ﷺ په باره کي دا رانقل سوي دي چي نبي ﷺ پر خپل سپرلي طواف وکړی، او په خپله لکړه (امسا) يې د ارکانو استلام وکړی (او په إستلم الأركان کي يې أركان څکه جمع ذکر کړل چي نبي ﷺ په څو شوطونو کي دا استلام وکړی).

وإن لم يستطع الخ فرمايي که محرم پر دې هم قادره نه وو په يو لرګي يا لکړي سره استلام وکړي، نو د حجر اسود مخ ته دي ودريږي او الله أكبر او لا إله إلا الله دي ووايي او د الله حمد دي بيان کړي، او پر رسول الله ﷺ دي درود ووايي.

د حجر اسود د مچولو پنځه[5] طريقې

په پورتني عبارتونو کي د حجر اسود د مچولو تقريبًا درې طريقې ذکر سوې، لېکن صاحب د اثمار الهدايه پر دې موقع پنځه طريقې د دلائلو سره بيان کړي دي، هغه دا دي: [۱] اوله طريقه دا ده چي که ګڼه ګوڼه نه وي، نو حجر اسود دي مچ کړي. [۲] او که ګڼه ګوڼه وي نو په لاس سره دي يې مسه کړي، او بيا دي لاس مچ کړي. [۳] او که دا هم نه وکړای سي، نو په يو لرګي يا لکړي سره دي يې مسه کړي او بيا دي لرګی يا لکړه مچ کړي. [۴] او که په لکړي او لرګي سره يې هم مسه نه کړای سي، نو په لکړي يا لرګي سره دي د حجر اسود و طرف ته اشاره وکړي، بيا دي هغه مچ کړي. [۵] او که لکړه يا لرګی هم نه وي، نو په لاس دي د حجر اسود و طرف ته له ليري څخه اشاره وکړي او لاس دي مچ کړي، تکبير او تهليل دي ووايي، او پر نبي ﷺ دي درود ووايي، او طواف دي شروع کړي.

د طواف او اضطباع طريقه

قَالَ: ثُمَّ أَخَذَ عَنْ يَمِينِهِ مِمَّا يَلِي الْبَابَ فرمايي: بيا دي (طواف) شروع کړي له راسته طرف څخه يعني له هغه طرف څخه چي (د کعبې) دروازې ته نژدې دی وَقَدِ اضْطَبَعَ رِدَاءَهُ په داسي حال کي چي د خپل څادر (پټو) اضطباع به يې کړې وي فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو پر کعبه به اووه (۷) دوره (شوطه) را وګرځيږي لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: اِسْتَلَمَ الْحَجَرَ څکه روايت سوی دی: چي نبي ﷺ د حجر اسود استلام وکړی ثُمَّ أَخَذَ عَنْ يَمِينِهِ مِمَّا يَلِي

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم فى كتاب الحج، باب إستلام الحجر، حديث رقم: ۲۵۴.

الْبَابَ بیا یې له خپل راسته طرفه څخه یعني کوم چي دروازې ته نژدې دی (طواف) شروع کړی فَطَافَ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو اووه (۷) دوره طواف یې وکړی وَالْإِضْطِبَاعُ أَنْ يَجْعَلَ رِدَاءَهُ تَحْتَ إِبْطِهِ الْأَيْمَنِ او اضطباع دا ده چي محرم خپل پټو له خپل راسته بغل څخه راوباسي وَيُلْقِيَهُ عَلَى كَتِفِهِ الْأَيْسَرِ او پر خپله چپه اوږه یې واچوي وَهُوَ سُنَّةٌ وَقَدْ نُقِلَ ذَلِكَ عَنْ ● رَسُولِ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او اضطباع سنت ده او له رسول الله ﷺ څخه رانقل سوی ده.

اللغات: ﴿إبط﴾ بغل. ﴿يلقي﴾ د افعال مضارع ده: اچول.

تشریح: مسئله: دا ده چي محرم کله د طواف کولو اراده وکړي، نو له راسته طرفه دي یې شروع کړي، یعني د حجر اسود د راست طرف کومه حصه چي د بیت الله سره څیرمه او نژدې ده، له هغه حصې څخه دي طواف شروع کړي، ځکه له نبي ﷺ څخه همداسي رانقل سوي دي، او همدا طریقه سنت ده. او تر طواف مخکي اضطباع کول هم سنت دي. اضطباع دا ده چي محرم به خپل څادر (پټو) له راسته بغل څخه راوباسي او پر چپه اوږه به یې واچوي، ځکه چي همداسي نبي ﷺ کړي (و. او پر کعبې به اووه (۷) واره را وګرځي. یو وار راګرځېدلو ته "یو شوط" وايي.

په طواف کي د حطیم شاملولو حکم

قَالَ: وَيَجْعَلُ طَوَافَهُ مِنْ وَرَاءِ الْحَطِيمِ فرمايي: او محرم به خپل طواف له حطیم څخه دباندي کوي (یعني د حطیم شاته به یې کوي) وَهُوَ اسْمٌ لِمَوْضِعٍ فِيهِ الْمِيزَابُ او حطیم د یو ځای نوم دی چي په هغه کي میزابِ رحمت (د رحمت نلوه) واقع ده سُمِّيَ بِهِ لِأَنَّهُ حُطِمَ مِنَ الْبَيْتِ أَيْ كُسِرَ دې ځای ته ځکه حطیم ویل کیږي چي دا حصه له کعبې څخه حطم یعني ماته سوې (او جلا سوې) ده وَسُمِّيَ حِجْرًا لِأَنَّهُ حُجِرَ مِنْهُ أَيْ مُنِعَ او حطیم ته حِجر په دې وجه ویل کیږي چي دا حصه له کعبې څخه محجوره یعني منع سوې (او بنده سوې) ده وَهُوَ مِنَ الْبَيْتِ لیکن حطیم له کعبې څخه دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فِي حَدِيثِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا: فَإِنَّ الْحَطِيمَ مِنَ الْبَيْتِ ځکه د حضرت عائشې رضي الله عنها په حدیث کي دي چي نبي ﷺ وفرمایل: بېشکه حطیم له کعبې څخه دی فَلِهَذَا يُجْعَلُ الطَّوَافُ مِنْ وَرَائِهِ نو ځکه به طواف له حطیم څخه دباندي کیږي حَتَّى لَوْ دَخَلَ الْفُرْجَةَ الَّتِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ لَا يَجُوزُ تر دې که طواف کونکی په هغه پراخه حصه کي داخل سو کوم چي د حطیم او د کعبې په مینځ کي ده نو جائز نه دي إِلَّا أَنَّهُ إِذَا اسْتَقْبَلَ الْحَطِيمَ وَحْدَهُ خو که لمونځ ګزاره فقط حطیم ته مخامخ سي لَا يُجْزِئُهُ الصَّلَاةُ نو د هغه لمونځ (هم) نه جائز کیږي لِأَنَّ فَرْضِيَّةَ التَّوَجُّهِ ثَبَتَتْ بِنَصِّ الْكِتَابِ ځکه (قبلې ته) د مخامخ کېدلو فرضیت د قرآن په نص سره ثابت دی فَلَا يَتَأَدَّى بِمَا ثَبَتَ بِخَبَرِ الْوَاحِدِ احْتِيَاطًا نو احتیاطًا به پر هغه طرف لمونځ نه اداء کیږي چي د هغه ثبوت په خبرِ واحد سره سوی وي وَالْاحْتِيَاطُ فِي الطَّوَافِ أَنْ يَكُونَ وَرَاءَهُ او په طواف کي احتیاط دا دی چي تر حطیم شاته (یعني له حطیم څخه دباندي) وي.

● أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسك، باب الإضطباع في الطواف، حديث رقم: ۱۸۸۳.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب جدر الكعبة وبابها، حديث رقم: ۴۰۵، وبخاري في كتاب الحج، باب رقم: ۴۲.

اللغات: ﴿میزاب﴾ ناوه (پرناوه).

تشریح: په دې عبارت کې دا خبره کيږي چې طواف کونکې به د حطیم شاته یعنې له حطیم څخه دباندې طواف کوي د دې لپاره چې د حطیم طواف هم وسي، دلیل دا دی چې حطیم هم د بیتُ الله (کعبې شریفې) حصه ده. قریشو چې کله کعبه جوړوله نو د خرڅ د کمښت په وجه یې دا حصه پرېښووله. لهذا دا حصه هم له کعبې څخه ده. لکه څرنګه چې دا په حدیث سره هم ثابت دي، نو ځکه به له دې حصې څخه دباندې طواف کوي. په یو اثر کې راځي: عن عطاء في رجل طاف فكان من طوافه دخولا في الحجر. قال لا يعتد بما كان من دخول الحجر له دې اثر څخه معلومه سوه چې حطیم ته حجر هم ویل کيږي، او په حطیم کې دننه طواف هم صحیح نه دی.

وهو اسم لموضع الخ حطیم هغه ځای ته ویل کيږي چې په هغه کې د کعبې شریفې د بام اوبه راتویيږي، او دې ته ځکه حطیم ویل کيږي چې د حطم معنیٰ ده: ماتېدل، او مشرکینو د خرڅ د کمښت په وجه دا حصه له کعبې څخه راماته او جلا کړه، او د حطیم دویم نوم حجر هم دی، او حِجر ځکه ورته ویل کيږي چې د حِجر معنیٰ ده: منع کړی سوی، لیرې سوی، او حطیم هم له کعبې شریفې څخه د خرڅ د کمښت په وجه لیرې سو، او په کعبه شریفه کې داخل نه سو، او دریم نوم یې جدر هم دی: یعنې کوچنی دېوال.

وهو من البيت الخ حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې حطیم له کعبې څخه دی، لهذا تر حطیم به دباندې طواف کول ضروري وي، نو که یو څوک د کعبې او حطیم په مینځ کې د طواف لپاره تېر سي، نو د هغه طواف نه صحیح کيږي، ځکه چې هغه د کعبې د یوې حصې طواف پرېښووی.

إلا أنه إذا استقبل الخ دا عبارت د یو اشکال جواب دی، اشکال دا دی چې کله حطیم د کعبې یوه حصه ده، نو فقط حطیم ته په مخ کولو سره لمونځ صحیح کېدل پکار دي، حال دا چې فقط حطیم ته په مخ کولو سره لمونځ نه جائز کيږي، جواب دا دی چې د لمانځه په حالت کې د کعبې و طرف ته د مخ کولو فرضیت د کتابُ الله په دې آیت فول وجوهكم شطره څخه ثابت دی، او دا خبره په خبرِ واحد سره ثابته ده چې حطیم د بیت الله حصه ده، نو د احتیاط تقاضا دا ده چې کوم شی په قطعي نص سره ثابت وي، هغه به پر خبرِ واحد په عمل کولو سره نه اداء کيږي. او په طواف کې احتیاط په دې کې دی چې له حطیم څخه دباندې طواف وکړي، د دې لپاره چې حطیم هم په طواف کې شامل سي او پر حدیث هم عمل راسي، او هیڅ شبهه پاتې نه سي.

په اولو دریو دورو (شوطونو) کې د رَمَلْ حکم

قَالَ: وَيَرْمِلُ فِي الثَّلَاثِ الْأُوَلِ مِنَ الْأَشْوَاطِ فرمايي: چې طواف کونکې به په اولو دریو دورو کې رمل کوي وَالرَّمَلُ أَنْ يَهُزَّ فِي مِشْيَتِهِ الْكَتِفَيْنِ او رَمَل دا دی چې په خپل مزل کې به دواړې اوږې (داسې) ښوروي كَالْمُبَارِزِ يَتَبَخْتَرُ بَيْنَ الصَّفَّيْنِ لکه جنګ کونکی چې د دواړو صفونو په مینځ کې په فخر (او ناز) روان وي وَذٰلِكَ مَعَ الْإِضْطِبَاعِ او دا به د اضطباع سره کوي وَكَانَ سَبَبُهُ إِظْهَارَ الْجَلَدِ لِلْمُشْرِكِيْنَ او د رَمَل سبب مشرکینو ته د طاقت (او مړانې) ښکاره کول وو

حِيْنَ قَالُوْا: أَضْنَاهُمْ حُمّٰى يَثْرِبَ كله چې هغوى دا وويل: دا مسلمانان د مدينې تبې كمزوري كړي دي ثُمَّ بَقِيَ الْحُكْمُ بَعْدَ زَوَالِ السَّبَبِ فِيْ زَمَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَبَعْدَهُ بيا حكم د سبب تر زائلېدلو وروسته پاتې سو د نبي ﷺ په زمانه كي(هم) او تر هغه وروسته (هم).

اللغات: ﴿يرمل﴾ په خيال او غرور سره تک كول. ﴿أشواط﴾ جمع د شوط ده: پر كعبې شريفې يو ځل راګرځېدلو ته يو شوط ويل كيږي. ﴿يهز﴾ د نصر مضارع ده: حركت وركول، ښوررول. ﴿كتف﴾ اوږه. ﴿مبارز﴾ پلوان، جنګ كونكى، جنګ ته رابلونكى. ﴿يبختر﴾ د تَفَعُّلْ د باب مضارع ده: په ناز او فخر سره تلل. ﴿جلد﴾ طاقت، قوت. ﴿أضناهم﴾ د افعال ماضي ده: ناتوانه او كمزوري كول. ﴿حمّى﴾ تبه. ﴿يثرب﴾ مدينه منوره.

تشريح: د تک او رفتار په وخت كي د مېړني جنګيالي په ډول دواړه لاسونه لېري ساتلو او سينه راكښلو ته رمل ويل كيږي، او د طواف په اولو دريو دورونو(شوطونو) كي رمل كول سنت دي؛ د رمل د مشروعيت سبب دا وو چي كله مسلمانان د صلح حديبيې په دويم كال مكې ته داخل سول، او مشركينو تر دريو ورځو پوري مكه مباركه خالي پرېښووله، غروته ولاړل، نو نبي ﷺ د صحابه وو سره د كعبې طواف وكړى، د طواف په دواران كي مشركينو په بعضي مسلمانانو ملنډي ووهلې او دا يې وويل چي: أضناهم حمّى يثرب، (يعني د مدينې تبې دوى ناتوانه او كمزوري كړي دي)، كله چي دا خبره نبي ﷺ ته ورسېدله، نو نبي ﷺ د ايماني قوت د ښرګندولو په غرض رمل شروع كړى، نو د نبي ﷺ په ليدلو سره نورو صحابه وو هم رمل شروع كړى، او د دې فايده دا سوه چي د مشركينو له زړونو څخه د مسلمانانو د كمزورۍ او ضعف احساس ختم سو، تر فتح مكه وروسته كه څه هم د رمل سبب ختم سو، لېكن بيا نبي ﷺ د حجة الوداع پر موقع هم رمل وكړى، او تر نبي ﷺ وروسته د صحابه وو په زمانه كي هم دا حكم او عمل جاري وو، لهذا تر قيامته پوري د طواف كونكو په حق كي دا سنت عمل وګرځول سو.

په آخري دورونو كي د طواف د حالت حكم

قَالَ: وَيَمْشِيْ فِي الْبَاقِيْ عَلٰى هَيْئَتِهِ فرمايي: او طواف كونكى به په پاته (څلورو) دورونو كي د خپل حالت(او عادت) مطابق تګ كوي عَلٰى ذٰلِكَ اتَّفَقَ رُوَاةُ● نُسُكِ رَسُوْلِ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ هم پر دې اتفاق كړى دى د نبي ﷺ د حج د افعالو روايت كونكو وَالرَّمَلُ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ او رمل كول به له حجر اسود څخه تر حجر اسود پوري وي هُوَ الْمَنْقُوْلُ مِنْ رَمَلِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ همدا د نبي ﷺ د رمل په باره كي رانقل سوي دي.

تشريح: عبارت خو بالكل ښكاره دى چي رمل به صرف په اولو دريو دورونو كي كيږي، او په پاته څلورو دورونو كي به طواف كونكى د خپل عام حالت او عادت مطابق په سكون سره تګ كوي، ځكه څومره صحابه وو چي د نبي ﷺ د حج افعال بيان كړي دي، هغو ټولو همداسي ذكر كړي دي، چي رمل به صرف په اولو دريو دورونو كي كيږي، او دا رمل به له حجر اسود څخه شروع كيږي او پر حجر اسود به ختميږي، ځكه چي له نبي ﷺ څخه هم من الحجر إلى الحجر رمل رانقل سوى دى، نو اُمت به هم د دغه مطابق عمل كوي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب ما جاء في السعي، حديث رقم: ۱۶۴۴، ومسلم في كتاب الحج، باب إستحباب الرمل في الطواف، حديث رقم: ۲۳۲.

که په رمل کې سختي او ګڼه ګوڼه وي نو څه حکم دی؟

قَالَ: إِنْ زَحَمَهُ النَّاسُ فِي الرَّمَلِ او که خلک پر محرم په رمل کولو کې خنډ واچوي (يعني ګڼه ګوڼه او رش وي او محرم رمل نه سي کولای) قَامَ نو و دې دریږي (يعني ولاړ دې اووسي) فَإِذَا وَجَدَ مَسْلَكًا رَمَلَ او کله چې (هم) لاره پیدا کړي نو رمل دې وکړي لِأَنَّهُ لَا بَدَلَ لَهُ ځکه چې د رمل لپاره (هیڅ) بدل نسته فَيَقِفُ حَتَّى يُقِيْمَهُ عَلَى وَجْهِ السُّنَّةِ نو دریږي به تر دې چې د سنت مطابق رمل اداء کړي بِخِلَافِ الْإِسْتِلَامِ لِأَنَّ الْإِسْتِقْبَالَ بَدَلٌ لَهُ په خلاف د استلام ځکه چې استقبال (مخامخ کېدل) د هغه بدل دی.

اللغات: ﴿زحم﴾ ګڼه ګوڼه (رش) جوړول، خنډ اچول. ﴿مسلك﴾ د تګ ځای، لاره.

تشریح: مخکې ذکر سوه چې په اولو دریو دورونو کې به رمل کیږي، نو که د رش او د خلکو د ډېربښت په وجه رمل کول ممکن نه وو، نو و دې دریږي، او بغیر له رمله دې طواف نه کوي، کله چې لږ پراخي ووینې او پوه سي چې رمل کولای سي، نو رمل دې وکړي، دلیل دا دی چې د رمل هیڅ بدل نسته، نو که په اولو دریو دورونو کې رمل کول ممکن نه وو، نو په ولاړه به انتظار کوي، چې د سنت مطابق طواف اداء کړي، د دې په خلاف د حجر اسود استلام دی، نو که استلام ستونزمن او ناممکن سو، نو په ولاړه به انتظار نه کوي، بلکې استقبال به کوي یعنې حجر اسود ته به مخ کوي، ځکه چې د استلام بدل سته، او هغه استقبال دی.

په هر دور (شوط) کې د حجر اسود د مچولو حکم

قَالَ: وَيَسْتَلِمُ الْحَجَرَ كُلَّمَا مَرَّ بِهِ فرمايي: او مچوي به حجر اسود کله چې هم ور سره تېر سي إِنِ اسْتَطَاعَ په دې شرط چې طاقت يې لري لِأَنَّ أَشْوَاطَ الطَّوَافِ كَرَكَعَاتِ الصَّلَاةِ ځکه چې د طواف دورونه د لمانځه د رکعتونو په شان دي فَكَمَا يَفْتَتِحُ كُلَّ رَكْعَةٍ بِالتَّكْبِيْرِ نو څرنګه چې د هر رکعت شروع په تکبیر سره کوي يَفْتَتِحُ كُلَّ شَوْطٍ بِاسْتِلَامِ الْحَجَرِ همداسې به د هر دَوْر شروع د حجر اسود په استلام (مچولو) سره کوي وَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْإِسْتِلَامَ او که يې د استلام طاقت نه درلودی اِسْتَقْبَلَ وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ عَلَى مَا ذَكَرْنَا نو حجرِ اسود ته دې مخامخ سي تکبیر او تهلیل دې ووايي لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ الْيَمَانِيَّ او د رکن یماني استلام به (هم) کوي وَهُوَ حَسَنٌ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ ❶ او داسې کول د ظاهر روایت مطابق مستحب دي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ سُنَّةٌ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې داسې کول سنت دي وَلَا يَسْتَلِمُ غَيْرَهُمَا او له حجر اسود او رکنِ یماني څخه به ماسوا د بل رکن استلام نه کوي فَإِنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❷ كَانَ يَسْتَلِمُ هَذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ ځکه نبي ﷺ به د دې دوو رکنونو استلام کوی وَلَا يَسْتَلِمُ غَيْرَهُمَا او د نورو رکنونو استلام به نه کوی وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِالْإِسْتِلَامِ يَعْنِيْ اسْتِلَامَ الْحَجَرِ او طواف به پر استلام ختموي يعني د حجر اسود پر استلام.

---

❶ القول الراجح: ظاهر الرواية، كذا في رد المحتار ج:٢، ص: ١٨۴. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٠٩]

❷ تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب استحباب إستلام الركنين اليمانين، حديث رقم: ٢٤٢، ٢٤٣.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې كه طواف كونكى قدرت لري نو هغه ته پكار ده چې كله هم د حجر اسود سره تېر سي، نو هغه دې مچوي، ځكه چې د طواف دورونه (شوطونه) د لمانځه د ركعتونو په څېر دي. لكه څرنګه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: إن الطواف بالبيت صلوة. نو څرنګه چې د لمانځه هر ركعت په تكبير سره شروع كېږي. همدارنګه د هر دور (شوط) شروع له استلام او مچولو څخه كېږي، د دې تائيد د بخاري په دې حديث سره هم كېږي: ان نبي ﷺ طاف على بعير كلما أتى على الركن أشار إليه بشيئ في يده؛ او كه د استلام او مچولو قدرت يې نه وو نو د حجر اسود استقبال به كوي، او تكبير و تهليل به وايي، لكه مخكې چې ذكر سوه.

ويستلم الركن الخ فرمايي چې طواف كونكى به ركنِ يماني هم مچوي. او د ظاهر روايت مطابق د هغه استلام او مچول مستحب او غوره دي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول مطابق د هغه استلام او مچول سنت دي.

ولايستلم الخ فرمايي چې طواف كونكي ته پكار ده چې له حجر اسود او ركنِ يماني څخه به ماسوا د ركنِ شامي او ركنِ عراقي استلام نه كوي، ځكه ﷺ چې نبي ﷺ به صرف د حجر اسود او ركنِ يماني استلام كوى، د نورو لركانو استلام به يې نه كوى، او كله چې طواف كونكى طواف ختمول وغواړي، نو پكار ده چې د حجر اسود پر استلام طواف ختم كړي، نه د ركنِ يماني پر استلام.

د مقامِ ابراهيم سره دوه ركعته كول

قَالَ: ثُمَّ يَأْتِي الْمَقَامَ فَيُصَلِّي عِنْدَهُ رَكْعَتَيْنِ فرمايي: بيا به مقام ابراهيم ته راسي او د هغه سره به دوه ركعته لمونځ وكړي أَوْ حَيْثُ تَيَسَّرَ مِنَ الْمَسْجِدِ يا چيري چې په مسجدِ حرام كې ورته آسانه وي (هلته به يې وكړي) وَهِيَ وَاجِبَةٌ عِنْدَنَا او دا زموږ په نېز واجب دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: سُنَّةٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې سنت دي لِانْعِدَامِ دَلِيْلِ الْوُجُوْبِ ځكه چې د وجوب دليل نسته وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ❶: وَلْيُصَلِّ الطَّائِفُ لِكُلِّ أُسْبُوْعٍ رَكْعَتَيْنِ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دى: چې طواف كونكى دي د هرو اوو (۷) دورونو (شوطونو) لپاره دوه ركعته كوي وَالْأَمْرُ لِلْوُجُوْبِ او امر د وجوب لپاره دى.

اللغات: ﴿مقام﴾ مقام ابراهيم، ﴿طائف﴾ طواف كونكى، ﴿أسبوع﴾ اووه دوره (شوطه)، هر اووه شمېره لرونكي شي ته ويل كېږي.

تشريح: مسئله: دا ده چې كله طواف كونكى طواف پوره كړي، نو هغه ته پكار ده چې د مقام ابراهيم سره دوه ركعته لمونځ وكړي، او كه د مقام ابراهيم سره ځاى نه وو، نو په مسجدِ حرام كې چې هر ځاى پيدا سي هلته دې لمونځ وكړي، او دا دوه ركعته زموږ په نېز واجب دي، لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز سنت دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دى چې د يو شي د واجبېدلو لپاره صريح نص ضروري دى، او د طواف د دوو ركعتونو پر وجوب هېڅ دليل نسته، نو ځكه به دا واجب خو نه وي، لېكن سنت به وي.

---

❶ تخريج: قلت غريب هذا اللفظ و أخرج مسلم في كتاب الحج، باب إستحباب الرمل بمعناه، حديث رقم: ۲۳۱.

په ایم زمونږ دلیل دا دی چې نبي ﷺ فرمایلي دي: ولیصل الطائف لکل أسبوع ركعتين. (یعني طواف کونکي دې د هرو وو ووونو پر سر دوه رکعته کوي). په دې حدیث سره زمونږ استدلال په دې توګه دی چې نبي ﷺ د ولیصل امر په قرینه د لموبخ کولو حکم کړی دی. او امر د وجوب لپاره راځي. نو ځکه به د طواف دوه رکعتونه واجب وي. دویم دلیل دا دی چې په خپله د دې آیت واتخذوا من مقام ابراهيم مصلی په قرینه د مقام ابراهیم سره د لمونځ کولو وجوبي حکم سوی دی. نو په دې آیت سره هم د دې دوو رکعتونو وجوب ثابتیږي.

تر طواف وروسته دویم وار د حجر اسود د مچولو حکم

ثُمَّ يَعُوْدُ إِلَى الْحَجَرِ فَيَسْتَلِمُهُ بیا به د حجر اسود و طرف ته راوګرځیږي او هغه به مچ کړي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لَمَّا صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ عَادَ إِلَى الْحَجَرِ ځکه روایت سوی دی چې کله نبي ﷺ دوه رکعته وکړل نو د حجر اسود و طرف ته واپس راغلی وَالْأَصْلُ أَنَّ كُلَّ طَوَافٍ بَعْدَهُ سَعْيٌ يَعُوْدُ إِلَى الْحَجَرِ او قاعده دا ده چې تر هر طواف وروسته سعی وي، په هغه طواف کي به حجر اسود ته واپس راځي لِأَنَّ الطَّوَافَ لَمَّا كَانَ يَفْتَتِحُ بِالْإِسْتِلَامِ ځکه څرنګه چې طواف په استلام سره شروع کېدی فَكَذَا السَّعْيُ يَفْتَتِحُ بِهِ همدارنګه به سعی هم په استلام سره شروع کیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ بَعْدَهُ سَعْيٌ په خلاف د هغه صورت چې کله تر طواف وروسته سعی نه وي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د طواف او د طواف تر لمانځه وروسته که د محرم د سعي اراده وي، نو تر لمانځه وروسته دي واپس حجر اسود ته راسي او مچ دي یې کړي، ځکه چې له نبي ﷺ څخه همدا ثابت دي، نو د امتي په حق کي به هم دا عمل سنت او د نېکبختۍ سبب وي.

صاحب د هدایې یوه قاعده بیانوي فرمایي چې هر هغه طواف چې تر هغه وروسته سعی وي، په هغه کي به طواف کونکی د حجر اسود و طرف ته واپس راځي، او تر کوم طواف چې وروسته سعی نه وي، تر هغه وروسته به واپس نه راځي، د واپس راتللو وجه دا ده چې څرنګه په استلام حجر سره د طواف شروع کیږي، همدارنګه به د سعي شروع هم په استلام حجر سره کیږي.

د طوافِ قدوم بیان او شرعي حیثیت

قَالَ: وَهٰذَا الطَّوَافُ طَوَافُ الْقُدُوْمِ فرمایي: چي دا طواف طوافِ قدوم دی (یعني محرم چي کله اول وار کعبې ته راسي او کوم طواف چي اول وار کوي هغه طوافِ قدوم دی) وَيُسَمّٰى طَوَافُ التَّحِيَّةِ او طوافُ التحية (هم) ورته ویل کیږي وَهُوَ سُنَّةٌ وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ او دا سنت دی واجب نه دی وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: إِنَّهُ وَاجِبٌ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي: چي واجب دی لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: مَنْ أَتَى الْبَيْتَ فَلْيُحَيِّهِ بِالطَّوَافِ ځکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: څوک چي کعبې ته

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب حجة النبي ﷺ، حديث رقم: ١٢٧.

● تخريج: قال الزيلعي غريب جداً لم أجده.

راسي نو په طواف سره دي د هغه تحيه اداء کړي وَلَنَا أَنَّ اللهَ تَعَالَىٰ أَمَرَ بِالطَّوَافِ او زموږ دليل دا دی چي الله تعالیٰ د طواف امر کړی دی وَالْأَمْرُ الْمُطْلَقُ لَا يَقْتَضِي التَّكْرَارَ او مطلق امر د تکرار تقاضا نه کوي وَقَدْ تَعَيَّنَ طَوَافُ الزِّيَارَةِ بِالْإِجْمَاعِ او بالاتفاق طواف زيارت متعين سوی دی وَفِيمَا رَوَاهُ سَمَّاهُ تَحِيَّةً او د امام مالک په روايت سوي حديث کي نبي ﷺ د دې نوم طوافُ التحية ايښی دی وَهُوَ دَلِيلُ الْإِسْتِحْبَابِ او دا داستحباب دليل دی وَلَيْسَ عَلَىٰ أَهْلِ مَكَّةَ طَوَافُ الْقُدُومِ او د مکې پر خلکو طواف قدوم نشته لِانْعِدَامِ الْقُدُومِ فِي حَقِّهِمْ ځکه چي د هغو په حق کي قدوم (يعني مکې ته راتګ) نشته.

اللغات: ﴿قدوم﴾ راتګ (راتلل)، ﴿تحية﴾ دادب ځرګندونه.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي اطرافي او بهرني خلک چي کله مکې مکرمې ته ورسيږي، نو د هغو لپاره طواف قدوم کول سنت دي، د طواف قدوم دويم نوم طواف تحيه او دريم نوم طواف لقاء، او څلورم نوم طواف اول عهد دی، دامام مالک رَحِمَهُ الله په نيز دا طواف واجب دی، د هغه دليل دا حديث دی: من أتى البيت فليحيه بالطواف (يعني څوک چي بيتُ الله ته راسي نو په طواف سره دي هغه ولمانځي)، لکه د مؤمن سره د ملاقات تحيه چي په سلام سره اداء کوي، په دې حديث کي په طواف سره د تحيې اداء کولو حکم دامر په صيغه سره سوی دی، او امر د وجوب لپاره وي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي الله تعالیٰ په دې آيت وليطوفوا بالبيت العتيق کي د طواف امر کړی دی، او مطلق امر د تکرار تقاضا نه کوي، او د طواف زيارت فرضيت او وجوب بالاجماع معلوم سوي دي، نو کله چي طواف زيارت د وجوب لپاره متعين سو، نو اوس به يو بل طواف نه واجبيږي، کنې د وجوب تکرار به لازم سي.

وفيما رواه الخ دامام مالک رَحِمَهُ الله د ذکر سوي حديث جواب دا دی چي په حديث کي دې طواف ته تحيه ويل سوي دي، او تحيه کېدل د استحباب دليل دی، ځکه چي په لغت کي تحيه د هغه إکرام او کار نوم دی کوم چي د تبرع په توګه وسي، او ښکاره ده چي د تبرع په توګه مستحب او مندوب کار کيږي، واجب کار خو د دې لپاره کيږي چي له غاړي څخه واجب شی ساقط سي، نو ځکه به طواف قدوم واجب نه وي، بلکي سنت به وي.

وليس على الخ فرمايي چي د مکې د اوسېدونکو په حق کي طواف قدوم سنت نه دی، ځکه چي دا طواف د "قدوم" يعني له بهر څخه د راتللو په وجه سنت سوی دی، او د مکې د خلکو په حق کي قدوم نشته، نو ځکه به د هغو په حق کي دا طواف هم نه وي.

د سعي د شروع کولو طريقه

قَالَ: ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى الصَّفَا فرمايي: چي بيا به محرم د صفا و طرف ته ووځي فَيَصْعَدُ عَلَيْهِ وَيَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ نو پر صفا به وخيږي او د کعبې و طرف ته به مخ کړي وَيُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ وَيُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او تکبير، تهليل او پر

نبي ﷺ به درود ووايي وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ وَيَدْعُو اللهَ لِحَاجَتِهِ او خپل دواړه لاسونه به پورته کړي او د خپل ضرورت لپاره به الله ته دعاء وکړي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] صَعِدَ الصَّفَا ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ پر صفا وختی حَتَّى إِذَا نَظَرَ إِلَى الْبَيْتِ تر دې چې کله نبي ﷺ کعبه وليدله قَامَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُو اللهَ نو مخ پر قبله ودرېدی الله ته يې دعاء وکړه وَلِأَنَّ الثَّنَاءَ وَالصَّلَاةَ يُقَدَّمَانِ عَلَى الدُّعَاءِ او په دې وجه چې ثناء او درود به دواړه پر دعاء مخکې کيږي تَقْرِيبًا إِلَى الْإِجَابَةِ قبوليت ته د نژدې کولو لپاره (يعني چې دعاء ژر قبوله سي) كَمَا فِي غَيْرِهِ مِنَ الدَّعَوَاتِ لکه په نورو دعاګانو کې چې (مخکې) کيږي وَالرَّفْعُ سُنَّةُ الدُّعَاءِ او لاسونه پورته کول د دعاء سنت دي وَإِنَّمَا يَصْعَدُ بِقَدْرِ مَا يَصِيرُ الْبَيْتُ بِمَرْأَى مِنْهُ او پر صفا به دومره اندازه خيږي چې کعبه د هغه په سترګو سي (يعني کعبه ده ته ښکاره سي) لِأَنَّ الْإِسْتِقْبَالَ هُوَ الْمَقْصُودُ بِالصُّعُودِ ځکه چې (له ختلو څخه) استقبال مقصود دی وَيَخْرُجُ إِلَى الصَّفَا مِنْ أَيِّ بَابٍ شَاءَ او وځي به د صفا و طرف ته چې له هري دروازې څخه وغواړي وَإِنَّمَا خَرَجَ [2] النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَابِ بَنِيْ مَخْزُوْمٍ او نبي ﷺ له باب بنی مخزوم څخه وتلی وو وَهُوَ الَّذِيْ يُسَمَّى بَابَ الصَّفَا چې هغه ته بابُ الصفا (هم) ويل کيږي لِأَنَّهُ كَانَ أَقْرَبَ الْأَبْوَابِ إِلَى الصَّفَا ځکه (نبي ﷺ وتلی وو) چې دا دروازه صفاء ته تر ټولو زياته نژدې وه لَا أَنَّهُ سُنَّةٌ نه په دې وجه چې له دې دروازې څخه وتل سنت دي.

اللغات: ﴿يصعد﴾ د فتح مضارع ده: ختل، ﴿تقريب﴾ د تفعيل مصدر دی: نژدې کول، ﴿مرأى﴾ د سترګو حد.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې کله محرم له طواف قدوم څخه فارغه سي نو هغه ته پکار ده چې بيا صفاء او مروه ته مخ کړي، او د صفا پر غره دې وخيږي، او قبلې ته دې مخ کړي، تکبير او تهليل دې ووايي، او پر نبي کريم ﷺ دې درود ووايي، او بيا دې د خپل ضروريا تو لپاره دعاء وکړي، او لاسونه دې پورته کړي ځکه چې لاسونه پورته کول د دعاء سنت دي، د دې اعمالو دليل دا دی چې زموږ ستر لارښود حضرت محمد ﷺ د صفا پر غره هم داسي اعمال کړي وو، نو دا زموږ حق هم جوړيږي چې خپل د نبي ﷺ سنت او طريقې خپلې کړو.

فرمايي چې تر دعاء مخکې دې حمد، ثناء او درود ځکه وايي چې دعاء قبوليت ته نژدې سي، همدا وجه ده چې په نورو دعاګانو کې هم دا عمل کيږي، يعني حمد او درود پر دعاء مخکې کيږي، او محرم دې د صفا پر غره دومره وخيږي چې بيت الله بالکل په نظر راسي، د دې لپاره چې د بيت الله استقبال وکړي، ځکه چې پر صفا د ختلو مقصد د بيت الله استقبال دی.

ويخرج الخ او کله چې له مسجد حرام څخه د صفا د غره لپاره را ووځي نو هغه ته اختيار دی چې له هري دروازې څخه راوځي، په حديثو کې د يوې ځانګړې دروازې هيڅ تعيين نسته، بلکې د ټولو دروازو حکم برابر دی، پاته سوه دا چې نبي ﷺ ولې له باب بني مخزوم څخه را وتلی وو، نو د هغه وجه دا ده چې دا دروازه د ټولو دروازو په نسبت صفا ته زياته

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب حجة النبي ﷺ، حديث رقم: ١٤٧.

[2] أخرجه النسائي في سنن الكبرى، ج:٢، باب رقم: ٤١٠، حديث رقم: ٣٩٨٥.

نژدې ده، او څرنګه چې نبي ﷺ دېر ضعيف سوی وو، نو د نژدېکت په وجه يې له دې دروازې څخه وتل خوښ کړه، لهذا په دې سره دا نه سي ثابتېدای چې له باب بني مخزوم څخه وتل سنت دي، بلکي دا حکم مطلق او عام دی، او له مرې دروازې څخه وتل برابر دي.

د میلین اُخضرین په مینځ کي د ځغستلو حکم (او د مروه اعمال)

قَالَ: ثُمَّ يَنْحَطُّ نَحْوَ الْمَرْوَةِ فرمايي: چي بيا به د "مروه" و طرف ته شوه(کښته) سي وَيَمْشِي عَلَى هَيْئَتِهِ او د خپل حالت(او عادت) مطابق به تګ وکړي فَإِذَا بَلَغَ بَطْنَ الْوَادِي يَسْعَى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ سَعْيًا او کله چي مينځ د "وادي" ته ورسيږي نو د دوو زرغونو ميلونو په مينځ کي به په زوره وځغلي ثُمَّ يَمْشِي عَلَى هَيْئَتِهِ بيا به د خپل حالت(او عادت) مطابق روان سي حَتَّى يَأْتِيَ الْمَرْوَةَ وَيَصْعَدُ عَلَيْهَا تر دې چي مروه ته راسي او پر هغه به وخيږي وَيَفْعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا او (پر مروه به هم) داسي (تکبير، تهليل، دعاء او نور) وکړي لکه څرنګه چي يې پر صفا کړي وو لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ نَزَلَ مِنَ الصَّفَا وَجَعَلَ يَمْشِي نَحْوَ الْمَرْوَةِ ځکه روايت دی چي نبي ﷺ له صفا څخه را شوه سو او د مروه و طرف ته روان سو وَسَعَى فِي بَطْنِ الْوَادِي او د وادي په مينځ کي يې سعي وکړې حَتَّى إِذَا خَرَجَ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي مَشَى حَتَّى صَعِدَ الْمَرْوَةَ تر دې چي کله د وادي له مينځ څخه ووتی نو تګ يې وکړی (د خپل عادت مطابق) تر دې چي مروه ته وختی وَطَافَ بَيْنَهُمَا سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ او د صفا او مروه په مينځ کي يې اووه(۷) دوره(شوطه) طواف وکړی وَهٰذَا شَوْطٌ وَاحِدٌ او دا يو(بشپړ) شوط دی.

اللغات: ﴿ينحط﴾ د انفعال مضارع ده: کښته کېدل، شوه کېدل. ﴿ميل﴾ هغه نښه او علامه چي په لاره کي درول سوې وي. ﴿يسعى﴾ د فتح مضارع ده: سعي کول(يعني تېز تلل او سعي کول). ﴿بطن الوادي﴾ د صفا او مروه په مينځ کي څه کښته ځای راځي، دې ځای ته بطن الوادي وايي. اوس پر دې ځای زرغونې بتياني درول سوي دي، دلته حاجيان ځغلي، دې زرغونو بتيانو ته ميلين اخضرين وايي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي محرم کله پر صفا له دعاء او نورو څخه فارغه سي، نو له صفا څخه دي راکښته سي، او د خپل عادت مطابق او په سکون سره دي روان سي، کله چي د وادي مينځ(بطنِ وادي) ته ورسيږي نو د ميلين اخضرين په مينځ کي دي سعي وکړي او په کراره دي وځغلي، بيا دي په سکون سره مروه ته راسي او پر و دي خېږي، او کوم کار چي يې پر صفا کړی وو، هغه دي پر مروه هم وکړي، دليل هغه حديث دی کوم چي په کتاب کي ذکر سو.

قَالَ: وهٰذا شوط الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي له صفا څخه مروه ته تلل يو شوط(دور) دی، او له مروه څخه صفا ته تلل دويم شوط دی، امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي له صفا څخه مروه ته تلل او له مروه څخه صفا ته تلل يو شوط دی، لېکن صحيح قول اول يعني د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله دی، ځکه چي د نبي ﷺ د حج روايانو پر دې اتفاق

---

❶ تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب حجة النبي ﷺ، حديث رقم: ۱۲۷.

کړې دي چې نبي ﷺ د صفا او مروه په مینځ کې اووه (۷) شوطه پوره کړه. او د امام طحاوي رحمه الله د بیان مطلق کولو له (۱۴) شوطه کیږي، نو ځکه اول قول صحیح معلومیږي.

د سعي اندازه او شرعي حیثیت

وَيَطُوفُ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو اووه (۷) دوره طواف به وکړي يَبْدَأُ بِالصَّفَا وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ له صفا څخه به يې شروع کړي او پر مروه به يې ختم کړي وَيَسْعَى فِي بَطْنِ الْوَادِي فِي كُلِّ شَوْطٍ او په مینځ د وادي کې به په هر شوط کې سعي وکړي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَإِنَّمَا يَبْدَأُ بِالصَّفَا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] فِيهِ او له صفا څخه به ځکه شروع کوي چې نبي ﷺ په دې باره کې فرمایلي دي اِبْدَءُوا بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ تَعَالَى بِهِ تاسو په هغه سره شروع کوئ چې په هغه سره الله شروع کړې ده (یعني چې په هغه سره الله په آیت کې شروع کړې ده) ثُمَّ السَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَاجِبٌ بیا د صفا او مروه په مینځ کې سعي کول واجب دي وَلَيْسَ بِرُكْنٍ او رکن نه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ: إِنَّهُ رُكْنٌ او امام شافعي رحمه الله فرمایي: چې دا رکن دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ [2] فَاسْعَوْا چې الله تعالی پر تاسو سعي لیکلې ده نو تاسو سعي وکړئ وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا [البقرة: ۱۵۸] او زموږ دلیل دا دی چې الله تعالی فرمایلي دي: پر محرم څه ګناه نشته چې هغه د صفا او مروه طواف وکړي وَمِثْلُهُ يُسْتَعْمَلُ لِلْإِبَاحَةِ او دا ډول کلام د اباحت لپاره استعمالیږي فَيَنْفِي الرُّكْنِيَّةَ وَالْإِيجَابَ نو رکنیت او ایجاب به دواړه منتفي کیږي إِلَّا أَنَّا عَدَلْنَا عَنْهُ فِي الْإِيجَابِ لیکن موږ له ایجاب څخه عدول وکړی (یعني موږ له اباحت څخه د ایجاب و طرف ته منتقل سو) وَلِأَنَّ الرُّكْنِيَّةَ لَا تَثْبُتُ إِلَّا بِدَلِيلٍ مَقْطُوعٍ بِهِ او ځکه چې رکنیت نه ثابتیږي مګر په قطعي دلیل سره وَلَمْ يُوجَدْ او هغه نشته (نو ځکه به رکن نه وي) ثُمَّ مَعْنَى مَا رُوِيَ كُتِبَ اِسْتِحْبَابًا د امام شافعي رحمه الله د روایت سوي حدیث معنیٰ (یعني د دې حدیث: إن الله تعالى كتب عليكم معنیٰ) دا ده: چې د مستحب په توګه سعي لیکل سوې ده كَمَا فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ [البقرة: ۱۸۰] لکه د الله تعالیٰ په دې قول کې (چې کتب د مستحب په معنیٰ دی): کتب علیکم إذا حضر أحدکم الموت... الخ.

اللغات: ﴿أشواط﴾ دورونه (شوطونه)، ﴿لا جناح﴾ هیڅ ګناه نشته، ﴿مقطوع به﴾ یقیني، قطعي.

تشریح: امام قدوري رحمه الله فرمایي چې طواف اووه شوطه (دوره) دي، طواف به له صفا څخه شروع کیږي، او پر مروه به ختمیږي، او په هر شوط کې به په بطن وادي کې سعي کوي، دلیل هغه حدیث دی چې په تېره مسئله کې تېر سو، یعني: أن النبي ﷺ نزل من الصفا وجعل يمشي نحو المروة. او له صفا څخه د سعي شروع کولو دلیل دا حدیث دی: ابدؤا بما

---

[1] تخریج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب حجة النبي ﷺ، حديث رقم: ۱۴۷.

[2] تخریج: أخرجه بيهقي في سننه في كتاب الحج، باب وجوب الطواف بين الصفا والمروة، حديث رقم: ۹۳۶۵، ۹۳۶۶.

بدأ الله تعالی به. یعني په کوم ځای سره چي الله (په آیت کي) شروع کړي ده تاسو هم په هغه سره شروع وکړئ. او الله (په آیت کي) په صفا سره شروع کړي ده، آیت دا دی: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ. او په دې حدیث کي لفظ د ابدؤا صیغه دامر ده، نو ځکه به په صفا سره شروع کول واجب وي.

ثم السعي الخ پاته سوه دا خبره چي د صفا او مروه په مینځ کي سعي کول واجب دي، که رکن. نو په دې باره کي اختلاف دی، زموږ په نېز رکن نه دي، بلکي واجب دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز رکن دي، همدا د امام مالک رحمه الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله قول دی.

د امام شافعي دلیل: دا حدیث دی: إن الله تعالی کتب علیکم السعي فاسعوا. (یعني الله تعالیٰ پر تاسو سعي کول لیکلي دي نو تاسو سعي کوئ) او لیکل په فرض او رکن کي استعمالیږي، نو ځکه به سعي کول رکن وي.

زموږ دلیل: دا آیت دی: فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا. په دې آیت سره زموږ استدلال په دې توګه دی چي د لا جناح لفظ د اباحت (او روایت) لپاره استعمالیږي، او کوم لفظ چي د اباحت لپاره وي، هغه د رکن او وجوب نفي کوي، نو له آیت څخه په ښکاره دا ثابته سوه چي سعي بين الصفا والمروه نه رکن دی او نه واجب، لیکن د وجوب په حق کي موږ د آیت له ظاهر څخه عدول (انتقال) وکړی، یعني د وجوب د نفي په باره کي مو د آیت پر ظاهر عمل پرېښووی، ځکه ظاهر د آیت خو پر دې دلالت کوي چي سعي بين الصفا والمروه مباح دي واجب هم نه دي، او دا مو ځکه وکړه چي دا حدیث إن الله کتب علیکم السعي فاسعوا خبر واحد دی، او خبر واحد پر وجوب دلالت کوي، دویمه وجه دا ده چي د دې آیت اول داسي دي: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ، او شعائر جمع د شعیرة ده، او شعیرة علامه او نښي ته ویل کیږي، او د دین نښه او علامه فرض وي، لهذا د آیت دا حصه د سعي پر فرضیت او رکنیت دلالت کوي، او د آیت آخري حصه: فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا د سعي پر اباحت دلالت کوي، نو موږ پر دواړو عمل وکړی، او د وجوب قائل سو، ځکه چي واجب خو اعتقاداً فرض نه وي، لیکن عملاً فرض وي، دریمه وجه دا ده چي د وجوب پر نفي مو عمل کول د اجماع په وجه پرېښووی، ځکه چي د سعي بين الصفا والمروه د اباحت هیڅوک هم قائل نسته.

د سعي پر واجبېدلو او رکن نه کېدلو زموږ دویم دلیل دا دی چي رکنیت په قطعي دلیل سره ثابتیږي، او قطعي دلیل دلته نسته، نو ځکه به سعي رکن هم نه وي.

ثم معنی ما روی الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حدیث إن الله کتب علیکم السعي فاسعوا جواب دا دی چي په دې کي له کتب علیکم څخه استحباب مراد دی، نه فرضیت، لکه څرنګه چي له دې آیت کتب علیکم إذا حضر أحدکم الموت څخه مراد هم دا دی چي د مرګ په وخت کي وصیت کول مستحب دي، نه فرض، نو څرنګه چي دلته د کتب علیکم لفظ د استحباب لپاره دی، همدا ډول به په حدیث کي هم لفظ د کتب علیکم د استحباب یعني د غیرِ فرض لپاره وي.

د هغو اعمالو بیان کوم چي تر طوافِ قدوم وروسته کیږي

قَالَ: ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ حَرَامًا فرمایي: بیا به دا سړی په مکه کي پاته سي د احرام په حالت کي لِأَنَّهُ مُحْرِمٌ بِالْحَجِّ ځکه چي دا سړی د حج احرام تړونکی دی فَلَا يَتَحَلَّلُ قَبْلَ الْإِتْيَانِ بِأَفْعَالِهِ نو دی به نه حلالیږي د حج د افعالو تر اداء کولو

مخکې وَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ كَمَا بَدَأَ لَهُ او (د کعبې) طواف به کوي کله چې د هغه زړه وغواړي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ الصَّلَاةَ ځکه چې طواف د لمانځه سره مشابه دی قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلَاةٌ نبي ﷺ فرمايلي دي: پر کعبه طواف کول لمونځ دی وَالصَّلَاةُ خَيْرٌ مَوْضُوعٍ او لمونځ ښه موضوع ده (يعني ښه کار دی) فَكَذَا الطَّوَافُ نو همداسې طواف هم (ښه موضوع ده) إِلَّا أَنَّهُ لَا يَسْعَى عَقِيبَ هٰذِهِ الْأَطْوِفَةِ فِي هٰذِهِ الْمُدَّةِ لېکن دا سړی به په دې موده کې تر دې (نفلي) طوافونو وروسته سعی نه کوي لِأَنَّ السَّعْيَ لَا يَجِبُ فِيهِ إِلَّا مَرَّةً ځکه چې په حج کې سعي صرف يو وار واجب ده وَالتَّنَفُّلُ بِالسَّعْيِ غَيْرُ مَشْرُوعٍ او په نفلي توګه سعی کول مشروع نه دي وَيُصَلِّي لِكُلِّ أُسْبُوعٍ رَكْعَتَيْنِ او د هرو اوو (۷) شوطونو لپاره به دوه رکعته کوي وَهِيَ رَكْعَتَا الطَّوَافِ او دا دوه رکعته د طواف دي عَلَى مَا بَيَّنَّا لکه (مخکې) چې موږ بيان کړه.

اللغات: ﴿حراماً﴾ د احرام حالت، ﴿بدا﴾ ښکاره کېدل، مخته راتلل، ﴿عقيب﴾ وروسته، ﴿أطوفة﴾ جمع د طواف ده: طوافونه.

تشريح: مسئله: دا ده چې کوم چا صرف د حج احرام تړلی وي، نو هغه دې تر طواف قدوم او سعي وروسته د احرام په حالت کې په مکه مکرمه کې مقيم پاته سي، او د حج په ورځو کې دې د حج افعال اداء کړي، ځکه هغه د حج د احرام تړلی دی، نو تر څو چې د حج ټوله افعال په بشپړه توګه اداء نه کړي، تر هغه وخته نه حلالیږي، او په دې موده کې چې کله هم موقع په لاس ورسي، د کعبې مبارکې طواف دې کوي، ځکه په دې حديث الطواف بالبيت صلاة کې طواف د لمانځه سره مشابه ګرځول سوی دی، نو څرنګه چې له درېو وختونو څخه علاوه نور په هر وخت کې لمونځ جائز دی، او لمونځ غوره نېکي دي، همداسې به دېر طوافونه کول هم غوره نېکي او ښه خبره وي، او کله چې هم وخت پيدا کړي، طواف دې کوي، خو څرنګه چې د هغه په حق کې دا ټوله طوافونه نفل دي، نو ځکه به تر دې طوافونو وروسته پر هغه سعی کول واجب نه وي، ځکه چې د حج په احرام کې صرف يو وار سعی واجبيږي، چې هغه دې سړي تر طواف قدوم وروسته کړې ده، نو اوس دې سړي ته د سعی کولو هيڅ ضرورت نسته، او داسې هم نه سي کولای چې نفلي سعی وکړي، ځکه چې نفلي سعی مشروع او صحيح نه ده.

ويصلي الخ فرمايي چې په نفلي طواف کې دې هم د هرو اوو (۷) شوطونو پر سر دوه رکعته لمونځ کوي، او دې دوو رکعتو ته صلوة طواف ويل کيږي، لکه مخکې چې تېر سو.

د اوومې ذی الحجې د اعمالو بيان

قَالَ: فَإِذَا كَانَ قَبْلَ يَوْمِ التَّرْوِيَةِ بِيَوْمٍ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: نو کله چې تر يوم ترويه يوه ورځ مخکې وي (يعني يوم الترويه ته يوه ورځ پاته وي) خَطَبَ الْإِمَامُ خُطْبَةً نو امام به خطبه ووايي يُعَلِّمُ فِيهَا النَّاسَ الْخُرُوجَ إِلَى مِنًى وَالصَّلَاةَ بِعَرَفَاتٍ وَالْوُقُوفَ وَالْإِفَاضَةَ چې په هغه کې به خلکو ته ورښيي د منیٰ و طرف ته وتل، په عرفات کې لمونځ کول، او په

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في الكلام في الطواف، حديث رقم: ٩٦٠.

عرفات کې هم پېښږي. او له عرفات څخه روانېدل وَالْحَاصِلُ أَنَّ فِي الْحَجِّ ثَلَاثُ خُطَبٍ حاصل دا دی چې په حج کې درې خطبې دي أَوَّلُهَا مَا ذَكَرْنَا اوله خطبه خو هغه ده کوم چې موږ ذکر کړه وَالثَّانِيَةُ بِعَرَفَاتٍ يَوْمَ عَرَفَةَ او دويمه خطبه د عرفات په ورځ د عرفات په ميدان کې ده وَالثَّالِثَةُ بِمِنًى فِي الْيَوْمِ الْحَادِي عَشَرَ او دريمه خطبه په منیٰ کې په يوولسم ورځ ده فَيَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ خُطْبَتَيْنِ بِيَوْمٍ نو د هرو دوو خطبو په مینځ کې به په یوه ورځې سره فصل کوي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ : يَخْطُبُ فِي ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مُتَوَالِيَةٍ او امام زفر رَحِمَهُ الله وايي: چې پرلپسې به درې خطبې وايي أَوَّلُهَا يَوْمُ التَّرْوِيَةِ لِأَنَّهَا أَيَّامُ الْمَوْسِمِ وَمُجْتَمَعُ الْحَاجِّ اوله خطبه به د ترويه په ورځ کې (وايي) ځکه چې دا د حج د موسم ورځې او د حاجيانو د راجمع کېدلو ورځې دي وَلَنَا أَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهَا التَّعْلِيمُ او زموږ دليل دا دی چې له دغو خطبو څخه مقصود د حج د افعالو تعليم دی وَيَوْمُ التَّرْوِيَةِ وَيَوْمُ النَّحْرِ يَوْمَا اشْتِغَالٍ او د ترويې او نحر ورځې د مشغوليت ورځې دي فَكَانَ مَا ذَكَرْنَاهُ أَنْفَعَ وَفِي الْقُلُوبِ أَنْجَعَ نو کوم چې موږ ذکر کړه هغه به زيات فايده من او په زړو کې زيات اغېزمن وي.

اللغات: ﴿يوم التروية﴾ د ذی الحجې اتمه(۸) ورځ. ﴿الإفاضة﴾ روانېدل. ﴿متوالية﴾ پرلپسې، بې له فصله. ﴿موسم﴾ د حج موسم، د حج ورځې. ﴿مجتمع﴾ د جمع کېدلو وخت. ﴿أنجع﴾ زيات اغېزمن، زيات مؤثر.

تشريح: يوم ترويه د ذی الحجې اتمې ورځې ته ويل کيږي.

صورت د مسئلې: دا دی چې امام دې تر يوم ترويه يوه ورځ مخکې يعني په اوومه ورځ دې د تر ماپښين تر لمانځه وروسته خلکو ته خطبه ووايي، په خطبه کې دې هغو ته د حج د ورځو افعال وروښيي، مثلاً د منیٰ و طرف ته د روانېدلو حکم او د هغه وخت، په عرفات کې د ماپښين او د مازيگر د لمانځه د جمع کولو حکم، او په عرفات د وقوف حکم، او له عرفات څخه د روانېدلو حکم.

والحاصل الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د حج په ورځو کې ټولې درې خطبې دي: (۱) د ذی الحجې په اوومه ورځ، (۲) د ذی الحجې په نهمه ورځ په عرفات کې، (۳) د ذی الحجې په يوولسمه ورځ په منیٰ کې د ماپښين تر لمانځه وروسته، نو په دې ټولو خطبو کې به زموږ په نېز يوه يوه ورځ فصل او وقفه کوي، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله په دې درې خطبو کې فصل او فرق نه مني، بلکې د هغه مسلک دا دی چې خطبې به درې ورځې پرلپسې وايي، نو د هغه په نېز لوله خطبه په اتمه ورځ ده، او دويمه په نهمه او دريمه په لسمه ورځ ده.

لانها أيام الخ د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې دا درې سره د حج ورځې دي، او په دې ورځو کې حاجيان جمع کيږي، نو که په دې ورځو کې خطبه وويل سي، نو زياته فايده به وکړي، او ټولو حاجيانو ته به درده کړي او تعليم موقع په لاس ورسي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چې په دې ورځو کې د خطبو مقصد خلکو ته د حج د افعالو تعليم ورکول دي، او دا مقصد په ۷/ ۹/ او ۱۱ تاريخونو کې په ښه توګه سره حاصليږي، ځکه په دې تاريخونو کې د حج افعال کم وي، او خلک زيات مشغول نه وي، نو هغوی به په ښه اطمينان او غور سره د خطبې مفهوم او مطلب واوري، د دې په خلاف په يوم الترويه کې

د خلکو په زړو کې منیٰ ته د تللو فکر وي، او په لسم تاریخ یعني د لوی اختر په ورځ خلک په سر خریلو، شیطان ویشتلو او نورو کې مشغول وي، نو که په دې تاریخونو کې هم خطبه ورېل سي، نو ښکاره ده چې خلک به کما حقه له خطبې څخه فایده نه واخلي، لهذا فایدمنې او اهمزمنې ورځې هغه دي کوم چې موږ بیان کړې.

د ذی الحجې د اتمې ورځې (یومُ الترویه) د اعمالو بیان

فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ بِمَكَّةَ بیا چې کله په اتم د ذی الحجې په مکه مکرمه کې لمونځ وکړي خَرَجَ إِلَى مِنًى نو د منیٰ و طرف ته به ووځي فَيُقِيمُ بِهَا حَتَّى يُصَلِّيَ الْفَجْرَ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ او په منیٰ کې به قیام وکړي تر دې چې د عرفات د ورځې (یعني د ذی الحجې د نهمې ورځې) د سهار لمونځ وکړي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● صَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ بِمَكَّةَ ځکه روایت سوی دی چې نبي ﷺ په اتم د ذی الحجې د سهار لمونځ په مکه کې وکړی فَلَمَّا طَلَعَتِ الشَّمْسُ بیا چې کله لمر راوختی رَاحَ إِلَى مِنًى نو منیٰ ته روان سو فَصَلَّى بِمِنًى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ او په منیٰ کې یې د ماپښین، مازیګر، ماښام، ماخوستن او سهار لمونځونه وکړل ثُمَّ رَاحَ إِلَى عَرَفَاتٍ بیا عرفات ته روان سو.

اللغات: ﴿راح﴾ روانېدل، تلل.

تشریح: په دې عبارت کې د حج د افعالو اداء کول او د هغو وختونه بیان سوي دي، فرمایي چې کله د یومُ الترویه لمر را وخیږي، یعني د ذی الحجې د اتمې ورځې د سهار تر لمانځه وروسته لمر راوخیږي، نو محرم دي د منیٰ و طرف ته روان سي، او د ذی الحجې د نهمې ورځې تر سهاره پورې دي په منیٰ کې پاته سي، او د سهار تر لمانځه وروسته دي له منیٰ څخه عرفات ته روان سي، ځکه چې نبي ﷺ هم د دې ترتیب مطابق د حج افعال اداء کړل، او په دې ترتیب سره په منیٰ او عرفات کې پاته سو، په کتاب کې ذکر سوی حدیث په دې باره کې بالکل واضح او څرګند دی.

په منیٰ کې د اقامت کولو شرعي حیثیت او عرفات ته د تللو حکم

وَلَوْ بَاتَ بِمَكَّةَ لَيْلَةَ عَرَفَةَ او که حاجي د عرفات شپه په مکه کې تېره کړي وَصَلَّى بِهَا الْفَجْرَ او د سهار لمونځ په مکه کې وکړي ثُمَّ غَدَا إِلَى عَرَفَاتٍ بیا سهار عرفات ته روان سي وَمَرَّ بِمِنًى أَجْزَأَهُ او د منیٰ سره تېر سي نو دا د هغه لپاره کافي دي لِأَنَّهُ لَا يَتَعَلَّقُ بِمِنًى فِي هَذَا الْيَوْمِ إِقَامَةُ نُسُكٍ ځکه چې په دې ورځ کې د حج (هیڅ) یو نسک اداء کول د منیٰ سره تعلق نه لري وَلَكِنَّهُ أَسَاءَ بِتَرْكِهِ الْاِقْتِدَاءَ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لېکن هغه د نبي ﷺ د اقتداء د پرېښوولو په وجه بد کار وکړی قَالَ: ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى عَرَفَاتٍ فرمایي: بیا به د عرفات و طرف ته متوجه سي فَيُقِيمُ بِهَا او په عرفات کې به قیام وکړي (یعني په عرفات کې به پاته سي) لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَهَذَا بَيَانُ الْأَوْلَوِيَّةِ او دا د اولیٰ کېدلو بیان دی أَمَّا لَوْ دَفَعَ قَبْلَهُ جَازَ لېکن که تر لمر راختلو مخکې عرفات ته روان سي نو جائز

● تخریج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب حجة النبي ﷺ. حديث رقم: ١٤٧.

دي ﴿لِأَنَّهُ لَا يَتَعَلَّقُ بِهٰذَا الْمَقَامِ حُكْمٌ﴾ ځکه چي د دې مقام سره يو حکم(هم) تعلق نه لري ﴿قَالَ فِي الْأَصْلِ: وَيَنْزِلُ بِهَا مَعَ النَّاسِ﴾ امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي فرمايلي دي، چي حاجي به د خلکو سره عرفات ته ورشوه سي ﴿لِأَنَّ الْاِنْتِبَاذَ تَجَبُّرٌ﴾ ځکه چي يوازي کېدل(جلا کېدل) تکبّر دی ﴿وَالْحَالُ حَالُ تَضَرُّعٍ﴾ او دا حالت د عاجزۍ دی ﴿وَالْإِجَابَةُ فِي الْجَمْعِ أَرْجٰى﴾ او په جماعت کي د قبوليت زيات اُميد دی ﴿وَقِيلَ مُرَادُهُ﴾ او ويل سوي دي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله مراد دا دی ﴿أَنْ لَا يَنْزِلَ عَلَى الطَّرِيقِ كَيْ لَا يَضِيقَ عَلَى الْمَارَّةِ﴾ چي هغه به لاري ته نه راشوه کېږي چي پر تېرېدونکو خلکو لاره تنګه نه سي.

اللغات: ﴿بات﴾ د ضرب ماضي ده: شپه تېرول، ﴿غدا﴾ د نصر ماضي ده: سهار کېدل، ﴿مرّ﴾ د نصر ماضي ده: تېرېدل، ﴿أساء﴾ د افعال ماضي ده: بد کار کول، ناوړه کار کول، ﴿انتباذ﴾ د افتعال مصدر دی: جلا کېدل، يوازي وسېدل، ﴿تجبّر﴾ د تفعّل مصدر دی: تکبّر کول، ﴿تضرّع﴾ د تفعّل مصدر دی: زاري کول، عاجزي کول، ﴿أرجى﴾ اسم تفضيل دی: زيات اميد والا، ﴿مارّة﴾ د مارّ اسم فاعل جمع ده: تېرېدونکي.

تشريح: مسئله: دا ده که بالفرض يو سړی د ذی الحجې په اتمه ورځ منیٰ ته نه ورسېدی، او دا ورځ يې په مکه کي تېره کړه تر دې چي د ذي الحجې په نهمه يعني د عرفات ورځ د سهار تر لمانځه وروسته عرفات ته روان سو، او د منیٰ سره تېر سو، نو د هغه دا تېرېدل د منیٰ قائم مقام کېږي، ځکه چي په اتمه ورځ په منیٰ کي د حج يو فعل هم اداء کول مشروع نه دي، خو څرنګه چي دا عمل د نبي ﷺ د عمل خلاف دی، نو ځکه به دا سړی د نبي ﷺ د اقتداء د پرېښوولو په وجه د سنت پرېښوونکی ګڼل کېږي، او د هغه دا فعل به ښه نه ګڼل کېږي.

قال ثم الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله د اصل مسئلې و طرف ته رجوع کوي فرمايي: کوم حاجي چي د ذی الحجې په اتمه ورځ منیٰ ته ورسېږي، او هلته د ذی الحجې د نهمي ورځي د سهار لمونځ وکړي، نو اوس به تر لمر را ختلو وروسته عرفات ته روان سي، دليل مخکښی حديث دی، لېکن ښکاره دي وي چي تر لمر را ختلو وروسته وتل فقط اولیٰ دي، او که تر لمر را ختلو مخکي روان سي، نو هم جائز دي، ځکه چي د عرفات د ورځي سره په منیٰ کي د سهار له لمانځه څخه علاوه بل هيڅ حکم تعلق نه لري، نو په دې کي هيڅ حرج نسته چي تر لمر را ختلو مخکي عرفات ته روان سي.

قال في الأصل الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په مبسوط کي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي حاجي به د عرفات ميدان ته د خلکو سره ورشوه کېږي، يعني له خلکو څخه به نه جلا کېږي، ځکه له خلکو څخه جلا او لېري اوسېدل تکبر دی، حال دا چي دا وخت د عاجزۍ او تضرّع دی، دويمه وجه دا ده چي په جماعت سره د دعاء د قبلېدلو اميد زيات سته، بعضي خلکو ويلي دي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله مراد دا دی چي حاجي به لاري ته نه راشوه کېږي، ځکه په دې سره په لاره کي د تلونکو خلکو لپاره ستونزه او خنډ پيدا کېږي.

د نهمي ذی الحجې د اعمالو بيان

﴿قَالَ: وَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ﴾ فرمايي: او کله چي لمر زائل سي(يعني تر سر واوړي) ﴿يُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ﴾ نو امام به خلکو ته د ماپښين او د مازيګر لمونځ ورکړي ﴿فَيَبْتَدِئُ بِالْخُطْبَةِ﴾ نو په خطبه سره به شروع وکړي ﴿فَيَخْطُبُ خُطْبَةً﴾ او

خطبه به ووايي يُعَلِّمُ فِيهَا النَّاسَ الْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ وَالْمُزْدَلِفَةِ وَرَمْيَ الْجِمَارِ وَالنَّحْرَ وَالْحَلْقَ وَطَوَافَ الزِّيَارَةِ چې په هغه كې به خلكو ته په عرفات او مزدلفه كې دريدل، د شيطانانو ويشتل، قرباني كول، سرخرييل او طوافِ زيارت ورښيي يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ او امام به دوې خطبې ووايي يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِجِلْسَةٍ كَمَا فِي الْجُمُعَةِ د دغو دوو په مينځ كې به په ناستې سره فصل وكړي (يعني د دواړو خطبو په مينځ كې به كيني) لكه څرنګه چې په جمعه كې دي هَكَذَا فَعَلَهُ[●] رَسُولُ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ همدارنګه نبي ﷺ كړي دي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلَاةِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې تر لمانځه وروسته به خطبه وايي لِأَنَّهَا خُطْبَةُ وَعْظٍ وَتَذْكِيرٍ ځكه چې دا خطبه د وعظ او نصيحت ده فَأَشْبَهَ خُطْبَةَ الْعِيدِ نو دا خبره د خطبې سره مشابه سوه وَلَنَا مَا رَوَيْنَا او زموږ دليل هغه حديث دی كوم چې موږ روايت كړى وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ مِنْهَا تَعْلِيمُ الْمَنَاسِكِ او په دې وجه (هم) چې د خطبې مقصد د حج د مناسكو تعليم دی وَالْجَمْعُ مِنْهَا او جمع بين الصلاتين هم له مناسكو څخه ده وَفِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ: إِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ الْمِنْبَرَ فَجَلَسَ أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ او په ظاهر د مذهب كې دي: چې كله امام منبر ته وخيږي نو مؤذنان دي اذان وكړي كَمَا فِي الْجُمُعَةِ لكه څرنګه چې په جمعه كې دي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُ يُؤَذِّنُ قَبْلَ خُرُوجِ الْإِمَامِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې مؤذن به د امام تر را وتلو مخكې اذان كوي وَعَنْهُ أَنَّهُ يُؤَذِّنُ بَعْدَ الْخُطْبَةِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه (بل) روايت دا دی چې تر خطبې وروسته به اذان كوي وَالصَّحِيحُ مَا ذَكَرْنَا او صحيح روايت هغه دی كوم چې موږ ذكر كړی لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[●] لَمَّا خَرَجَ وَاسْتَوَى عَلَى نَاقَتِهِ ځكه نبي ﷺ چې كله (له خېمې څخه) راووتی او پر اوښې سپور سو أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ بَيْنَ يَدَيْهِ نو مؤذنانو د نبي ﷺ مخ ته اذان وكړی وَيُقِيمُ الْمُؤَذِّنُ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْخُطْبَةِ او اقامت به وكړي مؤذن له خطبې څخه تر فراغت وروسته لِأَنَّهُ أَوَانُ الشُّرُوعِ فِي الصَّلَاةِ ځكه چې همدا د لمانځه د شروع كولو شېبه دي فَأَشْبَهَ الْجُمُعَةَ نو دا د جمعې (د خطبې) سره مشابه سوه.

اللغات: ﴿رمي﴾ د ضرب مصدر دی: ويشتل، ﴿نحر﴾ د فتح مصدر دی: حلالول (ذبح كول)، قرباني كول، ﴿حلق﴾ د ضرب مصدر دی: خرييل، ﴿وعظ﴾ نصيحت، ﴿تذكير﴾ د تفعيل مصدر دی: په ياد وريستل، نصيحت كول، ﴿صعد﴾ د سمع ماضي ده: ختل، ﴿ناقة﴾ اوښه، ﴿أوان﴾ شېبه، وخت.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ذي الحجې په نهمه ورځ به امامُ المسلمين يا د هغه نائب د عرفات په ميدان كې د لمر تر زوال وروسته د ماپښين او د مازيګر لمونځونه د ماپښين په وخت كې اداء كړي، په دې ترتيب سره چې اول به خطبه ووايي، په خطبه كې به خلكو ته د حج د افعالو تعليم وركړي، او د جمعې په ډول به دوې خطبې ووايي، او د

● تخريج: قد مرّ تخريجه في حديث رقم: ۹۲، والحاكم في المستدرک ج:۱، ص: ۴۶۱.

● قال الزيلعي غريب جدًا اول الحديث أخرجه البيهقي في سننه، باب رقم: ۱۸۲، حديث رقم: ۹۴۵۴، و آخر الحديث غريب.

دواړو خطبو په مینځ کي به فصل کوي، همدا د نبي ﷺ معمول وو. لیکن امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي چي د عرفات خطبه تر لمانځه وروسته وي، نه مخکي.

د امام مالک دلیل: دا دی چي دا خطبه د وعظ او نصیحت ده، نو د اخترونو د خطبې سره مشابه سوه، او د اخترونو خطبه تر لمانځه وروسته ویل کیږي، لهذا دا خبطه به هم تر لمانځه وروسته ویل کیږي.

زموږ دلیل: دا روایت دی: خطب رسول الله ﷺ بعرفة قبل صلاة الظهر په دې حدیث کي په صراحت سره دا ذکر سوي دي چي نبي ﷺ په عرفات کي د ماپښین تر لمانځه مخکي خطبه ویله. **دویم دلیل:** دا دی چي په عرفات کي د خطبې مقصد خلکو ته د حج د مناسکو تعلیم ورکول دي. او جمع بین الصلاتین هم د حج له مناسکو څخه ده. او د دې د تعلیم مقصد تر لمانځه مخکي د خطبې په ویلو سره حاصلیږي، نه وروسته. نو ځکه زموږ په نېز د ماپښین تر لمانځه مخکي د خطبي ویلو حکم سوی دی.

واذا صعد الخ فرمایي: څرنګه چي د جمعې په لمانځه کي مؤذن هغه وخت اذان کوي کله چي امام پر منبر کښېني. همدا ډول به د عرفات په میدان کي هم مؤذن هغه وخت اذان کوي کله چي امام پر منبر کښېني، ځکه د عرفات خطبه تر لمانځه مخکي والي په وجه د جمعې د خطبې سره مشابه ده. نو په اذان کي به هم د عرفات خطبه د جمعې د خطبې سره مشابه وي.

او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه په دې لړ کي دوه روایتونه رانقل سوي دي: (۱) اول روایت دا دی چي مؤذن به هغه وخت اذان کوي چي امام لا په خپل ځای او خېمه کي وي او راوتلی نه وي، ځکه چي دا اذان د ماپښین د لمانځه لپاره کیږي، نو څرنګه چي په نورو ورځو کي د امام تر راوتلو مخکي اذان کیږي، همدا ډول به د عرفات په ورځ هم د امام تر راوتلو مخکي اذان کیږي، (۲) دویم روایت دا دی چي کله امام خطبه وروایي، فارغ سي، نو اذان به کیږي. صاحب د هدایې فرمایي چي صحیح خبره هغه ده کوم چي موږ بیان کړه، یعني د امام مخ ته به اذان کیږي، ځکه کله چي نبي ﷺ له خپلې خېمې څخه راووتی او په اطمینان سره پر خپلې اوښې مبارکي کښېنستی، نو مؤذنانو د نبي ﷺ مخته اذان وکړی، دا روایت د دې خبري ښکاره دلیل دا دی چي اذان به تر خطبې مخکي کیږي، او د امام مخته به کیږي. او کله چي امام له خطبې څخه فارغ سي، نو بیا به مؤذن اقامت کوي، ځکه چي همدا د لمانځه د شروع کولو وخت دی. او دا خطبه د جمعې د خطبې سره مشابه ده. او په جمعه کي تر خطبې وروسته اقامت کیږي. نو په دې کي به هم تر خطبې وروسته اقامت کیږي.

په عرفات کي د ماپښین او د مازیګر د لمانځه د یو ځای کولو حکم

قَالَ: وَيُصَلِّيْ بِهِمُ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ فِيْ وَقْتِ الظُّهْرِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ فرمایي: او امام به خلکو ته د ماپښین په وخت کي په یوه اذان او دوو اقامتونو سره د ماپښین او مازیګر لمونځونه ورکړي وَقَدْ وَرَدَ النَّقْلُ الْمُسْتَفِيْضُ بِاتِّفَاقِ الرُّوَاةِ بِالْجَمْعِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ او د راویانو په اتفاق سره د جمع بین الصلاتین په باره کي نقلِ مشهور (یعني مشهوره حدیثونه) راغلي دي وَفِيْمَا رَوٰى جَابِرٌ[●] رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د جابر رضی الله عنه په روایت سوي حدیث کي دي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّاهُمَا بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ چي نبي ﷺ دا دواړه لمونځونه په یو اذان او دوو اقامتونو سره وکړل ثُمَّ بَيَانُهُ أَنَّهُ يُؤَذِّنُ لِلظُّهْرِ وَيُقِيْمُ

● تخریج: قد مرّ تخریجه فی تحت حدیث رقم: ۹۲.

بِالظُّهْرِ یا د جمع بین الصلاتین وضاحت دا دی چې د ماپښین د لمانځه لپاره به اذان وکړي او د هغه لپاره به اقامت وکړي (یعني د ماپښین د لمانځه لپاره به اذان او اقامت دواړه وکړي) ثُمَّ يُقِيمُ لِلْعَصْرِ یا به د مازیګر د لمانځه لپاره اقامت وکړي لِأَنَّ الْعَصْرَ يُؤَدَّى قَبْلَ وَقْتِهِ الْمَعْهُودِ ځکه چې (دلته) د مازیګر لمونځ تر خپل متعین وخت مخکې اداء کیږي فَيُفْرَدُ بِالْإِقَامَةِ إِعْلَامًا لِلنَّاسِ نو د خلکو د خبرولو لپاره به یوازې (فقط) اقامت کیږي.

اللغات: ﴿نقل مستفیض﴾ د حدیثو یو قسم دی، حدیثِ مشهور. ﴿معهود﴾ معلوم، متعین. ﴿یفرد﴾ د افعال مضارع دی، یوازې کول، یوازې اداء کول. ﴿إعلام﴾ د افعال مصدر دی: خبر ورکول.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې په عرفات کې به امام خلکو ته د ماپښین او د مازیګر دواړه لمونځونه د ماپښین په وخت کې ورکړي، په دې باره کې ډېر حدیثونه راغلي دي، او ټوله روایان پر دې خبره متفق دي، چې نبي ﷺ په عرفات کې جمع بین الصلاتین کړې ده، یا حضرت جابر ﷺ هم په یوه اذان او دوو اقامتونو سره د نبي ﷺ د ماپښین او د مازیګر لمونځ رانقل کړی دی، د جمع بین الصلاتین تفصیل دا دی چې د ماپښین د لمانځه لپاره به اذان او اقامت دواړه کیږي، او د مازیګر د لمانځه لپاره به صرف اقامت کیږي، ځکه چې د جمع بین الصلاتین په وجه د مازیګر لمونځ له خپل معلوم وخت څخه مخکې اداء کیږي، نو فقط د خلکو د خبرولو لپاره به د مازیګر د لمانځه لپاره یوازې اقامت کیږي.

د ماپښین او د مازیګر په مینځ کې د نفلي لمانځه حکم

وَلَا يَتَطَوَّعُ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ او د دواړو لمونځونو په مینځ کې به نفل نه کوي تَحْصِيلًا لِمَقْصُودِ الْوُقُوفِ د وقوفِ عرفه د مقصد د حاصلولو لپاره (یعني چې د وقوفِ عرفه مقصد حاصل سي) وَلِهَذَا قُدِّمَ الْعَصْرُ عَلَى وَقْتِهِ هم په دې وجه د مازیګر لمونځ پر خپل وخت مخکې سوی دی فَلَوْ أَنَّهُ فَعَلَ نو که هغه نفل وکړل فَعَلَ مَكْرُوهًا نو مکروه کار یې وکړی وَأَعَادَ الْأَذَانَ لِلْعَصْرِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د ظاهر روایت مطابق دي د مازیګر د لمانځه لپاره اذان را وګرځوي خِلَافًا لِمَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د هغه کوم چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت سوي دي لِأَنَّ الْإِشْتِغَالَ بِالتَّطَوُّعِ أَوْ بِعَمَلٍ آخَرَ يَقْطَعُ فَوْرَ الْأَذَانِ الْأَوَّلِ ځکه چې په نفلو یا په بل کار مشغولېدل د اول اذان اتصال ختموي فَيُعِيدُهُ لِلْعَصْرِ نو د مازیګر د لمانځه لپاره به یې راګرځوي.

تشریح: مسئله: دا ده چې د عرفات په ورځ به امام یا مقتدي د دواړو لمونځونو یعني د ماپښین او د مازیګر د لمونځونو په مینځ کې هیڅ نفلي لمونځ نه کوي، یعني له فرضي لمانځه څخه علاوه به بل هیڅ سنت او نفلي لمونځ نه کوي، ځکه په دې ورځ مقصد وقوفِ عرفه (د عرفات دریدل) دي، نو د دې مقصد د حاصلولو لپاره به خپل وخت په نفلي لمونځ او نورو کارو کې نه مصرفوي، هم د دې مقصد په وجه د مازیګر لمونځ تر خپل وخت مخکې اداء کیږي، لیکن که د دې باوجود امام یا مقتدي د دواړو لمونځونو په مینځ کې نفلي لمونځ وکړی، نو د ظاهر روایت مطابق به د مازیګر د لمانځه لپاره اذان راګرځوي، د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې اذان به نه راګرځوي، د ظاهر روایت دلیل دا دی چې د ماپښین تر

لمانځه وروسته په نفلي لمانځه يا په نورو کارو کي مشغوله کېدل د مازيګر د لمانځه سره د اول اذان اتصال او ترلو ختموي، نو ځکه به د ماسپښين د لمانځه لپاره اذان راګرځوي.

د خطبې شرعي حيثيت

قَالَ: صَلَّى بِغَيْرِ خُطْبَةٍ او که بغير له خطبې يې لمونځ وکړی أَجْزَأَهُ نو دا (هم) د هغه لپاره کافي دي (يعني جائز دي) لِأَنَّ هٰذِهِ الْخُطْبَةَ لَيْسَتْ بِفَرِيضَةٍ ځکه چې دا خطبه فرض نه ده.

تشريح: يعني که امام د عرفات په ورځ خطبه نه ورېله، او بغير له خطبې يې لمونځ وکړی نو هم جمع بين صلاتين جائز ده، ځکه چې خطبه فرض نه ده.

د عرفات په ورځ د يوازي لمونځ کونکي لپاره د جمع صلاتين په مسئله کي مختلفه قولونه

قَالَ: وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِي رَحْلِهِ وَحْدَهُ فرمايي: او چا چې د ماپښين لمونځ په خپل منزل (او خيمه) کي يوازي وکړی صَلَّى الْعَصْرَ فِي وَقْتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى● نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به د مازيګر لمونځ په خپل وخت کي کوي وَقَالَا: يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا الْمُنْفَرِدُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې يوازي لمونځ کونکي به هم دواړه لمونځونه جمع کوي لِأَنَّ جَوَازَ الْجَمْعِ لِلْحَاجَةِ إِلَى امْتِدَادِ الْوُقُوْفِ ځکه چې د جمع کېدلو جواز د وقوفِ عرفه د اوږدېدلو د ضرورت په وجه دي (يعني د دواړو لمونځونو جمع کول په دې وجه جائز دي چې د وقوفِ عرفه لپاره وخت زيات پاته سي) وَالْمُنْفَرِدُ مُحْتَاجٌ إِلَيْهِ او منفرد (هم) دې ته محتاج دی (لهذا هغه به هم جمع بين الصلاتين کوي) وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: أَنَّ الْمُحَافَظَةَ عَلَى الْوَقْتِ فَرْضٌ بِالنُّصُوْصِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د وخت ساتنه (او د وخت پابندي کول) په قرآني آيت سره فرض دي فَلَا يَجُوْزُ تَرْكُهُ نو د هغه پرېښوول به جائز نه وي إِلَّا فِيْمَا وَرَدَ الشَّرْعُ بِهِ خو په هغه صورت کي چې د هغه په باره کي شريعت وارد سوی وي وَهُوَ الْجَمْعُ بِالْجَمَاعَةِ مَعَ الْإِمَامِ او هغه د امام سره په جماعت (د دواړو لمونځونو) جمع کول دي وَالتَّقْدِيْمُ لِصِيَانَةِ الْجَمَاعَةِ او (د مازيګر لمونځ) مخکي کول د جماعت د ساتني لپاره دي (چې جماعت فوت نه سي) لِأَنَّهُ يَعْسُرُ عَلَيْهِمُ الْإِجْتِمَاعُ لِلْعَصْرِ بَعْدَمَا تَفَرَّقُوْا فِي الْمَوْقِفِ ځکه پر خلکو راجمع کېدل ستونزمن کيږي وروسته تر هغه چې د عرفات په ميدان کي خواره سي (يعني که حاجيان د عرفات په ميدان کي خواره او منتشر سي نو د مازيګر د لمانځه لپاره بيا راجمع کېدل د هغو لپاره ستونزمن دي) لَا لِمَا ذَكَرَاهُ نه په هغه وجه کوم چې صاحبينو ذکر کړې ده إِذْ لَا مُنَافَاةَ ځکه هيڅ منافات نسته (په دې کي چې د وقوفِ عرفه لپاره وخت هم زيات پاته سي او د هغه سره لمونځ هم وسي) ثُمَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● الْإِمَامُ شَرْطٌ فِي الصَّلَاتَيْنِ جَمِيْعًا بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په دواړو لمونځونو کي امام

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۱۸۹. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۱۰]

● القول الراجح: قول الإمام أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۱۸۹. [القول الراجح ج:۱، ص: ۲۱۱]

شرط دی وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: لِلْعَصْرِ خَاصَّةً او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي خاص د مازیګر په لمانځه کي شرط دی لِأَنَّهُ هُوَ الْمُغَيَّرُ عَنْ وَقْتِهِ ځکه چي د مازیګر لمونځ له خپل وخت څخه بدل سوی دی وَعَلَىٰ هٰذَا الْخِلَافِ الْإِحْرَامُ بِالْحَجِّ او پر دې اختلاف د حج احرام (هم) دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ التَّقْدِيمَ عَلَىٰ خِلَافِ الْقِيَاسِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي د مازیګر لمونځ مخکي کول خلافُ القیاس دي عُرِفَ شَرْعُهُ فِيمَا إِذَا كَانَتِ الْعَصْرُ مُرَتَّبَةً عَلَىٰ ظُهْرٍ مُؤَدَّى بِالْجَمَاعَةِ مَعَ الْإِمَامِ فِي حَالَةِ الْإِحْرَامِ بِالْحَجِّ (ځکه) د هغه مشروعیت داسي معلوم سوی دي چي د مازیګر لمونځ به د ماپښین پر داسي لمانځه مرتب وي چي هغه به د حج د احرام په حالت کي د امام سره په جماعت اداء سوی وي فَيُقْتَصَرُ عَلَيْهِ نو د مازیګر د لمانځه مخکي کول به پر دې (شرطونو) منحصر وي ثُمَّ لَا بُدَّ مِنَ الْإِحْرَامِ بِالْحَجِّ قَبْلَ الزَّوَالِ فِي رِوَايَةٍ بیا په یوه روایت کي تر زوال مخکي د حج احرام ضروري دی تَقْدِيمًا لِلْإِحْرَامِ عَلَىٰ وَقْتِ الْجَمْعِ چي احرام د جمع کېدلو تر وخت مخکي سي وَفِي أُخْرَىٰ يَكْتَفِي بِالتَّقْدِيمِ عَلَى الصَّلَاةِ او په دویم روایت کي پر لمانځه (د احرام) مخکي کول کافي دي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الصَّلَاةُ ځکه مقصود خو لمونځ دی.

اللغات: ﴿رحل﴾ کجاوه، منزل، پړاو، ﴿منفرد﴾ یوازي، ﴿امتداد﴾ اوږدېدل، غوړېدل، ﴿بصر﴾ سختېدل، ستونزمن کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو حاجي د عرفات په ورځ د ماپښین لمونځ په خپل تم ځای (منزل) کي یوازي وکړی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به دا سړی د مازیګر لمونځ په خپل وخت کي اداء کوي، یعني د ماپښین او مازیګر لمونځ به د ماپښین په وخت کي نه جمع کوي، صاحبین فرمایي چي یوازي لمونځ کونکي به هم دواړه لمونځونه جمع کوي، یعني د جمع بین الصلاتین په حکم کي منفرد او په جماعت سره لمونځ کونکی دواړه برابر دي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي په عرفات کي حاجي ته د ماپښین او د مازیګر د لمونځونو د جمع کولو اجازه ځکه ورکول سوې ده چي وقوفِ عرفات اوږد او ډېر وسي، یعني د وقوفِ عرفه د اوږدېدلو په وجه د جمع بین الصلاتین اجازه ورکول سوې ده، همدا وجه ده چي پر چا وقوف فرض نه وي، د هغه لپاره جمع بین الصلاتین هم جائز نه ده، او په دې ضرورت کي منفرد او په جماعت سره لمونځ اداء کونکی دواړه برابر دي، نو ځکه به د جمع بین الصلاتین حکم د دواړو لپاره برابر وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي په وخت کي دننه د لمانځه محافظت او ساتنه فرض ده، لکه څرنګه چي په آیت کي راځي: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ، او إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا، او کوم شی چي په قرآني نصوصو سره ثابت وي، د هغه پرېښول جائز نه دي، خو دا چي د هغه په خلاف شریعت وارد سوی وي، او د شریعت ورود په هغه صورت کي سوی دی چي کله د امام سره په جماعت لمونځ اداء کړی سي، نو ثابته سوه چي که حاجي د عرفات په ورځ د ماپښین او د مازیګر لمونځ په جماعت سره اداء کوي، نو د هغه لپاره به د مازیګر لمونځ پر خپل وخت مخکي کول یعني د جمع بین الصلاتین اجازه وي، کنې نه به وي.

والتقديم لصيانة الخ له دې ځایه د صاحبینو د دلیل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي د مازیګر لمونځ پر خپل وخت مخکي کول د وقوف د امتداد (اوږدېدلو) په وجه سره نه دي، لکه څرنګه چي تاسو وایاست، ځکه د لمانځه او د وقوف په مینځ کي هیڅ منافات نسته، دواړه جمع کېدلای سي (ځکه په یوه میدان کي کیږي)، او د لمانځه وخت هم د

وقوف عرفه وخت دی، لهذا که د مازیګر لمونځ مخکې هم سي، نو په وقوف عرفه کې هیڅ زیاتوب نه راځي)، نو د مازیګر د لمانځه د مخکې کولو اصلي وجه د جماعت حفاظت دی، ځکه که خلک د ماپښین تر لمانځه وروسته د عرفات په میدان کې خواره سي، نو د مازیګر د لمانځه د جماعت لپاره به د هغو را جمع کېدل ستونزمن او سخت وي، نو د دې سختۍ په وجه او د جماعت د فضیلت د حاصلولو په وجه دا حکم سوی دی چې د مازیګر لمونځ به پر خپل وخت مخکې کېږي او د ماپښین د لمانځه سره به یو ځای کېږي.

ثم عند أبي حنيفة الخ د دې حاصل دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ماپښین او د مازیګر په دواړو لمونځونو کې د امامُ المسلمین یا د هغه د نائب وجود شرط دی، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز خاص د مازیګر په لمانځه کې شرط دی(نو که د ماپښین لمونځ یوازې وکړي نو هم صحیح دي)، او همدا اختلاف د حج په احرام کې دی، یعني د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز په دواړو لمونځو کې د حج احرام شرط او ضروري دی، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز صرف د مازیګر په لمانځه کې د حج احرام شرط دی، د امام زفر رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د مازیګر لمونځ له خپل وخت څخه بدل سوی دی، نو ځکه به د امام یا د هغه د نائب شرطیت او د حج د احرام شرطیت خاص د مازیګر په لمانځه کې وي، او څرنګه چې د ماپښین په لمانځه کې هیڅ بدلون را غلی نه دی، لهذا دا شیان به د ماپښین په لمانځه کې شرط نه وي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د مازیګر لمونځ تر خپل وخت مخکې اداء کول د قیاس خلاف دي، او دا مخکې اداء کول د ماپښین پر داسې لمانځه مرتب دي چې هغه د حج د احرام په حالت کې د امام سره په جماعت اداء سوی وي، نو د جمع بین الصلاتین لپاره په دواړو لمونځونو کې دا شرطونه ضروري او لازمي دي، ځکه چې دا قاعده خو تاسو ته معلومه ده چې کوم شی د قیاس خلاف ثابت وي، هغه به پر خپل مورد منحصر وي، او د عرفات په ورځ خلاف قیاس جمع بین الصلاتین مع وجود الإحرام والإمام ثابت دي، نو ځکه به د هر سړي او د هر حاجي په حق کې او په دواړو لمونځونو کې دا شرطونه ضروري وي، او صرف د مازیګر یا د ماپښین لمونځ به د دې شرطونو سره حاصول صحیح نه وي.

ولا بد من الإحرام الخ د دې حاصل دا دی چې د جمع بین الصلاتین د جواز لپاره تر زوال مخکې د حج احرام ضروري دی، لیکن یو بل روایت دا دی چې تر زوال مخکې احرام ضروري نه دی، بلکې د ماپښین تر لمانځه مخکې که یو چا د حج احرام وتړی نو هم جائز دي، ځکه چې لمونځ اصل او مقصود دی، نو پر لمانځه به مخکې کول کافي وي، او پر وخت به مخکې کول څه ضروري نه وي.

په عرفات کې به د کوم غره سره نږدې درېږي؟

قَالَ: ثُمَّ يَتَوَجَّهُ إِلَى الْمَوْقِفِ فرمايي: چې بيا به متوجه سي ځای د درېدو ته فَيَقِفُ بِقُرْبِ الْجَبَلِ نو د غره سره به نږدې ودرېږي وَالْقَوْمُ مَعَهُ عَقِيبَ انْصِرَافِهِمْ مِنَ الصَّلَاةِ او (توله) خلک به د لمانځه څخه تر فراغت وروسته د امام سره یو ځای سي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] رَاحَ إِلَى الْمَوْقِفِ عَقِيبَ الصَّلَاةِ ځکه چې نبي ﷺ تر لمانځه وروسته د درېدلو ځای ته ولاړی وَالْجَبَلُ يُسَمَّى جَبَلَ الرَّحْمَةِ او دې غره ته جبل الرحمه ویل کېږي وَالْمَوْقِفُ مَوْقِفُ الْأَعْظَمِ او د درېدلو ځای ته موقف اعظم ویل کېږي.

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب حجة النبي ﷺ، حديث رقم: ١٢٧.

اللغات: ﴿موقف﴾ د ضرب د باب اسم ظرف دی، د درېدلو ځای.

تشریح: مسئله: دا ده چې کله امام او خلک په مسجد نمره کې د ماپښین او د مازیگر لمونځونه یو ځای وکړي، نو امام او ټوله خلک به موقف ته روان سي، او د غره سره به نژدې ودرېږي، د دې غره نوم جبل رحمت او د موقف نوم موقف اعظم دی، نبي ﷺ هم د دې غره سره وقوف کړی وو.

ټوله میدان د درېدلو ځای دی

قَالَ: وَعَرَفَاتٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ فرمایي: او عرفات ټوله د درېدلو ځای دی ماسوا له بطن عرنه څخه لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: عَرَفَاتٌ● كُلُّهَا مَوْقِفٌ وَارْتَفِعُوا عَنْ بَطْنِ عُرَنَةَ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: "چې عرفات ټوله د درېدلو ځای دی او له بطن عرنه څخه پورته اووسئ (لیري اووسئ) وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ وَارْتَفِعُوا عَنْ وَادِيْ مُحَسِّرٍ او ټوله مزدلفه د درېدلو ځای دی او له وادی محسر څخه پورته اووسئ".

اللغات: ﴿موقف﴾ د ضرب د باب اسم ظرف دی: د درېدلو ځای.

تشریح: مسئله: دا ده چې له بطن عرنه څخه علاوه ټوله عرفات موقف او د درېدلو ځای دی، یعني حاجي به په بطن عرنه کې نه درېږي، نور به هر ځای کې درېدای سي، (بطن عرنه په عرفات کې د یو شېلې نوم دی). بعضي حضراتو فرمایلي دي چې نبي ﷺ ځکه په بطن عرنه کې له درېدلو څخه منع کړې ده چې په هغې کې یې شیطان لیدلی وو؛ همدارنګه نبي ﷺ فرمایلي دي چې له وادي محسر څخه علاوه ټوله مزدلفه موقف دی.

د حج د امیر لپاره په عرفات کې د درېدلو مستحب صورت

قَالَ: وَيَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ يَقِفَ بِعَرَفَةَ عَلَى رَاحِلَتِهِ فرمایي: او امام ته پکار ده چې په عرفات کې پر (خپل) سپرلي ودرېږي (یعني وقوف عرفه دې پر خپل سپرلي وکړي) لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● وَقَفَ عَلَى نَاقَتِهِ ځکه نبي ﷺ (هم) پر خپلې اوښې ودرېدی وَإِنْ وَقَفَ عَلَى قَدَمَيْهِ جَازَ او که پر پښو ودرېدی نو (هم) جائز دي وَالْأَوَّلُ أَفْضَلُ او اول افضل دي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَيَنْبَغِي أَنْ يَقِفَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ او مناسب دا ده چې مخ پر قبله ودرېږي لِأَنَّ النَّبِيَّ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَفَ كَذٰلِكَ ځکه نبي ﷺ هم مخ پر قبله ودرېدی وَقَالَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: خَيْرُ● الْمَوَاقِفِ مَا اسْتُقْبِلَتْ بِهِ الْقِبْلَةُ او نبي ﷺ فرمایلي دي: "غوره موقف هغه دی چې په هغه سره د قبلې استقبال وسي (یعني غوره درېدل هغه دي چې د قبلې وطرف ته وي)".

اللغات: ﴿ینبغی﴾ د انفعال مضارع ده: مناسب ده، پکار ده، ﴿راحلة﴾ سپرلي، ﴿ناقة﴾ اوښه.

● تخریج: أخرجه ابن ماجه فی کتاب المناسک، حدیث رقم: ۳۰۱۲، ۳۰۱۰.
● قد مر تخریجه تحت حدیث رقم: ۹۸.
● قد مر تخریجه تحت حدیث رقم: ۹۸.
● غریب بهذا اللفظ ولکن بمعناه أخرجه الحاکم فی المستدرک ج:۲، ص: ۲۷۰.

تشريح: مسئله: دا ده چې د امامُ المسلمين او د خليفه لپاره پر سپرلۍ وقوف کول افضل دي، ځکه چې دا د نبي ﷺ سنت دی، لیکن که هغه په پښو ودرېدی نو هم جائز دي، او مخ پر قبله وقوف کول هم افضل دي، ځکه د نبي ﷺ عمل او فرمان دواړه همدا ډول دي، لکه څرنګه چې په حديث کې راځي: إن لكل شئ شرفاً وإن شرف المجالس ما استقبل به القبلة، او په يوه روايت کې راځي: أكرم المجالس ما استقبل به القبلة.

د امام لپاره مستحب عملونه

وَيَدْعُوْ وَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْمَنَاسِكَ او امام به دعاء وکړي او خلکو ته به د حج احکام وروښيي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● كَانَ يَدْعُوْ يَوْمَ عَرَفَةَ ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ به د عرفات په ورځ دعاء کوله مَادًّا يَدَيْهِ كَالْمُسْتَطْعِمِ الْمِسْكِيْنِ (او) لاسونه به يې داسې غوړولي(او پورته کړي) ول لکه (خيرات) غوښتونکی مسکين وَيَدْعُوْ بِمَا شَاءَ او کومه دعاء چې غواړي هغه به کوي وَإِنْ وَرَدَ الْآثَارُ بِبَعْضِ الدَّعَوَاتِ که څه هم آثار (حديثونه) د بعضي دعاګانو په باره کې وارد سوي دي وَقَدْ أَوْرَدْنَا تَفْصِيْلَهَا فِيْ كِتَابِنَا او موږ دې تفصيل په خپل کتاب کې ذکر کړی دی الْمُتَرْجَمُ بِعِدَّةِ النَّاسِكِ فِيْ عِدَّةٍ مِنَ الْمَنَاسِكِ چې هغه نومول سوی دي په عدة الناسك فى عدة من المناسك سره بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالَى د الله په توفيق سره.

اللغات: ﴿مستطعم﴾ خوراک غوښتونکی (خيرات غوښتونکی).

تشريح: د کومو دعاګانو په باره کې چې حديثونه راغلي دي، له هغو څخه يو حديث د حضرت علي رضي الله عنه دی: عن علي أنه ﷺ قال أكثر دعائي و دعاء الانبياء من قبلي عشية عرفة: لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا اَللّٰهُمَّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ وَيَسِّرْ لِيْ أَمْرِيْ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَسْوَاسِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الْأَمْرِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا يَلِجُ فِي الْبَحْرِ وَشَرِّ مَا تَهُبُّ بِهِ الرِّيَاحُ. (بنايه ج۴، ص۱۰۷، عنايه ج۲)

امام ته د نږدې درېدلو حکم

وَيَنْبَغِيْ لِلنَّاسِ أَنْ يَقِفُوْا بِقُرْبِ الْإِمَامِ او خلکو ته پکار دي چې امام ته نږدې ودرېږي لِأَنَّهُ يَدْعُوْ وَيُعَلِّمُ ځکه چې امام دعاء کوي او (د حج احکام) ښيي فَيَعُوْا وَيَسْتَمِعُوْا نو خلک به دا ياد کړي او په غور سره به يې واوري وَيَنْبَغِيْ أَنْ يَقِفُوْا وَرَاءَ الْإِمَامِ او پکار دي چې د امام شا ته ودرېږي لِيَكُوْنَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ چې مخ پر قبله سي وَهٰذَا بَيَانُ الْأَفْضَلِيَّةِ او دا بيان د افضليت دی لِأَنَّ عَرَفَاتٍ كُلَّهَا مَوْقِفٌ ځکه چې عرفات ټوله د درېدلو ځای دی عَلٰى مَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه.

● تخريج: أخرجه البيهقي في سننه في كتاب الحج، باب أفضل الدعاء دعاء يوم عرفة، حديث رقم: ۹۴۷۴.

تشريح: په دې عبارت کې دوې لاربنوونې ذکر سوي دي؛ (۱) يوه دا چې حاجي به د عرفات په ميدان کې د امام سره نژدې درېږي، چې د هغه خبرې واوري او يادې يې کړي. (۲) بله دا چې د امام په يول دې حاجي هم مخ پر قبله سي. خو دا لاربنوونې واجب نه دي، بلکې د افضليت درجه لري.

د عرفات په ورځ دوه مستحب عملونه

قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَغْتَسِلَ قَبْلَ الْوُقُوفِ فرمايي: او (د حاجي لپاره) مستحب دا ده چې (په عرفات کې) تر درېدلو مخکې غسل وکړي وَيَجْتَهِدَ فِي الدُّعَاءِ او په دعاء کې ښه کوښښ وکړي أَمَّا الِاغْتِسَالُ فَهُوَ سُنَّةٌ کوم چې غسل دی نو هغه سنت دی وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ او واجب نه دی وَلَوِ اكْتَفَى بِالْوُضُوءِ جَازَ او که په اوداسه اکتفاء وکړي نو جائز دي كَمَا فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَعِنْدَ الْإِحْرَامِ لکه په جمعه، اخترونو او د احرام په وخت کې (چې هم واجب نه دي) وَأَمَّا الِاجْتِهَادُ او هر چې په دعاء کې کوښښ کول دي فَلِأَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْتَهَدَ فِي الدُّعَاءِ فِي هٰذَا الْمَوْقِفِ لِأُمَّتِهِ نو ځکه چې نبي ﷺ په دې ځای کې د خپل اُمّت لپاره په دعاء کې کوښښ کړی وو فَاسْتُجِيبَ لَهُ إِلَّا فِي الدِّمَاءِ وَالْمَظَالِمِ چې هغه دعاء (د ټولو شيانو په باره کې) د نبي ﷺ لپاره قبوله سوه ماسوا په خونونو او ظلمونو کې (يعني له تاوانو او ظلمونو څخه علاوه نور د ټولو شيانو په باره کې د نبي ﷺ دعاګانې الله تعالیٰ قبولې کړې).

تشريح: مسئله: دا ده چې تر وقوفِ عرفه مخکې د حاجي لپاره غسل کول او ښه په عاجزي او تضرع سره دعاء کول مستحب يعني غيرِ واجب دي، صاحب د هدايې د مستحب وضاحت کوي فرمايي چې تر وقوفِ عرفه مخکې غسل کول سنت دي، واجب نه دي، نو که پر اوداسه يې اکتفاء وکړه نو هم جائز دي، لکه د جمعې، اخترونو او د احرام په وخت کې چې غسل کول سنت دي، ليکن که پر اوداسه اکتفاء وکړي نوهم جائز دي، او په دعاء کې کوښښ او مبالغه کول مستحب دي، ځکه چې نبي ﷺ د خپل امت لپاره په دې مقام کې په ډېر کوښښ او ژړا سره دعاء کړې ده، او د نبي ﷺ ټولې دعاګانې قبلې سوي هم دي، ليکن د ناحقه قتل او د حقوقُ العباد سره متعلق دعاګانې پر دې موقع رد سوي دي، ځکه چې له ظالم او جابر څخه به خامخا الله ﷻ د مظلومانو او د خپلو بندګانو د حقونو بدله اخلي.

د عرفات په ورځ د تلبيې ويلو حکم

وَيُلَبِّي فِي مَوْقِفِهِ سَاعَةً بَعْدَ سَاعَةٍ او حاجي به په خپل موقف (يعني د درېدلو په ځای کې) ګړي په ګړي سره تلبيه وايي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ: يَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ كَمَا يَقِفُ بِعَرَفَةَ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې کله په عرفات کې ودرېږي نو (سمدستي) به تلبيه ختموي لِأَنَّ الْإِجَابَةَ بِاللِّسَانِ قَبْلَ الِاشْتِغَالِ بِالْأَرْكَانِ ځکه چې په ژبه سره (د حاضرېدلو) جواب ورکول مخکې دي په ارکانو سره تر مشغوله کېدلو (لهذا کله چې وقوفِ عرفه شرع کړي، نو په ژبه سره بيا د لبيک ويلو ضرورت نسته) وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَا زَالَ يُلَبِّي حَتَّى أَتَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ او زموږ دليل دا

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب المناسک، باب الدعاء بعرفة، حديث رقم: ۳۰۱۳.

● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم أخرجه ابن ماجه في كتاب المناسک، باب متى يقطع الحاج التلبية، حديث رقم: ۳۰۳۹، وبخاری في كتاب الحج، باب رقم: ۱۱، ومسلم في كتاب الحج، حديث رقم: ۲۶۶، و ابو داؤد في كتاب الحج، باب رقم: ۲۷، حديث رقم: ۱۸۱۵.

دی چې نبي ﷺ مسلسل تلبيه ويله تر دې چې جمرة العقبة ته راورسېدی وَلِأَنَّ التَّلْبِيَةَ فِيهِ كَالتَّكْبِيرِ فِي الصَّلَاةِ او ځکه چې په حج کې تلبيه داسې ده لکه په لمانځه کې چې تکبير دی فَيَأْتِي بِهَا إِلَى آخِرِ جُزْءٍ مِنَ الْإِحْرَامِ نو محرم به تلبيه وايي د احرام تر آخري جزء پورې.

اللغات: ﴿ساعة بعد ساعة﴾ ساعت په ساعت، ګړي په ګړي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې حاجي به د عرفات په ميدان کې په خپل موقف کې هر ګړی تلبيه وايي تر دې چې د جمرة عقبه رمی وکړي، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې کله حاجي په ميدان د عرفات کې وقوف وکړي، نو سملستي به تلبيه بنده کړي، د امام مالک رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې تلبيه په ژبه سره د حاضرۍ جواب دی (ځکه د لبيك معنیٰ ده: زه حاضر يم، يعني زه عرفات ته حاضرېږم)، او په ژبه سره د حاضرۍ جواب د حج په ارکانو تر مشغوله کېدلو مخکې دی، يعني "زه حاضر يم" هلته ويل پکار دي چې تر اوسه عرفات ته وي حاضر سوی، او تر اوسه لا په وقوفِ عرفه نه وي مشغوله سوی، لېکن کله چې په وقوفِ عرفه مشغول سي، او عرفات ته حاضر سې نو بيا د دې يعني د لبيك د ويلو ضرورت نسته.

ولنا ما روى الخ زموږ دليل دا حديث دی چې نبي ﷺ تر رمي جمار پورې مسلسل تلبيه ويله، دويم دليل دا دی چې تلبيه په حج کې داسې ده لکه په لمانځه کې چې تکبير دی، او په لمانځه کې تکبير مکرّر ويل کېږي، تر دې چې د لمانځه تر آخره پورې پاتېږي، نو پر دې به په قياسولو سره تلبيه هم د احرام تر آخره پورې پاتېږي، لېکن سوال دا کېږي چې د دې قياس تقاضا خو دا ده چې د رمی جمار په وخت کې به هم تلبيه ويل کېږي، حال دا چې داسې نه ده، بلکې د جمرة عقبې د اولې ډبرې په وخت کې به تلبيه خامخا ختمېږي (يعني کله چې حاجي جمرة عقبې ته اوله ډبره ور غورځوي نو حتمًا به تلبيه بندوي)، جواب دا دی چې د قياس تقاضا خو همدغه وه، لېکن د اجماع او حديث په وجه به دا قياس پرېښوول کېږي.

مزدلفې ته د روانېدلو وخت

قَالَ: وَإِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ فرمايي: چې کله لمر ولوېږي أَفَاضَ الْإِمَامُ نو امام دې را وګرځېږي (يعني له عرفات څخه دې روان سي) وَالنَّاسُ مَعَهُ عَلَى هِينَتِهِ او خلک دې ور سره وي په سکون سره حَتّٰى يَأْتُوا الْمُزْدَلِفَةَ تر دې چې مزدلفې ته راسي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ دَفَعَ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ ځکه چې نبي ﷺ تر لمر لوېدلو وروسته روان سو وَلِأَنَّ فِيهِ إِظْهَارَ مُخَالَفَةِ الْمُشْرِكِينَ او په دې وجه (هم) چې په داسې کړني کې د مشرکينو د مخالفت ښکارندونه ده وَكَانَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يَمْشِي عَلَى رَاحِلَتِهِ فِي الطَّرِيقِ عَلَى ❷ هِينَتِهِ او نبي ﷺ به (هم) پر خپله اوښه په لاره کې په سکون سره تلی.

---

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسک، باب الإفاضة من عرفة، حديث رقم: ١٩٢٢.

❷ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسک، باب الدفع من عرفة، حديث رقم: ١٩٢، و قد مرّ تخريجه تحت حديث رقم: ٩٨.

اللغات: ﴿الماضي﴾ د افعال ماضي دي، واپس روانېدل، راګرځېدل. ﴿على هينته﴾ په سکون (او وقار) سره.

تشریح: مسئله: دا ده چې د ذي الحجې په نهمه ورځ دې حاجیان تر لمر لوېدلو وروسته سمدستي مزدلفې ته په ډېر سکون او ادب سره روان سي، او د ماښام لمونځ دې نه کوي. ځکه چې نبي ﷺ هم تر لمر لوېدلو وروسته له عرفات ځخه روان سوی وو، دویم دلیل دا دی چې په دې کې د مشرکینو مخالفت دی، ځکه چې په جاهلیت کې به مشرکین له عرفات ځخه تر لمر لوېدلو مخکې روانېدل. او ځرنګه چې نبي ﷺ په لاره کې پر خپله قصواء اوښه په ډېر سکون او وقار سره روان وو، نو اُمتي ته هم پکار ده چې په سکون او اطمینان سره ځان ښایسته کړي.

تر امام مخکې د تللو حکم

فَإِنْ خَافَ الزِّحَامَ بیا که حاجي له ګڼې (او رش) ځخه وېرېږي فَدَفَعَ قَبْلَ الْإِمَامِ او تر امام مخکې (له عرفات ځخه) روان سي وَلَمْ يُجَاوِزْ حُدُوْدَ عَرَفَةَ أَجْزَأَهُ لېکن د عرفات تر حدودو تېر نه سي نو دا د هغه لپاره جائز دي لِأَنَّهُ لَمْ يُفِضْ مِنْ عَرَفَةَ ځکه چې هغه له عرفات ځخه نه وو تی وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَّقِفَ فِيْ مَقَامِهِ او افضل دا ده چې پر خپل ځای ودرېږي کَيْ لَا يَكُوْنَ آخِذًا فِي الْأَدَاءِ قَبْلَ وَقْتِهَا چې تر وخت مخکې د اداء شروع کونکی نه سي وَلَوْ مَكَثَ قَلِيْلًا بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ وَإِفَاضَةِ الْإِمَامِ او که تر لمر لوېدلو او د امام تر روانېدلو وروسته لږ ګړی ودرېږي لِخَوْفِ الزِّحَامِ د ګڼې (او رش) د بېرې په وجه فَلَا بَأْسَ بِهِ نو په دې کې ځه حرج نسته لِمَا رُوِيَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا[1] بَعْدَ إِفَاضَةِ الْإِمَامِ دَعَتْ بِشَرَابٍ ځکه روایت سوی دی چې حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د امام تر روانېدلو وروسته اوبه را وغوښتلې فَأَفْطَرَتْ ثُمَّ أَفَاضَتْ او روژه یې ماته کړه بیا روانه سوه.

اللغات: ﴿زحام﴾ ګڼه ګوڼه، رش، ازدحام. ﴿دفع﴾ له عرفات ځخه وتل (تلل). ﴿شراب﴾ د چیښلو شی (اوبه).

تشریح: مسئله: دا ده که حاجي د ګڼې ګوڼې او ازدحام په بېره د امام تر روانېدلو مخکې عرفات ته روان سو، او د عرفات له حدودو ځخه نه ووتی نو جائز دي، ځکه چې دې ته "له عرفات ځخه روانېدل او وتل" نه ویل کېږي، خو بیا هم دا خلافِ اولیٰ دي، لهذا افضله دا ده چې پر خپل ځای پاته سي، د دې لپاره چې تر وخت مخکې اداء یعني له عرفات ځخه روانېدل ثابت نه سي، له ذکر سوي عبارت ځخه دا معلومه سوه چې که حاجي د امام تر روانېدلو مخکې او تر لمر لوېدلو مخکې د عرفات تر حدودو تېر سي، نو پر هغه قرباني واجب ده، لېکن که د عرفات و طرف ته بېرته راوګرځېږي، بیا د امام سره تر لمر لوېدلو وروسته روان سي، نو قرباني ساقطېږي، او که تر لمر لوېدلو وروسته راوګرځېږي، نو نه ساقطېږي.

فلومکث قلیلا الخ فرمايي که حاجي تر لمر لوېدلو او د امام تر روانېدلو وروسته د ازدحام د بېرې په وجه ځه ودرېږي، نو په دې کې ځه حرج نسته، ځکه روایت سوی دی چې حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا له عرفات ځخه د امام تر روانېدلو وروسته اوبه طلب کړې او روژه یې ماته کړه، بیا روانه سو، ښکاره خبره ده چې د اوبو په راغوښتلو او د روژې په ماتولو کې ځه ځنډ او وخت خامخا لګېږي، نو ثابته سوه چې په ځه ځنډېدلو او درېدلو کې هېڅ حرج نسته.

---

[1] تخريج: أخرجه ابن شيبه في مصنفه.

په مزدلفه کې د درېدلو مستحب ځای

قَالَ: وَإِذَا أَتَى مُزْدَلِفَةَ فرمايي: چې کله حاجي مزدلفې ته راسي فَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يَقِفَ بِقُرْبِ الْجَبَلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْمِيقَدَةُ نو مستحب دا ده چې د هغه غره سره نژدې ودرېږي چې پر هغه نغرى (د اور بلولو ځاى) دى يُقَالُ لَهُ قُزَحُ چې هغه غره ته قزح ويل کيږي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَفَ عِنْدَ هَذَا الْجَبَلِ ځکه چې نبي ﷺ (هم) د دې غره سره نژدې درېدلى وو وَكَذَا عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا همدارنګه حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه هم وَيَتَحَرَّزُ فِي النُّزُولِ عَنِ الطَّرِيقِ او ځان به ساتي له دې څخه چې لارې ته راښکته سي كَيْ لَا يَضُرَّ بِالْمَارَّةِ چې تېرېدونکو ته تکليف ورنه کړي فَيَنْزِلُ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ يَسَارِهِ لهذا د لارې راسته يا چپه طرف ته دې شوه سي وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَقِفَ وَرَاءَ الْإِمَامِ او مستحب دا ده چې د امام شاته ودرېږي لِمَا بَيَّنَّا فِي الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ په وقوف عرفه کې بيان کړى.

اللغات: ﴿الميقدة﴾ له رقد څخه مشتق دى: د اور بلولو ځاى، نغرى، اور غالى (د جاهليت په زمانه کې به پر دې غره د اور بلولو ځاى وو چې هغه ته به مقيده ويل کېده، دلته به اور ځکه بلېدى چې رڼا به خوره سي او تر ليرې پوري ورسيږي، ځکه چې دا غر ډېر جګ دى، د هارون رشيد په زمانه کې به په دې ځاى کې شمعې لګېدلې، او تر هغه وروسته خټ خټ څراغونه شروع سول). ﴿قزح﴾ د قاف په ضمه او د زاء په فتحه سره دى، معنىٰ يې ده جګ، لوړ، د جګوالي او لوړي په وجه دې غره ته قزح ويل کيږي.

تشريح: د حاجي لپاره په مزدلفه کې د جبل قزح سره نژدې درېدل مستحب دي، ځکه چې نبي ﷺ هم د دې غر سره نژدې درېدلى وو، او حضرت عمر رضی الله عنه هم د دې سره نژدې وقوف کړى وو، همدارنګه حاجي ته پکار ده چې لارې ته راښوه نه سي، بلکې د لارې راسته يا چپه طرف دې شوه سي، ځکه لارې ته د راښوه کېدلو په صورت کې خلکو ته تکليف رسيږي، همدا راز د حاجي لپاره په مزدلفه کې هم تر امام شاته درېدل مستحب دي، دليل هغه دى کوم چې د وقوفِ عرفه په باره کې مخکې تېر سو.

په مزدلفه کې د جمع بين الصلاتين بيان

قَالَ: وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ فرمايي: او امام به خلکو ته د ماښام او د ماخوستن لمونځ په يوه اذان او يوه اقامت سره ورکړي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په يوه اذان او دوو اقامتونو سره به لمونځ ورکړي اِعْتِبَارًا بِالْجَمْعِ بِعَرَفَةَ په عرفات کې پر جمع بين الصلاتين په قياسولو سره وَلَنَا رِوَايَةُ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زموږ دليل د حضرت جابر رضی الله عنه روايت دى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ بَيْنَهُمَا بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ چې نبي ﷺ دواړه په يوه اذان او اقامت سره جمع کړل وَلِأَنَّ الْعِشَاءَ فِي وَقْتِهِ او ځکه چې د

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء أن عرفة كلها موقف، حديث رقم: ۸۸۵.

● تخريج: أخرجه ابن ابي شيبه في مصنفه.

ماخوستن لمونځ په خپل وخت کي دی فَلَا يُفْرَدُ بِالْإِقَامَةِ إِعْلَامًا نو د اطلاع ورکولو لپاره به يوازي اقامت نه کيږي بِخِلَافِ الْعَصْرِ بِعَرَفَةَ په خلاف په عرفات کي د مازيګر د لمانځه لِأَنَّهُ مُقَدَّمٌ عَلَى وَقْتِهِ ځکه چي هغه پر خپل وخت مخکي دی فَأُفْرِدَ بِهَا لِزِيَادَةِ الْإِعْلَامِ نو د اطلاع د زياتوالي لپاره به اقامت يوازي کيږي.

تشريح: مسئله: دا ده چي امام به د ماښام او د ماخوستن لمونځونه په مزدلفه کي د ماخوستن په وخت کي په يوه اذان او اقامت سره ورکري، د امام زفر رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي په يوه اذان او دوو اقامتونو سره به يې ورکړي، امام زفر رَحِمَهُ الله په مزدلفه کي جمع بين المغرب والعشاء قياس کړې ده په عرفات کي پر جمع بين الظهر والعصر باندي، يعني څرنګه چي په عرفات کي د ماپښين او مازيګر لمونځونه په يوه اذان او دوو اقامتونو سره جمع کيږي، همدارنګه به په مزدلفه کي د ماښام او ماخوستن لمونځونه په يوه اذان او دوو اقامتونو سره جمع کيږي، زموږ دليل د حضرت جابر رضی الله عنه حديث دی چي نبي ﷺ په مزدلفه کي د ماښام او ماخوستن لمونځونه په يو اذان او يو اقامت سره جمع کړل، دويم دليل دا دی چي د ماخوستن لمونځ په خپل وخت کي دی، نو د خلکو د خبرولو لپاره د جلا اقامت بالکل ضرورت نشته، په خلاف د مازيګر د لمانځه چيَ د عرفات په ميدان کي د مازيګر لمونځ تر خپل وخت مخکي کيږي، نو ځکه به د خلکو د لا خبرتيا لپاره د مازيګر د لمانځه لپاره اقامت کيږي.

د دواړو لمونځونو په مينځ کي د نفلي لمانځه حکم

وَلَا يَتَطَوَّعُ بَيْنَهُمَا او د دې دواړو په مينځ کي به نفل نه کوي لِأَنَّهُ يُخِلُّ بِالْجَمْعِ ځکه چي هغه په جمع کي خلل اچوي وَلَوْ تَطَوَّعَ أَوْ تَشَاغَلَ بِشَيْءٍ او که نفل وکړي يا په بل شي مشغوله سي أَعَادَ الْإِقَامَةَ لِوُقُوعِ الْفَصْلِ نو اقامت دي را وګرځوي د فصل (بېلتون) واقع کېدلو په وجه وَكَانَ يَنْبَغِي أَنْ يُعِيدَ الْأَذَانَ او مناسب خو دا وه چي اذان (هم) راوګرځوي كَمَا فِي الْجَمْعِ الْأَوَّلِ لکه په اوله جمع کي (يعني لکه د عرفات په جمع بين الصلاتين کي) إِلَّا أَنَّا اكْتَفَيْنَا بِإِعَادَةِ الْإِقَامَةِ خو موږ (په دې وجه فقط) د اقامت په راګرځولو اکتفاء وکړه لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] صَلَّى الْمَغْرِبَ بِمُزْدَلِفَةَ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ په مزدلفه کي د ماښام لمونځ وکړی ثُمَّ تَعَشَّى بيا يې د ماخوستن ډوډۍ وخوړل ثُمَّ أَفْرَدَ الْإِقَامَةَ لِلْعِشَاءِ بيا يې د ماخوستن د لمانځه لپاره يوازي اقامت وکړی.

اللغات: ﴿يخل﴾ د افعال مضارع ده: خلل اچول، خلل راوستل. ﴿تشاغل﴾ د تفاعل مضارع ده: مشغوله کېدل. ﴿تعشّی﴾ د تفعّل ماضي ده: د ماخوستن ډوډۍ خوړل.

تشريح: مسئله: دا ده چي څرنګه په عرفات کي د جمع بين الظهر والعصر په دوران کي د حاجي لپاره نفل کول يا په يو بل کار مشغوله کېدل مناسب نه دي، همدارنګه په مزدلفه کي هم د جمع بين المغرب والعشاء په دوران کي نفل کول مناسب نه دي، ځکه په نفلو سره په جمع بين الصلاتين کي خلل واقع کيږي، خو که هغه نفل وکړل، يا يې بل کار وکړی، نو په دې سره په دواړو لمونځونو يعني د ماښام او د ماخوستن په لمونځونو کي فصل واقع سو، نو ځکه به اقامت را ګرځوي.

---

[1] تخريج: لم أجده بهذا اللفظ و روى البخارى عن ابن مسعود رضی الله عنه حديثًا بمعناه فى كتاب المناسك، باب: ۹۷، حديث رقم: ۱۶۷۵.

مناسب خو دا ده چې اذان هم را وګرځوي، لکه څرنګه چې په عرفات کې د ظهر او د عصر په مینځ کې د فصل واقع کېدلو په صورت کې اذان هم راګرځول کیږي، خو موږ فقط د اقامت په راګرځولو اکتفاء ځکه وکړه چې نبي ﷺ یو وار په مزدلفه کې د ماښام لمونځ وکړی، بیا یې خوراک وکړی، بیا د ماخوستن لپاره جلا اقامت وکړی، یعنې اذان یې نه را وګرځوی فقط اقامت یې راوګرځوی.

د جمع بین الصلاتین لپاره د جماعت حکم

وَلَا تُشْتَرَطُ الْجَمَاعَةُ لِهٰذَا الْجَمْعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او د دې جمع (یعني د مزدلفې د جمع بين الصلاتين) لپاره جماعت شرط نه دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز لِأَنَّ الْمَغْرِبَ مُؤَخَّرٌ عَنْ وَقْتِهَا ځکه (دلته) د ماښام لمونځ له خپل وخت څخه ځنډول سوی دی بِخِلَافِ الْجَمْعِ بِعَرَفَةَ په خلاف د عرفات په جمع کې لِأَنَّ الْعَصْرَ مُقَدَّمٌ عَلَى وَقْتِهِ ځکه (هلته) د مازیګر لمونځ پر خپل وخت مخکې سوی دی.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په مزدلفه کې د ماښام او د ماخوستن د لمونځونو د جمع کولو لپاره جماعت شرط نه دی، او په عرفات کې د جمع بين الظهر والعصر لپاره جماعت شرط دی، د فرق وجه دا ده چې په مزدلفه کې د ماښام لمونځ له خپل وخت څخه وروسته کیږي، او تر وخت وتلو وروسته لمونځ د قیاس موافق دي، ځکه چې د ټولو لمونځونو قضاء راوړل صحیح او مشروع دي (ځکه په قضاء کې تر سبب یعني تر وخت وروسته مسبب یعني لمونځ راځي، او دا د قیاس موافق دي)، نو د قیاس د موافقت په وجه به د ما ورد به النص رعایت کول واجب نه وي (د ما ورد به النص مطلب دا دی چې په مزدلفه کې د جمع بين الصلاتين د جماعت په باره کې نص او حدیث راغلی، نو دلته به د هغه اعتبار نه کیږي، ځکه د ما ورد به النص به هلته پوره اعتبار کیږي چې مسئله بالکل د قیاس مخالفه وي)، او څرنګه چې په عرفات کې د مازیګر لمونځ تر وخت مخکې اداء کیږي، او تر وخت مخکې لمونځ کول په هر اعتبار سره د قیاس خلاف دي (ځکه چې سبب کوم چې وخت دی تر مسبب وروسته راځي، او دا د قیاس خلاف دي)، او کوم شی چې د قیاس خلاف وي، په هغه کې به د ما ورد به النص کوم چې جماعت دی پوره پوره رعایت کیږي، نو په دې وجه به په جمع بين الظهر والعصر کې جماعت شرط وي.

مزدلفې ته رسېدلو مخکې د ماښام د لمانځه حکم

قَالَ: وَمَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ فِي الطَّرِيقِ فرمايي: او څوک چې د ماښام لمونځ (د مزدلفې) په لاره کې وکړي لَمْ تُجْزِهِ عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د طرفينو په نیز دا لمونځ د هغه لپاره کافي نه دی وَعَلَيْهِ إِعَادَتُهَا او پر هغه یې راګرځول واجب دي مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ تر څو چې سهار سوی نه وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ الله: يُجْزِئُهُ امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هغه لپاره کافي دی وَقَدْ أَسَاءَ لیکن هغه بد کار وکړی وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا صَلَّى بِعَرَفَاتٍ او همدغه اختلاف دی چې کله هغه په عرفات کې لمونځ وکړي لِأَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ أَدَّاهَا فِي وَقْتِهَا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا

● القول الراجح: هو هذا قول الطرفين، كذا في الدر المختار ج:٢، ص: ١٩٢. [القول الراجح ج:١، ص: ٢١٢]

دی چې هغه د ماښام لمونځ په خپل وخت کي اداء کړی فَلَا تَجِبُ إِعَادَتُهَا نو د هغه راګرځول به واجب نه وي كَمَا بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ لکه تر سهار راختلو وروسته (چي را ګرځول واجب نه دي) إِلَّا أَنَّ التَّأْخِيْرَ مِنَ السُّنَّةِ خو ځنډول سنت دي فَيَصِيْرُ مُسِيْئًا بِتَرْكِهِ نو د سنت په پرېښوولو سره به هغه ګنهګاره وي وَلَهُمَا مَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ● لِأُسَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِيْ طَرِيْقِ الْمُزْدَلِفَةِ او د طرفينو دليل هغه روايت دی چي نبي ﷺ اسامه بن زيد ﷺ ته د مزدلفې په لاره کي وفرمايل اَلصَّلَاةُ أَمَامَكَ "لمونځ ستا مخته دی" مَعْنَاهُ وَقْتُ الصَّلَاةِ مطلب يې دا دی چي د لمانځه وخت ستا مخته دی وَهٰذَا إِشَارَةٌ إِلٰى أَنَّ التَّأْخِيْرَ وَاجِبٌ او دا اشاره ده (د دې خبري و طرف ته) چي ځنډول واجب دي وَإِنَّمَا وَجَبَ لِيُمْكِنَهُ الْجَمْعُ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ بِالْمُزْدَلِفَةِ او ځنډول په دې وجه واجب سو چي د هغه لپاره په مزدلفه کي دواړه لمونځونه سره جمع کول ممکن وي فَكَانَ عَلَيْهِ الْإِعَادَةُ مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ نو (تر هغه وخته) پر هغه (د سهار لمونځ) راګرځول واجب دي تر څو چي سهار سوی نه وي لِيَصِيْرَ جَامِعًا بَيْنَهُمَا چي د ماښام او ماخوستن دواړو لمونځونو جمع کونکی سي وَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ لَا يُمْكِنُهُ الْجَمْعُ خو کله چي سهار سي نو د هغه لپاره جمع کول ممکن نه دي فَسَقَطَتِ الْإِعَادَةُ نو ځکه (بيا) راګرځول ساقط سو.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو حاجي عرفات يا مزدلفې ته تر رسېدلو مخکي په يو ځای کي د ماښام لمونځ وکړی، نو د طرفينو په نېز د هغه لمونځ نه صحيح کيږي، بلکي تر سهار کېدلو مخکي پر هغه د لمانځه راګرځول واجب دي، همدا مسلک د امام زفر او حسن بن زياد دی، او امام ابو يوسف فرمايي چي لمونځ خو يې صحيح کيږي، لېکن د سنت د مخالفت په وجه ګنهګاره کيږي، همدا اختلاف په هغه صورت کي دی چي کله د ماښام لمونځ په عرفات کي اداء کړي يعني په دې صورت کي هم د طرفينو په نېز د ماښام لمونځ نه صحيح کيږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز صحيح کيږي، خو ګنهګاره به وي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي دې سړي د ماښام لمونځ په خپل وخت کي اداء کړی دی او کوم سړی چي لمونځ په خپل وخت کي دننه اداء کړي پر هغه د لمانځه راګرځول واجب نه دي، لکه په هغه صورت کي چي هم (د امام صاحب په نېز) راګرځول واجب نه دي چي کله سهار سي (يعني په خپله د امام صاحب مسلک دا دی چي که عرفات يا مزدلفې ته تر رسېدلو مخکي د ماښام لمونځ په خپل وخت کي وکړي نو تر سهار مخکي به يې را ګرځوي، خو که سهار سو بيا يې د راګرځولو ضرورت نسته، امام ابو يوسف تيلس کوي يعني څرنګه چي يې تر سهار وروسته ضرورت نسته، نو مخکي به يې هم ضرورت نه وي)، هو! دا خبره ده چي پر دې موقع د ماښام لمونځ ځنډول سنت دی، نو د سنت د پرېښوولو په وجه به حتماً ګنهګاره وي.

د طرفينو دليل: دا دی چي اسامه بن زيد ﷺ مزدلفې ته د تللو په وخت کي نبي ﷺ ته ووېل چي اې د الله رسوله! د ماښام لمونځ وکړو، نو نبي ﷺ وفرمايل: الصلوٰة أمامك (يعني د لمانځه وخت ستا مخته دی) يعني اوس د ماښام وخت نه دی، بلکي هغه مخته په مزدلفه کي دی، له دې څخه معلوميږي چي د ماښام لمونځ ځنډول واجب دي، او د ماښام لمونځ ځنډول فقط په دې وجه واجب سوي دي چي د ماښام او ماخوستن دواړه لمونځونه په مزدلفه کي جمع کړی سي، او دا تر

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب الإفاضة من عرفات، حديث رقم: ۲۷۸.

سهار کېدلو مخکې کېدای سي، نو ځکه به تر سهار مخکې مخکې د ماښام لمونځ را ګرځوي او د ماخوستن د لمانځه سره به يې جمع کوي، خو کله چې سهار سي، نو د ماخوستن د لمانځه سره به د هغه جمع کول او يو ځای کول ممکن نه سي، او کله چې جمع نا ممکنه سي، نو ځکه به اعاده ساقط وي، او بيا به يې نه را ګرځوي.

د لسمې ورځې د سهار د لمانځه مستحب وخت

قَالَ: وَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ فرمايي: او چې کله سهار سي يُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ نو امام به خلکو ته د سهار لمونځ په تياره کې ورکړي لِرِوَايَةِ[1] ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عبد الله ابن مسعود ﷺ د روايت په وجه أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ صَلَّاهَا يَوْمَئِذٍ بِغَلَسٍ چې نبي ﷺ په دې ورځ د سهار لمونځ په تياره کې وکړی وَلِأَنَّ فِي التَّغْلِيسِ دَفْعَ حَاجَةِ الْوُقُوفِ او ځکه چې په تياره کې (د لمانځه په کولو) د وقوف مزدلفه حاجت پوره کېږي فَيَجُوزُ نو ځکه به دا جائز وي كَتَقْدِيمِ الْعَصْرِ بِعَرَفَةَ لکه په عرفات کې د مازيګر لمونځ مخکې کول (چې جائز دي).

اللغات: ﴿غلس﴾ تياره، هغه وخت چې د سهار رڼا لا خوره سوې نه وي.

تشريح: مسئله: دا ده چې د لوی اختر د ورځې په سهار به امام د سهار لمونځ خلکو ته وختي او په تياره کې ورکړي، دليل د عبد الله بن مسعود ﷺ روايت دی چې نبي ﷺ په دې ورځ د سهار لمونځ په غلس کې اداء کړی، دويم دليل دا دی چې په مزدلفه کې د سهار لمونځ په غلس کې اداء کول د وقوف مزدلفه د ضرورت په وجه دي (يعني چې په دې ورځ وقوف تر ډېره وسي)، نو کله چې د وقوفِ عرفه د ضرورت په وجه د مازيګر لمونځ پر خپل مباح وخت مخکې کول جائز دي، نو د وقوفِ مزدلفه په وجه به د سهار لمونځ هم پر خپل معتاد وخت يعني پر اسفار مخکې کول په درجه اولیٰ جائز وي.

د سهار تر لمانځه وروسته عملونه

ثُمَّ وَقَفَ وَوَقَفَ مَعَهُ النَّاسُ وَدَعَا بيا دې امام وقوف وکړي او د هغه سره دې (ټوله) خلک وقوف وکړي او دعاء دې وکړي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[2] وَقَفَ فِي هَذَا الْمَوْضِعِ يَدْعُو ځکه چې نبي ﷺ په دې ځای کې وقوف وکړی په داسې حال کې چې دعاء يې کوله حَتَّى رُوِيَ فِي حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ تر دې چې د عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حديث کې روايت سوی دی فَاسْتُجِيبَ لَهُ دُعَاؤُهُ لِأُمَّتِهِ چې د نبي ﷺ دعاء د خپل امّت په حق کې قبوله سوه حَتَّى الدِّمَاءِ وَالْمَظَالِمِ حتیٰ د خونونو او د ظلمونو په حق کې (هم د نبي ﷺ دعاء قبوله سوه).

تشريح: فرمايي: کله چې امام د سهار له لمانځه څخه فارغ سي، نو د جبلِ قُزَح سره دې نژدې ودرېږي، او ټوله خلک دې د هغه تر شا ودرېږي، بيا دې امام د کعبې (شريفې) و طرف ته مخامخ سي، په پوره توجه او په بشپړ اخلاص سره دې دعاوي وکړي، ځکه چې نبي ﷺ پر دې موقع د خپل ټوله امت لپاره دعاوي وکړې، او د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په روايت

● [1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب إستحباب زيادة التغليس بصلاة الصبح، حديث رقم: ۲۹۲.

● [2] قد مر تخريجه تحت حديث رقم: ۹.

کې ذکر سوې دې چې د نبي ﷺ تولې دعاګانې قبولې سوې، تر دې چې د ناحقه قتلونو او د ظلمونو سره اړوند دعاګانې هم په عرفات کې رد کړی سوې، لېکن په مزدلفه کې الله تعالیٰ قبولې کړې.

په مزدلفه کې د وقوف شرعي حیثیت

ثُمَّ هٰذَا الْوُقُوفُ وَاجِبٌ عِنْدَنَا بیا دا وقوف (یعني په مزدلفه کې دربدل) زموږ په نېز واجب دی وَلَیْسَ بِرُکْنٍ او رکن نه دی حَتّٰی لَوْ تَرَکَهٗ بِغَیْرِ عُذْرٍ یَلْزَمُهُ الدَّمُ تر دې که بې له عذره یې پرېښوولی نو پر هغه دم لازمېږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: إِنَّهٗ رُکْنٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایلي دي: چي دا رکن دی لِقَوْلِهٖ تَعَالٰی: فَاذْکُرُوا اللهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ (البقرة) ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "نو د مشعر حرام سره د الله ذکر کوئ" وَبِمِثْلِهٖ یَثْبُتُ الرُّکْنِیَّةُ او په داسي آیت سره فرضیت ثابتېږي وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّهٗ ﷺ قَدَّمَ ● ضَعَفَةَ أَهْلِهٖ بِاللَّیْلِ او زموږ دلیل دا دی چي نبي ﷺ د خپلي کورنۍ کمزوري انسانان د شپې مخکي واستول وَلَوْ کَانَ رُکْنًا لَمَا فَعَلَ ذٰلِکَ نو که وقوفِ مزدلفه (په مزدلفه کي دربدل) رکن وای نو نبي ﷺ به داسي کړي نه وای (یعني د شپې به یې نوی استولي نه وای) وَالْمَذْکُورُ فِیْمَا تَلَا الذِّکْرُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په تلاوت سوي آیت کي "ذکر کول" ذکر سوي وَهُوَ لَیْسَ بِرُکْنٍ بِالْإِجْمَاعِ او ذکر کول په اتفاق سره رکن نه دي (نو وقوف به هم رکن نه وي) وَإِنَّمَا عَرَفْنَا الْوُجُوبَ بِقَوْلِهٖ ● عَلَیْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او موږ د وقوفِ مزدلفه وجوب د نبي ﷺ له (دې) قول څخه معلوم کړی دی مَنْ وَقَفَ مَعَنَا هٰذَا الْمَوْقِفَ "چا چي زموږ سره په دې موقف (یعني مزدلفه) کي وقوف وکړی وَقَدْ کَانَ أَفَاضَ قَبْلَ ذٰلِکَ مِنْ عَرَفَاتٍ په داسي حال کي چي تر دې مخکي له عرفات څخه راغلی وي (یعني وقوفِ عرفه یې هم کړی وي) فَقَدْ تَمَّ حَجُّهٗ نو د هغه حج پوره سو" عَلَّقَ بِهٖ تَمَامَ الْحَجِّ (وګورئ!) نبي ﷺ د حج پوره کېدل په وقوفِ مزدلفه پوري معلق کړي دي وَهٰذَا یَصْلُحُ أَمَارَةً لِلْوُجُوبِ او تعلیق د وجوب د نښه والي لیاقت لري (یعني معلق کول د وجوب نښه ده) غَیْرَ أَنَّهٗ إِذَا تَرَکَهٗ بِعُذْرٍ (لېکن) بغیر له دې څخه چي کله یې وقوفِ مزدلفه د عذر په وجه پرې ایښی وي بِأَنْ یَکُوْنَ بِهٖ ضَعْفٌ أَوْ عِلَّةٌ په دې توګه چي په هغه کي ضُعف یا مرض وي أَوْ کَانَتْ اِمْرَأَةً تَخَافُ الزِّحَامَ یا ښځه وي (او) له ګڼي ګوڼي څخه بیرېږي لَا شَيْءَ عَلَیْهِ (نو) پر هغه هیڅ شی واجب نه دی لِمَا رَوَیْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چي موږ روایت کړی.

اللغات: ﴿ضعفة﴾ جمع د ضعیف ده: کمزوري خلک. ﴿أمارة﴾ نښه، علامه. ﴿زحام﴾ ګڼه ګوڼه (رش).

● تخریج: أخرجه مسلم في کتاب الحج، باب إستحباب تقدیم دفع الضعفة من النساء، حدیث رقم: ۲۹۳.

● تخریج: أخرجه ابو داؤد في کتاب المناسک، حدیث رقم: ۱۹۵۰، باب من لم یدرک عرفة.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې زموږ په نیز په مزدلفه کې وقوف کول (درېدل) واجب دي، رکن نه دي، لیکن د امام شافعي رحمه الله په نیز رکن دی، لهذا که یو چا بې له عذره دا وقوف پرېښوده، نو زموږ په نیز پر هغه دم واجبیږي، او د شوافعو په نیز د هغه حج خراپیږي.

د امام شافعي دلیل: دا آیت دی: فإذا أفضتم من عرفات فاذكروا الله عند المشعر الحرام، (او کله چې تاسو له عرفات څخه واپس راسئ، نو د مشعرِ حرام سره د الله ذکر وکړئ)، په دې آیت سره په دې توګه دلیل نیسي، چې په دې کې د مشعر حرام په وخت کې د الله د ذکر کولو حکم سوی دی، او مشعرِ حرام په مزدلفه کې دی، نو له دې آیت څخه د ذکر رکن کېدل ثابت سو، او څرنګه چې دا ذکر په مزدلفه کې کیږي، نو په مزدلفه کې به درېدل او وقوف کول هم رکن وي.

زموږ دلیل: چې نبي ﷺ د خپلې کورنۍ ضعیفه او کمزوري وګړي د مزدلفې په شپه منیٰ ته واستول، یعني بې له وقوف مزدلفه څخه یې منیٰ ته واستول، او دا حکم یې ورته وکړی چې د جمرۀ عقبه رمي مه کوئ، تر دې چې لمر راوخیږي، لهذا که وقوفِ مزدلفه رکن وای، نو نبي ﷺ به داسې نه کولای، ځکه چې د رکن رکنیت د صحیح او ضعیف دواړو په حق کې برابر دی، او د عذر په وجه به هم د رکن پرېښوول جائز نه وي

جواب: د امام شافعي د دلیل جواب دا دی چې په دې آیت کې ذکر کول مذکور دي، او ذکر کول بالاجماع رکن نه دي، نو پر کوم شي چې ذکر موقوف وي یعني وقوفِ مزدلفه، هغه به هم رکن نه وي، او د وقوف مزدلفه واجبېدل په حدیث سره ثابت دي، نبي ﷺ فرمایلي دي: "چا چې زموږ سره په مزدلفه کې وقوف وکړی، په داسې حال کې چې په عرفات کې یې هم وقوف کړی وي، نو د هغه حج پوره سو"، په دې حدیث کې د حج بشپړتیا په وقوفِ مزدلفه پوري معلق سوي دي، او معلق کېدل د وجوب علامه ده، نو ځکه به په مزدلفه کې وقوف واجب وي، هو! که د عذر په وجه یې وقوف مزدلفه پرېښووی، نو پر هغه دم او هیڅ شی نه واجبیږي، لکه څرنګه چې په دې حدیث قدم ضعفة أهله الخ کې هم ذکر سو، د عذر مثال د حاجي ضعیفه کېدل، مریض کېدل یا ښځه له ګڼې ګوڼې څخه بېرېدل او داسې نور دي.

په مزدلفه کې د وقوف (درېدلو) ځای

قَالَ: وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ فرمایي: او مزدلفه ټوله د درېدلو ځای دی إِلَّا وَادِيَ مُحَسِّرٍ ماسوا له وادی محسر څخه لِمَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ مخکې روایت کړی.

تشریح: دا خبره خو مخکې تېره سوه چې له وادی محسّر څخه علاوه ټوله مزدلفه د وقوف (درېدلو) ځای دی، یعني نور چې هر ځای حاجي ودرېږي، د مزدلفې وقوف اداء کیږي، دلیل مخکې تېر سو.

له مزدلفې څخه منیٰ ته د (واپس) راتګ بیان

قَالَ: فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فرمایي: او کله چې لمر راوخیږي أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ نو روان دي سي امام او (ټوله) خلک حَتَّى يَأْتُوا مِنًى تر دې چې منیٰ ته راسي قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ عَصَمَهُ اللهُ: هٰكَذَا وَقَعَ فِي نُسَخِ الْمُخْتَصَرِ ضعیف بنده (یعني صاحب د هدایې رحمه الله) فرمایي: همدارنګه د قدوري په نسخو کې واقع سوي دي وَهٰذَا غَلَطٌ او دا غلط دي وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ إِذَا أَسْفَرَ او صحیح دا ده چې کله ښه رڼا سي أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ نو امام او خلک دي روان سي لِأَنَّ

النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● وَقَامَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ ځکه چې نبي ﷺ (هم) تر لمر راختلو مخکې روان سو.

اللغات: ﴿سفر﴾ د افعال ماضي ده: ښه رڼا کېدل، ښه ځرګندېدل.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي کله چې د لوی اختر د ورځې لمر راوخیږي، نو امام او ټوله خلک دې له مزدلفې څخه روان سي منیٰ ته دې ولاړ سي، لېکن صاحب د هدايې فرمايي چې د مختصر القدوري دا عبارت غلط دی، او د مختصر قدوري په زياترو نسخو کې همدا غلطي شايع سوې ده، صحيح دا ده چې د سهار تر لمانځه وروسته دې په ښه رڼا کې تر لمر راختلو مخکې روان سي، ځکه نبي ﷺ تر لمر راختلو مخکې مزدلفې ته روان سوی وو، نو د عامو خلګو په حق کې به هم دا حکم وي.

د رمي د طريقې او د شروع کولو بيان

قَالَ: فَيَبْتَدِئُ بِجَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فرمايي: او شروع به وکړي له جمرهٔ عقبه څخه فَيَرْمِيْهَا مِنْ بَطْنِ الْوَادِيْ نو له بطن وادي څخه به يې اوولي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ په اوو (داسي) کاڼو سره مِثْلَ حَصَى الْخَذْفِ لکه د ويشتلو کاڼي (يعني په داسي کاڼو سره چې هغه کوچني وي لکه مردکه او په دوو ګوتو غورځول کېدای سي، په لښه توګه دا چې په اوو کوچنيو ډبرو سره دې جمرهٔ عقبه اوولي) لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● لَمَّا أَتَى مِنًى لَمْ يُعَرِّجْ عَلَى شَيْءٍ ځکه کله چې نبي ﷺ منیٰ ته راغلی نو د هيڅ شي سره نه ودرېدی حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ تر دې چې جمرهٔ عقبه يې وويشتله (يعني منیٰ ته تر راتګ وروسته نبي ﷺ بل هيڅ کار نه وکړی، اول يې جمرهٔ عقبه وويشتله) وَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ●: عَلَيْكُمْ بِحَصَى الْخَذْفِ او نبي ﷺ فرمايلي دي: "پر تاسو لازم دي کوچنۍ ډبري لَا يُؤْذِيْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا (او) بعضي ستاسو دي تکليف نه رسوي بعضو ته".

اللغات: ﴿حصيات﴾ جمع د حصاة ده: کاڼی، کوچنۍ ډبره، شګه. ﴿خذف﴾ دا په اصل کې د ضرب د باب مصدر دی: مراد ځنې په ګوتو سره د کاڼي غورځول (ويشتل) دي، او له حصى الخذف څخه مراد د ويشتلو (او غورځولو) کاڼي دي، يعني هغه کوچنۍ ډبري او کاڼي ځنې مراد دي چې په دوو ګوتو سره نيول کېدای او غورځول کېدای سي [او دومره وي لکه مردکه يا څه غټ]. ﴿لم يعرج﴾ د تفعيل د باب جحد معلوم دی: درېدل، توقف کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې منیٰ ته په رسېدلو سره د حاجيانو لپاره تر ټولو اول عمل دا دی چې هغوی دې د جمرهٔ عقبه رمي وکړي، او له بطن وادي څخه دې شيطان اووه (۷) کاڼي اوولي، چې هغه به دومره کوچني وي چې د ګوتو په سرونو کې به نيول کېږي، د نيولو طريقه يې دا ده چې کاڼی به د بټي ګوتي او د شهادت د ګوتي په سرونو سره ونيول

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسک، باب الصلاة بجمع، حديث رقم: ۱۹۳۸.
● تخريج: قد مر تخريجه تحت حديث رقم: ۹۸.
● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسک، باب في رمي الجمار، حديث رقم: ۱۹۶۶.

سي او شيطان دي په ويشتل سي، د دې مسئلې دليل دا دی چې نبي ﷺ کله منیٰ ته راغلی، نو تر ټولو مخکښې يې جمرهٔ عقبه وويشتله، نو ځکه به منیٰ ته په رسېدلو سره هر حاجي هم جمرهٔ عقبه اولي.

د رمي ادبونه او د تلبيې د بندولو وخت

وَلَوْ رَمٰى بِأَكْبَرَ مِنْهُ جَازَ او که حاجي تر هغه په غټ کاڼي ويشتل وکړي نو (هم) جائز دي (يعني که حاجي تر هغو په غټو کاڼو سره جمرهٔ عقبه اوولي نو هم جائز دي) لِحُصُوْلِ الرَّمْيِ ځکه چې ويشتل حاصل سو غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَرْمِيْ بِالْكَبِيْرِ مِنَ الْأَحْجَارِ خو دا چې غټې ډبرې به نه غورځوي كَيْ لَا يَتَأَذّٰى بِهِ غَيْرُهُ چې بل چا ته په دې سره تکليف نه ورسيږي وَلَوْ رَمَاهَا مِنْ فَوْقِ الْعَقَبَةِ أَجْزَأَهُ او که حاجي له جمرهٔ عقبه څخه لوړ ويشتل وکړي نو (هم) کافي دي لِأَنَّ مَا حَوْلَهَا مَوْضِعُ النُّسُكِ ځکه چې د جمرهٔ عقبه شاوخوا (هم) د نسک (يعني د حج د عبادت) ځای دی وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَكُوْنَ مِنْ بَطْنِ الْوَادِيْ او افضل دا ده چې (ويشتل) له بطن وادي څخه وي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَيُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ او د هري ډبري سره به تکبير وايي كَذَا رَوٰى[1] ابْنُ مَسْعُوْدٍ وَابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ همداسي له ابن مسعود او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه روايت سوي دي وَلَوْ سَبَّحَ مَكَانَ التَّكْبِيْرِ أَجْزَأَهُ او که د تکبير پر ځای تسبيح ووايي نو (هم) کافي دي لِحُصُوْلِ الذِّكْرِ ځکه چې (د الله) ذکر حاصل سو وَهُوَ مِنْ آدَابِ الرَّمْيِ او ذکر کول د رمي له ادبونو څخه دي وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا او د جمرهٔ عقبه سره به نه درېږي لِأَنَّ النَّبِيَّ[2] صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقِفْ عِنْدَهَا ځکه چې نبي ﷺ د جمرهٔ عقبه سره نه ودرېدی وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ أَوَّلِ حَصَاةٍ او تلبيه به ختموي د اول کاڼي سره لِمَا رَوَيْنَا عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه حديث په وجه کوم چې موږ له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کړی وَرَوٰى جَابِرٌ او جابر رضي الله عنه روايت کړی دی أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[3] قَطَعَ التَّلْبِيَةَ عِنْدَ أَوَّلِ حَصَاةٍ چې نبي ﷺ تلبيه ختمه کړه د اول کاڼي په وخت کي رَمٰى بِهَا جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ چې په هغه سره يې جمرهٔ عقبه وويشتله (يعني نبي ﷺ د اول کاڼي د غورځولو په وخت کي تلبيه ختمه کړه).

اللغات: ﴿قطع﴾ د فتح ماضي ده: بندول، ختمول، پرېکول.

تشريح: مخکښې د طول او عرض په اعتبار سره د کاڼو اندازه بيان سوه، چې هغه به دومره کوچنۍ وي چې په دوو ګوتو سره به غورځول کېدای سي، لېکن که تر دې په غټ کاڼي سره رمي وسي نو هم جائز دي، ځکه چې مقصود حاصل سو، او مقصود ويشتل دي، هو! دا خبره ده چې غټې ډبرې به نه غورځوي، کنې خلکو ته به تکليف ورسيږي، او افضل دا ده

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب يكبر مع كل حصاة، حديث رقم: ١٧٥٠.

[2] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب من رمى جمرة العقبة و لم يقف، حديث رقم: ١٧٥١، ١٧٥٩.

[3] قد مر تخريجه تحت حديث رقم: ١٠٥.

چې رمی له بطنِ وادي څخه وکړي، خو که د عقبهٔ جمرې له لوړ طرف څخه راسي او رمی وکړي نو هم جائز دي، ځکه چې د عقبهٔ جمره څلور سره طرفه د نسک او د عبادت ځایونه دي.

ویکبر الخ او حاجي به د هر کاڼي سره الله أکبر وایي، لکه څرنګه چې د ابن مسعود او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم له حدیث څخه معلومیږي، لیکن که د تکبیر پر ځای یوه بله تسبیح ووایي، نو هم صحیح دي، ځکه چې د الله ذکر حاصل سو، او د رمی له ابتدا څخه یو اداب د الله ذکر هم دی. او حاجي به د جمرهٔ عقبه سره نه دریږي، ځکه چې نبي ﷺ هم دریدلی نه وو. او د اول کاڼي سره به تلبیه بندوي، د دغه حدیث په وجه کوم چې ابن مسعود رضي الله عنه روایت کړی دی، او جابر رضي الله عنه روایت کړی دی چې نبي ﷺ د اول کاڼي سره تلبیه ختمه کړه.

په رمی کې د کاڼو د ویشتلو طریقه

ثُمَّ كَيْفِيَّةُ الرَّمْيِ بیا طریقه د (شیطان) ویشتلو دا ده أَنْ يَضَعَ الْحَصَاةَ عَلَى ظَهْرِ إِبْهَامِهِ الْيُمْنَى چې کاڼی به د ښي لاس راسته بټې ګوتي پر شا کښېږدي وَيَسْتَعِينُ بِالْمُسَبِّحَةِ او د شهادت له ګوتي څخه به کار واخلي (یعني د شهادت په ګوته به یې ونیسي) وَمِقْدَارُ الرَّمْيِ او د رمی اندازه (دا ده) أَنْ يَكُونَ بَيْنَ الرَّامِي وَبَيْنَ مَوْضِعِ السُّقُوطِ خَمْسَةُ أَذْرُعٍ چې د ویشتونکي او د کاڼي د ایله کېدلو د ځای تر مینځ به پنځه لاسه فاصله (واټن) وي (چې په اوسني حساب سره اووه نیم فوټه کیږي) كَذَا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ همدا ډول امام حسن رَحِمَهُ الله له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت کړي دي لِأَنَّ مَا دُونَ ذَٰلِكَ يَكُونُ طَرْحًا ځکه تر دې خو کم ایله کول (او غورځول) دي (یعني که تر دې نژدې ورته ودریږي نو هغه ته کاڼي ایله کول یا کاڼي ور غورځول وایي، په ویشتل نه ورته وایي) وَلَوْ طَرَحَهَا طَرْحًا أَجْزَأَهُ او که کاڼي یې (د جمرې خوا ته) ایله کړی نو (هم) کافي دي لِأَنَّهُ رَمَى إِلَى قَدَمَيْهِ ځکه (ګواکي) هغه د خپلو پښو و طرف ته رمي وکړې إِلَّا أَنَّهُ مُسِيءٌ لِمُخَالَفَتِهِ السُّنَّةَ خو دا سړی به د سنت د مخالفت په وجه ګنهګاره وي وَلَوْ وَضَعَهَا وَضْعًا او که هغه (فقط د جمرې سره) کاڼی کښېږدي لَمْ يُجْزِهِ نو (دا) کافي نه دي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِرَمْيٍ ځکه چې دا ویشتل نه دي.

اللغات: ﴿إبهام﴾ بټه ګوته. ﴿مسبحة﴾ د شهادت ګوته. ﴿يستعين﴾ د استفعال مضارع ده: مرسته اخیستل، د مرستي طلب کول. ﴿طرحا﴾ د فتح مصدر دی: ایله کول، غورځول، لیري کول.

تشریح: په دې عبارت کې د رمی جمار (یعني د شیطانانو د ویشتلو) کیفیت او طریقه بیان سوې ده چې حاجي به کاڼی د خپلې بټې ګوتي پر شا کښېږدي او د شهادت د ګوتي په مرسته به یې وغورځوي. د حاجي او د کاڼي د لوېدلو د ځای یعني د جمرې په مینځ کي به لږ تر لږه پنځه لاسه فاصله وي، چې هغه اووه نیم (۷:۵) فوټه کیږي، حسن بن زیاد له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه همدغه روایت کړي دي، دلیل دا دی چې له دې څخه د کمي فاصلې په صورت کي رمی او ویشتل نه متحقق کیږي، بلکي ایله کول متحقق کیږي، حال دا چې د شیطان ویشتل سنت دي، نه کاڼي ایله کول، او که حاجي د ویشتلو پر ځای کاڼی قصداً ایله کړی، نو هم کافي دي، ځکه چې هغه ګواکي د خپلو پښو و طرف ته

وغورځوی، لیکن د سنت د مخالفت په وجه ګنهګاره کیږي، او که هغه کاڼی د جمرې سره کښېښوی، نو دا کافي نه دي، ځکه چې دا په هیڅ ډول هم رمی او ویشتل نه دي.

جمرې ته د کاڼي د نږدې کېدلو حکم

وَلَوْ رَمَاهَا او که حاجي کاڼی وغورځوی فَوَقَعَتْ قَرِيبًا مِنَ الْجَمْرَةِ (لیکن) هغه د جمرې سره نږدې ولوېدی يَكْفِيهِ نو (دا) د هغه لپاره کافي دي لِأَنَّ هٰذَا الْقَدْرَ مِمَّا لَا يُمْكِنُ الْاِحْتِرَازُ عَنْهُ ځکه چې له دومره اندازې څخه ځان ساتل ممکن نه دي وَلَوْ وَقَعَتْ بَعِيدًا مِنْهَا لَا يُجْزِئُهُ او که کاڼی له جمرې څخه لیرې ولوېږي نو د هغه لپاره (دا) کافي نه دي لِأَنَّهُ لَمْ يُعْرَفْ قُرْبَةً إِلَّا فِي مَكَانٍ مَخْصُوصٍ ځکه چې د رمی عبادت کېدل صرف په ځانګړې ځای کې معلوم سوي دي (یعني فقط د یو ځانګړي ځای یعني د جمرې ویشتل عبادت دي) وَلَوْ رَمٰى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ جُمْلَةً او که حاجي اووه سره کاڼي یو ځای (یعني په یوه وار) وغورځوي فَهٰذِهِ وَاحِدَةٌ نو دا (فقط) یو کاڼی دی (یعني فقط یو وار به شمارل کیږي) لِأَنَّ الْمَنْصُوصَ عَلَيْهِ تَفَرُّقُ الْأَفْعَالِ ځکه چې منصوص علیه جلا جلا افعال دي (یعني په حدیث کې راغلي دي چې اووه کاڼي به جلا جلا غورځوي).

تشریح: عبارت واضح او څرګنده دی.

کاڼي به له کوم ځایه را اخیستل کیږي؟

وَيَأْخُذُ الْحَصٰى مِنْ أَيِّ مَوْضِعٍ شَاءَ او له کوم ځایه چې وغواړي کاڼي به را واخلي إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْجَمْرَةِ خو له جمرې څخه بیړ ... را اخلي فَإِنَّ ذٰلِكَ يُكْرَهُ ځکه چې دا مکروه دي لِأَنَّ مَا عِنْدَهَا مِنَ الْحَصٰى مَرْدُودٌ ځکه د جمرې سره چې کوم کاڼي (پراته) دي هغه مردود (رد کړی سوي) دي هٰكَذَا جَاءَ فِي الْأَثَرِ همداسي په اثر کې راغلي دي فَيُتَشَاءَمُ بِهِ نو د هغو په ... به منحوس سي (یعني د هغو په اخیستلو کې نحوست سته) وَمَعَ هٰذَا لَوْ فَعَلَ أَجْزَأَهُ خو که د دې باوجود حاجي داسي وکړي نو (هم) د هغه لپاره کافي دي لِوُجُوْدِ فِعْلِ الرَّمْيِ ځکه چې د ویشتلو فعل موجود سو (یعني که څه هم دا کاڼي منحوس دي خو بیا هم جمره [شیطان] په ویشتل کیږي).

اللغات: ﴿یتشاءم﴾ د تفاعل مضارع مجهول ده: فال نیول، په بد فالی او نحوست سره نیول.

تشریح: مسئله: دا ده چې له هر ځای څخه حاجي وغواړي کاڼي دي راواخلي، خو غوره دا ده چې له مزدلفې څخه یې راواخلي، لیکن له جمرې څخه دي کاڼي نه را اخلي (یعني په کومو کاڼو چې یو وار جمره ویشتل سوې وي او د جمرې سره پراته وي هغه دي نه را اخلي)، ځکه په حدیث کې راغلي دي چې د جمراتو سره پراته کاڼي مردود سوي وي، لهذا د هغو په اخیستلو کې نحوست سته، نو ځکه به هغه نه را اخلي. خو که بیا هم حاجي له جمرو څخه کاڼي را واخلي، او په هغو سره رمي وکړي، نو هم صحیح دي، ځکه چې د کاڼي د ویشتلو فعل خو راغلی، او مقصود همدغه فعل دی.

په رمی کې له ډبرو څخه علاوه نور شیان استعمالول

وَيَجُوْزُ الرَّمْيُ بِكُلِّ مَا كَانَ مِنْ أَجْزَاءِ الْأَرْضِ او جائز دي ويشتل په هر هغه شي سره چې د مځکې له جنس څخه وي عِنْدَنَا (د احکم) زموږ په نیز خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ فِعْلُ الرَّمْيِ ځکه چې اصل مقصود خو ويشتل دي وَذٰلِكَ يَحْصُلُ بِالطِّيْنِ كَمَا يَحْصُلُ بِالْحَجَرِ او دا په ختو سره (هم) حاصليږي (يعني دا په لوټو سره هم حاصليږي) لکه څرنګه چې په ډبرو سره حاصليږي بِخِلَافِ مَا إِذَا رَمٰى بِالذَّهَبِ أَوِ الْفِضَّةِ په خلاف د هغه صورت چې کله هغه په سرو يا سپينو زرو ويشتل وکړي لِأَنَّهُ يُسَمّٰى نِثَارًا لَا رَمْيًا ځکه چې دې ته خورول (او شيندل) ويل کيږي نه ويشتل.

اللغات: ﴿طين﴾ ختې، (خاورې)، ﴿نثر﴾ مصدر دی: خورول، غورول.

تشريح: فرمايي چې زموږ په نيز په هر هغه شي سره رمي کول جائز دي چې د مځکې له جنس څخه وي، هغه که لوټه وي، که ډبره وي، ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صرف په ډبرې سره رمي کول جائز دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د اثر اتباع ده، يعني هغه د رواياتو تابعداري کوي ځکه په رواياتو کې په ډبره سره رمي کول له نبي ﷺ څخه ثابت دي، او زموږ دليل دا دی چې مقصود رمي او ويشتل دي، او رمي چې څنګه په ډبرو سره حاصليږي، همدارنګه په لوټه او نورو سره هم حاصليږي، نو په رمي کولو کې به ډبره، لوټه او داسې نور برابر وي، خو په سرو او سپينو زرو سره رمي کول جائز نه دي، ځکه د رمي مقصد د شيطان ذليله کول دي، خو که په سرو يا سپينو زرو يې اوولي نو دا خو د شيطان عزت سو، او د سرو يا سپينو زرو غورځولو ته هم خلک غورځول نه وايي بلکې په عزت سره خورول او پاشل ورته وايي (يعني مثلاً که پريو چا يا پريو شي سره زر وغورځول سي، نو خلک وايي چې سره زر يې پر وشيندل)، حال دا چې مقصود رمي يعني ويشتل دي.

د ذبحې، حلق او قصر حکم

قَالَ: ثُمَّ يَذْبَحُ إِنْ أَحَبَّ فرمايي: بيا به (هَدي) ذبحه کړي که يې خوښه وي ثُمَّ يَحْلِقُ أَوْ يُقَصِّرُ بيا به سر وخريي يا به وربښتيان کوچني کړي لِمَا رُوِيَ[1] عَنْ رَسُوْلِ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه له نبي ﷺ څخه روايت سوي دي أَنَّهُ قَالَ چې نبي ﷺ وفرمايل إِنَّ أَوَّلَ نُسُكِنَا فِيْ يَوْمِنَا هٰذَا أَنْ نَرْمِيَ ثُمَّ نَذْبَحَ ثُمَّ نَحْلِقَ "په دې ورځ کې زموږ اول نُسک دا دی چې ويشتل وکړو بيا ذبح (هدی) حلاله کړو بيا سر وخريو" وَلِأَنَّ الْحَلْقَ مِنْ أَسْبَابِ التَّحَلُّلِ او ځکه چې سر خريل د حلال والي له اسبابو څخه دي (يعني په دې سره انسان حلال کيږي) وَكَذَا الذَّبْحُ او همداسې ذبحه کول (هم د حلالوالي له اسبابو څخه دي) حَتّٰى يَتَحَلَّلَ بِهِ الْمُحْصَرُ تر دې چې په دې (دواړو) سره محصر حلاليږي فَيُقَدَّمُ الرَّمْيُ عَلَيْهِمَا نو ويشتل به پر دې دواړو مخکې کيږي ثُمَّ الْحَلْقُ مِنْ مَحْظُوْرَاتِ الْإِحْرَامِ بيا سر خريل د احرام له ممنوعاتو څخه دي فَيُقَدَّمُ عَلَيْهِ الذَّبْحُ نو پر سر خريلو به (د هدي) ذبحه کول مخکې کيږي وَإِنَّمَا عَلَّقَ الذَّبْحَ بِالْمَحَبَّةِ او ذبحه کول په دې وجه

[1] تخريج: أخرجه مسلم بمعناه في كتاب الحج، باب بيان أن السنة يوم النحر، حديث رقم: ١٣٢٥، ١٢٢٦.

پر خوښي معلق کړی سو لِأَنَّ الدَّمَ الَّذِیْ يَأْتِیْ بِهِ الْمُفْرِدُ تَطَوُّعٌ ځکه چي هغه قرباني کوم چي يې لمفرد بالحج کوي نفلي قرباني ده وَالْكَلَامُ فِی الْمُفْرِدِ او خبره هم د لمفرد بالحج په باره کي ده. (لمفرد بالحج هغه چا ته ويل کيږي چي صرف د حج احرام يې تړلی وي)

اللغات: ﴿تحلل﴾ د تفعل مصدر دی؛ احرام ختمول، حلال کېدل. ﴿محصر﴾ هغه چي له حج څخه بند سوی (منع سوی) وي، يعني حج نه سي کولای. ﴿محظورات﴾ هغه شيان کوم چي د احرام په حالت کي ممنوع وي. ﴿حلق﴾ سر خريل. ﴿قصر﴾ وربښتيان کوچني کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د جمرۀ عقبه تر ويشتلو وروسته لمفرد بالحج حاجي ته اختيار دی، که غواړي، نو قرباني دي وکړي، بيا دي سر وخريي يا دي وربښتيان کوچني کړي، او که غواړي، نو قرباني دي نه کوي (او که حاجي متمتع يا قارن وو نو قرباني کول واجب دي). دليل دا دی چي نبي ﷺ فرمايلي دي: "په دې ورځ يعني د لوی اختر په ورځ زموږ لپاره اول عبادت دا دی چي رمی وکړو، بيا قرباني وکړي، بيا حلق وکړو". دويم دليل دا دی چي حلق له هغه اسبابو څخه يو سبب دی کوم چي حاجي له احرام څخه باسي، يعني حلق د تحلل له اسبابو څخه دی، او قرباني هم د تحلل له اسبابو څخه ده، لکه څرنګه چي محصر هم په قرباني او حلق سره حلاليږي، نو کله چي حلق او قرباني دواړه د تحلل له اسبابو څخه دي، نو رمی کول به پر دواړو مخکي کيږي، او څرنګه چي حلق د احرام له ممنوعاتو څخه دی، نو حلق به پر قرباني مخکي کيږي (ځکه که مخکي نسي نو د احرام په حالت کي به حلق راسي او دم به پر واجب سي، لېکن که اول قرباني وکړي نو دا ستونزه نه راځي، ځکه چي هغه د احرام له ممنوعاتو څخه نه ده).

وإنما علّق الخ او قرباني ځکه پر مشيئت او خوښي معلق کړی سوه چي مفرد بالحج کومه قرباني کوي، هغه نفلي وي، نه واجب، او اوس زموږ خبره هم د مفرد بالحج په باره کي ده، لهذا پر هغه به قرباني واجب او لازم نه وي، بلکي د هغه په خوښي پوري به معلقه وي.

حلق افضل دي

وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ او سر خريل افضل دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: رَحِمَ اللهُ الْمُحَلِّقِيْنَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "الله تعالیٰ دي پر سر خريونکو رحم وکړي" قَالَهُ ثَلَاثًا نبي ﷺ دا جمله درې واره وفرمايله اَلْحَدِيْثُ ظَاهِرٌ بِالتَّرَحُّمِ عَلَيْهِمْ (دا) حديث پر محلقينو د رحم په باره کي ښکاره (دليل) دی (نو ځکه به سر خريل افضل وي) وَلِأَنَّ الْحَلْقَ أَكْمَلُ فِیْ قَضَاءِ التَّفَثِ او ځکه چي سر خريل ډېر ښېړ دي د خيرو په پاکولو کي (يعني سر خريل په ښېړه توګه د سر خيري له منځه وړي) وَهُوَ الْمَقْصُوْدُ او همدغه مقصود دي وَفِی التَّقْصِيْرِ بَعْضُ التَّقْصِيْرِ او په وربښتيانو کوچني کولو (غچي کولو) کي څه نقص سته فَأَشْبَهَ الْاِغْتِسَالَ مَعَ الْوُضُوْءِ نو دا د غسل او اوداسه سره مشابه سو وَيَكْتَفِیْ فِی الْحَلْقِ بِرُبُعِ الرَّأْسِ او

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب تفضيل الحلق على التقصير، حديث رقم: ۳۱۷، ۳۱۸.

(حاجي) په حلق کې د سر پر څلورمې حصې اکتفاء کولای سي اِعْتِبَارًا بِالْمَسْحِ (د سر) پر مسحې باندي په قياسولو سره. وَحَلْقُ الْكُلِّ أَوْلٰى او د ټوله سر خريل غوره دي اِقْتِدَاءً بِرَسُوْلِ اللهِ ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د نبي ﷺ په اقتداء کولو سره. وَالتَّقْصِيْرُ: أَنْ يَأْخُذَ مِنْ رُءُوْسِ شَعْرِهٖ مِقْدَارَ الْأَنْمُلَةِ او د ورېښتيانو د کوچني کولو معنیٰ دا ده، چي د ورېښتيانو له سر څخه د ګوتي د سر په اندازه (ورېښتيان) واخلي (يعني ځيني يې کړې يا يې په يو ماشين څني واخلي).

اللغات: ﴿حلق﴾ سر خريل، ﴿ثلث﴾ څيري، څېلتا، ﴿تقصير﴾ د تفعيل مصدر دی: ① ورېښتيان کوچني کول (ځيني کول، پرېکول)، ② کمي، کوتاهي. ﴿انملة﴾ د ګوتي سر.

تشريح: مسئله: دا ده چي د حاجي لپاره سر خريل او ورېښتيان کوچني کول دواړه جائز دي، لېکن سر خريل افضل او اولیٰ دي. د افضليت يې دوې وجهې دي: (١) اوله وجه دا ده چي نبي ﷺ په حديث کي د سر خريونکو لپاره درې وراره د الله ﷻ د رحمت دعاء کړې ده، او د ورېښتيانو کوچني کونکو لپاره يې صرف يو وار دعاء کړې ده. (٢) دويمه وجه دا ده چي د حلق يا قصر مقصد پاکي حاصلول دي، او دا مقصد په سرخريلو سره په بشپړه توګه حاصليږي، نو په دې حواله سره هم حلق افضل دي، د دې په خلاف په ورېښتيانو کوچني کولو کي د پاکی په اعتبار سره کمي او نقص سته (يعني په هغه کي کمه پاکي حاصليږي). لهذا دا د اوداسه او غسل سره مشابه سو، يعني قصر د اوداسه په څير دی، او حلق د غسل په څير دی، نو څرنګه چي غسل تر اوداسه افضل دی، همدارنګه به حلق هم تر قصر افضله وي.

ويكتفی فی الحلق الخ فرمايي چي څرنګه په اوداسه کي د سر په مسح کولو کي د سر پر څلورمي حصې مسح کول کافي دي، همدارنګه په حلق کي هم د سر څلورمه حصه خريل کافي دي، خو څرنګه چي نبي ﷺ ټوله سر خريلی وو. نو د هغه په اقتداء کي به ټوله سر خريل افضله وي.

والتقصير الخ فرمايي چي د ورېښتيانو کوچني کول دا دي چي حاجي د خپل سر له ورېښتيانو څخه د ګوتي د سره په اندازه ورېښتيان واخلي (هغه که په هر شي سره وي).

تر حلق وروسته د احرام مسائل

قَالَ: وَقَدْ حَلَّ لَهٗ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ فرمايي: او (تر حلق او قصر وروسته) د حاجي لپاره هر شی حلال سو ماسوا له ښځو څخه وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: وَإِلَّا الطِّيْبَ أَيْضًا او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: او ماسوا له عطرو څخه هم لِأَنَّهٗ مِنْ دَوَاعِي الْجِمَاعِ ځکه چي عطر د جماع له دواعيو څخه دي وَلَنَا قَوْلُهٗ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فِيْهِ: حَلَّ لَهٗ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ او زموږ دليل په دې باره کي د نبي ﷺ (دا) قول دی: "چي د حاجي لپاره هر شی حلال سو ماسوا له ښځو څخه" وَهُوَ مُقَدَّمٌ عَلَى الْقِيَاسِ او دا حديث پر قياس مخکي دی وَلَا يَحِلُّ لَهُ الْجِمَاعُ فِيْمَا دُوْنَ الْفَرْجِ عِنْدَنَا او زموږ په نېز د هغه لپاره له فرج څخه په علاوه کي جماع کول حلال نه دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف

● قد مر تخريجه تحت حديث رقم: ١٢٢.

● تخريج: اخرجه ابو داؤد فی كتاب المناسک، باب فی رمي الجمار، حديث رقم: ١٩٧٨.

دی لِأَنَّهُ قَضَاءُ الشَّهْوَةِ بِالنِّسَاءِ ځکه چي دا (هم) له ښځو څخه شهوت پوره کول دي فَيُؤَخَّرُ إِلَى تَمَامِ الْإِحْلَالِ نو تر بشپړ حلالېدلو پوري به ځنډول کیږي.

اللغات: ﴿طِيب﴾ عطر، خوشبويي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي تر حلق او قصر وروسته زموږ په نېز د حاجي لپاره له جماع څخه ماسوا هر شی حلالیږي، لېکن جماع او دواعي د جماع نه حلالیږي، تر هغه وخته چي په بشپړه توګه له احرام څخه نه ووځي، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي د جماع په ډول عطر لګول هم نه حلالیږي، ځکه چي عطر لګول د جماع له دواعیو څخه دي، لکه څرنګه چي د ښځي مــه کول او مچول د جماع له دواعیو څخه دي، زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی: حل له كل شيئ الا النساء (یعني له ښځو څخه ماسوا د حاجي لپاره (تر حلق وروسته) هر شی حلالیږي)، او دا حديث د امام مالک رَحِمَهُ الله پر قياس مخکي دی (یعني د امام مالک قياس د دې حديث مقابله نه سي کولای).

ولا يحل له الخ فرمايي چي زموږ په نېز له فرج څخه په علاوه کي هم جماع حلاله نه ده، که څه هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حلاله ده، زموږ دليل دا دی چي له فرج څخه په علاوه کي جماع کول هم د شهوت پوره کول دي، نو ځکه به دا هم تر کامل حِلت پوري يعني تر بعد الطواف پوري ځنډول کیږي.

رمی (ويشتل) د حاجي د حلالېدلو سبب دي، که نه؟

ثُمَّ الرَّمْيُ لَيْسَ مِنْ أَسْبَابِ التَّحَلُّلِ بيا رمی (ويشتل د حاجي) د حلالېدلو له سببونو څخه نه دي عِنْدَنَا زموږ په نېز خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَقُولُ: إِنَّهُ يَتَوَقَّتُ بِيَوْمِ النَّحْرِ كَالْحَلْقِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي رمی هم د سر خريلو په ډول د لوی اختر د ورځي سره خاص دي فَيَكُونُ بِمَنْزِلَتِهِ فِي التَّحْلِيلِ نو رمی به (هم) په حلالولو کي د سر د خريلو په درجه کي وي وَلَنَا أَنَّ مَا يَكُونُ مُحَلِّلًا يَكُونُ جِنَايَةً فِي غَيْرِ أَوَانِهِ او زموږ دليل دا دی چي کوم شی حلالونکي وي هغه به تر وخت مخکي (یعني د احرام په حالت کي) جرم وي كَالْحَلْقِ وَالرَّمْيُ لَيْسَ بِجِنَايَةٍ لکه سر خريل او (شيطان) ويشتل چي (د احرام په حالت کي) جرم نه دي بِخِلَافِ الطَّوَافِ په خلاف د طواف لِأَنَّ التَّحَلُّلَ بِالْحَلْقِ السَّابِقِ لَا بِهِ ځکه چي (دلته) حلالېدل د مخکي سر خريلو په وجه دي نه د طواف په وجه.

اللغات: ﴿جناية﴾ جرم، ﴿أوان﴾ وخت، ځانګړی وخت.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي زموږ په نېز د جمرهٔ عقبه په رمی سره حاجي نه حلالیږي، بلکي د حلالېدلو لپاره حلق يا قصر ضروري دي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د حلالېدلو لپاره حلق يا قصر ضروري نه دي، بلکه که حاجي جمرهٔ عقبه اوولي، نو هغه حلالیږي، د هغه دليل دا دی چي د جمرهٔ عقبه رمي د يومُ النحر (د لوی اختر د ورځي) سره خاص دي، او کوم شی چي د يومُ النحر سره خاص وي، هغه به محلل يعني له احرام څخه ايستونکي وي، لکه څرنګه چي حلق د يوم النحر سره خاص دی، او محلل دی، نو همداسي به رمی جمار هم محلل وي، زموږ دليل دا دی چي کوم شی محلل وي، هغه تر حلالېدلو مخکي جرم وي، لکه حلق چي د احرام په حالت کي جرم دی، او رمی جمار

جرم نه دی، نو که د احرام په حالت کې يو څوک رمي جمار وکړي، نو هيڅ جرم نه دی. لهذا د دې ضابطې په وجه به رمي جمار نه محلل کيږي.

بخلاف الطواف الخ له دې ځايه د يو سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې تر دې ضابطې لاندې طواف هم د احرام په حالت کې جرم کېدل پکار دي، ځکه چې په طواف زيارت سره هم د ښځو سره جماع حلالېږي، نو طواف زيارت محلل سو، او ستاسو په قول چې کوم شی محلل وي، هغ تر حلالېدلو مخکې جرم وي، لهذا طواف د احرام په حالت کې جرم کېدل پکار وو، حال دا چې داسې نه ده. د دې جواب دا دی چې طواف زيارت محلل نه دی، ځکه چې طواف زيارت تر حلق وروسته کيږي، او حلق محلل دی، نو د طواف زيارت کونکی حاجي تر دې مخکې د حلق په وجه حلالېږي. او د هغه په حلالېدلو کې د طواف زيارت هيڅ دخل نسته.

د طواف زيارت بيان

قَالَ: ثُمَّ يَأْتِي مَكَّةَ مِنْ يَوْمِهِ ذٰلِكَ فرمايي: بيا به حاجي مکې (مبارکې) ته راسي په دغه ورځ أَوْ مِنَ الْغَدِ أَوْ مِنْ بَعْدِ الْغَدِ يا په سبا ورځ يا په بل سبا ورځ فَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ طَوَافَ الزِّيَارَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو پر کعبې (شريفې) به طواف وکړي اووه دوره (شوطه) لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] لَمَّا حَلَقَ ځکه روايت سوی دی چې کله نبي ﷺ سر وخروی أَفَاضَ إِلَى مَكَّةَ (نو) مکې ته روان سو فَطَافَ بِالْبَيْتِ او پر کعبه يې طواف وکړی ثُمَّ عَادَ إِلَى مِنًى بيا منیٰ ته واپس راغلی وَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى او د ماپښين لمونځ يې په منیٰ کې وکړی.

اللغات: ﴿غد﴾ سبا، را روانه ورځ.

تشريح: فرمايي چې د لوی اختر د ورځې تر افعالو يعني تر رمي، قرباني او حلق وروسته دې حاجي په دغه ورځ يعني د لوی اختر په اوله ورځ يا د لوی اختر په دويمه يا په دريمه مکې مبارکې ته راسي او طواف زيارت دې وکړي، ځکه نبي ﷺ مکې ته د طواف زيارت لپاره د لوی اختر په ورځ راغلی. تر هغه وروسته واپس منیٰ ته ولاړی، او هلته يې د ماپښين لمونځ وکړی، ښکاره دې وي چې طواف زيارت د حج رکن دی، او د هغه اداء کول ضروري دي، نو که يو چا پرېښووی، د هغه حج نه پوره کيږي.

د طواف زيارت د وخت بيان

وَوَقْتُهُ أَيَّامُ النَّحْرِ او د طواف زيارت وخت د قرباني ورځې دي لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى عَطَفَ الطَّوَافَ عَلَى الذَّبْحِ ځکه الله تعالیٰ پر قرباني طواف عطف کړی دی قَالَ: فَكُلُوا مِنْهَا [الحج: ٢٨] فرمايلي يې دي: فكلوا منها ثُمَّ قَالَ: وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ [الحج: ٢٩] بيا يې فرمايلي دي: وليطوفوا...الخ فَكَانَ وَقْتُهُمَا وَاحِدًا نو د دواړو وخت به يو وي وَأَوَّلُ وَقْتِهِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ او د طواف زيارت اول وخت د يومُ النحر په ورځ تر سهار راختلو (يعني تر صبح صادق) وروسته دی لِأَنَّ مَا قَبْلَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَقْتُ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ ځکه تر سهار مخکې خو د شپې وخت په عرفات کې د درېدلو

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب إستحباب طواف الإفاضة يوم النحر، حديث رقم: ٣٣٥.

وخت دی وَالطَّوَافُ مُرَتَّبٌ عَلَيْهِ او طواف پر هغه مرتب دی وَأَفْضَلُ هٰذِهِ الْأَيَّامِ أَوَّلُهَا او په دې ورځو کې اوله ورځ افضله ده كَمَا فِي التَّضْحِيَةِ لکه په قرباني کولو کې چې (اوله ورځ افضله ده) وَفِي الْحَدِيثِ: أَفْضَلُهَا أَوَّلُهَا او په حدیث کې (هم راغلي) دي، "چې په دې ورځو کې اوله ورځ افضله ده".

اللغات: ﴿تضحية﴾ د تفعيل مصدر دی، قرباني کول.

تشریح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې د طوافِ زيارت وخت د قرباني ورځې دي، يعني د لوی اختر اوله، دويمه او دريمه ورځ، ځکه د الله تعالیٰ په دې قول فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ کې طواف پر قرباني عطف سوی دی، او د معطوف او معطوف عليه دواړو وخت يو وي، لهذا د قرباني او د طواف زيارت دواړو وخت به هم يو وي، هوا دا خبره سته چې قرباني تر دريو ورځو وروسته جائز نه ده، خو طواف تر دريو ورځو وروسته هم مع الكراهت صحيح دی.

و أول الخ او د طواف اول وخت د لوی اختر په ورځ تر سهار راختلو وروسته شروع کيږي، ځکه چې تر سهار راختلو مخکې وخت يعني د شپې وخت د وقوف عرفه وخت دی، او طواف به پر وقوف مرتب وي، يعني تر وقوف عرفه وروسته به طواف کيږي، او د وقوف وخت د لوی اختر د ورځې تر طلوعِ فجر پوري دی، نو په دې وجه به تر طلوعِ فجر وروسته د طواف وخت شروع کيږي، خو په دې ورځو کې اوله ورځ د طوافِ زيارت لپاره افضله ده، لکه څرنګه چې په دې ورځو کې اوله ورځ د قرباني لپاره هم افضله ده، او په حديث کې هم دغه ذکر سوي دي چې افضل په دې ورځو کې اوله ورځ ده.

په طوافِ زيارت کې د سعي او د رمل بيان

فَإِنْ كَانَ سَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَقِيبَ طَوَافِ الْقُدُومِ او که حاجي تر طوافِ قدوم وروسته د صفا او مروه په مينځ کې سعی کړې وي لَمْ يَرْمُلْ فِي هٰذَا الطَّوَافِ نو په دغه طوافِ زيارت کې به رمل نه کوي وَلَا سَعْيَ عَلَيْهِ او پر هغه سعی (هم) نسته وَإِنْ كَانَ لَمْ يُقَدِّمِ السَّعْيَ او که هغه مخکې سعی کړې نه وي رَمَلَ فِي هٰذَا الطَّوَافِ نو په دې طواف کې دې رمل وکړي وَسَعَى بَعْدَهُ او تر هغه وروسته دې سعی وکړي لِأَنَّ السَّعْيَ لَمْ يُشْرَعْ إِلَّا مَرَّةً ځکه سعی مشروع سوې نه ده خو (فقط) يو وار وَالرَّمَلُ مَا شُرِعَ إِلَّا مَرَّةً فِي طَوَافٍ بَعْدَهُ سَعْيٌ او رمل مشروع سوی نه دی خو (فقط) يو وار په داسې طواف کې چې تر هغه وروسته سعی وي.

اللغات: ﴿عقيب﴾ وروسته.

تشریح: مسئله: دا ده که حاجي تر طوافِ قدوم وروسته سعی بين الصفا والمروه کړې وي، نو په طوافِ زيارت کې به رمل نه کوي، او سعی هم پر واجب نه ده، او که مخکې يې سعی بين الصفا والمروه کړې نه وي، نو په دې طواف کې به رمل کوي، او تر هغه وروسته به سعی هم کوي، ځکه چې سعی هم فقط يو وار مشروع سوې ده، او رمل هم تر داسې طواف وروسته يو وار مشروع سوی دی چې تر هغه وروسته به سعی وي.

تر طوافِ زیارت وروسته د دوو رکعتو بیان

وَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ هٰذَا الطَّوَافِ او حاجي به تر دغه طواف وروسته دوه رکعته لمونځ وکړي لِأَنَّ خَتْمَ كُلِّ طَوَافٍ بِرَكْعَتَيْنِ ځکه چې د هر طواف ختمول به پر دوو رکعتو وي فَرْضًا كَانَ الطَّوَافُ أَوْ نَفْلًا هغه که طواف فرض وي که نفل لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی قَالَ: وَقَدْ حَلَّ لَهُ النِّسَاءُ فرمايي: چې (تر طوافِ زیارت وروسته) د حاجي لپاره ښځې حلالې سوې وَلٰكِنْ بِالْحَلْقِ السَّابِقِ لیکن د مخکې سر خریلو په وجه إِذْ هُوَ الْمُحَلِّلُ ځکه چې هغه حلالونکي دي لَا بِالطَّوَافِ نه په طواف سره إِلَّا أَنَّهُ أَخَّرَ عَمَلَهُ فِيْ حَقِّ النِّسَاءِ خو دا چې د هغه عمل د ښځو په حق کې (تر طوافه پورې) ځنډول سوی دی (یعني تر طواف زیارت مخکې خوعطر، ښکار او داسې نور ټول شیان حلالیږي، لیکن جماع به تر طوافه پورې ځنډول کیږي او تر طواف وروسته به حلاله وي).

اللغات: ﴿محلل﴾ د تفعیل اسم فاعل دی: حلالونکی.

تشریح: صورت د مسئلې او دلیل ښکاره دی.

د طوافِ زیارت شرعي حیثیت

قَالَ: وَهٰذَا الطَّوَافُ هُوَ الْمَفْرُوْضُ فِي الْحَجِّ فرمايي: چې دا طواف په حج کې فرض دی وَهُوَ رُكْنٌ فِيْهِ او دا (له دریو ارکانو څخه) په حج کې یو رکن دی إِذْ هُوَ الْمَأْمُوْرُ بِهٖ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالىٰ: وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ [الحج: ۲۹] ځکه همدې حکم سوی دی د الله تعالیٰ په (دې) قول کې: وليطوفوا بالبيت ... وَيُسَمّٰى طَوَافَ الْإِفَاضَةِ وَطَوَافَ يَوْمِ النَّحْرِ او دې طواف ته طواف افاضه او طواف یوم النحر (هم) ویل کیږي وَيُكْرَهُ تَأْخِيْرُهُ عَنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ او تر دې ورځو دا طواف وروسته کول مکروه دي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ مُوَقَّتٌ بِهَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی چې دا طواف د همدې ورځو سره خاص دی وَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا او که (بیا هم) حاجي دا طواف تر دې ورځو وروسته کړی لَزِمَهُ دَمٌ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز پر هغه یو دم لازم سو وَسَنُبَيِّنُهُ فِيْ بَابِ الْجِنَايَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالىٰ او موږ به دا په باب الجنایات کې بیان کړو، انشاء الله تعالیٰ.

اللغات: ﴿العتيق﴾ پخوانی، محترم.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې په حج کې طوافِ زیارت رکن او فرض دی، او د هغه اداء کول ضروري دي، ځکه د الله تعالیٰ په دې قول وليطوفوا بالبيت العتيق کې د طوافِ زیارت امر سوی دی، د دې دویم نوم طواف افاضه او دریم نوم یې طواف یوم نحر دی، امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې طواف زیارت له ایامِ نحر څخه ځنډول مکروه تحریمي دي، دلیل د طواف قدوم په ضمن کې تېر سو چې طواف زیارت د ایام نحر سره خاص دی، خو که بیا هم هغه له دې ورځو څخه طوافِ زیارت وځنډوي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز پر هغه دم لازمیږي، چې د هغه تفصیل به انشاء الله په کتابُ الجنایات کې راسي.

تر طواف زيارت وروسته د رمي بيان

قَالَ : ثُمَّ يَعُوْدُ إِلَى مِنًى فرمايي: بيا به منىٰ ته واپس راسي فَيُقِيْمُ بِهَا او هلته به قيام وكړي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] رَجَعَ إِلَيْهَا ځکه چي نبي ﷺ (هم) منىٰ ته واپس تللى وو كَمَا رَوَيْنَا لكه څرنګه چي موږ روايت بيان كړى وَلِأَنَّهُ بَقِيَ عَلَيْهِ الرَّمْيُ او په دې وجه(هم) چي پر هغه(تر اوسه) رمي جمار پاته دي وَمَوْضِعُهُ بِمِنًى او د هغه ځاى منىٰ ده(نو ځکه به په منىٰ كي قيام كوي) فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِيْ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ بيا چي كله لمر زائل سي د قرباني له ورځو څخه په دويمه ورځ (يعني د لوى اختر په دويمه ورځ چي كله لمر تر سر واوړي) رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ نو دريو سره جمرات به اوولي فَيَبْدَأُ بِالَّتِيْ تَلِيْ مَسْجِدَ الْخَيْفِ او په هغه جمرې سره به شروع وكړي چي د مسجد خيف سره نژدې ده(يعني په اولي جمرې سره) فَيَرْمِيْهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ نو هغه به په اوو(۷) كانو سره اوولي يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ (او) د هر كاڼي سره به تكبير وايي وَيَقِفُ عِنْدَهَا او د دې(اولي) جمرې سره به ودرېږي ثُمَّ يَرْمِي الَّتِيْ تَلِيْهَا مِثْلَ ذٰلِكَ بيا به هغه جمره چي د اولي جمرې سره نژدې ده (يعني دويمه جمره) همدغه ډول اوولي وَيَقِفُ عِنْدَهَا او د دې(دويمې) جمرې سره به ودرېږي ثُمَّ يَرْمِيْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ كَذٰلِكَ بيا به همدغه ډول جمرهٔ عقبه اوولي وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا او د جمرهٔ عقبه سره به نه درېږي هٰكَذَا رَوٰى جَابِرٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْمَا نَقَلَ [2] مِنْ نُسُكِ رَسُوْلِ اللّٰهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مُفَسَّرًا همداسي حضرت جابر رضي الله عنه په تفصيلي توګه سره په هغه حديث كي روايت كړي دي چي هغه حضرت جابر رضي الله عنه د نبي ﷺ د نسک په باره كي را نقل كړى دى وَيَقِفُ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ فِي الْمَقَامِ الَّذِيْ يَقِفُ فِيْهِ النَّاسُ او د دواړو جمرو سره به په هغه ځاى كي ودرېږي چي په هغه كي خلک درېږي وَيَحْمَدُ اللّٰهَ وَيُثْنِيْ او د الله حمد او ثناء به ووايي وَيُهَلِّلُ وَيُكَبِّرُ او لا إله إلا الله او الله أكبر به ووايي وَيُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او پر نبي ﷺ به درود ووايي وَيَدْعُوْ لِحَاجَتِهِ او د خپل حاجت لپاره به دعاء وكړي.

اللغات: ﴿تلي﴾ د ضرب مضارع ده: نژدې كېدل، متصل كېدل. ﴿حصيات﴾ جمع د حصاة ده: كاڼي، كوچني ډبري. ﴿يثني﴾ د افعال مضارع ده: تعريف بيانول، ثناء ويل. ﴿يهلّل﴾ د تفعيل مضارع ده: كلمه طيّبه ويل.

تشريح: فرمايي چي كله حاجي له طوافِ زيارت څخه فارغه سي، نو سيده دي منىٰ ته روان سي، او هلته دي قيام وكړي، ځکه مخكي حديث تېر سو چي نبي ﷺ تر طوافِ زيارت وروسته منىٰ ته ولاړى او په منىٰ كي يې د ماپښين لمونځ وكړى، دويم دليل دا دى چي پر حاجي تر اوسه لا رمي جمار پاته دي، او د رمي جمار ځاى منىٰ ده، نو په دې وجه به هم منىٰ ته واپس تلل او هلته پاته كېدل ضروري وي، بيا چي د ذوالحجې په يوولسمه ورځ لمر تر سر واوړي، نو دريو

---

[1] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب إستحباب طواف الإفاضة يوم النحر، حديث رقم: ٣٣٥.

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسک، باب رمي الجمار، حديث رقم: ١٩٧٣.

سره جمرات دي اوولي، شروع به له هغه جمرې څخه کوي. چې د مسجد خيف سره نژدې ده. دا جمره به اووه کاڼي اوولي، او د هر کاڼي سره به الله أكبر وايي، او د دې جمرې سره به ودرېږي. بيا به همداسې د هغه جمرې رمى وکړي چې د دې جمرې سره نژدې ده يعني دويمه جمره، او د دې دويمې جمرې سره به هم ودرېږي. بيا به همداسې د جمرۂ عقبه رمى وکړي. خو د جمرۂ عقبه سره به نه درېږي، د حضرت جابر رضي الله عنه په حديث کې همدغه ډول ذکر سوي دي.

ويقف عند الخ او د اولې او دويمې جمرې سره به هلته ودرېږي چيرې چې خلک درېږي، هلته به د الله حمد او ثناء ووايي. تکبير او تهليل به ووايي، درود او دعاء به وکړي. لېکن د جمرۂ عقبه سره به نه درېږي او نه به هلته دعاء کوي. چې ګڼه ګوڼه جوړه نه سي.

تر رمى وروسته د دعاء بيان

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ او خپل دواړه لاسونه به (تر اوږو پورې) پورته کړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] : لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِي إِلَّا فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: لاسونه به نه پورته کېږي خو په اوو (٧) ځايونو کې وَذَكَرَ مِنْ جُمْلَتِهَا عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ او د هغو له مجموعې څخه يې د جمرتين سره (هم د لاسو پورته کول) ذکر کړل وَالْمُرَادُ رَفْعُ الْأَيْدِي بِالدُّعَاءِ او مراد په دعاء سره د لاسونو پورته کول دي وَيَنْبَغِي أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِلْمُؤْمِنِينَ فِي دُعَائِهِ فِي هٰذِهِ الْمَوَاقِفِ او پکار ده چې په دې ځايونو کې په خپله دعاء کې د مؤمنانو لپاره طلب د بخښنې وکړي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ [2] : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْحَاجِّ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: اې الله! حاجي ته بخښنه وکړه وَلِمَنِ اسْتَغْفَرَ لَهُ الْحَاجُّ او هغه چا ته (بخښنه وکړه) چې د هغه لپاره حاجي بخښنه طلب کړي ثُمَّ الْأَصْلُ أَنَّ كُلَّ رَمْيٍ بَعْدَهُ رَمْيٌ بيا قاعده دا ده چې هره هغه رمى چې تر هغه وروسته (بله) رمى وي يَقِفُ بَعْدَهُ تر هغه وروسته به درېږي لِأَنَّهُ فِي وَسَطِ الْعِبَادَةِ ځکه چې دا (وقوف) د عبادت په مېنځ کې دى فَيَأْتِي بِالدُّعَاءِ فِيهِ نو په دې (وقوف) کې به دعاء کوي وَكُلُّ رَمْيٍ لَيْسَ بَعْدَهُ رَمْيٌ او هره هغه رمى چې تر هغه وروسته رمى نه وي لَا يَقِفُ (هلته به) نه درېږي لِأَنَّ الْعِبَادَةَ قَدِ انْتَهَتْ ځکه چې عبادت ختم سو وَلِهٰذَا لَا يَقِفُ بَعْدَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِي يَوْمِ النَّحْرِ أَيْضًا همدا وجه ده چې د لوى اختر په ورځ به تر جمرۂ عقبه وروسته نه درېږي.

اللغات: ﴿أيدى﴾ جمع د يد ده: لاس. ﴿مواطن﴾ جمع د موطن ده: ځايونه.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې کله حاجي د جمره اولىٰ او وسطىٰ د رمي کولو په وخت کې دعاء کوي. نو خپل دواړه لاسونه به پورته کوي، لکه په مشهوره حديث کې چې را نقل سوي دي. صاحب د هدايې فرمايي چې په دې ځايونو کې به د دعاء کولو پر وخت د ټولو مسلمانانو لپاره بخښنه غواړي. ځکه نبي ﷺ فرمايي دي: "الهي! حاجي ته هم بخښنه وکړې. او حاجي چې د چا لپاره بخښنه غواړي. هغه ته هم بخښنه وکړې". له دې حديث څخه معلومه سوه چې حاجي به د نورو لپاره هم د بخښنې دعاء کوي.

● تخريج: قد مرّ تخريج في باب صفة الصلاة ج:١.

● تخريج: أخرجه الحاكم في المستدرك، باب المناسك، حديث رقم: ١٦١٢، ج:١.

والأصل الخ صاحب د هدايې يوه قاعده بيان کړې ده چې تر کومې رمي وروسته بله رمي وي، تر هغه رمي وروسته به حاجي درېږي او وقوف به کوي، ځکه چې حاجي اوس هم د عبادت په مېنځ کې دی، نو په وقوف کې به دعاء هم کوي، او تر کومې رمي چې وروسته بله رمي نه وي، تر هغه وروسته به وقوف او دعاء نه کوي، ځکه چې اوس عبادت ختم سو. همدا وجه ده چې په يومُ النحر کې به تر جمرهٔ عقبه وروسته وقوف نه کيږي، او تر اولې او دويمې جمرې وروسته به وقوف او دعاء کيږي ځکه چې تر هغو وروسته نورې جمرې سته.

د ذی الحجې په دولسمه ورځ د رمي بيان

قَالَ: وَإِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ فرمايي: او چې کله سبا سي (يعني د ذی الحجې دولسمه ورځ سي) رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ كَذَلِكَ نو درې سره جمرات دې همدغه ډول (يعني د مخکې مطابق) تر زوال وروسته اوولي وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يَتَعَجَّلَ النَّفْرَ نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ او که د ژر روانېدلو اراده يې وه نو د مکې و طرف ته دې روان سي وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيمَ او که د پاتېدلو اراده يې وه رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ فِي الْيَوْمِ الرَّابِعِ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ نو څلورمه ورځ دې (هم) تر زوال وروسته درې سره جمرات اوولي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "څوک چې په دوو ورځو کې تلوار (ژر والی) وکړي نو پر هغه څه گناه نسته وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ او څوک چې تأخير (ځنډوالی) وکړي نو پر هغه (هم) څه گناه نسته لِمَنِ اتَّقَى [البقرة: ۲۰۳] د هغه چا لپاره چې تقویٰ اختيار کړي" وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُقِيمَ او افضل دا ده چې حاجي قيام وکړي (يعني په څلورمه ورځ هم په منیٰ کې پاته سي) لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● صَبَرَ حَتَّى رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ فِي الْيَوْمِ الرَّابِعِ ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ پاته سو تر دې چې په څلورمه ورځ يې (هم) درې سره جمرات وويشتل.

اللغات: ﴿نفر﴾ کوچ کول، کډه کول، روانېدل، ﴿تعجل﴾ د تفعّل ماضي ده: تلوار کول، يو کار ژر کول، ﴿إثم﴾ گناه، ﴿اتقی﴾ د افتعال ماضي ده: پرهېزگاري او تقویٰ اختيارول.

تشريح: مسئله: دا ده چې د ذو الحجې په ۱۱ ورځ دې حاجي په منیٰ کې پاته سي، او په ۱۲ ورځ چې کله لمر تر سر واوړي، نو د مخکې په څېر دې درې سره جمرات اوولي. بيا که د هغه تلوار وي، نو تر رمي وروسته دې په ۱۲ ورځ مکې مکرمې ته روان سي، او که د پاته کېدلو اراده يې وي، نو را روانه ورځ يعني په ۱۳ ورځ دې هم تر زوال وروسته درې سره جمرات اوولي، او بيا دې مکې ته ولاړ سي، همدا وجه ده چې دولسمې ورځې ته يوم النفر الأول او ديارلسمې ورځې ته يوم النفر الثاني ويل کيږي. دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ...الآية، (يعني څوک چې په دولسمه ورځ ژر روان سي پر هغه هېڅ گناه نسته، او څوک چې تر ديارلسمې ورځې پورې [يعني د أيامُ النحر تر څلورمې ورځې پورې] ايسار سي پر هغه هم هېڅ گناه نسته)، خو افضل دا ده چې تر ديارلسمې

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الحج، باب من غربت له الشمس يوم النفر الأول، حديث رقم: ۹۶۸۷.

ورځې پورې په منیٰ کې پاته سي، ځکه نبي ﷺ هم په منیٰ کې تر هغه وخته پاته سو، ترڅو چې یې د ایامُ النحر په څلورمه ورځ یعني د ذو الحجې په دیارلسمه ورځ یې درې سره جمرات ورویشتل.

د ذي الحجې په دیارلسمه ورځ تر سهار مخکې د کوچ کولو بیان

وَلَهُ أَنْ يَنْفِرَ او حاجي ته د روانېدلو (کوچ کولو) اختیار سته مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ مِنَ الْيَوْمِ الرَّابِعِ ترڅو چې د څلورمې ورځې سهار راختلی نه وي (یعني د څلورمې ورځې تر صبح صادق مخکې) فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَنْفِرَ خو کله چې سهار را وخېږي نو (بیا) د هغه لپاره د روانېدلو اختیار نسته لِدُخُولِ وَقْتِ الرَّمْيِ ځکه چې د رمي وخت داخل سو وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او په دې کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی.

تشریح: مسئله: دا ده که یو حاجي د ذو الحجې په دولسمه ورځ مکې ته روان نه سو، او په منیٰ کې پاته سو، نو ترڅو چې د دیارلسمې ورځ سهار سوی نه وي، تر هغه وخته د هغه لپاره له منیٰ څخه د روانېدلو اختیار سته. لېکن که د دیارلسمې ورځې سهار سو، نو د هغه لپاره د روانېدلو اختیار نسته. ترڅو چې رمي نه وکړي، ځکه چې د رمي وخت شروع سو. لېکن په دې کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی، هغه فرمایي چې په دولسمه ورځ تر لمر لوېدلو وروسته د روانېدلو او کوچ کولو اختیار ختمیږي.

د ذي الحجې په دیارلسمه ورځ تر زوال مخکې د رمي بیان

وَإِنْ قَدَّمَ الرَّمْيَ فِي هٰذَا الْيَوْمِ او که حاجي په دې ورځ مخکې رمي وکړي يَعْنِي الْيَوْمَ الرَّابِعَ قَبْلَ الزَّوَالِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ یعني په څلورمه ورځ تر زوال مخکې (او) تر صبح صادق وروسته رمي وکړي جَازَ عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو جائز دي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَقَالَا: لَا يَجُوزُ اِعْتِبَارًا بِسَائِرِ الْأَيَّامِ او صاحبین فرمایي: جائز نه دي پر نورو ورځو په قیاسولو سره وَإِنَّمَا التَّفَاوُتُ فِي رُخْصَةِ النَّفْرِ او فرق صرف د روانېدلو (کوچ کولو) په رخصت (او اجازه) کې دی فَإِذَا لَمْ يَتَرَخَّصْ نو کله چې حاجي د رانېدلو رخصت اختیار نه کړی اِلْتَحَقَ بِهَا نو څلورمه ورځ به (هم) په نورو ورځو پورې ملحقه کیږي وَمَذْهَبُهُ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت سوی دی وَلِأَنَّهُ لَمَّا ظَهَرَ أَثَرُ التَّخْفِيفِ فِي هٰذَا الْيَوْمِ فِي حَقِّ التَّرْكِ او په دې وجه چې کله په دې ورځ کې د رمي د پرېښوولو په حق کې د تخفیف اثر ښکاره سو فَلَأَنْ يَظْهَرَ فِي جَوَازِهِ فِي الْأَوْقَاتِ كُلِّهَا أَوْلَىٰ نو په درجه اولیٰ سره به په ټولو وختونو کې د رمي په جواز کې د تخفیف اثر ښکاره کیږي بِخِلَافِ الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَالثَّانِي په خلاف د اولي او دویمې ورځې حَيْثُ لَا يَجُوزُ الرَّمْيُ فِيهِمَا إِلَّا بَعْدَ الزَّوَالِ فِي الْمَشْهُورِ مِنَ الرِّوَايَةِ ځکه چې په دې دوو ورځو کې رمي جائز نه دي مګر تر زوال وروسته د مشهور روایت مطابق لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ تَرْكُهُ فِيهِمَا ځکه

● القول الراجح: هو هذا قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:٢، ص: ٢٠٠. [القول الراجح ج:١، ص: ٢١٣]

چې په دې دوو ورځو کې رمي پربښوول جائز نه دي فَبَقِيَ عَلَى الْأَصْلِ الْمَرْوِيِّ نو پر هغه اصل به باقي پاته وي کوم چې روايت سوی دی.

تشريح: مسئله: دا ده که يو حاجي د ذو الحجې په ديارلسمه ورځ تر صبح صادق وروسته او تر زوال مخکې رمي وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه رمي جائز دي، او همدا استحسان دی، او صاحبين فرمايي چې جائز نه دي (بلکې تر زوال وروسته به يې کوي)، همدا مسلک د امام شافعي رَحِمَهُ الله دی. صاحبينو د رمي په لړ کې ديارلسمه ورځ پر نورو ورځو قياس کړې ده، يعني څرنګه چې د ذو الحجې په يوولسمه او دوولسمه ورځ تر زوال مخکې رمي کول جائز نه دي، همداسې به په ديارلسمه ورځ هم جائز نه وي. خو فقط دومره فرق سته چې په ديارلسمه ورځ بې له رمي روانېدل جائز دي، او نورې ورځې بې له رمي روانېدل جائز نه دي، لهذا کله چې هغه ته په ديارلسمه ورځ بې له رمي د کوچ کولو او روانېدلو رخصت وو، لېکن هغه له دې رخصت څخه فايده نه واخيستله، نو ديارلسمه ورځ به هم د نورو ورځو سره لاحقيږي، او کوم حکم چې د نورو ورځو وي، چې تر زوال مخکې به رمي جائز نه وي، همدا حکم به د ديارلسمې ورځې هم وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې له ابن عباس څخه هم دا روايت سوی دی چې د ذو الحجې په ديارلسمه ورځ تر زوال مخکې رمي کول جائز دي. دويم دليل دا دی چې کله په دې تاريخ رمي پرېښوول او بې له رمي مکې ته روانېدل جائز دي، نو رمي کول به په درجه اولیٰ جائز وي (هغه که په هر وخت کې يعني د ورځې په هره حصه کې وي). ځکه چې د رمي نه پرېښوول تر پرېښوولو ډېر غوره دي. د دې په خلاف په ۱۱/ او ۱۲/ ذی الحجه کې رمي پرېښوول جائز نه دي، نو ځکه به په دې ورځو کې تر زوال مخکې رمي کول جائز نه وي. او پر دې ورځو به ۱۳ ورځ قياسول صحيح نه وي.

د لوی اختر (يومُ النحر) په ورځ د رمی د شروع کولو وخت

فَأَمَّا يَوْمُ النَّحْرِ فَأَوَّلُ وَقْتِ الرَّمْيِ مِنْ وَقْتِ طُلُوْعِ الْفَجْرِ پاته سو يومُ النحر نو په دې ورځ د رمی اول وخت له سهار راختلو (صبح صادق) څخه (شروع کيږي) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ : أَوَّلُهُ بَعْدَ نِصْفِ اللَّيْلِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د دې اول وخت تر نيمې شپې وروسته (شروع کيږي) لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ ● صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لِلرُّعَاءِ أَنْ يَرْمُوْا لَيْلًا ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ شپنيانو (شپانو) ته اجازه ورکړه چې د شپې رمی وکړي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: لَا تَرْمُوْا جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ إِلَّا مُصْبِحِيْنَ او زموږ دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: "تاسو جمرهٔ عقبه مه اولئ خو دا چې په سهار کې داخل سئ (يعني د سهار په وخت کې يې اولئ)" وَيُرْوٰى: حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ او (بل) روايت سوی دی: "(چې جمرهٔ عقبه مه اولئ) تر دې چې لمر راوخيږي" فَيَثْبُتُ أَصْلُ الْوَقْتِ بِالْأَوَّلِ نو اصل وخت په اول حديث سره ثابتيږي وَالْأَفْضَلِيَّةُ بِالثَّانِيْ او افضليت په دويم حديث سره ثابتيږي وَتَأْوِيْلُ مَا

● تخريج: أخرجه دار قطني في السنن في كتاب الحج، باب المواقيت، حديث رقم: ۲۶۵۹.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في تقديم الضعفة من جمع بليل، حديث رقم: ۸۹۳.

رَوٰى اللَّيْلَةُ الثَّانِيَةُ وَالثَّالِثَةُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت سوي حديث تأويل دا دى چي له دې څخه دويمه او دريمه شپه مراد ده وَلِأَنَّ لَيْلَةَ النَّحْرِ وَقْتُ الْوُقُوْفِ او ځکه چي د يومُ النحر شپه (په عرفات کي) د وقوف وخت دى وَالرَّمْيُ يَتَرَتَّبُ عَلَيْهِ او رمى پر دغه وقوف مرتب کيږي فَيَكُوْنُ وَقْتُهُ بَعْدَهُ ضَرُوْرَةً نو ځکه به د رمى وخت خامخا تر وقوف وروسته وي ثُمَّ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ يَمْتَدُّ هٰذَا الْوَقْتُ إِلٰى غُرُوْبِ الشَّمْسِ بيا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا وخت تر لمر لوېدلو پوري اوږديږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: [1] إِنَّ أَوَّلَ نُسُكِنَا فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ الرَّمْيُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي په دې ورځ زموږ اول عبادت رمي دي جَعَلَ الْيَوْمَ وَقْتًا لَهُ (نو) نبي ﷺ ورځ د رمي وخت وګرځوله وَذِهَابُهُ بِغُرُوْبِ الشَّمْسِ او ورځ ختميږي په لمر لوېدلو سره وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يَمْتَدُّ إِلٰى وَقْتِ الزَّوَالِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دى چي دا وخت تر زوال پوري اوږديږي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا او د هغه په خلاف زموږ روايت کړى سوى حديث حجت دى.

اللغات: ﴿يوم النحر﴾ د قرباني ورځ، يعني د ذو الحجې لسمه او د لوى اختر ورځ. ﴿رعاء﴾ جمع د راعي ده: شپانه، ﴿مصبحين﴾ د افعال جمع اسم فاعل دى: د سهار په وخت کي داخلېدونکي خلک.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چي زموږ په نيز په يومُ النحر يعني د ذو الحجې په لسمه ورځ تر صبح صادق وروسته د جمرهٔ عقبه د رمي وخت شروع کيږي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د شپې تر نيمي حصې وروسته د رمي وخت شروع کيږي (که څه هم د هغه په نيز تر لمر راختلو وروسته رمى مستحب ده. لېکن وخت يې شروع کيږي تر نيمى شپې وروسته).

د امام شافعي دليل: دا دى چي نبي ﷺ شپنيانو ته د شپې د رمي کولو اجازه ورکړه (او د نيمي شپې په باره کي په بل حديث سره دليل نيسي).

زموږ دليل: هغه حديث دى کوم چي په کتاب کي ذکر سو. په هغه کي نبي ﷺ تر صبح صادق مخکي له رمي کولو څخه منع کړې ده، په بل روايت کي راغلي دي چي "تر لمر راختلو وروسته رمى وکړئ". له دې دواړو روايتونو څخه دا خبره ښکاره کيږي چي په يومُ النحر کي د رمي وخت شپه نه ده، بلکي د رمي وخت تر صبح صادق وروسته شروع کيږي. نو د احنافو د مسلک په تائيد کي دوه روايتونه ذکر سول. په اول روايت کي تر صبح صادق وروسته د رمي وخت ښوول سوى دى، په دويم روايت کي تر لمر راختلو وروسته د رمي وخت ښوول سوى دى، نو صاحب د هدايې په دواړو روايتونو کي تطبيق کوي چي له اول روايت څخه د جمرهٔ عقبه اصل وخت مراد دى، او له دويم حديث يعني له حتى تطلع الشمس څخه مراد افضل وخت دى.

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دى چي له دې حديث څخه مراد د يوولسم او دوولسم شپه ده.

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداؤد فى كتاب المناسك، باب الحلق والتقصير، حديث رقم: ١٩١٨.

ولأن ليلة الخ په دې باره کې زموږ دويم دليل دا دی چې د جمرهٔ عقبه رمی پر وقوف عرفه مرتب دي، او کوم شی چې پر بل شي مرتب وي، هغه به تر د دې بل شي وروسته ثابتيږي، او څرنګه چې د يومُ النحر شپه د وقوف عرفه وخت دی. نو ځکه به په دې شپه کې رمی کول جائز نه وي، او تر دغه شپې وروسته به يعني د يومُ النحر له صبح صادق څخه به د رمي وخت شروع کيږي.

ثم عند أبي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ الخ فرمايي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په يومُ النحر کې د جمرهٔ عقبه د رمی وخت تر لمر لوېدلو پورې دی، ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي چې په دې ورځ يعني په يومُ النحر کې زموږ اول عمل رمي کول دي. په دې حديث کې نبي ﷺ د رمي وخت ورځ ګرځولې ده، او د ورځې اطلاق تر لمر لوېدلو پورې کيږي، نو ځکه به د رمي وخت تر لمر لوېدلو پورې وي، لېکن په يومُ النحر کې د رمي د وخت په باره کې تفصيل دا دی چې د يومُ النحر تر صبح صادق وروسته تر لمر راختلو پورې مع الکراهت د جواز وخت دی، او له لمر راختلو څخه تر زوال پورې سنت وخت دی. او تر زوال وروسته تر لمر لوېدلو پورې بلا کراهت د جواز وخت دی، او تر غروب وروسته د شپې تر آخره پورې مع الکراهت د جواز وخت دی، له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې په يومُ النحر کې د رمی وخت تر زواله پورې دی، ځکه چې نبي ﷺ تر زوال مخکې رمي کړې دي، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خلاف هغه حديث حجت دی کوم چې موږ مخکې روايت کړی.

د لوی اختر (يومُ النحر) په ورځ د رمي نه کولو حکم

وَإِنْ أَخَّرَ إِلَى اللَّيْلِ او که حاجي رمي تر شپې پورې وځنډوي رَمَاهُ نو د شپې دې رمي وکړي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ او پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لِحَدِيْثِ الرِّعَاءِ د شپنيانو د حديث په وجه (کوم چې په تېر عبارت کې ذکر سو) وَإِنْ أَخَّرَ إِلَى الْغَدِ او که رمي تر سبا (يعني تر دويمې ورځې) پورې وځنډوي رَمَاهُ نو (هم) دې رمي وکړي لِأَنَّهُ وَقْتُ جِنْسِ الرَّمْيِ ځکه چې دا وخت هم د رمي له جنس څخه دی وَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او پر هغه دم واجب دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز لِتَأْخِيْرِهِ عَنْ وَقْتِهِ ځکه چې رمي له خپل وخت څخه وځنډېدلې كَمَا هُوَ مَذْهَبُهُ لکه څرنګه چې دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دی.

اللغات: ﴿غد﴾ سبا ورځ، را روانه ورځ.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو حاجي د يومُ النحر يعني د ذو الحجې په ورځ رمي نه وکړي، تر دې چې شپه سي، نو هغه دې د شپې رمي وکړي، او دم او هيڅ شی پر واجب نه دی، دليل د شپنيانو حديث دی چې په هغه کې نبي دوی ته د شپې د رمي کولو رخصت ورکړی دی، او که د شپې هم رمي نه وکړي، تر دې چې يوولسمه ورځ سي، نو په دې ورځ دې رمي وکړي، ځکه چې د يوولسمې ورځې وخت هم د رمي له جنس څخه دی، خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه دم واجبيږي، ځکه چې د جمرهٔ عقبه رمي يې له خپل وخت څخه وځنډولې، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې د حج نسک له خپل وخت څخه ځنډول دم واجبوي.

د سپرتيا په حال کې د رمي حکم

قَالَ: فَإِنْ رَمَاهَا رَاكِبًا أَجْزَأَهُ فرمايي: که حاجي د سپرتيا په حال کې رمي وکړي نو کافي دي لِحُصُولِ فِعْلِ الرَّمْيِ ځکه چې فعل د رمي حاصل سو وَكُلُّ رَمْيٍ بَعْدَهُ رَمْيٌ او هره هغه رمي چې تر هغه وروسته (نوري) رمي وي فَالْأَفْضَلُ أَنْ يَرْمِيَهُ مَاشِيًا نو افضل دا ده چې هغه رمي پياده وکړي وَإِلَّا فَيَرْمِيهِ رَاكِبًا کنې د سپرتيا په حال کې دي هغه رمي وکړي لِأَنَّ الْأَوَّلَ بَعْدَهُ وُقُوفٌ وَدُعَاءٌ ځکه چې تر اولي رمي وروسته دريدل او دعاء کول سته عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه (مخکې) چې موږ ذکر کړه فَيَرْمِي مَاشِيًا نو پياده به رمي وکړي لِيَكُونَ أَقْرَبَ إِلَى التَّضَرُّعِ چې تضرع ته زيات نژدې سي وَبَيَانُ الْأَفْضَلِ مَرْوِيٌّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او (دا) د افضيلت بيان له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی.

اللغات: ﴿راکبا﴾ د سپرتيا په حال کې، ﴿ماشيا﴾ پياده، (په داسې حال کې چې سپور نه وي)، ﴿تضرع﴾ عاجزي ښکاره کول، زاري کول.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو حاجي د سپرتيا په حال کې د جمرهٔ عقبه رمي وکړي نو هم جائز دي، ځکه اصل مقصد خو رمي کول دي، او هغه د سپرتيا په حال کې هم حاصليږي. په دې عبارت کې د رمي يوه قاعده هم ذکر سوې ده: چې هره هغه رمي چې تر هغه وروسته رمي وي، په هغه کې پياده رمي کول افضل او غوره دي، او که نه وي، نو د سپرتيا په حال کې رمي کول افضل دي. ځکه تر رمي وروسته چې رمي وي نو په هغه صورت کې خو د دوارو په مينځ کې وقوف او دعاء سته، نو ځکه به پياده رمي کول افضل وي، ځکه چې په دې کې خضوع، توجه او تضرع زياته ده، صاحب د هدايې فرمايي چې د افضيلت قول له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله را نقل سوی دی.

په منیٰ کې د شپې تېرولو حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ لَا يَبِيتَ بِمِنًى لَيَالِيَ الرَّمْيِ او مکروه دي چې د رمي په شپو کې په منیٰ کې شپه تېره نه کړي لِأَنَّ النَّبِيَّ[1] عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بَاتَ بِمِنًى ځکه چې نبي ﷺ په منیٰ کې شپه تېره کړې و وَعُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يُؤَدِّبُ عَلَى تَرْكِ الْمُقَامِ بِهَا او حضرت عمر رضی الله عنه به په منیٰ کې د قيام پر پرېښولو تأديب ورکوی وَلَوْ بَاتَ فِي غَيْرِهَا مُتَعَمِّدًا لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ عِنْدَنَا او که حاجي قصداً له منیٰ څخه په علاوه کې شپه تېره کړي نو زموږ په نېز پر هغه هيڅ شی نه واجبيږي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِأَنَّهُ وَجَبَ لِيَسْهُلَ عَلَيْهِ الرَّمْيُ فِي أَيَّامِهِ ځکه (په منیٰ کې) قيام په دې وجه لازم سوی دی چې پر حاجي د رمي په ورځو کې رمي کول آسانه سي فَلَمْ يَكُنْ مِنْ أَفْعَالِ الْحَجِّ نو قيام د حج له افعالو څخه نه سو فَتَرْكُهُ لَا يُوجِبُ الْجَابِرَ نو د هغه پرېښوول به يو نقصان پوره کونکی (شی) نه واجبوي.

اللغات: ﴿يسهل﴾ د فتح مضارع ده: آسانه کېدل، ﴿جابر﴾ اسم فاعل دی: نقصان پوره کونکی شی، د نقصان تلافي کونکی او پوره کونکی شی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسك، باب يبيت بمكة ليالي منى، حديث رقم: ۱۹۵۸.

تشريح: مسئله: دا ده چي زموږ په نيز د رمي په شپو کي په منیٰ کي شپه تېرول سنت دي، لېکن شپه نه تېرول مکروه دي. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز واجب دي، دليل دا دی چي نبي ﷺ هم د رمي په شپو کي شپه په منیٰ کي تېره کړې وه، او که يو حاجي به په منیٰ کي قيام پرېښووی، نو حضرت عمر ﷺ به هغه ته تنبيه ورکوله. لهذا که يو حاجي له منیٰ څخه ماسوا په بل ځای کي قصداً شپه تېره کړي، نو زموږ په نيز پر هغه دم او هيڅ شی نه واجبيږي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز دم واجبيږي. زموږ دليل دا دی چي د حاجي لپاره په منیٰ کي قيام کول ځکه ثابت دي، چي د هغه لپاره رمي کول آسانه سي، نو معلومه سوه چي په منیٰ کي قيام کول د حج فعل نه دی. او کله چي د حج فعل نه سو. نو د هغه د پرېښوولو په وجه به جابر يعني دم هم نه واجبيږي.

تر رمي وروسته مکې ته د سامان استولو او په خپله په منیٰ کي د پاتېدلو حکم

> قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يُقَدِّمَ الرَّجُلُ ثِقْلَهُ إِلَى مَكَّةَ فرمايي: او مکروه دي چي حاجي خپل سامان مخکي مکې ته واستوي وَيُقِيمَ حَتَّى يَرْمِيَ او (په خپله په منیٰ کي) پاته سي تر دې چي رمي وکړي لِمَا رُوِيَ أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَمْنَعُ مِنْهُ ځکه روايت سوی دی چي حضرت عمر ﷺ به له دې څخه منع کوله وَيُؤَدِّبُ عَلَيْهِ او پر دې به يې تأديب ورکوی وَلِأَنَّهُ يُوجِبُ شُغْلَ قَلْبِهِ او په دې وجه (هم) چي دا عمل د هغه زړه مشغوله کوي.

اللغات: ﴿ثقل﴾ بار، سامان. ﴿يؤدب﴾ د تفعيل مضارع ده: تأديب ورکول، تنبيه ورکول. ﴿شغل﴾ مصدر دی، بوختيا، مصروفيت.

تشريح: مخکي به حاجيانو خپل سامان د ځان سره خوندي کوی، چي هر ځای به تلل سامان به ور سره وو. لېکن اوس يې په د مکې مبارکي په هوټلونو کي خوندي ساتي، نو د مخکيني حاجيانو په باره کي فرمايي چي د حاجي لپاره دا مکروه ده چي له منیٰ څخه اول خپل سامان واستوي، او په خپله د رمي لپاره په منیٰ کي پاته سي، ځکه چي دی به په منیٰ کي وي، او زړه به يې د سامان سره وي. او د حج عبادت به ځني هېر وي، خو که د نن سبا په ډول يې مخکي ټوله سامان د مکې مبارکي په يو هوټل يا په بل ځای کي اېښی وي. نو هيڅ حرج نسته.

په وادي مُحَصَّب کي د درېدلو حکم

> وَإِذَا نَفَرَ إِلَى مَكَّةَ نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ او کله چي حاجي مکې ته روان سي نو په محصّب کي دي کښته سي (يعني له سپرلي څخه دي را شوه سي) وَهُوَ الْأَبْطَحُ او هغه ابطح دی وَهُوَ اسْمُ مَوْضِعٍ قَدْ نَزَلَ ❶ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او محصّب د يو ځای نوم دی چي په هغه کي نبي ﷺ کښته سوی وو وَكَانَ نُزُولُهُ قَصْدًا او هلته د نبي ﷺ کښته کېدل قصداً وو هُوَ الْأَصَحُّ همدا صحيح ده حَتَّى يَكُونَ النُّزُولُ بِهِ سُنَّةً تر دې چي په محصّب کي کښته کېدل سنت دي عَلَى مَا رُوِيَ أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ❷ قَالَ لِأَصْحَابِهِ لکه څرنګه چي روايت دی چي نبي ﷺ (په منیٰ کي) خپلو صحابه وو ته

---

❶ تخريج: أخرجه مسلم فی كتاب الحج، باب إستحباب نزول المحصب يوم النفر، حديث رقم: ۳۲۲.

❷ تخريج: أخرجه ابوداؤد فی كتاب المناسك، باب التحصيب، حديث رقم: ۲۱۰.

وفرمايل إِنَّا نَازِلُوْنَ غَدًا بِالْخَيْفِ خَيْفِ بَنِيْ كِنَانَةَ "چې مونږ به سبا په خيف بني کنانه کې کښته سو" حَيْثُ تَقَاسَمَ الْمُشْرِكُوْنَ فِيْهِ عَلٰى شِرْكِهِمْ چې هلته مشرکينو پر خپل شرک قسمونه کړي ول" يُشِيْرُ إِلٰى عَهْدِهِمْ عَلٰى هِجْرَانِ بَنِيْ هَاشِمٍ نبي ﷺ (په دې کلام سره) اشاره کوله د مشرکينو و پوره کوښښ ته د بنو هاشمو پر پرېښوولو (يعني په دې خبرو سره د نبي ﷺ اشاره دا وه چې مشرکينو د بنو هاشمو سره د تعلق په پرېکولو کې کوښښ کړی وو) فَعَرَفْنَا أَنَّهُ نَزَلَ بِهِ إِرَاءَةً لِلْمُشْرِكِيْنَ لَطِيْفَ صُنْعِ اللّٰهِ تَعَالٰى بِهِ نو مونږ پوه سو چې نبي په محصّب کې مشرکينو ته د الله ﷻ د هغه زياتي مهرباني د ور ښکاره کولو لپاره کښته سو کوم چې الله تعالیٰ پر نبي ﷺ کړې ده (يعني مونږ په پوه سو چې په محصب کې د نبي ﷺ د رېدلو راشوه کېدل په دې وجه دي چې دلوی څښتن ﷻ مهرباني مشرکينو ته ور ښکاره کړي) فَصَارَ سُنَّةً نو ځکه دا کښته کېدل سنت سو كَالرَّمَلِ فِي الطَّوَافِ لکه په طواف کې چې رمل (سنت سو).

اللغات: ﴿نفر﴾ روانېدل. ﴿أبطح﴾ ډبرينه ځمکه. ﴿نزل﴾ پړاو کول. شوه کېدل. (دربېدل). ﴿جهد﴾ کوښښ. زيار. ﴿تقاسم﴾ د تفاعل مضارع ده: په خپل مينځ کې قسمونه کول (خوړل). ﴿هجران﴾ بايکاټ. اړيکه پرېښوول. تعلق ختمول. ﴿صنع﴾ کار. کارنامه.

تشريح: په عبارت کې د بيان سوي مسئلې حاصل دا دی چې کله حاجي له منیٰ څخه مکې ته روان سي. نو په وادي محصب کې دې ضرور پړاو وکړي، ځکه نبي ﷺ هم هلته پړاو وکړی، او صحابه وو ته يې له مخکې څخه هلته د پړاو کولو او د کښته کېدلو خبر ورکړی، نو کله چې نبي ﷺ هلته ورسېدی. او پړاو يې وکړی. صحابه فرمايي چې مونږ پوه سو چې د نبي ﷺ مقصد د اسلام په طاقت او قوت سره په کفارو باندې رعب اچول دي او هغو ته پر مسلمانانو د الله له طرفه رحم او کرم ښوول مقصد دي (يعني چې الله تعالیٰ پر مسلمانانو ډېر رحم او مهرباني کړې ده). او خاص د دې مقصد لپاره نبي ﷺ هلته را کښته سو او پړاو يې وکړی. او نن که څه هم د عربو سيمه له کفارو او مشرکينو څخه صفا سوې ده، خو څرنګه چې په طواف کې تر سقوطِ علت وروسته نن هم رمل کول سنت دي. همدا ډول به په محصّب کې پړاو کول، او کښته کېدل نن هم د هر حاجي لپاره سنت وي.

د طواف صدر حکم

قَالَ: ثُمَّ دَخَلَ مَكَّةَ فرمايي: بيا دې حاجي داخل سي مکې (مبارکې) ته وَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ او پر کعبه دې طواف وکړي اووه (۷) دوره لَا يَرْمُلُ فِيْهَا (او) په هغو کې به رمل نه کوي وَهٰذَا طَوَافُ الصَّدَرِ دا طوافِ صدر دی وَيُسَمّٰى طَوَافَ الْوَدَاعِ او طواف وداع (هم) ورته ويل کيږي وَطَوَافَ آخِرِ عَهْدٍ بِالْبَيْتِ او د کعبې د آخري عهد طواف (هم ورته ويل کيږي) لِأَنَّهُ يُوَدِّعُ الْبَيْتَ وَيَصْدُرُ بِهٖ ځکه چې په دې طواف سره حاجي کعبه پرېږدي (رخصتيږي) او

روانيږي وَهُوَ وَاجِبٌ عِنْدَنَا او دا طواف زموږ په نيز واجب دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: مَنْ حَجَّ هٰذَا الْبَيْتَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چي د دې کور حج کوي فَلْيَكُنْ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ الطَّوَافُ نو د هغه آخري عهد دي د کعبې (مبارکي) طواف وي وَرَخَّصَ لِلنِّسَاءِ الْحُيَّضِ او نبي ﷺ حائضه ښځو ته (د دې طواف د پرېښوولو) رخصت ورکړی إِلَّا عَلَى أَهْلِ مَكَّةَ مګر د مکې پر خلکو (طواف وداع واجب نه دی) لِأَنَّهُمْ لَا يَصْدُرُوْنَ وَلَا يُوَدِّعُوْنَ ځکه چي د مکې خلک نه (له مکې څخه) روانيږي او نه رخصتيږي وَلَا رَمَلَ فِيهِ لِمَا بَيَّنَّا او په دې طواف کي رمل (هم) نسته د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی أَنَّهُ شُرِعَ مَرَّةً وَاحِدَةً چي رمل فقط يو وار مشروع سوی دی وَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ بَعْدَهُ او تر دې وروسته به د طواف دوه رکعته وکړي لِمَا قَدَّمْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ مخکي بيان کړی.

اللغات: ﴿أشواط﴾ جمع د شوط ده: دور. پر کعبې مبارکي يو ځل راګرځېدلو ته يو شوط ويل کيږي. ﴿يودع﴾ د تفعيل مضارع ده: د دې باب ډيري معناوي راځي: رخصتول، پرېښوول، خدای په امان ويل او داسي نور. ﴿يصدر﴾ د نصر مضارع ده: د دې باب هم ډيري معناوي راځي: روانېدل، صادرېدل او داسي نور.

تشريح: په دې عبارت کي حاجيانو ته دا لارښوونه سوې ده چي کله هغوی د منیٰ له ټولو مناسکو او افعالو څخه فارغه سي، او د محصّب پر لار مکې ته داخل سي. نو تر ټولو مخکي دي پر کعبې مبارکي اووه (۷) دوره طواف وکړي، په دې طواف کي به رمل نه کوي. د دې طواف نوم طوافِ صدر، طوافِ وداع او طوافِ آخرِ عهد دی. طوافِ وداع ځکه ورته وايي چي تر دې طواف وروسته حاجيان کعبې ته خدای په امان وايي او رخصتيږي، او طوافِ صدر او طوافِ آخرِ عهد ځکه ته ورته وايي چي په دې طواف سره حاجيان له کعبې څخه روانيږي، او د هغو آخري عمل دا طواف دی، زموږ په نيز دا طواف واجب دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز سنت دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چي طوافِ صدر د طوافِ قدوم په منزله دی، همدا وجه ده چي دواړه طوافونه آفاقي حاجي کوي، او د مکې اوسېدونکي حاجي يې نه کوي، حال دا چي د حج په واجباتو کي آفاقي او مکي دواړه برابر دي، لهذا کله چي د مکې حاجي دا طوافونه نه کوي، نو دا د دې خبري دليل دی چي دا طوافونه واجب نه دي.

زموږ دليل: دا حديث دی: "څوک چي د بيتُ الله حج کوي، نو د هغه آخري عمل دي د بيتُ الله طواف وي...". او د دې حديث په آخري جمله کي نبي ﷺ حائضې ښځو ته رخصت ورکړی دي. يعني د حيض او نفاس والا ښځو ته له طوافِ صدر څخه بغير هم روانېدل جائز دي. په دې حديث کي فليکن امر دی، او بې له قرينې امر د وجوب لپاره راځي، نو ثابته سوه چي دا طواف واجب دی، دريمه وجه دا ده چي نبي ﷺ حائضو ښځو ته له طوافِ صدر څخه بغير د روانېدلو اجازه او رخصت ورکړی دی، دا هم د وجوب دليل دی، کنې د رخصت د تخصيص به څه فايده وي. فافهم و تدبّر

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في المرأة تحيض بعد الإفاضة، حديث رقم: ٩٤٣، و ابو داؤد في كتاب المناسك، باب الوداع، حديث رقم: ٢٠٠٢.

إلا على أهل مكة الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله وايي چي د مکې پر خلکو طواف صدر واجب نه دی. ځکه چي د مکې اوسېدونکي نه له مکې څخه وځي او نه له کعبې څخه رخصتيږي، په دې طواف کي رمل ځکه نسته چي رمل صرف يو ځل په طوافِ قدوم يا طوافِ زيارت کي مشروع دی، لهذا دويم وار د هغه ضرورت نسته. خو تر طواف صدر وروسته به هم د طواف دوه رکعته کوي، ځکه چي د باب په اول کي تېر سو چي هر طواف به په دوو رکعتونو سره ختميږي. طواف که فرض وي، که غير فرض وي.

د زمزم د اوبو حکم

ثُمَّ يَأْتِي زَمْزَمَ او بيا به حاجي زمزم ته راسي فَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا او له زمزم څخه به اُوبه وچيښي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] اِسْتَقَى دَلْوًا بِنَفْسِهِ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ په خپله يوه سولاغه راوکښله فَشَرِبَ مِنْهُ او له هغې څخه يې اوبه وچيښلې ثُمَّ أَفْرَغَ بَاقِيَ الدَّلْوِ فِي الْبِئْرِ بيا يې د سولاغې پاته اوبه څاه ته واچولې.

اللغات: ﴿استقى﴾ د استفعال ماضي ده: اوبه راکښل، اوبه غوښتل. ﴿دلو﴾ سولاغه(سلواغه). ﴿أفرغ﴾ تويول، اچول. ﴿بئر﴾ څاه.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

تر طوافِ وداع وروسته اعمال

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَأْتِيَ الْبَابَ او مستحب دي چي حاجي (د کعبې) دروازې ته راسي وَيُقَبِّلُ الْعَتَبَةَ او د هغې چوکاټ مچ کړي ثُمَّ يَأْتِي الْمُلْتَزَمَ او ملتزم ته راسي وَهُوَ مَا بَيْنَ الْحَجَرِ إِلَى الْبَابِ او ملتزم له حجرِ اسود څخه (د کعبې) تر دروازې پورې دی فَيَضَعُ صَدْرَهُ وَوَجْهَهُ عَلَيْهِ نو پر ملتزم به خپله سينه او مخ کښېږدي وَيَتَشَبَّثُ بِالْأَسْتَارِ سَاعَةً او څه ګړی به د کعبې په پردو پورې ومښلي ثُمَّ يَعُودُ إِلَى أَهْلِهِ بيا به خپل اهل وعيال ته را واپس سي هَكَذَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[2] فَعَلَ بِالْمُلْتَزَمِ ذٰلِكَ همدا ډول روايت سوی دی چي نبي ﷺ د ملتزم سره دغسي وکړه قَالُوْا: وَيَنْبَغِي أَنْ يَنْصَرِفَ وَهُوَ يَمْشِي وَرَاءَهُ مشائخو فرمايلي دي: مناسب دا ده چي په داسي حال کي واپس سي چي د شا پر طرف روان وي وَوَجْهُهُ إِلَى الْبَيْتِ او د هغه مخ د کعبې (مبارکي) و طرف ته وي مُتَبَاكِيًا مُتَحَسِّرًا عَلَى فِرَاقِ الْبَيْتِ (او) په داسي حال کي چي په ژړا وي او د کعبې پر بېلتون افسوس (او غم) کونکی وي حَتَّى يَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ تر دې چي له مسجد حرام څخه ووځي فَهٰذَا بَيَانُ تَمَامِ الْحَجِّ نو دا د پوره حج بيان سو.

---

[1] تخريج: أخرجه ابن سعد في طبقات الكبرىٰ، باب حجة الوداع، ج: ٢، ص: ١٢٠، دار الكتب العلميه بيروت.

[2] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب المناسك، باب الملتزم، حديث رقم: ١٨٩٩.

فَصْلٌ

اللغات: ﴿يقبّل﴾ د تفعيل مضارع ده: مچول، ﴿عتبة﴾ چوکاټ، ﴿يتشبث﴾ د تفعّل مضارع ده: موښتل، غاړه په غاړه کېدل، ﴿أستار﴾ پردې، ﴿متباکي﴾ د تفاعل اسم فاعل دی: ژړېدونکی، ﴿متحسر﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: حسرت او افسوس کونکی.

تشريح: امام قدوري او صاحب د هدايې رَحِمَهُمَا الله حاجيانو ته آخري وصيت او نصيحت کوي فرمايي چې د زمزم تر چيښلو وروسته حاجي ته پکار ده چې د کعبې دروازې ته راسي او د هغې چوکاټ دي مچ کړي. او بيا دي ملتزم ته (کوم چې له حجرِ اسود څخه د کعبې تر دروازې پورې دی) راسي او پر هغه دي خپله سينه او مخ کښېږدي، او يو څه وخت دي د کعبې د پردو سره ومښلي او د الله ﷻ په مينه او دعاء کي دي مصروف سي. تر هغه وروسته دي خپل وطن را روان سي، ځکه چې په دې کي د نبي ﷺ اتباع ده.

د بعضي مشائخو رايه دا ده چې له کعبې څخه دي حاجي د شا پر طرف را روان سي، مخ دي يې د کعبې و طرف ته وي، او د کعبې پر جدايې او فراق دي افسوس کوي، او ژاړي دي. او په دغه حال کي دي له مسجدِ حرام څخه ووځي.

فهذا بيان الخ فرمايي چې تر دې ځايه پورې د بشپړ حج تفصيلي بيان وسو. او په ښه تشريح سره مو ذکر کړی، لوس دا ستاسو ذمه واري ده چې په خپله سينه کي يې خوندي کړی، او د حج په سپېڅلو ورځو کي فايده څني واخلئ او نور هم له دې فايدې څخه برخمن کړی. الله ﷻ دې موږ ټولو ته د خپل مقدّس کور ديدار را نصيب کړي، آمين.



تشریح: په دې فصل کې چې کومې مسئلې بیانیږي، د هغو تعلق هم د حج او د حج د افعالو سره دی. لهذا د باب د تکملې په توګه دا فصل جلا بیانیږي.

مکې ته له تګ څخه بغیر عرفات ته د تګ حکم

وَإِنْ لَمْ يَدْخُلِ الْمُحْرِمُ مَكَّةَ او که احرام تړونکی مکې ته داخل نه سي وَتَوَجَّهَ إِلَى عَرَفَاتٍ او عرفات ته ولاړ سي وَوَقَفَ بِهَا عَلَى مَا بَيَّنَّا او په عرفات کې زموږ د بیان سوي تفصیل مطابق وقوف وکړي سَقَطَ عَنْهُ طَوَافُ الْقُدُومِ نو له هغه څخه طوافِ قدوم ساقطیږي لِأَنَّهُ شُرِعَ فِي ابْتِدَاءِ الْحَجِّ عَلَى وَجْهٍ يَتَرَتَّبُ عَلَيْهِ سَائِرُ الْأَفْعَالِ ځکه چې طوافِ قدوم د حج په پیل کې داسې مشروع دی چې د حج ټوله افعال به پر هغه مرتب وي فَلَا يَكُونُ الْإِتْيَانُ بِهِ عَلَى غَيْرِ ذٰلِكَ الْوَجْهِ سُنَّةً نو له دې څخه علاوه به په بله طریقه طوافِ قدوم اداء کول سنت نه وي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ بِتَرْكِهِ او د طوافِ قدوم په پرېښودلو سره پر حاجي هیڅ شی نه واجبیږي لِأَنَّهُ سُنَّةٌ ځکه چې دا طواف سنت دی وَبِتَرْكِ السُّنَّةِ لَا يَجِبُ الْجَابِرُ او د سنت پرېښودلو په وجه نقصان پوره کونکی (یعني دم) نه واجبیږي.

اللغات: ﴿شرع﴾ مشروع سوی دی. ﴿سائر﴾ ټوله. ﴿جابر﴾ د نقصان تلافی کونکی شی.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو محرم مکې ته داخل نه سو، او طوافِ قدوم یې هم نه وکړی، بلکې له میقات څخه سیده عرفات ته ولاړی، او د شریعت د بیان سوي طریقې مطابق یې هلته وقوف وکړی، نو د هغه له غاړې څخه طوافِ قدوم ساقط سو، ځکه چې طوافِ قدوم د حج په شروع کې په دې توګه مشروع سوی دی چې د حج ټوله افعال به پر هغه مرتب وي، لهذا په بله توګه به طوافِ قدوم سنت نه وي، او د طوافِ قدوم په وجه دم او هیڅ شی هم نه واجبیږي، ځکه چې طوافِ قدوم سنت دی، او د سنت د پرېښودلو په وجه دم او هیڅ د نقصان پوره کونکی شی نه واجبیږي.

د وقوفِ عرفات د کمې اندازې حکم

وَمَنْ أَدْرَكَ الْوُقُوفَ بِعَرَفَةَ مَا بَيْنَ زَوَالِ الشَّمْسِ مِنْ يَوْمِهَا إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ او څوک چې د عرفات په ورځ د لمر د زوال او د یومُ النحر د صبح صادق په مینځ کې وقوفِ عرفه ونیسي فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ نو هغه حج ونیوی فَأَوَّلُ وَقْتِ الْوُقُوفِ بَعْدَ الزَّوَالِ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز د وقوف اول وخت د لمر تر زوال وروسته دی لِمَا رُوِيَ[1] أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَفَ بَعْدَ الزَّوَالِ ځکه روایت سوی دی چې نبي ﷺ تر زوال وروسته وقوف وکړی وَهٰذَا بَيَانُ أَوَّلِ الْوَقْتِ او دا د اول وخت بیان دی وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[2]: مَنْ أَدْرَكَ عَرَفَةَ بِلَيْلٍ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ او نبي ﷺ فرمایلي دي: "څوک چې د شپې عرفات ونیسي هغه حج ونیوی وَمَنْ فَاتَهُ عَرَفَةُ بِلَيْلٍ فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ او له چا څخه چې د شپې (هم) عرفات فوت سي نو له هغه څخه حج فوت سو" وَهٰذَا بَيَانُ آخِرِ الْوَقْتِ او دا د آخري وخت بیان دی

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب المناسك، باب صفة حجة النبي ﷺ، حديث رقم: ۱۹۰۵.

[2] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء في من أدرك الإمام بجمع.

وَمَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ إِنْ كَانَ يَقُوْلُ: إِنَّ أَوَّلَ وَقْتِهِ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ أَوْ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ او امام مالک رَحِمَهُ الله كه څه هم دا وايي؛ چي د وقوف عرفه اول وخت تر سهار يا لمر راختلو وروسته دی فَهُوَ مَحْجُوْجٌ عَلَيْهِ بِمَا رَوَيْنَا خو د هغه په خلاف زموږ روايت سوی حديث حجت دی.

اللغات: ﴿أدرك﴾ د افعال ماضي دي: نيول، پيدا كول. ﴿محجوج عليه﴾ د نصر اسم مفعول دی: هغه چي حجت پر قائم كړی سي.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي زموږ په نېز د عرفات په ورځ تر زوال وروسته د وقوفِ عرفه وخت شروع كيږي، او ديومُ النحر تر صبح صادق (يعني د سهار تر سپېدو) پوري پاتيږي، نو څوک چي هم په دې وختونو كي هر وخت په عرفات كي وقوف وكړي، د هغهٔ حج اداء كيږي، ځكه نبي ﷺ هم تر زوال وروستهٔ وقوف وكړی، او دا د دې خبري دليل دی چي تر زوال وروسته د وقوف وخت شروع كيږي، بيا په يو بل روايت كي د نبي ﷺ دا فرمان را نقل سوی دی چي څوک د شپې وقوفِ عرفه وكړي هغه حج ونيوی، او څوک چي يې د شپې هم نه ونيسي، هغه حج هم نه ونيوی، او دا د آخري وخت بيان دی، نو ځكه موږ وايو چي د عرفات د ورځي له زوال څخه ديومُ النحر تر صبح صادق پوري د وقوف وخت دی.

ومالك الخ فرمايي چي د امام مالک رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي د عرفات د ورځي تر صبح صادق وروسته يا په دې ورځ د لمر تر راختلو وروسته د وقوفِ عرفه وخت شروع كيږي، لېكن صاحب د هدايې فرمايي چي د نبوي عمل سره متعلق زموږ بيان سوی حديث د هغه په خلاف حجت او دليل دی، ځكه په هغه كي د دې خبري ښكاره صراحت سوی دی چي نبي ﷺ تر زوال وروسته وقوف وكړی، نو كه د وقوف وخت تر دې مخكي وای، نو نبي ﷺ به په خپل فرمان سره د هغه وضاحت حتماً كړی وای، لېكن له نبي ﷺ څخه په دې باره كي د نبي هيڅ فرمان را نقل سوی نه دي، او دا دې خبري دليل دی چي د وقوفِ عرفه وخت به تر زوال وروسته شروع كيږي.

كه تر زوال وروسته لږ وخت وقوفِ عرفه وكړي او بيا كوچ وكړي نو څه حكم دی؟

ثُمَّ إِذَا وَقَفَ بَعْدَ الزَّوَالِ وَأَفَاضَ مِنْ سَاعَتِهِ بيا كه حاجي تر زوال وروسته وقوفِ عرفه وكړي او په هغه ګړي روان سي أَجْزَأَهُ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز د هغه لپاره دا كافي دي لِأَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● ذَكَرَ بِكَلِمَةِ أَوْ ځكه چي نبي ﷺ كلمه د "أو" ذكر كړې ده (په را روان حديث كي) فَإِنَّهُ قَالَ: اَلْحَجُّ عَرَفَةُ (او هغه دا چي) نبي ﷺ فرمايلي دي: "حج عرفات دی فَمَنْ وَقَفَ بِعَرَفَةَ سَاعَةً مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ لهذا كه يو څوک په عرفات كي يو ګړی د شپې يا ورځي وقوف وكړي فَقَدْ تَمَّ حَجُّهُ نو د هغه حج پوره سو" وَهِيَ كَلِمَةُ التَّخْيِيْرِ او (په دې حديث كي) لفظ د "أو" د تخيير لپاره دی وَقَالَ مَالِكٌ: لَا يُجْزِئُهُ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د هغه لپاره وقوف كافي نه دی إِلَّا أَنْ يَقِفَ فِي الْيَوْمِ وَجُزْءٍ مِنَ اللَّيْلِ خو دا چي د ورځي هم او د شپې په يوه جزء كي هم وقوف وكړي وَلٰكِنَّ الْحُجَّةَ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَاهُ لېكن د هغه په خلاف زموږ روايت سوی حديث حجت دی.

● تخريج: أخرجه ابو داد في كتاب المناسک، باب من لم يدرک عرفة، حديث رقم: ۱۹۲۹.

اللغات: ﴿أفاض﴾ د افعال ماضي ده: واپس روانېدل. ﴿تخير﴾ اختيار ورکول.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو حاجي تر زوال وروسته لږ ګړی وقوف عرفه وکړی. تر دې وروسته له هغه ځای څخه روان سو، نو د هغه وقوف هم اداء کيږي، او حج يې هم پوره کيږي، ځکه په دې حديث فمن وقف بعرفة الخ کي د شپې يا د ورځې په هره حصه کي په وقوف کولو سره د حج د پوره کېدلو حکم سوی دی. او څرنګه چي په حديث کي کلمه د "أو" د تخيير لپاره ده، نو ځکه به د ورځي يا شپې په هره حصه کي په وقوف سره حج پوره کيږي. او فقط د شپې يا د ورځي سره به وقوف خاص نه وي، د دې په خلاف امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي په شپه او ورځ دواړو کي وقوف ضروري دي، نه يوازي د ورځي په وقوف سره حج پوره کيږي، او نه فقط د شپې. بلکي د شپې او ورځي په دواړو جزؤنو کي به په وقوف کولو سره حج پوره کيږي، لېکن صاحب د هدايې فرمايي چي زموږ بيان سوی حديث د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی، ځکه نبي ﷺ په کلمه د "أو" په وقوفِ عرفه سره د حج د پوره کېدلو حکم کړی دی. چي هغه د شپې يا د ورځي يا د دواړو د تعيين او تخصيص منافي دي.

د خوب، بې هوښۍ يا ناخبرۍ په صورت کي د عرفات سره د تېرېدلو حکم

> وَمَنِ اجْتَازَ بِعَرَفَةَ نَائِمًا او څوک چي د عرفات سره د خوب په حالت کي تېر سي أَوْ مُغْمًى عَلَيْهِ يا د بې هوښۍ په حالت کي (تېر سي) أَوْ لَا يَعْلَمُ أَنَّهَا عَرَفَاتٌ يا هغه ته دا خبر نه وي چي دا عرفات دی جَازَ عَنِ الْوُقُوفِ نو دا تېرېدل د وقوف عرفه لپاره کافي دي لِأَنَّ مَا هُوَ الرُّكْنُ قَدْ وُجِدَ ځکه کوم شی چي رکن دی هغه پيدا سو وَهُوَ الْوُقُوفُ او رکن وقوف دی وَلَا يَمْتَنِعُ ذٰلِكَ بِالْإِغْمَاءِ وَالنَّوْمِ كَرُكْنِ الصَّوْمِ او دا وقوف د بې هوښۍ او خوب په وجه نه ممتنع کيږي لکه د روژې رکن چي دی بِخِلَافِ الصَّلَاةِ په خلاف د لمانځه لِأَنَّهَا لَا تَبْقَى مَعَ الْإِغْمَاءِ ځکه چي لمونځ د بې هوښۍ سره نه پاتيږي وَالْجَهْلُ يُخِلُّ بِالنِّيَّةِ او ناخبري په نيت کي خلل راولي وَهِيَ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ لِكُلِّ رُكْنٍ او نيت د هر رکن لپاره شرط نه دی.

اللغات: ﴿اجتاز﴾ د افتعال ماضي ده: تېرېدل. ﴿مغمى عليه﴾ بې هوښه سړی.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو حاجي د خوب يا د بې هوښۍ په حالت کي د عرفات په ورځ د عرفات د ميدان سره تېر سو، يا هغه ته دا معلومه نه وه چي دا عرفات دی، نو په دې دريو سره صورتونو کي وقوفِ عرفه اداء سو. ځکه چي د حج رکن وقوف دی، او هغه پيدا سو، پاته سو بې هوښي او خوب نو هغه د وقوف لپاره مانع نه دي، لکه څرنګه چي يو څوک د سهار په اوله حصه کي د روژې نيت وکړي، بيا ټوله ورځ بيده يا بې هوښه پروت وي. نو د هغه روژه اداء کيږي، په خلاف د لمانځه ځکه چي لمونځ د بې هوښۍ په حالت کي نه پاتيږي، او پاته سو نه خبرېدل، نو دا په نيت کي خلل پيدا کوي، يعني د کوم شي علم چي نه وي، د هغه نيت به معتبر نه وي، خو د هر رکن لپاره جلا جلا نيت شرط نه دی، بلکي دلته دا اُصول دی چي د وقوف عرفه لپاره اصل نيت (يعني د حج نيت) هم کافي دی، لهذا د وقوف لپاره هم نيت شرط نه سو، او کله چي نيت شرط نه سو، نو عرفات ته به له تګ څخه بغير فقط د عرفات سره تېرېدل وقوف شمارل کيږي.

د بې هوښه سړي له طرف څخه د بل چا د احرام تړلو حکم

وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ او څوک چې بې هوښه سي فَأَهَلَّ عَنْهُ رُفَقَاؤُهُ او د هغه له طرفه خپل ملګري تلبيه ووايي جَازَ عِنْدَ● أَبِي حَنِيْفَةَ نو دا جائز دي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا: لَا يَجُوْزُ او صاحبين فرمايي: چې جائز نه دي وَلَوْ أَمَرَ إِنْسَانًا بِأَنْ يُحْرِمَ عَنْهُ إِذَا أُغْمِيَ عَلَيْهِ أَوْ نَامَ او که هغه يو سړي ته حکم کړی وي چې دا سړی دي د هغه له طرفه احرام وتړي کله چې هغه بې هوښه سي يا بيده سي فَأَحْرَمَ الْمَأْمُوْرُ عَنْهُ صَحَّ بِالْإِجْمَاعِ او دا سړی (هم) د هغه له طرفه احرام وتړي نو دا بالاجماع صحيح دي حَتّٰى إِذَا أَفَاقَ أَوِ اسْتَيْقَظَ وَأَتٰى بِأَفْعَالِ الْحَجِّ جَازَ تر دې که هغه جوړ سي (يعني په سد کي راسي) يا راويښ سي او د حج (نور) افعال اداء کړي نو حج يې جائز (او صحيح) دی لَهُمَا أَنَّهُ لَمْ يُحْرِمْ بِنَفْسِهِ د صاحبينو دليل دا دی چې هغه نه په خپله احرام تړلی دی وَلَا أَذِنَ لِغَيْرِهِ بِهِ او نه يې بل چا ته د احرام د تړلو اجازه ورکړې ده وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَمْ يُصَرِّحْ بِالْإِذْنِ او دا ځکه چې هغه په صراحت سره اجازه ذکر کړې نه ده وَالدَّلَالَةُ تَقِفُ عَنِ الْعِلْمِ او دلالتًا اجازه پر علم موقوف وي وَجَوَازُ الْإِذْنِ بِهِ لَا يَعْرِفُهُ كَثِيْرٌ مِنَ الْفُقَهَاءِ او د احرام د اجازې جواز ډېر علماء نه پېژني (يعني په دې ډېر علماء هم خبر نه دي چې د بل چا له طرف احرام تړل جائز دي) فَكَيْفَ يَعْرِفُهُ الْعَوَامُّ نو عوام به يې څرنګه وپېژني بِخِلَافِ مَا إِذَا أَمَرَ غَيْرَهُ بِذٰلِكَ صَرِيْحًا په خلاف د دې صورت چې کله هغه په صراحت سره بل سړي ته د دې حکم کړی وي وَلَهُ أَنَّهُ لَمَّا عَاقَدَهُمْ عَقْدَ الرُّفْقَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې بې هوښه سړي چې کله د ملګرو سره د ملګرتيا تړون وکړی فَقَدِ اسْتَعَانَ بِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ فِيْمَا يَعْجِزُ عَنْ مُبَاشَرَتِهِ بِنَفْسِهِ نو هغه (ګواکي) په خپلو ملګرو کي له هر يوه څخه د داسي کار په باره کي د مرستي غوښتنه وکړه چې هغه يې له کړني څخه عاجزه سي وَالْإِحْرَامُ هُوَ الْمَقْصُوْدُ بِهٰذَا السَّفَرِ او احرام د دې سفر مقصد دی فَكَانَ الْإِذْنُ بِهِ ثَابِتًا دَلَالَةً نو دلالتًا به د احرام اجازه ثابته وي وَالْعِلْمُ ثَابِتٌ نَظَرًا إِلَى الدَّلِيْلِ او دليل په کتني سره به علم (هم) ثابت وي وَالْحُكْمُ يُدَارُ عَلَيْهِ او د حکم مدار پر علم دی.

اللغات: ﴿أهل﴾ د افعال ماضي ده: تلبيه ويل، د احرام نيت کول. ﴿أفاق﴾ جوړېدل. بې هوښي ختمېدل. ﴿استيقظ﴾ د استفعال ماضي ده: ويښېدل، له خوبه راپورته کېدل. ﴿لم يصرح﴾ د تفعيل جحد صيغه ده: تصريح نه کول. په صراحت سره نه ذکر کول. ﴿عاقد﴾ د مفاعلې ماضي ده: تړون او عقد کول. معامله کول. ﴿استعان﴾ د استفعل ماضي ده: مدد غوښتل. ﴿يدار﴾ مضارع مجهوله ده: مدار کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د يوې مسئلې دوې حصې بيان سوي دي: (۱) اوله حصه دا ده چې که يو سړی بې هوښه سو، او د هغه له طرفه د هغه ملګري احرام وتړي. تلبيه يې ورېل. نو دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز جائز دي لېکن صاحبين رَحِمَهُ الله فرمايي چې جائز نه دي. (۲) دويمه حصه دا ده که يو سړي خپل يو ملګري ته حکم وکړی چې که زه

● القول الراجح: هو هذا قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما في رد المحتار ج:۲، ص: ۲۰۰. [القول الراجح ج:۱، ص: ۳۱۳].

هوښه سوم يا بيده سوم، نو زما له طرفه احرام وتړه، او دا سړی بې هوښه سو. يا بيده سو، او د هغه له طرفه ملګري احرام وتړي نو بالاتفاق جائز دي. تر دې چي کله دا سړی په هوښ کي راغلی. يا راويښ سو، او د حج افعال يې اداء کړل. نو د هغه حج اداء کېږي.

لهما أنّه الخ په اوله حصه کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي نه دې سړي په خپله احرام تړلی دی. او نه يې بل ته د احرام د تړلو اجازه ورکړې ده، ځکه په خپله احرام نه تړل خو ښکاره دي. او بل ته اجازه نه ورکول په دې وجه دي چي اجازه خو يا صراحتًا وي يا دلالتًا وي، او دلته دواړه صورتونه نسته. صراحتًا اجازه ځکه نسته چي هغه په صريح الفاظو کي بل چا ته اجازه ورکړې نه ده، او دلالتًا ځکه نسته چي اجازه پر علم موقوفه ده. نو که يو چا ته له مخکي ځخه دا معلومه وه چي په اجازه ورکولو سره اجازه ثابتيږي، او بيا د بل چا له طرفه احرام تړل کېدای سي. نو دا دلالتًا اجازه سوه، لېکن دا خبره سترو علماؤ او فقهاؤ ته معلومه نه ده، نو عوام او جاهلانو ته به څرنګه معلومه سي. نو ځکه دلالتًا اجازه هم پيدا نه سوه، لهذا د بل سړي احرام تړل به صحيح نه وي. د دې په خلاف که هغه يو چا ته صراحتًا د احرام د تړلو اجازه ورکړه، نو د بل سړي لپاره به د هغه له طرفه احرام تړل صحيح او جائز وي.

له أنّه الخ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي کله دا سړی د يو څو ملګرو سره د حج په سفر روان سو، نو هغه په دې سفر کي له ملګرو ځخه په هر هغه کار کي د مرستي غوښتنه وکړه چي د هغه له اداء کولو ځخه هغه عاجز او بې وسه سي، او څرنګه چي د حج د سفر اصلي مقصد احرام دی. او د بې هوښی يا د خوب په وجه دا سړی دا احرام له تړلو ځخه قاصره او عاجزه سو. نو دا احرام په باره کي دلالتًا اجازه پيدا سوه، او د دليل يعني د ملګرو د تړون په وجه علم هم حاصل سو، او د حکم مدار پر علم وي، نو کله چي علم حاصل سو. نو حکم به هم حاصلېږي. او د بل سړي لپاره به احرام تړل صحيح وي.

ښځه په ټولو احکامو کي د نر په څير ده ما سوا له يو څو احکامو ځخه

قَالَ: وَالْمَرْأَةُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ كَالرَّجُلِ فرمايي: ښځه په دې ټولو مسئلو کي د سړي په څير ده لِأَنَّهَا مُخَاطَبَةٌ كَالرَّجُلِ ځکه چي ښځه (هم) د سړي په څير (د شريعت د احکامو) مخاطبه ده غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَكْشِفُ رَأْسَهَا خو ښځه به سر نه لڅوي لِأَنَّهُ عَوْرَةٌ ځکه چي د هغې سر عورت دی وَتَكْشِفُ وَجْهَهَا او خپل مخ به لڅوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: إِحْرَامُ الْمَرْأَةِ فِي وَجْهِهَا ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چي د ښځي احرام د هغې په مخ کي دی" وَلَوْ سَدَلَتْ شَيْئًا عَلَى وَجْهِهَا او که ښځه يو شی پر مخ را وځړوي وَجَافَتْهُ عَنْهُ جَازَ او له مخ ځخه يې ليري کړي نو جائز دي فَكَذَا رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا همداسي له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځخه روايت سوي دي وَلِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْإِسْتِظْلَالِ بِالْمَحْمَلِ او په دې وجه (هم) چي دا داسي دي لکه په کجاوې سره سايه حاصلول وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ او ښځه به په تلبيه کي خپل آواز نه پورته کوي (يعني تلبيه به په زوره نه وايي) لِمَا فِيهِ مِنَ الْفِتْنَةِ ځکه چي په دې کي فتنه ده وَلَا تَرْمُلُ او نه به رمل کوي وَلَا تَسْعَى بَيْنَ الْمِيلَيْنِ او نه به د ميلين أخضرين په مينځ کي ځغلي لِأَنَّهُ مُخِلٌّ بِسَتْرِ الْعَوْرَةِ ځکه چي

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى في كتاب الحج، باب المرأة لا تنتقب في إحرامها، حديث رقم: ۹۰۲۸، ۹۰۲۹، ۹۰۳۰.

ځغــتل د عورت په ستر کي خلل پيدا کوي ﴿وَلَا تَحْلِقُ وَلٰكِنْ تُقَصِّرُ﴾ او سر به نه خريي لېکن قصر به کوي (يعني ورېښتيان به کوچني کوي) ﴿لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى النِّسَاءَ عَنِ الْحَلْقِ﴾● ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ ښځي له سرُ خريلو څخه منع کړي دي ﴿وَأَمَرَهُنَّ بِالتَّقْصِيْرِ﴾ او هغو ته يې د قصر حکم کړی دی ﴿وَلِأَنَّ حَلْقَ الشَّعْرِ فِيْ حَقِّهَا مُثْلَةٌ﴾ او ځکه چي د ښځي په حق کي سر خريل (يو ډول) مُثله ده ﴿كَحَلْقِ اللِّحْيَةِ فِيْ حَقِّ الرَّجُلِ﴾ لکه د خلکو په حق کي چي ږيره خريل (يو ډول مُثله ده) ﴿وَتَلْبَسُ مِنَ الْمَخِيْطِ مَا بَدَا لَهَا﴾ او اغوندي به له ګنډل سوو جامو څخه هغه چي د هغې خوښه سي ﴿لِأَنَّ فِيْ لُبْسِ غَيْرِ الْمَخِيْطِ كَشْفَ الْعَوْرَةِ﴾ ځکه چي د نا ګنډل سوو جامو په اغوستلو کي د عورت لڅېدل سته ﴿قَالُوْا: وَلَا تَسْتَلِمُ الْحَجَرَ﴾ (متأخرينو) مشائخو فرمايلي دي: چي ښځه به د حجرِ اسود استلام (هم) نه کوي ﴿إِذَا كَانَ هُنَاكَ جَمْعٌ﴾ چي کله هلته ګڼه ګوڼه (رش) وي ﴿لِأَنَّهَا مَمْنُوْعَةٌ عَنْ مُمَاسَّةِ الرِّجَالِ﴾ ځکه چي ښځه له دې څخه منع سوې ده چي د خلکو بدن مــه کړي ﴿إِلَّا أَنْ تَجِدَ الْمَوْضِعَ خَالِيًا﴾ خو دا چي ښځه خالي ځای پيدا کړي.

اللغات: ﴿عورة﴾ ســتر، د پټولو ځای، ﴿تكشف﴾ د ضرب مضــارع ده: لڅول، پرده ليري کول، ﴿سدلت﴾ د نصر ماضي ده: پرده ځړول، ﴿جافت﴾ د مفاعلې ماضي ده: ليري ساتل، ﴿استظلال﴾ د استفعال مصدر دی: د يو شي سايه حاصلول، په سايه کي کېښــتل، ﴿محمل﴾ کجاوه، ﴿مماسة﴾ د مفاعلې مصدر دی: يو تر بله مسه کول.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي ښځه د حج په ټولو مناسکو کي د نر په څېر ده، ځکه د الله تعالیٰ دا خطاب ولله على الناس حج البيت دواړو ته شامل دی، لهذا کوم کار چي نر کوي هغه به ښځه کوي، ماسوا له يو څو شيانو څخه، مثلاً د ښځي لپاره سر لڅول جائز نه دي، ځکه چي د ښځي سر هم عورت يعني واجبُ الستر دی، خو ښځه به خپل مخ لڅ ساتي، ځکه په حديث کي دي چي د ښځي إحرام په مخ کي دي، هو ! که ښځي پر خپل مخ يو شی را وځړوی او هغه يې له مخ څخه ليري وساتي نو جائز دي، ځکه د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په حديث کي همداسي را نقل سوي دي، او دويم دليل دا چي کپړه يا بل شی را ځړول له محمل څخه د سايې حاصلولو په ډول دي، او سايه حاصلول جائز دي، نو پر مخ به د کپړې يا بل شي را ځړول هم صحيح وي.

ولا ترفع صوتها الخ او ښځه به د تلبيې په وخت کي خپل آواز هم نه پورته کوي، ځکه د هغې په آواز کي د فتنې ېره ده، او په طواف کي به رمل هم نه کوي، او نه به سعی کوي، ځکه چي دا دواړه شيان د عورت په پټولو کي خلل راولي، او ښځه به سر هم نه خريي، بلکي ورېښــتيان به کوچني کوي، ځکه د الله رسول ﷺ ښځي له حلق څخه منع کړي دي او د قصر حکم يې کړی دی، دويم دليل دا چي د ښځو په حق کي حلق يو ډول د مُثلې په څېر دی، مثله ويل کيږي: "تر ممنوع حد پوري د شکل خرابول". لکه څرنګه چي د خلکو په حق کي ږيره خريل يو ډول مُثله ده.

وتلبس من المخيط الخ او ښځه د احرام په حالت کي هر ډول ګنډل سوي جامې اغوستلای سي، ځکه په ناګنډل سوو جامو کي د ښځي عورت ښکاره کيږي، چي هغه شرعاً ممنوع دی، او ښځه به د احرام په حالت کي د حجرِ اسود د مچولو

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ماجاء في كراهية الحلق للنساء، حديث رقم: ٩١٢، ٩١٥.

کوښښ هم نه کوي، ځکه په دې صورت کې د هغې بدن د خلکو د بدن سره لګيږي، او دا ممنوع دي، خو که ځای خالي وي نو په استلام او مچولو کې څه حرج نشته.

څوک چې د بُدنه (څاروي) غاړې ته رسۍ واچوي نو هغه محرم دی

قَالَ: وَمَنْ قَلَّدَ بُدْنَةً امام محمد (په جامع صغير کې) فرمايي: او څوک چې بدنې ته طوق واچوي تَطَوُّعًا أَوْ نَذْرًا (برابره ده) نفلي بدنه وي او که د نذر وي أَوْ جَزَاءَ صَيْدٍ او که د ښکار جزاء (جرمانه) وي أَوْ شَيْئًا مِنَ الْأَشْيَاءِ يا د يو بل شي (بدنه) وي وَتَوَجَّهَ مَعَهَا يُرِيدُ الْحَجَّ او د بدنې سره روان سي په داسې حال کې چې اراده يې د حج وي فَقَدْ أَحْرَمَ نو هغه محرم سو لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: مَنْ قَلَّدَ بُدْنَةً فَقَدْ أَحْرَمَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چا چې بدنې ته طوق واچوی نو هغه محرم سو" وَلِأَنَّ سَوْقَ الْهَدْيِ فِي مَعْنَى التَّلْبِيَةِ فِي إِظْهَارِ الْإِجَابَةِ او په دې وجه (هم) چې د څاروي (او بدنې) بيول د تلبيې معنیٰ لري د قبوليت د جواب ورکولو په اظهار کې لِأَنَّهُ لَا يَفْعَلُهُ إِلَّا مَنْ يُرِيدُ الْحَجَّ أَوِ الْعُمْرَةَ ځکه چې دا کار نه کوي مګر هغه څوک چې د حج يا د عمرې اراده لري وَإِظْهَارُ الْإِجَابَةِ قَدْ يَكُونُ بِالْفِعْلِ كَمَا يَكُونُ بِالْقَوْلِ او د قبوليت اظهار کله نا کله په فعل سره کيږي لکه څرنګه چې په قول سره کيږي فَيَصِيرُ بِهِ مُحْرِمًا نو ځکه به انسان په طوق اچولو سره محرم کيږي لِاتِّصَالِ النِّيَّةِ بِفِعْلٍ هُوَ مِنْ خَصَائِصِ الْإِحْرَامِ ځکه چې نيت د داسې فعل سره متصل سو چې هغه د احرام له ځانګړنو څخه دی وَصِفَةُ التَّقْلِيدِ أَنْ يَرْبِطَ عَلَى عُنُقِ بُدْنَتِهِ قِطْعَةَ نَعْلٍ أَوْ عُرْوَةَ مَزَادَةٍ أَوْ لِحَاءَ شَجَرَةٍ او د طوق اچولو صورت دا دی چې انسان د خپلې بُدنې پر غاړه د څپلۍ ټوټه يا د بَلنۍ (لوټې) لاسی يا د درختي پوستکی وتړي.

اللغات: ﴿قلد﴾ د تفعيل ماضي ده: د څاروي غاړې ته رسۍ او طوق اچول. ﴿بدنة﴾ څاروی. ﴿سوق﴾ د ضرب مصدر دی: شړل، بيول. ﴿يربط﴾ د ضرب مضارع ده: تړل. ﴿عنق﴾ غاړه. ﴿قطعة﴾ ټوټه، ټوکړه. ﴿عروة﴾ د نيولو ځای، لاسی. ﴿مزادة﴾ بلنۍ، لوټه، د سفر د سامان د اېښوولو لوښی. ﴿لحاء﴾ د درختي سرپرن پوستکی.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو څوک د خپلې بدنې غاړې ته رسۍ واچوي، (بدنه که نفلي وي، که د نذر وي، او که د تېر احرام په حالت کې د ښکار کولو په وجه د جرمانې څاروی وي، يا دم تمتع او داسې نور وي)، او دا سړی د حج په اراده د خپلې بدنې سره د مکې مکرمې و طرف ته هم روان سي، نو دا محرم سو، که په ژبه سره تلبيه ووايي او که نه ووايي،

اول دليل خو دا حديث دی: من قلد بدنة فقد أحرم.

ولأن سوق الهدی الخ دا عقلي دليل دی چې حضرت ابراهيم عليه السلام خو ټولو انسانانو ته د حج بلنه ورکړه (لکه مخکې چې ذکر سوه)، او تلبيه خلک د هغه په جواب کې وايي، چې "مونږ د حج لپاره حاضر يو"، لېکن دا تلبيه چې څرنګه په قول سره ده، همدارنګه کله نا کله په فعل سره هم وي، يعني داسې حرکت کول هم د تلبيې په معنیٰ دی چې

---

[1] تخريج: أخرجه ابن أبي شيبه في مصنفه، باب في الرجل يقلد أو يجلل، حديث رقم: ١٢٧١١.

له هغه شخصه "په حج کې د حاضرېدلو" خبره معلومه سي، او هدي ته طوق اچول د دې خبرې علامه ده چې هغه حج يا عمرې ته حاضرېږي، بل کار نه کوي، نو ځکه ووېل سوه چې که د حج يا د عمرې په نيت سره ښاروي ته طوق واچوي، نو محرم کرځي.

وصفة التقليد الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د طوق او رسى اچولو صورت او طريقه ده دا چې انسان د خپلې بدنې په غاړه کې د څپلې يوه ټوټه راوځړوي، يا د هغې په غاړه کې د لوټې (يا يو لوښي) لاسى يا د درختې پوستکى را وځړوي، ځکه چې په دې سره دا ښاروى د الله جَلَّجَلَالُهُ لپاره خاص کيږي، او بيا هيڅوک کار نه پر لري. ځکه خلکو ته معلومه سي چې دا دبُدنې يعني د حج ښاروى دى.

حج ته له روانېدلو څخه بغير د بدنې (ښاروي) استولو حكم

فَإِنْ قَلَّدَهَا بيا که هغه بدنې ته طوق واچوي وَبَعَثَ بِهَا او (مکې مکرمې) ته يې واستوي وَلَمْ يَسُقْهَا (لېکن) په خپله يې نه بوځي لَمْ يَصِرْ مُحْرِمًا نو محرم نه کرځي لِمَا رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا ځکه له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت دى أَنَّهَا قَالَتْ: كُنْتُ أَفْتِلُ [1] قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ هغه فرمايي: "مابه د نبي ﷺ د هدي طوقونه وودل (يعني ما به د نبي ﷺ د هدي د طوق لپاره رسى وودله) فَبَعَثَ بِهَا وَأَقَامَ فِي أَهْلِهِ حَلَالًا بيا به نبي ﷺ هدى واستوله او په خپل کور کي به د حلال والي په حالت کي پاته سو" فَإِنْ تَوَجَّهَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمْ يَصِرْ مُحْرِمًا بيا که تر هغه وروسته په خپله (هم) روان سو نو محرم نه کرځي حَتَّىٰ يُلْحِقَهَا تر څو چي د هدي د ښاروي سره يو ځاى نه سي لِأَنَّ عِنْدَ التَّوَجُّهِ إِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ يَدَيْهِ هَدْيٌ يَسُوقُهُ ځکه د روانېدلو په وخت کي چي کله د هغه مخته هدى نه وي چي ورپې شړي (يعني هدى ور سره نه وي چي هغه بوزي) لَمْ يُوجَدْ مِنْهُ إِلَّا مُجَرَّدَ النِّيَّةِ نو (په دې وخت کي) د هغه له طرفه فقط نيت پيدا سو وَبِمُجَرَّدِ النِّيَّةِ لَا يَصِيرُ مُحْرِمًا او يوازي په نيت سره محرم نه کرځي فَإِذَا أَدْرَكَهَا وَسَاقَهَا أَوْ أَدْرَكَهَا بيا که هدى (په لاره کي) پيدا کړي (يعني ور سره يو ځاى سي) او ورپې شړي (يعني هدى بوزي) يا يې (فقط) پيدا کړي فَقَدِ اقْتَرَنَتْ نِيَّتُهُ بِعَمَلٍ هُوَ مِنْ خَصَائِصِ الْإِحْرَامِ نو د هغه نيت د داسي عمل سره يو ځاى سو چي هغه عمل د احرام له خصوصياتو څخه دى فَيَصِيرُ مُحْرِمًا نو محرم به کرځي كَمَا لَوْ سَاقَهَا فِي الْإِبْتِدَاءِ لکه (په هغه وخت کي چي محرم کرځي) چي په شروع کي يې بوزي قَالَ: إِلَّا فِي بَدَنَةِ الْمُتْعَةِ فرمايي: مګر د تمتع په بدنه کي فَإِنَّهُ مُحْرِمٌ حِينَ تَوَجَّهَ ځکه چي (په هغې کي صرف) په روانېدلو سره محرم کرځي مَعْنَاهُ إِذَا نَوَى الْإِحْرَامَ مطلب دا چي کله (د روانېدلو په وخت کي) د احرام نيت وکړي وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دى وَجْهُ الْقِيَاسِ فِيهِ مَا ذَكَرْنَا د قياس وجه په دې کي هغه ده کوم چي مونږ ذکر کړه وَوَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ او د استحسان وجه دا ده أَنَّ هٰذَا الْهَدْيَ مَشْرُوعٌ عَلَى

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب تقليد الغنم، حديث رقم: ١٧٠٣.

الْإِبْتِدَاءِ نُسُكًا مِنْ مَنَاسِكِ الْحَجِّ وَضْعًا چي دا هدى(يعني د تمتع هدى) له شروع څخه د حج په عبادتونو كي د يو عبادت په توګه مشروع ده لِأَنَّهُ يَخْتَصُّ بِمَكَّةَ ځکه چي دا هدى د مکې (مباركي) سره خاص ده وَيَجِبُ شُكْرًا لِلْجَمْعِ بَيْنَ أَدَاءِ النُّسُكَيْنِ او د حج د دوو عبادتونو (يعني د حج او د عمرې) د جمع کولو په وجه د شکرانې په توګه واجب ده وَغَيْرُهُ قَدْ يَجِبُ بِالْجِنَايَةِ او له تمتع (او قران) څخه علاوه (نوري هدي) کله د جنايت کولو په وجه واجبيږي وَإِنْ لَمْ يَصِلْ إِلَى مَكَّةَ که څه هم هغه مکې ته نه ورسيږي فَلِهَذَا اكْتَفَى فِيهِ بِالتَّوَجُّهِ نو ځکه په دې کي په روانېدلو اكتفاء وسوه وَفِي غَيْرِهِ تَوَقَّفَ عَلَى حَقِيقَةِ الْفِعْلِ او په نورو هديو کي به د فعل پر حقيقت هدى موقوفه وي.

اللغات: ﴿أقتل﴾ د نصر واحد متكلم مضارع صيغه ده: وودل(اوبدل)، ﴿هدى﴾ د حج د قرباني څاروى، ﴿بدنة المتعة﴾ د حج تمتع څاروى.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که يو چا د هدي څاروي ته طوق واچوى او د مکې مکرمې ته يې واستوى، خو په خپله يې نه بوتى، بلکي په کور کي مقيم پاته سو، نو هغه به د دې سره نه محرم کيږي، دليل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دى، هغه فرمايي چي ما به د نبي ﷺ د هدي طوق جوړ کړى، او نبي ﷺ به هغه د هدي په غاړه کړى او هدى به يې مکې ته واستوله، او په خپله به د مخکي مطابق په کور کي حلال پاته سو، له دې څخه معلوميږي چي د محرم کېدلو لپاره فقط د هدي څاروى استول کافي نه دي. بلکي هغه په خپله بيول ضروري دي، او که د هدي تر استولو وروسته په خپله روان سو نو فقط په روانېدلو سره هم نه محرم کيږي، بلکي هغه وخت محرم کيږي چي د هدي سره يو ځاى سي، ځکه چي د روانېدلو په وخت کي د هغه مخته هيڅ هدى نه وي چي هغه يې بوزي او ورېې شړي، نو کله چي د هغه سره هيڅ هديه نه وي، نو د هغه له طرفه صرف نيت پيدا سو، او صرف په نيت سره هغه نه محرم کيږي، تر څو چي د هغه سره د هدي څاروى نه وي، هو! که د هدي د څاروى سره يو ځاى سو، او هغه يې روان کړى، يا يې فقط پيدا کړى نو د هغه نيت د يو داسي عمل سره متصل سو کوم چي د احرام له خصوصياتو څخه دى، نو ځکه به هغه په دې عمل سره محرم کيږي، لکه څرنګه چي په شروع کي هم د هدي په روانولو او بيولو سره محرم کيږي.

إلا في بدنة الخ امام محمد رَحِمَهُ الله يو استثنائي صورت بيانوي فرمايي چي د تمتع او قِران له هديو څخه علاوه د نورو هديو حکم دا دى چي که هدى واستوي او وروسته په خپله روان سي، نو په روانېدلو سره نه محرم کيږي، تر دې چي د هدي سره يو ځاى نه سي، لېکن د تمتع د هدي حکم دا دى چي که هدي واستوي، او بيا روان سي. نو صرف په روانېدلو سره محرم کيږي، په دې شرط چي د احرام نيت وکړي، دا حکم استحساني دى، کنې قياس هغه دى چي په محض روانېدلو سره نه محرم کيږي، لکه په نورو هديو کي چي دا حکم دى.

وجه القياس الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د قياس دليل موږ مخکي بيان کړى، د استحسان دليل دا دى چي د تمتع او قِران هدى له شروع څخه د شرعي وضعي په اعتبار سره د حج د افعالو يو فعل دى، د حج فعل ځکه دى چي دا هدى د مکې سره خاص ده، او هلته د هغې رسول ضروري دي، همدارنګه د دوو نعمتونو يعني د حج او د عمرې د يو ځاى کولو لپاره د شکرانې په توګه دا هدى واجب سوې ده، نو ځکه په دې کي فقط په روانېدلو اکتفاء وسوه، لېکن له دې څخه علاوه په نورو هديو کي کوم چي د جنايت او داسي نورو په واجب سوي وي مکې ته رسول ضروري نه دي، نو ځکه به د

تمتع او قران له هدي څخه علاوه نوري هدي د فعل پر حقیقت یعني پر سوق(بېولو او روانېدلو) موقوف وي، یعني کله چې د هدي سره یو ځای او هدی روانه کړي، نو بیا به محرم کیږي.

پر څاروي د زل(ځل) اچولو او د إشعار په ذریعه د محرم والي بیان

فَإِنْ جَلَّلَ بَدَنَةً او که یو څوک پر بُدنه زل واچوي أَوْ أَشْعَرَهَا یا هغه شعار کړي أَوْ قَلَّدَ شَاةً یا بزې(وزې) ته طوق واچوي لَمْ يَكُنْ مُحْرِمًا نو نه محرم کیږي لِأَنَّ التَّجْلِيلَ لِدَفْعِ الْحَرِّ وَالْبَرْدِ وَالذِّبَّانِ ځکه چې زل اچول د ګرمۍ، یخ او مچیانو لیرې کولو لپاره دي فَلَمْ يَكُنْ مِنْ خَصَائِصِ الْحَجِّ نو ځکه به د حج له خصوصیاتو څخه نه وي.

اللغات: ﴿جلل﴾ د تفعیل ماضي ده: پر څاروي زل (خورجین) اچول. ﴿اشعار﴾ د څاروي بوک څیرل او وینه را ایستل، د جاهلیت په زمانه کې به ډاکوګان ډېره ول، نو ځکه به حاجي خپله بلنه شعار کوله چې دا نښان تر ډېره پاته سي او هیڅوک تکلیف ور نه کړي، او طوق به یې ځکه نه ور اچوی چې هغه ژر پرېکېدی. ﴿ذبان﴾ جمع د ذباب ده: مچیان.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي پر بلنې زل واچوی، یا یې د بلنې بوک څیري کړی، یا یې بزې ته طوق واچوی، او بدنه یا بزه یې مکې ته روانه کړه، نو په دې صورتونو کې نه محرم کیږي، که څه هم د احرام نیت وکړي، ځکه چې زل کله نا کله د یخ او د ګرمۍ د لیرې کولو لپاره پر اچول کیږي، لهذا دا عمل د حج له خصوصیاتو څخه نه سو، حال دا چې د احرام هغه نیت به معتبر وي، چې د داسې عمل سره یو ځای سي چې هغه د حج له خصوصیاتو څخه وي.

د اشعار شرعي حیثیت

وَالْإِشْعَارُ مَكْرُوهٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او اشعار د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مکروه دی فَلَا يَكُونُ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ نو ځکه به د حج له عباداتو نه څخه نه وي وَعِنْدَهُمَا إِنْ كَانَ حَسَنًا فَقَدْ يُفْعَلُ لِلْمُعَالَجَةِ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز که څه هم اشعار ښه دی لېکن کله نا کله د علاج لپاره هم کیږي(نو ځکه به د حج له خصوصیاتو او عباداتو څخه نه وي) بِخِلَافِ التَّقْلِيدِ په خلاف د طوق اچولو لِأَنَّهُ يَخْتَصُّ بِالْهَدْيِ ځکه چې هغه د هدي سره خاص دی وَتَقْلِيدُ الشَّاةِ غَيْرُ مُعْتَادٍ او بزې ته طوق اچول (د خلګو) عادت نه دي وَلَيْسَ بِسُنَّةٍ أَيْضًا او سنت هم نه دي (نو ځکه به دا هم د حج خصوصیت نه وي).

اللغات: ﴿اشعار﴾ د اشعار تفصیلي معنیٰ د تېر عبارت په ضمن کې ذکر سوه. ﴿غیر معتاد﴾ غیرِ عادت، غیرِ معروف.

تشریح: صاحب د هدایې فرمایي چې په اشعار کولو سره انسان ځکه نه محرم کیږي چې اشعار د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مکروه دی، او کوم فعل چې مکروه وي، نو هغه د حج له افعالو څخه نسي کېدلای، او کله چې اشعار د حج فعل نه سو، نو د هغه په کولو سره به انسان څرنګه محرم کیږي؟ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز که څه هم اشعار مباح او ښه دی، لېکن کله نا کله د څاروي د علاج لپاره هم اشعار کیږي، نو ځکه به د حج له خصوصیاتو څخه نه وي، حال دا چې د محرم والي لپاره د حج د یو ځانګړي او مخصوص عمل سره د نیت اتصال ضروري دي.

بخلاف التقليد الخ د دې په خلاف د تقليد يعني څاروي ته د طوق اچولو مسئله ده، ځکه چې دا عمل صرف د هدي سره خاص دی، يعني د حج يو مخصوص عمل دی.

وتقليد الشاة الخ دا عبارت د يو سوال جواب دی، سوال دا دی چې کله تقليد د حج يو مخصوص عمل دی، نو بزې ته په طوق اچولو سره انسان بايد محرم سي، حال دا چې په دې سره انسان نه محرم کيږي، جواب ورکوي چې د بزې تقليد يعني بزې ته طوق اچول نه عادت دي، او نه له حديثو څخه ثابت دي، بلکې تقليد فقط د بدنې يعني د اوښ او غوا سره خاص دی، نو ځکه به بزې ته په طوق اچولو سره انسان نه محرم کيږي.

بُدنه کومو څارويانو ته ويل کيږي؟

قَالَ: وَالْبُدْنُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: او بدنې له اوښ او غوا (دواړو) څخه راځي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: مِنَ الْإِبِلِ خَاصَّةً او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې بدنې خاص له اوښ څخه راځي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● فِي حَدِيثِ الْجُمُعَةِ ځکه نبي ﷺ د جمعې په حديث کې فرمايلي دي فَالْمُتَعَجِّلُ مِنْهُمْ كَالْمُهْدِي بُدْنَةً "چې په خلکو کې (د جمعې لمانځه ته) ژر راتلونکی سړی د بدنې د هدې د استونکي په شان دی وَالَّذِي يَلِيهِ كَالْمُهْدِي بَقَرَةً او کوم چې د هغه سره جوخت (متصل راځي) هغه د غوا د هدې د استونکي په شان دی" فَصَلَ بَيْنَهُمَا (وګورئ!) نبي ﷺ د بدنې او د غوا په مينځ کې فرق کړی دی وَلَنَا أَنَّ الْبُدْنَةَ تُنْبِئُ عَنِ الْبَدَانَةِ او زموږ دليل دا دی چې بدنه خبر ورکوي د بدانت وَهِيَ الضَّخَامَةُ او بدانت غټوالي (او لوی والي) ته ويل کيږي وَقَدِ اشْتَرَكَا فِي هَذَا الْمَعْنَى او اوښ او غوا دواړه په دې معنیٰ کې مشترک دي وَلِهَذَا يُجْزِئُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَنْ سَبْعَةٍ همدا وجه ده چې له دواړو څخه هر يو (داختر په قرباني کې) د اوو (۷) خلکو له طرفه کافي کيږي وَالصَّحِيحُ مِنَ الرِّوَايَةِ فِي الْحَدِيثِ كَالْمُهْدِي جَزُورًا او (په کتاب کې ديبان سوي حديث) صحيح روايت كالمهدي جزورا دی وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ او (په صحيح خبره) الله ښه خبر دی.

اللغات: ﴿ابل﴾ اوښ، ﴿بقر﴾ غوا، ﴿متعجل﴾ د استفعال اسم فاعل دی: تلوار کونکی، ﴿مهدی﴾ د افعال اسم فاعل دی: هديه ورکونکی، هدی استونکی، ﴿تنبئ﴾ د افعال مضارع ده: خبر ورکول، ﴿بدانة﴾ غټ جسم والا کېدل، غټ کېدل، ﴿ضخامة﴾ غټوالی، پلنوالی، پنډوالی، ﴿جزور﴾ اوښ.

● تخريج: أخرجه البخاری فی كتاب الجمعة، باب فضل الجمعة، حديث رقم: ۸۸۱.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په بدنه کې اوښ او غوا دواړه مشترک دي. او پر دواړو د بدنې اطلاق کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د بدنې اطلاق فقط پر اوښ کيږي.

د امام شافعي دليل: د جمعې حديث دی چې په هغه کې دا حکم هم ذکر سوی دی: فالمتعجل منهم كالمهدي بدنة والذي يليه كالمهدي بقرة (يعني د جمعې د لمانځه لپاره اول راتلونکی سړی په ثواب کې د هغه سړي په ډول دی چې د اوښ هدی يې مکې ته استولې وي او تر هغه وروسته راتلونکی سړی د هغه سړي په ډول دی چې د غوا هدی يې استولې وي)، په دې حديث کې د بدنې او غوا په مينځ کې فرق سوی دی، نو معلومه سوه چې غوا له بدنې څخه علاوه جلا شی دی.

زموږ دليل: دا دی چې د بدنې لغوي معنیٰ ده: بدانت يعني غټوالی، مطلب دا چې د غټ بدن او جسم والا څاروي ته بدنه ويل کيږي. او دا معنیٰ په اوښ او غوا دواړو کې سته. نو ځکه به د بدنې اطلاق پر دواړو کيږي، همدا وجه ده چې په قرباني کې اوښ او غوا هر يو د اوو [7] خلکو له طرفه کافي کيږي.

والصحيح الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث جواب دا دی چې د دې حديث په صحيح روايت کې د كالمهدى بدنة پر ځای كالمهدى جزوراً راغلي دی، او جزور اوښ ته ويل کيږي. يعني څوک چې اول جامع مسجد ته راسي هغه ته به د اوښ په اندازه ثواب رسيږي. او څوک چې تر هغه وروسته راسي هغه ته به د غوا په اندازه ثواب رسيږي. نو نبي ﷺ د اوښ او غوا په مينځ کې فرق کړی دی، نه د بدنې او غوا په مينځ کې. والله أعلم بالصواب



بَابُ الْقِـرَانِ

دا باب د (حجِ) قِران په بيان کې دی

تشريح: تر دې مخکې صاحب د هدايې د مفرد حج (يعني د حجِ إفراد) او د منفرد حاجي احکام بيان کړل، اوس له دې ځايه د مرکب حج احکام بيانوي، او څرنګه چې مفرد له مرکب څخه مخکې وي، نو ځکه يې د مفرد حج احکام مخکې ذکر کړل، او حجِ قِران ځکه مخکې بيانوي چې زموږ په نيز د حج له دريو سره قسمونو څخه يعني له إفراد، تمتع او قِران څخه تر ټولو افضل حجِ قِران دی، نو په دې وجه د مرکب حج په بيان کې حجِ قران تر حجِ تمتع مخکې بيانوي.

ښکاره دې وي چې قِران د ضرب د باب قَرَنَ يَقْرِنُ مصدر دی، لغوي معنیٰ يې ده: يو ځای کول، جمع کول، او د شريعت په اصطلاح کې په يوه احرام سره د حج او د عمرې دواړو اداء کولو ته قِران ويل کيږي.

د حج "قِران" حيثيت او كوم حج افضل دى؟

الْقِرَانُ أَفْضَلُ مِنَ التَّمَتُّعِ وَالْإِفْرَادِ قِران له تمتع او افراد څخه افضل دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: الْإِفْرَادُ أَفْضَلُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي افراد افضل دی وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: التَّمَتُّعُ أَفْضَلُ مِنَ الْقِرَانِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تمتع له قِران څخه افضل دی لِأَنَّ لَهُ ذِكْرًا فِي الْقُرْآنِ ځکه چي په قرآن كي د تمتع ذكر سته وَلَا ذِكْرَ لِلْقِرَانِ فِيهِ (لېكن) د قِران ذكر په قرآن كي نشته وَلِلشَّافِعِيِّ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[●]: الْقِرَانُ رُخْصَةٌ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: "چي قران رخصت دی" وَلِأَنَّ فِي الْإِفْرَادِ زِيَادَةَ التَّلْبِيَةِ وَالسَّفَرِ وَالْحَلْقِ او ځکه چي په افراد كي د تلبيې، سفر او حلق زياتوب سته (يعني په إفراد كي تلبيه، سفر او حلق زيات سوي دي) وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: يَا آلَ مُحَمَّدٍ[●] أَهِلُّوا بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ مَعًا او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: اې آلِ محمد! "تاسو د حج او عمرې دواړو احرام يوځای وتړئ" وَلِأَنَّ فِيهِ جَمْعًا بَيْنَ الْعِبَادَتَيْنِ او ځکه چي په دې كي دوه عبادتونه جمع كيږي فَأَشْبَهَ الصَّوْمَ مَعَ الْاِعْتِكَافِ نو دا د روژې او د اعتكاف د جمع كولو سره مشابه سو وَالْحِرَاسَةَ فِي سَبِيلِ اللهِ مَعَ صَلَاةِ اللَّيْلِ او د الله په لار كي د پيره دارۍ او د تهجد د جمع كولو سره مشابه سو وَالتَّلْبِيَةُ غَيْرُ مَحْصُورَةٍ او د تلبيې څه اندازه معلومه نه ده وَالسَّفَرُ غَيْرُ مَقْصُودٍ او سفر غيرِ مقصود دی وَالْحَلْقُ خُرُوجٌ عَنِ الْعِبَادَةِ او حلق له عبادت څخه وتل دي (يعني سر خرېل له حج څخه د وتلو لپاره دي) فَلَا يَتَرَجَّحُ بِمَا ذُكِرَ نو په ذكر سوو شيانو سره به افراد نه راجح كيږي وَالْمَقْصُودُ بِمَا رُوِيَ نَفْيُ قَوْلِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت سوي حديث مقصد د جاهليت د دې قول نفي كول دي إِنَّ الْعُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ مِنْ أَفْجَرِ الْفُجُورِ "چي د حج په مياشتو كي عمره كول غټه ګناه ده" وَلِلْقِرَانِ ذِكْرٌ فِي الْقُرْآنِ او په قرآن پاک كي د قِران ذكر هم سته لِأَنَّ الْمُرَادَ مِنْ قَوْلِهِ تَعَالَى وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلهِ [البقرة: ۱۹۶] ځكه د الله تعالىٰ له دې قول وأتموا الحج والعمرة لله څخه مراد دا دي أَنْ يُحْرِمَ بِهِمَا مِنْ دُوَيْرَةِ أَهْلِهِ چي هغه له خپل كور څخه د حج او عمرې دواړو احرام وتړي عَلَىٰ مَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ لكه مخكي چي موږ روايت كړل ثُمَّ فِيهِ تَعْجِيلُ الْإِحْرَامِ بيا په قِران كي د احرام تعجيل دی وَاسْتِدَامَةُ إِحْرَامِهِمَا مِنَ الْمِيقَاتِ إِلَىٰ أَنْ يَفْرُغَ مِنْهُمَا او د دواړو احرام له ميقات څخه تر هغه وخته (مسلسل) پاتېږي چي له دواړو څخه فارغه سي وَلَا كَذٰلِكَ التَّمَتُّعُ او تمتع داسي نه دی فَكَانَ الْقِرَانُ أَوْلَىٰ مِنْهُ نو ځكه به قِران له تمتع څخه افضل وي وَقِيلَ الْاِخْتِلَافُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ بِنَاءً عَلَىٰ او ويل سوي دي چي زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مېنځ كي اختلاف پر دې (خبره) مبني دی أَنَّ الْقَارِنَ

● تخريج: قال الزيلعي هذا الحديث غريب جداً لم أجده.

● تخريج: أخرجه الطحاوي في شرح معاني الآثار ج: ۱، ص: ۳۷۹.

عِنْدَنَا يَطُوفُ طَوَافَيْنِ وَيَسْعٰى سَعْيَيْنِ چي زموږ په نيز به قارن دوه طوافه او دوې سعي کوي وَعِنْدَهُ طَوَافًا وَاحِدًا وَسَعْيًا وَاحِدًا امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به يو طواف او يوه سعي کوي.

اللغات: ﴿أهلوا﴾ دافعال جمع لمر حاضر معلوم دی: د احرام نيت وکړئ، تلبيه ووايئ. ﴿غير محصورة﴾ بې شمېره، بې اندازې. ﴿أفجر﴾ اسم تفضيل دی: ډېر بد، ډېره غټه ګناه. ﴿دويرة﴾ کور. ﴿استدامة﴾ د استفعال مصدر دی: باقي ساتل.

تشريح: د حج درې قسمه دي: (١) افراد، (٢) قران، (٣) تمتع. د دوی په افضيلت کې اختلاف دی، نو فرمايي چې زموږ په نيز قران افضل دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز افراد افضل دی، او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز تمتع افضل دی.

د اما م مالک دليل: دا دی چې په سپېڅلي قرآن کي د تمتع ذکر سوی دی فمن تمتع بالعمرة إلى الحج، او د قِران ذکر نسته، او دا خبره تسليم سوې ده چي کوم شی په قرآن کي ذکر سوی وي، هغه به افضل وي په نسبت و هغه ته چې په قرآن کي ذکر سوی نه وي.

د امام شافعي دليل: د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی: القران رخصة والإفراد عزيمة. (يعني قران رخصت دی، افراد عزيمت دی)، او ښکاره ده چي عزيمت اختيارول غوره دي په نسبت د رخصت و اختيارولو ته، نو ثابته سوه چي افراد افضل دی، دويم دليل دا دی چي په حجِ افراد کي تلبيه، سفر او حلق درې سره زيات سوي دي، په دې توګه چي قارن د حج او عمرې دواړو لپاره يو سفر کوي، د دواړو لپاره يوه تلبيه وايي، او د دواړو لپاره يو ځل سر خريي، او مفرد د يوازي حج لپاره سفر کوي، او د يوازي حج تلبيه وايي او سر خريي.

زموږ دليل: دا دی چي نبي ﷺ فرمايلي دي: "اې د محمد ﷺ کورنۍ! تاسو د حج او عمرې دواړو احرام يو ځای تړئ"، غور وکړئ چي د الله رسول ﷺ خپل اولاد ته دا حکم کړی دي چي د حج او عمرې دواړو احرام يو ځای تړئ، او يو ځای د دواړو احرام تړلو ته قران ويل کيږي، نو معلومه سوه چي نبي ﷺ خپل اولاد ته د قران امر کړی دی، او دا هم ښکاره ده چي نبي ﷺ خپل اولاد ته د افضل شي امر کوي، نه د مفضول، لهذا ثابته سوه چي قران افضل دی، دويم دليل دا دی چي د قران په صورت کي دوه عبادتونه يعني حج او عمره دواړه جمع کيږي، نو قران داسي سو لکه يو سړی چي روژه او اعتکاف دواړه جمع کړي، يا يو مجاهد په سنګر کي تهجد هم کوي او پر مجاهدينو پېره هم کوي.

والتلبية الخ د امام شافعي د عقلي دليل جواب دا دی چي د تلبيې هيڅ اندازه معلومه نه ده، نو ځکه قارن ته هم پکار ده چي د مُفرد په مقابله کي زياته تلبيه ووايي، او پاته سو سفر نو هغه مقصود نه دی، مقصود خو حج دی، او سفر د هغه د اداء کولو وسيله ده، لهذا سفر به د ترجيح وجه نه وي، او پاته سو سر خريل نو هغه بنفسه عبادت نه دی، بلکي له عبادت يعني له حج څخه د وتلو لپاره دی، نو ځکه به سر خريل هم د ترجيح وجه نه وي.

والمقصود الخ د امام شافعي د نقلي دليل جواب دا دی چي په دې حديث القران رخصة کي د قران رخصت او د افراد عزيمت بيانول مقصود نه دي، بلکي د جاهليت د زمانې د يوې باطلې عقيدې ترديد کول مقصود دي، هغه عقيده دا وه چي د حج په مياشتو کي عمره کول غټه ګناه ده، نو د الله رسول ﷺ د دې عقيدې په ترديد کي وفرمايل چي دا عقيده غلطه ده. او دا حکم يې وکړی چي قران مطلق رخصت نه دی، بلکي رخصتِ اسقاط دی، او زموږ په شريعت کي په

رخصت اسقاط باندي عمل کول عزيمت دي، لکه د سفر په وخت کي چي په لمانځه کي قصر کول رخصت دي، خو عزيمت نه دي، همداسي به د حج په مياشتو کي عمره نه کول رخصت وي، خو عزيمت به نه وي.

وللقِران الخ د امام مالک د دليل جواب ورکوي فرمايي چي د امام مالک دا خبره چي د قِران ذکر په قرآن مجيد کي نسته غلطه ده، ځکه چ د الله تعالى له دې قول وأتموا الحج والعمرة لله څخه همدغه مراد دي چي د حج او عمرې دواړو احرام له خپل کور څخه وتړئ، او قِران هم دا دی چي انسان د حج او عمرې دواړو احرام يو ځای وتړي، نو ګواکي د قِران ذکر هم په قرآن پاک کي سته.

ثم فيه الخ له دی ځايه صاحب د هدايې د قِران د ترجيح وجهي بيانوي فرمايي چي څرنګه په قِران کي د عمرې سره د حج احرام هم يو ځای تړل کيږي، نو ځکه به د حج په احرام کي تعجيل او تلوار وي، او تلوارکول نه صفت دی(تعجيل او تلوار په قِران کي ځکه سته چي په قِران کي د حج او عمرې احرام يوځای تړل کيږي، او له حج او عمرې دواړو څخه تر فراغت وروسته احرام خلاصيږي، نو په دې کي احرام ژر وتړل سو، او تر ډيره پوري پاته سو، لېکن په تمتع کي اول فقط د عمرې احرام تړل کيږي، او له عمرې څخه تر فراغت وروسته احرام خلاصيږي، بيا د ذو الحجې په اتمه ورځ د حج احرام تړل کيږي، نو په دې کي خو يو د حج احرام وځنډول سو، او بل تر ډيره پوري پاته نه سو)، نو په دې وجهو به قِران افضله وي.

وقيل الخ فرمايي چي د بعضي حضراتو رايه دا ده چي زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مينځ کي چي د قِران او د افراد د افضيلت په باره کي کوم اختلاف دی، هغه پر دې خبره مبني دی چي زموږ په نيز به قارن دوه طوافه او دوې سعي کوي(يعني د عمرې لپاره به جلا طواف او جلا سعی کوي، او د حج لپاره به جلا عمره او جلا سعی کوي)، لېکن د شوافعو په نيز به يو طواف او يوه سعی کوي(يعني د عمرې او حج دواړو لپاره به يو طواف او يوه سعی کوي، جلا جلا به يې نه کوي)، نو کله چي په افراد کي هم يو طواف يوه سعی ده، او په قِران کي هم يوه طواف او يوه سعی ده، نو بيا به د قِران په نسبت افراد افضل وي، ځکه چي په دې اعتبار سره په قِران کي دوه عبادتونه يو ځای اداء کيږي، او اعمال د يوه عبادت اداء کيږي کيږي، نو ځکه به د دواړو يعني د حج او د عمرې له يو ځای اداء کولو څخه دواړه جلا جلا اداء کول غوره وي.

د حج "قِران" طريقه

قَالَ: وَصِفَةُ الْقِرَانِ أَنْ يُهِلَّ بِالْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ مَعًا مِنَ الْمِيقَاتِ فرمايي: او د قِران طريقه دا ده چي له ميقات څخه د عمرې او حج دواړو لپاره يو ځای تلبيه ووايي وَيَقُولُ عَقِيبَ الصَّلَاةِ: اللَّهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُمَا لِي وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّي او تر لمانځه وروسته (داسي) ووايي: اې الله! زه د حج او عمرې لراده کوم نو دواړه زما لپاره آسانه کړه لِأَنَّ الْقِرَانَ هُوَ الْجَمْعُ بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ ځکه چي قِران د حج او د عمرې سره جمع کول دي مِنْ قَوْلِكَ قَرَنْتُ الشَّيْءَ بِالشَّيْءِ (چي هغه) ستا له دې قول قرنت الشئ بالشئ څخه مشتق دی إِذَا جَمَعْتَ بَيْنَهُمَا (دا جمله هغه وخت ويل کيږي) چي کله ته دوه شيان سره يو ځای کړې وَكَذَا إِذَا أَدْخَلَ حَجَّةً عَلَى عُمْرَةٍ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ لَهَا أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ او همدارنګه چي کله داخل کړي حج په عمره باندي مخکي تر دې چي د عمرې لپاره څلور دوره طواف وکړي(نو دا به هم قِران وي) لِأَنَّ الْجَمْعَ قَدْ تَحَقَّقَ ځکه جمع کېدل خو ثابت سو إِذِ الْأَكْثَرُ مِنْهَا قَائِمٌ ځکه چي له اوو (٧) دورونو څخه اوس (هم) زياتره پاته

دي وَمَتٰى عَزَمَ عَلٰى أَدَائِهِمَا يَسْأَلُ التَّيْسِيْرَ فِيْهِمَا او كله چي د دواړو د اداء كولو اراده وكړي نو د دواړو د آسانۍ لپاره به دعاء وكړي وَقَدَّمَ الْعُمْرَةَ عَلَى الْحَجِّ فِيْهِ او په اداء كولو كي به عمره پر حج مخكي كړي وَكَذٰلِكَ يَقُوْلُ: لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ مَعًا او داسي به ووايي: لبيك بعمرة وحجة معًا (يعني عمره او حج دواړه به يو ځای ذكر كړي خو عمره به اول ذكر كړي) لِأَنَّهُ يَبْدَأُ بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ ځكه چي هغه (مخكي) د عمري په افعالو شروع كوي فَكَذٰلِكَ يَبْدَأُ بِذِكْرِهَا نو د هغې په ذكر به هم (اول) شروع كوي وَإِنْ أَخَّرَ ذٰلِكَ فِي الدُّعَاءِ وَالتَّلْبِيَةِ او كه هغه په دعاء او تلبيه كي عمره وځنډوي لَا بَأْسَ بِهِ نو (هم) څه حرج نسته لِأَنَّ الْوَاوَ لِلْجَمْعِ ځكه چي واو د جمعي لپاره راځي وَلَوْ نَوٰى بِقَلْبِهِ او كه هغه په زړه كي نيت وكړي وَلَمْ يَذْكُرْهُمَا فِي التَّلْبِيَةِ او په تلبيه كي حج او عمره ذكر نه كړي أَجْزَأَهُ نو دا (هم) د هغه لپاره كافي دي اِعْتِبَارًا بِالصَّلَاةِ په لمانځه باندي په قياسولو سره.

اللغات: ﴿قرنت﴾ يو ځای كول. ﴿عزم﴾ پخه اراده كول. نيت ترل.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قران طريقه او كيفيت دا دی چي قران كونكي دي له ميقات څخه د حج او عمرې دواړو لپاره يو ځای احرام وتړي او تلبيه دي ووايي. او د احرام تر لمانځه وروسته دي دا دعاء وكړي: "اي الله! زه د حج او عمرې اراده لرم، ته زما لپاره دواړه آسانه كړې. او زما څخه يې قبول كړې، دليل دا دی چي قران يعني حج او عمره جمع كول له قرنت الشئ بالشئ څخه راخيستل سوی دی، دا محاوره هغه وخت ويل كيږي چي كله ته دوه شيان يو ځای سره جمع كړې.

وكذا الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي كه يو سړي فقط د عمرې احرام وتړي او د طواف له اوو (٧) دورونو (شوطونو) څخه صرف درې دوره پوره كړي، بيا د حج نيت وكړي، نو بيا هم دا سړی قارن ګرځي، او د هغه حج به حج قران وي، ځكه چي تر اوسه لا د طواف زيات دورونه پاته دي، نو اكثر به د كُل قائم مقام كيږي او ويل كيږي به چي تر اوسه يې د عمرې طواف نه دي كړی، او كله چي يې د عمرې طواف كړی نه دي، نو د عمرې او د حج دواړو جمع كول متحقق سو، او د دواړو جمع كولو ته قِران ويل كيږي، لهذا په دې صورت كي به هم قران متحقق كيږي.

ومتٰى عزم الخ او كله چي د دواړو د اداء كولو اراده وكړي، نو د دوی د آسانۍ لپاره دي دعاء وكړي، او د عمرې افعال دي مخكي اداء كړي او د حج افعال دي وروسته اداء كړي، او په تلبيه كي دي داسي ووايي: لبيك بعمرة وحجة معًا، يعني عمره او حج دواړه به يو ځای ذكر كړي، لېكن په ذكر كي به عمره مخكي كړي، ځكه د قران په صورت كي چي كله شروع د عمرې په افعالو كيږي، نو په ذكر كي به هم هغه مخته كيږي، لېكن كه د دې باوجود يې په دعاء او تلبيه كي عمره وځنډله نو هيڅ پروا نه لري، ځكه چي په بحجة وعمرة كي واو د جمع لپاره دی، خو عمره مخكي كول اولیٰ دي، ځكه چي د الله تعالىٰ په دې قول فمن تمتع بالعمرة إلى الحج كي هم عمره مخكي ذكر سوې ده.

ولونوی الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي که يو سړي په زړه سره نيت وکړی، او په ژبه سره يې په تلبيه کې حج او عمره ذکر نه کړل، نو هم جائز دي، لکه په لمانځه کې چې په ژبه سره نيت کول شرط نه دي. همداسې به دلته هم په ژبه سره نيت کول شرط نه وي.

قارن حاجي چې کله مکې ته داخل سي نو کوم اعمال به کوي؟

فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ بيا چې کله قارن مکې ته داخل سي اِبْتَدَأَ وَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو (د حج افعال دي) شروع کړي او پر کعبه دي اووه دوره طواف وکړي يَرْمُلُ فِي الثَّلَاثِ الْأُوَلِ مِنْهَا له هغو څخه به په اولو دريو کې رمل وکړي وَيَسْعٰى بَعْدَهَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ او تر هغه وروسته به د صفا او مروه په مېنځ کې سعی وکړي وَهٰذِهٖ أَفْعَالُ الْعُمْرَةِ او دا د عمرې افعال دي ثُمَّ يَبْدَأُ بِأَفْعَالِ الْحَجِّ بيا به د حج افعال شروع کړي فَيَطُوفُ طَوَافَ الْقُدُومِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ نو اووه دوره به طواف قدوم وکړي وَيَسْعٰى بَعْدَهُ او تر هغه وروسته به سعی وکړي كَمَا بَيَّنَّا فِي الْمُفْرِدِ لکه موږ چې په مفرد بالحج کې بيان کړل وَيُقَدِّمُ أَفْعَالَ الْعُمْرَةِ او د عمرې افعال به مخکې کړي لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى: فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ [البقرة: ١٩٦] څکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "څوک چې په عمره تمتع وکړي تر حجه پوري" وَالْقِرَانُ فِيْ مَعْنَى الْمُتْعَةِ او قران د تمتع په معنیٰ کې دی وَلَا يَحْلِقُ بَيْنَ الْعُمْرَةِ وَالْحَجِّ او د عمرې او حج په مېنځ کې به سر نه خريي لِأَنَّ ذٰلِكَ جِنَايَةٌ عَلٰى إِحْرَامِ الْحَجِّ څکه چې حلق د حج پر احرام جرم دی وَإِنَّمَا يَحْلِقُ فِيْ يَوْمِ النَّحْرِ بلکې د لوی اختر په ورځ به سر خريي كَمَا يَحْلِقُ الْمُفْرِدُ لکه څرنګه چې مفرد (هم د لوی اختر په ورځ) سر خريي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې قارن کله مکې مبارکې ته داخل سي، نو طواف قدوم دي نه کوي. بلکې د عمرې افعال دي شروع کړي، لهذا اول دي طواف عمره وکړي. او د طواف په درې دورونو کې دي رمل وکړي، تر هغه وروسته دي د صفا او مروه په مېنځ کې سعی وکړي، دا خو د عمرې افعال سول. بيا دي د حج افعال شروع کړي، نو د مفرد بالحج په ډول دي اول طواف قدوم وکړي، او تر هغه وروسته دي سعی وکړي، امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې قارن دي د عمرې افعال مخکې اداء کړي او د حج افعال دي وروسته اداء کړي، دا ترتيب له قرآن کريم څخه را اخيستل سوی دی، څکه الله تعالیٰ هم په دې آيت فمن تمتع بالعمرة إلى الحج کې عمره پر حج مخکې کړې ده، او قِران د تمتع په معنیٰ سره دی، يعني په قِران او تمتع دواړو کې دوه دوه عبادتونه يعني عمره او حج دواړه په يوه سفر کې جمع سوي دي. نو کوم ترتيب چې په تمتع کې وي هغه ترتيب به په قِران کې هم وي (چې هغه د عمرې مخکې کول او د حج وروسته کول دي).

ولايحلق الخ فرمايي قارن دي د عمرې د افعالو تر اداء کولو وروسته حلق يا قصر نه کوي، څکه چې د عمرې د افعالو تر اداء کولو وروسته هم قارن محرم وي، نو که هغه حلق يا قصر وکړي، نو د حج د احرام په حالت کې به دا جرم سي. او دم به لازم سي، او ښکاره ده چې دا صحيح نه دي، لهذا په يومُ النحر به د مفرد بالحج په ډول حلق يا قصر کوي.

قارن حاجي په حلق سره حلاليږي، که په ذبحې سره؟

وَيَتَحَلَّلُ بِالْحَلْقِ عِنْدَنَا او زموږ په نيز قارن په حلق سره حلاليږي لَا بِالذَّبْحِ نه په ذبحې سره كَمَا يَتَحَلَّلُ الْمُفْرِدُ لكه څرنګه چې مفرد (په حلق سره) حلاليږي ثُمَّ هٰذَا مَذْهَبُنَا بيا دا زموږ مذهب دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَطُوفُ طَوَافًا وَاحِدًا وَيَسْعٰى سَعْيًا وَاحِدًا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې قارن به (د عمرې لپاره يو طواف او يوه سعي كوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چې تر قيامته پورې عمره په حج کې داخله سوه وَلِأَنَّ مَبْنَى الْقِرَانِ عَلَى التَّدَاخُلِ او ځکه چې د قران بنياد پر تداخل دی حَتّٰى اُكْتُفِيَ فِيهِ بِتَلْبِيَةٍ وَاحِدَةٍ وَسَفَرٍ وَاحِدٍ وَحَلْقٍ وَاحِدٍ تر دې چې په دې کې پر يوه تلبيه، يوه سفر او يوه حلق باندې اكتفاء سوې ده (نو کله چې په دې شيانو کې تداخل وسو) فَكَذٰلِكَ فِي الْأَرْكَانِ نو همداسې به په ارکانو کې (هم تداخل کيږي) وَلَنَا أَنَّهُ لَمَّا طَافَ صُبَيُّ بْنُ مَعْبَدٍ طَوَافَيْنِ وَسَعٰى سَعْيَيْنِ او زموږ دليل دا دی چې کله صُبي بن معبد دوه طوافه او دوې سعې وکړې قَالَ لَهُ[2] عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ: هُدِيتَ لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ نو عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: "تا ته ښوونه وسوه د خپل نبي د طريقې" وَلِأَنَّ الْقِرَانَ ضَمُّ عِبَادَةٍ إِلٰى عِبَادَةٍ او ځکه چې قران يو عبادت د بل عبادت سره يوځای کول دي وَذٰلِكَ إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ بِأَدَاءِ عَمَلِ كُلِّ وَاحِدٍ عَلَى الْكَمَالِ او دا شی هغه وخت ثابتيږي چې د هر يوه عمل په بشپړه توګه اداء سي وَلِأَنَّهُ لَا تَدَاخُلَ فِي الْعِبَادَاتِ او ځکه چې په عبادات (مقصوده وو) کې تداخل نسته وَالسَّفَرُ لِلتَّوَسُّلِ وَالتَّلْبِيَةُ لِلتَّحْرِيمِ وَالْحَلْقُ لِلتَّحَلُّلِ او سفر د وسيلې (ذريعې) لپاره دی، او تلبيه د تحريم لپاره ده، او حلق د حلالېدلو لپاره دی فَلَيْسَتْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءُ بِمَقَاصِدَ نو دا شيان مقصود بالذات نه دي بِخِلَافِ الْأَرْكَانِ په خلاف د ارکانو (چې هغه مقصود بالذات دي) أَلَا تَرٰى أَنَّ شَفْعَيِ التَّطَوُّعِ لَا يَتَدَاخَلَانِ آيا ته نه ګورې! چې د نفلي لمونځ دوې شفعې نه سره متداخل کيږي وَبِتَحْرِيمَةٍ وَاحِدَةٍ يُؤَدَّيَانِ حال دا چې دواړه په يوه تحريمه سره اداء کيږي وَمَعْنٰى مَا رَوَاهُ دَخَلَ وَقْتُ الْعُمْرَةِ فِي وَقْتِ الْحَجِّ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت سوي حديث معنیٰ دا ده چې "د عمرې وخت د حج په وخت کې داخل سو".

اللغات: ﴿يتحلّل﴾ د تفعّل مضارع ده: حلالېدل، احرام خلاصول. ﴿تداخل﴾ يو په بل کې داخلېدل. ﴿اكتفي﴾ د افتعال ماضي مجهوله ده: کافي ګڼل، اکتفاء کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې زموږ په نيز قارن په حلق سره حلاليږي، نه په ذبحې (يعني د څاروي په حلالولو) سره، مطلب دا چې څرنګه مفرد په حلق سره حلاليږي، همدارنګه به قارن هم په حلق سره حلاليږي، او د قارن لپاره د

---

[1] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب دخلت العمرة في الحج إلى يوم القيامة، حديث رقم: ٩٣٢.

[2] تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب المناسک، باب في القِران، حديث رقم: ١٧٩٨.

عمرې او د حج د افعالو د جلا جلا اداء کولو حکم هم زموږ مذهب دی، کنې د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې قارن به د عمرې او حج افعال جلا جلا نه اداء کوي، بلکې د دواړو لپاره به يو طواف او يوه سعی کوي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: دخلت العمرة فی الحج الخ (يعني عمره په حج کې داخله سوه)، او د داخلېدلو مطلب دا دی چې د يو شي اعمال او افعال په بل شي کې داخل سي، ګواکې د حديث شريف مفهوم دا سو چې د عمرې افعال د حج په افعالو کې داخل سول، او د حج طواف او سعی به د عمرې د طواف او سعي لپاره کافي وي.

ولأن مبنی الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دويم دليل دا دی چې د قران دارومدار پر تداخل دی، همدا وجه ده چې په قران کې د حج او عمرې دواړو لپاره يوه تلبيه، يو سفر او يو حلق کيږي، او د جلا جلا تلبيې، سفر يا حلق ضرورت نسته، لهذا کله چې د افعالو په حواله سره په قران کې تداخل ستـه، نو د ارکانو په حواله سره به هم په هغه کې تداخل کيږي، يعني د حج طواف او سعی به د عمرې لپاره هم کافي وي.

زموږ دليل: دا دی چې حضرت صُبَی بن معبد ﷺ په حجِ قران کې دوه طوافه او دوې سعي وکړې، نو حضرت عمر ﷺ وفرمايل: هديت لسنة نبيك، (تا ته د خپل نبي طريقه وښوول سوه)، يعني تا د خپل نبي سنت پيدا کړی، مطلب دا چې د الله رسول ﷺ هم حجِ قران کړی وو، او رسول الله ﷺ هم دوه طوافه او دوې سعي کړي وې، او همدا سنت دي.

ولأنّ القِران ضمّ دويم دليل دا دی چې قران دې ته ويل کيږي چې يو عبادت د بل عبادت سره يو ځای کړی سي، او دا مفهوم هغه وخت اداء کيږي، چې کله له دواړو څخه د هر عبادت افعال په پوره توګه اداء کړی سي، او د عمرې او حج دواړو لپاره جلا جلا طواف او سعی وکړی سي.

ولأنه لاتداخل الخ زموږ دريم دليل او د امام شافعي جواب دا دی چې په عبادات مقصوده کي تداخل نه کيږي، او تا چې کوم شيان ښوولي دي هغه غيرِ مقصوده دي، نو خود به تداخل کيږي ځکه سفر تر مکې پورې د رسېدلو ذريعه ده، او تلبيه له احرام څخه ماسوا د نورو شيانو د حراملو لپاره ده، او حلق له احرام څخه د وتلو لپاره دی، لهذا دا ټوله شيان مقصود نه سو، بلکې وسائل دي، نو ځکه به په دوی کې تداخل کيږي.

بخلاف الأركان الخ د دې په خلاف د ارکانو مسئله ده، ځکه ارکان مقصود بالذات دي، نو پر ارکانو به وسائل او ذرائع قياسول صحيح نه وي، د دې مثال دا دی چې که يو څوک د څلورو رکعتو يعني د دوو شفعو نيت وتړي، نو هغه به پوره څلور رکعته کوي، داسې به نه کوي چې صرف دوه رکعته وکړي، ځکه چې څلور سره رکعته عبادت مقصوده دي، نو ځکه به تداخل نه پکښې کيږي، که څه هم دواړي شفعې سره جلا دي، او په يوه تحريمه سره شروع سوي دي، همداسې دلته طواف او سعی هم عبادتِ مقصوده دي، نو ځکه به د حج او عمرې دواړو په طوافونو او سعيو کې تداخل نه کيږي، بلکې جلا جلا به اداء کيږي.

ومعنیٰ ما رواه الخ فرمايي چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت سوي حديث دخلت العمرة الخ صحيح مفهوم دا دی چې د عمرې وخت د حج په وخت کې داخل سو، يعني د جاهليت په زمانه چې کومه دا عقيده وه چې د حج په مياشتو کې عمره کول لويه او ستره ګناه ده، په دې حديث سره د هغه خرابي عقيدې او خام خيالی ترديد وسو.

د دوو (۲) طوافونو او دوو (۲) سعيو حکم

قَالَ: وَإِنْ طَافَ طَوَافَيْنِ لِعُمْرَتِهِ وَحَجَّتِهِ فرمايي: او که قارن د خپلي عمرې او د حج لپاره دوه طوافه وکړي وَسَعَىٰ سَعْيَيْنِ يُجْزِيهِ او دوې سعي وکړي نو دا هغه لپاره کافي دي لِأَنَّهُ أَتَىٰ بِمَا هُوَ الْمُسْتَحَقُّ عَلَيْهِ ځکه چي ده هغه شی اداء کړی کوم چي پر ده واجب وو وَقَدْ أَسَاءَ بِتَأْخِيرِ سَعْيِ الْعُمْرَةِ وَتَقْدِيمِ طَوَافِ التَّحِيَّةِ عَلَيْهِ خو (دا) ده بد کار وکړی چي د عمرې سعي يې وځنډوله او طواف قدوم يې پر سعي مخکي کړی وَلَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ او پر ده هيڅ شی نه لازميږي أَمَّا عِنْدَهُمَا فَظَاهِرٌ د صاحبينو په نېز خو ښکاره دي لِأَنَّ التَّقْدِيمَ وَالتَّأْخِيرَ فِي الْمَنَاسِكِ لَا يُوجِبُ الدَّمَ عِنْدَهُمَا ځکه چي د دوی په نېز د حج په عبادتونو کي تقديم او تأخير دم نه واجبوي وَعِنْدَهُ طَوَافُ التَّحِيَّةِ سُنَّةٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز طواف قدوم سنت دی وَتَرْكُهُ لَا يُوجِبُ الدَّمَ لهذا (په خپله) د هغه پرېښوول دم نه واجبوي فَتَقْدِيمُهُ أَوْلَىٰ نو د هغه مخکي کول خو به په درجه اولیٰ (دم نه واجبوي) وَالسَّعْيُ بِتَأْخِيرِهِ بِالْاِشْتِغَالِ بِعَمَلٍ آخَرَ لَا يُوجِبُ الدَّمَ او په بل کار کي د مشغولېدلو په وجه د سعی ځنډ ول دم نه واجبوي فَكَذَا بِالْاِشْتِغَالِ بِالطَّوَافِ نو همداسي به په طواف کي د مشغولېدلو په وجه (دم نه واجبيږي).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که قارن دوه طوافه وکړي. يو د عمرې لپاره. او بل د حج لپاره (طواف قدوم وکړي). او بيا دوې سعي وکړي، يوه د عمرې لپاره او بله د حج لپاره. نو دا جائز دي. ځکه چي پر هغه دوه طوافونه او دوې سعي واجب وې، او ده هغه اداء کړل، خو څرنګه چي ده په ترتيب سره اداء نه کړل. نو دا يې بد کار وکړی. په ترتيب سره د اداء کولو مطلب دا دی چي اول د عمرې طواف کول پکار وو، او تر هغه وروسته د عمرې سعی کول پکار وو. او بيا طواف قدوم کول پکار وو، خو څرنګه چي هغه د عمرې سعی تر طواف قدوم وروسته وکړه، او طواف قدوم يې تر عمرې مخکي وکړی، نو د ترتيب اوښتولو په وجه لږ نقص راغلی، خو بيا هم دا غټ نقص نه دی، لهذا د دې په وجه به پر قارن دم او هيڅ شی نه واجبيږي، نه د امام صاحب په نېز او د صاحبينو په نېز.

وعنده طواف التحية الخ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ځکه تاوان نه واجبيږي، چي د هغه په نېز طواف قدوم سنت دی، لهذا په خپله د هغه پرېښوول دم نه واجبوي، نو د هغه مخکي کول خو به په درجه اولیٰ دم نه واجبوي.

والسعي الخ او پاته سوه د عمرې سعی تر طواف قدوم وروسته کول، نو په دې سره هم دم نه واجبيږي. ځکه چي له طواف څخه ماسوا په بل کار کي د مشغولېدلو په وجه د سعی وروسته کېدل دم نه واجبوي. مثلاً يو څوک د عمرې تر طواف وروسته په خوراک يا خواب مشغول سو، بيا يې د عمرې سعی وکړه، نو هيڅ شی نه واجبيږي. نو همدا ډول که د حج په طواف قدوم باندي د مشغولېدلو په وجه د عمرې سعی وروسته سي، نو په دې سره به هم دم نه واجبيږي.

د دم قِران بيان

قَالَ: وَإِذَا رَمَى الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ فرمايي: او کله چي قارن د قرباني په ورځ (د اختر په ورځ) د جمرهٔ عقبه رمي وکړي ذَبَحَ شَاةً أَوْ بَقَرَةً نو حلال دي کړي يو بزه (وزه) يا يوه غوا أَوْ بَدَنَةً أَوْ سُبْعَ بَدَنَةٍ يا يوه بُدنه يا د يُوې بدني اوومه حصه

لِلْقَدَاءِ دَمُ الْقِرَانِ نو دا دمِ قران دی لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْمُتْعَةِ ځکه چي قران د تمتع په معنیٰ سره دی وَالْهَدْيُ مَنْصُوصٌ عَلَيْهِ فِيهَا او په تمتع کي د هدي قرباني کول منصوص عليه دي(يعني په تمتع کي د هدي په باره کي نص راغلی دی) وَالْهَدْيُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ او هدی په اوښ، غوا او بزې سره کيږي عَلَى مَا نَذْكُرُهُ فِي بَابِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چي هغه به مونږ انشاء الله د هدی په باب کي ذکر کړو وَأَرَادَ بِالْبُدْنَةِ هُنَا الْبَعِيرَ او دلته له بدنې ځخه مراد اوښ دی وَإِنْ كَانَ اسْمُ الْبُدْنَةِ يَقَعُ عَلَيْهِ وَعَلَى الْبَقَرَةِ که څه هم د بدنې لفظ پر اوښ او غوا دواړو واقع کيږي عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چي مونږ ذکر کړه وَكَمَا يَجُوزُ سُبُعُ الْبَعِيرِ يَجُوزُ سُبُعُ الْبَقَرَةِ او څرنګه چي د اوښ اوومه حصه جائز ده همدارنګه د غوا اوومه حصه (هم) جائز ده.

اللغات: ﴿سبع﴾ اوومه حصه، ﴿بعير﴾ اوښ.

تشريح: فرمايي قارن چي کله په يومُ النحر کي د جمرهٔ عقبه رمي وکړي، نو هغه دي يوه بزه، يا غوا، يا اوښ يا د بدنې اوومه حصه قرباني کړي. د دې نوم دمِ قران دی، د دې د واجبېدلو دليل دا دی چي قِران د حج او د عمرې په جمع کولوکي د تمتع په معنیٰ سره دی (يعني لکه څرنګه چي په تمتع کي حج او عمره سره جمع کيږي. همدارنګه په قران...)، او په تمتع کي د هدي قرباني منصوص عليه ده، لکه څرنګه چي په نص يعني آيت کي راځي: فمن تمتع بالعمرة إلى الحج فما استيسر من الهدى. نو کله چي په حجِ تمتع کي قرباني واجب ده، نو په قران کي به هم واجب وي.

والهدى الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په اوښ، غوا او بزې ټولو سره هدی کېدای سي، تفصيل به په بابُ الهدی کي ذکر سي، او دلته له بدنې ځخه اوښ مراد دی، که څه هم د بدنې لفظ پر اوښ او غوا دواړو ويل کيږي. نو څرنګه چي د اوښ داوومي حصې قرباني جائز ده، همدارنګه به د غوا داوومي حصې قرباني جائز وي.

که د قارن سره د حلالولو لپاره څاروی نه وي نو د روزو حکم

فَإِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُ مَا يَذْبَحُ بيا که د قارن سره د حلالولو لپاره يو شی نه وي صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ نو هغه دي د حج په دوران کي درې ورځي روژې ونيسي آخِرُهَا يَوْمُ عَرَفَةَ چي د هغو آخري ورځ به عرفات وي وَسَبْعَةَ أَيَّامٍ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ او اووه روژې دي ونيسي کله چي خپل أهل و عيال ته راسي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ ځکه الله تعالیٰ فرمايي دي: "او څوک چي هدی پيدا نه کړي نو هغه دي په حج کي درې ورځي روژې ونيسي وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ [البقرة: ۱۹۶] او اووه روژې دي(هغه وخت ونيسي) چي کله تاسو واپس راسئ (نو) دا پوره لس (روژې) سوې" فَالنَّصُّ وَإِنْ وَرَدَ فِي التَّمَتُّعِ فَالْقِرَانُ مِثْلُهُ لهذا نص که څه هم د تمتع په حق کي وارد سوی دی لېکن قران هم د تمتع په څير دی لِأَنَّهُ مُرْتَفِقٌ بِأَدَاءِ النُّسُكَيْنِ ځکه چي قارن هم د دوو عبادتونو (يعني د حج او عمرې) ځخه فايده اخلي وَالْمُرَادُ بِالْحَجِّ وَاللهُ أَعْلَمُ وَقْتُهُ او له حج ځخه مراد (والله أعلم) د هغه وخت کېدای سي لِأَنَّ نَفْسَهُ لَا يَصْلُحُ ظَرْفًا ځکه چي نفسِ حج د ظرف جوړېدلو صلاحيت نه لري إِلَّا أَنَّ الْأَفْضَلَ أَنْ يَصُومَ قَبْلَ يَوْمِ

الثَّرْوِيَةِ بِيَوْمٍ وَيَوْمَ التَّرْوِيَةِ وَيَوْمَ عَرَفَةَ خو افضل دا ده چي تر يومِ ترويه مخکي يوه ورځ او په يومِ ترويه او په يومِ عرفه روژه ونيسي لِأَنَّ الصَّوْمَ بَدَلٌ عَنِ الْهَدْيِ ځکه چي روژه د هدي بدل ده فَيُسْتَحَبُّ تَأْخِيرُهُ إِلَى آخِرِ وَقْتِهِ نو ځکه مستحب دا ده چي تر خپل آخري وخته پوري روژې وځنډ ول سي رَجَاءَ أَنْ يَقْدِرَ عَلَى الْأَصْلِ په دې اميد چي پر أصل (هدی) به قدرت پيدا کړي.

اللغات: ﴿مرتفق﴾ دا ارتفاق اسم فاعل دی: آساني او فايده حاصلونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو قارن د قرباني وس نه لري، يا وس خو لري، لېکن څاروی نه پيدا کېږي، نو بيا ر هغه لپاره حکم دا دی چي د قرباني په بدله کي دي لس روژې ونيسي، په دې ترتيب چي درې روژې دي تر يومُ النحر مخکي ونيسي، او اووه (٧) روژې دي هغه وخت ونيسي چي کله کور ته راسي، دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام في الحج وسبعة إذا رجعتم تلك عشرة كاملة. دا آيت که څه هم د تمتع په حق کي وارد سوی دی، خو قران هم د تمتع په شير دی، په دې توکه چي قارن او متمتع دواړه دوه عبادتونه يعني حج او عمره سره جمع کوي، نو د دې مشابهت په وجه چي کوم حکم د تمتع دی، هغه به د قران وي.

والمراد الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په دې آيت فصيام ثلثة أيام في الحج کي له حج څخه مراد د حج وخت او د حج زمانه ده، ځکه چي حج د افعالو د مجموعې نوم دی (يعني د وقوف عرفه او د طواف زيارت نوم دی)، او يو فعل د بل فعل لپاره د ظرف جوړېدلو وړتيا نه لري (يعني درې روژې په وقوف عرفه او طواف زيارت کي نه سي اداء کېدلای). لهذا له دې څخه به د حج وخت مراد وي، او څرنګه چي د حج زمانه له شوال څخه شروع کيږي، نو تر احرام تړلو وروسته چي کله هم وغواړي درې روژې دي ونيسي، لېکن افضل دا ده چي د ذو الحجې په ٧، ٨، او ٩ روژې ونيسي، ځکه چي روژه د هدی په بدله کي واجب سوې ده، نو په دې هيله تر آخري وخته پوري د روژو ځنډول مستحب دي، چي کېدای سي پر اصل يعني پر هدی قدرت پيدا سي، لکه څرنګه چي د اوبو د نه لرونکي سړي لپاره په تيمم سره لمونځ تر آخري وخته پوري ځنډول مستحب دي (په دې هيله چي اوبه به پيدا سي).

د کفارې روژې به چيري نيول کيږي؟

وَإِنْ صَامَهَا بِمَكَّةَ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْحَجِّ جَازَ او که قارن اووه (٧) روژې په مکه کي له حج څخه تر فراغت وروسته ونيسي نو جائز دي وَمَعْنَاهُ بَعْدَ مُضِيِّ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ د دې معنیٰ دا ده چي د أيام تشريق تر تېرېدلو وروسته لِأَنَّ الصَّوْمَ فِيهَا مَنْهِيٌّ عَنْهُ ځکه چي په ايامِ تشريق کي روژه ممنوع ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: لَا يَجُوزُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي جائز نه دي لِأَنَّهُ مُعَلَّقٌ بِالرُّجُوعِ ځکه چي اووه سره روژې معلقي دي په رجوع باندي إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ الْمُقَامَ خو دا چي هغه سړی په مکه کي د پاته کېدلو نيت وکړي فَحِينَئِذٍ يُجْزِيهِ لِتَعَذُّرِ الرُّجُوعِ نو په هغه وخت کي جائز دي د رجوع د متعذر کېدلو په وجه وَلَنَا أَنَّ مَعْنَاهُ: رَجَعْتُمْ عَنِ الْحَجِّ أَيْ فَرَغْتُمْ او زموږ دليل دا دی چي د رجعتم معنیٰ ده: رجعتم عن الحج يعني فرغتم إِذِ الْفَرَاغُ سَبَبُ الرُّجُوعِ إِلَى أَهْلِهِ ځکه چي (له حج څخه) فراغت خپل أهل وعيال ته د

راستنېدلو سبب دی فَكَانَ الْأَدَاءُ بَعْدَ السَّبَبِ فَيَجُوزُ لهذا (د روژو) اداء کول به تر سبب وروسته سي نو ځکه به جائز وي.

تشریح: په مخکنۍ مسئله کي وويل سوه چي اووه (۷) روژې به قارن هغه وخت نيسي چي کله خپل وطن ته راسي، خو که قارن له حج څخه تر فراغت وروسته په مکه کي اووه روژې ونيولې نو جائز دي، خو شرط دا دی چي دایام تشریق تر تېرېدلو وروسته به يې نيسي، ځکه په ايام تشريق کي روژه نيول ممنوع دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قارن لپاره په مکه مکرمه کي د دې اوو (۷) روژو نيول جائز نه دي، ځکه د الله تعالیٰ په دې قول وسبعة إذا رجعتم کي دا اووه روژې په رجوع پوري معلقي سوي دي، او رجوع هغه وخت ثابتيږي، چي کله دا سړی خپل وطن ته واپس راسي، نو ځکه به په مکه کي د دې روژو نيول جائز نه وي، هو! که هغه په مکه کي د قيام نيت وکړي، نو بيا په مکه کي هم نيول جائز دي، ځکه چي په دې صورت کي رجوع ناممکنه ده.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي د الله تعالیٰ د دې قول رجعتم معنیٰ ده: فرغتم، "يعني کله چي تاسو له حج څخه فارغ سی نو اووه روژې ونيسئ"، هغه که په مکه کي وي، که په لاره کي وي، او که وطن ته ورسېږي. صاحب د هدايې وايي چي له حج څخه فارغېدل هم خپل أهل و عيال ته د واپس راتللو سبب دی، لهذا کله چي هم له حج څخه تر فراغت وروسته اووه روژې ونيسي، نو تر سبب وروسته روژې راځي، او تر سبب وروسته چي کوم شی هم راسي، هغه اداء کيږي، نو ځکه به له حج څخه تر فراغت وروسته دا اووه روژې اداء کيږي، که څه هم په مکه کي يې اداء کړي.

تر ايام نحر مخکي د روژو نه نيولو حکم

وَإِنْ فَاتَهُ الصَّوْمُ او که له قارن څخه (درې) روژې فوت سي حَتَّى أَتَى يَوْمُ النَّحْرِ تر دې چي يوم نحر راسي (يعني د لوی اختر ورځ راسي) لَمْ يُجْزِهِ إِلَّا الدَّمُ نو د هغه لپاره هيڅ شی نه کافي کيږي مګر دم وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَصُومُ بَعْدَ هٰذِهِ الْأَيَّامِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي تر أيام تشريق وروسته به روژې ونيسي لِأَنَّهُ صَوْمٌ مُوَقَّتٌ ځکه چي دا متعيني روژې دي (يعني د خپل وخت سره خاصي دي) فَيُقْضٰى كَصَوْمِ رَمَضَانَ نو د رمضان د روژو په څېر به د هغو قضاء هم راوړل کيږي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: يَصُومُ فِيهَا او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه سړی به په ايام تشريق کي روژې ونيسي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ [البقرة: ۱۹۶] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: او څوک چي هدی پيدا نه کړي هغه دي د حج په وخت کي درې روژې ونيسي وَهٰذَا وَقْتُهُ او د تشريق زمانه د حج وخت دی وَلَنَا النَّهْيُ الْمَشْهُورُ عَنِ الصَّوْمِ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ او زموږ دليل په دې ورځو کي له روژې نيولو څخه هغه مشهوره نهي دي فَيَتَقَيَّدُ بِهِ النَّصُّ نو په دې نهي سره به نص مقيد کيږي أَوْ يَدْخُلُهُ النَّقْصُ يا په دې روژو کي به نقصان داخليږي فَلَا يَتَأَدّٰى بِهِ مَا وَجَبَ كَامِلًا نو په دې ناقصو روژو سره به هغه روژې نه اداء کيږي چي هغه په کامله توګه واجب سوي وي.

اللغات: ﴿فاته﴾ د نصر ماضي دي: فوتېدل، قضاء کېدل، ﴿صوم مؤقت﴾ د ځانګړي او معلوم وخت روژې.

تشریح: مخکې ذکر سوه که قارن پر هدي قدرت نه لري، نو لس روژې دي ونيسي، درې له يومُ النحر څخه مخکې، او اووه له حج څخه تر فراغت وروسته. خو که هغه درې روژې تر يومُ النحر مخکې نه ونيولې، تر دې چې يومُ النحر راغلی، نو زمونږ په نېز پر هغه دم واجبيږي، روژې کافي نه دي. امام شافعي فرمايي چې دا روژې دي تر ايامِ تشريق وروسته را وګرځوي، او امام مالک فرمايي چې دا روژې دي په ايامِ تشريق کې را وګرځوي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې دا روژې د يو وخت سره خاصې او متعينې دي، الله ﷻ فرمايي: فصيام ثلاثة أيام في الحج، او کومې روژې چې متعينې وي، هغه که په خپل متعين وخت کې اداء نه کړی سي، نو د هغو قضاء به راوړل کيږي. لکه د رمضان روژې چې په رمضان کې اداء نه کړی سي، نو وروسته به د هغو قضاء راوړل کيږي، لهذا دا روژې به هملسې وي، چې کله تر يوم نحر مخکې اداء نه کړی سي، نو تر ايام تشريق وروسته به د هغو قضاء راوړل کيږي.

د امام مالک دليل: دا دی چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: فمن لم يجد فصيام الخ، "يعني څوک چې د هدي څاروی پيدا نه کړي، نو هغه دي د حج په وخت کې درې روژې ونيسي"، او ايامِ تشريق هم د حج وخت دی، ځکه چې په دې ورځو کې رمي کيږي، نو کله چې ايامِ تشريق د حج وخت دی، نو د قرآن په حکم به دا درې روژې په ايامِ تشريق کې هم صحيح وي.

زمونږ دليل: دا دی چې په ايامِ تشريق کې له روژو نيولو څخه منع سوې ده، لکه په حديث کې چې راځي: لا تصوموا في هذه الأيام. او دا حديث مشهور دی، او په مشهور حديث سره کتابُ الله مقيد کېدای سي، نو ځکه به نص يعني ثلاثة أيام في الحج د ايامِ تشريق څخه علاوه په نورو ورځو مقيّد کيږي، يعني له ايامِ تشريق څخه علاوه د حج په نورو ورځو کې د دې دريو روژو حکم سوی دی، خو که نص په دې حديث سره مقيد نه سي، نو د نهي په وجه به د دې ورځو په روژو کې نقصان باليقين پيدا سي، او پر قارن چې د دمِ قران پر ځای کومې روژې واجب سوي دي، هغه کاملې دي، او قاعده دا ده چې کامل به په ناقص سره نه اداء کيږي. لکه څرنګه چې د تېرې ورځې د ماز يګر لمونځ بله ورځ د نمر لوېدلو په وخت کې نه سي اداء کېدلای، لنډه دا چې په ايامِ تشريق کې دا روژې نه سي اداء کېدلای، او تر ايامِ تشريق وروسته هم نه سي اداء کېدلای. ځکه چې د دم په بدله کې د روژو وجوب خلاف قياس ثابت دی، او خلاف قياس چې کوم شی ثابت وي، هغه به تر خپل مورد پورې منحصر وي، او د هغه مورد د حج ورځې دي (او د حج په ورځو کې تر يومُ النحر مخکې ورځې دي، ځکه چې تر أيام تشريق وروسته د حج ورځې ختميږي، او په أيام تشريق کې روژې صحيح نه دي، نو ځکه به تر يوم النحر مخکې د روژو مورد وي). لهذا تر خپل وخت او مورد وتلو به د روژو نيول صحيح نه وي، بلکې حکم به د خپل اصل يعني د هدي د څاروي وطرف ته ګرځي، نو د هدي څاروی چې کله هم په لاس ورسي، د هغه قرباني کول به پر واجب وي.

تر ايامِ تشريق وروسته د روژو د قضاء حکم

> وَلَا يُؤَدِّي بَعْدَهَا او تر ايامِ تشريق وروسته (هم) روژې نه اداء کيږي لِأَنَّ الصَّوْمَ بَدَلٌ ځکه چې روژه بدل ده وَالْأَبْدَالُ لَا تُنْصَبُ إِلَّا شَرْعًا او بدل نه متعين کيږي مګر (صرف) د شريعت له طرفه (يعني بدل فقط شريعت معلومولای سي د هر چا کلو نه دی) وَالنَّصُّ خَصَّهُ بِوَقْتِ الْحَجِّ او نص روژه د حج د وخت سره خاص کړې ده وَجَوَازُ الدَّمِ عَلَى الْأَصْلِ او د قربانۍ جائز کېدل پر خپل اصل دي (نو ځکه به تر حج وروسته هم جائز وي) وَعَنْ عُمَرَ أَنَّهُ أَمَرَ فِي مِثْلِهِ بِذَبْحِ الشَّاةِ او له حضرت عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې هغه په داسې واقعه کې د بزې ذبحه کولو حکم وکړی.

اللغات: ﴿لا تنصب﴾ د نصر مضارع منفي مجهوله ده: درول، متعينول.

تشريح: په دې عبارت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله ردّ سوی دی، په دې توګه چي د مذکوره دريو روژو قضاء تر ايامِ تشريق وروسته هم صحيح نه ده، ځکه چي روژه د دمِ قران بدل ده، او بدل د الله له طرفه ثابتيږي. او شريعت يعني آيت بدل يعني روژه د حج د وخت سره خاص کړې ده. نو کله چي د حج د وخت سره خاص ده. نو د حج تر وخت وروسته به يعني تر ايامِ تشريق وروسته به د روژې اداء کول جائز نه وي، او د قرباني جائز کېدل د روژې بدل نه دي. بلکي هغه پر خپل اصل پاته دي. لهذا کله چي روژې فوت سي، نو حکم به د خپل اصل و طرف ته راګرځي. او قرباني به پر واجب وي.

ومن عمرالخ زموږ تأييد په دې سره هم کيږي چي د حضرت عمر ﷺ په زمانه کي يو قارن د هدي څاروی نه درلودی. او د حج د ورځو دري روژې هم ځني قضاء سوې، او يومُ النحر راغله، نو حضرت عمر ﷺ دا فتویٰ ورکړه چي بزه قرباني کړه، نو له دې ځخه هم دا خبره ثابته سوه چي که د روژو وخت تېر سي. نو حکم به د اصل و طرف ته راګرځي او قرباني به واجبيږي.

د قارن حاجي د حلال کېدلو وخت

فَلَوْلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْهَدْيِ تَحَلَّلَ بيا که قارن پر هدي قدرت پيدا نه کړي نو حلال دي سي وَعَلَيْهِ دَمَانِ او پر هغه به دوې قرباني واجب وي دَمُ التَّمَتُّعِ وَدَمُ التَّحَلُّلِ قَبْلَ الْهَدْيِ [١] يوه د تمتع قرباني [٢] او بله تر هدي مخکي د حلالېدلو قرباني فَإِنْ لَمْ يَدْخُلِ الْقَارِنُ مَكَّةَ وَتَوَجَّهَ إِلَى عَرَفَاتٍ او که قارن مکې ته داخل نه سي (بلکي) عرفات ته متوجه سي فَقَدْ صَارَ رَافِضًا لِعُمْرَتِهِ بِالْوُقُوفِ نو هغه د وقوفِ عرفه په وجه د خپلي عمرې پرېښوونکي سو لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ أَدَاؤُهَا ځکه پر هغه د عمرې اداء کول ناممکن سو لِأَنَّهُ يَصِيرُ بَانِيًا أَفْعَالَ الْعُمْرَةِ عَلَى أَفْعَالِ الْحَجِّ ځکه چي هغه به د حج پر افعالو د عمرې د افعالو بناء کونکی سي وَذٰلِكَ خِلَافُ الْمَشْرُوعِ او دا خلاف مشروع دي.

اللغات: ﴿بانی﴾ بناء کونکی. ﴿رافض﴾ پرېښوونکی.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: (١) اوله مسئله دا ده چي هغه قارن (يا متمتع) چي دري روژې ځني فوت سوي وي که پر قرباني هم قدرت پيدا نه کړي نو د هغه لپاره حکم دا دی چي تر قرباني کولو مخکي دي حلال سي، او وروسته دي دوه دمه يعني دوې قرباني وکړي، يو دمِ تمتع او دويم تر قرباني مخکي د حلالېدلو دم، ځکه چي قرباني هم د حج له افعالو ځخه يو فعل دی. نو ځکه به د هغې پرېښوول دم واجبوي.

(٢) دويمه مسئله دا ده که قارن د دې پر ځای چي د عمرې ارکان اداء کړي سيده عرفات ته ولاړ سي. نو فقط په وقوفِ عرفه کولو سره د عمرې پرېښوونکي سو (لهذا اوس به قارن نه وي. او د قران دم به هم پر واجب نه وي، بلکي د عمرې قضاء به پر واجب وي او بل به د عمرې د پرېښوولو دم پر واجب وي)، ځکه چي تر وقوفِ عرفه وروسته د هغه لپاره عمره اداء کول متعذر سو، عمره اداء کول ځکه متعذر سو چي که هغه اوس هم عمره وکړي، نو تر حج وروسته به وي، تر حج مخکي نه سي کېدلای، نو په دې صورت کي به د عمرې د افعالو ترتب به د حج پر افعالو وي، حال دا چي دا خلافِ مشروع دي، مشروع دا دي چي د حج د افعالو ترتب به د عمرې پر افعالو وي، يعني اول به عمره اداء کوي، وروسته به حج اداء کوي.

كه قارن فقط د عرفات و طرف ته متوجه سي نو څه حكم دی؟

وَلَا يَصِيرُ رَافِضًا بِمُجَرَّدِ التَّوَجُّهِ او قارن فقط (عرفات ته) په روانېدلو سره د عمرې پرېښوونكى نه كرځي هُوَ الصَّحِيحُ مِنْ مَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَيْضًا همدا د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله صحيح مذهب هم دی وَالْفَرْقُ لَهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ مُصَلِّ الظُّهْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِذَا تَوَجَّهَ إِلَيْهَا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر مسلک د قارن او د هغه سړي په مينځ كي چي د جمعې په ورځ د ماپښين لمونځ وكړي او (بيا) د جمعې (لمانځه) ته روان سي فرق دا دی أَنَّ الْأَمْرَ هُنَالِكَ بِالتَّوَجُّهِ مُتَوَجِّهٌ بَعْدَ أَدَاءِ الظُّهْرِ چي د جمعې په ورځ د ماپښين د لمانځه تر اداء كولو وروسته (هم) د جمعې لمانځه ته د تللو حكم (هغه ته) متوجه دی وَالتَّوَجُّهُ فِي الْقِرَانِ وَالتَّمَتُّعِ مَنْهِيٌّ عَنْهُ قَبْلَ أَدَاءِ الْعُمْرَةِ او په قِران او تمتع كي د عمرې تر اداء كولو مخكي له تللو څخه نهي سوي دي فَافْتَرَقَا نو دواړي مسئلې جلا سوې (يعني په دواړو مسئلو كي فرق راغلی).

اللغات: ﴿مجرد﴾ محض، فقط.

تشريح: مسئله: دا ده چي قارن د عمرې له اداء كولو څخه بغير فقط د عرفات و طرف ته په متوجه كېدلو او روانېدلو سره د عمرې پرېښوونكی او ختمونكی نه شمارل كيږي، بلكي د عمرې پرېښوونكی هغه وخت شمارل كيږي، چي كله هغه د ذو الحجې په نهمه ورځ تر زوال وروسته عرفات ته ورسيږي او وقوف وكړي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله صحيح مذهب همدا دی، لېكن له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د حضرت حسن په روايت كي دا رانقل سوي دي چي د عرفات و طرف ته په متوجه كېدلو سره عمره ختميږي او پر هغه به د عمرې د پرېښوونكي حكم لګيږي، او قياس هم دا دی چي څرنګه د جمعې په ورځ په كور كي د ماپښين د لمانځه تر كولو وروسته د جمعې و طرف ته محض په روانېدلو سره د ماپښين لمونځ فاسديږي، همداسي به په دې مسئله كي هم محض د قارن په روانېدلو سره عمره ختميږي.

والفرق له الخ خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر مذهب د فرق وجه دا ده چي د جمعې په مسئله كي چي كله يو څوک د ماپښين لمونځ وكړي او د جمعې و طرف ته متوجه او روان سي، نو د هغه دا روانېدل صحيح او جائز دي، ځكه چي اوس هم هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ د دې خطاب فاسعوا إلى ذكر الله مستحق دی، او دا خطاب د ماپښين د لمانځه تر اداء كولو وروسته هم د هغه په حق كي ثابتيږي، او د قران او تمتع په مسئله كي هغه د عمرې تر اداء كولو مخكي د عرفات و طرف ته له روانېدلو څخه منع سوی دی، نو په دې دواړو مسئلو كي به د دومره فرق باوجود يوه پر بله قياسول څرنګه صحيح وي.

كه عمره پر بږدي نو له قارن څخه د قرباني د ساقطېدلو حكم

قَالَ: وَسَقَطَ عَنْهُ دَمُ الْقِرَانِ فرمايي: چي له قارن څخه د قِران قرباني ساقطه سوه لِأَنَّهُ لَمَّا ارْتَفَضَتِ الْعُمْرَةُ لَمْ يَرْتَفِقْ لِأَدَاءِ النُّسُكَيْنِ ځكه كله چي عمره پرېښوول سوه نو هغه ته د دوو عبادتونو د اداء كولو آساني تر لاسه نه سوه (و بعضي شارحينو يې معنیٰ دا كړې ده: او كله چي له هغه څخه عمره پاته سوه نو هغه د دوو عبادتونو له اداء كولو څخه فايده نه واخيستل، په دې صورت كي به لم يرتفق معلومه صيغه وي) وَعَلَيْهِ دَمٌ او پر هغه به قرباني واجب وي لِرَفْضِ عُمْرَتِهِ بَعْدَ الشُّرُوعِ فِيهَا د خپلې عمرې د پرېښوولو په وجه وروسته تر شروع كولو په هغې سره وَعَلَيْهِ قَضَاؤُهَا او پر

هغه به د عمرې قضاء (هم) واجب وي لِصِحَّةِ الشُّرُوعِ فِيهَا د عمرې د شروع کولو د صحت په وجه لَأَشْبَهَ الْمُحْصَرَ نو هغه د محصر سره مشابه سو، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿ارتفضت﴾ د افتعال ماضي ده: پاته کېدل، ختمېدل، پرېښوول، ﴿لم يرتفق﴾ آساني حاصلول، فایده اخیستل. ﴿محصر﴾ هغه سړی چې له حج کولو څخه منع سوی وي.

تشریح: مسئله: دا ده چې قارن کله د عمرې د ارکانو له اداء کولو څخه بغیر سیده عرفات ته ولاړ سي، نو د هغه له ذمې څخه دم قران هم ساقطیږي (لکه مخکې چې موږ ذکر کړه)، ځکه چې د عمرې د پرېښوولو په وجه هغه د حج او د عمرې دواړو عبادتونو جمع کونکي نه سو، نو کله چې د دواړو جمع کونکي نه سو، نو دم شکر یعني دم قران به هم نه واجبیږي، لېکن پر هغه د عمرې قضاء واجبیږي، او د عمرې د پرېښوولو په وجه یو دم هم پر واجبیږي، دم خو ځکه واجبیږي، چې هغه تر احرام تړلو وروسته عمره پرې ایښې ده، او قضاء ځکه واجبیږي، چې عمره شروع کول یې صحیح دي (ځکه کله چې هغه د عمرې احرام وتړی، نو عمره کول یې صحیح سو، خو بیرته یې پرېښووله نو ځکه به قضاء هم پر واجب وي).

فأشبه المحصر الخ او دا سړی د مُحصر مشابه سو، محصر هغه سړي ته ویل کیږي چې احرام وتړي، خو د دښمن یا د یو بل شي په وجه د حج له افعالو څخه منع کړی سي، نو پر محصر قرباني مع القضاء واجب ده (یعني یوه قرباني به کوي او چې کله احصار ختم سي نو د حج قضاء به هم راوړي)، همدا ډول به د عمرې پر پرېښوونکي هم قرباني مع القضاء واجب وي.



بَابُ التَّمَتُّعِ

(دا) باب د (حجِ) تمتع (په بيان کي) دی

تشريح: تر بابُ القران لاندي ذکر سوه چي زمونږ په نيز حجِ قِران تر ټولو افضل دی، نو ځکه يې هغه تر تمتع مخکي بيان کړی، اوس تمتع بيانوي، ښکاره دي وي چي د تمتع لغوي معنیٰ ده: فايده اخيستل، ګټه پورته کول، هغه کمزور فايده او ګټه وي، او په اصطلاح کي د تمتع مفهوم دا دی چي يو سړی د حج په مياشتو کي له ميقات څخه د عمرې احرام وتړي، مکې ته داخل سي، او د عمرې تر بشپړتيا وروسته احرام خلاص کړي، او تر هغه وروسته د حج په ورځو کي د حج لپاره دويم احرام وتړي، نو ځرنګه چي دا سړی په يوه سفر کي له حج او عمرې دواړو څخه فايده اخيستونکی سو، نو ځکه د هغه دې فعل ته تمتع ويل کيږي، او هغه ته متمتع ويل کيږي، د تمتع د ثبوت لپاره تر ټولو ښکاره دليل دا آيت دی: فمن تمتع بالعمرة إلى الحج... الخ.

د تمتع شرعي حيثيت

اَلتَّمَتُّعُ أَفْضَلُ مِنَ الْإِفْرَادِ تمتع له افراد څخه افضل دی وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ الْإِفْرَادَ أَفْضَلُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله روايت دی چي افراد افضل دی لِأَنَّ الْمُتَمَتِّعَ سَفَرُهُ وَاقِعٌ لِعُمْرَتِهِ ځکه چي د تمتع کونکي سفر د عمرې لپاره واقع کيږي وَالْمُفْرِدَ سَفَرُهُ وَاقِعٌ لِحَجَّتِهِ او د افراد کونکي سفر د حج لپاره واقع کيږي وَجْهُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ أَنَّ فِي التَّمَتُّعِ جَمْعًا بَيْنَ الْعِبَادَتَيْنِ د ظاهر روايت وجه دا ده چي په تمتع کي دوه عبادتونه سره جمع کيږي فَأَشْبَهَ الْقِرَانَ نو دا د قران سره مشابه سو ثُمَّ فِيْهِ زِيَادَةُ نُسُكٍ بيا په تمتع کي يو نسک (عبادت) زيات دی وَهِيَ إِرَاقَةُ الدَّمِ او هغه وينې بيول (يعني قرباني کول) دي وَسَفَرُهُ وَاقِعٌ لِحَجَّتِهِ او د متمتع سفر د حج لپاره واقع کيږي وَإِنْ تَخَلَّلَتِ الْعُمْرَةُ که څه هم په مينځ کي عمره راځي لِأَنَّهَا تَبَعُ الْحَجِّ ځکه چي عمره د حج تابع ده كَتَخَلُّلِ السُّنَّةِ بَيْنَ الْجُمُعَةِ وَالسَّعْيِ إِلَيْهَا لکه ځرنګه چي د جمعي د لمانځه او هغې ته د تګ په مينځ کي سنت راځي.

اللغات: ﴿إراقة﴾ بيول. ﴿نسك﴾ عبادت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د معتمد قول او د معتبر مذهب پر بنسټ تمتع له افراد څخه افضل او غوره دی. لېکن په نوادر کي د امام اعظم رَحِمَهُ الله يو روايت دا دی چي حجِ افراد له تمتع څخه افضل دی، د دې روايت دليل دا دی چي د متمتع سفر د عمرې لپاره وي، ځکه چي هغه له ميقات څخه مخکي د عمرې احرام تړي، او بيا چي مکې ته ولاړ سي، نو اول د عمرې افعال اداء کوي، او عمره سنت ده. د دې په مقابل کي د مفرد سفر د حج لپاره وي، ځکه چي هغه له ميقات څخه د حج احرام تړي، او کله چي مکې ته ورسيږي، نو د حج افعال اداء کوي، او حج فرض دی، او ښکاره ده

چې کوم سفر د فرضو لپاره وي، دا تر هغه سفر ډېر افضل او غوره دی کوم چې د سنت لپاره وي. نو په دې حواله سره به افراد تر تمتع افضل وي.

وجه ظاهر الرواية الخ د ظاهر روايت دليل دا دی چې د قران په شان په تمتع کې هم دوه عبادتونه دي. او بيا په تمتع کې بل زيات نسک يعني قرباني هم سته. نو څکه به د دوو عبادتونو په اجتماع او د قرباني په اضافې سره تمتع تر افراد افضل او غوره وي، او څرنګه چې دا د قران په معنیٰ سره دی، او قران افضل دی، نو تمتع به هم افضل او غوره وي.

وسفره واقع الخ د نوادر د روايت جواب ورکوي فرمايي چې د متمتع سفر هم د حج لپاره دی، که څه هم په مينځ کې عمره راسي، څکه چې عمره د حج تابع ده. لکه د جمعې د لمانځه او د سعی إلى الجمعه په مينځ کې چې سنت راځي. نو دا نه ويل کيږي چې دا سعی د سنت و طرف ته دي، بلکې دا ويل کيږي چې دا سعی د جمعې د لمانځه و طرف ته دي، همدا شان به د متمتع سفر هم د حج لپاره وي، که څه هم د سفر او حج په مينځ کې عمره راسي.

د متمتع د دوو قسمونو بيان

وَالْمُتَمَتِّعُ عَلَى وَجْهَيْنِ او متمتع پر دوه قسمه دی مُتَمَتِّعٌ بِسَوْقِ الْهَدْيِ يو هغه چې هدی بيايي وَمُتَمَتِّعٌ لَا يَسُوقُ الْهَدْيَ او بل هغه چې هدی نه بيايي وَمَعْنَى التَّمَتُّعِ التَّرَفُّقُ بِأَدَاءِ النُّسُكَيْنِ فِي سَفَرٍ وَاحِدٍ او د تمتع معنیٰ ده: په يوه سفر کې د دوو عبادتونو په اداء کولو سره نفع پورته کول (يعني په يوه سفر کې عمره او حج دواړه کول) مِنْ غَيْرِ أَنْ يُلِمَّ بِأَهْلِهِ بَيْنَهُمَا إِلْمَامًا صَحِيحًا بغير له دې شخصه چې د دواړو په مينځ کې د خپل أهل و عيال سره صحيح المام وکړي وَيَدْخُلُهُ اخْتِلَافَاتٌ او په دې تعريف کې ډېر اختلافات داخل دي نُبَيِّنُهَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چې هغه به موږ انشاء الله بيان کړو.

اللغات: ﴿يسوق﴾ بيول، شړل. ﴿ترفق﴾ آساني او فايده حاصلول. ﴿يلم﴾ د افعال مضارع ده: خپل وطن ته واپس راتلل (راستنېدل).

تشريح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سئ چې د إلمام معنیٰ ده: د عمرې تر احرام تړلو وروسته خپل وطن ته راتلل بغير له دې شخصه چې احرام باقي وساتل سي، بيا المام پر دوه قسمه دی: (۱) المام فاسد، (۲) المام صحيح. المام فاسد هغه ته ويل کيږي چې متمتع مخکې د هدی شاروی بېولی وي. بيا يې المام کړی وي (دې ته المام فاسد څکه ويل کيږي چې د هدي د بېولو په وجه اول احرام نه سي ختمولای، لهذا که څه هم خپل کور او وطن ته راسي نو دا به ويل کيږي چې خپل کور ته راغلی نه دی، نو څکه دې ته المام فاسد ويل کيږي)، او المام صحيح هغه دی چې مخکې يې د هدی شاروی بيولی نه وي.

صورت د مسئلې: دا دی چې د متمتع دوه قسمونه دي: (۱) يو هغه متمتع دی چې سوق د هدي وکړي (يعني له ميقات څخه هدی واخلي او د ځان سره يې بوزي)، او (۲) دويم هغه متمتع دی چې هدی نه بوزي (يعني له ميقات څخه هدی د ځان سره نه بوزي بلکې وروسته يې رانيسي او ذبحه يې کړي)، او د تمتع شرعي او اصطلاحي معنیٰ ده: "په يوه سفر کې د دوو عبادتونو په جمع کولو سره فايده او نفع اخيستل، او د دې دوو عبادتونو په مينځ کې به خپل وطن کې صحيح المام نه کول"، صاحب د هدايې فرمايي: د تمتع په تعريف کې ډېر اختلاف دی، چې هغه به موږ انشاء وروسته بيان کړو.

د تمتع طريقه

وَصِفَتُهُ أَنْ يَبْتَدِئَ مِنَ الْمِيقَاتِ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ او د تمتع طريقه دا ده چي متمتع د حج په مياشتو كي له ميقات څخه شروع وكړي فَيُحْرِمَ بِالْعُمْرَةِ نو د عمرې احرام وتړي(يعني د تمتع طريقه دا ده چي متمتع د حج په مياشتو كي له ميقات څخه د عمرې احرام شروع كړي) وَيَدْخُلَ مَكَّةَ او مكې ته داخل سي فَيَطُوْفَ لَهَا وَيَسْعٰى او د عمرې لپاره طواف او سعى وكړي وَيَحْلِقَ أَوْيُقَصِّرَ او حلق يا قصر وكړي وَقَدْ حَلَّ مِنْ عُمْرَتِهِ او له خپلي عمرې څخه حلال سي وَهٰذَا هُوَ تَفْسِيْرُ الْعُمْرَةِ او همدا تفسير د عمرې دی.

تشريح: مخكي معلومه سوه چي په تمتع كي دوه عبادتونه اداء كيږي: عمره او حج، اول عمره كيږي، نو په دې عبارت كي د عمرې طريقه را ښيي چي په عمرې كي به څلور كاره كيږي: (۱) د حج په مياشت كي د عمرې احرام تړل، (۲) اوه (۷) شوطه طواف كول (۳) د صفا او مروه په مينځ كي اوه (۷) شوطه سعى كول، (۴) تر هغه وروسته حلق يا قصر كول، او حلالېدل.

د عمرې طريقه

وَكَذٰلِكَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُفْرِدَ بِالْعُمْرَةِ او همدا ډول چي كله يو څوك اراده وكړي چي يوازي به عمره كوي فَعَلَ مَا ذَكَرْنَا نو هغه دې وكړي كوم چي موږ ذكر كړل هٰكَذَا فَعَلَ ❶ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ عُمْرَةِ الْقَضَاءِ همدارنګه نبي ﷺ په قضائي عمره كي وكړل وَقَالَ مَالِكٌ: لَا حَلْقَ عَلَيْهِ او امام مالك رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر عمره كونكي حلق نسته إِنَّمَا الْعُمْرَةُ الطَّوَافُ وَالسَّعْيُ عمره خو صرف طواف او سعي (ته ويل كيږي) وَحُجَّتُنَا عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا او د امام مالك په خلاف هغه حديث حجت دی كوم چي موږ روايت كړی وَقَوْلُه تَعَالىٰ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ [الفتح: ۲۷] نَزَلَتْ فِيْ عُمْرَةِ الْقَضَاءِ او د الله تعالىٰ (دا) قول محلقين رؤسكم د قضائي عمرې په باره كي رانازل سو وَلِأَنَّهَا لَمَّا كَانَ لَهَا تَحَرُّمٌ بِالتَّلْبِيَةِ كَانَ لَهَا تَحَلُّلٌ بِالْحَلْقِ او څكه كله چي د عمرې تحريم په تلبيه سره دی نو په حلق سره به د هغې تحليل كيږي(يعني كله چي د تلبيې په ذريعه د عمرې احرام تړل كيږي نو د حلق په ذريعه به يې حلالول هم پكار وي) كَالْحَجِّ لكه په حج كي (چي د حلق يا د قصر په ذريعه حلاليږي).

تشريح: فرمايي د عمرې كوم كيفيت او كومه طريقه چي د متمتع ده. هغه طريقه د يوازي عمره كونكي سړي لپاره هم ده. يعني هغه سړی چي فقط د عمرې په غرض احرام وتړي، او مكې مباركي ته ولاړ سي، هغه به هم مخكني څلور اعمال كوي: (۱) د عمرې احرام به تړي، (۲) طواف به كوي، (۳) سعى به كوي، (۴) حلق يا قصر به كوي، څكه چي نبي ﷺ هم په عمرةُ القضاء كي دغه ډول طواف. سعى او حلق وكړل، امام مالك رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر عمره كونكي حلق نسته. او عمره خو صرف طواف او سعى ته ويل كيږي، لېكن په عمرةُ القضاء كي د نبي ﷺ معمول د هغه په خلاف حجت دی، څكه چي نبي ﷺ په عمرةُ القضاء كي له طواف او سعى څخه ماسوا حلق هم كړی وو، همدارنګه په

---

❶ تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب من ساق البدن معه، حديث رقم: ۱۶۹۱.

محققين رڅ پکم ومقصرين کي هم د عمرۃ القضاء په باره کي حلق او قصر وارد سوی دی. چي له دې شخه هم په عمره کي د حلق کول ضروري معلوميږي.

وإنما الخ په دې لړ کي دريم دليل دا دی چي کله په تلبيې سره عمره کونکی محرم کيږي، نو په حلق يا قصر سره به هغه ته حلالېدل پکار وي، لکه په حج کي چي حاجي په تلبيه سره محرم کيږي، او په حلق يا قصر سره حلاليږي (همدا رول په عمره کي هم په حلق يا قصر سره حلالېدل پکار دي).

د طواف په شروع کي د تلبيې د ختمولو حکم

وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ إِذَا ابْتَدَأَ بِالطَّوَافِ او تلبيه به پرېږدي چي کله طواف شروع کړي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: كُلَّمَا وَقَعَ بَصَرُهُ عَلَى الْبَيْتِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي هر کله د هغه نظر پر کعبې (مبارکي) پرېوځي (نو تلبيه به پرېږدي) لِأَنَّ الْعُمْرَةَ زِيَارَةُ الْبَيْتِ ځکه چي عمره خو د کعبې زيارت دی (يعني د کعبې زيارت ته ويل کيږي) وَتَتِمُّ بِهِ او په نظر پرېوتلو سره زيارت پوره کيږي وَلَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ قَطَعَ التَّلْبِيَةَ حِينَ اسْتَلَمَ الْحَجَرَ او زموږ دليل دا دی چي نبي ﷺ په قضائي عمره کي تلبيه هغه وخت پرېښوله څه وخت چي يې حجرِ اسود مچ کړه وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الطَّوَافُ او ځکه چي مقصود طواف دی فَيَقْطَعُهَا عِنْدَ افْتِتَاحِهِ نو ځکه به د طواف د شروع کولو په وخت کي تلبيه پرېږدي وَلِهَذَا يَقْطَعُهَا الْحَاجُّ عِنْدَ افْتِتَاحِ الرَّمْيِ همدا وجه ده چي حاجي د رمي د شروع کولو په وخت کي تلبيه پرېږدي.

اللغات: ﴿يقطع﴾ د فتح مضارع ده: پرېکول، ختمول، پرېښوول.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي عمره کونکي به د طواف د شروع کولو په وخت کي سملستي تلبيه پرېږدي، او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله د هغه نظر پر کعبې مبارکي پرېوځي، نو سمدستي به تلبيه پرېږدي، د امام مالک رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي عمره د کعبې زيارت کولو ته ويل کيږي، او د کعبې زيارت په نظر پرېوتلو سره پوره کيږي، نو ځکه به پر کعبې مبارکي په نظر پرېوتلو سره سملستي تلبيه پرېږدي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي نبي ﷺ د عمرۃ القضاء په وخت کي تلبيه هغه وخت پرېښووله، کله چي يې حجر اسود مچ کړه، نو ثابته سوه چي د طواف شروع کولو په وخت کي به تلبيه پرېږدي، نه پر کعبې د نظر پرېوتلو په وخت کي، دويم دليل دا دی چي د عمرې مقصود طواف دی، نو ځکه به د طواف د شروع کولو په وخت کي تلبيه پرېږدي، همدا وجه ده چي کله په حج کي هم حاجي د طوافِ زيارت تياري شروع کړي يعني رمي شروع کړي نو سملستي به تلبيه پرېږدي.

د متمتع لپاره تر عمرې وروسته اعمال

قَالَ: وَيُقِيمُ بِمَكَّةَ حَلَالًا فرمايي: او په مکه کي به حلال پاته سي لِأَنَّهُ حَلَّ مِنَ الْعُمْرَةِ ځکه چي هغه له عمرې شخه حلال سو قَالَ: فَإِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ مِنَ الْمَسْجِدِ بيا چي کله يوم ترويه سي نو له مسجد حرام شخه دې د

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء متى يقطع التلبية في العمرة، حديث رقم: ٩١٩.

حج احرام وتړي وَالشَّرْطُ أَنْ يُحْرِمَ مِنَ الْحَرَمِ او له حرم څخه احرام تړل شرط دي أَمَّا الْمَسْجِدُ فَلَيْسَ بِلَازِمٍ او له مسجد څخه تړل لازم نه دي وَهٰذَا لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى الْمَكِّيِّ او دا ځکه چي دا سړی د مکّي په حکم کي دی وَمِيقَاتُ الْمَكِّيِّ فِي الْحَجِّ الْحَرَمُ او د مکّي ميقات په حج کي حرم دی عَلَى مَا بَيَّنَّا لکه څرنګه چي (دا خبره) موږ بيان کړه وَفَعَلَ مَا يَفْعَلُهُ الْحَاجُّ الْمُفْرِدُ او دا سړی دي هغه افعال وکړي کوم چي يې مفرد بالحج کوي لِأَنَّهُ مُؤَدٍّ لِلْحَجِّ ځکه چي هغه د حج اداء کونکی دی إِلَّا أَنَّهُ يَرْمُلُ فِي طَوَافِ الزِّيَارَةِ لېکن هغه به په طواف زيارت کي رمل کوي وَيَسْعَى بَعْدَهُ او تر طواف وروسته به سعی کوي لِأَنَّ هٰذَا أَوَّلُ طَوَافٍ لَهُ فِي الْحَجِّ ځکه چي دا په حج کي د هغه اول طواف دی بِخِلَافِ الْمُفْرِدِ په خلاف د مفرد لِأَنَّهُ قَدْ سَعَى مَرَّةً ځکه چي هغه يو وار سعی کړې ده.

تشريح: مسئله: دا ده چي متمتع کله د عمرې له افعالو څخه فارغه سي، نو اوس هغه ته حکم دا دی چي احرام دي خلاص کړي، او د حلالوالي په حالت کي دي په مکه کي پاته سي، بيا چي کله يوم ترويه يعني د ذی الحجې اتمه ورځ راسي، نو د حج احرام دي وتړي، دا احرام به له حرم څخه تړي، ځکه چي له حرم څخه د دې احرام تړل شرط دی، او له مسجد حرم څخه تړل افضل دي، همدارنګه له يوم ترويه څخه مخکي احرام تړل افضل دي، دليل دا دی چي دا سړی د مکّې د اوسېدونکي سړي په حکم کي دی، او په حج کي دننه د مکّې د اوسېدونکي ميقات حرم دی، لکه مخکي چي د مواقيتو په بيانو کي دا خبره ذکر سوه، نو که دا سړی د حرم په هره حصه کي احرام وتړي، صحيح دي، خو له مسجد حرام څخه تړل افضل دي.

وفعل الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا متمتع دي هغه افعال وکړي، کوم چي يې مفرد بالحج کوي، ځکه چي اوس هغه د حج افعال اداء کوي، هو! دومره فرق سته چي دا سړی دي په طواف زيارت کي رمل وکړي، او تر هغه وروسته دي د صفا او مروه په مېنځ کي سعی وکړي، ځکه چي په حج کي دا د هغه اول طواف دی، په خلاف د مفرد چي هغه مخکي په طواف قدوم کي سعی کړې ده. او سعی صرف يو ځل مشروع ده.

که متمتع منیٰ ته تر تللو مخکي طواف وکړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ كَانَ هٰذَا الْمُتَمَتِّعُ بَعْدَمَا أَحْرَمَ بِالْحَجِّ طَافَ وَسَعَى قَبْلَ أَنْ يَرُوحَ إِلَى مِنًى او که دغه متمتع د حج د احرام تر تړلو وروسته (او) منیٰ ته تر روانېدلو مخکي طواف او سعی وکړي لَمْ يَرْمُلْ فِي طَوَافِ الزِّيَارَةِ وَلَا يَسْعَى بَعْدَهُ (نو) په طواف زيارت کي به رمل نه کوي او نه به تر هغه وروسته سعی کوي لِأَنَّهُ قَدْ أَتَى بِذٰلِكَ مَرَّةً ځکه چي هغه يو وار (رمل او سعی) وکړل وَعَلَيْهِ دَمُ التَّمَتُّعِ او پر هغه د تمتع قرباني واجب ده لِلنَّصِّ الَّذِي تَلَوْنَاهُ د هغه آيت په وجه کوم چي موږ تلاوت کړی فَإِنْ لَمْ يَجِدْ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ بيا که هغه (د قرباني ځاروی) پيدا نه کړي نو د حج (په وخت) کي دي درې روژې ونيسي وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ او اووه (۷) روژې دي (هغه وخت) ونيسي چي کله خپل أهل و عيال ته راستن سي عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي بَيَّنَّاهُ فِي الْقِرَانِ د هغه طريقې مطابق کوم چي په موږ په حج قران کي بيان کړه

وَإِنْ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ ثُمَّ اعْتَمَرَ او كه په شوال كې درې روژې ونيسي بيا عمره وكړي لَمْ يُجْزِهِ عَنِ الثَّلَاثَةِ نو دا د تمتع د دريو روژو لپاره كافي نه دي لِأَنَّ سَبَبَ وُجُوبِ هٰذَا الصَّوْمِ التَّمَتُّعُ ځكه د دې روژو د واجبېدلو سبب تمتع ده لِأَنَّهُ بَدَلٌ مِنَ الْهَدْيِ ځكه چې دا روژې د هدي (دم) بدل دي وَهُوَ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ غَيْرُ مُتَمَتِّعٍ او هغه په دې حالت كې متمتع نه دى فَلَا يَجُوزُ أَدَاؤُهُ قَبْلَ وُجُودِ سَبَبِهِ نو د سبب تر وجود مخكې به د روژو اداء كول جائز نه وي وَإِنْ صَامَهَا بِمَكَّةَ بَعْدَمَا أَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ او كه د عمرې د احرام تر تړلو وروسته (او) تر طواف مخكې روژې ونيسي جَازَ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز جائز دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دى لَهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ [البقرة: ۱۹۶] د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د الله تعالیٰ (دا) قول دى: فصيام ثلاثة أيام في الحج وَلَنَا أَنَّهُ أَدَاءٌ بَعْدَ انْعِقَادِ سَبَبِهِ او زموږ دليل دا دى چې متمتع روژې د سبب تر وجود وروسته اداء كړې وَالْمُرَادُ بِالْحَجِّ الْمَذْكُورِ فِي النَّصِّ وَقْتُهُ او په نص كې چې كوم حج ذكر سوى دى له هغه څخه د حج وخت مراد دى عَلَىٰ مَا بَيَّنَّا لكه څرنگه چې موږ (دا خبره) بيان كړه وَالْأَفْضَلُ تَأْخِيرُهَا إِلَىٰ آخِرِ وَقْتِهَا وَهُوَ يَوْمُ عَرَفَةَ او افضل تر آخري وخته پورې د روژو ځنډول دي او (آخري وخت) د عرفات ورځ ده لِمَا بَيَّنَّا فِي الْقِرَانِ د هغه دليل په وجه كوم چې موږ په قران كې بيان كړى.

اللغات: ﴿يروح﴾ د نصر مضارع ده: روانېدل. ﴿وجه﴾ صورت، طريقه. ﴿انعقاد﴾ د انفعال مصدر دى: منعقد كېدل، واقع كېدل.

تشريح: مخكې ذكر سوه چې متمتع به له عمرې څخه تر فراغت وروسته احرام خلاص كړي. او په مكه كې به په حلال حالت كې مقيم پاته سي، او كله چې د ذو الحجې اتم تاريخ سي. نو د حج احرام به وتړي. نو اوس كه متمتع د حج احرام وتړى، او منیٰ ته تر تللو مخكې يې طواف قدوم او سعى وكړه، نو هغه به په طواف زيارت كې نه رمل كوي. او نه به تر هغه وروسته سعى كوي، برابره ده كه په طواف قدوم كې يې رمل كړى وي، كه نه وي. تر طواف زيارت وروسته به سعى ځكه نه كوي، چې هغه خو تر طواف قدوم وروسته يو وار سعى وكړه، نو تر طواف زيارت وروسته به سعى نه كوي، او په طواف زيارت كې به رمل ځكه نه كوي چې رمل په داسې طواف كې مشروع دى چې تر هغه وروسته سعى وي، او دلته تر طواف زيارت وروسته سعى نسته، ځكه چې سعى يو وار وسوه، نو ځكه به په طواف زيارت كې رمل نه كوي.

وعليه دم التمتع الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر متمتع د تمتع قرباني واجب ده. دليل دا آيت دى: فمن تمتع بالعمرة إلى الحج فما استيسر من الهدى، او كه متمتع د هدي پر قرباني قادر نه وو. نو د قارن په څېر به د حج په موسم كې درې روژې ونيسي، او اووه روژې به له حج څخه تر فراغت وروسته ونيسي، تفصيل او دليل په حج قران كې تېر سو.

فإن صام الخ د دې حاصل دا دى كه د يو سړي اراده د حج تمتع وه، او د شوال په مياشت كې يې درې روژې ونيولې. بيا يې د عمرې احرام وتړى، او قرباني يې پيدا نه كړه، نو دا درې روژې د تمتع د قربانۍ لپاره كافي نه دي. بلكې د عمرې تر احرام وروسته به دويم وار درې روژې نيسي، ځكه چې دا درې ورځې د تمتع د قربانۍ په بدله كې دي، او تمتع د عمرې

تر احرام وروسته شروع کیږي، نو تر احرام مخکې د روژو سبب پیدا نه سو، نو ځکه به دا روژې کافي نه وي، ځکه چې تر سبب مخکې د هغو وجود نه سي راتلای.

وإن صامها الخ او که تر احرام وروسته او تر طواف مخکې هغه درې روژې ونیولې، نو زموږ په نېز جائز دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا آیت دی: فصيام ثلاثة أيام في الحج. په دې توګه چې په دې آیت کي د حج په حالت کي د روژو نیولو ذکر سوی دی، او د حج حالت هغه وخت شروع کیږي چې کله د حج احرام وتړل سي، نو ځکه به د حج د احرام تر تړلو وروسته دا روژې جائز وي، د عمرې تر احرام وروسته به جائز نه وي.

ولنا الخ زموږ دلیل دا دی چې دې سرې د سبب یعني د تمتع تر وجود وروسته درې روژې اداء کړي دي، او تر سبب وروسته اداء کول شرعاً صحیح دي، نو ځکه به د عمرې تر احرام وروسته دا روژې هم معتبري او صحیح وي.

والمراد بالحج الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي فرمایي چې په دې آیت کي له حج څخه مراد نفسِ حج نه دی، بلکي د حج وخت مراد دی، او د حج وخت شوال، ذوالقعده او د ذو الحجې لس ورځي دي، نو په پورتني صورت کي هم د حج په وخت کي دا روژې راغلې، لېکن افضل دا ده چې دا روژې تر آخري وخته پوري وځنډول سي، چې د دې روژو آخري روژه د عرفات په ورځ راسي، په دې توګه چې د ذو الحجې په ۷، ۸ او ۹ دي روژه ونیسي، ځکه دا اُمید سته چې قرباني به په لاس ورسي، لکه مخکې چې هم په باب القِران کي دا خبره په تفصیل سره ذکر سوه.

د متمتع لپاره د هدي د بېولو حکم او طریقه

وَإِنْ أَرَادَ الْمُتَمَتِّعُ أَنْ يَسُوقَ الْهَدْيَ او که متمتع وغواړي چې د هدی څاروی بوزي أَحْرَمَ وَسَاقَ هَدْيَهُ نو احرام دي وتړي او خپل هدی دي بوزي وَهٰذَا أَفْضَلُ او دا افضل دي لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● سَاقَ الْهَدَايَا مَعَ نَفْسِهِ ځکه نبي ﷺ (هم) د خپل ځان سره د هدي څارویان بوتله وَلِأَنَّ فِيهِ اِسْتِعْدَادًا وَمُسَارَعَةً او ځکه چې په هدی بېولو کي د (عبادت لپاره) تیارېدل او تېزي کول دي فَإِنْ كَانَتْ بَدَنَةً قَلَّدَهَا بِمَزَادَةٍ أَوْ نَعْلٍ بیا که هدی بدنه وي نو هغې ته دي د څرمني د توکرې (توتې) طوق واچوي یا دي د څپلی (نال) طوق ور واچوي لِحَدِيثِ ● عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حدیث په وجه عَلَى مَا رَوَيْنَاهُ لکه څرنګه چې موږ (مخکې) روایت کړی وَالتَّقْلِيدُ أَوْلَى مِنَ التَّجْلِيلِ او طوق اچول ډېر غوره دي تر جُل (خورجین) اچولو لِأَنَّ لَهُ ذِكْرًا فِي الْكِتَابِ ځکه چې د طوق اچولو ذکر په قرآن کي سته وَلِأَنَّهُ لِلْإِعْلَامِ او ځکه چې طوق اچول د خبر ورکولو لپاره دي وَالتَّجْلِيلُ لِلزِّينَةِ او جُل اچول د ښکلا لپاره دي وَيُلَبِّي ثُمَّ يُقَلِّدُ او متمتع به تلبیه ووایي بیا به طوق ور واچوي لِأَنَّهُ يَصِيرُ مُحْرِمًا بِتَقْلِيدِ الْهَدْيِ وَالتَّوَجُّهِ مَعَهُ ځکه چې هغه هدي ته په طوق اچولو او د هدی سره په روانېدلو محرم کیږي عَلَى مَا سَبَقَ لکه

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب من ساق البدن معه، حديث رقم: ۱۶۹۱.

● تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب المناسک، باب من بعث هديه و أقام، حديث رقم: ۱۷۵۹.

مخکي چي (دا بيان) تېر سو وَالْأَوْلَى أَنْ يَعْقِدَ الْإِحْرَامَ بِالتَّلْبِيَةِ نو ځکه غوره دا ده چي په تلبيه سره احرام وتړي وَيَسُوقَ الْهَدْيَ او هدی به وشړي (بوزي) وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ أَنْ يَقُودَهَا او د هدي شړل (بېول) افضل دي تر دې چي کش يې کړي لِأَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْرَمَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ وَهَدَايَاهُ تُسَاقُ بَيْنَ يَدَيْهِ ځکه نبي ﷺ په ذوالحليفه کي احرام وتړی او د نبي ﷺ هدايا د نبي ﷺ مخته شړل کېدې (بېول کېدې) وَلِأَنَّهُ أَبْلَغُ فِي التَّشْهِيرِ او ځکه چي دا طريقه (د هدي) په مشهوره کولو کي زياته بليغه ده إِلَّا أَنْ لَا تَنْقَادَ مګر که هدی غاړه نه کښېږدي (بلکي شوخي کوي) فَحِينَئِذٍ يَقُودُهَا نو په دې وخت کي به يې کشوي.

اللغات: ﴿هدايا﴾ جمع د هدي ده: هغه څاروی چي د حج په وخت کي په حرم کي قرباني کيږي. ﴿استعداد﴾ د استفعال مصدر دی: تياري کول. ﴿مسارعة﴾ د مفاعلې مصدر دی: تېزي او چابکي کول. ﴿مزادة﴾ بدنی، هغه لوښی چي د سفر سامان پکښي اېښوول کيږي. ﴿نعل﴾ څپلی، نال (هغه اوسپنيزه حلقه چي د آس او غويي او د نورو پر ښونګرو لګيږي). ﴿تقليد﴾ د تفعيل مصدر دی: طوق ور اچول، رسی ور اچول، غاړکی ور اغوستل. ﴿إعلام﴾ د افعال مصدر دی: خبر ورکول. ﴿يقود﴾ د نصر مضارع ده: کشول. ﴿تساق﴾ مضارع مجهوله صيغه ده: شړل، بېول. ﴿بين يديه﴾ مخته. ﴿لا تنقاد﴾ د انفعال نفي صيغه ده: غاړه اېښوول، تابع کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله متمتع هدی يې بېول وغواړي، نو هغه ته پکار ده چي احرام وتړي او هدی روانه کړي، دا طريقه يعني د ځان سره د هدي بېول افضله دي، ځکه چي نبي ﷺ په حجة الوداع کي خپلي هدايا د خپل ځان سره بېولي وې، نو د نبي ﷺ په اقتداء کي هر حاجي ته هدی بېول افضل او غوره دي، په دې لړ کي دويم دليل دا دی چي د خپل ځان سره د هدې په بېولو کي د خير او د عبادت تياري ده او د واجب په اداء کولو کي تېزي او تلوار دی، او دا دواړه شرعاً خوښ شيان دي.

فإن كانت الخ اوس که د هدي څاروی اوښ يا غوا وي، نو د هغه غاړي ته دي د څرمني د ټوټې يا د څپلی د ټوکړې طوق ور واچوي، لکه مخکي چي حديث د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په دې باره کي تېر سو: كنت أفتل قلائد هدی رسول الله ﷺ ... الخ.

والتقليد أولى الخ فرمايي هدي ته طوق ور اغوستل غوره دي تر دې چي پر هدي ځل (خورجين) واچوي، ځکه چي د طوق ذکر په قرآن کي هم سوی دی، په آيت کي راځي: والهدی والقلائد، دويمه خبره دا ده چي د طوق ور اچول صرف دا خبر ورکوي چي دا څاروی د هدي دی، لېکن ځل د ښکلا لپاره هم پر اچول کيږي، او ډېر ځله د يخ او د ګرمی لیري کولو لپاره هم پر اچول کيږي، لهذا تجليل خاص د هدي د څاروي د خبر ورکولو لپاره نه سو، نو ځکه به تقليد غوره او افضله وي.

ويلبي ثم الخ مخکي دا بيان تېر سو چي که يو سړی هدي ته طوق ور واچوي او د احرام په نيت د هغې سره روان سي. نو احرام تړل کيږي، يعني هغه محرم کيږي، نو په دې وجه غوره دا ده چي د تلبيې په ذريعه احرام وتړي، ځکه چي تلبيه اصل ده، او تر هغه وروسته دي طوق ور واچوي او روان دي سي، نو په دې توګه به د تلبيې په ذريعه احرام هم وتړل سي، او طوق به هم ور واچول سي.

ويسوق الهدى الخ يو د هدي سَوْق يعني شړل او بيول دي، او بل قَوْد او قِيَادَة يعني د هدي کشول دي. "شړل" دا دي چې هدى مخته روانه وي، او محرم د شا د خوا په پسې وي او شړي يې. "کشول" دا دي چې هدى د محرم شاته وي. او محرم يې را کشوي. نو فرمايي چې د هدي شاړوي د شا له طرفه شړل (هشه کول) او بيول غوره دي د هغه له کشولو څخه. ځکه کله چې رسول الله ﷺ له ذوالحليفه څخه احرام وتړى، نو د نبي ﷺ د هدي شاړويان د نبي ﷺ مخته شړل کېدل. دويم دليل دا دى چې د هدي په شړلو او بيولو سره هدى په عوامو کې مشهوره کېږي، او په دې سره هر سړي ته دا خبره معلومېږي چې دا د هدي شاړوى دى (نو هيڅ غل او ډاکو به هيڅ ډول کار هم نه په لري، او که ورک سي نو بېرته به يې خلک مالک ته سپاري)، لهذا شړل افضله دي، هوا که د هدي شاړوى شوخ وي، او په شړلو سره نه ځي، نو په داسې صورت کې يې کشولاى سي، او په دې کې هيڅ حرج نسته.

د هدي او د بدنې د إشعار حکم (او د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَأَشْعَرَ الْبُدْنَةَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ فرمايي: چې محرم دي د بدنې إشعار وکړي د صاحبينو په نېز وَلَا يُشْعِرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام صاحب په نېز به إشعار نه کوي وَيُكْرَهُ الْإِشْعَارُ او إشعار مکروه دى هُوَ الْإِدْمَاءُ بِالْجُرْحِ لُغَةً او إشعار په لغت کې (وېل کيږي) په زخمي کولو سره وينه را ايستل (يعني د بُدنې په بوک کې چاره وهل او وينه را ايستل) وَصِفَتُهُ أَنْ يَشُقَّ سَنَامَهَا او د اشعار طريقه دا ده چې د بدنې بوک څيري کړي بِأَنْ يَطْعَنَ فِي أَسْفَلِ السَّنَامِ مِنَ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ په دې توګه چې له راسته طرف څخه بوک په لاندې حصه کې ووهي قَالُوا: وَالْأَشْبَهُ هُوَ الْأَيْسَرُ متأخرينو وېلي دي: چې زيات مشابه (يعني زيات غوره) چپه طرف دى لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] طَعَنَ فِي جَانِبِ الْيَسَارِ مَقْصُودًا ځکه نبي ﷺ په چپه طرف کې قصداً نېزه وهلې وه وَفِي جَانِبِ الْأَيْمَنِ اتِّفَاقًا او په راسته طرف کې يې اتفاقاً (يعني بېله قصده) نېزه وهلې وه وَيُلَطِّخُ سَنَامَهَا بِالدَّمِ إِعْلَامًا او د هدي بوک دې په وينو ولړي د خبر ورکولو لپاره (چې دا د هدى شاړوى دى) وَهٰذَا الصُّنْعُ مَكْرُوهٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او دا عمل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز مکروه دى وَعِنْدَهُمَا حَسَنٌ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ښه دى وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ سُنَّةٌ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز سنت دى لِأَنَّهُ مَرْوِيٌّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ځکه چې اشعار له نبي ﷺ او له خلفاء راشدينو څخه (هم) رانقل سوى دى وَلَهُمَا أَنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ التَّقْلِيدِ أَنْ لَا يُهَاجَ إِذَا وَرَدَ مَاءً أَوْ كَلَأً او د صاحبينو دليل دا دى چې د طوق ور اچولو مقصد دا دى چې کله د هدي شاړوى اوبو يا وښو ته راسي نو نه دې بېړل کېږي أَوْ يُرَدُّ إِذَا ضَلَّ يا چې کله ورک سي نو واپس دې کړى سي وَإِنَّهُ فِي الْإِشْعَارِ أَتَمُّ او دا معنىٰ په اشعار کې پوره ده لِأَنَّهُ أَلْزَمُ ځکه چې اشعار (د اوښ سره) لازم (يعني متصل) دى فَمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ يَكُونُ سُنَّةً نو په دې وجه به سنت وي إِلَّا أَنَّهُ عَارَضَهُ جِهَةُ كَوْنِهِ مُثْلَةً خو د اشعار سره د مُثله کېدلو اړخ (هم) معارض سوى دى فَقُلْنَا بِحُسْنِهِ نو

---

[1] تخريج: أخرجه الإمام مالک في الموطاء في كتاب الحج، باب العمل في الهدى حين يساق، حديث رقم: ١٤٥.

ځکه مووږ وويل چې اشعار حسن (يعني غوره) دی وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ أَنَّهُ مُثْلَةٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې اشعار مُثله ده وَأَنَّهُ مَنْهِيٌّ عَنْهُ او له مُثلې څخه منع سوې ده (نو ځکه به اشعار مکروه وي) وَلَوْ وَقَعَ التَّعَارُضُ فَالتَّرْجِيْحُ لِلْمُحَرِّمِ او که (د حُرمت او اباحت په مينځ کې) تعارض واقع سي نو ترجيح حُرمت لره وي وَإِشْعَارُ[●] النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لِصِيَانَةِ الْهَدْيِ او د نبي ﷺ اشعار د هدي د ساتني لپاره وو لِأَنَّ الْمُشْرِكِيْنَ لَا يَمْتَنِعُوْنَ عَنْ تَعَرُّضِهِ إِلَّا بِهِ ځکه چې مشرکين به په هدی له لاس وهلو څخه نه منع کېدل مګر په اشعار سره (يعني کومه هدی چې به اشعار سوې نه وه مشرکينو به په هغه خامخا کار درلودی يعني هغه به يې ذبحه کوله) وَقِيْلَ: إِنَّ أَبَا حَنِيْفَةَ كَرِهَ إِشْعَارَ أَهْلِ زَمَانِهِ او ويل سوي دي: چې امام صاحب د خپلې زمانې د خلکو لپاره اشعار مکروه کړی دی لِمُبَالَغَتِهِمْ فِيْهِ عَلَى وَجْهٍ يُخَافُ مِنْهُ السِّرَايَةُ ځکه چې هغوی به په اشعار کې دومره مبالغه کوله چې (د زخم) د سرايت کولو ېېره به ځني وه وَقِيْلَ: إِنَّمَا كَرِهَ إِيْثَارَهُ عَلَى التَّقْلِيْدِ او ويل سوي دي: چې اشعار ته پر تقليد ترجيح ورکول مکروه دي.

اللغات: ﴿أشعر﴾ د افعال ماضي ده: اشعار کول. ﴿إدماء﴾ د افعال مصدر دی: وينه را ايستل، په وينه لړل. ﴿جرح﴾ د نصر مصدر دی: زخمي کول، زخم لګول. ﴿يشق﴾ د نصر مضارع ده: څيرل. ﴿سنام﴾ بوک، د اوښ يا غوايي د اوږې راوتلې برخه. ﴿يطعن﴾ د فتح مضارع ده: په نېزه وهل. ﴿أسفل﴾ لاندينی حصه. ﴿لايهاج﴾ د فتح نفي مجهوله ده: شړل، ايستل، پرېشانه کول. ﴿يرد﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: راګرځول، واپس راوړل، بيرته ورکول. ﴿تعرض﴾ د تفعّل مصدر دی: لاس وهنه (يو شي ته ضرر رسول).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که د هدی څاروی بزه يا پسه وي، نو په اتفاق سره د هغه اشعار کول مکروه دي، او که بُلنه يعني اوښ يا غوا وي، نو د صاحبينو په نېز د هغه اشعار کول جائز او ښه دي، او د امام صاحب په نېز د هغه اشعار کول مکروه دي، په لغت کې اشعار دې ته ويل کيږي چې محرم په هدی کې داسي زخم جوړ کړي چې وينه ځني را ووځي، طريقه يې دا ده چې له راسته طرف څخه بوک په لاندي حصه کې په نېزه ووهل سي، او څيري کړل سي، متأخرين علماء فرمايي چې د بوک په چپه طرف کې نېزه وهل غوره دي، ځکه نبي کريم ﷺ په چپه طرف کې قصداً او په اراده نېزه وهلې وه، او په راسته طرف کې يې نابيره او بېله ارادې نېزه وهلې وه، او ښکاره ده چې د نبي ﷺ قصداً عمل به د اُمت لپاره د عمل او تقليد وړ وي.

ويلطخ الخ فرمايي چې د اشعار کولو په وخت کې به په را وتونکو وينو سره د څاروي بوک ولړل سي، چې خلک پوه سي چې دا څاروی د هدي دی.

وعند الشافعي الخ د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز اشعار سنت دی، ځکه چې دا عمل له نبي ﷺ او خلفاء راشدينو څخه راويت سوی دی.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب إشعار البدن و ما تقليده عند الاحرام، حديث رقم: ٢٠٥.

ولهما الخ د صاحبينو دليل دا دی چې د هدي څاروي ته د طوق ور اچولو مقصد دا دی چې خلک د هغه احترام وکړي، او چې کله هغه وښو يا اوبو ته راسي، نو خلک په هغه کار نه ولري، او له وښو يا اوبو څخه يې نه وشړي، او له تقليد څخه بغير په اشعار کې هم دا مقصد په پوره توګه حاصليږي، ځکه چې اشعار هم دا وښ سره لازم دی، يعني د اشعار زخم هم ژر نه جوړيږي، او هر وخت په اوښ کې هغه زخم معلوميږي (ليکن طوق پرېکېدای هم سي)، لهذا اشعار خو سنت کېدل پکار وو، ليکن څرنګه چې په اشعار کې يو ډول د مُثلې معنیٰ هم سته (ځکه څرنګه چې په مُثله کې تکليف ستر همداسي په دې سره هم څاروي په تکليف کيږي)، نو ځکه به سنت نه وي، خو حسن او غوره به خامخا وي.

ولأبي حنيفة الخ د امام صاحب دليل دا دی چې څاروي اشعار کول په حقيقت کې څاروي مُثله کول دي (يعني په دې سره څاروي ته تکليف رسول دي)، او په حديث کې له مثلې څخه منع سوې ده، نو ځکه به اشعار نه سنت وي، او نه حسن، بلکې مکروه به وي، ځکه چې دلته دوه ډوله حديثونه راغله له يوه څخه د اشعار جواز ثابتيږي، او له بل څخه د مُثلې حُرمت ثابتيږي او قاعده دا ده چې کله محرّم او مبيح دواړه جمع سي، نو ترجيح او غوره والي به محرّم لره وي، لهذا د اشعار جواز که څه هم ثابت دی، خو د حُرمت جانب ته به په ترجيح ورکولو سره هغه مکروه وي، او که دا ووېل سي چې کله اشعار مکروه دی، نو بيا نبي ﷺ ولې اشعار وکړی؟ د دې جواب دا دی چې د نبي ﷺ اشعار د هدي د څاروي د حفاظت لپاره وو، ځکه چې مشرکينو او کفارو به هغه څاروی ذبحه کوی چې اشعار سوی به نه وو، خو کله چې به څاروی اشعار سوی وو، نو په هغه به يې لاس نه وهی، نو په دې وجه به د نبي ﷺ هدايا اشعار کېدلې، لهذا کوم عمل چې د مجبوری او ارتيا په وجه صادر سوی وي، هغه سنت نه دی. نو ځکه به اشعار هم سنت نه وي.

وقيل الخ امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې امام صاحب رَحِمَهُ الله د ټولو خلکو اشعار ته مکروه ويلي نه دي، بلکې امام صاحب رَحِمَهُ الله په خپله زمانه کې (د عراق) د خلکو لپاره اشعار مکروه ګرځولی وو، ځکه چې هغوی به په اشعار کې دومره مبالغه کوله چې ډېر ځله به د زخم د سرايت په وجه د هدي د هلاکېدلو خطره پيدا سوه. او بعضي حضراتو فرمايلي دي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز اشعار مکروه نه دی، بلکې مکروه دا دي چې اشعار ته پر تقليد يعني پر طوق اچولو ترجيح ورکړل سي، او تقليد ناقص وګڼل سي، ځکه اصل عمل خو طوق ور اچول دي. نو پر دې به اشعار مخکې کول خلافُ الاولیٰ وي، لهذا په يوه درجه کې ګرځول پکار دي.

د متمتع سائقُ الهدي او غيرِ سائقُ الهدي په تحليل کې فرق

قَالَ: فَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ طَافَ وَسَعٰى فرمايي: بيا چې کله متمتع مکې ته داخل سي نو طواف او سعی دي وکړي وَهٰذَا لِلْعُمْرَةِ او دا طواف او سعی د عمرې لپاره دي عَلٰى مَا بَيَّنَّا فِيْ مُتَمَتِّعٍ لَا يَسُوْقُ الْهَدْيَ لکه مورږ چې د هغه متمتع په باره کې (دا خبره) بيان کړه چې هدی نه بيايي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَتَحَلَّلُ خو دا چې هغه دي نه حلاليږي حَتّٰى يُحْرِمَ بِالْحَجِّ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ تر دې چې په يوم ترويه کې د حج احرام وتړي لِقَوْلِهٖ[1] صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِيْ مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ الْهَدْيَ که په خپل باره کې ماته مخکې دا خبره معلومه وای کوم چې

---

[1] تخريج: أخرجه البخاری فی كتاب الحج، باب تقضی الحائض المناسک كلها إلا الطواف، حديث رقم: ١٦٥١.

وروسته را ته معلومه سوه نو ما به هدی نه بېولې نه وای (یعني کومه خبره چي ما ته وروسته معلومه سوه که اول راته معلومه وای نو ما به هدی نه بېولای) وَلَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً او ما به دا احرام د عمرې احرام جوړ کړی وای وَتَحَلَّلْتُ مِنْهَا او له دې څخه به حلال سوی وای وَهٰذَا يَنْفِي التَّحَلُّلَ عِنْدَ سَوْقِ الْهَدْيِ او دا حدیث د هدي د بېولو په وخت کي د حلالېدلو نفي کوي.

اللغات: ﴿استقبلت﴾ د استفعال ماضي متکلمه ده: (که) ما ته مخکي راغلي وای (که ما ته مخکي معلومه وای). ﴿استدبرت﴾ مخکنی صیغه ده: (کوم چي) وروسته راته راغله (کوم چي وروسته را ته معلوم سوه). ﴿تحللت﴾ مخکنی صیغه ده: احرام به مي خلاص کړی وای.

تشریح: **مسئله:** دا ده چي کله متمتع هدی د ځان سره بوزي، او مکې ته ورسېږي، نو طواف او سعی دي وکړي، او د هغه طواف او سعی به د عمرې لپاره وي، لکه د هدي د نه بېونکي متمتع په باره کي چي موږ دا خبره بیان کړه، چي هغه به هم مکې ته په رسېدلو سره اول د عمرې طواف او سعی کوي، خو هغه په عمره کولو سره حلالېږي. لېکن دا سړی په عمره کولو سره نه حلالېږي، بلکي محرم پاتېږي. او بیا به په یومِ ترویه کي د حج احرام وتړي، ځکه چي نبي ﷺ د حجة الوداع پر موقع دا فرمایلي وو: "که ما ته مخکي د دې خبري علم وای چي د هدي بېول له حلالېدلو څخه انسان منع کوي. نو ما به هدی نه را وستلای، خو څرنګه چي ما اوس هدی را وستې ده. نو ځکه اوس زه نه حلالېږم، او تر یومِ ترویه پوري به محرم پاتېږم، او بیا په یومِ ترویه کي د حج احرام تړم". له دې فرمان څخه دا خبره ښکاره کېږي چي د هدي راوستونکی متمتع د عمرې د افعالو تر اداء کولو وروسته نه حلالېږي.

په یومِ ترویه کي د متمتع لپاره حکم

وَيُحْرِمُ بِالْحَجِّ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ او د ذی الحجې په اتمه ورځ به متمتع د حج احرام وتړي كَمَا يُحْرِمُ أَهْلُ مَكَّةَ لکه د مکې خلک چي احرام تړي عَلٰى مَا بَيَّنَّا لکه مخکي چي (دا خبره) موږ بیان کړه وَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ قَبْلَهُ جَازَ او که تر یوم ترویه مخکي احرام وتړي نو جائز دي وَمَا عَجَّلَ الْمُتَمَتِّعُ مِنَ الْإِحْرَامِ بِالْحَجِّ فَهُوَ أَفْضَلُ او متمتع چي څومره ژر د حج احرام وتړي هغه افضل دي لِمَا فِيهِ مِنَ الْمُسَارَعَةِ وَزِيَادَةِ الْمَشَقَّةِ ځکه په دې کي (د عبادت و طرف ته) تېزي (چابکي) او زيات تکلیف دی وَهٰذِهِ الْأَفْضَلِيَّةُ فِي حَقِّ مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ او دا افضلیت د هغه متمتع په حق کي دی چي هدی یې بېولې وي وَفِي حَقِّ مَنْ لَمْ يَسُقْ او د هغه په حق کي (هم) دي چي هدی یې بیولې نه وي وَعَلَيْهِ دَمٌ او پر دې متمتع (هم) قرباني واجب ده وَهُوَ دَمُ التَّمَتُّعِ او دا قرباني د تمتع ده عَلٰى مَا بَيَّنَّا لکه مخکي چي موږ بیان کړه. وَإِذَا حَلَقَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَدْ حَلَّ مِنَ الْإِحْرَامَيْنِ او کله چي په ورځ د نحر (یعني د ذی الحجې په لسمه ورځ) سر وخریي نو له دواړو احرامونو څخه حلال سو لِأَنَّ الْحَلْقَ مُحَلِّلٌ فِي الْحَجِّ ځکه چي سر خریل حلالونکي دي په حج کي كَالسَّلَامِ فِي الصَّلَاةِ لکه سلام چي په لمانځه کي (حلالونکی دی) فَيَتَحَلَّلُ بِهِ عَنْهُمَا نو په سر خریلو به د حج او د عمرې دواړو له احرام څخه حلالېږي.

اللغات: ﴿يوم التروية﴾ د ذو الحجې اتمه ورځ، ﴿عجل﴾ د تفعيل ماضي ده: تلوار کول.(يو کار ژر کول).
﴿محلّ﴾ احرام ختمونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې دا متمتع به د عمرې تر اداء کولو وروسته د عمرې په احرام کې پاتـه سي، او کله چې د ذو الحجی اتمه يعني ورځ د ترويې سي، نو د مکې د خلگو په ډول به دا سړی هم د حج احرام وتړي، ځکه چې اوس هغه په حرم کې دی او مکّي دی، نو د حج د احرام کوم وخت چې د مکې د خلگو لپاره وي، هغه به د دې لپاره هم وي، او د مکې خلک په يوم ترويه کې د حج احرام تړي، نو دا سړی به هم په يوم ترويه کې احرام تړي، خو که چيري هغه له يوم ترويه څخه مخکې احرام وتړي نو دا هم جائز دي، بلکې افضل دي، ځکه چې په دې کې د نېکۍ او عبادت و طرف ته وړاندې توب او تېزي ده، او په تکليف کې زياتوالی دی، نو په دې وجه به دا احرام مخکې کول افضل وي.

وهذا الخ فرمايي چې په دې افضليت کې د هدی بېونکی او نه بېونکی دواړه برابر دي، يعني د دواړو لپاره د حج په احرام کې تلوار کول افضل دي، او پر دې متمتع دم تمتع هم واجب ده، ځکه چې دا دم د جمع بين العبادتين شکرانه ده. او دا سړی له دوو عبادتونو څخه يو ځای نفع اخلي، (لکه مخکې چې په دې باره کې آيت تېر سو: فمن تمتع إلى الحج ...) نو ځکه به پر هغه دم واجب وي.

وإذا حلق الخ فرمايي چې کله متمتع په يوم نحر کې حلق يا قصر وکړي، نو هغه په دې سره د حج او د عمرې دواړو له احرام څخه حلال سو، ځکه چې حلق کول په حج کې محرم حلالوي، لکه په لمانځه کې چې سلام حلالونکی دی، نو د حلق په ذريعه به د عمرې او د حج دواړو له احرام څخه وځي.

د مکې د اوسېدونکو لپاره د تمتع او قران حکم

قَالَ: وَلَيْسَ لِأَهْلِ مَكَّةَ تَمَتُّعٌ فرمايي: او د مکې د خلگو لپاره نه حج تمتع سته وَلَا قِرَانٌ او نه حج قران سته وَإِنَّمَا لَهُمُ الْإِفْرَادُ خَاصَّةً بلکې د هغوی لپاره خاص حج افراد دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ قَوْلُهُ تَعَالَى: ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ [البقرة: ١٩٦] د امام شافعي په خلاف د الله تعالیٰ (دا) قول حجت دی: ذلك لمن لم يكن أهله حاضري المسجد الحرام وَلِأَنَّ شَرْعَهُمَا لِلتَّرَفُّهِ بِإِسْقَاطِ إِحْدَى السَّفْرَتَيْنِ او ځکه چې د قران او د تمتع مشروعيت د راحت (او آسانی) حاصلولو لپاره دی په دوو سفرونو کې د يوه سفر په ساقطولو سره وَهٰذَا فِي حَقِّ الْآفَاقِيِّ او دا (آساني او) راحت د آفاقي (اطرافي) په حق کې سته وَمَنْ كَانَ دَاخِلَ الْمِيقَاتِ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمَكِّيِّ او څوک چې په ميقات کې دننه وي هغه (هم) د مکّي سړي په درجه کې دی حَتّٰى لَا يَكُونَ لَهُ مُتْعَةٌ وَلَا قِرَانٌ تر دې چې د هغه لپاره (هم) نه متعه سته او نه قران بِخِلَافِ الْمَكِّيِّ إِذَا خَرَجَ إِلَى الْكُوفَةِ وَقَرَنَ په خلاف د مکّي سړي چې کله هغه کوفې ته ولاړ سي او قران وکړي حَيْثُ يَصِحُّ نو دا صحيح دي لِأَنَّ عُمْرَتَهُ وَحَجَّتَهُ مِيقَاتِيَّتَانِ ځکه چې د هغه عمره او حج دواړه ميقاتي دي (يعني دواړه له ميقات څخه کېږي) فَصَارَ بِمَنْزِلَةِ الْآفَاقِيِّ نو د اطرافي په درجه کې سو.

اللغات: ﴿ترفه﴾ د تفعّل مصدر دی، راحت او آساني حاصلول. ﴿آفاقي﴾ اطرافي يعني هغه سړی چې په مکه کې نه اوسيږي، بلکې له ميقات څخه بهر او په اطرافو کې اوسيږي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې زموږ په نېز د مکّي سړي او په ميقات کې د اوسېدونکي سړي لپاره نه حجِ قران شته او نه حجِ تمتع شته، بلکې د هغه لپاره صرف حجِ افراد مشروع دی، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د هغه لپاره قران او تمتع کول صحيح دي، او پر هغه د قران او تمتع دم هم نه واجبيږي، لکه څرنګه چې پر آفاقي واجبيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې دا آيت فمن تمتع بالعمرة إلى الحج... الخ مطلق دی، او په دې کې د مکّي او آفاقي هيڅ تفصيل نشته، نو څرنګه چې د آفاقي لپاره قران او تمتع جائز دي، همداسې به د مکّي او ميقاتي لپاره هم دا دواړه حجونه جائز او مشروع وي.

زموږ دليل: دا آيت دی: ذلك لمن لم يكن أهله حاضري المسجد الحرام... الخ يعني دا تمتع د هغه چا لپاره ده چې د هغه کورنۍ د مسجدِ حرام سره نه اوسيږي، يعني حجِ تمتع د غيرِ مکّي سړي او د آفاقي سړي لپاره دی، نو ثابته سوه چې د مکّي لپاره تمتع نشته، په دې آيت کې د ذلك مشار اليه زموږ په نېز تمتع دی. او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د وجوبِ هدي حکم دی.

ولأن شرعهما الخ زموږ عقلي دليل دا دی چې حج تمتع او حج قران ځکه مشروع سوي دي چې د حج او د عمرې دواړو لپاره جلا جلا دوه سفرونه نه وکړی سي، بلکې يو سفر ساقط کړی سي، او فقط په يوه سفر کار وسي، او حاجي ته آساني او راحت وربه برخه سي، او له تکليف څخه وژغورل سي، ځکه چې سفر له تکليف او ستونزو څخه ډک دی، لکه په حديث کې چې راځي: السفر قطعة من العذاب، او د سفر تکليف صرف د آفاقيانو په حق کې شته، نو ځکه به د سفر د ساقطولو راحت هم صرف د آفاقيانو لپاره وي.

ومن كان الخ فرمايي: کوم سړی چې په ميقات کې اوسيږي، هغه هم د مکّي سړي په حکم دی، او د هغه لپاره هم تمتع او قران نشته، خو که يو مکّي سړی د حج له مياشتو څخه مخکې کوفې ته ولاړ سي، نو بيا د هغه لپاره هم تمتع او قران دواړه صحيح دي، ځکه چې اوس د هغه حج او عمره دواړه ميقاتي دي، يعني دواړه له ميقات څخه تري، لهذا دا سړی د آفاقي په درجه کې سو، او د آفاقي لپاره قران او تمتع دواړه جائز دي، نو ځکه به د هغه لپاره هم دواړه حجونه جائز وي.

تر عمرې وروسته د متمتع لپاره خپل وطن ته د راتګ حکم

<u>وَإِذَا عَادَ الْمُتَمَتِّعُ إِلَى بَلَدِهِ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنَ الْعُمْرَةِ</u> او که متمتع له عمرې څخه تر فراغت وروسته خپل وطن ته واپس راسي <u>وَلَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ</u> او هدي يې (هم مخکې) بيولې نه وي <u>بَطَلَ تَمَتُّعُهُ</u> نو د هغه تمتع باطليږي <u>لِأَنَّهُ أَلَمَّ بِأَهْلِهِ فِيمَا بَيْنَ النُّسُكَيْنِ إِلْمَامًا صَحِيحًا</u> ځکه چې هغه د دوو نُسُکو يعني د حج او د عمرې په مينځ کې د خپلې کورنۍ سره صحيح المام وکړی <u>وَبِذَلِكَ يَبْطُلُ التَّمَتُّعُ</u> او په داسې کولو سره تمتع باطليږي <u>كَذَا رُوِيَ عَنْ عِدَّةٍ مِنَ التَّابِعِينَ</u> همدارنګه له يو شمېر تابعينو څخه روايت سوي دي.

اللغات: ﴿ألمّ﴾ د افعال ماضي ده: کور ته واپس راتلل (راستنېدل). ﴿عدة﴾ يو شمېر، څو، ډېر.

تشريح: مخکي د المام دوه قسمونه او د المام معنیٰ بيان سوه. نو د آساني لپاره اوس بيا ذکر کيږي؛ دإلمام معنیٰ ده: د عمرې تر احرام تړلو وروسته خپل وطن ته راتلل بغير له دې څخه چي احرام باقي وساتل سي، بيا المام پر دوه قسمه دی: (۱) المام فاسد. (۲) المام صحيح. المام فاسد هغه ته ويل کيږي چي متمتع مخکي د هدی څاروی بيولی وي. بيا يې المام کړی وي(دې ته المام فاسد ځکه ويل کيږي چي د هدي د بيولو په وجه اول احرام نه سي ختمولای. لهذا که څه هم خپل کور او وطن ته راسي نو دا به ويل کيږي چي خپل کور ته راغلی نه دی، نو ځکه دې ته المام فاسد ويل کيږي). او المام صحيح هغه دی چي مخکي يې د هدیٰ څاروی بيولی نه وي.

مسئله: دا ده که د يو سړي اراده د تمتع وه، او هغه د حج په مياشتو کي تر عمرې کولو وروسته خپل وطن ته واپس راغلی، او هدی يې هم بيولې نه وه، نو وطن ته په واپس راتللو سره د هغه تمتع باطليږي، ځکه چي هغه د حج او عمرې په مينځ کي د خپل أهل وعيال سره صحيح المام وکړی. او په صحيح المام سره تمتع باطليږي، نو ځکه به د دې سړي تمتع هم باطليږي، لکه څرنګه چي د تابعينو له يوې ډلې څخه هم دا حکم رانقل سوی دی چي د هغو له ډلې څخه سعيد بن المسيّب، عطاء بن أبي رباح، مجاهد او ابراهيم نخعي رَحِمَهُمُ الله هم دي. (بنايه ج۲، ص۲۲۷)

او که متمتع سائقُ الهدی وو نو څه حکم دی؟

وَإِذَا سَاقَ الْهَدْيَ فَإِلْمَامُهُ لَا يَكُوْنُ صَحِيْحًا او که متمتع د هدي څاروی بوځي نو د هغه المام به صحيح نه وي وَلَا يَبْطُلُ تَمَتُّعُهُ عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه تمتع نه باطليږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: رَحِمَهُ اللهُ يَبْطُلُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: باطليږي لِأَنَّهُ أَدَّاهُمَا بِسَفَرَتَيْنِ ځکه چي هغه عمره او حج په دوو سفرونو کي اداء کړه وَلَهُمَا أَنَّ الْعَوْدَ مُسْتَحَقٌّ عَلَيْهِ مَا دَامَ عَلٰى نِيَّةِ التَّمَتُّعِ او د شيخينو دليل دا دی چي تر څو د هغه نيت د تمتع وي پر هغه واپس راتلل واجب دي لِأَنَّ السَّوْقَ يَمْنَعُهُ مِنَ التَّحَلُّلِ ځکه چي د هدي بيول هغه له حلال کېدلو څخه منع کوي فَلَمْ يَصِحَّ إِلْمَامُهُ نو د هغه المام به صحيح نه وي بِخِلَافِ الْمَكِّيِّ إِذَا خَرَجَ إِلَى الْكُوْفَةِ وَأَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَسَاقَ الْهَدْيَ په خلاف د مکّي سړي چي کله کوفې ته ولاړ سي او د عمرې احرام وتړي او هدی يې بوزي حَيْثُ لَمْ يَكُنْ مُتَمَتِّعًا نو هغه نه متمتع کيږي لِأَنَّ الْعَوْدَ هُنَاكَ غَيْرُ مُسْتَحَقٍّ عَلَيْهِ ځکه چي پر هغه دلته واپس راتلل واجب نه دي فَصَحَّ إِلْمَامُهُ بِأَهْلِهِ نو په خپله کورنۍ کي د هغه المام صحيح سو.

تشريح: په دې عبارت کي چي کومه مسئله بيان سوې ده، دا له مخکنۍ مسئلې څخه بالکل عليحده ده. حاصل يې دا دی که تر عمرې کولو وروسته خپل وطن ته واپس راتلونکي سړي هدی يې بيولې وي. نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه تمتع نه باطليږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کي د هغه تمتع باطليږي، ځکه چي دې سړي په دوو سفرونو کي حج او عمره اداء کړل، حال دا چي متمتع به په يوه سفر کي دواړه اداء کوي، نو د سفر د اختلاف په وجه دا سړی متمتع نه سو.

● القول الراجح: هو هذا قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۲۱۵. [القول الراجح ج:۱، ص: ۲۱۲]

د شيخينو دليل: دا دى چي تر څو دا سړى د تمتع پر نيت وي، تر هغه وخته د هغه لپاره مکې مکرمې ته واپس تلل واجب او ضروري دي، ځکه چي هغه مخکي هدى بيولې ده، او د هدي بيول له حلالېدلو څخه محرم منع کوي، نو ځکه به وطن ته تر راتګ وروسته هم د دې سړي المام نه صحيح کېږي، او کله چي المام نه صحيح کېږي، نو تمتع به يې هم نه باطلېږي.

بخلاف المکّي الخ د دې په خلاف که يو مکّي سړى کوفې ته يعني له ميقات څخه دباندي ولاړ سي، او بيا ميقات ته راسي د عمرې احرام وتړي او هدى هم د ځان سره بوځي، نو هغه نه متمتع کېږي، ځکه چي د هغه وطن مکّه ده، نو کله چي خپل کور ته (يعني مکې ته) راسي، نو المام يې صحيح سو، ځکه چي واپس کوفې ته نه ځي، بلکي د هغه ځاى مکه ده، نو داسي سو چي په خپل أهل کي تر المام کولو وروسته کوفې ته ګرد سره تللى نه دى، او مکې ته واپس راغلى نه دى، بلکي په خپل کور (يعني په مکه) کي وو، نو د هغه المام صحيح سو، نو ځکه به يې تمتع صحيح نه وي.

د متمتع لپاره د حج په مياشتو کي د عمرې د شرط بيان

وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ او څوک چي د حج تر مياشتو مخکي د عمرې احرام وتړي فَطَافَ لَهَا أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْوَاطٍ او د عمرې لپاره له څلورو دورونو څخه کم طواف وکړي ثُمَّ دَخَلَتْ أَشْهُرُ الْحَجِّ بيا د حج مياشتي راسي فَتَمَّمَهَا وَأَحْرَمَ بِالْحَجِّ او هغه عمره پوره کړي او د حج احرام وتړي كَانَ مُتَمَتِّعًا نو دا سړى به متمتع وي (يعني دا سړى متمتع دى) لِأَنَّ الْإِحْرَامَ عِنْدَنَا شَرْطٌ ځکه چي زموږ په نيز احرام شرط دى فَيَصِحُّ تَقْدِيمُهُ عَلَى أَشْهُرِ الْحَجِّ نو د حج پر مياشتو به د احرام مخکي کول صحيح وي وَإِنَّمَا يُعْتَبَرُ أَدَاءُ الْأَفْعَالِ فِيهَا او معتبر د حج په مياشتو کي د عمرې افعال اداء کول دي وَقَدْ وُجِدَ الْأَكْثَرُ او د زياتره (اکثره) افعالو اداء کول پيدا سو وَلِلْأَكْثَرِ حُكْمُ الْكُلِّ او اکثر لره حکم د کُل دى وَإِنْ طَافَ لِعُمْرَتِهِ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ فَصَاعِدًا او که هغه د عمرې لپاره د حج له مياشتو څخه مخکي څلور دوره يا تر دې زيات طواف وکړي ثُمَّ حَجَّ مِنْ عَامِهِ ذٰلِكَ بيا په دغه کال حج وکړى لَمْ يَكُنْ مُتَمَتِّعًا نو متمتع به نه وي لِأَنَّهُ أَدَّى الْأَكْثَرَ قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ ځکه چي هغه د حج تر مياشتو مخکي اکثره دورونه اداء کړل وَهٰذَا لِأَنَّهُ صَارَ بِحَالٍ لَا يَفْسُدُ نُسُكُهُ بِالْجِمَاعِ او دا حکم په دې وجه دى چي دا سړى په داسي حالت کي سو چي په جماع کولو سره د هغه عمره نه باطلېږي فَصَارَ كَمَا إِذَا تَحَلَّلَ مِنْهَا قَبْلَ أَشْهُرِ الْحَجِّ نو داسي سو لکه د حج تر مياشتو مخکي چي له عمرې څخه حلال سي وَمَالِكٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ يَعْتَبِرُ الْإِتْمَامَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ او امام مالک رَحِمَهُ الله د حج په ورځو کي د عمرې د پوره کولو اعتبار کوي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا ذَكَرْنَا او د هغه په خلاف زموږ ذکر سوى دليل حجت دى وَلِأَنَّ التَّرَفُّقَ بِأَدَاءِ الْأَفْعَالِ لو ځکه چي نفع اخيستل د افعالو په اداء کولو سره راځي وَالْمُتَمَتِّعُ الْمُتَرَفِّقُ بِأَدَاءِ النُّسُكَيْنِ فِي سَفَرٍ وَاحِدٍ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ او متمتع هغه دى چي نفع واخلي د دوو عبادتونو په اداء کولو سره په يوه سفر کي په مياشتو د حج کي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى که يو سړي د حج له مياشتو څخه مخکي د عمرې احرام وتړى، او بيا يې د عمرې لپاره درې دوره (شوطه) طواف هم وکړى، او تر درې شوطه طواف وروسته يې عمره موقوفه کړه، تر دې چي کله د حج

مياشتي راځلې، نو عمره يې پوره کړه، او بيا يې د حج احرام وتړی، نو زموږ په نېز دا سړی هم متمتع دی، ځکه چي زموږ په نېز د عمرې د صحيح کېدلو لپاره احرام شرط دی. او احرام دلته ستة، پاته سوه د حج پر مياشتو د عمرې د احرام مخکي کولو مسئله، نو څرنګه چي طهارت د لمانځه شرط دی، او د لمانځه پر وخت د هغه مخکي کول جائز دي، همداسي احرام هم د عمرې شرط دی، نو دا به هم د حج پر مياشتو مخکي کول جائز وي، خو دا ضروري ده چي څرنګه لمونځ تر خپل وخت داخلېدلو وروسته اداء کيږي، همدا ډول به د حج افعال هم د خپل وخت تر داخلېدلو وروسته اداء کيږي، او په پورتنۍ مسئله کي دې سړي د حج تر مياشتو مخکي د عمرې د طواف لپاره فقط درې شوطه کړي دي، او څلور شوطونه يې د حج په مياشتو کي کړي دي، او څلور د اوو (۷) اکثر دي، نو ځکه به د للأكثر حكم الكل د قاعدې پر بنياد دا فيصله کيږي چي دې سړي ټوله طواف د حج په مياشتو کي کړی دی، او تر هغه وروسته يې سملستي د حج احرام تړلی دی، لهذا هغه د دواړو عبادتونو يعني د حج او د عمرې جمع کونکي سو، نو ځکه به هغه متمتع وي.

وإن طاف الخ او که د حج له مياشتو څخه يې مخکي څلور شوطه طواف وکړی، او بيا په دغه کال کي حج هم وکړی، نو متمتع نه دی، ځکه چي هغه د حج له مياشتو څخه مخکي د طواف اکثره حصه اداء کړه، او څرنګه چي اکثر لره حکم د کُل دی، نو ګواکي هغه ټوله طواف د حج له مياشتو څخه مخکي وکړی.

وهٰذا الخ صاحب د هدايې فرمايي چي دا سړی په دغه دويم صورت کي ځکه نه متمتع کيږي چي تر څلور شوطه طواف وروسته عمره د جماع کولو په وجه بيا نه فاسديږي، نو دا سړی د هغه سړي په ډول سو چي د حج له مياشتو څخه مخکي د عمرې له احرام څخه حلال سي، او د حج له مياشتو څخه مخکي چي څوک د عمرې له احرام څخه حلال سي، هغه بالکل نه متمتع کيږي، نو ځکه به دا سړی هم متمتع نه وي.

ومالك رَحِمَهُ اللهُ الخ د امام مالک رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي که څه هم دې سړي د حج تر مياشتو مخکي احرام تړلی دی، او په هغه کي يې څلور شوطه طواف هم کړی دی، خو بيا هم عمره يې د حج په مياشتو کي پوره کړه، لهذا داسي به شمارل کيږي چي عمره يې د حج په مياشتو کي پوره کړې ده، نو ځکه به تمتع صحيح وي، ځکه چي د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز پوره کول معتبر دي، لېکن زموږ بيان سوی دليل د هغه په خلاف حجت دی، او د هغه د مسلک د ترديد لپاره کافي دی.

ولأن الترفق الخ زموږ دويم دليل او د امام مالک جواب دا دی چي ترفق يعني نفع او راحت د افعالو په اداء کولو سره اخيستل کيږي، او متمتع به هم د حج په مياشتو کي په يوه سفر کي د حج او د عمرې دواړو په اداء کولو سره نفع او راحت حاصلوي، او دغه سړي د حج په مياشتو کي عمره او حج جمع کړې نه دي، بلکي عمره يې د حج تر مياشتو مخکي اداء کړه (ځکه چي أکثر لره هم د حکم د کل وي)، نو ځکه به تمتع صحيح نه وي.

د حج د مياشتو بيان

قَالَ: وَأَشْهُرُ الْحَجِّ شَوَّالٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرٌ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فرمايي: چي د حج مياشتي شوال، ذوالقعده او د ذو الحجې لس ورځي دي كَذَا رُوِيَ عَنِ الْعَبَادِلَةِ الثَّلَاثَةِ وَعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ همداسي له دريو عبادله وو (عبدالله ګانو) او له عبد الله ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُم څخه (هم) روايت سوي دي وَلِأَنَّ الْحَجَّ يَفُوتُ بِمُضِيِّ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ او ځکه چي حج فوتيږي د ذو الحجې د لسو ورځو په تېرېدلو سره وَمَعَ بَقَاءِ الْوَقْتِ لَا يَتَحَقَّقُ الْفَوَاتُ او د وخت د بقا

په وخت کي فوتېدل نه ثابتيږي وَهٰذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْمُرَادَ مِنْ قَوْلِهِ تَعَالَى: اَلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ [البقرة، ١٩٧] شَهْرَانِ وَبَعْضُ الثَّالِثِ او دا دلالت کوي پر دې چي د الله تعالىٰ له (دې) قول: الحج أشهر معلومات څخه دوې مياشتي او د دريمي مياشتي بعضي حصه مراد ده لَا كُلُّهُ نه ټوله مياشته.

اللغات: ﴿أشهر﴾ جمع د شهر ده: مياشت، ﴿مضي﴾ د ضرب مصدر دی: تېرېدل، ﴿لا يتحقق﴾ د تفعل مضارع منفي دي: ثابتېدل، پوره کېدل.

تشريح: فرمايي چي د شوال، ذوالقعده او ذو الحجې اولي لس ورځي اشهرِ حج يعني د حج مياشتي او وختونه دي، ځکه چي همدارنګه له عبادله ثلاثه (عبد الله بن مسعود، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر) او له عبد الله بن زبير رضي الله عنهم څخه رانقل سوي دي، او ښکاره ده چي کوم څه له هغو څخه رانقل سوي دي، هغو به دا له نبي ﷺ څخه اورېدلي وي، لهذا په دې لړ کي به د هغو قول او روايت د اعتماد وړ دی.

ولأن الحج الخ په دې لړ کي دويم دليل دا دی چي که د ذو الحجې ټوله مياشته اشهرِ حج وای، لکه امام مالک رحمه الله چي فرمايي، نو د ذو الحجې د لسو ورځو تر تېرېدلو وروسته به د يو چا حج صحيح کېدلای او فوتېدلای به نه، ځکه چي د وخت په بقاء کي هيڅ شی نه فوتيږي، لهذا د ذوالحجې تر لسو ورځو تېرېدلو وروسته د حج فوتېدل د دې خبري ښکاره دليل دی چي د ذو الحجې ټوله مياشت په اشهرِ حج کي داخله نه ده، بلکي د دې مياشتي صرف لس ورځي په اشهرِ حج کي داخل دي، او له دې څخه دا خبره هم ښکاره کيږي چي په الحج أشهر معلومات کي که څه هم لفظ د أشهر جمع ده، خو بيا هم له دې څخه د شوال او د ذو القعدې پوره دوې مياشتي او د ذو الحجې لس ورځي مراد دي.

د حج تر مياشتو مخکي د احرام د تړلو حکم

فَإِنْ قَدَّمَ الْإِحْرَامَ بِالْحَجِّ عَلَيْهَا بيا که يو څوک د حج له مياشتو څخه مخکي احرام وتړي جَازَ إِحْرَامُهُ وَانْعَقَدَ حَجًّا نو د هغه احرام جائز دی او د حج لپاره وتړل سو (يعني د حج لپاره يې تړل صحيح سو) خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رحمه الله اختلاف دی فَإِنَّ عِنْدَهُ يَصِيرُ مُحْرِمًا بِالْعُمْرَةِ ځکه د هغه په نېز په عمرې سره محرم کيږي لِأَنَّهُ رُكْنٌ عِنْدَهُ ځکه چي د امام شافعي رحمه الله په نېز احرام يو رکن دی وَهُوَ شَرْطٌ عِنْدَنَا ليکن زموږ په نېز احرام شرط دی فَأَشْبَهَ الطَّهَارَةَ فِي جَوَازِ التَّقْدِيمِ عَلَى الْوَقْتِ نو احرام د طهارت سره مشابه سو پر خپل وخت د مخکي کولو په جواز کي (يعني څرنګه چي اودس پر خپل وخت مخکي کول جائز دي همداسي به احرام هم پر خپل وخت مخکي کول جائز وي) وَلِأَنَّ الْإِحْرَامَ تَحْرِيمُ أَشْيَاءَ وَإِيجَابُ أَشْيَاءَ او ځکه چي احرام د يو څو شيانو حرامول او د يو څو شيانو واجبول دي وَذٰلِكَ يَصِحُّ فِي كُلِّ زَمَانٍ او دا په هره زمانه کي صحيح دي فَصَارَ كَالتَّقْدِيمِ عَلَى الْمَكَانِ نو داسي سو لکه احرام پر مکان (يعني پر ميقات) مخکي کول.

اللغات: ﴿تحريم﴾ د تفعيل مصدر دی: حرامول، ﴿إيجاب﴾ د افعال مصدر دی: واجبول، ﴿مكان﴾ ځای.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي له اشهرِ حج(يعني د حج له مياشتو) څخه مخکې احرام وتړی، لو تر اشهرِ حج پورې يې تړلی وو، نو زموږ په نيز دا احرام جائز دی، او په دې احرام سره د هغه لپاره حج اداء کول صحيح دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د هغه لپاره په دې احرام سره حج کول صحيح نه دي، خو ځرنګه چې د هغه په نيز احرام يو رکن دی، نو د لغو کېدلو څخه د خوندي کېدلو لپاره د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز دا احرام د عمرې لپاره منعقد کيږي. او په دې سره عمره اداء کولو صحيح کيږي، خو د حج لپاره دا احرام نه منعقد کيږي، ځکه ځرنګه د حج نور ارکان پر اشهرِ حج مخکې کول صحيح نه دي، همداسې به احرام هم پر اشهرِ حج مخکې کول صحيح نه وي.

وهو شرط الخ زموږ دليل دا دی چې زموږ په نيز احرام شرط دی، او شرائط پر مشروط به وختونو مخکې کول جائز دي، لکه اودس چې د لمانځه شرط دی، نو ځرنګه چې اودس د لمانځه پر وخت مخکې کول جائز دي، همداسې به احرام هم د حج پر وخت مخکې کول جائز وي.

ولأن الإحرام الخ زموږ دويم دليل دا دی چې په احرام سره يو څو شيان(مثلاً ښکار کول. عطر لګول او سرخريل) حراميږي، او يو څو شيان(مثلاً ناکنډل سوي جامې اغوستل، رمی او سعی کول) په واجبيږي، او دا شيان په هره زمانه کې اداء کېدای سي، نو ځکه به احرام په هره زمانه کې تړل کېدای سي. لکه ځرنګه چې احرام پر مکان يعني پر ميقات مخکې کول جائز دي. همداسې به احرام پر زمان يعني پر اشهرِ حج مخکې کول هم جائز وي. او په دې کې به څه حرج نه وي.

د حجِ تمتع يو ځانګړی صورت

قَالَ: وَإِذَا قَدِمَ الْكُوفِيُّ بِعُمْرَةٍ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: او کله چې کوفي د حج په مياشتو کې د عمرې لپاره راسي وَفَرَغَ مِنْهَا او له عمرې څخه فارغه سي وَحَلَقَ أَوْ قَصَّرَ او حلق وکړي يا قصر وکړي ثُمَّ اتَّخَذَ مَكَّةَ أَوِ الْبَصْرَةَ دَارًا بيا مکه يا بصره استوګن ځای جوړ کړي(يعني وطن ځنې جوړ کړي) وَحَجَّ مِنْ عَامِهِ ذٰلِكَ او په دغه کال حج وکړي فَهُوَ مُتَمَتِّعٌ نو هغه متمتع دی أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّهُ تَرَفَّقَ بِنُسُكَيْنِ فِي سَفَرٍ وَاحِدٍ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ هر چې اول دي نو په دې وجه چې هغه د حج په مياشتو کې په يوه سفر کې د دوو عبادتونو نفع واخيستله(نو ځکه به متمتع وي) وَأَمَّا الثَّانِي فَقِيلَ: هُوَ بِالْاِتِّفَاقِ او هر چې دويم دی نو ويل سوي دي: چې هغه بالاتفاق دي وَقِيلَ: هُوَ قَوْلُ● أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او ويل سوي دي: چې دا د امام صاحب قول دی وَعِنْدَهُمَا لَا يَكُونُ مُتَمَتِّعًا او د صاحبينو په نيز نه متمتع کيږي لِأَنَّ الْمُتَمَتِّعَ مَنْ تَكُوْنُ عُمْرَتُهُ مِيقَاتِيَّةً وَحَجَّتُهُ مَكِّيَّةً ځکه چې متمتع هغه څوک دی چې عمره يې ميقاتي وي او حج يې مکي وي وَنُسُكَاهُ هٰذَانِ مِيقَاتِيَّانِ (لېکن) د دغه سړي دواړه عبادتونه ميقاتي دي وَلَهُ أَنَّ السَّفْرَةَ الْأُولَىٰ قَائِمَةٌ مَا لَمْ يَعُدْ إِلَى

● القول الراجح: هو هذا قول أبي حنيفه رَحِمَهُ الله اى يكون متمتعا فى الصورتين سواء إتخذ مكة دارا أو البصرة، كذا فى رد المحتار ج:۲، ص: ۲۱۶.
[القول الراجح ج:۱، ص: ۲۱۶]

وَطَنِهِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي اول سفر (تر هغه وخته) پاته دی تر څو چي هغه خپل وطن ته واپس رانه سي وَقَدِ اجْتَمَعَ لَهُ نُسُكَانِ فِيهَا او په دې سفر کي د هغه لپاره دوه عباتونه جمع سول فَوَجَبَ دَمُ التَّمَتُّعِ لهذا د تمتع قرباني به پر واجب وي.

اللغات: ﴿ترفق﴾ د تفعّل ماضي ده: فايده اخيستل، نفع پورته کول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که د کوفې اوسېدنکي سړی په اشهرِ حج کي د عمرې لپاره مکې شريفي ته ولاړ سي. او هلته عمره اداء کړي، بيا په حلق يا قصر سره ځان حلال کړي. تر هغه وروسته مکه يا بصره (يعني له ميقات څخه دباندي بل ښار) وطنِ اقامت جوړ کړي يعني هلته مقيم سي، او په دغه کال د حج په ورځو کي حج هم اداء کړي. نو هغه متمتع دی، او په دويم صورت کي يعني چي کله له عمرې څخه ترفراغت وروسته په بصره (يا په بل ښار) کي مقيم سي نو د بعضي حضراتو په نېز په دې صورت کي د کوفي د سړي متمتع کېدل متفق عليه دي، يعني د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نېز دا سړی متمتع دی، لېکن د بعضي حضراتو رايه دا ده چي په دې صورت کي هغه صرف د امام صاحب په نېز متمتع دی، د صاحبينو په نېز هم متمتع نه دی.

لأن المتمتع الخ په قول د بعضو د صاحبينو دليل دا دی چي د متمتع عمره ميقاتي او حج مکي وي، يعني متمتع خو د عمرې احرام له ميقات څخه تړي، او د حج احرام له مکې يعني له حرم څخه تړي، او دلته داسي نه ده، بلکي د عمرې او حج دواړو احرام يې له ميقات څخه تړلی دی، په دې توګه چي کوفي سړی کله د عمرې کولو لپاره له کور څخه روان سو، نو د عمرې احرام يې له ميقات څخه وتړی، او د عمرې له ارکانو څخه تر فراغت وروسته په بصره کي مقيم سو. نو دا هغه د حلالوالي په حالت کي له ميقات څخه تجاوز وکړی، ځکه بصره له ميقات څخه دباندي د يو ښار نوم دی. نو کله چي هغه د حج لپاره واپس راځي، نو هغه به بيا له ميقات څخه د حج احرام هم تړي، نو معلومه سوه چي هغه د عمرې او د حج دواړو احرام له ميقات څخه تړي، نو ځکه به نه متمتع کيږي.

وله أن السفر الخ د امام صاحب دليل دا دی چي کوم سفر کوفي سړی له کوفې څخه د مکې و طرف ته وکړی، بصرې ته تر واپس تللو وروسته او په بصره کي تر مقيم کېدلو وروسته هغه سفر اوس هم پاته دی، تر څو چي خپل اول وطن يعني کوفې ته واپس ولاړ نه سي، ځکه دا أصول دي "چي تر څو يو سړی خپل اول وطن ته نه ورسيږي، د هغه اول سفر به پاته وي" لهذا دا سړی د هغه سړي په شېر سو چي تر اوسه له ميقات څخه وتلی نه وي، او واپس راسي حج وکړي، لنډه دا چي د هغه هم دوه عبادتونه يعني عمره او حج په يوه سفر کي جمع سول، او په يوه سفر کي د دې دوو عبادتونو جمع کونکي ته متمتع ويل کيږي، لهذا دا سړی به هم متمتع وي، او پر هغه به د دتمتع دم واجب وي.

د حجِ تمتع بل ځانګړی صورت

فَإِنْ قَدِمَ بِعُمْرَةٍ او که يو کوفي سړی د عمرې لپاره راسي فَأَفْسَدَهَا او عمره فاسده کړي وَفَرَغَ مِنْهَا وَقَصَّرَ او له هغې څخه فارغ سي او قصر وکړي ثُمَّ اتَّخَذَ الْبَصْرَةَ دَارًا يا بصره استوګن ځای جوړ کړي ثُمَّ اعْتَمَرَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ بيا د حج په مياشتو کي عمره وکړي وَحَجَّ مِنْ عَامِهِ او په دغه کال حج وکړي لَمْ يَكُنْ مُتَمَتِّعًا عِنْدَ ● أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله نو د

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في البحر الرائق ج:٢، ص: ٢٧٠. [القول الراجح ج:١، ص: ٢١٧]

امام صاحب په نېز نه متمتع کيږي وَقَالَا: هُوَ مُتَمَتِّعٌ او صاحبين فرمايي: چې متمتع دی لِأَنَّهُ إِنْشَاءُ سَفَرٍ ځکه چې دا د سفر نوي کول(ايجاد) دی وَقَدْ تَرَفَّقَ فِيهِ بِنُسُكَيْنِ او هغه د دواړو عبادتونو نفع واخيستل وَلَهُ أَنَّهُ بَاقٍ عَلَى سَفَرِهِ مَا لَمْ يَرْجِعْ إِلَى وَطَنِهِ او د امام صاحب دليل دا دی چې دا سړی پر خپل(اول) سفر پاته دی تر څو چې خپل وطن راستن نه سي.

اللغات: ﴿إنشاء﴾ د افعال مصدر دی: ايجاد، نوي کول، پيدا کول.

تشريح: مسئله: دا ده که يو کوفي سړی د عمرې احرام وتړي مکې ته راسي، او د عمرې د افعالو د اداء کولو په وخت کي د ښځي سره جماع وکړي يا په بل ډول عمره فاسده کړي، خو بيا هم د عمرې افعال پوره کړي، حلق يا قصر وکړي، او له عمرې څخه ځان فارغه کړي، تر دې وروسته بصرې ته ولاړ سي، او بصره وطنِ اقامت جوړ کړي، يعني هلته مقيم سي. بيا يو څو ورځي وروسته په اشهرِ حج کي دويم ځل عمره وکړي، او په دغه کال کي حج هم وکړي، نو هغه متمتع دی که نه؟

په دې لړ کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې دا سړی متمتع نه دی، لېکن صاحبين فرمايي چې دا سړی متمتع دی، د صاحبينو دليل دا دی چې کله دې سړي اوله عمره فاسد کړه بصرې ته ولاړی او بيا يې له بصرې څخه د عمرې احرام وتړی مکې ته ولاړی او په دغه کال يې حج او عمره دواړه وکړه، نو دا سړی په يوه سفر کي د دوو عبادتونو جمع کونکي سو، ځکه چې له بصرې څخه مکې ته تلل مستقل او عليحده يو سفر دی، او په دې سفر کي هغه حج او عمره دواړه پوره کړل، نو ځکه به هغه متمتع وي.

وله أنه باق الخ د امام صاحب دليل دا دی چې تر څو دا کوفي سړي خپل وطن يعني کوفې ته واپس ولاړ نه سي تر هغه وخته د هغه اول سفر پاته دی، او د دويم سفر يعني له بصرې څخه تر مکې پوري د دغه سفر هيڅ اعتبار نسته، بلکي د هغه په حق کي اول سفر معتبر دی(لکه مخکي چې د امام صاحب أصول هم تېر سو)، او څرنګه چې په دې سفر کي هغه عمره فاسد کړه، لهذا اوس هغه د دوو عبادتونو جمع کونکي نه سو، نو متمتع به هم نه وي.

د پورتني مسئلې سره اړوند يو وضاحت

فَإِنْ كَانَ رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ بيا که هغه خپل وطن ته واپس راسي ثُمَّ اعْتَمَرَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ بيا د حج په مياشتو کي عمره وکړي وَحَجَّ مِنْ عَامِهِ او په دغه کال کي حج وکړي يَكُونُ مُتَمَتِّعًا فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو د احنافو په اتفاق هغه متمتع کيږي لِأَنَّ هٰذَا إِنْشَاءُ سَفَرٍ لِانْتِهَاءِ السَّفَرِ الْأَوَّلِ ځکه چې دا د اول سفر د ختمېدلو په وجه (له نوي سره) د سفر ايجاد دی وَقَدِ اجْتَمَعَ لَهُ نُسُكَانِ صَحِيحَانِ فِيهِ او د هغه لپاره په دې دويم سفر کي دوه عبادتونه په صحيح توګه سره جمع سول.

تشريح: مسئله خو بالکل ښکاره ده چې که تر عمرې فاسدولو وروسته دا سړی خپل وطن ته(يعني کوفې ته) واپس ولاړ سي او بيا په اشهرِ حج کي راسي عمره او حج پوره کړي، نو د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نېز هغه متمتع دی، ځکه چې وطن ته د واپس تللو په وجه د هغه اول سفر ختم سو، او دويم سفر متحقق سو، او څرنګه چې په دې دويم سفر کي هغه دوه عبادتونه پوره کړل، نو ځکه به متمتع وي.

په پورتنۍ مسئله کې په مکه کې پاتېدل

وَلَوْ بَقِيَ بِمَكَّةَ او که هغه په مکه کې پاته سي وَلَمْ يَخْرُجْ إِلَى الْبَصْرَةِ او بصرې ته ولاړ نه سي حَتَّى اعْتَمَرَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ تر دې چې د حج په میاشتو کې عمره وکړي وَحَجَّ مِنْ عَامِهِ او په دغه کال حج وکړي لَا يَكُونُ مُتَمَتِّعًا بِالْإِتِّفَاقِ نو (هم) بالاتفاق نه متمتع کیږي لِأَنَّ عُمْرَتَهُ مَكِّيَّةٌ ځکه چې د هغه عمره مکي ده وَالسَّفَرُ الْأَوَّلُ انْتَهَى بِالْعُمْرَةِ الْفَاسِدَةِ او اول سفرېې د فاسدې عمرې په وجه ختم سو وَلَا تَمَتُّعَ لِأَهْلِ مَكَّةَ او د مکې د خلکو لپاره تمتع نسته.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو کوفي سړی د عمرې تر فاسدولو وروسته په مکه کې مقیم سو. او بصرې ته نه ولاړ، بیا چې کله د حج میاشتې راغلې، نو عمره یې هم وکړه، او حج یې هم وکړی. نو په دې صورت کې هم نه متمتع کیږي، او دا صورت متفق علیه دی، ځکه چې په مکه کې د مقیم کېدلو په وجه د هغه عمره هم مکي سوه. حال دا چې د متمتع عمره به مکي نه وي، بلکې میقاتي به وي، او بیا د هغه اول سفر یعني له کوفې څخه تر مکې پورې راتګ د فاسدې عمرې په وجه هم ختم او باطل سو، او دا سړی مکي سو، او د مکې د خلکو په حق کې تمتع نسته. نو ځکه به هغه په دې صورت کې متمتع نه وي.

د تمتع د قاعدې بیان

وَمَنِ اعْتَمَرَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ وَحَجَّ مِنْ عَامِهِ او څوک چې د حج په میاشتو کې عمره وکړي او (بیا) په دغه کال حج وکړي فَأَيُّهُمَا أَفْسَدَ مَضَى فِيهِ نو په حج او عمره کې چې هر یو فاسد کړي هغه دې پوره کړي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ الْخُرُوجُ عَنْ عُهْدَةِ الْإِحْرَامِ ځکه چې د هغه لپاره د احرام له عهدې څخه وتل ممکن نه دي إِلَّا بِالْأَفْعَالِ مګر د افعالو په اداء کولو سره وَسَقَطَ دَمُ الْمُتْعَةِ او د تمتع دم (قرباني ځني) ساقطه سوه لِأَنَّهُ لَمْ يَتَرَفَّقْ بِأَدَاءِ نُسُكَيْنِ صَحِيحَيْنِ فِي سَفْرَةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چې هغه په صحیح توګه په یوه سفر کې د دوو عبادتونو په اداء کولو سره نفع نه واخیستله.

اللغات: ﴿مضى فيه﴾ د ضرب ماضي ده: د دې باب ډېرې معناوې راځي، چې د صلې په بدلون یې معنیٰ هم بدلیږي: تېرېدل، پوره کول، جاري ساتل.

تشریح: مسئله: دا ده که یو چا په اشهرِ حج کې عمره وکړه، او په دغه کال یې حج وکړی. نو له دې دواړو څخه چې کوم فاسد کړي، د هغه پوره کول ضروري دي، ځکه چې د افعالو له اداء کولو څخه بغیر له احرام څخه وتل ممکن نه وي. هو! خو د تمتع دم ساقطیږي، او د تمتع دم پر هغه چا واجبیږي چې په یو سفر کې په صحیح توګه دوه عبادتونه (عمره او حج) جمع کړي، او څرنګه چې دلته یو فاسد سو، نو په صحیح توګه د دوو عباتونو د نه جمع کولو په وجه متمتع نه سو.

په تمتع کې د ښځې د قربانۍ حکم

وَإِذَا تَمَتَّعَتِ الْمَرْأَةُ فَضَحَّتْ بِشَاةٍ او که ښځه تمتع وکړي او بزه (وزه) قرباني کړي لَمْ يُجْزِهَا عَنِ الْمُتْعَةِ نو دا قرباني د هغې لپاره د تمتع له قربانۍ څخه کفایت نه کوي لِأَنَّهَا أَتَتْ بِغَيْرِ الْوَاجِبِ ځکه چې ښځې غیرِ واجب اداء کړی وَكَذَا الْجَوَابُ فِي الرَّجُلِ او د سړي په باره کې هم دغه حکم دی.

اللغات: ﴿ضحت﴾ د تفعيل ماضي ده: قرباني كول.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه يوې ښځې حج تمتع وكړي، او په يومُ النحر كي يې قرباني وكړه، نو دا قرباني د دم تمتع پر ځاى نه سي درېدلاى، ځكه چي د هغې د سفر په وجه پر هغې د يومُ النحر قرباني واجب نه ده. او دم تمتع واجب دى. نو غير واجب به څرنګه د واجب قائم مقام سي، همدا حكم د سړي دي.

يادونه: په دې مسئله كي خاص د ښځي ذكر ځكه وسو چي په دې باره كي يوې ښځي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه پوښتنه كړې وه، كنې د سړي هم دغه حكم دى.

د احرام په وخت كي د حيض حكم

وَإِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ عِنْدَ الْإِحْرَامِ او كله چي د احرام په وخت كي ښځه حائضه سي اِغْتَسَلَتْ وَأَحْرَمَتْ وَصَنَعَتْ كَمَا يَصْنَعُهُ الْحَاجُّ نو غسل دي وكړي احرام دي وتړي او څنګه عمل چي حاجيان كوي هغسې دي دا (هم) وكړي غَيْرَ أَنَّهَا لَا تَطُوفُ بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرَ خو دا به پر كعبې طواف نه كوي تر دې چي پاكه سي لِحَدِيثِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا● حِينَ حَاضَتْ بِسَرِفَ د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حديث په وجه چي كله هغه په سَرِف نومي ځاى كي حائضه سوه وَلِأَنَّ الطَّوَافَ فِي الْمَسْجِدِ وَالْوُقُوفَ فِي الْمَفَازَةِ او ځكه چي طواف په مسجد كي كيږي او وقوف په بيابان (دښت) كي كيږي وَهَذَا الْإِغْتِسَالُ لِلْإِحْرَامِ لَا لِلصَّلَاةِ او دا غسل د احرام لپاره دى نه د لمانځه لپاره فَيَكُونُ مُفِيدًا نو ځكه به فايده من وي فَإِنْ حَاضَتْ بَعْدَ الْوُقُوفِ وَطَوَافِ الزِّيَارَةِ او كه تر وقوف او طواف زيارت وروسته ښځه حائضه سي اِنْصَرَفَتْ مِنْ مَكَّةَ نو له مكې څخه دي ولاړه سي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا لِطَوَافِ الصَّدْرِ او د طواف صدر په وجه پر هغې هيڅ شى واجب نه دى لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● رَخَّصَ لِلنِّسَاءِ الْحُيَّضِ فِي تَرْكِ طَوَافِ الصَّدْرِ ځكه چي نبي ﷺ حائضو ښځو ته د طواف صدر د پرېښوولو اجازه وركړې ده.

اللغات: ﴿حاضت﴾ ښځي ته حيض راتلل. ﴿مفازة﴾ دښت، بيابان.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى كه د احرام د تړلو په وخت كي يوه ښځه حائضه سوه، نو هغې ته حكم دا دى چي غسل دي وكړي او احرام دي وتړي. او له طواف څخه علاوه نور ټول د حج اركان دي اداء كړي. او بيا دي تر پاكېدلو وروسته طواف وكړي. په دې لړ كي اول دليل د حضرت عائشې هغه حديث دى چي په هغه كي دا ذكر سوي دي چي كله حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په "سَرِف" نومي ځاى كي حائضه سوه. نو نبي ﷺ هغې ته د غسل كولو او د احرام تړلو او د حج د ټولو افعالو د اداء كولو حكم وكړى، لېكن له طواف څخه يې منع كړه، نو د هري حائضې ښځي لپاره به دغه حكم وي چي په داسې حال كي به همدغه اعمال تر سره كوي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحيض، باب الأمر بالنفساء إذا نفسن: حديث رقم: ۲۹۴.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب طواف الوداع، حديث رقم: ۱۷۵۵.

ولأن الطواف الخ دويم دليل دا دی چي طواف په مسجد کي کيږي، او د ښځي لپاره د حيض په حالت کي مسجد ته تلل منع دي، ليکن وقوف په دښت کي کيږي، او له دې څخه حائضه ښځه نه ده منع سوې، نو ځکه به د دغې لپاره د وقوف او نورو اجازه وي، او ښځه چي کوم غسل کوي، هغه به مفيد وي، ځکه چي د حيض په حالت کي غسل د نظافت او صفا والي لپاره کيږي، د لمانځه لپاره نه کيږي، نو ځکه به مفيد وي (چي نظافت او صفايي راسي).

او که يوه ښځه تر طواف زيارت او وقوف عرفه وروسته حائضه سوه، نو هغه د طواف صدر له کولو څخه بغير له مکې څخه وتلای سي، او د طواف صدر د پرېښوولو په وجه پر هغې دم او نور واجب نه دي، ځکه چي نبي ﷺ حائضو ښځو ته د طواف صدر د پرېښوولو رخصت ورکړی دی.

د مکې سړي لپاره د طواف صدر د عدم وجوب بيان

وَمَنِ اتَّخَذَ مَكَّةَ دَارًا فَلَيْسَ عَلَيْهِ طَوَافُ الصَّدْرِ او څوک چي مکه (مبارکه) کور (يعني وطنِ اقامت) جوړ کړي نو پر هغه طواف صدر نسته لِأَنَّهُ عَلَىٰ مَنْ يَصْدُرُ ځکه چي طواف صدر پر هغه چا واجب دی څوک چي (له مکې څخه خپل کور ته) روانيږي إِلَّا إِذَا اتَّخَذَهَا دَارًا بَعْدَمَا حَلَّ النَّفْرُ الْأَوَّلُ خو دا چي هغه تر اول کوچ (يعني تر دولسمي ورځي) وروسته مکه (مبارکه) کور جوړ کړي فِيمَا يُرْوَىٰ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ په هغه روايت کي کوم چي له امام صاحب څخه روايت سوی دی وَيَرْوِيهِ الْبَعْضُ عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ او ځيني حضرات دا روايت له امام محمد څخه روايت کوي لِأَنَّهُ وَجَبَ عَلَيْهِ بِدُخُولِ وَقْتِهِ ځکه چي طواف صدر پر هغه سړي واجب سوی دي د وخت د داخليدلو په وجه فَلَا يَسْقُطُ بِنِيَّةِ الْإِقَامَةِ بَعْدَ ذٰلِكَ نو وروسته تر دې به د اقامت په نيت سره نه ساقطيږي، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿يصدر﴾ د نصر مضارع ده: راستنيدل (واپس کېدل)، روانيدل، (صادر بدل).

تشريح: مسئله: دا ده چي طواف صدر پر هغه چا واجب دی چي له مکې مبارکي څخه ځي، ليکن چا چي مکه مبارکه کور جوړ کړی، نو پر هغه طواف صدر واجب نه دی.

إلا إذا اتخذها الخ د نفرِ أول معنیٰ ده: اول وار کوچ کول، د دې مطلب دا دی چي د ذو الحجې په دولسمه ورځ تر رمي کولو وروسته حاجيان له منیٰ څخه کوچ کوي، او مکې مبارکي ته راځي، دې ته نفرِ أول ويل کيږي. د دې نفرِ أول په وخت کي طواف صدر کول واجب دي، نو که د طواف صدر تر وجوب وروسته يو څوک مکه مبارکه کور جوړ کړي، نو پر هغه هم طواف صدر واجب دی، ځکه چي هغه مخکي واجب سوی دی (يعني تر نفرِ أول وروسته واجب سو)، نو ځکه به نه ساقطيږي، ځيني حضراتو ويلي دي چي دا قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، او ځيني حضراتو امام محمد رَحِمَهُ الله ته منسوب کړی دی. والله أعلم بالصواب



بَابُ الْجِنَايَاتِ

(دا) باب د جرمونو (په بيان کې) دی

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله د محرم له اقسامو او احکامو څخه تر فراغت وروسته اوس هغه عوارض ذکر کوي کوم چې احرام ته عارضيږي، او معلومه خبره ده چې عوارض وروسته پيښيږي، نو ځکه يې باب الجنايات وروسته ذکر کړی؛

جنايات جمع د جناية ده، لغوي معنیٰ يې ده: جرم، او اصطلاحي معنیٰ يې ده: هغه کار چې په حالت د احرام کې شرعاً حرام او ممنوع وي.

په احرام کې د عطرو د کفارې تفصيل

وَإِذَا تَطَيَّبَ الْمُحْرِمُ او که محرم خوشبويي (عطر) ولګوي فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ نو پر هغه کفاره واجب ده فَإِنْ طَيَّبَ عُضْوًا كَامِلًا فَمَا زَادَ او که پر بشپړ اندام يا تر هغه زيات عطر ولګوي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه يو دم واجب دی وَذٰلِكَ مِثْلُ الرَّأْسِ وَالسَّاقِ وَالْفَخِذِ وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ او بشپړ اندام لکه سر، پنډۍ، ورون او دې ته ورته لِأَنَّ الْجِنَايَةَ تَتَكَامَلُ بِتَكَامُلِ الْاِرْتِفَاقِ ځکه چې جرم پوره کيږي په پوره فايده اخيستلو سره وَذٰلِكَ فِي الْعُضْوِ الْكَامِلِ او پوره فايده اخيستل په بشپړ اندام کې دي فَيَتَرَتَّبُ عَلَيْهِ كَمَالُ الْمُوْجِبِ نو پر بشپړ اندام به پوره سزا مرتّبه وي.

اللغات: ﴿تطيّب﴾ د تفعّل ماضي ده: خوشبويي او عطر او لګول، ﴿کامل﴾ بشپړ، پوره، ﴿ساق﴾ پنډۍ، ﴿تکامل﴾ د تفاعل مضارع ده: پوره کېدل، بشپړېدل، ﴿ارتفاق﴾ فايده اخيستل، نفع پورته کول.

تشريح: مسئله: دا ده چې د محرم لپاره د احرام په حالت کې عطر او خوشبويي استعمالول ممنوع دي، اوس که يو محرم عطر استعمال کړي، نو هغه جنايت وکړی، لهذا د دې جنايت تاوان به ورکوي، د هغه تفصيل دا دی که يې لږ عطر ولګول او پر ټوله اندام يې نه ولګول نو پر هغه صدقه او کفاره واجبيږي، او که پر ټوله اندام مثلاً پر بشپړ سر يا پنډۍ يا ورون يې عطر ولګول نو په دې صورت کې پر هغه دم واجبيږي، دليل دا دی چې جرم پوره کيږي په پوره فايده اخيستلو سره او پوره فايده اخيستل په بشپړ اندام کې راځي، لهذا پر بشپړ اندام به پوره سزا ورکول کيږي.

د پورتنۍ مسئلې څه نور وضاحت

وَإِنْ طَيَّبَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ او که تر يو اندام کم عطر ولګوي فَعَلَيْهِ الصَّدَقَةُ نو پر هغه صدقه واجب ده لِقُصُوْرِ الْجِنَايَةِ ځکه چې جرم کم دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: يَجِبُ بِقَدْرِهِ مِنَ الدَّمِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د جرم په اندازه دم واجب دی اِعْتِبَارًا لِلْجُزْءِ بِالْكُلِّ پر کُل د جزء په قياسولو سره وَفِي الْمُنْتَقٰى: أَنَّهُ إِذَا طَيَّبَ رُبُعَ الْعُضْوِ او په منتقیٰ کې دي: چې که د اندام پر څلورمه حصه عطر ولګوي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه (هم پوره) دم واجب دی اِعْتِبَارًا

بِالْحَلْقِ په سرخريلو باندي په قياسولو سره وَنَحْنُ نَذْكُرُ الْفَرْقَ بَيْنَهُمَا مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى او موږ به وروسته د دواړو په مينځ کي فرق بيان کړو، انشاء الله تعالیٰ.

اللغات: ﴿قصور﴾ ناقص کېدل، کمېدل.

تشريح: **صورت د مسئلي:** دا دی که محرم له يوه اندام څخه پر کمه حصه عطر ولګول، نو پر هغه صدقه واجب ده، ځکه چي د هغه جرم کم دی، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي پر هغه د جرم په اندازه واجبيږي، مثلاً که پر نيم اندام يې عطر ولګول نو نيم دم به واجب وي، او که د اندام پر څلورمه حصه يې عطر ولګول نو د دم څلورمه حصه به واجب وي علی هذا القياس... امام محمد رَحِمَهُ الله جزء پر کُل قياسوي، يعني کله چي په ټوله اندام کي دم سته، نو د اندام په جزء کي به هم د جرم په اندازه دم وي.

وفي المنتقٰى الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په منتقٰى کي ذکر دي که يو محرم د اندام پر څلورمه حصه عطر ولګوي نو پر هغه هم پوره دم واجبيږي، او دا يې په سر خريلو باندي قياس کړي دي، يعني څرنګه چي د سر څلورمه حصه خريل د ټوله سر خريلو په درجه کي دي، همداسي به د اندام پر څلورمه حصه عطرلګول هم پر ټوله اندام د عطر لګولو په درجه کي وي، فرمايي چي موږ به انشاء الله وروسته د رُبع عضو او د رُبع حلق په مينځ کي فرق ذکر کړو.

د واجب دم کمه اندازه

ثُمَّ وَاجِبُ الدَّمِ يَتَأَدّٰى بِالشَّاةِ بيا واجب دم په بزې (وزې) سره اداء کيږي فِي جَمِيعِ الْمَوَاضِعِ إِلَّا فِي مَوْضِعَيْنِ په ټولو ځايونو کي ماسوا له دوو ځايونو څخه نَذْكُرُهُمَا فِي بَابِ الْهَدْيِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى چي هغه به موږ په باب الهدي کي انشاء الله ذکر کړو.

تشريح: فرمايي: د احرام په دوران کي چي په کومو ځايونو کي دم واجبيږي، په هغه ټولو ځايونو کي واجب سوی دم په بزه سره اداء کيږي، لېکن دوه ځايونه داسي دي چي هلته بزه کفايت نه کوي، او په هغه کي اوښ يا غوا واجبيږي: (۱) اول ځای دا دی که انسان په حالت د جنابت يا په حالت د حيض او نفاس کي طوافِ زيارت وکړي، نو پر هغه بُدنه واجبيږي، (۲) دويم ځای دا دی که تر وقوفِ عرفه وروسته يو څوک جماع وکړي، نو پر هغه هم بُدنه واجبيږي، د دې نور تفصيل به انشاء الله په باب الهدي کي راسي.

په احرام کي د واجبي صدقې اندازه

وَكُلُّ صَدَقَةٍ فِي الْإِحْرَامِ غَيْرُ مُقَدَّرَةٍ او د احرام هره هغه صدقه چي اندازه يې معلومه نه وي فَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ نو هغه نيم صاع غنم دي إِلَّا مَا يَجِبُ بِقَتْلِ الْقُمْلَةِ وَالْجَرَادَةِ مګر هغه صدقه کوم چي د سپږي او ملخ په وژلو سره واجبيږي (نو د هغه اندازه معلومه نه ده) هٰكَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى همدارنګه له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوي دي.

اللغات: ﴿غير مقدرة﴾ غير متعين، هغه چي اندازه يې معلومه نه وي، ﴿قملة﴾ سپږه، ﴿جرادة﴾ ملخ.

تشريح: **مسئله**: دا ده که په حالت د احرام کې داسې صدقه واجب سوه چې د هغې هيڅ اندازه معلومه نه وه، نو په داسې صورت کې به د غنمو نيم صاع ورکړي، هو! که يو چا په حالت د احرام کې سپږه يا ملخ مړ کړی، نو په دې کې د صدقې اندازه معلومه نه ده، بلکې محرم ته اختيار دی چې څومره صدقه ورکوي، لهذا که يو موټ يا دوه موټه غنم يا بل شی ورکړي نو هم کافي دي، له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه همدغه مروي دي.

د نکريزو حکم

قَالَ: فَإِنْ خَضَبَ رَأْسَهُ بِحِنَّاءٍ امام محمد فرمايي: او که محرم پر سر نکريزي ولګوي (يعني سر سور کړي) فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّهُ طِيبٌ ځکه چې نکريزي (هم يو ډول) خوشبويي ده قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: اَلْحِنَّاءُ طِيبٌ نبي ﷺ فرمايلي دي: چې نکريزي خوشبويي ده وَإِنْ صَارَ مُلَبَّدًا او که سر په نکريزو پټ سو (يعني که محرم سر په نکريزو کې پټ کړی پوره يوه ورځ يا يوه شپه) فَعَلَيْهِ دَمَانِ: دَمٌ لِلتَّطَيُّبِ وَدَمٌ لِلتَّغْطِيَةِ نو پر هغه دوه دمه واجب دي: يو دم د خوشبويي لګولو په وجه او بل دم د سر پټولو په وجه وَلَوْ خَضَبَ رَأْسَهُ بِالْوَسْمَةِ او که سر د نيل په پاڼو (وسمه) تور کړي لَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو هيڅ شی پر واجب نه دی لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِطِيبٍ ځکه چې وسمه خوشبويي نه ده وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ● أَنَّهُ إِذَا خَضَبَ رَأْسَهُ بِالْوَسْمَةِ لِأَجْلِ الْمُعَالَجَةِ مِنَ الصُّدَاعِ او له امام ابو يوسف څخه روايت دی چې که محرم خپل سر د صُداع د علاج لپاره (يعني د سر د درد لپاره) د نيل په پاڼو تور کړي فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ نو پر هغه کفاره واجب ده بِاعْتِبَارِ أَنَّهُ يُغَلِّفُ رَأْسَهُ په دې اعتبار سره چې هغه سر پټ کړی وَهٰذَا صَحِيحٌ او همدا صحيح ده ثُمَّ ذَكَرَ فِي الْأَصْلِ رَأْسَهُ وَلِحْيَتَهُ بيا (امام محمد رَحِمَهُ الله) په مبسوط کې سر او ږيره دواړه ذکر کړي دي وَاقْتَصَرَ عَلَى ذِكْرِ الرَّأْسِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ او په جامع صغير کې يې د سر پر ذکر اکتفاء کړې ده دَلَّ أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَضْمُونٌ (دا پر دې خبره) دلالت کوي چې له سر او ږيرې څخه هر يو مضمون بالدم دی (يعني د هر يوه ضمان جلا جلا واجبيږي).

اللغات: ﴿خضب﴾ د ضرب ماضي ده: نکريزي يا بل شی پر سر لګول، سر تورول، ﴿حناء﴾ نکريزي، ﴿ملبدا﴾: د دې معنیٰ ده: يو شی پلستر کول او بالکل پټول، ﴿تغطية﴾ د تفعيل مصدر دی: پټول، ﴿وسمة﴾ د سين په سکون او کسره دواړو سره راځي: د نيل درخته چې په پاڼو سره يې سره سر توريږي، وُسمه، ﴿صداع﴾ د سر درد، ﴿يغلف﴾ د ضرب مضارع ده: پټول، (بندول)، ﴿لحية﴾ ږيره.

تشريح: **مسئله**: دا ده که يو محرم خپل سر په نکريزو سور کړی، نو پر هغه يو دم واجبيږي، ځکه چې نکريزي يو ډول خوشبويي او عطر دي، لکه په حديث کې چې راځي: الحناء طيب، او د محرم لپاره خوشبويي لګول جرم دي، نو ځکه به پر هغه دم واجبيږي، او که يو محرم په داسې توګه نکريزي يا بل شی پر سر ولګوی چې سر په پټ سي، او توله

● تخريج: قال الزيلعي أخرجه البيهقي في كتاب المعرفة في الحج و الطبراني في الكبير ج:٣، ص: ٢١٨، و اخرجه في كنـز العمال، باب حرف الحاء، حديث رقم: ٢٢٣٢.

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في الهندية ج:١، ص: ٢٤١. [القول الراجح ج:١، ص: ٢١٩]

ورېښتيان سره وموښلي، نو پر هغه دوې قرباني واجبېږي، يوه قرباني د عطر لګولو په وجه، او دويمه د سر د پټولو په وجه، ځکه په حالت د احرام چې څرنګه عطر لګول حرام دي، همدارنګه سر پټول هم حرام دي.

ولو خضب الخ او که يو محرم خپل سر په وُسمه يعني د نيل د درختې په پاڼو سره تور کړي، نو هيڅ شی نه پر واجبېږي، ځکه چې دا عطر نه ګڼل کيږي، او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی که يو چا په دې خاطر پر سر وُسمه ولګوله چې د سر درد يې ليرې سي، يعني د علاج په غرض يې وسمه استعمال کړه، او پوره يوه ورځ يا يوه شپه يې سر پټ کړی، نو پر هغه کفاره واجبيږي، خو د کفارې وجوب به په دې وجه نه وي، چې هغه عطر استعمال کړه. بلکې په دې وجه به وي چې هغه د وسمې په ذريعه سر پټ کړی، او د احرام په حالت کې سر پټول بالاتفاق دم واجبوي او همدا صحيح دي.

ثم ذکر الخ په دې عبارت سره صاحب د هدايې د مبسوط او د جامع صغير په روايتونو کې فرق ذکر کوي فرمايي چې په مبسوط کې د سر او ږيرې دواړو ذکر سته، او په جامع صغير کې فقط د سر ذکر سته، د جامع صغير له روايت څخه معلوميږي چې د دم د واجبېدلو لپاره پر سر او ږيرې دواړو نکريزې لګول شرط نه دي، بلکې فقط پرسر يا ږيره نکريزې لګول هم دم واجبوي، همدا صحيح دي، ځکه چې هر يو جلا او کامل اندام دی.

په احرام کې د زيتون تېل لګول

وَإِنِ ادَّهَنَ بِزَيْتٍ او که محرم د زيتون تېل ولګوي فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ[●] أَبِي حَنِيفَةَ نو پر هغه دم واجب دی د امام صاحب په نېز وَقَالَا: عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ او صاحبين فرمايي: چې پر هغه صدقه واجب ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: إِذَا اسْتَعْمَلَهُ فِي الشَّعْرِ او امام شافعي فرمايي: که محرم د زيتون تېل په ورېښتيانو کې استعمال کړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو دم پر واجب دی لِإِزَالَةِ الشَّعَثِ د خرابوالي(او بېروالي) د ليرې کولو په وجه(يعني ځکه چې په دې سره هغه د ورېښتيانو ناسموالی او بېروالی ختم کړی) وَإِنِ اسْتَعْمَلَهُ فِي غَيْرِهِ او که له ورېښتيانو څخه ماسوا (په بل ځای کې) يې استعمال کړي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لِانْعِدَامِهِ ځکه چې (د ورېښتيانو) خرابوالی ليرې نه سو وَلَهُمَا أَنَّهُ مِنَ الْأَطْعِمَةِ د صاحبينو دليل دا دی چې د زيتون تېل له خوراکي شيانو څخه دي إِلَّا أَنَّ فِيهِ ارْتِفَاقًا خو په دې کې يو ډول نفع سته بِمَعْنَى قَتْلِ الْهَوَامِّ وَإِزَالَةِ الشَّعَثِ په دې معنیٰ چې سپږې وژني او د ورېښتيانو خرابوالی ختموي فَكَانَتْ جِنَايَةً قَاصِرَةً نو جرم به ناقص وي(لهذا صدقه به واجب وي) وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ أَصْلُ الطِّيبِ د امام صاحب دليل دا دی چې د زيتون تېل د خوشبويی اصل دي(يعني په دې کې خلک يو شی اچوي او خوشبويي ځنې تياروي) وَلَا يَخْلُو عَنْ نَوْعِ طِيبٍ او (په خپله هم) له څه ډول خوشبويی څخه خالي نه دي وَيَقْتُلُ الْهَوَامَّ وَيُلَيِّنُ الشَّعْرَ او سپږې وژني، ورېښتيان نرموي وَيُزِيلُ التَّفَثَ وَالشَّعَثَ او خيرې او د ورېښتيانو خرابوالی ليرې کوي فَيَتَكَامَلُ الْجِنَايَةُ بِهَذِهِ الْجُمْلَةِ نو په دې ټولو

● القول الراجح: هو هذا قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:٢، ص: ١٢١٩. [القول الراجح ج:١، ص: ٢٢٠]

سره به جرم کامل کيږي فَتُوْجِبُ الدَّمَ نو ځکه به دم واجبوي وَكَوْنُهُ مَطْعُوْمًا لَا يُنَافِيْهِ او د هغه خوراکي کېدل د خوشبويي کېدلو منافي نه دي كَالزَّعْفَرَانِ لکه زعفران وَهٰذَا الْخِلَافُ فِي الزَّيْتِ الْبَحْتِ وَالْحَلِّ الْبَحْتِ او دا اختلاف د زيتونو په خالص تېلو او د کنجتو په خالص تېلو کي دی أَمَّا الْمُطَيَّبُ مِنْهُ كَالْبَنَفْسَجِ وَالزَّنْبَقِ وَمَا أَشْبَهَهُمَا پاتې سو هغه شی چي د زيتونو په تېلو سره خوشبوداره سوی وي لکه (د) بنفشې او چمبېلي (تېل) او د دوی په ډول(نور شيان) يَجِبُ بِاسْتِعْمَالِهِ الدَّمُ بِالْإِتِّفَاقِ نو د هغه په استعمال سره بالاتفاق دم واجبيږي لِأَنَّهُ طِيْبٌ ځکه چي هغه خوشبويي ده وَهٰذَا إِذَا اسْتَعْمَلَهُ عَلٰى وَجْهِ التَّطَيُّبِ او دا په هغه صورت کي چي کله يې د خوشبويۍ (عطر لګولو) په توګه استعمال کړي.

اللغات: ﴿زيت﴾ د زيتون تېل، ﴿شعث﴾ د وربېښتيانو بيروالی (خرابوالی او ناسموالی)، ﴿هوام﴾ جمع د هامة ده: په اصل کي زهر لرونکو خزندو ته ويل کيږي، لېکن دلته مجازاً سپږو ته ويل کيږي، ﴿يلين﴾ د تفعيل مضارع ده: نرمول، ﴿تفث﴾ خيري، (د بنکلا پرېښوول)، ﴿بحت﴾ خالص (اصلي)، ﴿حل﴾ په فتحه د حاء سره: د کنجتو تېل، ﴿بنفسج﴾ د ګلِ بنفشې تېل، ﴿زنبق﴾ د چمبېلي تېل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که محرم د زيتون تېل ولګول، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دم پر واجب دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صدقه پر واجب ده، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي که محرم وربېښتيان د زيتون په تېلو غوړ کړل، نو دم پر واجب دی، او که بل ځای يې د زيتون تېل ولګول، نو هيڅ شی پر واجب نه دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چي په دې سره د وربېښتيانو بيروالی او خيره ليري کيږي، حال دا چي د محرم لپاره خيره او بيروالی ليري کول ممنوع دي، لهذا د دې ليري کول به جنايت وي، او جنايت دم واجبوي، نو ځکه به د زيتون د تېلو په ذريعه د وربېښتيانو په غوړولو سره هم دم واجب وي، لېکن که بل ځای د زيتون تېل ولګوي، نو هيڅ شی به نه واجبيږي، ځکه چي په دې صورت کي د خيري او بيروالي ليري کول نسته فلايجب الدم لانعدام الجناية.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د زيتون تېل له خوراکي شيانو څخه دي، د عطرو او خوشبويۍ سره د دې هيڅ تعلق نسته، خو کله چي په دې سره د وربېښتيانو سپږي ختميږي، او د سر بيروالی هم په ليري کيږي، نو په دې وجه د دې په استعمال کي لږ نفع او فايده هم سته، لهذا د محرم په حق کي خو به د دې استعمال جنايت وي، لېکن جنايت قاصره به وي، او جنايت قاصره صدقه واجبوي، دم نه واجبوي، نو ځکه موږ وايو چي په دې صورت کي پر محرم دم نه واجبيږي، بلکي صدقه واجبيږي.

د اما صاحب دليل: دا دی چي بېشکه د زيتون تېل خوشبويي نه ده، لېکن د خوشبويۍ اصل دی، نو څرنګه چي د خوشبويي او عطرو په استعمال سره دم واجبيږي، همدا ډول به د هغو د اصل په استعمال سره هم دم واجبيږي، همدارنګه د زيتون په تېلو کي يو ډول خوشبويي هم سته، او سپږي هم وژني، وربېښتيان هم نرموي، خيره هم ليري کوي، نو د دې ټولو شيانو په وجه به حتمًا جنايت کامل وي، او جنايتِ کامله دم واجبوي، نو ځکه به دزيتونو په تېلو سره دم واجبيږي.

وكونه مطعوما الخ له دې ځايه د صاحبينو د قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې بېشکه د زيتون تېل له خوراکي شيانو څخه دي، خو له خوراکي شيانو څخه کېدل د ذکر سوو شيانو (يعني د نوعِ طيب، قتلِ هوام او نورو) منافي نه دي، لکه زعفران چې بالاتفاق د خوراک شی هم دی او خوشبويي هم ده.

وهذا الخلاف الخ فرمايي چې دا اختلاف د زيتونو او د کنجتو په خالص تېلو کې دی، لېکن که په دې تېلو خوشبوداره شی ګډ کړی سي، لکه بنفشه او چمبيلي، نو بيا د هغو په لګولو سره د ټولو په نېز دم واجبېږي، ځکه چې اوس دا عليحده خوشبويي سوه، هو! که دا تېل پر جسم نه ولګوي، بلکې د خوراک په توګه يې استعمال کړي، نو دم نه واجبېږي، ځکه چې دا د خوشبويي په توګه استعمالول نه سو، بلکې خوړل سو.

د زيتون تېل د دواء په توګه پر زخمونو لګول

وَلَوْ دَاوٰى بِهِ جُرْحَهُ أَوْ شُقُوْقَ رِجْلَيْهِ او که محرم د زتيون په تېلو سره د خپل زخم يا د پښو د چاودو علاج وکړي فَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ نو پر هغه کفاره نسته لِأَنَّهُ لَيْسَ بِطِيْبٍ فِيْ نَفْسِهِ ځکه چې د زتيون تېل بذاتِ خود خوشبويي نه ده إِنَّمَا هُوَ أَصْلُ الطِّيْبِ بلکې هغه خو د خوشبويي اصل دی (يعني د بل شي په ګډون خوشبويي ځني جوړېږي) أَوْ طِيْبٌ مِنْ وَجْهٍ يا يو ډول خوشبويي ده فَيُشْتَرَطُ اِسْتِعْمَالُهُ عَلٰى وَجْهِ التَّطَيُّبِ لهذا د خوشبويۍ په ډول د هغه استعمالول شرط دي بِخِلَافِ مَا إِذَا تَدَاوٰى بِالْمِسْكِ وَمَا أَشْبَهَهُ په خلاف د هغه صورت چې کله محرم په مشک يا د هغه په ډول (بلې خوشبويۍ) سره علاج وکړي.

اللغات: ﴿داوى﴾ د مفاعلې ماضي ده: علاج کول، درملنه کول، ﴿جرح﴾ زخم.

تشريح: **مسئله:** دا ده که محرم د زخم يا د پښو د چاودو لپاره د زيتون تېل استعمال کړه، نو پر هغه دم يا صدقه نه واجبېږي، ځکه چې اول خو د زيتون تېل بذاتِ خود خوشبويي نه ده، بلکې د خوشبويۍ اصل دی، يا يو ډول خوشبويي ده، لهذا دا شرط به لګېږي چې که د زيتون تېل د خوشبويۍ او عطرو په توګه استعمال سوه، نو بيا به صدقه يا دم واجبېږي، او که د علاج په توګه استعمال سوه، نو پر هغه به کفاره نه واجبېږي، او که محرم مشک يا کافور د دواء په توګه استعمال کړل، نو بيا هم کفاره واجبېږي، ځکه چې دا شيان خالص خوشبويي او عطر دي، لهذا په دې کې به د کفارې د واجبېدلو لپاره د خوشبويۍ په توګه د استعمالولو شرط نه وي.

په احرام کې ګنډل سوي جامې اغوستل

وَإِنْ لَبِسَ ثَوْبًا مَخِيْطًا أَوْ غَطّٰى رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلًا او که محرم پوره يوه ورځ ګنډل سوي جامې (کالي) واغوندي يا سر پټ کړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ او که تر دې کم دا کارونه وکړي فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ نو پر هغه صدقه واجب ده وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَنَّهُ* إِذَا لَبِسَ أَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ يَوْمٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که هغه تر نيمې ورځې زيات کالي واغوندي نو پر هغه دم واجب دی وَهُوَ قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ

* القول الراجح: هو قول الجمهور يعني: فعليه صدقة، كذا في الدر المختار ج:۲، ص: ۲۲. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۲۰]

الله أَوَّلًا او همدا د امام صاحب اول قول دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَجِبُ الدَّمُ بِنَفْسِ اللُّبْسِ او امام شافعي فرمايي: چي محض په کالو اغوستلو سره دم واجبيږي لِأَنَّ الْإِرْتِفَاقَ يَتَكَامَلُ بِالْإِشْتِمَالِ عَلَى بَدَنِهِ ځکه چي "نفع اخيستل" کامليږي پر بدن باندي د کالو په اشتمال سره (يعني چي کله کالي واغوستل سي او کالي بدن پټ کړي نو په هغه کړي فايده پوره سوه) وَلَنَا أَنَّ مَعْنَى التَّرَفُّقِ مَقْصُودٌ مِنَ اللُّبْسِ او زموږ دليل دا دی چي له اغوستلو څخه د راحت معنیٰ مقصود ده فَلَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ الْمُدَّةِ نو د يوې مودې اعتبار کول ضرور دي لِيَحْصُلَ عَلَى الْكَمَالِ چي راحت په پوره توګه حاصل سي وَيَجِبُ الدَّمُ او دم واجب سي فَقُدِّرَ بِالْيَوْمِ نو هغه موده يوه ورځ وټاکل سوه لِأَنَّهُ يُلْبَسُ فِيهِ ثُمَّ يُنْزَعُ عَادَةً ځکه چي په عامه توګه کالي په يوه ورځ کي اغوستل کيږي او بيا کښل کيږي وَتَتَقَاصَرُ فِيمَا دُونَهُ الْجِنَايَةُ او تر يوې ورځي په کمه موده کي جنايت قاصر (او کم) دی فَتَجِبُ الصَّدَقَةُ نو ځکه به (تر يوې ورځي په کمه موده) کي صدقه واجب وي غَيْرَ أَنَّ أَبَا يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ أَقَامَ الْأَكْثَرَ مَقَامَ الْكُلِّ لېکن ابو يوسف رَحِمَهُ الله اکثر د کُل قائم مقام کړي دي.

اللغات: ﴿مخيط﴾ ګنډل سوي جامې (کالي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم ګنډل سوي جامې يوه ورځ يا يوه شپه واغوستلې، يا يې خپل سر يوه ورځ يا يوه شپه پټ کړی، نو پر هغه دم واجبيږي، او که تر يوې ورځي يا يې تر يوې شپې کم دا عمل وکړی، نو صدقه پر واجبيږي، لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که تر نيمي ورځي يې زيات دا عمل وکړی، نو دم پر واجبيږي، کنې نه پر واجبيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول هم دغه دی، بيا يې له دې څخه رجوع وکړه او هغه وروستنی قول يې اختيار کړی چي که پوره يوه ورځ يا يوه شپه کالي واغوندي نو دم واجبيږي، کنې صدقه واجبيږي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي محض د ګنډل سوو جامو په اغوستلو سره دم واجبيږي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي کله محض په جامو سره بدن پټ سي، نو فايده او راحت کامل سو، نو ځکه به پر هغه دم واجبيږي.

زموږ دليل: دا دی چي له جامو اغوستلو څخه د راحت معنیٰ مقصود ده، يعني يخ او ګرمي ليري کول، ځکه چي د جامو اغوستل هم د دغه لپاره دي، الله ﷻ فرمايي: سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ او دا معنیٰ کامليږي هم، او قاصر کيږي هم، او د کامل او قاصر په مينځ کي حد فاصل ضروري دی، چي جزاء د هغه مطابق وټاکل سي، نو حدِ فاصل يوه ورځ يا يوه شپه وټاکل سوه، يعني يوه پوره ورځ يا يوه پوره شپه اغوستل کامل جرم دی، نو د دې په وجه سره به کامله جزاء يعني دم واجبيږي، او تر دې کمه موده قاصر جرم دی، نو د دې په وجه به قاصره جزاء يعني صدقه واجبيږي، او څرنګه چي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اکثر د کُل قائم مقام کوي، نو ځکه د هغه په نېز هم د ورځي د اکثره حصې په اغوستلو کي کامله جزاء يعني دم واجبيږي.

ګنډل سوي جامې د څادر (پټو) په ډول اغوستل او د لنګ په ډول تړل

وَلَوِارْتَدٰى بِالْقَمِيْصِ او که محرم کالي (کميس) د څادر په توګه واغوندي أَوِاتَّشَحَ بِهٖ يا اِتّشاح وکړي (يعني له راسته بغل څخه څادر راوباسي او پر چپه اوږه يې واچوي) أَوِاتَّزَرَ بِالسَّرَاوِيْلِ يا پرتوګ د لنګ په ډول وتړي فَلَا بَأْسَ بِهٖ نو په دې کې څه حرج نشته لِأَنَّهٗ لَمْ يَلْبَسْهُ لُبْسَ الْمَخِيْطِ ځکه چې هغه دا د ګنډل سوو جامو په ډول نه واغوستله وَكَذَا لَوْ أَدْخَلَ مَنْكِبَيْهِ فِي الْقَبَاءِ همدارنګه که هغه په چوغه (چپنه) کې خپلې اوږې دننه کړي وَلَمْ يُدْخِلْ يَدَيْهِ فِي الْكُمَّيْنِ او په لستونو کې يې لاسونه دننه نه کړي (نو په دې کې هم څه حرج نشته) خِلَافًا لِزُفَرَ● په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله (امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې په چوغه کې اوږې دننه کول ګواکي چوغه اغوستل دي، لېکن زموږ په نېز داسې نه ده) لِأَنَّهٗ مَا لَبِسَهٗ لُبْسَ الْقَبَاءِ ځکه چې هغه د چوغې اغوستلو په ډول چوغه نه واغوستله (يعني په عامه توګه چې څرنګه چوغه اغوستل کيږي هغسې يې نه واغوستله) وَلِهٰذَا يَتَكَلَّفُ فِيْ حِفْظِهٖ همدا وجه ده چې هغه د دې په ساتنه کې تکلف کوي وَالتَّقْدِيْرُ فِيْ تَغْطِيَةِ الرَّأْسِ مِنْ حَيْثُ الْوَقْتِ مَا بَيَّنَّاهُ او د سر د پټولو په باره کې به د هغه وخت په اعتبار سره اندازه لګيږي کوم چې موږ بيان کړي (خپل مخکيني قول ته اشاره کوي چې که ټوله ورځ سر پټ کړي نو دم به واجبيږي، کنې صدقه به واجبيږي) وَلَا خِلَافَ أَنَّهٗ إِذَا غَطّٰى جَمِيْعَ رَأْسِهٖ يَوْمًا كَامِلًا يَجِبُ عَلَيْهِ الدَّمُ او په دې باره کې هيڅ اختلاف نشته چې کله هغه ټوله ورځ خپل سر پټ کړي نو پر هغه به قرباني واجب وي لِأَنَّهٗ مَمْنُوْعٌ عَنْهُ ځکه چې محرم (په حديث کې) له دې څخه منع سوی دی وَلَوْ غَطّٰى بَعْضَ رَأْسِهٖ او که هغه د سر بعضي حصه پټه کړي فَالْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله● أَنَّهُ اعْتَبَرَ الرُّبُعَ نو له امام صاحب څخه روايت دی چې هغه د څلورمې حصې اعتبار کړی دی اِعْتِبَارًا بِالْحَلْقِ وَالْعَوْرَةِ پر حلق او عورت باندې په قياسولو سره وَهٰذَا لِأَنَّ سَتْرَ الْبَعْضِ اِسْتِمْتَاعٌ مَقْصُوْدٌ او دا ځکه چې د بعضي سر پټول (هم) نفع اخيستل دي يَعْتَادُهٗ بَعْضُ النَّاسِ (لکه څرنګه) چې دا د بعضو خلکو عادت دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ الله أَنَّهٗ يَعْتَبِرُ أَكْثَرَ الرَّأْسِ او له امام ابو يوسف څخه روايت دی چې هغه د سر د اکثري حصې اعتبار کوي اِعْتِبَارًا لِلْحَقِيْقَةِ د حقيقت په اعتبار کولو سره.

اللغات: ﴿ارتدی﴾ د افتعال ماضي ده: څادر پر اوږه کول، ﴿اتشح﴾ د افتعال ماضي ده له وشح څخه مشتق دی: څادر له راسته بغل څخه را ايستل او دواړه طرفونه يې پر چپه بغل اچول، ﴿اتزر﴾ دا هم د افعال ماضي ده: لنګ تړل، ﴿منکب﴾ اوږه، ﴿قبا﴾ چوغه، چپنه، ﴿کمين﴾ دواړه لستوني.

● القول الراجح: هو قول الجمهور أی: لا بأس به، كذا في الهندية ج:١، ص: ٢٤٢. [القول الراجح ج:١، ص: ٢٢١]

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الهندية ج:١، ص: ٢٤٢. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٢١]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم قميص (کميس) د څادر په ډول واغوستی، يا يې له راسته بغل څخه را وايستی او پر چپه اوږه يې واچوی، يا يې له پټو ټوک څخه لنګ جوړ کړی، يعني د لنګ په ډول يې پر پښو را وپېچي، نو په دې صورتونو کې پر هغه صدقه او هيڅ شی نه واجبيږي، ځکه چې محرم دا جامې د ګنډل سوو جامو په ډول نه واغوستلې، حال دا چې ګنډل سوي جامې اغوستل دم واجبوي، نو ځکه به په دې صورتونو کې هم دم نه واجبيږي.
او که محرم په چوغه (قبا) کې صرف خپلې اوږې دننه کړې، او لاسونه يې په لستونو دننه نه کړه، نو هم زموږ په نيز پر هغه هيڅ شی نه واجبيږي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کې پر محرم دم واجبيږي.
د امام زفر دليل: دا دی چې چوغه ګنډل سوي جامې دي، لهذا کله چې محرم په هغې کې خپلې اوږې داخلې کړې نو هغه د ګنډل سوو جامو اغوستونکی سو، او کله چې محرم ګنډل سوي جامې واغوندي نو پر هغه به باليقين د جنايت جزاء واجب وي.
زموږ دليل: دا دی چې هغه قباء داسې نه واغوستله لکه څرنګه چې اغوستل کيږي، يعني لکه څرنګه چې د هغې د اغوستلو عادت دی، ځکه قباء عادتاً په دا ډول اغوستل کيږي چې په لستونو يې لاسونه هم دننه کيږي، همدا وجه ده که يو څوک لاسونه په لستونو دننه نه کړي، نو هغه د قباء په ساتنه کې تکلف کوي، او ډېر کوښښ کوي چې قباء ور څخه ليرې نه سي، ځکه چې په دې صورت کې د هغه پر اوږو د قباء تکيه کېدل مشکل دي، لهذا کله چې يې قباء هغسې نه واغوستله څرنګه چې اغوستل کيږي، نو پر هغه به دم جزاء هم واجب نه وي.

والتقدير الخ فرمايي چې په سر پټولو کې به هم پوره د يوې ورځې اعتبار کيږي، نو که محرم پوره يوه ورځ خپل سر پټ کړی، نو بالاتفاق به پر هغه دم واجبيږي، ځکه چې دا په احرام کې ممنوع دي.

ولوغطّى الخ او که محرم د سر بعضې حصه پټه کړه، نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که دا بعضې حصه د سر د څلورمې حصې په اندازه وه، نو پر هغه دم واجبيږي، او دا به پر حلق او د عورت پر ستر قياسيږي، يعني څرنګه چې د سر د څلورمې حصې په خريلو سره دم واجبيږي، او څرنګه چې په لمانځه کې د عورت د څلورمې حصې په ظهور سره لمونځ فاسديږي، همداسې به د سر د څلورمې حصې په پټولو سره دم واجبيږي، ځکه چې دا هم مقصوده نفع ده، يعني دا عادت هم په بعضې خلکو کې سته چې صرف د سر څلورمه حصه پټوي (لکه د ځينو هيوادونو او د ترکيې خلک چې دومره کوچنې خولۍ (ټوپۍ) پر سر کوي چې په هغه سره فقط د سر څلورمه حصه پټيږي)، او د احرام په حالت کې له ممنوع شي څخه مقصوده نفع حاصلول دم واجبوي، نو ځکه به د سر د څلورمې حصې پټول هم موجب د دم وي؛ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دلته هم د اکثر اعتبار کوي فرمايي چې که هغه د سر اکثره حصه پټه کړه، نو دم پر واجبيږي، کنې نه پر واجبيږي، ځکه د کثرت حقيقت همدغه دی چې د هغه مقابل کم وي، او دا په هغه صورت کې ممکن دي چې کله محرم له نيم څخه زيات سر پټ کړي.

د سر او ږيرې د خريلو او کوچنې کولو بيان

وَإِذَا حَلَقَ رُبُعَ رَأْسِهِ او که محرم د سر څلورمه حصه (يا تر هغه زياته حصه) وخريي أَوْ رُبُعَ لِحْيَتِهِ فَصَاعِدًا يا د ږيرې څلورمه حصه يا تر هغه زياته حصه وخريي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی فَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنَ الرُّبُعِ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ او که تر څلورمې حصې کمه حصه وي نو پر هغه صدقه واجب ده وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجِبُ إِلَّا بِحَلْقِ الْكُلِّ او امام

مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دم نه واجبيږي مګر د ټوله سر په خريلو سره وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَجِبُ بِحَلْقِ الْقَلِيْلِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په لږ خريلو سره (هم) دم واجبيږي اِعْتِبَارًا بِنَبَاتِ الْحَرَمِ د حرم پر وښو باندي په قياسولو سره وَلَنَا أَنَّ حَلْقَ بَعْضِ الرَّأْسِ إِرْتِفَاقٌ كَامِلٌ او زموږ دليل دا دی چې بعضي سر خريل پوره نفع اخيستل دي لِأَنَّهُ مُعْتَادٌ ځکه چې دا (هم) عادت دي فَتَتَكَامَلُ بِهِ الْجِنَايَةُ لهذا په دومره اندازې به جرم کامليږي وَتَتَقَاصَرُ فِيْمَا دُوْنَهُ او له ځلورمي حصې ځخه به په کمه حصه کي جرم ناقص وي بِخِلَافِ تَطْيِيْبِ رُبُعِ الْعُضْوِ په خلاف د اندام پر ځلورمي حصې د عطر لګولو لِأَنَّهُ غَيْرُ مَقْصُوْدٍ ځکه چې هغه مقصود نه دي وَكَذَا حَلْقُ بَعْضِ اللِّحْيَةِ مُعْتَادٌ بِالْعِرَاقِ وَأَرْضِ الْعَرَبِ او همدارنګه د ږيرې ځه حصه خريل په عراق او عربو کي عادت دي (نو پر هغه به هم دم واجب وي).

اللغات: ﴿لحية﴾ ږيره، ﴿نبات﴾ واښه، بوټي (راشنه کېدونکي شيان).

تشريح: **مسئله:** دا ده که محرم رُبع سر (د سر ځلورمه حصه) يا د ږيرې ځلورمه حصه يا تر دې زياته حصه وخريله، نو زموږ په نيز پر هغه دم واجبيږي، او که د خريلو اندازه له رُبع ځخه کمه وه، نو پر هغه صدقه واجبيږي، د امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د بعض او رُبع په خريلو سره هيڅ شی نه واجبيږي، هو! که محرم ټوله سر يا ټوله ږيره وخريي نو پر هغه دم واجبيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر محرم د دم د وجوب په باره کي د قليل او کثير په مينځ کي هيڅ فرق نشته، نو که محرم له رُبع ځخه کم وربښتيان يا ږيره وخريي، نو هم پر هغه دم واجبيږي، حتیٰ که درې يا ځلور وربښتيان وخريي نو هم دم پر واجبيږي، د امام شافعي دليل قياس دی يعني وربښتيان د حرم پر وښو قياسوي يعني که محرم د حرم لږ واښه يا بوټي را وکاږي نو پر هغه هم دم واجبيږي، که ځه هم دوه، درې تاره وي، همداسي به وربښتيان هم وي.

ولنا أن الخ زموږ دليل دا دی چې اصل مقصود انتفاع (نفع اخيستل) دي، او پر انتفاع د وجوب دارومدار دی، اوس موږ وينو چې د رُبع سر خريل هم پوره او کامله انتفاع ده، ځکه چې په خلګو کي د دې عادت هم سته، لکه د ترکيانو عادت چې صرف د سر مينځ خريل دي، او د بعضي خلک عادت صرف د تندي د وربښتيانو خريل دي، لنده دا چې کله د رُبع سر په خريلو سره انتفاع کامليږي، نو په دې سره به جنايت هم کامليږي، او له رُبع ځخه د کمي حصې د خريلو په صورت کي به جنايت ناقص وي، او ځرنګه چې د کامل جنايت په صورت کي دم واجبيږي، او د قاصر جنايت په صورت کي صدقه واجبيږي، نو ځکه به د رُبع سر د خريلو په صورت کي دم او له رُبع ځخه به د کم خريلو په صورت کي صدقه واجبيږي، د دې په خلاف که يو سړی د يو اندام پر ځلورمه حصه (رُبع) عطر ولګوي، نو پر هغه دم نه واجبيږي، ځکه چې د اندام پر رُبع عطر لګول عادت هم نه دي، او مقصود هم نه دي، لهذا په دې کي جنايت پيدا نه سو.

وكذا حلق الخ فرمايي: د رُبع سر چې کوم حکم دی، هغه د رُبع لحيه هم دی، ځکه چې په عراقيانو او عربو کي د رُبع لحيه خريل هم معتاد دي، لهذا که يو محرم رُبع لحيه وخريي نو پر هغه به هم دم واجبيږي.

د څټ او بغلونو د خريلو حکم

وَإِنْ حَلَقَ الرَّقَبَةَ كُلَّهَا او که محرم خپل ټوله څټ وخريي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّهُ عُضْوٌ مَقْصُودٌ بِالْحَلْقِ ځکه چي دا اندام (هم) په خريلو کي مقصود دی (يعني بعضي خلک يې خريي) وَإِنْ حَلَقَ الْإِبْطَيْنِ أَوْ أَحَدَهُمَا او که محرم دواړه بغلونه يا يو بغل وخريي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَقْصُودٌ بِالْحَلْقِ ځکه چي په دواړو کي هريو په خريلو کي مقصود دي لِدَفْعِ الْأَذَى وَنَيْلِ الرَّاحَةِ د ګندګۍ ليري کولو او د راحت د حاصلولو لپاره فَأَشْبَهَ الْعَانَةَ نو دا د سپوخـــي (سپوختي) د وربښتيانو سره مشابه سو ذَكَرَ فِي الْإِبْطَيْنِ الْحَلْقَ هٰهُنَا امام محمد رَحِمَهُ اللهُ دلته د بغلونو په باره کي لفظ د حلق (خريلو) ذکر کړی دی وَفِي الْأَصْلِ النَّتْفُ او په مبسوط کي يې لفظ د نتف (کښلو) ذکر کړی دی وَهُوَ السُّنَّةُ او همدا کښل سنت دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ: إِذَا حَلَقَ عُضْوًا فَعَلَيْهِ دَمٌ او صاحبين فرمايي: چي که محرم (پوره) اندام وخريي نو پر هغه دم واجب دی وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ فَطَعَامٌ او که تر اندام کم وي نو طعام (صدقه) واجب ده أَرَادَ بِهِ الصَّدْرَ وَالسَّاقَ وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ له دې څخه يې مراد سينه، پنډۍ او د دې په څير (نور اندامونه) دي لِأَنَّهُ مَقْصُودٌ بِطَرِيقِ التَّنَوُّرِ ځکه چي دا (هم) د چونې (پوډرو) په لګولو سره مقصود دي فَتَتَكَامَلُ بِحَلْقِ كُلِّهِ لهذا د دې په پوره حلق سره به جرم کامليږي وَتَتَقَاصَرُ عِنْدَ حَلْقِ بَعْضِهِ او د بعضي په حلق سره به جرم قاصر کيږي.

اللغات: ﴿رقبة﴾ څټ، ﴿إبط﴾ بغل، ﴿نيل﴾ د فتح مصدر دی: حاصلول، ﴿عانة﴾ سپوخته، تر نامه لاندي وربښتيان، ﴿نتف﴾ وربښتيان کښل (کاږل)، ﴿تَنَوُّر﴾ د تفعّل مصدر دی له نُوْرَة څخه دی: د وربښتيانو د صفا کولو او د ليري کولو لپاره چونه (پوډر) لګول.

تشريح: مسئله: دا ده که محرم خپل ټوله څټ وخريي يا يې خپل دواړه بغلونه يا يو بغل وخريي نو پر هغه دم واجبيږي، ځکه چي څټ هم په خريلو کي مقصود دی، يعني بعضي خلک قصداً د ښکلا او زينت لپاره خپل څټونه خريي، په ځانګړې توګه انګريزان، همدا ډول بغلونه هم د بدبويي د ليري کولو او راحت حاصلولو لپاره خريل کيږي، لهذا حلق الإبط د حلق العانه سره مشابه سو، او حلق العانه يعني تر نامه لاندي وربښتيان خريل دم واجبوي، نو ځکه به د څټ يا بغل په خريلو سره دم واجبيږي.

ذکر في الخ د دې حاصل دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ اللهُ د بغلونو په باره کي دلته يعني په جامع صغير کي لفظ د حلق ذکر کړی دی، او په مبسوط کي يې لفظ د نتف ذکر کړی دی، له دې څخه دا خبره څرګنديږي چي حلق او نتف دواړه جائز دي، خو نتف يعني کاږل سنّت دي.

وقال الخ فرمايي چي په دې لړ کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ رايه دا ده چي که محرم خپل پوره اندام وخريي، نو پر هغه دم واجب دی، او که کم وخريي، نو صدقه پر واجب ده، او په متن کي له اندام څخه سينه، پنډۍ، ورون او داسي نور مراد

ځکه چي سينه، پنډۍ او نور هم په نوڅرِه لګولو سره مقصود دي، يعني دا اندامونه هم خلګ په پوډرو سره صفا کوي، لهذا که ټوله اندام صفا کړی سي، نو جنايت به کامل وي، او که بعضي صفا کړی سي، نو جنايت به قاصر وي، جنايتِ کامله دم واجبوي، او جنايتِ قاصره صدقه واجبوي.

د بريتو د کوچني کولو حکم

وَإِنْ أَخَذَ مِنْ شَارِبِهِ او که محرم خپل بريتونه کوچني کړي (غوچي کړي) فَعَلَيْهِ طَعَامُ حُكُومَةِ عَدْلٍ نو پر هغه د عادلانو د فيصلې مطابق طعام (غنم) واجب دي وَمَعْنَاهُ: أَنَّهُ يُنْظَرُ أَنَّ هٰذَا الْمَأْخُوذَ كَمْ يَكُونُ مِنْ رُبُعِ اللِّحْيَةِ د دې معنىٰ دا ده: چي دا به کتل کيږي چي کوچنۍ سوې حصه د ږيري د څلورمي حصي په حساب سره څومره کيږي (يعني عادله سړی دي وګوري چي د بريتو غوچي سوي ورېښتيان د ږيري د څلورمي حصې په حساب سره څومره دي، نو که د ږيري د څلورمي حصې سره برابر وي نو يو دم يعني يوه بزه واجب ده او که تر هغه کم وي...) فَيَجِبُ عَلَيْهِ الطَّعَامُ بِحَسَبِ ذٰلِكَ نو پر ده به د هغه حساب مطابق طعام واجبيږي حَتّٰى لَوْ كَانَ مَثَلًا مِثْلَ رُبُعِ الرُّبُعِ تر دې که مثلاً (د بريتو غوچي سوي ورېښتيان) د ږيري د څلورمي حصې څلورمه حصه وي لَزِمَهُ قِيمَةُ رُبُعِ الشَّاةِ نو پر هغه به د يوې بزې د څلورمي حصې قيمت لازم وي وَلَفْظَةُ الْأَخْذِ مِنَ الشَّارِبِ تَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ هُوَ السُّنَّةُ فِيهِ دُونَ الْحَلْقِ او لفظ د الأخذ من الشارب دلالت کوي چي د بريتونو کوچني کول (غوچي کول) سنت دي نه خريل وَالسُّنَّةُ أَنْ يَقُصَّ حَتّٰى يُوَازِيَ الْإِطَارَ او سنت دا دي چي بريتونه دومره کوچني کړی سي چي د اِطار سره برابر سي.

اللغات: ﴿شارب﴾ بريت. ﴿يوازي﴾ د مفاعلې مضارع ده: برابرېدل. ﴿اطار﴾ د لوړي شونډي غاړه (څنډه، ژی). ﴿يقص﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: غوچي کول (کوچني کول).

تشريح: **مسئله**: دا ده که محرم خپل بريتونه غوچي کړل، يا يې وخريل، نو دوه عادله خلګ چي کومه فيصله وکړي، د هغه مطابق به کفاره واجب وي، لهذا عادله خلګ به ګوري چي د غوچي کړی سوو بريتونو اندازه څومره ده، که د هغو اندازه د ږيري د څلورمي حصې څلورمه حصه وه، نو پر هغه به د بزې څلورمه حصه واجب وي، او که د ږيري د څلورمي حصې نيمه حصه وه، نو نيمه بزه به واجب وي، او که د ږيري د څلورمي حصې سره برابر ول، نو يوه بزه به واجب وي.

ولفظة الأخذ الخ د دې حاصل دا دی چي په متن کي د دې لفظ أخذ من شاربه مطلب دا دی چي د بريتونو غوچي کول سنت دي، خريل د سنت خلاف دي، او بيا په بريتو غوچي کولو کي سنت دا دي چي تر اِطار يعني د لوړي شونډي تر لوړي غاړي پوري غوچي کړی سي، د دې لپاره چي دا غاړه (څنډه) بالکل صفا سي.

د ښکر لګولو د ځای د خرېلو حکم

قَالَ: وَإِنْ حَلَقَ مَوْضِعَ الْمَحَاجِمِ فرمايي: او که محرم د ښکر لګولو ځای وخريي فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام صاحب په نېز پر هغه دم واجب دی وَقَالَا●: عَلَيْهِ صَدَقَةٌ او صاحبين فرمايي: چي پر هغه صدقه واجب ده لِأَنَّهُ إِنَّمَا يَحْلِقُ لِأَجْلِ الْحَجَامَةِ ځکه چي محرم صرف د ښکر لګولو په وجه (دا ځای) خريي وَهِيَ لَيْسَتْ مِنَ الْمَحْظُورَاتِ او ښکر لګول (د احرام) له ممنوعاتو څخه نه دي فَكَذَا مَا يَكُونُ وَسِيلَةً إِلَيْهَا نو همدارنګه (به هغه شی هم د احرام له ممنوعاتو څخه نه وي) چي د ښکر لګولو وسيله وي إِلَّا أَنَّ فِيهِ إِزَالَةَ شَيْءٍ مِنَ التَّفَثِ خو څرنګه چي په خرېلو کي د څه ګندګی (خيرو) ليري کول دي فَتَجِبُ الصَّدَقَةُ نو ځکه به صدقه واجب وي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ حَلْقَهُ مَقْصُودٌ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د ښکر د ځای خرېل (هم) مقصود دي لِأَنَّهُ لَا يَتَوَسَّلُ إِلَى الْمَقْصُودِ إِلَّا بِهِ ځکه چي له خرېلو څخه بغير مقصود ته رسېدل نه سي کېدلای وَقَدْ وُجِدَ إِزَالَةُ التَّفَثِ عَنْ عُضْوٍ كَامِلٍ او بيا له بشپړ اندام څخه ګندګي ليري کول راغله فَيَجِبُ الدَّمُ نو ځکه به دم واجب وي.

اللغات: ﴿محاجم﴾ جمع د محجمه: د ښکر لګولو ځای، ﴿تفث﴾ خيره، ګندګي (چټلتيا).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم سړي د ښکر لګولو ځای وخريي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه دم واجبيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر هغه صدقه واجبيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د ښکر لګولو ځای فقط د ښکر لګولو لپاره خرېل کيږي، او ښکر لګول د احرام له ممنوعاتو څخه نه دي، نو کوم شی چي د ښکر لګولو ذريعه (وسيله) وي، هغه به هم د احرام له ممنوعاتو څخه نه وي، له دې دليل څخه ثابته سوه چي د ښکر لګولو د ځای د خرېلو په وجه به پر محرم هيڅ شی واجبېدل پکار نه وي، خو څرنګه چي د دې ځای په خرېلو کي څه د خيري او د ګندګی ليري کول راغله، نو دا جنايت او جرم سو، خو پوره خيره او تفث ليري نه سوه، لهذا دا جرم ناقص سو، او د ناقص جرم په صورت کي صدقه واجبيږي، نو ځکه به په دې صورت کي هم صدقه واجبيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د ښکر لګولو د ځای خرېل مقصود دي (يعني خلک داسي قصداً کوي)، ځکه چي له خرېلو څخه بغير ښکر لګول ممکن نه دي، لهذا دا ځای خرېل هم اصل مقصود سو، او وسيله نه سوه، او عقلي دليل دا دی چي دا ځای د ښکر لګولو په حق کي کامل اندام دی، نو ګواکي له کامل اندام څخه تفث ليري کړی سو، او د احرام په حالت کي له کامل اندام څخه تفث ليري کول دم واجبوي، نو ځکه به په دې صورت کي دم واجبيږي.

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كذا فى الفقه الاسلامى ج:۳، ص: ۲۵۸. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۲۲]

د احرام په حالت کې د بل محرم سر خريل

وَإِنْ حَلَقَ رَأْسَ مُحْرِمٍ بِأَمْرِهِ او که يو محرم د بل محرم سر د هغه په حکم وخريي أَوْ بِغَيْرِ أَمْرِهِ يا د هغه له حکم څخه علاوه (د هغه سر وخريي) فَعَلَى الْحَالِقِ الصَّدَقَةُ نو پر خريونکي محرم صدقه واجب ده وَعَلَى الْمَحْلُوقِ دَمٌ او د کوم محرم سر چې وخريل سو پر هغه دم (قرباني) واجب ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَجِبُ إِنْ كَانَ بِغَيْرِ أَمْرِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر محلوق دم واجب نه دی که د هغه په حکم سره نه وي بِأَنْ كَانَ نَائِمًا په دې توګه چې محلوق بيده وي لِأَنَّ مِنْ أَصْلِهِ أَنَّ الْإِكْرَاهَ يُخْرِجُ الْمُكْرَهَ مِنْ أَنْ يَكُونَ مُؤَاخَذًا بِحُكْمِ الْفِعْلِ ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله اصل دا دی چې إکراه مُکْرَه له دې څخه باسي چې د فعل په حکم دې ونيول سي (يعني د هغه أصل دا دی چې ديو چا سره که زور او جبر وسي نو هغه به پر خپل فعل نه نيول کيږي نه په دنيا کې او نه په آخرت کې). وَالنَّوْمُ أَبْلَغُ مِنْهُ او خوب تر إکراه زيات دی وَعِنْدَنَا بِسَبَبِ النَّوْمِ وَالْإِكْرَاهِ يَنْتَفِي الْمَأْثَمُ او زموږ په نيز په خوب او إکراه سره ګناه ليري کيږي دُونَ الْحُكْمِ نه حکم (يعني په آخرت کې خو به نه نيول کيږي لېکن په دنيا کې به نيول کيږي) وَقَدْ تَقَرَّرَ سَبَبُهُ او د دم سبب ثابت سوی دی وَهُوَ مَا نَالَ مِنَ الرَّاحَةِ وَالزِّينَةِ او هغه راحت او ښکلا حاصلول دي فَيَلْزَمُهُ الدَّمُ حَتْمًا لهذا پر هغه به حتماً دم لازم وي بِخِلَافِ الْمُضْطَرِّ په خلاف د مضطرّ (يعني هغه چې د خدايي مرض په وجه سر وخريي) حَيْثُ يَتَخَيَّرُ ځکه مضطرّ ته اختيار دی لِأَنَّ الْآفَةَ هُنَاكَ سَمَاوِيَّةٌ ځکه چې هلته آفت آسماني (يعني خدايي) دی وَهَهُنَا مِنَ الْعِبَادِ او دلته د بندګانو له طرف څخه دی ثُمَّ لَا يَرْجِعُ الْمَحْلُوقُ رَأْسُهُ عَلَى الْحَالِقِ بيا به محلوق پر حالق رجوع نه کوي (يعني محلوق به له حالق څخه خپل تاوان او دم نه اخلي) لِأَنَّ الدَّمَ إِنَّمَا لَزِمَهُ بِمَا نَالَ مِنَ الرَّاحَةِ ځکه چې پر هغه دم د هغه راحت په وجه لازم سو کوم چې هغه حاصل کړی فَصَارَ كَالْمَغْرُورِ فِي حَقِّ الْعُقْرِ نو محلوق د هغه سړي په ډول سو چې د عقر په حق کې دوکه سوی وي وَكَذَا إِذَا كَانَ الْحَالِقُ حَلَالًا او همدارنګه چې کله حالق حلال وي لَا يَخْتَلِفُ الْجَوَابُ فِي حَقِّ الْمَحْلُوقِ رَأْسُهُ (نو هم به) د محلوق په باره کې حکم نه مختلف کيږي (بلکې په دې صورت کې به هم پر محلوق دم واجب وي) وَأَمَّا الْحَالِقُ تَلْزَمُهُ الصَّدَقَةُ فِي مَسْأَلَتِنَا فِي الْوَجْهَيْنِ او پاته سو حالق نو زموږ د مسئلې په دواړو صورتونو کې پر هغه صدقه واجبيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا شَيْءَ عَلَيْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر هغه هيڅ شی نه واجبيږي وَعَلَى هَذَا الْخِلَافِ إِذَا حَلَقَ الْمُحْرِمُ رَأْسَ حَلَالٍ او هم پر دې اختلاف هغه صورت (هم) دی چې کله محرم د حلال سړي سر وخريي لَهُ أَنَّ مَعْنَى الْإِرْتِفَاقِ لَا يَتَحَقَّقُ بِحَلْقِ شَعْرِ غَيْرِهِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د فايدې (او راحت) اخيستلو معنیٰ به د بل د ويښتانو په خريلو سره نه ثابتيږي وَهُوَ الْمُوجِبُ او همدا (فايده [او راحت] اخيستل) فديه واجبوي وَلَنَا أَنَّ إِزَالَةَ مَا يَنْمُو مِنْ بَدَنِ الْإِنْسَانِ مِنْ مَحْظُورَاتِ الْإِحْرَامِ او زموږ دليل دا دی چې د انسان پر بدن چې

کوم ځه را شنه کیږي د هغه لیري کول د احرام له ممنوعاتو ځنځه دي لِاسْتِحْقَاقِهِ الْأَمَانَ بِمَنْزِلَةِ نَبَاتِ الْحَرَمِ ځکه چي پر بدن راشنه کېدونکی شی د أمن مستحق دی لکه د حرم وابنه (او بوټي) فَلَا يَفْتَرِقُ الْحَالُ بَيْنَ شَعْرِهِ وَشَعْرِ غَيْرِهِ نو ځکه به د خپل د وربېښتیانو او د بل د وربېښتیانو په حالت کي فرق نه وي إِلَّا أَنَّ كَمَالَ الْجِنَايَةِ فِي شَعْرِهِ خو دا چي کامل جنایت په خپلو وربېښتیانو کي دی (لهذا په دې کي به دم لازمیږي، او د بل په وربېښتیانو کي به صدقه لازمیږي).

اللغات: ﴿حالق﴾ خریونکی، ﴿محلوق﴾ خریل سوی، ﴿مأثم﴾ ګناه، ﴿مغرور﴾ دوکه سوی (هغه څوک چي دوکه ورکول سوې وي).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو محرم د بل محرم سر وخریي، برابره ده که د هغه په حکم سره وي، که نه وي، په دواړو صورتونو کي پر سر خریونکي (حالق) صدقه او د چا چي سر وخریل سو (یعني پر محلوق) دم واجب دی، امام شافعي فرمایي چي که د محلوق د حکم بغیر د هغه سر وخریل سو، نو پر هغه دم نه واجبیږي، د حکم بغیر صورت دا دی چي محلوق بیده وي، یا بې هوښه وي، یا مجبوره کړی سي، نو په دې حالتونو کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر محلوق دم او هیڅ شی نه واجبیږي، لېکن پر حالق صدقه واجب ده، همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله قول هم دی.

لأنّ من أصله الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله یو أصول بیان کړی دی فرمایي چي مُکرَه (مجبور سړی) چي پر کوم فعل مجبور کړی سي، هغه به د دې فعل په وجه نه په دنیا کي مأخوذ (نیول) کیږي، او نه په آخرت کي، نو د کوم محرم سر چي جبراً او په زوره وخریل سي، نو پر هغه به په دنیا کي په دم او قرباني سره نه مأخوذ کیږي، او نه به په آخرت کي په ګناه او عذاب سره مأخوذ کیږي، بلکی هغه به په دنیا او آخرت دواړو کي بَرّی او پاک وي، او خوب له اکراه او جبر ځنځه زیات دی، نو بیده انسان خو به په درجه اولیٰ نه مأخوذ کیږي، او زموږ په نېز په خوب او اکراه سره أخروي حکم یعني ګناه خو لیري کیږي، لېکن دنیوي حکم یعني دم نه لیري کیږي، بلکي په دنیا کي به مأخوذ وي، ځکه چي سبب موجود دی، او سبب هغه ښکلا او راحت دی چي محلوق حاصل کړی، لهذا کله چي بیده او مُکرَه په دنیا کي مأخوذ کیږي، نو پر پورتني محلوق به هم حتماً دم واجب وي.

بخلاف المضطر الخ په خلاف د هغه محرم چي د یو خدایي مرض یا د یو خدایي تکلیف په وجه د سر خریلو ته مجبور سي، نو د هغه حکم له بیده محرم ځنځه جلا دی، او هغه ته د دریو شیانو اختیار دی: (۱) که غواړي نو بزه دې په دم کي ورکړي (۲) یا دي شپږو مسکینانو ته خوراک ورکړي (۳) یا دي درې روژې ونیسي، او مضطر محرم ته د دغه شیانو اختیار ځکه ورکول کیږي چي د هغه آفت آسماني دی، او د لوی ښښتن ﷻ له طرفه دی، نو ځکه به هغه ته اختیار وي، او دا اختیار هم په آیت کي د لوی ښښتن ﷻ له طرفه ورکول سوی دی: أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ [البقرة: ۱۹۶].

ثم لایرجع الخ له دې ځایه دا راښیي چي په ذکر سوې مسئله کي محلوق له حالق ځنځه د قرباني او دم تاوان واپس نه سي اخیستلای، ځکه چي پر محلوق دم صرف په دې وجه واجبیږي چي د سر خریلو په وجه هغه ته راحت حاصلیږي، لهذا کله چي دم د راحت حاصلولو په وجه واجبیږي، نو څوک چي راحت حاصل کړي، هغه به دم ورکوي.

لمار كالمغرور الخ او دا محلوق (يعني مُكرَه او نائم محلوق) داسې دی لکه د عَقر په حق کې چې دوکه ورکول سوې وي، د دې مطلب دا دی چې يو سړي مينځه رانيوله، جماع يې ور سره وکړه، او يو بچی ځني پيدا سو، بيا له بائع او مُشتري څخه ماسوا دريم کس دا دعویٰ وکړه چې دا مينځه زما ملک ده، بائع دا زما له اجازې څخه بغير خرڅه کړې ده، قاضي د مُدعي يعني د دريم سړي لپاره فيصله وکړه، نو اوس پر مشتري واجب سوه چې مينځه به مُدعي ته ورکوي، او بچی به نه ورکوي بلکې قيمت به يې ورکوي، او عقر يعني د وطي په وجه سره واجب سوی بدل به هم ورکوي(ځکه چې مشتري دبل چا يعني د مُدعي د مينځې سره وطي کړې دي، نو د وطي بدل او قيمت به هم مُدعي ته ورکوي چې هغه ته عقر ويل کيږي) د مُدعي او مشتري خبره خلاصه سو، اوس چې څرنګه بائع مشتري ته دوکه ورکړې ده،(يعني د بل چا په مينځه يې پر خرڅه کړې وه)، نو مشتري به د کوچني او مينځې قيمت له بائع څخه اخلي، خو د عقر[د وطي قيمت] نه سي ځني اخيستلای، ځکه چې عقر د وطي په وجه واجب سوی دی، او د وطي فايده او خوند خو په خپله مشتري خيستی دی، نو ځکه به مشتري له بائع څخه د وطي عوض نه سي اخيستلای، همدا ډول به په پورتنی ذکر سوې مسئله کي هم د راحت حاصلولو فايده او خوند صرف محلوق اخيستی دی، نو به دم هم صرف پر محلوق واجب وي، او پر حالق به يوه ذره قدر هم نه واجبيږي.

وكذا إذا كان الخ او که حالق غير محرم وو، او محلوق محرم وو، نو هم پر محلوق دم واجبيږي، برابره ده که د هغه په حکم يې سر خريلی وي، يا د هغه د اجازې بغير.

وأما الحالق الخ او که حالق محرم وي، نو په دواړو صورتونو کي پر هغه صدقه واجبيږي، يعني که د محلوق اجازه او حکم وي، که نه وي، او امام شافعي فرمايي چې پر حالق هيڅ شی نه واجبيږي، د امام شافعي او زموږ په مينځ کي همدغه اختلاف هغه وخت هم دی کله چې محرم د بل غيرِ محرم سر وخريي، نو زموږ په نېز پر حالق محرم صدقه واجب ده، او د امام شافعي په نېز هيڅ شی نه واجبيږي، د امام شافعي دليل دا دی چې د بل چا د سر په خريلو کي د راحت معنیٰ نسته، يعني حالق ته د بل انسان د سر په خريلو کي هيڅ راحت نه حاصليږي، حال دا چې په دې صورت کي صرف راحت فديه واجبوي، نو کله چې د فديې مُوجِب پيدا نه سو، نو فديه به هم نه واجبيږي.

ولنا أن إزالة الخ زموږ دليل دا دی چې د انسان پر بدن راشنه کېدونکي شيان يعني وريښتيان او نور ليري کول د احرام له منوعاتو څخه دي، ځکه چې پر بدن راشين کېدونکی شی د امان مستحق دی، لکه د حرم وابنه او بوټي چې د امان او احترام مستحق دي، نو څرنګه چې د حرم وابنه کاړل جزاء واجبوي، همداسې به د بل انسان د وريښتيانو په خريلو سره هم پر خريونکي جزاء يعني صدقه واجبيږي، هو! که يو څوک دا سوال وکړي چې کله خبره داسې ده، نو د بل انسان د سر په خريلو بايد دم واجب کړی سي، لکه د خپل سر په خريلو سره چې دم واجبيږي، د دې جواب دا دی چې د خپل سر په خريلو کي خو جنايت کامل دی(ځکه چې په دې کي ارتفاق کامل دی)، لهذا په دې صورت کي به جزاءِ کامل يعني دم واجبيږي، او د بل انسان د سر په خريلو کي جنايت قاصر دی، او د جنايتِ قاصره په وجه صدقه واجبيږي، لهذا په داسې صورت کي به پر هغه صدقه واجبيږي.

د احرام په حالت کې د بل حلال انسان وربښتيان کوچني کول

فَإِنْ أَخَذَ مِنْ شَارِبِ حَلَالٍ او که محرم د حلال (يعني د غير محرم) برېتونه کوچني کړي (غچي کړي) أَوْ قَلَّمَ أَظَافِيْرَهُ يا د هغه نوکان پرېکړي أَطْعَمَ مَا شَاءَ نو کوم طعام چي وغواړي هغه دي صدقه کړي وَالْوَجْهُ فِيْهِ مَا بَيَّنَّا او په دې باره کې دليل هغه دی کوم چې موږ بيان کړی (چي د بل چا د بدن وربښته يا نور شيان ليرې کول د احرام له ممنوعاتو څخه دي او د امن مستحق دي) وَلَا يَعْرَى عَنْ نَوْعِ ارْتِفَاقٍ او دا (د بل انسان برېتونه کوچني کول او نوکان پرېکول هم) له يو ډول راحت څخه خالي نه دي لِأَنَّهُ يَتَأَذَّى بِتَفَثِ غَيْرِهِ ځکه چي يو انسان د بل انسان په خيرو (او چتلی) سره تکليف محسوسوي وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنَ التَّأَذِّي بِتَفَثِ نَفْسِهِ که څه هم دا تکليف د خپلو خيرو (او ګندګی) له محسوس سوي تکليف څخه کم دی فَيَلْزَمُهُ الطَّعَامُ لهذا پر هغه به (څه) طعام لازم وي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو محرم د بل غير محرم برېتونه کوچني کړل، يا يې د هغه نوکان پرېکړل، نو په دواړو صورتونو کي پر محرم د خپلي خوښي او رضا مطابق طعام او غنم صدقه کول واجب دي، دليل مخکي تېر سو يعني چي کوم شی د انسان پر بدن راشين کيږي، د هغه ليري کول د احرام له ممنوعاتو څخه دي، همدارنګه د غير محرم د برېتو په کوچني کولو او د نوکانو په پرېکولو کي محرم ته څه راحت هم حاصليږي، په دې توګه چي يو انسان د بل انسان د نوکانو له خيري او د برېتو له غټوالي او ناسموالي څخه تکليف او ناخوښي محسوسوي، که څه هم دا تکليف له هغه تکليف څخه کم دی کوم چي له خپلو خيرو څخه محسوسيږي، لهذا محرم هم د غير محرم د برېتونو په کوچني کولو يا نوکانو پرېکولو سره خپل ځان ته څه راحت ورسوي، او په حالت د احرام کي خپل ځان ته راحت رسول جرم دي، خو څرنګه چي دا د معمولي درجې جرم دی، نو ځکه به محرم هغه طعام په صدقه کي ورکوي چي مناسب او د هغه خوښه وي.

د احرام په حالت کې د لاسو يا د پښو نوکان پرېکول

وَإِنْ قَصَّ أَظَافِيْرَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ او که محرم د خپلو لاسو يا د پښو نوکان پرېکړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّهُ مِنَ الْمَحْظُوْرَاتِ ځکه چي دا د احرام له ممنوعاتو څخه دي لِمَا فِيْهِ مِنْ قَضَاءِ التَّفَثِ وَإِزَالَةِ مَا يَنْمُوْ مِنَ الْبَدَنِ ځکه په دې کي (هم) د خيري ختمول او پر بدن د راشنه کېدونکي شي ليري کول دي فَإِذَا قَلَّمَهَا كُلَّهَا فَهُوَ ارْتِفَاقٌ كَامِلٌ نو که محرم ټوله نوکان پرېکړي نو دا بشپړ فايده اخيستل دي فَيَلْزَمُهُ الدَّمُ نو ځکه به (يو) دم پر واجب وي وَلَا يُزَادُ عَلَى دَمٍ إِنْ حَصَلَ فِيْ مَجْلِسٍ وَاحِدٍ او پر يو دم به زياتوب نه کوي په دې شرط چي د ټولو نوکانو پرېکول په يوه مجلس کي واقع سوي وي لِأَنَّ الْجِنَايَةَ مِنْ نَوْعٍ وَاحِدٍ ځکه چي جرم له يوه قسم څخه دی (يعني يو قسم جنايت دی نو ځکه به تداخل پکښي کيږي) فَإِنْ كَانَ فِيْ مَجَالِسَ او که دا په بېلابېلو مجلسونو کي واقع سوي وي فَكَذٰلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ نو د امام محمد په نېز هم دغه حکم دی (يعني يو دم به پر واجب وي) لِأَنَّ مَبْنَاهَا عَلَى التَّدَاخُلِ ځکه چي د داسي کفارې دارومدار پر تداخل دی فَأَشْبَهَ كَفَّارَةَ الْفِطْرِ لهذا دا مسئله د فطر د کفارې سره مشابه سوه إِلَّا إِذَا تَخَلَّلَتِ الْكَفَّارَةُ مګر

په هغه صورت کي چي کله کفاره په مينځ کي واقع سي (نو دويمه کفاره به واجب وي) لِارْتِفَاعِ الْأُولَى بِالتَّكْفِيرِ ځکه چي اول جنايت د کفارې په ورکولو سره پورته سو (ختم سو) وَعَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ● تَجِبُ أَرْبَعَةُ دِمَاءٍ او د شيخينو پر قول څلور قربانياني واجبيږي إِنْ قَلَّمَ فِي كُلِّ مَجْلِسٍ يَدًا أَوْ رِجْلًا که هغه په هر مجلس کي ديوه لاس يا يوې پښې نوکان پرېکړي وي لِأَنَّ الْغَالِبَ فِيهِ مَعْنَى الْعِبَادَةِ ځکه چي په دې کفاره کي د عبادت معنیٰ غالبه ده فَيَتَقَيَّدُ التَّدَاخُلُ بِاتِّحَادِ الْمَجْلِسِ نو تداخل به د مجلس په اتحاد سره مقيد کيږي كَمَا فِي آيِ السَّجْدَةِ لکه څرنګه چي د سجدې په آيتونو کي (تداخل د مجلس په اتحاد سره مقيد دی).

اللغات: ﴿قلم﴾ غچي کول (کوچني کول). ﴿اظافير﴾ نوکان. ﴿تخللت﴾ د تفعل ماضي ده: په مينځ کي راتلل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که محرم خپل د لاسو او د پښو ټوله نوکان پرېکړل، نو پر هغه دم واجب دی، ځکه چي نوکان پرېکول د احرام له ممنوعاتو څخه دي، او د احرام له ممنوعاتو څخه ځکه دي چي د نوکانو په پرېکولو سره خيره (او چټلي) هم ليري کيږي، او د بدن راشنه کېدونکي شيان هم ليري کيږي، او انسان ته په دې سره راحت او فايده هم حاصليږي، لهذا کله چي يې ټوله نوکان پرېکړل، نو دا د کاملي درجې نفع اخيستل سو، او د احرام په حالت کي کامله نفع اخيستل کامل جرم دی، او د کامل جرم په وجه دم واجبيږي، نو ځکه به په دې صورت کي دم واجب وي.

ولا يزداد الخ فرمايي که د ټولو نوکانو پرېکول په يوه مجلس کي وو، نو يو دم به واجبيږي، او پر يوه دم به زياتوب نه کيږي، ځکه چي جنايت يو ډول دی، لهذا په ټولو کي به تداخل کيږي.

وإن كان الخ او که مثلاً په څلورو مجلسونو کي يې ټوله نوکان پرېکړل، نو د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نيز په دې صورت کي هم يو دم واجبيږي، ځکه چي د دې کفارې بنياد پر تداخل دی، په دې شرط چي جنس يو وي. نو په ټولو جنايتونو کي به تداخل کيږي، او يو دم به واجبيږي، لهذا دا مسئله د افطار د کفارې سره مشابه سوه. يعني که يو سړی په رمضان کي قصداً يو څو روژې ماتي کړي، نو د جنس د متحد کېدلو په وجه به پر هغه په آخر کي يوه کفاره واجبيږي، همداسي به په دې مسئله کي په څلورو مجلسونو کي د څلورو نوکانو په پرېکولو سره د يوه جنس کېدلو په وجه يو دم واجبيږي.

إلا إذا تخللت الخ هو! که کفاره په مينځ کي واقع سوه، مثلاً يو واريې ديوه لاس يا يوې پښې نوکان پرېکړل او کفاره يې ورکړه، بيا يې د بل لاس يا پښې نوکان پرېکړل. نو د دويم لپاره به دويمه کفاره ورکوي، اوله کفاره کفايت نه کوي، ځکه چي اول جنايت د اولي کفارې په وجه ختم سو، لهذا دويم جنايت به د اول جنايت په کفاره کي تداخل نه کوي، او که د اول لپاره يې کفاره نه وي ورکړه، نو بيا به تداخل کيږي. او د ټولو لپاره به يو کفاره کافي وي.

وعلی قول أبي حنيفة الخ شيخين رَحِمَهُمَا اللهُ فرمايي: "که هغه د څلورو مجلسونو په هر مجلس کي ديوه لاس يا يوې پښې پنځه سره نوکان پرېکړل نو پر هغه څلور دمه (قرباني) واجبيږي". يعني د هر مجلس لپاره يو دم واجبيږي، ټوله په يو بل کي تداخل نه کوي، ځکه چي د قربانۍ په کفاره کي د عبادت معنیٰ غالب ده (نو څومره کفارې چي زياتيږي هغومره به عبادتونه زياتيږي)، لهذا په دې کي به تداخل کيږي. لېکن دا تداخل به د مجلس په اتحاد سره مقيد وي. يعني که مجلس

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في الدر المختار ج:٢، ص: ٢٢١. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٢٣]

يو وي، نو تداخل به کيږي او يو دم به واجبيږي، او که مجلس يو نه وي، نو تداخل به نه کيږي، بلکې ډېر دمونه به واجبيږي (چې عبادتونه ډېر سي)، لکه د سجدې په آيت کې چې همدغه حکم دی، يعني که د سجدې يو آيت په يوه مجلس کې په وار وار تلاوت کړی سي، نو د ټولو وارونو لپاره به يوه سجده کافي وي، او که مجلسونه مختلف او بېلابېل وي، نو د هر وار لپاره به جلا سجده کوي.

فقط د يوه لاس يا د يوې پښې نوکان پرېکول

وَإِنْ قَصَّ يَدًا أَوْ رِجْلًا او که محرم د يوه لاس يا د يوې پښې نوکان پرېکړل فَعَلَيْهِ دَمٌ نو (هم) پر هغه دم واجب دی إِقَامَةً لِلرُّبُعِ مَقَامَ الْكُلِّ د څلورمې حصې د کُل په قائم مقام کولو سره (يعني ځکه چې څلورمه حصه د کُل قائم مقام ده) كَمَا فِي الْحَلْقِ لکه څرنګه چې په سر خريلو کې (څلورمه حصه د کُل قائم مقام ده).

تشريح: مسئله: دا ده که يو محرم فقط د يوه لاس يا د يوې پښې پنځه نوکان پرېکړي، نو پر هغه هم دم واجبيږي، ځکه چې يو لاس يا يوه پښه د څلورو سره وو يعني د دواړو لاسو او دواړو پښو څلورمه حصه ده، او د دم د وجوب په حق کې څلورمه حصه د کُل قائم مقام ده، لکه د سر د څلورمې حصې خريل چې د ټوله سر د خريلو قائم مقام دي.

له پنځو څخه د کمو نوکانو پرېکولو حکم

وَإِنْ قَصَّ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةِ أَظَافِيرَ او که محرم له پنځو نوکانو څخه کم پرېکړي فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ نو پر هغه صدقه واجب ده مَعْنَاهُ تَجِبُ بِكُلِّ ظُفُرٍ صَدَقَةٌ د دې معنیٰ دا ده چې د هر نوک په بدله کې صدقه واجبيږي وَقَالَ زُفَرُ: يَجِبُ الدَّمُ بِقَصِّ ثَلَاثَةٍ مِنْهَا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د دريو نوکانو په پرېکولو سره به دم واجبيږي وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ الْأَوَّلُ او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول دی لِأَنَّ فِي أَظَافِيرِ الْيَدِ الْوَاحِدَةِ دَمًا ځکه چې د يوه لاس په نوکانو کې دم واجبيږي وَالثَّلَاثُ أَكْثَرُهَا او درې نوکان د هغه اکثر دي (لهذا په اکثر کې به هم دم واجبيږي) وَجْهُ الْمَذْكُورِ فِي الْكِتَابِ او په کتاب کې د ذکر سوي حکم دليل دا دی أَنَّ أَظَافِيرَ كَفٍّ وَاحِدٍ أَقَلُّ مَا يَجِبُ الدَّمُ بِقَلْبِهِ چې د يوه لاس نوکان د هغه مقدار کمه حصه ده چې د هغه په پرېکولو سره دم واجبيږي وَقَدْ أَقَمْنَاهَا مَقَامَ الْكُلِّ او موږ يو لاس (مخکې) د کُل قائم مقام کړی دی فَلَا يُقَامُ أَكْثَرُهَا مَقَامَ كُلِّهَا لهذا د يوه لاس اکثر به د کُل نه قائم مقام کيږي لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى مَا لَا يَتَنَاهَى ځکه چې دا به د لا متناهي شي سبب جوړ سي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که محرم د يوه لاس يا يوې پښې له پنځو څخه کم نوکان مثلاً درې نوکان پرېکړل نو پر هغه د هر نوک په بدله کې صدقه واجب ده، او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې که محرم درې نوکان پرېکړل، نو پر هغه دم واجبيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول همدغه دی، ځکه چې د يوه لاس يا د يوې پښې په نوکانو کې درې نوکان اکثر دي، او اکثر د کُل قائم مقام وي، نو څرنګه چې د يوه لاس يا د يوې پښې په پنځو نوکانو سره دم واجبيږي، همدا ډول به د دريو نوکانو په پرېکولو سره هم دم واجبيږي.

وجه المذكور الخ او په کتاب کې د ذکر سوی حکم دليل او د امام زفر رَحِمَهُ الله د دليل جواب دا دی چې په شومره اندازې نوکانو سره چې دم واجبيږي د هغه کمه درجه د يوه لاس يا د يوې پښې پنځه نوکان دي، يعني د يوه لاس يا د يوې پښې پنځه نوکان د کُل قائم مقام دي، او څرنګه چې موږ دا قاعده للأكثر حكم الكل يو وار جاري کړې ده، يعني يو وار مو پنځه نوکان د کُل قائم مقام کړي دي لکه مخکې چې موږ وويل چې يو لاس يا يوه پښه د څلور سره وو څلورمه حصه ده، لهذا اوس به د يوه لاس د دريو نوکانو په پرېکولو کې د للأكثر حكم الكل قاعده نه جاري کيږي، کنې دا به د غيرمتناهي أمر سبب جوړ سي، ځکه که دا قاعده جاري سي، او درې ګوتې د پنځو ګوتو أکثر سي، نو بيا به دوې ګوتې د دريو ګوتو أکثر وي، لهذا په هغو کې به هم دم واجبيږي، او بيا به يونيمه ګوته د دوو ګوتو أکثر وي او په هغه کې به هم دم واجبيږي، همداسې به دا سلسله روانه وي، او غيرمتناهي أمر ناممکن دی، نو ځکه به تر دې وروسته دا قاعده نه جاري کيږي.

له بېلابېلو ګوتو څخه د پنځو نوکانو پرېکولو حکم

وَإِنْ قَصَّ خَمْسَةَ أَظَافِيرَ مُتَفَرِّقَةً مِنْ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ او که يو محرم د خپلو لاسو او پښو بېلابېل (جلا جلا) پنځه نوکان پرېکړي فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ عِنْدَ* أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر هغه صدقه واجب ده وَقَالَ مُحَمَّدٌ: عَلَيْهِ دَمٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه دم واجب دی اِعْتِبَارًا بِمَا لَوْ قَصَّهَا مِنْ كَفٍّ وَاحِدٍ پر هغه صورت په قياسولو سره چې کله د يوه لاس پنځه نوکان پرېکړي وَبِمَا إِذَا حَلَقَ رُبُعَ الرَّأْسِ مِنْ مَوَاضِعَ مُتَفَرِّقَةٍ او پر هغه صورت په قياسولو سره چې کله له بېلابېلو ځايونو څخه د سر څلورمه حصه وخريي وَلَهُمَا أَنَّ كَمَالَ الْجِنَايَةِ بِنَيْلِ الرَّاحَةِ وَالزِّينَةِ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې جنايت د راحت او زينت (ښکلا) په حصول سر کامليږي وَبِالْقَلْمِ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ يَتَأَذَّى بِهِ او په دې ډول پرېکولو سره هغه په تکليف کيږي وَيَشِينُهُ ذٰلِكَ او دا طريقه هغه عيبجن کوي (يعني په دې سره هغه بد ښکاري معلوميږي) بِخِلَافِ الْحَلْقِ په خلاف د سر خريلو لِأَنَّهُ مُعْتَادٌ عَلَى مَا مَرَّ ځکه چې هغه عادت دي لکه مخکې چې تېر سو وَإِذَا تَقَاصَرَتِ الْجِنَايَةُ او کله چې جنايت ناقص وي تَجِبُ فِيهَا الصَّدَقَةُ نو په هغه کې به صدقه واجبيږي فَيَجِبُ بِقَلْمِ كُلِّ ظُفْرٍ طَعَامُ مِسْكِينٍ نو ځکه به د هر نوک په پرېکولو سره د يوه مسکين واجبيږي وَكَذٰلِكَ لَوْ قَلَّمَ أَكْثَرَ مِنْ خَمْسَةٍ مُتَفَرِّقًا همدا ډول که هغه له پنځو څخه زيات بېلابېل نوکان پرېکړل (نو صدقه واجبيږي) إِلَّا أَنْ يَبْلُغَ ذٰلِكَ دَمًا مګر دا چې هغه دم ته ورسيږي (يعني نوکان دې اندازې ته ورسيږي چې د صدقې قيمت يې دم ته ورسيږي) فَحِينَئِذٍ يَنْقُصُ عَنْهُ مَا شَاءَ نو په دې صورت کې چې له دې څخه شومره وغواړي هغومره دې کم کړي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم پنځه نوکان پرېکړل، خو په دواړو پښو او لاسو کې يې له بېلابېلو (متفرقو) ځايونو څخه پرېکړل، نو د شيخينو په نېز پر هغه صدقه واجب ده، يعني د هر نوک په بدله کې به صدقه ورکوي. او امام محمد فرمايي چې په دې صورت کې دم واجبيږي.

---

* القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في البحر الرائق ج:٣، ص: ٢١. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٢٣]

د امام محمد دلیل: قیاس دی یعني څرنګه چې دیوه لاس یا دیوې پښې د پنځو نوکانو په پرېکولو سره دم واجبېږي، همداسې به په متفرقه توګه د پنځو نوکانو په پرېکولو سره هم دم واجبېږي، او څرنګه چې له متفرقو ځایونو څخه د سر خریلو په صورت کي دم واجبېږي، همداسې به په متفرق توګه د نوکانو په پرېکولو سره هم دام واجبېږي.

د شیخینو دلیل: دا دی چې جنایت په راحت او زینت(ښکلا) حاصلولو سره پوره کیږي، او په متفرقه توګه نوکان پرېکول د تکلیف او عیب سبب دي، لهذا کله چې په دې صورت کي راحت او زینت حاصل نه سو، نو ځکه به جرم کامل نه وي، او کله چې جرم کامل نه سو، نو دم به هم نه واجبېږي، په خلاف له متفرقو ځایونو څخه د سر خریلو صورت، ځکه چې هغه په خلکو کي عادت دی(لکه په انګرېزانو کي چې د زینت لپاره داسې کیږي)، لهذا هغه به د تکلیف او عیب سبب نه وي، او کله چې سبب د تکلیف نه سو، نو کامل جرم سو، او کله چې کامل جرم سو، نو ځکه به په دې ډول سر خریلو سره دم واجبېږي.

وإذا تقاصرت الخ فرمایي چې کله جنایت قاصر وي، نو په هغه کي به صدقه واجبېږي، او د هر نوک په بدله کي به یو مسکین ته خوراک ورکوي(یعني پر هر نوک به نیم صاع غنم واجب وي)، همدارنګه که یو سړی له پنځو څخه زیات نوکان په متفرقه توګه پرېکړل، نو د هر نوک په بدله کي به صدقه واجبېږي، هو! که ټوله صدقات سره یوځای کړل سي، د یوه دم قیمت ته ورسیږي، نو په دې صورت کي به له صدقاتو څخه یو څه حصه کمه کړی سي چې د صدقې اندازې ته را ورسیږي، ځکه چې دم د کامل جرم په وجه واجبېږي، او دلته کامل جرم نسته، لهذا دم به نه واجبېږي.

د مات سوي نوک پرېکولو حکم

قَالَ: وَإِنِ انْكَسَرَ ظُفْرُ الْمُحْرِمِ فرمایي: او که د محرم نوک مات سي وَتَعَلَّقَ او را وځړېږي فَأَخَذَهُ او محرم هغه پرېکړي(یعني لیرې یې کړی) فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هیڅ شی نه واجبېږي لِأَنَّهُ لَا يَنْمُو بَعْدَ الْإِنْكِسَارِ ځکه چې هغه تر ماتېدلو وروسته نه غټېږي فَأَشْبَهَ الْيَابِسَ مِنْ شَجَرِ الْحَرَمِ نو د حرم د وچې درختې(او بوټي) سره مشابه سو.

اللغات: ﴿انکسر﴾ د انفعال ماضي ده: ماتېدل. ﴿تعلّق﴾ د تفعّل ماضي ده: ځړېدل. ﴿یابس﴾ وچ.

تشریح: **مسئله**: دا ده که د محرم نوک په خپله مات سو او را ځوړند سو. بیا محرم هغه پرېکړي، نو پر محرم صدقه او هیڅ شی نه لازمېږي، ځکه چې نوک تر ماتېدلو وروسته نه غټېږي، لهذا اوس هغه د حرم د وچې درختې سره مشابه سو، او که د حرم وچه درخته وکښل سي، نو جائز دي، او هیڅ شی نه واجبېږي، نو همداسې به د مات سوي نوک په پرېکولو او لیرې کولو سره هم هیڅ شی نه واجبېږي.

د احرام په حالت کي د عذر په وجه د یو ممنوع کار کولو حکم

وَإِنْ تَطَيَّبَ أَوْ لَبِسَ مَخِيطًا أَوْ حَلَقَ مِنْ عُذْرٍ او که محرم د عذر په وجه عطر ولګوي یا ګنډل سوي کالي واغوندي یا سر وخریي فَهُوَ مُخَيَّرٌ إِنْ شَاءَ ذَبَحَ نو محرم ته اختیار دی که وغواړي نو یوه بزه دي حلاله کړي وَإِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِينَ بِثَلَاثَةِ أَصْوُعٍ مِنَ الطَّعَامِ او که وغواړي نو درې صاعه غله دي پر شپږو مسکینانو صدقه کړي وَإِنْ شَاءَ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ او که وغواړي نو درې روژې دي ونیسي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ (البقرة: ۱۹۶)

ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "او پر هغه د روژو فدیه ده یا د صدقې یا د قربانی" وَكَلِمَةُ أَوْ لِلتَّخْيِيرِ او کلمه د "أو" د تخییر لپاره ده وَقَدْ فَسَّرَهَا رَسُوْلُ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ بِمَا ذَكَرْنَا او نبي ﷺ د دې آیت تفسیر زموږ د ذکر سوي تفصیل مطابق کړی دی وَالْآيَةُ نَزَلَتْ فِي الْمَعْذُوْرِ او دا آیت د معذوره په حق کي نازل سوی دی ثُمَّ الصَّوْمُ يُجْزِيْهِ فِي أَيِّ مَوْضِعٍ شَاءَ بیا معذور محرم ته په هر هغه ځای کي روژه کافي ده چیري چي هغه وغواړي لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ فِي كُلِّ مَكَانٍ ځکه چي روژه په هر ځای کي عبادت ده وَكَذٰلِكَ الصَّدَقَةُ عِنْدَنَا او صدقه هم زموږ په نېز همداسي ده لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَأَمَّا النُّسُكُ فَيَخْتَصُّ بِالْحَرَمِ بِالْاِتِّفَاقِ او پاته سوه قرباني نو هغه (د ټولو) په اتفاق د حرم سره خاص ده لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَمْ تُعْرَفْ قُرْبَةً إِلَّا فِي زَمَانٍ أَوْ مَكَانٍ ځکه چي وینه بیول صرف په زمان یا مکان کي عبادت پېژندل سوي دي (یعني په شریعت کي د وینې بیولو عبادت د زماني یا مکان سره خاص دي) وَهٰذَا الدَّمُ لَا يَخْتَصُّ بِزَمَانٍ او دا دم د زماني سره خاص نه دی فَتَعَيَّنَ اِخْتِصَاصُهُ بِالْمَكَانِ لهذا د مکان سره د هغه خاصوالی متعین سو.

اللغات: ﴿إراقة﴾ د افعال مصدر دی: وینه بیول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو محرم د عذر په وجه عطر ولګول، یا یې ګنډل سوي کالي واغوستل، یا یې سر وخریی، نو اوس د دم او د جزاء په باره کي هغه ته د درېو خبرو اختیار سته: (۱) که غواړي نو یوه بزه دي قرباني کړي (۲) یا دي پر شپږو مسکینانو درې صاعه غله صدقه کړي (۳) یا دي درې روژې ونیسي، د دې اختیار دلیل د قرآن کریم دا آیت فمن كان منكم مريضا أو به أذى من رأسه ففدية من صيام أو صدقة أو نسك (یعني څوک چي له تاسو څخه ناروغه وي، یا یې په سر کي څه تکلیف وي هغه ته د فدیې د اداء کولو لپاره په روژو، صدقه او قربانۍ کي اختیار دی).

ځکه چي دا آیت د معذوره په حق کي را نازل سوی دی، او په دې کي د "أو" کلمه د تخییر لپاره ده، او په خپله نبي کریم ﷺ دلته "أو" پر تخییر حمل کړی دی، په حدیث کي ذکر سوي دي چي د کعب بن عجره رضي الله عنه په سر کي سپږي وې، او له هغو څخه ډېر په تکلیف وو، نو نبي ﷺ هغه ته د سر خریلو حکم وکړی، او بیا یې پوښتنه ځني وکړه: هل عند نسك (آیا ته د قربانۍ طاقت لرې)، کعب بن عجره رضي الله عنه وفرمایل: لا أقدر عليه، (ای د الله نبي! زه د قربانۍ طاقت نه لرم)، نو نبي ﷺ هغه ته د "درېو روژو نیولو" یا "شپږو مسکینانو ته د خوراک ورکولو" حکم وکړی. (بنایه ج:۴، ص: ۲۶۲)

ثم الصوم الخ د دې حاصل دا دی چي په اتفاق د څلورو امامانو د محرم لپاره هر ځای روژه نیول جائز دي، ځکه چي روژه یو داسي عبادت دی، چي هر ځای جائز دی، د هیڅ ځای او مقام سره خاص نه دی، او زموږ په نېز صدقه همدغه رنګه ده، یعني صدقه هم هر ځای جائز ده، نو که یو معذور محرم د روژې یا صدقې په ذریعه فدیه اداء کول وغواړي نو د هغه خوښه ده که په حرم کي یې اداء کوي، او که له حرم څخه یې دباندي اداء کوي، په هر صورت کي د هغه فدیه اداء کیږي.

---

❶ تخریج: أخرجه البخاري في كتاب المحصر، باب:۵، حديث رقم:۱۸۱۴.

د دې په خلاف که يو محرم د دم او قرباني په ذريعه فديه اداء کول وغواړي، نو د هغه لپاره خاص په حرم کې قرباني کول ضروري دي، ځکه چې د قرباني عبادتوالی صرف د زمان او مکان سره خاص دی، د زمان سره په دې معنیٰ خاص دی، چې قرباني په مخصوص زمان يعني په ځانګړي ورځو يعني په أيامِ نحر کې کيږي، او د مکان سره په دې معنیٰ خاص دی چې د حج ټوله قربانياني او هدايا په حرم کې قرباني کيږي، او د جنايت په وجه واجبېدونکې قرباني د زمان سره خاص نه ده، نو ځکه به حتماً د مکان يعني د حرم سره خاص وي، نو بيا به عبادت وي، او که د مکان سره خاص نه کړی سي، نو صحيح به نه وي.

د حج د جنايت د فديې حکم

وَلَوِ اخْتَارَ الطَّعَامَ او که معذوره محرم خوراک ورکول اختيار کړي أَجْزَأَهُ فِيهِ التَّغْدِيَةُ وَالتَّعْشِيَةُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو د هغه لپاره په دې باره کې سهار او ماښام خوراک ورکول کافي دي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز اِعْتِبَارًا بِكَفَّارَةِ الْيَمِينِ پر کفارهٔ يمين په قياسولو سره وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ* لَا يُجْزِئُهُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دا هغه ته کافي نه دي لِأَنَّ الصَّدَقَةَ تُنْبِئُ عَنِ التَّمْلِيكِ وَهُوَ الْمَذْكُورُ ځکه چې صدقه د تمليک خبر ورکوي او (په آيت کې) همدغه صدقه ذکر سوې ده.

اللغات: ﴿احتار﴾ د افتعال ماضي ده: اختيارول، چڼل، ﴿تغذية﴾ د تفعيل مصدر دی: د سهار خوراک ورکول، ﴿تعشية﴾ دا هم د تفعيل مصدر دی: د ماښام خوراک ورکول، ﴿ينبئ﴾ د افعال مضارع ده: خبر ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو معذوره محرم په دريو شيانو (دم، صدقه او صيام) کې د صدقې په ذريعه فديه ورکول وغواړي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دا صحيح او جائز دي، او هغه ته پکار ده چې شپږو مسکينانو ته سهار او ماښام دواړه وختونه په ډک نس خوراک ورکړي، په داسې کولو سره د هغه غاړه خلاصيږي، او فديه يې اداء کيږي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دا مسئله پر کفارهٔ يمين قياس کړې ده، نو څرنګه چې په کفارهٔ يمين کې سهار او ماښام مسکينانو ته په خوراک ورکولو سره کفاره اداء کيږي، همداسې به فديه هم په دې سره اداء کيږي.

وعند محمد الخ د دې په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې په فديه کې هر مسکين ته خوراک ورکول کافي نه دي، بلکې هر مسکين ته نيم صاع غنم ورکول ضروري دي، ځکه د فديې په آيت کې راغلي دي يا صدقه وکړئ، او د صدقې کولو معنیٰ ده "مسکين مالک جوړول"، آيت دا دی: فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ [البقرة:۱۹۶]، لېکن په خوراک ورکولو کې د اباحت معنیٰ سته، نه د تمليک، نو ځکه به د خوراک په ورکولو سره صدقه نه اداء کيږي، او محرم به له فديې څخه نه خلاصيږي.



---

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۲۲۸. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۲۴]

فَصْلٌ فِيْ مُبَاشَرَةِ الْمَرْأَةِ

(دا) فصل د ښځي سره د جماع کولو (په بيان کي) دی

د احرام په حالت کي ښځي ته د کتلو، مسه کولو او مچولو حکم

وَإِنْ نَظَرَ إِلَى فَرْجِ امْرَأَتِهِ بِشَهْوَةٍ او که محرم د خپلي ښځي فرج ته په شهوت سره وکوري فَأَمْنَى او انزال سي لَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لِأَنَّ الْمُحَرَّمَ هُوَ الْجِمَاعُ ځکه چي حرام شی جماع ده وَلَمْ يُوجَدْ او هغه (دلته) پيدا نه سوه فَصَارَ كَمَا لَوْ تَفَكَّرَ فَأَمْنَى نو داسي سو لکه محرم چي فکر وکړي او انزال سي وَإِنْ قَبَّلَ أَوْ لَمَسَ بِشَهْوَةٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ او که محرم په شهوت سره مچه واخلي يا په شهوت سره ښځه مسه کړي نو پر هغه دم واجب دی وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ يَقُولُ: إِذَا مَسَّ بِشَهْوَةٍ فَأَمْنَى او په جامع صغير کي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي که محرم په شهوت سره ښځه مسه کړي او انزال سي (نو بيا دم واجبيږي) وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَا إِذَا أَنْزَلَ أَوْ لَمْ يُنْزِلْ ذَكَرَهُ فِي الْأَصْلِ او په مبسوط کي يې ذکر کړي دي چي انزال سي او که انزال نه سي په دواړو کي هيڅ فرق نسته وَكَذَا الْجَوَابُ فِي الْجِمَاعِ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ او همدا حکم له فرج ځخه په علاوه کي د جماع دی وَعَنِ الشَّافِعِيِّ أَنَّهُ إِنَّمَا يُفْسِدُ إِحْرَامَهُ فِي جَمِيعِ ذَلِكَ إِذَا أَنْزَلَ او له امام شافعي رَحِمَهُ الله ځخه (يو) روايت (دا) دی چي په دې ټولو صورتونو کي د هغه احرام فاسديږي وَاعْتَبَرَهُ بِالصَّوْمِ هغه پر روژې قياس کوي وَلَنَا أَنَّ فَسَادَ الْحَجِّ يَتَعَلَّقُ بِالْجِمَاعِ او زموږ دليل دا دی چي د حج فاسدېدل د جماع سره تعلق لري وَلِهَذَا لَا يَفْسُدُ بِسَائِرِ الْمَحْظُورَاتِ همدا وجه ده چي حج په نورو ممنوعاتو سره نه فاسديږي وَهَذَا لَيْسَ بِجِمَاعٍ مَقْصُودٍ او دا کار مقصوده جماع نه ده فَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِ مَا يَتَعَلَّقُ بِالْجِمَاعِ لهذا د دې سره به هغه حکم متعلق نه وي کوم چي د جماع سره متعلق دی إِلَّا أَنَّ فِيهِ مَعْنَى الْاِسْتِمْتَاعِ وَالْاِرْتِفَاقِ بِالْمَرْأَةِ خو په دې کي له ښځي ځخه د خوند اخيستلو او د راحت حاصلولو معنیٰ سته وَذَلِكَ مَحْظُورُ الْإِحْرَامِ او دا په احرام کي ممنوع دي فَيَلْزَمُهُ الدَّمُ نو ځکه به پر هغه دم لازميږي بِخِلَافِ الصَّوْمِ په خلاف د روژې لِأَنَّ الْمُحَرَّمَ فِيهِ قَضَاءُ الشَّهْوَةِ ځکه چي په روژه کي شهوت پوره کول حرام دي وَلَا يَحْصُلُ بِدُونِ الْإِنْزَالِ فِيمَا دُونَ الْفَرْجِ او دا خبره نه حاصليږي (يعني په بشپړه توګه شهوت نه پوره کيږي) په ماسوا د فرج کي (په جماع کولو سره) بې له انزاله.

اللغات: ﴿فرج﴾ شرمګاه، د ښځي تناسلي آله. ﴿أمنى﴾ د افعال ماضي ده: انزالېدل. ﴿قبّل﴾ د تفعيل ماضي ده: مچه اخيستل. ﴿محظور﴾ د ضرب د باب اسم مفعول دی: ممنوع. حَظَرَ يَحْظُرُ: منع کول، ساتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو محرم د خپلې ښځې فرج ته د شهوت په نظر سره وكتل، او په دې سره انزال سو، نو پر هغه دم يا صدقه او نور نه واجبيږي، ځكه چي حرام كار د إحرام په حالت كي جماع كول دي، او هغه جماع كړې نه ده، بلكي د ليري څخه انزال سو، نو ځكه به د جماع د نه وجود په وجه په دې مسئله كي نه پر محرم دم واجبيږي، او نه صدقه، لكه څرنګه چي د يوې ښځي په تصور كولو سره د محرم د انزالېدلو په صورت كي پر هغه دم او نور څه نه لازميږي، همداسي به په دې مسئله كي هم پر محرم دم او نور نه لازميږي.

وإن قبّل الخ او كه محرم په شهوت ښځه مچ كړه، يا يې مسه كړه، نو پر هغه دم واجبيږي، هغه كه انزال سي، كه نه سي، په مبسوط كي همدغه ذكر دى، او په جامع صغير كي انزالېدل شرط دى، لكه څرنګه چي په جامع صغير كي فرمايي: "كه په شهوت سره يې ښځه مسه كړه او انزال سو، نو دم پر واجبيږي" ، لهذا د جامع صغير له روايت څخه دا معلوميږي چي كه انزال نه سو، نو پر محرم دم نه واجبيږي.

وكذا الجواب الخ صاحب د هدايې فرمايي چي كه محرم په مادون الفرج يعني په ورون يا بل ځاى كي جماع وكړه، نو هم پر هغه دم واجبيږي، كه انزال سي، كه نه سي، لكه د مبسوط په روايت كي چي ذكر سوه.

وعن الشافعي الخ له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه روايت دى چي په دې ټولو صورتونو كي يعني په شهوت سره د مچولو، مسه كولو او په مادون الفرج كي په جماع كولو سره كه انزال سو، نو احرام فاسديږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله احرام پر روژې قياسوي، يعني څرنګه چي په دې شيانو سره روژه فاسديږي، په دې شرط چي انزال وسي، همداسي به په دې شيانو سره احرام هم فاسديږي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دى چي حج په جماع سره فاسديږي، همدا وجه ده چي له جماع څخه علاوه په نورو ممنوعاتو سره حج نه فاسديږي، مثلاً د عطرو، ګنډل سوو جامو او نورو په استعمال سره حج نه فاسديږي، او ذكر سوي شيان يعني مسه كول، مچول او په مادون الفرج كي جماع كول مقصودي جماع نه ده، بلكي يو ډول خوند اخيستل دي، نو كله چي دا شيان جماع نه سوه، نو د هغو سره به د حج فساد هم متعلق نه وي، لكه څرنګه چي د جماع سره د حج فساد متعلق دى، هو! دومره خبره سته چي په دې شيانو كي له ښځي څخه د خوند حاصلولو معنىٰ سته، او له ښځي څخه خوند حاصلول د احرام له ممنوعاتو څخه دي، نو ځكه به پر هغه دم واجب وي، په خلاف د روژې، ځكه چي په روژه كي شهوت پوره كول حرام دي، او په مادون الفرج كي بغير له انزال څخه شهوت نه پوره كيږي، نو ځكه به بغير له انزال څخه روژه نه فاسديږي، خو كه انزال وسي، نو روژه به فاسديږي.

تر حج پوره كولو مخكي د ښځي او خاوند د جماع حكم

وَإِنْ جَامَعَ فِي أَحَدِ السَّبِيلَيْنِ قَبْلَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ او كه محرم په يو د سبيلينو (دوو لارو) كي تر وقوف عرفه مخكي جماع وكړي فَسَدَ حَجُّهُ نو د هغه حج فاسد سو وَعَلَيْهِ شَاةٌ او پر هغه يوه بزه واجب ده وَيَمْضِي فِي الْحَجِّ كَمَا يَمْضِي مَنْ لَمْ

يُفْسِدُهٗ او د حج افعال به داسي (پوره) کړي لکه د حج نه فاسدونکي سړی چي يې (پوره) کوي وَالْأَصْلُ فِيْهِ مَا رُوِيَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ سُئِلَ عَمَّنْ او په دې مسئله کي اصل هغه حديث دی چي له رسول الله ﷺ څخه د هغه سړي په باره کي پوښتنه وسوه وَاقَعَ اِمْرَأَتَهٗ وَهُمَا مُحْرِمَانِ بِالْحَجِّ (چي) هغه د خپلي ښځي سره جماع وکړه په داسي حال چي دواړه د حج په احرام کي ول قَالَ: يُرِيْقَانِ دَمًا وَيَمْضِيَانِ فِيْ حَجَّتِهِمَا (نو) نبي ﷺ وفرمايل: "چي دواړه دي يو دم قرباني کړي او دواړه دي خپل حج پوره کړي وَعَلَيْهِمَا الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ او پر دواړو آينده کال حج واجب دی" وَهٰكَذَا نُقِلَ عَنْ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ او همدارنګه د صحابه وو له يو جماعت څخه رانقل سوي دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: تَجِبُ بُدْنَةٌ او امام شافعي فرمايي: چي بدنه واجبيږي اِعْتِبَارًا بِمَا لَوْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوْفِ پر هغه صورت باندي په قياسولو چي محرم تر وقوف عرفه وروسته جماع وکړي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ إِطْلَاقُ مَا رَوَيْنَا او د امام شافعي په خلاف د هغه حديث مطلق کېدل حجت دي کوم چي موږ روايت کړی وَلِأَنَّ الْقَضَاءَ لَمَّا وَجَبَ او ځکه چي کله قضاء واجب سوه وَلَا يَجِبُ إِلَّا لِاسْتِدْرَاكِ الْمَصْلَحَةِ او قضاء نه واجبيږي مګر د مصلحت د حاصلولو لپاره خَفَّ مَعْنَى الْجِنَايَةِ (نو) د جنايت معنیٰ سپکه سوه فَيَكْتَفِيْ بِالشَّاةِ نو ځکه به پر بزې اکتفاء کوي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْوُقُوْفِ په خلاف تر وقوف عرفه وروسته لِأَنَّهٗ لَا قَضَاءَ ځکه چي (په دې صورت کي) قضاء واجب نه ده ثُمَّ سَوّٰى بَيْنَ السَّبِيْلَيْنِ ❀ بيا امام قدوري رَحِمَهُ الله په دواړو لارو کي جماع برابره ګرځولې ده وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ فِيْ غَيْرِ الْقُبُلِ مِنْهُمَا لَا يُفْسِدُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه (دويم) روايت دی چي له فرج څخه په علاوه کي جماع کول حج نه فاسدوي لِتَقَاصُرِ مَعْنَى الْوَطْءِ ځکه چي (په دې صورت کي) د وطي معنیٰ ناقصه ده فَكَانَ عَنْهُ رِوَايَتَانِ نو له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه سول.

اللغات: ﴿يمضى﴾ د ضرب مضارع ده: د دې باب اصلي معنیٰ ده: تېرېدل خو کله نا کله د صلې په بدلون سره د دې باب معنیٰ په "کول" او "پوره کول" او "جاري ساتلو" سره هم راځي، ﴿واقع﴾ د مفاعلې ماضي ده: جماع کول، ﴿يريقان﴾ د افعال تثنيه مضارع غائب ده: وينه بيول (قرباني کول)، ﴿قابل﴾ راتلونکی کال.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځه او خاوند دواړه يو ځای حج ته ولاړل او حج يې شروع کړی، خو له وقوف عرفه (په عرفات کي له درېدلو) څخه مخکي خاوند د ښځي سره په قُبل يا دُبُر کي جماع وکړه. نو د ښځي او د خاوند دواړو حج فاسدېږي، او پر هر يوه د يوې يوې بزې قربانول اجب دي، يا په اوښ او غوا کي يوه يوه حصه قربانول واجب دي، او د حج پاته افعال به هغه رنګه پوره کړي لکه څرنګه چي يې هغه سړی پوره کوي چي د هغه حج فاسد سوی نه

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الحج، باب ما يفسد الحج، حديث رقم: ۹۷۷۸.

● القول الراجح: هذه الرواية يعني تسوية السبيلين في الحكم، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۲۲۸. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۲۵]

وي، لېکن را روان کال به د دې حج قضاء راوړي، د دې مسئلې اصل دا حديث دی چې يو سړی د خپلې ښځې سره جماع وکړه، په داسې حال کې چې دواړه محرم ول، او دا قصه تر وقوفِ عرفه مخکې پېښه سوه، نو نبي ﷺ دواړو ته د دم قربانولو حکم وکړی(او له دم څخه زموږ په نېز مراد بزه ده، ځکه چې هغه د دم کمه درجه ده)، او وې فرمايل: "چې د حج افعال پوره کړئ او را روان کال د دې قضاء راوړئ". د صحابه وو له يو جماعت څخه همدغسې رانقل سوي دي.

او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دې غټ جرم په وجه بُدنه يعني د اوښ يا غوا قربانول واجب دي، بزه کافي نه ده، او نه د اوښ يا غوا يوه حصه کافي ده، د هغه دليل قياس دی يعني لکه څرنګه چې تر وقوفِ عرفه وروسته ښځه او خاوند جماع وکړي نو پر هغه بدنه واجبېږي، او بزه کفايت نه کوي، نو تر وقوفِ عرفه مخکې به هم په جماع سره بدنه واجبېږي.

والحجة الخ صاحب د هدايې فرمايي چې زموږ بيان سوی حديث د امام شافعي په خلاف حجت دی، ځکه په دې حديث کې د پرېقان دمأ حکم مطلق دی، او په دې کې د بزې او بدنې هيڅ قيد نسته، لېکن څرنګه چې بزه اقل ده، نو ځکه به هغه متعينه کېږي.

د بزې پر وجوب زموږ دويم دليل دا دی چې د حج فاسدولو په وجه چې کله د حج قضاء واجب سوه، نو جرم سپک(خفيف) سو، او په سپک جرم کې بزه هم کفايت کوي، نو ځکه به بزه کافي وي.

بخلاف ما بعد الوقوف الخ او تر وقوفِ عرفه وروسته د جماع کولو په صورت کې چې څرنګه د حج نه فاسدېدلو په وجه قضاء واجب نه سوه، نو ځکه جرم سپک نه سو، بلکې سخت(غليظ) سو، او په سخت جرم کې بدنه واجبېږي، نو ځکه به تر قوفِ عرفه وروسته د جماع په صورت کې بزه کافي نه وي.

ثم سوّى الخ صاحب د هدايې فرمايي چې امام قدوري د فی أحد السبيلين په ويلو سره په قُبل او دُبُر دواړو کې د جماع کولو حکم برابر ګرځولی دی، همدا د صاحبينو مذهب او د امام صاحب يو روايت دی، د امام صاحب دويم روايت دا دی چې تر وقوفِ عرفه مخکې په قُبل کې وطی کول خو حج فاسدوي، لېکن په دُبر کې په وطی کولو سره حج نه فاسدېږي، ځکه چې کامل وطی په قُبل کې کېږي. په دُبر کې وطي ناقصې وي، لهذا په دُبر کې به په وطی کولو سره حج نه فاسدېږي. ګواکې په دې لړ کې له امام صاحب څخه دوه روايتونه دي، يو د فساد او دويم د عدمِ فساد. خو اول روايت زيات راجح دی(لکه موږ چې په قولِ راجح کې هم دې ته اشاره وکړه).

د حج په قضاء راوړلو کې ښځه جلا کول ضروري دي که نه؟

وَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُفَارِقَ إِمْرَأَتَهُ فِي قَضَاءِ مَا أَفْسَدَاهُ عِنْدَنَا او زموږ په نېز پر محرم واجب نه دي چې خپله ښځه جلا کړي د هغه حج په قضاء راوړلو کې کوم چې دواړو(تېر کال) فاسد کړی وي خِلَافًا لِمَالِكٍ د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی إِذَا خَرَجَا مِنْ بَيْتِهِمَا په هغه صورت کې چې کله دواړه له کور څخه ووځي(يعني امام مالک فرمايي چې کله دواړه له کوره ووځي نو دواړه به سره جلا کېږي) وَلِزُفَرَ إِذَا أَحْرَمَا او د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی چې کله دواړه احرام وتړي(نو دواړه به سره جلا کېږي) وَلِلشَّافِعِيِّ إِذَا انْتَهَيَا إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي جَامَعَهَا فِيهِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی چې کله دواړه هغه ځای ته ورسېږي چېرې چې يې جماع کړې وي(نو دواړه به جلا کېږي) لَهُمْ أَنَّهُمَا يَتَذَاكَرَانِ ذَلِكَ د دوی(ټولو) دليل دا

دی چي خاوند او ښځه به تېره قصه یاده کړي فَيَتَقَصَانِ إِلَى الْمُوَاقَعَةِ نو په جماع کي به ولوېږي فَيَفْتَرِقَانِ نو ځکه به سره جلا کيږي وَلَنَا أَنَّ الْجَامِعَ بَيْنَهُمَا وَهُوَ النِّكَاحُ قَائِمٌ او زموږ دليل دا دی چي د دواړو جمع کونکی شی چي نکاح ده د هغو په مینځ کي قائم ده فَلَا مَعْنَى لِلِافْتِرَاقِ قَبْلَ الْإِحْرَامِ نو تر احرام مخکي جلا کېدل هيڅ معنیٰ نه لري لِإِبَاحَةِ الْوِقَاعِ ځکه چي جماع کول روا دي وَلَا بَعْدَهُ او نه تر احرام وروسته (يعني تر احرام وروسته جلا کېدل هم هيڅ معنیٰ نه لري) لِأَنَّهُمَا يَتَذَاكَرَانِ مَا لَحِقَهُمَا مِنَ الْمَشَقَّةِ الشَّدِيدَةِ بِسَبَبِ لَذَّةٍ يَسِيرَةٍ ځکه چي د دواړو به هغه تکليف په ياد وي کوم چي هغو ته د لږ خوندي خوند په سبب لاحق سوی وو فَيَزْدَادَانِ نَدَمًا وَتَحَرُّزًا نو د دواړو پښېماني او پرېز (پرهېز) به نور (هم) زيات سي فَلَا مَعْنَى لِلِافْتِرَاقِ لهذا جلا کېدل هيڅ معنیٰ او مطلب نه لري.

اللغات: ﴿يفارق﴾ د مفاعلې مضارع ده: جلا کېدل. ﴿ندما﴾ پښېماني. ﴿افتراق﴾ د افتعال مصدر دی: جلا کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که هغه خاوند او ښځه کوم چي يې د تېر کال حج د جماع په وجه فاسد کړی وو، اوس دويم ولر د حج لپاره بيا روان سي، نو زموږ په نيز پر هغو دا واجب نه ده چي سره جلا سي، يا هر يو جلا لاره غوره کړي، د دې په خلاف امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي هر وخت له کور څخه ووځي نو دواړه به سره جلا کيږي، او نه به سره يوځای کيږي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي تر احرام تړلو وروسته به دواړه سره جلا کيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي تېر کال پر کوم ځای دوی جماع کړي وه، کله چي هغه ځای ته نژدې ورسيږي، نو سره جلا کيږي به.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چي تېر کال يو وار دې سړي او ښځي د حج په وخت کي جماع وکړه، نو ډېره ممکنه ده چي کله دوی د جماع د ځای سره تېرېږي، نو شهوت به بيا راپورته سي، او بيا به دا دواړه له قابو څخه ووځي او په جماع کي به مشغول سي، نو له جماع څخه د خوندي کېدلو لپاره غوره دا ده چي هغه ځای ته له رسېدلو څخه مخکي سره جلا سي.

زموږ دليل: دا دی چي حج کول او د حج لپاره سفر کول يو آسانه کار نه دی، بلکي هغه له تکليف او ستونزو څخه ډک دی، لهذا ښځه او سړی به دې ځای ته په رسېدلو سره د جماع د تصوّر پر ځای د افسوس او پښېماني اوښکي بيوي، او د حال په ژبه سره به دا آواز کوي چي همدا هغه ځای دی چيري چي موږ بې لاري سو، او د يو معمولي خوند په خاطر بيا يو ستونزمن سفر ته اړ سو، نو ځکه به دواړه نه له احرام څخه مخکي جلا کيږي، او نه تر احرام وروسته ځکه چي دواړه خاوند او ښځه دي، او د دوی نکاح پاته ده، لهذا تر احرام مخکي خو د هغو لپاره جماع کول صحيح دي، او تر احرام تړلو وروسته جماع ورته حلاله نه ده، او بيا د مخکني جرم ستونزي او پرېشاني د دوی د تنبيه او خبرتيا لپاره کافي دي، لهذا د دوی په حق کي به د بېلتون او جلاوالي هيڅ خبره نه کيږي، او نه دا هيڅ معنیٰ لري.

تر وقوفِ عرفه وروسته د جماع حکم

وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ او کوم محرم چي تر وقوفِ عرفه وروسته جماع وکړي لَمْ يَفْسُدْ حَجُّهُ نو د هغه حج نه فاسديږي وَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ او پر هغه بدنه واجب ده خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ فِيمَا إِذَا جَامَعَ قَبْلَ الرَّمْيِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف

دی په هغه صورت کي چي کله تر رمي مخکي جماع وکړي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: مَنْ وَقَفَ بِعَرَفَةَ فَقَدْ تَمَّ حَجُّهُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "څوک چي پر عرفات ودرېږي نو د هغه حج پوره سو" وَإِنَّمَا تَجِبُ الْبَدَنَةُ لِقَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او بدنه خو (يا) د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د قول په وجه واجبيږي أَوْ لِأَنَّهُ أَعْلَى أَنْوَاعِ الْإِرْتِفَاقِ يا ځکه واجبيږي چي جماع د خوند(او راحت) لوړه درجه ده فَيَتَغَلَّظُ مُوجَبُهُ لهذا د هغې موجب(او سزا) به هم سخته وي.

اللغات: ﴿يتغلظ﴾ د تفعل مضارع ده: سختېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم تر وقوفِ عرفه وروسته د خپلي ښځي سره جماع وکړي، نو د هغه حج نه فاسديږي، خو ځرنګه چي هغه تر وقوفِ عرفه وروسته هم محرم دی، او پر هغه د حج ځيني افعال لکه طوافِ زيارت او نور پاته دي، نو ځکه به د دې جماع په وجه پر هغه يوه بدنه يعني اوښ يا غوا واجب وي، امام شافعي فرمايي چي د هغه حج فاسد سو.

د امام شافعي دليل: دا دی چي تر رمي مخکي د هغه احرام کامل دی، او په کامل احرام کي جماع حج فاسدوي، په خلاف تر رمي وروسته ځکه چي تر رمي وروسته د حلال کېدلو وخت راغلی، نو تر رمي وروسته احرام کامل نه سو، لهذا تر رمي وروسته به جماع حج نه فاسدوي.

زموږ دليل: دا دی چي نبي ﷺ فرمايلي دي: "چا چي وقوفِ عرفه وکړی(يعني پر عرفات ودرېدی) د هغه حج پوره سوه"، له دې حديث څخه بالاتفاق د حج پوره کېدل د افعالو د اداء کولو په اعتبار سره مراد نه دي، ځکه چي اوس هم بعضي ارکان پاته دي، لهذا اوس به يې مراد دا وي چي تر وقوفِ عرفه وروسته حج پوره سو، يعني له فاسدېدلو څخه په أمن سو.

وإنما تجب الخ او بُدنه د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په دې قول سره واجبيږي: إذا جامع قبل الوقوف بعرفة فسد نسكه وعليه دم وإذا جامع بعد الوقوف فحجته تامة وعليه بدنة. دويم دليل دا دی چي جماع د خوند حاصلولو لوړه درجه ده، نو د دې په وجه چي کوم شی واجبيږي، هغه به هم غليظ او د لوړي درجې وي، او هغه بدنه ده، نو ځکه بدنه واجب سوه، دا روايت هم سوی دی چي په حج کي دننه بدنه فقط دوه ځای واجبيږي: يو په هغه وخت کي چي کله تر وقوفِ عرفه وروسته جماع وکړي، دويم په هغه صورت کي چي کله په حالت د جنابت کي طوافِ زيارت وکړي.

تر سر خريلو وروسته د جماع حکم

وَإِنْ جَامَعَ بَعْدَ الْحَلْقِ او که محرم تر حلق وروسته جماع وکړي فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه بزه واجب ده لِبَقَاءِ إِحْرَامِهِ فِيْ حَقِّ النِّسَاءِ ځکه چي د هغه احرام د ښځو په حق کي پاته دی دُوْنَ لُبْسِ الْمَخِيْطِ وَمَا أَشْبَهَهُ نه د ګنډل سوو جامو او د هغو سره د مشابه په حق کي(له مشابه څخه مراد عطر لګول او داسي نور دي) فَخَفَّتِ الْجِنَايَةُ لهذا جرم سپک سو فَاكْتُفِيَ بِالشَّاةِ نو ځکه پر بزې اکتفاء وسوه.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الحج، باب ما جاء من أدرک الإمام بجمع فقد أدرک الحج، حديث رقم: ٨٨٩.

اللغات: ﴿حلق﴾ د ضرب مصدر دی: سر خریل. ﴿منبط﴾ ګنډل سوي جامې. ﴿خفت﴾ د ضرب ماضي ده: سپکېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو حاجي سر وخریی. لېکن تر اوسه یې طواف زیارت کړی نه وو. چې جماع یې وکړه، نو نه د هغه حج فاسدیږي، او نه بُدنه پر واجبیږي. خو څرنګه چې د بنځو په حق کې هغه اوس هم محرم دی. نو ځکه به یوه بزه پر واجب وي، ځکه چې تر حلق وروسته په جنایت کې خفت او سپکوالی راغلی. او ښکاره ده چې په معمولي جنایت کې بزه کفایت کوي، نو ځکه پر بزې اکتفاء وسوه. او په دې مسئله کې صرف د جماع په وجه سره پر هغه بزه واجبیږي، همدا وجه ده که هغه تر حلق وروسته ګنډل سوي جامې واغوندي یا عطر استعمال کړي، نو پر هغه هیڅ شی نه واجبیږي، ځکه د دې شیانو په حق کې هغه تر حلق وروسته حلال سو.

د عمرې تر څلورو شوطونو(دورونو) مخکې د جماع حکم

وَمَنْ جَامَعَ فِي الْعُمْرَةِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ او څوک چې په عمره کې تر څلور دوره(شوطه) طواف کولو مخکې جماع وکړي فَسَدَتْ عُمْرَتُهُ نو د هغه عمره فاسدیږي فَيَمْضِي فِيهَا نو عمره به پوره کړي وَيَقْضِيهَا او قضاء به یې راوړي وَعَلَيْهِ شَاةٌ او پر هغه یوه بزه واجب ده وَإِذَا جَامَعَ بَعْدَمَا طَافَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ أَوْ أَكْثَرَ او که هغه تر څلور دوره یا تر زیات طواف کولو وروسته جماع وکړي فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه یوه بزه واجب ده وَلَا تَفْسُدُ عُمْرَتُهُ او عمره یې نه فاسدیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَفْسُدُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې عمره فاسدیږي وَعَلَيْهِ بُدْنَةٌ اِعْتِبَارًا بِالْحَجِّ او پر حج باندې په قیاسولو سره پر هغه یوه بدنه واجب ده إِذْ هِيَ فَرْضٌ عِنْدَهُ كَالْحَجِّ ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز عمره فرض ده لکه حج(چې فرض دی) وَلَنَا أَنَّهَا سُنَّةٌ او زموږ دلیل دا دی چې عمره سنت ده فَكَانَتْ أَحَطَّ رُتْبَةً مِنْهُ لهذا عمره به له حج څخه د کمې درجې وي فَتَجِبُ الشَّاةُ فِيهَا وَالْبُدْنَةُ فِي الْحَجِّ إِظْهَارًا لِلتَّفَاوُتِ نو د فرق د ښکاره کولو لپاره به په عمره کې بزه واجبیږي او په حج کې به بدنه واجبیږي.

اللغات: ﴿أحط﴾ اسم تفضيل دی: د کمې درجې، ﴿تفاوت﴾ د تفاعل مصدر دی: فرق.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړي د عمرې احرام وتړی، او د عمرې طواف یې شروع کړی، او تر څلور دوره(شوطه) پوره کولو مخکې یې جماع وکړه، نو زموږ په نېز د هغه عمره هم فاسدیږي، او یوه بزه هم پر واجبیږي، او د عمرې پاته افعال به پوره کړي، او که تر څلور دوره(شوط) وروسته یې جماع وکړه، نو عمره یې نه فاسدیږي، لېکن د جماع په وجه یوه بزه پر اجبیږي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په دواړو صورتونو کې پر دې سړي بدنه واجبیږي.

د امام شافعي دلیل: قیاس دی، یعني عمره پر حج قیاسوي، ځکه چې د هغه په نېز د حج په څېر عمره هم فرض ده، او د هغه په نېز د حج په فاسدېدلو کې بدنه واجبیږي، لهذا د عمرې د فساد په صورت کې به هم بدنه واجبیږي.

زموږ دلیل: دا دی چې عمره سنت ده، او حج فرض دی، نو عمره به په رُتبه او درجه کې له حج څخه کمه وي، لهذا که سنت یعني عمره فاسده سي، نو بزه به واجبیږي، د دې لپاره چې د فرضو او سنتو په مینځ کې فرق پاته سي.

په هېره يا په خوب کې يا بالجبر د جماع کولو حکم

وَمَنْ جَامَعَ نَاسِيًا كَانَ كَمَنْ جَامَعَ مُتَعَمِّدًا او څوک چې په هېره جماع وکړي هغه د قصداً جماع کونکي په شان دی
وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: جِمَاعُ النَّاسِيْ غَيْرُ مُفْسِدٍ لِلْحَجِّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د هېرې والا جماع حج نه فاسدوي
وَكَذَا الْخِلَافُ فِيْ جِمَاعِ النَّائِمَةِ وَالْمُكْرَهَةِ او همدا اختلاف د بيدې ښځې او د مجبورې ښځې په جماع کې دی هُوَ يَقُوْلُ:
اَلْحَظْرُ يَنْعَدِمُ بِهٰذِهِ الْعَوَارِضِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې حراموالی د دې عوارضو په وجه ختمېږي فَلَمْ يَقَعِ
الْفِعْلُ جِنَايَةً لهذا دا فعل (يعني جماع) به (ګردسره) جنايت نه وي وَلَنَا أَنَّ الْفَسَادَ بِاعْتِبَارِ مَعْنَى الْاِرْتِفَاقِ فِي
الْإِحْرَامِ اِرْتِفَاقًا مَخْصُوْصًا او زموږ دليل دا دی چې فساد په احرام کې د مخصوص خوند حاصلولو په اعتبار سره دی
وَهٰذَا لَا يَنْعَدِمُ بِهٰذِهِ الْعَوَارِضِ او دا خوند د دې عوارضو په وجه نه ختمېږي وَالْحَجُّ لَيْسَ فِيْ مَعْنَى الصَّوْمِ او حج د
روژې په معنیٰ سره نه دی لِأَنَّ حَالَاتِ الْإِحْرَامِ مُذَكِّرَةٌ ځکه چې د احرام حالتونه ور په يادونکي دي بِمَنْزِلَةِ حَالَاتِ
الصَّلَاةِ لکه د لمانځه حالتونه بِخِلَافِ الصَّوْمِ په خلاف د روژې، والله أعلم بالصّواب.

اللغات: ﴿ناس﴾ د ضرب اسم فاعل دی: هېرونکی، هېرې والا. ﴿حظر﴾ د ضرب مصدر دی: حُرمت، ممانعت. ﴿جناية﴾ جرم.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه زموږ په نېز په قصداً جماع کولو سره د محرم حج او نور فاسدېږي، همدارنګه په هېره په جماع کولو سره هم حج فاسدېږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په هېره سره جماع کول حج نه فاسدوي، لکه څرنګه چې په هېره د جماع کولو په وجه روژه نه فاسدېږي، همدا اختلاف هغه وخت دی چې کله يو څوک د بيدې ښځې سره جماع وکړي، يا په زوره د يوې ښځې سره جماع وکړي، او دا ښځه محرمه هم وي، نو زموږ په نېز د محرمې ښځې حج فاسدېږي، که څه هم ګنهګاره نه ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د هغې حج نه فاسدېږي.

والحج ليس الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې حُرمت(حرامېدل) د هېرې او خوب او داسې نورو عوارضو په وجه ختمېږي، نو حرام فعل ګردسره جنايت نه سو، او کله چې جنايت نه سو، نو حج به هم نه فاسدېږي، ځکه چې حج خو په جنايت کولو سره فاسدېږي.

ولنا أن الفساد الخ زموږ دليل دا دی چې حج او عمره د احرام په حالت کې د يو خاص ډول خوند حاصلولو په وجه فاسدېږي، يعني د جماع په خوند سره حج فاسدېږي، او د جماع خوند د هېرې، خوب او نورو عوارضو په وجه نه ختمېږي، يعني هېره او خوب د حصولِ لذت منافي نه دي، لکه څرنګه چې په هېره يا په زوره د جماع په وجه غسل هم واجبېږي، او حرمتِ مصاهرت هم ثابتېږي، نو کله چې د خوب، او هېرې په حالت کې جماع په نورو مسئلو کې تأثير کوي، نو په حج کې به هم تأثير کوي، او حج به فاسدېږي.

والحج ليس الخ پاتې سو دا امام شافعي رَحِمَهُ الله قياس چې هغه حج پر روژې قياسوي، نو د هغه جواب دا دی چې حج پر روژې قياسول صحيح نه دي، ځکه چې د احرام ټول حالتونه ورپه يادونکي دي، او هر وخت محرم ته د جماع او له

ممنوعات احرام څخه د منع کېدلو تنبيه ورکوي، لکه څرنګه چې د لمانځه حالتونه ور په يادونکي دي. نو ځکه به په احرام او لمانځه کې هېره عذر نه ګرځول کيږي، د دې په خلاف د روژې حالت دی، ځکه د روژې حالت روژتي ته ور په يادونکی نه دی، ځکه چې روژه باطني شی ده، او ډېر ځله د هغه روژه په ياد نه وي، همدا وجه ده چې په روژه کې هېره عذر ګرځول سوي ده. والله أعلم بالصواب

فَصْلٌ فِيْ جِنَايَةِ الطَّوَافِ

(دا) فصل په طواف کې د جنايت کولو (په بيان کې) دی

تشريح: په مخکښي فصل کې ذکر سوي مسائل د دې فصل له مسائلو څخه جلا او عليحده دي، نو ځکه دا مسئلې په جلا او ځانګړي فصل کې بيانيږي.

بغير له اودس څخه د طواف حکم

وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الْقُدُوْمِ مُحْدِثًا او څوک چې طواف قدوم بې اودسه وکړي فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ نو پر هغه صدقه واجب ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يُعْتَدُّ بِهِ او امام شافعي فرمايي: چې د داسي طواف اعتبار به نه کيږي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ●: اَلطَّوَافُ صَلَاةٌ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چې طواف لمونځ دی" إِلَّا أَنَّ اللهَ تَعَالَى أَبَاحَ فِيْهِ الْمَنْطِقَ لېکن الله ﷻ په طواف کې خبري روا ګرځولي دي فَتَكُوْنُ الطَّهَارَةُ مِنْ شَرْطِهِ نو ځکه به د طواف لپاره طهارت شرط وي وَلَنَا قَوْلُه تَعَالَى: وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ (الحج، ٢٩) مِنْ غَيْرِ قَيْدِ الطَّهَارَةِ زموږ دليل د الله تعالیٰ (دا) فرمان دی: وليطوفوا... الخ (چې دا آيت) د طهارت له قيد څخه خالي دی فَلَمْ تَكُنْ فَرْضًا نو ځکه به طهارت فرض نه وي ثُمَّ قِيْلَ: هِيَ سُنَّةٌ بيا ويل سوي دي: چې طهارت سنت دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهَا وَاجِبَةٌ (لېکن) صحيح دا ده چې طهارت واجب دی لِأَنَّهُ يَجِبُ بِتَرْكِهَا الْجَابِرُ ځکه چې د طهارت په پرېښوولو سره د نقصان پوره کونکی شی واجبيږي وَلِأَنَّ الْخَبَرَ يُوْجِبُ الْعَمَلَ او په دې وجه هم چې حديث عمل واجبوي فَيَثْبُتُ بِهِ الْوُجُوْبُ نو په هغه سره به وجوب ثابتيږي فَإِذَا شَرَعَ فِيْ هٰذَا الطَّوَافِ وَهُوَ سُنَّةٌ نو کله چې څوک دا طواف شروع کړي حال دا چې دا طوف سنت دی يَصِيْرُ وَاجِبًا بِالشُّرُوْعِ (نو) په شروع کولو سره واجب ګرځي وَيَدْخُلُهُ نَقْصٌ بِتَرْكِ الطَّهَارَةِ او د طهارت په پرېښوولو سره په دې کې نُقص داخليږي فَيُجْبَرُ بِالصَّدَقَةِ نو دا نُقص به په صدقه سره پوره کيږي (يعني د هغه تلافي به په صدقه سره کيږي) إِظْهَارًا لِدُنُوِّ رُتْبَتِهِ د دې خبري د ښکاره کولو لپاره چې د دغه طواف رُتبه کمه ده عَنِ الْوَاجِبِ بِإِيْجَابِ اللهِ له هغه طواف څخه کوم چې د الله

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الحج، باب الطواف على الطهارة، حديث رقم: ٩٠٨٥، وكنز العمال، باب حرف الحاء، حديث رقم: ١٢٠٠٢.

تعالیٰ په واجبولو سره واجب سوی دی وَهُوَ طَوَافُ الزِّيَارَةِ او هغه طواف زيارت دی وَكَذَا الْحُكْمُ فِي كُلِّ طَوَافٍ هُوَ تَطَوُّعٌ او همدا حکم په هر هغه طواف کي دی چي نفلي وي.

اللغات: ﴿محدث﴾ بې اودسه سړی، ﴿لايعتد به﴾ د افتعال نفي مضارع مجهوله ده: دا به نه شمارل کيږي (د دې اعتبار به نه کيږي)، ﴿أباح﴾ د افعال ماضي ده: روا کول. حلالول. ﴿أدنیٰ﴾ کمي. سپکوالی، ﴿تطوع﴾ نفلي.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د محدث(بې اودسه سړي) طواف زموږ په نيز معتبر او صحيح دی، خو صدقه پر واجبيږي.او د امام شافعي په نيز معتبر نه دی.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: الطواف صلوة. يعني نبي ﷺ طواف د لمانځه سره مشابه ګرځولی دی، او دا خبره ښکاره ده چي د طواف او لمانځه په ذات کي هيڅ مشابهت نه سته، ځکه چي د طواف ذات دوران يعني پر کعبه ګرځېدل او دور لګول دي، او دا د لمانځه د ذات منافي دي، لهذا د مشابهت مراد دا دی چي د طواف حکم د لمانځه د حکم په ډول دی، يعني څرنګه چي لمونځ بغير له طهارت څخه معتبر نه دی، همدارنګه به طواف هم بغير له طهارت څخه معتبر نه وي.

زموږ دليل: دا دی چي په قرآن کي د طواف دا آيت وليطوّفوا بالبيت العتيق مطلق دی، يعني الله تعالیٰ فقط پر کعبې د طواف کولو حکم کړی دی، د اودس او طهارت هيڅ قيد يې ذکر کړی نه دي، لهذا له دې آيت څخه د طهارت فرضيت نه ثابتيږي. او په خبرِ واحد سره پر کتاب الله زياتوب کول هم جائز نه دي، حاصل دا چي د طواف لپاره طهارت فرض نه سو، ليکن د بعضي حضراتو په نيز سنت دی. لکه دا قول چي د ابن شجاع هم دی، خو صحيح دا ده چي طهارت واجب دی، کوم چي د ابوبکر رازي قول دی. د واجبېدلو دليل يې دا دی چي په طواف قدوم کي د طهارت پرېښوولو په وجه جابر(يعني د نقصان پوره کونکی شی) چي هغه صدقه ده واجبيږي، او د کوم شي په پرېښوولو سره چي جابر واجبيږي. هغه شی واجب وي، نو ځکه به طهارت واجب وي، دويم دليل دا دی چي الطواف صلوة خبر واحد دی، او له خبر واحد څخه وجوب ثابتيږي، لهذا له دې حديث څخه به هم د طهارت وجوب ثابتيږي.

فإذا شرع الخ په طواف قدوم کي د طهارت په پرېښوولو سره د صدقې د واجبېدلو دليل دا دی چي کله محرم طواف قدوم شروع کړي کوم چي سنت دی، نو دا په شروع کولو سره واجب سو، او د طهارت د پرېښوولو په وجه په دې کي نقصان داخل سو، نو د دې نقصان تلافي به په صدقه سره کيږي، پاته سوه دا خبره چي د دې نقصان تلافي به صدقه سره ولي کيږي؟، حال دا که طواف زيارت د بې اودسی په حالت کي وسي، نو د هغه تلافي به په دم سره کيږي، جواب دا دی چي د طواف قدوم تلافي به په دې وجه په صدقه سره کيږي چي دا ښکاره سي چي طواف قدوم په مرتبه او درجه کي تر طواف زيارت کم دی، او همدا حکم په هر نفلي طواف کي دی، يعني هر کله چي يو نفلي طواف بې اودسه وسي، نو د هغه په وجه به صرف صدقه واجبيږي. طواف زيارت ځکه په مرتبه او درجه کي لوړ دی چي هغه د الله په فرضولو سره فرض سوی دی، لهذا په هغه کي به د بې اودسی په صورت کي دم يعني بزه واجبيږي.

بغير له اودس شخه د طواف زيارت حکم

وَلَوْطَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ مُحْدِثًا او که محرم بې اودسه طواف زيارت وکړي فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه يوه بزه واجب ده لِأَنَّهُ أَدْخَلَ النَّقْصَ فِي الرُّكْنِ ځکه چې هغه په رکن کې نقص داخل کړی فَكَانَ أَفْحَشَ مِنَ الْأَوَّلِ نو دا به تر مخکې لا (يعنې تر طواف قدوم لا) بد حرکت وي فَيُجْبَرُ بِالدَّمِ لهذا د دې تلافي به په دم سره کيږي وَإِنْ كَانَ جُنُبًا او که محرم جنب وي(يعنې طواف زيارت د جنابت په حالت کې وکړي) فَعَلَيْهِ بَدَنَةٌ نو بيا پر هغه بدنه واجب ده كَذَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ همدارنګه له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا شخه روايت سوی دی وَلِأَنَّ الْجَنَابَةَ أَغْلَظُ مِنَ الْحَدَثِ او ځکه چې جنابت له حدث شخه زيات غليظ(سخت) دی فَيَجِبُ جَبْرُ نُقْصَانِهَا بِالْبَدَنَةِ إِظْهَارًا لِلتَّفَاوُتِ نو د جنابت د نقصان تلافي به په بدنې سره کيږي (د دواړو په مينځ کې) د فرق د ښکاره کولو لپاره وَكَذَا إِذَا طَافَ أَكْثَرَهُ جُنُبًا أَوْ مُحْدِثًا او همدارنګه که محرم اکثره طواف د جنابت يا د بې اودسۍ په حالت کې وکړي (نو پر هغه به دم واجبيږي) لِأَنَّ أَكْثَرَ الشَّيْءِ لَهُ حُكْمُ كُلِّهِ ځکه چې د شي اکثر لره حکم د کُل وي.

اللغات: ﴿أفحش﴾ اسم تفضيل دی: ډېر بد. ﴿يجبر﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: تلافي کول، نقصان پوره کول، اصلي معنی يې ده: مات هډوکی جوړول. ﴿بدنة﴾ غټ شاروی(غوا، اوښ).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم په حالت د بې اودسۍ کې طواف زيارت وکړی، نو پر هغه قرباني يعنې بزه واجبيږي، ځکه چې په دې سره هغه په رکن يعنې په طواف زيارت کې نقصان پيدا کړی، او په رکن کې نقصان پيدا کول زيات بد دي په واجب کې له نقصان پيدا کولو شخه. نو کله چې په رکن کې نقصان پيدا کول زيات بد دي، نو د هغه تلافي به هم په غټ شي يعنې په بزې سره کيږي، او په واجب يعنې په طواف قدوم کې به د پيدا کېدونکي نقصان تلافي په کوچني شي يعنې په صدقه سره کيږي، لهذا که طواف زيارت يې د جنابت په حالت کې وکړی، نو پر هغه به بدنه يعنې اوښ يا غوا واجبيږي، همدا له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا شخه را نقل سوي دي، او دويم دليل دا دی چې جنابت د بې اودسۍ په نسبت زيات غليظ او سخت دی، نو د بې اودسۍ او جنابت په مينځ کې به د فرق ښکاره کولو لپاره د جنابت په وجه سره د پيدا کېدونکي نقصان تلافي په بدنه سره کيږي، او په بې اودسۍ سره د پيدا کېدونکي نقصان تلافي به په بزې سر کيږي.

وكذا إذا الخ او همدارنګه که د طواف زيارت اکثره حصه يې د بې اودسۍ په حالت کې وکړه، نو هم بزه واجبيږي، او که د جنابت په حالت کې يې وکړه، نو بدنه واجبيږي، ځکه چې د يو شي د اکثر هغه حکم وي، کوم چې يې د کُل وي، لکه ځرنګه چې دا مشهوره قاعده ده: وللأكثر حكم الكل.

د مخکني سړي لپاره د طواف راګرځولو حکم

وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُعِيدَ الطَّوَافَ مَا دَامَ بِمَكَّةَ او افضل دا ده چې محرم طواف زيارت راوګرځوي تر ځو چې په مکه کې وي وَلَا ذَبْحَ عَلَيْهِ او پر هغه قرباني واجب نه ده وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ: وَعَلَيْهِ أَنْ يُعِيدَ او په ځينې نسخو کې دي: چې پر محرم

طواف راګرځول واجب دي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يُؤْمَرُ بِالْإِعَادَةِ فِي الْحَدَثِ اِسْتِحْبَابًا او صحيح دا ده چې په حدث کې به هغه ته د استحباب په توګه د راګرځولو حکم کيږي وَفِي الْجَنَابَةِ إِيجَابًا او په جنابت کې به د ايجاب په توګه (د طواف د راګرځولو حکم ورته کيږي) لِفُحْشِ النُّقْصَانِ بِسَبَبِ الْجَنَابَةِ ځکه چې د جنابت په سبب نقصان غټيږي وَقُصُورِهِ بِسَبَبِ الْحَدَثِ او د بې اودسۍ په وجه نقصان کميږي ثُمَّ إِذَا أَعَادَهُ وَقَدْ طَافَهُ مُحْدِثًا بيا که هغه طواف راوګرځوي حال دا چې مخکې يې د بې اودسۍ په حالت کې طواف کړی وي لَا ذَبْحَ عَلَيْهِ نو پر هغه قرباني واجب نه ده وَإِنْ أَعَادَهُ بَعْدَ أَيَّامِ النَّحْرِ که څه هم هغه تر ايامِ نحر وروسته راګرځولی وي لِأَنَّ بَعْدَ الْإِعَادَةِ لَا تَبْقَى إِلَّا شُبْهَةُ النُّقْصَانِ ځکه چې تر راګرځولو وروسته فقط د نقصان شبهه پاتېږي وَإِنْ أَعَادَهُ وَقَدْ طَافَهُ جُنُبًا فِي أَيَّامِ النَّحْرِ او که هغه په ايامِ نحر کې طواف راوګرځوي حال دا چې مخکې يې د جنابت په حالت کې طواف کړی وي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لِأَنَّهُ أَعَادَهُ فِي وَقْتِهِ ځکه چې هغه طواف په خپل وخت کې راګرځولی دی وَإِنْ أَعَادَهُ بَعْدَ أَيَّامِ النَّحْرِ لو که هغه طواف تر ايامِ نحر وروسته راوګرځوي (په هغه صورت کې چې مخکې يې د جنابت په حالت کې طواف کړی وي) لَزِمَهُ الدَّمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ بِالتَّأْخِيرِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه د تأخير (ځنډولو) په وجه دم واجبيږي عَلَى مَا عُرِفَ مِنْ مَذْهَبِهِ لکه څرنګه چې دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله له مذهب څخه معلوم سوي دي.

اللغات: ﴿فحش﴾ غټېدل، بنکاره کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم د بې اودسۍ يا د جنابت په حالت کې طواف زيارت وکړي، نو هغه به د طواف په راګرځولو کې کومه طريقه اختياروي؟ فرمايي چې په دې باره کې تولہ درې قولونه دي: (۱) اول قول دا دی چې تر څو دا سړی په مکه کې مقيم وي، تر هغه وخته پورې د دغه طواف راګرځول افضل دي، (۲) دوهم قول کوم چې د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله په نېز ډېر صحيح دی دا دی چې که هغه مخکې د بې اودسۍ په حالت کې طواف زيارت کړی وي، نو هغه ته به استحباباً د طواف د راګرځولو حکم کيږي، او که په حالت د جنابت کې يې کړی وي، نو هغه ته به وجوباً او لازماً د هغه د راګرځولو حکم کيږي، ځکه چې د جنابت په وجه پيدا سوی نقصان د بې اودسۍ له نقصان څخه قوي او غټ دی، نو ځکه به په دې صورت کې راګرځول واجب وي، او د بې اودسۍ په صورت کې به راګرځول مستحب وي.

ثم إذا الخ له دې ځايه دا رانبيي چې که يو محرم په حالت د بې اودسۍ کې طواف زيارت کړی وي، او بيا يې راوګرځوي، نو پر هغه هيڅ قرباني او دم نه واجبيږي، هغه که يې په ايامِ نحر کې راوګرځوي او که تر ايامِ نحر وروسته، ځکه چې تر طواف راګرځولو وروسته خو نقصان او کمي ليري سوه. اوس صرف د نقصان شبهه پاته سوه، او صرف د نقصان د شبهې په وجه هيڅ تاوان او دم نه واجبيږي.

وإن أعاده الخ د دې حاصل دا دی که يو محرم مخکې د جنابت په حالت کې طواف زيارت کړی وي، بيا يې په ايامِ نحر کې راوګرځوي. نو پر هغه هم هيڅ شی نه واجبيږي، نه قرباني او نه صدقه، ځکه چې هغه طواف زيارت په خپل وخت کې راوګرځوی. او که تر ايامِ نحر وروسته يې طواف راوګرځوی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خو بدنه ساقطيږي،

لېکن دم يعني بزه واجبيږي، ځکه چي په راګرځولو سره خو بدنه بالاتفاق ساقطيږي. لېکن د امام صاحب رحمة الله مذهب دا دی چي که د حج يو نسک له خپل وخت څخه وځنډول سي. نو پر هغه به دم واجبيږي. نو ځرنګه چي دلته هم طواف زيارت له خپل وخت يعني له ايام نحر څخه ځنډول سوی دی. نو ځکه به د امام صاحب رحمة الله په نيز د هغه د ځنډولو په وجه دم لازميږي.

د مخکني سړي لپاره د طواف د راګرځولو حکم

وَلَوْ رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ وَقَدْ طَافَهُ جُنُبًا او که محرم خپل وطن ته واپس راسي په داسي حال کي چي طواف زيارت يې د جنابت په حالت کي کړی وي عَلَيْهِ أَنْ يَعُودَ نو پر هغه ضروري دي چي راوګرځيږي لِأَنَّ النَّقْصَ كَثِيرٌ ځکه چي نقصان زيات دی فَيُؤْمَرُ بِالْعَوْدِ اِسْتِدْرَاكًا لَهُ نو د هغه د تلافی لپاره به د راګرځېدلو حکم کيږي وَيَعُودُ بِإِحْرَامٍ جَدِيدٍ او دا سړی به په نوي احرام سره راګرځي وَإِنْ لَمْ يَعُدْ وَبَعَثَ بَدَنَةً أَجْزَأَهُ او که هغه نه راوګرځيږي او يوه بدنه واستوي نو (هم) کافي دي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّهُ جَابِرٌ لَهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي بدنه د نقصان پوره کونکې ده إِلَّا أَنَّ الْأَفْضَلَ هُوَ الْعَوْدُ خو افضل راګرځېدل دي وَلَوْ رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ وَقَدْ طَافَهُ مُحْدِثًا او که محرم خپل أهل ته واپس راسي په داسي حال کي چي طواف زيارت يې د بې اودسۍ په حالت کي کړی وي إِنْ عَادَ وَطَافَ جَازَ نو که دا سړی راوګرځيږي طواف وکړي نو (هم) جائز دي وَإِنْ بَعَثَ بِالشَّاةِ فَهُوَ أَفْضَلُ او که بزه واستوي نو دا افضل دي لِأَنَّهُ خَفَّ مَعْنَى النُّقْصَانِ ځکه چي (په دې صورت کي) د نقصان معنیٰ سپکه (کمه) ده وَفِيهِ نَفْعٌ لِلْفُقَرَاءِ او د بزې په استولو کي د نقيرانو فايده ده وَلَوْ لَمْ يَطُفْ طَوَافَ الزِّيَارَةِ أَصْلًا حَتَّى رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ او که هغه بالکل طواف زيارت کړی نه وي تر دې چي خپل وطن ته واپس راسي فَعَلَيْهِ أَنْ يَعُودَ بِذَلِكَ الْإِحْرَامِ نو پر هغه واجب دي چي په دغه احرام سره (مکې ته) راوګرځيږي لِانْعِدَامِ التَّحَلُّلِ مِنْهُ ځکه چي هغه له دې احرام څخه حلال سوی نه دی وَهُوَ مُحْرِمٌ عَنِ النِّسَاءِ أَبَدًا حَتَّى يَطُوفَ او دا سړی به له ښځو څخه همېشه حرام وي تر دې چي طواف وکړي.

اللغات: ﴿يؤمر﴾ د نصر مضارع مجهوله ده: حکم کول. ﴿خف﴾ د ضرب ماضي ده: سپکېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو محرم په حالت د جنابت کي طواف زيارت وکړي او خپل وطن ته واپس راغلی. نو اوس د هغه لپاره حکم دا دی چي له خپل وطن څخه واپس مکې ته ولاړ سي. او طواف زيارت دي راوګرځوي، ځکه په حالت د جنابت کي طواف زيارت کول ډېر غټ عيب او نقصان دی. نو د دې عيب د تلافی لپاره به له وطن څخه واپس مکې ته تلل ضروري وي. او ښکاره خبره ده چي که له ميقات څخه تېر سوی وي. نو په نوي احرام سره به راګرځي. کنې د نوي احرام هيڅ ضرورت نسته. او که مکې ته واپس نه ولاړ، بلکي د نقصان د تلافی لپاره يې يوه بدنه واستوله. نو دا هم جائز دي، ځکه چي بدنه هم د نقصان تلافي کوي. خو افضل واپس تلل دي. چي جابر (يعني د نقصان تلافي

کونکی) د مجبور (یعني د کوم شي تلافي چي کیږي) له جنس څخه سي، یعني افضل دا ده چي د طواف تلافي په طواف سره وسي.

ولو رجع الخ او که محرم طواف زیارت بې اودسه کړی وو، او بیا خپل وطن ته واپس راغلی، نو اوس که هغه واپس راسي، دویم وار طواف وکړي، نو جائز دي، لیکن په دې صورت کي د تلافی لپاره بزه استول افضل دي، ځکه چي د حدث په وجه نقصان سپک او کم دی، او د بزې په استولو کي د مکې د فقیرانو نفع ده، نو په دې خاطر بزه استول افضل دي.

ولو لم یطف الخ او که محرم بالکل طواف زیارت نه وکړی، او خپل وطن ته واپس راغلی، نو اوس د هغه لپاره په دغه احرام سره مکې ته واپس تلل لازم دي، ځکه د طواف زیارت په نه کولو سره دا سړی له خپل احرام څخه حلال نه سو، نو د حلالېدلو او د خپلې ښځي سره د واده د اړیکو د قائمولو لپاره پر هغه واجب دي چي واپس مکې ته ولاړ سي او له طواف زیارت څخه ځان فارغه کړي.

بغیر له اودس څخه د طواف صدر حکم

> وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الصَّدْرِ مُحْدِثًا او کوم محرم چي طواف صدر بې اودسه وکړي فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ نو پر هغه صدقه واجب ده لِأَنَّهُ دُوْنَ طَوَافِ الزِّيَارَةِ ځکه چي طواف صدر تر طواف زیارت کم دی وَإِنْ كَانَ وَاجِبًا که څه هم دا واجب دی فَلَا بُدَّ مِنْ إِظْهَارِ التَّفَاوُتِ خو (بیا هم) د فرق څرګندول ضروري دي وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ أَنَّهُ تَجِبُ شَاةٌ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي بزه واجبیږي إِلَّا أَنَّ الْأَوَّلَ أَصَحُّ خو اول قول زیات صحیح دی وَلَوْ طَافَ جُنُبًا او که هغه د جنابت په حالت کي طواف صدر وکړي فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه یوه بزه واجب ده لِأَنَّهُ نَقْصٌ كَثِيْرٌ ځکه چي دا زیات نقصان دی ثُمَّ هُوَ دُوْنَ طَوَافِ الزِّيَارَةِ بیا دا له طواف زیارت څخه کم دی فَيُكْتَفَى بِالشَّاةِ نو پر بزې به اکتفاء کیږي.

تشریح: مسئله: دا ده که محرم په حالت د بې اودسۍ کي طواف صدر وکړی، نو پر هغه صدقه واجبیږي، ځکه طواف صدر که څه هم واجب دی، خو په درجه کي له طواف زیارت څخه کم دی، نو د دواړو په مینځ کي به د فرق د ښکاره کولو لپاره د بې اودسۍ په حالت کي په طواف صدر کي صدقه او په طواف زیارت کي بزه واجبیږي.

وعن أبي حنيفة الخ د امام صاحب رَحِمَهُ الله یو روایت دا دی چي د بې اودسۍ په حالت کي په طواف صدر کي هم بزه واجبیږي، لیکن اول روایت یعني د صدقې د وجوب روایت زیات صحیح دی.

ولو طاف جنبا الخ د دې حاصل دا دی که محرم طواف صدر د جنابت په حال کي وکړی، نو پر هغه بزه واجبیږي، ځکه چي د جنابت په حال کي طواف کول غټ جرم او غټ نقصان دی، خو په طواف زیارت کي له پېښېدونکي نقصان څخه کم دی، لهذا په دې کي به دم هم کوچنی واجبیږي، لیکن د جنابت په حالت کي به په طواف زیارت کي غټ دم یعني بلنه واجبیږي.

د طوافِ زيارت د پرېښوولو ببلا ببل صورتونه او د هغو حکمونه

وَمَنْ تَرَكَ مِنْ طَوَافِ الزِّيَارَةِ ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ او څوک چې د طوافِ زيارت درې دوره (شوطه) پرېږدي فَمَا دُونَهَا يا تر هغه کم فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه يوه بزه واجب ده لِأَنَّ النُّقْصَانَ بِتَرْكِ الْأَقَلِّ يَسِيرٌ ځکه (له نيم څخه) د کم پرېښوولو په وجه نقصان معمولي دی فَأَشْبَهَ النُّقْصَانَ بِسَبَبِ الْحَدَثِ نو د بې اودسۍ په سبب چې کوم نقصان راځي د هغه سره مشابه سو فَتَلْزَمُهُ شَاةٌ لهذا پر هغه به بزه لازمېږي فَلَوْ رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ بيا که دا سړی خپل أهل وعيال ته واپس راسي أَجْزَأَهُ أَنْ لَا يَعُودَ وَيَبْعَثُ شَاةً نو د هغه لپاره دا کافي دي چې (مکې ته) واپس ولاړ نه سي او يوه بزه واستوي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَمَنْ تَرَكَ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ بَقِيَ مُحْرِمًا أَبَدًا او څوک چې څلور دوره (له طوافِ زيارت څخه) پرېږدي نو هغه د همېشه لپاره (د ښځو په حق کي) محرم پاتېږي حَتَّى يَطُوفَهَا تر دې چې طوافِ زيارت (بيرته) وکړي لِأَنَّ الْمَتْرُوكَ أَكْثَرُ ځکه پرېښوول سوی اکثر طواف دی فَصَارَ كَأَنَّهُ لَمْ يَطُفْ أَصْلًا نو داسي سو لکه هغه چې بالکل طواف کړی نه وي.

اللغات: ﴿المتروك﴾ د نصر اسم مفعول دی: پرېښوول سوی.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که محرم د طوافِ زيارت درې دورونه (شوطونه) پرېښوول، يا يې تر دې کم پرېښوول نو پر هغه دم واجبيږي، ځکه چې درې دورونه د اوو (۷) دورونو اقل دي، نو د دې د پرېښوولو په وجه به پيدا کېدونکی نقصان خفيف او کم وي، لهذا د هغه نقصان سره مشابه سو، کوم چې د حدث (بې اودسۍ) په وجه پيدا کيږي، لو د حدث په وجه د پيدا کېدونکي نقصان تلافي په بزې سره کيږي، نو ځکه به دلته هم بزه واجب وي.

فلو رجع الخ او که دا سړی کوم چې يې د طوافِ زيارت درې يا کم دورونه پرې ايښي دي، خپل وطن ته ولاړ سي، نو د هغه لپاره دا خبره جائز ده چې مکې ته واپس ولاړ نه سي، او يوه بزه واستوي، دليل مخکي تېر سو.

ومن ترك الخ او که يو سړي د طوافِ زيارت څلور دورونه يا تر دې زيات دورونه پرېښوول نو تر څو چې د طوافِ زيارت قضاء نه راوړي، تر هغه وخته د ښځو په حق کي محرم دی، ځکه چې له اوو (۷) څخه څلور يا تر دې زيات اکثر دي، او اکثر په حکم کي د کُل دي، نو هغه ګواکي بالکل طوافِ زيارت کړی نه دي، او د طوافِ زيارت د نه کولو په صورت کي همېشه هغه محرم پاتېږي، تر څو چې طوافِ زيارت نه را وګرځوي.

د طواف صدر د پرېښوولو ببلا ببل صورتونه او د هغو حکمونه

وَمَنْ تَرَكَ طَوَافَ الصَّدْرِ أَوْ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ مِنْهُ او څوک چې طوافِ صدر پرېږدي يا له هغه څخه څلور دوره (شوطه) پرېږدي فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه يوه بزه واجب ده لِأَنَّهُ تَرَكَ الْوَاجِبَ أَوِ الْأَكْثَرَ مِنْهُ ځکه چې هغه واجب يا له واجب څخه اکثره حصه پرېښوولې وَمَا دَامَ بِمَكَّةَ يُؤْمَرُ بِالْإِعَادَةِ او تر څو چې په مکه کي وي هغه ته به د طوافِ صدر د راګرځولو حکم کيږي إِقَامَةً لِلْوَاجِبِ فِي وَقْتِهِ چې واجب په خپل وخت کي اداء سي وَمَنْ تَرَكَ ثَلَاثَةَ أَشْوَاطٍ مِنْ طَوَافِ الصَّدْرِ او

څوک چي د طوافِ صدر درې دوره پرېږدي فَعَلَيْهِ الصَّدَقَةُ نو پر هغه صدقه واجب ده وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الْوَاجِبِ فِيْ جَوْفِ الْحِجْرِ او څوک چي واجب طواف په حطيم کي دننه وکړي فَإِنْ كَانَ بِمَكَّةَ أَعَادَهُ نو که په مکه کي وي هغه دي راوګرځوي لِأَنَّ الطَّوَافَ وَرَاءَ الْحَطِيْمِ وَاجِبٌ ځکه چي طواف د حطيم شا ته (يعني له حطيم څخه بهر) واجب دی عَلٰى مَا قَدَّمْنَاهُ لکه مخکي چي مونږ ذکر کړه وَالطَّوَافُ فِيْ جَوْفِ الْحِجْرِ أَنْ يَدُوْرَ حَوْلَ الْكَعْبَةِ او په حطيم کي دننه طواف دا دی چي طواف کونکی پر کعبه شاوخوا راوګرځي وَيَدْخُلُ الْفُرْجَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْحَطِيْمِ او داخل سي په هغو دوو خالي ځايونو کوم چي د کعبې او حطيم په مينځ کي دي فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ أَدْخَلَ نُقْصَانًا فِيْ طَوَافِهِ نو هغه چي کله داسي وکړي نو په خپل طواف کي يې نُقص داخل کړی فَمَا دَامَ بِمَكَّةَ أَعَادَهُ كُلَّهُ لهذا تر څو چي په مکه کي وي نو ټوله طواف دي راوګرځوي لِيَكُوْنَ مُؤَدِّيًا لِلطَّوَافِ عَلَى الْوَجْهِ الْمَشْرُوْعِ چي پر مشروع طريقه د طواف اداء کونکی سي.

اللغات: ﴿جوف﴾ مينځ، دننه. ﴿فرجتين﴾ د فُرجة تثنيه ده: پراخي، خالي ځای.

تشريح: په دې عبارت کي څو مسئلې بيان سوي دي: (۱) که يو محرم طوافِ صدر پرېښووی، يا يې د طوافِ صدر څلور دورونه پرېښوول او وطن ته ولاړی، نو پر هغه يوه بزه واجبيږي، ځکه چي هغه د واجب يا د واجب اکثره حصه پرېښوولې او د واجب په پرېښوولو کي په قرباني سره نقصان پوره کيږي، نو ځکه به په دواړو صورتونو کي قرباني واجبيږي، او تر څو چي هغه په مکه کي وي هغه ته به د طوافِ صدر د کولو حکم کيږي، د دې لپاره چي واجب په خپل وخت کي اداء سي، او د طوافِ صدر وخت له مکې څخه تر رخصتېدلو مخکي دی. (۲) دويمه مسئله دا ده چي که يو محرم د طوافِ صدر درې دورونه پرېښوول نو پر هغه صدقه واجبيږي، يعني د هر دور (شوط) په بدله کي به نيم صاع غنم ورکوي. (۳) دريمه مسئله دا ده چي که يو محرم په حطيم کي دننه واجب طواف وکړی، يعني د کعبې او حطيم په مينځ کي چي کوم دوه خالي ځايونه دي، په هغو کي هم د طواف په وخت کي تېر سو، نو هغه ته پکار ده چي تر څو په مکه کي مقيم وي، طواف دي راوګرځوي، ځکه حطيم په طواف کي داخلول او له حطيم څخه دباندي طواف کول واجب دي، لېکن دغه محرم په حطيم کي دننه د طواف کولو په وجه په شرعي طريقه سره طواف نه وکړی، لهذا ده ته به دويم وار په شرعي طريقه سره د طواف د راګرځولو حکم کيږي.

په طواف کي د پرېښوول سوي حصې د راګرځولو حکم

وَإِنْ أَعَادَ عَلَى الْحِجْرِ خَاصَّةً او که هغه فقط د حطيم طواف راوګرځوي أَجْزَأَهُ نو (هم) کافي دي لِأَنَّهُ تَلَافٰى مَا هُوَ الْمَتْرُوْكُ ځکه کوم څه چي پرېښوول سوي د هغه (تدارک او) تلافي يې وکړه وَهُوَ أَنْ يَأْخُذَ عَنْ يَمِيْنِهِ خَارِجَ الْحِجْرِ او د حطيم طواف دا دی چي له حطيم څخه دباندي له راسته طرف څخه (طواف) شروع کړي حَتّٰى يَنْتَهِيَ إِلٰى آخِرِهِ تر دې چي د حطيم آخر ته ورسيږي ثُمَّ يَدْخُلَ الْحِجْرَ مِنَ الْفُرْجَةِ بيا له خالي ځای څخه حطيم ته داخل سي وَيَخْرُجَ مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ او له بل طرف څخه يې را ووځي هٰكَذَا يَفْعَلُهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ داسي به اووه (۷) واره وکړي فَإِنْ رَجَعَ إِلٰى أَهْلِهِ وَلَمْ

يَعُدْهَا او که هغه خپل وطن ته واپس راغلی او د حطیم طواف يې نه را وګرځوی فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّهُ تَمَكَّنَ نُقْصَانٌ فِي طَوَافِهِ بِتَرْكِ مَا هُوَ قَرِيبٌ مِنَ الرُّبُعِ ځکه چي د هغه په طواف کي تقریبا (د کعبې) د څلورمي حصې د پرېښوولو په وجه نقصان پیدا سو فَلَا تُجْزِيهِ الصَّدَقَةُ نو د هغه لپاره به صدقه کافي نه وي (بلکي دم به واجب وي).

لغات: ﴿قریب﴾ نژدې (تقریبا).

تشریح: مسئله: دا ده چي په حطیم کي د طواف کونکي لپاره خو افضل دا ده چي ټوله طواف په شرعي طریقه سره راوګرځوي، لیکن که ټوله طواف يې نه راګرځوی، او صرف د حطیم طواف يې راوګرځوی، نو هم صحیح لو جائز دي، ځکه هغه چي کوم شی پرې اینبی وو، د هغه تلافي يې وکړه، لهذا د هغه پر ذمه به اوس يو شی پاته نه وي.

وهوأن الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د حطیم د طواف راګرځولو طريقه دا ده چي له حطیم څخه به دباندي له راسته طرف څخه طواف شروع کړي، تر دې چي د حطیم آخر ته ورسيږي، بیا به له پراخی (یعني له خالي ځای) څخه حطیم ته داخل سي، تر دویم خالي ځای به راووځي، دا یوه دور (شوط) سو، همدارنګه به اووه(٧) واره وکړي.

وإن رجع الخ او که دا سړی خپل وطن ته واپس راغلی او د حطیم طواف يې نه راوګرځوی، نو پر هغه دم واجبیږي، ځکه په طواف کي د کعبې د څلورمي حصې پرېښوولو په وجه د هغه په طواف کي نقصان پیدا سو. نو د هغه د تدارک او تلافی لپاره صدقه کفایت نه کوي، بلکي دم به ورکوي.

په طوافِ زیارت او طوافِ صدر کي یو په اوداسه او دویم بې اودسه اداء کول

وَمَنْ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ او څوک چي طوافِ زیارت بې اودسه وکړي وَطَوَافَ الصَّدْرِ فِي آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ طَاهِرًا او طوافِ صدر د تشریق د ورځو په آخر کي په اوداسه وکړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه يو دم واجب دی فَإِنْ كَانَ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ جُنُبًا بیا که هغه طوافِ زیارت د جنابت په حال کي کړی وي فَعَلَيْهِ دَمَانِ عِنْدَ* أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ نو د امام صاحب په نیز پر هغه دوه دمه واجب دي وَقَالَا: عَلَيْهِ دَمٌ وَاحِدٌ او صاحبین فرمايي: چي پر هغه يو دم واجب دی لِأَنَّ فِي الْوَجْهِ الْأَوَّلِ لَمْ يَنْتَقِلْ طَوَافُ الصَّدْرِ إِلَى طَوَافِ الزِّيَارَةِ ځکه په اول صورت کي طوافِ صدر د طوافِ زیارت و طرف ته نه منتقل کیږي لِأَنَّهُ وَاجِبٌ ځکه چي طوافِ صدر واجب دی وَإِعَادَةُ طَوَافِ الزِّيَارَةِ بِسَبَبِ الْحَدَثِ غَيْرُ وَاجِبٍ او د حدث په وجه د طوافِ زیارت راګرځول واجب نه دي وَإِنَّمَا هُوَ مُسْتَحَبٌّ بلکي هغه مستحب دي فَلَا يَنْتَقِلُ إِلَيْهِ نو ځکه به طوافِ صدر د طوافِ زیارت و طرف ته نه منتقل کیږي وَفِي الْوَجْهِ الثَّانِي يَنْتَقِلُ طَوَافُ الصَّدْرِ إِلَى طَوَافِ الزِّيَارَةِ او په دویم صورت کي طوافِ صدر د طوافِ زیارت و طرف ته منتقل کیږي لِأَنَّهُ مُسْتَحِقُّ الْإِعَادَةِ ځکه چي د طوافِ زیارت راګرځول واجب دي فَيَصِيرُ تَارِكًا لِطَوَافِ الصَّدْرِ نو دا سړی به د طوافِ صدر پرېښوونکی وګرځي مُؤَخِّرًا

* القول الراجح: قول الإمام أبي حنيفة رحمه الله، كذا في الهندية ج: ١، ص: ٢٤٦. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٢٦]

لِطَوَافِ الزِّيَارَةِ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ (او) له ايام نحر څخه به د طواف زيارت وروسته كونكى (وګرځي) فَيَجِبُ الدَّمُ بِتَرْكِ الصَّدْرِ بِالْإِتِّفَاقِ نو د طواف صدر د پرېښودلو په وجه به بالاتفاق دم واجبيږي وَبِتَأْخِيرِ الْآخَرِ عَلَى الْخِلَافِ او د طواف زيارت په وروسته كولو سره به على الاختلاف دم واجبيږي إِلَّا أَنَّهُ يُؤْمَرُ بِإِعَادَةِ طَوَافِ الصَّدْرِ مَا دَامَ بِمَكَّةَ خو تر څو چې په مكه كې وي هغه ته به د طواف صدر د راګرځولو حكم كيږي وَلَا يُؤْمَرُ بَعْدَ الرُّجُوْعِ (ليكن وطن ته) تر واپس تللو وروسته به (د طواف راګرځولو) حكم نه ورته كيږي عَلَى مَا بَيَّنَّا لكه (مخكې) چې موږ بيان كړه.

تشريح: په دې عبارت كې دوه مسئلې بيان سوي دي، او پر دوو أصولو متفرع سوي دي: (۱) يو أصول دا دى كه څوك طواف زيارت د جنابت په حالت كې وكړي، نو تر هغه وروسته چې كوم طواف صدر كوي هغه به د طواف زيارت و طرف ته نقل كيږي، يعني له هغه څخه به طواف زيارت جوړيږي، ځكه هغه ګواكې طواف زيارت ګردسره كړى نه دى(نو دا طواف صدر به د هغه پر ځاى درېږي)، او كه طواف زيارت يې د حدث په حالت كې كړى وي، نو طواف صدر به د طواف زيارت و طرف ته نه نقل كيږي، يعني طواف صدر به طواف زيارت نه جوړيږي، بلكې هغسې طواف صدر به پاته وي. (۲) دويم أصول دا دى كه يو څوك تر أيام نحر يعني د ذي الحجې تر دولسمې ورځې وروسته طواف زيارت وكړي، نو د امام صاحب په نيز د تأخير په وجه دم لازميږي، ځكه چې د هغه په نيز د طواف زيارت وخت د دولسمې ورځې تر ملښامه پورې پاتيږي، او د صاحبينو په نيز دم نه لازميږي. او كه يو څوك طواف صدر (چې هغه ته طواف وداع هم وايي) تر أيام نحر وروسته وكړي، نو هيڅ پروا نه لري، ځكه چې طواف صدر د طواف زيارت په ډول نه دى(اوس صورت د مسئلې ته ګورئ چې د هغه په ترڅ كې به دواړې مسئلې او دواړه أصول بيان سي).

صورت د مسئلې: دا دى كه يو سړي طواف زيارت بې اودسه وكړى، او طواف صدر يې په اوداسه وكړى، ليكن د ايام تشريق په آخر كې يې وكړى، نو بالاتفاق پر هغه يو دم واجبيږي(د بې اودسه طواف زيارت كولو په وجه)، د دې په خلاف كه هغه طواف زيارت د جنابت په حالت كې وكړى، او طواف صدر يې د مخكې په څېر په اوداسه وكړى، او د ايام تشريق په آخر كې يې وكړى، نو دا مسئله مختلف فيه ده، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت كې دوه دمه واجبيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې صورت كې يو دم واجبيږي.

صاحب د هدايې د دې دواړو مسئلو دليل او د فرق وجه بيانوي فرمايي چې په اول صورت كې (يعني كله چې يې طواف زيارت بې اودسه كړى وي) طواف صدر د طواف زيارت وطرف ته نه منتقل كيږي، يعني دواړه طوافونه پر خپل ځاى پاتيږي، ځكه چې طواف صدر واجب دى، او د حدث په وجه د طواف زيارت راګرځول واجب نه دي، صرف مستحب دي، نو ځكه به يو طواف د بل و طرف ته نه منتقل كيږي، او د بې اودسه طواف زيارت كولو په وجه به يو دم واجبيږي.

د دې په خلاف چې څرنګه په دويم صورت كې هغه په حالت د جنابت كې طواف زيارت كړى دى، نو ځكه به دا طواف زيارت كالعدم وي، او طواف صدر كوم چې يې د ايام تشريق په آخر كې اداء كړى دى، هغه به د طواف زيارت و طرف ته منتقل كيږي، او هغه سړى به د طواف صدر پرېښوونكى هم وي، او له ايام نحر څخه به د طواف زيارت ځنډونكى هم وي، او دواړه شيان دم واجبوي، لهذا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به په دې دويم صورت كې دوه دمه واجبيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به په دې صورت كې صرف يو دم واجبيږي.

إلا أنه يؤمر الخ خو تر څو چې دا سړی په مکه کې وي، تر هغه وخته به د ټولو په نيز هغه ته طواف صدر راګرځولو حکم کيږي، ځکه چې د هغه طواف صدر د جنابت په وجه د طواف زيارت و طرف ته منتقل سو. يعنې طواف زيارت ځنې جوړ سو، لهذا داسې سو لکه طواف صدر چې يې کړی نه وي، نو ځکه به يې راګرځوي، او که بغير له طواف صدر څخه وطن ته ولاړ، نو اوس به هغه ته د واپس کېدلو حکم نه کيږي (چې مکې ته به واپس ځي). بس! بزه دې واستوي، دا افضله طريقه ده، ځکه چې صرف واجب پاته سوی دی، او په دې کې د فقيرانو فائده هم ده.

په عمره کې بغير له اوداسه د طواف او سعي حکم

وَمَنْ طَافَ لِعُمْرَتِهِ وَسَعَى عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ او څوک چې د خپلې عمرې لپاره بې اودسه طواف او سعي وکړي وَحَلَّ او حلال سي فَمَا دَامَ بِمَكَّةَ يُعِيدُهُمَا نو تر څو چې په مکه کې وي دواړه به راګرځوي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ او پر هغه هيڅ شی واجب نه دی أَمَّا إِعَادَةُ الطَّوَافِ فَلِتَمَكُّنِ النَّقْصِ فِيهِ بِسَبَبِ الْحَدَثِ هر چې د طواف راګرځول دي نو هغه ځکه چې د حدث په وجه په هغه کې نقصان پيدا سو وَأَمَّا السَّعْيُ فَلِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلطَّوَافِ او کوم چې سعي ده نو ځکه چې هغه د طواف تابع ده وَإِذَا أَعَادَهُمَا لَا شَيْءَ عَلَيْهِ او کله چې هغه دواړه راوګرځوي نو (بيا) پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لِارْتِفَاعِ النُّقْصَانِ ځکه چې نقصان ختم سو وَإِنْ رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ قَبْلَ أَنْ يُعِيدَ او که تر طواف راګرځولو مخکې هغه خپل وطن ته ولاړ سي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه قرباني واجب ده لِتَرْكِ الطَّهَارَةِ فِيهِ ځکه چې په طواف کې يې طهارت پرېښوو‌ی وَلَا يُؤْمَرُ بِالْعَوْدِ او (مکې ته) د واپس تللو حکم به نه ورته کيږي لِوُقُوعِ التَّحَلُّلِ بِأَدَاءِ الرُّكْنِ ځکه چې د رکن په اداء کولو سره حلالوالی واقع سو إِذِ النُّقْصَانُ يَسِيرٌ ځکه چې نقصان معمولي غوندي دی وَلَيْسَ عَلَيْهِ فِي السَّعْيِ شَيْءٌ او د سعې په باره کې پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لِأَنَّهُ أَتَى بِهِ عَلَى إِثْرِ طَوَافٍ مُعْتَدٍّ بِهِ ځکه چې هغه تر معتبر طواف وروسته سعې وکړه وَكَذَا إِذَا أَعَادَ الطَّوَافَ وَلَمْ يُعِدِ السَّعْيَ فِي الصَّحِيحِ او همدارنګه د صحيح قول مطابق که هغه طواف راوګرځوي او سعې نه راوګرځوي (نو په دې صورت کې هم پر هغه هيڅ شی واجب نه دی).

اللغات: ﴿يعيد﴾ د افعال مضارع ده: راګرځول، ﴿على إثر﴾ وروسته.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو چا د عمرې طواف او سعې بين الصفا والمروه بې اودسه وکړل، او حلال سو، يعنې له احرام څخه ووتی، نو تر څو چې دا سړی په مکه کې وي، پر هغه د دې دواړو راګرځول واجب دي، او دم او بل هيڅ شی نه پر واجبيږي، د طواف راګرځول خو ځکه واجب دي چې د حدث په وجه په دې کې نقصان پيدا سو، نو د نقصان د ليرې کولو لپاره به طواف راګرځوي، او سعې که څه هم د طهارت محتاجه نه ده، خو د طواف سره د سعې راګرځول ځکه واجب دي چې سعې د طواف تابع ده، نو کله چې طواف راګرځوي، نو سعې به هم تر طواف وروسته ور سره راګرځوي، او کله چې هغه دواړه راوګرځوي، بيا پر هغه د تاوان په توګه هيڅ شی نه واجبيږي، ځکه چې پيدا سوی نقصان په راګرځولو سره ليرې سو.

وإن رجع الخ او كه دا سړى تر طواف راګرځولو مخکې خپل وطن ته واپس راغلى نو پر هغه دم واجبيږي، ځکه په طواف کې یې طهارت پرې ايښى دى، حال دا چې طهارت واجب دى، نو د دې نقصان د تلافى لپاره به دم پر واجب وي، او دا حکم به نه ورته کيږي چې له وطن څخه واپس مکې ته ولاړ سي، ځکه چې هغه د عمرې تو له افعال او ارکان اداء کړي دي، او د حدث کوم نقصان چې دی، هغه معمولي غوندي دی، لهذا په دم سره د هغه تلافي کيږي، د واپس تللو ضرورت نسته.

وليس عليه الخ او پر هغه د سعى په باره کې هيڅ شى نه واجبيږي، ځکه چې هغه سعى تر داسې طواف وروسته کړې ده چې هغه شرعاً معتبر دى (يعني د بې اودسى په حال کې هغه طواف کړى دى نه د جنابت په حال کې، او د بې اودسى په حال کې طواف شرعًا معتبره دى)، همدارنګه د سعى په باره کې هغه وخت هم هيڅ شى نه واجبيږي، چې کله هغه طواف راوګرځوي، او سعى نه راوګرځوي، همدا صحيح قول دى (ځکه مخکې يې د ترتيب مطابق سعى کړې وه، يعني تر طواف وروسته يې کړې وه)، كه څه هم ځينې حضرات په دې صورت کې دم واجبوي.

د سعي د پرېښوولو جرمانه

وَمَنْ تَرَكَ السَّعْيَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ او څوک چې په حج کې د صفا او مروه په مېنځ کې سعى (ځغستل) پرېږدي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه يو دم واجب دى وَحَجُّهُ تَامٌّ او حج يې پوره دى لِأَنَّ السَّعْيَ مِنَ الْوَاجِبَاتِ عِنْدَنَا ځکه چې سعى زموږ په نيز له واجباتو څخه ده فَيَلْزَمُ بِتَرْكِهِ الدَّمُ دُوْنَ الْفَسَادِ نو د هغې په پرېښوولو سره به دم لازميږي نه (د حج) فساد.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دى.

له عرفات څخه تر امام د مخکې وتلو حکم

وَمَنْ أَفَاضَ قَبْلَ الْإِمَامِ مِنْ عَرَفَاتٍ او څوک چې له عرفات څخه تر امام مخکې کوچ وکړي (روان سي) فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دى وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا شَيْءَ عَلَيْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه هيڅ شى واجب نه دى لِأَنَّ الرُّكْنَ أَصْلُ الْوُقُوْفِ ځکه چې اصل رکن وقوف عرفه دى فَلَا يَلْزَمُهُ بِتَرْكِ الْإِطَالَةِ شَيْءٌ لهذا (د وقوف) د اوږدوالي د پرېښوولو په وجه به پر هغه هيڅ شى نه واجبيږي وَلَنَا أَنَّ الْإِسْتِدَامَةَ إِلَى غُرُوْبِ الشَّمْسِ وَاجِبَةٌ او زموږ دليل دا دى چې تر لمر لوېدلو پورې مسلسل وقوف کول واجب دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1]: فَادْفَعُوْا بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "نو تاسو تر لمر لوېدلو وروسته (له عرفات څخه) روان سئ" فَيَجِبُ بِتَرْكِهِ الدَّمُ نو د هغه د پرېښوولو په وجه به دم واجبيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا وَقَفَ لَيْلًا په خلاف د هغه صورت چې کله يو څوک د شپې وقوف وکړي لِأَنَّ اِسْتِدَامَةَ الْوُقُوْفِ عَلَى مَنْ وَقَفَ نَهَارًا لَا لَيْلًا ځکه چې مسلسل وقوف کول پر هغه سړي لازم دي چې هغه د ورځې وقوف کوي نه د شپې فَإِنْ عَادَ إِلَى عَرَفَةَ بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ بيا که هغه تر لمر لوېدلو وروسته عرفات ته

---

[1] تخريج: أخرجه ابن أبي شيبه في مصنفه، باب في وقت الدفعة من المزدلفة، حديث رقم: ١٥٢٢٧ في معناه.

واپس راسي لَا يَسْقُطُ عَنْهُ الدَّمُ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو له هغه شخصه به دم نه ساقطیږي د ظاهر روایت مطابق لِأَنَّ الْمَتْرُوْكَ لَا يَصِيْرُ مُسْتَدْرَكًا ځکه کومه حصه چې پرېښودل سوې ده د هغه تلافي(او تدارک) نه سي کېدلای وَاخْتَلَفُوْا فِيْمَا إِذَا عَادَ قَبْلَ الْغُرُوْبِ او په هغه صورت کي فقهاؤ اختلاف کړی دی چي کله هغه تر لمر لوېدلو مخکي عرفات ته واپس راسي.

اللغات: ﴿أفاض﴾ د افعال ماضي ده: کوچ کول، روانېدل. ﴿استدامة﴾ د استفعال مصدر دی: باقي پاته کېدل. مسلسل او پرلپسې کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي وقوفِ عرفه وکړی(یعني په عرفات کي ودرېدی)، لېکن تر لمر لوېدلو او د امامُ المسلمين تر روانېدلو مخکي له عرفات څخه روان سو، نو زموږ په نېز پر هغه دم واجبیږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي پر هغه هیڅ شی نه واجبیږي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چي په اصل کي رکن وقوفِ عرفه دی، تر ماښامه پوري د وقوف اوږدوالی رکن نه دی، بلکي هغه مستحب دي، لهذا د وقوفِ د اوږدوالي د پرېښوولو په وجه به پر محرم دم نه واجبیږي.

زموږ دلیل: دا دی چي تر لمر لوېدلو پوري وقوف اوږدول واجب دي، لکه څرنګه چي نبي ﷺ فرمایلي دي: فادفعوا بعد غروب الشمس، (یعني تاسو له عرفات څخه تر لمر لوېدلو وروسته روان سئ). له دې حدیث څخه معلومه سوه چي تر لمر لوېدلو پوري وقوف اوږدول واجب دي، او څرنګه چي دا سړی تر لمر لوېدلو مخکي روان سوی دی، نو ځکه به د واجب د پرېښوولو په وجه دم پر واجبیږي.

بخلاف ما إذا وقع الخ له دی ځایه د یو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی که یو سړي تو له ورځ وقوفِ عرفه وکړی، او تر لمر لوېدلو یو څو دقیقې مخکي له عرفات څخه روان سو، نو تاسو خو پر هغه دم واجبوی، لېکن که یو سړي فقط د شپې وقوفِ عرفه وکړی، او د ورځي عرفات ته ورنژدې هم نه سو، نو تاسو پر هغه هیڅ شی نه واجبوئ، حال دا چي هغه تر ماښامه وقوف پرېښوی؟ صاحب د هدایې جواب ورکوي فرمایي چي تر لمر لوېدلو پوري وقوف اوږدول صرف پر هغه سړي لازم دی چي د ورځي وقوف کوي، او کوم څوک چي د ورځي وقوف نه کوي، پر هغه به تر لمر لوېدلو پوري وقوف اوږدول هم واجب نه وي، او د وقوف پرېښوولو جرمانه او دم به هم پر واجب نه وي.

فإن عاد الخ فرمایي که دا سړی کوم چي تر امام مخکي روان سوی وو تر لمر لوېدلو وروسته عرفات ته واپس راغلی او بیا د امام سره روان سو، نو د ظاهر روایت مطابق له هغه څخه قرباني نه ساقطیږي، ځکه د مخکي تللو په وجه چي په کوم وخت او زمانه کي وقوف پرېښوول سو، د هغه تلافي ممکنه نه ده، نو ځکه به واجب سوی دم نه ساقطیږي، او که دا سړی تر لمر لوېدلو مخکي عرفات ته راغلی، او بیا تر لمر لوېدلو وروسته د امام سره روان سو، نو امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دې سره هم قرباني نه ساقطیږي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز ساقطیږي.

د وقوفِ مزدلفه د پرېښوولو حکم

وَمَنْ تَرَكَ الْوُقُوْفَ بِالْمُزْدَلِفَةِ او څوک چي په مزدلفه کي درېدل پرېږدي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّهُ مِنَ الْوَاجِبَاتِ ځکه چي "په مزدلفه کي" درېدل له واجباتو څخه دي.

تشريح: عبارت او ترجمه څرګنده دي.

ټوله ورځې د رمي د پرېښوولو حکم

وَمَنْ تَرَكَ رَمْيَ الْجِمَارِ فِي الْأَيَّامِ كُلِّهَا او څوک چي ټوله ورځي د جَمَرُوْ رمي پرېږدي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِتَحَقُّقِ تَرْكِ الْوَاجِبِ ځکه چي د واجب پرېښوول متحقق سو وَيَكْفِيْهِ دَمٌ وَاحِدٌ او د هغه لپاره يو دم کافي دی لِأَنَّ الْجِنْسَ مُتَّحِدٌ ځکه چي جنس يو دی كَمَا فِي الْحَلْقِ لکه په حلق کي (چي جنس يو دی) وَالتَّرْكُ إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ بِغُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنْ آخِرِ أَيَّامِ الرَّمْيِ او پرېښوول هغه وخت ثابتيږي چي کله د رمي په آخري ورځ لمر ولوېږي(او تر هغه مخکي يې راګرځول جائز دي) لِأَنَّهُ لَمْ يُعْرَفْ قُرْبَةً إِلَّا فِيْهَا ځکه چي د رمي عبادت والی پېژندل سوی نه دي مګر د رمي په ورځو کي وَمَا دَامَتِ الْأَيَّامُ بَاقِيَةً فَالْإِعَادَةُ مُمْكِنَةٌ او تر څو چي (د رمي) ورځي پاته وي تر هغه وخته يې راګرځول ممکن دي فَيَرْمِيْهَا عَلَى التَّأْلِيْفِ نو په ترتيب سره به رمي وکړي ثُمَّ بِتَأْخِيْرِهَا يَجِبُ الدَّمُ عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ بيا د رمي په ځنډولو سره قرباني واجبيږي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز خِلَافًا لَهُمَا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی.

اللغات: ﴿ما دامت﴾ تر څو چي پاته وي، ﴿إعادة﴾ د افعال مصدر دی: راګرځول، دويم ځل کول، ﴿تأليف﴾ د تفعيل مصدر دی: ترتيب.

تشريح: د رمي ورځي د ذو الحجې دا څلور ورځي دي: ١٠/ ١١/ ١٢/ ١٣.

صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي په دې ټولو ورځو کي رمي پرېښوولې، نو پر هغه دم واجب دی، ځکه چي رمي واجب دي، او د واجب په پرېښوولو سره دم واجبيږي، نو ځکه به پر هغه هم دم واجب وي، لېکن په دې ټولو ورو‌ځو کي د رمي د پرېښوولو لپاره يو دم کافي دی، د ټولو رمي شمېر اويا(٧٠) دی، دليل دا دی چي د ټولو رميو جنس ذاتاً هم يو دی، او محلاً هم يو دی، نو دا ټولي به يوه رمی ګرځول کيږي(يعني تداخل به پکښي کيږي)، او يو دم به واجبيږي، لکه د ټوله بدن د وروېښتيانو په خرېلو سره چي صرف يو دم واجبيږي.

والترك الخ فرمايي چي د رمي پرېښوول هغه وخت ثابتيږي، کله چي د ذو الحجې د ديارلسمي (١٣) ورځي لمر ولوېږي، ځکه چي د رمي عبادت کېدل په همدغه ورځو کي معلوم دي، نو تر څو چي ورځي پاته وي، د رمي راګرځول ممکن دي، لهذا که د ذو الحجې په ديارلسمه ورځ يې د رمي کولو اراده وکړه، نو په دې ورځ به د ټولو ورځو رمي په ترتيب سره را وګرځوي، او څرنګه چي په دې صورت کي رمي له خپل وخت څخه وځنډول سوې، نو ځکه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دم واجبيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به نه واجبيږي، ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د واجب په ځنډولو سره هم دم واجبيږي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نه واجبيږي.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:٢، ص: ٢٢٥. [القول الراجح ج:١، ص: ٢٢٧]

د رمي د پرېښوولو بېلابېل صورتونو او حکمونه

وَإِنْ تَرَكَ رَمْيَ يَوْمٍ وَاحِدٍ او که محرم د يوې ورځې رمي پرېږدي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه (هم) يو دم واجب دی لِأَنَّهُ نُسُكٌ تَامٌّ ځکه چې د يوې ورځې رمي (هم) پوره يو نسک (عبادت) دی وَمَنْ تَرَكَ رَمْيَ إِحْدَى الْجِمَارِ الثَّلَاثِ او څوک چې په دريو جمرو کې د يوې جمرې رمي پرېږدي فَعَلَيْهِ الصَّدَقَةُ نو پر هغه صدقه واجب ده لِأَنَّ الْكُلَّ فِي هٰذَا الْيَوْمِ نُسُكٌ وَاحِدٌ ځکه چې د دريو سره جمرو رمی په دې ورځ کې يو نسک دی فَكَانَ الْمَتْرُوكُ أَقَلَّ نو پرېښووله سوې رمي (له نصف څخه هم) کمه سوه (نو ځکه به صدقه واجب وي) إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمَتْرُوكُ أَكْثَرَ مِنَ النِّصْفِ خو دا چې پرېښووله سوې رمي تر نصف زياته سي فَحِينَئِذٍ يَلْزَمُهُ الدَّمُ نو په دې وخت کې به پر هغه دم واجبيږي لِوُجُودِ تَرْكِ الْأَكْثَرِ ځکه چې د اکثر پرېښوول راغله وَإِنْ تَرَكَ رَمْيَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِي يَوْمِ النَّحْرِ او که يو څوک په ورځ د نحر د جمرهٔ عقبه رمی پرېږدي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِأَنَّهُ تَرَكَ كُلَّ وَظِيفَةِ هٰذَا الْيَوْمِ رَمْيًا ځکه چې هغه د دې ورځې د رمي ټوله وظيفه پرېښووله وَكَذَا إِذَا تَرَكَ الْأَكْثَرَ مِنْهَا او همدارنګه چې کله هغه (د جمرهٔ عقبه) د رمي اکثره حصه پرېږدي وَإِنْ تَرَكَ مِنْهَا حَصَاةً أَوْ حَصَاتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا او که هغه له رمي څخه يو يا دوه يا درې کاڼي پرېږدي تَصَدَّقَ لِكُلِّ حَصَاةٍ نِصْفَ صَاعٍ نو د هر کاڼي لپاره دې نيم صاع (غنم) صدقه کړي إِلَّا أَنْ يَبْلُغَ دَمًا لېکن که دا صدقه يو دم (يعني د يوې بزې قيمت ته) ورسيږي فَيَنْقُصُ مَا شَاءَ نو څومره چې وغواړي هغه دې کم کړي لِأَنَّ الْمَتْرُوكَ هُوَ الْأَقَلُّ ځکه چې پرېښووله سوې رمي تر نصف کمه ده فَتَكْفِيهِ الصَّدَقَةُ نو صدقه به د هغه لپاره کافي وي.

اللغات: ﴿حصاة﴾ کاڼی (کوچنی ډبره)، ﴿تصدق﴾ د تفعّل ماضي ده: صدقه کول (خيراتول).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو محرم او حاجي په څلورو ورځو کې يوه ورځ رمي پرېښووله نو پر هغه يوه قرباني واجبيږي، ځکه چې دا هم پوره يو نسک دی، او د پوره يو نسک يا د هغه د اکثر په پرېښوولو سره دم واجبيږي، نو ځکه به دلته هم پر هغه دم واجب وي، او د ټولو ورځو د رمي په پرېښوولو سره يوه دم ځکه واجب سو چې د ټولو رميو جنس متحد دی، او په متحد جنس کې به تداخل کيږي.

ومن ترك الخ فرمايي که محرم د يوې ورځې د رمي څه حصه پرېښووله يعني له دريو جمرو څخه يې د يوې جمرې رمي پرېښوولې او د پاته دوو جمرو رمي يې وکړې، نو پر هغه صدقه واجب ده، يعني د هر کاڼي په عوض کې به نيم صاع غنم اداء کړي، ځکه چې د دريو سره جمرو رمی په دې ورځ کې يو نسک شمارل کيږي، او د يوې جمرې رمی تر نصف کمه ده، او د يوه نسک تر نصف د کم پرېښوولو په صورت کې صدقه واجبيږي، نو ځکه به د يوې جمرې د رمي په پرېښوولو سره پر هغه صدقه واجب وي، هو! که له دريو سره جمراتو څخه يې اکثره حصه پرېښووله، مثلاً د دوو جمرو رمي يې پرېښووله، يا يې مثلاً له (۲۱) کاڼو څخه ۱۲ يا ۱۳ کاڼي پرېښوول نو بيا پر هغه دم لازميږي، ځکه چې اکثر د کُل قائم مقام دي او د کُل په پرېښوولو سره دم واجبيږي، نو د اکثر په پرېښوولو سره به هم پر هغه دم واجب وي.

وإن ترك الخ او که يو سړی په ورځ د نحر د جمرۀ عقبه رمي پرېښوولې، نو پر هغه هم دم واجبيږي، ځکه چې د دې ورځې ټوله وظيفه صرف په جمرۀ عقبه کې منحصر ده(يعني په دې ورځ حاجيان صرف د جمرۀ عقبه رمي کوي)، نو ګواکې هغه ديوې ورځې رمي پرېښوولې، او د يوې ورځې د رمي په پرېښوولو سره دم واجبيږي، نو د يوم النحر د رمي په پرېښوولو سره به هم دم واجب وي، همدا راز که هغه د جمرۀ عقبه له اوو(۷) کاڼو څخه اکثر يعني څلور يا پنځه کاڼي پرېښوول، نو هم پر هغه دم واجبيږي، ځکه چې اکثر د کُل قائم مقام دي.

وإن ترك الخ او که محرم د يوې جمرې له رمي څخه يو يا دوه يا درې کاڼي پرېښوول يعني له څلورو څخه يې کم پرېښوول نو د هر کاڼي په بدله کې دې نيم صاع غنم صدقه کړي، لېکن که کاڼي زيات سول او د صدقې قيمت د يوه دم يعني د بزې د قيمت سره برابر سو، نو څومره چې وغواړي هغومره قيمت دې څنې کم کړي(د دې لپاره چې صدقه له دم څخه کمه سي)، ځکه چې پرېښوول سوې حصه خو له نصف څخه کمه ده، او له نصف څخه په کم کې دم نه واجبيږي، بلکې صدقه واجبيږي، او څرنګه چې دلته د صدقې قيمت د دم سره برابر سو، نو ځکه به له هغه څخه ځې کموي چې د دم سره برابره نه سي.

د حج افعال ځنډول يا يې ترتيب بدلول

وَمَنْ أَخَّرَ الْحَلْقَ حَتّٰى مَضَتْ أَيَّامُ النَّحْرِ او څوک چې سر خرېل وځنډوي تر دې چې د قرباني ورځې تيرې سي فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ* أَبِي حَنِيْفَةَ نو پر هغه د امام صاحب په نېز يو دم واجب دی وَكَذَا إِذَا أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ او همدارنګه کله چې هغه طوافِ زيارت وځنډوي وَقَالَا: لَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِي الْوَجْهَيْنِ او صاحبين فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې پر هغه هيڅ شی واجب نه دی وَكَذَا الْخِلَافُ فِي تَأْخِيْرِ الرَّمْيِ وَفِي تَقْدِيْمِ نُسُكٍ عَلٰى نُسُكٍ او همدا اختلاف د رمي په ځنډولو او پر يوه نسک د بل نسک په مخکې کولو کې دی كَالْحَلْقِ قَبْلَ الرَّمْيِ وَنَحْرِ الْقَارِنِ قَبْلَ الرَّمْيِ وَالْحَلْقِ قَبْلَ الذَّبْحِ لکه تر رمي مخکې سر خرېل او تر رمي مخکې د قارن قرباني کول او تر ذبحه کولو مخکې سر خرېل لَهُمَا أَنَّ مَا فَاتَ مُسْتَدْرَكٌ بِالْقَضَاءِ د صاحبينو دليل دا دی چې (دلته) کوم څه فوت سوي دي په قضاء سره د هغو تلافي(او تدارک) کېدای سي وَلَا يَجِبُ مَعَ الْقَضَاءِ شَيْءٌ آخَرُ او د قضاء سره به بل شی نه واجبيږي وَلَهُ حَدِيْثُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د ابن مسعود ﷺ (دا) حديث دی أَنَّهُ قَالَ: مَنْ قَدَّمَ نُسُكًا عَلٰى نُسُكٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ چې نبي ﷺ وفرمايل: "څوک چې يو نسک پر بل نسک مخکې کړي نو پر هغه دم واجب دی" وَلِأَنَّ التَّأْخِيْرَ عَنِ الْمَكَانِ يُوْجِبُ الدَّمَ فِيْمَا هُوَ مُوَقَّتٌ بِالْمَكَانِ كَالْإِحْرَامِ او ځکه چې کوم شی د مکان سره متعين وي لکه احرام نو له خپل مکان څخه د هغه وروسته کول دم واجبوي فَكَذَا التَّأْخِيْرُ عَنِ الزَّمَانِ فِيْمَا هُوَ مُوَقَّتٌ بِالزَّمَانِ لهذا کوم شی چې د زمان سره متعين وي له خپلې زمانې څخه به د هغه وروسته کول هم دم واجبوي.

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۲۲۶. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۲۸]

اللغات: ﴿الحلق﴾ د تفعيل ماضي ده: ځنډول، وروسته کول. ﴿مضت﴾ د ضرب ماضي ده: تېر بدل.

تشريح: په دې عبارت کې صرف د يوه أصل او قاعدې سره اروند مسئلې بيان سوي دي. هغه أصل او قاعده دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د حج له مناسکو څخه يو نسک ځنډول دم واجبوي. لېکن د صاحبينو په نېز دم نه واجبوي. (بنکاره دې وي چې د سر د خريلو او کوچني کولو ورځي ايامِ نحر دي. يعني د نحر او قرباني ورځي چې په علمه اصطلاح موږ ور ته د لوی اختر ورځي وايو).

په عبارت کې د بيان سوي مسئلې حاصل دا دی که يو محرم سر خريل يا د سر کوچني کول (حلق او قصر) له ايامِ نحر څخه وځنډول، يعني په دې ورځو کې يې نه حلق وکړی او نه قصر، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه يو دم واجبيږي، او همدارنګه که هغه طواف زيارت وځنډوی، نو هم دم واجبيږي، لېکن د صاحبينو په نېز په دې دواړو صورتونو کې قرباني نه واجبيږي، د امام صاحب او صاحبينو په مېنځ کې همدا اختلاف هغه وخت دی چې کله يو څوک د جمرۀ عقبه رمي له يومُ النحر يعني د ذو الحجې د لسمې ورځي څخه تر يوولسمې ورځي پوري وځنډوي، او د يوولسمې ورځي رمي تر دولسمې او د دولسمې رمي تر ديارلسمې او د ديارلسمې رمي تر څوارلسمې پوري وځنډوي، نو د امام صاحب په نېز د دې ځنډولو په وجه دم واجبيږي، او د صاحبينو په نېز نه واجبيږي، او که د حج يو نسک يې پر بل نسک مخکې کړی، مثلاً حلق يې پر رمي مخکې کړی، يا قارن يا متمتع تر رمي مخکې دمِ تمتع (د تمتع قرباني) حلاله کړه، يا محرم د قربانۍ تر حلالولو مخکې حلق وکړی، نو په دې ټولو صورتونو کې د امام صاحب په نېز دم واجبيږي، او د صاحبينو په نېز نه واجبيږي.

د صاحبينو د ليل: دا دی چې دم د پرېښولو په وجه واجبيږي، نه د ځنډولو په وجه، او له دې ذکر سوو مسئلو څخه په يوه مسئله کې هم هيڅ واجب او نسک پرېښول سوی نه دی، بلکې له خپل وخت څخه مخکې سوی يا وروسته سوی دی، او کوم شی چې له خپل وخت څخه وروسته يا مخکې سي، د هغه تلافي په قضاء سره کېدای سي، او د کوم شي تلافي چې په قضاء سره کېدای سي، په هغه کې به له قضاء څخه علاوه بل هيڅ شی نه واجبيږي، نو ځکه به په دې ذکر سوو شيانو کې دم نه واجبيږي.

د امام صاحب دليل: د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دی، او په ځيني نسخو کې د ابن مسعود پر ځای ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ليکل سوی دی، حديث دا دی چې کوم سړی يو نسک پر بل نسک مخکې کړي نو پر هغه دم واجبيږي.

ولأنّ التأخير الخ دويم عقلي دليل دا دی: کوم نسک چې د يو مکان سره خاص وي، هغه که له خپل مکان څخه وروسته کړی سي، نو دم واجبيږي، مثلاً که حاجي بغير له احرام څخه تر ميقات تېر سي، او بيا احرام وتړي، نو پر هغه دم واجبيږي، همداسې به کوم نسک چې د يوې زمانې سره خاص وي، هغه که له خپلې زمانې څخه وروسته کړی سي، نو پر هغه به هم دم واجبيږي، ځکه چې په علمه توګه د زمان او مکان حکم يو وي.

حلق يا قصر ځنډول يا له حرم څخه دباندې کول

وَإِنْ حَلَقَ فِي أَيَّامِ النَّحْرِ فِي غَيْرِ الْحَرَمِ بيا که محرم د قربانۍ په ورځو کې له حرم څخه ماسوا (بل ځای) سر وخريي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی وَمَنِ اعْتَمَرَ فَخَرَجَ مِنَ الْحَرَمِ وَقَصَّرَ او څوک چې عمره وکړي بيا له حرم څخه ووځي

او وربېښتيان کوچني کري فَعَلَيْهِ دَمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ● نو د طرفينو په نېز پر هغه (هم) دم واجب دی وَقَالَ أَبُو يُوْسُفَ: لَا شَيْءَ عَلَيْهِ او امام ابو يوسف فرمايي: چي پر هغه هيڅ شی واجب نه دی قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: ذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ قَوْلَ أَبِي يُوْسُفَ فِي الْمُعْتَمِرِ صاحب د هدايې فرمايي: چي امام محمد په جامع صغير کي د امام ابو يوسف قول د عمره کونکي په حق کي ذکر کړی دی وَلَمْ يَذْكُرْهُ فِي الْحَاجِّ او د حج کونکي په حق کي يې نه دي ذکر کړی قِيْلَ: هُوَ بِالْإِتِّفَاقِ (او) ويل سوي دي: چي دا مسئله بالاتفاق ده(چي دم پر واجب دی) لِأَنَّ السُّنَّةَ جَرَتْ فِي الْحَجِّ بِالْحَلْقِ بِمِنًى ځکه چي په حج کي د سر خريلو سنت په منیٰ کي جاري دی وَهُوَ مِنَ الْحَرَمِ او منیٰ له حرم څخه ده وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ عَلَى الْخِلَافِ او صحيح دا ده چي دا مسئله پر اختلاف ده هُوَ يَقُوْلُ: اَلْحَلْقُ غَيْرُ مُخْتَصٍّ بِالْحَرَمِ امام ابو يوسف فرمايي: چي د سر خريل د حرم سره خاص نه دي لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ أُحْصِرُوْا● بِالْحُدَيْبِيَةِ وَحَلَقُوْا فِي غَيْرِ الْحَرَمِ ځکه چي نبي ﷺ او صحابه په حديبيه کي ايسار کړی سول او هغوی له حرم څخه دباندي سرونه وخريل وَلَهُمَا أَنَّ الْحَلْقَ لَمَّا جُعِلَ مُحَلِّلًا او د طرفينو دليل دا دی چي کله حلق مُحلل وګرځېدی صَارَ كَالسَّلَامِ فِي آخِرِ الصَّلَاةِ نو داسي سو لکه د لمانځه په آخر کي چي سلام دی فَإِنَّهُ مِنْ وَاجِبَاتِهَا ځکه سلام (هم) د لمانځه له واجباتو څخه دی وَإِنْ كَانَ مُحَلِّلًا که څه هم سلام حلالونکی دی فَإِذَا صَارَ نُسُكًا نو کله چي حلق نسک دی اِخْتَصَّ بِالْحَرَمِ نو د حرم سره به خاص وي كَالذَّبْحِ لکه (څاروی) حلالول وَبَعْضُ الْحُدَيْبِيَةِ مِنَ الْحَرَمِ او د حديبيې بعضي حصه په حرم کي داخل ده فَلَعَلَّهُمْ حَلَقُوْا فِيْهِ نو کېدای سي چي هغوی به په دې حصه کي سرونه خريلي وي فَالْحَاصِلُ أَنَّ الْحَلْقَ يَتَوَقَّتُ بِالزَّمَانِ وَالْمَكَانِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ حاصل دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز سر خريل د زمان او مکان دواړو سره خاص دي وَعِنْدَ أَبِي يُوْسُفَ لَا يَتَوَقَّتُ بِهِمَا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د دواړو سره خاص نه دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَتَوَقَّتُ بِالْمَكَانِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مکان سره خاص دي دُوْنَ الزَّمَانِ نه د زمانې سره وَعِنْدَ زُفَرَ يَتَوَقَّتُ بِالزَّمَانِ دُوْنَ الْمَكَانِ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز به د زمانې سره خاص وي، نه د مکان سره وَهٰذَا الْخِلَافُ فِي التَّوْقِيْتِ فِي حَقِّ التَّضْمِيْنِ بِالدَّمِ او دا د زمان يا مکان سره د خاصېدلو اختلاف د دم د واجبېدلو په حق کي دی وَأَمَّا فِي حَقِّ التَّحَلُّلِ فَلَا يَتَوَقَّتُ بِالْإِتِّفَاقِ لېکن د حلال کېدلو په حق کي خو بالاتفاق خاص نه دي.

اللغات: ﴿جرت﴾ د ضرب ماضي ده: جاري کېدل، ﴿أحصروا﴾ منع کړی سول، بند کړی سول(ايسار کړی سول)، ﴿يتوقت﴾ د تفعّل مضارع ده: متعين کېدل، مؤقت کېدل، (خاصېدل)، ﴿التحلل﴾ د تفعّل مصدر دی: احرام خلاصول.

● القول الراجح: هو هذا قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص: ٢٢٥. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٢٩]

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الشروط، باب الشروط في الجهاد والمصالحة، حديث رقم: ٢٧٣١، ٢٧٣٢.

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱) اوله مسئله دا ده که حاجي د نحر په ورځو کې له حرم څخه بهاندې حلق وکړي (يعني سر وخرېي). (۲) دویمه مسئله دا ده که یو سړی عمره وکړي او تر طواف او سعی کولو وروسته له حرم څخه دباندې ولاړ سي، او هلته (د عمرې) حلق یا قصر وکړي، نو د طرفینو په نېز په دې دواړو مسئلو کې پر محرم دم واجبیږي، او د امام ابو یوسف په نېز په دواړو مسئلو کې هیڅ شی نه واجبیږي. صاحب د هدایې رحمه الله فرمايي: اصل دا دی چې دا دواړه مسئلې د طرفینو او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په مینځ کې مختلف فیها دي. که څه هم امام محمد په جامع صغیر کې د امام ابو یوسف دا قول لا شئ علیه د عمره کونکي سره خاص کړی دی، او د حاجي په باره کې یې د دم د وجوب یا عدمِ وجوب هیڅ صراحت کړی نه دي. په دې لړ کې د ځینو حضراتو رایه دا ده چې که حاجي له حرم څخه دباندې حلق وکړي، نو بالاتفاق پر هغه دم واجبیږي. د طرفینو په نېز هم او د امام ابو یوسف په نېز هم. ځکه چې په حج کې سنت همدغه ده چې حلق په منیٰ کې وسي، او څرنګه چې منیٰ په حرم کې ده. نو ځکه به له منیٰ او حرم څخه خارج پر حلق کونکي د سنت پرېښوولو په وجه دم لازمیږي.

والأصح الخ لېکن صحيح دا ده چې دا مسئله مختلف فیه ده، او له حرم څخه خارج پر حلق کونکي د طرفینو په نېز خو دم لازمیږي، لېکن د امام ابو یوسف په نېز نه لازمیږي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې حلق کول د حرم سره خاص نه دي، ځکه کله چې نبي ﷺ او صحابه په حدیبیه کې له حج څخه منع کړی سول، نو نبي ﷺ او صحابه وو هلته حلق وکړی، او حدیبیه له حرم څخه خارج ده، نو که له حرم څخه خارج د حلق په وجه دم واجبېدلای، نو نبي ﷺ او صحابه وو به په حدیبیه کې حلق نه کولای، یا خو به یې دم (يعني قرباني) کولای، لېکن نبي ﷺ نه په خپله قرباني وکړه، او نه یې صحابه وو ته د دې حکم وکړی، نو له دې څخه دا خبره څرګندیږي چې له حرم څخه خارج حلق کول جرم نه دي، او کله چې جرم نه دي، نو دم به هم نه واجبیږي.

د طرفينو دليل: دا دی چې څرنګه سلام د لمانځه لپاره محلل دی، او د لمانځه له واجباتو څخه دی، همدا ډول حلق هم د حج لپاره محلل دی، او د حج له واجباتو او مناسکو څخه دی، او د حج ټول افعال، ارکان، مناسک او واجبات د حرم سره خاص دي، او په حرم کې د هغو اداء کول ضروري دي، نو ځکه به له حرم څخه خارج او دباندې حلق کول جرم وي، لهذا موجب د دم به هم وي، او د امام ابو یوسف دا وینا "چې نبي ﷺ او صحابه وو په حدیبیه کې حلق کړی وو، او حدیبیه له حرم څخه خارج ده" مورږ نه منو، ځکه چې د حدیبیې یوه حصه په حرم کې داخله ده، نو ډېره ممکنه ده چې نبي ﷺ او صحابه وو به دې په دې حصه کې حلق کړی وي، لهذا په دې قصې سر دلیل نیول صحیح نه دي.

فالحاصل الخ د دې حاصل دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په حج کې حلق د زمان او مکان دواړو سره خاص دی، له زمان څخه مراد ایامِ نحر او له مکان څخه مراد حرم دی، او د حاجي لپاره په حرم کې او په ایامِ نحر کې حلق کول ضروري دي، نو که یو حاجي په ایامِ نحر کې حلق وکړي، لېکن له حرم څخه یې دباندې وکړي، یا له ایامِ نحر څخه ماسوا په نورو ورځو کې په حرم کې حلق وکړي، نو په دواړو صورتونو کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه دم واجبیږي. دې په خلاف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز حلق کول نه د زمان سره خاص دي، او نه د مکان سره، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز خو د مکان یعني د حرم سره خاص دي، لېکن د زمان یعني د ایامِ نحر سره خاص نه دي، نو که یو سړی له حرم څخه دباندې حلق وکړي، نو پر هغه دم واجبیږي، هو! که یو سړي له ایامِ نحر څخه ماسوا په نورو ورځو کې په حرم کې حلق وکړي، نو پر هغه دم نه واجبیږي، ځکه چې د هغه په نېز حلق کول د زمان یعني د ایامِ نحر سره خاص نه دي.

وهذا الخلاف الخ فرمايي چې د امامانو دا پورتني اختلاف صرف د دم د وجوب سره تعلق لري، نو کوم حضرات چې حلق د زمان يا د مکان سره خاصوي، د هغوی په نيز د مخالفت په صورت کې دم واجبيږي، او کوم حضرات چې حلق د يوه سره هم نه خاصوي، مثلاً امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله، نو د هغوی په نيز له ايام نحر څخه ماسوا يا له حرم څخه دباندې په حلق سره دم نه واجبيږي، لنډه دا چې د اختلاف تعلق صرف د دم د وجوب سره دی، د حلق د محلل کېدلو سره نه دی، نو لکه څرنګه چې په ايام نحر کې په حلق سره محرم حلاليږي، همدارنګه له ايام نحر څخه ماسوا په نورو ورځو کې له حرم څخه دباندې په حلق سره هم محرم حلاليږي، او دا حکم د ټولو په نيز دی.

د عمره کونکي لپاره د حلق يا قصر وخت

وَالتَّقْصِيرُ وَالْحَلْقُ فِي الْعُمْرَةِ غَيْرُ مُؤَقَّتٍ بِالزَّمَانِ بِالْإِجْمَاعِ وربښتيان کوچني کول يا سر خريل (د ټولو) په اتفاق د زمانې سره خاص نه دي لِأَنَّ أَصْلَ الْعُمْرَةِ لَا يَتَوَقَّتُ بِهِ ځکه چې اصل عمره د زمانې سره خاص نه ده بِخِلَافِ الْمَكَانِ په خلاف د مکان (حرم) لِأَنَّهُ مُؤَقَّتٌ بِهِ ځکه چې عمره د مکان (حرم) سره خاص ده.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې عمره کونکي لره د حلق يا د قصر کولو لپاره هيڅ وخت متعين نه دی، بلکې عمره کونکې چې کله وغواړي حلق يا قصر کولای سي، ځکه کله چې په خپله عمره د زمان سره خاص نه ده، او على الاطلاق د عمرې اداء کول جائز دي، نو د دې ارکان به هم د زمان سره خاص نه وي، او هر وخت به د هغو اداء کول جائز وي، لېکن عمره د مکان يعني د حرم سره خاص ده، نو د دې ارکان به هم د مکان يعني د حرم سره خاص وي، لهذا د عمرې حلق او قصر به په حرم کې کوي.

د مخکنۍ مسئلې څه نور وضاحت

قَالَ: فَإِنْ لَمْ يُقَصِّرْ حَتَّى رَجَعَ وَقَصَّرَ فرمايي: اوکه عمره کونکی قصر نه وکړي تر دې چې واپس راسي او قصر وکړي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو د ټولو په اتفاق پر هغه هيڅ شی واجب نه دی مَعْنَاهُ: إِذَا خَرَجَ الْمُعْتَمِرُ ثُمَّ عَادَ د دې مطلب دا دی: چې کله عمره کونکی (له حرام څخه) را ووځي بيا (دوباره) حرم ته واپس راسي لِأَنَّهُ أَتَى بِهِ فِي مَكَانِهِ ځکه (په دې صورت کې) هغه حلق يا قصر په خپل ځای کې اداء کړی فَلَا يَلْزَمُهُ ضَمَانُهُ نو پر هغه به د دې ضمان نه لازميږي.

اللغات: ﴿ضمان﴾ جرمانه.

تشريح: تر دې مخکې صاحب د هدايې فرمايلي وه چې د عمرې افعال د مکان يعني د حرم سره خاص دي، نو پر هغه يوه مسئله متفرع کوي فرمايي چې که عمره کونکی د عمرې د ارکانو تر اداء کولو وروسته له حرم څخه ووتی او له حرم څخه دباندې يې حلق يا قصر نه وکړی، بلکې حرم ته بيا واپس راغلی حلق يا قصر يې وکړی، نو پر هغه بالاتفاق هيڅ شی نه واجبيږي، دليل دا دی چې هغه حلق يا قصر په خپل ځای يعني په حرم کې وکړی، نو ځکه به پر هغه فقط د دې ځنډولو په وجه ضمان نه واجبيږي.

د قارن لپاره تر حلالولو مخکې د حلق حکم

وَإِنْ حَلَقَ الْقَارِنُ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَ بيا که قارن د ښاروي تر حلالولو مخکې سر وخريي فَعَلَيْهِ دَمَانِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو پر هغه د امام صاحب په نيز دوې قرباني واجب دي دَمٌ بِالْحَلْقِ فِي غَيْرِ أَوَانِهِ يو دم د بې وخته سر خريلو په وجه لِأَنَّ أَوَانَهُ بَعْدَ الذَّبْحِ ځکه چې د سر خريلو وخت تر حلالولو وروسته دی وَدَمٌ بِتَأْخِيرِ الذَّبْحِ عَنِ الْحَلْقِ او يو دم له حلق څخه د ذبحې د ځنډولو په وجه وَعِنْدَهُمَا يَجِبُ عَلَيْهِ دَمٌ وَاحِدٌ او د صاحبينو په نيز پر هغه يو دم واجب دی وَهُوَ الْأَوَّلُ او هغه اول دم دی وَلَا يَجِبُ بِسَبَبِ التَّأْخِيرِ شَيْءٌ او د تأخير په وجه (پر هغو) هيڅ شی نه واجبيږي عَلَى مَا قُلْنَا لکه څرنګه چې موږ (مخکې) وويل.

اللغات: ﴿أوان﴾ ټاکلی وخت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که قران کوونکی سړي د هدي د ښاروي تر حلالولو مخکې حلق وکړي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر هغه دوه دمه واجبيږي. يو دم خو په دې وجه واجبيږي، چې هغه حلق بې وخته وکړي، ځکه چې د حلق وخت تر حلالولو وروسته دی، او دويم دم په دې وجه واجبيږي، چې هغه د هدي حلالول تر حلق وروسته کړه، ځکه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د واجب شي په ځنډولو سره هم دم واجبيږي، د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې مسئله کې صرف يو دم واجبيږي، او هغه په دې وجه چې هغه حلق تر هدي حلالولو مخکې کړی، او څرنګه چې د صاحبينو په نيز د واجب په ځنډولو سره دم نه واجبيږي، نو ځکه به د هغو په نيز د حلالولو په ځنډولو سره پر هغه هيڅ شی نه واجبيږي.

صاحب د بنايې او صاحب د عنايې وايي چې په دې عبارت کې له کاتب څخه سهوه سوې ده، صحيح مسلک دا دی چې د امام صاحب په نيز په دې صورت کې د حلق او ذبح په تقديم او تأخير سره دوه جلا جلا دمه نه واجبيږي، بلکې صرف يو دم واجبيږي، ځکه چې دا خبره تر لمر سيپنه ده چې کله حلق تر حلالولو مخکې کړی سي، نو حلالول به خامخا خپله وروسته کيږي، نو ځکه به يو دم واجبيږي، لهذا د قدوري له دې عبارت فعليه دمان څخه يو دم قِران مراد دی، او دويم هغه دم مراد دی کوم چې په حلق او ذبح کې د تقديم او تأخير په وجه واجبيږي.

او صاحب د اثمار الهدايې وايي چې د صاحبينو په نيز چې کوم يو اول دم واجبيږي، له هغه څخه هم مراد دم قِران دی، کوم چې د قِران په شکرانه کې واجب دی، ځکه د صاحبينو أصول تېر سو چې د هغو په نيز د يوه نسک په تقديم او تأخير سره پر محرم هيڅ دم نه لازميږي.



● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:٢، ص: ٢٢۶. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٣٠]

فَصْلٌ فِي الصَّيْدِ فِي الْإِحْرَامِ

(دا) فصل داحرام په حالت کي د ښکار کولو (په بيان کي) دی

تشريح: د محرم لپاره د وچي حيوان ښکارول حرام دي، او په جنايت کي داخل دي، خو ځرنګه چي د دې جنايت قسم له مخکنيو جناياتو څخه جلا دی، نو ځکه په جلا فصل کي بيانيږي.

د محرم لپاره کوم ښکار حرام دی؟

اِعْلَمْ أَنَّ صَيْدَ الْبَرِّ مُحَرَّمٌ عَلَى الْمُحْرِمِ پوه سه! چي د وچي (مځکي) ښکار پر محرم حرام دی وَصَيْدَ الْبَحْرِ حَلَالٌ او د درياب (سمندر) ښکار حلال دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ [المائدة: ٩٦] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "ستاسو لپاره د درياب ښکار حلال دی" د آيت تر آخره پوري وَصَيْدُ الْبَرِّ مَا يَكُونُ تَوَالُدُهُ وَمَثْوَاهُ فِي الْبَرِّ او د وچي ښکار هغه دی چي زيږيږي او استوګنه يې په وچه کي وي وَصَيْدُ الْبَحْرِ مَا يَكُونُ تَوَالُدُهُ وَمَثْوَاهُ فِي الْمَاءِ او د اوبو ښکار هغه دی چي زيږيږي او استوګنه يې په اوبو کي وي وَالصَّيْدُ هُوَ الْمُمْتَنِعُ الْمُتَوَحِّشُ فِي أَصْلِ الْخِلْقَةِ او د ښکار حيوان هغه دی چي خپل ځان له ښکاري څخه ژغوري او د اصل خلقت په اعتبار سره وحشي (او نا اموخته) وي وَاسْتَثْنَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● الْخَمْسَ الْفَوَاسِقَ او نبي ﷺ پنځه بد حيوانان (له ښکار څخه) جلا کړي دي وَهِيَ: الْكَلْبُ الْعَقُورُ او هغه (١) داړونکی سپی دی وَالذِّئْبُ (٢) او لېوه دی وَالْحِدَأَةُ (٣) او تپوس دی وَالْغُرَابُ (٤) او کارګه دی وَالْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ (٥) او مار او لړم دي فَإِنَّهَا مُبْتَدِئَاتٌ بِالْأَذَى ځکه چي دا حيوانان (انسان ته) په تکليف رسولو کي وړانديتوب کوي وَالْمُرَادُ بِهِ الْغُرَابُ الَّذِي يَأْكُلُ الْجِيَفَ او له کارګه څخه مراد هغه کارګه دی چي مرداري خوري (يعني مردار سوي حيوانان او کندګي خوري). هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه رانقل سوي دي.

اللغات: ﴿صيد﴾ ښکار، ﴿بر﴾ وچه مځکه، ﴿توالد﴾ د تفاعل مصدر دی: نسل زيږونه، ﴿مثوی﴾ ټکانه، استوګن ځای، ﴿ممتنع﴾ ځان ساتونکی (ځان ژغورنکی)، ﴿متوحش﴾ وحشي، ځنګلي، هغه حيوان چي د انسانانو سره نابلده او نا اموخته وي، ﴿الكلب العقور﴾ داړه مار سپی، ﴿ذئب﴾ لېوه، ﴿حدأة﴾ تپوس، ﴿غراب﴾ کارګه (کارغه)، ﴿جيف﴾ جمع د جيفة ده: مرادر سوي حيوانان.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د محرم لپاره د وچي حيوانانو او مارغان ښکارول حرام او ناجائز دي، لېکن د دريابي حيوانانو او مارغانو ښکارول صحيح او جائز دي، دليل دا آيت دی: أحل لكم صيد البحر ...الخ، صاحب د هدايې فرمايي

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فی كتاب المناسک، باب ما يقتل المحرم من الدوّاب، حديث رقم: ١٨٤٦.

چې دوچې حیوان هغه ته ویل کیږي چې د هغه توالد او تکانه په وچه کې وي، او د دریاب ښکار هغه ته ویل کیږي چې د هغه توالد او تکانه یې په اوبو کې وي، او ښکار هغه حیوان ته ویل کیږي، چې خپل ځان له ښکاري څخه ساتي، او په اصل فطرت کې وحشي او ترهېدونکی وي.

واستثنی الخ اوس ذکر سوه چې د وچې حیوانان ښکارول د محرم لپاره ناجائز دي، خو نبي ﷺ له دې څخه پنځه یاغي او سرکښه حیوانان مستثنیٰ کړي دي، او د هغو وژل او نیول یې مباح کرځولوي دي، هغه پنځه حیوانان دا دي: ① داړونکی او خوله اچونکی سپی، ② لېوه، ③ ټپوس، ④ کارګه، ⑤ مار ⑥ لړم.

په حدیث کې د فواسق لفظ راغلی دی، فواسق د فاسقة جمع ده، ځرنګه چې دا خبیث او ناکاره حیوانان دي، نو ځکه هغو ته فواسق وویل سول، او بل دا چې په حدیث کې د خمس لفظ راغلی دی، لېکن دا حیوانان شپږ دي، د دې جواب دا دی چې په حدیث کې ذئب او کلب عقور دواړه یو دي، لیکن په شمېر کې دواړه جلا ذکر سول، دویم جواب دا دی چې له الخمس الفواسق څخه د پنځو انحصار او حصر بیانول مقصود نه دي، لهذا تر پنځو زیاتېدل به د حدیث منافي نه وي. (بنایه ج۴، ص۳۰۲)، حاصل دا چې د احرام په حالت کې د دې حیواناتو وژل په دې وجه جائز دي، چې دا حیوانان بغیر له دې څخه چې انسان لاس په ووهي په تکلیف ورکولو سره شروع کوي، او له کارګه څخه مراد هغه کارګه دی چې مرداري خوري، همدا له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه رانقل سوي دي.

د احرام په حالت کې د ښکار د سزا بیان

قَالَ: وَإِذَا قَتَلَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا فرمايي: او کله چې محرم د ښکار حیوان قتل کړي أَوْ دَلَّ عَلَيْهِ مَنْ قَتَلَهُ يا داسي سړي ته ښکار ور وښيي چې هغه یې قتل کړي فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ نو پر هغه جزاء واجب ده أَمَّا الْقَتْلُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى: لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ هر چې قتل دی نو ځکه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: "تاسو د احرام په حالت کې د ښکار حیوان مه وژنئ وَمَنْ قَتَلَهُ مِنْكُمْ مُتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ [المائدة: ۹۵] او که چا هغه قصداً قتل کړی نو (پر هغه) جزاء ده" نَصَّ عَلَى إِيجَابِ الْجَزَاءِ دا آیت د جزاء په واجبولو کې صریح دی وَأَمَّا الدَّلَالَةُ فَفِيهَا خِلَافُ الشَّافِعِيِّ هر چې د ښکار ښوونه ده نو په هغه کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَقُولُ: الْجَزَاءُ تَعَلَّقَ بِالْقَتْلِ هغه فرمايي: چې جزاء د قتل سره تعلق لري وَالدَّلَالَةُ لَيْسَتْ بِقَتْلٍ او د ښکار ښوونه قتل نه دی فَأَشْبَهَ دَلَالَةَ الْحَلَالِ حَلَالًا نو دا مشابه سو (د دې سره چې) یو حلال سړی بل حلال سړي ته (د ښکار) ښوونه وکړي وَلَنَا مَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ[•] أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زموږ [اول دلیل د ابو قتاده هغه حدیث دی کوم چې موږ روایت کړی وَقَالَ عَطَاءٌ: أَجْمَعَ النَّاسُ عَلَى أَنَّ عَلَى الدَّالِّ الْجَزَاءَ [دویم دلیل] او عطاء رَحِمَهُ الله ویلي دي: چې خلکو پر دې خبره اجماع کړې ده چې پر دلالت کونکي (ښوونکي) هم جزاء سته وَلِأَنَّ الدَّلَالَةَ مِنْ مَحْظُورَاتِ الْإِحْرَامِ [دریم دلیل] او ځکه چې دلالت کول د احرام له ممنوعاتو څخه دي وَلِأَنَّهُ

• تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج باب تحريم الصيد المأكول البري حديث رقم: ۶۱، ۶۳، ۶۴.

تَفْوِيتُ الْأَمْنِ عَلَى الصَّيْدِ المخلوم دليل او ځکه چې دلالت کول د ښکار أمن فوتول دي إِذْ هُوَ آمِنٌ بِتَوَحُّشِهِ وَتَوَارِيهِ ځکه چې ښکار د خپل وحشت او پټېدلو په وجه په امن کې وي فَصَارَ كَالْإِتْلَافِ نو (دا) د تلف کولو (هلاکولو) سره مشابه سو وَلِأَنَّ الْمُحْرِمَ بِإِحْرَامِهِ الْتَزَمَ الْإِمْتِنَاعَ عَنِ التَّعَرُّضِ [پنځم دليل] او ځکه چې محرم په خپل احرام سره (دا) پر ځان لازمه کړې ده چې پر ښکار به تعرّض نه کوي (يعني په ښکار به لاس نه وهي) فَيَضْمَنُ بِتَرْكِ مَا الْتَزَمَهُ نو د کوم شي التزام چې يې کړی دی د هغه په پرېښوولو سره به ضامن کيږي كَالْمُودَعِ لکه هغه څوک چې هغه ته امانت اېښوول سوی وي بِخِلَافِ الْحَلَالِ لِأَنَّهُ لَا الْتِزَامَ مِنْ جِهَتِهِ [شپږم دليل] په خلاف د حلال سړي، ځکه چې د حلال سړي له طرفه هيڅ التزام نسته عَلَى أَنَّ فِيهِ الْجَزَاءَ [اووم دليل] او دا هم ده چې د حلال سړي په دلالت کولو کې جزاء (هم) سته عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ وَزُفَرَ لکه څرنګه چې له امام ابو يوسف او امام زفر رَحِمَهُ الله څخه راويت سوي دي وَالدَّلَالَةُ الْمُوجِبَةُ لِلْجَزَاءِ او کوم دلالت چې جزاء واجبوي هغه دا دی أَنْ لَا يَكُونَ الْمَدْلُولُ عَالِمًا بِمَكَانِ الصَّيْدِ چې مدلول به د ښکار په ځای خبر نه وي وَأَنْ يُصَدِّقَهُ فِي الدَّلَالَةِ او دا چې مدلول په دلالت کې د ښوونکي تصديق (هم) وکړي حَتَّى لَوْ كَذَّبَهُ وَصَدَّقَ غَيْرَهُ تر دې که هغه د ښوونکي تکذيب وکړي او د بل سړي تصديق وکړي لَا ضَمَانَ عَلَى الْمُكَذَّبِ نو د چا تکذيب چې سوی دی پر هغه ضمان نسته (يعني پر ښوونکي ضمان نسته) وَلَوْ كَانَ الدَّالُّ حَلَالًا فِي الْحَرَمِ او که ښوونکی په حرم کې حلال وو لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ شَيْءٌ نو پر هغه هيڅ شی نسته لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿دلّ﴾ د نصر ماضي ده: ښوونه (دلالت کول)، د ښکار د ځای خبر ورکول. ﴿تفويت﴾ د تفعيل مصدر دی: فوتول (فوت کول)، ﴿توارى﴾ د تفاعل مصدر دی: پټېدل، پټ اوسېدل. ﴿كذّب﴾ د تفعيل ماضي ده: دروغجن ګڼل، تکذيب کول. ﴿دال﴾ د ښکار ورښوونکی. ﴿مدلول﴾ هغه چې ښکار ور وښوول سي.

تشريح: په دې اوږده عبارت کې صرف دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱) اوله مسئله متفق عليه او اجماعي ده، هغه دا ده چې د محرم لپاره د وچې مځکي ښکار قتلول حرام او ناجائز دي، دليل دا آيت دی: لا تقتلوا الصيد و أنتم حرم ومن قتله منكم متعمدا فجزاء مثل ما قتل من النعم [المائده: ۹۲]، نو دې فرمان ته په کتنې سره د محرم لپاره بذات خود ښکار کول حرام دي، (۲) دويمه مسئله چې هغه مختلف فيه ده، دا ده چې څرنګه زموږ په نېز د محرم لپاره ښکار کول حرام دي، همدارنګه د محرم لپاره يو چا ته د ښکار خبر ورکول او د ښکار ور ښوول هم حرام دي، همدا وجه ده که محرم بل سړي ته ښکار ور وښووی او بل سړي ښکار قتل کړی، نو پر دې محرم به د دلالت په وجه جزاء واجب وي، لېکن امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله دلالت جرم نه ګڼي، او په دې صورت کې د هغه په نېز پر محرم جزاء نه واجبيږي.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چې په دې آيت ومن قتله منكم متعمدا الخ کې د جزاء وجوب د ښکار د قتل سره متعلق دي، او په دلالت کولو او ښوولو کې د قتل معنیٰ نسته، نو داسې سو لکه يو حلال سړی چې بل حلال سړي ته په حرم

کي ښکار ور وښيي، او هغه يې قتل کړي، نو جزاء پر دالّ نه واجبيږي، بلکې پر مدلول واجبيږي، ځکه چې په حرم کې يې ښکار قتل کړی، نو همدارنګه چې کله محرم دال وي، نو پر هغه به هم جزاء واجب نه وي.

زموږ دليل: د حضرت ابو قتاده ﷜ دا حديث کوم چې د باب الإحرام په اول کې تېر سو: أنه أصاب حمار وحش وهو حلال وأصحابه محرمون فقال النبي ﷺ لأصحابه هل أشرتم هل دللتم هل أعنتم فقالوا لا فقال إذاً فكلوا. د حديث ترجمه او طريقه د استدلال هم د باب په اول کې ذکر سول.

دويم دليل: دا دی چې له حضرت عطاء ابن رباح رَحِمَهُ الله څخه دا رانقل سوي دي چې مسلمانانو پر دې خبره اجماع کړې ده چې پر دلالت کونکي جزاء واجب ده، صاحب د بنايې ليکلي دي: قال الطحاوي: هو مروي عن عدة من الصحابة ولم يروى عنهم خلافه فكان إجماعاً (بنايه ج،۲، ص، ۳۰۷).

دريم دليل: دا دی چې دلالت کول د احرام له ممنوعاتو څخه دی، او کوم شی چې د احرام له ممنوعاتو څخه وي، د هغه ارتکاب کول يقيناً جزاء واجبوي.

څلورم دليل: دا دی چې هر ښکار او صيد په أمن کې وي، او خپل ځان له ښکاريانو څخه خوندي ساتي، نو څرګنده خبره ده چې کوم سړی بل چا ته د ښکار خبر ورکوي، او ښکار ور وښيي، هغه د ښکار امن فوتوي، او امن فوتول د هغه د هلاکولو او تلف کولو په څېر دي، او هلاکول جزاء واجبوي، لهذا پر ښوونکي او دلالت کونکي به هم جزاء واجب وي.

پنځم دليل: دا دی چې محرم د احرام په تړلو سره پر ځان د دې خبرې التزام کړی دی، چې هغه به د احرام له ممنوعاتو څخه ګوښه اوسيږي، ښکار او نورو ممنوعاتو ته به نه ور نژدې کيږي، لېکن کله چې هغه د ښکار خبر ورکړی، يا يې په خپله ښکار قتل کړی، نو خپل دغه التزام يې پرېښوی، او د التزام په پرېښوولو سره جزاء واجبيږي، نو ځکه به پر هغه هم جزاء واجب وي، لکه يو سړی چې خپل مال بل چاته په امانت کښېږدي، نو مُودَع (چا ته چې امانت اېښوول سوی دي) پر ځان د دې خبرې التزام کوي چې هغه به د دې مال حفاظت کوي، لېکن که مودَع دا ضايع کړی، نو د التزام د پرېښوولو په وجه به پر هغه ضمان واجبيږي، نو همداسي به په دې مسئله کې هم د التزام د پرېښوولو په وجه پر محرم جزاء واجبيږي.

شپږم دليل: بخلاف الحلال الخ دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله جواب هم دی، هغه په دليل کې ويلي وو چې که حلال سړی بل چا ته ښکار ور وښيي نو پر هغه ضمان نه لازميږي، همداسي به پر محرم هم نه لازميږي، نو د هغه جواب ورکوي چې فرمايي: که حلال سړی بل چا ته د ښکار ښوونه وکړي، نو پر هغه هيڅ جزاء نه واجبيږي، ځکه چې هغه پر ځان د هيڅ شي التزام کړی نه دي، نو ځکه به د ښوولو او دلالت کولو په وجه پر هغه جزاء نه واجبيږي، لهذا امام شافعي رَحِمَهُ الله لپاره محرم پر حلال قياسول صحيح نه دي.

اووم دليل: على أن فيه الخ دا امام شافعي دويم جواب هم دی، فرمايي چې يو روايت دا هم دی چې د امام ابو يوسف او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نيز که حلال دالّ د حرم پر ښکار دلالت وکړي، نو پر هغه هم جزاء واجب ده، نو په دې روايت سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس ګنجايش نور هم ختميږي.

والدلالة الخ صاحب د هدايې فرمايي چې هغه ښوونه او دلالت کوم چې جزاء واجبوي، دا دی چې مدلول ته د ښکار ځای معلوم نه وي، خو که مدلول ته د ښکار ځای معلوم وو، نو پر محرم دال جزاء نه واجبيږي، دويم شرط دا دی چې کله

دال و مدلول ته ښکار ور ونښيي، نو مدلول به هغه ربښتونی ګڼي، او د دال تصديق به کوي، خو که مدلول دال درواغجن وګڼي، او دويم سړی يې ربښتونی وګڼي، او د دويم سړي په خوله يې ښکار قتل کړي، نو څوک چې يې درواغجن ګڼلی دی، پر هغه جزاء نه واجبيږي، هو! که دا دويم سړی محرم وو، نو پر هغه هم جزاء واجبيږي.

ولو کان الخ او که دال په حرم کې حلال وو، محرم نه وو، نو پر هغه جزاء نه واجبيږي، دليل مخکې تېر سو چې هغه پر ځان د هيڅ شي التزام کړی نه دی.

د احرام په حالت کې په هېره او قصداً د ښکار کونکي حکم

وَسَوَاءٌ فِي ذٰلِكَ الْعَامِدُ وَالنَّاسِيْ او په ضمان کې قصداً (ښکار) کونکی او په هيره (ښکار) کونکی دواړه برابر دي **لِأَنَّهُ ضَمَانٌ يَعْتَمِدُ وُجُوْبُهُ الْإِتْلَافُ** ځکه چې جزاء داسي ضمان دی چې د هغه د وجوب دارومدار پر تلف کولو (او هلاکولو) دی **فَأَشْبَهَ غَرَامَاتِ الْأَمْوَالِ** نو دا د مالي تاوانونو سره مشابه سو **وَالْمُبْتَدِئُ وَالْعَائِدُ سَوَاءٌ** او اول وار حمله کونکی او دويم وار حمله کونکی دواړه برابر دي **لِأَنَّ الْمُوْجِبَ لَا يَخْتَلِفُ** ځکه چې واجبونکی شی مختلف نه دی.

اللغات: ﴿سواء﴾ برابر دي، ﴿غرامات﴾ تاوانونه، جرمانې، ﴿عائد﴾ دويم ځل د يو کار کونکی، راګرځېدونکی، ﴿موجب﴾ واجبونکی، د وجوب سبب.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې قصداً قتل کونکی او په هېره قتل کونکی همدارنګه قصداً دلالت کونکی او په هېره دلالت کونکی ټول د ضمان په وجوب کې برابر دي، يعني څرنګه چې د قصداً قتل کولو او قصداً دلالت کولو په وجه جزاء واجبيږي، همدارنګه به د هيري په صورت کې هم د دې دواړو په وجه جزاء واجبيږي، ځکه چې د ښکار جزاء داسي ضمان دی چې د هغه مدار پر إتلاف او هلاک دی، يعني د تلف کولو او هلاکولو په وجه جزاء واجبيږي، او تلف کول په قصد او هيره دواړو کې سته، نو جزاء به هم په دواړو صورتونو کې واجب وي، او دا دمالي تاوان سره مشابه دي، نو که يو څوک د يو چا مال قصداً هلاک کړي يا په هېره، په دواړو صورتونو کې پر هغه تاوان واجبيږي.

والمبتدی الخ فرمايي چې د جزاء د وجوب په باره کې اول وار حمله کونکی او تر يوه وار حمله کولو وروسته دويم وار حمله کونکی دواړه برابر دي، نو څرنګه چې پر اول وار حمله کونکي جزاء واجبيږي، همدارنګه پر دويم وار حمله کونکي هم جزاء واجبيږي، ځکه چې د جزاء د واجبېدلو مدار پر اتلاف دی، او اتلاف په دواړو کې سته.

(د اول وار حمله کونکي صورت دا دی چې ښکار په يوه ځل غشي ويشتلو مړ کړي، نو د دې جزاء هم واجب ده، او د دويم وار حمله کونکي صورت دا دی چې يو ځل ښکار په غشي اوولي، او هغه پر ښکار ولګيږي، لېکن ښکار مړ نه سي، بيا يې په دويم ځل غشي ويشتلو مړ کړي، دې ته عائد يا دويم وار حمله کونکی وايي، نو په دې صورت کې هم د ښکار جزاء واجب ده).

د ښکار د جزاء د اداء کولو طريقه

وَالْجَزَاءُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ او د ښکار جزاء (بدله) د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا ده **أَنْ يُقَوَّمَ الصَّيْدُ فِي الْمَكَانِ الَّذِيْ قُتِلَ فِيْهِ** چې د ښکار قيمت به په هغه ځای کې اندازه کړی سي (معلوم کړی سي) چيري چې هغه وژل سوی وي **أَوْ فِيْ أَقْرَبِ الْمَوَاضِعِ مِنْهُ إِذَا كَانَ فِيْ بَرِّيَّةٍ** يا به (په هغه ځای کې معلوم کړی سي چې) د ښکار د وژلو ځای ته نژدې

(وي) كله چي ښكار په دښت(او صحراء) كي وي **فَيُقَوِّمُهُ ذَوَا عَدْلٍ** نو د هغه قيمت به اندازه كړي دوه عادله خلګ(يعني دوه عادل خلګ به د وژل سوي حيوان قيمت معلوم كړي) **ثُمَّ هُوَ مُخَيَّرٌ فِي الْفِدَاءِ** بيا وژونكي محرم ته په فديه وركولو كي اختيار دی **إِنْ شَاءَ ابْتَاعَ بِهَا هَدْيًا** كه وغواړي نو په دغه قيمت سره دي د هدي څاروی رانيسي **وَذَبَحَهُ** او هغه دي حلال كړي **إِنْ بَلَغَتْ هَدْيًا** په دې شرط چي دا قيمت د هدي د څاروي و قيمت ته رسيږي **وَإِنْ شَاءَ اشْتَرَى بِهَا طَعَامًا** او كه وغواړي نو په دغه قيمت سره دي طعام رانيسي **وَتَصَدَّقَ عَلَى كُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ** او پر هر مسكين دي د غنمو نيم صاع يا د كجورو او اوربشو يو صاع صدقه كړي **وَإِنْ شَاءَ صَامَ** او كه وغواړي نو (د هر نيم صاع غنمو په بدله كي دي يوه ورځ) روژه ونيسي **عَلَى مَا نَذْكُرُ** چي هغه به موږ (وروسته) ذكر كړو(انشاء الله تعالىٰ).

اللغات: ﴿يقوم﴾ د تفعيل مضارع مجهوله ده: قيمت لګول، قيمت معلومول، د قيمت اندازه كول، ﴿فداء﴾ فديه وركول، ﴿ابتاع﴾ د افتعال ماضي ده: رانيول، ﴿بر﴾ غنم.

تشريح: په دې عبارت كي بيان سوې مسئله ډېره آسانه ده، تفصيل يې دا دی چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د ښكارجزاء دا ده چي په كوم ځای كي ښكار قتل كړی سي، د هغه ځای دوه عادله خلګ يا كه په دښت او صحراء كي قتل كړی سي نو د دښت سره د نژدې ځای دوه عادله خلګ دي د حيوان قيمت اندازه كړي، او هغه قيمت به محرم ته ور وښيي، وروسته بيا محرم ته د فديه وركولو په باره كي د دريو خبرو اختيار سته: (١) كه دا قيمت د هدي د څاروي سره برابر وي، نو كه د هغه خوښه وي په دې قيمت سره دي د هدی څاروی رانيسي، او غوښي دي يې پر مسكينانو تقسيم كړي، (٢) او كه د هغه زړه غواړي نو په دې قيمت دي غله رانيسي، او د سرسايې په اندازه دي يې پر مسكينانو تقسيم كړي، يعني كه غنم وي، نو هر مسكين ته دي نيم صاع وركړي، او كه كجوري يا اوربشي وي، نو يو صاع دي وركړي، (٣) دريم اختيار دا دی چي د هر نيم صاع غنمو يا د يوه صاع كجورو... په بدله كي دي روژه ونيسي، د روژې تفصيلات به انشاء الله وروسته ذكر سي.

په ښكار كي د حيوان د مثل د وجوب تفصيل

وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ: تَجِبُ فِي الصَّيْدِ النَّظِيرُ فِيمَا لَهُ نَظِيرٌ امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د كومو حيوانانو مثل وي په ښكار كي به د هغو مثل واجبيږي **فَفِي الظَّبْيِ شَاةٌ** نو په هوسۍ كي به بزه واجب وي **وَفِي الضَّبُعِ شَاةٌ** او په كوړ كي به(هم) بزه واجب وي **وَفِي الْأَرْنَبِ عَنَاقٌ** او په سوی كي به سېرلی(يعني د بزې بچی چي يوه كال ته نژدې وي) واجب وي **وَفِي الْيَرْبُوعِ جَفْرَةٌ** او په خاني كي به د بزې څلور مياشتنی بچی واجب وي **وَفِي النَّعَامَةِ بُدْنَةٌ** او په شترمرغ كي به اوښ واجب وي **وَفِي حِمَارِ الْوَحْشِ بَقَرَةٌ** او په وحشي خره كي به غوا واجب وي **لِقَوْلِهِ تَعَالَى:**

●القول الراجح: هو هذا قول الشيخين،كذا في رد المحتار ج:٢ ص: ٢٣٢ [القول الراجح ج:١ ص: ٢٣١]

فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ [المائدة: ٩٥] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: "نو جزاء واجب ده په مثل د قتل سوي(حيوان) له څارويانو څخه" وَمِثْلُهُ مِنَ النَّعَمِ مَا يُشْبِهُ الْمَقْتُولَ صُورَةً او له څارويانو څخه د قتل سوي(حيوان) مثل هغه دی چي په شکل کي د قتل سوي(حيوان) سره مشابه وي لِأَنَّ الْقِيمَةَ لَا تَكُونُ نَعَمًا ځکه چي قيمت څاروبان نه دي وَالصَّحَابَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَوْجَبُوا النَّظِيرَ مِنْ حَيْثُ الْخِلْقَةُ وَالْمَنْظَرِ فِي النَّعَامَةِ وَالظَّبْيِ وَحِمَارِ الْوَحْشِ وَالْأَرْنَبِ او صحابه وو(هم) په شترمرغ، هوسۍ، وحشي خره او سوی کي د خلقت او شکل په اعتبار مثل واجب کړی دی عَلَى مَا بَيَّنَّا لکه مونږ چي(اوس په خپل قول کي)بيان کړه (و دې قول ته اشاره کوي: ففي الظبي شاة الی آخره...) وَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: الضَّبُعُ صَيْدٌ او نبي ﷺ فرمايلي دي: "چي کوړ ښکار دی وَفِيهِ الشَّاةُ او په هغه کي بزه واجب ده" وَمَا لَيْسَ لَهُ نَظِيرٌ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَجِبُ فِيهِ الْقِيمَةُ او د کوم ښکار مثل چي نه وي نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د هغه قيمت واجبيږي مِثْلَ الْعُصْفُورِ وَالْحَمَامِ وَأَشْبَاهِهِمَا لکه مرغی، کوتره او د دوی مشابه وَإِذَا وَجَبَتِ الْقِيمَةُ كَانَ قَوْلُهُ كَقَوْلِهِمَا او کله چي قيمت واجب سي نو د امام محمد قول به د شيخينو د قول په څير وي(د قيمت په اندازه کولو او په هغه سره د هدي يا د طعام په رانيولو کي) وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ يُوجِبُ فِي الْحَمَامَةِ شَاةً او امام شافعي په کوتره کي بزه واجبوي وَيُثْبِتُ الْمُشَابَهَةَ بَيْنَهُمَا مِنْ حَيْثُ او په دواړو کي دا ډول مشابهت ثابتوي أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَعُبُّ چي له دواړو څخه هريو په غړپ اوبه څيښي وَيَهْدِرُ او(د څيښلو په وخت کي)آواز کوي.

اللغات: ﴿ظبی﴾ هوسۍ، وسی، غرڅنی، ﴿ضبع﴾ کوړ، ﴿عناق﴾ د بزې هغه سېرلی چي يوه کال ته نږدې وي، ﴿يربوع﴾ خانی، ځنګلي او صحرايي موږک، ﴿جفرة﴾ د بزې د څلورو مياشتو ماده بچی(سېرلی)، ﴿نعامة﴾ شتر مرغ، ﴿يعب﴾ د نصر مضارع ده: اوبه غړپل، يعني له ځيښلو څخه بغير اوبه څيښل، ابو عمر رحمه الله وايي: چي په مرغانو کي يوازي کوتره داسي اوبه څيښي، ﴿يهدر﴾ آواز کول، آواز رااېستل.

تشريح: تر دې مخکي د ښکار د جزاء په باره کي د شيخينو مسلک بيان سو، اوس له دې ځايه د امام محمد او امام شافعي مذهب بيانيږي، تفصيل يې دا دی چي د ښکار کوم حيوانان چي صورةً مثل او نظير لري، د هغو په وژلو سره د هغو مثل واجبيږي، نو د سوی او خاني مثل د بزې څلور مياشتنی ماده بچی دی، لهٰذا د دوی په وژلو سره به هغه واجبيږي، او د شتر مرغ په جزاء کي به اوښ او د وحشي خره په جزاء کي به غوا واجبيږي، ځکه چي اوښ د شتر مرغ او غوا د وحشي خره په مثل دي، دليل دا آيت دی: فجزاء مثل ما قتل من النعم (يعني د قتل سوو حيوانانو جزاء به هغه څارويان وي کوم چي صورتاً د قتل سوو حيوانانو سره مشابه وي)، ځکه چي پر قيمت د نعم اطلاق نه سي کېدلای، نو ځکه به قيمت نه واجبيږي، بلکي د قتل سوي حيوان په مثل به له څارويانو څخه يو څاروی واجبيږي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداود فی كتاب الأطعمة باب فی أكل الضبع حديث رقم: ٣٨٠١

والصحابة الخ فرمايي چې د صحابه وو يو ډېر جماعت لکه حضرت علي، ابن مسعود، ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او نورو هم د شترمرغ او نورو په جزاء کې داسې څاروی واجب کړی دي چې په شکل او صورت کې د هغو په مثل وي، او په خپله د نبي ﷺ دا حديث سنن اربعه وو رانقل کړی دی "چې کوږ ښکار دی(او که يو محرم هغه قتل کړي) نو په هغه کې بزه ده"، لهذا تاسو غور وکړئ! که مثل د قيمت په توګه مراد وای لکه څرنګه چې د شيخينو مذهب دی، نو صحابه وو او نبي ﷺ به څاروی نه واجبولای (بلکي قيمت به يې واجبولای). له دې دلائلو څخه ښکاره سوه چې د ښکار جزاء به قيمت نه وي، بلکي له څارويانو څخه به هغه څاروی وي چې صورةً او خلقةً مقتول حيوان مشابه او مثل وي، هو! که يو حيوان خلقةً مثل نه لري، نو د امام محمد په نېز د هغه قيمت واجبيږي، لکه د مرغی، کوترې او د داسې نورو مثل په څارويانو کې نسته، نو د دې حيوانانو قيمت به واجبيږي، لهذا په داسې مرغانو او حيوانانو کې به د امام محمد قول د شيخينو د قول په څېر وي.

والشافعي الخ ليکن امام شافعي په کوتره کې بزه واجبوي، او د دواړو په مينځ کې دا مشابهت ثابتوي چې دا دواړه د عامو حيوانانو په خلاف په غړپ اوبه چيښي، او د چيښلو په وخت کې آواز راباسي، نو کله چې د دوی په مينځ کې مشابهت سته، نو د دوی په جزاء کې به هم مشابهت وي، لهذا د کوترې په جزاء کې به بزه واجب وي.

د شيخينو په نېز د "مثل" مطلب

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ أَنَّ الْمِثْلَ الْمُطْلَقَ هُوَ الْمِثْلُ صُورَةً وَمَعْنًى او د شيخينو دليل دا دی چې مطلق مثل هغه دی چې په شکل او معنیٰ دواړو کې مثل وي وَلَا يُمْكِنُ الْحَمْلُ عَلَيْهِ او د (آيت شريف مثل) پر دې حمل کول ممکن نه دي فَحُمِلَ عَلَى الْمِثْلِ مَعْنًى نو پر مثلِ معنوي به حمل کيږي لِكَوْنِهِ مَعْهُودًا فِي الشَّرْعِ ځکه په شريعت کې مثلِ معنوي معهود(او متعين) وي كَمَا فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ لکه څرنګه چې په حقوقُ العباد کې دي أَوْ لِكَوْنِهِ مُرَادًا بِالْإِجْمَاعِ يا ځکه چې مثلِ معنوی په اجماع سره مراد دی أَوْ لِمَا فِيهِ مِنَ التَّعْمِيمِ يا په دې وجه چې په مثلِ معنوي کې تعميم دی وَفِي ضِدِّهِ التَّخْصِيصُ او د هغه په ضد کې تخصيص دی وَالْمُرَادُ بِالنَّصِّ وَاللهُ أَعْلَمُ فَجَزَاءٌ قِيمَةُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ الْوَحْشِيِّ او د آيت مطلب به (والله اعلم) دا وي: "نو د قتل سوي وحشي حيوان جزاء قيمت ده" وَاسْمُ النَّعَمِ يُطْلَقُ عَلَى الْوَحْشِيِّ وَالْأَهْلِيِّ (ځکه چې) لفظ د نَعَم د وحشي او کورني دواړو حيوانانو لپاره استعماليږي كَذَا قَالَهُ أَبُو عُبَيْدَةَ وَالْأَصْمَعِيُّ همدارنګه ابو عبيده او اصمعي رَحِمَهُمَا الله فرمايلي دي وَالْمُرَادُ بِمَا رُوِيَ التَّقْدِيرُ بِهِ دُونَ إِيجَابِ الْمُعَيَّنِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله له روايت سوي حديث څخه مراد " اندازه کول" دي، د خاص(او متعين) شي واجبول څني مراد نه دي.

تشريح: په دې عبارت کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چې په دې آيت فجزاء مثل الخ کې چې کوم د "مِثل" لفظ راغلی دی، د دې مثل دوه قسمه دي: (۱) مثل حقيقي، يعني هغه چې د صورت او معنیٰ دواړو په اعتبار سره د مقتول مِثل او مشابه وي، (۲) مثلِ معنوي، يعني هغه مثل چې په صورت کې خو د مقتول مِثل نه وي،

لېکن په معنیٰ کي یې مثل وي، او په دې آیت کي له مثل څخه مثلِ حقیقي مراد نه دی، ځکه چي بیا د دې آیت له مصداق څخه مرغۍ، کوتره او داسي نور وځي، نو حتماً به د آیت مثل پر مثلِ معنوي حمل کوو، او دا یوه نوې خبره نه ده، بلکي په شریعت کي د دې نور مثالونه هم سته، مثلاً د حقوقُ العباد په مسئله کي په عامه توګه مثلِ معنوي واجبیږي، مثلاً که یو سړی د بل سړي سامان ضایع او هلاک کړي، نو عموماً د قیمت په ذریعه د هغه تاوان ورکول کیږي، هغسي سامان نه ورکول کیږي.

أو لکونه الخ د ښکار په جزاء کي د مثل معنوي د مرادولو دوېم دلیل دا دی چي مثلِ معنوي بالاجماع مراد دی، او په خپله امام محمد رَحِمَهُ الله هم په کوتره او مرغۍ کي مثل معنوي واجبوي، اوس که یو ځای مثلِ معنوي مراد کړی سي، او بل ځای مثلِ صوري مراد کړی سي، نو بیا به له یو لفظ څخه حقیقت او مجاز دواړه مراد کړی سي، کوم چي صحیح نه دي، نو ځکه به غوره دا وي چي له فجزاء مثل څخه مثلِ معنوي مراد کړی سي.

أو لما فیه الخ د مثل معنوي د مرادولو درېم دلیل دا دی چي په دې صورت کي تعمیم سته، ځکه چي د مثل معنوي د مرادولو په صورت کي دا آیت هغه حیوانانو ته هم شاملیږي چي د هغو مِثل او نظیر وي، او هغو ته هم شاملیږي چي مِثل یې نه وي، لېکن د مثل صوري د مرادولو په صورت کي فقط هغو حیوانانو ته شاملیږي چي مثل یې وي، او آیتونه او حدیثونه پر تعمیم حمل کول اولیٰ دي تر دې چي پر تخصیص حمل کړی سي.

والمراد بالنص الخ له دې ځایه د امام محمد رَحِمَهُ الله د دلیل جواب ورکوي، امام محمد رَحِمَهُ الله د دې آیت فجزاء مثل ما قتل من النعم ترجمه داسي کړې وه "چي د مقتول حیوان جزاء د نَعم یعني له څارویانو څخه ورکړئ"، د هغه جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي له فجزاء مثل څخه فجزاء قیمة ماقتل من النعم الوحش مراد دي، یعني د آیت ترجمه دا ده: "کوم وحشي حیوان چي قتل کړی سي، د هغه په جزاء کي د هغه قیمت ورکړئ"، یعني د هغه قیمت اندازه کړئ او بیا یې ورکړئ، په دې صورت کي به له نعم څخه مقتول حیوان (یعني ښکار) وي، او د دې وجه دا بیانوي چي لفظ د نعم د څارویانو لپاره هم استعمالیږي او د وحشي حیوانانو لپاره هم استعمالیږي، لکه څرنګه چي د لغت ماهرینو ابو عبیده او اصمعي رَحِمَهُمَاالله هم فرمایلي دي، او کله چي نعم د وحشي حیوانانو لپاره هم استعمالیږي، نو په آیت کي به له "من النعم" څخه مراد وحشي ښکار وي، او د آیت مطلب به دا وي "چي کوم څوک وحشي ښکار قتل کړي د هغه جزاء دي په قیمت سره ورکړي".

والمراد بما روی الخ دا هم د امام محمد رَحِمَهُ الله جواب دی، ځکه چي هغه په دې حدیث الضبع صید الخ او د صحابه وو په آثارو سره دلیل نیولی وو او فرمایلي وو "که مثل د قیمت په توګه مراد وای لکه څرنګه چي د شیخینو مذهب دی، نو صحابه وو او نبي ﷺ به څاروی نه واجبولای، بلکي قیمت به یې واجبولای"، نو جواب ورکوي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله خبره صحیح نه ده، بلکي د نبي ﷺ د حدیث او آثارو مقصد اندازه کول دي، یعني مطلب یې دا دی چي تاسو د دې ښکار قیمت د دغه څاروي د قیمت سره اندازه کړئ، او دا یې مطلب نه دی چي خاص دغه معیّن څاروی ورکړی، بلکي اندازه ځني مراد ده.

په جزاء کې اختيار د چا دی؟

ثُمَّ الْخِيَارُ إِلَى الْقَاتِلِ فِي أَنْ يَجْعَلَهُ هَدْيًا أَوْ طَعَامًا أَوْ صَوْمًا عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ بيا د شيخينو رحمهما الله په نيز اختيار قاتل لره دی په دې کې چې د مقتول قيمت هدی کړي يا يې طعام کړي يا يې روژه کړي (يعني په قيمت کې قاتل ته دا اختيار سته چې که د هدي څاروی په رانيسي او که غله په رانيسي او که د قيمت د نشتوالي په صورت کې روژه نيسي) وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ: الْخِيَارُ إِلَى الْحَكَمَيْنِ فِي ذٰلِكَ امام محمد او امام شافعي رحمهما الله فرمايي: چې اختيار هغه دوو عادلو خلکو لره دی چې په دې باره کې تاکل سوي وي فَإِنْ حَكَمَا بِالْهَدْيِ يَجِبُ النَّظِيرُ نو که هغو د هدي حکم وکړی نو د هغه مثل به واجبيږي عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه وَإِنْ حَكَمَا بِالطَّعَامِ أَوْ بِالصِّيَامِ او که د طعام يا د روژې حکم يې وکړی فَعَلَى مَا قَالَ أَبُوحَنِيفَةَ وَأَبُويُوسُفَ نو د شيخينو رحمهما الله پر قول به (قيمت واجبيږي) لَهُمَا أَنَّ التَّخْيِيرَ شُرِعَ رِفْقًا بِمَنْ عَلَيْهِ د شيخينو دليل دا دی چې اختيار ورکول پر هغه (قاتل) محرم د مهرباني لپاره مشرع سوی دی پر کوم چې ضمان (واجب) دی فَيَكُونُ الْخِيَارُ إِلَيْهِ نو اختيار به هغه ته وي كَمَا فِي كَفَّارَةِ الْيَمِينِ لکه د قسم په کفاره کې چې دی وَلِمُحَمَّدٍ وَالشَّافِعِيِّ قَوْلُهُ تَعَالَى: يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ هَدْيًا [المائدة: ٩٥] او د امام محمد او امام شافعي رحمهما الله دليل د الله تعالیٰ (دا) قول دی: يحكم به ...الخ ذَكَرَ الْهَدْيَ مَنْصُوبًا لِأَنَّهُ تَفْسِيرٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى يَحْكُمُ بِهِ (په دې آيت کې) هديًا ځکه منصوب ذکر کړی سو چې دا د يحكم به تفسير دی (يعني په يحكم به کې د به تفسير دی) أَوْ مَفْعُولٌ لِحُكْمِ الْحَكَمِ يا د حاکم د حکم مفعول دی (يعني د يحكم مفعول دی) ثُمَّ ذَكَرَ الطَّعَامَ وَالصِّيَامَ بِكَلِمَةِ أَوْ بيا يې طعام او صوم په کلمه د "أو" سره ذکر کړي دي فَيَكُونُ الْخِيَارُ إِلَيْهِمَا نو اختيار به دواړه عادلانو لره وي قُلْنَا: الْكَفَّارَةُ عُطِفَتْ عَلَى الْجَزَاءِ لَا عَلَى الْهَدْيِ موږ جواب ورکوو: چې کفار پر جزاء عطف سوې ده نه پر هدی بِدَلِيلِ أَنَّهُ مَرْفُوعٌ په دې دليل چې لفظ د جزاء (هم) مرفوع دی وَكَذَا قَوْلُه تَعَالَى أَوْعَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا [المائدة: ٩٥] مَرْفُوعٌ او همدارنګه د الله تعالیٰ (دا) قول أو عدل ذلك صيامًا (هم) مرفوع دی فَلَمْ يَكُنْ فِيهِمَا دَلَالَةُ اخْتِيَارِ الْحَكَمَيْنِ نو په طعام او صيام کې به د عادلانو پر اختيار دلالت نه کيږي وَإِنَّمَا يُرْجَعُ إِلَيْهِمَا فِي تَقْوِيمِ الْمُتْلَفِ بلکې د دواړو عادلانو و طرف ته به د تلف سوي (هلاک سوي) ښکار د قيمت په اندازه کولو کې رجوع کيږي ثُمَّ الْاِخْتِيَارُ بَعْدَ ذٰلِكَ إِلَى مَنْ عَلَيْهِ بيا به تر هغه وروسته اختيار هغه چا لره وي چې جزاء پر واجب سوې وي.

اللغات: ﴿خيار﴾ اختيار، ﴿رفق﴾ مهرباني، نرمي، ﴿تقويم﴾ د تفعيل مصدر دی: قيمت لګول، قيمت اندازه کول، ﴿متلف﴾ د افعال اسم مفعول دی: تلف سوی، هلاک سوی، فوت سوی.

●القول الراجح: قول الشيخين رحمهما الله كذا في رد المحتار ج:٢ ص: ٢٣٣، والهندية ج:١، ص: ٢٣٧. [القول الراجح ج:١ ص: ٢٣٢]

تشريح: په دې عبارت کې د شيخينو او د امام محمد او امام شافعي په مينځ کې د اختيار په باره کې د اختلاف وضاحت کيږي، تفصيل يې دا دی چې کله دوو عادلو خلکو د مقتول حيوان قيمت اندازه معلومه کړه، نو اوس په دې قيمت سره د هدي د څاروي د رانيولو اختيار، يا د غلې د رانيولو او صدقه کولو اختيار، يا د روژې د نيولو اختيار د شيخينو په نيز من عليه الجزاء يعني محرم (قاتل) لره دی، ليکن د امام محمد او امام شافعي په نيز دا اختيار هغو دوو عادلانو لره دی چې د مقتول حيوان د قيمت اندازه يې معلومه کړې وي، نو د دوی په نيز به د هغو پر قول پريکړه کيږي، که هغو د هدي د څاروي د رانيولو حکم وکړی، نو من عليه الجزاء به په هغه عمل کوي،او که هغو د طعام يا صيام پريکړه وکړه، نو من عليه الجزاء به په هغه عمل کوي.

د شيخينو دليل: دا دی چې په شريعت کې چې کله او چيرې د يو شي اختيار ورکول سوی وي، نو هلته د من عليه الجزاء د آسانۍ لپاره اختيار ورکول سوی وي، لکه په کفارهٔ يمين کې چې کوم درې اختيارات ورکول سوي دي (خوراک ورکول، جامې ورکول او غلام آزادول)، هغه درې سره من عليه الجزاء يعني قسم خوړونکي ته ورکول سوي دي، همداسې به په دې مسئله کې چې کوم درې اختيارات دي، د هغو تعلق او حق به هم د من عليه الجزاء يعني د محرم قاتل سره وي.

د امام محمد او امام شافعي دليل: دا آيت دی: فجزاء مثل ما قتل من النعم يحكم به ذوا عدل منكم هديا بالغ الكعبة أو كفارة طعام مساكين او عدل ذلك صياما ليذوق وبال أمره، دوی په دې آيت سره دليل په دې توګه نيسي چې لفظ د هديا ځکه منصوب دی چې هغه په يحكم به کې د ضميرِ مجرور تفسير دی، نو په دې صورت کې به ترجمه دا سې چې: "د مقتول جزاء به هغه شی وي چې د هغه دوه عادله خلک حکم وکړي او هغه شی به له هدي څخه وي (يعني محكوم به به هدی وي)"، او د عبارت دويمه توضيح دا ده چې هديا د يحكم مفعول به دی، په دې صورت کې به ترجمه دا سې چې: "دوه عادله خلک دې د هدي حکم وکړي"، نو په دې دواړو صورتونو کې د هدی د معلومولو (او متعينولو) اختيار دوو عادلو خلکو ته ورکول سوی دی، او بيا کفارهٔ طعام او صيام (يعني أو كفارة طعام او عدل ذلك صياما) د "أو" په ذريعه پر هديا عطف سوي دي، نو ځکه به د دې اختيار هم د دوو عادلانو لپاره وي، ځکه قاعده دا ده چې د معطوف عليه او معطوف حکم يو دی.

قلنا الخ صاحب د هدايې د شيخينو له طرفه امام محمد او امام شافعي ته جواب ورکوي فرمايي چې کفارهٔ طعام او صيام پر هديا عطف کول صحيح نه دي، ځکه چې هديا منصوب دی، او دا دواړه مرفوع دي، حال دا چې دا ضروري ده چې د معطوف عليه او معطوف اعراب به يو وي، نو ځکه به پر هدياً د هغو عطف صحيح نه وي، ليکن پر فجزاء به د هغو عطف صحيح وي، ځکه چې فجزاء هم مرفوع دی، لهذا کله چې پر فجزاء د هغو عطف صحيح سو، نو اوس به له هغه څخه دا ثابتيږي چې د طعام او صيام اختيار به عادلو خلکو لره نه وي، نو کله چې هغو ته د طعام او صيام اختيار نسته، نو بيا به هغو ته د هدي د متعينولو اختيار هم نه وي، ځکه چې په دې صورت کې به فصل فى الاختيار لازم سي، او هغه قطعاً صحيح نه دی، حاصل دا چې دا ثابته سوه چې عادلانو ته به صرف د مقتول حيوان د قيمت د معلومولو (او اندازه کولو) اختيار وي، او د دې قيمت د مصرفولو اختيار به فقط قاتل او من عليه الجزاء لره وي.

په ښکار کي د قيمت د اندازه کولو د ځای بيان

وَيُقَوَّمُ فِي الْمَكَانِ الَّذِي أَصَابَهُ او دواړه عادلان به په هغه ځای کي قيمت اندازه کړي چيري چي ښکار قتل سوی وي لِاخْتِلَافِ الْقِيَمِ بِاخْتِلَافِ الْأَمَاكِنِ ځکه چي د ځايونو په اختلاف سره قيمتونه مختلف کيږي فَإِنْ كَانَ الْمَوْضِعُ بَرًّا لَا يُبَاعُ فِيهِ الصَّيْدُ نو که د ښکار د قتل کېدلو ځای دښت وي چي هلته د ښکار خرڅلاو نه کيږي يُعْتَبَرُ أَقْرَبُ الْمَوَاضِعِ إِلَيْهِ مِمَّا يُبَاعُ فِيهِ وَيُشْتَرَى نو اعتبار به د هغه ځای کيږي چي د دښت سره نژدې وي چي په هغه کي د ښکار خرڅول او رانيول کيږي قَالُوا: وَالْوَاحِدُ يَكْفِي وَالْمُثَنَّى أَوْلَى مشائخو فرمايلي دي: چي يو (عادل) سړی کافي دی او دوه زيات غوره دي لِأَنَّهُ أَحْوَطُ ځکه چي په دې کي ډېر احتياط دی وَأَبْعَدُ عَنِ الْغَلَطِ او (داسي کول) له غلطی څخه زيات لیری دي كَمَا فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ لکه څرنګه چي په حقوقُ العباد کي دي وَقِيلَ: يُعْتَبَرُ الْمُثَنَّى هٰهُنَا بِالنَّصِّ او ويل سوي دي: چي دلته به دآيت په وجه د دوو (عادلانو) اعتبار کيږي.

اللغات: ﴿برّ﴾ وچه مځکه، دښت، ناآباده ځای، ﴿المثنی﴾ دوه (د اثنان معدود).

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

هدی به چيري حلاليږي؟

وَالْهَدْيُ لَا يُذْبَحُ إِلَّا بِمَكَّةَ او هدی به نه حلاليږي مګر په مکه کي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ [المائدة: ۹۵] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: هدياً بالغ الكعبة وَيَجُوزُ الْإِطْعَامُ فِي غَيْرِهَا او له مکې څخه ماسوا (په بل ځای) کي طعام ورکول (هم) جائز دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَعْتَبِرُهُ بِالْهَدْيِ هغه طعام پر هدي قياسوي وَالْجَامِعُ التَّوْسِعَةُ عَلَى سُكَّانِ الْحَرَمِ او جامع شی (يعني د قياس وجه) دا ده چي د حرم پر اوسېدونکو پراخي وي وَنَحْنُ نَقُولُ: الْهَدْيُ قُرْبَةٌ غَيْرُ مَعْقُولَةٍ او موږ وايو: چي هدی داسي عبادت دی چي په فهم کي نه راځي (يعني عبادت غير معقوله دی) فَيَخْتَصُّ بِمَكَانٍ أَوْ زَمَانٍ نو ځکه به د مکان يا زمانې سره خاص وي أَمَّا الصَّدَقَةُ قُرْبَةٌ مَعْقُولَةٌ فِي كُلِّ زَمَانٍ وَمَكَانٍ هر چي صدقه ده نو هغه په هر زمان او مکان کي عبادت معقوله دی.

اللغات: ﴿سكان﴾ جمع د ساکن ده: اوسېدونکي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د ښکار په جزاء کي محرم هدی اختيار کړه، نو د هغه لپاره په حرم کي د هدي حلالول لازم او ضروري دي، ځکه په دې آيت هدياً بالغ الكعبة کي خاص کعبه مراد نه ده، بلکي حرم مراد دی، او که محرم طعام ورکول اختيار کړه، نو هغه ته په حرم او غير حرم دواړو کي اختيار سته، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي طعام به هم د مکې مبارکي فقيرانو ته ورکوي، بل ځای جائز نه دي، د امام شافعي دليل قياس دی يعني طعام ورکول د هدي پر حلالولو قياسوي، او د هدي او طعام په مينځ کي د قياس وجه او علتِ مشترکه دا دی چي د حرم پر اوسېدونکي پراخي راسي، يعني څرنګه چي په مکه کي د هدي د حلالولو مقصد دا دی چي د حرم اوسېدونکي د دې له غوښو څخه فايده

واخلي، همدا مقصد به د حرم فقراؤ ته د طعام په ورکولو کې هم وي، زموږ له طرفه جواب دا دی چې هدی غیر معقول عبادت دی، نو ځکه به د یو زمان یا مکان سره خاص وي، او صدقه په هر زمان او مکان کې معقول عبادت دی، نو یو معقول شی به پر غیرِ معقول شي قیاسول صحیح نه وي.(هدی یعني څاروی قربانول غیر معقول عبادت ځکه دی چې په دې کې یو حیوان ته تکلیف رسیږي او د هغه وینه بیول کیږي او وژل کیږي، نو باید هدی او قرباني ګناه وای، لیکن الله ﷻ هغه عبادت ګرځولیده، نو د هغې د عبادتوالي وجه په فهم کې نه راځي او نه د هغې عبادت کېدل د عقل مطابق دي، او صدقه ځکه معقول عبادت دی چې په دې سره د یو انسان زړه خوشاله کیږي، او دا د هر چا په عقل او فهم کې راځي چې د یو انسان په زړه خوشاله کولو سره به الله ﷻ هم خوشاله کیږي، او همدغه د عقل مطابق دي).

د روژو د نیولو د ځای بیان

وَالصَّوْمُ يَجُوْزُ فِيْ غَيْرِ مَكَّةَ او روژې له مکې څخه علاوه(په بل ځای) کې (هم) جائز دي لِأَنَّهُ قُرْبَةٌ فِيْ كُلِّ مَكَانٍ ځکه چې روژه هر ځای عبادت ده.

تشریح: فرمايي چې څرنګه روژه هم د صدقې په شان هر ځای معقول عبادت دی، نو هغه به هم د یو زمان یا مکان سره نه خاص کیږي، او په غیرِ حرم او غیرِ مکه یعني په هر ځای کې به جائز وي.

په غیرِ حرم کې د هدي د حلالولو بیان

فَإِنْ ذَبَحَ الْهَدْيَ بِالْكُوْفَةِ نو که قاتل په کوفه کې څاروی حلال کړي أَجْزَأَهُ عَنِ الطَّعَامِ نو دا هغه ته له طعام څخه کفایت کوي مَعْنَاهُ إِذَا تَصَدَّقَ بِاللَّحْمِ وَفِيْهِ وَفَاءٌ بِقِيْمَةِ الطَّعَامِ د دې معنیٰ دا ده چې کله دومره غوښې صدقه کړي چې په هغه کې د طعام قیمت پوره کیږي لِأَنَّ الْإِرَاقَةَ لَا تَنُوْبُ عَنْهُ ځکه چې وینه بیول (په غیرِ حرم کې) د هدي نه سي قائم مقام کېدلای.

اللغات: ﴿وفاء﴾ په پوره توګه اداء کول، ﴿لاتنوب﴾ د نصر مضارع منفي ده: نائب کېدل، قائم مقام کېدل.

تشریح: **مسئله** : دا ده چې د ښکار په بدله کې واجب سوې هدی په حرم کې حلالول پکار دي، لیکن که یو څوک داسي نه وکړي بلکي د حرم له حدودو څخه دباندي مثلاً په کوفه کې هدی حلاله کړي، او غوښې یې پر فقیرانو تقسیم کړي، او د غوښو قیمت دومره وي څومره چې د ښکار قیمت وي، نو هدی اداء نه سوه، خو د طعام یعني د غنمو په بدله کې کافي سوه، او داسي به ګڼل کیږي چې د ښکار په قیمت سره یې غوښې رانیولې او د هر نیم صاع غنمو په برابر یې غوښې تقسیم کړي، نو د غنمو د تقسیمولو په بدله کې به دا کافي وي. د دې وجه دا ده چې هغه د حرم له حدودو څخه دباندي د هدي څاروی حلال کړی دی، نو ځکه به یې وینه بیول عبادت نه وي، او د هدي قائم مقام به نه وي، خو د غنمو قائم مقام به وي.

د هدي د څارویانو بیان

وَإِذَا وَقَعَ الْإِخْتِيَارُ عَلَى الْهَدْيِ او کله چې د قاتل اختیار پر هدي واقع سي(یعني قاتل هدی ورکول اختیار کړي) يُهْدِيْ مَا يُجْزِئُهُ فِي الْأُضْحِيَةِ نو داسي څاروی به هدی کړي کوم چې په اضحیه(قرباني) کې د هغه لپاره جائز وي لِأَنَّ مُطْلَقَ اِسْمِ الْهَدْيِ مُنْصَرِفٌ إِلَيْهِ ځکه چې د هدی مطلق نوم د قرباني و طرف ته ګرځي وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ: يُجْزِئُ صِغَارُ النَّعَمِ فِيْهَا امام محمد او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په هدی کې د څارویانو کوچني بچیان (هم) جائز دي

وَاِنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَوْجَبُوْا عَنَاقًا وَجَفْرَةً ځکه چي صحابه وو د بزې د نهو مياشتو بچى او د بزې څلور مياشتنى بچى (د ښکار په بدله کي) واجب کړي دي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوْسُفَ يَجُوْزُ الصِّغَارُ عَلٰى وَجْهِ الْإِطْعَامِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د څارويانو کوچني بچيان د طعام ورکولو په توګه جائز دي يَعْنِيْ إِذَا تَصَدَّقَ يعني چي کله هغه صدقه کړي.

اللغات: ﴿النعم﴾ څارويان، ﴿عناق﴾ د بزې کم عمره بچى چي کال ته نژدې وي، ﴿جفرة﴾ د پسه يا بزې څلور مياشتنى بچى، يعني مينځوى بچى.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دى که محرم قاتل له درې اختيارا تو څخه هدى اختيار کړه، نو هغه ته پکار ده چي په هدى کي داسي څاروى حلال کړي چي د هغه قرباني صحيح کيږي. د مثال په توګه که اوښ وي نو د پنځو کالو به وي، که غوا وي نو د دوو کالو به وي، او که بزه وي نو د يوه کال به وي. ځکه په آيت کي لفظ د هدى مطلق دى، او په شريعت کي چي کله مطلق د هدي لفظ ويل کيږي، نو له هغه څخه د قربانۍ د عمر څاروى مراديږي، نه تر هغه کم. امام محمد او امام شافعي فرمايي چي د هدي په قربانۍ کي د کوچني عمر څارويان حلالول هم جائز دي. ځکه چي صحابه وو عناق او جفره هم د هدي په قرباني کي واجب کړي دي. له دې څخه معلوميږي چي د هدي په باب کي کوچني بچيان حلالول هم جائز دي.

وعند أبي الخ د شيخينو په نېز د څارويانو کوچني بچيان علیٰ وجه الاطعام حلالول جائز دي. يعني تر حلالولو وروسته دي يې غوښي پر مسکينانو تقسيم کړي، او هر مسکين ته دي دومره غوښي ورکړي چي هغه د نيم صاع غنمو يا يو صاع اوربشو او کجورو سره برابري سي.

صاحب د هدايې په اصل کي په دې جمله سره امام محمد او امام شافعي ته يو ډول جواب ورکوي چي صحابه وو چي کوم د بزې د بچو فيصله کړې ده، هغه د ښکار د بدلې په توګه نه ده. بلکي د هغې مطلب دا دى چي د ښکار قيمت دي اندازه کړى سي، او په هغه سره دي د بزې بچى رانيول سي، او هغه دي ذبح کړى سي. او د هغه غوښي دي مثلاً د نيم صاع غنمو په برابر تقسيم کړى سي، نو د غنمو د تقسيمولو پر ځاى به غوښي تقسيم کړى سي (يعني دا به له طعام څخه کافي سي)، د صحابه وو فيصله داسي وه، لېکن که هغوى به د هدي فيصله کوله. نو د بزې د يوه کال د بچي فيصله به يې کوله چي هغه په قرباني کي جائز دى.

د ښکار په کفاره کي د غلې د اندازې بيان

وَإِذَا وَقَعَ الْاِخْتِيَارُ عَلَى الطَّعَامِ او کله چي د قاتل اختيار پر طعام ورکولو واقع سي يُقَوَّمُ الْمُتْلَفُ بِالطَّعَامِ عِنْدَنَا نو زموږ په نېز به د هلاک سوي حيوان قيمت په طعام سره اندازه کيږي لِأَنَّهُ هُوَ الْمَضْمُوْنُ ځکه چي (فقط) ښکار مضمون دى (يعني د ښکار ضمان واجب سوى دى) فَتُعْتَبَرُ قِيْمَتُهُ نو د هغه د قيمت اعتبار به کيږي وَإِذَا اشْتَرٰى بِالْقِيْمَةِ طَعَامًا او کله چي د قيمت په بدله کي طعام رانيسي تَصَدَّقَ عَلٰى كُلِّ مِسْكِيْنٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله كذا فى فتح القدير ج:٣ ص: ١٤. [القول الراجح ج:١ ص: ٢٣٣]

نو پر هر مسكين دي نيم صاع غنم يا يو صاع كجوري يا يو صاع اوربشي صدقه كړي وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُطْعِمَ لِمِسْكِيْنٍ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ او يوه مسكين ته(هم) تر نيم صاع کم ورکول جائز نه دي لِأَنَّ الطَّعَامَ الْمَذْكُوْرَ يَنْصَرِفُ إِلَى مَا هُوَ الْمَعْهُوْدُ فِي الشَّرْعِ ځکه چې كوم طعام په آيت كې ذكر سوى دى هغه به په شريعت كې د متعين طعام و طرف ته ګرځي.

اللغات: ﴿متلف﴾ د افعال اسم مفعول دى: هلاک سوى. ﴿مضمون﴾ د ضرب اسم مفعول دى: ضمان ورکول سوى.

﴿تمر﴾ كجوري، خرماوي. ﴿معهود﴾ متعين، معلوم، معروف.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالكل څرګنده او آسانه دي چې كه قاتل محرم د ښكار په جزاء كې غله وركول وغواړي، نو كوم حيوان چې يې قتل كړى وي، د هغه قيمت دې اندازه كړي، او په هغومره قيمت سره دې طعام او غله رانيسي، نو كه هغه غنم وي نو پر هر مسكين دي نيم صاع غنم صدقه كړي، او كه كجوري يا اوربشي وي نو يو صاع دې صدقه كړي، او هيڅ مسكين ته دې هم تر نيم صاع غنمو کم نه وركوي، ځکه په دې آيت أو كفارة طعام مساكين كې چې كوم د طعام حكم سوى دى، هغه د شريعت د متعين سوي طعام و طرف ته منسوب كيږي، او په شريعت كې متعين سوى طعام همدغه دى چې غنم به د نيم صاع په اعتبار سره وي، او اوربشي يا خرماوي به د يوه صاع په اعتبار سره وي.

د ښكار په كفاره كې د روژو بيان

وَإِنِ اخْتَارَ الصِّيَامَ او كه (د ښكار) قاتل روژې اختيار كړي يُقَوَّمُ الْمَقْتُوْلُ طَعَامًا نو د قتل سوي حيوان قيمت به په طعام سره اندازه كړى سي ثُمَّ يَصُوْمُ عَنْ كُلِّ نِصْفِ صَاعٍ مِّنْ بُرٍّ أَوْ صَاعٍ مِّنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيْرٍ يَوْمًا بيا به قاتل د هر نيم صاع غنمو يا د هر يوه صاع كجورو يا اوربشو په بدله كې يوه ورځ روژه نيسي لِأَنَّ تَقْدِيْرَ الصِّيَامِ بِالْمَقْتُوْلِ غَيْرُ مُمْكِنٍ ځکه چې په قتل سوي حيوان سره د روژو اندازه كول ممكن نه دي إِذْ لَا قِيْمَةَ لِلصِّيَامِ ځکه چې روژې قيمت نه لري فَقَدَّرْنَاهُ بِالطَّعَامِ نو ځکه موږ په طعام سره د قتل سوي حيوان اندازه وكړه وَالتَّقْدِيْرُ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ مَعْهُوْدٌ فِي الشَّرْعِ او پر دې طريقه اندازه كول په شريعت كې متعين دي كَمَا فِي بَابِ الْفِدْيَةِ لكه د فديې په باب كې چې دي فَإِنْ فَضَلَ مِنَ الطَّعَامِ أَقَلُّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ بيا كه تر نيم صاع كم طعام پاته سي فَهُوَ مُخَيَّرٌ إِنْ شَاءَ تَصَدَّقَ بِهِ وَإِنْ شَاءَ صَامَ عَنْهُ يَوْمًا كَامِلًا نو قاتل ته اختيار دى كه غواړي نو هغه دې صدقه كړي او كه غواړي نو د هغه په بدله كې دې پوره يوه ورځ روژه ونيسي لِأَنَّ الصَّوْمَ أَقَلَّ مِنْ يَوْمٍ غَيْرُ مَشْرُوْعٍ ځکه چې تر يوې ورځې كمه روژه (په شريعت كې) مشروع نه ده وَكَذٰلِكَ إِنْ كَانَ الْوَاجِبُ دُوْنَ طَعَامِ مِسْكِيْنٍ او همدارنګه كه واجب مقدار د يوه مسكين تر طعام كم وي يُطْعِمُ قَدْرَ الْوَاجِبِ نو واجب مقدار طعام به وركړي أَوْ يَصُوْمُ يَوْمًا كَامِلًا يا به پوره يوه ورځ روژه ونيسي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه كوم چې موږ بيان كړى.

اللغات: ﴿تقدير﴾ اندازه كول(اندازه لګول)، مقررول.

تشریح: په دې عبارت کې له دریو اختیاراتو څخه دریم اختیار بیان سوی دی، تفصیل یې دا دی چې که محرم روژه اختیار کړه، نو هغه ته پکار ده چې تر ټولو مخکې د مقتول حیوان د قیمت اندازه په غله سره وکړي، د هغه یو صورت دا دی چې د مقتول حیوان قیمت مثلاً یو غنم کیږي، نو د هر نیم صاع غنمو په بدله کې دې یوه روژه ونیسي، او که دا صورت ممکن نه وي، نو مخکې دې دا اندازه وکړي چې د مقتول حیوان قیمت څو دی، او که تر اندازه کولو وروسته معلومه سوه چې مثلاً د مقتول حیوان قیمت سل(۱۰۰) روپۍ دی، نو اوس دې وګوري چې په سل روپۍ څومره غنم کیږي یا څومره اوربشې او خرماوې کیږي، بیا دې د هر نیم صاع غنمو یا یو صاع اوربشو او غرماوو په بدله کې یوه روژه ونیسي، ځکه چې د روژې هیڅ قیمت نسته، لهذا په روژو سره د مقتول حیوان اندازه کول ناممکن دي، نو ځکه مونږ د مقتول حیوان اندازه په طعام سره وکړه، او په دې طریقه سره اندازه کول په شریعت کې معهود او متعین هم دي، لکه څرنګه چې په باب د فدیه کې راغلي دي چې شیخ فاني به د هرې روژې په بدله کې نیم صاع غنم فدیه ورکوي.

قوله: فان فضل الخ د دې حاصل دا دی چې که د مقتول حیوان اندازه په غنمو سره وسوه، او په هغه حساب سره محرم روژې ونیولې، لېکن په آخر کې تر نیم صاع کم غنم پاته سوه، نو هغه دې صدقه کړي، لېکن که هغه روژه نیسي، نو پوره یوه ورځ به روژه نیسي، ځکه چې زموږ په شریعت کې تر یوه ورځ کم روژه نسته، همدارنګه که مقتول ښکار کوچنی حیوان یا مرغۍ وه چې د هغه قیمت تر نیم صاع غنمو کم راتلی، نو په دې صورت کې به هم محرم ته اختیار وي، که هغومره غنم رانیسي او صدقه کوي یې، او که د هغه په بدله کې پوره یوه ورځ روژه نیسي.

ښکار ته د تکلیف رسولو یا د زخمي کولو بیان

وَلَوْ جَرَحَ صَيْدًا او که محرم د ښکار حیوان زخمي کړي أَوْ نَتَفَ شَعْرَهُ یا د هغه وریښتیان وکاږي أَوْ قَطَعَ عُضْوًا مِنْهُ یا د هغه یو اندام پرېکړي ضَمِنَ مَا نَقَصَهُ نو د هغه کومه حصه چې یې عیبجنه کړې وي د هغه ضامن به وي اِعْتِبَارًا لِلْبَعْضِ بِالْكُلِّ پر کُل باندې د جُزء په قیاسولو سره كَمَا فِي حُقُوقِ الْعِبَادِ لکه څرنګه چې په حقوقُ العباد کې دي وَلَوْ نَتَفَ رِيشَ طَائِرٍ او که محرم د یو مارغه وزر وکاږي أَوْ قَطَعَ قَوَائِمَ صَيْدٍ یا د ښکار پښې پرېکړي فَخَرَجَ مِنْ حَيِّزِ الْاِمْتِنَاعِ چې (په هغه سره) مارغه د خپل ځان له ساتلو څخه ووځي فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ كَامِلَةً نو پر محرم (د هغه) پوره قیمت واجبیږي لِأَنَّهُ فَوَّتَ عَلَيْهِ الْأَمْنَ بِتَفْوِيتِ آلَةِ الْاِمْتِنَاعِ ځکه چې محرم د ځان ساتلو د آلې د فوتولو په وجه د هغه أمن فوت کړی (ختم کړی) فَيَغْرَمُ جَزَاءَهُ نو ځکه به هغه د مارغه د جزاء تاوان ورکوي.

اللغات: ﴿نتف﴾ کښل (کاږل)، ﴿ریش﴾ وزر، ﴿قوائم﴾ د څارویانو پښې، ﴿یغرم﴾ د نصر مضارع ده: تاوان او جرمانه ورکول.

تشریح: مسئله: دا ده که یو محرم د ښکار څاروي زخمي کړی، یا یې د هغه وریښتیان وکښل، یا یې د هغه یو اندام پرېکړی، نو د دې په وجه چې د هغه په قیمت کې څومره نقصان پیدا سي، د هغه به محرم ضامن وي، مثلاً د ښکار قیمت لس روپۍ وو، دیوه اندام د پرېکولو په وجه د هغه قیمت پنځه روپۍ پاته سو، نو دا محرم به د پنځو روپو ضامن وي، دلته جزء پر کل قیاس سوی دی، لکه څرنګه چې په حقوق العباد کې هم جزء پر کُل قیاسیږي، یعني که یو سړی

د بل چا تړوله مال هلاک کړي، نو د تړوله مال ضامن به وي، او که د مال یو څه حصه هلاکه کړي، نو د هغه په اندازه به ضامن وي.

ولوتلف ريش الخ او که محرم د يوه مارغه د وزر بڼکي (بني) وکاږلې، يا يې د ښکار دحيوان پښې پريکړې، تر دې چې هغه مارغه او حيـوان له دې څخه ووتی چې خپل ځان له خلکو څخه خوندي کړي، نو پر محرم د هغه تړوله قيمت واجبيږي، ځکه کله چې محرم د هغه د حفاظت آله ختمه کړه، نو ګواکي د هغه امن يې ختم کړی، او کله چې يې د هغه امن ختم کړی نو ګواکي هغه يې هلاک کړی، او د هلاکولو په صورت کي د مقتول تړوله قيمت واجبيږي، نو په دې صورت کي به هم پر هغه د تړوله قيمت ضمان واجب وي.

د مرغانو د هګۍ د ماتولو بيان

وَمَنْ كَسَرَ بَيْضَ نَعَامَةٍ او کوم محرم چي د شتر مرغ هګۍ ماته کړي فَعَلَيْهِ قِيْمَتُهُ نو پر هغه د هګۍ قيمت واجب دی وَهٰذَا مَرْوِيٌّ عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ او دا له حضرت علي او ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُم څخه روايت سوي دي وَلِأَنَّهُ أَصْلُ الصَّيْدِ او ځکه چي هګۍ د ښکار اصل دی (يعني له هغه څخه ښکار پيدا کيږي) وَلَهُ عَرَضِيَّةُ أَنْ يَصِيْرَ صَيْدًا او په هګۍ کي دا ورتيا سته چي ښکار جوړ سي فَنَزَلَ مَنْزِلَةَ الصَّيْدِ اِحْتِيَاطًا مَالَمْ يَفْسُدْ لهذا هغه احتياطاً د ښکار په درجه کي سوه (خو) تر څو چي خرابه سوې نه وي فَإِنْ خَرَجَ مِنَ الْبَيْضِ فَرْخٌ مَيِّتٌ بيا که له هګۍ څخه مړ چيچی را ووځي فَعَلَيْهِ قِيْمَتُهُ نو پر محرم به د هغه قيمت واجب وي وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يَغْرَمَ سِوَى الْبَيْضَةِ او قياس دا دی چي له هګۍ څخه علاوه به (د بل شي) ضمان نه ورکوي لِأَنَّ حَيَاةَ الْفَرْخِ غَيْرُ مَعْلُوْمَةٍ ځکه چي د چيچي ژوند معلوم نه دي وَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ أَنَّ الْبَيْضَ مُعَدٌّ لِيَخْرُجَ مِنْهُ الْفَرْخُ الْحَيُّ او د استحسان وجه (او دليل) دا دی چي هګۍ د دې لپاره جوړه سوې ده چي له هغې څخه ژوندی چيچی راووځي وَالْكَسْرُ قَبْلَ أَوَانِهِ سَبَبٌ لِمَوْتِهِ او تر وخت مخکي د هګۍ ماتول د چيچي د مرګ سبب دی فَيُحَالُ بِهِ عَلَيْهِ اِحْتِيَاطًا نو احتياطاً به د چيچي مرګ د هګۍ پر ماتولو حمل کيږي وَعَلٰى هٰذَا إِذَا ضَرَبَ بَطْنَ ظَبْيَةٍ او هم پر دغه حکم (دا مسئله مبني) ده چي کله محرم (بلاربه) هوسۍ پر نس ووهي فَأَلْقَتْ جَنِيْنًا مَيِّتًا نو هغه مړ بچی وزيږوي وَمَاتَتْ او (په خپله هم) هوسۍ مړه سي فَعَلَيْهِ قِيْمَتُهُمَا نو به پر محرم به د بچي او هوسۍ دواړو قيمت واجب وي.

اللغات: ﴿کسر﴾ د ضرب ماضي ده: ماتول، ﴿بيض﴾ هګۍ، ﴿عرضية﴾ صلاحيت، ورتيا، ﴿فرخ﴾ د مارغه بچی (چيچی)، ﴿معد﴾ تيار سوی، جوړ سوی، ﴿ظبية﴾ هوسۍ.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم د شتر مرغ هګۍ ماته کړه، نو پر هغه د هګۍ قيمت واجب دی، له حضرت علي او ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُم څخه همدغه روايت سوي دي، دويم دليل دا دی چي هګۍ د ښکار اصل دی، او په هګۍ کي د ښکار جوړېدلو ورتيا هم سته (يعني په هګۍ کي دا ورتيا سته چي تر شاربېدلو وروسته د ښکار مرغه ځني جوړ سي)، نو

تر څو چې هغه هګۍ خرابه سوې نه وي، تر هغه پورې به هګۍ احتياطاً د ښکار په درجه کې ګرځول کيږي. او څرنګه چې د ښکار په هلاکولو سره ضمان واجبيږي، نو د ښکار د اصل په ماتولو سره به هم ضمان واجبيږي.

فإن خرج الخ اوس که له ماتې سوې هګۍ څخه مړ چيچې راووتی نو پر محرم به د بچې قيمت واجب وي، او دا حکم استحساني دی، ځکه د قياس تقاضا دا ده چې فقط د هګۍ قيمت دې واجب سي، او د چيچې قيمت دې نه واجبيږي، ځکه په هګۍ کې د چيچې ژوند نه سي معلومېدای، ځکه ممکنه ده چې چيچی به له مخکې څخه مړ وي. د هګۍ د ماتولو په وجه به نه وي مړ سوی، نو د محرم له طرفه فقط د هګۍ ماتول راغله، نه د چيچې وژل. نو کله چې د چيچې وژل نه راغله، نو پر هغه به د چيچې ضمان هم واجب نه وي، خو د هګۍ ضمان به پر واجب وي.

وجه الاستحسان الخ د استحسان دليل دا دی چې الله ﷻ هګۍ د دې لپاره جوړه کړې ده چې له هغې څخه ژوندی چيچې راووځي (او د هغې له ظاهري حالت څخه همدغه معلوميږي چې په هغې کې به چيچی وي). نو کله چې محرم تر وخت مخکې هګۍ ماته کړه، نو دا ماتول به د چيچې د مرګ سبب وي، او کله چې د هګۍ ماتول د چيچې د مرګ سبب سو، نو ګواکې هغه چيچی هلاک کړی، او کله چې يې چيچی هلاک کړی، نو ځکه به د چيچې ضمان پر واجب وي.

وعلى هذا الخ هم پر دې استحسان دا مسئله متفرع ده چې که محرم يوه هوسۍ پر نس ووهله، او د هغه په سبب هوسۍ مړ بچی وغورځوی، بيا هوسۍ هم مړه سوه، نو پر محرم به د هوسۍ او بچي دواړو قيمت واجبيږي، ځکه چې دلته هم ظاهراً د هغه دا فعل د دواړو د مرګ سبب سو.

د هغه حيوانانو بيان چې په وژلو سره يې څه نه واجبيږي

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْغُرَابِ وَالْحِدَأَةِ وَالذِّئْبِ وَالْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَالْفَأْرَةِ وَالْكَلْبِ الْعَقُوْرِ جَزَاءٌ او نسته په وژلو د کارګه، تپوس، مار، لړم، موږک او داړونکي سپي کې هيڅ جزاء (بدله) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : خَمْسٌ مِنَ الْفَوَاسِقِ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چې پنځه خبيث حيوانان به په حل او حرام (دواړو) کې قتل کيږي اَلْحِدَأَةُ وَالْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُوْرُ تپوس، مار، لړم، موږک او داړونکی سپی" وَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ الْفَأْرَةَ وَالْغُرَابَ وَالْحِدَأَةَ وَالْعَقْرَبَ وَالْحَيَّةَ وَالْكَلْبَ الْعَقُوْرَ او (بل ځای) نبي ﷺ فرمايلي دي: "چې محرم به موږک، کارګه، تپوس، لړم، مار او داړونکی سپی وژني" وَقَدْ ذُكِرَ الذِّئْبُ فِي بَعْضِ الرِّوَايَاتِ او په ځيني رواياتو کې لېوه ذکر سوی دی وَقِيْلَ: اَلْمُرَادُ بِالْكَلْبِ الْعَقُوْرِ الذِّئْبُ او ويل سوي دي: چې له داړونکي سپي څخه مراد لېوه دی أَوْ يُقَالُ: أَنَّ الذِّئْبَ فِي مَعْنَاهُ يا ويل کيږي به: چې لېوه د داړونکي سپي په معنیٰ سره دی وَالْمُرَادُ بِالْغُرَابِ الَّذِيْ يَأْكُلُ الْجِيَفَ او له کارګه څخه مراد هغه دی چې مرداري (او نجاست) خوري وَيَخْلِطُ او دانه ګډوي (يعني په خوشايي يا نجاست کې چې کومي دانې وي هغه د نجاست سره ګډې خوري) لِأَنَّهُ يَبْتَدِئُ بِالْأَذٰى ځکه چې داسې

---

❶تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الحج، باب مايندب للمحرم وغيره قتله من الدواب في الحل والحرم حديث رقم: ۶۷، ۶۸

کارګه (انسان ته) په تکليف رسولو شرع کوي أَمَّا الْعَقْعَقُ فَغَيْرُ مُسْتَثْنًى لېکن عقعق مستثنىٰ نه دى لِأَنَّهُ لَا يُسَمَّى غُرَابًا ځکه چي هغه ته کارګه نه ويل کيږي وَلَا يَبْتَدِئُ بِالْأَذٰى او نه هغه په تکليف رسولو شروع کوي وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ الْكَلْبَ الْعَقُوْرَ وَغَيْرَ الْعَقُوْرِ وَالْمُسْتَأْنِسَ وَالْمُتَوَحِّشَ مِنْهُمَا سَوَاءٌ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله روايت دى چي سپى که داړونکي وي که نه وي اموخته وي که نه وي ټوله برابر دي لِأَنَّ الْمُعْتَبَرَ ذٰلِكَ الْجِنْسُ ځکه چي په دې کي (د سپي) جنس معتبر دى وَكَذَا الْفَأْرَةُ الْأَهْلِيَّةُ وَالْوَحْشِيَّةُ سَوَاءٌ او همدارنګه کورنى او صحرايي موږک دواړه برابر دي وَالضَّبُّ وَالْيَرْبُوْعُ لَيْسَا مِنَ الْخَمْسِ الْمُسْتَثْنَاةِ او ګوه او خانى له دې پنځو حيواناتو څخه نه دي د کومو استثناء چي وسوه لِأَنَّهُمَا لَا يَبْتَدِئَانِ بِالْأَذٰى ځکه چي هغه (انسان ته) په تکليف ورکولو شروع نه کوي.

اللغات: ﴿عقعق﴾ ګيږکه، ګيڅکه (يوه اوږده لکۍ لرونکى مارغه دى چي د افغانستان په زياتره سيمو کي سته، او په باغونو او کښتونو کي اوسيږي)، ﴿ضب﴾ ګوه (د سمساري په شکل خو تر سمساري کوچنى يو ځناور دى چي د عربي هيوادونو په دښتونو کي زيات پيدا کيږي، او عرب يې ښکاروي او خوري يې، او له دې څخه سمساره بالکل مراد نه ده، لکه بعضي چي وايي، ځکه چي ګوه د جمهورو په نېز حلال دى، او سمساره د جمهورو په نېز مرداره ده، او ګوه په اُردو ژبه کي ورته وايي خو څرنګه چي د پښتو په بعضي نامتو قاموسونو کي هم ګوه ورته ويل سوي دي نو ځکه موږ په ترجمه کي ګوه وليکل)، ﴿يربوع﴾ خانى (ځنګلي موږک).

تشريح: په عبارت کي بيان سوې مسئله بالکل آسانه ده، مختصره تشريح يې دا ده چي که يو محرم په احرام کي کارګه يا ټپوس يا لېوه يا داړونکى سپى يا مار او لړم ووژل، نو پر هغه هيڅ جزاء نه واجبيږي، دليل دا دى چي نبي ﷺ له حيواناتو څخه پنځه خبيث او بد حيوانات استثناء کړي دي، او د محرم لپاره يې د هغه د وژلو اجازه ورکړې ده، دويم حديث دا دى "چي موږک، کارګه، ټپوس، مار لړم او داړونکى سپى محرم وژلاى سي".

وقد ذكر الذئب الخ په دې سره د يو سوال جواب ورکوي، سوال دا دى چي په بخاري او مسلم کي د فواسقِ خمسه په ضمن کي د ذئب ذکر نسته، لېکن ماتن رَحِمَهُ الله ذئب له فواسقِ خمسه څخه شمار کړى دى، جواب دا دى چي د صحيحينو له روايت څخه ماسوا په نورو روايتونو کي ذئب ذکر سوى دى، دويم جواب دا دى چي د صحيحينو په حديث کي چي کوم کلبِ عقور ذکر سوى دى، له هغه څخه مراد ذئب هم دى، او دواړه يو دي، نو په دې وجه په ځيني کتابو کي ذئب نه دي ذکر سوى.

والمراد بالغراب الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په حديث کي له غُراب څخه مراد د کارګه هغه قسم دى چي مرداري خوري، او په نجاستونو او خوشايو کي چي کومي دانې وي هغه خوري او د دانو سره نجاست هم ګلوي، نو څرنګه چي دا کارګه په نجاست سره شروع کوي، او خلکو ته تکليف ورکوي (يعني د هغوى له کورونو او لاسونو څخه شيان ښکلوي)، نو ځکه به د هغه په وژلو کي څه حرج نه وي.

أما العقعق الخ او کارګه ته ورته بل قسم عقعق مارغه دى، چي په رنګ تور او سپين دى (او په پښتو کي ګيږکه ورته وايي)، په حديث د فواسق کي د دې استثناء نه ده سوې، ځکه چي دا په نجاست کي لوبيږي، او نه په تکليف ورکولو شروع کوي، بلکي فقط د کښت دانې او غله خوري.

(ومن أبي حنيفة الخ) له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي د جزاء په نه واجبيدلو کي کلب عقور او غير عقور، وحشي او غير وحشي هر ډول سپيان برابر دي، او هر سپی په فواسقِ خمسه کي شامل او داخل دی، ځکه چي په استثناء کي جنسيت معتبر او اصل دی، او په جنسيت کي هر ډول سپي داخل دي. همدارنګه کورني او دښتي موږکان هم برابر دي، او د ټولو د وژلو اجازه سته.

(الضب الخ) همدارنګه ګوه او خاپی هم له فواسقِ خمسه څخه جلا دي، او د هغو وژل جزاء واجبوي، ځکه چي هغه په تکليف او ضرر سره وراندیتوب نه کوي.

د احرام په حالت کي د خزندو د وژلو حکم

وَلَيْسَ فِي قَتْلِ الْبَعُوضِ وَالنَّمْلِ وَالْبَرَاغِيثِ وَالْقُرَادِ شَيْءٌ او نسته په وژلو د غوماشي، مېږي، زغانځي او منګوړ کي هيڅ شی لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِصُيُودٍ ځکه چي دا خزندې ښکار نه دي وَلَيْسَتْ بِمُتَوَلِّدَةٍ مِنَ الْبَدَنِ او نه له بدن څخه پيدا سوي دي ثُمَّ هِيَ مُؤْذِيَةٌ بِطِبَاعِهَا او بيا دا په خپل طبيعت کي (فطرتاً) ضرر رسونکي دي وَالْمُرَادُ بِالنَّمْلِ السُّودُ أَوِ الصُّفْرُ الَّذِي يُؤْذِي او له مېږي څخه مراد هغه تور يا ژړ مېږی دی چي ضرر رسوي وَمَا لَا يُؤْذِي لَا يَحِلُّ قَتْلُهَا او کوم چي ضرر نه رسوي د هغه وژل حلال نه دي وَلَكِنْ لَا يَجِبُ الْجَزَاءُ لِلْعِلَّةِ الْأُولَى ليکن جزاء نه واجبيږي د اول علت په وجه.

اللغات: ﴿بعوض﴾ غوماشه، ﴿براغيث﴾ جمع د برغوثة ده: زغانځه (يو ډول تور رنګه خزنده ده)، ﴿قراد﴾ منګوړ.

تشريح: فرمايي چي د محرم لپاره د غوماشي، مېږي او داسي نورو وژل صحيح او حلال دي، او د دې شيانو په وژلو سره جزاء نه واجبيږي، ځکه چي جزاء د ښکار په وژلو سره واجبيږي، او دا شيان ښکار نه دي (ځکه ښکار فطرتاً له انسان څخه ترهېدونکی وي او دا شيان راغب دي، او د انسان پر طرف ور ځغلي)، او بيا د دې پيدايښت هم د انسان له بدن څخه نه کيږي، چي موجب د جزاء دي سي، (لکه سپږي چي د انسان د بدن له خيرو څخه پيدا کيږي او د هغو وژل موجب د جزاء دي)، او بل دا شيان په فطري توګه ضرر رسونکي دي.

(والمراد بالنمل الخ) فرمايي چي له نمل څخه مراد هغه تو او ژړ مېږيان دي چي انسان ته تکليف ورکوي، د هغو وژل د محرم لپاره جائز دي، خو هغه مېږيان چي انسان ته تکليف نه ورکوي، د هغه وژول صحيح نه دي، خو که بيا يې هم ووژني، نو جزاء نه واجبيږي، ځکه چي دا خو نه د ښکار په حکم کي دي، او نه د انسان له بدن څخه پيدا کيږي.

د سپږو د وژلو حکم

وَمَنْ قَتَلَ قَمْلَةً او کوم مُحرم چي سپږه قتل کړي تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ نو څه چي وغواړي هغه دي صدقه کړي مِثْلَ كَفٍّ مِنَ الطَّعَامِ مثلاً يو موټ غله لِأَنَّهَا مُتَوَلِّدَةٌ مِنَ التَّفَثِ الَّذِي عَلَى الْبَدَنِ ځکه چي سپږه له هغه خيرو (او چټلی) څخه پيدا کيږي چي پر بدن وي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ أَطْعَمَ شَيْئًا او په جامع صغير کي دي چي څه دي په وخوري وَهٰذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ يُجْزِيهِ أَنْ يُطْعِمَ مِسْكِينًا شَيْئًا يَسِيرًا عَلَى سَبِيلِ الْإِبَاحَةِ او دا د جامع صغير قول پر دې خبره دلالت کوي چي د روايت په توګه په مسکين يو معمولي غوندي شی خوړل کافي دي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُشْبِعًا که څه هم هغه مړونکی (يعني په ډک نس) نه وي.

اللغات: ﴿قملة﴾ سپږه، ﴿تفث﴾ خیره، ﴿مشبع﴾ دافعال اسم فاعل دی: مړونکي، نس ډکونکي.

تشريح: مسئله: دا ده که یو محرم سپږه ووژله، نو څه چي وغواړي هغه دي صدقه کړي، مثلاً یو ډک موټ غله دي صدقه کړي، او ځیني حضراتو فرمایلي دي چي که سپږي دوې یا درې وي نو یو موټ غنم دي صدقه کړي، او که تر دې زیاتي سي، نو نیم صاع غنم دي صدقه کړي، دلیل دا دی چي سپږه د انسان د بدن له خیرو څخه پیدا کیږي، او په احرام کي د خیرو په پاکولو سره صدقه واجبیږي، نو د سپږي د وژلو په صورت کي به هم صدقه واجبیږي.

وفي الجامع الصغير الخ فرمايي چي په جامع صغير کي امام محمد رَحِمَهُ الله داسي جمله ذکر کړې ده: أطعم شيئاً، او په متن کي راغلي دي چي مثلاً یو موټ غنم دي ورکړي، نو د جامع صغیر له عبارت څخه معلومیږي چي مسکین ته په لاس کي ورکول او مالک جوړول ضروري نه دي، بلکي د مباح کولو په توګه دي یو شی په وخوري، که څه هم په ماړه نس نه وي، بیا هم کافي دي.

د ملخ د وژلو حکم

وَمَنْ قَتَلَ جَرَادَةً او کوم مُحرم چي ملخ قتل کړي تَصَدَّقَ بِمَا شَاءَ نو څه چي وغواړي هغه دي صدقه کړي لِأَنَّ الْجَرَادَ مِنْ صَيْدِ الْبَرِّ ځکه ملخ د وچي ښکار دی فَإِنَّ الصَّيْدَ مَا لَا يُمْكِنُ أَخْذُهُ إِلَّا بِحِيلَةٍ ځکه چي ښکار هغه (ته ویل کیږي) چي له یو چل (او حیلې) څخه بغیر د هغه نیول ممکن نه وي وَيَقْصِدُهُ الْآخِذُ او نیونکی د هغه د نیولو اراده وکړي وَتَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ او یوه خرما له یوه ملخ څخه غوره ده لِقَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: تَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ د حضرت عمر ﷺ د قول په وجه: "چي یوه خرما له یوه ملخ څخه غوره ده".

اللغات: ﴿جرادة﴾ ملخ، ﴿حيلة﴾ چل، کوښښ(زیار).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو محرم ملخ مړ کړي، نو څه چي وغواړي هغ دي صدقه کړي، دلیل دا دی چي ملخ د وچي ښکار دی، ځکه چي ښکار هغه ته ویل کیږي چي د هغه نیول بغیر له حیلې او چل څخه ممکن نه وي، او نیونکی د هغه اراده هم وکړي.

صاحب د قدوري فرمايي چي یوه خرما غوره ده له یوه ملخ څخه، دا په اصل کي د حضرت عمر ﷺ قول دی، قصه داسي وه چي د حمص خلکو به د احرام په حالت کي ډېر ملخان وژل او د هر ملخ په بدله کي به یې یو درهم صدقه کوی، حضرت عمر ﷺ وفرمایل: "اې د حمص خلکو! ستاسو درهمونه ډېر دي، او یوه خورما له یوه ملخ څخه غوره ده"، یعني د یوه ملخ په بدله کي یو درهم صدقه کول بېخي ډېر دي، نو که تاسو د یوه ملخ په بدله کي یوه خرما صدقه کړی نو دا هم بالکل کافي دي.

د کیشپ(کیشو) د وژلو حکم

وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِي ذَبْحِ السُّلَحْفَاةِ او هیڅ واجب نه دي پر مُحرم د کیشپ په وژلو کي لِأَنَّهُ مِنَ الْهَوَامِّ وَالْحَشَرَاتِ ځکه چي کیشپ(هم) له خزندو او حشراتو څخه دی فَأَشْبَهَ الْخَنَافِسَ وَالْوَزَغَاتِ نو د نجاست د چینجیانو او د ثرمښکیانو سره مشابه سو وَيُمْكِنُ أَخْذُهُ مِنْ غَيْرِ حِيلَةٍ او له یو چل څخه بغیر د هغه نیول (هم) ممکن دي وَكَذَا لَا يُقْصَدُ بِالْأَخْذِ همدارنګه د هغه د نیولو قصد هم نه کیږي فَلَمْ يَكُنْ صَيْدًا نو ځکه به ښکار نه وي.

اللغات: ﴿سلحفاة﴾ كيشپ (كيشو)، ﴿هوام﴾ خزندي، ﴿عفافس﴾ د گندگي او غايطه مواد و چينجيان. ﴿وزغلت﴾ جمع د وزغة ده؛ ځرمښكياني (چرمښكياني).

تشريح: **مسئله:** دا ده چي كه يو محرم كيشپ قتل كړي، نو پر هغه هيڅ ضمان نه واجبيږي. ځكه چي كيشپ له حشرات الارض څخه دی، نو دا د نجاست دچينجيانو او د ځرمښكيانو سره مشابه سو. او د دې شيانو په وژلو سره ضمان نه واجبيږي، نو د كيشپ په وژلو سره به هم ضمان نه واجبيږي.

ويمكن الخ دويمه خبره دا ده چي كيشپ بغير له چل او حيلې څخه نيول ممكن دي. او ځوك يې د نيولو اراده هم نه كوي، لهذا دا د ښكار حيوان نه سي شمارل كېدلای، حال دا چي جزاء هغه وخت واجبيږي. چي د ښكار حيوان قتل كړی سي، نو په دې وجه به هم جزاء واجب نه وي.

د حرم د خاروي د لوښلو حكم

وَمَنْ حَلَبَ صَيْدَ الْحَرَمِ او كوم محرم چي د حرم ښكار ولوښي فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ نو پر هغه د دې قيمت واجب دی لِأَنَّ اللَّبَنَ مِنْ أَجْزَاءِ الصَّيْدِ ځكه چي شيدې د ښكار له اجزاؤ څخه دي فَأَشْبَهَ كُلَّهُ نو هغه د ښكار د كُل سره مشابه سوې.

اللغات: ﴿حلب﴾ د نصر ماضي ده: شيدې لوښل.

تشريح: **مسئله:** دا ده كه يو محرم د حرم د ښكار شيدې ولوښلې، نو پر هغه د شيدو قيمت واجب دی، ځكه چي شيدې د ښكار له اجزاؤ څخه دي، نو شيدې د ښكار مشابه سوې، او په ښكار كي جزاء واجب ده. نو د ښكار په جزء يعني په شيدو كي به هم جزاء واجب وي.

د غير ماكول اللحم حيوانانو د وژلو حكم

وَمَنْ قَتَلَ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الصَّيْدِ او ځوك چي داسي ښكار قتل كړي چي غوښې يې نه خوړل كيږي كَالسِّبَاعِ وَنَحْوِهَا لكه درندگان او د دوی په شير فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ نو پر هغه جزاء واجب ده إِلَّا مَا اسْتَثْنَاهُ الشَّرْعُ ماسوا له هغه څخه چي شريعت مستثنیٰ كړي وي وَهُوَ مَا عَدَدْنَاهُ او د شريعت مستثنیٰ سوي حيوانان هغه دي كوم چي موږ شمار كړل وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجِبُ الْجَزَاءُ او امام شافعي فرمايي: چي (په مالا يؤكل لحمه كي) جزاء نه واجبيږي لِأَنَّهَا جُبِلَتْ عَلَى الْإِيذَاءِ ځكه چي هغه د تكليف رسولو لپاره پيدا سوي دي (يعني د هغو په فطرت كي بل چا ته ضرر او تكليف رسول اخيلي دي) فَدَخَلَتْ فِي الْفَوَاسِقِ الْمُسْتَثْنَاةِ نو دا به په مستثنیٰ سوو فواسقو كي داخل وي وَكَذَا اسْمُ الْكَلْبِ يَتَنَاوَلُ السِّبَاعَ بِأَسْرِهَا لُغَةً او همدارنگه لفظ د كلب دلغت له رويه ټولو درندگانو ته شامل دی وَلَنَا أَنَّ السَّبُعَ صَيْدٌ او زموږ دليل دا دی چي درنده ښكار دی لِتَوَحُّشِهِ ځكه چي هغه وحشي وي وَكَوْنِهِ مَقْصُودًا بِالْأَخْذِ او په نيولو سره مقصود (هم) وي إِمَّا لِجِلْدِهِ يا د هغه د څرمني لپاره (مقصود وي) أَوْ لِيُصْطَادَ بِهِ يا د دې لپاره (مقصود وي) چي ښكار په وسي أَوْ لِدَفْعِ أَذَاهُ يا د هغه د ضرر د ليري كولو لپاره (مقصود وي) وَالْقِيَاسُ عَلَى الْفَوَاسِقِ مُمْتَنِعٌ او قياس پر فواسقو

ممتنع دی لِمَا فِيهِ مِنْ إِبْطَالِ الْعَدَدِ ځکه چي په دې کي د عدد (شمېر) باطلول دي وَاسْمُ الْكَلْبِ لَا يَقَعُ عَلَى السَّبُعِ عُرْفًا او د عرف له رويه لفظ د كلب د درنده لپاره نه استعماليږي وَالْعُرْفُ أَمْلَكُ او هم دا عُرف زيات قوي دی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم له غيرِ ماكول اللحم حيوانانو څخه يو حيوان مثلاً له درندګانو څخه يې شېر يا پړانګ يا ګيدړه ووژله، نو زموږ په نېز پر هغه هم جزاء واجبيږي، هو! د فواسقِ خمسه وو په وژلو سره جزاء نه واجبيږي، کوم چي موږ مخکي ذکر کړل، امام شافعي فرمايي چي د غيرِ ماكول الحم په وژلو سره جزاء نه واجبيږي، دليل دا دی چي د دې درندګانو په خټه او فطرت کي د ضرر رسولو ماده پرته ده، نو ځکه به درندګان هم په فواسقِ خمسه وو کي داخليږي، دوېم دليل دا دی چي په فواسقِ خمسه وو کي نبي ﷺ د كلبِ عقور استثناء هم کړې ده، او لفظ د كلب د لغت له رويه ټولو درندګانو ته شامل دی، نو ځکه به ټوله درندګان مستثنیٰ شمارل کيږي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي درندګان وحشي او ترهېدونکي وي، له خلکو څخه څغلي، او خلک د هغوی د نيولو اراده هم کوي، او د هغو د نيولو اراده ځکه کوي چي يا خو د هغو له څرمني څخه نفع واخلي لکه شېر يا پړانګ، يا ځکه چي په هغو ښکار وکړي لکه تازي او داسي نور، يا خو د ضرر لیري کولو په غرض هغه نيسي لکه ځنګلي خنزير او داسي نور، نو په کوم حيوان کي چي دا خبري پيدا سي، هغه ته به ښکار ويل کيږي، نو ځکه به درندګان ښکار وي، او د ښکار په باره کي الله ﷻ فرمايلي دي: ولا تقتلوا الصيد وأنتم حرم، لهذا د هغو په وژلو سره به جزاء واجبيږي

والقياس الخ د امام شافعي د قياس جواب دا دی چي درندګان پر فواسقو قياسول صحيح نه دي، ځکه چي د قياس په صورت کي د حديث عدد او شمېر يعني خمس باطليږي، او د امام شافعي دا وينا چي كلب درندګانو ته ويل کيږي، صحيح نه ده، ځکه لفظ د كلب په عُرف کي د درندګانو لپاره نه کارول کيږي، او په دې ټول مسئلو کي عُرف قوي دی او د عُرف اعتبار کيږي، لهذا په دې حواله سره به هم درندګان په فواسقِ خمسه کي نه شمارل کيږي، او د هغوی وژل به د محرم په حق کي د جزاء د وجوب سبب وي.

د جزاء قيمت به د بزې تر قيمت زيات نه وي

وَلَا يُجَاوِزُ بِقِيمَتِهِ شَاةً او د جزاء قيمت به د بزې له قيمت څخه نه زياتوي (شاةً مرفوع دی ځکه چي مسند اليه دی) وَقَالَ زُفَرُ: تَجِبُ بَالِغَةً مَا بَلَغَتْ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ټوله قيمت به يې واجب وي تر کومه ځايه چي ورسيږي اِعْتِبَارًا بِمَأْكُولِ اللَّحْمِ پر ماكولُ اللحم څاروي په قياسولو سره وَلَنَا قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: اَلضَّبُعُ صَيْدٌ وَفِيهِ الشَّاةُ او زموږ دليل دا دی: چي نبي ﷺ فرمايلي دي: "كوږ ښکار دی او په هغه کي بزه واجب ده" وَلِأَنَّ اعْتِبَارَ قِيمَتِهِ لِمَكَانِ الْاِنْتِفَاعِ بِجِلْدِهِ او ځکه چي د غيرِ ماكول اللحم د قيمت اعتبار د هغو له څرمني څخه د نفع اخيستلو په وجه دی لَا لِأَنَّهُ مُحَارِبٌ مُؤْذٍ نه په دې وجه چي هغه جنګي (او) ضرر رسونکی دی وَمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ لَا يَزْدَادُ عَلَى قِيمَةِ الشَّاةِ ظَاهِرًا او همدغه فايدې په وجه به ظاهراً د جزاء قيمت د بزې پر قيمت نه زياتيږي.

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداود في كتاب الأطعمة باب أكل الضبع حديث رقم: ٣٨٠١

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم غير مأکول اللحم درنده قتل کړی، نو پر هغه د دې درنده قيمت واجبيږي. لېکن په قيمت کې به د دې خبرې خيال ساتل کيږي چې دا قيمت د بزې له قيمت څخه زيات نه سي. امام زفر رحمه الله فرمايي چې د مقتول درنده ټوله قيمت واجبيږي، که هغه هر څو ته ورسيږي. يعني که هر څومره وي. د امام زفر رحمه الله دليل قياس دی يعني غير مأکول اللحم پر مأکول اللحم قياسوي. او زموږ دليل دا حديث دی: الضبع صيد وفيه شاة.

ولأن إعتبار الخ عقلي دا دی چې د غير مأکول اللحم يعني د درندګانو غوښې به کار نه راځي، صرف څرمنه يې په کار راځي، او د څرمنې قيمت يې ظاهراً له بزې څخه زيات نه وي، همدارنګه د غير مأکول اللحم د قيمت اعتبار د جنګ او موذي کېدلو په وجه هم نه کيږي، نو ځکه موږ وايو چې د درنده ضمان او قيمت به د بزې تر قيمت زيات نه وي.

د حمله کونکي حيوان د وژلو حکم

وَإِذَا صَالَ السَّبُعُ عَلَى الْمُحْرِمِ او که چې درنده پر محرم حمله وکړي فَقَتَلَهُ او محرم هغه قتل کړي لَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر محرم هيڅ شی واجب نه دی وَقَالَ زُفَرُ: يَجِبُ او امام زفر فرمايي: چې واجب دی اِعْتِبَارًا بِالْجَمَلِ الصَّائِلِ پر حمله کونکي اوښ باندې په قياسولو سره وَلَنَا مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ قَتَلَ سَبُعًا او زموږ دليل هغه روايت دی کوم چې له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت سوی دی چې هغه يو درنده قتل کړی وَأَهْدَى كَبْشًا او يو وزګړی (سېرلی) يې هدی کړی وَقَالَ: إِنَّا ابْتَدَأْنَاهُ او ويې فرمايل: "چې ما پر درنده وړانديتوب وکړی (يعني اوله حمله ما پر وکړه)" وَلِأَنَّ الْمُحْرِمَ مَمْنُوعٌ عَنِ التَّعَرُّضِ او ځکه چې محرم له تعرّض (او لاس وهنې) څخه منع سوی دی لَا عَنْ دَفْعِ الْأَذَى نه د ضرر له ليرې کولو څخه وَلِهَذَا كَانَ مَأْذُونًا فِي دَفْعِ الْمُتَوَهَّمِ مِنَ الْأَذَى او هم په دې وجه محرم ته اجازه سته د داسې حيوان د دفع کولو (او وژلو) چې له هغه څخه د ضرر وهم وي كَمَا فِي الْفَوَاسِقِ لکه څرنګه چې په خبيثو حيوانانو کې (اجازه سته) فَلَأَنْ يَكُونَ مَأْذُونًا فِي دَفْعِ الْمُتَحَقِّقِ مِنْهُ أَوْلَى نو د هغو حيوانانو د دفع کولو (او وژلو) اجازه (خو) به په درجه اولیٰ وي چې له هغو څخه ضرر متحقق وي وَمَعَ وُجُودِ الْإِذْنِ مِنَ الشَّارِعِ لَا يَجِبُ الْجَزَاءُ حَقًّا لَهُ او د شارع له طرفه د اجازې باوجود د شارع د حق په وجه جزاء نه واجبيږي بِخِلَافِ الْجَمَلِ الصَّائِلِ په خلاف د حمله کونکي اوښ لِأَنَّهُ لَا إِذْنَ مِنْ صَاحِبِ الْحَقِّ ځکه چې (قاتل ته د دې اوښ) د حقدار له طرفه اجازه نسته وَهُوَ الْعَبْدُ او دا اوښ حقدار بنده دی.

اللغات: ﴿صال﴾ د نصر اسم فاعل دی: حمله کونکی، ﴿جمل﴾ اوښ، ﴿کبش﴾ مېنده، وزګړی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو درنده پر محرم حمله وکړي، او محرم هغه قتل کړي، نو زموږ په نيز پر هغه جزاء نه واجبيږي، لېکن د امام زفر په نيز پر هغه د حيوان قيمت واجبيږي، د امام زفر دليل قياس دی، يعني که پر يو انسان اوښ حمله وکړي، او بيا انسان دا اوښ قتل کړي، نو پر هغه د دې اوښ قيمت واجبيږي، که څه هم د خپل ځان د دفاع په خاطر داسې وکړي، نو همدارنګه به د درنده د قتلولو په صورت کې هم پر قاتل جزاء واجبيږي.

ولنا الخ زموږ اول دليل دا اثر دی چې حضرت عمر رضي الله عنه يو درنده قتل کړی، او بيا بزه يې د هدي په توګه واستوله، او يې فرمايل: "چې پر درنده اول وار ما وکړی". له دې څخه دا خبره څرګندېږي چې که درنده اول حمله وکړي، او محرم د خپل دفاع په خاطر هغه قتل کړي، نو پر هغه به ضمان نه واجبېږي.

ولأن المحرم الخ عقلي دليل دا دی چې محرم (په شريعت کې) په حيوانانو باندې له تعرض کولو او لاس وهنې څخه منع سوی دی، د خپل ځان له دفاع څخه نه دی منع سوی (بلکې شريعت هغه ته دا اجازه ورکړې ده چې د ځان دفاع وکړي)، همدا وجه ده چې په فواسقِ خمسه وو کې د ضرر وهم سته چې حمله به وکړي نو ځکه يې مخکې د وژلو اجازه سوې ده، نو کله چې د دې موهوم ضرر ليرې کولو اجازه سوې ده، نو د درندګانو د ضرر کوم چې ثابت او متحقق دی د هغه د ليرې کولو اجازه خو به په درجه اولیٰ وي، او څرنګه چې د درندګانو د ضرر ليرې کولو اجازه د شريعت له طرفه ده (يعني شريعت خپل حق ساقط کړی دی)، نو ځکه به د درنده په وژلو سره جزاء نه واجبېږي، په خلاف د حمله کونکي اوښ، ځکه چې د هغه مالک انسان دی، او د اوښ مالک هيڅ ته د اوښ د وژلو اجازه نه ورکوي، نو ځکه به د هغه دا حق نه ساقطېږي، او د حمله کونکي اوښ پر وژلو به جزاء واجب وي.

د مجبورۍ په وجه د ښکار کولو حکم

> **وَإِنِ اضْطَرَّ الْمُحْرِمُ إِلَى قَتْلِ صَيْدٍ** او که محرم د يو ښکار قتلولو ته مجبوره سي **فَقَتَلَهُ** او هغه قتل کړي **فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ** نو پر هغه جزاء واجب ده لِأَنَّ الْإِذْنَ مُقَيَّدٌ بِالْكَفَّارَةِ بِالنَّصِّ ځکه چې اجازه د آيت په وجه په کفارې سره مقيد ده عَلَى مَا تَلَوْنَاهُ مِنْ قَبْلُ لکه مخکې چې موږ آيت تلاوت کړی.

اللغات: ﴿اضطر﴾ د افتعال ماضي ده: مجبوره کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که د سختې لوږې په وجه محرم د ښکار قتلولو ته مجبوره سو، او ښکار يې قتل کړی، نو هم پر هغه جزاء واجبېږي، ځکه په دې حالت کې چې شريعت د ښکار د قتلولو کومه اجازه ورکړې ده، هغه په کفارې سره مقيد ده، لکه څرنګه چې په آيت کې ذکر سوي دي: فمن كان منكم مريضا أو به أذى من رأسه ففدية من صيام أو صدقة أو نسك. (يعني له تاسو څخه چې څوک مريض وي يا يې په سر کې څه تکليف وي، نو د روژې يا صدقې يا قربانۍ په ذريعه دې فديه اداء کړي)، يعني که د دې عوارضو په وجه هغه د احرام يو منافي کار وکړی، نو هغه ته پکار ده چې فديه ورکړي، لهذا د ښکار د قتلولو په صورت کې به هم جزاء ورکوي.

د خارويانو د حلالولو حکم

> **وَلَا بَأْسَ لِلْمُحْرِمِ أَنْ يَذْبَحَ الشَّاةَ وَالْبَقَرَةَ وَالْبَعِيرَ وَالدَّجَاجَةَ وَالْبَطَّ الْأَهْلِيَّ** او د محرم لپاره د بزې، غوا، اوښ، چرګې او د کورنۍ هيلۍ په حلالولو کې هيڅ پروا نسته لِأَنَّ هَذِهِ الْأَشْيَاءَ لَيْسَتْ بِصُيُودٍ لِعَدَمِ التَّوَحُّشِ ځکه چې دا شيان د وحشي نه کېدلو په وجه ښکار نه دي وَالْمُرَادُ بِالْبَطِّ الَّذِي يَكُونُ فِي الْمَسَاكِنِ وَالْحِيَاضِ او له هيلۍ څخه مراد هغه ده چې په کورونو او حوضونو کې اوسېږي لِأَنَّهُ أَلُوفٌ بِأَصْلِ الْخِلْقَةِ ځکه چې هغه په اصل فطرت کې اموخته (او روږده) ده.

اللغات: ﴿دجاجة﴾ چرګه، ﴿بط﴾ هیلۍ (ایلۍ)، ﴿حیاض﴾ جمع د حوض ده: ډنډ، حوض، تالاو. ﴿ألوف﴾ روږد (مینه لرونکی، د وحشي ضد).

تشریح: صورت د مسئلې او دلیل ښکاره دی.

د بیر پښی کوترې د حلالو حکم

وَلَوْ ذَبَحَ حَمَامًا مُسَرْوَلًا او که محرم بیرپښی کوتره حلاله کړي فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ نو پر هغه جزاء واجب ده خِلَافًا لِمَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دی لَهُ أَنَّهُ أَلُوفٌ مُسْتَأْنِسٌ د امام مالک دلیل دا دی چې بیرپښی کوتره (د خلګو) سره روږده او اموخته وي وَلَا يَمْتَنِعُ بِجَنَاحَيْهِ او په خپلو وزرو سره ځان نه سي ژغورلای لِبُطْءِ نُهُوضِهِ د خپل پورته کېدلو (او حرکت کولو) د سستوالي په وجه وَنَحْنُ نَقُولُ: اَلْحَمَامُ مُتَوَحِّشٌ بِأَصْلِ الْخِلْقَةِ مُمْتَنِعٌ بِطَيَرَانِهِ او موږ وایو: چې کوتره د اصل فطرت په اعتبار سره وحشي وي او په خپل الوتلو سره ځان ژغورونکې وي وَإِنْ كَانَ بَطِيءَ النُّهُوضِ که څه هم په پورته کېدلو کې سسته وي وَالْإِسْتِئْنَاسُ عَارِضٌ او د هغې اموخته والی عارضي دی فَلَمْ يُعْتَبَرْ نو د هغه اعتبار به نه کیږي.

اللغات: ﴿حمامة﴾ کوتره، ﴿مسرول﴾ هغه کوتره چې پښې یې په وربښتیانو پټې وي. ﴿ألوف﴾ روږد (د وحشي ضد).

تشریح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سئ چې مُسَرْوَل له سروال څخه مأخوذ دی، او مسرول هغه کوترې ته ویل کیږي چې پر پښو یې ډېر وربښتیان وي، او داسې ښکاري لکه سروال (پرتوګ) چې یې اغوستی وي، او د هغه په وجه یې ښې بیري معلومیږي، نو ځکه موږ د هغې ترجمه په "بیر پښی" کوترې سره وکړه. مسئله دا ده که یو محرم بیر پښی کوتره حلاله کړه، نو پر هغه جزاء واجب ده، امام مالک وایي چې جزاء واجب نه ده. د امام مالک دلیل دا دی چې بیر پښی کوتره اموخته او د خلګو سره بلده وي، او خپل ځان کما حقه ساتلای هم نه سي، ځکه چې دا په پرواز کولو او پورته کېدلو کې ډېره سسته وي، او داسې حیوان د دې حقداره نه دی چې ښکار ورته وویل سي. او کله چې ښکار نه دی، نو پر قتل کولو به یې جزاء هم واجب نه وي.

ونحن نقول الخ زموږ دلیل دا دی چې کوتره د خپل اصل خلقت او فطرت په اعتبار سره وحشي وي، که څه هم د هغې پورته کېدل سست وي، خو بیا هم د خپلو الوتلو په ذریعه د ځان ساتلو کوشش کوي، نو ځکه به د ښکار په تعریف کې داخله وي، پاته سو د هغې اموخته والی نو هغه اصلي نه دی، بلکې عارضي دی، او په شرعي احکامو کې د اصل اعتبار کیږي، د عارضي اموخته والي پر بناء د امام مالک رَحِمَهُ الله لپاره کوتره له ښکار څخه ایستل صحیح نه دي.

د اموخته هوسی د حلالولو حکم

وَكَذَا إِذَا قَتَلَ ظَبْيًا مُسْتَأْنِسًا او همدارنګه چې کله محرم اموخته هوسۍ قتل کړي (نو جزاء واجبیږي) لِأَنَّهُ صَيْدٌ فِي الْأَصْلِ ځکه چې هغه د اصل فطرت په اعتبار سره ښکار ده فَلَا يُبْطِلُهُ الْإِسْتِئْنَاسُ نو اموخته والی به ښکار کېدل نه

باطلوي كَالْبَعِيرِ إِذَا نَدَّ لكه اوښ چي كله وتربيږي (وترهيږي او وحشي سي) لَا يَأْخُذُ حُكْمَ الصَّيْدِ لِلْحُرْمَةِ عَلَى الْمُحْرِمِ نو هغه په حرام کېدلو کي پر محرم د ښکار حکم نه اخلي (چي پر محرم دي د هغه حلالول حرام سي).

اللغات: ﴿ظبي﴾ هوسی، ﴿ندّ﴾ ماضي ده: تړبدل (ترهېدل)، تښتېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چي که محرم يوه اموخته هوسۍ قتل کړه، نو پر محرم جزاء واجب ده، ځکه چي هوسۍ د اصل خلقت په اعتبار سره ښکار ده، نو په عارضي توګه د هغې اموخته والی د هغې ښکار کېدل نه ور باطلوي. لکه څرنګه چي اوښ يو کورنی او اموخته څاروی دی، لېکن که هغه وتربيږي او وحشي سي، نو بيا هم کورنی دی، او د ښکار په حکم کي نه داخليږي، او د محرم لپاره به د هغه حلالول صحيح وي، ځکه چي ترهېدل (تړبدل) عارضي توحش دی.

د محرم د حلال سوي (ذبح سوي) ښکار حکم

وَإِذَا ذَبَحَ الْمُحْرِمُ صَيْدًا او کله چي محرم يو ښکار حلال کړي فَذَبِيحَتُهُ مَيْتَةٌ نو د هغه ذبيحه مرداره ده (يعني داسي ده لکه حيوان چي په خپله مردار سي) لَا يَحِلُّ أَكْلُهَا د هغې خوړل حلال نه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: يَحِلُّ مَا ذَبَحَهُ الْمُحْرِمُ لِغَيْرِهِ او امام شافعي فرمايي: چي د محرم حلال سوی ښکار د غير محرم لپاره حلال دی لِأَنَّهُ عَامِلٌ لَهُ ځکه چي محرم د بل (غير) لپاره کارکونکی دی فَانْتَقَلَ فِعْلُهُ إِلَيْهِ نو د هغه کار به د بل و طرف ته منتقل کيږي وَلَنَا أَنَّ الذَّكَاةَ فِعْلٌ مَشْرُوعٌ او زموږ دليل دا دی چي حلالول مشروع کار دی وَهَذَا فِعْلٌ حَرَامٌ او د محرم دا کار حرام دی فَلَا يَكُونُ ذَكَاةً نو دا به حلالول نه وي كَذَبِيحَةِ الْمَجُوسِيِّ لکه د مجوسي ذبيحه وَهَذَا لِأَنَّ الْمَشْرُوعَ هُوَ الَّذِي قَامَ مَقَامَ الْمُمَيِّزِ بَيْنَ الدَّمِ وَاللَّحْمِ او دا حکم ځکه دی چي مشروع حلالېدل هغه دي چي د وينو او غوښو په مينځ کي د فرق کولو قائم مقام وي تَيْسِيرًا د آسانۍ لپاره (يعني مشروعه او مباحه ذبحه هغه ده چي د غوښي او د ويني په مينځ کي تميز او فرق وکړي د آسانۍ لپاره) فَيَنْعَدِمُ بِانْعِدَامِهِ نو د مشروع فعل د نشتوالي په وجه به حلالول (ذبحه) (هم) معدومه وي.

اللغات: ﴿ذكاة﴾ څاروی حلالول، ذبح کول، ﴿ذبيحة﴾ حلال سوی څاروی، ﴿ميز﴾ فرق کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د محرم لپاره ښکار قتل کول او حلالول جائز نه دي، او که هغه يو څاروی حلال کړی، نو د هغه ذبيحه مرداره ده، او د هېچا لپاره د هغې خوړل حلال نه دي، امام شافعي فرمايي که محرم د بل چا لپاره څاروی حلال کړی نو هغه حلال دی، ځکه چي محرم د بل چا لپاره حلال کړی دی، نو هغه د بل چا لپاره کارکونکی سو، نو ځکه به د هغه دا فعل د بل چا و طرف ته منتقل کيږي، او دا به وويل کيږي چي دغه بل دويم سړي دا څاروی حلال کړی دی، او څرنګه چي د غيرِ محرم ذبيحه حلاله او صحيح ده، نو ځکه به د محرم ذبيحه هم د بل چا لپاره حلاله او جائز وي.

وهذا الخ د محرم د ذبيحې د حرامېدلو دويم علت دا دی چي ذبحه ځکه مشروع سوې ده چي د هغې په ذريعه د څاروي د غوښو او د وينو په مينځ کي فرق او امتياز وکړی سي، ځکه چي د وينو تر وتلو وروسته هم څه ناڅه وينه په څاروي او د هغه په غوښو کي پاتېږي، نو د آسانۍ لپاره دا ښه وګرځول سوه چي که پر مشروع طريقه ذبح وکړي، نو دا به وويل کيږي

چي وريني له غوښو څخه جلا سوې، او د محرم ذبحه پر مشروع طريقه نه ده، ځکه چي د آيت او حديث په وجه هغه حرامه سوې ده، لهذا دا به وبل کيږي چي وريني له غوښو څخه جلا نه سوې، نو ذبيحه به يې هم حلاله نه وي.

که محرم له خپل ښکار څخه څه وخوري نو څه حکم دی؟

وَإِنْ أَكَلَ الْمُحْرِمُ الذَّابِحُ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا او که حلالونکی محرم له خپلي ذبيحې څخه څه وخوري فَعَلَيْهِ قِيمَةُ مَا أَكَلَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ نو څه چي يې وخوړل د هغه قيمت به پر ده واجب وي د امام صاحب په نيز وَقَالَا: لَيْسَ عَلَيْهِ جَزَاءُ مَا أَكَلَ او صاحبين فرمايي: چي څه يې وخوړل د هغه جزاء پر ده واجب نه ده وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ مُحْرِمٌ آخَرُ او که له هغې څخه بل محرم څه وخوړل فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو پر هغه د ټولو په نيز هيڅ شی واجب نه دی لَهُمَا أَنَّ هٰذِهِ مَيْتَةٌ فَلَا يَلْزَمُهُ بِأَكْلِهَا إِلَّا الْإِسْتِغْفَارُ د صاحبينو دليل دا دی چي دا مرداره ده نو د هغې په خوړلو سره به هيڅ شی نه لازميږي ماسوا له استغفار څخه وَصَارَ كَمَا إِذَا أَكَلَهُ مُحْرِمٌ غَيْرُهُ او داسي سو لکه يو بل محرم چي (له هغې څخه) خوراک وکړي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ حُرْمَتَهُ بِاعْتِبَارِ كَوْنِهِ مَيْتَةً او د امام صاحب دليل دا دی چي د محرم د ذبيحې حراميدل د هغې د مردار بدلو په وجه دي (يعني په دې وجه دی چي هغه کواکي په خپله مرداره سوې ده) كَمَا ذَكَرْنَا لکه مونږ چي ذکر کړه وَبِاعْتِبَارِ أَنَّهُ مَحْظُورُ إِحْرَامِهِ او په دې وجه چي ذبيحه د هغه د احرام له ممنوعاتو څخه ده لِأَنَّ إِحْرَامَهُ هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الصَّيْدَ عَنِ الْمَحَلِّيَّةِ ځکه چي د هغه احرام هغه شی دی چي ښکار يې له خپل محل څخه وېستی (او مردار يې جوړ کړی) وَالذَّابِحَ عَنِ الْأَهْلِيَّةِ فِي حَقِّ الذَّكَاةِ او حلالونکی يې د حلالولو له اهليت (او لياقت) څخه وېستی فَصَارَتْ حُرْمَةُ التَّنَاوُلِ بِهٰذِهِ الْوَسَائِطِ مُضَافَةً إِلَىٰ إِحْرَامِهِ نو په دې واسطو (او ذريعو) سره به د خوړلو حراميدل د هغه د احرام و طرف ته منسوب وي بِخِلَافِ مُحْرِمٍ آخَرَ په خلاف د بل محرم لِأَنَّ تَنَاوُلَهُ لَيْسَ مِنْ مَحْظُورَاتِ إِحْرَامِهِ ځکه د بل محرم خوړل د هغه د احرام له ممنوعاتو څخه نه دي.

اللغات: ﴿وسائط﴾ واسطې، ذريعې، ﴿تناول﴾ د تفاعل مصدر دی: خوړل، خوراک کول، استعمالول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو محرم د ښکار حيوان حلال کړی، او د هغه جزاء يې هم اداء کړه، بيا يې له هغه څخه څه غوښې وخوړلې، نو څومره غوښې چي هغه خوړلې وي د هغه په اندازه قيمت پر هغه واجب دی د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز، او صاحبين فرمايي چي په دې صورت کي پر محرم هيڅ شی نه واجبيږي، ماسوا له استغفار څخه، لېکن که د ښکار جزاء هغه اداء کړې نه وه، او بيا يې د هغه غوښې وخوړلې، نو د امام صاحب په نيز هم پر هغه فقط جزاء واجبيږي، او د غوښو قيمت به په جزاء کي تداخل کوي.(بنايه ج:۴، ص: ۳۲۳)؛ او که له دې حيوان څخه يو بل محرم څه خوراک وکړي، نو د ټولو په نيز پر هغه هيڅ شی نه واجبيږي.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في المبسوط ج:۳، ص: ۱۰۰. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۳۳]

د صاحبينو دليل: دا دی چي د محرم دا ذبيحه مرداره ده. او د مردار شي په خوړلو سره هيڅ تاوان نه واجبيږي. ماسوا له استغفار څخه. او دا داسي سو لکه د دغه ذبيحې څخه چي بل محرم خوراک کړی وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي محرم ذبيحه په دوو[2] وجهو سره حرامه ده: (۱) يو خو ځکه چي د هغه ذبيحه مرداره ده. يعني داسي ده لکه حيوان چي په خپله مردار سي، لکه موږ چي ذکر کړه. (۲) او دويم ځکه چي د هغه ذبيحه د هغه د احرام له ممنوعاتو څخه ده يعني په حالت د احرام کي يې د هغه لپاره خوړل جرم او جنايت دی. د هغه وجه دا ده چي همد دغه احرام په وجه دا ذبيحه د ذبحې له محل څخه ووتله. او همد دغه احرام په وجه له محرم څخه د ذبحې اهليت ختم سو. نو د دې واسطو په وجه به د دې ذبيحې حرمت د هغه د احرام و طرف ته منسوبيږي. نو ثابته سوه چي د محرم لپاره له خپلي ذبيحې څخه خوړل د احرام له ممنوعاتو څخه دي. او د احرام له ممنوعاتو څخه يو ممنوع کار کول جزاء واجبوي. نو په دې وجه به پر هغه د خوړل سوو غوښو قيمت واجب وي. په خلاف د بل محرم ځکه چي د هغه لپاره د بل محرم له ذبيحې څخه خوړل د احرام له ممنوعاتو څخه نه دي. نو کله چي د بل له ذبيحې څخه خوړل د احرام له ممنوعاتو څخه نه دي. نو ضمان به هم پر واجب نه وي.

د محرم لپاره د غيرِ محرم د ښکار د خوړلو حکم

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَأْكُلَ الْمُحْرِمُ لَحْمَ صَيْدٍ او هيڅ پروا نه لري چي محرم د داسي ښکار غوښي وخوري اِصْطَادَهُ حَلَالٌ وَذَبَحَهُ چي هغه يو حلال سړي ښکار کړی او حلال کړی وي إِذَا لَمْ يَدُلَّ الْمُحْرِمُ عَلَيْهِ په دې شرط چي محرم دا ښکار ور ښوولی نه وي وَلَا أَمَرَهُ بِصَيْدِهِ او نه يې د هغه د ښکارولو حکم ور ته کړی وي خِلَافًا لِمَالِكٍ فِيمَا إِذَا اصْطَادَهُ لِأَجْلِ الْمُحْرِمِ د امام مالک رَحِمَهُ الله په هغه صورت کي اختلاف دی چي کله حلال سړي د محرم لپاره شکار کړی وي لَهُ قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1]: لَا بَأْسَ بِأَكْلِ الْمُحْرِمِ لَحْمَ صَيْدٍ د امام مالک رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: "هيڅ حرج نسته محرم لره د ښکار د غوښو په خوړلو کي مَا لَمْ يَصِدْهُ أَوْ يُصَدْ لَهُ تر څو چي خپله يې ښکار کړی نه وي ياد هغه لپاره ښکار کړی سوي نه وي" وَلَنَا[2] مَا رُوِيَ أَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ تَذَاكَرُوا لَحْمَ الصَّيْدِ فِي حَقِّ الْمُحْرِمِ او زموږ دليل هغه روايت دی چي صحابه وو د محرم په حق کي د ښکار د غوښو يادونه وکړه فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا بَأْسَ بِهِ نو نبي ﷺ وفرمايل: "چي د دې په خوړلو کي هيڅ پروا نسته" وَاللَّامُ فِيمَا رُوِيَ لَامُ تَمْلِيكٍ او د امام مالک په روايت کړی سوي حديث کي چي کوم لام دی هغه د تمليک لپاره دی فَيُحْمَلُ عَلَى أَنْ يُهْدَى إِلَيْهِ الصَّيْدُ دُونَ اللَّحْمِ نو هغه حديث به پر دې مفهوم حمل کيږي چي محرم لره ښکار په هدی کي ورکړل سي نه غوښي (يعني د حديث مفهوم به دا وي: "هيڅ حرج نسته محرم لره د ښکار د غوښو په خوړلو کي تر څو چي يې خپله ښکار کړی نه وي يا هغه ته بل چاژوندی ښکار په هديه کي ورکړی نه وي) أَوْ مَعْنَاهُ أَنْ يُصَادَ بِأَمْرِهِ يا د هغه معنیٰ دا ده چي د محرم په حکم سره ښکار کړی سوی وي ثُمَّ

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب الحج، باب لحم الصيد للمحرم، حديث رقم: ١٧٥١.

[2] تخريج: أخرجه النسائي في كتاب المناسک، باب ما يجوز للمحرم أكله من الصيد، حديث رقم: ٢٨١٨، ٢٨١٩.

ثُمَّ عَدَمَ الدَّلَالَةِ بیا امام قدوري رَحِمَهُ الله د (ښکار) نه ور وښوول شرط کړي دي وَهٰذَا تَنْصِيْصٌ عَلٰى أَنَّ الدَّلَالَةَ مُحَرَّمَةٌ او دا جمله د دې خبرې تصريح ده چې ښکار ورښوول حرام دي قَالُوْا: فِيْهِ رِوَايَتَانِ علماؤ فرمايلي دي: چې په دې کي دوه روايتونه دي وَوَجْهُ الْحُرْمَةِ حَدِيْثُ أَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او د حرمت دليل د ابو قتاده ﷺ حديث دی وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او هغه موږ (مخکي) ذکر کړی.

اللغات: ﴿اصطاد﴾ د افتعال ماضي ده: ښکار کول، ﴿تذاکروا﴾ د تفاعل ماضي ده: په خپل مينځ کي د يو شي يادونه کول.

تشريح: مسئله: دا ده که يو غيرِمحرم ښکار وکړی، او حلال يې کړی، او بل محرم سړي هغه ته د دې ښکار هيڅ ښوونه نه وکړه، او نه يې د هغه د ښکارولو حکم ورته وکړی، نو زموږ په نيز که دا محرم سړی د داسې ښکار غوښې وخوړلې، نو پر محرم هيڅ ضمان نه واجبيږي، او امام مالک فرمايي چې که غيرِمحرم د محرم لپاره ښکار وکړی په دې توګه چې دا نيت يې وکړی چې ښکار به په محرم خورم، نو که په دې صورت کي محرم له ښکار څخه خوراک وکړی، نو پر محرم به د خوړل سوو غوښو ضمان واجب وي، هغه که محرم د ښکار حکم ورته کړی وي، که نه وي.

د امام مالک دليل: دا حديث دی چې د محرم لپاره د داسې ښکار په خوړلو کي هيڅ حرج نسته چې هغه نه محرم ښکار کړی وي، او نه د هغه لپاره ښکار سوی وي، له دې حديث څخه معلوميږي چې که د محرم لپاره ښکار سوی وي، نو هم به د محرم لپاره له هغه څخه خوړل جائز نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې يو وار صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په دې باره کي مجلس کوی چې د محرم لپاره د بل غيرِ محرم ښکار خوړل څرنګه دي؟ په دې مجلس کي د دوی آواز پورته سو چې په هغه سره سرادرِ کونين ﷺ په خپل حجره کي له خوب څخه راپورته سو، او ويې فرمايل په څه باره کي مجلس کوئ؟ صحابه وو مسئله ورته بيان کړه، نو نبي ﷺ وفرمايل: لا بأس به، (يعني د هغه په خوړلو کي څه پروا نسته).

واللام فيما روى الخ د امام مالک رَحِمَهُ الله د حديث جواب دا دی چې په أويصاد له کي لام د تمليک لپاره دی. او د حديث مفهوم دا دی چې که غير محرم ښکار وکړی، او هغه ښکار يې محرم ته هديه کړی، نو بيا يې محرم نه سي خوړلای، ځکه چې په دې صورت کي محرم د ښکار مالک جوړيږي، او ښکار کول يا د هغه مالک جوړېدل دواړه د محرم په حق کي صحيح نه دي، ليکن که غيرِ محرم يو محرم ته ښکار نه بلکي د ښکار غوښې په هديه کي ورکړي، نو د محرم لپاره د هغه خوړل بالکل جائز دي، او دا حديث مطلب دا نه دی چې که د محرم په نيت يې ښکار وکړی، نو هغه به حلال نه وي.

أو معناه الخ دويم جواب دا دی چې د حديث مطلب دا دی: که غيرِ محرم د يو محرم په حکم او أمر سره ښکار وکړی، نو څرګنده خبره ده چې دا ښکار به د محرم وي، نو ځکه به د محرم لپاره له هغه څخه خوړل صحيح نه وي.

ثم شرط الخ د دې حاصل دا دی چې امام قدوري رَحِمَهُ الله چې په متن کي د إذا لم يدل المحرم عليه الخ په عبارت سره د ښکار د نه ورښوولو او دلالت نه کولو کوم شرط لګولی دی، له هغه څخه په ډاګه دا فهمول کيږي چې د محرم لپاره د ښکار ورښوول هم حرام دي، او د ورښوول سي ښکار غوښې خوړل هم حرام دي، ليکن په دې مسئله کي د فقهاؤ دوه

نظرونه دي، لکه صاحب د بنايې چې هم ليکلي دي چې د حُرمت نظر او روايت د امام طحاوي رَحِمَهُ الله دی، او د حلت روايت د ابو عبيد الله جرجاني دی (يعني د هغه په نېز د ور ښوول سوي ښکار غوښې خوړل محرم ته روا دي). (بنايه ج ٢، ص ٤٤٧)

د غيرِ محرم لپاره د حرم د حيوانانو د ښکارولو حکم

وَفِي صَيْدِ الْحَرَمِ إِذَا ذَبَحَهُ الْحَلَالُ او د حرم په ښکار کې چې کله يې حلال سړی ذبح کړي فَعَلَيْهِ قِيْمَتُهُ يَتَصَدَّقُ بِهَا عَلَى الْفُقَرَاءِ نو د هغه قيمت واجبېږي چې هغه به پر فقيرانو تقسيموي لِأَنَّ الصَّيْدَ اِسْتَحَقَّ الْأَمْنَ بِسَبَبِ الْحَرَمِ ځکه چې ښکار د حرم په سبب د اُمن حقداره دی قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1] فِي حَدِيْثٍ فِيْهِ طُوْلٌ: وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا نبي ﷺ په يوه اوږده حديث کې فرمايلي دي: او د حرم ښکار به نه تُرَول (بېرول) کېږي وَلَا يُجْزِئُهُ الصَّوْمُ او د هغه لپاره روژه نيول کافي نه دي لِأَنَّهَا غَرَامَةٌ ځکه چې د ښکار قيمت تاوان دی وَلَيْسَتْ بِكَفَّارَةٍ او کفاره نه ده فَأَشْبَهَ ضَمَانَ الْأَمْوَالِ نو دا د مالونو د ضمان سره مشابه سو وَهٰذَا لِأَنَّهُ يَجِبُ بِتَفْوِيْتِ وَصْفٍ فِي الْمَحَلِّ وَهُوَ الْأَمْنُ او دا (يعني د حلال سړي لپاره د روژې د نه صحيح کېدلو وجه دا ده) چې ضمان واجبېږي په محل کې د وصف يعني د امن په فوتولو سره وَالْوَاجِبُ عَلَى الْمُحْرِمِ بِطَرِيْقِ الْكَفَّارَةِ جَزَاءٌ عَلَى فِعْلِهِ او پر محرم چې د کفارې په توګه کوم څه واجب سوي دي هغه د محرم د فعل جزاء ده لِأَنَّ الْحُرْمَةَ بِاِعْتِبَارِ مَعْنًى فِيْهِ وَهُوَ إِحْرَامُهُ ځکه چې حُرمت د داسي معنیٰ په وجه دی کوم چې په محرم کې سته او هغه د ده احرام دی وَالصَّوْمُ يُصْلِحُ جَزَاءَ الْأَفْعَالِ لَا ضَمَانَ الْمَحَالِّ او روژه د افعالو جزاء جوړېدای سي (لېکن) د محل ضمان نه سي جوړېدلای وَقَالَ زُفَرُ: يُجْزِئُهُ الصَّوْمُ اِعْتِبَارًا بِمَا وَجَبَ عَلَى الْمُحْرِمِ او امام زفر فرمايي: چې د حلال لپاره (هم) روژه نيول جائز دي پر هغه شي باندي په قياسولو سره کوم چې پر محرم واجب سوي وي وَالْفَرْقُ قَدْ ذَكَرْنَاهُ او فرق موږ (اوس) ذکر کړی (چې روژه د افعالو جزاء جوړېدای سي لېکن... الخ) وَهَلْ يُجْزِئُهُ الْهَدْيُ؟ فَفِيْهِ رِوَايَتَانِ او آيا د هغه لپاره هدی ورکول کافي دي؟ نو په دې لړ کې دوه روايتونه دي.

اللغات: ﴿لا ينفّر﴾ د تفعيل نفي مجهوله صيغه ده: تُرَول، ډارول، زغلول، ﴿غرامة﴾ تاوان، جرمانه.

تشريح: مسئله: دا ده که يو غيرِ محرم يعني حلال سړی د حرم ښکار قتل کړي، نو څرنګه چې د حرم هر شی د احترام وړ او د اُمن مستحق دی، نو ځکه به د قتل په وجه پر دې سړي د مقتول حيوان قيمت واجبېږي، او دا قيمت به پر فقيرانو او مکسينانو تقسيموي، د دې حکم ښکاره دليل دا هم دی چې په يوه اوږده حديث کې د نبي ﷺ دا فرمان ذکر سوی دی: وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا، (يعني حرم دومره مقدس او سپېڅلی ځای دی چې د هغه د ښکار د بېرولو او شړلو اجازه هم هيڅچا ته نسته، د هغه وژل خو لا څه کوې!؟) لهذا که يو څوک د حرم ښکار قتل کړي، نو پر هغه به د دې ښکار ټوله قيمت واجبېږي.

ولايجزيه الصوم الخ د دې حاصل دا دی که يو غير محرم سړي د ښکار تر قتلولو وروسته د هغه د قيمت ورکولو پر ځای د محرم په ډول روژې ونيولې، نو آيا دا روژې کافي دي؟، فرمايي چې د غيرِ محرم په حق کې د ښکار په جزاء کې صرف

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب العلم، باب كتابة العلم، حديث رقم: ١١٢، و ابو داؤد في كتاب المناسک، باب تحريم مکة، حديث رقم: ٢٠١٧.

قیمت واجبیږي، او روژې کفایت نه کوي، ځکه چي قیمت اداء کول تاوان دی، کفاره نه ده. نو دا تاوان د اموالو د ضمان سره مشابه سو، لهذا څرنګه چي د مالي ضمان اداء به صرف په مال سره کیږي، او په بل شي سره به نه کیږي، همدارنګه به د دغه ښکار ضمان هم صرف په قیمت سره اداء کیږي، په بل شي سره به نه اداء کیږي.

وهذا الخ او د محرم په ښکار کي د روژې د صحیح کېدلو او د غیرِ محرم یعني د حلال سړي په ښکار کي د روژې د نه صحیح کېدلو په مینځ کي د فرق وجه دا ده چي پر محرم د خپل فعل په وجه جزاء واجبیږي (ځکه چي د هغه په حق کي د ښکار د حراموالي وجه د هغه احرام دی)، نو ځکه به د هغه لپاره روژې نیول کافي وي، او پر غیرِ محرم په دې وجه جزاء واجبیږي، چي هغه د محل یعني د حرم د ښکار صفت یعني امن او سکون فوت کړی، او روژه خو د فعل جزاء جوړېدای سي، لېکن د محل جزاء نه سي جوړېدای، نو ځکه به د محرم په حق کي روژه کافي وي، او د غیرِ محرم په حق کي به کافي نه وي.

وقال زفر الخ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي د غیرِمحرم لپاره هم روژه نیول جائز او صحیح دي، لکه څرنګه چي د محرم لپاره جائز دي، همدا د امام مالک او امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله قول دی، صاحب د هدایې فرمايي چي د محرم په ښکار او د غیرِ محرم په ښکار کي موږ د فرق وجه ذکر کړه، نو ځکه به یو پر بل قیاسول صحیح نه وي.

وهل يجزيه الهدى الخ د دې عبارت دوه مطلبه دي: [۱] یو مطلب یې دا دی چي محرم چي کومه هدی د ذبحه کولو لپاره د ځان سره مکې مکرمې ته را وستې وي، نو که هغه د ښکاره په بدله کي ذبحه کړي، کافي به وي، که نه؟ نو په دې باره کي د مشائخو دوه روایتونه دي: (۱) یو دا چي دا هدی به د ښکار په بدله کي کافي وي، (۲) او دویم دا چي کافي به نه وي، ځکه چي دا خو د حج یا د عمرې هدی ده. [۲] دویم مطلب یې دا دی چي که د حرم د ښکار په بدله کي یو څاروی ذبحه کړي نو دا به کافي وي، که نه؟، نو په دې باره کي دوه نظرونه ده: (۱) یو دا چي کافي به وي، او دویم دا چي کافي به نه وي.

له دباندي څخه حرم ته د ښکار راوړلو حکم

> وَمَنْ دَخَلَ الْحَرَمَ بِصَيْدٍ او څوک چي حرم ته ښکار راولي فَعَلَيْهِ أَنْ يُّرْسِلَهُ فِيْهِ إِذَا كَانَ فِيْ يَدِهٖ نو پر هغه واجب دي چي دا ښکار په حرم کي ایله کړي په دې شرط چي ښکار د هغه په قبضه کي وي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام شافعي فَإِنَّهٗ يَقُوْلُ: حَقُّ الشَّرْعِ لَا يَظْهَرُ فِيْ مَمْلُوْكِ الْعَبْدِ لِحَاجَةِ الْعَبْدِ ځکه هغه فرمايي: چي د بنده د حاجت په وجه به د بنده په مملوک شي کي د شریعت حق نه ښکاره کیږي وَلَنَا أَنَّهٗ لَمَّا حَصَلَ فِي الْحَرَمِ وَجَبَ تَرْكُ التَّعَرُّضِ لِحُرْمَةِ الْحَرَمِ او زموږ دلیل دا دی چي کله دا ښکار په حرم کي داخل سو نو د حرم د احترام په وجه د تعرّض (یعني د لاس وهني) پرېښوول واجب سوه إِذْ صَارَ هُوَ مِنْ صَيْدِ الْحَرَمِ ځکه چي هغه (اوس) د حرم ښکار سو فَاسْتَحَقَّ الْأَمْنَ نو د أمن حقداره به وي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چي موږ روایت کړی (یعني ولا ينفر صيدها).

اللغات: ﴿يرسل﴾ د افعال مضارع ده: پرېښوول.

تشريع: مسئله: دا ده که یو سړي د ښکار یو حیوان حرم ته را وستی، نو پر هغه واجب دي چي دا ښکار ایله کړي، ځکه چي حرم ته د داخلېدلو په وجه هغه ښکار په أمن سو، او د حرم د احترام په خاطر نه پر هغه تعرض کول جائز دي، او نه د

هغه امن فوتول صحيح دي، لکه دا حديث چي په دې باره کي ګواه دی: ولا ينفر صيدها. لهذا پر مالک به د هغه ايله کول، او له بند څخه آزادول ضروري وي.

د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا ښکار ايله کول او آزادول واجب نه دي، د هغه دليل دا دی چي حرم ته د تللو په وجه د ښکار ايله کول د شريعت حق دي، او هغه خپل په قبضه کي ساتل د بنده حق دي، او بنده خپل حق ته محتاجه دی (يعني حاجت ور ته لري)، خو شريعت هغه ته هيڅ حاجت نه لري، نو ځکه به د بنده حق د شريعت پر حق مخکي وي، او د ښکار ايله کول به صحيح نه وي. (د احنافو دليل د مسئلې په اول کي بيان سو).

د ښکار د خرڅولو حکم

فَإِنْ بَاعَهُ رُدَّ الْبَيْعَ فِيْهِ بيا که هغه سړی ښکار خرڅ کړي نو د ښکار په حق کي به بيع رد کيږي إِنْ كَانَ قَائِمًا په دې شرط چي ښکار موجود وي لِأَنَّ الْبَيْعَ لَمْ يَجُزْ لِمَا فِيْهِ مِنَ التَّعَرُّضِ لِلصَّيْدِ ځکه بيع جائز نه ده ځکه چي په بيع کي په ښکار لاس وهل (او کار لرل) دي وَذٰلِكَ حَرَامٌ او دا حرام دي وَإِنْ كَانَ فَائِتًا فَعَلَيْهِ الْجَزَاءُ او که ښکار موجود نه وي نو پر بائع جزاء واجبيږي لِأَنَّهُ تَعَرَّضَ لِلصَّيْدِ ځکه چي هغه په ښکار لاس ووهی بِتَفْوِيْتِ الْأَمْنِ الَّذِيْ اِسْتَحَقَّهُ د هغه امن په فوتولو سره چي د هغه ښکار مستحق وو وَكَذٰلِكَ بَيْعُ الْمُحْرِمِ الصَّيْدَ مِنْ مُحْرِمٍ أَوْ حَلَالٍ او همدارنګه د محرم لپاره پر بل محرم يا حلال سړي ښکار خرڅول دي (يعني په هغه کي به هم بيع رد کيږي يا به جزاء واجبيږي) لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو حلال سړي حرم ته د ښکار يو حيوان را وستی، او هلته يې خرڅ کړی، نو دا بيع به رد کيږي، په دې شرط چي هغه ښکار موجود وي، ځکه چي دا بيع ناجائزه ده، او ناجائزه ځکه ده چي په دې کي پر ښکار تعرض کول او لاس وهل راځي، او په ښکار باندي په حرم کي دننه تعرض کول حرام دي، نو کله چي دا بيع ناجائزه سوه، نو ځکه به يې رد کول واجب وي. او که هغه ښکار موجود نه وي (بلکي نوت سي)، نو پر بائع به د هغه جزاء واجبيږي، ځکه ښکار چي د کوم امن مستحق وو، دغه سړي په بيع سره د هغه امن ضايع کړی (او پر هغه يې تعرض وکړی).

وكذلك الخ فرمايي چي همدارنګه که يو محرم د ښکار حيوان پر بل محرم يا غيرِ محرم خرڅ کړی، او هغه ښکار موجود وو، نو بيع به رد کيږي، او که موجود نه وو، نو د هغه قيمت به واجبيږي.

لما قلنا د هغه دليل په وجه کوم چي اوس دوې ليکي مخکي تېر سو.

که د محرم سره په قفس (کېس) کي يا په کور کي ښکار وي نو د هغه حکم

وَمَنْ أَحْرَمَ وَفِيْ بَيْتِهِ أَوْ فِيْ قَفَصٍ مَعَهُ صَيْدٌ او څوک چي په داسي حال کي احرام وتړي چي د هغه سره په کور کي يا په کېس کي ښکار وي فَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُرْسِلَهُ نو پر هغه د دې پرېښوول (ايله کول) واجب نه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَجِبُ عَلَيْهِ أَنْ يُرْسِلَهُ او امام شافعي فرمايي: چي پر هغه د دې پرېښوول واجب دي لِأَنَّهُ مُتَعَرِّضٌ لِلصَّيْدِ بِإِمْسَاكِهِ فِيْ مِلْكِهِ ځکه چي هغه پر ښکار تعرض کونکی دی په خپل قبضه کي د هغه د نيولو په وجه فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ فِيْ يَدِهٖ

نو داسي سو لکه د هغه په لاس کي چي ښکار وي وَلَنَا أَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كَانُوا يُحْرِمُونَ وَفِي بُيُوتِهِمْ صُيُودٌ وَدَوَاجِنُ او زموږ دلیل دا دی چي صحابه وو به په داسي حال کي احرامونه تړل چي د هغوی په کورو کي به د ښکار حیوانان او د واجن ول (له دواجن څخه مراد څنګلي پالل سوي حیوانان دي) وَلَمْ يُنْقَلْ عَنْهُمْ إِرْسَالُهَا او له صحابه وو څخه د هغو پرېښوول نه دي رانقل سوي وَبِذٰلِكَ جَرَتِ الْعَادَةُ الْفَاشِيَةُ او په کورو کي د هغو پر ساتلو عام(او مشهور) عادت جاري وو وَهِيَ مِنْ إِحْدَى الْحُجَجِ او عام عادت(هم) له دلیلونو څخه یو دلیل دی وَلِأَنَّ الْوَاجِبَ تَرْكُ التَّعَرُّضِ او څکه چي واجب تعرض پرېښوول دي وَهُوَ لَيْسَ بِمُتَعَرِّضٍ مِنْ جِهَتِهِ حال دا چي محرم له خپل طرفه تعرض کونکی نه دی لِأَنَّهُ مَحْفُوظٌ بِالْبَيْتِ وَالْقَفَصِ څکه چي ښکار په کور یا کپس کي خوندي دی لَا بِهِ نه په محرم سره (یعني محرم خود خپل ځان سره خوندي کړی نه دي) غَيْرَ أَنَّهُ فِي مِلْكِهِ (او) دا بېله خبره ده چي ښکار د هغه په ملکیت کي دی وَلَوْ أَرْسَلَهُ فِي مَفَازَةٍ فَهُوَ عَلَى مِلْكِهِ او(مثلاً) که محرم په یوه دښت(او ځنګله) کي ښکار ایله کړي نو بیا به (هم) هغه د ده په ملکیت کي وي فَلَا مُعْتَبَرَ بِبَقَاءِ الْمِلْكِ نو د ملکیت د پاته کېدلو هیڅ اعتبار نسته وَقِيلَ: إِذَا كَانَ الْقَفَصُ فِي يَدِهِ لَزِمَهُ إِرْسَالُهُ او ویل سوي دي: که کپس د هغه په لاس کي وي نو پر هغه د ښکار پرېښوول ضروري دي لٰكِنْ عَلَى وَجْهٍ لَا يَضِيعُ خو په داسي توګه چي ښکار ضایع نه سي.

اللغات: ﴿قفص﴾ کپس، ﴿دواجن﴾ په کور کي پالل سوي ځنګلي او دښتي حیوانان، ﴿فاشیة﴾ عام، مشهور.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي په داسي حالت کي احرام وتړی چي په کپس کي ښکار ور سره وو، یا د هغه په کور کي ښکار وو، نو پر هغه د ښکار پرېښوول واجب نه دي، امام شافعي فرمایي چي پر هغه د ښکار پرېښوول واجب دي، همدا قول د امام مالک دی.

د امام شافعي دلیل: دا دی چي په خپل ملکیت او قبضه کي د ښکار په ساتلو سره محرم تعرض کونکی سو، او داسي سو لکه ښکار چي یې په خپل لاس کي نیولی وي، او د محرم لپاره پر ښکار تعرض کول حرام دي، نو څکه به د هغه پرېښوول واجب وي.

زموږ دلیل: دا دی چي صحابه وو به په داسي حالت کي احرامونه تړل چي د هغوی په کورونو کي به د ښکار حیوانان، مارغان او دواجن هم ول، او له هغو څخه تر احرام تړلو وروسته د هغو ایله کول او پرېښوول رانقل سوي نه دي، بلکي په شهرت سره د نه پرېښوولو عادت را نقل سوی دی، او عادت هم له شرعي دلائلو څخه یو دلیل دی، نو څکه به د دې شیانو پرېښوول واجب نه وي.

ولأن الواجب الخ دویم دلیل دا دی چي پر محرم واجب دا دي چي پر ښکار به تعرض نه کوي(یعني لاس به نه په وهي)، او دلته محرم له خپل طرف څخه پر ښکار بالکل هیڅ تعرض کړی نه دي، څکه چي د هغه سره خو ښکار په کور یا کپس کي خوندي دی، او په لاس کي یې نه دی، هو! دا جلا خبره ده چي د هغه په ملکیت کي دی، نو که محرم دا ښکار په دښت او صحراء کي پرېږدي ([یعني ایله یې کړي] نو اوس که څه هم هغه متعرض نه دی)، لېکن بیا هم ښکار د هغه په ملکیت کي شمارل کېږي، نو معلومه سوه چي د ملکیت پاتېدل معتبر نه دي، او معلومه سوه چي د ملکیت سره سره

تعرض هم نه راځي، نو ځکه به د ښکار ايله کول پر هغه واجب نه وي. بس! هغه به فقط ښکار د خپل ځان سره نه ساتي، او نه به لاس ور وړي، چي تعرض ثابت نه سي.

وقيل إذا كان الخ ځيني حضراتو ويلي دي چي که کپس د محرم په لاس کي وي، نو د ښکار ايله کول او پرېښوول واجب دي، خو پر داسي طريقه به يې پرېږدي چي هغه ضايع او هلاک نه سي، ځکه چي د مال بربادول حرام دي، نو ځکه به يې په يو خوندي ځای کي يا په خپل کور کي پرېږدي.

که څوک د حلال سړي ښکار ايله کړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: فَإِنْ أَصَابَ حَلَالٌ صَيْدًا فرمايي: که حلال سړی يو ښکار حاصل کړي ثُمَّ أَحْرَمَ بيا احرام وتړي (يعني محرم سي) فَأَرْسَلَهُ مِنْ يَدِهِ غَيْرُهُ بيا د هغه د لاس څخه يو بل څوک دا ښکار ايله کړي يَضْمَنُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (نو) د امام صاحب په نېز به دا سړی (د تاوان) ضامن کېږي وَقَالَا: لَا يَضْمَنُ او صاحبين فرمايي: چي نه به ضامن کېږي لِأَنَّ الْمُرْسِلَ آمِرٌ بِالْمَعْرُوفِ نَاهٍ عَنِ الْمُنْكَرِ ځکه چي ايله کونکی د ښه کار حکم کونکی او له بدو څخه منع کونکی دی وَمَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ[التوبة: ۹۱] او پر ښکي کونکو هيڅ نيوکه نسته (يعني پر نيکي کونکو هيڅ ضمان نسته ځکه چي هغوی د الله ﷻ د رضا لپاره يو کار کوي) وَلَهُ أَنَّهُ مَلَكَ الصَّيْدَ بِالْأَخْذِ مِلْكًا مُحْتَرَمًا او د امام صاحب دليل دا دی چي محرم په نيولو سره د ملکِ محترم په توګه د ښکار مالک سو فَلَا يَبْطُلُ احْتِرَامُهُ بِإِحْرَامِهِ نو د احرام د تړلو په وجه به د هغه محترم ملک نه باطلېږي وَقَدْ أَتْلَفَهُ الْمُرْسِلُ او ايله کونکي دا ملکِ محترم ضايع کړی فَيَضْمَنُهُ نو ځکه به هغه ضمان ورکوي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَخَذَهُ فِي حَالَةِ الْإِحْرَامِ لِأَنَّهُ لَمْ يَمْلِكْهُ په خلاف د هغه صورت چي کله يې د احرام په حالت کي ښکار نيولی وي ځکه (په دې صورت کي) محرم (ګرځسره) د ښکار مالک نه جوړېږي وَالْوَاجِبُ عَلَيْهِ تَرْكُ التَّعَرُّضِ او پر هغه حلال سړي (کوم چي وروسته محرم سو) د تعرض پرېښوول واجب وو وَيُمْكِنُهُ ذَلِكَ او دا د هغه لپاره ممکن (هم) وو بِأَنْ يُخَلِّيَهُ فِي بَيْتِهِ په دې توګه چي ښکار يې په خپل کور کي پرېږ ايښي وای فَإِذَا قَطَعَ يَدَهُ عَنْهُ (لېکن) کله چي ايله کونکي د محرم قبضه له ښکار څخه ختمه کړه كَانَ مُتَعَدِّيًا نو هغه تعدیٰ کونکي سو (لهذا ضمان به پر هغه واجب وي) وَنَظِيرُهُ الْاِخْتِلَافُ فِي كَسْرِ الْمَعَازِفِ او د دې مثال هغه اختلاف دی کوم چي د لوبي او بازۍ د شيانو په ماتولو کي دی.

اللغات: ﴿أرسل﴾ د افعال ماضي ده: پرېښوول، ايله کول (خوشي کول)، ﴿يخلي﴾ د تفعيل مضارع ده: پرېښوول، ﴿متعدي﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: تجاوز او زياتي کونکی، ﴿معازف﴾ د عيش و عشرت او بازۍ سامان.

● القول الراجح: قول الصاحبين، كذا في رد المحتار ج:۲، ص: ۲۴۱. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۳۵]

تشریح؛ صورت د مسئلې: دا دی که یو غیرِ محرم ښکار ونیوی، او تر هغه وروسته یې احرام وتړی او محرم سو، بیا یو بل سړي د هغه د لاس څخه ښکار ایله کړی، نو د امام صاحب په نېز دا دویم سړی ضامن کیږي، او د صاحبینو په نېز نه ضامن کیږي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې دا ایله کونکی د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر کونکی دی، هغه په دې توګه چې د احرام تر تړلو وروسته ښکار نیول جرم دي، او شرعاً قبیح دي، او دې سړي د محرم د لاس څخه ښکار ایله کړی، نو امر بالمعروف او نهی عن المنکر یې وکړی، او په شریعت کي پر نیکي کونکو هیڅ نیوکړه نسته، نو پر هغه به هم هیڅ نیوکړه او ضمان نه وي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې کله دې سړي ښکار ونیوی، هغه حلال وو(او د حلال والي په وخت کي چې کوم ملک حاصل سي، هغه ته ملک محترم وایي) لهذا پر ښکار د هغه ملکِ محترم واقع سو، او احرام د هغه ملکِ محترم نه سي باطلوای، ځکه چې بالاتفاق اوس هم د هغه ملک هغسې پاته دی، لېکن د هغه ملکِ محترم ایله کونکي سړي د ښکار په ایله کولو سره ضایع کړی، او ملکیت په هلاکولو او ضایع کولو سره ضمان واجبیږي، نو ځکه به پر ایله کونکي ضمان واجب وي، په خلاف د هغه صورت چې کله یې د احرام په حالت کي نیولی نه وي، ځکه چې د احرام په حالت کي د ښکار په نیولو سره هغه د ښکار نه مالک کیږي، او کله چې نه مالک کیږي، نو ایله کونکي به هم نه ضامن کیږي، ځکه چې هغه ملکیت ضایع نه کړی.

والواجب علیه ترک الخ له دې ځایه د یو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چې موږ دا منو چې کله هغه د حلالوالي په حالت کي ښکار ونیوی، نو د ښکار مالک سو، لېکن تر احرام تړلو وروسته د تعرض په وجه د هغه لپاره ضروري وه چې ښکار یې ایله کړی وای او له خپل ملک څخه یې ایستلی وای، حال دا چې هغه له خپل ملک څخه نه وېستی، بلکې بل سړي ایله کړی او د هغه له ملک څخه یې وېستی، لهذا پر دې ایله کونکي سړي ضمان واجبېدل پکار نه دي، ځکه کوم کار چې محرم ته کول پکار وو، هغه کار ده وکړی، جواب دا دی چې پر محرم د ښکار تعرض پرېښوول واجب وو، او له خپل ملک څخه یې ایستل واجب نه وو، او د تعرض پرېښوول په هغه وخت کي هم ممکن وو چې ښکار د محرم په ملک کي پاته وای، په دې توګه چې محرم دا ښکار په خپل کور کي یا په یو بل خوندي ځای کي پرې ایښی وای، نو په دې صورت کي به تعرض هم نه راتلی، او د محرم ملک به هم پاته وای، خو کله چې دویم سړي د محرم ملک او قبضه له ښکار څخه ختمه کړه، نو دا ایله کونکی تعدیٰ کونکي سو، او پر تعدیٰ کونکي ضمان واجبیږي، نو ځکه به پر هغه هم ضمان واجب وي.

ونظیره الخ فرمایي چې د امام صاحب او د صاحبینو د دې اختلاف مثال داسي دی لکه د معازفو د ماتولو اختلاف چې دی، مثلاً که یو سړي د بل چا د لهو ولعب شیان مات کړل، نو د امام صاحب په نېز پر هغه ضمان واجبیږي، لېکن د صاحبینو په نېز نه واجبیږي، ځکه چې هغه ناهي عن المنکر دی، او د نبي ﷺ په دې فرمان عمل کونکی دی: من رأی منکم منکرا فلیغیره بیده.

که څوک د محرم ښکار ايله کړي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا أَصَابَ مُحْرِمٌ صَيْدًا او که محرم ښکار ونيوی فَأَرْسَلَهُ مِنْ يَدِهِ غَيْرُهُ او د هغه د لاس څخه بل سړي ايله کړی لَا ضَمَانَ عَلَيْهِ بِالِاتِّفَاقِ نو بالاتفاق پر هغه ضمان نسته لِأَنَّهُ لَمْ يَمْلِكْهُ بِالْأَخْذِ ځکه محرم په نيولو سره د ښکار مالک نه سو فَإِنَّ الصَّيْدَ لَمْ يَبْقَ مَحَلًّا لِلتَّمَلُّكِ فِي حَقِّ الْمُحْرِمِ ځکه چي ښکار د محرم په حق کي د ملک جوړېدلو محل پاته نه سو لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا [المائدة: ٩٦] ځکه د الله ﷻ فرمان دی: "او تر څو چي تاسو په احرام کي اوسئ تر هغه وخته پر تاسو د وچي ښکار حرام سوی دی" فَصَارَ كَمَا إِذَا اشْتَرَى الْخَمْرَ نو داسي سو لکه مسلمان چي شراب رانيسي.

اللغات: ﴿تملك﴾ د تفعّل مصدر دی: مالک جوړېدل. ﴿خمر﴾ شراب.

تشريح: مسئله: دا ده که يو محرم ښکار ونيوی، او بل سړي دا ښکار ايله کړی، نو د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نيز پر هغه ضمان نه واجبيږي، ځکه محرم په نيولو سره د هغه مالک نه سو، ځکه چي د محرم په حق کي يو ښکار هم په ملک کي د راتللو محل نه دی، يعني پر يوه ښکار هم د محرم ملکيت نه سي ثابتېدلای او نه يې هغه مالک جوړېدلای سي، ځکه الهي فرمان دی: حرم عليكم صيد البر ما دمتم حرمًا، نو دا مسئله داسي سوه لکه يو مسلمان چي شراب رانيسي، او بل سړی يې چپه کړي، نو بالاتفاق پر چپه کونکي سړي تاوان او ضمان نه واجبيږي، ځکه چي شراب حرام دي، او مسلمان د هغه مالک نه سي جوړېدلای.

که د محرم په لاس کي ښکار يو بل محرم قتل کړي نو څه حکم دی؟

فَإِنْ قَتَلَهُ مُحْرِمٌ آخَرُ فِي يَدِهِ بيا که د محرم په لاس کي يو بل محرم ښکار قتل کړي فَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا جَزَاؤُهُ نو په دوی کي پر هر يوه جزاء واجب ده لِأَنَّ الْآخِذَ مُتَعَرِّضٌ لِلصَّيْدِ بِإِزَالَةِ الْأَمْنِ ځکه چي نيونکی پر ښکار تعرض کونکی دی د ښکار د امن په ختمولو سره وَالْقَاتِلُ مُقَرِّرٌ لِذَلِكَ او محرم قاتل د دې ثابتونکی دی وَالتَّقْرِيرُ كَالِابْتِدَاءِ فِي حَقِّ التَّضْمِينِ او ثابتول د ابتداء په څير دي د ضمان د واجبېدلو په حق کي كَشُهُودِ الطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُولِ إِذَا رَجَعُوا لکه تر دخول مخکي چي کله د طلاق ګواهان رجوع وکړي وَيَرْجِعُ الْآخِذُ عَلَى الْقَاتِلِ او د ښکار نيونکی به پر قتل کونکي رجوع کوي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَرْجِعُ او امام زفر فرمايي: چي رجوع به نه کوي لِأَنَّ الْآخِذَ مُؤَاخَذٌ بِصُنْعِهِ ځکه نيونکی به د خپل فعل په وجه سره مأخوذ وي فَلَا يَرْجِعُ عَلَى غَيْرِهِ نو ځکه به پر بل رجوع نه کوي وَلَنَا أَنَّ الْأَخْذَ إِنَّمَا يَصِيرُ سَبَبًا لِلضَّمَانِ عِنْدَ اتِّصَالِ الْهَلَاكِ بِهِ او زموږ دليل دا دی چي نيول د ضمان سبب هغه وخت جوړيږي چي کله هغه سره هلاکت متصل سي فَهُوَ بِالْقَتْلِ جَعَلَ فِعْلَ الْآخِذِ عِلَّةً نو قاتل د قتل په وجه سره د نيونکی فعل علت وګرځوی فَيَكُونُ فِي مَعْنَى مُبَاشَرَةِ عِلَّةِ الْعِلَّةِ نو دا به د علت د علت د ارتکاب کولو په معنیٰ کي وي (يعني دا به داسي دي لکه يو څوک چي د يوه علت لپاره د بل علت مرتکب سي) فَيُحَالُ بِالضَّمَانِ عَلَيْهِ نو ځکه به ضمان پر قاتل ور اړول کيږي.

اللغات: ﴿مقرر﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: ثابتونکی، پوره کونکی.

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی که یو محرم ښکار ونیوی، او تر نیولو وروسته یې په قبضه کې وساتی، لیکن یو بل محرم د هغه په قبضه کې هغه قتل کړی، نو په دې صورت چې کوم چا مخکې ښکار نیولی وو، پر هغه پوره جزاء واجب ده، او چا چې قتل کړی پر هغه هم پوره جزاء واجب ده. دلیل دا دی چې ښکار نیونکي محرم پر ښکار په دې توګه تعرض وکړی چې د هغه امن یې زائل کړی، او تعرض د احرام له ممنوعاتو څخه دی چې ارتکاب یې جزاء واجبوي، نو د تعرض په وجه به پر نیونکي محرم جزاء واجب وي، او د ښکار قتل کونکي محرم دا تعرض مستحکم کړی، ځکه که هغه ښکار قتل کړی نه وای نو ممکنه وه چې دې محرم به د ښکار په ایله کولو سره تعرض ختم کړي وای، لیکن د بل محرم د قتل په وجه دا امکان ختم سو، او تعرض متقرّر او ثابت سو، او د ضمان د وجوب په حق کې تقرر او ثبوت هم د ابتداء په څېر دي، یعني د ښکار قتلول هم د تعرض کولو په څېر دي، او څرنګه چې په تعرض کولو سره جزاء واجبیږي، نو د قتلولو په وجه به هم جزاء واجبیږي.

كشهود الطلاق الخ د پورتنی مسئلې یو مثال دا دی چې مثلاً فاطمې دا دعوی وکړه: "چې زما خاوند تر دخول وروسته ما ته طلاق راکړی دی، نو ځکه دې ماته پوره مهر راکول سي"، لیکن د فاطمې خاوند له دخول څخه انکار وکړی، او دوو ګواهانو د خاوند په حق کې ګواهي ورکړه یعني دا چې خاوند تر دخول مخکې طلاق ورکړی دی، نو فاطمې ته پوره مهر نه ورکول سو، وروسته ګواهانو له خپلې ګواهی څخه رَجوع وکړه، نو هغوی چې په خپله ګواهي سره فاطمې ته کوم تاوان ور رسولی وي، د هغه به ضامن وي، نو که څه هم د هغو ظلم کول د خاوند تر انکار وروسته دي، لیکن د هغو په ضامن کېدلو کې ګواکې ابتداءً ظلم دی، همداسې به قتل کونکی محرم ګواکې د ابتدائي ظلم په وجه ضامن وي.

ويرجع الأخذ الخ فرمایي: ښکار نیونکی محرم چې کوم ضمان اداء کړي، هغه به له قتل کونکي څخه واپس اخلي، او امام زفر فرمایي چې نه به یې اخلي، همدا د صاحبینو قول دی، د امام زفر دلیل دا دی چې ښکار نیونکی به د خپل حرکت یعني د تعرض په وجه مأخوذ وي (یعني پر ښکار نیونکي چې کوم ضمان واجب سوی دی هغه د خپل حرکت او فعل یعني د نیولو په وجه واجب سوی دی)، او په دې کې د قاتل هیڅ لاس نسته، نو ځکه به له قاتل څخه هغه واپس نه اخلي، او زموږ دلیل دا دی چې نیونکي فقط ښکار نیولی دی، او فقط ښکار نیول جزاء نه واجبوي، بلکې د هغه قتلول او له منځه وړل جزاء واجبوي، او هغه کار خو قاتل وکړی چې ښکار یې قتل کړی، نو ځکه اصل مجرم قاتل سو، ځکه چې ډېره ممکنه وه چې نیونکي به ښکار ایله کړی وای، لیکن قاتل د هغه کار تمام کړی، د خپل ځان او د نیونکي تعرض یې مستحکم کړی، نو قاتل د قتل په وجه د نیونکي فعل علت یعني د قتل واسطه او ذریعه جوړ کړی، خو اصل قتل یې په خپله وکړی، نو ګواکې قاتل د علتُ العلت مرتکب سو، نو ځکه به د نیونکي ضمان او تاوان هم قاتل ورکوي.

د حرم د بوټو او د درختو د پرېکولو حکم

فَإِنْ قَطَعَ حَشِيشَ الْحَرَمِ او که یو شوک د حرم وابنه پرېکړي أَوْ شَجَرَةً لَيْسَتْ بِمَمْلُوكَةٍ یا داسې درخته پرېکړي چې د یو چا په ملک کې نه وي وَهُوَ مِمَّا لَا يُنْبِتُهُ النَّاسُ او هغه (وابنه یا درخته) له داسې قسم څخه وي چې خلک یې نه راشنه کوي (بلکې په خپله راشنه کیږي) فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ إِلَّا فِيمَا جَفَّ مِنْهُ نو پر پرېکونکي د هغه قیمت واجب دی ماسوا له وچو وبنو څخه لِأَنَّ حُرْمَتَهُمَا ثَبَتَتْ بِسَبَبِ الْحَرَمِ ځکه چې د وبنو او د درختې حرمت د حرم په سبب ثابت دی قَالَ

عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● : لَا يُخْتَلَى خَلَاهَا وَلَا يُعْضَدُ شَوْكُهَا نبي ﷺ فرمايلي دي، "د حرم شنه واښه به نه پرېکول کيږي او نه به د هغه څوزان (ازغيان) ماتول کيږي" وَلَا يَكُونُ لِلصَّوْمِ فِي هٰذِهِ الْقِيْمَةِ مَدْخَلٌ او روژې ته به په دې قيمت کې هيڅ دخل نه وي لِأَنَّ حُرْمَةَ تَنَاوُلِهَا بِسَبَبِ الْحَرَمِ لَا بِسَبَبِ الْإِحْرَامِ ځکه چې د هغو د حاصلولو (يعني د پرېکولو) حُرمت د حرم په وجه دی نه د احرام په وجه فَكَانَ مِنْ ضَمَانِ الْمَحَالِّ نو دا به د محل د ضمان له قبيلې څخه وي عَلَىٰ مَا بَيَّنَّا لکه مخکې چې موږ بيان کړه (يعني: والصوم يصلح جزاء الأفعال لا ضمان المحال) وَيَتَصَدَّقُ بِقِيْمَتِهِ عَلَى الْفُقَرَاءِ او پرېکونکي به د هغو قيمت پر فقيرانو صدقه کړي وَإِذَا أَدَّاهَا مَلَكَهُ او کله چې د هغو قيمت اداء کړي نو د هغو مالک سو كَمَا فِي حُقُوْقِ الْعِبَادِ لکه څرنګه چې په حقوقُ العباد کې دي.

اللغات: ﴿حشيش﴾ واښه، ﴿جف﴾ ماضي ده: وچېدل، ﴿لا يختلي﴾ د افتعال نفي مضارع مجهوله ده: واښه پرېکول، ﴿خلا﴾ واښه، ﴿يعضد﴾ مضارع مجهوله ده: پرېکول، شکول، ماتول، ﴿شوك﴾ څوز (ازغی).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د حرم هر شی محترم او د امن مستحق دی تر دې چې د هغه ځای درختي، واښه او ازغي هم د امن مستحق دي، او څوک چې د حرم واښه، درختي يا ازغي پرېکړي، نو د تاوان په توګه به د هغه قيمت ورکول پر ده واجب وي، ځکه چې د حرم د احترام په وجه دا ټوله شيان مأمون او محفوظ دي، او د پرېکولو يا ماتولو اجازه يې نسته، په خپله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: لا يختلى خلاها ولا يعضد شوكها، او څرنګه چې دا شيان د حرم په وجه د امن مستحق دي، نو ځکه صاحب د کتاب فرمايي چې د دې د پرېکولو او شکولو په صورت کې به قيمت ورکول کيږي، په روژو سره کار نه کيږي، ځکه چې د دې شيانو تعلق د محل يعني د حرم سره دی، او مخکې تلسو ووېل چې روژه د افعالو جزاء جوړېدای سي، لېکن د محل جزاء نه سي جوړېدلای.

ويتصدق الخ فرمايي: کوم قيمت چې د پرېکولو په وجه پر هغه واجب سو، هغه دي پر فقيرانو صدقه کړي، او کله چې يې قيمت صدقه کړی، نو هغه د دې درختو يا ونو مالک سو، لکه څرنګه چې په حقوق العباد کې دي، مثلاً زيد د عمر يو شی غصب کړی، او قاضي زيد ته د هغه د قيمت د ورکولو حکم وکړی، او زيد قيمت اداء کړی يعني عمر ته يې ورکړی، نو زيد د هغه شي مالک سو.

د بوټو او د درختو تر پرېکولو وروسته د خرڅولو حکم

وَيُكْرَهُ بَيْعُهُ بَعْدَ الْقَطْعِ او تر پرېکولو وروسته د هغو خرڅول مکروه دي لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِسَبَبٍ مَحْظُوْرٍ شَرْعًا ځکه چې هغه په داسي سبب سره د هغو مالک سو چې په شريعت کې له هغه څخه منع سوې ده فَلَوْ أُطْلِقَ لَهُ فِيْ بَيْعِهِ لَتَطَرَّقَ النَّاسُ إِلَىٰ مِثْلِهِ خو که هغه ته د هغو د خرڅلاو اجازه ورکول سي نو خلک به د دا ډول کارونو لپاره لاره هواره کړي إِلَّا أَنَّهُ يَجُوْزُ الْبَيْعُ مَعَ الْكَرَاهَةِ خو په کراهت سره يې خرڅلاو جائز دی بِخِلَافِ الصَّيْدِ په خلاف د ښکار وَالْفَرْقُ مَا نَذْكُرُهُ او فرق هغه دی چې موږ به يې (وروسته) ذکر کړو.

● تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب المناسك، باب تحريم مكة، حديث رقم: ۲۰۱۷.

اللغات: ﴿محظور﴾ ممنوع، ﴿اطلق﴾ د افعال ماضي مجهوله ده: مطلق کېدل (دلته يې معنیٰ د اجازې او رخصت ورکولو ده)، ﴿تطرق﴾ د تفعّل ماضي ده: لاره پيدا کول. (لاره هوارول).

تشريح: مسئله: دا ده چې د حرم وابنه يا درختې پرېکول او خرڅول مکروه دي، ځکه چې په دې کې سرې په داسې سبب سره د دې شيانو مالک کيږي، کوم چې شرعاً ممنوع دي، نو اوس که د خرڅولو عامه اجازه ورکول سي، نو خلک به له دې څخه کاروبار جوړ کړي، او عام خلک به په دې کې مبتلا سي، خو که هغه يې بيا هم خرڅ کړي، نو مع الکراهت دا بيع جائز ده، د دې په خلاف د ښکار مسئله ده، نو مع الکراهت هم د هغه بيع جائز نه ده، صاحب د کتاب فرمايي چې د ښکار او د وښو په مينځ کې چې کوم فرق دی، هغه به موږ وروسته بيان کړو. (څه انتظار وکړئ!)

د خلکو د راشنه سوو وښو او درختو حکم

وَالَّذِيْ يُنْبِتُهُ النَّاسُ عَادَةً او هغه وابنه او درختې چې په عامه توګه يې خلک راشنه کوي (کري) عَرَفْنَاهُ غَيْرَ مُسْتَحِقٍّ لِلْأَمْنِ بِالْإِجْمَاعِ (نو) د هغو د امن نه مستحق کېدل موږ په اجماع سره پېژندلي دي وَلِأَنَّ الْمُحَرَّمَ الْمَنْسُوْبُ إِلَى الْحَرَمِ او ځکه چې حرام (خو) هغه شی دی چې د حرم و طرف ته منسوب وي وَالنِّسْبَةُ إِلَيْهِ عَلَى الْكَمَالِ عِنْدَ عَدَمِ النِّسْبَةِ إِلَى غَيْرِهِ بِالْإِنْبَاتِ او د حرم و طرف ته به په پوره نسبت هغه وخت وي چې کله د راشنه کولو نسبت د بل چا و طرف ته نه وسي وَمَا لَا يَنْبُتُ عَادَةً إِذَا أَنْبَتَهُ إِنْسَانٌ او کوم وابنه او درختې چې په عامه توګه نه راشنه کيږي که يو انسان هغه راشنه کړي اِلْتَحَقَ بِمَا يَنْبُتُ عَادَةً نو هغه به د داسې وښو او درختو سره لاحق کيږي چې عادةً راشنه کيږي (يعني چې انسان يې راشنه کوي).

اللغات: ﴿ينبت﴾ د نصر مضارع ده: راشنه کېدل، ﴿عادة﴾ د عادت په توګه، په عامه توګه، ﴿إنبات﴾ د افعال مصدر دی: راشنه کول.

تشريح: مسئله: دا ده کوم وابنه او درختې چې عادتاً راشنه کيږي او کرل کيږي، هغه د امن حقدار نه دي دا حکم په اجماع سره ثابت دی، ځکه چې له نبوي زمانې څخه تر اوسنۍ زمانې پورې خلک د حرم په محکه کې کښتونه کړي، بيا يې ريبي، او پر دې تر اوسه هيڅ انکار کړی نه دی، له دې څخه معلوميږي چې کوم شيان خلک کري، هغه به د امن حقداره نه وي، دويم دليل دا دی چې د هغو وښو او درختو پرېکول حرام دي کوم چې د حرم وطرف ته منسوب وي، او د حرم و طرف ته پوره نسبت هغه وخت کيږي چې د راشنه کولو او کرلو نسبت د بل چا و طرف ته نه وسي.

ومالاينبت الخ فرمايي: کوم وابنه او درختې چې عادةً نه راشنه کيږي، که يو انسان هغه وکري او راشنه يې کړي، نو هغه هم د عادتاً راشنه کېدنکو شيانو په لړليک کې داخليږي، او د هغو په پرېکولو سره به هم ضمان او قيمت نه واجبيږي.

که يوه درخته په خپله د يو چا په ملک کې راشنه سي نو د هغه حکم

وَلَوْ نَبَتَ بِنَفْسِهِ فِيْ مِلْكِ رَجُلٍ او که يوه درخته په خپله د يو سړي په ملک کې راشنه سي فَعَلَى قَاطِعِهِ قِيْمَتَانِ: قِيْمَةٌ لِحُرْمَةِ الْحَرَمِ حَقًّا لِلشَّرْعِ نو د هغه پر پرېکونکي دوه قيمتونه واجبيږي: يو قيمت خو د حرم د حُرمت لپاره د شريعت د حق په وجه واجبيږي وَقِيْمَةٌ أُخْرَى ضَمَانًا لِمَالِكِهِ او دويم قيمت د هغې د مالک لپاره د تاوان په توګه

واجبيږي كَالصَّيْدِ الْمَمْلُوْكِ فِي الْحَرَمِ لکه په حرم کي چي دننه د مملوک ښکار (هم دغه حکم دی) وَمَا جَفَّ مِنْ شَجَرِ الْحَرَمِ لَا ضَمَانَ فِيْهِ او د حرم کومه درخته چي وچه سي په هغه کي ضمان نسته لِأَنَّهُ لَيْسَ بِنَامٍ ځکه چي هغه وده کونکې نه ده.

اللغات: ﴿نامٍ﴾ اسم فاعل دی: وده کونکی، غټېدونکی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يوه داسي درخته کوم چي عادةً نه راشنه کيږي د يو چا په مملوکه ځمکه کي راشنه سوه، او بل سړي دا پرېکړه، نو پر قاطع دوه قيمتونه واجبيږي، يو د حقُ الشرع يعني د حرم د احترام د نه کولو په وجه، او دويم د حقُ العبد يعني د چا په ځمکه کي چي دا درخته راشنه سوې وي د هغه د حق د ضايع کولو په وجه. دا مسئله داسي ده لکه په حرم کي چي يو ښکار د يو چا مملوک وي، نو که يو سړی هغه قتل کړي، نو پر قاتل دوه قيمتونه واجبيږي، يو د شريعت د حق لپاره او دويم د بنده د حق لپاره.

وما جف الخ فرمايي د حرم هغه درختي يا وابنه چي وچ سوي وي، د هغو پرېکول ضمان نه واجبوي، ځکه چي د ضمان تعلق د وده کونکي او نامي شي سره دی، او وچ سوي وابنه يا درختي هيڅ وده نه کوي.

د حرم پر وښو رمه پوول

وَلَا يُرْعَىٰ حَشِيْشُ الْحَرَمِ او د حرم پر وښو به رمه نه پوول (څرول) کيږي وَلَا يُقْطَعُ إِلَّا الْإِذْخِرُ او نه به يو بوټي پرېکول کيږي ما سوا له اذخر بوټي څخه وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: لَا بَأْسَ بِالرَّعْيِ او امام ابو يوسف فرمايي: چي په پوولو کي څه پروا نسته لِأَنَّ فِيْهِ ضَرُوْرَةً ځکه چي په پوولو کي ضرورت دی فَإِنَّ مَنْعَ الدَّوَابِّ عَنْهُ مُتَعَذِّرٌ ځکه چي خاروږيان له هغه څخه منع کول ستونزمن دي وَلَنَا مَا رَوَيْنَا او زموږ دليل هغه حديث کوم چي روايت کړی دی وَالْقَطْعُ بِالْمَشَافِرِ كَالْقَطْعِ بِالْمَنَاجِلِ او په غاښو سره پرېکول داسي دي لکه په لورو سره پرېکول وَحَمْلُ الْحَشِيْشِ مِنَ الْحِلِّ مُمْكِنٌ او له حِل څخه وابنه راوړل (هم) ممکن دي فَلَا ضَرُوْرَةَ نو د حرم وښو ته هيڅ ضرورت پاته نه سو بِخِلَافِ الْإِذْخِرِ په خلاف د اذخر وابنه لِأَنَّهُ اسْتَثْنَاهُ رَسُوْلُ اللهِ[1] صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځکه چي هغه رسول الله ﷺ مستثنیٰ کړي دي فَيَجُوْزُ قَطْعُهُ وَرَعْيُهُ نو د اذخر پرېکول او پر هغه رمه پوول جائز دي وَبِخِلَافِ الْكَمْأَةِ په خلاف د پوڅکی لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ جُمْلَةِ النَّبَاتِ ځکه هغه د وښو (او بوټو) له ټولګي څخه نه ده (ځکه چي هغه د باران په اوبو سره راشنه کيږي).

اللغات: ﴿مشافر﴾ شونډانو او غاښو ته ويل کيږي، ﴿مناجل﴾ جمع د مِنْجَل ده: لور، ﴿رعی﴾ پوول، څرول (رمه د څر لپاره څرځای (چراګاه) ته بېول)، څرل، ﴿كمأة﴾ پوڅکی (خردګی، خرېری).

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي له اذخر څخه علاوه د حرم بل بوټي او وابنه پرېکول يا پر هغه مال پوول (څرول) زموږ په نېز صحيح نه دي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په حرم کي د مال او رمې په پوولو کي څه حرج نسته، يعني د هغه په نېز خو په حرم کي د خاروږيانو د پوولو او څرولو اجازه سته مګر د وښو او درختو د پرېکولو اجازه نسته،

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب المناسک، باب تحريم مکة، حديث رقم: ۲۱۷.

ځکه چي په ټوولو کي ضرورت سته، او ضرورت دا دی چي کله خلک د حج یا عمرې لپاره حرم ته داخل سي. نو د هغو سره به خامخا د سپرلي حیوانان هم وي، او ښکاره ده چي حیوانان له وښو څخه بندول مشکل کار دی. نو د ټوولو ضرورت متحقق سو.

ولنا الخ زموږ دلیل مخکي بیان سوی حدیث دی، یعني: لا يختلى خلاها، او پاته سو ضرورت نو هغه داسي هم پوره کېدای سي چي له حِل څخه وابنه راوړل سي.

والقطع بالمشافر له دې ځایه د یو سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي په حدیث کي د حرم له وښو پرېکولو څخه منع سوې ده، او له ټوولو څخه منع نه ده سوې. نو ټوول جائز کېدل پکار دي، جواب ورکوي چي په غاښو سره پرېکول (کوم چي یې حیوانان پرېکوي) هم داسي دي لکه په لور سره پرېکول، نو کله چي په لور سره پرېکول منع دي، نو په غاښو سره پرېکول یعني د حیوانانو ټوول به هم منع وي.

بخلاف الاذخر الخ په خلاف د اذخر وښو، ځکه چي د هغه استثناء په خپله نبي ﷺ کړې ده. روایت سوی دی چي کله نبي ﷺ وفرمایل: لا يختلى خلاها ولا يعضد شوكها، نو ابن عباس وفرمایل: إلا الاذخر يا رسول الله (ﷺ) فإنه لقبورهم وبيوتهم فقال ﷺ إلا الاذخر (یعني نبي ﷺ وفرمایل چي د حرم وابنه دي نه پرېکېږي، او نه دي یې ازغي ماتېږي. نو ابن عباس وفرمایل: اې د الله رسوله! ماسوا له اذخر څخه، ځکه چي هغه د خلکو په قبرونو او کورونو کي د خوشبويۍ لپاره استعمالېږي، نو نبي ﷺ وفرمایل: هو! ماسوا له اذخر څخه).

وبخلاف الكمأة الخ او په خلاف د پوڅکۍ کوم چي د باران په ورځو کي راوځي، نو په حرم کي د هغې پرېکول او راکښل هم جائز دي، ځکه چي هغه د وښو او بوټو له قبیلې څخه نه ده، ځکه چي عام بوټي د مځکي په اوبو را شنه کېږي، لېکن دا خاص د باران د اوبو سره تعلق لري.

په پورتني جناياتو کي د قارن حکم

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلَهُ الْقَارِنُ مِمَّا ذَكَرْنَا او هر هغه شی کوم چي یې قارن له (پورتني) ذکر سوو شیانو څخه وکړي أَنَّ فِيهِ عَلَى الْمُفْرِدِ دَمًا چي په هغه کي پر مفرد یو دم وي فَعَلَيْهِ دَمَانِ: دَمٌ لِحَجَّتِهِ وَدَمٌ لِعُمْرَتِهِ نو پر قارن به (په هغه کي) دوه دمه واجب وي: یو دم به د هغه د حج وي او بل دم به د هغه د عمرې وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: دَمٌ وَاحِدٌ او امام شافعي فرمايي: چي یو دم به واجب وي بِنَاءً عَلَى أَنَّهُ مُحْرِمٌ بِإِحْرَامٍ وَاحِدٍ عِنْدَهُ پر دې بناء چي د هغه په نېز قارن په یو احرام سره محرم دی وَعِنْدَنَا بِإِحْرَامَيْنِ او زموږ په نېز په دوو احرامونو سره محرم دی وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او دا (بیان) مخکي (په بابُ القران کي) تېر سو قَالَ: إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ الْمِيقَاتَ غَيْرَ مُحْرِمٍ بِالْعُمْرَةِ أَوِ الْحَجِّ امام قدوري فرمايي: خو دا چي قارن د عمرې یا د حج له احرام څخه بغیر تر میقات تېر سي فَيَلْزَمُهُ دَمٌ وَاحِدٌ نو (بیا) به یو دم پر لازمېږي خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ د امام زفر اختلاف دی لِأَنَّ الْمُسْتَحَقَّ عَلَيْهِ عِنْدَ الْمِيقَاتِ إِحْرَامٌ وَاحِدٌ ځکه چي پر هغه د میقات په وخت کي یو احرام واجب دی وَبِتَأْخِيرِ وَاجِبٍ وَاحِدٍ لَا يَجِبُ إِلَّا جَزَاءٌ وَاحِدٌ او د یوه واجب په تأخیر سره به فقط یوه جزاء واجبېږي.

تشريح: په عبارت کې د بيان سوي مسئلې حاصل دا دی چې که قارن له پوره ته ذکر سوو جناياتو څخه يو جنايت وکړي، نو پر هغه زموږ په نيز دوه دمه واجبيږي، يو د حج او دويم د عمرې، امام شافعي فرمايي چې پر قارن هم يو دم واجبيږي، همدا قول د امام مالک او امام احمد هم دی، داختلاف بنياد دا دی چې د دې حضراتو په نيز قارن په يو احرام سره محرم وي (ځکه چې د دوی په نيز د عمرې احرام د حج په احرام کې داخليږي)، او زموږ په نيز په دوو احرامونو سره محرم وي، دلائل په باب القران کې تير سو، نو کله چې د دوی په نيز د قارن احرام يو دی، نو دم جنايت به هم يو واجبيږي، او څرنګه چې زموږ په نيز دوه احرامه دي، نو دم جنايت به هم دوه واجبيږي.

قال إلا الخ فرمايي چې صرف يو صورت داسي دی چې هلته زموږ په نيز هم پر قارن يو دم واجبيږي، هغه دا چې قارن بغير له احرام څخه تر ميقات تير سي، نو پر دې قارن زموږ په نيز يو دم واجبيږي، که څه هم د امام زفر په نيز په دې صورت کې هم پر هغه دوه دمه واجبيږي، د امام زفر دليل دا دی چې هغه له ميقات څخه د حج او د عمرې دواړو احرام وروسته کړی دی، نو د هر احرام په وجه به يو دم پر واجب وي، زموږ دليل دا دی چې پر ميقات فقط يو احرام واجبيږي، او د يوه واجب په وروسته کولو سره به فقط يوه جزاء واجبه وي، نه دوې جزاوي، نو ځکه به په دې صورت کې دوه دمه نه واجبيږي.

که دوه محرم خلک په ګډه ښکار وکړي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا اشْتَرَكَ مُحْرِمَانِ فِي قَتْلِ صَيْدٍ او که د يوه ښکار په وژلو کې دوه محرم خلک شريک سي فَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا جَزَاءٌ كَامِلٌ نو په دوی کې پر هر يوه پوره جزاء واجب ده لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالشَّرِكَةِ يَصِيرُ جَانِيًا جِنَايَةً تَفُوقُ الدَّلَالَةَ ځکه چې هر يو د شرکت (ګډون) په وجه د داسي جنايت کونکی ګرځي چې هغه تر دلالت (يعني د ښکار تر ښوونې) بالا جنايت دی فَيَتَعَدَّدُ الْجَزَاءُ بِتَعَدُّدِ الْجِنَايَةِ نو د جنايت د تعدّد (جلا والي) په وجه به جزاء هم متعدده (جلا) کيږي.

اللغات: ﴿جانی﴾ جنايت کونکی، مجرم، ګناهګاره، ﴿تفوق﴾ د نصر مضارع ده: زياتيدل، بالا کيدل.

تشريح: مسئله: دا ده که دوه محرم خلک په ګډه ښکار وکړي، نو پر دواړو پوره جزاء واجبيږي، ځکه چې جزاء د احرام د احترام په وجه واجبيږي، او دلته دواړو احرام تړلی دی، او هر يوه د خپل احرام بې احترامي وکړه، نو ځکه به پر دواړو جلا جلا پوره دم لازم وي، که څه هم ښکار يو دی، ځکه که په دوی کې يو قاتل وای، او بل د ښکار ور ښوونکی وای، نو هم به پر دواړو پوره پوره جزاء واجبيدلای، او دلته دواړه قاتلان دي، لهذا په درجه اولیٰ به پر دواړو جزاء واجبيږي، ځکه چې قتل په ګناه کې له دلالت علی القتل څخه زيات دی، او څرنګه چې دواړو جلا جلا جنايت کړی دی، نو ځکه به جزاء هم جلا جلا واجبيږي.

که دوه حلال خلک په ګډه ښکار وکړي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا اشْتَرَكَ حَلَالَانِ فِي قَتْلِ صَيْدِ الْحَرَمِ او که دوه حلال خلک د حرم د ښکار په قتل کې شريک سي فَعَلَيْهِمَا جَزَاءٌ وَاحِدٌ نو پر دواړو يوه جزاء واجب ده لِأَنَّ الضَّمَانَ بَدَلٌ عَنِ الْمَحَلِّ ځکه چې ضمان خو د محل يعني د ښکار په بدله کې دی لَا جَزَاءٌ عَنِ الْجِنَايَةِ د جنايت په بدله کې نه دی فَيَتَّحِدُ بِاتِّحَادِ الْمَحَلِّ نو د محل په متحد کيدلو سره به ضمان هم

متحدکيږي كَرَجُلَيْنِ قَتَلَا رَجُلًا خَطَأً لکه دوه خلک چي يو سړی په خطاء قتل کړي تَجِبُ عَلَيْهِمَا دِيَةٌ وَاحِدَةٌ (نو) پر دواړو به يو ديت واجبيږي وَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفَّارَةٌ (لېکن) کفاره به پر هر يوه واجبيږي (ځکه چي هغه د فعل بدله ده).

تشريح: مسئله: داده که دوه مُحرم خلک په ګډه يو ښکار قتل کړي، نو پر دواړو يوه جزاء واجبيږي، ځکه چي ضمان په دې صورت کي د احرام بدل نه دی بلکي د محل بدل دی يعني د حرم د احترام په وجه ضمان واجبيږي، او محل يعني حرم يو دی، نو ځکه به جزاء هم پر دواړو يوه واجبيږي، او هر يو به نيمه جزاء ورکوي، لکه دوه خلک چي په ګډه يو سړی په خطاء قتل کړي، نو پر دواړو يو ديت واجبيږي، او کفاره پر هر يوه جلا واجبيږي، ځکه چي ديت خو د مقتول سړي بدل دی، او څرنګه چي مقتول يو دی، نو ځکه به ديت هم يو واجب وي، او کفاره ځکه جلا واجبيږي، چي کفاره د فعل يعني د قتلولو بدل ده، او په دې فعل کي دواړه شريک دي.

د محرم لپاره د ښکار د خرڅولو يا د رانيولو حکم

وَإِذَا بَاعَ الْمُحْرِمُ الصَّيْدَ أَوِ ابْتَاعَهُ او که محرم ښکار خرڅ کړي يا يې رانيسي فَالْبَيْعُ بَاطِلٌ نو بيع باطله ده لِأَنَّ بَيْعَهُ حَيًّا تَعَرُّضٌ لِلصَّيْدِ ځکه چي د ژوندي ښکار بيعه پر ښکار تعرض کول دي بِتَفْوِيتِ الْأَمْنِ د هغه د امن په فوتولو سره وَبَيْعُهُ بَعْدَ مَا قَتَلَهُ بَيْعُ مَيْتَةٍ او تر وژلو وروسته د هغه بيعه د مرداري بيعه ده (چي هغه جائز نه ده).

اللغات: ﴿ابتاع﴾ د افتعال ماضي ده: رانيول، ﴿تعرض﴾ د تفعّل مصدر دی: لاس وهنه، تصرف کول، تعرض کول، ﴿تفويت﴾ د تفعيل مصدر دی: فوتول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي د محرم لپاره نه ښکار خرڅول جائز دي، او نه ښکار رانيول، ځکه چي محرم خو به يا ژوندی ښکار خرڅوي يا رانيسي، يا به يې تر وژلو وروسته خرڅوي يا رانيسي، او د هغه په حق کي دا دواړه صورتونه باطل دي، ځکه چي د ژوند په صورت کي د ښکار د امن په فوتولو سره پر ښکار تعرض کول لازميږي، او د وژلو په صورت د مردار خرڅول لازميږي، او دا دواړه شيان منع دي، نو ځکه موږ وايو چي پر محرم د ښکار د خرڅولو او رانيولو ټولي لاري بندي دي.

که له حرم ښځه را ايستل سوی حيوان بچي وزېږوي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ أَخْرَجَ ظَبْيَةً مِنَ الْحَرَمِ او کوم سړی چي له حرم ښځه هوسۍ را وباسي (هغه سړی که حلال او که محرم وي) فَوَلَدَتْ أَوْلَادًا بيا هوسۍ يو څو بچيان وزېږوي فَمَاتَتْ هِيَ وَأَوْلَادُهَا بيا هوسۍ او بچيان مړه سي فَعَلَيْهِ جَزَاؤُهُنَّ نو پر هغه د دې ټولو جزاء واجب ده لِأَنَّ الصَّيْدَ بَعْدَ الْإِخْرَاجِ مِنَ الْحَرَمِ بَقِيَ مُسْتَحِقًّا لِلْأَمْنِ شَرْعًا ځکه چي هوسۍ له حرم څخه تر را ايستلو وروسته شرعاً د امن مستحق ده وَلِهَذَا وَجَبَ رَدُّهُ إِلَى مَأْمَنِهِ هم په دې وجه خپل د امن ځای ته د هغې بيول واجب دي وَهَذِهِ صِفَةٌ شَرْعِيَّةٌ او د امن استحقاق شرعي صفت دی فَتَسْرِي إِلَى الْوَلَدِ نو دا صفت به د بچو و طرف ته هم سرايت کوي فَإِنْ أَدَّى جَزَاءَهَا او که محرم د هوسۍ جزاء اداء کړي ثُمَّ وَلَدَتْ تر هغه وروسته هوسۍ بچيان وزېږوي لَيْسَ عَلَيْهِ جَزَاءُ الْوَلَدِ نو (بيا) پر محرم د بچو جزاء واجب نه ده لِأَنَّ بَعْدَ أَدَاءِ الْجَزَاءِ لَمْ تَبْقَ آمِنَةً ځکه چي د

جزاء تر اداء کولو وروسته هغه د امن مستحق پاته نه سوه لِأَنَّ وُصُولَ الْخَلَفِ كَوُصُولِ الْأَصْلِ ځکه چي (وحرم ته) د بدل رسېدل د اصل د رسېدلو په څېر دي، والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿مأمن﴾ اسم ظرف دی: د امن ځای، له خطرې څخه پاک ځای، ﴿تسری﴾ د ضرب مضارع ده: سرايت کول، نوتل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي له حرم څخه هوسۍ يا يو بل د ښکار حيوان را وېستی، رايستونکی که محرم وو، که غيرِ محرم وو، وروسته تر دې هوسۍ بچي وزېږول، بيا هوسۍ هم مړه سوه، او بچي يې هم مړه سول، نو پر دې را ايستونکي د هغو جزاء واجب ده، ځکه چي له حرم څخه د ښکار تر را ايستلو وروسته هم هغه شرعاً د امن مستحق دی، نو د دغه استحقاق په وجه خپل د امن ځای ته(يعني حرم ته) د هغو رسول واجب دي، او څرنګه چي د امن استحقاق شرعي صفت دی، نو ځکه به د ښکار په واسطه سره د هوسۍ و بچو ته هم سرايت کوي، او څرنګه چي د هوسۍ جزاء واجبېږي، هغسي به د بچو جزاء هم واجبېږي.

فإن أدى الخ خو که دې را ايستونکي د هوسۍ جزاء(يعني قيمت) اداء کړی، بيا هوسۍ بچي وزېږول، نو په دې صورت کي پر هغه د بچو جزاء نه واجبېږي(صرف د هوسۍ جزاء پر واجبېږي)، ځکه چي تر جزاء اداء کولو وروسته هوسۍ د امن مستحقه پاته نه سوه، ځکه چي رايستونکي د جزاء په اداء کولو سره د هوسۍ بدل حرم ته ورسوی، او د بدل رسول د اصل د رسولو په څېر دي، نو ګواکي په خپله هوسۍ تر حرم پوري ورسول سوه، لهذا اوس چي کوم بچيان پيدا سي، د هغو جزاء به واجب نه وي. والله أعلم بالصواب



بَابُ مُجَاوَزَةِ الْوَقْتِ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ

(دا) باب بې له احرامه له ميقات څخه د تېرېدلو (په بيان کې) دی

تشريح: تر دې مخکې صاحب د کتاب د هغو جناياتو بيان وکړی چې تر احرام وروسته واقع کيږي، اوس له دې ځايه هغه جنايات بيانوي چې تر احرام مخکې واقع کيږي، او څرنګه چې تر احرام وروستنی جنايت بشپړ او کامل وي، نو ځکه يې هغه مخکې بيان کړی، اوس قبل الإحرام والا جنايت بيانوي. (بنايه ج،۴، ص،۳۶۵)

د عبارت تر شروع مخکې د يو څو الفاظو تشريح او د دم د سقوط شرطونه ضروري ګڼم، تاسو يو ځل د هغو تفصيل ته ګورئ: بستان بني عامر يعني د بني عامر باغ، دا د مکې سره نژدې او له حرم څخه دباندې په ميقات کې دننه د يو ځای نوم دی، او ذاتِ عِرق د عراقيانو ميقات دی. د بستان بني عامر ذاتِ عِرق ته نژدې دی. له کوفي څخه مراد آفاقي سړی دی، يعني څوک چې تر ميقات دباندې اوسيږي.

د دم د ساقطېدلو لپاره د امام صاحب په نېز پنځه شرطونه دي: [۱] کوم آفاقي چې مکې ته د عمرې يا د حج لپاره ځي، د هغه لپاره ضروري ده چې له ميقات څخه احرام وتړي او که احرام نه وتړي، نو دم لازميږي، [۲] او که آفاقي له ميقات څخه احرام نه وتړي او د حج يا د عمرې تر شروع کولو مخکې واپس ميقات ته راسي، او احرام وتړي او تلبيه هم ووايي نو دم ساقطيږي، [۳] او که تلبيه نه ووايي نو دم نه ساقطيږي، او د صاحبينو په نېز بې له تلبيې ويلو هم دم ساقطيږي، ځکه د صاحبينو په نېز صرف ميقات ته راتلل او احرام تړل کافي دي، تلبيه ويل ضروري نه دي، [۴] کوم آفاقي چې د حج يا د عمرې لپاره مکې ته نه ځي، بلکي د بل کار لپاره ځي، نو هغه بې له احرامه هم مکې ته تلی سي، [۵] که د عمرې يا د حج عمل مثلاً طواف شروع کړي، او تر هغه وروسته ميقات ته راسي، نو دم نه ساقطيږي.

بې له احرامه تر ميقات تېرېدونکی چې کله دويم ځل بيا ميقات ته راسي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا أَتَى الْكُوفِيُّ بُسْتَانَ بَنِيْ عَامِرٍ او کله چې د کوفې اوسېدونکی بستان بنی عامر (يعني د بني عامر باغ) ته راسي فَأَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ او د عمرې احرام وتړي فَإِنْ رَجَعَ إِلَى ذَاتِ عِرْقٍ نو که هغه د ذاتِ عرق (يعني د ميقات) و طرف ته واپس ولاړ سي وَلَبَّى او تلبيه ووايي بَطَلَ عَنْهُ دَمُ الْوَقْتِ نو د هغه له غاړې څخه د ميقات قرباني ساقطيږي وَإِنْ رَجَعَ إِلَيْهِ او که ذاتِ عرق ته واپس ولاړ سي وَلَمْ يُلَبِّ حَتَّى دَخَلَ مَكَّةَ خو تلبيه نه ووايي تر دې چې مکې ته داخل سي وَطَافَ لِعُمْرَتِهِ او د خپلې عمرې طواف وکړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه يو دم واجبيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ● دا حکم د امام صاحب په نېز دی وَقَالَا: إِنْ رَجَعَ إِلَيْهِ مُحْرِمًا او صاحبين فرمايي: که هغه د احرام په حالت کې ذاتِ عرق ته واپس ولاړ سي فَلَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ نو پر هغه هيڅ شی واجب نه دی لَبَّى أَوْ لَمْ يُلَبِّ تلبيه يې ويلې وي او که نه وي وَقَالَ زُفَرُ: لَا يَسْقُطُ

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدرالمختار ج:۲، ص: ۲۲۱. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۲۳۶]

لَبّٰى أَوْ لَمْ يُلَبِّ او امام زفر فرمايي: چې (له هغه شخصه) دم نه ساقطيږي تلبيه يې ويلې وي او که نه وي لِأَنَّ جِنَايَتَهُ لَمْ تَرْتَفِعْ بِالْعَوْدِ ځکه چې (ذاتِ عرق ته) د واپس تللو په وجه د هغه جنايت ختم نه سو وَصَارَ كَمَا إِذَا أَفَاضَ مِنْ عَرَفَاتٍ او داسې سو لکه هغه چې له عرفات شخصه (د امام تر رواندېدلو مخکې) روان سي ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِ بَعْدَ الْغُرُوْبِ او بيا تر لمر لوېدلو وروسته عرفات ته واپس راسي وَلَنَا أَنَّهُ تَدَارَكَ الْمَتْرُوْكَ فِي أَوَانِهِ او زمونږ دليل دا دی چې هغه د پرېښوول سوي شي تدارک په خپل وخت کې وکړی وَذٰلِكَ قَبْلَ الشُّرُوْعِ فِي الْأَفْعَالِ او هغه (يعني تدارک) د عمرې يا د حج د افعالو تر شروع کولو مخکې موجود دی فَيَسْقُطُ الدَّمُ نو ځکه به قرباني ساقطيږي بِخِلَافِ الْإِفَاضَةِ په خلاف د روانېدلو (له عرفات شخصه) لِأَنَّهُ لَمْ يَتَدَارَكِ الْمَتْرُوْكَ ځکه چې هغه د پرېښوول سوي شي تدارک نه وکړی عَلٰى مَا مَرَّ لکه مخکې چې (دا بيان) تېر سو غَيْرَ أَنَّ التَّدَارُكَ عِنْدَهُمَا بِعَوْدِهِ مُحْرِمًا لېکن د صاحبينو په نېز د احرام په حالت کې د هغه په واپس راتللو سره تدارک حاصليږي لِأَنَّهُ أَظْهَرَ حَقَّ الْمِيْقَاتِ ځکه چې هغه د ميقات حق ښکار کړی كَمَا إِذَا مَرَّ بِهِ مُحْرِمًا سَاكِتًا لکه په هغه صورت کې چې (هم دم نه لازميږي) کله چې هغه پر ميقات د احرام په حالت کې په خاموشي سره تېر سي (يعني تلبيه نه وايي) وَعِنْدَهُ رَحِمَهُ اللّٰهُ بِعَوْدِهِ مُحْرِمًا مُلَبِّيًا او د امام صاحب په نېز د احرام د ترلو او د تلبيې د ويلو په حالت کې په واپس راتللو سره تدارک حاصليږي لِأَنَّ الْعَزِيْمَةَ فِي الْإِحْرَامِ مِنْ دُوَيْرَةِ أَهْلِهِ ځکه چې د احرام په حق کې عزيمت دا دی چې احرام له خپلې کورنۍ شخه وي (يعني له خپل کور شخه وترل سي) فَإِذَا تَرَخَّصَ بِالتَّأْخِيْرِ إِلَى الْمِيْقَاتِ نو کله چې هغه تر ميقاته پورې (د احرام) د ځنډولو رخصت اختيار کړی وَجَبَ عَلَيْهِ قَضَاءُ حَقِّهِ بِإِنْشَاءِ التَّلْبِيَةِ نو په تلبيه ويلو سره د احرام حق پوره کول پر هغه واجب سو وَكَانَ التَّلَافِيْ بِعَوْدِهِ مُلَبِّيًا او د جرم تلافي به د تلبيې ويلو په حالت کې په واپس راتللو سره کيږي وَعَلٰى هٰذَا الْخِلَافُ إِذَا أَحْرَمَ بِحَجَّةٍ بَعْدَ الْمُجَاوَزَةِ مَكَانَ الْعُمْرَةِ او هم پر دې اختلاف دا صورت (هم) دی چې کله هغه له احرام شخه بغير تر ميقات تېرېدلو وروسته د عمرې پر ځای د حج احرام وتړي فِيْ جَمِيْعِ مَا ذَكَرْنَا (دا اختلاف) په ټولو هغو ځايونو کې دی کوم چې (اوس) موږ ذکر کړل وَلَوْ عَادَ بَعْدَ مَا ابْتَدَأَ بِالطَّوَافِ وَاسْتَلَمَ الْحَجَرَ او که دا سړی د طواف تر شروع کولو او د حجر اسود تر مچولو وروسته (ميقات) ته واپس راسي لَا يَسْقُطُ عَنْهُ الدَّمُ بِالْاِتِّفَاقِ نو د ټولو په اتفاق له هغه شخه قرباني نه ساقطيږي وَلَوْ عَادَ إِلَيْهِ قَبْلَ الْإِحْرَامِ او که تر احرام ترلو مخکې ميقات ته راسي يَسْقُطُ بِالْاِتِّفَاقِ نو د ټولو په اتفاق قرباني ساقطيږي وَهٰذَا الَّذِيْ ذَكَرْنَا إِذَا كَانَ يُرِيْدُ الْحَجَّ أَوِ الْعُمْرَةَ او دا ټوله چې موږ ذکر کړل هغه وخت دي چې کله هغه سړي د حج يا د عمرې اراده کړې وي (او که د بل کار يا د بل ضرورت اراده يې وي نو پر هغه هيڅ شی نه لازميږي، ځکه چې د ميقات سره نژدې خلک هره ورځ د خپلو حاجتونو لپاره تر ميقات تيرېږي).

اللغات: ﴿لبّى﴾ د تفعيل ماضي ده: تلبيه ويل. ﴿عود﴾ رجوع، واپس راتلل. ﴿أفاض﴾ روانېدل، کوچ کول. ﴿تدارك﴾ د تفاعل مصدر دی: تلافي، پرېښوول سوی شي دوباره نيول. ﴿أوان﴾ وخت، شېبې. ﴿دويرة﴾ کور، جونګړه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو آفاقي د احرام له تړلو څخه بغير تر ميقات تېر سي، او بيا د عمرې احرام وتړي، نو دا به کتل کېږي چي هغه تر احرام وروسته د عمرې يو فعل شروع کړی، که نه. که يو فعل يې شروع نه کړی، او واپس ميقات ته راغلی او تلبيه يې وويله، نو پر هغه چي کومه قرباني بغير له احرامه تر ميقات د تېرېدلو په وجه واجب سوې وه، هغه ساقطيږي، او که هغه ميقات ته واپس راغلی، خو تلبيه يې نه وويله تر دې چي مکې ته داخل سو، او د عمرې طواف يې وکړی، يعني د عمرې فعل يې شروع کړی، نو پر هغه قرباني واجب ده. ګواکي ميقات ته په واپس راتګ کي تلبيه ويل ضروري دي د امام صاحب په نېز، او صاحبين فرمايي چي که هغه ميقات ته د احرام په حالت کي واپس ولاړ سي نو پر هغه هيڅ شی نه لازميږي، هغه که يې تلبيه ويلې وي، که نه وي، او امام زفر فرمايي چي قرباني نه ساقطيږي، تلبيه که يې ويلې وي، که نه وي، همدا قول د امام مالک او امام شافعي دی.

د امام زفر دليل: دا دی چي بغير له احرامه تر ميقات د تېرېدلو جرم په دې سره نه ختميږي چي هغه ميقات ته واپس ولاړ سي، او کله چي جرم نه ختميږي، نو د جرم دم(يعني دمِ جنايت) به هم نه ختميږي، او دا داسي ده لکه يو حاجي چي تر امام مخکي له عرفات څخه روان سي، بيا تر لمر لوېدلو وروسته واپس راسي، او بيا د امام سره يو ځای روان سي، نو تر امام مخکي چي د روانېدلو په وجه کومه قرباني واجب سوې وه، په واپس راتګ سره هغه قرباني نه ساقطيږي، همدا ډول به بې له احرامه تر ميقات د تېرېدلو په صورت کي چي کومه قرباني واجب سوې وه، ميقات ته به په واپس تللو سره هغه نه ساقطيږي.

مشترک دليل: د امام صاحب او صاحبينو مشترک دليل دا دی چي د آفاقي جرم دومره وو چي بې له احرامه تر ميقات تېر سو، لېکن کله چي بيا هغه تر احرام تړلو وروسته د عمرې د افعالو تر شروع کولو مخکي واپس ميقات ته راغلی، نو په دې سره يې د خپل جرم او متروک(پرېښوول سوي شي) تلافي او تدارک وکړی،(له متروک او جرم څخه مراد بې له احرامه تر ميقات تېرېدل دي)، او څرنګه چي يې تدارک په خپل وخت کي وکړی، نو ځکه به دا تدارک مفيد هم وي، او کله چي دا تدارک مفيد دی، نو واجب سوی دم به ساقطيږي، په خلاف د هغه صورت چي کله هغه تر امام مخکي له عرفات څخه روان سي، او تر لمر لوېدلو وروسته بېرته راسي، ځکه په دې صورت کي هغه د متروک تدارک نه وکړی، ځکه چي وقوف به تر لمر لوېدلو پوري کېږي، او هغه تر لمر لوېدلو وروسته راغلی، نو د متروک وقوف تدارک يې نه وکړی، لهذا د هغه د واپس را تللو هيڅ اعتبار نه کېږي، او دا رُجعت د هغه جرم تلافي او تدارک نه سي کولای، او کله چي د جرم تدارک نه سي کولای، نو ښکاره ده چي دم به هم نه ساقطيږي.

غير أن التدارك الخ تر اوسه خو د امام صاحب او د صاحبينو دليل مشترک وو، له دې ځايه يې فرق بيانوي، نو فرمايي چي د صاحبينو په نېز تدارک هغه وخت حاصليږي چي کله هغه فقط د احرام سره واپس ميقات ته راسي، د تلبيې ويلو ضرورت نسته، ځکه چي هغه د ميقات حق يعني احرام ښکاره کړی، نو داسي سو، لکه هغه چي پر ميقات د احرام سره چپ تېر سي، او تلبيه نه ووايي، نو دا بالاتفاق جائز دي، همداسي دلته هم تلبيه ويل ضروري نه دي، او د امام صاحب دليل دا دی چي بېله احرامه تر ميقات د تېرېدلو تلافي او تدارک به هغه وخت کېږي چي کله هغه ميقات ته واپس د احرام په حالت کي راسي او تلبيه هم ووايي، ځکه د احرام په حق کي عزيمت دا دی چي د خپل وطن له آبادۍ څخه احرام وتړي، او رخصت دا دی چي له ميقات څخه احرام وتړي، نو کله چي هغه تر ميقاته پوري د احرام د ځنډولو

رخصت اختيار کړي، او تر ميقات هم بې له احرامه تېر سو، او بيا واپس راغلی نو تلبيه به ضرور وايي، ځکه حديث مخکې تېر سو چې په تلبيه ويلو سره احرام تړل کيږي، نو که پر ميقات يې تلبيه نه وواييې نو ګواکې احرام يې نه وتړی، نو تدارک نه وسو، نو ځکه تلبيه ويل ضروري دي.

وعلى هذا الخلاف الخ فرمايي: کوم اختلاف چې اوس مخکې په کومو شيانو کې ذکر سو. همدا اختلاف هغه وخت دی چې کله يو څوک تر ميقات تېرېدلو وروسته د عمرې پر ځای د حج احرام وتړي.

ولو عاد بعد ما انخ دا تړوله تفصيل هغه وخت دی چې کله تر احرام وروسته او د عمرې يا د حج د افعالو تر شروع کولو مخکې ميقات ته واپس راسي. لېکن که هغه تر طواف شروع کولو او د حجر اسود تر مچولو وروسته ميقات ته واپس راسي، نو بالاتفاق له هغه څخه دم نه ساقطيږي، ځکه چې اوس يې مخکې احرام مضبوط کړی، او که هغه له احرام تړلو څخه مخکې ميقات ته واپس ولاړ سي، نو بالاتفاق قرباني ساقطيږي، او موږ چې کوم دا خبره ذکر کړه چې بې له احرامه تر ميقات د تېرېدلو په صورت کې دم واجبيږي، دا هغه وخت دي چې که د هغه اراده د حج يا عمرې وي، او که د بل کار اراده يې وي، نو بيا هيڅ دم نه واجبيږي.

که د حاجت لپاره ميقات ته داخل سي نو څه حکم دی؟

> فَإِنْ دَخَلَ الْبُسْتَانَ لِحَاجَتِهِ بيا که هغه کوفي بستان بني عامر ته د خپل ضرورت لپاره داخل سي فَلَهُ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ نو هغه ته اختيار دی چې بې له احرامه مکې ته داخل سي وَوَقْتُهُ الْبُسْتَانُ او د هغه ميقات همدغه بستان بنی عامر دی وَهُوَ وَصَاحِبُ الْمَنْزِلِ سَوَاءٌ او دا سړی او د بستان اوسېدونکی سړی دواړه برابر دي لِأَنَّ الْبُسْتَانَ غَيْرُ وَاجِبِ التَّعْظِيمِ ځکه چې د بستان تعظيم واجب نه دی فَلَا يَلْزَمُهُ الْإِحْرَامُ بِقَصْدِهِ نو د بستان په قصد کولو سره به پر هغه احرام نه لازميږي وَإِذَا دَخَلَهُ الْتَحَقَ بِأَهْلِهِ او کله چې هغه بستان ته داخل سي نو د بستان د خلکو سره لاحق سو وَلِلْبُسْتَانِيِّ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ لِلْحَاجَةِ او د بستاني لپاره د خپل ضرورت په خاطر له احرام څخه بغير مکې ته داخلېدل جائز دي فَكَذَلِكَ لَهُ نو همداسې د هغه لپاره (هم) جائز دي وَالْمُرَادُ بِقَوْلِهِ وَوَقْتُهُ الْبُسْتَانُ جَمِيعُ الْحِلِّ الَّذِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْحَرَمِ او د ماتن له دې قول ووقته البستان څخه هغه ټوله حِل مراد دی چې هغه د بستان او د حرم په مېنځ کې واقع دی وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او دا (بيان) مخکې تېر سو فَكَذَا وَقْتُ الدَّاخِلِ الْمُلْحَقِ بِهِ نو همداسې به د هغه سړي ميقات وي کوم چې بستان ته داخل سوی (او) د بستاني سره لاحق سوی وي (يعني د هغه حکم به هم د بستاني دی) فَإِنْ أَحْرَمَا مِنَ الْحِلِّ وَوَقَفَا بِعَرَفَةَ بيا که دواړه له حِل څخه احرام وتړي او په عرفات کې ودريږي لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِمَا شَيْءٌ نو پر دواړو هيڅ شی واجب نه دی يُرِيدُ بِهِ الْبُسْتَانِيَّ وَالدَّاخِلَ فِيهِ له دواړو څخه مراد بستاني او په بستان کې داخل سړی دی لِأَنَّهُمَا أَحْرَمَا مِنْ مِيقَاتِهِمَا ځکه چې دواړو له خپل ميقات څخه احرام تړلی دی.

اللغات: ﴿بستان﴾ باغ، ﴿وقت﴾ ميقات، ﴿التحق﴾ د افتعال ماضي ده: لاحق کېدل، شاملېدل.

تشریح: مسئله: دا ده که یو آفاقي سړی د خپل تجارتي ضرورت یا د یو بل غرض په وجه په بستان بنی عامر (یعني په میقات) کي دننه بغیر له احرامه داخل سي، نو پر هغه هیڅ جرم نسته، او هغه ته دا اختیار سته که له بستان بنی عامر څخه (یعني له میقات څخه) مکې ته داخلېدل وغواړي، نو بغیر له احرامه مکې ته داخلېدای سي، د دې مطلب دا دی چي هغه ته له میقات څخه د احرام تړلو ضرورت نسته، یعني هغه ته دا ضرورت نسته چي د بستان بني عامر اولي مځکي او سرحد ته ولاړ سي، هلته احرام وتړي، او بیا مکې ته داخل سي، بلکي په بستان بني عامر کي چي هغه هر ځای وي، هغه ځای د ده لپاره میقات دی، هغه ته پکار ده چي له هغه ځایه احرام وتړي او مکې ته ولاړ سي، د عبارت دا مفهوم صحیح او د شریعت مطابق دی، دا یې بالکل مطلب نه دی چي بې له احرامه مکې ته داخلېدل جائز دي، ځکه علامه ابن الهمام لیکلي دي چي ټوله کتابونه دا خبره کوي چي کوم څوک مکې ته داخلېدل غواړي پر هغه احرام لازم دی، هغه که یې اراده د حج یا عمرې وي، یا که د تجارت یا د بل کار وي.

وللبستان أن یدخل الخ د دې حاصل دا دی چي څرنګه د بستان بنی عامر د اوسېدونکو لپاره میقات بستان دی، او له دې ځایه بغیر له احرامه د هغو لپاره مکې ته داخلېدل جائز دي، همدارنګه د دې سړي لپاره هم تر احرام تړلو وروسته له بستان څخه بغیر له احرامه داخلېدل جائز دي.

والمراد بقوله الخ فرمایي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله له دې قول ووقته البستان څخه مراد د حل هغه ټوله علاقه ده چي د دغه بستان او د حرم په مینځ کي واقع وي، هغه ټوله د ده لپاره میقات ده، له کومه ځایه چي وغواړي احرام تړلای سي، او مکې تللی سي، خاص له بستان بنی عامر څخه احرام تړل ضروري نه دي، خو له خپل کور او خپل منزل څخه احرام تړل عزیمت دي، لنډه دا چي څرنګه د بستاني لپاره ټوله حل میقات دی، همدارنګه په بستان کي د داخلېدونکي سړي لپاره هم ټوله حل میقات دی، ځکه چي داخل سړی او بستاني دواړه برابر دي، همدا وجه ده که د بستان اوسېدونکی سړی او په بستان کي داخلېدونکی سړی له حل څخه یو ځای احرام وتړي او سیده عرفات ته ولاړ سي، نو پر هغوی هیڅ دم نه واجبېږي، ځکه چي دا حل د هغو په حق کي میقات دی، او له میقات څخه پر احرام تړونکي سړي هیڅ شی نه واجبېږي (په دې شرط چي یو بل جنایت نه وکړي).

مکې ته یو ځل بې له احرامه او بل ځل د احرام سره داخلېدل

وَمَنْ دَخَلَ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ او څوک چي بغیر له احرامه مکې ته داخل سي ثُمَّ خَرَجَ مِنْ عَامِهِ ذٰلِكَ إِلَى الْوَقْتِ بیا په همدغه کال د میقات و طرف ته را ووځي وَأَحْرَمَ بِحَجَّةٍ عَلَيْهِ او د داسي حج احرام وتړي چي هغه پر ده واجب وي أَجْزَأَهُ ذٰلِكَ مِنْ دُخُولِهِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ نو دا حج د هغه لپاره بې له احرامه مکې ته له داخلېدلو څخه کافي دی وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يُجْزِئُهُ او امام زفر فرمایي: چي د هغه لپاره کافي نه دی وَهُوَ الْقِيَاسُ او د قیاس تقاضا همدغه ده اِعْتِبَارًا بِمَا لَزِمَهُ بِسَبَبِ النَّذْرِ پر هغه باندي په قیاسولو سره کوم چي پر هغه د نذر په سبب واجب سي فَصَارَ كَمَا إِذَا تَحَوَّلَتِ السَّنَةُ نو داسي سو لکه کال چي بدل سي وَلَنَا أَنَّهُ تَلَافَى الْمَتْرُوكَ فِي وَقْتِهِ او زموږ دلیل دا دی چي هغه د پرېښوول سوي شي تلافي په خپل وخت کي وکړه لِأَنَّ الْوَاجِبَ عَلَيْهِ تَعْظِيمُ هٰذِهِ الْبُقْعَةِ بِالْإِحْرَامِ ځکه چي پر هغه د دې سپېڅلې توتې (کعبې) تعظیم په احرام سره واجب وو كَمَا إِذَا أَتَاهُ مُحْرِمًا بِحَجَّةِ الْإِسْلَامِ فِي الْاِبْتِدَاءِ لکه کله چي هغه په

شروع کي د اسلام د حج (فرضي حج) احرام وتړي او ميقات ته راسي (نو دا حج هم د واجب سوي حج څخه کافي کيږي)

بِخِلَافِ مَا إِذَا تَحَوَّلَتِ السَّنَةُ په خلاف د هغه صورت چي کله کال بدل سي لِأَنَّهُ صَارَ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِ ځکه (په دې صورت کي جلا احرام تړل) د هغه په ذمه کي قرض سو فَلَا يَتَأَدَّى إِلَّا بِإِحْرَامٍ مَقْصُودٍ نو نه به اداء کيږي مګر په مقصود (مستقل) احرام سره كَمَا فِي الْاِعْتِكَافِ الْمَنْذُورِ لکه د نذر په اعتکاف کي چي (هم دا حکم دی) فَإِنَّهُ يَتَأَدَّى بِصَوْمِ رَمَضَانَ مِنْ هٰذِهِ السَّنَةِ ځکه چي هغه به د دغه کال د رمضان په روژو سره اداء کيږي دُوْنَ الْعَامِ الثَّانِيْ نه د دويم کال د رمضان په روژو سره.

اللغات: ﴿بقعة﴾ د ځمکي ټوټه، ﴿تحوّلت﴾ د تفعّل ماضي ده: بدلېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو آفاقي سړی بغير له احرامه مکې ته داخل سو، نو پر هغه حج يا عمره لازميږي، لکه څرنګه چي زموږ مذهب دی، بيا که په دغه کال له مکې څخه راووتی، ميقات ته ولاړی د فرضي يا نفلي حج يا عمرې احرام يې وتړی، نو مکې ته د بې له احرامه داخلېدلو په وجه چي کوم حج يا عمره لازمه سوې وه، دا حج يا عمره د هغه له طرفه کافي کيږي، د جلا اداء کولو يې هيڅ ضرورت نسته، او امام زفر فرمايي چي دا نه کافي کيږي، او همدا قياس دی، قياس دا دی که پر يو سړي د نذر په وجه حج واجب وو، او فرضي حج يې اداء کړی نو د دې په وجه نذر سوی حج نه ساقطيږي، بلکي جلا اداء کول يې ضروري دي، همدارنګه به دلته به هم د فرضي حج په اداء کولو سره هغه حج نه اداء کيږي کوم چي بې له احرامه مکې ته د داخلېدلو په وجه واجب سوی وي، او دا داسي سو لکه کال چي بدل سي، يعني که يو سړی بې له احرامه مکې ته داخل سو، او بيا يې را روان کال فرضي حج اداء کړی، نو دا فرضي حج د هغه حج نه سي قائم مقام کېدلای، کوم چي د بې له احرامه داخلېدلو په وجه پر هغه واجب سوی وو.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي هغه د متروک تلافي يعني د بې له احرامه داخلېدلو په وجه چي کوم حج يا عمره واجبه سوې وه، د هغه تلافي يې په خپل وخت کي دننه يعني په دغه کال کي يې وکړه، په دې توګه چي د فرضي حج په ضمن کي يې هغه اداء کړي، ځکه چي پر هغه په احرام سره د ځمکي د دې سپېڅلي ټوټې تعظيم واجب وو، هغه که په هره طريقه سره وي، او هغه حاصل سو، نو د هغه لپاره د بل حج يا د عمرې کولو ضرورت پاته نه سو، د دې مسئلې مثال دا دی که هغه په شروع کي د فرضي حج احرام تړلای وای، نو دا احرام به له فرضي حج څخه او له هغه حج څخه کوم چي پر ميقات د تېرېدلو په وجه لازميږي، د دواړو له طرفه کافي کېدلای.

بخلاف إذا الخ په خلاف د هغه صورت چي کله کال بدل سي، ځکه مکې ته د داخلېدلو په وجه چي کوم حج پر هغه واجب سوی وو، هغه د ده پر نمه دَين (پور) سو، نو هغه به د بل حج په ضمن کي نه اداء کيږي، بلکي په نوي او مستقل احرام سره به اداء کيږي، يعني په هغه احرام سره به اداء کيږي چي د دغه دَين د اداء کولو په اراده سره تړل سوی وي، لکه د نذر په اعتکاف کي چي دغه حکم دی، يعني که يو چا مثلاً د دغه کال د رمضان د اعتکاف نذر ومنی، نو که هغه د دغه کال په رمضان کي اعتکاف وکړی، خو صحيح دی، لېکن که د دغه کال د رمضان روژې څني قضاء سوې، او د روژو د قضاء په وخت کي يې اعتکاف هم وکړی، نو هم يې اعتکاف اداء کيږي، لېکن که نه يې په رمضان کي اعتکاف وکړی، او نه يې د رمضان د روژو د قضاء په وخت اعتکاف وکړی، او دا يې غوښتل چي د را روان کال د رمضان په روژو کي يې اداء کړي، نو نه اداء کيږي، بلکي مستقلي او جلا روژې به نيسي، او اعتکاف به کوي، ځکه چي دا اعتکاف د هغه پر نمه

قرض سو، همداسي كه كال تېر سو، نو واجب سوى حج د هغه پر ذمه قرض سو. لهذا هغه به هم په مستقل احرام سره اداء کيږي.

په عمره کي بغير له احرامه تر ميقات تېرېدل او بيا عمره فاسدول

وَمَنْ جَاوَزَ الْوَقْتَ او څوک چي (بغير له احرامه) تر ميقات تېر سي فَأَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ بيا د عمري احرام وتړي وَأَفْسَدَهَا او عمره فاسده کړي مَضَى فِيهَا وَقَضَاهَا نو د عمري افعال دي پوره کړي او د هغې قضاء دي راوړي لِأَنَّ الْإِحْرَامَ يَقَعُ لَازِمًا ځکه چي احرام حتماً واقع کيږي فَصَارَ كَمَا إِذَا أَفْسَدَ الْحَجَّ نو داسي سو لکه حج چي فاسد کړي وَلَيْسَ عَلَيْهِ دَمٌ لِتَرْكِ الْوَقْتِ او د ميقات د پرېښوولو په وجه به پر هغه دم نه لازميږي وَعَلَى قِيَاسِ قَوْلِ زُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَسْقُطُ عَنْهُ او د امام زفر د قول پر قياس به له هغه څخه دم نه ساقطيږي وَهُوَ نَظِيرُ الْاخْتِلَافِ فِي فَائِتِ الْحَجِّ او دا اختلاف د هغه اختلاف مثال دی کوم چي د حج د فوتونکي په باره کي دی إِذَا جَاوَزَ الْوَقْتَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ چي کله بغير له احرامه تر ميقات تېر سي وَفِيمَنْ جَاوَزَ الْوَقْتَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ وَأَحْرَمَ بِالْحَجِّ (همدارنګه) دا اختلاف د هغه اختلاف مثال دی چي يو سړی بې له احرامه تر ميقات تېر سي او د حج احرام وتړي ثُمَّ أَفْسَدَ حَجَّتَهُ بيا خپل حج فاسد کړي هُوَ يَعْتَبِرُ الْمُجَاوَزَةَ هٰذِهِ بِغَيْرِهَا مِنَ الْمَحْظُورَاتِ امام زفر دا تېرېدل له دې څخه علاوه پر نورو ممنوعاتو قياسوي وَلَنَا أَنَّهُ يَصِيرُ قَاضِيًا حَقَّ الْمِيقَاتِ بِالْإِحْرَامِ مِنْهُ فِي الْقَضَاءِ او زموږ دليل دا دی چي هغه به (د حج) په قضاء کي له ميقات څخه د احرام په تړلو سره د ميقات حق اداء کونکی وګرځيږي وَهُوَ يَحْكِي الْفَائِتَ (ځکه چي) قضاء د فوت سوي حکايت کوي (يعني د هغه قائم مقام ده) وَلَا يَنْعَدِمُ بِهِ غَيْرُهُ مِنَ الْمَحْظُورَاتِ او په قضاء سره نور ممنوعات نه ختميږي فَوَضَحَ الْفَرْقُ نو فرق ښکاره سو.

اللغات: ﴿جاوز﴾ د مفاعلې ماضي ده: تېرېدل. ﴿وقت﴾ ميقات.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی له احرام څخه بغير تر ميقات تېر سو، او بيا يې د عمري احرام وتړی، خو عمره يې فاسده کړه، نو په دې مسئله کي درې احکام دي: (۱) يو دا چي د دې عمري ټول افعال دي پوره کړي، (۲) دويم دا چي تر دې وروسته دي له ميقات څخه احرام وتړي او د دغه عمرې قضاء دي راوړي، (۳) دريم دا چي له ده څخه دم ساقط سو، کوم چي بغير له احرامه تر ميقات د تېرېدلو په وجه واجب سوی وو.

(۱) د اول دليل دا دی چي احرام يو لازم عقد دی، د دې تر شروع کولو وروسته د افعالو له اداء کولو او پوره کولو څخه بغير انسان له دې څخه نه سي وتلای، نو ځکه به افعال پوره کوي، (۲) دويم دليل چي هغه په صحيح توګه د عمرې اداء کولو التزام کړی وو، خو په صحيح توګه يې عمره اداء نه کړه، نو ځکه به يې قضاء واجب وي، (۳) او د سقوط دم دليل دا دی چي کله هغه له ميقات څخه احرام وتړی او قضاء يې راوړه، نو په دې سره د هغه نقصان تلافي وسوه کوم چي پر ميقات د تېرېدلو په وخت کي د بې احرامۍ په وجه پيدا سوی وو، لهذا کله چي د پيدا سوي نقصان تلافي وسوه، نو دم ساقط سو، ځکه چي دم د نقصان د تلافۍ لپاره واجبيږي، لکه يو څوک چي په لمانځه کي سهوه سي، او هغه لمونځ فاسد کړي د لمانځه قضاء راوړي، نو سجده سهو ساقطيږي، امام زفر فرمايي چي د عمرې د قضاء راوړلو سره سره هم دم نه ساقطيږي، همدا اختلاف په هغه صورت کي دی چي کله يو سړی بې له احرامه تر ميقات تېر سي، بيا د حج احرام

وتړي، مګر حج نه ونيسي، بلکي څني فوت سي، بيا را روان کال د دې حج قضاء راوړي، نو زموږ په نېز له ده څخه هغه دم ساقطيږي، کوم چي له ميقات څخه د بې احرامۍ په حالت کي د تېرېدلو په وجه واجب سوی وو، او د امام زفر په نېز نه ساقطيږي، او همدا ختلاف په هغه صورت کي دی چي کله يو سړی بې له احرامه تر ميقات تېر سي، او د حج احرام وتړي، بيا تر وقوفِ عرفه مخکي د جماع يا بل شي په ذريعه حج فاسد کړي، بيا د هغه قضاء راوړي، نو زموږ په نېز د بې احرامۍ په حالت کي چي تر ميقات د تېرېدلو په وجه کوم دم واجب سوی وو هغه ساقطيږي، او د امام زفر په نېز نه ساقطيږي، امام زفر رَحِمَهُ الله بې له احرامه تېرېدل پر نورو ممنوعاتو قياسوي، يعني که پر يو ځا د عطر لګولو يا د ګنډل سوو جامو د اغوستلو په وجه دم واجب سوی وي، او بيا حج څني فوت سي، نو دا دم د قضاء په وجه سره نه ساقطيږي، همدا ډول به چي کوم دم له ميقات څخه د بې احرامۍ په حالت کي د تېرېدلو په وجه واجب سوی وي، نو هغه به هم د حج په قضاء راوړلو سره نه ساقطيږي.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چي کله هغه په قضاء کي له ميقات څخه احرام وتړي نو د ميقات حق يې اداء کړی، او قضاء هم د فوت سوي قائم مقام ده، نو ګواکي هغه بې له احرامه تر ميقات تېر سوی نه دی، او کله چي داسي ده نو دم به هم نه واجبيږي، او نور ممنوعات يعني عطر او داسي نور د حج په فوتېدلو او د هغه په قضاء راوړلو څخه نه ختميږي، بلکي باقي پاتيږي (ځکه نور ممنوعات چي کله يو وار لازم سي بيا نه ساقطيږي مثلاً کله چي يو وار د عطر لګولو په وجه دم لازم سي نو بيا نه ساقطيږي، بلکي په هر حال کي به هغه دم ورکوي که څه هم د هغه حج قضاء راوړي)، او کله چي هغه باقي پاتيږي، نو دم به هم باقي پاته وي، نو د نورو ممنوعاتو او د بې له احرامه تېرېدلو په مينځ کي فرق څرګند سو.

د مکې د اوسېدونکو لپاره تر ميقات د تېرېدلو مسئله

وَإِذَا خَرَجَ الْمَكِّيُّ يُرِيْدُ الْحَجَّ او که مکي سړی د حج په اراده (له حرم څخه د حِل و طرف ته) ووځي فَأَحْرَمَ او احرام وتړي وَلَمْ يَعُدْ إِلَى الْحَرَمِ لېکن حرم ته واپس را نه سي وَوَقَفَ بِعَرَفَةَ او وقوف عرفه وکړي فَعَلَيْهِ شَاةٌ نو پر هغه يوه بزه واجب ده لِأَنَّ وَقْتَهُ الْحَرَمُ ځکه چي د هغه ميقات حرم دی وَقَدْ جَاوَزَهُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ او هغه له خپل ميقات څخه بې له احرامه تېر سو فَإِنْ عَادَ إِلَى الْحَرَمِ لېکن که د حرم و طرف ته واپس راسي وَلَبَّى أَوْ لَمْ يُلَبِّ او تلبيه ووايي او که يې نه ووايي فَهُوَ عَلَى الْإِخْتِلَافِ الَّذِيْ ذَكَرْنَاهُ فِي الْآفَاقِيِّ نو دا سړی پر هغه اختلاف دی کوم چي د آفاقي په حق کي موږ بيان کړی (يعني د امام صاحب په نېز که حرم ته واپس راسي او تلبيه ووايي نو دم څني ساقطيږي، او د صاحبينو په نېز فقط په واپس راتللو سره دم څني ساقطيږي، تلبيه شرط نه ده، او د امام زفر په نېز هيڅ وخت دم نه څني ساقطيږي که څه هم تلبيه ووايي).

اللغات: ﴿لم يعد﴾ د نصر جحد معلوم صيغه ده: واپس راتلل، راګرځېدل، ﴿لبّى﴾ د تفعيل ماضي ده: تلبيه ويل.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

د متمتع لپاره تر عمرې وروسته له حرم څخه د وتلو بيان

وَالْمُتَمَتِّعُ إِذَا فَرَغَ مِنْ عُمْرَتِهِ او متمتع چي کله له خپلي عمرې څخه فارغ سي ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْحَرَمِ او بيا له حرم څخه را ووځي فَأَحْرَمَ وَوَقَفَ بِعَرَفَةَ او د حج احرام وتړي او وقوفِ عرفه وکړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجبيږي لِأَنَّهُ لَمَّا دَخَلَ مَكَّةَ ځکه چي هغه کله مکې ته داخل سي وَأَتَى بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ او د عمرې افعال اداء کړي صَارَ بِمَنْزِلَةِ الْمَكِّيِّ نو د مکي سړي په درجه کي سو وَإِحْرَامُ الْمَكِّيِّ مِنَ الْحَرَمِ او د مکي احرام له حرم څخه وي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی (په فصل المواقيت کي) فَيَلْزَمُهُ الدَّمُ بِتَأْخِيرِهِ عَنْهُ نو ځکه به پر هغه له حرم څخه د احرام د ځنډولو په وجه دم لازميږي فَإِنْ رَجَعَ إِلَى الْحَرَمِ بيا که متمتع تر وقوفِ عرفه مخکي د حرم وطرف ته راګرځيږي فَأَهَلَّ فِيهِ قَبْلَ أَنْ يَقِفَ بِعَرَفَةَ او تر وقوفِ عرفه مخکي په حرم کي تلبيه ووايي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ نو پر هغه هيڅ شی نه واجبيږي وَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ الَّذِيْ تَقَدَّمَ فِي الْآفَاقِيِّ او دا متمتع پر هغه اختلاف دی کوم اختلاف چي د آفاقي په باره کي مخکي تېر سو (يعني د امام صاحب په نېز که تلبيه ووايي نو دم ځني ساقطيږي، او د صاحبينو په نېز تلبيه شرط نه ده، او د امام زفر په نېز په دواړو حالتونو کي دم نه ساقطيږي).

اللغات: ﴿أهل﴾ د افعال ماضي ده: کلمهٔ طيبه ويل، د حج او عمرې د افعالو نيت کول، تلبيه ويل.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

بَابُ إِضَافَةِ الْإِحْرَامِ

(دا) باب د احرام د مضاف کولو (په بيان کي) دی

تشريح: د مکّي سړي لپاره د حج او د عمرې احرام جمع کول صحيح نه دي، بلکي دا د هغه په حق کي جنايت دی، نو ځکه دا باب تر باب الجنايات وروسته بيانوي، ځکه چي دا هم د باب الجنايات يو نوع ده.

د مکّي سړي لپاره په يوه احرام کي د حج او د عمرې د جمع کولو جرمانه

قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: إِذَا أَحْرَمَ الْمَكِّيُّ بِعُمْرَةٍ امام صاحب فرمايي: چي کله مکّي سړی د عمرې احرام وتړي وَطَافَ لَهَا شَوْطًا او د هغې لپاره يو دور (شوط) طواف وکړي ثُمَّ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ بيا د حج احرام وتړي فَإِنَّهُ يَرْفُضُ الْحَجَّ نو هغه به (د) حج (احرام) پرېږدي وَعَلَيْهِ لِرَفْضِهِ دَمٌ او پر هغه به د حج د پرېښوولو په وجه يوه قرباني واجب وي وَعَلَيْهِ حَجَّةٌ وَعُمْرَةٌ● او پر هغه به يو حج او عمره (هم) واجب وي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ: رَفْضُ الْعُمْرَةِ أَحَبُّ إِلَيْنَا

●القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:٢، ص: ٢٣٨. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٣٦]

صاحبین فرمایي: چي زموږ په نېز عمره پرېښوول زيات غوره دي وَقَضَاهَا او هغه به د عمرې قضا راوړي (يعني زموږ په نېز عمره پرېښوول او قضاء يې راوړل زيات غوره دي) وَعَلَيْهِ دَمٌ لِرَفْضِهَا او د عمرې د پرېښوولو په وجه به پر هغه دم لازم وي لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ رَفْضِ أَحَدِهِمَا ځکه چي له حج او عمرې څخه يو پرېښوول ضروري دي لِأَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَهُمَا فِي حَقِّ الْمَكِّيِّ غَيْرُ مَشْرُوعٍ ځکه چي د مکي سړي په حق کي حج او عمره جمع کول مشروع نه دي وَالْعُمْرَةُ أَوْلَى بِالرَّفْضِ او د پرېښوولو زياته وړ عمره ده لِأَنَّهَا أَدْنَى حَالًا ځکه چي عمره د حالت په اعتبار سره ادنیٰ ده وَأَقَلُّ أَعْمَالًا او په اعمالو کي کمه ده وَأَيْسَرُ قَضَاءً او د هغې قضاء آسانه ده لِكَوْنِهَا غَيْرَ مُؤَقَّتَةٍ ځکه چي عمره د يوه وخت سره خاصه نه ده.

اللغات: ﴿رفض﴾ پرېښوول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مکّي سړی د عمرې احرام وتړي، او د عمرې طواف يې شروع کړي، لېکن تر يوه شوط طواف کولو وروسته يې دا احرام د حج و طرف ته منسوب کړي او د حج نيت يې وکړي، نو د امام صاحب په نېز د هغه لپاره حکم دا دی چي حج او د هغه نيت دي منسوخ کړي، او د عمرې پرېښوولو په وجه دي يو دم ورکړي، او تر هغه وروسته دي بيا د حج او د عمرې قضاء راوړي.

د صاحبينو مسلک دا دی چي ښه خبره دا ده چي دا سړی دي عمره پرېږدي، او وروسته دي يې قضاء راوړي، او د عمرې د پرېښوولو په وجه يو دم پر واجبيږي، ځکه له حج او عمرې څخه د يوه پرېښوول ضروري دي، ځکه چي محرم مکي دی، او د مکي لپاره حج او عمره جمع کول صحيح نه دي، نو ځکه به پر دې سړي له حج او عمرې څخه يو پرېښوول ضروري وي، او موږ وينو چي عمره پرېښوول د حج په نسبت زيات آسانه دي، ځکه چي د عمرې مرتبه له حج څخه کمه ده، عمره د عمل په حساب سره تر حج مختصره او لنډه ده، او د هيڅ وخت سره هم خاصه نه ده، بلکي هر وخت عمره کېدای سي، نو د حج په مقابله کي عمره پرېښوول آسانه دي، نو ځکه به عمره په پرېښوولو کي مخکي وي، او مکّي سړی به عمره پرېږدي.

د پورتنی مسئلې څه نور وضاحت

وَكَذَا إِذَا أَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ بِالْحَجِّ او همدارنګه چي کله هغه د عمرې احرام وتړي بيا د حج احرام وتړي وَلَمْ يَأْتِ بِشَيْءٍ مِنْ أَفْعَالِ الْعُمْرَةِ او د عمرې له افعالو څخه هيڅ شی اداء نه کړي (نو بيا به هم حج پرېږدي) لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی فَإِنْ طَافَ لِلْعُمْرَةِ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ او که مکّي سړي د عمرې لپاره څلور شوطه طواف وکړي ثُمَّ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ بيا د حج احرام وتړي رَفَضَ الْحَجَّ بِلَا خِلَافٍ نو حج دي پرېږدي (دا) حکم بې له اختلافه دی لِأَنَّ لِلْأَكْثَرِ حُكْمَ الْكُلِّ ځکه چي اکثر لره حکم د کُل وي فَتَعَذَّرَ رَفْضُهَا نو د عمرې پرېښوول ناممکن سو كَمَا إِذَا فَرَغَ مِنْهَا لکه څرنګه له عمرې څخه فارغ سي (او بيا د حج احرام وتړي نو د عمرې پرېښوول ناممکن دي) وَكَذَلِكَ إِذَا طَافَ لِلْعُمْرَةِ أَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ او همدارنګه چي کله هغه د عمرې لپاره تر څلورو شوطو کم طواف وکړي (نو هغه د څلورو شوطونو د طواف په څېر نه دی، يعني اکثر نه دی، نو ځکه به يې حکم د کُل نه وي) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ د امام صاحب په نېز وَلَهُ أَنَّ إِحْرَامَ الْعُمْرَةِ قَدْ

تَأَكَّدَ بِأَدَاءِ شَوْطٍ مِنْ أَعْمَالِهَا د امام صاحب دليل دا دی چي د عمرې احرام د هغې د اعمالو د اداء کولو په وجه مؤکد سو وَإِحْرَامُ الْحَجِّ لَمْ يَتَأَكَّدْ او د حج احرام مؤکد سوی نه دی وَرَفْضُ غَيْرِ الْمُتَأَكِّدِ أَيْسَرُ او د غيرِ مؤکد پرېښوول آسانه دي وَلِأَنَّ فِي رَفْضِ الْعُمْرَةِ وَالْحَالَةُ هٰذِهِ إِبْطَالَ الْعَمَلِ او ځکه چي په داسي حال کي (يعني چي د عمرې څه افعال يې اداء کړي وي) د عمرې په پرېښوولو کي د عمل باطلول دي (يعني د عمرې باطلول دي) وَفِي رَفْضِ الْحَجِّ اِمْتِنَاعٌ عَنْهُ او د حج په پرېښوولو کي له حج څخه منع کېدل دي (نو ځکه به حج پرېږدي) وَعَلَيْهِ دَمٌ بِالرَّفْضِ أَيُّهُمَا رَفَضَهُ او پر هغه مکّي سړي به يو دم واجب وي هغه که هر احرام پرېږدي (يعني که د عمرې احرام پرېږدي او که د حج) لِأَنَّهُ تَحَلَّلَ قَبْلَ أَوَانِهِ ځکه هغه تر وخت مخکي حلال سو لِتَعَذُّرِ الْمُضِيِّ فِيهِ ځکه چي د هغه پوره کول ستونزمن دي فَكَانَ فِي مَعْنَى الْمُحْصَرِ نو د محصر په معنیٰ کي سو إِلَّا أَنَّ فِي رَفْضِ الْعُمْرَةِ قَضَاءَهَا لَا غَيْرُ خو د عمرې په پرېښوولو کي فقط د عمرې قضاء واجبېږي وَفِي رَفْضِ الْحَجِّ قَضَاؤُهُ وَعُمْرَةٌ لېکن د حج په پرېښوولو کي د حج د قضاء سره سره عمره هم واجبېږي لِأَنَّهُ فِي مَعْنَى فَائِتِ الْحَجِّ ځکه چي هغه د حج د فوتونکي په حکم کي دی.

اللغات: ﴿اشواط﴾ جمع د شوط ده: دور، شوط. ﴿تحلل﴾ د تفعّل ماضي ده: احرام خلاصول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي مخکي د عمرې احرام وتړی، او د عمرې د افعالو تر اداء کولو مخکي يې بيا د حج احرام وتړی، نو اوس د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نېز متفقه فيصله دا ده چي دا سړی به عمره پرېږدي، ځکه چي عمره له حج څخه په رتبه کي کمه ده، او د هغې پرېښوول آسانه دي.

او که د عمرې لپاره يې څلور دوره (شوطه) طواف کړی وو، بيا يې د حج احرام وتړی، نو بالاتفاق به حج پرېږدي، ځکه چي اکثر لره حکم د کُل وي، نو هغه ګواکي ټوله طواف کړی دی، او د ټوله طواف کولو په صورت کي د طواف پرېښوول ناممکنه دي، او عمره خو هم دغه طواف ته ويل کېږي، نو داسي سو لکه له عمرې څخه چي فارغ سو. يعني څرنګه چي له عمرې څخه تر فراغت وروسته عمره پرېښوول متعذر او ناممکن دي، همداسي که هغه د عمرې لپاره تر څلور شوطه کم طواف کړی وي نو هم د امام صاحب په نېز طواف پرېښوول متعذر دي، او د صاحبينو په نېز متعذر نه دي.

د صاحبينو دليل: په تېره مسئله کي د دې جملې لأنه لا بد من رفض أحدهما الخ په ضمن کي تېر سو.

د امام صاحب دليل: دا دی چي کله مکّي سړی د عمرې له طواف څخه يو شوط وکړی، نو د عمرې د اعمالو د څه ناڅه اداء کولو په وجه د هغه د عمرې احرام مؤکد سو، او د حج احرام يې مؤکد نه سو، او غيرِ مؤکد پرېښوول آسانه دي، نو ځکه به حج پرېږدي.

ولأن في رفض الخ دويم دليل دا دی چي کله يې د عمرې اعمال څه ناڅه اداء کړل، نو په دغه حالت کي که عمره پرېږدي، نو ابطال عمل لازمېږي، او که حج پرېږدي نو فقط د حج له کولو څخه ځان منع کول لازمېږي، د حج باطلول نه لازمېږي، لوله يو کار څخه منع کېدل آسانه دي په نسبت د يو کار و باطلولو ته، نو په دې وجه به هم حج پرېښوول مناسب وي.

وعليه دم بالرفض الخ لنډه دا چي دا چي که مکّي عمره پرېږدي او که حج، پر هغه به د پرېښوولو په وجه يو دم لازمېږي، ځکه چي هغه تر وخت مخکي حلال سو، يعني د ارکانو تر اداء کولو مخکي حلال سو، او د ارکانو تر اداء کولو مخکي

ځکه حلال سو، چې د حج او عمرې دواړو پوره کول متعذر دي، او پوره کول ځکه متعذر ده چې د مکي لپاره حج او عمره دواړه جمع کول ناجائز دي، نو هغه د محصر په معنیٰ سره سو، او پر محصر یوه قرباني واجبیږي، نو پر هغه به هم یوه قرباني واجب وي، محصر هغه سړي ته ویل کیږي چې د دښمن یا د بل شي په وجه له حج څخه منع سي، هو! دومره خبره سته چې که عمره یې پرېښوله لکه څرنګه چې صاحبین وایي، نو صرف د عمرې قضاء به پر واجب وي، او که حج یې پرېښووی، لکه امام صاحب چې وایي، نو پر هغه به د حج قضاء واجب وي، او د حج سره به عمره هم اداء کړي، ځکه د حج په قضاء راوړلو کي د حج سره عمره هم واجبیږي، ځکه چې دا سړی د حج د فوتونکي په حکم کي دی، د حج د فوتونکي معنیٰ دا چې د حج احرام وتړي مکې ته روان سي، مګر حج نه ونیسي، یا د وقوف عرفه د نه کولو په وجه حج څني فوت سي او داسي نور، او د حج پر فوتونکي د حج د قضاء سره سره عمره هم واجب ده، نو پر دې سړي به هم دواړه واجب وي.

په پورتني صورت کي د دواړو عبادتونو د پوره کولو حکم

وَإِنْ مَضٰى عَلَيْهِمَا او که هغه مکي سړی حج او عمره دواړه پوره کړي أَجْزَأَهُ نو دا د هغه لپاره کافي دي لِأَنَّهُ أَدّٰى أَفْعَالَهُمَا كَمَا الْتَزَمَهُمَا ځکه چې هغه د حج او عمرې افعال داسي اداء کړل لکه څرنګه چې یې پر ځان لازم کړي وه غَيْرَ أَنَّهُ مَنْهِيٌّ عَنْهُمَا خو هغه د دواړو له جمع کولو څخه منع سوی وو وَالنَّهْيُ لَا يَمْنَعُ تَحَقُّقَ الْفِعْلِ او نهي د فعل له تحقق څخه مانع نه دي عَلٰى مَا عُرِفَ مِنْ أُصُولِنَا لکه څرنګه چې دا خبره زموږ له اصولو څخه معلومه سوې ده وَعَلَيْهِ دَمٌ لِجَمْعِهِ بَيْنَهُمَا (لیکن) پر هغه به یوه قرباني واجب وي د دواړو د جمع کولو په وجه لِأَنَّهُ تَمَكَّنَ النُّقْصَانُ فِي عَمَلِهِ لِارْتِكَابِهِ الْمَنْهِيَّ عَنْهُ ځکه چې د ممنوع کار د ارتکاب په وجه د هغه په عمل کي نقصان پیدا سو وَهٰذَا فِي حَقِّ الْمَكِّيِّ دَمُ جَبْرٍ او دا دم د مکي په حق کي د نقصان دم دی (ځکه چې د حج او د عمرې له جمع کولو څخه منع سوی دی لیکن هغه جمع کړل او په خپل عمل کي یې نقصان پیدا کړی نو د هغه نقصان په وجه به دم ورکوي) وَفِي حَقِّ الْآفَاقِيِّ دَمُ شُكْرٍ او د آفاقي په حق کي د شکرانې دم دی (ځکه چې د آفاقي لپاره د دواړو جمع کول جائز دي، نو د هغه به د شکرانې په توګه دم ورکوي).

اللغات: ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده پر ځان لازمول، پر خپله غاړه اخیستل، ﴿تحقق﴾ د تفعّل مصدر دی: ثابتېدل، ﴿جبر﴾ تلافي، بدله، نقصان، جبران

تشریح: **مسئله:** خو بالکل ښکاره ده چې که مکي سړي حج او عمره دواړه اداء کړل، نو دواړه اداء کیږي، ځکه څرنګه چې یې دواړه پر ځان لازم کړي ول، هغسې یې دواړه اداء کړل، خو څرنګه چې هغه د حج او د عمرې له یوځای اداء کولو څخه منع سوی دی، نو د منهي عنه کار د ارتکاب په وجه به پر هغه دم واجبیږي، او فقط د دم په وجوب سره به کار کیږي، بیا به نه د هغه پر حج څه اثر راځي، او نه پر عمره، ځکه چې نهي او ممانعت د فعل له تحقق او وجود څخه مانع نه دي، لهذا د مکي سړي دواړه اداء کړی سوي فعلونه به واقع کیږي، او کوم نقصان چې د ممنوع کار د ارتکاب په وجه پیدا سوی دی، په دم سره به د هغه تلافي کیږي.

وهذا الخ فرمايي چې دا دم به د مکي سړي په حق کې د نقصان او تلافي دم وي، او د دې مستحق به صرف فقيران وي. او په خپله به مکي سړي ته دا اجازه نه وي چې له هغه څخه څه وخوري. د دې په خلاف چې څرنګه د آفاقي لپاره حج او عمره دواړه جمع کول صحيح او جائز دي، نو د هغه دم به د شکرانې دم وي. او د هغه لپاره به د دم څخه خوړل او استعمالول جائز وي.

د حج په دوران کې تر حلق وروسته د دويم احرام تړلو حکم

وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ او څوک چې د حج احرام وتړي ثُمَّ أَحْرَمَ يَوْمَ النَّحْرِ بِحَجَّةٍ أُخْرَى بيا د ذو الحجې په لسمه د دويم حج احرام وتړي فَإِنْ حَلَقَ فِي الْأُولَى لَزِمَتْهُ الْأُخْرَى نو که په اول حج کې يې حلق کړی وي (يعني سر يې خريلی وي) نو پر هغه به دويم حج لازم وي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ او پر هغه به هيڅ ضمان واجب نه وي وَإِنْ لَمْ يَحْلِقْ فِي الْأُولَى لَزِمَتْهُ الْأُخْرَى او که په اول حج کې يې حلق کړی نه وي نو بيا به هم دويم حج پر لازم وي وَعَلَيْهِ دَمٌ او يو قرباني به پر واجب وي قَصَّرَ أَوْ لَمْ يُقَصِّرْ که قصر يې کړی وي که نه وي (يعني حلق يې کړی وي که نه وي، دلته په تړلو ځايونو کې له قصر څخه حلق مراد دی ابنايه ج۴، ص۱۳۷۸) عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ د امام صاحب په نېز وَقَالَا: إِنْ لَمْ يُقَصِّرْ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ او صاحبين فرمايي: که قصر يې کړی نه وي نو پر هغه به هيڅ شی واجب نه وي لِأَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ إِحْرَامَيِ الْحَجِّ أَوْ إِحْرَامَيِ الْعُمْرَةِ بِدْعَةٌ ځکه چې د حج دوه احرامه او د عمرې دوه احرامه جمع کول بدعت دي فَإِذَا حَلَقَ فَهُوَ وَإِنْ كَانَ نُسُكًا فِي الْإِحْرَامِ الْأَوَّلِ بيا که يې حلق وکړی نو هغه که څه هم په اول احرام کې نسک دی فَهُوَ جِنَايَةٌ عَلَى الثَّانِي ليکن پر دويم احرام جنايت دی لِأَنَّهُ فِي غَيْرِ أَوَانِهِ ځکه چې دا حلق په خپل وخت کې نه دی فَلَزِمَهُ الدَّمُ بِالْإِجْمَاعِ نو ځکه به پر هغه بالاجماع دم لازميږي وَإِنْ لَمْ يَحْلِقْ حَتَّى حَجَّ فِي الْعَامِ الْقَابِلِ او که يې حلق نه وکړی تر دې چې را روان کال يې دويم حج وکړی فَقَدْ أَخَّرَ الْحَلْقَ عَنْ وَقْتِهِ فِي الْإِحْرَامِ الْأَوَّلِ نو هغه په اول احرام کې حلق تر خپل وخت وځنډوی وَذَلِكَ يُوجِبُ الدَّمَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ● او دا (هم) د امام صاحب په نېز دم واجبوي وَعِنْدَهُمَا لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ او د صاحبينو په نېز په ځنډولو سره پر هغه هيڅ شی نه لازميږي عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه فَلِهَذَا سَوَّى بَيْنَ التَّقْصِيرِ وَعَدَمِهِ عِنْدَهُ نو په دې وجه د امام صاحب په نېز قصر کول او نه کول دواړه برابر سوي دي (يعني په دې وجه اځي د حج يو عمل ځنډول د امام صاحب په نېز جنايت دی] په متن کې د امام صاحب په نېز په قصر او عدم قصر کې برابر حکم سوی دی) وَشَرَطَ التَّقْصِيرَ عِنْدَهُمَا او د صاحبينو په نېز قصر شرط سوی دی.

اللغات: ﴿قَصَّرَ﴾ د تفعيل ماضي ده: ورېښتيان کوچني کول. ﴿سَوَّى﴾ د تفعيل ماضي مجهوله ده: برابرول.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رحمه الله، كذا في الهندية ج:١، ص: ٢٥٤. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٣٧]

تشريح: صورت د مسئلې : دا دی که يو سړي د حج احرام وتړی، تر هغه وروسته يې په يوم النحر يعني د ذو الحجې په لسمه ورځ د را روان کال لپاره دويم ځل د حج احرام وتړی، نو د دې دوه صور تونه دي: (۱) هغه به له اول حج څخه د وتلو لپاره حلق کړی وي، (۲) يا به يې کړی نه وي، که اول صورت وي، يعني چي د اول حج لپاره يې حلق کړی وي، نو پر هغه دويم حج لازميږي (او تر را روان کاله پوري به هغه محرم پاته وي، او کوم شيان چي محرم لره حلال نه دي هغه به ده ته هم حلال نه وي)، او هيڅ دم نه پر واجبيږي، ځکه په حلق کولو سره دا سړی له اول حج څخه حلال او فارغ سو (نو دوه احرامونه يې سره جمع نه کړل، حال دا چي دم هغه وخت واجبيږي چي يو سړی دوه احرامونه سره جمع کړي)، او که دويم صورت وي، يعني د اول حج حلق يې کړی نه وي، نو بيا هم پر هغه دويم حج لازميږي، خو په دې صورت کي پر هغه د امام صاحب په نيز دم واجبيږي، هغه که يې تر دويم احرام وروسته قصر يعني حلق کړی وي که نه وي، صاحبين فرمايي چي که يې د دويم حج تر احرام وروسته حلق کړی نه وي، نو دم نه واجبيږي، دليل دا دی چي د حج يا د عمرې دوه احرامونه جمع کول بدعت دي، اوس که دغه سړی د دويم حج تر احرام تړلو وروسته حلق وکړی، نو که څه هم دا حلق د اول حج له احرام څخه د وتلو لپاره دی، لېکن د دويم حج د احرام په حق کي دا حلق جنايت دی، ځکه چي اوس د دويم حج او د هغه له احرام څخه د وتلو وخت نه دی، نو ګواکي هغه تر وخت مخکي حلق وکړی، او تر وخت مخکي حلق کول دم واجبوي، نو ځکه به په دې صورت کي د امام صاحب او صاحبينو ټولو په نيز دم واجب وي.

وإن لم يحلق الخ او که هغه د اول حج لپاره حلق کړی نه وي، تر دې چي را روان کال هغه دويم حج وکړي، نو څرنګه چي په دې صورت کي هغه د اول حج حلق تر خپل وخت وروسته کړی، نو په دې صورت کي به هم د امام صاحب په نيز دم واجب وي، ځکه چي د هغه په نيز د حج په افعالو کي تأخير دم واجبوي، نو معلومه سوه چي د دويم حج تر احرام وروسته که محرم حلق وکړي که نه وکړي، په دواړو صورتونو کي به د امام صاحب په نيز دم واجب وي، ځکه چي همدا د دويم حج احرام تړل د تأخير سبب دی، او څرنګه چي د صاحبينو په نيز د حج په افعالو کي تأخير دم نه واجبوي، نو د هغوی په نيز د دم د وجوب لپاره تر دويم احرام وروسته حلق کول شرط دي، ځکه په دې صورت کي به دا حلق پر دويم احرام جنايت سي، او که حلق نه وکړي، نو بيا به جنايت نه وي، نو دم به هم نه واجبيږي.

په يوه احرام کي د دوو عمرو د جمع کولو حکم

وَمَنْ فَرَغَ مِنْ عُمْرَتِهِ إِلَّا التَّقْصِيرَ او څوک چي له قصر (يا حلق) څخه علاوه د خپلي عمرې (له ټولو افعالو) څخه فارغه سي فَأَحْرَمَ بِأُخْرَى بيا د بلي عمرې احرام وتړي فَعَلَيْهِ دَمٌ نو پر هغه دم واجب دی لِإِحْرَامِهِ قَبْلَ الْوَقْتِ ځکه هغه (په دې صورت کي) تر وخت مخکي احرام وتړی (ځکه چي د دويمي عمرې وخت د اولي عمرې تر حلق يا قصر وروسته دی، لهذا د دوو احرامو جمع کونکی سو) لِأَنَّهُ جَمَعَ بَيْنَ إِحْرَامَيِ الْعُمْرَةِ ځکه چي هغه د عمرې دوه احرامونه سره جمع کړل وَهَذَا مَكْرُوهٌ او دا مکروه دي فَيَلْزَمُهُ الدَّمُ نو ځکه به دم پر لازم وي وَهُوَ دَمُ جَبْرٍ وَكَفَّارَةٍ او دا دم به د تلافی او کفارې دم وي (يعني دا به د نقصان پوره کونکی او د نقصان د کفارې دم وي).

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

د آفاقي لپاره د حج په احرام کي د عمرې شاملولو حکم

وَمَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ ثُمَّ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ او کوم آفاقي چي د حج احرام وتړي بيا د عمرې احرام وتړي لَزِمَاهُ نو پر هغه دواړه لازم سول لِأَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَهُمَا مَشْرُوعٌ فِي حَقِّ الْآفَاقِيِّ ځکه چي د حج او د عمرې جمع کول د آفاقي په حق کي مشروع دي وَالْمَسْأَلَةُ فِيهِ او مسئله (هم) د آفاقي په باره کي ده فَيَصِيرُ بِذَلِكَ قَارِنًا نو ځکه به آفاقي د دې په ذريعه قارن کرځي لَكِنَّهُ أَخْطَأَ السُّنَّةَ ليکن د سنت خلاف کار يې وکړی فَيَصِيرُ مُسِيئًا نو ځکه به کنهکار وي فَلَوْ وَقَفَ بِعَرَفَاتٍ نو (بيا) که وقوفِ عرفات وکړي وَلَمْ يَأْتِ بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ او د عمرې افعال اداء نه کړي فَهُوَ رَافِضٌ لِعُمْرَتِهِ نو هغه د خپلي عمرې پرېښوونکی سو لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ أَدَاؤُهَا ځکه چي اوس پر هغه د عمرې اداء کول ستونزمن سو إِذْ هِيَ مَبْنِيَّةٌ عَلَى الْحَجِّ غَيْرُ مَشْرُوعَةٍ ځکه چي عمره داسي مشروع نه ده چي هغه دې پر حج مبني وي (بلکي عمره داسي مشروع ده چي حج به پر هغې مبني وي) فَإِنْ تَوَجَّهَ إِلَيْهَا لَمْ يَكُنْ رَافِضًا (خو) که هغه د عرفات و طرف ته متوجه سي نو د عمرې پرېښوونکی به نه وي حَتَّى يَقِفَ تر دې چي وقوفِ عرفه وکړي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ مِنْ قَبْلُ او دا خبره موږ مخکي ذکر کړې ده (يعني د بابُ القِران په آخر کي).

اللغات: ﴿أهلّ﴾ د افعال ماضي ده: د حج نيت کول. ﴿مسيئًا﴾ ګنهکار، غلط کار کونکی.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو آفاقي سړي د حج احرام وتړي، او د حج د افعالو تر اداء کولو مخکي يې د عمرې احرام هم وتړي، نو څرنګه چي دا سړی آفاقي دی، او د آفاقي په حق کي حج او عمره دواړه جمع کول مشروع او صحيح دي، نو ځکه به پر هغه حج او عمره دواړه لازم وي، او په داسي کولو سره به آفاقي قارن ګرځي، خو څرنګه چي اصل او سنت دا دي چي په قران کي د عمرې احرام او د عمرې افعال د حج پر افعالو مخکي کړی سي، ليکن دغه سړي د هغه برعکس عمل وکړی او د سنت مخالفت يې وکړی، نو ځکه به ګنهکاره وي.

فلو وقف الخ اوس که دغه سړي د حج د احرام تر تړلو وروسته د عمرې افعال اداء نه کړل، او سيده عرفات ته ولاړی، وقوفِ عرفه يې وکړی، نو د هغه عمره ختمه سوه يعني عمره ځني فوت سوه بيا يې نه سي اداء کولای، ځکه چي تر وقوفِ عرفه وروسته د عمرې اداء کول متعذر او ناممکنه دي، او هغه دا ډول چي که اوس هغه عمره وکړي، نو عمره به پر حج مبني سي، او پر حج عمره مبني کول مشروع نه دي، نو په دې وجه به تر وقوفِ عرفه وروسته د هغه عمره ختميږي، او که دغه سړي عرفات ته مخ کړی، ليکن وقوفِ عرفه يې نه وکړی، نو صرف د وتلو او د عرفات و طرف ته په متوجه کېدلو سره د هغه عمره نه ختميږي، او تر وقوفِ عرفه مخکي به هغه ته د عمرې پرېښوونکی نه ويل کيږي، لکه څرنګه چي د دې مسئلې تفصيل په بابُ القران کي هم تېر سو.

د حج د افعالو تر شروع کولو وروسته د عمرې د احرام حکم

فَإِنْ طَافَ لِلْحَجِّ او که آفاقي د حج لپاره طوافِ قدوم وکړي ثُمَّ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ بيا د عمرې احرام وتړي فَمَضَى عَلَيْهِمَا او حج او عمره دواړه جاري وساتي لَزِمَاهُ نو دواړه به پر هغه لازم وي وَعَلَيْهِ دَمٌ لِجَمْعِهِ بَيْنَهُمَا او پر هغه به د دواړو د جمع

کولو په وجه يو دم (هم) واجب وي لِأَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَهُمَا مَشْرُوعٌ ځکه چي د دواړو جمع کول مشروع دي عَلَى مَا مَرَّ پر هغه بناء کوم چي تير سو (يعني مخکي تير سو چي د آفاقي په حق کي د دواړو جمع کول مشروع دي) فَصَحَّ الْإِحْرَامُ بِهِمَا لهذا د دواړو احرام صحيح سو وَالْمُرَادُ بِهٰذَا الطَّوَافِ طَوَافُ التَّحِيَّةِ او له دې طواف څخه مراد طوافِ قدوم دی وَأَنَّهُ سُنَّةٌ وَلَيْسَ بِرُكْنٍ او طوافِ قدوم سنت دی رکن نه دی حَتّٰى لَا يَلْزَمَهُ بِتَرْكِهِ شَيْءٌ تر دې چي د طوافِ قدوم په پرېښوولو سره پر هغه هيڅ شی نه لازميږي وَإِذَا لَمْ يَأْتِ بِمَا هُوَ رُكْنٌ او کله چي هغه داسي عمل نه وکړي چي هغه رکن وي يُمْكِنُهُ أَنْ يَأْتِيَ بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ (نو) د هغه لپاره ممکنه ده چي د عمرې افعال اداء کړي ثُمَّ بِأَفْعَالِ الْحَجِّ بيا د حج افعال اداء کړي فَلِهٰذَا لَوْ مَضٰى عَلَيْهِمَا همدا وجه ده که دواړه جاري وساتي جَازَ نو جائز دي وَعَلَيْهِ دَمٌ لِجَمْعِهِ بَيْنَهُمَا او پر هغه به يوه قرباني واجب وي د دواړو د جمع کولو په وجه وَهُوَ دَمُ كَفَّارَةٍ وَجَبْرٍ او هغه د کفارې او د تلافي قرباني ده هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهُ بَانٍ أَفْعَالَ الْعُمْرَةِ عَلٰى أَفْعَالِ الْحَجِّ مِنْ وَجْهٍ ځکه چي دا سړی من وجه د حج پر افعالو د عمرې د افعالو مبني کونکی دی (ځکه طوافِ قدوم که څه هم سنت دی خو بيا هم په يوه درجه کي د حج له افعالو څخه دی).

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو آفاقي د حج طوافِ قدوم وکړی، بيا يې د عمرې احرام وتړی، او دواړه يې جاري وساتل (يعني اول يې عمره شروع کړه بيا يې حج کوی)، نو پر هغه حج او عمره دواړه لازم دي، ځکه چي د آفاقي په حق کي حج او عمره دواړه جمع کول مشروع دي، نو د دواړو احرام صحيح سو.

والمراد بهذا الطواف الخ او په متن کي له طواف څخه مراد طوافِ قدوم دی، او طوافِ قدوم سنت دی، رکن نه دی، د طوافِ قدوم په پرېښوولو سره هيڅ شی نه لازميږي، همدا وجه ده چي د طوافِ قدوم تر اداء کولو وروسته هم د هغه لپاره علی الترتيب عمره او تر هغه وروسته د حج افعال اداء کول صحيح دي، او د دواړو د جمع کولو په وجه يو دم پر واجب دی، او دا دم د کفارې او د نقصان د تلافي لپاره دی، د شکرانې دم نه دی، ځکه چي دا سړی من وجه د حج پر افعالو د عمرې د افعالو بناء کوي، ځکه طوافِ قدوم که څه هم سنت دی (او د حج اصلي عمل نه دی ځکه چي د حج اصلي اعمال له وقوفِ عرفه څخه شروع کيږي)، خو بيا هم په يوه درجه کي د حج عمل دی، نو په دې اعتبار سره به تر طوافِ قدوم وروسته د عمرې افعال اداء کول مکروه وي، او د دې کراهت د جبران او تدارک لپاره به دا دم پر هغه واجب وي.

د حج د احرام په وجه د عمرې احرام پرېښوول

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَرْفُضَ عُمْرَتَهُ او (د دغه آفاقي لپاره) مستحب دا ده چي خپله عمره پرېږدي لِأَنَّ إِحْرَامَ الْحَجِّ قَدْ تَأَكَّدَ بِشَيْءٍ مِنْ أَعْمَالِهِ ځکه چي د حج د څه اعمالو په اداء کولو سره د حج احرام مؤکد سو بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَطُفْ لِلْحَجِّ په خلاف د هغه صورت چي کله يې د حج لپاره طوافِ قدوم کړی نه وي وَإِذَا رَفَضَ عُمْرَتَهُ يَقْضِيهَا او کله چي عمره پرېږدي نو قضاء به يې راوړي لِصِحَّةِ الشُّرُوعِ فِيهَا ځکه چي (د هغه لپاره) په عمرې شروع کول صحيح دي وَعَلَيْهِ دَمٌ لِرَفْضِهَا او پر هغه به دم واجب وي د عمرې د پرېښوولو په وجه.

اللغات: ﴿يرفض﴾ د فتح مضارع ده: پرېښوول، ﴿لم يطف﴾ د نصر جحد معلوم صيغه ده: طواف کول.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

په ايامِ تشريق کې د عمرې احرام تړل

وَمَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ فِي يَوْمِ النَّحْرِ أَوْ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ او څوک چې په ورځ د نحر يا په ورځو د تشريق کې د عمرې احرام وتړي لَزِمَتْهُ نو پر هغه عمره لازميږي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی (يعني: لصحة الشروع فيها) وَيَرْفُضُهَا او دا عمره به پرېږدي أَيْ يَلْزَمُهُ الرَّفْضُ يعني پر هغه (د دې عمرې) پرېښوول واجب دي لِأَنَّهُ قَدْ أَدَّى رُكْنَ الْحَجِّ ځکه چې هغه د حج رکن اداء کړی فَيَصِيرُ بَانِيًا أَفْعَالَ الْعُمْرَةِ عَلَى أَفْعَالِ الْحَجِّ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ نو (د نه پرېښوولو په صورت کې) به دا سړی په هر اعتبار سره د حج پر افعالو د عمرې د افعالو مبني کونکی وګرځيږي وَقَدْ كُرِهَتِ الْعُمْرَةُ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ أَيْضًا او په دې ورځو کې عمره هم مکروه ده عَلَى مَا نَذْكُرُ لکه موږ چې به يې ذکر کړو (په باب الفوات کې) فَلِهٰذَا يَلْزَمُهُ رَفْضُهَا نو په دې وجه هم پر هغه د عمرې پرېښوول لازم دي.

تشريح: په ايامِ تشريق او يومُ النحر کې عمره کول مکروه دي، نو که يو سړي په يومُ النحر يا ايامِ تشريق کې تر حلق يا طواف زيارت مخکې د عمرې احرام وتړی، نو پر هغه عمره لازمه سوه، ځکه چې د عمرې شروع کول صحيح دي، خو د هغه لپاره د عمرې اداء کول صحيح نه دي، ځکه چې په دې ورځو کې عمره اداء کول مکروه دي، نو ځکه به د دې عمرې پرېښوول پر هغه لازم وي، او په دې وجه به هم د عمرې پرېښوول واجب وي چې دغه سړي د حج رکن يعني وقوفِ عرفه اداء کړی دی (ځکه چې هغه تر يومُ النحر او ايامِ تشريق مخکې اداء کيږي، او وقوفِ عرفه د حج اصلي عمل دی، يعني په هر درجه کې د حج عمل دی)، نو اوس که د عمرې افعال اداء کوي، نو په هره درجه کې به د حج پر افعالو د عمرې د افعالو مبني کونکي سي، او داسې کول له سنت څخه خلاف دي، نو ځکه به د عمرې له پرېښوولو څخه علاوه بله لاره نه وي.

د پورتنۍ مسئلې څه نور تفصيل

فَإِنْ رَفَضَهَا نو که دغه سړی عمره پرېږدي فَعَلَيْهِ دَمٌ لِرَفْضِهَا وَعُمْرَةٌ مَكَانَهَا نو د عمرې د پرېښوولو په وجه به پر هغه يو دم واجب وي او د هغې پر ځای به يوه عمره پر واجب وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی فَإِنْ مَضَى عَلَيْهَا ليکن که هغه دا عمره پوره کړي أَجْزَأَهُ نو دا د هغه لپاره کافي سوه لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ لِمَعْنًى فِي غَيْرِهَا ځکه چې کراهت د داسې معنیٰ په وجه دی چې هغه معنیٰ د عمرې په غير کې ده (يعني کراهت په بل شي کې سته نه په عمره کې) وَهُوَ كَوْنُهُ مَشْغُولًا فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ بِأَدَاءِ بَقِيَّةِ أَعْمَالِ الْحَجِّ او هغه د دغه سړي په دې ورځو کې د حج په نورو اعمالو سره مشغوله کېدل دي فَيَجِبُ تَخْلِيصُ الْوَقْتِ لَهُ تَعْظِيمًا نو د تعظيم په خاطر به د حج لپاره وخت فارغه کول واجب وي وَعَلَيْهِ دَمٌ لِجَمْعِهِ بَيْنَهُمَا او د حج او عمرې د جمع کولو په وجه به پر هغه يو دم واجب وي إِمَّا فِي الْإِحْرَامِ أَوْ فِي الْأَعْمَالِ الْبَاقِيَةِ يا په احرام کې د جمع کولو په وجه (به دم پر واجب وي) يا د حج په نورو اعمالو کې د جمع کولو په وجه (به دم

پر واجب) قَالُوا: وَهٰذَا دَمُ كَفَّارَةٍ أَيْضًا مشائخو فرمايلي دي، چې دا هم د كفارې قرباني ده وَقِيلَ: إِذَا حَلَقَ لِلْحَجِّ او ويل سوي دي، چې كله د حج لپاره حلق وكړي ثُمَّ أَحْرَمَ بيا د عمرې احرام وتړي لَا يَرْفُضُهَا نو عمره به نه پرېږدي عَلىٰ ظَاهِرِ مَا ذُكِرَ فِي الْأَصْلِ د مبسوط د ظاهري عبارت مطابق وَقِيلَ: يَرْفُضُهَا احْتِرَازًا عَنِ النَّهْيِ او ويل سوي دي، چې عمره به پرېږدي چې له نهي څخه خوندي سي قَالَ الْفَقِيهُ أَبُو جَعْفَرٍ: وَمَشَايِخُنَا عَلىٰ هٰذَا فقيه ابو جعفر فرمايلي دي، چې زموږ مشائخ (هم) پر دغه قول دي (چې عمره به پرېږدي).

اللغات: ﴿تخليص﴾ د تفعيل مصدر دى: خالي كول، خالص كول، فارغه كول. ﴿احتراز﴾ د افتعال مصدر دى: ځان ساتل.

تشريح: تر دې مخكې دا بيان وسو چې د حج او عمرې د جمع كونكي آفاقي لپاره عمره پرېښوول غوره او مستحب دي، له دې ځايه دا ربښيي چې كله دغه آفاقي پر استحباب عمل وكړي، او عمره پرېږدي، نو اوس به د عمرې د پرېښوولو په وجه پر هغه يو دم لازميږي، او د عمرې په بدله كې به بله عمره پر لازميږي.

فإن مضى الخ او كه عمره نه پرېږدي، بلكي پوره يې كړي، نو دا د هغه لپاره كافي او جائز دي، ځكه چې د عمرې په ذات كي هيڅ كراهت نسته، بلكي كراهت د داسي سبب په وجه دی چې هغه په غير كي دی، او هغه سبب دا دی چې كه هغه په عمره لګيا وي نو د حج د پاته افعالو لپاره وخت نه سي فارغه كولای، حال دا چې پر هغه د حج د پاته افعالو لپاره وخت فارغه كول واجب دي، لېكن د عمرې داداء كولو په وجه هغه داسي نسي كولای، خو بيا به هم په دې سره د هغه پر عمرې هيڅ اثر نه پرېوځي، ځكه چې د كراهت سبب له عمرې څخه علاوه په بل شي كي دی.

حاصل دا چې كله هغه عمره اداء كړه، نو د حج او د عمرې د يو ځای اداء كولو په وجه پر هغه يو دم واجبيږي، او د دواړو جمع كول او يو ځای اداء كول خو به يا په يوه احرام كي وي، په دې توګه چې هغه د حج تر حلق كولو مخكې د عمرې احرام وتړي (نو په دې صورت كي هغه په يوه احرام كي حج او عمره دواړه جمع كړل). يا دا جمع به د حج په باقي افعالو يعني په رمئ جمار او نورو كي وي (يعني هغه تر اوسه يې لا طوافِ زيارت كړی نه دی او احرام يې وتړی نو د حج پاته اعمال يې په عمره كي شريک كړل)، لنډه دا چې جمع يې وكړه، نو د دې جمعې په وجه به پر هغه د كفارې دم واجبيږي.

وقيل الخ ځيني حضرات وايي: كه دغه آفاقي د حج لپاره حلق وكړي، بيا يې احرام وتړي، نو په دې لړ كي د فقهاؤ دوه نظرونه دي: (١) د ځيني فقهاؤ نظر دا دی چې عمره به نه پرېږدي، يعني د عمرې پرېښوول واجب نه دي، لكه څرنګه چې د مبسوط له ظاهري عبارت څخه هم دا معلوميږي، (٢) او د ځيني حضراتو نظر دا دی چې عمره به پرېږدي، يعني پرېښوول يې واجب دي، چې له هغه نهي څخه ځان وساتي كوم چې په دې ورځو كي د عمرې كولو په باره كي راغلي دي، فقيه ابو جعفر هندواني وايي چې زموږ مشائخ هم پر دې قول دي، يعني چې د عمرې پرېښوول واجب دي.

د فوت سوي حج لپاره د بل احرام تفصيل

فَإِنْ فَاتَهُ الْحَجُّ او كه له يو چا څخه حج قضاء سي ثُمَّ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ أَوْ بِحَجَّةٍ بيا د عمرې يا حج احرام وتړي فَإِنَّهُ يَرْفُضُهَا نو هغه به (دويمه عمره يا حج) پرېږدي لِأَنَّ فَائِتَ الْحَجِّ يَتَحَلَّلُ بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ ځكه چې د حج فوتونكی د عمرې په افعالو سره حلاليږي مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقَلِبَ إِحْرَامُهُ إِحْرَامَ الْعُمْرَةِ بغير له دې څخه چې د هغه احرام دي د عمرې په احرام

بدل سي هَلْ مَا يَأْتِيكَ فِي بَابِ الْفَوَاتِ إِنْ شَاءَ اللهُ چي دا به تاته انشاء الله په بابُ الفوات کي راسي فَيَصِيرُ جَامِعًا بَيْنَ الْعُمْرَتَيْنِ مِنْ حَيْثُ الْأَفْعَالِ نو د افعالو په اعتبار سره به هغه د دوو عمرو جمع کونکی وګرځيږي فَعَلَيْهِ أَنْ يَرْفُضَهَا نو ځکه به پر هغه د عمرې پرېښوول واجب وي كَمَا لَوْ أَحْرَمَ بِعُمْرَتَيْنِ لکه په هغه صورت کي چي (هم د عمرې پرېښوول واجب دي) کله چي د دوو عمرو احرام وتړي.

اللغات: ﴿فاته﴾ د نصر ماضي ده: فوتېدل، قضاء کېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که له يو چا څخه حج فوت سي (مثلاً وقوف عرفه څني فوت سي)، او هغه دويم وار د عمرې يا د حج احرام وتړي، نو هغه به دا دويم پرېږدي، هغه که عمره وي، که حج، ځکه چي د حج فوتونکی (يعني له چا څخه چي حج فوت سي هغه) د عمرې د افعالو په اداء کولو سره حلاليږي، بغير له دې څخه چي د هغه احرام دي واوړي د عمرې احرام دي سي، نو په اعتبار د افعالو دا سړی د دوو عمرو جمع کونکی سو، او دا جائز نه دي، نو ځکه به عمره پرېږدي، لکه په هغه وخت کي چي هم پرېښوول کيږي کله چي هغه د دوو عمرو احرام وتړي.

تر حج فوتېدلو وروسته د بل حج احرام تړل

وَإِنْ أَحْرَمَ بِحَجَّةٍ او که هغه (دويم وار) د حج احرام وتړي يَصِيرُ جَامِعًا بَيْنَ الْحَجَّتَيْنِ إِحْرَامًا نو هغه د احرام په اعتبار سره د دوو حجونو جمع کونکی سو فَعَلَيْهِ أَنْ يَرْفُضَهَا نو پر هغه واجب دي چي دويم حج پرېږدي كَمَا لَوْ أَحْرَمَ بِحَجَّتَيْنِ لکه په هغه صورت کي چي کله هغه (يو ځای) د دوو حجونو احرام وتړي وَعَلَيْهِ قَضَاؤُهَا او پر هغه د دې قضاء واجب ده لِصِحَّةِ الشُّرُوعِ فِيهَا ځکه چي د دويم حج شروع کول صحيح سو وَدَمٌ لِرَفْضِهَا او د هغه د پرېښوولو په وجه دم (هم) پر واجب دی بِالتَّحَلُّلِ قَبْلَ أَوَانِهِ تر خپل وخت مخکي په حلالېدلو سره. والله أعلم بالصواب.

تشريح: **مسئله**: دا ده که دغه سړي تر حج فوتېدلو وروسته د دويم حج احرام وتړی، نو په دې صورت کي هغه په يوه احرام کي د دوو حجونو جمع کونکی سو، او دا ناجائز دي، نو ځکه به پر هغه دويم حج پرېښوول واجب وي، لکه څرنګه چي په هغه وخت کي هم واجب دي چي کله د دوو حجونو احرام وتړي، خو پر هغه د دې حج قضاء لازم ده، ځکه چي د حج شروع کول صحيح دي، او يو دم هم پر واجب دی، ځکه کله چي يې دويم حج يې پرېښووی نو تر وخت مخکي حلال سو. والله أعلم بالصواب



بَابُ الْإِحْصَارِ

(دا) باب (له حج څخه) د منع کېدلو (په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چي احصار هم د محرم په حق کي جنايت دی، نو دا هم تر بابُ الجنايات وروسته د مستقل او جلا باب په ضمن کي بيانيږي.

د إحصار لغوي معنیٰ ده: منع کول، بندول. اصطلاحي او شرعي معنیٰ يې ده: چي محرم د دښمن د بيري يا د يو بل عذر يا د يو مرض په وجه د حج يا د عمرې د افعالو له اداء کولو څخه منع سي (بند سي)، او څوک چي منع سي هغه ته مُحصر ويل کيږي.

د محصر تفصيلي تعريف او حکم

وَإِذَا أُحْصِرَ الْمُحْرِمُ بِعَدُوٍّ او کله چي محرم (له حج يا عمرې څخه) د دښمن په وجه منع سي أَوْ أَصَابَهُ مَرَضٌ يا په يوه مرض مبتلا سي فَمَنَعَهُ مِنَ الْمُضِيِّ او مرض هغه (د حج يا د عمرې) له پوره کولو څخه منع کړي جَازَ لَهُ التَّحَلُّلُ نو د هغه لپاره حلال کېدل جائز دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : لَا يَكُونُ الْإِحْصَارُ إِلَّا بِالْعَدُوِّ او امام شافعي فرمايي: چي احصار (يعني منع کېدل) به نه ثابتيږي مګر د دښمن په وجه لِأَنَّ التَّحَلُّلَ بِالْهَدْيِ شُرِعَ فِي حَقِّ الْمُحْصَرِ لِتَحْصِيلِ النَّجَاةِ ځکه چي د محصر په حق کي د نجات حاصلولو لپاره په هدي سره حلال کېدل مشروع سوي دي وَبِالْإِحْلَالِ يَنْجُو مِنَ الْعَدُوِّ لَا مِنَ الْمَرَضِ او په حلال کېدلو سره نجات له دښمن څخه حاصليږي نه له مرض څخه وَلَنَا أَنَّ آيَةَ الْإِحْصَارِ وَرَدَتْ فِي الْإِحْصَارِ بِالْمَرَضِ بِإِجْمَاعِ أَهْلِ اللُّغَةِ او زموږ دليل دا دی چي د احصار آيت د لغتپوهانو په اتفاق د مرض په وجه د محصر کېدلو په باره کي راغلی دی فَإِنَّهُمْ قَالُوا: الْإِحْصَارُ بِالْمَرَضِ ځکه لغتپوهانو ويلي دي: چي احصار د مرض په وجه راځي وَالْحَصْرُ بِالْعَدُوِّ او حصر د دښمن په وجه راځي وَالتَّحَلُّلُ قَبْلَ أَوَانِهِ لِدَفْعِ الْحَرَجِ الْآتِي مِنْ قِبَلِ امْتِدَادِ الْإِحْرَامِ او تر وخت مخکي حلال کېدل د هغه حرج ليري کولو لپاره دي چي د احرام د اوږدېدلو په وجه سره راځي وَالْحَرَجُ فِي الْإِصْطِبَارِ عَلَيْهِ مَعَ الْمَرَضِ أَعْظَمُ او د مرض سره پر احرام د صبر کولو تکليف ډېر زيات دی.

اللغات: ﴿أحصر﴾ د افعال ماضي مجهوله ده: بندېدل، منع کېدل، ايسارېدل. ﴿مضي﴾ مصدرِ ميمي دی: پوره کول، جاري ساتل (روانېدل)، تېرېدل. ﴿تحلل﴾ د تفعّل مصدر دی: حلال کېدل، احرام خلاصول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو محرم د دښمن د بيري يا د مرض په وجه د حج يا د عمرې د افعالو له پوره کولو څخه منع سي، نو د هغه لپاره د حج يا د عمرې د افعالو له اداء کولو څخه بغير د هدي د څاروي په ذبحه کولو سره حلال کېدل جائز دي، او امام شافعي فرمايي چي احصار صرف په دښمن سره ثابتيدای سي، په مرض او داسي نورو سره احصار نه ثابتيږي، همدا قول د امام مالک دی.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د الله دا قول فإن أُحصرتم فما استيسر من الهدی د احصار په باره کې را نازل سوی دی، يعني کله چې د اسلام دښمنانو نبي ﷺ او صحابه په حديبيه کې له حج څخه منع کړل، نو دا آيت نازل سو، د آيت حاصل دا دی چې "تاسو د هدي څاروبان ذبحه کړی او حلال سئ". او همداسي وسوه، نو له دې آيت څخه معلوميږي چې د احصار به د دښمن په وجه ثابتيږي، نه د مرض په وجه، دويم دليل دا دی چې د محصر په حق کې هدی ذبحه کول او حلال کېدل ځکه مشروع سوي دي چې محصر له راتلونکي بيري او عذر څخه نجات حاصل کړي، او موږ دا وينو چې نجات صرف له دښمن څخه حاصليږي، ځکه چې تر هدي ذبحه کولو وروسته هم له مرض څخه نجات او خلاصون نه حاصليږي، بلکي هغسي به پاته وي، نو له دې څخه هم معلوميږي چې احصار د دښمن سره خاص دی.

زموږ دليل: دا دی چې د احصار آيت د احصار بالمرض په باره کې را نازل سوی دی، او پر دې د ټولو لغتپوهانو اجماع ده، لکه څرنګه چې لغتپوهانو ويلي دي چې احصار د مرض په وجه منع کېدلو (او احصار) ته ويل کيږي، او حصر د دښمن په وجه احصار ته ويل کيږي، لهذا له دې آيت څخه د مرض په وجه محصر کېدل ثابت سو، او د دښمن په وجه احصار د حديث يعني د حديبيې په واقعه سره ثابتيږي، نو معلومه سوه چې احصار د دښمن سره خاص نه دی، لکه امام شافعي چې وايي، بلکي د دښمن او مرض دواړو په وجه إحصار راځي.

والتحلل قبل أوانه الخ د دې حاصل دا دی چې موږ تسليمو چې د احصار آيت د دښمن په حق کې رانازل سوی دی، لېکن مرض به د دښمن سره لاحقيږي، په دې توګه چې محصر ته تر وخت مخکي د حلال کېدلو اجازه د هغه حرج د ليري کولو په وجه ده کوم چې د احرام د زمانې په اوږدولو سره پيدا کيږي، او په مرض کې پر احرام د صبر کولو حرج زيات دی په نسبت سره د دښمن د احصار و حرج ته، ځکه چې په مرض کې دواء او علاج ته هم هغه مجبوره کيږي، او له حرکت کولو څخه هم عاجزه وي، نو کله چې د ادنیٰ حرج د ليري کولو لپاره احصار تسليم کړی سو، نو د اعلیٰ درجې د حرج ليري کولو لپاره به په مرض سره د احصار اعتبار په درجه اولیٰ کيږي.

د محصر لپاره د حلال کېدلو طريقه

وَإِذَا جَازَ لَهُ التَّحَلُّلُ او کله چې د مُحصر لپاره حلال کېدل جائز سي يُقَالُ لَهُ: اِبْعَثْ شَاةً نو هغه ته به وويل سي: چې يوه بزه واستوه تُذْبَحُ فِي الْحَرَمِ چې په حرم کې ذبحه کړی سي وَوَاعِدْ مَنْ تَبْعَثُهُ بِيَوْمٍ بِعَيْنِهِ يَذْبَحُ فِيهِ او (ورته وبه ويل سي چې ته) د چا په لاس هدی استوې د هغه سره د يوې ټاکلي ورځي وعده وکړه چې په دغه ورځ به هدی ذبحه کوي ثُمَّ تَحَلَّلَ بيا به (په هغه ورځ) محصر حلال سي وَإِنَّمَا يُبْعَثُ إِلَى الْحَرَمِ لِأَنَّ دَمَ الْإِحْصَارِ قُرْبَةٌ او حرم ته به ځکه استول کيږي چې د احصار قرباني يو عبادت دی وَالْإِرَاقَةُ لَمْ تُعْرَفْ قُرْبَةً إِلَّا فِي زَمَانٍ أَوْ مَكَانٍ او وينه بيول فقط په زمان يا مکان کې عبادت پېژندل سوي دي عَلَى مَا مَرَّ لکه څرنګه چې (مخکې) تېر سو (په فصلُ الصيد کې: الهدی قربة غير معقولة فيختص بزمان أو مكان) فَلَا يَقَعُ قُرْبَةً دُونَهُ نو بغير له زمان او مکان څخه به هغه عبادت نه واقع کيږي فَلَا يَقَعُ بِهِ التَّحَلُّلُ لهذا په هغه سره به حلال کېدل هم نه واقع کيږي وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ [البقرة: ۱۹۶] همد دغه و طرف ته (چې دمُ الاحصار عبادت دی او د زمان يا مکان سره به خاص وي) د الله تعالیٰ په

(دې) قول کې اشاره سوې ده: ولا تحلقوا رؤسكم...(او مه خريئ سرونه خپل تر دې چې ورسيږي هدی خپل ځای ته) قَالَ الْهَدْيُ اِسْمٌ لِمَا يُهْدٰى إِلَى الْحَرَمِ ځکه چې هدی نوم دی د هغه شي چې حرم ته واستول سي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَتَوَقَّتُ بِهِ او امام شافعي فرمايي: چې هدی د حرم سره خاص نه ده لِأَنَّهُ شُرِعَ رُخْصَةً ځکه چې هغه د رخصت په توګه مشروع سوې ده وَالتَّوْقِيتُ يُبْطِلُ التَّخْفِيفَ او تعيين(تخصيص) تخفيف باطلوي قُلْنَا: الْمُرَاعٰى أَصْلُ التَّخْفِيفِ موږ وايو: چې د اصل تخفيف مراعات سوی دی لَا نِهَايَتُهُ لېکن د تخفيف د انتهاء مراعات نه دي سوی وَتَجُوزُ الشَّاةُ لِأَنَّ الْمَنْصُوصَ عَلَيْهِ الْهَدْيُ او بزه جائز ده ځکه چې منصوص عليه هدی ده (يعني په قرآن کريم کې د هدي ذکر سوی دی) وَالشَّاةُ أَدْنَاهُ او بزه د هدي کمه درجه ده وَتُجْزِيهِ الْبَقَرَةُ وَالْبُدْنَةُ او د هغه لپاره غوا او اوښ هم جائز دي أَوْ سُبْعُهُمَا او د هغو اوومه حصه هم جائز ده كَمَا فِي الضَّحَايَا لکه څرنګه چې (د لوی اختر) په قربانيو کې (د هغو اوومه حصه جائز ده) وَلَيْسَ الْمُرَادُ بِمَا ذَكَرْنَا بَعْثَ الشَّاةِ بِعَيْنِهَا او کوم چې موږ ذکر کړه له هغه څخه متعينه(او معلومه) بزه استول مراد نه دي لِأَنَّ ذٰلِكَ قَدْ يَتَعَذَّرُ ځکه چې دا کله نا کله نامکنه وي بَلْ لَهُ أَنْ يَبْعَثَ بِالْقِيمَةِ بلکې د هغه لپاره (دا هم) جائز دي چې قيمت واستوي حَتّٰى تُشْتَرَى الشَّاةُ هُنَالِكَ وَتُذْبَحَ عَنْهُ چې هلته(يعني په حرم کې) بزه رانيول سي او د هغه له طرفه ذبحه کړی سي وَقَوْلُهُ ثُمَّ تَحَلَّلَ إِشَارَةٌ إِلٰى أَنَّهُ لَيْسَ عَلَيْهِ الْحَلْقُ أَوِ التَّقْصِيرُ او د ماتن دا قول ثم تحلّل د دې خبرې و طرف ته اشاره(ده) چې پر محصر حلق يا قصر واجب نه دی وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ او همدا قول د طرفينو دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: عَلَيْهِ ذٰلِكَ (لېکن) امام ابو يوسف فرمايي: چې پر هغه حلق يا قصر واجب دی وَلَوْ لَمْ يَفْعَلْ لَا شَيْءَ عَلَيْهِ خو که حلق نه وکړي نو (هم) هيڅ شی پر واجب نه دی لِأَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● حَلَقَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ ځکه چې نبي ﷺ (هم) د حديبيې په کال حلق کړی وو وَكَانَ مُحْصَرًا بِهَا حال دا چې هغه په حديبيه کې محصر وو وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ بِذٰلِكَ او صحابه وو ته يې (هم) د دې حکم کړی وو وَلَهُمَا أَنَّ الْحَلْقَ إِنَّمَا عُرِفَ قُرْبَةً مُرَتَّبًا عَلٰى أَفْعَالِ الْحَجِّ د طرفينو دليل دا دی چې د حلق عبادتوالی هغه وخت پېژندل سوی چې د حج پر افعالو مرتّب کړی سي(يعني حلق هغه وخت عبادت دی چې د حج پر افعالو مرتّب کړی سي يعني د حج تر افعالو وروسته کړی سي، او محصر يو فعل هم اداء کړی نه دي) فَلَا يَكُونُ نُسُكًا قَبْلَهَا لهذا د حج تر افعالو مخکې به حلق عبادت نه وي وَفَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ لِيُعْرَفَ اِسْتِحْكَامُ عَزِيمَتِهِمْ عَلَى الْإِنْصِرَامِ او نبي کريم ﷺ او صحابه وو حلق ځکه وکړی چې پر واپس تګ د هغو د عزم مستحکم کېدل(کفارو ته) معلوم سي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلح من المشركين، حديث رقم: ۲۷۰۱.

اللغات: ﴿مراعى﴾ د مفاعلې اسم مفعول دی: هغه چې رعايت او خيال يې ساتل سوی وي. ﴿نهاية﴾ انتهائي درجه، ﴿ضحايا﴾ قربانياني، ﴿استحكام﴾ د استفعال مصدر دی: مستحکم کېدل، مضبوطېدل(يعني پخه اراده). ﴿انصرام﴾ د انفعال مصدر دی: پرېکېدل، واپس تلل.

تشريح: په دې اوږده عبارت کي صرف دا ښوول سوې ده چي کله د دښمن يا د مرض او نورو په وجه يو محرم محصر سي، نو د هغه لپاره حلال کېدل جائز دي، لهذا د احصار په وخت کي به هغه ته وويل سي چي حرم ته يوه بزه(هدی) واستوه، نو هغه دي بزه(هدی) واستوي، او چي د چا په لاس هدی ورکوي له هغه څخه دي د يوې تاکلي ورځي وعده واخلي چي په دې ورځ به هغه دا هدی ذبحه کوي، بيا به د هغه تاريخ مطابق محصر محرم هم ځان حلال کړي، ښکاره دي وي چي د هدي د ذبحه کولو لپاره ورځ ټاکل او خاصول د امام صاحب قول دی، ځکه چي د هغه په نېز د احصار د دم لپاره يوه ورځ هم خاصه او متعينه نه ده، نو د ورځي د متعينولو وعده به د امام صاحب په نېز ځکه کېږي چي محصر ته خپل د حلال کېدلو وخت معلوم سي، او د صاحبينو په نېز چي څرنګه چي د احصار دم په حج کي دننه د يومُ النحر سره متعين او خاص دی، نو ځکه به د هغوی په نېز د ورځي د متعينولو ضرورت نه وي، هو! لېکن په عمره کي د هغو په نېز هم ورځ متعينول ضروري دي.

محصر چي کله دمِ احصار واستوي، نو اوس هغه ته اختيار دی چي په دغه ځای کي پاتېږي، يا وطن ته واپس ځي، بيا چي کله متعينه ورځ راسي، او هغه ته يقين سي، چي هدی به ذبحه سوې وي، نو اوس به محصر ته حلالېدل جائز وي، يعني هغه ټوله شيان به ورته جائز وي کوم چي د حلال لپاره جائز دي.

وإنما يبعث فرمايي چي د هدي څاروی به حرم ته ځکه استول کېږي، چي دمِ احصار قربت او عبادت دی، او د وينو بيول په هغه صورت کي عبادت پېژندل سوي دي، چي کله د وينو بيول د يو مکان يا د يو زمان سره خاص وي، نو کله چي بغير له حرمه وينه بيول عبادت نه دي، نو په دې سره به محصر هم نه حلالېږي.

وإليه الإشارة الخ په قرآن کريم کي هم دا اشاره سوې ده چي دمُ الاحصار به د مکان سره خاص وي: ولا تحلقوا رؤسكم حتى يبلغ الهدى محله [البقرة:۱۹۶]، بيا د محل تفسير داسي سوی دی: ثمّ محلها إلى البيت العتيق [الحج:۳۵]، او مراد ځني عينِ کعبه نه ده، ځکه چي په عينِ کعبه کي وينه نه بيول کېږي، لهذا له دې څخه به حرم مراد وي، اوس به يې ترجمه دا وي: "چي سرونه مه خريئ تر دې چي هدی حرم ته ورسيږي"، نو له دې څخه هم معلومه سوه چي د هدي څاروی په حرم کي دننه ذبحه کول ضروري دي، همدا ډول په دې آيت کي د دمُ الاحصار په باره کي لفظ دهدي راغلی دی، او هدی هغه ته ويل کېږي چي حرم ته واستول سي، او هلته ورسول سي.

وقال الشافعي الخ امام شافعي فرمايي چي هدی د حرم سره خاصول صحيح نه دي، بلکه که يو محصر په غيرِ حرم کي هم هدی ذبحه کړي او حلال سي، نو هيڅ حرج نسته، ځکه چي د محصر لپاره هدی ذبحه کول او حلال کېدل رخصت دي، يعني په احصار کي د هدي ذبحه کولو او د محصر د حلال کېدلو وجه دا ده چي محصر ته په دې کي آساني او تخفيف حاصل سي، نو اوس که د ذبحي لپاره حرم خاص کړی سي، نو آساني به ختمه سي، نور تکليف او ستونزه به پيدا سي، نو ځکه به د ذبحي لپاره حرم نه خاصيږي.

قلنا الخ زموږ له طرفه جواب دا دی چي دلته خو د اصل تخفیف او آساني لحاظ او رعایت سوی دی یعني فقط د هدي په استولو سره خو د حلال کېدلو اجازه ورکول سوې ده، لېکن د انتهائي درجې رعایت او لحاظ به نه کیږي چي چیري محصر وغواړي هلته به هدی ذبحه کوي.

ویجوز الشاة الخ فرمایي چي په هدی کي لږ تر لږه بزه هم جائز ده، ځکه چي په دې آیت کي دا الفاظ هم راغلي دي: فما استیسر من الهدی [البقرة:۱۹۶]، (یعني کومه هدی چي تاسو ته آسانه وي)، او د هدي کمه درجه محرم ته آسانه وي، او د هدي کمه درجه بزه ده، لهذا بزه به جائز وي، او کله چي بزه جائز ده، نو ښکاره ده چي اوښ، غوا او د هغو اوومه حصه به په درجه اولیٰ جائز وي، لکه څرنګه چي په قرباني کي دا ټوله شیان سره برابر دي، او د ټولو قرباني جائز ده، همداسي به په هدي کي هم د ټولو ذبحه کول جائز وي.

ولیس المراد الخ فرمایي چي خاص د بزې استول هم ضروري نه دي، بلکي که قیمت واستوي، او په حرم کي په هغه سره بزه رانیسي او ذبحه یې کړي، نو هم جائز دي، ځکه چي ډېر واره د بزې استول متعذر او ناممکنه وي.

وقوله ثم تحلل الخ فرمایي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول ثم تحلل و دې خبري ته اشاره کوي چي پر محصر د حلال کېدلو لپاره حلق یا قصر کول واجب نه دي، او همدا د طرفینو قول دی، او ابو یوسف وایي چي پر محصر حلق یا قصر واجب دي، لېکن که حلق یا قصر نه وکړي، نو دم نه واجبیږي، که څه هم ګنهکاره کیږي. د امام ابو یوسف دلیل دا دی چي د حدیبیې په کال نبي ﷺ حلق کړی وو، حال دا چي نبي ﷺ په حدیبیه کي محصر وو، او صحابه وو ته یې هم د حلق امر کړی وو، له دې څخه معلومیږي چي د حلال کېدلو لپاره د هدي ذبحه کول کافي نه دي، بلکي تر ذبحي وروسته حلق یا قصر کول هم واجب دي. (صاحب د بنایې دلته فرمایي چي د امام ابو یوسف په نېز هم حلق یا قصر واجب نه دی بلکي مستحب دی، او د امام قدوري مراد هم دغه دی، ځکه که حلق یا قصر واجب کړی سي، نو د واجب د پرېښوولو په وجه به خامخا دم واجبیږي).

لهما أن الحلق الخ د طرفینو دلیل دا دی چي حلق یو داسي عبادت دی کوم چي د حج پر افعالو مرتب کیږي، د حج د افعالو تر اداء کولو مخکي حلق د حج یو فعل نه سي کېدلای، او څرنګه چي محصر د حج له افعالو څخه بې برخي دی، نو ځکه به د هغه په حق کي حلق یا قصر عبادت او نسک نه وي، او نه به د حلق کول پر هغه ضروري وي.

وفعل النبی الخ پاته سو د نبي ﷺ او صحابه وو حلق کول نو د هغه وجه دا وه چي د حدیبیې په کال د مسلمانانو او مشرکینو په مینځ کي پر دې خبره صلح واقع سوې وه چي مسلمانان به په دې کال بې له عمرې کولو واپس ځي، او مسلمانانو دا خبره منظور هم کړه، نو بیا مسلمانانو همد دغه لپاره سرونه وخریل چي کفارو ته دا ور وښیي چي زموږ اراده پخه ده یعني موږ رښتیا هم بې له عمرې ځو، او دا ځکه چي کفار له مسلمانانو څخه په أمن سي، او کفار د مسلمانانو سره د څه مکر او چلبازی معامله نه وکړي، لنډه دا چي د نبي ﷺ او صحابه وو حلق له احرام څخه د وتلو لپاره نه وو، بلکي د پورتني مقصد لپاره وو، نو ځکه وویل سوه چي پر محصر د حلال کېدلو لپاره حلق یا قصر کول واجب نه دي.

كه محصر قارن وو نو د هغه حكم

فَإِنْ كَانَ قَارِنًا بَعَثَ بِدَمَيْنِ او كه محصر قارن وي نو دوه دمه دي واستوي لِاحْتِيَاجِهِ إِلَى التَّحَلُّلِ مِنْ إِحْرَامَيْنِ ځكه چي هغه له دوو احرامونو څخه حلال كېدلو ته محتاجه دی فَإِنْ بَعَثَ بِهَدْيٍ وَاحِدٍ خو كه هغه يوه هدی د دې لپاره واستوي لِيَتَحَلَّلَ عَنِ الْحَجِّ چي د حج له احرام څخه حلال سي وَيَبْقَى فِي إِحْرَامِ الْعُمْرَةِ او د عمري په احرام كي پاته سي لَمْ يَتَحَلَّلْ عَنْ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو په دواړو كي له يوه څخه(هم) نه حلالېږي لِأَنَّ التَّحَلُّلَ مِنْهُمَا شُرِعَ فِي حَالَةٍ وَاحِدَةٍ ځكه چي له دواړو څخه حلال كېدل په يوه حالت كي مشروع سوي دي(يعني دواړه يو ځاى ترل كيږي او يو ځاى به يعني د لوى اختر په ورځ[يوم النحر] به څني حلالېږي، يو پر بل مخكي كول صحيح نه دي).

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښكاره دی.

د إحصار د قرباني د حلالولو وخت او ځاى

وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ دَمِ الْإِحْصَارِ إِلَّا فِي الْحَرَمِ او جائز نه دي د احصار دم ذبح كول(حلالول) مګر په حرم كي وَيَجُوزُ ذَبْحُهُ قَبْلَ يَوْمِ النَّحْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● او د امام صاحب په نېز تر يومُ النحر مخكي (هم په حرم كي) د هغه ذبحه كول جائز دي وَقَالَا: لَا يَجُوزُ الذَّبْحُ لِلْمُحْصَرِ بِالْحَجِّ إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ او صاحبين فرمايي: چي د محصر بالحج لپاره ذبحه كول جائز نه دي مګر په يومُ النحر كي وَيَجُوزُ لِلْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ مَتَى شَاءَ او د محصر بالعمره لپاره جائز دي چي هر وخت وغواړي اِعْتِبَارًا بِهَدْيِ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ د تمتع او قِران پر قرباني په قياسولو سره وَرُبَّمَا يَعْتَبِرَانِهِ بِالْحَلْقِ او صاحبين د احصار هدی پر حلق قياسوي إِذْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُحَلِّلٌ ځكه چي له دواړو څخه هر يو محلل دی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ دَمُ كَفَّارَةٍ او د امام صاحب دليل دا دی چي دا د كفارې دم دی حَتَّى لَا يَجُوزُ الْأَكْلُ مِنْهُ تر دې چي له دې څخه خوراک كول جائز نه دي فَيَخْتَصُّ بِالْمَكَانِ دُونَ الزَّمَانِ نو ځكه به د مكان (يعني د حرم) سره خاص وي نه د زمان(يعني د يومُ النحر) سره كَسَائِرِ دِمَاءِ الْكَفَّارَاتِ لكه د كفاراتو نور دمونه بِخِلَافِ دَمِ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ په خلاف د تمتع داو د قران د دم لِأَنَّهُ دَمُ نُسُكٍ ځكه چي هغه دم نسک دی(يعني د عبادت دم دی) وَبِخِلَافِ الْحَلْقِ لِأَنَّهُ فِي أَوَانِهِ او په خلاف د حلق ځكه چي هغه په خپل وخت كي دی لِأَنَّ مُعْظَمَ أَفْعَالِ الْحَجِّ وَهُوَ الْوُقُوفُ يَنْتَهِي بِهِ ځكه چي د حج په افعالو كي تر ټولو مهم فعل يعني وقوف عرفه په دغه حلق سره پوره كيږي.

تشريح: په دې عبارت كي دوې مسئلې بيان سوي دي: اوله مسئله متفق عليه ده، هغه دا ده چي د احصار دم په حرم كي ذبحه كول ضروري دي، بل ځای يې ذبحه كول صحيح نه دي، او دويمه مختلف فيه مسئله دا ده چي د امام صاحب په نېز تر يومُ النحر مخكي د محصر بالحج او محصر بالعمره دواړو لپاره دم احصار ذبحه كول صحيح او جائز دي، لېكن د صاحبينو په نېز په دواړو كي فرق دی، د محصر بالعمرة لپاره خو تر يومُ النحر مخكي دم احصار ذبحه كول جائز دي،

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:٣، ص: ٢٥٣. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٣٨]

لېکن د محصر بالعمره لپاره جائز نه دي، بلکې د هغه لپاره خاص په يومُ النحر کې دمِ احصار ذبحه کول لازم او ضروري دي.

د صاحبينو دليل: قياس دی، يعني څرنګه چې دمِ تمتع او دمِ قران محلل دي، او د يومُ النحر سره خاص دي، او له دې څخه علاوه په نورو ورځو کې د هغو ذبحه کول جائز نه دي، همدارنګه به دمِ احصار هم تر يومُ النحر پورې خاص وي، او له يوم النحر څخه علاوه به د هغه ذبحه کول جائز نه وي، ځکه چې دا هم محلل دی، نو ځکه به دا هم د نورو دمونو په شان د يوم النحر سره خاص وي.

د صاحبينو دويم دليل دا دی چې حاجي حلق په يومُ النحر کې ځکه کوي، ځکه چې هغه حاجي له احرام څخه حلالوي، نو دم احصار هم محصر حاجي له احرام څخه حلالوي، لهذا هغه به هم په يومُ النحر کې کېږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې دمِ احصار د محلل کېدلو سره سره دمِ کفاره او دمِ جنايت هم دی، همدا وجه ده چې له دمِ احصار څخه څه خوړل جائز نه دي، بلکې دا د فقيرانو حق دی، او د کفاراتو قربانياني بالاتفاق د مکان يعني د حرم سره خاص وي، او د زمانې يعني د يوم النحر سره خاص نه وي، نو ځکه به د دمِ احصار ذبحه کول هم د حرم سره خاص وي، خو د يوم النحر سره به نه خاص کېږي.

بخلاف دم المتعة الخ په خلاف د دمِ تمتع او دمِ قران ځکه چې دا دواړه دم نسک او دمِ شکر دي، او دمِ نسک د يومُ النحر سره خاص وي، نو ځکه به دمِ تمتع او دمِ قران هم د يومُ النحر سره خاص وي.

وبخلاف الحلق الخ په دې عبارت سره صاحبينو ته جواب ورکوي هغوی دمِ احصار پر حلق قياس کړی وو، د هغه جواب ورکوي چې موږ دا خبره منو چې په حلق سره هم د دمِ احصار په شان احرام خلاصيږي، لېکن د حلق حال دا دی چې په هغه سره د رمی جمار او د وقوفِ عرفه په شان د حج مهم افعال پوره کېږي، يعني حلق تر دوی وروسته کېږي، نو حلق که څه هم د دمِ احصار په شان محلل دی، خو بيا هم تر رمی جمار او وقوفِ عرفه وروسته دی، او د يومُ النحر سره خاص دی، او محلل دی پر خپل وخت، او دمِ احصار ذبحه کول محلل دي تر وخت مخکې، نو د دې فرق په وجه به پر حلق دمِ احصار قياسول صحيح نه وي.

پر محصر بالحج عمره او حج دواړه واجب دي

قَالَ: وَالْمُحْصَرُ بِالْحَجِّ إِذَا تَحَلَّلَ او محصر بالحج چې کله حلال سي فَعَلَيْهِ حَجَّةٌ وَعُمْرَةٌ نو پر هغه حج او عمره دواړه واجب دي هَكَذَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَابْنِ عُمَرَ همدارنګه له ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم څخه روايت سوي دي وَلِأَنَّ الْحَجَّةَ يَجِبُ قَضَاؤُهَا لِصِحَّةِ الشُّرُوعِ او ځکه چې د حج قضاء د شروع د صحيح کېدلو په وجه واجبيږي وَالْعُمْرَةُ لِمَا أَنَّهُ فِي مَعْنَى فَائِتِ الْحَجِّ او عمره ځکه واجبيږي چې محصر د حج د فوتونکي په معنیٰ سره دی.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی له حج کولو څخه منع سو، بيا هغه هدي واستوله او حلال سو، نو پر هغه حج او عمره دواړه واجب دي، همدارنګه له ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم څخه روايت سوي دي، دوی فرمايي: قال رسول الله ﷺ من فاته عرفة بليل فقد فاته الحج فليحلل بعمرة وعليه الحج من قابل، له دې حديث څخه معلوميږي چې د حج پر فوتونکي حج واجب دي، او څرنګه چې محصر هم د حج د فوتونکي په معنیٰ سره دی، نو ځکه به عمره هم پر واجب وي.

ولأن الحجة الخ دويم دليل دا دى چې د محصر لپاره د حج شروع کول صحيح وو (ځکه چې د هر چا لپاره حج شروع کول صحيح دي)، لېکن د احصار په وجه هغه دا شروع بشپړ تيا ته نه ورسوله، نو ځکه به د شروع سوي حج قضاء پر واجب وي، او ځرنګه چې د احصار په وجه هغه د حج د فوتونکي په معنیٰ او حکم کي دی، نو ځکه به عمره هم پر واجب وي.

د محصر بالعمره د قضاء بيان

وَعَلَى الْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ الْقَضَاءُ او د عمرې پر محصر د عمرې قضاء واجب ده وَالْإِحْصَارُ عَنْهَا يَتَحَقَّقُ عِنْدَنَا او له عمرې څخه احصار زموږ په نېز متحقق کيږي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَتَحَقَّقُ او امام مالک فرمايي: چې نه متحقق کيږي لِأَنَّهَا لَا تَتَوَقَّتُ ځکه چې عمره د (هيڅ) وخت سره متعينه نه ده وَلَنَا أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● وَأَصْحَابَهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أُحْصِرُوا بِالْحُدَيْبِيَةِ او زموږ دليل دا دی چې نبي ﷺ او صحابه په حديبيه کي (له حج څخه) منع کړی سول وَكَانُوا عُمَّارًا حال دا چې هغوی ټوله عمره کونکي وو وَلِأَنَّ شَرْعَ التَّحَلُّلِ لِدَفْعِ الْحَرَجِ او ځکه چې (په هدی استولو) سره د حلالوالي مشروع کېدل د حرج ليري کولو لپاره دي وَهٰذَا مَوْجُودٌ فِي إِحْرَامِ الْعُمْرَةِ او دا علت د عمرې په احرام کي (هم) سته وَإِذَا تَحَقَّقَ الْإِحْصَارُ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ لهذا کله چې (په عمره کي هم) احصار متحقق سو نو پر هغه به قضاء (هم) واجب وي إِذَا تَحَلَّلَ کله چې حلال سي كَمَا فِي الْحَجِّ لکه ځرنګه چې په حج کي (د احصار په صورت کي د حج قضاء واجب ده).

اللغات: ﴿عُمَّار﴾ جمع د عامر ده: عمره کونکي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د عمرې احرام تړلی وو، لېکن هغه د عمرې د افعالو له اداء کولو څخه منع سو (يعني محصر سو)، نو پر هغه د دې عمرې قضاء واجب ده. په دې باره کي زموږ سره د امام مالک اختلاف دی، ځکه چې زموږ په نېز له عمرې څخه احصار سره ثابتېدای سي، او د امام مالک په نېز نسي ثابتېدلای.

د امام مالک دليل: دا دی چې عمر د هيڅ وخت سره خاص نه ده، چې د وخت په تېرېدلو سره دې د عمرې فوتېدل لازم سي، نو کله چې د عمرې د فوتېدلو بېره نسته، نو احصار به هم نه متحقق کيږي.

زموږ دليل: دا دی چې نبي ﷺ او صحابه په حديبيه کي له عمرې کولو څخه منع کړی سول، بيا هم دوی ټولو را روان کال قضاء راوړه، همدا وجه ده چې د هغې عمره نوم عمرةُ القضاء وه، نو معلومه سوه چې احصار له عمرې څخه هم متحقق کېدای سي.

ولأن شرع الخ عقلي دليل دا دی چې په احصار کي حلال کېدل د حرج او تکليف د ليري کولو لپاره مشروع سوي دي، او دا خبره د عمرې په احرام کي هم سته (ځکه چې د عمرې په احرام کي تر ډېره پاتېدل هم حرج دی)، لهذا په عمره کي هم احصار متحقق سو، او کله چې احصار متحقق سو، نو د احرام تر خلاصولو وروسته به قضاء واجب وي، لکه ځرنګه چې په حج کي قضاء واجب ده.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب المحصر، باب الاحصار في الحج، حديث رقم: ١٨١٢.

د محصر قارن د قضاء بيان

وَعَلَى الْقَارِنِ حَجَّةٌ وَعُمْرَتَانِ او پر محصر قارن يو حج او دوې عمرې واجب دي أَمَّا الْحَجُّ وَإِحْدَاهُمَا فَلِمَا بَيَّنَّا پاتـه سـو د يوه حج او عمرې واجبېدل نو د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی(يعني قارن هم د مفرد په شان د حج د فوتونکې په معنی سره دی) وَالثَّانِيَةُ لِأَنَّهُ خَرَجَ مِنْهَا بَعْدَ صِحَّةِ الشُّرُوعِ فِيهَا او دويمه عمره ځکه واجب ده چې قارن د هغې تر شروع کولو وروسته له هغې څخه وتلی دی(ځکه دا خبره مخکې تېره سوه چې که چا حج نه وکړای سو نو پر هغه يوه جلا او مستقله عمره لازمېږي، نو ځکه به دوې عمرې پر واجب وي).

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

تر هدي استولو وروسته د احصار د ختمېدلو حکم

فَإِنْ بَعَثَ الْقَارِنُ هَدْيًا بيا که قارن هدی واستوي وَوَاعَدَهُمْ أَنْ يَذْبَحُوهُ فِي يَوْمٍ بِعَيْنِهِ او په ملګرو دا وعده وکړي چې خاص به په دې ورځ هدی ذبحه کوي ثُمَّ زَالَ الْإِحْصَارُ بيا احصار ختم سي فَإِنْ كَانَ لَا يُدْرِكُ الْحَجَّ وَالْهَدْيَ نو که(اوس) هغه حج او هدی نه سوه نيولای(يعني د هغو پر نيولو يې قدرت نه وو) لَا يَلْزَمُهُ أَنْ يَتَوَجَّهَ نو پر هغه متوجه کېدل(يعني مکې ته تلل) واجب نه دي بَلْ يَصْبِرُ حَتَّى يَتَحَلَّلَ بِنَحْرِ الْهَدْيِ بلکې صبر به وکړي تر دې چې د هدی په قربانېدلو سره حلال سي لِفَوَاتِ الْمَقْصُودِ مِنَ التَّوَجُّهِ وَهُوَ أَدَاءُ الْأَفْعَالِ ځکه مکې په تللو سره چې کوم څه مقصود دي يعني د افعالو اداء کولو هغه مقصود فوت سو وَإِنْ تَوَجَّهَ لِيَتَحَلَّلَ بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ او که په دې اراده سره مکې ته ولاړ سي(روان سي) چې د عمرې د افعالو په اداء کولو سره به حلال سي لَهُ ذَٰلِكَ نو هغه لره دا اختيار سته لِأَنَّهُ فَائِتُ الْحَجِّ ځکه چې هغه د حج فوتونکی دی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که قارن محصر سو، او هدی يې د يو چا په لاس واستوله، او له هغه څخه يې دا وعده واخيستله، چې په فلانکۍ ورځ او په فلانکي وخت کي به يې ذبحه کړي، بيا د هدي تر ذبحه کېدلو مخکې(يعني د ټاکل سوي ورځې تر راتللو مخکې) د هغه احصار ختم سو، نو اوس به هغه څه کوي، په دې مسئله کي ټوله څلور صورتونه دي: ① يا خو به وخت دومره تنګ وي چې دا سړی حج او هدی دواړه نه سي نيولای، ② يا په وخت کي به دومره ګنجايش وي چې دواړه نيولای سي، ③ يا خو به هدی نيولای سي، لېکن حج به نه سي نيولای، ④ او يا خو به حج نيولای سي، لېکن هدی به نه سي نيولای.

څلور سره صورتونه په کتاب کي ذکر سوي دي، په دې عبارت کي د اول صورت تفصيل بيانېږي، نو په اول صورت کي مکې ته تلل پر هغه واجب نه دي، بلکې څه صبر دي وکړي تر دې چې ټاکلې ورځ راسي او د هدي په ذبحه کېدلو سره هغه حلال سي، ځکه مکې ته د تللو چې کوم مقصد دی(يعني د حج افعال اداء کول) هغه څنې فوت سو، نو اوس تګ هيڅ فايده نه کوي. خو که په دې وجه مکې ته ولاړ سي چې د عمرې په افعالو سره به ځان حلال کړي، نو هغه ته دا حق سته. ځکه چې هغه فائت الحج دی، او د فائت الحج په باره کي مخکې ذکر سوه چې هغه ته د عمرې په ذريعه د حلال کېدلو اجازه سته.

تر هدي استولو وروسته د هدي د نيولو حکم

وَإِنْ كَانَ يُدْرِكُ الْحَجَّ وَالْهَدْيَ او که هغه حج او هدی نيولای سول لَزِمَهُ التَّوَجُّهُ نو پر هغه مکې ته تلل لازم دي لِزَوَالِ الْعَجْزِ قَبْلَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ بِالْخَلَفِ ځکه چي د خليفه په ذريعه د مقصود تر حاصلولو مخکي عاجزي ليري سوه.

اللغات: ﴿توجه﴾ د تفعّل مصدر دی: د مکې وطرف ته سفر کول. ﴿خلف﴾ خليفه، بدل، قائم مقام.

تشريح: په دې عبارت کي دوېم صورت بيانيږي، حاصل يې دا دی چي په دوېم صورت کي توجّه يعني مکې ته تلل لازم دي، ځکه چي د خليفه په ذريعه يعني د هدي په ذريعه تر مقصود حاصلولو يعني تر حلالېدلو مخکي عاجزي ختمه سوه (او پر اصل يعني پر حج يې قدرت پيدا کړی). لهذا خليفه يعني هدی بېکاره سوه. نو پر اصل به عمل کوي (يعني په خپله به حج کوي، ځکه دا أصول دی چي پر اصل قدرت پيدا سي نو پر فرع او خليفه به عمل نه کيږي). لکه يو څوک چي د عذر په وجه د لمانځه لپاره تيمم وکړي، لېکن د لمانځه تر پوره کولو مخکي هغه عذر زائل سي، او اوبه هم موجودي وي، نو پر هغه اودس کول واجب دي، ځکه چي تيمم بېکاره سو.

د پورتنی مسئلې څه نور وضاحت

وَإِذَا أَدْرَكَ هَدْيَهُ صَنَعَ بِهِ مَا شَاءَ او کله چي هغه خپله هدی ونيسي نو څه چي غواړي هغه دي په وکړي لِأَنَّهُ مِلْكُهُ ځکه چي هدی د هغه ملکيت ده وَقَدْ كَانَ عَيَّنَهُ لِمَقْصُودٍ اِسْتَغْنَى عَنْهُ او هغه دا هدی د داسي مقصد لپاره متعينه کړې وه چي له هغه څخه (اوس) دی بې پروا سو.

اللغات: ﴿ملك﴾ ملکيت، مملوک. ﴿عين﴾ د تفعيل ماضي ده: متعينول، معلومول، ټاکل.

تشريح: په دې عبارت کي د دوېم صورت تتمه ده، فرمايي چي کله محصر قارن حج او هدی دواړه ونيسي، نو په هدی کي هغه ته اختيار دی، څه چي وغواړي هغه دي ور سره وکړي، ځکه چي هغه خو اوس د ده په ملکيت کي راغله، او هغه دا ملکيت د يو مقصود لپاره متعين کړی وو، او هغه مقصود دا وو چي د دې په ذريعه به هغه ځان حلال کړي، خو څرنګه چي مقصود له دې ملکيت يعني هدي څخه بغير پوره سو، نو اوس هدی په بشپړه توګه د هغه په ملکيت کي راغله، لهذا اوس به هغه ته په دې کي د تصرّف کولو بشپړ اختيار وي.

د حج د نه نيولو حکم

وَإِنْ كَانَ يُدْرِكُ الْهَدْيَ دُونَ الْحَجِّ او که محصر هدی يې نيولای سوه (خو) حج يې نه سو نيولای يَتَحَلَّلُ نو (هم) به حلاليږي لِعَجْزِهِ عَنِ الْأَصْلِ ځکه چي هغه له اصل (يعني له حج) څخه عاجزه دی.

اللغات: ﴿يتحلل﴾ د تفعّل مضارع ده: حلال کېدل، احرام خلاصول.

تشريح: په دې عبارت کي دريم صورت بيانيږي، حاصل يې دا دی چي په دې صورت کي به (هم د اول صورت په څېر) د هدي په ذبحه کېدلو سره حلاليږي، ځکه چي دا سړی خو له اصل يعني له حج څخه عاجزه سو، نو اوس که مکې ته ولاړ سي، څه به وکړي!.

د حج د نيولو او د هدي د نه نيولو حکم

وَإِنْ كَانَ يُدْرِكُ الْحَجَّ دُونَ الْهَدْيِ او که هغه حج نيولای سو، نه هدی جَازَ لَهُ التَّحَلُّلُ اِسْتِحْسَانًا نو د هغه لپاره استحساناً حلال کېدل جائز دي وَهٰذَا التَّقْسِيمُ لَا يَسْتَقِيمُ عَلَى قَوْلِهِمَا فِي الْمُحْصَرِ بِالْحَجِّ او د صاحبينو د قول پر بناء د محصر بالحج په حق کي دا تقسيم صحيح نه دی لِأَنَّ دَمَ الْإِحْصَارِ عِنْدَهُمَا يَتَوَقَّتُ بِيَوْمِ النَّحْرِ ځکه چي د هغوی په نيز دا احصار دم (قرباني) د يومُ النحر سره خاص ده فَمَنْ يُدْرِكُ الْحَجَّ يُدْرِكُ الْهَدْيَ نو څوک چي حج نيولای سي هغه به هدی (هم) نيولای سي وَإِنَّمَا يَسْتَقِيمُ عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او دا تقسيم فقط د امام صاحب پر قول صحيح دی وَفِي الْمُحْصَرِ بِالْعُمْرَةِ يَسْتَقِيمُ بِالْاِتِّفَاقِ او د محصر بالعمره په حق کي دا تقسيم بالاتفاق صحيح دی لِعَدَمِ تَوَقُّتِ الدَّمِ بِيَوْمِ النَّحْرِ ځکه چي (د عمرې هدی ذبحه کول) د يومُ النحر سره خاص نه ده وَجْهُ الْقِيَاسِ وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْأَصْلِ وَهُوَ الْحَجُّ د قياس وجه چي هغه د امام زفر قول (هم) دی دا ده چي هغه پر اصل يعني پر حج قادره سو قَبْلَ حُصُولِ الْمَقْصُودِ بِالْبَدَلِ وَهُوَ الْهَدْيُ په بدل يعني په هدي سره د مقصود تر حاصلولو مخکي وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ أَنَّا لَوْ أَلْزَمْنَاهُ التَّوَجُّهَ لَضَاعَ مَالُهُ او د استحسان وجه دا ده چي موږ که پر دغه محصر مکې ته تلل لازم کړو نو د ده مال به ضايع سي لِأَنَّ الْمَبْعُوثَ عَلَى يَدَيْهِ الْهَدْيُ لَيَذْبَحُهُ ځکه د چا په لاس چي يې هدی استولې ده هغه به خامخا هدی ذبحه کوي وَلَا يَحْصُلُ مَقْصُودُهُ او د ده مقصود به (هم) حاصل نه سي وَحُرْمَةُ الْمَالِ كَحُرْمَةِ النَّفْسِ او د مال حُرمت د نفس د حُرمت په شان دی وَلَهُ الْخِيَارُ إِنْ شَاءَ صَبَرَ فِي ذٰلِكَ الْمَكَانِ أَوْ فِي غَيْرِهِ او هغه ته اختيار دی که غواړي نو په دې ځای کي يا بل ځای کي دي صبر وکړي لِيُذْبَحَ عَنْهُ چي د هغه له طرفه هدی ذبحه کړی سي فَيَتَحَلَّلُ نو حلال به سي وَإِنْ شَاءَ تَوَجَّهَ لِيُؤَدِّيَ النُّسُكَ الَّذِي الْتَزَمَهُ بِالْإِحْرَامِ او که غواړي نو مکې ته دي روان سي چي هغه نسک (عبادت) اداء کړي کوم چي د احرام په ذريعه ده پر ځان لازم کړي دي وَهُوَ أَفْضَلُ او دا افضل دي لِأَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَى الْوَفَاءِ بِمَا وَعَدَ ځکه چي دا د هغه وعدې پوره کولو ته زيات نژدې دي کوم چي يې کړې ده.

اللغات: ﴿لا يستقيم﴾ د استفعال مضارع نفي ده: نه صحيح کيږي، ﴿مبعوث﴾ د فتح اسم مفعول دی: استول سوی.

تشريح: په دې عبارت کي څلورم صورت بيانيږي، يعني چي محصر بالحج خو حج نيولای سي، لېکن هدی نيولای نه سي، نو په دې صورت کي استحساناً د هغه لپاره حلال کېدل جائز دي، لېکن افضل دا ده چي مکې ته ولاړ سي، او د حج افعال اداء کړي.

وهذا التقسيم الخ صاحب د هدايې فرمايي چي دا تقسيم يعني کوم څلور صورتونه چي اوس تېر سول هغه د محصر بالحج په حق کي صحيح نه دی، ځکه چي د هغو په نېز دمِ احصار خاص دی د يومُ النحر سره، نو څوک چي حج نيولای سي، هغه به هدی هم نيولای سي، لېکن د امام صاحب پر قول صحيح دی، ځکه چي د امام صاحب په نېز هدی د يوم

النحر سره خاص نه ده، بلکې تر يوم النحر مخکې هم ذبحه کېدلای سي، او تر يومُ النحر وروسته هم ذبحه کېدلای سي، نو دا ممکنه ده چې يو څوک حج خو ونيسي، لېکن هدی نه ونيسي، او د محصر بالعمره په حق کې دا تقسيم بالاتفاق صحيح دی، ځکه چې د عمرې هدی د يوم النحر سره خاص نه ده، نو ممکنه ده چې محصر بالعمره عمره ونيسي، لېکن هدی نه ونيسي.

وجه القياس الخ د دې حاصل دا دی چې په څلورم صورت کې د محصر لپاره اصل او ضروري د حج افعال اداء کول دي، دا قياس دی، او د امام زفر رَحِمَهُ الله قول هم دی، د دې قول وجه او دليل دا دی چې محصر په بدل يعني په هدی سره تر مقصود حاصلولو مخکې پر اصل يعني پر حج قدرت پيدا کړی، او په داسي صورت کې په بدل او خليفه سره مقصود نه حاصليږي، بلکې اصل به اداء کيږي، نو ځکه د دې سړي په حق کې اصل دا ده چې مکې مبارکې ته ولاړ سي. او د حج افعال اداء کړي، او د هدی په ذبحه کولو سره ځان حلال نه کړي.

وجه الاستحسان الخ د استحسان وجه او دليل دا دی چې که موږ پر دې محصر مکې ته تلل لازم وګرځوو، نو د هغه مال يعني هدی به ضايع او بيکاره سي (ځکه چې هغه به په ټاکلې او وعده کړی سوي وخت کې ذبحه کړی سي)، او پر انسان چې څرنګه چې د ځان حفاظت ضروري دی، همدارنګه د خپل مال حفاظت هم پر هغه ضروري دی، نو ځکه دې د حج لپاره نه ځي، خو که ولاړ سي نو غوره او افضله ده.

وله الخيار الخ په څلورم صورت کې د محصر لپاره درې اختياره سته: [۱] چيري چې محصر سوی وي، هلته دې پاته سي او صبر دې وکړي، تر دې چې د وعدې مطابق د ده له طرفه په ټاکلې ورځ هدی ذبحه کړی سي، په هغه ورځ به دی حلال سي. [۲] دويم اختيار دا دی چې بل ځای ته دې ولاړ سي او هلته دې تر هغه وخته صبر وکړي، چې د ده له طرفه هدی په ټاکلې ورځ ذبحه کړی سي، په هغه ورځ به دی حلال سي. [۳] دريم اختيار دا دی چې مکې ته دې ولاړ سي، او د احرام په ذريعه چې يې کوم نسک يعني عمره يا حج پر ځان لازم کړی وي، هغه دې اداء کړي، او همدا دريم صورت د هغه په حق کې افضل او غوره دی، ځکه چې په دې صورت کې دا سړی د هغه وعدې پوره کونکی ګرځي کوم چې يې د احرام او نيت په ذريعه پر ځان لازمه کړې وي.

تر وقوفِ عرفه وروسته د احصار حکم

وَمَنْ وَقَفَ بِعَرَفَةَ ثُمَّ أُحْصِرَ او څوک چې تر وقوفِ عرفه وروسته محصر سي لَا يَكُونُ مُحْصَرًا نو هغه محصر نه دی لِوُقُوعِ الْأَمْنِ عَنِ الْفَوَاتِ ځکه چې (د حج) له فوتېدلو څخه امن حاصل سو وَمَنْ أُحْصِرَ بِمَكَّةَ وَهُوَ مَمْنُوعٌ عَنِ الطَّوَافِ وَالْوُقُوفِ او څوک چې په مکه کې محصر سي په داسي حال کې چې هغه له طواف او وقوف څخه محصر سي فَهُوَ مُحْصَرٌ● نو هغه محصر دی لِأَنَّهُ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ الْإِتْمَامُ ځکه چې پر هغه (د حج) پوره کول ستونزمن سو فَصَارَ كَمَا إِذَا أُحْصِرَ فِي الْحِلِّ نو داسي سو لکه په حِل کې چې محصر سي وَإِنْ قَدَرَ عَلَى أَحَدِهِمَا فَلَيْسَ بِمُحْصَرٍ خو که هغه (وروسته) پر طواف يا پر وقوف قدرت پيدا کړي نو (بيا) محصر نه دی أَمَّا عَلَى الطَّوَافِ فَلِأَنَّ فَائِتَ الْحَجِّ يَتَحَلَّلُ بِهِ

● القول الراجح: هو هذا، كما قال أكمل الدين البابرتي: والصحيح من الرواية أن الممنوع عن الوقوف والطواف يكون محصرا باتفاق أصحابنا، كذا في الدر المختار ج:٢، ص: ٢٥٥. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٣٩]

هر چي پر طواف قدرت پيدا کول دي نو ځکه چي د حج فوتونکی په طواف سره حلاليږي وَالدَّمُ بَدَلٌ عَنْهُ فِي التَّحَلُّلِ او د هدي استول په حلالېدلو کي د طواف بدل دي وَأَمَّا عَلَى الْوُقُوفِ فَلِمَا بَيَّنَّا او هر چي پر وقوف قدرت پيدا کول دي نو د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی(يعني: ومن وقف بعرفة لا يكون محصرًا) وَقَدْ قِيلَ: فِي هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ خِلَافٌ بَيْنَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى او يو قول دا دی: چي په دې مسئله کي د امام صاحب او د امام ابو يوسف په مېنځ کي اختلاف دی وَالصَّحِيحُ مَا أَعْلَمْتُكَ مِنَ التَّفْصِيلِ ليکن صحيح قول هغه دی چي د هغه په تفصيل ما ته خبر کړې، والله أعلم.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که تر وقوف عرفه وروسته يو سړی محصر سو، يعني په عرفات کي يې وقوف وکړی، تر هغه وروسته محصر سو، نو هغه ته محصر نه ويل کيږي، ځکه چي د احصار سبب د حج د فوتېدلو ېره ده، حال دا چي کله هغه وقوف عرفه وکړی، نو دا ېره ختمه سوه، ځکه چي په وقوف سره حج پوره کيږي، لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: مَنْ وَقَفَ بِعَرَفَةَ فَقَدْ تَمَّ حَجُّه، نو کله چي د احصار سبب ختم سو، نو احصار به هم نه پاتيږي، هو! دومره ده چي پر دې سړي د امام صاحب په نېز څلور دمه واجبيږي: (١) يوم دم د وقوف مزدلفه د پرېښوولو په وجه. (٢) د رمي جمار د پرېښوولو په وجه. (٣) د طواف زيارت د ځنډولو په وجه (ځکه هر وخت چي احصار ختم سي، نو طواف زيارت به کوي، او احصار معلوم نه دی چي کله به ختم سي، نو حتماً به طواف زيارت ځنډيږي)، (٤) و د حلق د ځنډولو په وجه؛ ليکن د صاحبينو په نېز د طواف زيارت او د حلق د ځنډولو په وجه هيڅ شی نه واجبيږي.

ومن أحصر بمكة الخ او که يو څوک په مکه کي تر وقوف عرفه او طواف زيارت مخکي محصر سو(يعني د احصار په وجه د دواړو له اداء کولو څخه عاجزه سو)، نو د هغه په حق کي شرعي احصار ثابت سو، نو اوس هغه ته د هدي په استولو سره د حلال کېدلو اجازه سته، ځکه چي د وقوف عرفه د نه کولو په وجه دا سړی د حج له پوره کولو څخه عاجزه سو، او د حج پوره کول هغه ته ستونزمن سو، لهذا د هغه سړي په څېر سو کوم چي په حِل کي احصار سي، او د محصر في الحل لپاره تر هدي استولو وروسته حلال کېدل جائز دي، لهذا د ده لپاره به هم تر هدي استولو وروسته حلال کېدل جائز او حلال وي.

وإن قدر الخ فرمايي: که له طواف او وقوف دواړو څخه عاجزه محصر سړي پر طواف يا وقوف قدرت پيدا نړی، نو د هغه احصار باطليږي، او د هدي استول د هغه لپاره صحيح نه دي، لهذا اوس که دې سړي پر وقوف عرفه قدرت پيدا کړی، نو حج يې پوره سو، او که پر وقوف عرفه قادره نه سو، بلکي فقط پر طواف يې قدرت پيدا کړی، نو د وقوف عرفه د پرېښوولو په وجه فائتُ الحج سو، او فائتُ الحج سړی د عمرې په طواف او سعی سره حلال کېدای سي، نو دی به هم په هغه سره ځان حلالوي، او هدی به نه استوي، ځکه چي په حلال کېدلو کي هدی د طواف بدل ده، ليکن دا سړی پر اصل يعني پر طواف قادر دی، نو بيا به د بدل څه ضرورت وي.

وقد قيل الخ فرمايي چي د ځيني خلکو رايه دا ده چي په دې مسئله کي د امام صاحب او امام ابو يوسف اختلاف دی، يعني د امام صاحب په نېز که يو سړی په مکه کي وي، نو هغه محصر نه دی، او د امام ابو يوسف په نېز که هغه پر طواف او سعی قدرت نه لري، نو بيا که څه هم په مکه کي وي محصر دی؛ ليکن صاحب د هدايې فرمايي چي هيڅ اختلاف نسته. او صحيح خبره هغه ده چي په تفصيل سره موږ ستاسو په مخ کي ذکر کړه. والله أعلم بالصواب.

بَابُ الْفَوَاتِ

(دا) باب د حج د فوتېدلو (په بيان کي) دی

تشريح: صاحب د بنايې ليکلي دي چي احصار مفرد دی، او فوات مرکب دی، ځکه احصار د هغه احرام نوم دی چي د ارکانو له اداء کولو ځخه بغير وي (ځکه احصار دې ته ويل کيږي چي انسان له مکې ځخه ليري محصر کړی سي، وقوفِ عرفه خو لا ځه کوي، طواف او سعی هم نه سي کولای)، او فوات د هغه احرام نوم دی چي د ارکانو اداء ور سره وي (ځکه فوات دې ته ويل کيږي چي تر احرام تړلو وروسته له انسان ځخه فقط وقوفِ عرفه فوت سي، نور مکې ته تللای سي، طواف او سعی کولای سي)، او ښکاره ده چي د مرکب په مقابله کي مفرد مخکي وي، نو ځکه صاحب د کتاب مخکي د مفرد يعني د احصار احکام بيان کړل، او اوس د مرکب يعني د فوات احکام او مسائل بيانوي. (بنايه ج:۴، ص: ۴۱۳، بيروت)

د وقوفِ عرفه د فوتېدلو بيان

وَمَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ او ځوک چي د حج احرام وتړي وَفَاتَهُ الْوُقُوْفُ بِعَرَفَةَ او وقوفِ عرفه ځني فوت سي حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ تر دې چي د يومُ النحر صبح صادق را وخيږي (يعني د لوی اختر د ورځي سپېدې وچاودې) فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ نو له هغه ځخه حج فوت سو لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ وَقْتَ الْوُقُوْفِ يَمْتَدُّ إِلَيْهِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی چي د وقوفِ عرفه وخت د يومُ النحر تر صبح صادقه پوري اوږدېږي (پاتېږي) وَعَلَيْهِ أَنْ يَطُوْفَ وَيَسْعٰى وَيَتَحَلَّلَ وَيَقْضِيَ الْحَجَّ مِنْ قَابِلٍ او پر هغه واجب دي چي طواف او سعی وکړي او حلال سي او را روان کال د حج قضاء راوړي وَلَا دَمَ عَلَيْهِ او پر هغه (د حج د پرېښوولو) دم واجب نه دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[●]: مَنْ فَاتَهُ عَرَفَةُ بِلَيْلٍ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "له چا ځخه چي وقوفِ عرفه د شپې فوت سي فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ نو له هغه ځخه حج فوت سو فَلْيَتَحَلَّلْ بِعُمْرَةٍ نو په عمره سره دي حلال سي وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ او پر هغه روان کال حج واجب دی" وَالْعُمْرَةُ لَيْسَتْ إِلَّا الطَّوَافَ وَالسَّعْيَ او عمره نه ده مګر طواف او سعی (يعني عمره فقط طواف او سعي ته ويل کيږي) وَلِأَنَّ الْإِحْرَامَ بَعْدَ مَا انْعَقَدَ صَحِيْحًا او په دې وجه (هم) چي کله احرام صحيح منعقد سي لَا طَرِيْقَ لِلْخُرُوْجِ عَنْهُ إِلَّا بِأَدَاءِ أَحَدِ النُّسُكَيْنِ نو له هغه احرام ځخه د وتلو (بله) لاره نسته مګر په دوو عبادتونو کي د يوه په اداء کولو (يعني دحج يا د عمرې، او حج خو فوت سو، لهذا اوس به عمره کوي) كَمَا فِي الْإِحْرَامِ الْمُبْهَمِ لکه ځرنګه چي په مبهم احرام کي (دا حکم) دی وَهٰهُنَا عَجَزَ عَنِ الْحَجِّ او دلته (خو) محرم له حج ځخه عاجزه سوی دی فَتَتَعَيَّنُ عَلَيْهِ الْعُمْرَةُ لهذا د هغه لپاره به عمره متعينه کيږي وَلَا دَمَ

● تخريج: أخرجه دار قطني فی كتاب الحج، باب المواقيت، حديث رقم: ٢٤٩٦، ٢٤٩٧.

عَلَيْهِ او پر هغه هيڅ دم نسته لِأَنَّ التَّحَلُّلَ وَقَعَ بِأَفْعَالِ الْعُمْرَةِ ځکه چې حلال کېدلو د عمرې د افعالو په ذريعه واقع سو فَكَانَتْ فِي حَقِّ فَائِتِ الْحَجِّ بِمَنْزِلَةِ الدَّمِ فِي حَقِّ الْمُحْصَرِ لهذا د حج د فوتونکي په حق کې عمره کول داسې دي لکه دم چې د محصر په حق کې دی فَلَا يُجْمَعُ بَيْنَهُمَا نو دم او عمره به دواړه نه سره يو ځای کيږي.

اللغات: ﴿يتبدل﴾ د افتعال مضارع ده: زيا تېدل، غوړېدل، ﴿قابل﴾ را روان، آينده (راتلونکی)، ﴿نسك﴾ عبادت (دلته ځني مراد حج او عمره دي).

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي د حج احرام تړلی وو او د حج افعال يې هم شروع کړي وو، خو په يوه وجه وقوف عرفه ځني فوت سو، او د يومُ النحر تر سهاره پورې دا سړی عرفات ته هم نه ورسېدی، تر دې چې د يومُ النحر سهار سو، نو اوس د هغه حج فوت سو، ځکه چې مخکې دا خبره تېره سوه چې د عرفات وقوف د حج يو مهم رکن دی، او د دې وخت د يومُ النحر تر سهاره پورې پاتيږي، او دا خبره هم تېره سوه چې د وقوفِ عرفه په فوتېدلو سره حج فوتيږي، لهذا د دې سړي حج هم فوت سو، نو هغه ته پکار ده چې د عمرې افعال يعني سعی، طواف او نور وکړي، او ځان حلال کړي (ځکه دا قاعده ده چې له چا څخه حج فوت سي، هغه به د حج له احرام څخه ځان د عمرې په افعالو يعني په طواف او سعی حلالوي، او که دا يې هم نه سوه کولای، نو بيا دم لازميږي)، او را روان کال دي د حج قضاء راوړي، خاص همدغه مضمون په دې حديث کې هم بيان سوی دی: من فاته عرفة بليل الخ.

ولا دم عليه الخ فرمايي چې پر دې سړي دم واجب نه دی، ځکه په حديث کې د دم هيڅ ذکر سوی نه دی، او بيا خو د هغه دا احرام په صحيح توگه تړل سوی دی، يعني احرام يې صحيح دی، اوس له احرام څخه د وتلو فقط يوه لاره سته، يا خو دي حج يا عمره وکړي، او که محصر وو نو دم او هدی دې واستوي، لېکن څرنګه چې په دې صورت کې دا سړی پر عمرې قدرت لري، نو عمره دې وکړي او ځان دې حلال کړي، لېکن دم پر لازم نه دی، لکه څرنګه چې په مبهم احرام کې هم دغه حکم دی، يعني که يو سړی احرام وتړي، او د حج يا د عمرې هيڅ تعيين او نيت نه وکړي، نو د هغه د حلال کېدلو لپاره هم دغه لار ده، چې يا به حج کوي يا عمره، همداسې په دې مسئله کې هم د محرم لپاره د حلال کېدلو لاره حج يا عمره کول دي، خو څرنګه چې د هغه حج فوت سو، يعني فائتُ الحج سو، نو په دې وجه به د هغه په حق کې د حلال کېدلو لپاره فقط عمره متعينه وي، او هيڅ دم به پر لازم نه وي، ځکه کله چې محصر پر عمره قدرت نه لري، نو د هغه په حق کې هدی د عمرې قائم مقام کيږي، خو څرنګه چې غيرِ محصر يعني فائت الحج (دلته) پر عمرې قدرت لري، نو ځکه به د هغه په حق کې د هدي او دم هيڅ ضرورت نه وي.

د عمرې د نه فوتېدلو بيان

وَالْعُمْرَةُ لَا تَفُوتُ او عمره نه فوتيږي وَهِيَ جَائِزَةٌ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ او ټوله کال عمره جائزه ده إِلَّا خَمْسَةَ أَيَّامٍ يُكْرَهُ فِيهَا فِعْلُهَا ماسوا له پنځو ورځو څخه چې په هغو کې عمره کول مکروه دي وَهِيَ يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ او هغه (پنځه ورځې) د عرفات ورځ د قربانۍ ورځ او د تشريق ورځې دي لِمَا رُوِيَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی أَنَّهَا كَانَتْ تَكْرَهُ الْعُمْرَةَ فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْخَمْسَةِ چې هغې به په دې پنځو ورځو کې عمره مکروه ګڼله وَلِأَنَّ هٰذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ الْحَجِّ او ځکه چې دا د حج ورځې دي فَكَانَتْ مُتَعَيِّنَةً لَهُ نو د حج لپاره به متعينې دي

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: أَنَّهَا لَا تُكْرَهُ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ قَبْلَ الزَّوَالِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: چې د عرفات په ورځ تر زوال مخکې عمره کول مکروه نه دي لِأَنَّ دُخُولَ وَقْتِ رُكْنِ الْحَجِّ بَعْدَ الزَّوَالِ لَا قَبْلَهُ ځکه د حج د رکن وخت تر زوال وروسته داخليږي نه تر زوال مخکې وَالْأَظْهَرُ مِنَ الْمَذْهَبِ مَا ذَكَرْنَاهُ لېکن ښکاره مذهب هغه دی کوم چې موږ ذکر کړی (يعني د عرفات ورځ هم عمره مطلقاً مکروه ده) وَلَكِنْ مَعَ هٰذَا لَوْ أَدَّاهَا فِي هٰذِهِ الْأَيَّامِ صَحَّ لېکن که د مکروهوالي باوجود څوک په دې ورځو کې عمره وکړي نو صحيح دي وَيَبْقَى مُحْرِمًا بِهَا فِيْهَا او هغه به د عمرې په احرام سره په دې ورځو کې محرم پاتېږي لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ لِغَيْرِهَا ځکه چې کراهت له عمرې څخه علاوه (د بل شي) په وجه دی وَهُوَ تَعْظِيمُ أَمْرِ الْحَجِّ وَتَخْلِيصُ وَقْتِهِ لَهُ او هغه د حج تعظيم کول او د حج وخت د حج لپاره فارغه کول (سوچه کول) دي فَيَصِحُّ الشُّرُوعُ نو د عمرې شروع کول به صحيح وي.

تشريح: دا خبره څو ځله مخکې ذکر سوه چې عمره د يوې ځانګړي ورځې يا وخت سره خاصه نه ده. بلکې په هر موسم او هر وخت کې عمره اداء کېدای سي، لېکن پنځه ورځې داسې چې په هغو کې عمره مکروه ده. يعني جائز خو په دې ورځو کې هم ده، لېکن مکروه ده. هغه پنځه ورځې دا دي: [۱] د عرفات ورځ، (۲) د نحر ورځ (يعني د لوی اختر ورځ)، [۳، ۴، ۵] أيامِ تشريق (يعني د لوی اختر دويمه، دريمه او څلورمه ورځ)، په دې ورځو کې عمره مکروه ده. د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په دې ورځو کې هم مکروه نه ده.

زموږ دليل: د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی. دويم دليل دا دی چې دا پنځه ورځې د حج دي، نو دا به د حج لپاره متعيني وي. امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د عرفات په ورځ تر زوال مخکې بې له کراهته عمره جائز ګرځوي. ځکه چې د حج رکن يعني د وقوفِ عرفه وخت تر زوال وروسته شروع کيږي. نه تر زوال مخکې. نو ځکه به تر زوال مخکې عمره کول مکروه نه وي. لېکن ظاهر مذهب هغه دی کوم چې موږ ذکر کړی.

ولکن مع هذا الخ د دې حاصل دا دی چې په دې پنځو ورځو کې خو عمره مکروه ده. لېکن که بيا هم يو سړی په دې ورځو کې عمره وکړي، نو د هغه عمره صحيح او جائز ده. ځکه په دې ورځو کې چې کوم کراهت دی هغه د داسې معنیٰ په وجه دی چې هغه په نفسِ عمره کې نسته. بلکې د عمرې په غير کې دی. او غير همدغه دی چې دا ورځې د حج لپاره خاص دي. په دې کې به بل فعل نه اداء کيږي. لنډه دا چې کله په دې ورځو کې کراهت له عمرې څخه علاوه د بل شي په وجه دی، نو په دې وجه که يو سړی په دې ورځو کې عمره وکړي، د هغه عمره به صحيح وي.

فوائد: نبي ﷺ ټوله څلور عمرې کړې دي. او څلور سره يې تر هجرت وروسته د ذي القعده په مياشت کې اداء کړې دي: ① عمرهٔ حديبيه سنه: ۶ هـ. ② عمرهٔ قضاء سنه: ۷ هـ. ③ عمرهٔ حجة الوداع سنه: ۱۰ هـ. ④ عمرهٔ جعرانه.

د عمرې شرعي حيثيت (او د امام شافعي مسلک)

وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ او عمره سنت ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: فَرِيْضَةٌ او امام شافعي فرمايي: چې فرض ده لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: اَلْعُمْرَةُ فَرِيْضَةٌ كَفَرِيْضَةِ الْحَجِّ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "چې د حج په شان عمره هم فرض ده" وَلَنَا قَوْلُهُ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ اَلْحَجُّ فَرِيْضَةٌ وَالْعُمْرَةُ تَطَوُّعٌ او زمونږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی: "چې حج فرض دی او عمره نفل ده" وَلِأَنَّهَا غَيْرُ مُؤَقَّتَةٍ بِوَقْتٍ وَتَتَأَدّٰى بِنِيَّةِ غَيْرِهَا او ځکه چې عمره د هيڅ يوه وخت سره خاصه نه ده او د بل شي په نيت سره (هم) اداء کيږي (يعني د حج په احرام سره هم اداء کيږي) كَمَا فِيْ فَائِتِ الْحَجِّ لکه د حج په فوتونکي کي (چې هم دغه حکم دی) وَهٰذِهِ أَمَارَةُ النَّفْلِيَّةِ او دا د نفل کېدلو نښه ده (يعني دا چې عمره نفل ده) وَتَأْوِيْلُ مَا رَوَاهُ أَنَّهَا مُقَدَّرَةٌ بِأَعْمَالٍ كَالْحَجِّ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د روايت سوي حديث تأويل دا دی چې د حج په شير عمره هم د (يو څو) اعمالو سره متعينه ده (يعني د حج د اعمالو په شير د عمرې اعمال هم متعين دي) إِذْ لَا تَثْبُتُ الْفَرْضِيَّةُ مَعَ التَّعَارُضِ فِي الْآثَارِ او په دې وجه (هم) چې په آثارو کي د تعارض سره سره فرضيت نه ثابتيږي قَالَ: وَهِيَ الطَّوَافُ وَالسَّعْيُ امام قدوري فرمايي: او عمره طواف او سعی ده (يعني عمره طواف کولو او سعی کولو ته ويل کيږي) وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِيْ بَابِ التَّمَتُّعِ او مونږ دا خبره په بابُ التمتع کي ذکر کړه، والله أعلم بالصواب.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د أصح قول پر بناء زمونږ په نيز عمره سنت مؤکده ده، فرض يا واجب نه ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز فرض ده، همدا مسلک د امام احمد رَحِمَهُ الله هم دی.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: العمرة فريضة كفريضة الحج.

زمونږ دليل: دا حديث دی: الحج فريضة والعمرة تطوع، او دويم عقلي دليل دا دی چې د عمرې لپاره هيڅ وخت متعين نه دی، بلکي ټوله کال هر وخت کېدای سي، او د غير په نيت سره (هم) اداء کيږي (يعني د حج په احرام او د حج په نيت سره هم اداء کيږي)، لکه په فائتُ الحج کي چې فائتُ الحج خو نيت د حج کړی وي، مګر اداء کوي عمره، او دا [يعني چې د هيڅ وخت سره متعين نه وي او د بل شي په نيت سره اداء کيږي] د يو شي د نفلوالي نښه ده، نو معلومه سوه چې عمره نفل ده.

وتأويل الخ د امام شافعي جواب دا دی چې ستا د حديث العمرة فريضة مطلب دا دی چې څرنګه د حج اعمال او افعال متعين او مقدر دي، همدارنګه د عمرې هم اعمال او افعال متعين او هغه طواف او سعی دي، يعني د دې دواړو د مجموعې نوم عمره ده.

إذ لا تثبت الخ دريم دليل دا دی چې د عمرې په فرضيت او عدمِ فرضيت کي آثار او روايات متعارض دي، او دا خو تاسو ته معلومه ده چې د تعارض په وجه فرضيت نه ثابتيږي، بلکي له تعارض څخه نفليت ثابتيږي، ځکه چې د فرضيت د ثبوت لپاره قطعي او يقيني دليل ضروري دی.

● تخريج: اخرجه البيهقي في كتاب الحج، باب من قال بوجوب العمرة، حديث رقم: ٨٧٦٧، ٨٧٦٩.

● تخريج: اخرجه ابن ماجه في كتاب المناسك، باب العمرة، حديث رقم: ٢٩٨٩.

بَابُ الْحَجِّ عَنِ الْغَيْرِ

(دا) باب د بل چا له طرفه د حج کولو (په بيان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د کتاب هغه بابونه بيان کړل چي د هغو تعلق د انسان د ذات سره وو، او چي هغه اصالةً د انسان له طرفه اداء کېدل، اوس له دی ځايه هغه بابونه بيانوي چي تعلق يې د بل د کړني سره وي، او چي نيابةً د انسان له طرفه اداء کيږي، او څنګه چي اصلاً کېدونکی شی تر نيابةً کېدونکي شي مخکي وي، نو ځکه مخکي يې اصالةً حج بيان کړی، او اوس د نيابةً حج نوبت دی.

د ايصالِ ثواب(ثواب رسولو)حکم

الْأَصْلُ فِيْ هٰذَا الْبَابِ په دې باب کي اصل دا دی أَنَّ الْإِنْسَانَ لَهُ أَنْ يَجْعَلَ ثَوَابَ عَمَلِهِ لِغَيْرِهِ چي انسان ته د دې خبري اختيار سته چي د خپل عمل ثواب بل ته وبخښي صَلَاةً أَوْ صَوْمًا أَوْ صَدَقَةً أَوْ غَيْرَهَا هغه که لمونځ وي که روژه وي که صدقه وي او که بل عمل وي عِنْدَ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ (دا حکم) د اهل السنة والجماعت په نېز دی لِمَا رُوِيَ[1] عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ ضَحّٰى بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ ځکه له نبي ﷺ څخه روايت سوی دی چي هغوی ﷺ دوه ابلک(کمر) پسونه ذبحه کړل أَحَدُهُمَا عَنْ نَفْسِهِ يو يې له خپل ځان څخه وَالْآخَرُ عَنْ أُمَّتِهِ مِمَّنْ أَقَرَّ بِوَحْدَانِيَّةِ اللّٰهِ تَعَالٰى او بل يې د امت له هغو وګړو څخه چي د الله تعالیٰ د يو والي اقرار يې کړی وي وَشَهِدَ لَهُ بِالْبَلَاغِ او نبي ﷺ ته يې د رسالت رسېدلو ګواهي ورکړي وي جَعَلَ تَضْحِيَةَ إِحْدَى الشَّاتَيْنِ لِأُمَّتِهِ (نو تاسو وليدل چي) نبي ﷺ له دوو قربانيو څخه يوه قرباني د خپل امت لپاره وګرځوله وَالْعِبَادَاتُ أَنْوَاعٌ: مَالِيَّةٌ مَحْضَةٌ كَالزَّكَاةِ وَبَدَنِيَّةٌ مَحْضَةٌ كَالصَّلَاةِ وَمُرَكَّبَةٌ مِنْهُمَا كَالْحَجِّ او عبادات پر څو قسمه دي: [۱] يوازي مالي عبادتونه لکه زکاة [۲] يوازي بدني عبادتونه لکه لمونځ [۳] چي مالي او بدني دواړه وي لکه حج وَالنِّيَابَةُ تَجْرِيْ فِي النَّوْعِ الْأَوَّلِ فِيْ حَالَتَيِ الْإِخْتِيَارِ وَالضَّرُوْرَةِ او نيابت(نائب کېدل) د اول قسم په دواړو حالونو(يعني) په اختيار او ضرورت کي جاري کيږي لِحُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ بِفِعْلِ النَّائِبِ ځکه چي د نائب په فعل سره مقصود حاصليږي وَلَا تَجْرِيْ فِي النَّوْعِ الثَّانِيْ بِحَالٍ او په دويم قسم کي په هيڅ حال کي هم نيابت نه جاري کيږي لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ وَهُوَ إِتْعَابُ النَّفْسِ لَا يَحْصُلُ بِهِ ځکه چي مقصود يعني د نفس ستړی کول د نائب په ذريعه نه حاصليږي وَتَجْرِيْ فِي النَّوْعِ الثَّالِثِ عِنْدَ الْعَجْزِ لِلْمَعْنَى الثَّانِيْ او په دريم قسم کي د عجز

---

[1] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الأضاحي، باب اضاحي رسول الله ﷺ، حديث رقم: ٣١٢٢.

په وخت کې نيابت جاري کيږي د دويمې معنیٰ په وجه وَهُوَ الْمَشَقَّةُ بِتَنْقِيصِ الْمَالِ او هغه دويمه معنیٰ د مال کمولو تکليف زحمل دی وَلَا تَجُوزُ عِنْدَ الْقُدْرَةِ او د قدرت په وخت کې نيابت نه جاري کيږي لِعَدَمِ إِتْعَابِ النَّفْسِ ځکه چې (د قدرت په صورت کې) د نفس ستړی کول نشته وَالشَّرْطُ الْعَجْزُ الدَّائِمُ إِلَى وَقْتِ الْمَوْتِ او د مرګ تر وخته پورې عاجزي پاته کيدل شرط دي لِأَنَّ الْحَجَّ فَرْضُ الْعُمُرِ ځکه چې حج د ټوله عمر فرض دی (يعني هر وخت يې ټسل کولای سي) وَفِي الْحَجِّ النَّفْلِ تَجُوزُ الْإِنَابَةُ حَالَةَ الْقُدْرَةِ او په نفلي حج کې د قدرت په وخت کې هم نيابت جائز دي لِأَنَّ بَابَ النَّفْلِ أَوْسَعُ ځکه چې د نفلو باب ډېر پراخه دی ثُمَّ ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ أَنَّ الْحَجَّ يَقَعُ عَنِ الْمَحْجُوجِ عَنْهُ بيا ظاهر مذهب دا دی چې حج د هغه چا له طرفه واقع کيږي چې د هغه له طرفه حج سوی وي وَبِذَلِكَ تَشْهَدُ الْأَخْبَارُ الْوَارِدَةُ فِي الْبَابِ او په دې بابه کې چې کوم حديثونه وارد سوي دي هغه (هم) د دې ګواهي ورکوي كَحَدِيثِ الْخَثْعَمِيَّةِ لکه د خثعميه رضي الله عنها حديث فَإِنَّهُ● صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيهِ: حُجِّي عَنْ أَبِيكِ وَاعْتَمِرِي ځکه چې په دې حديث کې نبي ﷺ فرمايلي دي: "ته د خپل پلار له طرفه حج وکړه او عمره وکړه" وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ: أَنَّ الْحَجَّ يَقَعُ عَنِ الْحَاجِّ او له امام محمد څخه روايت دی چې حج به د حاجي له طرفه واقع کيږي وَلِلْآمِرِ ثَوَابُ النَّفَقَةِ او (د حج) د حکم کونکي لپاره د خرچې (خرڅې) ثواب دی لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ بَدَنِيَّةٌ ځکه چې حج خو بدني عبادت دی وَعِنْدَ الْعَجْزِ أُقِيمَ الْإِنْفَاقُ مُقَامَهُ او د عاجزۍ په وخت کې خرچه د حج قائم مقام سوې ده كَالْفِدْيَةِ فِي بَابِ الصَّوْمِ لکه په روژه کې (چې فديه د روژې قائم مقام ده).

اللغات: ﴿کبش﴾ مږ، پسه، (او د وزو نر يعني سېرلي ته هم ويل کيږي)، ﴿أملح﴾ ابلک، برګ، کمر (هغه تور رنګ چې څه سپينوالي هم په کډ وي)، ﴿وحدانية﴾ يو والی، ﴿ضحٰی﴾ د تفعيل ماضي ده: قرباني کول، ﴿نيابة﴾ پر ځای دربدل، نائب کېدل، قائم مقام کېدل، ﴿إتعاب﴾ د افعال مصدر دی: ستړی کول، ﴿إنابة﴾ د افعال مصدر دی: نائب جوړول، ﴿محجوج عنه﴾ د چا له طرفه چې حج وسي، ﴿إنفاق﴾ دا هم د افعال مصدر دی: خرڅول.

تشريح: د اهل السنة والجماعت مسلک او مذهب دا دی چې انسان ته دا پوره حق سته چې د خپل عمل ثواب بل ته ور وبخښي، له دې څخه دا مسئله هم څرګنديږي چې مړو (يعني موتیٰ) ته ثواب رسول (ايصال ثواب) هم صحيح دی، په دې شرط چې له دنياوي خرافاتو څخه پاک وي، د دې په خلاف معتزله ايصال ثواب نه مني، او دليل په دې آيت سره نيسي: ليس للإنسان إلا ما سعٰی. خو نه د معتزله وو دا فکر صحيح دی، او نه په دې آيت سره د دوی استدلال صحيح دی، د دوی د فکر ترديد د نبي ﷺ په هغه عمل سره کيږي چې يو ځل نبي ﷺ دوه پسونه قرباني کړل، د يو ثواب يې خپل ځان ته وبخښی. او د دويم ثواب يې د هغو مؤمنانو لپاره وقف کړی چې د توحيد او رسالت اقرار کوي، نو د نبي ﷺ له دې عمل څخه دا څرګنده سوه چې بل چا ته د ثواب رسولو ګنجايش سته. او په دې کې هيڅ حرج نشته.

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب المناسك، باب الحج عن الحي إذا لم يستطع، حديث رقم: ۲۹۰۶.

پاته سو د معتزله وو استدلال نو د هغه جواب دا دی چې په آيت کې له سعي څخه مراد د ايمان سعي دي، او دا خبره خو موږ هم منو چې د هيڅا ايمان بل چا ته په کار نه ورځي، نو په دې سره خو نه د ايصالِ ثواب نفي کيږي، او نه دا آيت د هغه سره تعلق لري.

والعبادات أنواع الخ د ايصالِ ثواب د نور وضاحت او تشريح لپاره صاحب د هدايې فرمايي چې عبادات پر درې قسمه دي: ① خالص مالي عبادت لکه زکاة. ② خالص بدني عبادت لکه لمونځ. ③ له مال او بدن دواړو څخه مرکب عبادت لکه حج، چې په دې کې مال او بدن دواړه مصرفيږي، نو اوس په دې دريو قسمونو کې د ايصالِ ثواب په حواله سره تفصيل دا دی چې په اول قسم يعني صرف په مالي عبادت(زکاة) کې هر ډول نيابت جاري کيږي، هغه که انسان په خپله پر زکاة ورکولو قدرت لري، که نه، ځکه چې د دې عبادت مقصد مال خرڅول او مصرفول دي، او څرنګه چې انسان په خپله مال مصرفولای سي، همداسي يې په بل هم مصرفولای سي.

او دويم قسم يعني په خالص بدني عبادت(مثلاً لمونځ) کې نيابت او خلافت نه سي جاري کېدلای، نه د اختيار او صحت په حالت کې او نه د مجبورۍ او مرض په حالت کې، ځکه چې د دې عبادت مقصد د انسان نفس په ستړيا او تکليف کې اچول دي، او ښکاره ده چې د بل چا په کوښښ او محنت سره خو نه د انسان خپل نفس په تکليفيږي، او نه ستړی کيږي، نو په دې صورت کې به د نيابت هيڅ فايده نه وي، او کله چې د نيابت هيڅ فايده نسته، نو بلا وجه به د هغه جاري کېدل څرنګه صحيح وي!؟

پاته سو دريم قسم يعني هغه عبادت چې له مال او بدن دواړو څخه مرکب وي، نو څرنګه چې په هغه کې دوه طرفه دي: يو د مالي عبادت او بل د بدني عبادت، نو په دواړو طرفونو باندې د عمل کولو لپاره موږ ووېل چې د عاجزۍ په وخت کې به په حج کې نيابت جاري کيږي د اولې معنیٰ يعني د مالي عبادت کېدلو په وجه، ځکه چې په حج کې هم د مال په کمېدلو سره انسان په تکليفيږي، او د بدني عبادت په اعتبار کولو سره به د قدرت او اختيار په حالت کې نيابت نه جاري کيږي، ځکه چې په دې وخت کې د نيابت په صورت کې د امر کونکي لپاره خپل بدن او نفس په ستړيا او تکليف کې مبتلا کول نه راځله.

والشرط العجز الخ صاحب د هدايې فرمايي چې په حج کې د نيابت د جائز کېدلو لپاره دا شرط دی چې محجوج عنه يعني د چا له طرف چې حج کيږي هغه به تر مرګه پوري له حج څخه عاجزه وي، ځکه چې حج د ټوله عمر فرض دی، يعني د حج لپاره يو ځانګړی کال نه دی ټاکل سوی، بلکې په کوم کال کې چې هم حج وسي، نو اداء کيږي، او په نفلي حج کې د قدرت سره سره هم نيابت جائز دی، ځکه چې په نفلو کې ډېره پراخي سته، لکه څرنګه چې نفلي لمونځ هم پر ولاړې د قدرت سره په ناستې کول جائز دي.

ثم ظاهر المذهب الخ د دې حاصل دا دی چې په خپله به دا حج د چا له طرفه واقع کيږي، د آمر له طرفه که د مأمور(نائب) له طرفه، نو وايي چې ښکاره مذهب دا دی چې حج د آمر له طرفه واقع کيږي، نه د مأمور له طرفه، دليل حديث د خثعميه رضي الله عنها دي، ځکه کله چې خثعميې رضي الله عنها له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې زما پلار بوډا دی، آيا ما ته دا اجازه سته چې د هغه له طرفه حج وکړم، نبي ﷺ وفرمايل: "هو! د هغه له طرفه حج وکړه او عمره وکړه".

وعن محمد الخ په دې باره کې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې دا حج د نائب حاجي يعني د مأمور له طرفه واقع کيږي، او آمر ته د خپلې خرڅې او نفقې ثواب رسيږي، ځکه چې د صحيح قول مطابق حج بدني عبادت دی، او د

عاجزۍ په وخت کي خرڅه او انفاق د حج قائم مقام ګرځول سوي دي، لکه د روژې په باب کي چي فدیه د عاجزۍ په وخت کي د روژې قائم مقام ګرځول سوې ده. او ښکاره ده چي دې سري ته د فديې ثواب رسيږي، نه د روژې، ځکه چي روژه يې نيولې نه ده، همدارنګه به آمر ته هم د مال مصرفولو ثواب حاصليږي، نه د حج، ځکه چي حج يې کړی نه دي.

په يوه وخت کې د دوو خلګو له طرفه د يوه حج کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَمَرَهُ رَجُلَانِ فرمايي: او چا ته چي دوه خلګ حکم وکړي (يعني خپل نائب يې جوړ کړي) بِأَنْ يَحُجَّ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حَجَّةً چي د هر يوه له طرفه دي حج وکړي (يعني دواړه دا ورته ووايي چي ته زموږ له طرفه حج وکړه) فَأَهَلَّ بِحَجَّةٍ عَنْهُمَا نو هغه د دواړو له طرفه د يوه حج احرام وتړي فَهِيَ عَنِ الْحَاجِّ نو دا حج به د حج کونکي (نائب) له طرفه واقع کيږي وَيَضْمَنُ النَّفَقَةَ او حج کونکي به د نفقې (خرڅې) ضامن وي لِأَنَّ الْحَجَّ يَقَعُ عَنِ الْآمِرِ ځکه چي حج خو د حکم کونکي له طرفه واقع کيږي (په دې جمله کي له مصنف څخه څه سهوه سوې ده چي هغه به په تشريح کي ذکر سي) حَتَّى لَا يَخْرُجَ الْحَاجُّ عَنْ حَجَّةِ الْإِسْلَامِ تر دې چي (نائب) حاجي د دې حج په وجه له فرضي حج څخه نسي خلاصيدلای (بلکي فرضي حج به هم حتما کوي) وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَمَرَهُ أَنْ يُخْلِصَ الْحَجَّ لَهُ مِنْ غَيْرِ إِشْتِرَاكٍ او هر يوه هغه ته دا حکم کړی دی چي بې له شرکته يوازي د هغه لپاره حج وکړه وَلَا يُمْكِنُ إِيقَاعُهُ عَنْ أَحَدِهِمَا لِعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ او (دلته) د يوه له يوه طرفه (هم) د حج واقع کول ممکن نه دي د هغه د فضيلت د نيستي کېدلو په وجه فَيَقَعُ عَنِ الْمَأْمُورِ نو ځکه به د مأمور (نائب) له طرفه واقع کيږي وَلَا يُمْكِنُهُ أَنْ يَجْعَلَهُ عَنْ أَحَدِهِمَا بَعْدَ ذَٰلِكَ او دا هم ممکنه نه ده چي تر دې وروسته نائب دا حج (خاص) په دواړو کي د يوه لپاره وګرځوي بِخِلَافِ مَا إِذَا حَجَّ عَنْ أَبَوَيْهِ په خلاف د هغه صورت چي کله د خپل مور او پلار له طرفه حج وکړي فَإِنَّ لَهُ أَنْ يَجْعَلَهُ عَنْ أَيِّهِمَا شَاءَ نو (په هغه صورت کي) ده ته اختيار سته چي په مور او پلار کي د هر يوه لپاره وغواړي حج وګرځوي لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ بِجَعْلِ ثَوَابِ عَمَلِهِ لِأَحَدِهِمَا أَوْ لَهُمَا ځکه چي هغه متبرع (احسان کونکی) دی د خپل عمل د ثواب په ګرځولو کي د يوه لپاره يا د دواړو لپاره فَيَبْقَى عَلَىٰ خِيَارِهِ بَعْدَ وُقُوعِهِ سَبَبًا لِثَوَابِهِ نو هغه به تر دې وروسته (هم) پر خپل اختيار باقي پاتيږي چي حج د ثواب سبب واقع سي وَهُنَا يَفْعَلُ بِحُكْمِ الْآمِرِ او دلته نائب د آمر په حکم سره حج کوي وَقَدْ خَالَفَ أَمْرَهُمَا حال دا چي نائب د دواړو آمرانو د حکم مخالفت وکړی فَيَقَعُ عَنْهُ نو حج به د نائب له طرفه واقع کيږي وَيَضْمَنُ النَّفَقَةَ إِنْ أَنْفَقَ مِنْ مَالِهِمَا او نائب به د خرڅې ضامن وي که يې د آمرانو (حکم کونکو) له مال څخه خرڅه کړې وي لِأَنَّهُ صَرَفَ نَفَقَةَ الْآمِرِ إِلَىٰ حَجِّ نَفْسِهِ ځکه چي هغه د آمرانو خرڅه په خپل (ذاتي) حج کي مصرف کړه (نه د هغو په حج کي).

اللغات: ﴿أهل﴾ د افعال ماضي دہ: احرام تړل. ﴿يخلص﴾ د افعال مضارع دہ: خالص کول. يوازي کول ﴿اشتراك﴾ د افتعال مصدر دی: ګډون کول. ﴿متبرع﴾ د تفعّل اسم فاعل دی: احسان کونکی. نفلي عبادت کونکی. ﴿يضمن﴾ د سمع مضارع دہ: ضامن کېدل. تاوان ورکول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که دوو خلکو يو سړی خپل وکيل (نائب) جوړ کړی. او دا يې ورته ووېل چې زموږ له طرفه حج وکړه (يعني د هر يوه له طرفه حج وکړه)، نو مأمور (نائب) هم د دواړو له طرفه د يوه حج احرام وتړی. او د ا احرام يې د يوه لپاره متعين نه کړی، بلکې د دواړو له طرفه يې د حج داداء کولو نيت وکړی، نو اوس د هغه دا حج د خپل ځان له طرفه واقع کيږي، او د يوه آمر له طرفه هم نه واقع کيږي، او آمرانو که هغه ته نفقه (دلاري او په مکه کې د اوسېدلو خرچه) ورکړې وي، نو دا سړی به د هغه هم ضامن وي، صاحب د هدايې چې د دې مسئلې کوم دليل بيان کړی دی. هغه په ښکاره د مدلول او دعوىٰ سره مطابق نه دی، ځکه چې مدلول او دعوىٰ خو دا ده چې حج د مأمور (نائب) له طرفه واقع کيږي، او په دليل کې وايي چې حج د آمر له طرفه واقع کيږي، او مأمور له فرضي حج ځنې نه خلاصيږي. صاحب د نهايې ليکلي دي چې په کتاب کې ذکر سوی دليل دلته د بيان سوي مدلول او دعوې سره بالکل مطابق نه دی*. خو په هر حال دا حج د مأمور يعني د حج کونکي له طرفه واقع کيږي، ځکه چې هغه د آمرانو د حکم مخالفت کړی دی. ځکه آمرانو خو هغه ته دا حکم کړی وو چې په موږ کې د هر يوه لپاره بلا شرکته خالص حج وکړه، لېکن کله چې مأمور د دواړو له طرفه نيت وکړی او احرام يې وتړی، نو ښکاره ده چې د دواړو مخالفت يې وکړی، او کله چې يې مخالفت وکړی. نو دا حج به د هغه و طرف ته ګرځول کيږي، او د هغه له طرفه به واقع کيږي، او بيا هغه ته دواړو حکم کړی دی. نه يوه. نو ځکه وروسته به مأمور دا حج د يوه لپاره متعينولای هم نه سي، ځکه چې په دې صورت کې اولوّيت معدوم دی (يعني يو تر بل اولیٰ نه دی)، او د يوه لپاره په متعينولو سره ترجيح بلا مرجح لازميږي، او دا صحيح نه ده، او داسې هم نه سي کېدلای چې حج خو موږ د مأمور لپاره ومنو، لېکن وروسته مأمور له آمرانو ځنې د يوه لپاره حج متعين کړي، ځکه کله چې هغه ته په يوه وخت کې دواړو د حج حکم وکړی، او دواړو هغه ته نفقه ورکړه، لېکن هغه د دوی د حکم مخالفت وکړی، نو اوس به دا مخالفت د دواړو په حق کې باقي پاته وي، او د يوه لپاره به هم د حج تعيين صحيح نه وي.

<u>بخلاف ما إذا حج الخ</u> د دې په خلاف که يو سړی د خپل مور او پلار له طرفه حج وکړي، نو هغه ته دا اختيار سته چې دا حج په دوی کې د يوه لپاره متعين کړي، يا د دواړو لپاره متعين کړي، ځکه چې په دې صورت کې هغه خود مختاره دی، او څه چې غواړي کولای يې سي، ځکه نه خو د مور او پلار له طرفه هغه ته حکم سوی دي، او نه په دې حج کې د هغوی نفقه داخل ده، د دې په خلاف په پورتني صورت کې د آمرانو له طرفه هغه ته حکم هم سوی دی، او د هغوی نفقه هم په حج کې داخل ده، نو ځکه به حج د مأمور له طرفه واقع کيږي، اوس که دې مأمور په خپل حج کې د آمرانو نفقه صرف کړې وه، نو پر هغه به د نفقې ضمان واجب وي، ځکه چې هغوی د خپلو ځانو له طرفه د حج د کولو لپاره نفقه ورکړې وه، نه د مأمور لپاره.

* او صاحب د بنايې ليکلي دي چې دلته د مدلول او دليل په مينځ کې مطابقت سته [بنايه ج: ۴، ص: ۴۳۱]، خو موږ يې د اوږدول په خاطر تفصيل نه ذکر کوو، او موږ چې کوم تفصيل په صورت د مسئلې کې ذکر کړی هغه تفصيل د احسن الهدايې په نېز معتبر دی، يعني صاحب د احسن الهدايې فرمايي چې دلته هيڅ مطابقت نسته.

د پورتنی مسئلې څه نور صورتونه

وَإِنْ أَبْهَمَ الْإِحْرَامَ او که وکیل (نائب) احرام مبهم (ناځرګند) وساتي بِأَنْ نَوَى عَنْ أَحَدِهِمَا غَيْرِ عَيْنٍ په دلسې دول چې بغیر له څه تعیینه له دواړو څخه د یوه آمر نیت وکړي فَإِنْ مَضَى عَلَى ذَلِكَ نو که هغه پر دې مبهم نیت حج جاري وساتي (یعنې په دغسې ناځرګند نیت کې حج پوره کړي) صَارَ مُخَالِفًا لِعَدَمِ الْأَوْلَوِيَّةِ نو د نه اولویت (او د عدم ترجیح) په وجه هغه (د آمرانو) مخالفت کوونکی سو وَإِنْ عَيَّنَ أَحَدَهُمَا قَبْلَ الْمُضِيِّ او که تر حج کولو مخکې یې له دواړو څخه یو متعین کړی فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ نو د ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز هم دغه حکم دی وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قیاس دی لِأَنَّهُ مَأْمُورٌ بِالتَّعْيِينِ ځکه چې نائب ته خو د متعینولو حکم سوی دی وَالْإِبْهَامُ يُخَالِفُهُ او ابهام د تعیین مخالف دی فَيَقَعُ عَنْ نَفْسِهِ لهذا حج به د هغه له طرفه واقع وي بِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يُعَيِّنْ حَجَّةً أَوْ عُمْرَةً په خلاف د هغه صورت چې کله یې حج یا عمره متعین کړي نه وي حَيْثُ كَانَ لَهُ أَنْ يُعَيِّنَ مَا شَاءَ (ځکه په دې صورت کې) هغه ته اختیار سته چې کوم وغواړي هغه دې متعین کړي لِأَنَّ الْمُلْتَزَمَ هُنَاكَ مَجْهُولٌ ځکه هلته چې یې کوم شی پر ځان لازم کړی دی هغه مجهول دی وَهُهُنَا الْمَجْهُولُ مَنْ لَهُ الْحَقُّ او دلته د متن په مسئله کې چې د چا حق دی هغه مجهول دی وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ أَنَّ الْإِحْرَامَ شُرِعَ وَسِيلَةً إِلَى الْأَفْعَالِ د استحسان دلیل دا دی چې احرام د حج د افعالو د اداء کولو لپاره د وسیلې (ذریعې) په توګه مشروع سوی دی لَا مَقْصُودًا بِنَفْسِهِ په خپله مقصود نه دی وَالْمُبْهَمُ يَصْلُحُ وَسِيلَةً او مبهم احرام د وسیلې جوړېدلو صلاحیت لري (یعني هغه هم وسیله جوړېدای سي) بِوَاسِطَةِ التَّعْيِينِ د تعیین په ذریعه فَاكْتُفِيَ بِهِ شَرْطًا نو په شرط کېدلو کې په مبهم احرام اکتفاء وسوه (یعني په مبهم احرام اکتفاء وسوه ځکه چې هغه شرط دی، او شروط چې څرنګه وي د هغو رعایت به کیږي) بِخِلَافِ مَا إِذَا أَدَّى الْأَفْعَالَ عَلَى الْإِبْهَامِ په خلاف د هغه صورت چې د ابهام په حالت کې یې افعال اداء کړي وي لِأَنَّ الْمُؤَدَّى لَا يَحْتَمِلُ التَّعْيِينَ ځکه کوم شی چې اداء سوی وي هغه د تعیین احتمال نه لري فَصَارَ مُخَالِفًا نو ځکه به نائب د آمر مخالف وي.

اللغات: ﴿أبهم﴾ مبهم او ناځرګند ساتل. ﴿وسیلة﴾ ذریعه، لاره. ﴿مؤدّی﴾ اداء کړی سوی شی.

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی که په دوو خلکو کې هر یوه د خپل له طرفه د حج کولو لپاره یو سړی وکیل جوړ کړی، او دې وکیل مبهم احرام وتړی، یعني په دواړو کې یې د یو غیرِ معین سړي له طرفه د حج احرام وتړی، او د حج افعال یې اداء کړل، نو په دې صورت کې هم حج د هغه له طرفه واقع کیږي، او د آمرانو له طرفه نه واقع کیږي، ځکه چې د نه تعیین په وجه دا سړی دلته هم د خپلو آمرانو مخالفت وکړی، او د مخالفت په صورت کې به حج د هغه له طرفه واقع کیږي، او که هغه احرام مبهم وتړی، لېکن د حج د افعالو تر اداء کولو مخکې یې د یوه آمر له طرفه دا حج او احرام متعین کړی، نو د طرفینو رحمهما الله په نیز دا تعیین صحیح کیږي، او همدا د استحسان تقاضا ده، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز دا

تعيين نه صحيح کيږي او قياس همدغه دی، بلکې په دې صورت کې به هم د قياس له رويه دا حج د وکيل او مأمور طرف ته ګرځول کيږي.

د امام ابو يوسف دليل: د امام ابو يوسف او قياس دليل دا دی چې وکيل ته د دې خبرې حکم سوی وو چې کله هغه په شروع کې احرام وتړي، نو د يوه آمر له طرفه دي د حج نيت او احرام متعين کړي، خوکله چې هغه په شروع کې احرام او نيت مبهم وساتل، نو دا ابهام به تر آخره پورې پاته وي، او وروسته به په متعينولو سره ابهام نه ختميږي. ځکه چې ابهام د تعيين خلاف دی، نو ګواکې په دې صورت کې هم هغه د آمرانو د حکم مخالفت وکړی، نو ځکه به دا حج د هغه له طرفه واقع کيږي، نه د آمرانو له طرفه.

بخلاف ما إذا الخ د دې حاصل دا دی چې که يو سړي مبهم احرام وتړی، او د حج يا د عمرې تعيين يې نه وکړی، نو وروسته هغه ته د حج يا د عمرې د تعيين اختيار سته، د کوم شي لپاره چې وغواړي احرام متعينولای سي، ځکه چې په دې صورت کې هغه شی مجهول دی کوم چې هغه پر خپل ځان لازم کړی دی، او د مجهول شي تر اقرار وروسته د هغه ابهام او جهالت ختمول صحيح دي، مثلاً زيد دا اقرار وکړی چې پر ما د خالد څه مال بلدي دی، او مال يې مبهم وساتی، خو څو ورځې وروسته يې دا ابهام ليري کړی او ويې ويل: لخالد علي الفان روپية (چې د خالد پر ما دوه زره روپۍ بلدي دي) نو دا صحيح دي، مطلب دا چې د مجهول شي جهالت وروسته ختمول صحيح دي، خو د مجهول سړي جهالت او ابهام ختمول صحيح نه دي، او څرنګه چې په اوله مسئله کې د مجهول او مبهم سړي تعيين سوی دی، نو ځکه به هلته جهالت د ورستني تعيين او تعريف په وجه نه ختميږي.

وجه الاستحسان الخ د استحسان وجه او دليل دا دی چې احرام په خپله مقصود نه دی، بلکې شرط دی يعني د افعالو د اداء کولو وسيله ده، او د شرط قاعده دا ده چې که په مبهم توګه شروع سي، او وروسته تر اصل عمل شروع کولو مخکې متعين کړی سي، نو صحيح دي، ځکه شرط چې څرنګه هم پيدا سي نو کافي به وي، لهذا د شرط کېدلو په حيثيت سره په مبهم احرام اکتفاء وسوه، لکه اودس چې د لمانځه شرط دی، خو که يو چا د يخنۍ د حاصلولو لپاره اودس وکړی، او بيا يې په هغه سره لمونځ وکړی، نو هم جائز دی، په خلاف د هغه صورت چې کله وکيل د ابهام په حالت کې افعال اداء کړي نو بيا تعيين نه سي کېدلای، ځکه کوم شی چې اداء سوی وي هغه د تعيين احتمال نه لري، هو! تر اوسه چې يې کوم شی اداء کړی نه وي، په هغه کې تعيين کول ممکن دي، حاصل دا چې کله وکيل په مبهم حالت کې افعال اداء کړي، نو ده د آمر مخالفت وکړی، او د آمر د مخالفت په صورت کې به فعل د مأمور (وکيل) له طرفه اداء کيږي.

يو چا ته د خپل ځان له طرفه د حج قران کولو حکم

قَالَ: فَإِنْ أَمَرَهُ غَيْرُهُ أَنْ يُقْرِنَ عَنْهُ فرمايي: که يو سړي بل چا ته دا حکم وکړی چې زما له طرفه حج قران وکړه فَالدَّمُ عَلَى مَنْ أَحْرَمَ نو قرباني پر هغه چا واجبيږي چې احرام وتړي (يعني پر مأمور واجبيږي) لِأَنَّهُ وَجَبَ شُكْرًا لِمَا وَفَّقَهُ اللهُ تَعَالَى مِنَ الْجَمْعِ بَيْنَ النُّسُكَيْنِ ځکه چې دم قران د دې نعمت د شکرانې په توګه واجبيږي چې الله تعالیٰ هغه ته د حج او عمرې جمع کولو توفيق ورکړی وَالْمَأْمُورُ هُوَ الْمُخْتَصُّ بِهَذِهِ النِّعْمَةِ او په دې نعمت سره مأمور (يعني نائب) خاص دی لِأَنَّ حَقِيقَةَ الْفِعْلِ مِنْهُ ځکه چې حقيقي فعل د مأمور له طرفه دی وَهَذِهِ الْمَسْأَلَةُ تَشْهَدُ بِصِحَّةِ الْمَرْوِيِّ عَنْ

مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ او دا مسئله ګواهي ورکوي د هغه روايت د صحيح کېدلو کوم چې له امام محمد څخه روايت سوی دی أَنَّ الْحَجَّ يَقَعُ عَنِ الْمَأْمُوْرِ چې حج به د مأمور (نائب) له طرفه واقع کيږي.

اللغات: ﴿ولّى﴾ د تفعيل ماضي ده: توفيق ورکول. ﴿نسك﴾ عبادت، نېکي، حج او عمره.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی بل چا ته د حجِ قران کولو حکم وکړي، نو دمِ قران پر مأمور (نائب) واجبيږي، نه پر آمر، دليل دا دی چې دمِ قران د الله تعالیٰ د دې نعمت شکرانه ده چې الله پاک هغه ته د حج او عمرې د جمع کولو توفيق ورکړی، او په دې نعمت سره مأمور خاص دی، ځکه چې حجِ قران د هغه له طرفه صادرېږي، نو دمِ قران به پر مأمور واجب وي.

وهذه المسألة الخ فرمايي چې دا مسئله يعني چې دمِ قران به پر مأمور لازم وي د امام محمد رَحِمَهُ الله د دې خبري تائيد کوي چې حج به د مأمور له طرفه واقع کيږي، نه د آمر له طرفه، هو! خو آمر ته به د حج د خرڅې او مصارفو ثواب حتماً رسيږي (لکه څرنګه دا مسئله څه مخکې په دې عبارت کې ذکر سوه: وعن محمد أن الحج يقع عن الحاج، وللآمر ثواب...)

د يوه سړي له طرفه د حج او د بل سړي له طرفه د عمرې کولو حکم

وَكَذٰلِكَ إِنْ أَمَرَهُ وَاحِدٌ بِأَنْ يَحُجَّ عَنْهُ او همدارنګه که هغه ته يو سړی حکم وکړي چې زما له طرفه حج وکړه وَالْآخَرُ بِأَنْ يَعْتَمِرَ عَنْهُ او بل سړي حکم ورته وکړی چې زما له طرفه عمره وکړه وَأَذِنَا لَهُ بِالْقِرَانِ او دواړه د قِران کولو اجازه ورکړي فَالدَّمُ عَلَيْهِ نو (په دې صورت کې به هم) دم پر مأمور (نائب) واجب وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چې مونږ بيان کړی (يعني چې په دې نعمت سره مأمور خاص دی).

اللغات: ﴿يعتمر﴾ د افتعال مضارع ده: عمره کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی مثلاً زيد ته د حج کولو حکم وکړی، او بل سړي زيد ته د عمرې کولو حکم وکړی، او دواړو اجازه ورکړه چې قِران وکړه، نو په دې صورت کې به هم د قِران دم پر زيد وي، د دې وجه هغه ده کوم چې صاحب د هدايې مخکې بيان کړه، يعني د قِران توفيق الله ﷻ زيد ته ورکړی، په دې کې د آمر هيڅ دخل نسته، نو ځکه به د دې نعمت شکرانه يعني دمِ قران پر زيد واجب وي.

دمِ احصار به پر چا وي؟

وَدَمُ الْإِحْصَارِ عَلَى الْآمِرِ او دمِ احصار پر آمر (حکم کونکي) واجب دی وَهٰذَا عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا (حکم) د طرفينو په نيز دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ: عَلَى الْحَاجِّ امام ابو يوسف فرمايي: چې پر حج کوونکي (يعني پر نائب) واجب دی لِأَنَّهُ وَجَبَ لِلتَّحَلُّلِ ځکه چې دمِ احصار د حلال کېدلو لپاره واجب سوی دی دَفْعًا لِضَرَرِ امْتِدَادِ الْإِحْرَامِ چې د احرام د اوږدوالي ضرر ليرې سي (يعني دمِ احصار ځکه واجب سوی دی چې محصر د احرام د زمانې د اوږد والي د ضرر ليري کولو لپاره

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله لأن قولهما قول المتون، كما قال العلامة ابن عابدين: قوله على الآمر هذا عندهما وعليه المتون رد المحتار ج:٢، ص: ٢٦٧. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٤٠]

په دم احصار سره ځان حلال کړي) وَهٰذَا رَاجِعٌ إِلَيْهِ او دا ضرر د نائب و طرف ته راجع دی فَيَكُونُ الدَّمُ عَلَيْهِ نو دم به هم پر هغه واجب وي وَلَهُمَا أَنَّ الْآمِرَ هُوَ الَّذِي أَدْخَلَهُ فِي هٰذِهِ الْعُهْدَةِ او د طرفينو دليل دا دی چې آمر هغه سړی دي چې نائب يې په دې ذمه واري (يعني په احصار) کې داخل کړی فَعَلَيْهِ خَلَاصُهُ نو د نائب خلاصول به هم پر آمر واجب وي.

اللغات: ﴿امتداد﴾ دافتعال مصدر دی: اوږدېدل، غوړېدل، ﴿عهدة﴾ ذمه واري، ﴿خلاص﴾ خلاصون.

تشريح: مسئله: دا ده که مأمور (نائب) محصر سو، او دم احصار يې قرباني کړی او حلال سو، نو دا قرباني د طرفينو په نېز پر آمر واجب ده، او د امام ابو يوسف په نېز پر مأمور (نائب) واجب ده؛ د امام ابو يوسف دليل دا دی چې دم احصار په دې خاطر د حلال کېدلو لپاره واجب سوی دی، چې د احرام د اوږدې مودې ضرر لېرې سي، او ښکاره ده چې دا ضرر د مأمور و طرف ته راجع دی، نو دم احصار به هم پر مأمور واجب وي، او د طرفينو دليل دا دی چې آمر هغه سړی دی چې مأمور يې د احصار په مصيبت کې مبتلا کړی، نو چا چې مبتلا کړی وي، خلاصول به يې هم پر هغه واجب وي.

د مړي له طرفه د حج کونکي د دم احصار بيان

وَإِنْ كَانَ يَحُجُّ عَنْ مَيِّتٍ او که نائب د يو مړي له طرفه حج کوي فَأُحْصِرَ بيا محصر سي فَالدَّمُ فِي مَالِ الْمَيِّتِ عِنْدَهُمَا• نو دم احصار به د طرفينو په نېز د مړي په مال کې واجب وي خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ د امام ابو يوسف اختلاف دی ثُمَّ قِيْلَ: هُوَ مِنْ ثُلُثِ مَالِ الْمَيِّتِ بيا يو قول دا دی: چې دم احصار به د مړي د مال له دريمي حصې څخه واجب وي لِأَنَّهُ صِلَةٌ كَالزَّكَاةِ وَغَيْرِهَا ځکه چې دم احصار (هم) صله ده لکه زکاة او نور وَقِيْلَ: مِنْ جَمِيْعِ الْمَالِ او دويم قول دا دی: چې دم احصار به د مړي له ټوله مال څخه واجب وي لِأَنَّهُ وَجَبَ حَقًّا لِلْمَأْمُوْرِ ځکه چې هغه د مأمور (نائب) د حق په توګه واجب سوی دی فَصَارَ دَيْنًا نو ځکه به قرض وي.

اللغات: ﴿ثلث﴾ دريمه حصه، ﴿صلة﴾ بغير له عوضه اداء کول، ﴿دين﴾ قرض.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي د مړي له طرفه حج کوي، بيا محصر سو، نو د طرفينو په نېز به دم احصار د مړي له ميراث څخه واجبيږي، او د امام ابو يوسف په نېز به پر وکيل (مأمور) واجبيږي، بيا ځيني مشائخو ويلي دي چې دم احصار به د مړي د ميراث له دريمي څخه واجبيږي، ځکه چې دا صله ده؛ لکه څرنګه چې زکاة او کفارات صله دي، صله دې ته ويل کيږي چې د مالي عوض په مقابله کې نه وي، نو څرنګه چې پر مړي پاته سوی زکاة او کفارات د ميراث له دريمي حصې څخه ورکول کيږي، نو دم احصار به هم د مړي د مال له دريمي حصې څخه ورکول کيږي، او ځيني مشائخو ويلي دي چې دم احصار به د مړي له ټوله مال او ميراث څخه واجبيږي، ځکه چې دم احصار د مأمور (نائب) حق دی، او پر مړي د هغه اداء کول لازم دي، نو د قرض په ډول سو (يعني داسي سو لکه د مړي پر غاړه چې قرض وي)، او قرض د مړي په ټوله مال کي اداء کيږي، نو دم احصار به هم د مړي په ټوله مال کي واجب وي.

• القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَااللہ، لأن قولهما قول المتون، كما قال العلامة الحصكفي: وعليه المتون ردالمحتار ج: ۲، ص:۲۶۷؛ وقال العلامة قاضيخان: والأصل فيه أن كل دم يجب على المأمور بالحج يكون على الحاج لا في مال الميت إلا دم الإحصار فى قول أبي حنيفة، فإن ذلک يكون في مال الميت، الخانية ج:۱، ص:۱۲۷. [القول الراجح ج:۱ ص:۲۲۱]

د جماع دم به پر چا وي؟

وَدَمُ الْجِمَاعِ عَلَى الْحَاجِّ او د جماع دم پر حج کونکي واجب دی لِأَنَّهُ دَمُ جِنَايَةٍ ځکه چي هغه دم جنايت دی وَهُوَ الْجَانِيْ عَنِ اخْتِيَارٍ او حاجي (هم) په خپل اختيار سره جرم کونکی دی(يعني په خپله يې دا جنايت کړی دی، آمر نه دی ورته ويلي) وَيَضْمَنُ النَّفَقَةَ او حاجي به د نفقې(خرڅې) ضامن وي مَعْنَاهُ: إِذَا جَامَعَ قَبْلَ الْوُقُوْفِ حَتّٰى فَسَدَ حَجُّهُ د دې معنیٰ دا ده: چي کله نائب تر وقوفِ عرفه مخکي جماع وکړي تر دې چي د هغه حج فاسد سي لِأَنَّ الصَّحِيْحَ هُوَ الْمَأْمُوْرُ بِهِ ځکه چي هغه ته د صحيح حج حکم سوی وو بِخِلَافِ مَا إِذَا فَاتَهُ الْحَجُّ په خلاف د هغه صورت چي کله له هغه شخصه حج فوت سي حَيْثُ لَا يَضْمَنُ النَّفَقَةَ نو (په دې صورت کي) به هغه د نفقې نه ضامن کيږي لِأَنَّهُ مَا فَاتَهُ بِاخْتِيَارِهِ ځکه چي هغه د ده په اختيار سره فوت نه سو أَمَّا إِذَا جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوْفِ خو که تر وقوفِ عرفه وروسته جماع وکړي لَا يَفْسُدُ حَجُّهُ نو د هغه حج نه فاسديږي وَلَا يَضْمَنُ النَّفَقَةَ او نه د خرڅې ضامن کيږي لِحُصُوْلِ مَقْصُوْدِ الْآمِرِ ځکه چي د آمر مقصود حاصل سو وَعَلَيْهِ الدَّمُ فِيْ مَالِهِ او پر نائب به په خپل مال کي دمِ جنايت واجب وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی(يعني: لأنه دم جناية) وَكَذٰلِكَ سَائِرُ دِمَاءِ الْكَفَّارَاتِ عَلَى الْحَاجِّ او همدا ډول به د کفاراتو ټول دمونه پر حاجي(يعني پر نائب) واجب وي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی(يعني: لأنه دم جناية يعني ځکه چي هغه د جناياتو دمونه دي، او جنايت هغه په خپله کړی دی).

اللغات: ﴿جناية﴾ جرم، قصور.

تشريح: مسئله تشريح ته ضرورت نه لري.

که د مړي له طرفه حج کونکی په لاره کي مړ سي نو د مړي د وصيت حکم

وَمَنْ أَوْصٰى بِأَنْ يُحَجَّ عَنْهُ او که يو سړی وصيت وکړی چي زما له طرفه دي حج وکړی سي فَأَحَجُّوْا عَنْهُ رَجُلًا نو خپلوانو (هم) د هغه له طرفه يو سړی(نائب) حج ته واستوی فَلَمَّا بَلَغَ الْكُوْفَةَ (لېکن) کله چي هغه (نائب) کوفې ته ورسېدی مَاتَ أَوْ سُرِقَتْ نَفَقَتُهُ وَقَدْ أَنْفَقَ النِّصْفَ نو مړ سو يا يې خرڅه غلا سوه حال دا چي نيمه خرڅه يې مصرف کړې وه يُحَجُّ عَنِ الْمَيِّتِ مِنْ مَنْزِلِهِ بِثُلُثِ مَا بَقِيَ نو (دويم وار به) د مړي له طرفه د مړي له کور شخصه د مړي د پاته مال په دريمه حصه حج کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● او (دا حکم) د امام صاحب په نيز دی وَقَالَا: يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ حَيْثُ مَاتَ الْأَوَّلُ او صاحبين فرمايي: چي له هغه ځايه به د مړي له طرفه حج کيږي چيري چي اول نائب مړ

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله،كذا في الدر المختار ج: ٢، ص: ٢٦٣، وكما قال محمد ابراهيم الحلبي: وإن مات الحاج بنفسه أو المأمور في الطريق و أوصٰى بحج عن منزل أمره بثلث ما بقي من ماله قياساً(لا إستحساناً) وعليه المتون، ملتقى الأبحر ج:١، ص:٣٠٩. [القول الراجح، ج:١، ص: ٢٢٢]

سوی وي فَالْكَلَامُ هٰهُنَا فِي اعْتِبَارِ الثُّلُثِ وَفِي مَكَانِ الْحَجِّ نو په دې مسئله کې خبره (د مړي د مال) په دريمه حصه او د حج د ځای په باره کې ده أَمَّا الْأَوَّلُ فَالْمَذْكُوْرُ قَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو اول چې کوم قول (په متن کې) ذکر سوی دی هغه د امام صاحب دی أَمَّا عِنْدَ مُحَمَّدٍ يُحَجُّ عَنْهُ بِمَا بَقِيَ مِنَ الْمَالِ الْمَدْفُوْعِ إِلَيْهِ إِنْ بَقِيَ شَيْءٌ لیکن د امام محمد په نیز چې کوم مال نائب ته ورکول سوی وي که له هغه څخه څه مال پاته سوی وي نو په هغه مال سره به د مړي له طرفه حج کیږي وَإِلَّا بَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ کنې وصیت به باطل وي اِعْتِبَارًا بِتَعْيِيْنِ الْمُوْصِيْ د موصي (یعني د مړي) پر متعینولو باندې په قیاسولو سره إِذْ تَعْيِيْنُ الْوَصِيِّ كَتَعْيِيْنِهِ ځکه چې د وصي متعینول د موصي د متعینولو په څیر دي وَعِنْدَ أَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يُحَجُّ عَنْهُ بِمَا بَقِيَ مِنَ الثُّلُثِ الْأَوَّلِ او د امام ابو یوسف په نیز به د مړي له طرفه په هغه مال سره حج کیږي چې د اول مال له دریمې حصې څخه پاته سوی وي لِأَنَّهُ هُوَ الْمَحَلُّ لِنَفَاذِ الْوَصِيَّةِ ځکه چې د وصیت د نافذېدلو محل هغه دریمه حصه ده وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ أَنَّ قِسْمَةَ الْوَصِيِّ وَعَزْلَهُ الْمَالَ لَا يَصِحُّ او د امام صاحب دلیل دا دی چې د وصي تقسیم او مال جلا کول صحیح نه دي إِلَّا بِالتَّسْلِيْمِ إِلَى الْوَجْهِ الَّذِيْ سَمَّاهُ الْمُوْصِيْ مګر په سپارلو سره په داسې طریقه چې هغه موصي متعینه کړې وي لِأَنَّهُ لَا خَصْمَ لَهُ لِيَقْبِضَ ځکه چې د موصي هیڅ مقابل نسته چې (د وصیت پر مال) قبضه وکړي وَلَمْ يُوْجَدْ فَصَارَ كَمَا إِذَا هَلَكَ قَبْلَ الْإِفْرَازِ وَالْعَزْلِ او پر داسې طریقه سپارل نه راغله نو داسې سو لکه تر بېلولو او جلا کولو مخکې چې د وصیت مال هلاک سي فَيُحَجُّ بِثُلُثِ مَا بَقِيَ نو د پاته مال په دریمه حصه به حج کیږي وَأَمَّا الثَّانِيْ فَوَجْهُهُ قَوْلُ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ الْقِيَاسُ هر چې دویمه مسئله ده نو د امام صاحب د قول وجه دا ده او همدا قیاس دی أَنَّ الْقَدْرَ الْمَوْجُوْدَ مِنَ السَّفَرِ قَدْ بَطَلَ فِيْ حَقِّ أَحْكَامِ الدُّنْيَا چې څومره اندازه سفر سوی دی هغه د دنیاوي احکامو په حق کې باطل سو قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ●: إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ نبي ﷺ فرمایلي دي: کله چې انسان مړ سي نو د هغه عمل منقطع سي ما سوا له دریو عملونو څخه وَتَنْفِيْذُ الْوَصِيَّةِ مِنْ أَحْكَامِ الدُّنْيَا او د وصیت نافذول له دونیاوي احکامو څخه دي فَبَقِيَتِ الْوَصِيَّةُ مِنْ وَطَنِهِ نو د هغه له وطن څخه وصیت باقي پاته سو كَأَنْ لَمْ يُوْجَدِ الْخُرُوْجُ ګواکي (د حج لپاره له وطن څخه) وتل راغلي نه دي وَجْهُ قَوْلِهِمَا وَهُوَ الْاِسْتِحْسَانُ أَنَّ سَفَرَهُ لَمْ يَبْطُلْ او د صاحبینو د قول وجه دا ده او همدا استحسان دی چې د نائب سفر باطل نه سو لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ [النساء: ١٠٠] ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: "څوک چې له خپل کور څخه د الله او د رسول و طرف ته د هجرت لپاره راووځي (او مړ سي نو د هغه اجر ثابت سو)" وَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ فِيْ طَرِيْقِ

● تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب الفرائض، باب ما جاء في الصدقة عن الميت، حديث رقم: ٢٨٨٠، ومسلم في كتاب الوصية، باب وصول ثواب الصدقات إلى الميت، حديث رقم: ١٤.

الْحَجِّ كُتِبَ لَهُ حَجَّةٌ مَبْرُورَةٌ فِي كُلِّ سَنَةٍ او نبي ﷺ فرمايلي دي: "څوک چي د حج په لاره کي مړ سي د هغه لپاره هر کال يو قبول سوی حج ليکل کيږي" وَإِذَا لَمْ يَبْطُلْ سَفَرُهُ اُعْتُبِرَتِ الْوَصِيَّةُ مِنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ او کله چي د هغه سفر باطل نه سو نو له هغه ځايه به د وصيت اعتبار کيږي وَأَصْلُ الْإِخْتِلَافِ فِي الَّذِي يَحُجُّ بِنَفْسِهِ او اصل اختلاف د هغه سړي په باره کي دی چي په خپله حج کوي وَيَنْبَنِي عَلٰى ذٰلِكَ الْمَأْمُورُ بِالْحَجِّ او هم پر دې اختلاف به د حج مأمور مبني وي.

اللغات: ﴿أحجوا﴾ د افعال مضارع ده: حج په کول، ﴿خصم﴾ مقابل، مخالف فريق، ﴿فراز﴾ جلا کول، بېلول، ﴿عزل﴾ پرېښوول، (جلا کول)، ﴿مبرورة﴾ مقبول، د نېکۍ والا ﴿موصي﴾ د افعال اسم فاعل دی: وصيت کونکی (دلته څني مراد مړی دی، څکه چي هغه وصيت کړی دی)، ﴿وصي﴾ د ضرب له باب څخه پر وزن د فَعِيْلٌ دی، دا وزن کله کله په معنیٰ سره د مفعول هم راځي، لکه قتيل چي په معنیٰ سره د مقتول دی، او دلته هم د مفعول په معنیٰ سره دی، د وصيّ معنیٰ ده: وصيت ورته کړی سوی (مراد څني ميراث خواره دي).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړي د مرګ په وخت کي خپلو ميراث خورو ته دا وصيت وکړی چي زما تر مرګ وروسته زما له طرفه په يو چا حج وکړئ!، نو تر مرګ وروسته د هغه ميراث خورو هم د هغه پر وصيت عمل وکړی او د هغه له مال څخه يې يوه سړي ته نفقه ورکړه او د حج لپاره يې روان کړی، خو دا سړی په لاره کي مړ سو، يا يې مال غلا سو، او تر اوسه يې نيمه نفقه خرڅه کړې وه، نو اوس څه حکم دی؟ فرمايي چي دلته دوې خبري دي: (۱) اوله خبره دا چي دويم وار چي کوم سړی د حج لپاره استول کيږي، نو هغه به په کوم مال سره استول کيږي، (۲) دويمه خبره دا ده چي دويم وار به له کومه ځايه حج په کيږي، آيا له هغه ځايه څخه چيري چي اول نائب مړ سوی دی (مثلاً په جده کي مړ سوی)، او که د مړي له کور څخه (مثلاً له افغانستانه څخه)؛ نو د اولي خبري يعني د مال او نفقې په باره کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دا دی چي دويم وار به په بل سړي د مړي د پاته سوي مال په دريمه حصه حج کيږي، مثلاً که د مړي سره شلور[۴] لکه روپۍ وې، نو اول وار چي ميراث خورو کوم سړی واستوی هغه ته يې لک روپۍ ورکړي وې، لېکن هغه په لاره کي مثلاً په جده کي مړ سو، يا يې مال غلا سو، او تر اوسه يې پنځوس زره روپۍ (۵۰۰۰۰) مصرف کړي وې، نو اوس به ميراث خواره د امام صاحب په نېز دويم وار بيا له پاته دريو لکو څخه دريمه حصه يعني يو لک روپۍ بل سړي ته (يا اول نائب ته) ورکړي او د حج لپاره به يې روان کړي.

أما عند محمد الخ په دې لړ کي د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي اول نائب ته چي کوم مال ورکول سوی وو، که له هغه څخه په پاته سوي مال حج کېدای سو (مثلاً په پورتني مثال کي د هغه سره پنځوس زره پاته سوي وې) نو په هغه سره دي حج وکړی سي، او که پاته مال غلا سوی وو، يا په پاته مال (يعني پنځوسو زرو) حج نه کېدی (يا په پنځوسو زرو خو حج کېدی، لېکن پنځوس زره هم پاته نه وې)، نو په دې صورت کي پر ميراث خورو د مړي وصيت پوره کول ضروري نه دي، بلکي د هغه وصيت باطل سو.

وعند أبي يوسف الخ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي د اول مال له دريمي حصې څخه چي څومره مال پاته سوي وي په هغه دي حج وکړی سي، که حج نه په کېدی، نو وصيت باطليږي، مثلاً د څلورو[۴] لکو دريمه حصه تقريباً يو لک و درو دېرش (۱۳۳۰۰۰) روپۍ وې، او له هغه څخه خو يې لک روپۍ اول سړي ته ورکړي وې، او تقريباً درو دېرش

زره(۳۳۰۰۰) څنې پاته سوې، نو اوس که په درو دېرشو زرو حج کېدای سو، خو حج دې په وکړي، که حج نه په کېدی، نو د مړي وصيت باطل سو.

(أما الثاني الخ دويمه خبره يعني د حج د ځای په باره کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې د دويم حج سفر به د مړي له وطن او کور څخه (يعني له افغانستانه څخه) شروع کيږي، لېکن د صاحبينو مسلک دا دی چې د دويم حج سفر به له هغه ځايه شروع کيږي چيري چې اول نائب (مأمور) مړی سوي وي (يعني له جدې څخه).

(۱) **دليلونه**: په اوله مسئله کې (يعني د مال والا په مسئله کې) د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل قياس دی، او د وصي تعيين قياسوي پر تعيين د موصي (وصيت کونکی مړي)، يعني که په خپله موصي ژوندی وای، او له خپل مال څخه يې مثلاً لک روپۍ د حج کولو لپاره يو چا ته ورکړي وای "چې زما له طرفه حج وکړه"، لېکن هغه لک روپۍ غلا سوې، يا هغه سړی مړ سو، نو مسئله دا ده چې څومره مال له مخکې (لکو روپو) څخه پاته وي، که په هغه حج کېدی، نو موصي به په هغه حج کوي (په هغه سړي يا په بل چا)، او که نه په کېدی، نو وصيت باطليږي، همدارنګه د مړي وصي (ميراث خورو) چې څوک واستوی، لېکن له هغه څخه مال غلا سو، يا هغه مړ سو، نو څومره مال چې د هغه سره پاته وي، نو وصي به هم په هغه سره (په بل چا يا په هغه سړي) حج کوي، څکه چې د وصي متعينول د مړي [موصي] د متعينولو په يول دي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې کله اول وار د مال دريمه حصه راوستل سوه، او په هغه کې وصيت نافذ سو، نو فقط په هغه کې به حج کيږي، د مړي په مال کې به بار بار دريمه حصه نه را ايستل کيږي، کنې د ميراث خورو لپاره به څه پاته سي!، څکه په شريعت کې چې په کوم مال کې وصيت جاري کيږي، هغه د ټوله مال دريمه حصه ده، لهذا که په هغه کې وصيت پوره کول ممکن وو، نو صحيح ده، کنې بل وار به دريمه حصه نه را ايستل کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې د وصي لپاره د مال متروکه تقسيمول او د موصي (مړي) حصه له ټوله مال څخه جلا کول په هغه وخت صحيح وي چې کله وصي دا مال په هغه مقصد کې مصرف کړي چې هغه موصي متعين کړی وي (د موصي مقصد دا دی چې زما لپاره دې پوره او کامل حج وسي)، څکه چې د موصي له طرفه هې قبضه کونکی نسته، او دا مال به مقبوض هغه وخت شمارل کيږي چې وصي دا مال د وصيت په مقصد او جهت کې مصرف کړي، او دلته د وصيت په مقصد کې نه دې مصرف سوی، څکه چې د وصيت مقصد حج دی، او حج تر اوسه نه دي سوی، نو داسې سو لکه تر وېش او تقسيم مخکې چې څه مال هلاک سي، او که تر وېش مخکې څه مال هلاک سي، نو په هغه صورت کې به د ټوله پاته سوي مال په دريمه حصه کې د مړي وصيت نافذيږي، نو په پورتنۍ مسئله کې به هم د دويم حج لپاره د ټوله مال له دريمې حصې څخه يو څوک د مړي له طرفه استول کيږي. حتیٰ که تر دويم حج پوره کېدلو مخکې دا مال هم هلاک سو، نو بيا به په پاته ټوله مال کې له دريمې حصې څخه د مړي له طرفه حج کيږي (مثلاً اول سړي ته يې د څلورو لکو په دريمه حصه کې لک روپۍ ورکړې، او هغه غلا سوې يا مثلاً اول سړی مړ سو، نو دويم حج به په پاته درو دېرش زرو (۳۳۰۰۰) نه کيږي، بلکې د ما بقي مال يه نې د دوو لکو اووه شپه زرو (۲۶۷۰۰۰) په دريمه حصه کې کيږي، او که دا هم غلا سوې يا مثلاً دويم سړی هم مړ سو، نو بيا به د مابقي مال په دريمه حصه کيږي، همدا سلسله به تر هغه وخته روانه وي چې تر څو د مال په ما بقي دريمه حصه کې د حج امکان وي).

(۲) **دليلونه**: په دريمه مسئله کې د امام صاحب دليل او د قياس وجه دا ده چې نائب د مړي له کور څخه د مرګ تر ځايه (مثلاً تر جدې) پوري چې کوم سفر کړی دی، هغه سفر د دنياوي احکامو په حق کې معدوم دی، څکه په حديث

کي راځي چي کله انسان مړ سي، نو له دريو اعمالو (صدقهٔ جاريه، علم نافع او ولدِ صالح) څخه علاوه د هغه ټوله عملونه ختميږي، او څرنګه چي له دې دريو څخه سفر جلا دی، نو دا به هم ختميږي، او د نائب پرېکړل سوې مځکه او سفر به معدوم شمارل کيږي، نو دويم حج لپاره به بيا د مړي له وطن او کور څخه سفر کول ضروري وي، همدا د قياس تقاضا ده.

د صاحبينو دليل: او د استحسان وجه دا ده چي د هغه سفر معدوم سوی نه دي، ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: ومن يخرج من بيته مهاجراً إلى الله ورسوله ثم يدركه الموت فقد وقع أجره على الله. (يعني څوک چي له خپل کور څخه د الله او د رسول و طرف ته هجرت وکړي بيا په لاره کي مرګ ور ته راسي نو د هغه ثواب پر الله دی). له دې څخه معلومه سوه چي په لاره کي د مرګ ثواب انسان ته رسيږي، او همدغه د ثواب رسېدل د سفر مقصود دي، او د هجرت په سفر کي د حج او د جهاد سفر هم داخل دي، بلکي په صريح حديث کي راځي: "چي څوک د حج په لاره کي مړ سي، نو د هغه لپاره به هر کال د يوه مقبول حج ثواب ليکل کيږي". حاصل دا چي کله هغه ته د دې سفر ثواب ورسېدی، نو ښکاره ده چي د هغه سفر هم معدوم او باطل نه سو، او کله چي سفر باطل نه سو، نو اول وار چي تر کومه ځايه سفر سوی وي، هغه به پر خپل ځای پاته وي، او د دويم حج سفر به د مرګ له ځايه شروع کيږي، همدا د استحسان تقاضا ده.

وأصل الاختلاف الخ فرمايي چي په دويمه مسئله کي د امام صاحب او صاحبينو اصل اختلاف په دې باره کي دی چي يو سړی په خپله د حج په اراده سره ووځي، ليکن په لاره کي مړ سي، او دا وصيت وکړي چي زما له طرفه دې حج وکړی سي، اوس به د صاحبينو په نېز دا حج له هغه ځايه کيږي چيري چي دا سړی مړ سوی دی، او د امام صاحب په نېز به د دې سړي له کوره څخه حج کيږي، هم پر دغه اختلاف دا دويمه مسئله متفرع سوې ده چي که د مړي مأمور په لاره کي مړ سي، نو دويم حج به له کومه ځايه کيږي، له هغه ځايه څخه او که له کوره څخه؟، او لوړ په پوره تفصيل سره دا اختلاف ذکر سو.

د مور او پلار لپاره د مبهم (ناخرګند) حج تفصيل

قَالَ: وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ عَنْ أَبَوَيْهِ فرمايي: څوک چي د خپل مور او پلار له طرفه د حج احرام وتړي يُجْزِيهِ أَنْ يَجْعَلَهُ عَنْ أَحَدِهِمَا نو د هغه لپاره جائز ده چي دا حج د يوه لپاره (يعني د مور يا د پلار لپاره) وګرځوي لِأَنَّ مَنْ حَجَّ عَنْ غَيْرِهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ ځکه څوک چي د بل چا له طرفه بغير د هغه له اجازې څخه حج وکړي فَإِنَّمَا يَجْعَلُ ثَوَابَ حَجِّهِ لَهُ نو (د دې مطلب دا دی چي) هغه د خپل حج ثواب هغه (بل چا ته) ته ور بخښي وَذَلِكَ بَعْدَ أَدَاءِ الْحَجِّ او دا د حج تر اداء کولو وروسته کېدای سي فَلَغَتْ نِيَّتُهُ قَبْلَ أَدَائِهِ نو د حج تر اداء کولو مخکي به د ور بخښلو نيت لغوه وي وَصَحَّ جَعْلُهُ ثَوَابَهُ لِأَحَدِهِمَا بَعْدَ الْأَدَاءِ او تر حج اداء کولو وروسته به د هغه ثواب مور يا پلار ته ور بخښل صحيح وي بِخِلَافِ الْمَأْمُورِ په خلاف د مأمور عَلَى مَا قَرَّرْنَا مِنْ قَبْلُ د هغه فرق پر بناء کوم چي مخکي مو بيان کړی (و دې قول ته اشاره کوي: وههنا يفعل بحكم الآمر وقد خالفه).

اللغات: ﴿أبوين﴾ مور او پلار، والدين ﴿يجزيه﴾ د افعال مضارع ده: د هغه لپاره جائز ده، د هغه لپاره کافي دي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو څوک د مور او لپاره د حج احرام وتړي، نو د هغه لپاره دا جائز ده، چي د دې ثواب فقط يوه ته ور بخښيي، لکه څرنګه چي دا هم جائز ده، چي دواړو ته يې ورېخښي، ځکه چي هغه دا حج د بل چا په نفقه او حکم سره نه کوي، بلکي په خپلو پيسو سره يې د تبرع او احسان په توګه د مور او پلار لپ ره کوي.

لأن من حج الخ دلته دا فرق بيانوي چي که يو څوک د بل چا په خرچه او نفقه او د هغه په حکم سره حج اداء کوي، نو تر احرام ترلو مخکي به د آمر نيت خامخا کوي، ځکه چي د هغه په حکم او خرچې سره د هغه حج اداء کوي، خو که په خپله خرچه سره د بل چا لپاره د تبرع په توګه حج کوي، نو تر احرام مخکي د نيت ضرورت نشته، بلکي د حج تر اداء کولو وروسته دي د حج ثواب هغه ته ور وبخښيي، ځکه چي دا تبرع ده، او د هغه له طرفه حج نه اداء کوي، بلکي فقط ثواب يې ور وبخښي، او دا تر حج وروسته امکان لري، نو د آمر په حج او د تبرع په حج کي همدغه فرق دی.

فوائد: که دا درې شرطونه پيدا سي، نو بيا د مور او پلار له طرفه حج کول واجب دي: [۱] که پر مور او پلار حج فرض وي، [۲] او د حج مال يې هم پرې ايښي وي، [۳] او وصيت يې هم کړی وي، او که فقط يو شرط هم نيستي سي، نو بيا د مفو له طرفه حج کول فرض نه دي، بلکي د ثواب کار دی. والله أعلم بالصواب

بَابُ الْهَدْيِ

(دا) باب د هدي (په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چي په کتابُ الحج کي ډېر ځايونه د هدي يادونه وسوه، نو ځکه صاحب د هدايې د حج له احکامو څخه تر فراغت وروسته اوس د هدي تفصيلات او تشريحات بيانوي، کوم څاروی چي حرم ته د ذبحه کولو (حلالولو) لپاره واستول سي، هغه ته هدی ويل کيږي، هدی په دې آيت سره ثابته ده: فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلْعُمْرَةِ إِلَى ٱلْحَجِّ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْيِ [البقرة، ۱۹۶].

د هدي ادنیٰ درجه

اَلْهَدْيُ أَدْنَاهُ شَاةٌ د هدی کمه درجه بزه ده لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ❶ سُئِلَ عَنِ الْهَدْيِ ځکه روايت سوی دی چي له نبي ﷺ څخه د هدي په باره کي پوښتنه وسوه فَقَالَ: أَدْنَاهُ شَاةٌ نو نبي ﷺ وفرمايل: "د هدي ادنیٰ درجه بزه ده".

اللغات: ﴿أدنیٰ﴾ تر ټولو کمه درجه.

تشريح: صورت د مسئلې ښکاره دی چي د هدي کمه درجه بزه ده، ځکه چي په حديث کي د هدي کمه درجه بزه ښودل سوې ده.

د هدي اقسام

قَالَ: وَهُوَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَنْوَاعٍ: الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ فرمايي: چي هدی په درو قسمونو سره کيږي: اوښ، غوا او بزه لِأَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا جَعَلَ الشَّاةَ أَدْنَى فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَعْلَى ځکه کله چي نبي ﷺ بزه د هدي ادنیٰ درجه وګرځوله نو ضروري ده چي د هدي اعلیٰ درجه به (هم) وي وَهُوَ الْبَقَرُ وَالْجَزُوْرُ او اعلیٰ درجه غوا او اوښ دي وَلِأَنَّ الْهَدْيَ مَا يُهْدٰى

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب ۱۰۲، حديث رقم: ۱۶۸۸ بمعناه.

إِلَى الْحَرَمِ او ځکه چې هدی هغه څاروی دی چې د حرم و طرف ته واستول سي لِيُتَقَرَّبَ بِهِ فِيهِ چې په هغه سره په حرم کي قُربت حاصل کړی سي وَالْأَصْنَافُ الثَّلَاثَةُ سَوَاءٌ فِي هٰذَا الْمَعْنٰى او په دې معنیٰ کي درې سره قسمونه برابر دي.

اللغات: ﴿إبل﴾ اوبن، ﴿بقر﴾ غوا، ﴿غنم﴾ اسم جنس دی پُسه او بزې دواړو ته ویل کیږي، ﴿جزور﴾ اوبن.

تشریح: مسئله: دا ده چې هدی په درې ډوله څارویانو سره کېدای سي: اوبن، غوا، بزه(پسه)، او دلیل دا دی چې نبي ﷺ بزه د هدي ادنیٰ درجې گرځولې ده، او ادنیٰ لپاره اعلیٰ خامخا وي، نو د هدي اعلیٰ درجه هغه څارویان دي چې تر بزې په جُثه او جسم کي اعلیٰ وي چې هغه نو اوبن او غوا دي، عقلي دلیل دا دی چې هدی هغه څاروي ته ویل کیږي چې د تقرّب حاصلولو په نیت سره حرم ته واستول سي، او په دې مقصد کي بزه، غوا، اوبن درې سره برابر دي(یعني په درېو سره قربت حاصلیږي)، لهذا په هدی کېدلو کي به هم درې سره برابر وي.

د هدي او قرباني د برابر والي بیان

وَلَا يَجُوزُ فِي الْهَدَايَا إِلَّا مَا جَازَ فِي الضَّحَايَا او جائز نه دي په هَدْیو کي مگر هغه څارویان کوم چې په قربانیو کي جائز دي لِأَنَّهُ قُرْبَةٌ تَعَلَّقَتْ بِإِرَاقَةِ الدَّمِ كَالْأُضْحِيَةِ ځکه چې هدی هم د قرباني په څیر داسي قُربت(او عبادت) دی چې د وینو بیولو سره تعلق لري فَيَتَخَصَّصَانِ بِمَحَلٍّ وَاحِدٍ نو دواړه به د یوه محل سره خاص وي(یعني کوم شرطونه چې د قرباني وي هغه به د هدي هم وي).

اللغات: ﴿ضحایا﴾ قربانیاني، ﴿قربة﴾ نېکي، ﴿إراقة﴾ د افعال مصدر دی: بیول.

تشریح: مسئله: دا ده چې په قرباني کي کوم څارویان جائز دي، هغه په هدی کي هم جائز دي. ځکه چې په هدی او قرباني دواړو کي وینه بهیږي، او دواړه د قربت حاصلولو لپاره کیږي، همدا وجه ده چې د قرباني لپاره چې په څاروي کي کوم شرطونه وي، هغه به په هدی کي هم وي، په قرباني کي یو شرط دا دی چې څاروی به ثني وي، همداسي به په هدی کي هم دا ضروري وي چې هغه به ثني وي، ثني د هغه عمر څاروي ته ویل کیږي چې نوي غاښونه یې راسي؛ بزه او پسه چې کله د دوو کالو سي، نو ثني کیږي، گامیښه او غوا چې کله په دریم کال کي پښه کښېږدي نو ثني کیږي، اوبن چې کله په پنځم کال کي پښه کښېږدي، نو نوي غاښونه یې راځي او ثني کیږي.

بزه له دوو ځایونو څخه علاوه بل په هر ځای کي کافي ده

وَالشَّاةُ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ شَيْءٍ او بزه په هر شي کي(یعني په هره هدی کي) جائز ده إِلَّا فِي مَوْضِعَيْنِ: مَنْ طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ جُنُبًا مگر په دوو ځایونو کي: [١] څوک چې د جنابت په حالت کي طوافِ زیارت وکړي وَمَنْ جَامَعَ بَعْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ [٢] او څوک چې تر وقوفِ عرفه وروسته جماع وکړي فَإِنَّهُ لَا يَجُوزُ فِيهِمَا إِلَّا بَدَنَةٌ نو په دې دوو ځایونو کي به له بدنې څخه علاوه بل هیڅ شی جائز نه وي وَقَدْ بَيَّنَّا الْمَعْنٰى فِيمَا سَبَقَ او دلیل مو په مخکي بیان کړی (په باب الجنایات کي).

تشریح: مسئله: دا ده چې چیري هم د هدي ضرورت وي، هلته بزه ورکول کافي دي، خو دوه ځایونه داسي دي چې هلته بزه کفایت نه کوي، هلته به خامخا اوبن ورکوي، ځکه چې هلته جرم ډېر سخت دی، یو دا چې څوک د جنابت په حالت کي طوافِ زیارت وکړي، او دویم دا چې تر وقوفِ عرفه وروسته جماع وکړي.

د هدي د غوښو حکم

وَيَجُوزُ الْأَكْلُ مِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ او له نفلي هدي او د تمتع او قِران له هديو ښخه (حاجي ته) خوراک کول جائز دي لِأَنَّهُ دَمُ نُسُكٍ ځکه چي دا (هريو) د عبادت دم دی فَيَجُوزُ الْأَكْلُ مِنْهَا بِمَنْزِلَةِ الْأُضْحِيَةِ نو د قرباني په شير به له دې هديو ښخه هم خوړل جائز وي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ مِنْ لَحْمِ هَدْيِهِ او په صحيح حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ (هم) د خپلي هدي له غوښو ښخه خوراک وکړی وَحَسَا مِنَ الْمَرَقَةِ او (د غوښو) ښوروا يې وچيښله.

اللغات: ﴿نسك﴾ عبادت، ﴿حسا﴾ نوشول، چيښل، ﴿مرقة﴾ ښوروا.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

له هدي ښخه خوراک کول مستحب دي

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا او د حاجي لپاره له هديو ښخه خوراک کول مستحب دي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَكَذٰلِكَ يُسْتَحَبُّ أَنْ يَتَصَدَّقَ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِیْ عُرِفَ فِي الضَّحَايَا او همدا ډول پر هغه طريقه صدقه کول (هم) مستحب دي کومه چي د قربانيو په باره کي پيژندل سوي ده وَلَا يَجُوزُ الْأَكْلُ مِنْ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا او له نورو هديو ښخه خوړل جائز نه دي لِأَنَّهَا دِمَاءُ كَفَّارَاتٍ ځکه چي هغه د کفاراتو دمونه دي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● لَمَّا أُحْصِرَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَبَعَثَ الْهَدَايَا عَلَى يَدَیْ نَاجِيَةَ الْأَسْلَمِيِّ او په صحيح روايت کي راغلي دي چي کله نبي ﷺ په حديبيه کي محصر سو او د ناجيه اسلمي په لاس يې قرباني واستولې قَالَ لَهُ: لَا تَأْكُلْ أَنْتَ وَرُفْقَتُكَ مِنْهَا شَيْئًا نو هغه ته يې وفرمايل: "ته او ستا ملګري له دې ښخه هيڅ مه خورئ".

اللغات: ﴿رفقة﴾ جمع د رفيق ده: د سفر ملګري، انډيوالان.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي له محرم لپاره د قِران، تمتع او نفلي هديو ښخه خوړل فقط جائز نه دي بلکي مستحب دي، ځکه له نبي ﷺ ښخه هم خوړل ثابت دي، او که يو شوک د قرباني طريقه اختيار کړي يعني دا چي د هدي غوښي درې حصې کړي، يوه حصه صدقه کړي، دويمه حصه هديه کړي، او دريمه د ځان لپاره ذخيره کړي، نو په دې کي هم هيڅ حرج نسته، بلکي دا طريقه په هدي کي مستحب ده، خو له مذکوره هديو ښخه علاوه د نورو هديو غوښي په خپله خوړل جائز نه دي، بلکي هغه به پر فقيرانو تقسيموي، ځکه چي هغه د جنايت او کفارې هديي دي، او په صحيح حديث سره ثابت دي چي کله نبي ﷺ په حديبيه کي محصر سو، او هديي يې د ناجيه اسلمي په لاس واستولې، نو هغه ته يې وفرمايل: "چي له دې ښخه مه ته خوراک کوه، او نه دي ستا ملګري له دې ښخه خوراک کوي"، د حديثو شارحينو ليکلي دي چي نبي ﷺ ځکه ناجيه اسلمي او د هغه ملګري له خوراک کولو ښخه منع کړل چي هغوی مالداره

● تخريج: أخرجه ابوداؤد فی کتاب المناسک، باب الهدی إذا أعطب قبل أن يبلغ، حديث رقم: ١٧٦٣.

او شتمن ول، د صدقې مستحق نه ول، له دې څخه هم معلومېږي چې دم احصار او د کفاراتو او جناياتو نورې قربانۍ تول له د فقيرانو حق دی، له هغو څخه نه په خپله خوړل جائز دي، او نه شتمنو خلکو ته د هغو ورکول جائز دي.

د هدي د ذبحه کولو (حلالولو) وختونه او ځايونه

وَلَا يَجُوْزُ ذَبْحُ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ او جائز نه دي د نفلي هدي، د تمتع د هدي او د قِران د هدي ذبحه کول مګر د قربانۍ په ورځ (يعني د لوى اختر په ورځ) قَالَ الْعَبْدُ الضَّعِيفُ: وَفِي الْأَصْلِ: يَجُوْزُ ذَبْحُ دَمِ التَّطَوُّعِ قَبْلَ يَوْمِ النَّحْرِ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: او په مبسوط کې دي چې نفلي قرباني تر يومُ النحر مخکې ذبحه کول جائز دي وَذَبْحُهُ يَوْمَ النَّحْرِ أَفْضَلُ او په يومُ النحر کې يې ذبحه کول افضله دي وَهٰذَا هُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحيح ده لِأَنَّ الْقُرْبَةَ فِي التَّطَوُّعَاتِ بِاعْتِبَارِ أَنَّهَا هَدَايَا ځکه چې په نفلي هديو کې قربت (عبادتوالی) په دې اعتبار سره دی چې هغه هديې دي وَذٰلِكَ يَتَحَقَّقُ بِتَبْلِيْغِهَا إِلَى الْحَرَمِ او هدی کېدل هغه وخت متحقق کېږي چې حرم ته هدی ورسول سي فَإِذَا وُجِدَ ذٰلِكَ بيا چې کله هدی کېدل پيدا سي جَازَ ذَبْحُهَا فِي غَيْرِ يَوْمِ النَّحْرِ نو له يومُ النحر څخه په علاوه کې به د هغې ذبحه کول جائز وي وَفِي أَيَّامِ النَّحْرِ أَفْضَلُ خو په ايامُ النحر کې (يې ذبحه کول) افضل دي لِأَنَّ مَعْنَى الْقُرْبَةِ فِي إِرَاقَةِ الدَّمِ فِيْهَا أَظْهَرُ ځکه چې په وينه بيولو کې د عبادتوالي معنیٰ په دې ورځو کې زياته ښکاره ده أَمَّا دَمُ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ فَلِقَوْلِهِ تَعَالٰى هر چې د تمتع او قِران هدي دي نو (هغه به ځکه په يومُ النحر کې ذبحه کېږي) چې الله تعالیٰ فرمايلي دي فَكُلُوْا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيْرَ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ [الحج: ٢٨، ٢٩] "نو له دې قربانۍ څخه يې تاسو (هم) وخورئ او غم ځپلي فقير ته يې (هم) ورکړئ بيا خپلي خيري ليري کړئ" وَقَضَاءُ التَّفَثِ يَخْتَصُّ بِيَوْمِ النَّحْرِ او د خيرو ليري کول د يومُ النحر سره خاص دي وَلِأَنَّهُ دَمُ نُسُكٍ او په دې وجه هم چې د تمتع او قِران هدي د عبادت دم دی (يعني د حج عبادت دی، او عبادت د يومُ النحر سره خاص وي) فَيَخْتَصُّ بِيَوْمِ النَّحْرِ كَالْأُضْحِيَّةِ نو (دا به هم) د يومُ النحر سره خاص وي لکه قرباني (چې عبادت ده او د يومُ النحر سره خاص ده، او که تر يومُ النحر مخکې وسي، نو عبادت به نه وي، لهذا هدی به همداسي وي).

اللغات: ﴿متعة﴾ تمتع، ﴿تبليغ﴾ د تفعيل مصدر دی: رسول، ﴿بائس﴾ محتاج، غمجن، غم ځپلی، ﴿تفث﴾ خيري، چټلي.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د تمتع او قِران هدی د مکان يعني د حرم او د زمان يعني د يومُ النحر دواړو سره خاص ده، لهذا دم تمتع او دم قِران به نه له حرم څخه دباندې ذبحه کول صحيح وي، او نه تر يومُ النحر مخکې، د دې په خلاف نفلي هدی ده، ځکه چې هغه د مکان يعني د حرم سره خاص ده، لېکن د زمان يعني د ايامُ النحر سره خاص نه ده، او تر يومُ النحر مخکې هم نفلي هدی ذبحه کېدای سي، خو په دې کې هم افضل او غوره دا ده چې په يومُ النحر کې ذبحه سي (لکه څرنګه چې په مبسوط کې هم ذکر سوي دي).

لأن القربة الخ د دې وجه (چې نفلي هدی تر يومُ النحر مخکې هم ذبحه کېدای سي) دا ده چې نفلي هدی کله حرم ته ورسول سي، نو فقط هلته په رسولو سره هغه هدی ګرځي، لهذا کله چې حرم ته په رسولو سره هدی ګرځي، نو اوس به د يومُ النحر وجود ضروري نه وي (چې خاص به نفلي هدی په يومُ النحر کې ذبحه کېږي، ځکه چې هغه په رسېدلو سره هدی جوړه سوه، نو د يومُ النحر انتظار به ضروري نه وي).

قوله: وجاز الخ كله چي نفلي هدى حرم ته ورسول سي، نو هغه هدى سوه، لهذا تر يومُ النحر مخكي به يې هم ذبحه كول جائز وي، خو په يومُ النحر كي به يې ذبحه كول زيات افضله وي، د هغه وجه دا ده چي قرباني عبادت ده او د قربانۍ شاروي هم په أيام النحر كي ذبحه كيږي، او نفلي هدى هم عبادت ده، نو كه نفلي هدى هم په دې ورځو كي ذبحه سي، نو د عبادت معنىٰ به يې زياته ښكاره وي.

﴿د كومو شارويو غوښي په خپله خوړل جائز دي او د كومو د جائز نه دي﴾

دلته موږ له اثمارُ الهدايې څخه دري نقشې را نقل كوو چي د باب ځيني مسئلې په لنډه توكه پكښي بيان سوي دي

غوښي يې په خپله خوړل جائز دي	غوښي يې په خپله خوړل جائز نه دي
دمِ تمتع	د جناياتو دم
دمِ قران	د كفاراتو دم
نفلي هدى	د ښكار بدله (جزاء)
د قربانۍ غوښي	د مرض په وجه چي هدى په لاره كي ذبحه سي
〃	د احصار دم
〃	د نذر دم

﴿كوم شاروي په حرم كي ذبحه كول ضروري دي، او كوم ضروري نه دي﴾

په حرم كي يې ذبحه كول ضروري دي	په حرم كي يې ذبحه كول ضروري نه دي
دمِ تمتع	چي هدى ناروغه سي نو هر ځاى يې ذبحه كولاى سي
دمِ قران	〃
نفلي هدى	〃
دم احصار	〃
د ښكار جزاء	〃

﴿كوم شاروي په يومُ النحر كي ذبحه كول ضروري دي، او كوم نه دي﴾

په يومُ النحر كي ذبحه كول ضروري دي	په يومُ النحر كي ذبحه كول ضروري نه دي
دمِ تمتع	د كفاراتو دم
دمِ قران	د نذر دم
افضل دا ده چي نفلي هدى هم په يومُ النحر كي ذبحه كړي	دمِ احصار
〃	د ښكار جزاء
〃	د جناياتو دم

د کفاراتو د هديو د ذبحه کولو بيان

وَيَجُوزُ ذَبْحُ بَقِيَّةِ الْهَدَايَا فِي أَيِّ وَقْتٍ شَاءَ او د پاتې هديو ذبحه کول چي کله هم وغواړي جائز دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجُوزُ إِلَّا فِي يَوْمِ النَّحْرِ او امام شافعي فرمايي: چي له يومُ النحر څخه علاوه (په بله ورځ) جائز نه دي اِعْتِبَارًا بِدَمِ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ پر دمِ تمتع او دمِ قران باندي په قياسولو سره فَإِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ دَمُ جَبْرٍ عِنْدَهُ ځکه چي د امام شافعي په نېز (په دې دواړو کي) هر يو دمِ جبر (يعني د نقصان د تلافۍ دم) دی وَلَنَا أَنَّ هٰذِهِ دِمَاءُ كَفَّارَاتٍ او زموږ دليل دا دی چي دا د کفاراتو دمونه دي فَلَا تَخْتَصُّ بِيَوْمِ النَّحْرِ نو د يومُ النحر سره به خاص نه وي لِأَنَّهَا لَمَّا وَجَبَتْ لِجَبْرِ النُّقْصَانِ ځکه کله چي دا قربانۍ د نقصان د تلافۍ (او تدارک) لپاره واجب سوې كَانَ التَّعْجِيلُ بِهَا أَوْلَى نو په دې کي به تلوار کول غوره وي لِارْتِفَاعِ النُّقْصَانِ بِهِ مِنْ غَيْرِ تَأْخِيرٍ چي بې له ځنډه په دې سره نقصان پورته سي (يعني چي ژر تر ژره نقصان په پوره کړی سي) بِخِلَافِ دَمِ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ په خلاف د دمِ تمتع او دمِ قران لِأَنَّهُ دَمُ نُسُكٍ ځکه چي هغه د عبادت دم دی (نو ځکه به په يومُ النحر کي افضله وي).

اللغات: ﴿جبر﴾ تلافي، جبران، عوض، تدارک، پوره کول. ﴿تعجيل﴾ د تفعيل مصدر دی: تلوار او تېزي کول، يو کار ژر تر سره کول، چابکي.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

په حرم کي د هدي د ذبحه کولو شرط

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ ذَبْحُ الْهَدَايَا إِلَّا فِي الْحَرَمِ فرمايي: چي د هديو ذبحه کول جائز نه دي مګر په حرم کي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ فِي جَزَاءِ الصَّيْدِ: هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ [المائدة: ٩٥] ځکه د ښکار (د وژلو) په جزاء کي الله تعالیٰ فرمايلي دي: "چي هغه هدی به تر کعبې پوري رسېدونکې وي" (يعني کعبې ته به رسول کيږي) فَصَارَ أَصْلًا فِي كُلِّ دَمٍ هُوَ كَفَّارَةٌ نو په هره هغه قربانۍ کي دا آيت اصل سو چي هغه کفاره وي (يعني چي هغه د کفارې لپاره وي) وَلِأَنَّ الْهَدْيَ اسْمٌ لِمَا يُهْدَىٰ إِلَىٰ مَكَانٍ او ځکه چي هدی د داسي شي نوم دی چي يو ځای ته هديه کړی سي (يعني واستول سي) وَمَكَانُهُ الْحَرَمُ او د هدي ځای حرم دی قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[●]: مِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ نبي ﷺ فرمايلي دي: "چي منیٰ ټوله د قربانۍ ځای دی وَفِجَاجُ مَكَّةَ كُلُّهَا مَنْحَرٌ او د مکې لاري ټوله د قربانۍ ځايونه دي" وَيَجُوزُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا عَلَىٰ مَسَاكِينِ الْحَرَمِ وَغَيْرِهِمْ او جائز دي چي د هديو غوښي د حرم او غيرِ حرم پر مسکينانو صدقه کړي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ الصَّدَقَةَ قُرْبَةٌ مَعْقُولَةٌ ځکه چي صدقه په فهم کي راتلونکې عبادت دی وَالصَّدَقَةُ عَلَىٰ كُلِّ فَقِيرٍ قُرْبَةٌ نو پر هر فقير به (غوښي) صدقه کول عبادت وي.

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب المناسك، باب الذبح، حديث رقم: ٣٠٤٨، و ابو داؤد في كتاب المناسك، باب الصلاة بجمع، حديث رقم: ١٩٣٧.

اللغات: ﴿منحر﴾ اسم ظرف دی، د ذبحه کولو او حلالولو ځای. ﴿فجاج﴾ جمع د فج ده، لاره، شپله. ﴿قربة﴾ نيکي، عبادت.

تشريح: مسئله: دا ده که هدی نفلي وي او که غير نفلي وي مثلاً د تمتع يا د قران يا د احصار او د داسي نورو وي. د هغو ټولو د ذبحه کولو ځای د احنافو په نيز فقط حرم دی، له حرم څخه علاوه په بل ځای يعني په حل کي يې ذبحه کول جائز نه دي، دليل دا دی چي د ښکار د جزاء په باره کي الله تعالیٰ فرمايلي دي: هديا بالغ الکعبة. په دې آيت کي له کعبه څخه خاص کعبه مراد نه ده، بلکي حرم مراد دی، نو دا قول به په هر داسي دم کي اصل وي کوم چي د کفارې په توګه واجب وي، يعني کوم دم چي هم د کفارې په توګه واجب سي او د نقصان د پوره کولو نپاره وي. هغه به حرم ته رسول ضروري وي، او د دم احصار په باره کي الله تعالیٰ فرمايلي دي: ولا تحلقوا رؤسکم حتی يبلغ الهدی محله. او د مطلق هدي په باره کي يې فرمايلي دي: ثم محلها إلى البيت العتيق. له دې ټولو آيتونو څخه معلوميږي چي د هديو د ذبحه کولو ځای حرم دی.

ولأن الهدی إسم الخ عقلي دليل دا دی چي هدی هغه شي ته ويل کيږي چي يو ځای ته واستول سي. او د هدي د استولو ځای حرم دی، نو ځکه به له حرم څخه بغير هدی نه ذبحه کيږي، همدارنګه نبي ﷺ په خپل دې فرمان منی کلها منحر وفجاج مکة کلها منحر سره د منیٰ او د مکې ټوله ځايونه د ذبحي لپاره ګرځولي دي، او دا دواړه په حرم کي داخل دي. نو له دې څخه هم معلومه سوه چي منحر او مذبح به صرف حرم او د هغه ځايونه وي.

ويجوز أن يتصدق الخ زموږ په نيز د هدي غوښې د حرم او غير حرم دواړو پر فقيرانو او مسکيناتو صدقه کول جائز دي. امام شافعي فرمايي چي فقط د حرم پر فقيرانو او مسکيناتو صدقه کول جائز دي، د امام شافعي دليل قياس دی يعني صدقه پر ذبحه قياسوي، يعني څرنګه چي د هدي ذبحه کول د حرم سره خاص دي، همداسي به د هدي غوښې صدقه کول هم د حرم د مسکيناتو سره خاص وي، ليکن زموږ له طرفه جواب دا دی چي دا قياس غلط دی، ځکه چي ذبحه کول عبادت غير معقوله دی، او صدقه کول عبادت معقوله دی، نو يو به پر بل نه قياسيږي، لهذا څرنګه چي د حرم پر مسکيناتو صدقه کول عبادت معقوله دی، همداسي به د غير حرم پر فقيرانو صدقه کول عبادت معقوله وي.

د هديو د "تعريف" حکم

قَالَ: وَلَا يَجِبُ التَّعْرِيفُ بِالْهَدَايَا فرمايي: او واجب نه دي عرفات ته بيول د هديو لِأَنَّ الْهَدْيَ يُنْبِئُ عَنِ النَّقْلِ إِلَى مَكَانٍ ځکه چي لفظ د هدي (فقط) يو ځای ته د منتقل کولو خبر ورکوي (يعني د هدي ترجمه دا ده: يو ځای ته هدی منتقل کول) لِيُتَقَرَّبَ بِإِرَاقَةِ دَمِهِ فِيهِ چي په هغه ځای کي د وينو په بيولو سره قربت حاصل کړی سي لَا عَنِ التَّعْرِيفِ عرفات ته د بيولو خبر نه ورکوي (يعني د هدي ترجمه "عرفات ته بيول" نه دي) فَلَا يَجِبُ نو ځکه به تعريف (عرفات ته بيول) واجب نه وي فَإِنْ عَرَّفَ بِهَدْيِ الْمُتْعَةِ او که محرم د تمتع د هدي تعريف وکړي (يعني عرفات ته يې بوزي) فَحَسَنٌ نو دا ښه دي لِأَنَّهُ يَتَوَقَّتُ بِيَوْمِ النَّحْرِ ځکه چي د تمتع د هدي ذبحه کول د يومُ النحر سره خاص دي فَعَسَى أَنْ لَا يَجِدَ مَنْ يُمْسِكُهُ نو ممکنه ده چي داسي سړی ورته پيدا نه سي چي هدی ونيسي (يعني ورېږ ساتي) فَيَحْتَاجُ إِلَى أَنْ يُعَرَّفَ بِهِ نو محتاج به

سي و دې ته چې عرفات ته يې بوزي وَلِأَنَّهُ دَمُ نُسُكٍ او ځکه چې د تمتع هدی (غو) د عبادت دم دی فَيَكُونُ مَبْنَاهُ عَلَى التَّشْهِيرِ نو د هغه مدار به پر شهرت وي بِخِلَافِ دِمَاءِ الْكَفَّارَاتِ په خلاف د کفاراتو د دمونو لِأَنَّهُ يَجُوزُ ذَبْحُهَا قَبْلَ يَوْمِ النَّحْرِ ځکه چې د هغو ذبحه کول تر يومُ النحر مخکې جائز دي عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه مخکې چې موږ ذکر کړه وَسَبَبُهَا الْجِنَايَةُ فَيَلِيقُ بِهَا السَّتْرُ او د هغو سبب جنايت دی لهذا د هغو سره به پټوالی مناسب وي.

اللغات: ﴿تعريف﴾ د تفعيل مصدر دی: عرفات ته بېول، پر هدي نښه لګول. ﴿يتقرب﴾ د تفعّل مضارع مجهوله ده: نېکي کول، عبادت کول. ﴿يمسك﴾ د افعال مضارع ده: نيول. ﴿ستر﴾ پټ ساتل (پټوالی).

تشريح: د عبارت تر حل مخکې د "تعريف" په معنیٰ پوه سئ، شارحينو د دې دوې معناوې بيان کړي دي: ① د هدي ځاروی عرفات ته بېول. ② د هدي ځاروي ته طوق اچول يا د شعار نښه پر جوړول؛ په عبارت کې د بيان سوي مسئلې حاصل دا دی چې د هدي د ځارويانو تعريف واجب او ضروري نه دی، ځکه د هدي مفهوم دا دی چې د هدي ځاروی حرم ته راوستل سي او په حرم کې يې په ذبحه کولو سره تقرّب حاصل کړی سي، نو ځکه به د هدي په ځاروي کې تعريف ضروري نه وي.

فإن عرف الخ فرمايي چې تعريف خو واجب او ضروري نه دی، لېکن که بيا هم يو سړی د تمتع په هدی کې تعريف وکړی، نو دا غوره او ښه کار دی، ځکه چې د تمتع هدی د يومُ النحر سره خاص ده، او کېدای سي چې د حاجي او محرم لپاره داسي سړی پيدا نه سي چې د هدي دا ځاروی تر يومُ النحر پوري وساتي، نو ځکه به حاجي ته تعريف يعني د خپل ځان سره عرفات ته د هدي بېول ضروري وي.

ولأنه دم نسك الخ نفلي هدی، د تمتع هدی او د قران هدی د عبادت هديي دي، نو ځکه د هغو تشهير (مشهوره کول) غوره دي، لهذا د حاجي لپاره غوره دا ده چې هدی د ځان سره عرفات ته بوزي (يا طوق ور واچوي)، چې خلکو ته معلومه سي چې د هغه سره هدی ده، او له دې څخه عبرت حاصل کړي، او د هدي په ليدلو سره هغوی هم د خير کار ته آماده سي.

بخلاف دماء الكفارات الخ د دې په خلاف د کفاراتو هديي د جرم هديي دي، نو ځکه به د هغو پټول زيات غوره وي، او عرفات ته به يې نه بيايي، دويمه خبره دا ده چې دا هديي تر يومُ النحر مخکې ذبحه کېدای سي، يعنې ذبحه کول يې جائز دي، لهذا نو دا به عرفات ته څرنګه بيايي!

په نحر او ذبح کې د افضليت بيان

قَالَ: وَالْأَفْضَلُ فِي الْبُدْنِ النَّحْرُ فرمايي: په اوښ کې نحر افضل دی وَفِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ او په غوا او بزه کې ذبحه افضله ده لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ [الكوثر: ٢] ځکه الله تعالىٰ فرمايلي دي چې: "لمونځ وکړه د خپل ربّ لپاره او نحر وکړه" قِيلَ فِي تَأْوِيلِهِ: الْجَزُورُ د "وَانْحَرْ" په تأويل کې ويل سوي دي: چې اوښ دی (يعني اوښ نحر کړه) وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى: أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً [البقرة: ٦٧] او الله تعالىٰ فرمايلي دي: "چې تاسو غوا ذبحه کړئ" وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ

عَظِيْمٍ [الصافات: ١٠٧] او (بل ځای) الله تعالیٰ فرمايلي دي: "او موږ حضرت ابراهيم ﷺ ته د ذبحي لپاره عظيم شاروی [يعني د جنت شاروی] په فديه کي ورکړی: وَالذِّبْحُ مَا أُعِدَّ لِلذَّبْحِ او ذبح (يعني د ذال په کسره سره) هغه شاروی ته ويل کيږي چي د ذبحي لپاره تيار سوی وي وَقَدْ صَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● نَحَرَ الْإِبِلَ وَذَبَحَ الْبَقَرَ وَالْغَنَمَ او په صحيح حديث کي (راغلي) دي چي نبي ﷺ اوښ نحر کړی او غوا و بزه يې ذبحه کړل ثُمَّ إِنْ شَاءَ نَحَرَ الْإِبِلَ فِي الْهَدَايَا قِيَامًا أَوْ أَضْجَعَهَا بيا که يې خوښه وي نو د هديو اوښ دي د ولاړي په حالت کي نحر کړي يا دي يې کښېنوي وَأَيَّ ذٰلِكَ فَعَلَ فَهُوَ حَسَنٌ او کومه طريقه چي هم اختياره کړي هغه ښه ده وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَنْحَرَهَا قِيَامًا خو افضل دا ده چي د ولاړي په حالت کي يې نحر کړي. لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● نَحَرَ الْهَدَايَا قِيَامًا ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ هديې د ولاړي په حالت کي نحر کړي وَأَصْحَابُهُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُمْ كَانُوْا يَنْحَرُوْنَهَا قِيَامًا او صحابه وو به (هم) هدي په ولاړي نحر کولې مَعْقُوْلَةَ الْيَدِ الْيُسْرَىٰ په داسي حال کي چي د اوښانو د مخ چپه پښې به تړل سوي وې وَلَا يَذْبَحُ الْبَقَرَ وَالْغَنَمَ قِيَامًا او غوا او بزه به په ولاړي نه ذبحه کوي لِأَنَّ فِي حَالَةِ الْإِضْطِجَاعِ الْمَذْبَحُ أَبْيَنُ ځکه چي د پروتي په حالت کي د ذبحه کولو ځای زيات ښکاره وي (يعني په غاړه کي چي کوم د حلالولو ځای دی هغه د دې حيوانان د پرې ايستلو په وخت کي ښه معلوميږي) فَيَكُوْنُ الذَّبْحُ أَيْسَرَ نو (په داسي وخت کي) به ذبحه کول ډېر آسانه وي وَالذَّبْحُ هُوَ السُّنَّةُ فِيْهِمَا او په غوا او بزه کي (فقط) ذبحه سنت ده.

اللغات: ﴿نحر﴾ دې ته ويل کيږي چي د اوښ د مخ چپه پښه د ورانه سره وتړل سي، او د ولاړي په حالت کي يې د غاړي د خوراک په رګ کي چاړه ووهل سي، ﴿غنم﴾ بزه، پسه، ﴿جزور﴾ اوښ، ﴿معقول﴾ د نصر او ضرب اسم مفعول دی: تړل سوی، ﴿أبين﴾ د ضرب سم تفضيل دی: زيات ښکاره، ﴿إضطجاع﴾ د افتعال مصدر دی: پرېوتل.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

په خپله د هدي د ذبحه کولو د افضليت بيان

قَالَ: وَالْأَوْلَىٰ أَنْ يَتَوَلَّىٰ ذَبْحَهَا بِنَفْسِهِ فرمايي: غوره دا ده چي حاجي په خپله د هديو د ذبحي متولي سي (يعني په خپله هدي او قرباني ذبحه کړي) إِذَا كَانَ يُحْسِنُ ذٰلِكَ په دې شرط چي په ښه ډول ذبحه کولای سي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● سَاقَ مِائَةَ بُدْنَةٍ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ په حجة الوداع کي سل (١٠٠) بُدني (د

● تخريج: أخرجه ابوداؤد فی کتاب الضحايا، باب ما يستحب من الضحايا، حديث رقم: ٢٧٩٢.

● تخريج: أخرجه البخاری فی کتاب الحج، باب التحميد والتسبيح والتکبير قبل الاهلال، حديث رقم: ١٥٥١.

● تخريج: أخرجه البخاری فی کتاب الحج، باب يتصدق بجلال البدن، حديث رقم: ١٧١٨.

هدي لپاره) بوتلې فَنَحَرَ نَيِّفًا وَسِتِّيْنَ بِنَفْسِهِ چي (له هغو څخه يې) شپږ د پاسه شپيته بُلنې په خپله نحر کړې وَوَلَّى الْبَاقِيَ عَلِيًّا او د نورو ذمه واري يې حضرت علي ﷺ ته وسپارل وَلِأَنَّهُ قُرْبَةٌ او څکه چي نحر کول يو عبادت دى وَالتَّوَلِّي فِي الْقُرُبَاتِ أَوْلَى او په عبادتونو کي په خپله متولي کېدل (يعني په خپله کول) زيات غوره دي لِمَا فِيْهِ مِنْ زِيَادَةِ الْخُشُوْعِ څکه چي په دې کي عاجزي زياته وي إِلَّا أَنَّ الْإِنْسَانَ قَدْ لَا يَهْتَدِي لِذٰلِكَ خو کله انسان د نبحه کولو صلاحيت (ورتيا) نه لري وَلَا يُحْسِنُهُ (يا يې) ښه نه سي کولای فَجَوَّزْنَا تَوْلِيَةَ غَيْرِهِ نو څکه موږ (په دې کار کي) د بل چا نائب جوړول جائز وګرځول (يعني د چا چي نبحه زده نه وي، يا يې په ښه توګه نه سي کولای، هغه ته موږ دا اجازه ورکړه چي بل څوک د ځان نائب جوړ کړي).

اللغات: ﴿يتولى﴾ د تفعّل مضارع ده: متولي کېدل، ﴿نيف﴾ د دريو او نهو په مينځ کي شمېره، ﴿ولى﴾ د تفعيل ماضي ده: ذمه واره جوړول، نائب جوړول، ﴿جوّزنا﴾ د تفعيل ماضي ده: جائز کرځول.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

د هدی د رسی او د څل(زَل) حکم

قَالَ: وَيَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهَا وَخِطَامِهَا فرمايي: او صدقه به کړي د هديو څلونه او د هديو رسی وَلَا يُعْطِيْ أَجْرَ الْجَزَّارِ مِنْهَا او د قصاب مزدوري به له هدي څخه نه ورکوي (يعني قصاب ته به په مزدوري کي د هدي څرمن يا غوښي نه ورکوي) لِقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[●] لِعَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: تَصَدَّقْ بِجِلَالِهَا وَبِخُطُمِهَا څکه چي نبي ﷺ حضرت علي ﷺ ته وفرمايل: "د هديو څلونه او رسی صدقه کړه وَلَا تُعْطِ أَجْرَ الْجَزَّارِ مِنْهَا او مه ورکوه د قصاب مزدوري له هغو څخه".

اللغات: ﴿جلال﴾ جمع د جل ده: څل، خورجين، ﴿خطام﴾ جمع د خطم: رسی (رسياني)، ﴿جزّار﴾ قصاب، څاروی حلالونکی.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دي.

پر هدي د سپرتيا حکم

وَمَنْ سَاقَ بُدْنَةً فَاضْطُرَّ إِلَى رُكُوْبِهَا او څوک چي هدی روانه کړي بيا د هغې و سپرېدلو ته مجبوره سي رَكِبَهَا نو پر سپور دي سي وَإِنِ اسْتَغْنَى عَنْ ذٰلِكَ او که له سپرتيا څخه يې بې پروا وي (يعني ضرورت نه ورته لري) لَمْ يَرْكَبْهَا نو نه دي پر سپرېږي لِأَنَّهُ جَعَلَهَا خَالِصَةً لِلّٰهِ تَعَالٰى څکه چي هغه بدنه خالص د الله تعالىٰ لپاره کرځولې ده فَمَا يَنْبَغِيْ أَنْ يَصْرِفَ شَيْئًا مِنْ عَيْنِهَا أَوْ مَنَافِعِهَا إِلَى نَفْسِهِ نو مناسب نه ده چي د هغې له ذات يا له ګټو څخه د خپل ځان لپاره څه مصرف کړي إِلَى أَنْ يَبْلُغَ مَحِلَّهُ تر دې چي هغه څاروی خپل ځای (او ټکانې) ته ورسيږي (او نبحه کړی سي) إِلَّا أَنْ يَحْتَاجَ إِلَى

● تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب المناسک، باب كيف تنحر البدن، حديث رقم: ١٧٦٠.

رُكُوبِهَا خو دا چي محرم د هدي و سپرېدلو ته مجبوره سي(نو بیا پر سپرېدای سي) لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بُدْنَةً ځکه روایت دی چي نبي ﷺ یو سړی ولیدی چي بدنه یې روانه کړې وه فَقَالَ: إِرْكَبْهَا وَيْلَكَ نو ورېې فرمایل: "چي سپور سه پر دې هلاک سې!(دا جمله یعني "هلاک سې"نبي ﷺ هغه ته د زړه سواندی په توګه وویله، لکه موږ چي هم په پښتو کي کله نا کله د زړه سواندي او ترحّم په توګه داسي جملې کاروو، مثلاً: خوار سې!) وَتَأْوِيلُهُ أَنَّهُ كَانَ عَاجِزًا مُحْتَاجًا او د دې حدیث تأویل دا دی چي دا سړی (له تګ څخه) عاجزه او (سپرتیا ته) مجبوره وو(خو بیا هم نه پر سپرېدی، نو ځکه نبي ﷺ ورته وویل: چي پر سپور سه!).

اللغات: ﴿ساق﴾ د نصر ماضي ده: شړل، بېول، روانول. ﴿ویلك﴾ هلاک سې!، تا لره دي هلاکت وي!.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو محرم بُدنه (یعني هدی) روانه کړه، او په خپله په پښو روان سو، لېکن په لاره کي ستړی سو، او له تګ څخه عاجزه سو، نو اوس هغه ته جائز دي چي پر بدنه سپور سي، خو که هغه د پښو پر تګ یا پر بل سپرلي قدرت درلودی، نو هغه ته بالکل مناسب نه ده چي پر دغه بدنه سپور سي، ځکه هغه بدنه او هدی فقط د لوی څښتن ﷻ لپاره خاص کړې ده. لهذا په هیڅ ډول به د هغه لپاره له دې بدنې څخه نفع حاصلول صحیح نه وي، هو! که محرم سپرتیا ته محتاجه وو، او له دې بدنې څخه ماسوا بل سپرلی هم نه وو، نو په دې صورت کي د هغه لپاره پر بدنه سپرېدل جائز دي، ځکه کله چي نبي ﷺ یو کمزوری او بې وسه سړی په پښو روان ولیدی، نو هغه یې ملامت کړی، او پر بدنه یې د سپرتیا حکم ورته وکړی.

د سپرتیا په وجه په هدي کي د څه عیب پیدا کېدلو او د هدي د لوښلو حکم

وَلَوْ رَكِبَهَا او که محرم پر هدي سپور سي فَانْتَقَصَ بِرُكُوبِهِ او د هغه د سپرتیا په وجه (په هدي کي) نقصان پیدا سي فَعَلَيْهِ ضَمَانُ مَا نَقَصَ مِنْ ذَلِكَ نو کوم نقصان چي راغلی د هغه ضمان پر محرم واجب دی وَإِنْ كَانَ لَهَا لَبَنٌ لَمْ يَحْلُبْهَا او که هدی شید داره وي نو هغه دي نه لوښي لِأَنَّ اللَّبَنَ مُتَوَلِّدٌ مِنْهَا ځکه چي شیدې (هم) له هغې څخه پیدا سوي دي فَلَا يَصْرِفُهُ إِلَى حَاجَةِ نَفْسِهِ نو په خپل ذاتي حاجت کي به یې نه مصرفوي وَيَنْضِحُ ضَرْعَهَا بِالْمَاءِ الْبَارِدِ حَتَّى يَنْقَطِعَ اللَّبَنُ او د هدی پر غولانځي به یخې اوبه پاشي چي شیدې راتلل (یې) بند سي وَلَكِنْ هَذَا إِذَا كَانَ قَرِيبًا مِنْ وَقْتِ الذَّبْحِ لېکن دا (حکم) په هغه وخت کي(دی) چي کله یې د ذبحي وخت رانژدې وي فَإِنْ كَانَ بَعِيدًا مِنْهُ يَحْلُبُهَا او که د ذبحي وخت یې لیري وي نو ودې لوښي وَيَتَصَدَّقُ بِلَبَنِهَا كَيْ لَا يَضُرَّ ذَلِكَ بِهَا او شیدې دي یې (پر مسکینانو) صدقه کړي د دې لپاره چي شیدې هدي ته ضرر نه ورسوي وَإِنْ صَرَفَهُ إِلَى حَاجَةِ نَفْسِهِ او که محرم شیدې په خپل ذاتي حاجت کي مصرف کړي تَصَدَّقَ بِمِثْلِهِ أَوْ بِقِيمَتِهِ نو د هغو مثل یا د هغو قیمت دي صدقه کړي لِأَنَّهُ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ ځکه چي د دې شیدو ضمان پر هغه لازم دی(یعني که یو څوک د هدي شیدې ضایع کړي نو د هغه ضمان پر واجبیږي).

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الحج، باب ركوب البدن، حديث رقم: ١٦٨٩.

اللغات: ﴿انتقص﴾ د افتعال ماضي ده: کمېدل، نُقص پيدا کېدل. ﴿لم يحلب﴾ له نصر او ضرب دواړو بابونو څخه راځي: لوېشل. ﴿ينضح﴾ د ضرب مضارع ده: پاشل، شخول. ﴿الضرع﴾ غولانځه. ﴿البارد﴾ يخ.

تشريح: مسئله: دا ده که د ضرورت او د عاجزۍ په وجه محرم پر بُدنه (هدی) سپور سو، او د سپرتيا په وجه په بُدنه کي څه نقصان پيدا سو، نو څومره نقصان چي پيدا سوی وي، پر دې سړي هغومره ضمان واجب دی، ځکه چي هغه صحيح او سالمه بدنه د الله لپاره خاص کړې ده، نو کوم نقصان چي په هغې کي پيدا سوی دي، د هغه تلافي او تدارک به پر هغه لازم وي.

وإن كان لها لبن الخ او که د هدي څاروی ماده يعني ښځينه وي، او شيدې يې ايله وي، نو په دې باره کي دوه صورتونه دي: (١) که شيدې د څاروي لپاره نقصاني نه وي، نو محرم ته پکار ده چي هغه دي نه لوېشي، او نه دي يې په خپل ضرورت کي مصرفوي، بلکي پر غولانځه دي يې يخې اوبه پاشي چي شيدې يې بندي سي (ځکه په دې ډول د هغې شيدې بنديږي). (٢) او که شيدې يې په زياته اندازه رواني وي، او د هغو نه را لوېشل د څاروي لپاره نقصاني وي، يا يې د ذبحې وخت ليري وي، نو هغه دي ولوېشي او شيدې دي يې پر فقيرانو او مسکينانو تقسيم کړي، او په خپله دي يې نه استعمالوي، خو که يې استعمال کړي، نو هغومره نوري شيدې به صدقه کوي، ځکه چي شيدې مِثلي شی دی، يعني مِثل لري، او په مثلي شي کي به اول په مثل سره ضمان ورکول کيږي، او که مثل يې نه وو، نو د هغه په اندازه قيمت به په ضمان کي ورکول کيږي.

د هدي د مرګ بيان

وَمَنْ سَاقَ هَدْيًا فَعَطِبَ او څوک چي هدی روانه کړي بيا هغه هلاکه سي فَإِنْ كَانَ تَطَوُّعًا فَلَيْسَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ نو که هغه هدی نفلي وي نو پر هغه (د دې په بدله کي) بله هدی واجب نه ده لِأَنَّ الْقُرْبَةَ تَعَلَّقَتْ بِهٰذَا الْمَحَلِّ ځکه چي قربت د دغه محل (يعني د دغه هدي) سره متعلق وو وَقَدْ فَاتَ او محل فوت سو وَإِنْ كَانَ عَنْ وَاجِبٍ فَعَلَيْهِ أَنْ يُقِيْمَ غَيْرَهُ مَقَامَهُ او که واجب هدی وي نو پر هغه لازم ده چي بله هدی د دغه هدي پر ځای ودروي لِأَنَّ الْوَاجِبَ بَاقٍ فِيْ ذِمَّتِهِ ځکه چي واجب (تر اوسه لا) د هغه پر ذمه پاته دی وَإِنْ أَصَابَهُ عَيْبٌ كَبِيْرٌ يُقَامُ غَيْرُهُ مَقَامَهُ او که هدي ته زيات عيب ورسيږي نو (هم) به د هغه پر ځای بله هدی درول کيږي لِأَنَّ الْمَعِيْبَ بِمِثْلِهِ لَا يَتَأَدّٰى بِهِ الْوَاجِبُ ځکه چي په دې ډول عيبداره (هدي) سره واجب نه اداء کيږي فَلَا بُدَّ مِنْ غَيْرِهِ نو بله هدی به ضروري وي وَصَنَعَ بِالْمَعِيْبِ مَا شَاءَ او په عيبداره (هدي) چي څه وغواړي هغه دي په وکړي لِأَنَّهُ الْتَحَقَ بِسَائِرِ أَمْلَاكِهِ ځکه چي دا عيبداره هدی (اوس) د هغه د نورو ملکيتونو سره يو ځای سوه.

اللغات: ﴿عطب﴾ هلاکېدل، تلفېدل. ﴿معيب﴾ اسم مفعول دی په اصل کي معيوب وو: عيبدار، عيبجن.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي هدی روانه کړه، لېکن هدی هلاکه سوه (د ډيري ستړيا په وجه يا د مرض په وجه يا په بله وجه)، نو اوس که هغه هدی نفلي وه، نو پر دې سړي به بله هدی نه واجبيږي، ځکه چي (په نفلي هدی کي) طاعت او قربت د همدغه هدي سره متعلق دی، نو کله چي هغه هلاکه سوه، نو متعلق شی هم فوت سو، نو ځکه به اوس بله هدی نه

واجبيږي، او كه هغه هدى واجب وه، نو د هغه پر ځاى به پر دې سربې بله هدى واجبيږي، ځكه چې واجب د ده پر ذمه پاته دى، نو تر څو چې هدى په خپل ځاى كې ذبح نه كړى سي، تر هغه وخته به واجب نه اداء كيږي.

وإن أصابه الخ او كه د هدي په ځارويي كې زيات عيب او نقصان پيدا سو (مثلاً د غوږ زياتره حصه يې پرېكړى سوه). نو هم به د هغه پرځاى بله هدى دروول كيږي (يعني بله هدى به روانيږي). ځكه چې د دېر عيب په وجه واجب نه اداء كيږي، نو ځكه به د دويمې هدي روانول ضروري وي، او په عيبداره هدي سره چې څه وغواړي هغه دې وكړي. ځكه چې هغه اوس د ده مملوك سوه (يعني د ده سوه)، او انسان ته په خپل مملوك كې د هر ډول تصرف اختيار سته.

په لاره كې د هدي د مرګ بيان

وَإِذَا عَطِبَتِ الْبُدْنَةُ فِي الطَّرِيقِ او كله چې بدنه په لاره كې هلاكه سي (يعني ملاكت ته نږدې سي) فَإِنْ كَانَ تَطَوُّعًا نَحَرَهَا نو كه نفلي هدى وي هغه دې نحر كړي وَصَبَغَ نَعْلَهَا بِدَمِهَا او بښونكري دې يې د هغې په وينو ورنګ كړي وَضَرَبَ بِهَا صَفْحَةَ سَنَامِهَا او د هغې پر بوک دې د هغې په وينو سره مُهر (ټاپه) ولګوي (يعني بوک دې يې په خپلو وينو ود ولړي) وَلَا يَأْكُلُ هُوَ وَلَا غَيْرُهُ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ او (له دې څخه به) نه په خپله خوراک كوي او نه به نور شتمن خلک خوراک كوي بِذَلِكَ أَمَرَ● رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاجِيَةَ الْأَسْلَمِيَّ ناجيه اسلمي ﷺ ته نبي ﷺ هم د دغه حكم كړى وو وَالْمُرَادُ بِالنَّعْلِ قِلَادَتُهَا او له نعل څخه مراد د بدنې طوق دى (چې دا طوق هم په عامه توګه د بښونكري يا نعل يوه ټوكره وي) وَفَائِدَةُ ذَلِكَ أَنْ يَعْلَمَ النَّاسُ أَنَّهُ هَدْيٌ او د نعل رنګولو فايده دا ده چې خلک پوه سي چې دا هدى ده فَيَأْكُلُ مِنْهُ الْفُقَرَاءُ دُونَ الْأَغْنِيَاءِ نو له دې څخه به فقيران خوراک كوي نه شتمن خلک وَهَذَا لِأَنَّ الْإِذْنَ بِتَنَاوُلِهِ مُعَلَّقٌ بِشَرْطِ بُلُوغِهِ مَحِلَّهُ او دا ځكه چې د هدي د خوړلو اجازه پر دې شرط مُعلقه ده چې هدى به خپل محل ته رسيږي (يعني هدى چې د چا وي، هغه ته په دې شرط د هدي خوړل جائز دي چې هدى حرم ته ورسيږي او هلته نبحه سي) فَيَنْبَغِي أَنْ لَا يَحِلَّ قَبْلَ ذَلِكَ أَصْلًا نو مناسب دا ده چې تر دې مخكې دي بالكل (هيڅ ته هم) حلال نه سي إِلَّا أَنَّ التَّصَدُّقَ عَلَى الْفُقَرَاءِ أَفْضَلُ مِنْ خو پر فقيرانو صدقه كول له دې څخه افضله دې أَنْ يَتْرُكَهُ جَزَرًا لِلسِّبَاعِ چې د درندګانو لپاره يې خوراک پرېږدي وَفِيهِ نَوْعُ تَقَرُّبٍ او (پر فقيرانو) په صدقه كولو كې يو ډول تقرّب هم سته (يعني يو ډول ثواب هم سته) وَالتَّقَرُّبُ هُوَ الْمَقْصُودُ او همدا تقرب مقصود دى فَإِنْ كَانَتْ وَاجِبَةً أَقَامَ غَيْرَهَا مَقَامَهَا او كه واجبه بدنه وي (يعني كه بدنه واجب هدى وي) نو د دې پر ځاى دې بله بدنه ودروي وَصَنَعَ بِهَا مَا شَاءَ او په دې چې څه وغواړي هغه دې وكړي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ صَالِحًا لِمَا عَيَّنَهُ ځكه چې دا (اوس) د هغه شي لايق پاته نه سوه چې د هغه لپاره يې متعينه كړې وه وَهُوَ مِلْكُهُ كَسَائِرِ أَمْلَاكِهِ او دا (اوس) د هغه ملكيت ده لكه د هغه نور ملكيتونه.

● تخريج: أخرجه أبوداؤد في كتاب المناسک، باب الهدى إذا عطب قبل أن يبلغ، حديث رقم: ١٧٦٣.

اللغات: ﴿صبغ﴾ رنګ ورکول، ﴿نعل﴾ نال، بنونګري، ﴿صفحة﴾ يو طرف، ﴿سنام﴾ بوک، ﴿جزر﴾ خوراک، غذا، ﴿سباع﴾ درندګان.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د هدي بلنه په لاره کي (د ډيري ستړيا په وجه يا په بله وجه) هلاکېدلو ته نژدې سوه، نو اوس دوه صورتونه دي: دا بلنه به نفلي هدی وي، يا به واجب هدی وي، که نفلي وه، نو نحر به يې کړي، او په وينو سره به يې نعل (نال) او بوک ور رنګ کړي، او په خپله به يې غوښې نه خوري، او نه به يې نورو شتمنو خلکو ته ورکوي، ځکه چي رسول الله ﷺ ناجيه اسلمي ﷺ ته هم د دې حکم کړی وو، او له نعل ځنځه مراد د هدي طوق دی، او په وينو سره د رنګولو فايده دا ده چي خلک خبر سي چي دا ځاروی د هدي دی، د دې لپاره چي فقيران او محتاجه خلک يې وخوري، او شتمن خلک يې نه وخوري.

وهٰذا الخ فرمايي چي دا حکم ځکه دی چي د هغې د غوښو د خوړلو جواز معلّق دی په دې شرط سره چي دا هدی به خپل محل يعني حرم ته رسول کيږي، او هلته به ذبحه کيږي، ليکن دلته هغه له حرم ځنځه مخکي ذبحه کړی سوه، نو مناسب خو دا وه چي د هيچا لپاره هم جائز نه سي، نه د فقيرانو لپاره او نه د شتمنو خلکو لپاره (ځکه چي شرط پيدا نه سو، نو مشروط به هم صحيح نه وي)، خو درندګانو ته د پرېښوولو په نسبت پر فقيرانو صدقه کول افضله دي، ځکه چي پر فقيرانو په صدقه کولو کي يو ډول تقرّب هم حاصليږي، نو د تقرب په وجه د فقيرانو لپاره دا هدی حلاله وګرځېدله، ځکه چي په دې باب کي تقرّب اصل مقصود دی، نو په کومه طريقه چي هم تقرّب حاصليږي، هغه به اختياريږي.

فإن كانت واجبة الخ او که هغه بلنه واجب هدی وه، نو د هغه پر ځای به بله هدی حرم ته روانه کړي، او په ذبحه سوي بلنې سره چي څه وغواړي هغه دي وکړي، ځکه دا چي يې د کوم مقصد لپاره ټاکلې وه، اوس د هغه لايق پاته نه سوه، او د مالک په ملکيت کي داخله سوه، نو څرنګه چي په نورو ملکيتونو کي د هغه پوره اختيار سته، همداسي به په دې کي هم د هغه پوره اختيار وي.

هدی ته د طوق اچولو حکم

وَيُقَلِّدُ هَدْيَ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ او حاجي دي طوق واچوي نفلي هدي ته او د تمتع او قِران هدي ته لِأَنَّهُ دَمُ نُسُكٍ ځکه چي دا (ټوله) دمِ نسک (د عبادت او د نعمت دمونه) دي وَفِي التَّقْلِيدِ إِظْهَارُهُ وَتَشْهِيرُهُ او په طوق اچولو کي د دمِ نسک کېدلو څرګندول او مشهوره کول دي (يعني په طوق اچولو سره دا ښکاره کيږي چي دا د عبادت او د نعمت هدي دی، او د نعمت شرکنډول ښه دي) فَيَلِيقُ بِهِ نو ځکه به تقليد د دې (هديو) سره لايق وي وَلَا يُقَلِّدُ دَمَ الْإِحْصَارِ وَلَا دَمَ الْجِنَايَاتِ او طوق به نه اچوي د احصار هدي ته او نه د جناياتو هدي ته لِأَنَّ سَبَبَهَا الْجِنَايَةُ ځکه چي د دې سبب جنايت دی وَالسَّتْرُ أَلْيَقُ بِهَا او پټول د هغه سره زيات لايق دي وَدَمُ الْإِحْصَارِ جَابِرٌ او د احصار دم د نقصان تلافي کونکی دی فَيَلْحَقُ بِجِنْسِهَا نو دا به (هم) د جنايت د جنس سره يو ځای کيږي ثُمَّ ذَكَرَ الْهَدْيَ بياي امام قدوري د هدی لفظ ذکر کړی دی وَمُرَادُهُ الْبَدَنَةُ او د هغه مراد بدنه ده لِأَنَّهُ لَا يُقَلِّدُ الشَّاةَ عَادَةً ځکه چي عادةً بزې ته طوق نه ور اچول کيږي وَلَا يُسَنُّ تَقْلِيدُهَا

مِنْدَنَا او نه بزې ته طوق ور اچول زموږ په نيز سنت دي لِعَدَمِ فَائِدَةِ التَّقْلِيْدِ ځکه چي (بزې ته) د طوق اچولو هيڅ فايده نسته عَلَى مَا تَقَدَّمَ لکه څرنګه چي مخکي (دا خبره) تېره سوه (فائده ځکه نسته چي اوښ ته طوق په دې وجه ور اچول کيږي چي که بالفرض ورک سي يا د يو چا کښت ته ورسي نو د کښت خاوند به کار نه په لري او بيرته به يې مالک [حاجي] ته وسپاري، همدا وجه ده چي حاجي د هغه خاص پروا نه کوي، او بې باکه وي چي ما طوق ور اچولی دی، لېکن د بزې په باره کي بې باکه نه وي، بلکي هر وخت يې بزه تر سترګو لاندي وي، ځکه چي بزه کوچنی څاروی دي، او دا خطره زياته سته چي که ورکه سي نو درنده به يې وخوري، نو په دې وجه طوق نه ور اچوي، ځکه چي هغې ته طوق ور اچول هيڅ فايده نه لري).

اللغات: ﴿ستر﴾ پټوالی (پټول)، اخفاء، ﴿أليق﴾ اسم تفضيل دی: زيات لايق، زيات مناسب، ﴿جابر﴾ تلافي کونکی، نقصان فوره کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل ښکاره دی.

فايده: طوق پر دوه قسمه وي: [۱] يو د څپلی (يعني د نعل) طوق او هار وي، دا اوښ ته ور اچول کيږي، ځکه چي دا اوږد او دروند وي، او بزې ته نه ور اچول کيږي، ځکه چي بيا د بزې لپاره تنګ ستونزمن کيږي. [۲] دويم طوق له وړيو څخه وردل سوی وي، هغه بزې ته ور اچول کيږي، هغه د بزې لپاره مناسب هم وي، او ښائسته هم وي، لکه څرنګه چي په حديث کي راځي: عن عائشة قال كنت أفتل القلائد للنبي ﷺ فيقلد الغنم ويقيم في أهله حلالا [بخاري، حديث رقم: ١٧٠٢]، (يعني حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چي ما به د نبي ﷺ لپاره [د وړيو] طوق وودی، او نبي ﷺ به بزې ته ور واچوی [بزه به يې مکې ته واستوله]، او په خپله به په کور کي به مقيم پاته سو). والله أعلم بالصواب



مَسَائِلُ مَنْثُورَةٌ

(دا) بېلا بېلې مسئلې دي

تشریح: په عامه توګه مصنفین حضرات د کتاب په آخر کې جلا او متفرقې مسئلې بیانوي، چې هغه په مسائل منثوره، مسائل متفرقه، مسائل شتّی او په داسې نورو نومونو سره ذکر کوي، صاحب د هدایې هم د هغو مصنفینو د طرز او طریقې په خپلولو سره د کتابُ الحج په آخر کې د مسائل منثوره عنوان ذکر کړی دی، او په دې کې یې د حج بېلا بېلې مسئلې بیان کړې دي، چې اوس به تر وله تفصیل ستاسو مخته راسي، انشاء الله تعالی.

منثورة له نشر څخه دی، معنیٰ یې ده: خورول، غوړول، نو د مسائلِ منثوره اصلي معنیٰ سوه: خورې مسئلې، حاصل دا چې تر مسائلِ منثوره لاندې هغه مسئلې بیانیږي چې د کتابُ الحج په مختلفه بابونو کې پاته سوي وي یا د حج هغه مسئلې چې نادرې پېښیږي، نو ځکه ورته مسائلِ منثوره وایي.

د عرفات له ورځې څخه علاوه (په بله ورځ) د وقوف عرفه حکم

أَهْلُ عَرَفَةَ إِذَا وَقَفُوا فِي يَوْمٍ (که) د عرفات خلک یوه ورځ وقوف وکړي (یعني د عرفات په میدان کې ودریږي) وَشَهِدَ قَوْمٌ أَنَّهُمْ وَقَفُوا يَوْمَ النَّحْرِ او یو قوم (دا) ګواهي ورکړي چې دې خلکو د ذی الحجې په لسمه ورځ (یعني د لوی اختر په ورځ) وقوف کړی دی أَجْزَأَهُمْ نو دا وقوف د هغو لپاره کافي دی (یعني د هغو حج صحیح دی) وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا يُجْزِيَهُمْ او قیاس دا دی چې کافي نه دی (یعني حج یې نه صحیح کیږي) اِعْتِبَارًا بِمَا إِذَا وَقَفُوا يَوْمَ التَّرْوِيَةِ په قیاسولو سره پر هغه صورت چې کله دا خلک د ذی الحجې په اتمه ورځ وقوف وکړي (نو حج یې بالکل نه صحیح کیږي) وَهٰذَا لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ تَخْتَصُّ بِزَمَانٍ وَمَكَانٍ او دا ځکه چې وقوف یو داسې عبادت دی چې د زمان او د مکان (دواړو) سره خاص دی فَلَا يَقَعُ عِبَادَةً دُوْنَهُمَا نو بغیر له زمان یا مکان څخه به وقوف عبادت نه واقع کیږي وَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ أَنَّ هٰذِهِ شَهَادَةٌ قَامَتْ عَلَى النَّفْيِ د استحسان دلیل دا دی چې دا ګواهي پر نفي ولاړه ده وَعَلَى أَمْرٍ لَا يَدْخُلُ تَحْتَ الْحُكْمِ او پر داسې شي ولاړه ده چې تر حکم لاندې نه داخلیږي لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ مِنْهَا نَفْيُ حَجِّهِمْ ځکه چې له دغه ګواهي څخه مقصود د دې خلکو د حج نفي دي وَالْحَجُّ لَا يَدْخُلُ تَحْتَ الْحُكْمِ او حج تر حکم لاندې نه داخلیږي (ځکه چې حج عبادت دی) فَلَا تُقْبَلُ نو ځکه به (دا) ګواهي نه قبلیږي وَلِأَنَّ فِيْهِ بَلْوٰى عَامًّا او په دې وجه (هم) چې په دې کې په عامه توګه خلک مبتلا کیږي لِتَعَذُّرِ الْإِحْتِرَازِ عَنْهُ ځکه چې له دې څخه ځان ساتل ستونزمن دي وَالتَّدَارُكُ غَيْرُ مُمْكِنٍ او د دې تلافي (او جبران) هم ممکن نه دی وَفِي الْأَمْرِ بِالْإِعَادَةِ حَرَجٌ بَيِّنٌ او د حج د راګرځولو په حکم کې ښکاره تکلیف دی فَوَجَبَ أَنْ يُكْتَفٰى بِهِ

عِنْدَ الْإِشْتِبَاهِ نو واجب سوه چې د اشتباه په وخت کې پر دې وقوف اکتفاء وکړی سي بِخِلَافِ مَا إِذَا وَقَفُوا يَوْمَ التَّرْوِيَةِ په خلاف د هغه صورت چې کله دې خلکو د ذی الحجې په اتمه ورځ وقوف کړی وي لِأَنَّ التَّدَارُكَ مُمْكِنٌ فِي الْجُمْلَةِ ځکه چې تر يوې اندازې پورې تلافي ممکنه ده بِأَنْ يَزُولَ الْإِشْتِبَاهُ يَوْمَ عَرَفَةَ په دې توګه چې د عرفات په ورځ به (په وقوف سره) دا اشتباه ليرې سي (يعني په نهمه ورځ به خلک وقوف وکړي نو کومه اشتباه چې په اتمه ورځ د وقوف کولو پيدا سوې وه هغه به ليرې سي) وَلِأَنَّ جَوَازَ الْمُؤَخَّرِ لَهُ نَظِيرٌ او ځکه چې د مؤخّر د جائزوالي مثال سته وَلَا كَذَلِكَ جَوَازُ الْمُقَدَّمِ او د مقدّم د جائزوالي مثال نسته قَالُوا: يَنْبَغِي لِلْحَاكِمِ أَنْ لَا يَسْمَعَ هٰذِهِ الشَّهَادَةَ فقهاؤ فرمايلي دي: حاکم (او واکمن) ته پکار ده چې دا ګواهي نه واوري وَيَقُولُ: قَدْ تَمَّ حَجُّ النَّاسِ فَانْصَرِفُوا (او پکار ده چې ګواهانو ته) ووايي: د خلکو حج پوره سو نو (ځکه) ولاړ سئ لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهَا إِلَّا إِيقَاعُ الْفِتْنَةِ ځکه چې په دې ګواهي (بل) څه نسته ما سوا له فتنې راپورته کولو څخه وَكَذَا إِذَا شَهِدُوا عَشِيَّةَ عَرَفَةَ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ همدارنګه که خلک د عرفات په ماښام د مياشتې ليدلو ګواهي ورکړي وَلَا يُمْكِنُهُ الْوُقُوفُ فِي بَقِيَّةِ اللَّيْلِ مَعَ النَّاسِ أَوْ أَكْثَرِهِمْ او په پاته شپه کې د امام لپاره د ټولو يا د زياتره خلکو سره وقوف کول ممکن نه وي لَمْ يَعْمَلْ بِتِلْكَ الشَّهَادَةِ نو (په دې صورت کې) به هم واکمن پر دې ګواهي عمل نه کوي.

اللغات: ﴿بلوىٰ﴾ مبتلا کېدل. ﴿ايقاع﴾ واقع کول، اچول. ﴿عشية﴾ د ماښام وخت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که حاجيانو په يوه ورځ وقوف وکړی، دويمه ورځ څه خلک راغله امام ته يې دا ګواهي ورکړه چې د دې حاجيانو وقوف صحيح نه دی، ځکه چې پرون د ذی الحجې لسمه ورځ وه، نهمه ورځ يې نه وه، حال دا چې د ذی الحجې په لسمه ورځ د وقوف وخت ختميږي، نو ځکه به د هغو وقوف صحيح نه وي، او کله چې وقوف صحيح نه سو، نو حج به يې هم صحيح نه وي، ځکه چې وقوف د حج ډېر أهم او غټ رکن دی، لېکن امام قدوري وايي چې د دې حاجيانو وقوف او حج بالکل صحيح دی، او د دې خلکو ګواهي به نه قبليږي، همدا استحسان دی.

خو په دې مسئله کې د قياس تقاضا دا ده چې ګواهي به قبليږي، او د هغو وقوف به صحيح نه وي، لکه څرنګه چې په هغه وخت کې هم د هغو وقوف نه صحيح کيږي کله چې دا خلک د ترويې په ورځ يعني د ذی الحجې په اتمه ورځ وقوف وکړي؛ ځکه چې دا تر وخت مخکې وقوف دی، نو څرنګه چې تر وخت مخکې وقوف نه صحيح کيږي، همداسې به تر وخت وروسته وقوف هم نه صحيح کيږي، ځکه چې وقوف يو داسې عبادت دی چې د زمان او د مکان دواړو سره خاص دی، يعني هم به د ذی الحجې په نهمه ورځ تر زوال وروسته وقوف شروع کيږي، او هم به د عرفات په ميدان کې کيږي، لېکن په پورتني صورت کې خو مکان سته لېکن زمان نسته، ځکه چې وقوف د ذی الحجې په لسمه ورځ سوی دی، نو ځکه به صحيح نه وي.

وجه الاستحسان الخ د استحسان او په متن کې د بيان سوي مسئلې دليل دا دی چې د دې خلکو ګواهي خو پر نفي ولاړه ده، يعني پر نفي واقع سوې ده، ځکه د دوی د ګواهي مقصد عرفات له خلکو څخه د حج نفي کول دي، او دويم دا ګواهي پر داسې شي واقع سوې ده کوم چې د قاضي تر قضاء او حکم نه سي لاندې کېدلای، ځکه چې حج د قاضي تر

حکم نه سي لاندي کېدلی، او هره هغه ګواهي چي پر داسي شیانو واقع سي، هغه به نه قبلیږي، نو ځکه به د دې خلکو ګواهي هم نه قبلیږي، او د اهلِ عرفات حج به صحیح او جائز وي.

ولأن فیه عموم بلوی الخ دویم دلیل دا دی چي په دې مسئله کي عمومِ بلویٰ ده، ځکه زیاتره وختونه په دې کي اختلاف واقع کیږي، او زیاتره وختونه په دې کي څه تقدّم او تأخّر راځي، ځکه چي د دې مدار پر میاشت او سپوږمۍ دی، او په میاشت کي عموماً اختلاف واقع کیږي، لهذا د دې تدارک ممکن نه دی، ځکه چي د تدارک صرف یوه لار سته، او هغه د حج د راګرځولو حکم کول دي، او د حج د راګرځولو په حکم کي ښکاره تکلیف او حرج دی، نو د تکلیف لیري کولو په خاطر به پر دغه وقوف اکتفاء کیږي، او د حج د صحیح کېدلو فیصله به کیږي، که څه هم دا شک او اشتباه سته، چي دا په لسمه ورځ سوی دی، لېکن دې اشتباه ته به بالکل نه کتل کیږي.

بخلاف ما الخ د قیاس جواب ورکوي چي که خلګ په اتمه ورځ وقوف وکړي، نو هغه به صحیح نه وي، ځکه چي د هغه تدارک ممکن دی، ځکه تر اوسه لا د وقوف وخت پاته دی، او فی الجمله د هغه تدارک ممکن دی، په دې توګه چي را روانه ورځ وقوف وسي، او اشتباه لیري سي، لهذا د وقوف را ګرځول به ضروري وي، دویم دلیل دا دی چي که وقوف عرفه له خپل وخت څخه مؤخّر (وروسته) کړی سي، نو د هغه د جواز مثال سته، مثلاً د رمضان د روژو قضاء او د لمانځه قضاء چي دا تر خپل وخت وروسته هم جائز دي، نو د ذی الحجه په لسمه ورځ به وقوفِ عرفه هم جائز وي، لېکن که وقوفِ عرفه تر وخت مخکي (مقدّم) کړی سي، یعني په اتمه ورځ وقوف وسي، نو د هغه د جواز مثال نسته، نو ځکه به د یوم ترویه وقوف معتبر نه وي، او د لسمي ورځي وقوف به د یومِ ترویې پر وقوف قیاسول صحیح نه وي.

قالوا الخ د ګواهانو په حق کي مشائخو تر دې اندازې پوري ویلي دي چي امام ته پکار ده چي بالکل د هغو ګواهي ته غوږ نه ونیسي، او دا دې ورته ووایي چي اوس ستاسو ګواهي هیڅ فایده نه کوي، ځکه اوس خو د خلکو حج پوره سوی دی، نو ځکه چپ چاپ او په پټه خوله خپلو کورو ته ولاړ سئ، ښډوره مه جوړوئ، او که د دوی ګواهي امام قبوله کړي نو فقط د فتنې بازار ګرمیږي، دین او اسلام ته په دې کي یو ذره ګټه هم نه رسیږي، او د فتنې په باره کي نبي ﷺ فرمایلي دي: الفتنة نائمة لعن الله من أيقظها. (بنایه ج: ۴، ص: ۴۶۳)

وکذا إذا شهدوا الخ د دې حاصل دا دی چي که حاجیانو د عرفات په شپه (په منیٰ کي) د عرفات لپاره تیاري کوله چي یو څو خلکو دا ګواهي اداء کړه چي موږ د ذی الحجې میاشته ولیدله د هغه مطابق نن ورځ کوم چي تېره سوه د عرفات ورځ کیږي (باید تاسو نن وقوف کړی وای)، او حال دا وو چي د وقوف لپاره صرف شپه یا د شپې یو څه حصه پاته وه، او په دې پاته حصه کي د امام لپاره د ټولو یا د زیاتره خلکو سره وقوف عرفه کول ممکن نه وو، یعني دا ممکنه نه وه چي ټوله یا زیاتره خلګ دې په دومره وخت کي عرفات ته را ورسیږي، بلکي دا خطره وه چي سهار به سي، نو ګواکي دا ګواهي هم تر وخت وتلو وروسته واقع سوه، لهذا دلته هم حکم دا دی چي امام به پر دې ګواهي عمل نه کوي، ځکه چي په دې سره هم فتنه او فساد خپریږي، او په خلکو کي د بدګوماني او غلط فهمۍ ښډوره را پورته کیږي.

په رمي کې د جمراتو د ترتيب د ساقطولو حکم

قَالَ: وَمَنْ رَمٰى فِي الْيَوْمِ الثَّانِي الْجَمْرَةَ الْوُسْطٰى وَالثَّالِثَةَ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: او څوک چې رمي وکړي په دويمه ورځ د جمرهٔ وسطیٰ او د جمرهٔ ثالثه وَلَمْ يَرْمِ الْأُوْلٰى او د جمرهٔ اولیٰ رمي نه وکړي (يعني د جمرهٔ اولیٰ رمي پريږدي) فَإِنْ رَمَى الْأُوْلٰى ثُمَّ الْبَاقِيَتَيْنِ فَحَسَنٌ نو که (د قضاء په وخت کې) اول د جمرهٔ اولیٰ رمي وکړي بيا د پاته دوو جمرو رمي وکړي نو ښه يې وکړه لِأَنَّهُ رَاعَى التَّرْتِيْبَ الْمَسْنُوْنَ ځکه چې هغه د سنت ترتيب خيال وساتلو وَلَوْ رَمَى الْأُوْلٰى وَحْدَهَا او که يوازې د جمرهٔ اولیٰ رمي وکړي أَجْزَأَهُ نو دا (هم) د هغه لپاره کافي دي لِأَنَّهُ تَدَارَكَ الْمَتْرُوْكَ فِي وَقْتِهِ ځکه چې هغه د پرېښودل سوي حصې تلافي په خپل وخت کې وکړه وَإِنَّمَا تَرَكَ التَّرْتِيْبَ او (فقط) ترتيب يې پرېښووی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: لَا يُجْزِئُهُ مَا لَمْ يُعِدِ الْكُلَّ او امام شافعي فرمايي: چې دا د هغه لپاره کافي نه دي ترڅو چې د ټولو جمرو رمي نه راوګرځوي لِأَنَّهُ شُرِعَ مُرَتَّبًا ځکه چې رمي په ترتيب سره مشروع سوي دي (يعني په شريعت کې رمي په ترتيب سره شروع سوي دي) فَصَارَ كَمَا إِذَا سَعٰى قَبْلَ الطَّوَافِ نو داسې سو لکه يو څوک چې تر طواف مخکې سعي وکړي أَوْ بَدَأَ بِالْمَرْوَةِ قَبْلَ الصَّفَا يا تر صفا مخکې په مروه شروع وکړي وَلَنَا أَنَّ كُلَّ جَمْرَةٍ قُرْبَةٌ مَقْصُوْدَةٌ بِنَفْسِهَا زموږ دليل دا دی چې هره جمره په خپله او (عليحده) مقصود عبادت دی فَلَا يَتَعَلَّقُ الْجَوَازُ بِتَقْدِيْمِ الْبَعْضِ عَلَى الْبَعْضِ نو جواز به پر بعضو د بعضې په مخکې کولو سره تعلق نه لري بِخِلَافِ السَّعْيِ لِأَنَّهُ تَابِعٌ لِلطَّوَافِ په خلاف د سعي ځکه چې هغه د طواف تابع ده (او مقصود عبادت نه ده) لِأَنَّهُ دُوْنَهُ ځکه چې سعي له طواف څخه (په درجه کې) کمه ده وَالْمَرْوَةُ عُرِفَتْ مُنْتَهَى السَّعْيِ بِالنَّصِّ او مروه د آيت په ذريعه د سعي مُنتها پېژندل سوي ده فَلَا تَتَعَلَّقُ بِهِ الْبِدَايَةُ نو د مروه سره به د سعي شروع کول (هيڅ) تعلق نه لري.

اللغات: ﴿تدارك﴾ تلافي، د نقصان پوره کول، جبران، ﴿منتهٰی﴾ د ختمېدلو ځای، مُنتها ﴿بداية﴾ شروع کول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د ذی الحجې په يوولسمه ورځ درې سره جمرې (جمرات) ويشتل او د هغو رمي کول واجب دي، لېکن که يو حاجي په دې ورځ د جمرهٔ وسطیٰ او د جمرهٔ ثالثې رمي وکړي، او د جمرهٔ اولیٰ رمي نه وکړي، او بيا په دغه ورځ بيرته د جمرهٔ اولیٰ قضاء هم راوړي، نو د دې دوه صورتونه دي: (۱) يو دا که د جمرهٔ اولیٰ سره دويم ځل بيا د جمرهٔ وسطیٰ او جمرهٔ ثالثې رمي هم وکړي نو دا ډېر ښه دي، ځکه چې په دې کې د قضاء سره سره د ترتيب او سنت رعايت هم کيږي، (۲) او دويم دا چې صرف د جمرهٔ اولیٰ رمي وکړي، نو دا هم صحيح او جائز دي، ځکه ده چې کوم شی پرې اېښی وو (يعني د اولې جمرې رمي)، هغه يې په خپل وخت کې اداء کړی، خو فقط ترتيب يې پرېښووی، او ترتيب واجب يا ضروري نه دی، چې د هغه په پرېښوولو سره دې ضمان يا دم واجب سي، او دا حکم زموږ په نيز دی.

وقال الشافعي الخ د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د جمرهٔ اولیٰ سره د جمرهٔ وسطیٰ او د جمرهٔ ثالثې رمي راګرځول هم ضروري دي، ځکه چې د دريو سره جمرو رمي يو ځای او په ترتيب سره مشروع سوي دي، نو ترتيب

پرېښوول داسې دي لکه تر طواف مخکې چې سعی کول، يا په سعی کې د صفاء پر ځای له مروه څخه شروع کول، او دا له ترتيب څخه خلاف او بالاتفاق جائز نه دي، نو همدا ډول کله چې د جمرۀ اولیٰ رمي تر وسطیٰ او ثالثې وروسته سي، نو هغه به هم جائز نه وي، ځکه چې په دې کې هم ترتيب فوت سو.

ولنا الخ زموږ دليل دا دی چې د هري جمرې رمي بذاتِ خود عبادتِ مقصوده دی (يعني هره رمی جلا او مستقل عبادت دی، يوه رمی د بلې تابع نه ده)، لهذا د رمي جواز به د دې خبري سره تعلق نه لري چې ولي بعضي پر بعضو مخکې سوې، بلکې کله چې هم د هري جمرې رمي وسي، هغه به قربت او عبادت وي، هغه که په ترتيب وي او که نه وي، د دې په خلاف د سعی مسئله ده، نو سعی خو بذاتِ خود مقصود نه ده، بلکې د طواف تابع ده، ځکه چې سعی له طواف څخه کمه ده، نو ځکه به په سعی کې تقدّم او تأخر صحيح نه وي، همدارنګه د سعي ابتداء هم له صفاء څخه مشروع ده، ځکه چې له دې آيت إن الصفا والمروة الخ څخه همدغه معلوميږي چې صفاء د سعي مبداء ده او مروه د سعی منتها ده، نو که له مروه څخه د سعی ابتداء جائز کړی سي، نو دا به له دې آيت څخه خلاف سي، او دا صحيح نه ده، لنډه دا چې کله د سعي او د طواف ځای او مرتبه يو تر بله سره جلا دي، نو پر دوی به د رمي قياسول صحيح نه وي.

د پياده حج د نذر منلو حکم

قَالَ: وَمَنْ جَعَلَ عَلَى نَفْسِهِ أَنْ يَحُجَّ مَاشِيًا امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: او څوک چې پر خپل ځان په پښو حج کول لازم کړي فَإِنَّهُ لَا يَرْكَبُ حَتَّى يَطُوفَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ نو هغه به (پر هيڅ سپرلي) نه سپرېږي تر دې چې طوافِ زيارت وکړي وَفِي الْأَصْلِ خَيَّرَهُ بَيْنَ الرُّكُوبِ وَالْمَشْيِ او په مبسوط کې امام محمد هغه ته د سپرېدلو او د پياده تللو په مينځ کې اختيار ورکړی دی وَهٰذَا إِشَارَةٌ إِلَى الْوُجُوبِ او د متن جمله اشاره کوي د وجوب و طرف ته وَهُوَ الْأَصْلُ او همدا اصل دي لِأَنَّهُ اِلْتَزَمَ الْقُرْبَةَ بِصِفَةِ الْكَمَالِ ځکه چې هغه په کامل (او بشپړ) صفت سره عبادت پر خپل ځان لازم کړی دی فَيَلْزَمُهُ بِتِلْكَ الصِّفَةِ نو په کامل صفت سره به عبادت پر هغه لازم وي كَمَا إِذَا نَذَرَ بِالصَّوْمِ مُتَتَابِعًا لکه يو څوک چې د پرلپسې روژو نذر ومني وَأَفْعَالُ الْحَجِّ تَنْتَهِي بِطَوَافِ الزِّيَارَةِ او د حج افعال پر طوافِ زيارت ختميږي فَيَمْشِي إِلَى أَنْ يَطُوفَهُ نو (تر هغه وخته) به پياده ځي تر څو چې طوافِ زيارت وکړي ثُمَّ قِيلَ: يَبْتَدِئُ الْمَشْيَ مِنْ حِينِ يُحْرِمُ بيا ويل سوي دي: چې پياده تګ به هغه وخت شروع کوي چې احرام وتړي وَقِيلَ: مِنْ بَيْتِهِ او ويل سوي دي: چې له خپل کور څخه (به يې شروع کوي) لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ هُوَ الْمُرَادُ ځکه د الفاظو له ښکاره څخه همدغه مراد دي وَلَوْ رَكِبَ أَرَاقَ دَمًا خو که سپور سي نو قرباني دي وکړي لِأَنَّهُ أَدْخَلَ نَقْصًا فِيهِ ځکه چې هغه په خپل نذر کې نقصان داخل کړی قَالُوا إِنَّمَا يَرْكَبُ إِذَا بَعُدَتِ الْمَسَافَةُ وَشَقَّ الْمَشْيُ (د قدوري او د مبسوط په عبارت کې د تطبيق لپاره) فقهاؤ فرمايلي دي: چې کله فاصله (او واټن) ليري وي او پياده تګ مشکل وي نو (پر سپرلي) به سپرېږي وَإِذَا قَرُبَتْ وَالرَّجُلُ مِمَّنْ يَعْتَادُ الْمَشْيَ او کله چې فاصله نژدې وي او سړی (هم) له هغو خلکو څخه وي چې د پياده تګ عادت لري وَلَا يَشُقُّ عَلَيْهِ او پياده تګ پر هغه سخت (هم) نه وي يَنْبَغِي أَنْ لَا يَرْكَبَ نو مناسب دا ده چې سپور نه سي.

اللغات: ﴿ماشي﴾ د ضرب اسم فاعل دی: په پښو تلونکی، پیاده تلونکی. ﴿التزم﴾ د افتعال ماضي ده: خپل پر غاړه اخیستل، پر خپل ځان لازمول. ﴿أراق﴾ د افعال ماضي ده: وینه بیول (مطلب قرباني کول). ﴿نقص﴾ کمي، نقصان. ﴿شق﴾ د نصر ماضي ده: سختېدل، ستونزمن کېدل. ﴿یعتاد﴾ د افعال مضارع ده: عادت کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی د پیاده حج نذر ومني (یعني مثلاً داسي ووایي چي "زه به د الله لپاره یو حج په پښو کوم")، نو پر هغه واجب دي چي په پښو حج وکړي او پر سپرلي بالکل سپور نه سي، تر دې چي طوافِ زیارت وکړي، دا روایت د جامعِ صغیر دی، او همدا صحیح دی، او په مبسوط کي د سپرېدلو او د پیاده تګ په مینځ کي اختیار ورکول سوی دی، صاحب د هدایې فرمایي چي د جامع صغیر له دې عبارت لا یرکب حتی یطوف طواف الزیارة څخه د پیاده تګ یعني د پیاده حج کولو وجوب ثابتیږي، او همدا اصل دی، یعني د قاعدې موافق دي، ځکه څوک چي یو شی په پوره او کامله توګه پر ځان لازم کړي، هغه به په کمه او ناقصه توګه سره نه اداء کوي، او په حج کي پیاده تلل کامل صفت دی، لکه څرنګه چي نبي ﷺ فرمایلي دي: من حج ماشیا فله بکل خطوة حسنة من حسنات الحرم قیل: وما حسنات الحرم قال: کل حسنة بسبع مائة، (یعني چا چي پیاده حج وکړی نو هغه ته به د هر قدم په بدله کي د حرم له نېکیو څخه یوه نېکي ورکول کیږي، له نبي ﷺ څخه پوښتنه وسوه: چي د حرم نېکۍ څه دي، وېې فرمایل: د حرم یوه نېکي د اووسوو (۷۰۰) عامو نېکیو سره برابره ده)، حاصل دا چي پیاده حج کول کامل صفت دی، او نذر چي څرنګه پر ځان لازم کړی سي، هغه رنګه به لازم وي، نو پر هغه به حج په کامل صفت سره لازم وي، چي هغه پیاده حج دی، لکه یو څوک چي د پرلپسې روژو نیولو نذر وکړي، نو پر هغه پرلپسې روژې نیول واجب دي، همداسي به دلته هم پیاده تګ واجب وي، او څرنګه چي د حج افعال پر طوافِ زیارت پوره کیږي، نو ځکه به تر طوافِ زیارته پوري پیاده تګ واجب وي.

ثم قیل الخ پاته سوه دا خبره چي دا نذر منونکی سړی به له کومه ځایه پیاده روانیږي؟ له خپل کور څخه یا د احرام د تړلو له ځای څخه؟، نو په دې لړ کي دوه قولونه دي: (۱) اول قول دا دی چي د احرام د تړلو له ځای څخه به پیاده روانیږي، (۲) دویم قول دا دی چي له خپل کور څخه به پیاده سفر شروع کوي، ځکه چي د جملې له ظاهر څخه همدغه مراد دي، لېکن دا قول صحیح نه دی، بلکي اول قول صحیح دی، او پر اول قول د علامه فخر الاسلام فتویٰ هم ده لکه څرنګه چي صاحب د بنایې لیکلي دي: وعلیه فتوی فخر الإسلام والعتابي وغیرهما وهو الصحیح (بنایه ج۴، ص، ۲۶۷)، خو که دا سړی د احرام تر تړلو وروسته د پیاده تګ پر ځای پر سپرلي سپور سو، نو پر هغه به قرباني واجب وي، ځکه چي په نذر کي یې نقصان پیدا کړی، او دا نقصان به په قرباني سره لیري کیږي.

قالوا الخ د دې حاصل دا دی چي د جامع صغیر او د مبسوط په روایتونو کي فرق دی، نو فقهاؤ د دواړو په مینځ کي دا تطبیق او ربط ورکړی دي چي که د نذر منونکي حاجي او د مکې تر مینځ مسافه ډېره اوږده وه او پیاده تګ ستونزمن وو، نو په دې صورت کي به د سپرېدلو اجازه وي لکه څرنګه چي په مبسوط کي دي، لېکن که مسافه نژدې وه او دا سړی د پیاده تګ سره عادت هم وو، نو په دې صوورت کي به نه سپرېدل مناسب وي لکه څرنګه چي په جامعِ صغیر کي دي.

د مُحرمې مينځې سره د رانيونکي(مُشتري) لپاره د جماع حکم

وَمَنْ بَاعَ جَارِيَةً مُحْرِمَةً او څوک چې داسې مينځه خرڅه کړي چې احرام يې تړلی وي قَدْ أَذِنَ لَهَا مَوْلَاهَا فِي ذٰلِكَ لو هغې ته د احرام اجازه مالک (خرڅونکي) ورکړې وي فَلِلْمُشْتَرِيْ أَنْ يُحَلِّلَهَا وَيُجَامِعَهَا نو رانيونکي ته جائز دي چې مينځه حلاله کړي او جماع ور سره وکړي وَقَالَ زُفَرُ: لَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې مشتري (رانيونکي) ته دې اختيار نسته لِأَنَّ هٰذَا عَقْدٌ سَبَقَ مِلْكَهُ ځکه چې احرام يو داسې عقد(تړون) دی چې د مشتري تر ملکيت مخکې(تړل)سوی دی فَلَا يَتَمَكَّنُ مِنْ فَسْخِهِ نو مشتري ته به د دغه تړون د ماتولو حق نه وي كَمَا إِذَا اشْتَرٰى جَارِيَةً مَنْكُوْحَةً لکه يو څوک چې منکوحه مينځه رانيسي(نو هلته هم مشتري د نکاح فسخ کولو حق نه لري) وَلَنَا أَنَّ الْمُشْتَرِيَ قَائِمٌ مَقَامَ الْبَائِعِ زمونږ دليل دا دی چې مشتري د خرڅونکي(بائع) پر ځای ولاړ دی وَقَدْ كَانَ لِلْبَائِعِ أَنْ يُحَلِّلَهَا فَكَذَا لِلْمُشْتَرِيْ او بائع ته دا اختيار وو چې دا حلاله کړي نو دا اختيار به مشتري ته هم وي إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ ذٰلِكَ لِلْبَائِعِ خو د بائع لپاره داسې کول مکروه دي لِمَا فِيْهِ مِنْ خُلْفِ الْوَعْدِ ځکه په دې کې وعده خلافي ده(ځکه چې بائع هغې ته د احرام اجازه ورکړې وه، نو که بيرته له خپلې اجازې څخه رجوع وکړي نو دا د وعدې مخالفت سو) وَهٰذَا الْمَعْنٰى لَمْ يُوْجَدْ فِيْ حَقِّ الْمُشْتَرِيْ او دا معنیٰ(يعني د وعدې مخالفت) د رانيونکي په حق کې نسته بِخِلَافِ النِّكَاحِ په خلاف د نکاح لِأَنَّهُ مَا كَانَ لِلْبَائِعِ أَنْ يَّفْسَخَهُ ځکه چې(په خپله) بائع ته دا اختيار نه وو چې نکاح فسخ کړي إِذَا بَاشَرَهُ بِإِذْنِهِ په دې شرط چې د بائع په اجازه سره نکاح سوې وي فَكَذَا لَا يَكُوْنُ ذٰلِكَ لِلْمُشْتَرِيْ نو همداسې به مشتري ته (هم) د نکاح د فسخ کولو اختيار نه وي وَإِذَا كَانَ لَهُ أَنْ يُحَلِّلَهَا او کله چې د رانيونکي لپاره د مينځې حلالول جائز دي لَا يَتَمَكَّنُ مِنْ رَدِّهَا بِالْعَيْبِ عِنْدَنَا نو د عيب په وجه به مشتري د مينځې د واپس کولو(د بيرته ورکولو) واکدار نه وي زمونږ په نيز وَعِنْدَ زُفَرَ يَتَمَكَّنُ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز مشتري (د عيب په وجه د مينځې د بيرته ورکولو) واک لري لِأَنَّهُ مَمْنُوْعٌ عَنْ غِشْيَانِهَا ځکه چې (د امام زفر په نيز) هغه د مينځې له جماع څخه منع سوی دی وَذُكِرَ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ: أَوْ يُجَامِعُهَا او (د جامع صغير) په ځيني نسخو کې(د و يجامعها پر ځای) ذکر سوي دي: أو يجامعها وَالْأَوَّلُ يَدُلُّ عَلٰى أَنَّهُ يُحَلِّلُهَا بِغَيْرِ الْجِمَاعِ بِقَصِّ شَعْرٍ أَوْ بِقَلْمِ ظُفْرٍ اول(يعني د متن عبارت) پر دې خبره دلالت کوي چې ښځه به له جماع څخه علاوه (په بل شي سره) حلاله کړي د وړښته په غوڅولو سره يا د نوک په پرېکولو سره ثُمَّ يُجَامِعُ او بيا به جماع ور سره وکړي وَالثَّانِيْ يَدُلُّ عَلٰى أَنَّهُ يُحَلِّلُهَا بِالْمُجَامَعَةِ او دويم عبارت پر دې خبره دلالت کوي چې ښځه به په جماع سره حلاله کړي لِأَنَّهُ لَا يَخْلُوْ عَنْ تَقْدِيْمِ مَسٍّ يَقَعُ بِهِ التَّحْلِيْلُ ځکه چې جماع له مخکې داسې مسه کولو څخه خالي نه وي چې په هغه سره تحليل واقع سي (يعني د مينځې مسه کول او د هغې سره خپل بدن لګول خامخا له جماع څخه مخکې راځي لو

په هغه سره مينځه حلاليږي) وَالْأَوْلٰى أَنْ يُحَلِّلَهَا بِغَيْرِ الْمُجَامَعَةِ او غوره دا ده چې بغير له جماع څخه مينځه حلاله کړي تَعْظِيْمًا لِأَمْرِ الْحَجِّ د حج د مسئلې د درناوي لپاره. والله أعلم بالصواب.

اللغات: ﴿جاريه﴾ مينځه، (خدمتګاره). ﴿خلف الوعد﴾ وعده خلافي، وعده نه پوره کول. ﴿غشيان﴾ غوړېدل، راتلل (مراد ځني جماع ده). ﴿يفسخه﴾ د فتح د باب مضارع ده: ماتول، باطلول، (فسخ کول). ﴿قص﴾ پرېکول، ځچې کول، کوچني کول. ﴿ظفر﴾ نوک

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو مالک خپلې مينځې ته د احرام د تړلو اجازه ورکړي، او مينځې يې احرام وتړي، بيا مالک دا مينځه خرڅه کړي، نو که رانيونکی (مشتري) محرم نه وو بلکې حلال وو، نو زموږ په نيز هغه ته دا اختيار سته چې مينځه له احرام څخه حلاله کړي، او د هغې سره جماع (وطي) وکړي، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز مشتري ته دا اختيار نسته.

د امام زفر دليل: دا دی چې احرام يو داسې عقد او تړون دی چې (هغه دلته) د مشتري له مالک کېدلو څخه مخکې ثابت سوی او منعقد سوی دی، نو ځکه به اوس مشتري ته د هغه د ماتولو او د فسخ کولو حق نه وي، لکه څرنګه چې يو څوک مثلاً د زيد منکوحه مينځه رانيسي، نو هغه ته دا اختيار نسته چې د زيد سره د هغې نکاح فسخ کړي او جماع ور سره وکړي، ځکه چې نکاح هم داسې عقد دی چې د مشتري تر ملکيت مخکې تړل سوی دی، همداسې په دې مسئله کې هم د مينځې احرام د مشتري تر ملکيت مخکې تړل سوی دی، نو ځکه به مشتري ته د هغې د حلالولو او د احرام د فسخ کولو اجازه نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې کله د خرڅلاو په وجه دا مينځه د بائع (خرڅونکي) له ملکيت څخه ووتله او د مشتري په ملکيت کې داخله سوه، نو مشتري د بائع قائم مقام سو، او بائع ته دا اختيار وو چې د مينځې احرام خلاص کړي، حلاله يې کړي او جماع ور سره وکړي، نو کوم څوک چې د بائع قائم مقام وي يعني مشتري، هغه ته به هم دا اختيار وي، لېکن د بائع لپاره دا کار مکروه وو چې مينځه حلاله کړي، جماع ور سره وکړي، او د مشتري لپاره دا کار مکروه هم نه دی، د بائع لپاره ځکه مکروه وو چې هغه مينځې ته د احرام د تړلو اجازه ورکړې وه، لهذا که بيرته له خپلې اجازې څخه رجوع وکړي او د هغې سره جماع وکړي، نو دا وعده خلافي سوه، لېکن د مشتري په حق کې دا وعده خلافي هم نسته، ځکه چې مشتري مينځې ته اجازه نه ده ورکړې، بلکې بائع ورکړې ده، لهذا د مشتري په حق کې به جماع مکروه هم نه وي.

بخلاف النكاح الخ فرمايي چې د دې په خلاف د منکوحې مينځې مسئله ده، ځکه که د هغې نکاح د بائع په اجازه سوې وي، نو بائع ته به په خپله دا اختيار نه وي چې نکاح فسخ کړي، لهذا همدا ډول به مشتري ته هم د نکاح د فسخ کولو او جماع کولو اختيار نه وي، ځکه چې مشتري د بائع قائم مقام دی، او بائع ته دا اختيار نسته، نو مشتري ته به هم نه وي.

وإذا كان له الخ د دې حاصل دا دی چې کله زموږ په نيز مشتري ته دا اختيار سته چې مينځه حلاله کړي، او جماع ور سره وکړي، نو له دې څخه ښکاره سوه چې د مينځې محرم والی هيڅ عيب نه دی، لهذا کله چې احرام عيب نه دی، نو د احرام په وجه به مشتري دا مينځه بائع ته نه واپس کوي، او نه هغه ته دا اختيار سته، ځکه چې دا ګرد سره عيب نه دی، هو! خو څرنګه چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز د مشتري لپاره د مينځې سره جماع کول او مينځه حلالول جائز نه دي، لهذا د هغه په

نېز د مشتري په حق کې د مېنځې احرام عيب دی، ځکه چې د احرام په وجه جماع نه سي ور سره کولای، نو د هغه په نېز په مشتري ته د مېنځې د واپس کولو اختيار وي.

و ذکر فی الخ فرمايي چې د جامع صغير په ځيني نسخو کې أو يجامعها ذکر سوي دي، مطلب دا چې په ځيني نسخو کې دا کلمه په واو سره يعني ويجامعها ذکر سوې ده، او په ځيني نسخو کې په أو سره يعني أو يجامعها ذکر سوې ده، د اولي نسخې عبارت کوم چې د هدايې متن دی او په واو سره دی، پر دې خبره دلالت کوي چې مشتري ته پکار ده چې محرمه مېنځه په جماع سره حلاله نه کړي، بلکې مخکې دي د هغې نوکان يا ورېښتان ور پرېکړي، چې اول په هغه سره حلاله سي، بيا دي جماع ورسره وکړي، او د دوېمې نسخې عبارت کوم چې په أو سره دی، پر دې خبره دلالت کوي چې مشتري دي مېنځه په جماع سره حلاله کړي، ځکه چې په دې صورت کې به هم تر جماع او کوروالي مخکې مچول او په شهوت سره مسه کول خامخا وي، او په مچولو او مسه کولو سره محرمه ښځه حلالېږي، نو په دې صورت کې به هم مېنځه تر جماع مخکې حلاله سي؛ لهذا په دې صورت کې هم څه خبره نسته. خو څرنګه چې حج ډېر سپېڅلې او د احترام وړ عبادت دی، نو ځکه مشتري (رانيونکي)ته پکار ده چې د حج د تعظيم او درناوي په خاطر مخکې مېنځه په يوه بله ذريعه سره حلاله کړي، او بيا دي په اطمينان کوروالی ور سره وکړي.

الحمد لله! نن د ۱۴۳۷ هجري کال د مياني [ذی القعدي] د مياشتې په لسمه نېټه چې د ۲۰۱٦ ميلادي کال د اګست د مياشتې له څورلسمي نېټې سره سمون لري د "فتح الهداية" دويم ټوک پای ته ورسېدی. لوی څښتن ﷻ دي په خپل سپېڅلي رحمت سره د پاته ټوکونو د تشريح او توضيح توفيق هم راکړي، وما ذٰلك على الله بعزيز.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ. وَصَلَّى اللهُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ.

احقر حبيب الرحمن مدني



